کابل پوهنتون
د ژبو او ادبیاتو پوهنځی
د پښتو ژبې او ادب څانګه

په دویمه دوره کې پښتو ادبیاتو ته د دیني علماوو د خدمتونو څېړنه

«د دوکتورا ډیزرټېشن»

څېړونکی: محمد آصف احمدزی
لارښود استاد: پوهاند دوکتور محمد رفیق رفیق
لارښود مشاور: پوهاند دوکتور یارمحمد یزال
کال: ۱۴۰۵ لمریز

کتاب پېژندنه
د مؤلف نوم: احمدزی، محمد آصف، ۱۳۵۷هـ.ش
عنوان: په دویمه دوره کې پښتو ادبیاتو ته د دیني علماوو د خدمتونو څېړنه
د څېړونکي نوم: محمد آصف احمدزی
د خپروونکي ځانګړنې: کابل پوهنتون، د لوړو زده‌کړو وزارت، کال: ۱۴۰۵هـ. ش

په دویمه دوره کې پښتو ادبیاتو ته د دیني علماوو د خدمتونو څېړنه


«د دوکتورا ډیزرټېشن»

څېړونکی: محمد آصف احمدزی

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا پروګرام سکالر

ډیزاینر:
د چاپ وار:
د چاپ شمېر:
د چاپ کال:
د چاپ نوعیت: وزیري
د کتاب بیه:
ISBN:

د چاپ، کاپي او تکثیر ټول حقوق له لوړو زده کړو وزارت او کابل پوهنتون سره خوندي دي


بسم الله الرحمن الرحيم

مننلیک

د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې د دوکتورا دغه ډیزرټېشن چې ستاسو په لاسونو کې دی، په دې کې پر ما د الهي فضل او لوریښې ترڅنګ زما د کورنۍ د غړو او د علمي او اکاډمیک چاپېریال د څو تنو استادانو لاس دی. د دوی د هر یوه څانګړې مننه او قدردانی کوم.

د پوهاند دوکتور محمد رفیق رفیق دې الله تعالی په عمر او علم کې برکت واچوي چې زما د دغه ډېزرټېشن لارښودي یې وکړه، وخت په وخت یې زما پوښتنو او ګروپرنو ته په ورین تندي ځواب راکړی او هڅولی یې یم چې خپل علمي کار بشپړ او له علمي او اکاډمیکو اصولو سره سم یې مخ ته یوسم. د بهرني مناقش په توګه د افغانستان د علومو اکاډمي د محترم غړي اکاډمیسین سید محی الدین هاشمي کور دې ودان وي چې تل یې د څېړنې په لاره کې لارښوونې راته یې کړې او دا دی د تېرو علمي لوریښو په لړ کې یې دا ډېزرټېشن په پوره اخلاص سره وکوت، نیمګړتیاوو ته یې متوجه کړم، مثمرې لارښوونې یې راته وکړې او هم یې پر دې اثر مثبت نظر ولیکه. دغه راز د استاد پوهاند دوکتور یارمحمد یزال د احسان پوروړی یم چې د سلاکار استاد په توګه یې دغه ډېزرټېشن وکوت او مثبت نظر یې پرې ولیکه.

مخکینۍ خبرې

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين، نبينا محمد وعلي صحبه أجمعين. أما بعد.

د الله تعالى لويه لوريښه او مهرباني ده چې ماته يې د دې توفيق راکړ چې د کابل پوهنتون د پښتو ژبې او ادبياتو د دوکتورا برنامه تر پايه ورسوم او د دې جوګه يې کړم چې د دې دورې مهم پراو چې د ډيزرټېشن کښل دي، وليکم.

د دوکتورا دورې د لومړي سمستر له پيلېدو وړاندې د ډيزرټېشنونو د پروپوزلونو د دفاع په لړ کې ما «د مهاجرت دورې د ادبياتو څېړنه» موضوع غوره کړې وه، دا هغه څه و چې له څو کلونو راهيسې مې په ذهن کې وه چې کار پرې وکړم، خو د پروپوزل د دفاع په جريان کې راته وويل شول چې د همدغسې موضوع پرون يوه بل سکالر وړاندې کړه، نو راځخه يې هيله وکړه چې بله موضوع انتخاب کړئ. له ما سره له ډېر وخت راهيسې د پښتو ادب په بډاينه کې د ديني علماوو د ونډې څېړلو موضوع هم په ذهن کې وه، نو همدا موضوع مې ورسره شريکه کړه او راسره ومنل شوه، خو په دې شرط چې يواځې په دويمه دوره کې همدا موضوع وڅېړم، نو د ډيزرټېشن عنوان مې «په دويمه دوره کې پښتو ادبياتو ته د ديني علماوو د خدمتونو څېړنه » شو.

د ۱۴۰۲هـ.ش کال په اسد مياشت کې مو د دوکتورا لومړی سمستر پيل او په قوس مياشت کې پای ته ورساوه، بيا مو دويم سمستر د همدې کال د حوت په ۱۵مه پيل او په سرطان مياشت کې پای ته ورساوه. تر دې څو مياشتې وروسته مو جامع امتحان ورکړ او بيا مې د خپلې موضوع پر څېړلو پيل وکړ. لومړی مې منابع وکتل او تر مطالعې وروسته مې تر ټولو کره او لومړي لاس منابع په نښه او خپله څېړنه مې يې پر مټ روانه او بشپړه کړه.

زه د دوکتورا برنامې له ټولو ښاغلو او درنو استادانو څخه نړۍ منله کوم چې په تدریسي سمسترونو کې یې په پوره اخلاص درس راکړ او ډېرو نویو او تازه علمي مسایلو ته یې متوجه کړو. دغه راز د ټولو هغو قدرمنو ملګرو او استادانو مننه وی یم چې خپل آثار یې زما په واک کې د استفادې لپاره راکړي دي.

ما تر خپله وسه پوره هڅه کړې چې د موضوع حق ادا کړم او که بیا هم په کې کومه نیمګړتیا د چا تر سترګو کېږي، هیله ده هغه له ما سره شریکه کړای شي، دا به یې هم له ما سره احسان وي او هم به یې د علم او پوهې د دې ډګر په بڼاینه کې ونډه اخیستې وي.

د ګران هېواد د علم او څېړنې ډګر د لا ځلېدا په هیله.

په درنښت

څېړنپوه محمد آصف احمدزی

لنډيز

«په دويمه دوره کې پښتو ادبياتو ته د ديني علماوو د خدمتونو څېړنه» په پنځو څپرکو کې رانغښتل شوې ده.

تېرو آثارو ته کتنه شوې او په کې روښانه شوې چې په همدې موضوع تر اوسه پورې مستقله او اکاډميکه څېړنه نه ده شوې، البته څو داسې مقالې شته چې د يوه شاعر په شعرونو کې ديني مفاهيم رابرسېره شوي دي.

«اسلامي ادبيات» د څېړنې د نظري بنسټ په توګه غوره شوي دي. د دې ډول ادبياتو پر پېژندنې او شننې، تاريخچې، عمومي او معاصر مفهوم، بڼې او محتوا، ژبې، پر دې ډول ادبياتو نيوکې او وضاحتونه، د اسلامي ادبياتو اساس او ځانګړنو بحثونه شوي دي.

د «اسلامي ادبياتو» مفهوم زمونږ په ادبي آثارو کې نه دی واضح شوی، دلته هڅه شوې چې همدغه ډول ادبيات وشنل شي. په دې څېړنه کې ثابته شوې چې د پښتو ادبياتو له لسمې تر څوارلسمې پېړۍ پورې پنځېدلي ډېرى آثار له «اسلامي ادب» سره سمون لري. دغه راز په همدې موده کې ګڼ نور تحقيقي آثار د اسلامي اساساتو او اصولو په رڼا کې کښل شوي دي. په همدې موده کې ګڼ ديني آثار له نورو ژبو (خاصتاً پارسي او عربي) څخه پښتو شوي دي. په لسهاوو ديني عالمانو په سلهاوو منظوم او منثور آثار او کلامونه پنځولي او ليکلي دي.

د مفاهيمو تعريفونو کې د پښتو دويمې ادبي دورې پر پېژندنې سربېره د همدې دورې سياسي، ټولنيز او فرهنګي حالت بيان شوی دی. په کې جوته شوې چې په دې څه کم څلور سوو کلونو کې د پښتنو د ژوند هر اړخ له لوړو ژورو سره مخامخ شوی دی. پر ديني عالم او د وخت پر متداولو علومو بحث شوی دی.

د څېړنې موندنو کې جوته شوې چې د پښتو په دويمه ادبي دوره کې د منظومو آثارو خاوندان ديني علماوو شمېر (۲۸۳) او هغه چې د کلام يوه يا څو نمونې يې معلومې دي، د پنځو مېرمنو په ګډون يې شمېر (۱۸۴) ته رسيږي چې په ټوله کې (۴۶۷) تنه کېږي. د همدې دورې د ټولې شاعرۍ نږدې نيمايي يې ديني عالمان دي.

د ځينو ټوله شاعري د ديني اساساتو شرحه ده، ځينو بيا د همدې ترڅنګ د انساني ټولنې نور مقتضيات او اړخونه، لکه ټولنيزې ناخوالې، نصيحتونه او د مينې او محبت خبرې بيان کړې دي.

د دې دورې د ځينو شاعرانو شعريت او هنري اړخ يې يو څه کمرنګه دی، اما په ټوله کې يې پښتو ژبې او ادب ته لويه پانګه په ميراث پرېښې ده.

په دويمه دوره کې د ۲ مېرمنو په ګډون (۱۴۱) هغه ليکوال دي چې نثري آثار يې موجود دي او (۲۸) هغه دي چې د منثور کلام يواځې يوه يا څو ټېلګې يې موندل شوې دي چې په همدې دوره کې (۱٦۹) هغه کسان لرو چې ديني پوهه يې لرله او نثري آثار او ټوټې يې کښلې دي. د دې دورې د ټولو نثر ليکوال له نيمايي لږ ډېر يې ديني عالمان دي. دوی د اسلام او شريعت اړوند مختلف موضوعات په نثر کې بيان کړي دي.

د ديني عالمانو د پنځونو، ليکنو او قلمي زيار له برکته پښتو ژبه د ادبياتو د شکلي او محتوايي جوړښتونو له مخې بډايه شوې او هم په کې پراخه متني او ليکنې زېرمه پيدا شوې ده.

ديني مسايل هغه څه دي چې د اسلامي تمدن د پايښت او دوامداره کېدو لامل کېږي، مونږ همدا موضوع په پښتو ژبه کې هم احساسوو چې له امله يې دغې ژبې پايښت موندلی او د اسلامي تمدن په غنامندی، دوام او بقاء کې يې رول ادا کړی دی.

له بلې خوا د يوې ژبې په پرمختګ او وده کې ديني او مذهبي متون عمده رول لري او له لارې يې د ژبې زېرمه بډايه کېږي چې همدا بډاينه په ربښتيا مونږ د پښتو په دويمه ادبي دوره کې احساسوو او عملاً يې ګورو.

آر وييونه: ادبيات، پښتو، دوره، دين، عالم.

د مطالبو ليکلړ

سرليک ..... مخګنه

لومړی څپرکی
د څېړنې کليات

۱- ۱. **سريزه** ۱
۱- ۲. د ستونزې بيان ۳
۱- ۳. د څېړنې ارزښت او اړتيا ٤
۱- ۴. د څېړنې موخې ٤
۱- ۴- ۱. اصلي موخه ٤
۱- ۴- ۲. فرعي موخې ٤
۱- ۵. د څېړنې پوښتنې ۵
۱- ۵- ۱. اصلي پوښتنه ۵
۱- ۵- ۲. فرعی پوښتنې ۵

دويم څپرکی
تېرو څېړنو او آثارو ته کتنه

۲- ۱. **تېرو آثارو ته کتنه** ٦
۲- ۱- ۱. کتابونه ٦
۲- ۱- ۲. مقالې ۹
۲- ۱- ۳. ژورنالونه ۹
۲- ۲. **د څېړنې نظري بنسټ** ۱۰
۲- ۲- ۱. اسلامي ادبيات ۱۰
۲- ۲- ۱- ۱. د اسلامي ادب پېژندنه او شننه ۱۰
۲- ۲- ۱- ۲. د اسلامي ادب تاريخچه ۱۲
۲- ۲- ۱- ۳. د اسلامي ادبياتو پېژندنه او مفهوم ۱۵
۲- ۲- ۱- ۴. د اسلامي ادب نومَوَنه ۱۹
۲- ۲- ۱- ۵. د اسلامي ادبياتو عمومي او معاصر مفهوم ۲۰
۲- ۲- ۱- ٦. د اسلامي ادبياتو او نورو ادبياتو اړيکه ۲۲

۲-۲-۱-۷. په اسلامي ادبياتو کې بڼه او محتوا ۲۳
۲-۲-۱-۸. په اسلامي ادبياتو کې ژبه ۲۳
۲-۲-۱-۹. پر اسلامي ادبياتو نيوکې او وضاحتونه ۲۵
۲-۲-۱-۱۰. د اسلامي تصور ځانګړنې؛ د اسلامي ادبياتو اساس ۲۶
۲-۲-۱-۱۱. د اسلامي ادبياتو ځانګړنې ۲۷
۲-۲-۱-۱۱-۱. عقيدوي ادب ۲۷
۲-۲-۱-۱۱-۲. هدفمن او روزنيز ادب ۲۹
۲-۲-۱-۱۱-۳. ژمن يا ملتزم ادب ۳۰
۲-۲-۱-۱۱-۴. پرانيستی متجدد ادب ۳۲
۲-۲-۱-۱۲. پايله ۳۴
۲-۳. په پښتو ادب کې د اسلامي ادب پيل او پرمختيايي بهير ۳۶
۲-۳-۱. د ديني ژباړو تاريخچه ۴۴
۲-۳-۱-۱. د قرآن کريم ژباړل شوي تفسيرونه او ترجمې ۴۴
۲-۳-۱-۲. د نبوي احاديثو ژباړې ۴۵
۲-۳-۱-۳. د سيرت ژباړې ۴۶
۲-۳-۱-۴. د فقهې ژباړې ۴۷
۲-۳-۱-۵. د عقيدوي، مذهبي، تعليمي، اخلاقي او نورو ديني کتابونو ژباړې ۴۷
۲-۴. په پښتو ادب کې د ديني علماوو رول ۴۹
۲-۵. **د مفاهيمو تعريفونه** ۵۶
۲-۵-۱. د پښتو ادبياتو ادبي دورې ۵۶
۲-۵-۱-۱. د پښتو دويمې ادبي دورې پېژندنه ۵۷
۲-۵-۱-۲. د د دويمې ادبي دورې سياسي، ټولنيز او فرهنګي حالت ته ځغلنده کتنه ۵۸
۲-۵-۱-۲-۱. سياسي حالت ۵۹
۲-۵-۱-۲-۲. ټولنيز حالت ۶۱
۲-۵-۱-۲-۳. فرهنګي حالت ۶۱
۲-۵-۱-۳. د دويمې دورې د شاعرانو او ليکوالو تخميني شمېر ۶۹
۲-۵-۱-۴. د دويمې او درېيمې دورې د تداخل ربړه ۶۹
۲-۵-۲. ديني عالم څوک دی؟ ۷۱
۲-۵-۶. د وخت متداول علوم ۷۳
۲-۵-۷. ديني عالم شاعر يا ليکوال کېدای شي؟ ۷۴

درېيم څپرکی
کړنلاره او مواد

۳- ۱. **کړنلاره** (میتود) ۷۷
۳- ۲. **مواد** ۷۷
۳- ۲- ۱. امکانات ۷۸
۳- ۲- ۲. محدودیتونه ۷۸
۳- ۲- ۳. اخلاقي مسایل ۷۸

څلورم څپرکی
د څېړنې موندنې

۴- ۱. د پښتو په دویمه ادبي دوره کې د دیني علماوو د منظومو آثارو پېژندنه او تحلیل ۷۹
۴- ۱- ۱. د دیني علماوو منظوم آثار ۸۰
۴- ۱- ۲. د دیني علماوو منظوم کلامونه ۴۵۰
۴- ۱ -۳. د دیني علماوو د منظومو آثارو او کلامونو د منځپانګې تحلیل ۵۱۰
۴- ۲. د پښتو په دویمه ادبي دوره کې د دیني علماوو د منثورو آثارو پېژندنه او تحلیل ۵۱۹
۴- ۲- ۱. د دیني علماوو منثور آثار ۵۲۲
۴- ۲- ۲. د د دیني علماوو منثور کلامونه او لیکنې ټوټې ۶۳۵
۴- ۲- ۳. د دیني علماوو د منثورو آثارو او ټوټو د منځپانګې تحلیل ۶۴۷
۴- ۳. د پښتو ادب د دویمې دورې په بڼاینه کې د دیني علماوو رول ۶۶۲
۴- ۳- ۱. په دویمه ادبي دوره کې د کتابونو په کتابت کې د دیني علماوو ونډه ۶۷۰

پنځم څپرکی
پایله، مناقشه، وړاندیزونه او مأخذونه

پایله ۶۷۴
مناقشه ۶۸۶
پایلیزه ۶۸۸
وړاندیزونه ۶۹۰
د څېړنې محدوده ۶۹۲
مأخذونه ۶۹۳

لومړی څپرکی
د څېړنې کلیات

۱- ۱. سریزه

الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی اشرف الأنبیاء والمرسلین سیدنا محمد وعلی آله و صحبه اجمعین. اما بعد.

په پښتو ژبه شاعري او لیکوالي په سلګونو کسانو کړې چې په دې کې بیا هغه شاعري او لیکوالي چې سرچینه یې قرآني آیتونه، نبوي احادیث او نور دیني او شرعي علوم دي، که له یوې خوا له پند و عبرت ډک دي، له بلې خوا د اخروي توښې برابرولو ترڅنګ یې پښتانه او پښتني ټولنه ګڼو دیني او ټولنیزو مسایلو ته متوجه کړي دي. دغه راز د عربي ژبې یو بیت دی چې:

العلم صید والکتابة قیده　　قید صیودک بالجبال الواثقة

د دې بیت ظاهري معنا دا ده چې پوهه ښکار دی او لیکل یې زنځیر دی، نو خپل ښکار په ډاډمنو غرونو وتړه؛ خو اصلي هدف ترې دا هم کېدای شي چې که هر څوک د علم سمندر ته ورښکته شي، که غواړي پوهه یې پاتې شي او نورو ته ورسیږي، هغه دې ولیکي، نو هر هغه څوک چې علم ولري او یا د شعر ویلو او د څه لیکلو وړتیا لري، هغه دې د قلم له لارې قید او خوندي کړي، ترڅو یې ګټه د وخت خلکو او اینده‌ګانو ته ورسیږي او بله دا چې د نوم د تلپاتې کېدو ترڅنګ به یې معنوي میراث راتلونکو نسلونو ته په میراث پریښی وي او هم به یې د خیر ښېګڼې خواته د ټولنې د سوق کېدو او هم مثقف کېدو کې ونډه اخیستې وي.

د نورو ولسونو ترڅنګ پښتنو لیکوالو او شاعرانو هم د شعر او نثر له لارې ایجادیات کړي او تر موږ را رسېدلي دي. د پښتو ادبیاتو تاریخ په څو دورو وېشل شوی چې لومړی، دویمه او درېیمه دوره بلل کېږي. په دې دویمه دوره کې چې د لسمې هجري پېړۍ له نیمایي پیلیږي او د څوارلسمې هجري پېړۍ تر لومړیو دوو - درېیو لسیزو پورې دوام کوي، په همدې څه کم څلور سوو کلونو کې په سلګونو

آثار ليکل شوي او پنځول شوي دي، چې لويه او غوښنه برخه يې د هغو شاعرانو او ليکوالو ويارې په برخه شوی چې په اسلامي احکامو او اساساتو کې د پوره يا نسبي پوهې خاوندان شوي وو، يعني دين عالمان وو؛ د هغوی يا ټول اثر اسلامي او ديني رنګ لري يا يې يوه برخه پر همدغو مسايلو راڅرخي او يا دا چې ديني عالم دی، خو د ژوند نور ټولنيز، اخلاقي، فرهنګي او اصلاحي مسايل يې په آثارو کې منعکس شوي دي.

دا ټول هغه موضوعات دي چې څېړل او تحليل يې په کار و، نو مې لازمه وبلله چې د پښتو ادب په پراخه ورشو کې دغه تشه ډکه کړای شي چې له يوې خوا به مو خپل تېر ويارونه ځلولي وي او له بله پلوه به په ډاګه شوې وي چې د پښتو ادبيات د اسلامي ليدلوري له اړخه بډای دي.

«په دويمه دوره کې پښتو ادبياتو ته د ديني علماوو د خدمتونو څېړنه» په نوم ډيزرټېشن په پنځو څپرکو کې کښل شوې ده. په سريزه کې د دې پروژې پېژندنه، د ستونزې بيان، د دې څېړنې ارزښت، اړتيا، موخه او پوښتنې راغلې دي. په دويم څپرکي کې د موضوع شالید يا تېرو آثارو ته کتنه شوې ده او په کې روښانه شوې چې تر پورتني سرليک لاندې تر اوسه پورې په پښتو ادبياتو کې سيستماتيک او اکاډميک کار نه و شوی او له همدې امله دا موضوع غوره او بحث پرې وشو. د څېړنې نظري بنسټ چې «اسلامي ادبيات» دي واضح شوی، د اسلامي ادبياتو پر پېژندنې او شننې سربېره د دې ادبياتو پر تاريخچې، مفهوم، نومونې، عمومي او معاصر مفهوم، بڼې او محتوا، ژبې، پر اسلامي ادبياتو نيوکو او وضاحتونو، د اسلامي تصور ځانګړنو چې د اسلامي ادبياتو اساس دی او هم د اسلامي ادبياتو پر مشخصاتو بحث شوی دی. په همدې برخه کې په پښتو ادب کې د اسلامي ادب پيل او پرمختيايي بهير هم څېړل شوی او ورپسې په پښتو ادب کې د ديني علماوو پر رول او خدمتونو رڼا اچول شوې ده. د مفاهيمو تعريفونه شوي چې د پښتو ادبياتو ادبي دورې او په مشخص ډول د پښتو دويمې ادبي دورې پېژندنه شوې، سياسي، ټولنيز او فرهنګي حالت ته ځغلنده کتنه شوې او هم د دې دورې پر ځينو نورو اړينو مسايلو بحث شوی دی.

په درېيم څپرکي کې د دې څېړنې کړنلار (مېتود) واضح شوی او مواد يې ښودل شوي چې اکثره يې چاپې آثار دي. په ځلورم څپرکي کې چې د دې څېړنې بنسټيزه برخه ده، د پښتو په دويمه ادبي دوره کې د ديني علماوو منظوم آثار او کلامونو پېژندل شوي او تحليل شوي او هم شاعران او ويناوال يې معرفي شوي دي، په همدې دوره کې د ديني علماوو د منثور آثارو او ليکنيو ټوټو پېژندنه او تحليل هم شوی او هم يې ويناوال پېژندل شوي دي. البته کله کله داسې هم شوي چې يو شخص هم په منظومه برخه کې او هم منثوره کې د

شاملېدو مستحق شوی دی، خو د ژوند او آثارو تفصیل په هغې برخه کې راغلی، په کومه برخه کې یې چې ډېر تبارز او خدمت کړی دی.

د یادولو ده چې په دې څېړنه کې د هر شاعر او لیکوال یوه یا څو د شعر او نثر نمونې راوړل شوې دي، کوښښ شوی چې دغه مثالونه د هماغه وخت په لیکدود ولیکل شي او هم د خطي نسخې کومه ښېلګه چې را اخیستل شوې، په هماغه املاء دلته رانقل شوې ده.

د دې بحث وروستۍ برخه د پښتو ادب د دویمې دورې په بڼاینه کې د ديني علماوو پر نقش بحث شوی او په پای کې مناقشه، پایله، وړاندیزونه، د څېړنې محدوده او اخځلیکونه راغلي دي.

اوس راځو د دې څېړنې نورو مسایلو ته.

۱-۲. د ستونزې بیان

هره چاره او په تېره علمي- څېړنیز ډګر کې څه ناڅه ستونزې موجودې وي چې د هغو د حل لپاره پوهان او څېړونکي لاس په کار کېږي او د هواري هڅه یې کوي. د پښتو ادب په پراخه غېږه کې د ديني علماوو د خدمتونو په اړه هر اړخیزه او جامع څېړنه نه وه شوې، چې ما د همغې په رڼا کې خپل مسیر ټاکلی او پرمخ ښولی وای. بله دا چې زمونږ ګڼ ادبي تاریخونه او ادبي تذکرې لیکل شوي او هم یې د ویناوالو څېړنیز آثار معلوم شوي، خو په مشخص ډول په کې له استثناوو پرته دا نه وه معلومه شوې چې د دغه شاعر، ناظم او لیکوال ديني مطالعه په کومه کچه وه او یا یې په اړه مطلق حکم شوی وي چې دی ديني عالم و که نه. البته د ځینو په اړه دغسې حکمونه شوي، خو په عام ډول دا کار نه دی شوی. داسې شاعران او لیکوالان شته چې له نوم سره یې د ملا، مولوي، اخوند، شیخ او نور دغه ډول اسلامي القاب چې د ديني پوهې خاوندانو ته کارول کېږي، نه تر سترګو کېږي، خو چې د آثارو منځپانګه یې وپلټل شي، پر هغه هرومرو د ديني عالم اطلاق کېږي.

په دې څېړنه کې یوه بله ربړه دا وه چې کله کله د یوه شاعر/ ناظم او لیکوال د ژوند زمانه یا د زوکړې یا مړینې کره نېټې نه دي معلومې شوي، نو دا چې دی د کومې پېړۍ شخص دی، په اړه یې پرېکړه کول ستونزمن وو، خو د اثر یا آثارو منځپانګې ته یې چې وکتل شي، هغه به د پښتو ادبیاتو د دویمې دورې اړوند شخص وي. همدارنګه د ځینو شاعرانو او لیکوالو د زوکړې او مړینو په نېټو کې تفاوتونه موجود دي، دغه او دې ته ورته نورې ستونزې وې چې د دې څېړنې په وړاندې موجودې وې، خو د مختلفو باوري سرچینو او دقیقې مطالعې په ترڅ کې تر ډېره دغه ستونزې هوارې شوې دي او څو د ګوتو په شمار داسې موارد به وي چې هغه لا نور

کړه‌والي او ثقه‌والي ته اړتيا ولري.

۱-۳. د څېړنې ارزښت او اړتيا

د پښتو ادبياتو دويمه دوره د متونو او آثارو د شکلي او هم محتوايي پلوه پراخه او غني زماني محدوده ده، په کار ده چې له مختلفو اړخونو او زاويو څخه وڅېړل شي. يو له دغو ابعادو څخه په همدې دوره کې پښتو ادبياتو ته د ديني علماوو د خدمتونو جاج اخيستل او په ډاګه کول دي. په دې څېړنه کې روښانه شوې چې په دغه دوره کې ديني علماوو پښتو ژبې او ادب ته کومې او څومره لوړيښې او پېرزويني لرلې دي. د دوی د قلمي هڅو په برکت د ژبې ليکنې زېرمه څومره بډايه شوې ده او هم دا چې يو ديني عالم، سره له دې چې په خپلو ديني او شرعي مسايلو کې به بوخت پاتې شوی وي، د ژبې له لارې د خپل پيغام رسولو ترڅنګ يې د ليک او قلم په وسيله خپلو خلکو او ټولنې ته څومره او څنګه خدمت کړی دی. بله دا چې د يوه مسلمان شخص په توګه يو ليکوال او شاعر بايد ديني ارزښتونه او شعاير څنګه وځلوي چې دا ټول د دې لامل شوي چې په اړه يې څېړنه وشي.

کله کله زمونږ پر ادبياتو، لکه فلسفې اعتراض دا دی چې له خپل اصالت څخه لرې موضوعات رانغاړي، خو په دې رساله کې خپل پښتني ميراث خوندي او څېړل شوی دی. ښه‌والی يې دا دی چې زمونږ خپل افغاني او پښتني فرهنګ او ادب په کې ځلېدلی او منعکس شوی دی. د غرب يا نورې نړۍ د ثقافت پر ځای خپل ژبني او ادبي مسايل په کې څرګند شوي دي.

۱-۴. د څېړنې موخې

۱-۴-۱. اصلي موخه

۱-په دويمه دوره کې پښتو ادبياتو ته د ديني علماوو د خدمتونو څېړنه او راښرېره کول.

۱-۴-۲. فرعي موخې

۱-د پښتو دويمې ادبي دورې سياسي، ټولنيز او فرهنګي حالت څېړل.

۲-اسلامي ادبياتو مفهوم بيانول او په پښتو کې د دغه ډول ادبياتو پيل او پرمختيايي بهير روښانه کول.

۳-د پښتو په دويمه ادبي دوره کې په منظومه برخه کې د ديني علماوو د خدمتونو څېړنه.

۴-د پښتو په دويمه ادبي دوره کې په منثوره برخه کې د ديني علماوو د خدمتونو جاج اخيستل.

۵-پر پنځونو سربېره د دې دورې د شاعرانو او ليکوالو نور کړي خدمتونه راسپړل.

٦-د پښتو ادب د دويمې دورې په غنامندۍ کې د ديني علماوو رول څرګندول.

۱-۵. د څېړنې پوښتنې

۱-۵-۱. اصلي پوښتنه:

په دویمه دوره کې پښتو ادبیاتو ته دیني علماوو کوم او څه ډول خدمتونه کړي دي؟

۱-۵-۲. فرعی پوښتنې:

۱-د پښتو دویمه ادبي دوره کومه زمانه رانغاړي او هم یې سیاسي، ټولنیز او فرهنګي حالت څه ډول و؟

۲- اسلامي ادبیات څه ډول ادبیات دي او په پښتو کې د دغه ډول ادبیاتو پیل او پرمختیایي بهیر څرنګه ارزول کېږي؟

۳-د پښتو په دویمه ادبي دوره کې دیني علماوو کوم او څه ډول منظوم آثار لیکلي دي؟

۴-د پښتو په دویمه ادبي دوره کې دیني علماوو کوم او څه ډول منثور آثار لیکلي دي؟

۵-د دې دورې شاعرانو او لیکوالو پر پنځونو سربېره، نور څه ډول ایجادیات او تحقیقات کړي دي؟

٦-د پښتو ادب د دویمې دورې په بڼاینه کې دیني علماوو څه رول درلودلی دی؟

دویم څپرکی

تېرو آثارو او څېړنو ته کتنه

په دې څپرکي کې «په دویمه دوره کې پښتو ادبیاتو ته د دیني علماوو د خدمتونو څېړنه» موضوع په تړاو د هغو څېړنو او آثارو جاج اخیستل شوی چې په دې اړه تر اوسه پورې ترسره شوي او هم د دغو آثارو کره‌کتنه شوې ده، کمزورې خواوې یې په ګوته شوي او هم د دې څېړنې توپیر ورسره ښودل شوی دی.

۲- ۱. تېرو آثارو ته کتنه

د پښتو ادبیاتو د دویمې دورې په اړه ګڼ آثار، تذکرې او مقالې لیکل شوي چې د شاعرانو او لیکوالو د پېژندګلوی او د هغوی د ایجادیاتو او لیکلیو آثارو په باب معلومات په کې خوندي شوي دي. په دې آثارو، تذکرو، فرهنګونو او مقالو کې هغه اشخاص هم معرفي شوي چې ديني علماء وو، خو په پښتو ژبه یې لیکنې کړي او شعرونه یې ویلي دي چې دلته له دغه ډول آثارو او مقالو څخه په کرونولوژیکه بڼه لومړی د کتابونو او بیا د مقالو یادونه کوو:

۲- ۱- ۱. کتابونه

۱- پښتانه شعراء: دغه اثر په اووه ټوکونو کې کښل شوی چې لومړی ټوک یې علامه عبدالحی حبیبي لیکلی او په ۱۳۲۰هـ.ش کال کې چاپ شوی، دویم ټوک پوهاند صدیق الله رښتین لیکلی چې په ۱۳۲۱هـ.ش کال کې خپور شوی دی، درېیم ټوک علامه عبدالشکور رشاد کښلی چې لومړی ځل په ۱۳۳۸هـ.ش او دویم ځل په ۱۳۴۲هـ.ش کال کې چاپ شوی، څلورم ټوک څېړنپوه عبدالله بختاني لیکلی چې په ۱۳۵۷هـ.ش کال کې د لوستونکو مخې ته ایښودل شوی او پنځم ټوک یې هم استاد بختاني لیکلی او په ۱۳٦۷هـ.ش کال کې خپور شوی دی. دغه پنځه ټوکونه د مطیع الله روهیال له خوا راټول او د (پښتانه شعراء «بشپړ متن») په نوم په ۱۳۹۱هـ.ش کال کې په ۱۲۱٦ مخونو کې د ده له

تصحیحاتو او زیاتونو سره بیاځلي چاپ شوی دی. له نېکه‌مرغه دا لړۍ استاد بختاني غځولې، شپږم ټوک او اووم ټوک یې هم لیکلی او په ۱۳۹۱ل کال کې خپاره شوي دي. د اووم ټوک د وروستي شاعر شمېره (۷۰۷) ښودل شوې، په دې معنا چې د (پښتانه شعراء) په ټولو ټوکونو کې په همدې شمېر شاعران معرفي شوي دي.

په دې پنډ اثر کې د پښتو ژبې د سلګونو شاعرانو ژوندلیکونه راغلي او د کلام یوه یا څو بېلګې خوندي شوې دي. دا د پښتو ادبیاتو پر ځمکه مغتنم اثر دی، خو د پښتو ادبیاتو ټول شاعران په کې نه دي ښوول شوي او د کومو په باب چې په کې معلومات راغلي، پر مختصر ژوندلیک او د کلام په یوې یا څو بېلګو په کې بسنه شوې ده. کاش د (پښتانه شعراء) بله شوې ډیوه د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټوټ علمي غړي بله وساتي او دا لړۍ همداسې وغځوي.

۲- پښتو پانګه: په دوو ټوکونو کې د حبیب الله رفیع اثر دی چې په لومړي ټوک کې (۵۰۰) او دوهم کې (۸۲۸) کتابونه چې ټول (۱۳۲۸) کتابونه کېږي، په لنډیز سره پېژندل شوي دي. لومړی ټوک په ۱۳۵۴هـ.ش او دویم ټوک په ۱۳۵٦هـ.ش کال خپور شوی دی. دا اثر د کتابونو د پېژندنې لپاره مغتنمه بېلیوګرافي ده.

۳- فرهنګ زبان و ادبیات پښتو: د استاد زلمي هېوادمل اثر دی چې لومړی ټوک یې په ۱۳۵٦هـ.ش کال چاپ دی. دویم ټوک یې د «فرهنګ ادبیات پښتو» په نوم په ۱۳٦۵هـ.ش او درېیم ټوک هم په همدې نوم په ۱۳٦٦هـ.ش کې چاپ شوی دی. په دې درې واړو دري ژبې ټوکونو کې د پښتنو شاعرانو او لیکوالانو ډېره لنډه پېژندګلوي او هم د پښتو آثارو مختصره معرفي راغلي دي. دا اثر په خپل وخت او هم اوس وخت کې ارزښت لري.

۴- د پښتو ادبیاتو تاریخ (لومړی ټوک): د څېړنېوه زلمي هېوادمل اثر دی چې د پښتو ادبیاتو لرغونې او منځنۍ دورې ته ځانګړی شوی دی. اثر چې په ۱۳۷۰هـ.ش/ ۱۹۹۱م کال د افغانستان د ښوونځیو د لسمو او یوولسمو ټولګیو لپاره لیکل شوی دی، په ۱۳۷۹هـ.ش کال چاپ شوی دی. په دې کې د پښتو شفاهي ادبیاتو، د پښتو ادبي تاریخ د لومړۍ او دویمې دورې په باب مسایل په اختصار سره بیان شوي دي. سره له دې چې دا اثر د ښوونځیو د زده‌کوونکو لپاره کښل شوی، خو اوسمهال د محصلینو او څېړونکو لپاره هم غوره او باوري مأخذ دی.

د یادولو ده چې «د پښتوادب تاریخ» د پوهاند صدیق الله رښتین، «د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره» د

پوهاند دوکتور زیور الدین زیور او په دې وروستیو کې څو نور ادب تاریخونه لیکل شوي چې تر ډېره په کې یواځې د لیکوال معرفي او د کلام بېلګه راوړل شوې او په همدې په کې اکتفاء شوې ده.
۵- پیاوړي شاعران: د پوهاند صدیق الله رښتین اثر دی چې په ۱۳۷۲هـ.ش کال کې په ۲۶۲ مخونو کې خپور شوی دی. په دې اثر کې د دویمې دورې او هم د معاصرې دورې یواځې څلوېښت شاعران د هغوی د معرفۍ ترڅنګ د کلامو بېلابېل اړخونه روښانه شوي دي.
٦- د پښتو نثر اته سوه کاله: د څېړنیوه زلمي هېوادمل ۱۰۳۴ مخیز جامع اثر دی چې لومړی ځل په ۱۳۷۵هـ.ش/ ۱۹۹٦م کال، دویم ځل له نویو زیاتونو سره په ۱۳۹۰هـ.ش کال او درېیم ځل په ۱۴۰۳هـ.ش کال کې خپور شوی دی. اثر په عام ډول د نثر او خاصتاً په پښتو نثر راڅرخي، ټول هغه کسان چې په نثر یې لیکنې کړي دي، لنډ معرفي او د هغوی د کلام د نمونې پر راوړلو سربېره یې په اړه تحلیل هم شوی دی.
۷- آریانا دایرة المعارف: د افغانستان د علومو اکاډمي د دایرة المعارف مرکز له خوا په ۷ ټوکونو کې ترتیب شوی دایرة المعارف دی چې له ۱۳۸٦هـ.ش څخه تر ۱۳۹۷هـ.ش کلونو کې چاپ شوی دی. په دې اثر کې په سلګونه ارټیکلونه خپاره شوي چې له ډلې یې هغه پښتانه شاعران او لیکوالان هم په مختصر ډول معرفي شوي چې دیني عالمان وو.
۸- د افغانستان مفاخر: د مولوي محمد ګل سعید څلور ټوکیز اثر دی چې د هېواد نومیالي عالمان، غازیان، ادیبان، پوهان او هغه نومیالۍ مېرمنې چې نومونه یې د تاریخ په پاڼو کې خوندي دي، په کې معرفي شوي دي. لومړی ټوک په ۱۳۹۴هـ.ش کال په درېیم ځل پېښور کې په ۷۳٦ مخونو کې، دویم ټوک په ۱۳۹۴هـ.ش کال په درېیم ځل پېښور کې په ۵٦۰ مخونو، درېیم ټوک په ۱۴۰۱هـ.ش کال پېښور کې په ٦۸۵ مخونو او څلورم ټوک په ۱۴۰۲هـ.ش کال کې پېښور کې چاپ شوی دی. په دې اثر کې د ادب له نړۍ ور اخوا د افغانستان د هرې برخې ویاړونه چې خدمتونه یې کړي، پېژندل شوي دي.
۹- پښتو ته د دیني آثارو ژباړه «پیل او بهیر»: د ښوویالي حامد الله بریا اثر دی چې په ۱۳۹۵هـ.ش کال کې یې کښلی دی. په دې اثر کې د قرآن کریم ژباړې او تفسیرونه، د نبوي احادیثو، سیرت، فقهي، عقیدوي، مذهبي، تعلیمي، اخلاقي، تاریخي، سیاسي او نور ژباړل شوي آثار معرفي شوي دي. دا اثر چې لا چاپ نه دی، په دې برخو کې د را ژباړل شویو آثارو د معرفۍ په باب کافي معلومات لري.

۲- ۱- ۲. مقالې

۱- د علي محمد مخلص منثوره پښتو تصوفي رساله: د استاد زلمي هېوادمل مقاله ده چې په کابل مجله کې په ۱۳٦۷ل کال کې خپره شوې ده او د مخلص پر منثورې تصوفي رسالې بحث په کې شوی دی.

۲- پښتو ادب کې اسلامي آثار: د قمر الزمان طائزي مقاله ده چې د «پښتو: پرون، نن او سبا» د سیمینار د مقالو ټولګه کې په ۲۰۰٦م کال کې خپره شوې ده. په دې مقاله کې په پښتونخوا کې د قرآن کریم پر څو لیکل شویو تفسیرونو لنډې خبرې شوې دي.

۳- د قرآن کریم پښتو ژباړې او تفسیرونه: د عبدالمالک همت ګټوره مقاله ده چې د افغان بنسټ په مهالنۍ کې په ۱۳۹۲ل کال کې چاپ شوې ده. دا د الهي کلام د پښتو ژباړو او تفسیرونو د معرفۍ په باب مغتنمه څېړنه ده.

۴- د عبدالحمید بابا پر کلام د نبوي احادیثو اغېز: د یار زمان منګل مقاله ده چې په ۱۳۹۵ل کال کې د کابل پوهنتون د بهرنیو ژبو او ادبیاتو پوهنځي مجلې کې چاپ شوې ده. په دې مقاله کې د حمید مومند څو شعرونه او بیتونه راوړل شوي او بیا په کې جوته شوې چې همدا مفاهیم په نبوي احادیثو کې هم راغلي او هماغه احادیث یې ورسره راوړي دي.

۲- ۱- ۳. ژورنالونه

۱- نظریهٔ ادب اسلامی معاصر در آینهٔ نقد و بررسی: د خلیل پروینې، میرزایي فرامرز او صدیقې زودرنج مقاله ده چې په «فصلنامه ادبیات دینی» دربیمه ګڼه کې خپره شوې ده. دا مقاله د اسلامي ادبیاتو د معرفۍ او اساساتو په اړه ګټوره مقاله ده.

۲- د عبدالقادر خټک پر شاعرۍ د قرآن کریم اغېز: د کابل پوهنتون د استاد یار زمان منګل مقاله ده چې په پښتونخوا ژورنال کې خپره شوې ده. په دې مقاله کې د عبدالقادر خان څو بیتونه راوړل شوي او په کې جوته شوې چې د ده دا مفاهیم په قرآن کریم کې راغلي او له هغه څخه په اغېزمنې شاعر پرې خپل کلام مستند کړی دی.

پورتني او دې ورته نور آثار په خپل وخت او ځای کې ګټور او مغتنم دي، خو پورتني یاد شوي هر اثر خپل ځانګړی مسیر او لیدلوری لري، ځینې یې یواځې په شعر او شاعرانو، ځینې بیا پر نثر او لیکوالو، ځینې فقط د آثارو یا شاعر او لیکوال پر مختصرې پېژندګلوی، ځینې بیا د افغانستان پر ټولو مشاهیرو او ځینې یواځې په ژباړو شویو آثارو راځرخي؛ په دې آثارو کې هغه اشخاص چې دیني علماء دي او یا

یې ایجادیات دیني اړخونه لري، څه ناڅه بحثونه لري، خو داسې یو اثر چې په هغه کې په یوه مشخصه زمانه په تېره د پښتو ادب دویمې دورې کې د دیني علماوو پر خدمتونو راوچورلي، نه تر سترګو کېږي. همدې موخې او اړینتیا ته په کتلو سره «په دویمه دوره کې پښتو ادبیاتو ته د دیني علماوو د خدمتونو څېړنه» موضوع غوره او د دې تشې د ډکولو په پار اقدام وشو، ترڅو له یوې خوا د یوه ځانګړي اثر په توګه لوستونکو او ټولنې ته وړاندې شي او له بله پلوه د پښتو قوت او صلابت روښانه شي چې زموږ اکثریت ویناوالو که هغه ناظمان دي، شاعران او که نثرلیکوال، یا دیني علماء وو او یا یې شرعي او دیني مرغلرې پېښې دي. دوی ټولو د اسلام دین او خپلې ژبې ته خدمت کړی، الله تعالی دې دوی په خپلو نعمتونو نازوي او ارواح دې یې ښاد وي.

۲- ۲. د څېړنې نظري بنسټ

د دې څېړنې اساسي محور په دویمه ادبي دوره کې پښتو ژبې ته د دیني علماوو د کړیو خدمتونو جاج اخیستل دي، نو لازمه ده چې اسلامي ادبیات وپېژندل او وڅېړل شي، ځکه په دې اړه بحث په پښتو ژبه کې پر نشت حساب دی.

۲- ۲- ۱. اسلامي ادبیات

ادبیات ګڼ انواع لري چې یو په کې «اسلامي ادب» دی، دا چې دا ادب څه شی دی، تاریخچه، مفهوم، بڼه ، محتوا او ځانګړنې یې کومې دي، دا ټول هغه څه دي چې لاندې پرې رڼا اچول شوې ده.

۲- ۲- ۱- ۱. د اسلامي ادب پېژندنه او شننه

ادبي اثار د شکل او موضوع له مخې پر دوو بنسټیزو برخو وېشل کېږي چې یوه یې شکلي (فورمي) او بله یې موضوعي (مضموني) برخه ده.

شکلي اړخ چې د هیأت، فورم او جوړښت په نومونو هم یادېږي، د ادبي اثر د وړاندې کېدو بڼه او هنري جوړښت بیانوي. له دې پلوه ادبیات په دوو سترو بڼو، یعنې نظم او نثر وېشل کېږي او هره یوه یې خپل ځانګړي ادبي قالبونه او ډولونه لري، لکه غزل، قصیده، مثنوي، رباعي، ازاد شعر، ناول، لنډه کیسه، ډرامه، مقاله او نور. دغه قالبونه او ډولونه د ادبیاتو شکلي یا فورمي وېش څرګندوي.

موضوعي اړخ چې د منځپانګې، محتوا او مضمون په نومونو هم یادېږي، د ادبي اثر له فکري، معنوي او ارزښتي نړۍ سره تړاو لري. په دې اړخ کې ادبي آثار د خپلې موضوع، فکر، لیدلوري او پیغام له مخې طبقه‌بندي کېږي، لکه اسلامي ادبیات، عرفاني ادبیات، مقاومتي ادبیات، ټولنیز ادبیات، عاشقانه

ادبيات او نور. په بل تعبير، شکلي اړخ د اثر ظرف او موضوعي اړخ يې مظروف ګڼل کېدای شي؛ خو دا تشبيه يواځې د مفهوم د اسانتيا لپاره ده، ځکه شکل او محتوا له يو بل سره ژوره او نه ټېلېدونکې اړيکه لري او د يوه هنري اثر بشپړ ارزښت د دواړو په همغږۍ کې نغښتی وي.

په دې بحث کې زموږ تمرکز د ادبياتو پر شکلي قالبونو نه، بلکې پر موضوعي اړخ دی؛ ځکه اسلامي ادبيات د ادبي آثارو د موضوع، فکر او منځپانګې له مخې پېژندل کېږي، نه د ځانګړي شکلي قالب يا فورم له مخې.

فضل مير ختک وايي، په ادب يا ادبي فن‌پاره کې چې کوم مواد استعمال شي او له هغې نه چې کوم مجموعي تأثر پيدا شي، د هغې درجه‌بندۍ په وجه يې ډېر قسمونه دي چې د نظم او نثر دواړو احاطه کوي؛ څو يې دا دي:

۱- اسلامي ادب. ۲- جائز ادب. ۳- ناجائز ادب. ۴- جاهلي ادب. ۵- جديد ادب. ٦- عظيم ادب. ۷- عوامي ادب/ شفاهي ادب/ ولسي ادب. ۸- فکاهي ادب. ۹- لطيف ادب/ منثور ادب. ۱۰- انقلابي ادب. ۱۱- هنګامي ادب(ختک، ۲۰۲۱م، ۳۳، ۳۴، ۳۵ مخونه).

دا هر يو خپل تعريف او ځانګړتياوې لري چې دلته يواځې په لومړي هغه (اسلامي ادب) تمرکز کوو او دا د دې څېړنې اصلي بنسټ دی.

په معاصر وخت کې ادبيات د ټولنې د افکارو، ارزښتونو او ليدلورو د انعکاس او بيان مهمه وسيله ګڼل کېږي. ټېلېبل ادبي مکتبونه او فکري بهيرونه د خپلو باورونو او نظرياتو د څرګندولو لپاره له ادبياتو څخه ګټه اخلي. اسلامي ادبيات هم د همدې بهير يوه مهمه برخه ده؛ خو ځانګړنه يې دا ده چې خپلې مفکورې د اسلامي نړۍ لېد پر بنسټ وړاندې کوي، د اسلامي ديني او فرهنګي ميراث د ساتنې او بيا را ژوندي کولو هڅه کوي او د توحيدي لېد له مخې د انسان، ټولنې او ژوند ټېلېبل اړخونه تفسير او ارزوي (پروينی، فرامرز، زودرنج. https://jrla.isca.ac.ir/article_۱۵۳_۲aba۱ec۳۳d۹۲b٦۹۰۹٦۳۲da۰٤٤۹۳۰ed۷۸.pdf، ۱۰ مخ).

هر هغه منظوم او منثور کلام چې د ديني او اسلامي موضوعاتو او مفاهيمو څرګندونه په کې شوې وي، د ديني آثارو په نوم يادېږي. په دې ډول آثارو کې د ديني او مذهبي مسايلو پېژندنه، تشريح او تفسير شامل وي. د قرآن کريم تفسيرونه، د احاديثو ژباړې او شرحې او همدارنګه د دين د ارکانو او اساسي احکامو په اړه ليکل شوي آثار د همدې ادبي او علمي ساحې مهمې ټېلګې ګڼل کېږي(هاشمي،

۱۳۹۴ل، ۲۲ مخ).

۲- ۲- ۱- ۲. د اسلامي ادب تاریخچه

معاصرو اسلامي ادبیاتو تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته په تېره د شلمې پیړۍ په دویمه نیمایي کې له نورو ادبي جریانونو سره هم‌مهاله په عربي هېوادونو کې وده او پراختیا پیدا کړه او اسلامي تیوریسنان او لیکوالان، لکه محمد قطب، عماد الدین خلیل، نجیب الکیلاني او نورو په دې برخه کې د انتقادي او نوښتیزو آثارو لیکل پیل کړل. له همدې امله له یوې خوا د اسلامي هنر او ادب په تیوریکي بنسټونو پورې اړوند آثار، چې له اسلامي جهان‌بینۍ څخه اخیستل شوي دي، را مخې ته شول او له بلې خوا نوښتیز آثار لکه شعر، کیسې، ډرامې او نور د اسلامي ادب له تیوري څخه په الهام اخیستو او له توحیدي لید څخه را ولاړو شویو مفاهیمو ته په پام سره ولیکل شول. د دوی اصلي هدف د اسلامي-انساني ارزښتونو پراختیا، ديني افکارو ته وده او پام و، د اسلامي نړۍلید په رڼا کې ادبیات د بشري ټولنو د ستونزو او مسایلو د تحلیل او څېړنې وسیله ده. همدارنګه دا ادبیات د تاریخ، په ځانګړي ډول د اسلامي تاریخ، د بیا را ژوندي کولو او د ادبي بیان له لارې د ديني میراث د نوې تشریح او تفسیر په برخه کې مهم رول لوبوي(پروینی، فرامرز، صدیقه زودرنج، https://jrla.isca.ac.ir/article_۱۵۳_۲aba۱ec۳۳d۹۲b۶۹۰۹۶۳۲da۰٤٤۹۳۰ed۷۸.pdf، ۱۰ مخ).

د اسلامي ادبیاتو د نظریې مخکښ ابـو الحسـن النـدوي [۱۳۳۳-۱۴۲۰هــ.ق/ ۱۹۱۴-۱۹۹۹م] دی. د سوریایي څېړونکي او لیکوال عبدالرحمن رأفـت الباشـا [۱۳۳۸-۱٤۰٦ هــ.ق/ ۱۹۲۰-۱۹۸٦م] په اثـر «نحو مذهب إسـلامي في الأدب والنقـد» کـې د دې نظـر پـه اړه یادونـه شـوې ده چـې د اسـلامي ادب موضوع ته لومړنی جدي پام‌کوونکی او د دې فکـري لـوري لـه بنسټګرو څخـه یـو شـیخ ابـو الحسـن الندوي ګڼل کېږي. هغه مهال چې نوموړی په دمشق کې د عربي علمي مجمع غـړی و، پـه یـوه علمـي بحث کې یې د اسلامي ادب د رامنځته کولو او پراختیا اړتیا مطرح کړه. له همدې امله، هغـه د اسـلامي ادب د معاصرې نظریې له مهمو بنسټګرو څخه شمېرل کېږي. د دغه بحث او څېړنې مهمې ځانګړنې د هغه په «نظرات في الأدب» کتاب کې راغلي چې د نړیوالې اسلامي ادبي ټولنې له خوا خپور شوی دی. ابو الحسن الندوي په ۱۳۷۷هـ.ق/۱۹۵۷م کال په دمشق کې د علمي مجمع د غړي په توګه ټاکل شـوی دی. هغه په دې برخه کې څېړنې کړي او مقالې او بحثونه یې خپاره شوي دي.

د هغه په پیروی مصري لیکوال سید قطب [۱۹۰٦–۱۹٦٦م] په یوه مقاله کې چې وروسته یـې پـه خپـل

کتاب (في التاريخ فكرة ومنهاج) کې هم خپره کړه او په بل کتاب (النقد الأدبي أصوله ومناهجه) کې يې د اسلامي ادب د تګلارې او منهج په اړه بحثونه کړي دي. د دوی دواړو څېړنې د دې ډول ادبياتو په ودانۍ کې لومړنۍ خښتې وې. د هغوی په پل مصري لیکوال محمد قطب [۱۹۱۹- ۲۰۱٤م] قدم کېښود او په خپل کتاب (منهج الفن الإسلامي) کې يې دغې نظريې او مفکورې ته پراختيا ورکړه او په کې يې د «اسلامي ادب» بحث د اسلامي هنر لازمي برخه وګڼله. هغه په خپلو ګڼو بېلابېلو لیکنو کې په دې اړه بحثونه کړي دي.

دغه جريان ته د مخکښيو پوهانو له لارښوونو سره سم د مصر ـ ستر طبيب او ليکوال او شاعر نجيب الكيلاني [۱۳۵۰-۱٤۱۵هـ.ق/ ۱۹۳۱-۱۹۹۵م] په «الإسلامية والمذاهب الأدبية» کتاب او عراقي ليکوال، مؤرخ او اديب عماد الدين [۱۹٤۱م کال زوکړی] په «النقد الإسلامي المعاصر» کتاب کې دوام ورکړ. دغه کسان د دغې داعيې مخکښان دي، له دې فکري بهير سره وروسته نور هغه پوهان او ليکوالان هم يو ځای شول چې د دې موضوع په اهميت پوهېدل، ورته لېوال وو او د دې فکري او علمي مسؤوليت احساس يې درلود. دغه جريان د مصري ليکوال او مفکر انور الجندي [۱۹۱۷ – ۲۰۰۲م] په رښتينو هڅو چې عربي ادبيات يې له غربي واردو شويو مفکورو جلا کاوه، غښتلی شو، لکه چې وايي: اوس چې د دغو درسي پروګرامونو له اجراء څخه پنځوس کاله تېر شوي دي، لازمه ده چې د اسلام، اسلامي فکر او د اسلامي عربي ادبياتو په رڼا کې تر بحث لاندې ونيول شي، چې دا ټول له قرآن کريم څخه پيل شوي، لکه څنګه چې د ژبې، بلاغت، نحوې او نورو علومو مبدأ او منشأ ده.

پورته يادې شوې هڅې په انفرادي ډول د يو شمېر پوهانو له خوا ترسره شوې وې، خو وروسته دا بهير په منظم او ډله‌ييز شکل د اسلامي ادبياتو نړيوالې ټولنې (رابطة الأدب الإسلامي العالمية) له لارې پراخ شو، چې مشري يې شيخ ابو الحسن الندوي کوله.

دې ټولنې د اسلامي ادب د تعريف، تبيين او علمي رواج لپاره منظم کار وکړ او له خپلو نشراتي وسايلو څخه يې اغېزمنه استفاده وکړه. په دې چوکاټ کې يې په بېلابېلو ژبو او سيمو کې علمي او ادبي مجلې خپرې کړې، لکه: «الأدب الإسلامي» د عربي نړۍ له دفتره، «المشكاة» د مغرب له سيمه‌ييز دفتره، «کاروان ادب» په اردو ژبه د هند له نيمې وچې څخه، «قافلة الأدب» په اردو ژبه د پاکستان له دفتره، «الحق» په بنګالي ژبه د بنګله‌دېش له دفتره، او «إسلامي أدبيات» په ترکي ژبه د ترکيې له دفتره.

په دې خپرونو کې د ادبياتو د بېلابېلو برخو اړونده ادبي، انتقادي او نظري بحثونه، څېړنې او تخليقي

ليکنې خپرې شوې او لا هم خپرېږي. دغه هڅو د اسلامي ادبي نظريې د تيوريکي چوکاټ په روښانه کولو کې مهم رول ولوباوه، د دې نظريې اصول يې منظم کړل، اصطلاحات او مفاهيم يې وټاکل او د ادبي فکر په عملي بڼو کې يې ښلابښل مثالونه وړاندې کړل.

دغې ټولنې د دغو هڅو د ملاتړ او تشويق لپاره سيالۍ ترسره کړي او سيمينارونه يې جوړ کړي دي. د اسلامي ادب لومړنی سيمينار يې د هند په لکنهو کې په ١٤٠١هـ.ق/١٩٨١م کال، دويم په مدينه منوره کې په ١٤٠٢هـ.ق/١٩٨٢م کال او درېيم په ١٤٠٥هـ.ق/١٩٨٥م کې په رياض کې د محمد بن سعود الاسلامية پوهنتون کې جوړ کړي دي.

کله چې د اسلامي ادبياتو جريان او رجحان پياوړی شو او ملاتړي يې زيات شول، په سعودي کې محمد بن سعود پوهنتون د تدريسي مضمون په توګه ومانه او په خپل نصاب کې يې شامل کړ او په کې يې د نقد او بلاغت او اسلامي ادب منهج څانګه پرانيسته. دې پسې د مدينې منورې اسلامي پوهنتون دغه ابتکار وکړ.

تر دې وروسته اسلامي ادب داسې ادبي پديده وګرځېده چې له پامه غورځول يې ستونزمن شول. د دې بهير علمي، فکري او هنري وده دومره څرګنده شوه چې په معاصرو ادبي څېړنو او نقدي بحثونو کې يې ځانګړی ځای وموند او د ادبي نړۍ د پام وړ برخه وګرځېده. د ادب په ډګر کې يې بنسټ ټينګ شو، ځانګې يې وغځېدې او مېوه يې ورسېدې. په همدې ترڅ کې د اسلامي ادبياتو د نظريې، نوښت او تدريسي اړخونو په اړه ګڼ شمېر ليکنې ترسره شوې. تر دې پرمختګونو وروسته د اسلامي ادبياتو نړيوالې ټولنې د دې اړتيا احساس وکړ چې د اسلامي ادبياتو لپاره يو منظم کتابي فهرست (رهنما) برابر کړي، څو د استادانو، محصلينو او څېړونکو لپاره د لارښود او مرستندويه سرچينې په توګه کار وکړي.

په اوسني عصر کې د مسلمانو اديبانو چې څومره علمي توليد کړی، د هغه د ببليوګرافي يا ادبي فهرست لارښوونه يې وشوه او دغه کار يې سوريايي ليکوال، نقاد، څېړونکي او مؤرخ عبدالباسط بدر [١٣٦٣-١٤٤١هـ.ق/١٩٤٤-٢٠٢٠م] ته وسپاره، هغه د فهرست لومړی ټوک جوړ کړ او په هغه کې يې يواځې په عربي ژبه په ليکلي اسلامي ادب اکتفاء وکړه، خو هغه درک کړه چې دا کار ګڼ او پراخ دی چې د يوه شخص کار نه دی، بلکې په ډله‌ييزه توګه کار او انسجام غواړي(رابح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf).

له همدې مخې ويلای شو چې د «اسلامي ادب» اصطلاح د اسلام د لارښوونو د التزام بلنې او د

مسلمان د ژوند د فرهنګي، فکري، علمي، سياسي، اقتصادي او ټولنيزو برخو د اسلامي کولو په بهير کې راڅرګنده شوه. دا اصطلاح هغه ډول ادبي آثارو ته ويل کېږي چې د اسلامي ليدلوري له مخې د انسانانو، په ځانګړي ډول د مسلمانانو، دردونه، هيلې او تجربې بيانوي. په دې چوکاټ کې د مسلمان ادیب نوښتګره تجربه، چې فکري او عاطفي بُعدونه لري، په هنري، ژبنۍ او جاذب ادبي قالب کې وړاندې کېږي(رابح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf).

۲- ۲- ۱- ۳. د اسلامي ادبياتو پېژندنه او مفهوم

عماد الدين خليل اسلامي ادبيات داسې تعريفوي: «د اسلامي مفهوم پر اساس له هستۍ يا وجود څخه په الفاظو سره ښکلی او اغېزمن بيان دی». په بل ځای کې اسلامي ادبيات داسې تشريح شوي دي: «دا د اسلام د ژوندیو ارزښتونو راپاروونکی بيان دی چې له مسلمان څخه څرګندېږي او د ژوند او د بشريت او د الله تعالی ترمنځ اړيکې، د انسان او کايناتو ترمنځ اړيکې او د انسانانو ترمنځ اړيکې انځوروي او بيانوي».

همدارنګه په يو بل تعريف کې ويل شوي دي: «اسلامي ادبي متن هغه ادبي اثر ته ويل کېږي چې يوه موضوع د اسلامي ليدلوري له مخې وړاندې کوي او پر همدې بنسټ ولاړ وي. هر هغه ادبي متن چې اسلامي موضوع، مفکوره يا احساس ولري يا يې موخه د اسلامي ارزښتونو لوړول وي، د اسلامي ادب په چوکاټ کې راځي». (پروينی، فرامرز، زودرنج. https://jrla.isca.ac.ir/article_۱۵۳_۲aba۱ec۳۳d۹۲b۶۹۰۹۶۳۲da۰٤٤۹۳۰ed۷۸.pdf، ۱۱ مخ).

د اسلامي ادبياتو او هنر په اړه ګڼ شمېر تعريفونه وړاندې شوي دي. له دې ډلې هغه تعريف چې په «منهج الفن الإسلامي» کتاب کې راغلی، تر ټولو جامع او بشپړ ګڼل کېږي. په دغه تعريف کې اسلامي ادب داسې بيان شوی دی: «د کايناتو، ژوند او انسان په اړه ښکلی او هنري بيان دی چې د اسلامي مفکورې پر اساس وړاندې کېږي».

په حقيقت کې نور ورکړل شوي تعريفونه د همدې اساسي تعريف توضيح يا لنډيز بلل کېدای شي، ځکه ټول د اسلامي نړۍ ليد، ښکلا او هنري بيان د اړيکې په روښانه کولو ټينګار کوي.

په دې اړه نور تعريفونه په حقيقت کې د همدې تعريف توضيحات يا لنډيزونه دي.

د اسلامي ادبياتو حوزې د تيوريو د لړۍ په سر کې د اسلامي ادبياتو نړيوالې ټولنې تعريف راځي چې وايي: «اسلامي ادب د اسلامي تصور يا مفکورې په چوکاټ کې د انسان، ژوند او کايناتو هدفمند

هنري بيان دی». دا تعريف داسې هم کېدای شي: «د کتاب [الله] او [نبوي] سنتو په رڼا کې د انسان، ژوند او هستۍ هدفمند هنري بيان دی». ځکه دا دواړه (قرآن کريم او نبوي احاديث) د اسلامي تصور لومړنۍ سرچينې دي چې مسلمان اديب او ليکوال يې په رڼا کې خپل تعبيرونه وړاندې کوي.

يادې ټولنې د يو لړ ځانګړتياوو او اصولو په وضع کولو سره د اسلامي ادب مفهوم تشريح کړی چې د دې ادب انځور او لرليد روښانه کوي. دا ادب د امت لپاره لارښود او د الله تعالی په وړاندې مسؤوليت دی، ژمن ادب دی او د ژمنتيا او التزام سرچينه يې اسلامي عقيده ده، د الله په لور د دعوت يوه وسيله او له مسلمان شخصيت څخه دفاع ده، د اسلامي امت له معاصرو ناخوالو څخه د ژغورلو دنده لري، دا د مسلمانو ولسونو چې مختلف قومونه او ژبې لري، ادبيات دي. د هغه ځانګړتياوې د ټولو مسلمانانو د ادبياتو لپاره مشترک هنري خصوصيات لري.

اسلامي ادب د عصري او معاصرو ادبي هنرونو لپاره پراخ ظرفيت لري او له هغوی سره د تعامل دروازې پرانيستې ساتي؛ خو له هغو افکارو او مضامينو څخه ځان لرې ساتي چې د اسلامي ارزښتونو او الهي لارښوونو سره په ټکر کې وي. همدا ځانګړنه اسلامي ادب د اسلام له لوړ اخلاقي او فکري نظام څخه تغذيه کوي او هغه ته فکري او هنري پياوړتيا وربخښي.

په ادبي ډګر کې د دغو ځانګړنو مجموعه د اسلامي ادب د اصالت تضمينوونکې ده. په دې معنا چې دا ادب هم د نسبت له مخې او هم د تصور له مخې اسلامي دی؛ ځکه د خپل ځانګړي فکري ليد له لارې رامنځته کېږي او د نورو فرهنګي تجربو عناصر په خپل فکري چوکاټ کې جذب او له ځان سره همغږي کوي.

هر اديب د هستۍ، ژوند او انسان په اړه ځانګړی دريځ لري، چې همدا دريځ د هغه د ادبي تصور لوری ټاکي. د مسلمان اديب ليدلوری د اسلامي عقيدې پر بنسټ ولاړ وي او د هغه د شخصيت، د ژوند د نقش او د هستۍ د هدف په درک کې څرګندېږي. له همدې امله، که دا ومنو چې د اسلام د هستۍ تصور تر ټولو جامع او بشپړ انساني ليدلوری وړاندې کوي، نو هغه ادبيات چې له همدې سرچينې الهام اخلي، د انساني ادبياتو له لوړ او بشپړ ډولونو څخه ګڼل کېدای شي. د انسان، ژوند او کايناتو په اړه اسلامي تصور په ادبياتو او ادبي نقد کې منظم فکري چوکاټ وړاندې کوي. د دې نظريې ځانګړنې د اسلامي ادب په تاريخي بهير کې په څرګند ډول ليدل کېږي او همدارنګه د داسې رغنده او هدفي نقد غوښتنه کوي چې د ادبياتو بهير عقلاني او د هغوی فکري ريښې پياوړې کړي.

سربېره پر دې، اسلامي ادب هغه ادبيات دي چې بشپړتيا يې يواځې د محتوا او بڼې د همغږۍ په شتون کې تحقق مومي؛ ځکه په دې نظريه کې شکل او محتوا له يو بل سره نه بېلېدونکي اړيکه لري او يو د بل د تکميل وسيله ګڼل کېږي(رابح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf).

دلته د اسلامي ادب مفهوم د څو تنو څېړونکو له نظره يو څه نور تشريح کوو:

ابو الحسن ندوي ادبيات د مختلفو چوکاټبنديو په رڼا کې د هر هغه ښکلي او رښتيني بيان په توګه تعريفوي چې د انسان وجدان راپاروي او په اغېزمن او د درک وړ ډول د ژوند، شعور او باطني احساساتو څرګندونه کوي. د هغه په نظر، ادبيات هغه ژور او احساس پاروونکی بيان دی چې د انساني فطرت او نرم زړه انعکاس وړاندې کوي.

محمد قطب وايي: اسلامي ادب هغه ادبي توليد دی چې د متعهد مسلمان له خوا د الله تعالی له لارښوونو څخه الهام اخلي. د هغه په وينا، دا ډول ادبيات بايد هنري ځانګړنې ولري، ځکه يواځې په دې صورت کې د ادبياتو په چوکاټ کې راتلای شي؛ که هنري بڼه ونه لري، نو که څه هم د اسلامي ارزښتونو تابع وي، بيا هم ادبيات نه بلل کېږي.

په اسلامي ادبياتو کې د هنري عنصر موجوديت بنسټيز اهميت لري، ځکه همدا عنصر د ادبي اثر معيار ټاکي. له همدې امله هغه آثار چې د ديني او هنري معيارونو له پلوه همغږي ونه لري، د ادبي ارزښت له پلوه کمزوري ګڼل کېږي، حتی که د فکري محتوا له مخې لوړ وي. په همدې سياق کې ځينې ليدلوري د هغو ادبياتو يادونه هم کوي چې له اسلامي تصورات سره په ټکر کې وي، که څه هم هنري کمال ولري، خو د فکري جهت له مخې د اسلامي ادب له چوکاټ څخه بهر ګڼل کېږي.

ډاکټر نجيب الکيلاني په خپل کتاب «مدخل إلى الأدب الإسلامي» کې د اسلامي ادب جامع تعريف داسې وړاندې کوي: دا هغه هنري، ښکلی او اغېزمن بيان دی چې له مؤمن ذات څخه سرچينه اخلي او د اسلامي عقيدې له اصولو سره سم د ژوند، انسان او هستۍ انځور وړاندې کوي. دا ډول ادب د خوند او فکري اغېز ترڅنګ د وجدان او فکر محرک ګرځي، د انسان په فکري او اخلاقي جوړښت کې اغېز لري او د عمل او اقدام لامل کېږي.

دا تعريف ډېر پراخ ښکاري، ځکه د معلوماتي ټولګي يوه هڅه او د دې ادبياتو ماهيت او د هغې د دندو د ټاکلو لپاره لازم فکتورونه په پام کې لري، د شکل، هنري جوړښت، محتوا يا انساني تجربو پر

بنسټ د ادب طبیعت ذهن ته راوړي، سرچینه یې معلوموي او اسلامي عقیدې ته د ژمن مسلمان انسان استازیتوب کوي.

عمادالدین خلیل لیکي: اسلامي ادبیات د اسلامي هنر د یوې څانګې په توګه انسان او کایناتو ته د پراخ جمالیاتي نظر په توګه ګوري، ځکه (اسلامي) نظر په خپل اصل کې جهان‌شموله دی او په همدې دلیل مسلمان انسان یو نړیوال انسان دی چې سیمه‌ییزې او نژادي پولې یې نه شي محدودولی، هغه له دې کایناتو سره چې دی یې یوه برخه ده، همغږی او ورسره تعامل ته لېوالـه دی، لـه هغـه سره پـه دوامـداره حرکت کې دی چې هدف یې د الله تعالی رضایت دی.

عبدالرحمن رأفت الباشا په خپل کتاب «نحو مذهب إسلامي في الأدب ونقـده» کـې د معـاصر اسـلامي ادب اړتیا څرګندولو په ترڅ کې د اسلامي ادب تعریف وړاندې کوي چې زمـونږ لـه ژونـد سره سـمون لري. دی څرګندوي: «د لیکوال پر احساس د ژوند، کایناتو او انسـان د اغېـزو هـدفي هـنري بیـان دی، داسې بیان چې د خالق او د هغه د مخلوقاتو له اسلامي مفکورې څخه سرچینه اخـلي». نومـوړی د هـنر پـه واسـطه د بیـان ښـکلا او د انځـورګرۍ خلاقیـت غـواړي، پـه دې ادب کـې هدفمنـدي، ګټورتیـا، زړه‌راښکونتیا او هر اړخیزتوب شرطونه ګڼي.

سوریایی څېړونکی، ادیب، شاعر او نقاد ولید قصاب [۱۹۴۹م کال کې زوکړی] اسلامي ادب داسې را پېژني: له انسان، کایناتو او ژوند څخه د اسلامي مفکورې پـر اسـاس عـالي جمالیـاتي او عـاطفي تعبیـر دی.

هغه د دې تعریف د الفاظو پـه روښـانولو لـه دغـه ډول ادبیـاتو څخـه خپـل مفهـوم داسـې څرګنـدوي: اسلامي ادبیات پر اسلامي مفهوم او اسلامي منهج د حاکم فکري لیدلوري دقیق هنري بیـان دی چـې د احساساتو او عواطفو، حق و باطل، خیر او شر، ښېګڼو او بدګنیو، عدالت او ظلم معیارونو ټاکـل یـې لـه اســـــــلامي عقیـــــــدې څخـــــــه خړوبیـــــــږي(رابـــــــح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf). د دغه تعریف محتوا له مخکینیو تعریفونو سره سـمون لري.

په «فضلیات» اثر کې بیا راغلي، اسلامي ادب هغه ادب دی چې خلـک لـه غیـر اسـلام نـه اسـلام تـه را اړوي. د اسلام په ښېتوني دین زړونه خوشحاله او ډاډمنوي او په انسان کې داسې جذبه راپـاروي چـې هغه د اسلام پیروي وکړي او د ژوند اسلامي نظام خپل کړي. اسلامي ادب په دوه قسمه دی:

الف) اقناعي ادب: هغه ادب چې په عقل او په علم دا تسلي ورکوي چې اسلام حق دی، دا صحیح نظام دی، په نورو نظامونو تنقید کوي، خامی او کمزوری یې په ګوته کوي او د اسلامي اصولو په رڼا کې د هغو کمزورو او خامیو حل ښیي.
ب) محرک ادب: اقناعي ادب چې کوم خلق مطمئن کړي وي، محرک ادب هغوی عمل ته راپاروي او تحریک په کې پیدا کوي(ختک، ۲۰۲۱م، ۳۱- ۳۲ مخونه).
اسلامي ادبیات د وعظونو، نصیحتونو او عقایدو ټولګه نه ده او نه هم د اسلام په لومړیو ورځو یا نورو اسلامي دورو کې لیکل شویو ادبیاتو ته اشاره لري او نه هم هغه ادبیات دي چې یواځې اسلامي موضوع ولري، لکه د اسلام تاریخ، بلکې د اسلامي ادب د جوړښت لپاره دوه اساسي عناصر اړین دي: ۱- هنري او ادبي څرګندونه؛ ۲- اسلامي لید او نړۍ لید. په بل عبارت، اسلامي ادبیات او هنر د انسانانو د دوو ذاتي او وجودي عناصرو ترکیب دی؛ یو هنر دی چې په حقیقت کې د انساني تخیل د قوې له لارې د الله تعالی د ښکلا څرګندونه ده او بل اسلام دی چې یواځې یو دین او بهرنی مسیر نه دی، بلکې د هر کمال غوښتونکي او لارښوونې غوښتونکي انسان د داخلي طبیعت او ذات برخه هم ګڼل کیږي(پروینی، فرامرز، زودرنج. https://jrla.isca.ac.ir/article_۱۵۳_۲aba۱ec۳۳d۹۲b۶۹۰۹۶۳۲da۰٤٤۹۳۰ed۷۸.pdf، ۱۱ مخ).
د دې دوو اساسي شرایطو له په پام کې نیولو وروسته، د تېرې، اوسنۍ یا راتلونکې زمانې هره موضوع د اسلامي ادبیاتو د خامو موادو په توګه غوره کېدی شي؛ ځکه چې د اسلامي هنر ساحه نه انتخابي ده او نه هم ارماني، بلکې له زېړون څخه مخکې نړۍ څخه تر قیامت پورې پراخه ده او دا پراخه ساحه له خپلو ټولو لوړو او ټیټو او ټولو واقعیتونو سره، هنرمند ته هنري موضوعات ورکوي. څرنګه چې اسلامي نړۍ لید جامع او پراخ دی او د وجود ټولو پدیدو ته د انسانانو په شمول هر اړخیزه کتنه لري، نو اسلامي ادبیات په خپلې سمه بڼه کې نړیوال ادب هم کېدی شي(پروینی، فرامرز، زودرنج، https://jrla.isca.ac.ir/article_۱۵۳_۲aba۱ec۳۳d۹۲b۶۹۰۹۶۳۲da۰٤٤۹۳۰ed۷۸.pdf، ۱۲ مخ).

۲- ۲- ۱- ۴. د اسلامي ادب نومَوَنه

په بحثونو کې د «اسلامي ادب» اصطلاح لپاره نورې بدیلې اصطلاح ګانې هم وړاندې شوي، لکه «د دعوت ادب»، «اسلامي جریان یا اړخ»، «د مسلمان ادب»، «د مسلمانو ولسونو آداب»، «دیني ادب»، «د اسلامي عقیدې ادب» او «اخلاقي ادب». خو دا اصطلاحات د خپلو مفاهیمو او د دال او مدلول ترمنځ

اړيکو ته په کتو سره يواځې جزئي معناوې لري او د اصلي اصطلاح «اسلامي ادب» ځای نه شي نيولای؛ ځکه دا اصطلاح جامع مفهوم او پراخ دلالت لري، چې د نورو ټولو اړوندو اصطلاحاتو معناوې په خپله لمن کې رانغاړي. په «اسلامي ادب» کې د پراخې نړۍ، ځو اړخيز ژوند او هغه انسان چې په همدې نړۍ کې ژوند کوي، هر ډول موضوع او انساني تجربه شاملېږي(رابح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf).

له همدې امله د دغه ډول ادبياتو لپاره تر ټولو مناسب نوم «اسلامي ادبيات» ګڼل کېږي..

د «اسلامي ادب» اصطلاح له دوو لفظونو (ادب) او (اسلامي) څخه ترکيب دی. د «ادب» لفظ هغه ته په هنري او ښکلاييزو ځانګړنو او برخه کې له ټولو ادبي مکتبونو، نظريو او سبکونو سره تړاو ورکوي او ټينګار لري چې په وينا کې ښکلاييز (جمالياتي) او هنري اړخ په پام کې نيول د ادب نړۍ ته د داخلېدو لار ده او په دې سره د وينا له نورو انواعو سره ادبيات توپير مومي. په دې موضوع ټول ادبي ښوونځي او لوري پرته له دې چې فکري او عقيدوي اختلاف يې په پام کې ونيول شي، توافق لري. د «اسلامي» لفظ، د عقلاني ليدلوري له اړخه له اسلام څخه را زېرېدلی چې په اسلامي طريقې سره خپلو احساساتو او څرګندونو ته د چوکاټ ورکولو لپاره د ادب لفظ ته ور اضافه شوی دی، په هغه کې عقيده هغه څمکه ده چې دا احساسات په کې وده کوي چې مېوه يې بيا هغه ادب دی چې له نورو ويناوو څخه توپير لري. هغه ادبيات چې د هنري او فکري اړخونو لرونکی وي، د اسلامي ادبياتو اصطلاح يا همدغه ډول ادبيات د دغو دواړو برخو (هنري او فکري) د حقيقت ښکارندويي کوي(رابح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf).

۲-۲-۱-۵. د اسلامي ادبياتو عمومي او معاصر مفهوم

حقيقت دا دی چې د «اسلامي ادب» اصطلاح نوې نه ده. د ادبياتو په تاريخ او په ځانګړي ډول د عربي ادبياتو په اړوندو ليکنو کې د هغې دورې ادبيات، چې له جاهلي دورې وروسته او د اسلام له راتګ سره هم‌مهاله پيلېږي، د پام وړ ځای لري. دا هغه زمانه ده چې د وحيې نزول پيل شو او قرآن کريم نازل شو، چې د ادبي بيان په بڼه او محتوا کې يې ژور بدلونونه رامنځته کړل او تر خلافته وغځېده. همدغه وخت په «صدر ادب» هم يادېږي. د دې اصطلاح د مفهوم په اړه ډاکتر نايف معروف وايي: «هغه څه چې موږ ته په دې مسأله کې اندېښمن ښکاري، دا دي چې د اسلامي ادب مفهوم يواځې د اسلام لومړيو زمانو پورې محدود شوی، چې له نبوت څخه پيل او د خلافت راشده تر

پای رسېږي. دا هغه دوره ده چې زړونه ورته جذبېږي، ذهنونه يې له لارې هدايت اخلي او روحونه پرې ويارې. خو له دې څرګندېږي چې دغې اصطلاح ته د تاريخ د زماني زاويې له مخې کتنه شوې، پرته له دې چې د هغې فکري او مضموني محتوا ته پام وشي. د دې ليدلوري له مخې، اسلامي ادب د يوې تاريخي دورې ادب ګڼل شوی، نه د يوې فکري مفکورې ادب».

د دې نظر نيمګړتيا دا ده چې د فکر پر ځای په کې يواځې زمانه په پام کې نيول شوې ده او زماني چوکاټ د هغه پراخ لوښي په څېر دی چې اسلامي او غير اسلامي افکار او نظريې په کې ځايېدای شي. وروسته د دې اصطلاح مفهوم پراخ شو او ټول هغه مسايل چې مسلمانو ولسونو توليدول او د هغوی په قلمونو کښل کېدل، که هغه شعر و که نثر، رانغاړل، هغه چې له اسلامي مفکورې او تصور سره موافق و که نه و. خو دې تعريف قومي رنګ درلود، ځکه يواځې په هماغه توکم او نژاد پورې يې تړاو درلود چې دا ادبيات يې صادر کړي و. په همدې معنا د دغې اصطلاح کارول ښايي په لومړيو کې د ختيځپوهانو کارَونه وي او بيا يې د هغوی پر شاګردانو او علاقمندانو اغېز کړی وي، ځکه د هغوی په ليکنو کې د اسلامي ادب، عربي ادب، د مسلمانانو ختيځ ادب، شرقي ادب، د مسلمانانو ادب او د اسلامي نړۍ شعر اصطلاحات ليدل کېدل. د دې اصطلاحاتو معنا د ادبياتو په تاريخ او جغرافيې پورې منحصره وه.

په هر حال، دا اصطلاح د خپل ژبني جوړښت له مخې په فرهنګي، عربي او اسلامي چاپېريال کې پېژندل شوې ده. خو د دغې اصطلاح معاصر استعمال له پورتني مفهوم سره په ټکر کې ښکاري، ځکه اوسمهال دا اصطلاح هغو ادبياتو ته ځانګړې شوې ده - که شعر وي يا نثر - چې د اسلامي اصولو او ارزښتونو پر بنسټ د يو متعهد مسلمان له خوا وړاندې شوي وي.

د همدې تعريف له مخې، هغه ټول ادبي آثار چې د اسلام له سپېڅلو لارښوونو او لوړو ارزښتونو سره په تضاد کې وي، د اسلامي ادبياتو له دايرې څخه بهر ګڼل کېږي، که څه هم د يوه مسلمان له خوا رامنځته شوي وي.

د اسلامي ادبياتو د حوزې زده‌کوونکو او پلويانو د دغه مفهوم په چوکاټ کې نور مفاهيم هم وړاندې کړي چې هغه مفهوم يې پراخ کړی دی چې په هغه کې هغه نړيوال ادبيات چې له اسلامي ادبياتو سره همغږي لري او بيا هغه ادبيات چې له نړۍ، ژوند او انسان څخه د اسلام له تصور سره سمون لري، که هغه مسلمان ليکوال ليکلي وي او که نامسلمان، شاملېږي. کېدای شي د اسلام له زماني او مکاني پولو

سره سمون ولري او که نه يا له زماني اړخه پر هغه مقدم وي او يا تر يې مخکې لاړ شي، دا په دې چې اسلام د انساني فطرت دين دی، دا معنا بيا کله کله محدوديږي او د نړۍ ژوند او انسان په اړه د اسلامي تصور په چوکاټ کې راڅرخي چې د اسلامي مفاهيمو او اصولو ته د ژمن ليکوال له خوا وړاندې شوي وي(رابح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf).

که اسلامي ادبيات د اسلامي تمدن د ارزښتونو پر وړاندې کولو تمرکز وکړي او پراخ مفاهيم، لکه ربښتينې ازادي، علمي وياړ، د بېلابېلو تاريخي دورو انساني ميراث ته پرانيستی ليدلوری او له نورو انساني ټولنو سره د اسلامي ټولنو متوازنې او سولهييزې اړيکې په پام کې ونيسي۔ نو دا ډول ادب د نړيوال ادب په چوکاټ کې راځي. په دې حالت کې اسلامي ادبيات، لکه اسلام چې نړيوال رسالت لري او د ټولو انسانانو لپاره راغلی دی، د پراخوالي (اتساع) او پرانيستون (انفتاح) ځانګړنې خپلوي. که اسلامي ادبيات په همدې دوو ځانګړنو ولاړ وي، نو کولای شي د نړۍ په بېلابېلو ټولنو کې د انسانانو ترمنځ د يووالي، انسجام او فکري او فرهنګي پيوستون په رامنځته کولو کې مهم رول ولوبوي (پروينی، فرامرز، زودرنج، https://jrla.isca.ac.ir/article_۱۵۳_۲aba۱ec۳۳d۹۲b۶۹۰۹۶۳۲da۰۴۴۹۳۰ed۷۸.pdf، ۱۲ مخ).

له دې معلوميږي چې د اسلامي ادب په اصطلاح او مفهوم کې اختلاف شته، د خپلې معنا ښندلو او دلالت لپاره يوه مفهوم کې نه دی ځلېدلی او نه هم ورته مشخص تعريف وړاندې شوی دی. دغه ستونزه يواځې په اسلامي ادب کې نه دی، د بشري علومو زياتره اصطلاحات اتفاقي نه دي.

۲- ۲- ۱- ٦. د اسلامي ادبياتو او نورو ادبياتو اړيکه

اسلامي ادبيات د انسان او هستۍ (وجود) په اړه د اسلام له جامع ليد سره سم د مختلفو موضوعاتو ادبي او هنري څرګندونې دي. د اسلامي نقادانو د نظر له مخې، اسلامي ادبيات د دوو اساسي اصولو پر بنسټ را څرګندېږي: ۱- ادبي او هنري تفسير (مناسبه ادبي بڼه) ۲- له اسلامي نړۍ ليد څخه د موضوع را ولاړېدل. اسلامي جهانبيني او بصيرت له نورو ادبي ښوونځيو سره د اسلامي ادبياتو مهم توپير په ګوته کوي، انسان او هستي ته بشپړه او هر اړخيزه کتنه کوي؛ له همدې امله، اسلامي ادب بشري ادب هم ګڼل کېږي، په داسې حال کې چې د دې ادب د مخکښانو په اند، هر انساني ادب، اسلامي نه ګڼل کېږي(پروينی، فرامرز، زودرنج. https://jrla.isca.ac.ir/article_۱۵۳_۲aba۱ec۳۳d۹۲b۶۹۰۹۶۳۲da۰۴۴۹۳۰ed۷۸.pdf، ۹ مخ).

پوښتنه دا را ولاړيږي چې ايا هر انساني ادبيات اسلامي ادبيات ګڼل کېدای شي او که نه دواړه يو له بله توپير لري؟ په دې اړه که د اسلامي ادب تعريفونو ته پام وشي، نو اسلامي بصيرت او جهان‌بيني د هغه اساسي عناصر دی، نو دا ترې څرګنديږي چې د هستۍ د چارو په اړه د بشپړ اسلامي چلند او بصيرت درلودل له يوه مسلمان ليکوال څخه تمه کيږي چې له اسلامي اخلاقو او عمل سره ژمن او بلد وي. ډېرى اسلامي نقادانو، لکه عماد الدين خليل، نجيب الکيلاني، محمد قطب، محمد حسن باريغش، عدنان علي رضا النحوا او محمود بستاني په ډاګه دا مطلب تأييد کړی او د مسلمان هنرمند او ليکوال لپاره اسلامي ليدلورى لرل يې د اسلامي ادبياتو د ايجاد لپاره لازم شرط ګڼلی دی(پروينی، فرامرز، زودرنج، https://jrla.isca.ac.ir/article_۱۵۳_۲aba۱ec۳۳d۹۲b۶۹۰۹۶۳۲da۰٤٤۹۳۰ed۷۸.pdf، ۱۴ مخ).

۲- ۲- ۱- ۷. په اسلامي ادبياتو کې بڼه او محتوا

په يوه ادبي چاره کې بڼه او محتوا دوه بنسټيز عناصر او نه جلا کېدونکي اصلونه دي. که په دې دوو اصلونو کې کومه ستونزه پيښه شي، نو ادبي عمل به په خپلې رښتينې معنا کې ايجاد نه شي.

اسلام هيڅکله د هنر مخالفت نه دی کړی، اسلامي ادب هيڅ يو هنري او ادبي بڼه نه ردوي، بلکې د هرې ادبي بڼې ځانګړی چوکاټ مني او باور لري چې د هرې بڼې په جزئياتو کې بدلونونه راتلی شي او آن نوي ادبي شکلونه هم مني. له همدې امله، هغه څه چې اسلامي ادبيات له نورو ادبي مکتبونو څخه جلا کوي د هغه محتوا ده، کوم چې بايد د اسلامي نړۍ ليد او په هغه کې له وړاندې شويو اساسي مفاهيمو سره سم ايجاد شي، اسلامي اخلاق او عمل بايد په کې رعايت شي. څرنګه چې د توحيدي جهان‌بينې نظرياتي بنسټونه په قرآن کريم کې څرګند شوي او همدارنګه د ادبي بڼو مثالونو، لکه د کيسو مختلف ډولونه شتون ته په پام سره، دا ويل کېدی شي چې قرآن کريم د اسلامي ادب او هنر د تيوري په رامنځته کولو کې لوړ مقام لري (پروينی، فرامرز، زودرنج، https://jrla.isca.ac.ir/article_۱۵۳_۲aba۱ec۳۳d۹۲b۶۹۰۹۶۳۲da۰٤٤۹۳۰ed۷۸.pdf، ۱۵- ۱۷ مخونه).

۲- ۲- ۱- ۸. په اسلامي ادبياتو کې ژبه

يو بل مهم ټکی چې مسلمان پوهان يې د اسلامي ادبياتو د نړيوال‌توب د دليل په توګه يادوي، دا دی چې اسلامي ادبيات د بېلابېلو نسلونو او ژبو لرونکو اسلامي ټولنو ترمنځ يو ګډ او عام ادبي ميراث ګڼل

کېږي. دا ځانګړنه اسلامي ادب ته د پراخې (وسعت) منلو او فرهنګي تبادلې ظرفيت وربخښي.
ځينې پوهان د اسلامي ادبياتو د ځانګړې ژبې په توګه پر عربي ژبه ټينګار کوي او يوازې د اړتيا پر مهال د نورو ژبو کارول د اسلامي نړۍليد له مخې د ادبي توليد لپاره روا ګڼي. د دوی په باور، هغه اساسي عنصر چې د دې لوی ادب په نړيوالتوب کې مهم رول لري عربي ژبه ده؛ ځکه عربي ژبه د اسلام د پيغام او د هغه د بلنې تاريخي او اصلي ژبه ګڼل کېږي.
عربي ژبه د اسلام د ژبې، د قرآن کريم د ژبې او د نړۍ د ټولو مسلمانانو د ګډې ژبې په توګه د مسلمانانو له خوا منل شوې ده، او نه يواځې مسلمان ليکوالان او څېړونکي، بلکې ټول مسلمانان هڅول کېږي چې روانه عربي زده کړي. خو د اسلامي ادبياتو ژبه يواځې په عربي پورې محدودول او همدا د نړيوالتوب عامل ګڼل، په داسې حال کې چې اسلامي ملتونه بېلابېل ادبيات او ژبې لري، د دې ادبياتو له نړيوال‌توب سره ټکر رامنځته کوي او اصلي موخه تر پوښتنې لاندې راولي، له همدې امله اړينه ده چې دې موضوع ته په منطقي او متوازن ډول وکتل شي، حقايقو ته پوره پام وشي او دا درک شي چې د اسلامي ادبياتو د نړيوال‌توب لپاره د هغوی د ادبي آثارو د پوهېدو په موخه د نورو ژبو کارول او پراختيا نه يواځې ګټور بلکې اړين دي.
اسلامي نقاد او ليکوال نجيب الکيلاني، که څه هم فصيحه عربي ژبه د اسلامي ادب په پرمختګ کې خورا مهمه ګڼي، خو دا د اسلامي ادب يواځينۍ ژبه نه ګڼي. په دې اړه هغه وايي: "د اسلامي نړۍ تنوع او د هغه د ژبو تفاوت دا ايجابوي چې دغه نړيوال ادبيات په نورو ژبو، لکه فارسي، [پښتو]، اردو، ترکي او آن انګرېزي، فرانسوي، آلماني او د نړۍ په نورو ژبو وکښل شي."(پروينی، فرامرز، زودرنج، https://jrla.isca.ac.ir/article_۱۵۳_۲aba۱ec۳۳d۹۲b۶۹۰۹۶۳۲da۰٤٤۹۳۰ed۷۸.pdf، ۱۷- ۱۸ مخونه). په پښتو ژبه کې هم رحمان بابا، خوشحال بابا، عبدالحميد بابا، اخوند احمد، عليخان او نور چې شعرونه يې له اسلامي افکارو ډک دي، د پام وړ دي. د دې ادعا د ثبوت لپاره د همدې رسالې درېيم او څلورم بحثونه کفايت کوي.
له پورتنيو ټکو څخه څرګنديږي چې اسلامي ادبيات د مسلمان اديب د تجربو، دريځونو، انديښنو، هيلو او ننګونو انعکاس وړاندې کوي، په ځانګړي ډول هغه مسايل چې د عربي او اسلامي امت له قضاياوو سره تړاو لري. دا ادبيات په نړيوال او انساني سياق کې د خپل ځانګړي تجربوي موقعيت څرګندونه کوي او له يوې خوا د انسان، ټولنې، واقعيت او ټول وجود په اړه د اسلام جامع ليدلوری

منعکسوي، له بلې خوا دا محتوا د ژبې د هنري او بلاغي امکاناتو په مرسته په ښکلې او اغېزمن انداز وړاندې کوي. اسلامي ادب که څه هم له ښلابښلو ادبي دورو او د ښلابښلو ملتونو له میراث څخه ګټه اخلي، خو یواځې د پخوانۍ ادبي مرحلې بیا را ژوندي کول نه دي، بلکې د اسلامي مفکورې له لارې د هنري تخلیق یوه نوې لاره ده چې انساني ارزښتونه پالي او وده ورکوي. دا ادب پراخ او جامع بشري افقونه لري او په روح او ذهن ژور او تازه اغېز پرېږدي، څو داسې فضاء رامنځته کړي چې د ښلابښلو فکري تمایلاتو لرونکي لیکوالان ځان ته جذب کړي.

دا هغه ادبیات دي چې د انسان، ژوند او هستۍ د مسایلو په اړه له اسلامي تصوره خپل مضمون او الهام اخلي، دا هغه ادبیات دي چې له ملي پولو او سیمه‌ییزو محورونو څخه اوړي او د ټولې نړۍ مسلمانان په کې شاملیږي. دا هغه ادبیات دي چې نړۍ ته د نوي خط او نوي لیدلوري زېرى ورکوي او ورسره اشنا کوي یې او د نورو شیانو ترڅنګ زمونږ د فکري میراث د یووالي او د تولید او نوي تخلیق پر بنسټ زمونږ له ادبي میراث څخه د استفادې ضمانت کوي(رابح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf).

نو کله چې اسلامي ادبیات د امت په کچه د موضوعاتو منعکسوونکي دي، بې له شکه د ټولو هغو ولسونو د اسلامي ارزښتونونو بیانوونکي ادبیات په کې شاملیږي چې مسلمانو لیکوالو او شاعرانو پنځولي وي.

۲-۲-۱-۹. پر اسلامي ادبیاتو نیوکې او وضاحتونه

اسلامي ادبیات له پیله له ګڼو ننګونو سره هم مخامخ شوي او د ځینو عربي منتقدینو او حتی سیاستوالو له خوا یې مخالفت شوی دی. دا بهیر په معاصرو عربي ادبیاتو کې د انتقاد او مطالعې وړ ادبي جریانونو څخه ګڼل کیږي. په معاصرو عربي ادبیاتو کې د اسلامي ادبیاتو د تیوریسنانو او د هغه د مخکښانو ځینې انتقادي لیکنې شوې دي، چې ځینې یې د تیوریسنانو او د اسلامي ادب مخکښانو په کتابونو، لکه د نجیب الکیلاني په «رحلتي مع الادب اسلامي» کتاب، د محمد حسن باریغش په «في الأدب الاسلامي المعاصر» کتابونو کې ثبت شوي دي او ځینې یې په نورو سرچینو، لکه د احمد کمال زکي په «نقد؛ دراسة و تطبیق»، د سید سید عبدالرزاق په «المنهج الاسلامي فی النقد الأدبي» او د احمد محمد علي په «مصطلح الأدب الاسلامي بین أیدی الدارسین» اثر کې بیان شوي دي، خو دغو سرچینو دا مسأله په منسجم او هر اړخیزه بڼه نه ده حل کړې. په ایران کې اسلامي ادبیاتو ته تر دې دمه جدي پام

نه دی شوی او په دې برخه کې کومه مناسبه څېړنه نه ده شوې(پروینی، فرامرز، زودرنج، https://jrla.isca.ac.ir/article_۱۵۳_۲aba۱ec۳۳d۹۲b۶۹۰۹۶۳۲da۰٤٤۹۳۰ed۷۸.pdf، ۱۰ مخ).
د یادونې وړ ده چې ډېری اسلامي کره‌کتونکي یواځې په محتوا تمرکز کوي او هنري بڼې ته مناسبه توجه نه کوي چې دا په خپله د مخالفینو د نیوکې لامل کیږي. له بلې خوا باید وویل شي: د ادب او تنقید په برخه کې د ځینو اسلامي ادبیاتو تیوریسنانو د تخصص نشتوالی هم د ځینو خلکو مخالفت را پارولی دی. که څه هم د لیکوالانو او نقادانو، لکه عماد الدین خلیل، نجیب الکیلاني، علي احمد بختیر، محمد قطب او داسې نورو مهم آثار د ستاینې وړ دي. د دې آثارو له ډلې دا د یادونې دي: «مدخل الی الادب الاسلامي و الاسلامیة و المذاهب الادبیة» د نجیب الکیلانی اثر، «في النقد الاسلامي المعاصر»، «مدخل إلی نظریة الادب الاسلامی»، «محاولات جدیدة فی النقد الاسلامي المعاصر» د عمادالدین خلیل آثار او «فن المسرحیة من خلال تجاربي الشخصیة» د علي احمد باکثیر اثر (پروینی، فرامرز، زودرنج، https://jrla.isca.ac.ir/article_۱۵۳_۲aba۱ec۳۳d۹۲b۶۹۰۹۶۳۲da۰٤٤۹۳۰ed۷۸.pdf، ۲۱ مخ).

۲- ۲- ۱- ۱۰. د اسلامي تصور څانګړنې؛ د اسلامي ادبیاتو اساس

اسلامي تصور یو لړ څانګړنې لري چې له نورو تصوراتو او مفکورو څخه یې بېلوي، هغه ته یو خپلواک شخصیت او ماهیت ورکوي، دا یې خپل تصور دی چې له بل تصور څخه نه رازېرې. دا څانګړنې ګڼې دي، خو ټولې په یوې څانګړنې کې راټولېږي چې هغه د «ربانیت» خصوصیت دی، دا نور خصوصیتونه له همدې را پیدا شوي او همدې لومړۍ ته راجع کېږي. په دې معنا چې اسلامي تصور یو رباني تصور دی چې د الله تعالی له خوا له ټولو اساساتو، خصایصو او اجزاوو سره راغلی دی. انسان یې له همدغو ټولو څانګړنو او مؤلفو سره پوره پوره مني، نه پرې څه ور زیاتوي او نه څه ترې کموي. دا او نورې دا څانګړنې دا دي:

۱- ربانیت، ۲- ثبات، ۳- شمولیت، ۴- توازن، ۵- ایجابیت یا مثبت پالنه، ٦- واقعیت، ۷- توحید (د الله تعالی یووالی).

پورته اوه واړه مواصفات د هغه تصور اصلي څانګړنې دي چې مسلمان ادیب پرې تکیه کوي او د هغه په چوکاټ کې یې تجربې سرچینه اخلي چې ایمان یې بنسټ او خپل خالق ته تسلیمیدل دي، هغه همدا ایماني حالت په کایناتو کې د تأمل، اسمانونو او ځمکه کې د نظر کولو او د دې کایناتو په

جوړښت کې د الهي قدرت نښو کې له فکر کولو سره یوځای کوي. هغه د خپل ایمان او فکري تجربو په منځ کې د ژوند له واقعیتونو، اندېښنو، هیلو او انساني خوبونو څخه جلا نه دی. په خپل ایمان سره په کاینناتو کې د پټو اسرارو په اړه فکر کوي، په خپلو فکرونو سره د ژوند رازونه څرګندوي او د ځانګړي اسلامي لید له لارې په اغېزمنو هنري قالبونو کې د انسان د ژغورلو لارې چارې لټوي. د دې تصور په رڼا کې خپلو لوړو موخو ته رسېدای او هم د انسان ځنځیرونه او بندونه ماتولای شي او ورسره له رباني، متوازن، جامع، مثبت، واقعبینانه او توحید لیدلورو سره په ازادانه شکل نوی نظر وړاندې کولای شي.

اسلامي ادبیات د خالق، انسان او ژوند په باره کې له اسلامي لید یا تصور څخه پیلیږي، دا هغه تصور دی چې د اسلامي ادبیاتو اساس جوړوي، له هغه څخه راوځي او په هغه سره له نورو ادبیاتو را بېلېږي، هغه تصور دی چې سرچینه یې قرآن‌کریم او نبوي احادیث دي، په الله تعالی له ایمان څخه را ولاړ شوی، دغه ایمان د خالق او مخلوقاتو ترمنځ اړیکه مشخصوي او هم د انسان او کاینناتو ترمنځ اړیکه ټاکي، انسان ته د ژوند هدف، سرچینه او راتلونکی معلوموي. د خالق په اړه اسلامي تصور له الهي حقیقت څخه چې ټول موجودات هغه پیدا کړي، پیلېږي، خو انسان ته ځانګړې توجه لري – ځکه پر ځمکه د الله خلیفه دی- الله تعالی د کاینناتو په اسرارو او رموزو پوه دی، هر څه د ده په احاطه کې دي، که زموږ حواس پرې پوهېږي او که نه پوهېږي، عقل ورته لاسرسی لري او که یې نه لري(رابح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf).

۲- ۲- ۱- ۱۱. د اسلامي ادبیاتو ځانګړنې

له هغه مهاله چې په نړۍ کې اسلام ظهور وکړ، په جزیرة العرب او بیا نورو سیمو او هېوادونو کې خپور شو، نو اسلام د ټولنې او انسانیت هرې برخې ته توجه کړې او د الهي قوانینو او شرعي حدودو په رڼا کې یې ورته چوکاټونه لرلي دي. یو له دغو پدیدو څخه ادبیات دي چې اسلام هغه قالب‌بندي کړي او حدود یې ورته ټاکلي دي.

«اسلامي ادبیات» یو لړ ځانګړنې او مواصفات لري، کوم چې د همدې تصور نظام جوړوي او هغه دا دي:

۲- ۲- ۱- ۱۱- ۱. عقیدوي ادب

دا لیدلوری په پراخ مفهوم له اسلامي عقیدې سره تړاو لري چې په کې انسان، کاینات او ژوند ټول شامل دي. په دې تصور کې د انسان ټول لوی او کوچني فعالیتونه انعکاس مومي او دا یواځې د ديني

شعايرو لکه لمونځ، روژې او جهاد پورې محدود نه دی، بلکې د ژوند د ټولو برخو لپاره جامع او بشپړ فکري چوکاټ وړاندې کوي. له همدې امله، د دې تصور په رڼا کې دا اندېښنه بې‌ځايه ده چې گواکې عقيده هنر محدودوي يا د هغه وزرونه پرې کوي؛ برعکس، دا عقيدوي ليد د اسمان او ځمکې، او د انسان او د هغه د خالق ترمنځ دوامدار او نه پرې‌کېدونکی تړاو رامنځته کوي، دا اړيکه انسان له ډار، ناهيلی، انزوا او فکري گډوډی څخه ژغوري او هغه د زړو او نويو بت‌پرستو تمايلاتو او له الهي تقدير څخه د سرغړونې له فکر څخه ساتي. همدارنگه مرگ د يو وحشتناک پای په توگه نه انځوروي، بلکې د ژوند د يوې معناداره مرحلې په توگه يې وړاندې کوي او انسان له خپلې فطري دندې، يعنې جدي هڅو او مسؤوليتونو څخه نه تښتوي، دا ليدلوری ژوند ته د بې‌معنا پای په سترگه نه گوري، بلکې د مينې، نېکمرغۍ او اخلاقي فضيلتونو د ودې سرچينه يې بولي. همدارنگه د حلالو چارو د ارزښت او د هغوی د سمې استفادې لارښود وړاندې کوي، د فرد او ټولنې د خير لپاره د بديو او فساد مخه نيسي او عقل، تفکر او اعتدال ته لوړ ارزښت ورکوي، څو ژوند د پرمختگ او ثبات په لور روان وساتل شي، په همدې بنسټ اسلامي ادبيات د عقيدې له امله نه شي ملامت کېدای، ځکه هر ادبي مکتب په اصل کې له يوې ځانگړې فکري او عقيدوي نړۍ ليد څخه رامنځته کېږي، حتی هغه نظريه چې «هنر د هنر لپاره» اصل گڼي، خپله يو ځانگړی فکري او ارزښتي دريځ خرگندوي، نه بې‌طرفه هنر. (رابح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf).

قرآن کريم د شاعرانو او اديبانو پر شعرونو او ليکنو په شکل، مضمون، ژبه او خيال خپل ښکاره اثر پرېښی. د عربي نړۍ مشهور ليکوال دکتور شوقي ضيف په دې اړه وايي: «بې‌له‌شکه اسلام د ليکوالو او شاعرانو په نفسونو ژوره اغېزه وکړه، آن تر دې چې له ځينو شاعرانو څخه يې واعظان او خطيبان جوړ کړل، خلکو ته يې نصيحتونه پيل کړل، د الله پاک لوري ته يې رابلل او د آخرت له عذابونو څخه يې وېرول او همدارنگه د دنيا او له هغې نه پاتې کېدونکو نعمتونو په اړه يې لوستونکو ته پندونه ويل»(منگل، nal.org/journals/۲۰۲۳/jan-june/۰۱۰۹۹.pdfhttp://pukhtunkhwajour).

مورِ هيڅکله نه شو کولای چې اسلامي ژمن (متعهد) ادب د اسلام له رسالت او بلنې څخه جلا په نړيواله کچه وړاندې کړو، ځکه د دې ادب بنسټ همدا رسالي او بلنيز ماهيت جوړوي. اسلامي ادب د خپل فکري جوړښت له مخې د اسلام له ارزښتونو، پيغام او نړۍ‌ليد سره ژوره اړيکه لري او همدا اړيکه د هغه د هويت اساسي برخه ده. په اسلام کې ادب د اسلامي بلنې کومه چې د دنيا په ژوند کې مورِ ته

لومړی مهمه دنده تمثیلوي، ملګری دی. ادب خدای او رسول ته د بلنې مل او چوپړ، د هغې یوه برخه او د هغې د وسلو یوه وسله ده. کله چې ادب د اسلام له رسالته بېل شي، نو رسالت او هویت یې ورک او له منځه لاړ شي. هغه لومړی قضیه چې په ژوند کې د ادب رسالت تشکیلوي، هغه د مؤمن ادیب په زړه کې د ایمان او توحید د قضیې ځای نیول دي او دا هله کېدای شي چې دا قضیه د ده د ژوند مهمه قضیه جوړه شي. د الوهیت او ربوبیت حقیقت درک کړي، رب العلمین خدای ته د خپل عبودیت حقیقت وپېژني، تر ټولو لومړی دوستي او لومړی ژمنه یې له خدای سره وي، ستره مینه یې له خدای او رسول سره وي او وېره یې هم یواځې له خدایه وي او خشوع او تضرع یې هغه ته وي. دغه مهال نو ټول هغه قیود چې ادیب د سستۍ او لتې، عجز او تاوان په چکړ کې را ایساروي، له منځه ځي او هغه افقونه پرانیستل کېږي چې د ایمان او وړتیاوو له مخې له رښتیني مؤمن ادیب پرته بل څوک نه شي ور رسېدلای. له دغې دوستۍ، ژمنې او مینې څخه په دې نړۍ کې د هغه ټولې دوستۍ، ژمنې او مینې سرچینه اخلي او په دې توګه نفاق، یو له بله بدنیتي او یو د بل عیب لټول او په ډول ډول بڼو د بتانو عبادت له منځه ځي او پر ځای یې دا ټول د ادب او ټولنې د بېلو بېلو ځواکونو ترمنځ د یو بل اثر ښندنې ته متوجه کوي.

که د ایمان او توحید قضیه، لکه څنګه چې یې د خدای لار وړاندې کوي، هغسې د مؤمن ادیب په زړه کې تحقق ونه مومي، نو د رښتوني ادب چې له اسلام سره د التزام سېپځلتیا تمثیلوي، د تحقق هیله بې ځایه ده(همت، ۱۳۸۵ل، ۲۲۵- ۲۲۶ مخونه).

۲- ۲- ۱- ۱۱- ۲. هدفمن او روزنیز ادب

د دې ځانګړنې په پایله کې ادب هدفمن کېږي او بې ګټې خبرې او بې مقصده مطالب په کې ځای نه نیسي. مسلمان ادیب ادب په خپل ذات کې موخه نه ګرځوي –لکه څنګه چې د هنر د هنر لپاره پلویان یې ادعاء لري- بلکې هغه د هدف لپاره وسیله ګرځوي. دغه مقصد په زړونو کې د الله د ایمان ټینګولو، په خلکو کې د لوړو ارزښتونو بنسټیز کولو او په انساني ذات کې د خیر او ښېګڼو د ځواکونو را برسېره کولو معنا لري. دا ادب محدودې دندې لري او له اسلامي تصور سره سم منظمو اهدافو ته د الله تعالی د دې قول پر بنسټ: ﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ. لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَاْ أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ﴾(الانعام: ۱۶۲- ۱۶۳ آیتونه)؛ «ووایه: بې شکه چې زما لمونځ، زما مناسک، زما ژوند او زما مرګ (ټول) الله د مخلوقاتو رب لره دي. هیڅ شریک ده لره نشته او په همدې

(توحيد) زه گومارل شوی يم او زه د مسلمانانو لومړی يم» لاسرسی دی. کله چې د مسلمان اديب په نظر کې د ادب موخه د هغه د ژوند له هدف سره تړلی چې هغه د عقيدې تابعيت او د الله تعالی عبوديت دی چې دا اصلي موخه ده، نو له هغه څخه جزئي موخې لرې کېږي؛ يو روزنيز هدف دی چې د معتقداتو، افکارو، عاداتو او ښو تقاليدو لېږد دی؛ بل ښکلاييز هدف دی چې د ښکلا په اړه د انسان لېوالتيا ښيي، ذوق يې خړوبوي او لوړوي ترڅو د کايناتو او ژوند په برخو کې يې مظاهر او منظرې کشف کړي؛ بل تفريحي هدف دی چې موخه يې د ژوند د ستړتياوو کمول او د زړه خوشحالول دي.....

واقعي هنر بايد يو روزنيز او تربيتي اړخ ولري، که هنرمند يې په شعوري ډول درک کړي او هدف يې وگرځوي او يا هم په ناشعوري ډول د اثر په جوړښت کې شامل شي. دا روزنيز اړخ دوه ښې لري: لوړ او مثبت ارزښتونه او يا هم کمزوري او ناسم ارزښتونه، خو په هر صورت کې د هنر په متن کې موجود وي. د اسلامي هنر څانگړنه دا ده چې دا روزنيز اړخ د لوړو انساني ارزښتونو او سمو فکري تصوراتو پر بنسټ ولاړ وي، نه د کمزورو يا انحرافي مفاهيمو پر بنسټ. له همدې امله، ځينې خلک دا گومان کوي چې اسلامي هنر بايد يواځې د موعظو، اخلاقي درسونو او ديني لارښوونو بڼه ولري، خو دا تصور سم نه دی، بلکې يو ډول ناسم برداشت گڼل کېږي(رابح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf).

۲-۲-۱-۱۱-۳. ژمن يا ملتزم ادب

اسلامي ادب له يوې خوا د موضوع او پيغام له پلوه او له بلې خوا هغه فکري تصور ته ژمن دی چې له هغه څخه سرچينه اخلي. په دې چوکاټ کې ژمنتيا او تعهد د اسلامي ادب اساسي روح جوړوي او په اسلامي ادبياتو کې التزام يو پراخ او جامع مفهوم لري چې د اثر په فکري، اخلاقي او هنري بُعدونو کې انعکاس مومي. که کمونيستي تعهد او التزام له کارگرو او کروندگرو څخه پر دفاع، طبقاتي کشمکش او نورو تنگو مفاهيمو ولاړ دی، که وجودي (existential، د عدم خلاف) تعهد هم تنگ او مقيد دی او د انساني ازادۍ په دفاع پورې محدود وي، بې‌ځايه ژوند کولو ته هڅول دي چې نه يې پيل معلوم وي او نه پای او نه هم د هغه هدف؛ خو په اسلامي ادب کې التزام پراخ دی، په هغه کې د عقيدې التزام دی، سره له ټول جامعيت او نړيوالتوب او د کايناتو، انسان او ژوند په اړه پراخه تصور، دا نه طبقاتي دی، نه په ټاکلو مسايلو او ځانگړې ډلې او ټاکلي وخت پورې محدود دی، هغه د عامو انساني

قضایاوو په اړه التزام دی، هغه د دوام او تلپاتې‌والي اړخ لري، د خیر او حق التزام لري او له هغه څخه د دفاع التزام لري او کشمکش په کې د اقتصادي طبقاتو ترمنځ نه، بلکې د عدل او ظلم، حق او باطل ترمنځ دی، خیر او حق په کې د بنده‌ګانو د خالق له ارادې سره سم وړاندې او تمثیلیږي او باطل هغه څه دی چې د دې ټولو په مخالفت کې وي او د ظلم او ظالم په لمن کې لوېږي.

پر دې سربېره التزام یا ژمنتیا په اسلامي ادبیاتو کې هغه واقعي تعهد دی چې د مسلمان لیکوال له دننه څخه سرچینه اخلي، پر هغه تحمیل کېږي نه او نه د چا له خوا ورته دېکتې کېږي، هغه یې د شخصیت او عقیدې برخه ده او التزام په همدې مفهوم پر ادیب محدودیت نه دی، نه یې له خپلواکۍ سره مخالفت دی، بلکې مسلمان ادیب ملتزم او خپلواک دی، خپله اراده، واک او قناعت لري. په اسلامي ادب کې التزام د وینا په ټولو ډولونو کې شامل دی، که هغه شعر دی، کیسه ده، ډرامه ده او که خطبه، یواځې په شعر پورې محدود نه دی، دا هغه پیغام دی چې باید د حق، خیر او نېکو ارزښتونو په خدمت کې وي.

له همدې امله، مسلمان ادیب په ژوند کې بشپړ منهج ته ژمن او ملتزم دی، چې هغه یې په خبره او عمل دواړو کې راڅرګندیږي، په یواځېتوب او هم د ټولنې له وګړو سره په تعامل کې هم را څرګندیږي. دغه شامل منهج په پېچلې اقتصادي نظریه کې محدود نه دی، داسې نه ده چې د څمکې له یوې نقطې سره تړاو ولري او له بلې سره نه او نه هم له یوه خاص مذهب او هېواد سره تړاو لري، بلکې دغه منهج انساني، نړیواله او شامله ځانګړنه لري چې د ټول بشر لپاره ده، بشري فضایل، لکه محبت، ورورګلوي، همکاري، عدالت او رحمت ستایي.

باید یادونه وشي چې اسلامي ادبیات له یوه روښانه لید څخه خړوبیږي چې لیکوال یې په نظر کې نیسي، ولو که دغه لید دولت یا مؤسسې هم ولري. دا د دې ادب له شان سره نه ښایي چې یواځې له نظري پلوه اسلام ته ژمن وي، حتی که په یوه داسې حالت کې وي چې په ژوند کې له ستونزو سره مخامخ وي، هغه هم د اسلامي نظریې په رڼا کې هواروي. مسلمان ادیب نه غواړي خپل فکر محدود کړي او د دولت یا ډلې اصولو ته ژمن شي. مسلمان ادیب ته په اسلام کې د ژوند کولو پر مهال د سیاسي جوړښتونو او سیاستونو له وجود مخکې او یا د هغه د جوړښت له شتون وروسته حالت فرق نه کوي، د مسلمان لیکوال ژمنتیا هغه تعهد دی چې د لیکوال له ذات څخه سرچینه اخلي، دا داسې ده لکه لمر څخه چې وړانګې خپریږي یا لکه څنګه چې د پسرلي له ګلونو څخه خوږ بوی له زور او جبر

پرته راوځي. په اسلامي ادبياتو کې التزام تر هر ډول شرايطو لاندې، له هر چا څخه چې صادريږي او په هره بڼه چې وي، له اجبار او زور څخه پاک او خالي دی، له شعاري چيغو او استبداد څخه لرې دی او له دې لید سره د بيان او پنځونو لپاره د ليکوالو لپاره پراخ ډګر پرانېزي(رابح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf).

اسلام ته متعهد او ملتزم ادب بېخې بېل رسالت لري چې د نورو ټولو ادبي ښوونځيو (که هغه د لوېديځ دي که د شوروي دي) له رسالت سره بنسټيز توپير او اختلاف لري، نه د دې ادب د رسالت جړې د نورو غوندې دي، نه يې تنې او نه يې مېوې د نورو په شان دي. په ژوند کې د اسلامي ادب رسالت له نورو سره په بېخې ډېرو برخو کې توپير لري. موږ نه شو کولای چې د لوېديځ ادب نظريات پر خپل ادب تطبيق کړو او نه موږ دا ويلای شو چې زموږ ادب هغه پراوونه تېر کړي چې د لوېديځ ادب تېر کړي دي. زموږ ادب نه له کلاسيزم، رومانټيزم، اگزيستانسياليزم، سټرکچرليزم او نورو څخه تېر شوی او نه زموږ ادب د دغو ښوونځيو په تلو تلل کېږي. خو دا پروا نه کوي چې موږ د لوېديځ ادب په هکله معلومات ترلاسه کړو. که زموږ څانګوال او متخصصين د دغه ادب په هکله معلومات ترلاسه کوي څو خپلو خلکو ته د دغه ادب نيمګړتيا او تاوانونه په ګوته کړي يا د هغو له ځينو تجربو زموږ د ادب د رسالت او موخو په خدمت کې ګټه واخلي، دا بيا باک نه لري(همت، ۱۳۸۵ل، ۲۲۲، ۲۲۳ مخونه).

۲- ۲- ۱- ۱۱- ۴. پرانيستی متجدد ادب

که څه هم اسلامي ادبيات خپل ځانګړی مفهومي نظام لري چې له نورو ادبي مکتبونو څخه يې بېلوي، خو له بلې خوا د خپل نړيوال او پراخ ماهيت له مخې د نورو ملتونو او کلتورونو ادبياتو ته هم پرانيستي پاتې کېږي او د انزوا او ځانبسيا تندلاري تمايلات ردوي.

اسلامي ادب وده‌کوونکی، پرمختللی او ابتکاري بهير دی؛ نه له نوښت سره دښمني لري او نه يې ردوي، بلکې په دې برخه کې اعتدال او منځلاريتوب غوره کوي. دا ادب د بېلابېلو هنري تخنيکونو له کارونې سره حساسيت نه لري او د ادبي مکتبونو له مختلفو تجربو څخه د استفادې پر وړاندې ځان ترلې نه ګڼي. خو توپير يې دا دی چې دا ټول عناصر د خپل فکري معيار او ارزښتي نظام په رڼا کې ارزوي او په بصيرت سره ورسره تعامل کوي، اسلامي ادب خپل معيار لري چې د هغه پر بنسټ خپل حرکت او لوری تنظيموي؛ نه په پټو سترګو د هر نوي جريان تقليد کوي او نه هم له هر دوديز ميراث سره مطلق تړاو لري، بلکې هڅه کوي ګټور عناصر جذب کړي، خپل ليدلوری غني کړي او د ادبي بڼو

او تجربو ساحه پراخه کړي.

دا دريځ د هنري خلاقيت په وړاندې د اعتدال او منځلاريتوب څرګندونه کوي؛ يو داسې موقف چې نه د بشپړې چوپتيا او فکري رکود معنا لري او نه د بې‌مهاره او بې‌معياري خوځښت. له همدې املې اسلامي ادبيات نه جامد او سست دي او نه بې‌لارې او بې‌هدفه، بلکې ژمن، پرانيستي او پرمختللي دي.

دغه ادب نه له پخواني ميراث سره مطلق تعصب لري او نه له معاصرې نوښتګرۍ سره بې‌قيده مينه؛ بلکې هڅه کوي له دواړو افراطونو ځان وساتي. ځکه په اسلامي ليدلوري کې هم په پخواني او هم په نوي عصر کې د حق او خير عناصر موجود دي او د هر وخت په تجربو کې د حقيقت ونډه ليدل کېږي، چې د هغې له درک او استفادې سره ادبي پرمختګ لا بډای کېږي. اسلامي تصور د بېلابېلو هنري نظرياتو منونکی دی، تر هغه حده چې د هغوی جهتونه او جزئيات د انسان او نړۍ له مثبت حرکت، د تلپاتې حقيقت او د عدالت له ارزښتونو او د تخليقي ښکلا له اصولو سره همغږي ولري او له جعل، دروغو او داخلي تناقض څخه لرې پاتې شي.

دا ليدلوری انعطاف‌منونکی او جامع دی، ځکه بېلابېلې هنري تجربې په خپل فکري چوکاټ کې رانغاړي او د شمولیت، ژورتيا او کايناتي بُعد له مخې يې بډای کوي. له همدې املې اسلامي هنر له يوې واحدې بڼې سره محدود نه پاتې کېږي، بلکې د بېلابېلو ادبي او هنري مکتبونو ځانګړنې په متوازن ډول جذبوي. په دې چوکاټ کې، له بهرنيو ارزښتونو سره د متوازن تعامل په صورت کې يو کلاسيک بُعد څرګندوي، د مسلمان انسان د عاطفي او وجداني تجربو په بيان کې رومانتيک اړخ خپلوي او د انحراف، ظلم او طاغوتي ځواکونو پر وړاندې د حق او توحيد غږ په پورته کولو کې انتقادي او ريالیستي بُعد لري.

همدارنګه د ټولنيزې بې‌عدالتۍ او استبداد پر وړاندې د انسان د کرامت او ازادۍ دفاع کوي او د فردي کمزورتياوو، وسوسو او اخلاقي ازمايښتونو په انځورولو کې وجداني او رښتينی بُعد څرګندوي. د انسان د داخلي نړۍ ژورو تجربو ته په کتنه کې بيا يو حساس او ادراکي هنري لوری غوره کوي، چې د مخلوقاتو ترمنځ د همغږۍ او انساني همدردۍ غوښتنه پياوړې کوي. له بلې‌خوا هغه دې نظرياتو سره په مقابله او تعامل کې له انحرافه ځان ساتي. ځان ساتل په دې معنا چې مثلاً، د انسان معبوديت (په کلاسيک ډول)، د هغه ځان خوښونې لېوالتيا (په رومانتيک ډول)، د انساني کمزورتيا د شېبو ستاينه (په واقعبينانه توګه) او د فکري، رواني يا اخلاقي انحراف انځورول (له وجودي پلوه) ردوي. هيڅ بېهودګي

په کې نشته، لکه څنګه چې [مصری ممثل] کامي [١٩٣٦-٢٠١٨] ورته ګوري، ژوند او وجود بې دليله نه دی لکه څنګه چې [اتريشی ليکوال] کافکا [١٨٨٣-١٩٢٤م] ورته ګوري، له هر محدوديت څخه مطلقه اخلاقي ازادي په کې نشته لکه څنګه چې [فرانسوی فيلسوف، ليکوال او منتقد] سارتر [١٩٠٥-١٩٨٠م] ورته ګوري، ځکه اسلامي هنر خپلې داخلي تجربې له حقيقت څخه اخلي، نه له باطل څخه؛ له استقامت څخه يې اخلي، نه له انحراف څخه.

د اسلامي ادبياتو يوه ځانګړنه چې موږ يې په عمومي ډول يادوو، دا ده چې روښانه، جماليـاتي، واقعـي او انساني ادبيات دي. د دې تر څنګ چې دا خوشبينانه ادبيات دي، که خوشبينانه ځانګړنه پـه ټـولنيزه کچه د مسلمانانو لپاره معنوي اړخ لري، په اسـلامي ادبيـاتو کـې هـم مـنعکس شـوي، سره لـه دې چـې ليکوال له منفي مسايلو سره مخامخ شوی، خو مسايل يې د امېد او خوشـبينانه فضـاء کـې مطـرح کـړي دي(رابح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf).

٢- ٢- ١- ١٢. پايله

د پورتني بحث نتيجه دا شوه چې:

- د «اسلامي ادب» اصطلاح نوې نـه ده. د ادبيـاتو پـه تـاريخ پـورې اړونـدو ليکنـو کـې د هغې دورې ادبيات، چې له جاهلي دورې وروسته د اسلام له راتګ سره هم‌مهاله پيلېږي او د وحيې د نزول لـه پيـل سره تړاو لري، تر خلافت راشده پورې غځېدلي ګڼل شوي دي. دغه دوره په ادبي تاريخ کـې د «صـدر الاسلام ادب» په نوم هم پېژندل کېږي.

خو په معاصره کارونه کې دا اصطلاح زياتره هغـو ادبيـاتو تـه کـارول کېـږي چـې د اسـلامي اصـولو او ارزښتونو پر بنسټ د يو متعهد مسلمان له خوا وړاندې شوي وي. د همدې تعريف له مخې، هغـه ټـول ادبي آثار چې د اسلام له ارزښتونو سره په تضاد کې وي، د اسلامي ادبيـاتو لـه دايـرې څخـه بهـر ګڼـل کېږي، که څه هم د يوه مسلمان له خوا توليد شوي وي.

- د دې ډول ادبياتو لپاره د «اسلامي ادب» اصـطلاح پـر ځـای ځينـې نـورې اصـطلاح‌ګانې هـم کـارول کېږي، خو د هغوی د ماهيت او د دال او مدلول د اړيکو له مخې او د هغو د جزئي معناوو په رڼـا کـې، دا اصطلاحات د اصلي اصطلاح «اسلامي ادب» ځايناستي کېدای نه شي؛ ځکـه دا اصـطلاح يـو جـامع مفهوم او پراخ دلالت لري چې د نورو ټولو اړوندو اصطلاحاتو معناوې او دلالتونـه پـه خپلـه لمـن کـې رانغاړي.

- اسلامي ادب د اسلامي تصور په چوکاټ کې د انسان، ژوند او هستۍ (کاینات) له پلوه یو هدفمند هنري بیان دی چې په ادبیاتو او ادبي نقد کې د یوې بشپړې او منسجمې نظریې بنسټیز اصول وړاندې کوي. د دې نظریې ځانګړتیاوې د اسلامي ادبیاتو په تاریخي بهیر کې د پېړیو په اوږدو کې څرګندې او پیاوړې پاتې شوې دي. سربېره پر دې، دا لیدلوری د ادبي بهیر د سمون او منظم کولو لپاره د رغنده، روښانه او هدفمند نقد غوښتنه کوي، څو د ادبیاتو مسیر له فکري ګډوډۍ څخه وژغوري او په علمي او هنري توګه یې لا پیاوړی کړي.(رابح، https://nama-center.com/Uploads/Files/A.pdf).

- معاصر اسلامي ادبیات هغه ادبیات دي چې یواځې ځانګړی وخت یا خاصه موضوع نه څېړي؛ بلکې (هنري او ادبي بیان) او (اسلامي لید او نړۍ لید) یې دوه مهمې ستنې دي.

- اسلامي ادبیات د انسان او د هستۍ د چارو په اړه جامع لیدلوری لري، انسان ته د هغه په مادي او معنوي اړخونو او په هر یوه پورې اړوندې مسألې په پام کې نیسي؛ له همدې امله ویلای شو چې اسلامي ادبیات، بشري ادبیات هم دي.

- د اسلامي ادبیاتو ډېری تیوریسنان (پرته له یو څو) د لیکوال مسلمان کېدل او د اسلامي اخلاقو او عملونو پیروي د اسلامي ادبیاتو د ایجاد لپاره شرط ګڼي او باور لري چې د نامسلمانو لیکوالو آثار له اسلامي هنر او ادب سره په هغه حد کې مطابقت لرلی شي چې دوی له اسلامي جهان‌بیني سره اړیکه پیدا کړي. په بل عبارت، هر انساني ادب، اسلامي ادب نه ګڼل کیږي.

- د اسلامي ادبیاتو او نورو ادبي مکتبونو ترمنځ ځانګړی توپیر د هغې محتوا ده، کوم چې باید له اسلامي لید سره سم وي.

- اسلامي ادبیات د انسان د ژوند مثبت او منفي واقعیتونه (ښه او بد دواړه) بیانوي؛ خو مهمه دا ده چې انساني کمزورې شېبې - لکه جنسي مسألې – نه منعکس کوي، بلکې دا یواځې یو واقعیت ګڼي چې باید د عبرت او د انسانیت لوړو درجو ته د انسان د لوړاوي سبب شي.

- په اسلامي ادبیاتو کې بڼه او محتوا دوه ګډ عناصر دي چې دواړه په مخاطب کې د هنري احساس د رامنځته کولو لامل کیږي.

- عربي ژبه د اسلامي ادب په خپرولو کې مهم رول لري، خو په نړیواله کچه د دې ادب د پرمختیا او پراختیا لپاره نورو ژبو ته هم توجه اړینه او مهمه ده(پروینی، فرامرز، زودرنج،

https://jrla.isca.ac.ir/article_۱۵۳_۲aba۱ec۳۳d۹۲b۶۹۰۹۶۳۲da۰٤٤۹۳۰ed۷۸.pdf، ۲۲ مخ).

۲-۳. په پښتو ادب کې د اسلامي ادب پیل او پرمختیایي بهیر

پخوانی افغانستان، یعني لرغونې آریانا چې زمونږ د نیکونو اصلي وطن دی، د علم او معرفت زانګو وه. د دې وطن خلک معارف‌دوسته وو، د علم څراغ یې په لاس کې نیولی او تل به یې د خلکو د ذهنونو د تنویر لپاره مجاهده کوله. زمونږ د دې خبرې شاهد د حفریاتو آثار او د مقدسو کتابونو متن دی. د لرغونو دورو د معارف اصلي موخه د خلکو روڼاندي کول، اخلاقي ښوونه، مذهبي تعلیمات او احکام رسول وو چې ښه نمونه یې په ویدونو یا د «ویدا» په کتاب کې راڅرګنده شوې ده. د دې سیمې لرغونو خلکو د نوموړي کتاب متون سپېڅلي احکام ګڼل، هغه به یې یادول او د هغو برهمنانو په وسیله به خلکو ته تدریسېدل چې په هغه کې به یې تخصص او تبحر درلود. د دیني علومو په دویمه مرحله کې د ګرامر، علم‌النجوم، علم‌الصوت او مذهبي مراسم له ذهني تعلیم او تربیې سره یوځای وړاندې کېدل او د خپل وخت د درسي نصاب یوه برخه وه چې غالباً به د شهزاده‌ګانو او سپاهیانو لپاره چمتو کېده او زده‌کړې په ساده ډول د ونو تر سیوري لاندې، پټاوو، د پاچاهانو په دربارونو او معابدو کې ترسره کېدې. له هغه وروسته اوستایي مدنیت چې له قبل‌المیلاد څخه زر کاله را وروسته یې انکشاف وکړ، زمونږ د هېواد او سیمې په لوېدیځه حوزه کې خپور شو او د سکندر تر یرغلونو یې دوام وکړ. دغه مدنیت په حقیقت کې د ویدي مدنیت سلسله او پاتې برخه وه، نو ځکه یې د ښوونې او روزنې په اصولو کې لږ تغییر پېښ شو. د ویدي دیانت په ځای په ښوونځیو کې د زردشتي دین تلقین کېده. د لوړو زده‌کړو په برخه کې ادبیات د مذهبي سرودونو په شکل تدریسېدل او د هغه ترڅنګ نجوم (ریاضي)، عقاید او طب ته هم پاملرنه کېده. کله چې بودایي دین په هند کې وده وکړه، نو د (لوی اشوک) په زمانه، یعني ۲۳۷ق.م کې دغه دین د افغانستان په ختیځو سیمو کې خپور شو او هلته بودایي تعلیمات عام شول(زهیر او علمي، ۱۳۳۹ل، ۱-۲ مخونه).

د افغانستان د فرهنګ تاریخ د مطالعاتو پر اساس په دغه فرهنګ کې هغه لرغونی افغانستان شامل دی چې حدود یې له مارګلې تر آمو سینده پورې وو. په دې محدوده کې د اسلام تر ظهور مخکې ویدي، اوستایي، یوناني باختري، یوناني ګریکو، بودایي مدنیتونه تېر شوي، هم په کې کوشاني مدنیت او هم محلي حکومتونه، لکه د کابل شاهانو تېر شوي دي. کله چې دې سیمې ته اسلام را ورسېد، نو د اسلام له راتګ وروسته دلته د انتقال دوره پیلیږي، ځکه افغانستان له پخوانیو مدنیتونو څخه را جلا شو او تر

دې وروسته افغانان د اسلام په دین مشرف شول. په دې وخت (د اسلام په اوایلو کې) په لرغوني افغانستان کې د عربي ژبې زده‌کړه پیل شوه، د خلکو باسوادول په جوماتونو کې په عربي پیل شول. په اسلامي مدنیت کې درې مسایل مطرح شول: ۱- عربي ژبه، ۲- عربي رسم الخط، خطونه او پښتو تورو ته ګرافیمونه جوړول، ۳- د اسلام د اساساتو او عربي ژبې تدریسول. د اسلام په اوایلو کې افغانستان کې پښتو او دري وه او آثار پرې لیکل کېدل. نورې ژبې هم وې خو آثار په هغه وخت نه دي پرې لیکل شوي. په همدې وخت کې عربي رسم الخط په ټول قدیم افغانستان او ګاونډیو کې باب شو(هېوادمل، ۱۴۰۲ل، لیکچرنوټ).

افغانانو په خپل ژوند کې د علمي بدلون راوستلو، فکري اغېزمنتیا او دیني تثقیف لپاره تل پوهې او علم ته پام کړی دی. په دې لاره کې شاعرانو او لیکوالو د قلم په وسیله دغه هدف ته د رسېدو لپاره کار کړی، ترڅو خلکو ته اخلاقي او مذهبي لارښوونې، د ټولنې واقعیتونه او دریځ روښانه کړي او هم انساني داخلي کیفیات که هغه عشق دی، عرفان دی او که انتقاد، وړاندې کړي. هغوی د خپلو کتابونو د متونو، ادبي فن‌پارو، تصوفي کړنو، شعري او نثري ویناوو له لارې پوهنیز فعالیت جاري ساتلی دی.

افغانانو چې اسلام یې د دې دین د ظهور په لومړیو پېړیو کې ومانه، نو اکثریت لیکوالو او شاعرانو یې په خپلو لیکنو او شعرونو کې د اسلام د اساساتو د تشریح کولو او دیني پیغام رسولو لپاره هڅې پیل کړې. دلته د بېلګې په توګه د پښتو ادبیاتو د لومړۍ دورې د څو تنه شاعرانو نمونې یادوو چې په شعرونو کې یې د الله تعالی د وحدانیت جلوې ځلېږي.

شیخ متي بابا (۶۲۳هـ.ق کال زوکړی) لوی زاهد او عابد او په لوی خدای ﷻ مین سړی و. په یوه روایت یې نقل کوي چې: شیخ متي بابا لوی عالم او د دین مرشد و، په غنډان کې یې یو کتاب کښلی چې نوم یې «د خدای مینه» و، په دغه کتاب کې یې خپل شعرونه هم وکښل او داسې مناجاتونه یې وویل چې زړونه یې ویلې کول. متی بابا په خپل یوه مناجاتي شعر کې د طبیعت په مظاهرو کې د لوی خدای ﷻ د بې مثاله خلقت د مظاهرو او د هغه ذات د جمال او کمال جلوې ستایي. په یوه برخه کې یې وایي:

که لمر روښانه، مخ یې سپین دی	یا د سپوږمیه تندی ورین دی
که غر دی ښکلی پرتمین دی	لکه هنداره مخ د سین دی
ستا د ښکلا دا پلوشه ده	دا یې یو سپکه نندارہ ده

په همدې مناجات کې د رب المنان د ابدي جمال او کمال د رڼا څرکونو ته داسې ګوته نيسي:

خاونده! ښکلی ستا جمال دی ښکاره يې لور په لور کمال دی
که ورځ که شپه که پېړۍ کال دی ستا د قدرت کمکی مثال دی
ستا د لورونو يوه رڼا ده دلته چې جوړه تماشا ده(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۲۶مخ)

د دې مناجات په نورو برخو کې د جهان د پيدايښت فلسفه د هغه لوی ذات د جمال او کمال جلوه بلل شوې ده.

شيخ عيسی رحمه الله چې د شېرشاه سوري د پاچاهۍ په زمانه کې يې ژوند کاوه، لوی ولي و او د خدای په توحيد کې يې ښه شعرونه ويلي دي. په لاندې دري بيتيز شعر کې يې د الله د کمال قدرت او حکمت انځور ايستلی او د خدای په خدايي يې د خپلې توحيدي عقيدې څرګندونه داسې کړې ده:

په خپله کار کړې په خپل انکار کړې کله بادار يم، کله مې خوار کړې
ته خو قادر يې په صفتونو کله مې نور کړې، کله کله مې نار کړې
عيسی حيران دی په دې شيونو کله مې يار کړې، کله اغيار کړې

بې له شکه چې پورتنۍ شعر کې په لوی خدای باندې دايمان مفصل ماهيت تجسم شوی دی(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۷۶ مخ).

له پورتنيو څو بېلګو څخه جوتيږي چې پښتنو هغه مهال چې د هغوی په سيمو کې اسلام ظهور کړی، نو يې روحاني طبقې او شاعرانو په خپلو پنځونو کې د الله تعالی د لويۍ او عظمت بيانونه کړي چې دا په خپله د اسلامي ادبياتو له تعريف سره اړخ لګوي او په دې توګه پښتنو ويناوالو او شاعرانو دې سيمو ته د اسلام له راتګ سره سم د اسلامي ادبياتو د نظريې مطابق ادبي ايجادات کړي دي.

استاد زلمی هېوادمل وايي: اسلام چې په افغانستان کې خپور شو، نو دلته د اسلامي مدنيت بنسټونه (عربي ژبه+ خط، د اسلام د اساساتو تدريس) کښودل شول. دغه مدنيت مخ په روانېدو شروع وکړه. په همدې وخت کې دلته ليکنيو ادبياتو سر راپورته کړ. کله چې دلته اسلامي مدنيت راغی، نو يو عنصر په کې شفاهي ادبيات و او بل عنصر علوم و چې په زړو علومو او نويو علومو وېشل کېږي. زاړه علوم د اسلامي فرهنګ علماوو په دوو برخو وېشلي دي:

۱- نقلي علوم: په دې کې دا علوم شامل دي:

الف) شرعي، ديني، عقيدتي.... په شرعي علومو کې د قرآن کريم تفسيرونه، تجويدونه، د احاديثو،

فقهي، ميراث کتابونه او تصوفي نظريې شاملې دي چې له ۳۰ ډېرې د اهل سنت و الجماعت طريقې رامنځ ته شوې.

ب) ادبي علوم: قرض الشعر. قرض النثر. بيان، بديع، لغت، صرف، نحو. علم محاضره. د حروفو مخارج. علم الدواوين. تاريخ او قصص په کې شامل دي.

۲- عقلي علوم: په دې کې دا علوم شامل و: طب، حکمت (د حق خبره کول)، فلسفه، حفظ الصحه، بيطاريه (د حيواناتو اړوند علوم)، حساب، هندسه، علم الاعداد، جغرافيه، نجوم، اخلاق او موسيقي. خو په غربي دنيا کې د علومو تصنيف تغيير وکړ چې په دې برخو ووېشل شول: ۱- طبيعي علوم، ۲- اجتماعي علوم، ۳- ادبيات او هنرونه.

البته کله چې افغانستان ته نوي علوم راغلل، زاړه علوم دلته ساقط شوي نه و، دوام يې درلود او آن تر اوسه هم شته(هېوادمل، ۱۴۰۲ل ليکچرنوټ).

د اسلام د سپېځلي دين ظهور د سيمې د ښوونې او روزنې په نظام کې لوی بدلون راوست او د دې مذهب په راتللو سره د بازنتين او ساسانيانو [۲۲۴– ۶۵۱ م] د امپراتوريو ځواکونو سره ګډوډ شول او د يوه خدای ﷻ د پرستش تعليمي نظام پيل شو. افغانستان ته د اسلامي تعليماتو لړۍ د اسلام د درېيم خليفه حضرت عثمان بن عفان ﷺ په زمانه کې را ورسېده. د اسلام د دين تعليماتو نه يواځې مذهبي بڼه درلوده، بلکې د يوه لوی مدنيت د خپرولو شکل يې ځان ته غوره کړ چې فقه، تفسير، حديث، صرف، نحو، ادب، تاريخ، منطق، رياضي، عقايد، فلسفه، طب، خط، املاء، انشاء، حکمت او داسې نور يې مهم مضامين ګڼل کېدل. د دې مضامينو تدريس د علماوو له خوا په جوماتونو، مدرسو او ديني مرکزونو کې پيل او د پخوانيو بودايي تعليماتو ځای يې ونيو. د دې تعليماتو لومړۍ برخه په نارسمي، خصوصي او انفرادي ډول ترسره کېده، خو شتمنو وګړو به د خپلو اولادونو لپاره ښوونکي نيول او په خپلو کورونو کې به يې اولادونو ته د تعليم زمينه برابروله. کله چې له خليفه هارون‌الرشيد څخه وروسته د بغداد علمي مرکز مادي او معنوي ځواکونه مخ په ځوړ شول، نو په خراسان کې خپلواک او نيمه خپلواک حکومتونه ايجاد شول او د دې سيمې وګړو د تعليم او تربيې په برخه کې خپلو هڅو ته په نوې بڼه ادامه ورکوله. د ابن خلدون څرګندونې دا حقيقت په ډاګه کوي چې غير عربو (عجمو) د عربانو په پرتله د اسلامي علومو په تعميم او انکشاف کې لويه ونډه ادا کړې ده(زهير او علمي، ۱۳۳۹ل، ۳ مخ).

د طاهريانو [۸۲۱–۸۷۳م] او سامانيانو [۸۱۹ - ۹۹۹ م] په عصرونو کې علم او تربيه عام شو، په تېره بيا د سامانيانو په زمانه کې بلخ د علومو او معارف مرکز شو، د شاعرانو قدرداني يې کوله. غزنويانو [۹۷۷ - ۱۱۸٦ م / ۳۴۴ - ۵۸۳ هـ.ق] د تعليم و تربيت په تاريخ کې نوی فصل پرانيست او غزني دوه پېړۍ د سياست او ديانت، علم و معارف مرکز و(زهير او علمي، ۱۳۳۹ل، ۵ مخ). ورپسې د غوريانو [۷۸٦ - ۱۲۱۵م] کورنۍ د پښتو ژبې په پراخوالي او ترويج کې ډېر زيار ايستلی دی. د پښتو ژبې شاعران يې روزلي او شاعران به په جنګونو کې له پاچاهانو سره ملګري وو(زهير او علمي، ۱۳۳۹ل، ۷ مخ). د کرت پاچاهانو (۶۴۳- ۷۸۳هـ.ق) په وخت کې بيا علماء او استادان د حکومت له خوا استخدامېدل او د تدريس په مقابل کې تنخوا ورته ټاکل کېده. د مدرسو وقف ځانګړی دفتر درلود او علماوو د دارالعرفان د تعليم او اصولو په برخه کې پاملرنه کوله(زهير او علمي، ۱۳۳۹ل، ۱۲ مخ).

مصطفی سالک له مدرسې سره زمور د ټولنې د اړيکې په باره کې کاږي، د افغانستان ډېر خلک د پاخه اقتصاد خاوندان وو، خانان وو خو بچي يې مدرسو ته لېږل چې مقصد يې اقتصادي نه و، ګڼې عصري ښوونځي ته به يې لېږلي وو بلکې موخه يې آخرت وه، نو که د دغسې يوه طالب معشوقه ووايي چې:

په مولوي مې سلام وايه

زما جانان ته کتاب خلاص کړه چې راځينه

نو د دې ښلتون علت نږه مذهبي دی، نه اقتصادي(سالک، ۲۰۱۳م، ۴۷ مخ).

له پورتنيو کرښو معلوميږي چې تر لسمې هجري پېړۍ پورې د اسلام دين د دې لامل شوی چې په تاريخي افغانستان او په تېره په پښتني سيمو کې د اسلامي تعليماتو سلسلې پيل شي او هم د دين اړوندو مسايلو تبليغ په جوماتونو او نورو ديني بنسټونو کې دود شول چې په دې سلسلې کې پښتني شاعرانو او ليکوالو بارز رول لرلی دی.

لسمه هجري پېړۍ د بايزيد روښان د ظهور عصر دی چې په افغانستان کې يې د وخت د سياسي، ټولنيزو او فرهنګي شرايطو تر اغېز لاندې عرفاني بهير پيل کړ او د خپلو فکري او نظرياتي هيلو د رساوي او خپراوي لپاره يې قلمي جد و جهد ورسره غبرګ کړ. ده په پښتو ادب کې د يوه منظم عرفاني ښوونځي بنسټ کېښود(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۲۱۷ مخ).

په روښاني ادبي غورځنګ کې د مذهب، ژبې او ادب د قامي احساس درې رنګونه ډېر ځلاند او وړنګن دي. ډاکټر راج ولي شاه خټک وايي چې له خلوص نه ډک مذهبي اجتهاد چې له زمانې سره

يې ډغره ووهله، نو د فطرت د قانون مطابق تـرې بېلابېـل نـوي ځواکونـه وزېرېـدل. د بايزيـد روښـان د مذهبي جذباتو سيند د سياست په وياله کې روان شو او ځانته يې د قامي احساس پر ځمکه لاره جـوړه کړه. بايزيد روښان په پښتو کې مسجع نثر رامنځته کړل او هغه د مذهبي متونـو لپـاره دومـره مقبـول شـو چې تر هراته ورسېد. په پښتو ادب کـې د مـلا ارزاني ځـواکمن قـومي شـعور او د ميـرزا خـان انصـاري علمي او هنري تجربو خپلې اغېزې وشيندلې. مخلص، دولت، واصل او نورو روښـاني شـاعرانو د ادبي پانګې له مخې پښتو ژبه له نورو ژبو سره سياله کړه چـې بيـا وروسـته تـرې خوشـحال بابـا مـلي شـعور، عبدالرحمن بابا عرفان، عبدالحميد بابا او نورو پښتنو شاعرانو هنري ګټې ترلاسه کړې. د اخونـد دروېـزه بابا او پلويانو علمي او ادبي هڅې هم د روښاني غورځنګ سيوری، انعکاس او عکس العمل ښـکاري. روښانيانو د اسلامي فرهنګ ژور مفاهيم او اصطلاحات پښتو نظم او نثر تـه ډالـی کـړل او پـه دې توګـه پښتو ادب د اسلامي فرهنګ له يوه فکري اړخ سره تړون پيدا کړ. پښتو ادب په همدې پېـر کـې د نظـم يوه غټه ذخيره وموندە او نن چې کوم منظم آثار لرو، ټول په همدې پېر پورې اړه لري. له مسـجع نـثر د ارزاني ساده نثر ته بازګشت د پښتو ادب د پرمختيا يو هوډ و چې روښانيانو ترسره او د ګردې پښـتونخوا فرهنګيانو پسې بدرګه کړ(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۲۰۸، ۲۰۹ مخونه).

ناګار زياتوي، هغه درې ځلېدونکي رنګونه چې بايزيد روښان ته يې تلپاتې‌والی او ابديت ور وبښه، مذهب، ژبه او ادب او د ملي احساس شعور وو. د دغو درېيو ځلاوو د پلي کولو او خوندي کولو لپاره يو داسې ځوک په کار و چې علم، ادب او فرهنګ او قامي خواخوږي يې ايډيال، ارمان او د بلې نړۍ لپاره يې تومنه هم وګڼي. بېشکه دا هر څه د پير روښان د شخصيت په ژورو کې په څېړو وو(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۲۱٦ مخ).

په رښتيا هم چې د روښان غورځنګ لومړی مذهبي اړخ درلود او وروسته يې په سياسي اړخ کې هم تبارز وکړ او مبارزې يې پيل کړې او د همدې مذهبي او سياسي خواوو د برجسته کولو او خلکو ته د خپل پيغام د رسولو په خاطر يې د قلم له لارې خپلې ژبې او ادب ته خدمت وکړ. د دوی په مقابل کې اخوند دروېزه او د ده پلويانو هم قلمي هڅې پيل کړې او د همدې فکري کشمکشونو په پايله کې يې درنه متني زېرمه پښتو ژبې او ادب ته پرېښودل.

استاد رفيع وايي: د دې دواړو ډلو پيروانو [پير روښان او اخوند دروېزه او پلويان يې] په سيالی سره د پښتو ځينې آثار منځ ته راوړل چې د پښتو په ليکلې پانګه کې يې زياتون راوست او په پښتو کې يې

زيات تصوفي او ديني آثار وزېرول. روښانيانو تصوف په ژور فلسفي رنګ کې او دروېزه‌يانو په مجرد ديني رنګ کې وړاندې کړ او ديني مسألې يې په پښتو خبرو او سندرو (نثر او شعر) کې ونغښتلې. په دواړو ډلو کې ريشيان (شاعران) او ليکوالان را پيدا شول(رفيع، ۱۳۵۳ل، ۳ مخ).

روښانيان او اخوند دروېزه او د هغه پلويان اکثريت يې په ديني موضوعاتو پوه او د هغه وخت ديني مراجع وو چې هغوی ټولو د خپلې طريقې او پيغام رسولو لپاره د ديني اساساتو له مخې په پښتو ژبه آثار ليکلي دي. هغوی د اسلامي ادبياتو په بڼاينه او پراختيا کې پوره ونډه اخيستې او هم يې ورسره پښتو ژبې او پښتنو ته ستر خدمتونه کړي دي.

د هوتکيانو په دوره کې معارف په شعري محفلونو، جوماتونو او ځينو شخصي-مدرسو، خانقاوو، د تصوف او شعر په مجلسونو کې خلاصه کېده او د حکومت له لوري په ملي کچه د خپرېدو او عامېدو هڅه يې ونه شو(وردګ، ۱۳۹۵ل، ۲۶۰ مخ)؛ خو د دې دورې ځينې پاچاهان علم پالونکي او شاعران وو چې شاه‌حسين هوتک يې غوره نمونه دی. ده د پښتو او دري ژبو د شعر ويلو استعداد درلود او د پښتو شعرونو د ديوان خاوند و. د دې دورې مشهور پوهان ملا پيرمحمد هوتک يا پير افغان، سيدال خان، ملا زعفران، مېرمن زينبه، محمد بن هوتک، ريدي خان مومند وو(زهير او علمي، ۱۳۳۹ل، ۱۶، ۱۷ مخونه). د احمدشاه بابا په دور کې معارف د هوتکيانو د دورې په څېر په جوماتونو، شخصي-مدرسو، شعري او نثري کلام، ديني موعظو کې خلاصه کېده. خو په دې دوره کې له سلو تنو ډېر علماء او شاعران ښودل شوي چې له جملې يې ملا غوث او ميا فقيرالله جلال آبادي، شېرمحمد هوتک، پيرمحمد کاکړ، حافظ ګل محمد، نظام الدين او ملا احمد الکوزی يادولی شو(زهير او علمي، ۱۳۳۹ل، ۱۸، ۱۹ مخونه). د امير شېرعلي خان له واکمنۍ مخکې د پوهنې نظام د شخصي-هڅو په وسيله په جوماتونو، مدرسو، ادبي مرکزونو، د واکمنانو په دربارونو کې د ديني زده‌کړو، شعر، نثر، تصوف او داسې نورو اشکالو کې ځان راښکاره کاوه(وردګ، ۱۳۹۵ل، ۲۶۶ مخ).

له دې معلوميږي چې زمونږ د لرغوني افغانستان په هره دوره او هم په معاصر تاريخ کې پوهې، علم او معرفت ته تر نورو ډېر د هغه وخت ديني قشر-کار کړی دی. په ټولنه کې د مکارمو او فضايلو د تعميمېدو لپاره يې پر وعظ، نصيحت سربېره ليکنو ته مخه کړې، هم يې په شعري بڼه او هم نثري قالب کې دغه مسايل وړاندې کړي دي.

پخوا چې د ښوونې او روزنې پروګرامونه په اوسنۍ بڼه نه وو، زده‌کړه او تعليم يواځې په ديني مدرسو او

جوماتونو کې سرته رسېده او د لیک-لوست د زده‌کولو یواځینی لار همدا وه. طالبان به په علم پسې لیرې- لیرې ملکونو ته تلل او د بهرته راستنېدو وخت کې به یې ډېرې علمي ذخیرې او معلومات، مختلف ډول کتابونه او دیوانونه له ځان سره راوړل. د پښتو ژبې د کلاسیکې دورې اشعار د ملا او طالب، پیر او مرید په ذریعه خپاره شوي او ساتل شوي دي. تر کومه ځایه چې معلومه ده د پښتو ژبې د اشعارو لومړی مرتب دیوان هم د یوه ملا دی(ملاتړ، ۱۳۶۵ل، ج مخ) چې ملا ارزاني نومېده.

لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه چې په افغانستان کې د تعلیماتو اساس اسلامي مدنیت کې کېښودل شو، نو تعلیم په جوماتونو کې پیل شو چې قرائت او شرعي احکام به په کې ښوول کېدل. ښوونکي یې ملا امامان وو. همدې جوماتونو د مدرسو کار ورکاوه، نصاب یې ابتدایي و. میر غلام محمد غبار لیکي چې په جوماتونو کې د سواد لومړی زده‌کړه په فارسي کې پیل شوې، لکه د پنج گنج کتاب.

بیا په وروستیو پېړیو کې پښتون مېشتو سیمو، لکه کندهار، غزني، ننګرهار (سپین غر لمنې) کې پښتو په نصاب کې داخله شوه. د شروط الصلوة پښتو ترجمه، د رحمان بابا دیوان، د یوسف زلیخا کیسه، د سعدي ګلستان (د عبدالقادر خان ژباړه). دا تعلیمونه د اسلام خپرولو او سواد عاموالو لپاره وو. د جوماتونو ترڅنګ مدارس هم ایجاد شول. د دوو مراجعو له خوا جوړې شوې:

۱- روحاني شخصیتونو جوړې کړې، لکه د بهاوالدین ولد مدرسه په بلخ کې.

۲- د ګوهرشاه مدرسه هرات کې چې د حکومت له خوا جوړه شوه.

۳- یوه لویه مدرسه په پېښور کې د سدوزیو پاچاهانو له خوا جوړه شوه.

په کابل کې شاهي مدرسه جوړه شوه چې ملا عبدالرؤوف کاکړ، ملا عبدالرب او ملا عبدالواسع یې مهتممین ول. د غزني په شلګر کې د حضرتانو مدرسه قدیمترینه ده. بیا څو نورو ولایتونو کې مدرسې جوړې شوې، لکه: د تخارستان مدرسه، په ننګرهار کې د هډې مدرسه، په هرات کې دارالعلوم یا مدرسه، کابل کې د ابوحنیفه مدرسه او د کابل دارالعلوم.

د دیني تعلیم لپاره د مدرسو ترڅنګ بله مرجع هم وه چې عقلي او نقلي علوم یې پالل، هغه کورنۍ وې چې مدرسې یې لرلې، لکه د حبیبي کورنۍ. دوی بانفوذه علماء وو. د افغانستان په مختلفو برخو کې داسې کورنۍ وې چې مدرسې یې درلودې او طالبان یې ساتل. دا کورنۍ د افغانستان ګوټ ګوټ کې وې، لکه د ننګرهار کوټي‌خېلو کې، د ننګرهار حصارک کې د میا فقیرالله کورنۍ. شینوارو کې د پاپین کورنۍ. د عنعنوي تعلیم بله مرجع د عقیدتي علومو او تصوف (خداشناسۍ) خانقاوې وې. نقشبندیه

چې بخارا کې ايجاد شوې وه، د افغانستان علماوو، لکه يعقوب چرخي، خواجه احرار (غزني کې) او جامي هروي دغه طريقه له آمو را واړوله او دلته يې خپره کړله او باقي بالله هند ته يوړه. په پښتنو کې دوه لوی متصوفين تېر شوي دي چې ميا عمر د څمکنو او ميا فقير الله جلال آبادي دي، دوی ته احمدشاه بابا ارادت درلود. بله طريقه کبرويه ده چې نجم الدين کبرا ته منسوبه ده. دا طريقه په خوارزم کې پيدا شوه او خليفه‌گانو يې په افغانستان کې خپره کړه. بهاوالدين ولد يې پيرو و، علي لالا د غزني يې هم پيرو و. په پښور کې ابراهيم لوی عالم هم د همدې طريقې صوفي پيرو و. مهين خليل يې هم پيرو دی، حتی استاد حبيب الله رفيع وايي چې رحمان بابا د همدې طريقې پيرو دی. د دويمې دورې شاعران اکثره يې د تصوف له طريقو او په دې کې يې بيا له نقشبنديې طريقې سره رابطه لرله. البته په افغانستان کې اساسي تعليم د امير شېرعلي خان دويم ځلي پاچاهي کې پيل شو. دا د تجدد د پيل دوره وه. يو ملکي او بل نظامي ښوونځي جوړ شول. په تجدد کې معارف هم شامل و، خو په افغان-انګليس دويم جنګ کې دغه تجدد له منځه لاړ. امير عبدالرحمن خان په کابل کې شاهي مدرسه جوړه کړه. د امير حبيب الله خان په وخت کې حبيبيه مکتب (۱۹۰۳م کال) او عسکري مکتب جوړ شول، خو د معارف اساسي انکشاف د امان الله خان وخت کې وشو(هېوادمل، ۱۴۰۲ل، ليکچرنوټ).

د پښتو ادب په ليکنې ژېرمو کې يوه درنه خوا ترجمې دي چې په هغو کې له نورو ژبو څخه پښتو ته علوم او مفاهيم رانقل شوي دي. په پښتو ژبه تر ټولو ډېر ديني مفاهيم چې د قرآن کريم، نبوي احاديثو، فقهې، عقايدو، سيرت، ميراث او نورو ترجمې په کې شاملې دي، له نورو ژبو را ژباړل شوي دي، چې لاندې ورته څېړنده کتنه کوو.

۲-۳-۱. د ديني ژباړو تاريخچه

پښتنو عالمانو، ليکوالو، ژباړونکو، څېړونکو او ادبپوهانو د خپلې ژبې د علمي او ادبي پانګې د ډېرښت او پياوړتيا او د خپل قوم د سياسي شعور د لوړېدا لپاره نړدې له درېيمې هجري پېړۍ راهيسې پښتو کې ژباړې پيل کړې او په پوهنيز، ښوونيز، ټولنيز، ديني، ادبي او فرهنګي ډګر کې يې د خپلې ژبې د پرمختګ لارې وربانديې هواړې کړې(بريا، ۱۳۹۵ل، ۱ مخ).

۲-۳-۱-۱. د قرآن کريم ژباړل شوي تفسيرونه او ترجمې

د معلومو اسنادو له مخې د قرآن کريم لومړنۍ بشپړه ترجمه د هندوستاني پښتانه نواب افضل الدوله افضل خان يا په بل روايت د مولانا رکن الدين ده چې د دولسمې هجري پېړۍ وروستيو يعني

(۱۱۳۸ل) کې يې کړې او د «افضليه تفسير» په نوم يې خپره کړې ده(همت، ۱۳۹۲ل، ۳۸ مخ).
په (پښتو ته د ديني آثارو ژباړه «پيل او بهير») اثر کې ۵۰ بشپړ چاپي قرآني ژباړې او تفسيرونه معرفي شوي دي(بريا، ۱۳۹۵ل، ۱۹- ۵۱ مخونه) او په همدې اثر کې درې خطي يا قلمي ژباړې او تفسيرونه معرفي شوي دي. دغه‌راز په کې د ۱۹ نورو قرآني ژباړو او تفسيرونو نومونه (بريا، ۱۳۹۵ل، ۵۱- ۵۲ مخونه) راوړل شوي دي.
البته په پښتو کې د قرآن مجيد د ځينو برخو د تفسير کار غالباً له يوولسمې پېړۍ پيل شوی دی(هېوادمل، ۱۳۹۰، ۵۰۶ مخ). استاد رفيع د دولسمې هجري پېړۍ اړوند يو بل تفسير «عرفاني تفسير» هم را پېژني چې د لومړيو پنځلسو پارو قلمي نسخه يې شته. د منظومو او منثورو تفسيرونو تفصيل به وروسته په خپله خپله برخه کې راشي.

۲- ۳- ۱ - ۲. د نبوي احاديثو ژباړې

پښتنو عالمانو او شاعرانو د قرآن ترجمو او تفسيرونو په څېر له پخوا څخه حديثونو ته پام کړی او د خپلو خلکو د ديني روزنې او ژبې د بډايۍ په مقصد يې پر منثورو او منظومو دواړو بڼو ترجمې کړې دي.
په دغو ترجمو کې د «څلوېښتو حديثو ترجمې» له لرغونوالي سره سره تر ټولو ډېرې ترسره شوې دي. د معلومو اسنادو له مخې د عبدالقادر خان ختک د حضرت محمد د څلوېښتو حديثونو منظومه ژباړه د دې ډګر لومړۍ هغه يادولی شو(ښکلی، ۱۳۹۴ل، ۸ مخ) چې د ۵۰۰ بيتونو شاوخوا کې ترسره شوې او استاد عبدالحی حبيبي ليدلې ده(واجد، ۱۳۹۱ل، ۷۴ مخ). ورپسې د ميا حميم‌ګل د (چهل حديث) ژباړه ده چې نثر کې ترسره شوې او اوس نايابه ده، د شلمې صدۍ له لومړنيو ژباړو ګڼل کېږي(شاه جهان، ۲۰۰۰م، ۴۰ مخ). دغسې د ميا عبدالحليم کاکاخېل د (چهل حديث) ترجمه چې پر «وثيقه آخرت» مسمی ده او په ۱۲۶۹هـ.ش کال د ډيلي هندو پريس مطبوعه کې چاپ شوې ده(رفيع، ۱۳۵۶ل، ۱۹۶ مخ).
د پښتو حديثو چاپي ترجمو په لړ کې لومړنۍ هغه د مولانا عبدالمجيد پښوري او قاري حبيب الله د حديثو هغه ژباړه ده چې د قرآن مجيد له ترجمې سره يوځای د نولسمې ميلادي پېړۍ پای کې چاپ شوې ده(شاه جهان، ۲۰۰۰م، ۴۰ مخ).
په (پښتو ته د ديني آثارو ژباړه «پيل او بهير») اثر کې ۵۰ د نبوي احاديثو ژباړې معرفي شوې دي(بريا، ۱۳۹۵ل، ۵۵- ۷۳ مخونه).

د نبوي احاديثو د دې ترجمو ډېره برخه که څه هم لفظي او ټکي په ټکي ده، خو بيا هم له پښتو محاورې سره سمې او عام فهمه ترسره شوې او مترجمينو يې غوښتې چې مسايل په اسانه او بسيط ډول خلکو ته وښيي. دغسې دې ژباړو کې د پښتو ديني ادب بډای شوی او د اسلامي مفهوم په بيانولو کې ګټورې تمامې شوې دي(بريا، ۱۳۹۵ل، ۷۳ مخ).

۲-۳-۱-۳. د سيرت ژباړې

د اسلام د خورې پيغمبر حضرت محمد ﷺ سيرت چې په حقيقت کې د اسلام عملي تفسير او کړنچارې دي، په پښتو کې له پخوا ژباړل شوی او د ديني ادب (نثري او نظمي) دواړو پانګو غنامندۍ کې يې د پام وړ برخه لرلې ده.

د لاسته راغلو معلوماتو له مخې، تر ټولو پخوانۍ او لومړنۍ ترجمه يې د ګوهر خان ختک ده چې په ۱۰۸۷ل کال کې يې د افضل خان په سپارښتنه ترسره کړې ده.

ورپسې د سعيد حسين د «تولدنامه» په نوم منظومه قلمي ژباړه ده چې ۱۱۲۱هـ.ش کال ترسره شوې او د حضرت محمد ﷺ د زېږېدنې او معجزو حال بيانوي. دغسې د حافظ عبدالکريم د «معجزات» په نوم ژباړه چې په ۱۱۳۱هـ.ش کال له عربي راټوله شوې او پښتو شوې ده. د نبوي سيرت له پخوانيو ژباړو يوه هم د عبدالحق خروټي د «ياقوت السير» ترجمه ده چې ۱۲۵۰هـ.ش کال يې پر پښتو مثنوي نظم کړې ده. له هغې وروسته د مولوي عبدالرحيم خليل د «در مکنون» ژباړه ده چې ۱۲۷۰هـ.ش يې د شاه ولي‌الله دهلوي د «سرور محزون» له دري ترجمې څخه پښتو ته را اړولې او د فتاوای احمدشاهي حواشيو کې ۱۲۸۲هـ.ش کال چاپ شوې ده. د در مکنون دا ژباړه د نبوي سيرت لومړنۍ چاپې ترجمه ده، مګر په مستقل شکل چې کتابي بڼه چاپ شوې، د «يک نفر افغان» نومي مترجم (عبدالهادي داوي) ژباړه ده چې د عبدالمجيد قريشي له اردو اثر يې د «ځما رسول پاک» په نوم ترسره کړې او ۱۳۰۸هـ.ش کال کابل کې د افغانستان جريدې اداري له خوا خپره شوې ده.

د شاه جهان په حواله، په صوبه سرحد کې د نبوي سيرت لومړنيو چاپو ژباړو کې د قاضي عبدالحليم اثر افغاني د «سيرت النبي» ترجمه ده چې ۱۳۱۴هـ.ش چاپ ده، خو نسخه يې لاس کې نشته(بريا، ۱۳۹۵ل، ۷۴ مخ).

(پښتو ته د ديني آثارو ژباړه «پيل او بهير») اثر کې ۸۴ د سيرت د کتابونو ژباړې معرفي شوې دي(بريا، ۱۳۹۵ل، ۹۹ مخ).

«قصیده برده» چې د سیرت اړوند مسایل په کې دي، د پښتو د نظم او نثر په قالبونو کې ګڼو شاعرانو او لیکوالانو لیکلې یا ژباړلې چې وروسته د هر شاعر او لیکوال د معرفۍ په برخه کې یې تفصیل راځي.
که څه هم د سیرت د ځینو ترجمو له ډلې یې په ځینو هغو کې پښتو ترکیبونه له نحوي جوړښت سره سم نه دي کارول شوي، مګر بیا هم ساده او عام‌فهمه او هم د پښتو ورځنۍ محاورې ته نږدې دي. همدارنګه د پښتو دیني ادب د بډاینې لپاره ښه اضافه ده(بریا، ۱۳۹۵ل، ۹۹ مخ).
د نبوي سیرت د ژباړو لړۍ له پیله تر اوسه ښه روانه ده او پښتنو عالمانو او شاعرانو په هر دور کې ورته پام کړی دی. په دې وروستیو دوو لسیزو کې د سیرت ګڼ آثار پښتو شوي دي.

۲-۳-۱-۴. د فقهې ژباړې

اسلامي فقه چې د الله تعالی پر دین په سمه توګه د ژورې پوهې نوم دی، پښتنو عالمانو او لیکوالو له پخوا زمانې څخه د خپلو خلکو د دیني روزنې او له دیني اصولو او فروعو سره د اشنایۍ په خاطر ژباړلې ده.
لومړنی معلوم شخص اخوند دروېزه دی چې د «خلاصه کیداني» په نوم یې د لمانځه په باب د حنفي فقهې وړه رساله ژباړلې ده(ښکلی، ۱۳۹۴ل، ۸ مخ). د دې اثر بله ژباړه ګل احمد خلیل کړې چې د نورو فقهي مسایل سره تر مله کېدو وروسته یې په ۱۲۵۷هـ.ش کال په لنډه مثنوي نظم کړې او د «هدایة المؤمنین» په نوم په ۱۲۵۸هـ.ش کال ډهلي کې چاپ شوې ده(رفیع، ۱۳۹۴ل، ۲۳۷ مخ).
د شاه‌جهان د څېړنې له مخې، پښتو کې لومړنۍ چاپي ژباړه د شرح میر خلاصه ده چې مترجم یې نامعلوم دی او په ۱۲۶۹هـ.ش کال چاپ شوې ده. دغه راز د خلاصه کیداني پښتو ترجمه «توضیح المعاني» د پښتو په لومړنیو ترجمو کې راځي چې حضرت میا عمر په ۱۱۵۴هـ.ش کال کې کړې او چاپ شوې ده(شاه جهان، ۲۰۰۰م، ۵۵ مخ).
پر خلاصه کیداني سربېره د شرح میر، هدایې، موطأ امام محمد، نور ظلم، نور الایضاح، منیة المصلي، مفید الطالبین او ګڼو نورو درسي کتابونو ژباړې پښتو کې شوې او خپرې شوې دي(بریا، ۱۳۹۵ل، ۱۰۰ مخ). اوس مهال د فقهي مغتنم آثار پښتو ته را اړول شوي چې د دې ژبې د ویونکو لپاره یې اسانۍ راوستې دي.

۲-۳-۱-۵. د عقیدوي، مذهبي، تعلیمي، اخلاقي او نورو دیني کتابونو ژباړې

په پښتو کې د اسلام د مبارک دین د دې برخو ژباړل شوي کتابونه ډېخي زیات دي. د طائزي د مقالې

په حواله، دې برخه کې يواځې جماعت اسلامي د مولانا مودودي له څلوېښتو زيات کتابونه پښتو کړي، دعوت اکيډيمۍ د امام غزالي، سيد قطب او عبدالقادر عوده د آثارو په شمول له څلوېښتو ډېر کتابونه ترجمه کړي دي(طائزی، ۲۰۰٦م، ۲۱۰، ۲۲۴ مخونه). دغسې په افغانستان کې هم د دې ژباړو کمی نه محسوسيږي او آن له پخوا زمانو ورته پاملرنه شوې ده. خو تر بل هر وخت اوسنيو لسيزو کې دا لړۍ چټکه شوې او پر ګڼو خپرندويانو، دولتي او نادولتي ادارو سربېره د پښتو ژبې نړۍ هر ليکوال، عالم او ادیب خپله دنده ګڼلې او له نورو ژبو يې کتابونه را ژباړلي دي(بريا، ۱۳۹۵ل، ۱۱۰ مخ).

(پښتو ته د ديني آثارو ژباړه «پيل او بهير») اثر کې ٦٠٥ د عقيدوي، مذهبي، معلوماتي، تعليمي، اخلاقي، تاريخي، سياسي او نورو ديني کتابونو د کتابونو ژباړې معرفي شوې دي(بريا، ۱۳۹۵ل، ۲۵٦ مخ). دغه راز يې د شاه جهان د پي ايچ ډي مقالې او حاجي قمر الزمان طائزي د (پښتو ادب کې اسلامي آثار) مقالې څخه په استفادې په يوه نوملړ کې د ۱۷۵ کتابونو نومونه سره له لنډو مشخصاتو راوړي دي(بريا، ۱۳۹۵ل، ۲٦۴ مخ).

(پښتو ته د ديني آثارو ژباړه «پيل او بهير») اثر کې نړۍ (۱۰۰۰) بېلابېل ژباړل شوي ديني کتابونه او رسالې معرفي شوي دي(بريا، ۱۳۹۵ل، ۲ مخ).

دلته بايد په ډاګه شي، څرنګه چې زمونږ د ديني ادب ډېرى ژباړونکي له بدهمرغه نه د دين پوره عالمان دي او نه اديبان، نو د ژبې له ادبي غوښتنو او د ژباړې له فني تخنيکونو څخه د ناخبرۍ او نااشنايۍ په خاطر يې يواځې همدا مقصد لرلی چې له نورو ژبو څخه پښتو ته کتابونه را واړوي، نور د هغې د ژبې د خوږلت ساتلو او علمي کولو، د اړتيا وړ اصطلاحاتو او لغتونو د معنوي توانايۍ د په کار اچولو او د مذهبي او ديني لغوي پانګې د ډېرولو په اړه يې سر نه دی خوږولی، ځکه يې شوی کار د ډېر ډاډ وړ نه دی، خو بيا هم له تعليمي، اخلاقي او معلوماتو اړخه ښېګڼې لري(بريا، ۱۳۹۵ل، ۲٦۷ مخ) او په ديني برخه کې زمونږ د ټولنې اړتيا يې تر ډېره پوره کړې ده.

که خبره راټوله کړو، په پښتو ادب کې د اسلامي ادب پيل له هغه مهاله چې پر دې سيمې د اسلام رڼا راغلې، نو ورسره هممهاله ګڼو پښتنو شاعرانو او ليکوالو په خپلو پنځونو کې که هغه نظم دی، نثر په ټېره مسجع نثر دی، د اسلام ديني اساسات بيان کړي، د الله تعالی يووالی او د هغه عظمت يې جوت کړی، د رسول الله احاديث په مستقيمه او غير مستقيمه توګه رانقل کړي دي او ترڅنګ يې د اسلامي تصوف اړوند موضوعات د خپلو پنځونو غوښنه برخه جوړوي. پر دې سربېره د پښتو ادبياتو لمن د

قرآن کريم په تفسيرونو او ترجمو، د نبوي احاديثو په ملغلرو، د سيرت پـه بيـانونو، د فقهـي، عقيـدې او نورو ديني بنسټونو په مبادیو د ژباړلې له لارې درنه شوې ده.

۲- ۴. د د ديني علماوو پښتو ادبي خدمتونه

له هغه مهاله چې په دې سيمه کې اسلام خپور شوی، ديني عالمانو د دې ترڅنګ چې په خپل تحصيل، زده‌کړو او تدريس بوخت وو، ګڼو يې قلمونه را اخيستي او ليکل يې کړي دي، هم يې نثري ليکنې کړي او هم شعري يا نظمي. دوی له يوې خوا غوښتل چې خپل رسالت اداء کړي او هم يې په داسې ژبه خلکو ته ورسوي چې د هغوی په ژبه وي او پرې پوه شي، همدا ده چې زياترو يې ديني مفاهيم د هغوی د مطالعې پر اساس په پاڼو او کتابونو کې خوندي کړي دي. دوی زياتره په مسجع نثر خپل آثار کښلي او هم يې په منظومه بڼه بيانونه کړي دي.

د اسلام په لومړنيو پېړيو کې د پښتنو په حوزه کې اکثريت ديني علوم په عربي ژبه وو، دا ژبه د هغه وخت پوهانو زده کړه او له لارې يې خپل ديني خدمات او تدريسي چارې پرمخ بېولې، استاد حبيبي ليکي: د اسلام تر فتوحاتو وروسته په دويمه او درېيمه پېړۍ کې عربي ژبه هم افغانستان ته را ورسېده چې د دې ځای د خلکو ديني او علمي ژبه شوه، په سوو داسې پوهان دلته پيدا شول چې تر خپلو عربو يې دغې ژبې او اسلامي پوهنو ته ستر خدمتونه وکړل. دلته د پښتو ادب پر عربي ژبې او ادب هم اثر وکړ او دغسې هم عربي زمور پښتو ژبه په داسې ډول اغېزمنه کړه چې په سوو عربي کلمات په پښتو ادب کې راګډ شول(حبيبي، ۱۳۵٦ل کال، ۱۹ مخ).

عربي چې زمور د دين (اسلام) ژبه ده او د يوه مسلمان لپاره په ديني مسايلو ځان پوهول ضروري او مبرمه چاره ده، نو هغه وخت چې پښتو آثار ډېر نه و ليکل شوي يا نه پيدا کېدل، نېه بديل يې همدا عربي ژبه وه چې علماوو پرې ليکل کړي او له دې لارې يې دين او خلکو ته خدمت کړی دی.

وروسته کرار کرار پښتنو په شعوري ډول په پښتو ژبه ليکل کړي او آثار يې کښلي دي. بله دا چې اسلام او پښتونواله په ډېرو ټکو کې سره مشترکات لري، لکه حمزه شينواری چې کاږي: «پښتنو د اسلام مينه په خټه کې راوړې ده او دا ځکه چې اسلامي اصول زياتره د پښتون تهذيب او تمدن سره يو شان او د پښتني رواياتو سره متحد دي. په دې وجه په پښتنو شعراوو کې د تصوف او نورو اسلامي فنونو په شرح کې د محبت ډېر اظهار شوی دی»(شينواری، ۱۹٦۰م، ط مخ).

د پښتو ادب په لسمه او يوولسمه پېړۍ کې چې بايزيد روښان، روښانيانو، اخوند دروېزه او د هغه پيروانو

ژوند کاوه، نو د دوی اکثريت يې ديني عالمان وو، پر عرفان او تصوف برلاسي اشخاص وو، هغوی چې د خپل فکر او پيغام رسولو په موخه کوم آثار ليکلي، په حقيقت کې يې د پښتو ژبې لپاره ستر خدمتونه کړي دي. پر دې سربېره په همدې زمانې کې له دې دوو کړيو بهر داسې شاعران او ليکوال هم اوسېدلي چې ديني مراجع وو او هغوی هم پرېمانه آثار کښلي دي.

د دويمې ادبي دورې د لومړي پړاو د آثارو د ايجاد او تأليف اهدافو ته چې وکتل شي، د روښانيانو او د اخوند دروېزه او د هغه د پيروانو په آثارو کې عرفان او د عرفاني لارو د اساساتو په خپلولو سره ځان الهي ذات ته نږدې کول، د نفس تزکيه، د زړه تصفيه، د اسلام د مقدس دين د اساساتو بيان، د اسلام مقدس دين د لارښوونو په رڼا کې د خلکو اخلاقي روزنه، پندونه، نصايح او نور دې ته ورته مطالب د دې درې واړو ډلو له خوا په ترجمه شوو، ليکل شوو او ايجاد شوو آثارو کې ليدل کېږي. د اهدافو همدا ورته‌والی دی چې د دغو درې واړو ډلو [روښانيان، دروېزه‌وال او تصوفي او تبليغي حلقه] آثارو په يوه پړاو کې مطالعه شي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۳۱ مخ).

د دې دورې زياتره آثار د عرفاني، ديني او اخلاقي مسايلو بيان ته وقف شوي دي چې په ځينو وختونو کې د دغسې اهدافو لرونکي شاعران او ليکوال د نظم د شعريت خواته ډېره توجه نه کوي او آرزو يې دا وي چې د خلکو د زده‌کړې په موخه خپل آثار په منظومه بڼه وړاندې کوي. البته دا خبره هم بايد هېره نه شي چې د دې پړاو گرده آثار دغسې خصوصيات نه لري، بلکې ځينې په هنري گڼه سمبال اشعار او آثار هم په دې پړاو کې شته. له مذهبي او عرفاني شور او جذبې نه ډک اشعار هم په دې پړاو کې موجود دي.

په موضوعي لحاظ د دې پړاو آثار ډېر وسعت لري. عرفان د يوه مسلک په توگه پښتو ادبياتو ته لاره پيدا کوي او د عرفاني افکارو څرکونه چې د پښتو د ادبي تاريخ د لومړۍ دورې له ځينو متفرقو پاڼوکو را ايستل کېدلی شي، په دې پړاو کې په مکتبي شکل پر پښتو ادبياتو خپلې وزرې غوړوي. د اسلام د دين د اساساتو تبليغ او تشريح ته خورا زياته توجه شوې ده او د دغو اساساتو د تبليغ او بيان په منظور منظم آثار او رسايل په دې پړاو کې رامنځ ته شوي دي. رزمي آثار، مرثيې، واقعاتي خبرې، اجتماعي او اخلاقي مسايل هم د دې پړاو په آثارو کې شته.

په دې پړاو کې پښتني فرهنگ له اسلامي فرهنگ سره خورا زيات نږديکتونه پيدا کړل او د اسلامي فرهنگ ډېرو اساسي مسايلو پښتو ته لاره پيدا کړه، ډېر اسلامي، ديني او عربي فرهنگ ته مربوط

قصص پښتو ته واوښتل. په دې پراو کې ځینې مهم دیني او فقهي آثار په پښتو ترجمه شوي، لکه خلاصه کیداني، قصیده برده، قصیده سریاني، خلاصة الاسلام.... د دې ترڅنګه د پارسي او عربي ژبو له عمده اسلامي آثارو نه په استفادې سره ځینې مهم ديني او شرعي اساساتو بیانوونکي کتابونه په پښتو کې په تحقیقي ډول ولیکل شول، لکه مخزن الاسلام، نافع المسلمین او فواید الشریعت(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۳۲، ۱۳۳ مخونه).

کله چې د دولسمې پېړۍ علمي وضعیت ته وکتل شي، نو هلته:

میرویس نیکه (۱۱۲۷هـ. ق کال مړ) چې په خپله هم عالم او فاضل شخص و، ډېر عالمان او فاضلان یې په خپل دربار کې راټول کړي وو، تر هغه وروسته یې د زامنو په ځانګړې توګه د شاه‌حسین هوتک د واکمنۍ په دوره کې کندهار د علم او فرهنګ د پراختیا او پرمختیا لوی مرکز شو. د نوموړي په دربار کې زیات شمېر پوهان او ادیبان راټول شوي وو، په دربار کې به علمي او ادبي غونډې او بحثونه کېدل، عالمان او پوهان به د کتابونو تألیفولو او ژباړلو ته هڅول کېدل. د دې دورې په نامتو دیني عالمانو او نومیالیو ادبي فرهنګي شخصیتونو کې د نازو انا، بي‌بي زینب، ملا یارمحمد هوتک (د ارکان خمسه مؤلف)، ملا شېرمحمد هوتک، ملا زعفران هوتک، ریدي خان مومند (د محمودنامې ناظم)، ملا نورمحمد غلجی (د نافع المسلمین مؤلف)، ملا اکبر (د حج الفرایض مؤلف)، سیدال خان ناصر، ملا عادل (د محاسن الصلوة مؤلف)، ملا یونس توخی، داؤد هوتک او د پټې خزانې لیکوال محمد هوتک او نور شامل دي(هاشمي، ۱۳۸۳ل، ۳۳ مخ).

له فرهنګ سره د میرویس نیکه د کورنۍ د مینې یو علت ښایي دا وي چې د دې کورنۍ زیاتره غړي نر او ښځې لیکوال او شاعران او لوستي خلک وو، پارسي او پښتو ژبې یې زده وې، د عربي ژبې او دیني علومو مطالعه یې هم درلوده. د میرویس نیکه شاعره لور زینبه د هوتکو د شاهي کورنۍ نومیالی، باتوره او فرهنګیالی مېرمن وه چې د محمد هوتک په قول عالمه، فاضله او دینداره ښځه وه او علوم یې له ملا نورمحمد غلجي څخه لوستي و، د پارسي او پښتو شعراوو دیوانونه یې لوستل او خپله یې هم د شعر ویلو عالي استعداد درلود(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۰۰، ۲۰۲ مخونه).

د دولسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د احمدشاه بابا واکمني وه چې په خپله دی هم پوه، عالم، ادیب، فاضل او مدبر شخصیت و، د ده په وخت کې لوی لوی علماء کرام تېر شوي چې دوی ته یې په درنه سترګه کتل.

نوموړي ډېر پوهان، ادیبان، د علومو او فنونو [خاوندان] چې بیا هرې یو یې د هېواد د خلکو په علمي او فکري روزنه کې ارزښتمن کارونه کړي دي [راټول کړي وو]. د بېلګې په توګه د کندهار د بارکزایانو د خانعلوم کورنۍ، د ملا اسماعیل الکوزي کورنۍ، د هرات د سلجوقیانو کورنۍ، د مجددیانو کورنۍ، د وکیل الدولة عبدالله خان کورنۍ. د دې دورې په شاعرانو او لیکوالو کې د میا فقیر الله جلال آبادي، پیرمحمد کاکړ، ملا محمد غوث، مولوي محمد ابراهیم، ملا فیض الله دولت شاهي، د احمدشاهي شاهنامې ناظم حافظ مرغزي او نورو نومونه یادولی شو چې هر یو د ځانګړو دیني، علمي او ادبي آثارو خاوندان دي(هاشمي، ۱۳۸۳ل، ۳۵- ۳۶ مخونه).

په وروستیو کې (له نولسمې پېړۍ راپدېخوا) ديني عالمانو او ملایانو ډېر نظمونه ویلي او پښتو ادب یې بډای کړی دی. استاد رفیع یوې مهمې موضوع ته چې په وروستیو کې ملایانو ولې ډېر نظمونه ویلي؟ ښه وضاحت ورکړی، وایي:

کله چې انګرېزانو د هند نیمې وچې ته لار وکړه او خصوصاً کله چې د نولسمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د پښتو لوی ادبي مرکز (پېښور) د دوی په لاس کې ولوېد، نو د پښتو په ادب کې دوه اړخیزې مثبتې او منفي اغېزې وشوې:

له یوې خوا د پښتو ملي او ولسي ادب د پردې ښکېلاک په مخ کې را ولاړ شو او پښتانه یې وهڅول چې د پردو په مخه کې را ولاړ شي. د دې ملي ادب نمونې زښتې زیاتې دي چې یوه برخه یې «د پښتونخوا د شعر هاروبهار» نومي کتاب کې خوندي ده او نورې هم په ځینو آثارو کې خوندي شوي. له‌بلې‌خوا د پښتو دیواني ادب خپل ځای کیسو او راګو ته پرېښود. په پېښور کې د کیسه‌خوانۍ بازار تود شو او دا د استعمار یوه لویه هیله وه چې خلک په خرافي او فولکلوري کیسو بوخت وساتي او دوی خپل شوم غرضونه په سړه سینه مخ په وړاندې بوځي. په دې لاره کې ډېر هغه څېړاند استعدادونه چې ملي سندري او د ویښتابه نغمې یې غږولای شوای، بلې خواته په کار واچول شول او د خرافي کیسو په لیکلو بوخت شول. د دې وخت نامتو کیسه لیکونکي ملا نعمت الله د نوښار، مولوي احمد جان، سید ابو علیشاه، مولوي احمد د تنګي، ملا احمد خلیل او نور هغه کسان دي چې پیاوړي شعري استعداد لري، خو دوی ته په مستقیم یا غیر مستقیم ډول دا زمینه برابره کړی شوې ده چې خپل استعدادونه د خپل ملت د ویښتابه په ځای د خپلو خلکو د مسمومولو او اغفال په لاره کې په کار واچوي. همداراز د همدې وخت په پښتو ادب کې یوه بله زېرنده د هندي راګونو په چوکاټ کې د

پښتو شعرونو منځ ته راتلل دي. دا شعرونه هم بې له دې چې د پښتو بزمي ادب يې پياوړی کړی، نور کوم ملي ارزښت نه لري او ملي مسايل ډېر کم په کې راغلي دي. خو له بله پلوه دې پاړکو د پښتو موسيقي ته ښه وده ورکړې ده او د سندريز هنر نغری يې تود ساتلی دی(رفيع، ۱۳۵۹ل، ۲۸۴، ۲۸۴-۲۸۵ مخونه).

د دويمي ادبي دورې په وروستيو کې چې ملايانو نظمونه ډېر ويلي، علت يې ښکاره شو، خو د دې منفي اغېز ترڅنګ پښتو نظمي برخه ورسره بډايه شوې ده.

د يادولو ده چې يوې ډلې ديني عالمانو په خپلو منځو کې سره مجلسونه او راشه درشه هم لرل، لکه د طالب رشيد د گل سنوبر له سريزې چې معلومېږي. دغه کيسه نوموړي د خپل پير او پېشوا اخوند مصطفی او نورو ملگرو په تېره د بابوجان، ملا شېرخان، ملا رحيم او ملا ولي په وينا او سپارښتنه له پارسي څخه په پښتو نظم اړولې ده، لکه چې وايي:

دا رساله پارسي وه سخته	په پارسي ژبه يک لخته
نور چې مونږ حاضران وو	دا پنځه واړه کسان وو
مونږ پنځه يو بابوجان و	او دوم ملا شېرخان و
بيا دريېم ملا رحيم و	په مجلس کې چې ندیم و
څلورم ملا ولي و	ډېر خوشحال په دا کالي و
پنځم زه په کې حاضر وم	په مجلس کې منتظر وم
نور ياران چې څوک هغه وو	په مجلس کې چې کره وو
دغو واړو، ووې ماته	چې خبره کړو و تاته
دا کتاب راته آسان کړه	په پښتو يې ته عيان کړه
په پښتو نظم کوتاه کړه	ښه بيتونه يې پيدا کړه
چې پرې چېرې مشغوليږو	مونږ به ډېر پرې هوسيږو
نور د دوی خبره دله	ما په سترگو ومنله(رښتين، ۱۳۷۲ل، ۱۲۶، ۱۲۷ مخونه)

يوه خبره بايد په ډاگه شي، ديني علماوو چې کوم نظمونه ليکلي، که څه هم د زياترو هغو د ابتدايي نظمونو بڼه لرله، خو د پښتو ژبې او ادب لمن يې ډکه کړې ده. استاد بېنوا وايي: که څه هم د دې شاعرانو زياتره شعرونه د ابتدايي نظم بڼه لري خو د پښتو د ادب ذخيره زياتوي(رفيع، ۱۳۵۳ل، نهم

مخ). بل دا چې د ديني علماوو په ليکنو کې خاصتاً د تفاسيرو او يا احاديثو په ترجمو کې چې د کلام جوړښتونه يا نحوي ترکيبونه يې ډېرى د عربي تر اغېز لاندې راغلي چې ځينې کسان دې ته ملايي ژبه وايي، خو د استاد بختاني په خبره چې ملايي ژبه اساساً د ديني احتياط په خاطر منځ ته راغلې ده(خدمتگار، ۱۳۸۲ل، ۱۳۴ مخ).

د ديني متونو ژباړه، لکه نور علوم تخصص او پوره دقت ته اړتيا لري، ځکه په دې ډول ژباړو کې خبرې له الهي احکامو او نبوي ارشاداتو څخه وي او ژباړن په لږ غوندې تېروتنه د دنيا او آخرت له عذابونو سره مخامخ کېدای شي. د دين په چارو کې مسلمانان په تېره پښتانه ببخي حساس دي او د الله ﷻ او د پيغمبر ﷺ احاديثو کې خطا هم - چې د انسان خاصه ده- نه شي زغملای، ځکه خو دغه ډول ژباړې ډېرې ټکي په ټکي کېږي. که څه دا هم دا ډول ژباړې زياتره بې‌خونده او بې‌مفهومه وي، خو ژباړن يې د الله ﷻ له غوسې او د خلکو له شره د بچ کېدو په خاطر کوي(بريا، ۱۳۹۵ل، ۱۱ مخ).

د «ژباړې اصول» اثر کې راغلي: پر ډېرو ديني ژباړو تور دی چې آيتونه او احاديث يې ناسم ژباړلي او په الله ﷻ او پيغمبر ﷺ پسې يې دروغ ويلي. د کلام کنايې، رمزي او استعاري خواوې او د کلمو ضمني معناوې يې نه دي څېړلي، خو بس کټ مټ يې ژباړلي دي. ديني زده‌کړه د مذهب پراخه مطالعه غواړي. که ته يوه فقهي مسأله را ژباړې، نو تر شا به دې يې آيت او حديث ته پام وي او له فقهي اصطلاحاتو سره به اشنا وې، ګنې سمه ژباړه به يې ونه کړای شي. بله دا چې په عربي به ښه پوه يې. د کلمو او جملو پر بېلابېلو معناوو، ګړنو او متلونو به دې سر خلاص وي، قرآن کريم معجز کلام دی، نو د ادبي ذوق خاوند سړی يې ښه ژباړلی شي چې د آيت پر حقيقي، مجازي معنا پوه شي او پر خپله ژبه هم دومره برلاسی وي چې خوندوره يې را وژباړي(ښکلی، ۱۳۹۴ل، ۴۰ مخ).

له دې ټولو سره سره د ديني علماوو په آثارو او يا په ټوله کې په ديني آثارو کې اخلاقي مطالب، ديني مواعظ، عقيدوي، فقهي او د ميراث اړوند مسايل وړاندې شوي دي، د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو سيرتونه بيان شوي، د مور او پلار اطاعت، د ګاونډيانو حقوق، د وګړو او ټولنې نوميسو ته په درنه سترګه کتل او خپلمنځی احترام ساتل بيان شوی چې دا ټول هغه څه دي چې خلک او ټولنه ورته اړتيا لري ترڅو ژوند يې له معنوي ښېګڼو ډک او هم يې د اخروي ژوند لپاره توښه شي.

په پښتو ادب کې چې کوم آثار ليکل شوي او پنځول شوي، نيمايي شاوخوا يې داسې دي چې ديني او تصوفي رنګ لري او دا په دې معنا چې دغه آثار دين ته منسلکو اشخاصو ليکلي دي. د دې خبرې

ثبوت استاد رفیع هغه مقاله ده چې په ۱۳۵۶هـ.ش کال کې يې د هغه وخت د خطي نسخو احصائیه کې وړاندې کړې ده. هغه وايي چې د پښتو ترلاسه شوې نسخې طبي، تصوفي، اجتماعي، ادبي، عشقي، تاريخي، فولکلوري او کيسه يي موضوعات لري چې فهرست يې د موضوعاتو د وېش له مخې جوړ شوی او احصائیه يې داسې ده: د ديني او تصوفي (۱۲۱) بېلابېلو کتابو ۳۰۲ نسخې؛ د ۱۲۸ بېلو بېلو شعري ديوانونو او مجموعو ۲۷۲ نسخې.....(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۳۸۱ مخ).

پښتنو ديني عالمانو چې څه ليکل کړي، ژباړه يې کړې او يا يې هم نظمونه او شعرونه ويلي، د موضوعاتو له مخې يې په لاندې کټيګوريو وېشلی شو:

- ديني اثر يې ليکلی او يا نظم کړی دی، په دې کې د قرآن کريم تفسير او ترجمه، د نبوي احاديثو معناګانې او تشريح، نبوي سيرت، د عقايدو، فقهې او ميراث موضوعات، تجويدونه، عرفاني، تصوفي، اخلاقي او روزنيز مسايل شاملیږي.
- اسلامي او ديني مفاهيم په غير مستقيمه توګه په کې څرګند شوي دي.
- له ديني او اسلامي مفاهيمو ور اخوا د ژوند د نورو مسايلو، لکه ټولنيزو، مينې، عاداتو او دودونو موضوعاتو په کې انعکاس موندلی دی.

د شکل او بڼې له مخې که د ديني علماوو ايجاداتو، ليکنو، شعرونو، نظمونو او ژباړو ته کتنه وشي، نو هغه داسې ډلبندي کېږي:

- يوه زياته برخه ايجادات په مسجع نثر کښل شوي دي.
- بله غوښنه برخه يې د نظمونو په قالب کې دي.
- په هنري ګانې سمبال د شعر په بېلابېلو قالبونو کې يې هم د ايجاداتو برخه درنه ده.
- داسې ليکنې يې هم شته چې په ساده نثر کښل شوي دي.

په ټوله کې ويلی شو چې ديني عالمانو د پښتو ژبې او ادبياتو په بډاينه کې کارنده ونډه لرلې ده، ځکه هغوی په همدې ژبه ديني او تصوفي کتابونه ليکلي، شاعري يې کړې ده او هم يې په نثر آثار کښلي دي. د علم او ادب ترڅنګ يې د پښتو ژبې د ساتنې او پراختيا لپاره کار کړی دی.

کله چې د تېرو پېړيو د ځينو علماوو آثارو او خدمتونو ته دقيق شو، نو ځينې يې آن د دې مستحق دي چې ليکوال يې «علامه» وبلل شي، ځکه د علامه لقب د اسلامي هېوادونو هغو پوهانو ته چې په څو علمي څانګو کې پوهه او وړتيا ولري او د پراخو معلوماتو لرونکی، د نظر خاوندان او اغېزناک وي

ورکول کېږي. زياتره وختونه علامه د هغو استادانو په اړه چې په فلسفه او کله فقه او حتی په فرهنګ او ادبياتو کې د نظر خاوندان وي او معمولاً ديني مطالعات هم لري، کارول کېږي. علامه خپله پوهه د استدلال له لارې ترلاسه کوي(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۱۹۲ مخ). د «علامه» همدغه تعريف او وضاحت ته په کتلو د پښتو ادب ګڼ ليکوال او شاعران د دې ترڅنګ چې د ادبياتو په برخه کې د نظر څښتنان دي، ديني پوهان هم دي، نو اکثره يې علامه ګان هم بللی شو.

۲-۵. د مفاهيمو تعريفونه

د دې څېړنې محدوده په دويمه ادبي دوره کې د شعر او نثر په برخو کې د ديني علماوو د خدمتونو څېړنه ده، نو اړينه ده د دويمې ادبي دورې او د دې دورې پر څو مهمو مواردو بحث وشي.

۲-۵-۱. د پښتو ادبياتو ادبي دورې

د پښتو ادبياتو تاريخ د ادبي دورو وېش بېلابېلو پوهانو د مختلفو عواملو او اساساتو پر بنسټ په جلا جلا توګه کړی دی، خو هغه طرحه چې کانديد اکاډميسين څېړنپوه محمد صديق روهي وړاندې کړې او د پښتو ادبياتو په اوسنيو څېړنو کې ترې ډېره استفاده کېږي، زه خپله څېړنه د همدې طرحې پر اساس مخ ته وړم.

استاد روهي د پښتو ادبياتو تاريخ په درېوو عمده دورو وېشلی دی: لرغونې دوره، منځنۍ دوره او معاصره دوره، چې له لرغونې دورې پرته، هره يوه (منځنۍ او معاصره) په پراوونو وېشل شوې ده. په دې وېش کې د «منځنۍ» او «معاصره» کلمې د تأمل وړ دي او ښه دا ده چې د «منځنۍ» پرځای «دويمه» او د «معاصره» پر ځای «درېيمه» کلمه وکارول شي، يعنې دويمه ادبي دوره او درېيمه ادبي دوره. د دې دورو زماني اړخونه په دې ډول دي چې:

د تحريري لاس ته راغلو اسنادو له مخې، لرغونې دوره له امير کروړ (دويمې هجري پېړۍ) څخه پيلېږي او د بايزيد روښان تر ظهور او پاڅون (لسمې هجري پېړۍ) پورې رسېږي، يعنې تر شپاړسمې ميلادي پېړۍ پورې دوام کوي. د دې دورې عمده موضوع ګانې د نمانځنې سندرې، ويارنې (قومي تفاخر)، ويرنې، مينه، بېلتون او اخلاقي ښوونې دي(روهي۱۳۸۴ل، ۳۸، ۳۹ مخونه). دويمه دوره له لسمې هجري پېړۍ څخه د څوارلسمې هجري پېړۍ تر لومړيو دوو- درېيو لسيزو پورې رسېږي يا له شپاړسمې تر شلمې ميلادي پېړۍ پورې دوام کوي. د پښتو ادبي تاريخ درېيمه دوره د شلمې پېړۍ له

دويمې لسيزې څخه پيلېږي. دا چې دا څېړنه په دويمې ادبي دورې پورې متمرکزه ده، نو لاندې همدې ادبي دورې ته يو څه تم کېږو.

۲-۵-۱-۱. د پښتو دويمې ادبي دورې پېژندنه

د پښتو ادبياتو دويمه دوره د لسمې هجري پېړۍ په اواسطو کې د بايزيد روښان له مذهبي او ادبي غورځنګ او د دې غورځنګ له ادبي زيار سره په ارتباط کې پيليږي او د څوارلسمې هجري پېړۍ تر لومړيو دوو- درېيو لسيزو پورې رسي. دا دوره د پښتنو په سياسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي ژوند کې د تحول او غورځنګونو دوره ده. پښتنو په دې دوره کې د ژوند په بېلابېلو ساحو کې ډېرې لوړې او ځوړې ليدلې دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۷۲ مخ).

استاد روهي په دې دوره کې درې مهم پراوونه د فکري، سياسي او هنري ځانګړنو له مخې د تشخيص وړ بللي، چې غوره استازي يې په فکري لحاظ د روښان پلويان، په سياسي لحاظ خوشحال خان خټک او په هنري لحاظ رحمان بابا، حميد، شيدا، حنان بارکزی او نور دي(روهي، ۱۳۸۴ل، ۴۱ مخ). ځينې پوهان بيا دا دوره په څلورو پراوونو وېشي.

سيد محی الدين هاشمي ليکي، د پښتو ادب په منځنۍ يا کلاسيکه دوره کې څلور ستر ادبي جريانونه مخې ته راځي چې زمونږ ادب څېړونکو په خپلو څېړنو کې هغه ته د ادبي مکتب نوم ورکړی دی. دغه ادبي مکتبونه: ۱- روښاني ادبي مکتب، ۲- د خوشحال ادبي مکتب، ۳- د رحمان بابا تصوفي او عرفاني ادبي مکتب او ۴- د حميد او شيدا د نازکخيالۍ ادبي مکتب دی(هاشمي، ۱۳۹۴ل- ب، ۲۱ مخ).

نومورې په خپل يوه يادښت کې پورتني پراوونه داسې ډلبندي کړي دي: لومړی پراو (۹۵۰- ۱۱۰۰هـ ق) د روښاني تصوفي، عرفاني ادبي غورځنګ او د اخوند دروېزه تصوفي عرفاني لار؛ دويم پراو (۱۰۵۰- ۱۲۰۰ هـ.ق) د خوشحال، د هغه کورنۍ، لارويان؛ درېيم پراو (۱۰۵۰- ۱۳۰۰ هـ.ق) د رحمان بابا، د هغه د تصوفي- عرفاني لارې پلويان او څلورم پراو (۱۱۰۰- ۱۳۰۰ هـ.ق) د حميد او شيدا د نازکخيالۍ ادبي مکتب دی.

په هر حال، د دې دورې د آثارو رنګ مذهبي اړخ درلود، نو زياتره په کې مذهبي او تصوفي افکارو زيات انعکاس موندلی دی. ډاکټر راج ولي شاه خټک ليکي: د پښتو ژبې او ادب دويم تحريک د پير روښان له مذهبي تحريک نه شروع کېږي. د هغه تحريک د پښتنو لپاره خصوصاً او عامو مسلمانانو لپاره عموماً د هغه په خيال د مذهبي اصلاح په غرض شروع شوی و چې وروسته ترې د پښتنو قومي،

سياسي او ادبي محرکاتو وده وموندە. د پښتو ادب په دويم دور کې ميرزاخان انصاري، ارزاني خويشکی، دولت لوانی او واصل روښانوي شامل دي، چونکه دا شاعران له يوه مخصوص تحريک سره تړلي وو، په دا سبب د دوی په کلام کې د دغه تحريک د تصوف، فلسفې او مذهبي رنګ غالب دی. د دوی کوشش دا وو، کوم تحريک چې دوی شروع کړی دی، د هغه، فکر تبليغ او تشريح شي(حکيم الله جان، ۱۹۹۳م، ۲٤ مخ). د دې دورې ادبيات په عمده ډول تبليغ ته ځانګړي شوي او عرفاني ادبيات د وسيلې په توګه کارول شوي دي. په دې دوره کې هنريت ته لږ پام شوی او پر پيغام ټينګار شوی چې پيغام هم په عرفاني رنګ کې وړاندې شوی او اصلي هدف يې د خلکو يو موټی کېدل و(همت، ۲۰۱٦م، http://taand.com).

د پښتو د ادبي تاريخ دويمه دوره له لومړۍ دورې څخه په هر لحاظ بشپړ توپيرونه لري.

په دې دوره کې پښتو ادبيات د لوی افغانستان او هند په سيمو کې له ځينو ملي، مذهبي او پښتني جنبشونو سره په ارتباط کې ايجاديږي او وده کوي. د منطقې مسلط فرهنګي او ادبي جريانونه پر پښتو ادبياتو خپل اغېز ښندي او د همدغو جريانونو په پيروي په پښتو ادب کې ځانګړي سبکونه پيدا کېږي او ځانته خپل خاص پيروان مومي.

د دې دورې يوه عمده ځانګړنه دا ده چې مورږ د دې دورې بشپړ ادبي او فرهنګي آثار په واک کې لرو. په دې دورې پورې مربوط په سلګونو پښتو ديوانونه، په سلګونو قصصي آثار او په زرګونو ولسي-سندرې له مورږ سره شته چې د پښتو د ادبي تاريخ د يوې سترې پانګې په توګه هر اړخيز بحثونه پرې کولای شو. دې دورې ته مورږ د منظمو آثارو دوره هم ويلای شو او دا ځکه چې په لومړۍ دورې پورې مربوط آثار زياتره متفرق دي.

په دې دوره کې د پښتو اديبانو علايق له ګاونډيو ژبو سره هم پراختيا مومي. له عربي، پارسي او هندي څخه پښتو ته او له پښتو څخه ځينو دغو ژبو ته د آثارو د راکړې ورکړې مسأله هم خپلو لوړو پراوونو ته خېژي.

د پښتو د ادبي تاريخ دا دويمه دوره څو پراوونه لري چې هر پراو ته مربوط آثار د ايجاد د شرايطو، خپلو خصوصياتو او فکري هنري اغېز منلو له املې يو اوږد واټن راچاپېروي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۸۵ مخ).

۲-۵-۱-۲. د د دويمې ادبي دورې سياسي، ټولنيز او فرهنګي حالت ته ځغلنده کتنه

په هره زمانه او که مشخصاً ووایو په هره دوره کې واکمنې ایجادیږي، رنګیږي او پرځای یې بله واکمني ځای نیسي او په همدې اساس د هماغه وخت د نظام او خلکو په چلندونو، افکارو او کړنو کې تفاوتونه محسوسیږي. د پښتو ادبیاتو دویمه دوره هم له سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي مختلفو حالتونو سره مخامخ شوې چې لاندې یې لنډ څېړو.

۲-۵-۱-۲-۱. سیاسي حالت

د دویمې ادبي دورې د پیل په درشل کې (۹۳۲هـ.ق) په هند کې د لودهي پښتنو پاچاهي ختمه شوه. د دې پاچاهۍ په ختمېدو سره د هند په نیمه وچه کې پر مېشتو پښتنو او ورسره په روه کې پر پښتنو د یرغلګرو کورګانیانو حملې او ناتارونه پیل شول او پښتانه یې له ډېرو ستونزو او اجتماعي ناخوالو سره مخامخ کړل. تر پنځلس کلن فتوره وروسته د هند پښتنو یو ځل بیا په هند کې د پاچاهۍ واګې ترلاسه کړې. شېرشاه سوري (۹۴۷- ۹۵۲هـ.ق) او اولادې یې څه موده پر هند حکومت وکړ، خو دا پاچاهي او واکمني ډېره ونه پایېدله او همایون په ۹۶۲هـ.ق کال بیا ډهلي ونیو او په دې ډول په هند کې د پښتنو پاچاهي پای ته ورسېده او بیا په وروستیو پېړیو کې پښتنو د هند په بېلابېلو برخو کې محلي ریاستونه جوړ کړل. په دې دوره کې د تاریخي افغانستان سیمې تر هوتکي غورځنګ پورې ټولې او د دې غورځنګ د بري تر نېټې وروسته یې ځینې برخې او بیا د احمد شاهي غورځنګ تر بري پورې ټولې په یوه استعماري مثلث کې ښکېل وې. د شرق، غرب او شمال له خوا ګاونډیو مقتدرو امپراتوریو او خانانو د تاریخي افغانستان ځمکې په خپل منځ کې وېشلې وې او پښتنو کوم مرکزیت نه درلود. خو د همدې دورې د لومړیو سل - یونیم سلو کلونو په جریان کې د تاریخي افغانستان په شرقي برخو کې دوه غورځنګونه رامنځ ته شول. له دغو غورځنګونو څخه یو روښاني غورځنګ و چې مؤسس یې بایزید روښان (۹۲۶- ۹۸۵هـ.ق) و، زامنو، لمسیو او کړوسیو یې هم تعقیب کړ. تر روښاني غورځنګ وروسته د پښواني افغانستان د شرقي سیمو د ختکو په خانۍ کې د دې خانۍ او سرداریِ د مشر-لوی خان خوشحال خان ختک په ژوند کې یوه مرحله داسې راغله چې خپل منصب او جاګیر او هرڅه یې پرېښوول او د خپل قام په ننګه ودرېد.

دا دوه غورځنګونه د پښتنو په سیاسي، اجتماعي تاریخ کې خپل ځای لري. د نه موفقیت علتونه یې د هغه وخت په سیاسي اوضاعو او احوالو، د پښتنو په سیاسي-اجتماعي جوړښت او موقعیت او د پښتنو په ځینو فطري او رواني ځانګړنو کې لټول کېدای شي. د خوشحال بابا له مړینې نولس کاله وروسته

(١١١٩هـ.ق) د تاريخي افغانستان په جنوب غربي سيمو کې يو بل ننګيالی د خپلو خلکو په مرسته د يوه ملي قيام رهبری ته ملا وتړله. دا ننګيالی حاجي مير خان نيکه و چې د افغانستان يوه برخه يې له بېګانهوو وژغورله او خپل ملي حکومت يې قائم کړ (هېوادمل، ١۴٠٣ل، ٧٢ - ٧٣ مخونه).

د ميرويس نيکه په لاس جوړ شوی ملي حکومت د ده د اخلافو په زمانه کې د تاريخي افغانستان دننه آن تر (دېرو) پورې افغاني ځمکې خپلې کړې او د غرب خوا ته له افغاني پولو واوښت او په اصفهان کې يې افغان حکومت جوړ کړ. په کندهار کې د افغانانو دغه ملي حکومت تر ١١٥٠هـ.ق کاله پورې دوام ومونډ او بيا د نادر افشار په لاس سقوط شو. نادر چې دا وخت د افغانستان پر خلکو او په تېره پښتنو کومې نادودې کړې دي، هغه د تاريخ په حافظه کې خوندي دي.

د هوتکو د پاچاهۍ تر رېنګېدو وروسته بيا تر لسو کلونو پورې د تاريخي افغانستان ټولې سيمې د پردو قوتونو په ولکه کې وې، خو کله چې په ١١٦٠هـ.ق کال لوی احمد شاه بابا د شېرسرخ په لويه جرګه کې د افغانانو د ملي مشر او زعيم په توګه وټاکل شو، نو ده په خپل تدبر او مېرانه او د ټولو افغاني قومونو په مرسته د افغانستان طبيعي حدود بېرته خپل کړل او د تاريخي افغانستان ټول اوسېدونکي د خپل واک او اختيار خاوندان شول. تر احمد شاه او تيمور شاه وروسته د بابا د لمسيانو ترمنځ او بيا د سدوزو او بارکزو ترمنځ د مخالفتونو په وجه په افغانستان کې د نفاق او کورنيو جنګونو اورونه بل شول، عالمونه دې جنګونو تباه کړل.

د افغاني واکمنانو له بېاتفاقيو او خانه‌جنګيو د افغانستان ګاونډيانو ته زمينه په لاس ورکړه، د شرق او غرب له لوري زمور پر هېواد حملې وشوې. سکهانو او ايرانيانو دواړو صرفه ونه‌کړه. سکهانو د افغانستان دېرې برخې لاندې کړې او ايرانيان هم په دې برخه کې له چا پاتې رانغلل. دا وخت په هند کې انګرېزي او په ماوراءالنهر او مرکزي آسيا کې د تزاري روس استعماري هلې‌ځلې هم پر مخ روانې وې. دې دواړو استعماري امپراتوريو د افغانستان پر ځمکو تېری وکړ چې له انګرېزانو سره د افغانانو دوې جګړې په همدې دورې پورې اړه لري. دغه رنګه له ځاري استعماري ځواکونو سره هم زمور مېړنو جنګونه وکړل.

د دغو دوو استعماري امپراتوريو د شومو اهدافو په بنا افغانستان خپلې دېرې ځمکې له لاسه ورکړې، خو بالاخره د همدغو استعماري دسيسو له امله په ١٨٩٣م کال د ډيورنډ معاهده لاسليک شوه. د افغان او انګليس تر دويمې جګړې وروسته د امير عبدالرحمن خان (١٢٩٦- ١٣١٩هـ.ق) په تدبر او فراست

په موجوده افغانستان کې امنیت ټینګ شو، خو [لوی] تاریخي افغانستان ګډوډ شوی و او استعماري ګاونډیو خپله برخه په کې کړې وه(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۷۴، ۷۵ مخونه).

که لنډه یې ووایو، له لسمې تر څوارلسمې هجري پېړۍ پورې د تاریخي افغانستان سیاسي حالت داسې و چې په لسمه پېړۍ کې کورګانیانو له پښتنو سره ظلمونه وکړل او ارام ته یې پرېښودل، تر هوتکي نهضت پورې د تاریخي افغانستان کله ټولې او کله یو څه سیمې د ښکېلاکګرو په ولکه کې وې، خو په لسمه او دولسمه پېړیو کې د تاریخي افغانستان په خټېځو سیمو کې روښاني غورځنګ او بیا د خوشحال خان خټک په مشرۍ خوځښت راوټوکېدل. د دولسمې پېړۍ په لومړیو کې په سوېل لوېدیځو سیمو کې هوتکي غورځنګ رازرغون او ورپسې د همدې پېړۍ په دویمه نیمایي کې لوی احمدشاه بابا د افغانستان مشر وټاکل شو، نو ده په خپله واکمنۍ کې د افغانستان طبیعي حدود را خپل کړل، خو تردې وروسته د ګاونډیانو د تېریو او د افغانانو د بې‌اتفاقیو له املې افغانستان خپلې ډېرې سیمې وبایللې.

۲-۵-۱-۲-۲. ټولنیز حالت

په دې دوره کې پښتانه د هند په نیمه وچه کې لا پسې خواره شول، تر شرقي او جنوبي هنده ورسېدل. له ایران او ماوراءالنهر سره یې هم اړیکې نویو مراحلو ته داخلې شوې، تګونه راتګونه او په دې سیمو او هېوادونو کې د پښتنو د مېشتېدنې تاریخي شواهد او اسناد شته. ګاونډیو هېوادونو ته پر انفرادي، ګروپي او کتله‌یي مهاجرتونو سربېره د تاریخي افغانستان دننه هم ځینې وړې لوېې لېږدېدنې وې. د کندهار، کابل او ننګرهار له سیمو نه د پېښور او روه نورو شرقي شمالي برخو ته د پښتنو هغه لوی لوی مهاجرتونه د دې دورې تر پیل دمخه لا بشپړ شوي وو. لنډه دا چې په دې دوره کې د سیمې له نورو ولسونو سره د پښتنو اجتماعي روابطو لا زیاته پراختیا پیدا کړه او ځینې پښتانه د سیمې د هېوادونو له بېلابېلو ولسونو سره محشور او خلط شول(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۷۵ مخ).

۲-۵-۱-۲-۳. فرهنګي حالت

که څه هم پښتانه له عربي ژبې او فرهنګ سره د اسلام له اوایلو اشنا شوي وو او له دري ژبې سره آشنایي او پر پښتو زمور د دري ژبو وروڼو فرهنګي اثرات هم لرغوني سوابق لري، په دې دوره کې تر لومړۍ دورې په پښتنو کې د سواد د زیاتېدو او عامېدلو له املې له دغو یادو شویو فرهنګونو سره روابط او مناسبات لا پراخ شول. د هند نیمه وچه، ایران او ماوراء النهر ته د پښتنو ورتګ دوی د دې سیمو له

فرهنګونو او ژبو سره اشنا کړل، په زياته د هند د نيمې وچې له څو ژبو راترجمه شوي پښتو آثار په دې دورې پورې اړه لري. د دې دورې په وروستيو څو لسيزو کې د افغانانو په هېواد کې د انګرېزي استعمار نفوذ له پيدا کېدو او پر ځينو سيمو د دوی د تسلط د ټينګېدو له امله ځينو پښتنو انګرېزي ژبه هم زده کړه. د دې دورې په وروستيو لسيزو کې د تاريخي افغانستان په شرقي سيمو کې د انګرېزي استعمار د پېښروی له امله د نوي تمدن نخښې په دې سيمو کې څرګندې شوې. دغه‌راز په کابل کې هم د امير شېرعلي خان د دويمې پاچاهۍ (۱۲۸۵-۱۲۹٦هـ.ق) په دوران کې د نوي عصري ژوند نخښې راڅرګندې شوې. چاپخانې، اخبار او د کتابونو د چاپ کارونه پيل شول. د هند په نيمه وچه او بيا د تاريخي روه (افغانستان) د شرقي برخو په مشهور ثقافتي مرکز پېښور کې خو لا طباعت تر کابل پخوا رواج شوی و او د پښتو آثارو چاپ د هند په نيمه وچه او پېښور کې پيل شوی و. دغو نويو تحولاتو د پښتنو په اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي روابطو خپل خاص اثرونه څرګند کړي دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۷۵ - ۷٦ مخونه).

له بلې خوا په لسمه هجري پېړۍ کې د هرات تيموري دولت له يوې خوا د خپلمنځنيو اختلافاتو، شخړو او جنګونو او له بل پلوه د بهرنيو يرغلونو په نتيجه کې رانسکور شو. له دې سقوط سره علمي او فرهنګي بهير هم له رکود سره مخامخ او رامنځ ته شوی مدنيت له منځه يوړل شو. د بهرنيو يرغلونو په نتيجه کې زمور هېواد د وخت د درېيو سترو ځواکونو ترمنځ ووېشل شو؛ لوېديځې خواوې د ايراني صفوي حکومت، شمالي خواوې د ماوراءالنهر د ازبکانو او ختيځې برخې د بابريانو (هندي مغلو) لاس ته ورغلې. د افغانستان مشهور ښارونه، لکه هرات، بلخ او نور چې د ديني علومو او نورو فنونو (هنرونو) د زده‌کړې لوی مرکزونه وو، خپل علمي او تعليمي مرکزي حيثيت يې له لاسه ورکړ او پرځای يې سمرقند، ډيلي، اګره او اصفهان د علم، فرهنګ او ثقافت مرکزونه شول. زمور د هېواد عالمان، پوهان، اديبان، خطاطان، شاعران او د نورو هنرونو خاوندان هم په خپله او يا په زور او جبر سره دغو مرکزونو ته بوتلل شول. لنډه دا چې زمور هېواد يو ځل بيا په کنډوالو بدل، علمي او ثقافتي ځواک يې له لاسه ورکړ.

دې ناوړې وضعې او حالت تقريباً دوه پېړۍ دوام وکړ. د دولسمې هجري پېړۍ په لومړيو کې (۱۱۱۹هـ.ق) د ميرويس خان نيکه په مشرۍ په کندهار کې يو ملي افغاني حکومت جوړ شو. د دې حکومت په جوړېدلو سره يو ځل بيا زمور په هېواد کې د علم، ثقافت او فرهنګ زړې په زرغونېدو

شول. سره له دې چې په دغه دوره کې زمونږ هېواد له یو لړ بحرانونو سره مخامخ و، بیا هم د علومو او فنونو زده‌کړې ته د قدر وړ کارونه وشول. میرویس خان نیکه په خپله هم عالم او فاضل سړی و، ډېر عالمان او فاضلان یې په خپل دربار کې راټول کړي وو، تر هغه وروسته یې د اولادې په څانګړي ډول شاه‌حسین هوتک د واکمنۍ په دوره کې کندهار د علم او فرهنګ د پراختیا او پرمختیا لوی مرکز شو. په دربار کې یې زیات شمېر عالم، ادیبان او لیکوال راټول شوي وو. علمي، ادبي غونډې او بحثونه به کېدل. عالمان او پوهان به د کتابونو تألیفولو او ژباړلو ته هڅول کېدل. د پښتو ادب ستره او ارزښتناکه ادبي پانګه (پټه خزانه) د همدغې زرینې دورې غوره بېلګه ده. د دې دورې په نامتو دیني عالمانو او نومیالیو فرهنګي شخصیتونو کې د نازو انا، ملا پیرمحمد هوتک، ملا زعفران هوتک، محمد هوتک، ریدي خان مومند، ملا نورمحمد غلجی، ملا اکبر، ملا عادل، سیدال خان ناصر، مېرمن زینب او نورو نومونه یادولی شو (هاشمي، ۱۳۸۳ل، ۳۲- ۳۳ مخونه).

کله چې د درانیانو دورې (۱۱۶۰- ۱۲۴۵هـ. ق) ته رسېږو، نو هلته په کې علمي او فرهنګي وضعه داسې وه چې:

زمونږ په هېواد کې د علم او پرمختګ بهیر د نادر افشار د تاړاکونو له امله ډېر زیانمن شو. کندهار د یو څه وخت لپاره خپل مرکزي حیثیت له لاسه ورکړ، خو بیا وروسته د لوی احمدشاه بابا په لاس (۱۱۶۰هـ.ق) د یوه ځواکمن او خپلواک افغاني دولت بنسټ کېښودل شو. کندهار یو ځل بیا د پخوا په شان د علم، ثقافت او تمدن لوی مرکز شو.

احمدشاه بابا په خپله یو پوه، عالم، ادیب، فاضل او مدبر شخصیت و، ډېر عالمان، فاضلان، ادیبان او د علومو او فنونو کارپوهان یې خپل دربار ته راټول کړل. د ډېرو علمي او ادبي کورنیو روزنه او پالنه یې وکړه چې بیا هرې یوې د هېواد د خلکو په علمي او فکري روزنه او پالنه کې د قدر وړ کارونه کړي دي. د بېلګې په توګه د افغانستان تر خپلواکۍ (۱۲۹۸ل/ ۱۹۱۹م) پورې حکومتونو کې د قاضي‌القضات منصب د کندهار د بارکزایانو د خانعلوم په کورنۍ پورې اړه درلوده. ملا سعید بارکزی د شاه‌محمود سدوزي او قاضي عبدالرحمن د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ په وخت کې قاضي‌القضات و. د دې کورنۍ غړو ډېر علمي آثار هم لیکلي دي. د ملا اسماعیل الکوزي کورنۍ هم د لوی احمدشاه بابا پر وخت په کندهار کې اوسېدله. د نوموړي یو زوی ملا احمد چې د «بیان الوافیه، لطائفه صوفیه، تعلیم سلوک» رسالې یې لیکلي، د کندهار د ښار قاضي و. د سلجوقیانو کورنۍ چې په

احمدشاهي دوره کې په هرات کې اوسېده، يوه علمي او روحاني کورنۍ وه. د دې کورنۍ يو غړی علامه ميرزا، احمدشاه بابا هرات ته راوستی او د پای حصار د مدرسې سرمدرس يې ټاکلی و. په وروسته وختونو کې ملا عبدالاحد خليفه، ملا محمد عمر، ملا محمد رفيق، مشرف خليفه او محمد حسين په دې کورنۍ کې لوی لوی عالمان تېر شوي دي.

د مجددیانو کورنۍ يوه بله عالمه او روحاني کورنۍ وه چې د احمدشاه بابا د واکمنۍ پر مهال له هندوستانه افغانستان ته راغله، د دې کورنۍ د عالمانو او فاضلانو له ډلې څخه شاه غلام محی الدين مجددي، شاه نظام الدين مجددي، شاه عزت الله مجددي، شاه عبدالباقي مجددي، شاه غلام نبي او نورو نومونه د ښلګې په توګه يادوو چې زياترو يې دېني کتابونه او آثار هم ليکلي دي. د شيخ سعدالدين احمد انصاري يوه بله عالمه او روحاني کورنۍ وه چې په دغه دوره کې په کندهار کې اوسېدله. د وکيل الدوله او عبدالله خان کورنۍ هم د دې دورې يوه علمي کورنۍ وه چې غړو يې په علمي، سياسي او پوځي ډګرونو کې د قدر وړ خدمتونه کړي دي.

پر دغو يادو شويو علمي کورنيو سربېره د دغې دورې د عالمانو، پوهانو او اديبانو په ډله کې د ښلګې په توګه د ميا فقيرالله جلال آبادي، ملا محمد غوث، مولوي محمد ابراهيم، پيرمحمد کاکړ، ملا فيض الله دولت شاهي، د احمدشاهي شاهنامې مؤلف حافظ مرغزي او نورو نومونه هم يادولی شو چې هر يو يې د څانګړو علمي ديني او ادبي کتابونو او آثارو خاوندان دي(هاشمي، ١٣٨٣ل، ٣٦- ٣٧ مخونه).

د تيمورشاه د واکمنۍ پر مهال په کابل کې هم لوی لوی علمي او فرهنګي مرکزونه رامنځ ته او سربېره پر دې هرات، جلال آباد او پېښور هم علمي او فرهنګي مرکزونه شول. تيمورشاه په خپله هم عالم، اديب او فاضل سړی و، ډېر عالمان او پوهان يې په دربار کې راټول او د هغوی پالنه يې وکړه. د ده د دربار له مشهورو عالمانو څخه د ښلګې په توګه د قاضي فيض الله، مولوي اسماعيل، ملا زلي، مولوي دين محمد، مولوي يارمحمد، مولانا خيرالدين، صدالعلماء مولانا عبداللطيف (١١٩٥هـ.ق کال مړ)، مولوي محمد عمر ساکزی (١٢٠٥هـ. ق مړ) او نور يادوو.

که څه هم د تيمورشاه زامن په تېره شاه‌زمان، شاه‌محمود، شاه‌شجاع او د شاه‌محمود زوی کامران چې د اقتدار پر سر يې اختلافونه او جګړې کولې، هم عالمان وو، په خپلو درباروونو کې يې عالمان او فاضلان پالل، خو دا چې کورنيو خپلمنځيو جګړو هېواد د اور تبۍ ګرځولی و، د علم، ثقافت پرمختګ او ودې ته هيڅ ډول مناسبه زمينه نه برابرېدله. د دوی د واکمنيو د دورې له نوميالیو عالمانو څخه د ښلګې په

توګه د ملا محمد سعید بارکزي (د شاه‌محمود دراني قاضي القضات)، مولوي حبیب الله چې په محقق سره مشهور و، قاضي محمد سعید خانعلوم، ملا عبدالاحمد سلجوقي، شاه فضل الله، مولوي محمد اعظم (د غزني د شولګړې)، قاضي ملا عبدالله، مولوي عبدالحق خروټی، د پښتو ژبې نومیالي شاعران رحمت داوی او شمس الدین کاکړ نومونه اخلو(هاشمي، ۱۳۸۳ل، ۳۲- ۳۳ مخونه).

د محمدزیو دورې (۱۲۱٦- ۱۳۳۸هـ.ق) دورې ته چې راشو، نو ویلی شو چې:

د اقتدار لپاره د کورنیو جګړو او د خپلمنځیو مخالفتونو په نتیجه کې له سدوزیو څخه محمدزیو ته واکمني انتقال شوه. په دې لړ کې لومړنی واکمن امیر دوست‌محمد خان و. په همدغه دوره کې د تیمورشاه د زامنو او لمسیانو او د امیر دوست محمد خان ترمنځ د اقتدار لپاره کورنیو جنګونو او همدارنګه د امیر دوست‌محمد خان د خپل وروڼو او زامنو ترمنځ د تخت او پاچاهۍ پر سر شخړو په هېواد کې لویه ناارامي او ګډوډۍ رامنځ ته کړې او د علومو او فنونو د ودې او پرمختګ امکانات یې له منځه وړي وو. له همدغو ګډوډیو او کورنیو اختلافاتو څخه په استفادې انګرېزانو په ۱۸۳۹م کال کې زموږ پر خاورې یرغل وکړ او دغه تاریخي هېواد یې په خپله استعماري لومه کې راښکېل کړ. د هېواد دیني عالمان او ملي ولسي مشران د خپل دیني او ملي رسالت او مسؤولیت له مخې د بهرنیو یرغلګرو په وړاندې د مقابلې او مبارزې ډګر ته راووتل. د دغه تاریخي پړاو (۱۲۱٦- ۱۲۹۸ل) امیرانو او واکمنو چې د انګرېزانو تر سیوري لاندې یې حکومتونه کول، په درباروونو کې به یې ښایي لږوډېر عالمان او فاضلان هم راټول وو، په خپله هم له مروجو علومو برخه‌من و، خو دا چې په عامه توګه د هېواد په تاریخ کې ډېره بحراني مرحله ګڼله کېږي، له یوې خوا داخلي جنګونو او له بلې خوا بهرنیو یرغلونو هېواد د اور تبې ګرځولی و، نو په دغسې بحراني وضعه او حالت کې د علمي او فرهنګي تأسیساتو رامنځ ته کېدل او د علومو او فنونو د بهیر اغېزمنه وده او پرمختیا ناشونې خبره ده. خو د امیر شېرعلي خان په دویمه پلا واکمني (۱۸٦۸م «۱۲۸۵هـ.ق»- ۱۸۷۸م)) کې په هېواد کې د علم او معارف زړې په زرغونېدو شول، «شمس‌النهار» اخبار چاپ شو، عصري ښوونځي تأسیس او کتابونه چاپ او خپاره شول. خو د هغه نوي راټوکېدلي ګل بوټي وروسته ډېر ژر د اقتدار پر سر جنګونو کې وځپل شول. د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ دورې زیاته برخه د کورنیو جنګونو او ملوک‌الطوایفۍ په ختمولو کې تېره شوه او ډېر وګړي له هېواده فرار شول. له دې سره سره د ګوتو په شمېر دیني موعظې او فرمانونه او کتابونه هم چاپ او خپاره شول. وروسته د امیر حبیب الله خان په وخت کې د علم او معارف تیغي بیا

په راټوکېدو شول(هاشمي، ۱۳۸۳ل، ۴۵- ۴۶ مخونه).

د يو شمېر ديني عالمانو او پوهانو نومونه چې د محمدزيو دورې په لومړۍ او دويمې مرحلې پورې اړه لري، د واکمنانو د دربارونو له نږدې کسانو څخه و، منثور او منظوم آثار ورڅخه پاتې دي، دا دي:

سيد جمال الدين افغان، غلام محمد طرزی، سردار مهردل خان مشرقي، فيض محمد آخونزاده، نورمحمد نوري افغان، محمد حسين بن مداح الکوزی، ملا سکندر، سيد نورمحمد شاه، واصل، قاضي سعدالدين خان، ميرزا حنان بارکزی، مراد علي کاموي، مولوي عبدالرؤوف کندهاری (مشهور په خاکي)، ملا عبدالفتاح، ملا عبدالحسن، نجم الدين اخونزاده، شېردل خان، مولوي عبدالله غزنوي، مولوي حفيظ الله، غلام محی الدين افغان، ملا خداداد، مولوي عبدالرب، ميرزا محمد حسين او ميرزا شېراحمد خان جلال آبادي(هاشمي، ۱۳۸۳ل، ۴۷ مخ).

د لسمې پېړۍ له اواسطو راپدېخوا تر دې څه باندې څلورو پېړيو کې چې د پښتو ادبياتو تاريخ ته دقيقه کتنه وکړو، نو د استاد روهي په خبره، چې مور د پښتو ادبياتو تاريخ په ګرافيک ډول انځور کړو، په هغه کې به دوه ځايه لوړې ځوکې (Apexes) وليدل شي؛ لومړۍ ځوکه د لسمې هجري پېړۍ له نيمايي ځخه پيلېږي، د يوولسمې پېړۍ په پای او د دولسمې په پيل کې لوړه ځوکه تشکل کوي او د همدې پېړۍ په وروستيو کې لړۍ بېرته مخ په ځوړ ځي. دويمه ځوکه د شلمې ميلادي پېړۍ له اوايلو ځخه شروع کېږي او په تدريجي توګه تر نن ورځې پورې راپورته شوې ده. پر دې اساس، دا دوې نيمې پېړۍ (۹۵۰- ۱۲۰۰هـ.ق) د پښتو د کلاسيک ادب غوره دوره ګڼل کېږي. د لسمې هجري پېړۍ د ادبياتو په تاريخ کې روښان ستوری مياروښان دی چې د پښتو ادب د ديداکتيک سبک مؤسس ګڼل کېږي. د سبک د محتوا په لحاظ غني او د فورم له نظره فقير دی. په يوولسمه هجري پېړۍ کې د خوشحال سبک تبارز کوي چې په هغه کې د مضمون او شکل ترمنځ تناسب او هم‌آهنګي ليدله کېږي. د خوشحال د مضمون ټولنيز سياسي اړخ په خپل ذات کې بې‌ساری دی او تر شلمې ميلادي پېړۍ پورې يې ساری نه ليدل کېږي. په دولسمه هجري پېړۍ کې فورمالېزم خپل اوج ته رسيږي، په همدې وخت کې د اشرف خان، عبدالقادر خان، رحمان بابا، عبدالحميد ماشوخېل، محمد هوتک، پيرمحمد کاکړ، کاظم خان شيدا او ميا فقيرالله په شان ستر شاعران او ليکوالان له دنيا ځخه تېر شوي چې په خپلو رنګينو آثارو سره يې د پښتو د ادب نړۍ ښکلې کړې ده.

د دې دورې شعرونه په عمومي ډول تر درېيو کټيګوريو لاندې راځي: ديداکتيک، فورمالېستي او

قصصي. د ميا روښان، اخوند دروېزه او ميا فقيرالله شعرونه د ديداکتيک نظم غوره نمونې ګڼلی کېږي. د خوشحال د اشعارو هغه برخه چې پښتني ټولنه يووالي او مبارزې تـه رابـولي، پـه ديـداکتيک اشـعارو کې شمېرل کېدای شي. د رحمان بابا پر اشعارو باندې هم ديداکتيسيزم خپل سيوری غورځولی او نيمـه ديداکتيک بڼه لري. د عبدالحميد ماشوخېل، کاظم خان شيدا، خواجه‌محمد بنګښ او پيرمحمـد کـاکړ ديوانونه زياتره د فورمالېزم پيروي کوي. د عبدالقادر خان خټک «يوسف او زليخا»، د صدر خـان «آدم او درخانۍ» او «دلي او شهو»، د حميد «نيرنګ عشق» او «د شاه او ګدا قصه»، د فياض «د بهـرام او ګـل اندامې قصه» په قصصي اشعارو پورې اړه لري. البته په دې دوره کې ځينې تاريخي آثار او تذکرې هـم ليکل شوې دي چې له قصصي اشعارو سره يو څه توپير لري. که څوک غواړي کولی شي چې پـه ښـه ګټيګوری کې يې راولي (روهي، ١٣٨٦ل، ٢٣٣- ٢٣٤ مخونه).

د استاد روهي په پورتنۍ کټيګوری کې د ديني او اسلامي مسايلو موضوع ډلبندي نه سترګو کېږي، کـه د هغه په اند دغه ډول موضوعات په ديداکتيک کې شاملېدای شي، ښه تر ښه، که نـه د د دويمـې ادبي دورې غوښنه برخـه دينـي او اسـلامي مسـايل تشـکيلوي. البتـه د ديـداکتيک (Didactic) کلمـې معنـا قاموسونو تعليمي، تربيتي او ادبي (https://qamosona.com) را اخيستې ده، نه ديني.

نوموړی د «ديداکتيک اشعارو» موضوع داسې غځوي: سره له دې چې د ميا فقيرالله هغه شعرونه چې د ديني او عرفاني اصولو او فروعو د ښوونې لپاره ويل شوي دي، د پورتنيو بيتونو سـطحې تـه نـه رسـيږي [کېدای شي د استاد روهي مراد د شيدا بيتونه يا فورمالېستي اشعار وي]. البته ديداکتيک نظمونه تقريبـاً په عمومي ډول له فورمالېستي اشعارو څخه د شعريت په لحاظ بېرتـه پـاتې کېږي. دا تـر يـوې انـدازې طبيعي هم ښکاري. د تعليمي او تربيتي نظم اصلي هدف (ښه شعر) نه دی، بلکې دلته له شـعر څخـه د يوې وسيلې په توګه استفاده کېږي. د ديني او عرفاني موضـوعاتو نـاظمان فکـر کـوي چـې خلـک لـه موزون او مقفی کلام څخه زيات خوند اخلي، نو که چېرې دوی خپل مطالب پـه نظـم وړانـدې کـړي، لوستونکی به يې په شوق لولي او حتی منظوم بيان حافظې ته هم په اسانۍ سره سـپارل کېـدای شي. لـه همدې خبرې سره جوخت دا هم ويلای شو چې د ناظم په نظر د شعر ښکلا يـو فرعـي هـدف دی. لـه دې امله دی هنري اړخ ته زياته پاملرنه نه وقفوي. بله دا چې ناظم هدف ته د رسېدو په منظور لـه بيـړې څخه کار اخلي او نه شي کولای خپل وخت فروعو ته وقف کړي او لـه اصـل څخـه لـيرې شي. همـدا علت دی چې د ديداکتيک نظمونو د وزن او قافيې په برخه کې هم کله کله ځينې پوښتنې راولاړېږي.

د ديداکتيک نظم يو بل عمده خصوصيت دا دی چې معترضه فقرې او زايد الفاظ په کې ډېر ليدل کېږي. د دې علت هم دا دی چې د موضوع د انځورولو چوکاټ تنګ دی او ناظم د موضوع د ماهيت له نظره د فورمالیست شاعر په اندازه آزادانه الوتنه نه شي کولای او مجبور دی چې د افکارو تسلسل او د موضوع حدود په نظر کې ونيسي(روهي، ١٣٨٦ل، ٢٣٧ مخ).

د تعليمي او تربيتي يا د استاد روهي په خبره د ديداکتيک نظمونو حالت لکه څنګه چې پورته بيان شوی، حقيقت لري، خو دا هم د ويلو دی چې د دغه ډول اشخاصو هدف د خپلو ديني، تعليمي او تربيتي پيغامونه رسول دي، نو يې خپل ما فيالضمير د نظم او يا مسجع نثرونو په قالبونو کې وړاندې کړی، بله دا چې دوی به خپل مخاطبين هم په پام کې نيولي چې زياتره يې ښايي د لوړې علمي سطحې خلک نه وو، نو يې په ساده او اسانه ژبه هغوی مخاطب کړي دي.

په ټوله کې د پښتو ادب دويمه دوره چې په کلاسيکې دورې هم يادې شوې ده، له فرهنګي پلوه ارزښتمنه ده چې ډېر ادبي او فرهنګي نوښتونه او ايجاديات په کې شوې دي.

د پښتو د ادبي تاريخ دويمې دورې ته چې عمومي کتنه وشي، په اړه يې بايد ووايو چې د پښتنو د ادبي تاريخ په دويمه دوره کې چې د پښتنو پر ټولنه او هېواد کوم سياسي، اجتماعي تحولات او انقلابونه راغلي او د کومو اقتصادي مناسباتو د لاندې چې دوی ژوند کړی او کوم فرهنګي اثرات چې دوی منلي او يا دوی پر نورو منلي او هم هغه تحولات او د غربي ژوند ژواک اثرات چې د دې دورې په وروستيو کې پر دې خلکو جاري شوي او پر دې هېواد راغلي، دې ټولو تحولاتو، تغييراتو او انکشافاتو د دوی د فرهنګ مؤسسه متأثره کړې ده او د دوی د دې دورې فرهنګي زېرمې د همدغو شرايطو په رڼا کې رازپرېدلي او تر موږ را رسېدلې دي(هېوادمل، ١۴٠٣ل، ٧٦ مخ).

په دې دوره کې پښتو ادبياتو هم د کميت او هم د کيفيت له پلوه تر دې حده وده موندلې ده چې د منطقې د ځينو ژبو له ادبي آثارو او ادبياتو سره سيالی کولای شي. په دې دوره کې پښتو ځينې داسې آثار هم پيدا کړي چې د شرقي آثارو د شهکارونو په لړ کې د درېدو حق لري او د نړيوال فرهنګ په عمده آثارو کې د حسابېدو وړ دي، لکه د خوشحال بابا دستارنامه او نور.... په دې دوره کې پښتو ادبيات د منطقې له ادبياتو او ادبي جريانونو سره په ارتباط کې پاتې شوي دي. د پارسي، عربي او هندي ژبو ځينې ډېر مهم ادبي آثار په همدې دوره کې پښتو ته ترجمه شول. دغه‌راز په همدې دوره کې د ځينو پښتو آثارو ترجمو ته هم زمينه مساعده شوه. د پښتو شاعرۍ د دوو عنعنو (ولسي- او

ديواني) ټول شعری ژانرونه په دې دوره کې پښتو ادبياتو خپل کړل او د موضوع او فکر په لحاظ يې دومره پراختيا او پرمختيا ومونده چې د لومړنۍ دورې د آثارو په پرتله په مراتبو د انکشاف او رشد څرکونه په لاس راکوي. په دې دوره کې په پښتو کې په سلګونو ديوانونه، حکايتي آثار او نور وليکل شول او يا ترجمه شول چې د دې ژبې ادبي او فرهنګي پانګه يې ډېره بډايه او شتمنه کړې ده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۷۸ مخ).

که د پښتو ادب کلاسيکې شاعرۍ ته ځير شو، نو په دې دورې کې مفکوره او مضمون زياتره په عرفان او تصوف، پند، اخلاص، سخاوت، حيا، قناعت، اخلاقو، مرستې، ښېګڼې، طمعې، لوړ همت، مېړانې، ننګ، انسانيت، له وطن سره د مينې، خواخوږۍ، ازادۍ، پښتو، پښتونولۍ او دې ته ورته په نورو توکو راڅرخي(اغېز، ۱۳۹۷ل، ۸۸ مخ).

۲-۵-۱-۳. د دويمې دورې د شاعرانو او ليکوالو تخميني شمېر

په دويمه ادبي دوره کې له زرو نه د زياتو شاعرانو نومونه څرګند دي، دا به مبالغه نه وي که ووايو چې له دې زرو تنو څخه اتو سوو تنو په پښتو غزل ويلی دی. په دغو غزل ويونکو کې د ځينو بشپړ ديوانونه او د ځينو متفرقې غزلې تر موږه رسېدلې دي. د دغو غزل‌سرايانو غزلې د بېلابېلو فکري او ادبي هنري جريانو تر اغېزې لاندې ايجاد شوې دي، لکه د روښاني پېر غزل، د اخوند دروېزه د پيروانو غزليات، د هندي سبک تابع غزل، د هوتکو او احمدشاهي عصر پورې مربوط غزليات. پر دغو جريانونو سربېره دوه درې سوه تنه نور غزل ويونکي شاعران هم شته چې آثار او نومونه يې د پښتو ادبياتو په دويمه دوره کې د مطالعې ځای لري(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۵۴، ۲۵۵ مخونه).

له دې څخه جوتيږي چې په دويمه ادبي دوره کې شاوخوا ۱۱۰۰ شاعران موجود وو. دغو شاعرانو د مختلفو فکري او ادبي هنري جريانونو تر تأثير لاندې اشعار ويلي دي. دا خو د شاعرانو خبره شوه، پاتې شوه، په نثري فورمونو کې د ليکنو نثر ليکوالو مسأله، په دې کې شک نشته چې په دې دوره کې ګڼ نثرليکوال لرو چې شمېر يې سلهاوو تنو ته رسيږي او زما د مطالعې له مخې يې شمېر کابو ۳۰۰ تنو ته رسيږي، نو په دې حساب په دې دوره کې شاوخوا ۱۴۰۰ کسانو د پښتو ژبې لپاره خدمت کړی، آثار يې ليکلي او پنځولي او خوشبختانه د دې ټولو اشخاصو اکثره ايجاديات ترلاسه او تر موږ را رسېدلي دي.

۲-۵-۱-۴. د دويمې او دريمې دورې د تداخل ربړه

د ادبي دورو ترمنځ د اشخاصو تداخل شته او هغه داسې چې د يـوې دورې اشـخاص د بلـې دورې پـه لومړيو کې لا ژوندي او فعال وي، لکه د لـومړۍ ادبي دورې وروسـتي آثـار او شـاعران، ليکـوال آن د يوولسمې هجري پېړۍ تر اوايلو پورې هم ژوندي وو، دا څنګه کېدای شي چې لومړۍ دوره دې ختمـه نه وي او دويمه دې بيا د لسمې هجري پېړي له اواسطو پيل شي؟ همدغه مورد د دويمـې دورې د پـای ته رسېدو او د درېيمې د پيلېدو په اړه هم وارد دی.

په دې اړه استاد کاږي: د ادبي تاريخ دورې داسې نه دي چې هغه دې په کرونولوژيک ډول د پېړيو او کلونو يا د سياسي رژيمونو او پاچاهيو د سقوط او برقرارېدو په اساس تنظيم شي، بلکې خبره دا ده چې دا دورې د ادبي آثـارو او ادبي پديـدو د ودې او انکشـاف شرايطـو او هـم د دغـو پديـدو شـکلي او موضوعي خصوصياتو ته په پاملرنه تنظيميږي، نو په همدې اساس دا خبره ضرور نه ده او نه امکان لري چې يوه ادبي دوره دې ختمه شي او بله دې پرې پسې جوختـه شروع شي. د دې خـبرې ښـکاره مثـال خپله دغه د پښتو ادبياتو تاريخ دی چې لومړۍ دوره يې لا د خپل انکشاف نهايي سيرونه بشپړوي چـې د دويمې دورې زړې يې ايښوول کېږي او دا ځکه چې په همدې لسمه هجري پېړۍ کـې د يوولسـمې تر اوايلو د پښتو په آثارو کې ځينې داسې ادبي پديدې او د دغو پديدو هسـتوونکي ليـدل کېـږي چـې دغه خلک او د دوی آثار د خپلو شرايطو او د آثارو د خصوصياتو له امله په دويمه دوره کې د مطالعې ځای نه لري او موږ اړ يو چې دغه ډلـه ليکـوال او شـاعران د دوی لـه آثـارو سره پـه لـومړۍ دوره کـې مطالعه کړو (هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۸۴ مخ).

په دويمه ادبي دوره کې د لسمې هجري پېړۍ له دويمې نيمايي ځخـه د څوارلسـمې هجـري پېـړۍ تـر لومړۍ نيمايي پورې ادبي آثار او ددغو آثارو شاعران او ليکوال مطالعه کېږي، په داسې حال کـې چـې د څوارلسمې پېړۍ په درېيمه لسيزه کې د پښتو ادب تاريخ د درېيمې دورې نښې ښـکاره او بنسټ يـې ايښودل کېږي، خو په همدې درېيمه دوره کې اوسېدلي ځينې ليکوال او شاعران داسـې دي چـې آثـار يې د خپلو شکلي جوړښتونو او فکري خواوو له پلوه د دويمې دورې په پای کې د مطالعې ځای لـري، نه په درېيمه دوره کې. په دې اړه استاد هېوادمل کاږي: د ادبي دورەبنـدۍ دا خصوصـيت راښـيي چـې ادبي دورې د ادبي آثارو د شکلي او جوړښتي او موضوعي او فکري خصوصياتو له مخې ټاکل کېږي، نه د کلونو او تاريخي سنو او پېښو په اسـاس. پـه دويمـې ادبي دورې پـورې مربـوط ادبي آثـار کـابو د څلورو سوو کالو په ترڅ کې ايجاد شوي او رشد يې موندلی دی.

د دويمې ادبي دورې په وروستيو پړاوونو کې د پښتو نثر د اصلاح، سمون او عامې محاورې سره د نږدېوالي لپاره د ځينو ليکوالو له خوا هڅې پيل شوې او دې ډلې په خپلو ترجمو او تأليفونو کې د نثر ليکلو داسې لاره ونيوله چې له پخوانۍ نثر ليکنې بېله او پرمختللې وه. دوی په حکايتي ژانر کې د نثر يو داسې ډول وپاله چې د هنري‌تابه خوا ته يې ځان نږدې کاوه او په معاصر دوران کې يې د هنري نثر د ودې او پرمختيا لپاره زمينې برابرې کړې. د مولوي احمد، نورمحمد نوري، مير احمدشاه رضواني او نورو نثرونه وو چې د آينده نثر ليکونکو لپاره يې د لارې د مشال حيثيت پيدا کړ. دويمې ادبي دورې له خپلو ټولو لوړو او څوړو سره د شلمې پېړۍ په لومړيو لسيزو کې خپله لمن راونغښتله او د نوي زمان له نويو شرايطو سره يې يوې نوې پرمختللې ادبي دورې ته خپل ځای پرېښود او درېيمه يا [د ځينو په اصطلاح معاصره] ادبي دوره له غربي او شرقي ادبياتو سره په اړيکه کې پيل شوه(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۷۷، ۲۷۸ مخونه).

په پورتنيو وضاحتونو کې د دويمې ادبي دورې زمان مشخص شوی او هغه ربړه چې ځينو څېړونکو ته پښنه ده چې د دويمې دورې وروستني ليکوال او شاعرانو په دې دوره کې شاملېدای شي کـه نـه، حـل شوه. هغه آثار چې د دې دورې په وروستيو کې ايجاد شوي، نو پـه اړه يـې پرېکړه کـول سـتونزمن نـه برېښي، ځکه مسأله واضح ده او هغه دا چې د آثارو شکلي، جوړښتي، موضوعي او فکري ځانګړنو تـه يې کتل کېږي چې آيا په دويمه دوره کې شاملېدای شي که نه؟ پـه دې رسـاله کـې همـدې طرحـې او خصوصياتو ته په پام سره د دويمې دورې په وروستيو کې چې کوم آثار ليکـل شـوي او پنځـول شـوي دي، شامل شوي دي.

۲- ۵- ۲. ديني عالم څوک دی؟

دين دوه اړخونه لري: عقيده او عمل. د دين کلمه د عقيدې او عمل په هر سيستم باندې اطلاق کېدای شي، خو د مذهب د امامانو په نزد يواځې اسلام ته ويل کېږي(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۸۹ل کال، ۷۷۹ مخ) ، لکه چې په قرآن کريم کې راغلي دي: ﴿إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ﴾، (آل عمران: ۱۹ آيت)؛ «دين د الله په نزد هماغه اسلام دی». نو هغه هر څوک چې په دين يعني اسلام کې پوره پوهه ولري، هغه ته د ديني عالم اصطلاح کارول کېږي.

ديني عالم هغه څوک دی چې د خپل ژوند يوه يا ټوله برخه يې د ديني او شرعي علومو زده‌کړې او تدريس ته وقف کړې وي او په دې برخه کې يې لازمه مطالعه کړې وي. دغه ډول اشخاص اوچت

مقام لري او د ښه حيثيت خاوندان وي، لکه الله تعالى چې وايي: ﴿إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ﴾، (فاطر: ۲۸ آيت)؛ «بې شکه چې له الله څخه د هغه پوه بندګان وېرېږي» او يا لکه رسول الله ﷺ چې فرمايي: ﴿إِنَّ الْعُلَمَاءَ هُمْ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ إِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا إِنَّمَا وَرَّثُوا الْعِلْمَ فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ﴾(الألباني، صحيح الترغيب والترهيب)؛ «په حقيقت کې علماء د پيغمبرانو وارثان دي، پيغمبرانو دينار او درهم په ميراث نه دي پريښي، بلکې دوی علم په ميراث پريښی دی. نو چا چې دا لاسته راووړ، لويه برخه يې لاسته راوړې ده».

مخکې به د ديني علومو د لاسته راوړلو لپاره کلونه کلونه ستړتيا ګالل کېده او ورسره به يې عميقه مطالعه کوله، نو چې چا به دغه مسير طی کړ، د پام وړ علمي لاسته راوړنو ته به رسېده او هم به يې مذهبي مقام ترلاسه کاوه.

ځينو ديني علماوو د ديني علومو پر تدريس سربېره له ادب سره هم ژوره علاقه او مينه لرله، پخواني ادبي متون يې مطالعه کړي او ورسره يې لېوالتيا ښودلې ده.

له ادبياتو سره علاقمندي او لېوالتيا د هغه شخص د ليد د افق د پراخوالي، د فکري جمود د کموالي او د هنر او عرفان له ښکلاګانو د درک زياتولو لامل ګرځي. ادبي مطالعه د ديني علماوو ترمنځ د ديني او فرهنګي فهم په تعميق او اصلاح کې ځانګړی نقش لري.

زمونږ په ټولنه کې متدينو او په اسلامي او شرعي مسايلو پوه اشخاصو ته د «مولوي، ملا، مولانا، اخوند، شيخ» نومونه هم معمول او دود دي. خو کله کله داسې هم وي چې يو څوک په همدې القابو نه وي ياد شوی يا يې ځان په دې القابو نه وي متصف کړی، خو په ديني او شرعي مسايلو کې يې تعليم او تحصيل کړی وي او په دې مسلک کې د پوره مهارت خاوند وي، نو دغسې اشخاص هم په همدې سلسله کې شاملېږي.

د پښتو ادب په دويمه ادبي دوره کې زياترو ديني عالمانو ته د «اخوند» لقب کارول شوی دی.

«اخوند» د دري ژبې کلمه ده چې د پښتو د ديني عالمانو او پيرانو لپاره د ښوونکي يا عالم په معنا کارول کېږي. «اخوندزاده» د «اخوند» زوی معنا لري چې معمولاً د پوهانو د کورنيو د اولادونو لپاره د درناوي لقب دی. دا لقبونه د لرغونې پښتو په ليکوالانو او د ديني عالمانو په کورنيو کې ډېر مروج وو.

"اخوندان" او "اخوندزادەګان" د پوهانو، ديني عالمانو او مشرانو هغه طبقه ده چې د پښتو ژبې په علمي، ادبي او تاريخي وده کې يې مرکزي رول لوبولی دی. دوی اکثراً د ديني علومو ترڅنګ په پښتو ژبه شاعري او ليکوالي کړې ده.

د پښتو ادبياتو په تاريخ کې د «اخوند» (ښوونکی/عالم) او «اخوندزاده» (د عالم زوی) لقبونه د پښتنو په تاريخ، ديني علومو او ادبي دودونو کې د درناوي وړ شخصيتونو لپاره کارول کېږي. دا لقبونه تر ډېره د ديني عالمانو، صوفيانو، ليکوالانو او د پښتو د کلاسيکې شاعرۍ د هغو مخکښانو لپاره کارول شوي چې د ديني او علمي خدمتونو ترڅنګ يې د ژبې په بډاينه کې ونډه اخيستې ده.

۲-۵-٦. د وخت متداول علوم

لکه د نورو هېوادونو او ټولنو په څېر زمونږ په ټولنه کې هم د ديني علومو تحصيل په هر وخت او زمان کې له مختلفو لارې کېده، کله به د زده کړې ځای کور او جونګړه وه، کله به خالي ميدان و، کله جومات او خانقا وه، کله به منظم ځای لکه مدرسه او درسګاه وه او په دې وروستيو کې په جوماتونو، مدرسو، دارالعلومونو او پوهنتونونو کې ديني زده‌کړې کېږي. دا چې په دې څېړنه کې له لسمې تر څوارلسمې هجري پېړۍ پورې زمانې د ديني علماوو د خدمتونو جاج اخيستل کېږي، نو په کار ده چې د همدغه زماني واټن د متداولو علومو په اړه پوه شوه چې کوم دي او څنګه يې تحصيل کېده.

د يوولسمې هجري پېړۍ د قلم، تورې او فرهنګ سړي خوشحال خان خټک د هغه وخت د متداولو علومو په باره کې وضاحت ورکړی چې هغه وخت علم پر څينو اصنافو مشتمل و. دی کاږي: «علم په لغت کې زده‌کولو ته وايي، هر چې وي اوس په اصطلاح کې تحصيل د علم عربي فارسي وغيره وته چې شهرت د څورلس علوم لري علم وايي. هر چه دا علوم تحصيل کا، واړه ولولي، هغه دانشمند، فقيه، فاضل عالم مُلا باله شي، هغه چې په خپله زمانه کې په دا علوم کې د ځواب څوک نه لري هغه عالم العلماء باله شي، مخدوم الملک باله شي»(خټک، ۱۹۹۱م، ۲۳ مخ). ورپسې په همدې باب کې د کيميا، سيميا، ريميا، نجوم، طب او حکمت نومونه يادوي او د «تحفة الغياثي» په استناد د علومو شمېر څلوېښت بولي. دا اولاد د تربيت په هنر کې خپل تعليمي نصاب داسې معرفي کوي: «اول دې قرآن ولولي په قرآن کې پنج سوره او آيت الکرسي، الرحمن تمام، عم سيپاره دِ په ياد کا، بيا نحو، صرف، بيا فقه، تفسير، حديث، اقوال د مشايخو، علم طب، دا دې لولي»(خټک، ۱۹۹۱م، ۱۲۵ مخ).

لکه څنګه چې مخکينيو بحثونو کې روښانه شوه په هغه وخت کې علوم په نقلي او عقلي برخو وېشل

شوي وو، خوشحال هم د خپلې زمانې د علومو لپاره همدې ته ورته وېش باندې قايل دی او د يوه عالم لپاره يې څوارلس علوم شرط ګڼلي چې په دې سره هغه عالم او فاضل بلل کېږي او که په دې علومو کې تبحر پيدا کړي، د هغه درجه لا لوړيږي او «عالم العلماء» بلل کېږي چې د نن ورځې له «علامه» له لقب سره ښايي سمون ولري. که چا به پر همدې علومو برلاسی درلود، نو به هغه په همدې القابو متصف کېده، البته زمونږ د هغه وخت په علمي چاپېريال کې ښايي يو چا دې ټولو علومو ته لاسرسی نه وي پيدا کړی، نو همدا ده چې په ديني علومو کې منسلکو اشخاصو ته ښلاښل القاب کارول شوي دي، لکه مولوي، ملا، اخوند او په اوس وخت کې خو د شيخ القرآن والحديث يا شيخ القرآن او يا شيخ الحديث، مفسر او فقيه القاب هم کارول کېږي.

٢-٥-٧. ديني عالم شاعر يا ليکوال کېدای شي؟

يوه پوښتنه راولاړېدای شي چې آيا ديني عالم شاعر او يا ليکوال کېدای شي که نه؟ د ليکوال کېدو په اړه خو يې هيڅ شک نه پيدا کېږي، ځکه د ديني عالم سروکار له تعليم، تحصيل، مطالعې او کتاب سره وي، نو زمونږ اکثريت ديني عالمان ليکوالان تېر شوي او ځينو يې پياوړي قلمونه لرلي او برجسته ليکنې يې کړې دي. پاتې شوه د شاعر کېدو په اړه. اسلام شعر او شاعري ته په ښه سترګه کتلي، خو په دې شرط چې له اسلامي اصولو او اساساتو سره ټکر ونه لري او د اسلامي ادبياتو له مشخصاتو سره برابر وي. په تېرو زمانو او هم په معاصر پېر کې په سلګونو ديني علماء لرو چې شاعري يې کړې ده.

دا چې يو څوک ديني عالم وي، نو هغه ښه شاعر او ښه ليکوال کېدای هم شي، ځکه د هغه د فکر او علم دايره پراخه وي او هغه څه ليکي او وايي چې په مطالعې سره يې د خلکو د دنيوي او اخروي ژوند د نېکمرغۍ لامل کېږي چې همدغه بيا د «اسلامي ادب» اساسي محور دی. مونږ په تېرو زمانو کې ګڼ داسې ديني عالمان لرو چې شعرونه يې ويلي او د ديني علومو د لرلو ترڅنګ شاعران وو، دلته د څو تنو يادونه کوو.

امام شافعي رحمه الله چې لوی امام تېر شوی دی، شعر يې ويلی، يوه بېلګه يې دا ده:

دَعِ الأَيّامَ تَفعَلُ ما تَشاءُ — وَطِب نَفساً إِذا حَكَمَ القَضاءُ

وَلا تَجزَع لِحادِثَةِ اللَيالي — فَما لِحَوادِثِ الدُنيا بَقاءُ

وَكُن رَجُلاً عَلى الأَهوالِ جَلداً — وَشيمَتُكَ السَماحَةُ وَالوَفاءُ

وَإِن كَثُرَت عُيوبُكَ في البَرايا — وَسَرَّكَ أَن يَكونَ لَها غِطاءُ....(الهاشمي، ١٤٣١ق)

شیخ الاسلام ابن تیمیة (٦٦١ - ٧٢٨ هـ.ق) چې یو فقیه، مجتهد، محدث او مفسر و، شعرونه یې ویلي چې یو یې دا دی:

أَنَا الْفَقِيرُ إِلَى رَبِّ الْبَرِيَّاتِ أَنَا الْمُسَيْكِينُ فِي مَجْمُوعِ حَالَاتِي
أَنَا الظَّلُوم لِنَفْسِي وَهِيَ ظَالِمَتِي وَالْخَيْرُ إِنْ يَأْتِنَا مِن عِنْدِهِ يَأْتِي
لَا أَسْتَطِيعُ لِنَفْسِي جَلْبَ مَنْفَعَةٍ وَلَا عَنِ النَّفْسِ لِي دَفْعُ الْمَضَرَّاتِ
وَلَيْسَ لِي دُونَهُ مَوْلًى يُدَبِّرُنِي وَلَا شَفِيعٌ إِذَا حَاطَتْ خَطِيئَاتِي(الطيار، ١٤٤٣ق)

ابن قیم الجوزیه (٦٩١–٧٥١ هـ.ق) چې روحاني شخصیت و، د شعرونو بهلګې یې پاتې دي، لکه:

بِاللهِ مَا عُذْرُ امْرِئٍ هُوَ مُؤمِنٌ حَقًّا بِهَذَا لَيْسَ بِاليَقْظَانِ
بَلْ قَلْبُهُ فِي رَقْدَةٍ فإذَا اسْتَفَا قَ فَلِيسُه هُوَ حُلَّةُ الكَسْلَانِ
تَاللهِ لَوْ شَاقَتْكَ جَنّاتُ النَّعِيـ ـمِ طَلَبتَهَا بِنَفَائِسِ الأثْمَانِ
وَسَعَيْتَ جَهْدَكَ فِي وِصَالِ نَوَاعِم وَكَوَاعِب بِيضِ الوُجُوهِ حِسَانِ(ابن قيم الجوزية، ١٤٤٢ق)

دغه راز مولانا عبدالرحمن جامي او مولانا جلال الدین محمد بلخي د فارسي ژبې پياوړي شاعران تېر شوي چې د شعر دیوانونه یې په میراث پرېښي دي. د دیوبندي مسلک مشران عالمان، لکه مولانا رشید احمد ګنګوهي، مولانا اشرف علي تهانوي، مولانا محمودالحسن یا شیخ الهند، مولانا حسین احمد مدنی هم شعرونه ویلي دي چې بهلګې یې دا دي:

ما را غرض ز مسجد و میخانه تو یی
دلګیرم از این هر دو، دل خانه تویی (مولانا رشید احمد ګنګوهي)

ما را به غیر عشق تو کاری دیګر نبود
هر جا نظر افګندم روی تو دیدم (مولانا اشرف علي تهانوي)

دلم ز قید نفس و هوا رها ګردد
اګر به دام محبت تو در افتد (مولانا محمود الحسن یا شیخ الهند)

نحنُ قومٌ لا نری الموتَ سِوی
سُلَّمٍ للمجدِ أو بابًا لنجاةِ (مولانا حسین احمد مدني)

لیکوال نافع همت کاږي، د پښتو ادب د کلاسیکې دورې شاعرانو کې کابو اتیا سلنه یې دیني عالمان

دي او شمېر يې سلګونو ته رسيږي(همت، ۲۰۲۶م، https://www.facebook.com). ځينې شاعران ادیبان چې د مذهبي او يا هم اخلاقو فکري اثبات کولای شي، نظريه يې پخه راځي، دومره پخه چې ښايي د وخت او ځای په بدلون سره هم کمزورې نه شي(سالک، ۲۰۱۳م، ۶۳ مخ).

د دې رسالې راتلونکي بحثونه د دې ادعاء ثبوت دی چې زمونږ پخواني شاعران اکثريت يې ديني پوهان وو او په ديني موضوعاتو کې د پوره مطالعې خاوندان وو.

دريم څپرکی

کړنلاره او مواد

په دې څپرکي کې د دې څېړنې پر کړنلارې او موادو خبره شوې ده.

۳- ۱. کړنلاره (میتود)

په دې څېړنه کې کیفي تحلیل ته اړتیا لیدل کېږي چې په کې هغه شاعران او لیکوال په نښه شوي چې دیني علماء دي او بیا یې د خدمتونو جاج اخیستل شوی او تحلیل شوي دي.

د څېړنې په لومړیو کې هغه منابع چې پښتانه لیکوال او شاعران په کې پېژندل شوي او هم یې پر آثارو خبرې شوې دي، پلټل شوي او په نتیجه کې د یوه شاعر یا لیکوال کره لنډه معرفي غوره شوې او بیا یې آثار ښودل شوي او شنل شوي دي.

په دې څېړنه کې تر ډېره کوښښ شوی چې له لومړي لاس منابعو څخه استفاده وشي او په ځینو مواردو کې قلمي نسخو ته مراجعه شوې او له هغه ځایه د یوه شاعر او لیکوال د متن کره او اصلي بېلګه را اخیستل شوې ده.

په ځینو آثارو کې چې د یوه شاعر یا لیکوال د زوکړې او مړینو د نېټو او آثارو په باب خبره شوې او له ځینو نورو آثارو سره په ټکر کې وو، په دې څېړنه کې کوښښ شوی چې دغه ټکرونه له منځه یوړل شي ترڅو د هر شاعر او لیکوال حق په خپل ځای ادا شي. په دې کې څېړنه کې ټول هغه پښتانه شاعران او لیکوال چې په افغانستان، پښتونخوا او نورو سیمو کې اوسېدلي او آثار یې لیکلي، د هر یوه ادبي او قلمي خدمتونه د هغوی د آثارو او کلامونو په رڼا کې جوت شوي دي.

په ټوله کې دغه څېړنه د توصیفي-تحلیلي میتود پر اساس مخ ته وړل شوې ده.

۳- ۲. مواد

دا څېړنه په دویمې ادبي دورې پورې په اړوندو دیني علماوو او د هغوی پر آثارو تمرکز لري، د دوی

په اړه مواد په چاپي آثارو، خطي نسخو او مقالو کې موجود دي، نو د دې څېړنې مواد چاپي او خطي آثار دي چې تر ډېره په کې له همدې او ډېر کم په کې له علمي- څېړنيزو مقالو او څو ځايه په کې له انټرنټي باوري موادو استفاده شوې او بيا تحليل او شنل شوي دي.

۳- ۲- ۱. امکانات

۱- د پښتو ادب تذکرې او ادب تاريخونه چې په دې کې هغه کسان په نښه شوي چې په دويمې دورې پورې اړوند دي او ديني علماء دي.

۲- خطي نسخې. د ځينو شاعرانو او ليکوالو هغو خطي نسخو ته لاسرسی شوی چې د علومو اکاډمي په کتابتون کې خوندي دي.

۲- د هر شاعر او ليکوال د کلام بېلګه: په دې کې د هر شاعر د کلام داسې بېلګې انتخاب شوې چې ديني مفهوم په کې وي او يا دا چې غنايي اړخ ولري.

۳- ۲- ۲. محدوديتونه

د دې څېړنې په وخت کې لاندې محدوديتونه شته:

۱- د اسلامي ادبياتو په اړه په پښتو ژبه څېړنه نه ده شوې.

۲- د ځينو شاعرانو او ليکوالو د ژوند په تېره د زوکړې کره نېټې نه دي معلومې.

۳- يو شمېر داسې شاعران او ليکوال شته چې د کلام نمونې يې کمې دي او يا تر اوسه پورې کمې موندل شوې دي.

۳- ۲- ۳. اخلاقي مسايل

د دې څېړنې پر مهال اکاډمیک اخلاق او نورمونه په نظر کې نيول شوي چې دا دي:

۱- کوښښ شوی چې اصلي باوري منابعو ته لاسرسي پيدا شي.

۲- د کلام بېلګې په پوره امانتداری را اخيستل شوې دي.

۳- د ټولو مأخذونو يادونه شوې او د APA مأخذ ورکولو سيستم اووم ايډېشن کارول شوی دی.

۴- د تحليل پايلې اصلي دي او د نورو د شننو تکرار نه دی.

څلورم څپرکی

د څېړنې موندنې

د دې څېړنې د اوټلاین مطابق لومړی د پښتو په دویمه ادبي دوره کې د دیني علماوو د منظومو آثارو پېژندنه او تحلیل کېږي، بیا د پښتو په دویمه ادبي دوره کې د دیني علماوو د منثور آثارو پېژندنه او تحلیل کېږي او ورپسې د پښتو ادب د دویمې دورې په بڼاینه کې د دیني علماوو رول څرګندېږي او په وروستیو کې پایله، وړاندیزونه او مأخذونه راوړل شوي دي.

۴- ۱. د پښتو په دویمه ادبي دوره کې د دیني علماوو د منظومو آثارو پېژندنه او تحلیل

د پښتو ادبیاتو دویمه ادبي دوره د آثارو د کمیت او هم کیفیت له مخې غني او کمسارې دوره ده چې شاعرانو په کې د خپل ذهن او مافي الضمیر د اظهارولو لپاره د شعر او نظم په مختلفو قالبونو کې آثار پنځولي دي. د دوی ترمنځ داسې اشخاص هم وو چې د دیني عالم اطلاق پرې کېږي او یا دا چې د اثر منځپانګه یې پر دې دلالت کوي چې پنځګر یې د اسلام د دین پر اساساتو پوه او آګاه شخص و. دوی د قلم له لارې د خپل وخت خلکو، ټولنې او هم راتلونکو نسلونو ته درنه پانګه په میراث پریښې ده. دا چې مور ځنګه پوه شو چې دوی خپلو خلکو او ژبې ته خدمت کړی، هغه د هغوی له قلمي زیارونو څخه معلومېدای شي. پرته له دې په دې اړه حکم کول به ناشونی وي، ځکه په همدې زماني مقطع کې به داسې دیني عالمان وو چې په خپل وخت کې دیني عالم یا دیني مراجع وو، خو لیکلی څه به نه لري، نو هغوی به په خپل وخت کې د اجر و ثواب ګټونکي شوي وي او هم به یې دیني مسؤولیت ادا کړی وي، خو دا چې لیکلي څه ترې نه دي پاتې، نو د هغوی یادونه زمور په تاریخونو کې نه ده شوې او یا که شوې وي، یواځې د نوم پر یادولو یې بسنه شوې ده. نو همدې ټکي ته په پام سره، لاندې د هر شاعر د ژوند مختصر حالت بیانولو ترڅنګ د هغوی د دیني زده‌کړې او علمي مستوا او هم لیکلیو آثارو جاج اخیستل لازمي دي، ترڅو یې په رښا کې پوه شو چې یاد شوي شخص ادب او

ژبې ته کوم ډول خدمت کړی دی.

۴- ۱- ۱. د ديني علماوو منظوم آثار

د پښتو ادبياتو دويمه دوره د لسمې پېړۍ له اواسطو پيليږي، نو په همدې دوره کې د ديني علماوو له خوا ايجاد شوي آثار او هم يې د ايجادګرو پېژندګلوي لټه کوو ترڅو خپل مطلوب ته په کې ورسيږو، پيل له لسمې پېړۍ کوو.

په لسمه هجري پېړۍ کې **علي سرور لودي** عالم او عارف دی چې خواږه شعرونه يې ويلي او پټې خزانې يې د شعر يوه نمونه تر موږ را رسولې ده. **مېرمن نېکبخته** د دې پېړۍ شاعره وه چې پښتو شعر يې د وعظ او ديني نصيحت لپاره ويلی او د «*ارشاد الفقراء*» په نامه يې وعظيه کتاب کښلی او دې روش بيا په را وروسته پېړيو کې دومره وده وکړه چې شعر په مطلق ډول د ديني تبليغ لپاره استعمال شوی او د شعريت ټولې ښېګڼې يې له لاسه ورکړي، خو د مېرمنې نېکبختې شعر سربېره پر دې چې وعظ او نصيحت دی، پوخ شعريت هم لري او يوه نمونه يې پټې‌خزانې خوندي کړې ده. **شيخ محمد صالح الکوزی** د دې دورې بل صوفي او متقي شاعر دی چې د شاګردانو او مخلصانو لويه حلقه يې درلوده او د ده اشعار او اقوال به يې ليکل او د مينې جهان يې هيڅکله په څوکۍ او منصب نه ورکاوه. **شيخ بستان بړېخ** د دې پېړۍ په وروستيو کلونو کې د «*بستان الاولياء*» په نامه د پښتنو صوفيانو او روحانيونو او ويناوالو تذکره وکښله او د تذکره ليکنې دود يې وروزه، ده عرفاني او عشقي شعرونه درلودل او ملي بدلو ته يې وده ورکړه. **شيخ قاسم** هم د دې پېړۍ په وروستۍ برخه کې د «**تذکرة الاولياء**» په نامه کتاب کاږي او د پښتنو اولياوو او ويناوالو ويناوې په کې خوندي کوي. د **الله يار** «*تحفه صالح*» د دې پېړۍ بل ادبي سوغات دی چې نوموړي مؤلف د خپل استاد شيخ محمد صالح الکوزي احوال او اشعار او د ځينو نورو شاعرانو ويناوې په کې راوړې دي(رفيع، ۱۳۹۸ل، ۲۶- ۲۷ مخونه). د دې اشخاصو يادونه شوې خو آثار يې تر اوسه پورې لا موږ ته نه دي رسېدلي.

له لسمې پېړۍ مخکې نهمه پېړۍ کې د رابعه په نوم عالمه او متدينه مېرمن وه. په اړه يې راغلي چې **رابعه** په نهمه هجري پېړۍ کې د افغانستان فاضله، عالمه او شاعره مېرمن وه. دغه بزرګواره مېرمن د بابرشاه په عهد (۹۱۰- ۹۳۷هـ.ق) کې په کندهار کې اوسېده. د «پټه خزانه» مؤلف يې رباعي ثبت کړې ده:

آدم يې مخکې وته راستون کا　　په اور د غم يې سوی لړمون کا

دوزخ يې روغ کا پر مخ د ځمکې نوم يې د هغه دلته ښلتون کا

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۸۴ مخ)

سره له دې چې نوموړې د پښتو ادبياتو د دويمې دورې نه اړوندېږي، خو د پورتنۍ مېرمن نېکبختې په څېر يوه عالمه ښځه په خپله وخت کې تېره شوې ده.

پير روښان (۹۲۵ يا ۹۲٦ - ۹۸۵هـ. ق) چې په لسمه پېړۍ کې اوسېدلی، ستر مذهبي مبلغ او مبارز و، په پښتو نثر يې ليکنې کړې دي، خو ترڅنګ يې ښايي شعرونه هم ويلي وي.

د حالنامې د مؤلف په استناد چې وايي: (د پير روښان په پښتو ژبه کې قصيدې، غزلونه، رباعی‌ګانې، قطعې او مثنوي‌ګانې جوړې کړې دي) باور لرو چې **پير روښان** به د پښتو د شعر په برخه کې دغه ټول اقسام لرل، خو متأسفانه حالنامې يې د پښتو اشعارو ښلګې نه دي را اخيستي. دا يواځې حالنامه نه وايي چې ګنې پير روښان شاعر و، بلکې د پير روښان رقيب اخوند دروېزه هم په خپل مشهور کتاب (مخزن الاسلام) کې پير روښان شاعر بللی دی. نو په دغو دليلونو سره دا يقيني کېږي چې پير روښان د شاعرۍ په ډګر کې هلې ځلې کړې دي، خو د ده د اشعارو کافي ښلګې زمونږ لاس ته نه دي راغلي، يواځې د ده ډېر مهم پښتو اثر زمونږ په لاس کې شته چې د ديني احکامو همدغه رساله (د علم رساله) ده(شينواری، ۱۳٦۴ل، ر-س مخونه).

«*د علم رساله*» د بايزيد روښان رساله ده چې په ۱۳۵۵هـ.ش کال د دوست‌محمد شينواري په سريزه، تحليل او لغت شننه د «روښاني رساله» په نامه د آفسېټ په بڼه خپره شوې، خو پر ۱۳٦۴هـ.ش کال همدغه اثر بيا «د علم رساله» په نامه په اوسني ليکدود چاپ شو. زلمی هېوادمل د دې رسالې د نوم په اړه ليکي: د دې رسالې نوم «تذکره» ده. سره له دې چې دا رساله «تذکره» ګڼل شوې خو د دې بيت: دا تذکره د علم رساله نومينه

پر بنسټ يې د دقيق نامه په اړه نور غور ته هم اړتيا ليدله کېږي. په دې رساله کې ديني احکام او ځيني فقهي او عرفاني مسايل په نظم بيان شوي دي(احمدزی، ۱۴۰۲ل، ۱۳۸ مخ). په دې تذکره کې د مسلمانۍ د پنځو بناوو شرح راغلې او د اوداسه، لمانځه، تيبانه، روژې، زکات او حج خبرې يې په کې کړې دي او د سلوک مقامونه يې ښوولي دي. دوست شينواري باور درلود چې بايزيد دا رساله تر خير البيان دمخه نظم کړې ده(هېوادمل، ۱۳۸۵ل، ۷ مخ). د دې رسالې ښلګې دا دي:

د خدای استاوځی مې يو مرګ دی باور کاڼی ناګاها به درشينه

أَيْنَمَا تَكُونُواْ يُدْرِككُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ

سړی دې و خپل چارې وته نظر که　　چې مشغول له کومې چارې دینه
په هر چار کې چې سړی مومي　　مرګ به د هغو چارو ګواهي لینه
د دین چار په اخلاص کاندې　　بې اخلاصه به نور چار نه قبلیږینه

آیت: فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ

د دین د دنیا چارې دې څرګندې　　تاسې مې پسو زده کړي دینه

آیت: تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَالآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى...

بله بېلګه:

د اودس بیان به وکړم　　چې سړی (یې) زده کوینه
چې له اودسه یې پوښتینه　　بل ځواب یې کړای شینه
دا سړی دې باور کاندي　　چې بې اودسه نمونځ مطلق نه شینه
دا اودس دې څلور ځنسه　　که د چا په باور شینه
فرض، واجب، سنت دی　　څلورم دې مستحب ګڼینه

د نمانځه د سجده تلاوت دپاره فرض دی او چې قرآن ښغلافه واخلینه

واجب دی د هغه دپاره　　چې د کعبې طواف په کړینه
سنت دی د خوب د کتاب دپاره　　او چې زیارت د ګورستان کړینه
او چې په مزدک کې ننوزي　　پنځم چې قرآن په یاد لولینه....

(روښان، ۱۳۶۴ل، ۲، ۴۲ مخونه)

«*فرحت المجتبی*» د بایزید بله کوچنوټې منظومه رساله ده چې نظمونه یې لکه د بایزید نور نظمونه د خوند نه دي او ماتې ګوډې لري. په دې رساله کې که تکراري بیتونه حساب شي نو د رسالې ټول بیتونه ۵۱ کېږي. دا رساله د روښاني لارې کوچنی او لنډ لارښود غوندې دی چې د لارې عمده ټکي په کې امام الطریقه په دې نیامت راوړي او رانغښتي دي چې د دې لارې طالب ډېر ژر او په لږو الفاظو او جملو کې د دې طریقې له ځینو اصولو او ضوابطو سره اشنا شي(هېوادمل، ۱۳۸۵ل، ۸، ۱۰ مخونه).

دا رساله داسې پیل شوې ده:

میا روښان ویلي دي په عنایت د الهي　　زه به دربیان کړم یو څو رباعي

هر چې پې کړده که شناخت يې پيدا شي　　کړده په اخلاص وکا که څوک يې پتېيي
څو عالم تېر شوی دی لا به پسې ځي　　په مرګ به واړه ومري څوک دې نه کا نامیدي

پای:

چې روح بيا مومي د خدايه قراري　　خداييي رحمت به واړه دی له خپسر ګڼي
ميا روښان ويلي دي دا رساله مې فرحت المجتبی　　هر چې د کړده دپاره زده کا د ښو اثر بې و زړه ته وريشي
څو عالم تېر شوی دی لا به پسې ځي　　په مرګ به واړه ومري څوک دې نه کا نامیندي

(روښان، ۱۳۸۵ل، ۲۳، ۳۰ مخونه)

د دې پېړۍ روښاني ويناوال پر بايزيد روښان سربېره ارزاني خويشکی، ملا عمر خويشکی، علي محمد مخلص، واصل او ځينې نور دي.

د بايزيد انصاري خليفه **ارزاني خويشکی** چې په ملا ارزاني هم شهرت(عرفان ختک، ۲۰۱۱م، ۱۲۰ مخ) لري، لوی عالم، شاعر او ليکوال او مفکر و. سړبن او په سړبنو کې خويشکی او په خويشکو کې زيرزی و. دی د ۹۲۹هـ.ق کال په شاوخوا کې په پښتونخوا کې زېږېدلی او بيا د خويشکو په يوه لوی لېږد کې د ده کورنۍ د هند قصور ته تللې او هلته لوی شوی و. نوموړي د وخت له دود سره سم ديني زده‌کړې وکړې، د تصوف مطالعه يې وکړه او بېرته هېواد ته راستون شو، د هېواد له ملي مبارز بايزيد روښان سره ملګری شو او د روښاني مبارز تصوف بنسټ يې کېښود. ارزاني چې يو ښه شاعر او ليکوال و، د روښان د تصوف اته‌ګوني مقامونه يې په ډېر فصاحت، بلاغت او قدرت توضيح، تشريح او تفسير کړل. دی د پښتو لومړنی شاعر دی چې د شعرونو بشپړ ديوان يې په لاس کې دی، د ده ديوان تر ۱۲۵ زياتې غزلې لري چې ټول د يو زر بيتونو شاوخوا کېږي، د يو زر شاوخوا څلوريزې لري چې د بيتونو شمېر يې دوه‌زره کېږي. هغه د پښتو روان نثر يوه کوچنۍ رساله لري چې ۱۴ مخه ده. د ده د ټولې ادبي پانګې انتقادي متن «د ارزاني خويشکي کليات» په نامه د ډاکټر پروېز مهجور خويشکي له خوا تهيه او د پښتو اکېډيمۍ له خوا په ۲۰۰۵م کال په ۱۱۸۳ مخونو کې خپور شوی دی. د ارزاني په ديوان کې داسې شعرونه شته چې د ويلو نېټه يې تر ۱۰۱۰هـ.ق کال پورې کېږي خو د ده قبر چې اوس اوس د هند په پټنه کې موندل شوی، هلته د ده د قبر پر ډبرليک د ده د وفات کال ۱۰۲۸هـ.ق ليکل شوی چې په دې ترتيب د سلو کلونو شاوخوا يې عمر کړی او اوس يې زيارت د عقيدتمندانو مرجع او

ملجا دی(آریانا دایرة المعارف، ١٣٨٦ل، ٣٠٥ مخ).

ملا ارزاني عالم او فاضل شخصيت و او پر پښتو سربېره د عربي، پارسي او هندي پوهه يې لرله. د عرفان پر رموزو او اسرارو يې عبور درلود، د قرآن او حديثو اسلامي علوم يې لوستلي وو او په تصوف کې د ده اصطلاحي ژبه د دې ښکارندوی ده چې د عقلي، نقلي او معرفت د علومو ماهر و(ناګار، ١٣٩٠ل، ١٥٧ مخ). خو ډاکټر مهجور خوښکی د ځينو څېړونکو دا خبره نه مني چې ګوندې ارزاني پر څلورو ژبو شاعري کړې ده؛ هغه دغه يوه غلط فهمي بولي چې د ارزاني له ځينو شعرونو نه پيدا شوې ده، لکه:

د فقير پښتو ديوان دی　　دا ديوان حقاني خوان دی
دی رښته په څلور ژبو　　دی بيان په څو الوان دی

ارزاني خپل شعر ته د څلورو ژبو ريخته وايي. پخوانيو شاعرانو به له دوو يا ډېرو ژبو څخه مخلوط او ګډ کلام ته رښته وايه. ده خپله وينا د څلورو ژبو رښته بللې ده(ناګار، ١٣٩٠ل، ١٦٠، ١٦١ مخونه). ارزاني په پښتو ژبه منظوم او منثور آثار ليکلي چې دغه لاندې کتابونه يې معلوم دي:

١) *د پښتو اشعارو ديوان*: د شعر د شکلي اقسامو له پلوه غزل، قصيده او رباعي په کې شته او د شعر له معنوي اقسامو څخه د ده په ديوان کې برجسته شعري ډول الفنامه ده. يوه الفنامه يې د قصيدې په چوکاټ کې ده او بله د رباعيو په کالب کې ده. دی په پښتو کې لومړنی شاعر دی چې الفنامې يې ويلې دي.

٢) *بې نومه رساله*: د ارزاني له خطي ديوان سره مله يوه پنډه منظومه رساله يا د رسالو مجموعه هم شته چې دغه رسايل ټول د رباعياتو په کالب کې نظم شوي دي. په دې رباعيانو کې ديني او عرفاني مسايل او ځينې حکايات ليدل کېږي. ارزاني د پښتو ادبياتو په تاريخ کې لومړنی سړی دی چې د رباعيانو په کالب کې يې پرله پسې مطالب راوړي دي.

حکايت رسول: دغه اثر هم د رباعياتو په کالب کې نظم شوی او د حضرت پيغمبر ﷺ د يوه خوب قصه په کې راغلې ده. رساله داسې پيل شوې ده:

اې د آدم زويه ورځ به دريشي غه لويه　　که ته غه خواري ووينې ته به ببل شې له خپله زويه

٣) *د ارزاني منثوره رساله*: ارزاني د روښان پير د نظريو په تشريح او تفسير کې منثوره پښتو رساله هم لري چې خطي نسخې يې ليدلې شوې دي. نثر يې مسجع نه، بلکې روان دی چې د لسمې هجري

پېړۍ له شرایطو او غوښتنو سره برابره یې لیکلې ده. [د دې رسالې تفصیل په راتلونکي بحث کې شته].

٤) *مرآة المحققین*: عرفاني اثر دی چې په پارسي ژبه دی او د روښانیانو فکري اغېزې په کې ښکاري. دا اثر نه دی لیدل شوی، خو اقتباسات یې په حالنامه کې راغلي دي. [په دې اثر کې د پند په بڼه د تصوف اسرار او رموز بیان شوي دي].

۵) اخوند دروېزه په خپل کتاب (تذکرة الابرار والاشرار) کې لیکي چې ملا ارزاني تېز فهم، فصیح او زیرک سړی و، په ځلورو ژبو پښتو، پارسي، عربي او هندي یې شعر وایه او د «*چهار رما*» په نامه یې هم یو اثر لیکلی دی چې دا اثر هم تر اوسه نه دی لیدلی شوی(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۹۷، ۹۸ مخونه). د یادولو ده چې په «د پښتو د نثر ړومبۍ نخښې» اثر کې د ارزاني د *چار رساله* په نامه په ځلورو ژبو د یوه کتاب یادونه شوې ده(عرفان خټک، ۲۰۱۱م، ۱۰۹ مخ). د ارزاني یوه رساله «*چهار ما*» ځینو څېړونکو «*چهار زبان*» بللې. شاه‌حسین (د ارزاني دیارلسم ځایناستی) وایي: «د ارزاني له دیوان پرته یې یوه *سفرنامه* او بله د *مرآةالمحققین* رساله وه، خو هندي څېړونکیو پرې د نورو نومونه ولیکل او خپاره یې کړل. یو کتاب یې د بسم الله تفسیر و چې له مورِ سره نشته، خو ځینې برخې یې چاپ شوې دي»(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۱٦۰، ۱٦۵ مخونه).

«حکایت رسول» د ارزاني روښاني رساله ده چې د ځلوریزو په کالب کې یې نظم کړې ده. د دې رسالې بشپړه بڼه په وړمې مجله کې شته چې پیل یې داسې دی:

اې د آدم زویه — ورځ به دریشي غه لویه
که ته غه خواري ووینې — ته به ښل شې له خپله زویه
د قیامت سختې مشکلې — بنده پروت ولې غافلې
هسې سخت ساعت به درشي — چې به غرونه کاندي ولې

پای یې داسې دی:

ارزاني ولې نه ژاړ — خپل مقصود ولې نه غواړې
هوی ستا د عمر شپې — څوک ولاړې دي څوک ولاړې

(هېوادمل، ۱۳۵۵ل، ۷۱، ۸۰ مخونه)

دا د حضرت رسول مقبول ﷺ د یوه خوب قصه ده چې د رباعیاتو په کالب کې نظم شوې ده.

باید وویل شي چې «حکایت رسول» پر ارزاني سربېره سلیمان، صالح محمد عبدالوهاب او ملا

عبدالباقي (د ۱۲۲۰هـ.ق شاوخوا زوکړی)(رفيقي، ۲۰۲۲م، ۲۳۰ مخ) هم ليکلی دی.

د ارزاني د «بې نومه رساله» په باب راغلي چې د ارزاني تر دې ديوان وروسته په همدې کليات کې تر بسم الله وروسته يوه بله منظومه رساله هم راغلې ده چې استاد حبيب الله رفيع په (روښاني ليکنې) او استاد هېوادمل د (ارزاني د پښتو لومړنی ديوان لرونکی شاعر) په نامه رساله کې د ارزاني د بې نومه مجموعې په نامه ښوولې ده. دا رساله د استاد ښنوا د نسخې له ۱۰٦ مخ نه پيليږي او د خطي نسخې تر ۳۱۸ مخ پورې رسي. د دې منظومې رسالې عمده مطالب دا دي: حمد، نعت، ادب، مېوه داره ونه، د حسين منصور وصف، د ژوند او مړه کېدو بيان، نصيحت د اخلاص بيان، طمع، د پنج بنای مسلمان بيان، د شريعت بيان، د روښاني تصوفي لارې اته مقامات، د الله تعالی د پاک نامه يادول، د فلک د گردش بيان، د مرگ بيان او..... دا منظومه رساله گرده د رباعياتو په قالب کې بيان شوې ده(هېوادمل، ۱۳۹٦ل، ۱۳۱ مخ).

د ارزاني کليات کې د شعر دفتر، د حکايت رسول رساله او د شاعر څو نورې عرفاني رسالې راغلې دي. په عرفاني رسالو کې يوه منثوره او نورې منظومې د رباعي په قالب کې ويل شوې دي. د ارزاني کليات غزلې، قصايد او رباعياتې لري، د ديوان مضامين د پير روښان د تصوفي طريقې بيانوونکي دي، خو کله کله اجتماعي او اخلاقي موضوعات هم بيانوي(هېوادمل، ۱۳٦٥ل، ١٦٤ مخ). ارزاني خپل شعرونه په لنډ اته څپيز بحر کې ويلي دي. دی په روښانيانو کې لومړی شاعر دی چې الفنامه يې نظم کړې ده(ناگار، ۱۳۹۰ل، ١٦٠، ١٦١ مخونه).

د ارزاني آثار په فکري او موضوعي لحاظ د بايزيد روښان د افکارو او عرفاني نظرياتو تفسير او تشريح ته وقف شوي دي. ده ته د روښان د افکارو مفسر او شارح ويل کېږي. د ده کلام پر عرفاني موضوعاتو سربېره ديني او اخلاقي، حکايتي او کله‌کله اجتماعي مسايل هم بيانوي. د ارزاني اشعار د هنر مالګه نه لري، خپل قصايد، غزليات او رباعيات يې په وچه ژبه نظم کړي دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۹۸ مخ). د ده په کلام کې ډېره برخه د شرعي احکامو او د سلوک و معرفت د اسرارو او رموزو په بيان معموره ده(عرفان ختک، ۲۰۱۱م، ۱۰۸ مخ).

ارزاني د روښان د طريقت مفسر او مبلغ دی او له اتو مقامونو نيولې، د روښاني طريقت ټوله تګلاره يې په خپلو شعرونو کې راسپړلې ده. د بايزيد روښان د ادبي مکتب او فکري نظرياتي شاعری لومړی هينداره د ارزاني شعرونه دي. ملا ارزاني روښاني ښوونې او فلسفه تر ټولو ډومبی پښتو شاعری ته

راګډه کړه. بایزید انصاري ملا ارزاني هند ته ولېږه چې د روښاني طریقت تبلیغ وکړي. پټنې ته له ورتللو مخکې له کسوره، اجمیر، ډیلي، بنارس او عظیم آباد کې ایسار او په سلګونو شاګردان یې وروزل. ارزاني په بهار کې د دین له تبلیغ سره سره د «مدرسة الاسلام» په نامه مدرسه هم جوړه کړه چې تفسیر، فقه او حدیث په کې تدریسېدل. د ده ښوونې پر بهار سربېره شاوخوا سیمو ته هم خورې شوې(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۱۶۱، ۱۶۲، ۱۶۴ مخونه).

د یادولو ده چې ارزاني د ملا علي په نوم ورور لري(هېوادمل، ۱۳۶۷ل- ب، ۳۲ مخ).

میرزا خان انصاري د نور الدین زوی او د بایزید روښان لمسی و. د زېږېدو نېټه یې معلومه نه ده. دی د روښاني تحریک ډېر برجسته شخصیت و چې د بایزید روښان افکار یې په بشپړه توګه او په تفصیل سره په خپل کلام کې یاده کړي دي. میرزا د خپل تره‌زوی احداد چې د شیخ عمر زوی و، تر مشرۍ لاندې د مغلو خلاف جنګونو کې شامل و، خو وروسته بیا څه وخت د ده یو بل تربور او هم اوښی الله‌داد (چې په رشید خان مشهور و) تحریک پرېښود، نو الله‌داد او میرزاخان دواړو د وخت له حکومت سره کار پیل کړ.... میرزاخان په یوه جنګ کې له خپلو تربورانو میا داد، الله‌داد او خپل یوه زوی عبدالحکیم سره د بهادر خان روهیله تر حکم لاندې وجنګېد، په دغه جنګ کې میرزا خان انصاري له خپل زوی عبدالحکیم او تربور میاداد سره ووژل شو(کرګر، ۱۳۹۴ل، ۱۷، ۱۹ مخونه).

میرزا خان د مهابت خان د صوبه‌داریٰ پر وخت یو ځل د تیرا حاکم هم ټاکل شوی و. حالنامه لیکي: «میرزا خان د دنیا له کاروبار سره مینه نه لرله، له دې سره چې جاګیر یې درلود، خو د هغه چارې یې نورو ته سپارلې وې، تل به په ذکر و فکر او د حق تعالی پر مشاهده سرشاره و. کتاب لوستل او موسیقي یې خوښېدله او د ده په مجلس کې به علمي پوښتنې او بحثونه روان وو. له علماؤ او فقراؤ سره یې مینه او دوستي وه... میرزا خان ځان ته دروېش خطاب کاوه»(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۱۷۰- ۱۷۱ مخونه).

انصاري د مغلي واکمن په پلوی له خپل زوی سره یوځای د دکن په جنګ کې په ۱۰۴۰هـ.ق کال کې شهید شو. دی تر ارزاني وروسته د روښاني ادبي ښوونځي مشر شاعر دی چې ډېرو نومیالیو روښاني شاعرانو، لکه مخلص او دولت یې پر شاګردۍ ویاړلي دي. میرزا خان انصاري د طریقت له مخې د بایزید روښان له مخکښیو او رسېدلیو پیروانو څخه دی؛ دی هم په خپل شعر کې د روښاني طریقت بلندوی دی، خو له مشر شاعر ارزاني سره یې توپیر په دې کې دی چې دی تصوفي اصطلاحات ډېر کاروي چې دې چلند یې شاعرۍ ته عمق ورکړی او یو ډول ابهام یې رامنځته کړی چې د شعر د

کره‌کتونکو په اند په ابهام کې عظمت دی(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۱۷۱، ۱۷۳ مخونه).

د میرزا د اشعارو ژورتیا چې په طبیعي ډول یې ادبي فنون هم مرسته کوي، یوه ښکلاییزه تګلاره او رومانیت لري. د میرزا خان شاعري د ده د ژورې مشاهدې په زور له یوې خوا د تشبیهاتو، استعارو او سیمبولونو بهیر څپاندوي، فصاحت و بلاغت رامنځته کوي او له بله اړخه د هنر او فن په زور نه یواځې عرفاني اصطلاحات راسپړي، بلکې د رومانیت رنګ او خوند هم پرې شیندي. د انصاري شعر د روښاني عرفان تر ټولو شفافه هینداره ده. تر بایزید روښان او ارزاني وروسته چې د میرزا وار راغی، پښتو ژبه ستایي او له دې څخه ښکاري چې میرزا د خپل مسلکي غورځنګ ترځنګ د ژبې د پرمختیا د خوځښت هم ملګری پاتې شوی دی؛ هغه خپل طریقت او د پښتو وینا ته یو ټرون ورکوي، دی دوې موخې لري، یوه ګروهه او بله ژبه:

د مجاز د اهل څه له حقیقته　　د میرزا کلام پښتو مانا یې اور

(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۱۷۴، ۱۷۵، ۱۷۶ مخونه)

همېش خلیل لیکي: د پښتو عالمي ادب کې له ارزاني خویشکي نه پس تر اوسه د معلوماتو له مخې میرزا خان انصاري هغه شاعر دی د چا کلام چې په مکمل ډول اوس زمونږ تر لاسه شوی دی. د ده شاعري د بایزید روښان د عقایدو، تعلیماتو او پښتونخوا کې په اول ځل او هم په ډېر زور او شور تصوف کې د وحدت الوجود د نظریې ترجماني کوي(خلیل، ۲۰۰۲م، ۱۲ مخ).

کله چې پر غزل خبره کېږي، نو په دیوان لرونکو شاعرانو کې میرزاخان که مبالغه نه وي لومړنی شاعر دی چې غزل یې هم د تغزل لري او هم د یوې مفکورې او عقیدې د تبلیغ او اظهار لپاره وسیله شوی دی. میرزا سخت فلسفي عرفاني مطالب د غزل په فورم کې ارایه کړي دي. نوموړي هماغه مفاهیم او کلمات چې پارسي متصوفو شاعرانو کارولي دي، ده دقیق کارولي دي.

د میرزا شعر په فکري لحاظ دوې لارې تعقیبوي چې یوه مرکزي لاره او بله فرعي لاره ده. د میرزا د شاعرۍ روح او مرکزي مفکوره د روښان طریقې تبلیغ، انعکاس او هغې ته پرختیا او پرمختیا ورکول دي. میرزا ویلي:

د میرزا په خوله وییږم د روښان بې مثله زړه یم
د میرزا ګمان فاني شه هر چې وایي میا روښان دی
د میرزا کلام شیرین شه د روښان له برکته(کرګر، ۱۳۹۴ل، ۲۷، ۳۱ مخونه)

د میرزا د شعر بنسټیزه منځپانګه د هغه فکري او عقیدتي هغه ده. دی له هغو ګوتو په شمار شاعرانو څخه دی چې شعر او کلام یې د خپلو افکارو د څرګندولو لپاره وقف کړی دی. د تصوفي او عرفاني لیدتوګو په بنسټ ځینې پوهان میرزا وحدت الشهودي او ځینې یې وحدت الوجودي شاعر بولي. د میرزا په کلام کې د اسلامي افکارو او عقایدو تشریح او لارښوونه په کراتو شوې ده، اخلاقي درسونه وړاندې شوي دي، اسلامي ارزښتونه، د خیر او شر مسایل په ښه توګه واضح شوي دي، همدارنګه د اسلامي ارزښتونو په خوا کې په ډېره ژورتیا سره یې عرفاني مسلکي مسایل څېړلي دي(کرګر، ۱۳۹۴ل، ۳۷، ۳۹ مخونه). دولت لوانې چې له روښاني تحریک سره تړلی یو مشهور شاعر او د میرزا خان معتقد و، د میرزا خان د علمي تبحر، قلندری، دنیا نه د بې نیازۍ له اظهار سره شاعر ته د بایزید انصاري د خیالاتو، عقائدو او تعلیماتو نقیب وایي(خلیل، ۲۰۰۲م، ۵ مخ).

میرزا خان روښاني د روښانیانو په ډله کې تر ټولو مشهور او لوی شاعر دی. د ده دیوان په ځینو ځایونو کې د «*هدایة الحقیقة*» په نامه هم یاد شوی دی. د هنر په لحاظ میرزا خان تر ارزاني ځینې هنري ځانګړنې لري، اما د ده اشعار هم د هنر په جامه هومره نه دي پسوللي شوي. د ده پر دیوان پوهېدنه ګرانه خبره ده، ځکه ډېر غامض او ګران تصوفي مسایل یې په پښتو نظم کې بیان کړي دي. میرزا خان د پښتو ادبیاتو او د شرقي فرهنګ د لویو متصوفانو د آثارو ترمنځ نښتون پیدا کړی دی. د روښاني لارې او د روښاني عرفان د تبلیغ ترڅنګ یې د اسلامي تصوف عمده او اساسي اصطلاحات په شعر کې راوستي دي. د روښاني دمخنیو شاعرانو په پیروي، ده هم په پښتو الفنامه ویلې ده. د ده الفنامه د غزلو په چوکاټ کې بشپړه شوې ده. که څه هم میرزا چې څه تبلیغي او تلقیني مسایل بیان کړي دي، زیاتره یې د هنر مالګه نه لري، خو ځینې داسې غزلې او نور شعرونه یې هم په دیوان کې شته چې سړی ورته په هنري ارزښت قایلېدای شي، لکه:

چې د یار د مینې خوب په خراب زړه وړم　　بېهوده به د نور چا منت په څه وړم
خپل اشنا د یادو داغ راباندې کېښود　　د دې داغ نقش یې عین په لېمه وړم

د میرزا په دیوان کې د عرفاني مسایلو د بیان ترڅنګه اخلاقي مطالب، نصایح او عشقي خبرې او ورسره ځینې واقعاتي مسایل او مرثیه هم موندل کېږي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۰۰ مخ).

د ده د غزلې یوه بېلګه:

له دې خپله حاله څه وایم وچاته　　چې د زړه مینه له چا ده پر چا زیاته

دا زما محبت واړه په خپل يار شو اوس د يار محبت و جار ووت و ماته
له دې خپلې رضا هسې رنګ فاني شوم چې نفي معنا مې راواړه تر اثباته
کل ذرې مې و نظر ته آيينې شوې په هر څه کې يو اشنا وينم مخ راته

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۱۰ مخ)

د ميرزا خان انصاري ديوان (مشهور په هداية الحقيقت) د پوهندوی مطيع الله روهيال په سريزه، سمون او لغتنامې سره په ۱۴۰۳هـ.ش (۱۴۴۶هـ.ق/ ۲۰۲٤م) کال کې چاپ شو. روهيال ليکي چې د روښاني عصر د مقتدر او عارف شاعر ميرزا خان د ديوان انتقادي متن يې د درېيو قلمي او څلورو چاپي نسخو له مخې تهيه کړی دی.

هدايت الحقيقت چې د ميرزاخان انصاري د اشعارو ديوان دی، غزلې، قصايد او الفنامه په کې راغلي، په ديوان کې ديني، اخلاقي او تصوفي موضوعات بيان شوي او شاعر کله کله عشقي غزل هم ويلی دی. د ميرزا د ديوان خطي نسخې زياتې دي. د هغه ديوان څو ځله چاپ شوی دی(هيوادمل، ۱۳٦۵ل، ۲۱٦ مخ). د ده د ديوان اوه قلمي نسخې په برېښ او انډيا آفس کتابتونونو کې خوندي دي(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۹۱ مخ). د ميرزا خان ديوان هغه قلمي نسخه چې د افغانستان په علومو اکاډمي کې خوندي ده، د نظمولو کال يې نامعلوم او د ليکلو کال يې ۱۰۸۳هـ.ق دی، ۱٦۱ پاڼې لري او د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون شمېره يې ۱۸۴ ده. دا ديوان چاپ دی. د شعري ديوان موضوعات يې متنوع او رنګارنګ دي: عشقي، اخلاقي، تصوفي، تربيتي او نور غزلونه او نظمونه دي. پيل يې داسې دی:

نن به وکړم څو صفتَ د مولا له ارادتَ
هر فعل چه ي وينَ خالي ندی لحکمتَ(دوست، ۱۳۹۹ل، ۲۰٦، ۲۰۷ مخونه)

ميرزا خان انصاري لکه د نورو روښاني شاعرانو د خپل مسلک له فلسفې سره سره د پښتو ژبې په علمي توګه د درنولو زيار کړی او دغسې يې د خپل مرشد بايزيد روښان د تعليماتو په رڼا کې د پښتو شاعری کاروان په وړاندې بېولی دی. د پير روښان د مذهبي او ادبي تحريک په سبب د يو داسې علمي او مذهبي سبک او مکتب روزنه او پالنه وشوه چې د پښتو ادبياتو د ودې او ارتقاء اساس ثابت شو(عرفان خټک، ۲۰۱۱م، ۱۱۰، ۱۱۵ مخونه). د ده د کلام څو نمونې دا دي:

د دې نن ورځې امېد چې په فردا وړې همېشه د عذاب دروند وری پشا وړې
کل اختيار د نېک و بدو دې په لاس دی هر چې اوس درسره وړې هغه به راوړې...

که ته هسې کاملانو پورې ورشې　　دین دنیا به د نېکانو له دعا وړې

یا:

که یو څل د خدای له عشقه همخانه شې یو په یو به له عالمه بېګانه شې

له هستیه به نېستیه لره ورشې　　په دا نېست به له کل هسته یګانه شې

(خلیل، ۲۰۰۲م، ۳۳، ۳۴ مخونه)

دکتور عبدالظاهر شکېب وایي: میرزا خان انصاري د پیاوړي علمي روحاني شخصیت ترڅنګ ښه عارف او متصوف شاعر هم و، د ده په باب د اشعارو د راپاتې دیوان (چې په افغانستان او پښتونخوا کې څو ځله چاپ شوی) پر مطالعې سربېره د شاعر د خپلو هممهالو پیاوړو روښاني شاعرانو (مخلص، دولت لوانۍ، واصل او ...) او همدارنګه را وروسته کلاسیکو نوماندو شاعرانو، لکه خوشحال بابا، رحمان بابا، هجري، کاظم خان شیدا او نورو له منظومو ستاینو، یادونو او شاعرانه قضاوتونو څخه جوتیږي چې نوموړی د پښتو ادب د کلاسیکې دورې، په ځانګړې توګه د روښاني ادبي- عرفاني تصوفي مکتب پیاوړی استازی، علمي، ادبي، فرهنګي شخصیت دی. د اشعارو منځپانګه یې په واقعیت کې د حضرت روښان پیر د فکري او عقیدتي، تصوفي ــ عرفاني لارې اړوند مسایل دي چې دوی د شعر په خوړه او رنګینه ژبه بیان کړي دي(احمدزی، ۱۴۰۱ل، ۱۴۷ مخ).

دولت لوانۍ چې بشپړ نوم یې دولت‌الله دی د دادو یا داداو زوی په قام لوانۍ د پښتو تکړه او غښتلی شاعر دی. ده د خپل وخت پر دودیزو زده‌کړو سربېره په روښاني لاره کې له میرزا خان انصاري څخه فیض موندلی دی. هغه د روښاني غورځنګ په هغو وحدة الوجودي مبلغو او مقتدرو شاعرانو کې چې مرتب آثار او بشپړ دیوانونه ورڅخه پاتې دي، شپږم سړی دی. د دولت د دیوان له داخلي شهادتونو او سریزې څخه دا په ډاګه کېږي چې دی د پیرو روښان بې‌واسطې مرید و او هغه یې له نږدې لیدلی و. دولت لوانۍ د تبلیغ په لار کې د خلیفه درجې ته رسېدلی و. د دولت اشعار زیاتره عرفاني او تصوفي بڼه لري. د دولت د مړینې کال څرګند نه دی، خو اټکل کېږي چې د ده د زېږېدو نېټه د ۹۵۵-۹۶۰هـ.ق کلونو په شاوخوا کې او په ۱۰۵۸هـ.ق کال مړ شوی وي(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸۹ل، ۷۳۵ مخ).

دولت د لوانیو پښتنو په حسین‌خېلو ښاخ پورې اړه لري، مور یې وردګه ده او په خلکو کې پر شیخ دولت، دولت الله لوانۍ او فقیر دولت مشهور و. دولت د دکن په جنګ (۱۰۴۰ق) کې له رشید خان او

میرزا خان انصاري سره ملګری و، میرزا شهید او دی ټپي شو. دولت له میرزا خان انصاري څخه زده‌کړه کړې او خپل روحاني پېشوا یې بولي:

میرزا ګنج راته خپل کور وښود غني شوم ببهوده منت به ولې د بل چا وړم
محقق وحدتي کان د تصوف و په رموز یې په همه علم دانا کړم
(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۱۸۴، ۱۸۵ مخونه)

دولت د شعر دیوان لري چې په کې قصیدې، غزلې، مثنوي، رباعیات او قطعې شته. یوه الفنامه هم لري چې د رباعي په چوکاټ کې نظم شوې ده. سرمحقق زلمي هېوادمل د هند په سیمو کې د ایجاد شویو ادبیاتو ترمنځ مثنوي د دولت یو نوی ژانر ګڼي چې ترلاسه شوی دی. د دولت د شعر موضوع لکه د ارزاني، میرزا... هماغه د روښان طریقت دی چې د عرفان او سلوک پېچلي مسایل راسپړي او د ديني او مذهبي لارښوونو په رڼا کې ځینې اخلاقي موضوعات، معجزات، مرثیې او ځینې نور مطالب هم راوړي. دی روښاني اته مقامونه تحلیلوي، خو ژبه یې روانه، ساده او چسته ده. د دولت د شاعرۍ روح له سترو سلفو علماوو او شاعرانو څخه اخیستل شوی چې دی ورسره خپل ټرون داسې څرګندوي:

د دې حال ګواهان حسن، بایزید، جنید شو ملا روم، شمس تبرېز، عطار فرید دی
مغربي، سعدي، حافظ، جامي، خاقاني ارزاني، میرزا، مخلص، احمد، سعید دی

د استاد حبیبي په وینا، د دولت په تغزلاتو او قصیدو کې عرفان، اخلاق او شرعیات سره ګډ دي چې په پښتنو کې یې د سنایي د قصیدو پیرو ګڼلی شو، خو د سنایي د شعریت قوت نه لري. د دولت شاعری په پښتو ادب کې یوه لویه عرفاني پانګه ده(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۱۸٦، ۱۸۷ مخونه).

د پوهاند رښتین په وینا، دولت د تصوف ګران مسایل له میرزا څخه هم په اسانه ژبه په پښتو شعر کې بیان کړي دي. ساده او روان شعر لري او د ده د شعر له باغه د پیر روښان او میرزا د باغ بوی راخېژي(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۱۸۹ مخ). د دولت روښاني مذهبي عقیده د ده له اشعارو څخه په لاندې توګه ښکارېدای شي.

خدای:

کریم، رحیم، رحمان دی پر زمین هم پر اسمان دی

قرآن:

دواړه لاسه پرې محکم نیسه دولته قرآن پرې له اسمان دی د صمد اوږد

رسول:

چې ياري هر څوک له ده غواړي دولته　　محمد رسول د دوو کونو عميد دی

د نبوت ختم

دا صفت د پاک رسول دی　　چې ظاهر باطن قبول دی

دی خاتم المرسلين دی　　په تن پس په روح پيشين دی

په اسمان يې نوم احمد دی　　کوز پر مځکه محمد دی

د ده نور و چې عالم شو　　عرش، کرسي، لوح و قلم شو

شريعت:

شريعت رښتيا ويل د پيغمبر دي　　حذر کړه له غلا زنا له غيبتونه

پنج بنا حرام حلال پېژندګلوي ده　　عمل کړه په واړه حکم په رکنونه

مذهب:

زه «دولت» سني مسلم چاريار منمه　　هم په خدای رسول راوړی دی ايمان ما

ښه شاعري:

چې د خدای د رسول نوم په کې يادېږي　شاعري بله نور مه ګڼه تر دا ښه

(رشاد، ۱۳۹۱ل- ب، ۲۱- ۲۲ مخونه)

د ده د کلام څو نورې بېلګې چې ديني اړخونه لري، را اخلو:

ای عجب په صورت څښکله موزون يې　آيينه د حق بې‌مثله بې‌چګون يې

په في احسن‌التقويم په قرآن ياد يې　هسې نه چې نور حيوان په شانې دون يې

خدای کريم ډېر عنايت درباندې کړی　درست په لاس د قدرت روغ درون، بيرون يې

ستا په شان صورت بل نشته په جهان کې　ته انسان خبر له لوی علم لدن يې

واړه دي ستا له طفيله پيدا شوي　په تحقيق د مځکې نور، څراغ د ګردون يې

کل پرښتو ستا وبابا ته سجده کړې　دغه هسې بختور سعيد ميمون يې

په پورتنيو بيتونو کې د لاندې آيتونو مفهومونه بيان شوي دي:

﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾(التين ۴ آيت)؛ «په رښتيا چې انسان مو په ډېر ښه شکل پيدا کړ».

﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلاَئِكَةِ اسْجُدُواْ لآدَمَ فَسَجَدُواْ إِلاَّ إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ﴾(البقرة: ۳۴ آيت)؛ «(ای رسوله هغه وخت ياد کړه) کله چې موږ پرښتو ته وويل چې ادم ته سجده وکړه نو ټولو سجده وکړه خو ابليس ونه کړه».

﴿فَوَجَدَا عَبْدًا مِنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِنْ لَدُنَّا عِلْمًا﴾ (الكهف: ٦٥ آيت)؛ «دوی زما له بندګانو څخه داسې يو بنده وموند چې هغه موږ په خپله لوريښه سرلوړی کړی و او له خپل لوري مو له ځانګړې پوهې برخمن کړی و».

لدني علم چې په باطني علم هم يادېږي، ديني اصطلاح ده او هغه علم ته اشاره لري چې د معرفت لپاره زموږ ظاهري حواسو ته اړتيا نه لري. دا هغه علم دی چې د الله تعالی له خوا چاته يې چې خوښه وي، ورکول کېږي. ابن عباس وايي: لدني علم: د غيبونو اخبار علم دی.

استاد رشاد «د دولت د شاعرې روح» تر سرليک لاندې ليکي چې دولت روښاني شاعر دی، د روښانيانو د شاعرۍ روح د وحدت او يقين (باور) تبليغ او د شرک و ګومان (پندار او شک) غندنه ده(رشاد، ۱۳۹۱ل- ب، ٢٦ مخ). دغه راز د روښانيانو يقين د ايمان په قوت سره عيان ليده دي، عارف چې د توحيد مقام ته ورسي، هرې خواته چې ګوري د ﴿فَأَيْنَمَا تُوَلُّواْ فَثَمَّ وَجْهُ اللّهِ﴾ نندارە ورته برېښي او هر لور ته چې غوږ ونيسي د ﴿وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ﴾ ازانګې يې تر غوږ کېږي. دولت دغه مطلب داسې بيانوي:

د يقين په نظر يو راته ښکاره شو	له اوله چې مې څوک له نظر سل کوت
چې خبر نن له مقامه د توحيد دی	هغه کس د مکمل کامل مريد دی
له توحيده به خبر شي بې ګومانه	چې په نغوته د روښان مسکين بازيد دی
چې يقين د کاملانو په ګفت نه که	هغه لوی مشرک ګمراه، بدبخت عنيد دی
مشرکان له «نحن اقرب» خبر نه شوه	حق و هر چاته نزدې «حبل الوريد» دی

(رشاد، ۱۳۹۱ل- ب، ٦٨ مخ)

د دولت شاعري له قرآني آيتونو څخه مالامال ده، لکه:

ښه صفت د پاک يزدان دی	چې حضور په هر مکان دی
حد يې نشته په هيڅ لوري	عظيم بحرِ بې پايان دی
کل هستي له ده پيدا شوه	د جمله هستيو کان دی

نَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ رانزدې و ځان، تر ځان دی
لکه وي هسې به تل وي الآن کَمَا کان دی
روز و شب همېشه کار که کُل یَوم هُوَ فِي شَأْن دی
یَفعَل اللهُ مَا یَشَاء هر مشکل پر ده اسان دی
یو دیدن د خدای باقي شو نور کُلُّ مَنْ عَلَیْهَا فَان دی
قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّي د روح امر له سبحان دی
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۷، ۷۳ مخونه)

پورتنیو بیتونو کې پنځه ځایه آیتونه راغلي دي.

په لاندې بیتونو کې د قرآن کریم، د حضرت محمد ﷺ، څلورو خلفاء راشدینو او نورو اصحاب چې ټول عشره مبشره دي او هم د اسلام د پنځو بناوو داسې یادونه کوي:

که مؤمن یې وه یې نغوړه پاک کلام د خدای قرآن دی
چې منکر وي له قرآنه په حساب د دوزخیان دی
ډېر درود زما له لوریه پر جمله پیغمبران دی
بیا پر محمد بې حد چې راست خاتم د نبیان دی
عرش کرسي ځمکه هیڅ نه وو نه اسمان و چې عیان دی
مؤمنان د ده له نوره دی له نوره د رحمان دی
بل رحمت په جمیع یار چې په رسول پسې روان دی
ابابکر یار رښتینی سر حلقه د صدقیان دی
عمر عدل په اخلاص کا میر سرور د امیران دی
چې په شرم ښایسته و نرم‌دل غني عثمان دی
علي خدای سخي شجاع که هم ستار هم پهلوان دی
سعد، سعید، طلحه، زبیر عبیده، عبدالرحمن دی
چې بد وایي پر یارانو خارجي، رافضي نادان دی
شریعت پنځه بنیاده پرې عمل که چې نغوتان دی
نمونځ زکات، کلمه حج شو بل روزه رمضان دی(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۷۵ مخ)

د مسلمان او منافق ځانګړنې داسې بيانوي:

مؤمن رحم‌دل سخي وي　　منافق وي کم‌همته
مؤمن ښه غواړي د خلکو　　منافق بدخواه بد نيته
په مؤمن کې طعام نور شي　　منافق شي پر شهوته
مؤمن بې‌کينې بې‌طمع　　منافق ډک له غيرته
منافق رعونتي وي　　مؤمن خلاص له رعونته[1]
مؤمن راست امانت‌دار وي　　حذر که له خيانته
منافق اجتناب نه که　　له دروغ فحش غيبته
مؤمن خوښ اوسي يواځې　　لذت مومي له عزلته
منافق تنها غمګين شي　　نه سهيږي بې شرکته...
زن فرزند دنيا قبله که　　منکر شي له اخرته

د چارپای په دود يې حب وي له خوردن مجامعته

ژبه نه ژغوري په خوله کې　　منافق له اهانته
رسول ووې زه بېزار يم　　له کاذب بد ديانته
د کذاب په غاړه طوق دی　　له غضبه له لعنته
دلسوزي رحم يې نشته　　آهن دل بې شفقته
مل ګيري ياري مه غواړه　　له غافل بې مودته

په کوم کلام چې د کتاب الله او حديث رسول الله وي، هغه تر ټولو غوره ګڼي:

موافق کلام بهتر دی　　له کتاب حديث آيته
که عمل باور پرې نه کړې　　سود دې نشته له وصيته

په لاندې آيتونو کې يې قرآني مفاهيم ځای کړي دي:

مه کړه شک چې کافر نه شې　　د اسمان له انشقته
زار به کړی که ويې وايې　　خپل ميزان بې ثقلته
پر مؤمن به زېری وشي　　جنت له ازلفته

---

[1] سست کېدلو او احمق کېدلو ته وايي.

کافران به ولړزيږي　　د جحيم له شعرته
مور و پلار به پښتېدو شي　　د فرزند له قُتلَته...
په حيات پاڅه توبه کړه　　له زنا قمار سرقته
ستا توبه به نه قبلېږي　　بې ژړا انګولا رقته(لوانۍ، ۱۳۹۱ل، ۸۴، ۸۸، ۸۹ مخونه)

لومړی بيت د الانشقاق سورت لومړي آيت ته اشاره لري: ﴿إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّت﴾ دی، دوهم د القارعة سورت دې آيتونو ته اشاره لري: ﴿فَأَمَّا مَن ثَقُلَت مَوَٰزِينُهُۥ فَهُوَ فِي عِيشَةٖ رَّاضِيَةٖ﴾، درېيم او څلورم بيتونه التکوير سورت د ﴿وَإِذَا ٱلجَحِيمُ سُعِّرَت وَإِذَا ٱلجَنَّةُ أُزلِفَت﴾ آيتونو ته، پنځم بيت ﴿بِأَيِّ ذَنۢبٖ قُتِلَت﴾ او وروستي بيتونه چې توبې اړوند دي، د التحريم سورت دې آيت ته اشاره لري چې فرمايي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوبَةٗ نَّصُوحًا﴾.

بل ځای وايي:

چې د خدای رسول له امره و جار وځي　　په دوزخ کې به عذاب مومي اشد اوږد
فرښتګان به يې څکوي محکم تړلی　　په اويا ګزه زنځير د ممد اوږد
ګناهګار به يې غورزي له لرې واوري　　د دوزخ اواز وي لا زيات تر اسد اوږد
پر مالک به حکم شي د رب له لوري　　دی به کا په دار د اور سور د ممد اوږد
په توبه زاری به خلاص نه شي هغه ورځ　　سخت عذاب دی د ظالم منافق دد اوږد
چې په هره ورځ سفر که وبه رسي　　که منزل يې په کالونه وي تر صد اوږد
ونفخت فيه من امر ربي　　څکه عمر يې باقي دی تر ابد اوږد
دواړه لاس پرې محکم ونيسه دولته!　　قرآن پرې له اسمانه دی صمد اوږد

(لوانۍ، ۱۳۹۱ل، ۱۱۰- ۱۱۱ مخونه)

په لومړنيو بيتونو کې د دې آيتونو مفهوم وړاندې شوی چې الله تعالی فرمايي: ﴿خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ثُمَّ ٱلجَحِيمَ صَلُّوهُ ثُمَّ فِي سِلسِلَةٖ ذَرعُهَا سَبعُونَ ذِرَاعٗا فَٱسلُكُوهُ إِنَّهُۥ كَانَ لَا يُؤمِنُ بِٱللَّهِ ٱلعَظِيمِ﴾ (الحاقة: ۳۰- ۳۳ آيتونه)؛ «(د دوزخ مامورانو ته به وويل شي): دی ونيسئ په زنځيرونو يې وترئ. بيا دې په اور کې وغورځوئ. بيا يې نو په هغه زنځير کې چې اوږدوالی يې اويا ګزه دی وترئ. بې شکه ده پر لوی الله ايمان نه راوړ». په ماقبل الاخر بيت کې د دوو آيتونو برخې سره يوځای شوي دي چې ﴿وَنَفَختُ فِيهِ مِن رُّوحِي﴾؛ «او په هغه کې مې له خپل روح څخه پو کړ» د ص سورت ۷۲ آيت جزء دی او ﴿قُلِ

الرُّوْحُ مِن أَمرِ رَبِّيِّ﴾؛ (ووايه روح زما د رب له حکم څخه دی) د الاسراء سورت د ۸۵ ايت يوه برخه ده. په ديوان کې د لومړۍ برخې زور او زېر ناسم راغلی چې سم شکل يې همدا پورتنۍ بڼه ده. د شعر وروستی بيت دې آيت ته اشاره لري: ﴿وَٱعتَصِمُواْ بِحَبلِ ٱللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُواْ﴾ (آل عمران: ۱۰۳ آيت)؛ «او ټول سره يوځای د الله په رسۍ منګولې ولګوئ او مه سره خورېږئ».

د دنيا په اړه دولت وايي:

له دنيا وفايي مه غواړه ځوانمرده — دا وفا له هېڅا نه کاندي روی زرده
پر مومن بنديخانه په کې بندي دی — د جنت په دود څرګنده د کافر ده

(لوانۍ، ۱۳۹۱ل، ۱۲۵ مخ)

پورتني بيتونه د دې حديث شريف ښکارندويي کوي چې رسول الله ﷺ فرمايي: ﴿الدنيا سجن المؤمن وجنة الكافر﴾(الحميدي، ١٤٢٣هـ - ۲۰۰۲م) ؛ «دنيا د مؤمن لپاره زندان او د کافر لپاره جنت ده».

ستا صفت په کوم زبان وايم حميده — ای زما تر څان نږدې حبل الوريده
په رضا قضا دې واړه چارې کېږي — پر هر کار يې يفعل لما يريده

(لوانۍ، ۱۳۹۱ل، ۲۵۵ مخ)

په دې بيتونو کې ﴿حَبلِ ٱلوَرِيدِ﴾(ق سورت: ١٦ آيت) او ﴿يَفعَلُ﴾ قرآني کلمې دې چې دولت لوانۍ هغه کټ مټ راوړې دي. په (يفعل لما يريده) کې غلطي موجوده ده، په همدې عبارت قرآن کريم کې څه نشته، خو دا الفاظ دوه ځايه په کې داسې راغلي دي:

﴿وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفعَلُ مَا يُرِيدُ﴾(البقرة: ۲۵۳ آيت)؛ ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَفعَلُ مَا يُرِيدُ﴾(الحج: ۱۴ آيت).

د دولت لوانۍ د ديوان له مطالعې جوتېږي چې د نوموړي د شاعرۍ ډېره برخه د اسلام د اساساتو او د شريعت د احکامو بيانولو ته ځانګړې کړې ده. که څوک غواړي، ديني مسايل او اخلاقي موضوعاتو باندې د شعر او نظم په ژبه ځان پوه کړي، نو ښه مرجع يې همدا ديوان دی. دولت په خپله کاږي:

پر کاغذ باندې وکښکم څو ابياته — چې ثابت وي له حديثه له آياته

(لوانۍ، ۱۳۹۱ل، ۲۰۸ مخ)

الفنامه

ای کريمه ای رحيمه[1] ای رحمانه — ای ستاره ای غفار، ای سبحانه

[1] په ديوان کې (رجيمه) ليکل شوی چې ناسم دی او د (رټل شوي) معنا ښندي.

ای خالقه ای رازقه ای مالکه ای رؤفه ای معروف ای مستعانه
شپږ زره شپږ سوه آیاته د قرآن دي په هر هر آیت کې درج دي څو څو خوانه
څوارلس یې سجدې دې په لوستن کې سل و څوارلس یې سورتو بې ګومانه
د قرآن پاک کلام لوستن دپاره دېرش حرفونه تا نازل کړل له اسمانه
هر یو حرف مثال لوی ګنج دی په باطن کې پر همه خلق دې وبښ که رایګانه
د هر حرف صفت به وکښم دوه دوه بیته که قوت توفیق ته راکړې مهربانه

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۴۲۰ مخ)

په پورتنیو بیتونو کې په شکلي لحاظ قرآن کریم مختصراً شرح شوی دی.

خدای د خپل رسول دپاره راستولی اذا جاء چې په دین به د اسلام ستا ننباسم افواجا

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۴۲۶ مخ)

دې بیتونو کې د قرآن کریم د «النصر» یا ﴿إِذَا جَاء نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾ سورت ته اشاره شوې ده چې په کې الله تعالی وایي: کله چې د الله مرسته راشي او بری در په برخه شي، ته به ووینې چې خلک د الله په دین ډلې ډلې ورننوځي.

حق ګویا شنوا، بینا کړی، په همه کار یې دانا کړی
په قدرت یې خپل پیدا کړی له مني آب ځجاجا
خدای پیدا ځمکې جبل که، په دامن یې کانې تل کړ
پر اسمان باندې یې بل کړ ستوري میاشت څراغ وهاجا

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۴۲۶ مخ)

په دې بیتونو کې د (النبأ) سورت ۱۳ او ۱۴ آیتونو ته اشاره شوې چې په کې راغلي: ﴿وَجَعَلنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا وَأَنزَلنَا مِنَ ٱلمُعصِرَٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا﴾؛ «او لمر مو په هغه کې ځلېدونکی څراغ ګرځولی دی. او له اوروونکو وربښو مو تویېدونکې اوبه راکښته کړې دي».

لوانې د څلورم خلیفه حضرت علي کرم الله وجهه په مرثیه کې قصیده ویلې ده چې د ده په دیوان کې راغلې ده(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۴۹۷ مخ).

د پښتو ادب د دویمې ادبي دورې د دیوان لرونکو شاعرانو له ډلې دولت لوانی هغه شاعر دی چې چې تر ټولو ډېر د قرآن کریم له آیتونو څخه یې په خپلو اشعارو کې استفاده کړې ده. دغه راز یې د الله

تعالی، رسول الله، صحابه کرامو په ستاینه کې ډېر اشعار ویلي دي او دا په دې دلالت کوي چې نوموړی د یوه غښتلي دیني عالم په توګه په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې د پوره مطالعې خاوند و او پرې پوهېده.

واصل روښاني د کلاسیکې دورې هغه شاعر دی چې د زوکړې کره نېټه یې څرګنده نه ده، خو څېړونکو په اټکل باندې د هممهالو شاعرانو د شعرونو له مخې د لسمې هجري پېړۍ په وروستیو لسیزو، یعني ۹۸۰ یا ۹۹۰هـ.ق کې ښوولې ده.

ټول څېړونکي سره یوه خوله دي چې هغه د روښان پیر له بنګښو پلویانو او پیروانو څخه و. د واصل د زده‌کړو په اړه هم باوري اسناد په واک کې نشته، خو د ده د شعرونو له مطالعې څخه ښکاري چې د خپل وخت مروج علوم یې لوستي وي او د روښان د تصوفي لارې زده‌کړې به یې هم د همدې لارې له نورو علماوو څخه کړې وي. واصل پر خپلې مورنۍ ژبې پښتو سربېره په عربي او پارسي ژبو هم پوهېده. د دیوان او نورو آثارو له مطالعې څخه یې څرګندیږي چې د اوچتې پایې خاوند شاعر و. واصل د شعر ویلو ښه قریحه درلوده، د شعر او شاعرۍ هنګامه یې له یوولسمې څخه د دیارلسمې پېړۍ تر پایه توده وه او د ټولې پښتونخوا په ادبي کړیو کې یې شاعران او ادیبان له نامه سره اشنا وو. د ډېرو پښتنو شاعرانو په دیوانونو کې د ده یاد تر سترګو کېږي. د واصل د مړینې نېټه هم نه ده جوته. ځینې څېړونکي د هغه ژوند تر ۱۰۵۸هـ.ق او ځینې یې تر ۱۰۶۰هـ.ق پورې باوري ګڼي. واصل په بېلابېلو کالبونو، لکه غزل، قصیده او نورو کې شعرونه ویلي دي. لیکلي آثار یې دا دي:

۱- *پښتو دیوان*: په ۱۳۶۵هـ.ش کال د زلمي هېوادمل په زیار د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ او خپور شوی دی.

۲- *الفنامې*: دا اثر په ۱۳۸۸هـ.ش کال چاپ شوی دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۷ل، ۲۰۱ مخ). استاد رفیع کابل مجله کې خپرې کړې دي(بختانی. ۱۳۹۱ل، ۸۴۰ مخ).

۳- *د واصل روښاني څو شعرونه*: ۱۳۵۳هـ.ش کال چاپ.

۴- د هغه د اشعارو منتخبات هم په بېلابېلو آثارو او دیوانونو کې راغلي دي(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۷ل، ۲۰۱ مخ).

واصل روښاني د روښان په ډله کې د دیوان خاوند شاعر تېر شوی دی. د ده دیوان او الفنامه شته، دواړه چاپ شوي دي. دا دیوان یې په فکري لحاظ د روښاني تصوف تر اغېز لاندې دی او ځینې عمده

عرفاني مسایل یې په کې راوړي دي. د ده کلام سره له دې چې نور روښانیان د هنر مالګه ډېره نه لري، خو اشعار یې پوخوالی او متانت لري او لوست یې په سړي کې یو ډول خاص کشش او شور پیدا کوي. واصل هم لکه میرزا ډېر درانه تصوفي مسایل راوړي دي، خو هومره ګران او مشکل نه دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۰۱ مخ).

واصل روښاني د روښاني غورځنګ نوموتی شاعر دی. د ده په دیوان کې غزل، قصیده، رباعي، مخمس او قطعه شته، غوره عرفاني مسایل یې په کې راوړي او د ده له ویناوو سره سم یې د معرفت رموز بیان کړي دي:

د واصل کلام رموز د معرفت دی　　د شاعر په دود خبره په میزان کړم

واصل د روښاني مکتب استازی شاعر دی او هغه ادبي روایات یې په خپل شعر کې ساتلي چې د روښاني غورځنګ پخوانیو شاعرانو زمزمه کول. د ده د شعر موضوع د ګومان او شرک د تردید بیان او د وجودي وحدت دلیل دی:

هورې لمر دې د نظر یم، تماشا کړم　　دلې غوږ هورې کلام یم یا بدله

(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۱۸۹، ۱۹۱ مخونه)

واصل عارفانه شعرونه یې ویلي. د هغه شعرونه د تصوف په باریکو رموزو پسوللي دي. د شعرونو کوچنی مجموعه یې چاپ ده. دا د هغه دی:

د دنیا په زیان به چېرې راضي کېږي　　د واصل په دود زړه جمع چار پرېشانه

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۵۳۷ مخ)

د کلام بېلګه یې:

ګورم کوم دی هغه سود چې زیان یې نشته　　یا کوم زیان دی، چې د سود نشان یې نشته

د مستانو اختیار درست د ده په لاس دی　　د خوښۍ یې د اندوه مکان یې نشته

پروانه د خپلې مینې دیوانه دی　　چې په خپله رضا مري تاوان یې نشته

ښه اختیار یې په رغبت له ځانه پاس که　　کل مقصود یې د یار زیان دی ځان یې نشته...

(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۷ل، ۲۰۲ مخ)

په پښتو ادب کې دوه کریمداد نومي شاعران لري چې یو د آخون دروېزه بابا زوی او بل د روښاني غورځنګ پلوي بنګښ کریمداد دی. **کریمداد بنګښ** د پښتو او پارسي ژبې لوی شاعر بللی شو. په

پښتو شعر کې خپل نوم کریم او کریمداد راوړي، خو په پارسي کې بیا «عیشي» تلخص کوي. په غالب گومان د ۱۰۲۸هـ.ق یا ۱۰۲۹هـ.ق شاوخوا د هند په شمس‌آباد نومې سیمه کې زېږېدلی دی، ځکه دا وخت روښانیان دلته مېشت شوی وو(ناگار، ۱۳۹۰ل، ۱۹۲، ۱۹۳ مخونه).

دا کریمداد نه د اخوند دروېزه زوی کریمداد دی او نه د بایزید انصاري لمسی او د جلال الدین زوی کریمداد دی، بلکې له اشعارو یې څرگندیږي چې د بایزید انصاري ډېر کلک مرید او معتقد دی او د هغه له کورنۍ سره څه نږدې تعلق لري. (بخاري، ۱۹۶۴م، ۳۰ مخ)

د روښاني ډلې شاعر کریمداد روښاني تر ۱۰۵۶هـ.ق کال پورې ژوندی و. دی په شعر کې د بایزید روښانه یادونه کوي او د هغه د عرفاني طریقې پیرو دی. د شعرونو دیوان یې د غزلیاتو او قصایدو لرونکی دی. دا د هغه شعر دی:

د روښان روښنایي گوره کریمداد　　چې یې هیڅ نقطه پرې نښوه بې تقسیمه

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۹۹ مخ)

د بنگښ د اشعارو یو نیمگړی دیوان چاپ دی، په دې دیوان کې چې کوم عرفاني افکار بیان شوي دي، هغه د روښاني تصوف تر اغېز لاندې دي. د ده په اشعارو کې د هنر تومنه زیاته ده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۰۲ مخ). په دې دیوان کې غزلې، قصیدې او قصیده‌وزمه غزلې موندلی شو. د شعر مرکزي ټکی یې لکه د نورو روښاني شاعرانو عرفان دی او د اسلامي احکامو او اخلاقو په رڼا کې یې نور موضوعات هم منظوم کړي دي.

علامه حبیبي د ده شاعرانه ښکلا داسې راپېژني: «کریمداد په روښاني مکتب کې لوړ ځای لري، ځکه چې د ده د بیان قوت په دواړو ژبو پښتو او دري کې ځلېږي او داسې ښکاري چې د عرفان په څرگندولو او بیانولو کې خپل هنري استعداد هم لري. د ده ویناوې تشې بې‌خونده منظومې نه دي، خبرې هغه خبرې دي چې روښان، میرزا او دولت کړې دي، مگر کله چې د عرفان زر د یوه ماهر زرگر لاس ته ورغلی دی، نو ده په خپل هنري مهارت هغه داسې سینگار او جړاو کړي چې د ښکلا یو زړه‌راښکونکی انځور دی»(ناگار، ۱۳۹۰ل، ۱۹۴- ۱۹۵ مخونه).

لاندې د ده د کریمداد بنگښ د کلام بېلگو ته ځیر کېږو:

په تحقیق به تر انجامه ورسیږي　　هره چار چې په اخلاص کړې اختیاره

د رښتینې مینې قیاس کړه له پتنگه　　چې یې خپله هستي ځار کړه تر نگاره

د اشنا مینې مې زړه هسې دونیم که
چې تشبیه یې په څه نه شي بې اناره
خشک و تر به یې یکبار سره بل که
په هر زړه چې شي د عشق شعله حراره...
د کریم په دود ژاړي د زړه وینې
هر چه ببل شو د دوستانو له قطاره
یو زمان له درد و غمه نه خلاصېږم
بېلتانه مې رڼا ورځ کړ شب تاره
(کریمداد، ۱۹۶۴م، ۴۰ مخ)

فقیر نه که تمنا
بې خالقه ربنا
له مخلوق به طمع نه که
چې دیده لري بینا
د بل چا کار به پسو که
چې خپل چار قضا
ستا امېد ځینې خطا دی
دنیا نه لري وفا
چې په حق یې توکل که
کل مقصود دی مهیا
راحت چا موندلی نه دی
بې محنته بې عنا(کریمداد، ۱۹۶۴م، ۵۵ مخ)

* * *

ای زما د زړه انیسه
پناه غواړه له ابلیسه
د ده ډېر دي آفاتونه
ورسره مه شه جلیسه
څو د ده په نغوته درومې
زر به ببل نه کړي له سیسه
د همت بلندي غواړه
که په ذات نه یې خسیسه
د مزدورو مزدور مه شه
ای د لوی کلي رئیسه(کریمداد، ۱۹۶۴م، ۶۴ مخ)

* * *

فقیر کړی دا اشعار دي
دا اشعار یې ښه شعار دی
دی به تل په دنیا نه وي
دا اشعار د ده یادګار دی
دا ثنا د نور چا نه دی
د یوه مولا تذکار دی
مولا خلاص له قرب و بُعده
له یمین او له یسار دی
قرب و بُعد مې هوري دی
چې د ده وجود و شمار دی
تر یو چه زیات څه نه وي
قرب و بُعد په څه کار دی
دغه یو په کل محیط شه
هم د هر چا تر کنار دی

(کريمداد، ١٩٦٤م، ٤٨ مخ)

د کريمداد بنګښ د شعرونو منځپانګه تصوفي او اخلاقي مسايل جوړوي. انسان يې له بېځايه هيلو او خواهشاتو څخه د الله تعالی لوري ته د پناه ور وړلو او توجه کولو ته رابللی دی؛ هم يې ورته ګوتخنډنه کړې چې د ابليس او شيطان خوا مه نيسه، بلکې تر پې پناه غواړه او د همت لوری ونيسه.

ميرخان روښاني د روښاني غورځنګ *ديوان* لرونکی شاعر دی، خو ديوان يې ورک دی. د پوهاند رښتين په استناد د ده ديوان په دوشنبه کې له عبدالغني ميرزايوف سره شته. ميرزا حنان دی د ميرزا خان انصاري او دولت لوانې په ډله کې د سلوک شاعر بللی دی. زلمي هېوادمل يې د دولت د ديوان له ضميمې څخه د قصيدې څو بيتونه را اخيستي چې د «ګنج عارفين» د اصطلاح شرحه ده:

نن مې زړه له خفي ګنج که څو وينا　　مخفي ګنج دی بې شريکه بې همتا

يو عجب ښايسته نور ؤ بې مثاله　　منزه له سبز و سرخه هم بيضا

(ناګار، ١٣٩٠ل، ٢٠٣، ٢٠٤ مخونه)

د ميرخان روښاني دا اوږده قصيده ١٠٧ بيته لري. **قادرداد** د بايزيد روښان د کورنۍ وروستی شاعر دی چې ژوند يې تر ١١١٨هـ.ق پورې يقينی دی او پښتو آثار يې تر موږ را رسېدلي دي. دی د بايزيد روښان کوسی و او د روښاني لارې د تبليغ لپاره يې اشعار ويل. ځينې اشعار يې په (د خيبر ادب) او (ورکه خزانه) کې چاپ شوي دي. د قادرداد يو معاصر شاعر **ورکزی روښاني** دی چې د ده غزلې او قصيدې په «ورکه خزانه» کې چاپ شوې دي. د ده په باب اضافي معلومات نشته. خو دومره ښکاري چې د روښاني لارې پيرو شاعر و(هېوادمل، ١٣٧٩ل، ١٠٥، ١٠٦ مخونه).

کله چې په روښانيانو بحث کوو، نو دا بحث له بايزيد روښان څخه پيلېږي چې د فرهنګي فعاليتونو وخت يې د لسمې هجري پېړۍ دوهمه نيمايي ښوول شوې ده او په قادرداد او ورکزي پای ته رسېږي چې دا کسان بيا د دولسمې پېړۍ خلک دي.

د روښانو ادبي پېر ته چې کتنه وکړو، دغه مهال د نظم يوه غټه ذخيره په پښتو کې پيدا شوه چې زياتره د غټو ديوانونو او ځانګړو رسالو په بڼه دي او د پښتو منظم آثار په همدې پېر پورې اړه لري. عرفاني د يوه مسلک په توګه په همدې روښاني پېر کې پښتو آثارو او پښتو ادب ته لاره پيدا کړه، د اسلامي عرفان ژور مفاهيم او اصطلاحات په پښتو نظم او نثر کې وارد شول او پښتو ادب د اسلامي فرهنګ له يوه فکري اړخ سره اساسي نښتون پيدا کړ. هنري ارزښتونه په روښاني ادبي آثارو کې سيستماتيک

انکشاف کوي، یعني په لومړنیو روښانې آثارو کې دغه ارزښتونه لږ دي، په وروستیو کې ورو ورو زیاتیږي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۰۷ مخ).

مولانا سید عبدالوهاب په **اخوند پنجو** مشهور د سید غازي زوی دی چې د لسمې هجري پېړۍ له مشهورو علمي شخصیتونو او لارښوونکو څخه و. په ۹۴۴هـ.ق کال کې زېږېدلی او د اشنغر په «دواوه» کې لوی شوی دی. اخوند پنجو د سلطان محمد گدون (د زرم هجري کال په شاوخوا کې د اباسیند پر غاړه د مېشتو پښتنو ملي مشر) ملگری او د هغه له خوا خلیفه او مشهور پیر و چې ډېر مریدان یې هم درلودل. اخوند چالاک هم د ده له مریدانو څخه و. عبدالوهاب په ۹۹۰هـ.ق کال د پېښور په اکبرپوره کې د یوه ملي او روحاني غورځنګ بنسټ کېښود. په څلورو ژبو (پښتو، دري، عربي او هندي) پوهېده او په دې ژبو یې تألیفات لرل. ده ژباړې هم کولې. نوموړي «*کنزالدقایق*» چې مهم او مشهور دیني اثر دی، په پښتو نظم اړولی دی. ده برسېره پر دې چې د علم په خپرولو کې یې زیاتې هڅې کړې، یو ستر مجاهد هم و. په ۱۰۴۴هـ.ق کال یې له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي. قبر یې د پېښور په اکبرپوره کې دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸٦ل، ۱۱- ۱۲ مخونه). دغه مولانا د پښتونستان له مشهورو عالمانو څخه و او په همدې خاطر اخون دروېزه دی پوه عالم او پرهېزګار سړی بولي او وایي چې په پښتو، پارسي، عربي او هندي تألیفات لري. «کنز الدقائق» یې په فقه کې منظوم کړی دی. مزار یې په اخوند پنجو بابا یادیږي(رشاد، ۱۳۹۱ل- الف، ۷۹۹ مخ).

ملا الف د هوتک قبیلې له صوفیه او ادبي مشاهیرو څخه و چې د ۱۰۰۰هـ.ق کال په شاوخوا کې [د کلات] د اټغر په نواحیو کې اوسېده. دی جهان دیده او سیاح شخص و، نورو هېوادونو ته یې سفرونه کړي او علوم یې حاصل کړي دي. ملا الف هوتک په شرقي او د عصر پر متداولو علومو پوه و. د پښتو ادب تاریخ کې د یوه مستقل سبک بنسټګر و چې په ادبي حلقو کې د ملا الف په سبک شهرت لري(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۷- ۴۸ مخونه). ملا الف هوتک د خپل عصر پیاوړی عالم و. دی د هغې زمانې پښتون شاعر دی چې مورِ ته د ده د عصر د پښتو شعر لږ په لاس راځي، نو دی زمورِ د ملي ژبې له لومړیو شاعرانو څخه ګڼه شي. دی چې یو ګرځند او سړی و، په خپله وایي:

زه غریب پر بل وطن وم — پر هغه وطن مسکن وم
په دغه ملک یو ملا و — ملایانو کې اعلی و
عالي شانه وو فهم — نوم یې وو محمد عظیم

له دې ښکاري چې ده له خپل ټاټوبي ليرې په نورو ځايو کې سياحت او تحصيل کړی دی او استاد يې محمد عظيم نومېده. معلوميږي چې دی د (۱۰۰۰هـ.ق) په حدودو کې ژوندی و، ځکه ده خپل يو کتاب په ۱۰۱۹ق کې ليکلی دی.

د ملا الف هوتک دوه کتابونه ليدل شوي دي، يو «*نصيحت نامه*» دی چې په ملي لهجه يې د رباعي په ډول ويلی او دا ډول شعر د پښتو له زړو ملي سبکونو څخه دی. په دې کتاب کې ملا الف ښه اخلاق او اسلامي دودونه بيانوي او د يوه اخلاقي شاعر او مبلغ په ډول وينا کوي. بل کتاب يې «*بحر الايمان*» نومېږي. په دې کتاب کې دی د مثنوي په ډول اسلامي عقايد تر عربي عنوانونو لاندې بيانوي او دا ښکاريږي چې دی په اسلامي او شرقي علومو کې پياوړی و.

د ملا الف ويناوې ساده دي، هيڅ تکلف نه لري، له صنايعو او بدايعو څخه تشې دي. خپل مطلب په موزونو کلماتو وايي او هيڅکله د پښتو ژبې تر محاورې نه وځي. ملا الف د پښتو ژبې د ديني او اخلاقي شاعرانو مقدم سړی دی او له ده څخه بې له دغو مضامينو بل راز اشعار لاس ته نه دي راغلي. خپل کلام يې په ديني او اخلاقي او عقيدوي مضامينو کې رانغاړلی او د دغه ديني او اخلاقي سبک لومړی مؤسس هم دی. د بحر الايمان کتاب ده د ۱۰۱۹هـ.ق کال د محرم په څلورمه ورځ تمام کړی دی. د نصيحت نامې تاريخ يې نه ښکاريږي چې نمونه يې دا ده:

بل که سړی يې خو تل خلق محمدي کوه تل　　شېرين زبان ځلاند جبين دې احمدي کوه تل
په طبيعت د هر سړي برابري کوه تل　　چې حسن خلق به دې په کار سي د مېزانه سره

«بحر الايمان» چې ديني مثنوي ده، نمونه يې دا ده:

راسه واوره اې فرزنده!　　تاته وايم ارجمنده!
ته د پاک نبي پر لار سه　　د نبي پر لاره ولاړ سه
يو قدم له شرعي زويه　　بيرون مه اخله نېکخويه

(حبيبي، ۱۳۹۱ل، ۹۷، ۹۸، ۹۹ مخونه)

د ملا الف هوتک لاسته راغلي آثار هنري ارزښتونه ډېر نه لري، خو د نصيحت‌نامې اشعار يې يو څه کشش لري(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲۵ مخ).

د پښتو په زړو ادباوو کې د **امير** په نامه يو شاعر دی چې کوچنی کتاب لري او په لنډ بحر کې يې په مثنوي ليکلی دی. دا کتاب په پښتو ژبه د قرآن عظيم لنډ *تجويد* دی چې د دې علم ابتدايي قواعد او

اصول يې په ساده ژبه په کې نظم کړي دي. د دې کتاب له مطالعې څخه دا راوځي چې امير د خپل وخت د علومو عالم او په عربي کې يې ښه معلومات درلودل، ځکه چې په دې کتاب کې د تجويد مهمو کتابو ته اشاره او حواله کوي چې د ده علمي مقام څنې ښکارېږي. د امير د ژوند وخت د ده د قلمي کتاب د ليکلو له تاريخه څرګندېږي چې تر ۱۰۰۰هـ.ق کال دمخه د ۹۵۰هـ.ق په حدودو کې زېږېدلی دی. د امير تجويد په ۱۰۲۳هـ.ق ليکل شوی دی، خو د ليک له نېټې يې ښکاري چې د زرم هجري کال په شاوخوا کې زمونږ عالم شاعر ژوندی و.

د امير د تجويد يوه خطي نسخه د افغانستان په ملي آرشيف کې خوندي ده. په دې کوچنۍ مثنوي کې تر ۳۰۰ پورې بيتونه شته چې د شعر له پلوه په منځنۍ ډله شاعرانو کې ګڼل کېږي. امير د ملا الف د سبک پيرو او د هغه مکتب غوره شاګرد بللی کېږي، ځکه چې د ده شعر په ديني مسايلو کې حصر دی او بل راز اشعار يې نه دي ليدل شوي. امير د ملا الف هوتک معاصر هم دی، نو ښايي چې د دې ادبي مکتب له شاګردانو سره ګډ شوی وي. د ده په شعر کې رواني او سلاست هم ليدل کېږي(حبيبي، ۱۳۹۱ل، ۱۱۵، ۱۱۶ مخونه). معلومېږي چې امير د پښتو له کلاسيکو ادیبانو او شاعرانو څخه دی او د ديني علومو عالم و.

د افغانستان په ملي آرشيف کې د امير د تجويد خطي نسخې په اړه راغلي چې د دغې نسخې (منظوم تجويد) ناظم امير نومېږي، د کتابت نېټه يې د جمادي الاخر (۱۰۲۳هـ.ق) ده، د پاڼو شمېر يې (۳۱) دی.

پيل: قوله تعالی ورتل القرآن ترتيلا....

پای: ستا کرم ډېر دی کبيره

دربغ مه کړه له اميره

له دې نسخې پرته په پښتو آثارو کې کومه بله نسخه نه لرو چې له دې نسخې يې تاريخي قدامت ډېر وي، نو ځکه له ډېر اهميته برخمنه ده(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۲۰- ۲۱ مخونه).

د دې تجويد پيل داسې شوی دی:

تل ثنا وايم شکرونه　　د خاوند په نعمتونه

چې قرآن يې راستولی　　په سر ورباندې راغلی

چې ايمان يې له عرفانه　　مورږ ته وښوولە ايمانه

صد هزار رحمت، صلوة شه په سرور نبي لا زیات شه
چې پاک نوم یې سر دفتر دی او سردار د بحر و بر دی
هم په آل هم په یارانو په همه وو پیشوایانو(رشاد، ۱۳۵۹ل، پنځه پنځوس مخ)

بله بېلګه یې دا ده:

په نامه ستا پاکه خدایه د ګمراهو رهنمایه
په هغه دې ستا قسم دی هغه نوم چې ستا اعظم دی
ستا په کل واړه اسمونه چې ته یې وړې نومونه
ستا په واړه فرشتګانو مقربو واصلانو
ستا په کل پیغمبرانو په خاصانو مرسلانو

د قرآن عظیم د صحیح لوست په منظور د دې مثنوي محتویات ادبي او هنري ارزښتونه نه لري، خو موجودیت یې مورِ ته راښیي چې دغه وخت پښتنو علماوو د دغسې آثارو د لیکلو ضرورت محسوس کړی و او دغه مهال ښایي پښتنو د ديني علومو د زده‌کړې خواته زیاته توجه درلوده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۳۰ مخ).

اخوند دروېزه (۹۴۰- ۱۰۲۸هـ.ق) له ملا منزر، ملا مصر احمد او ملا زنګي څخه زده کړې وکړې او د خپلې علمي سویې د لوړولو لپاره هندوستان ته لاړ او هلته یې درس ووایه چې له هندوستانه بېرته را وګرځېد، نو د پیر بابا سید علي ترمذي (۹۰۸- ۹۹۱هـ.ق) مرید شو او د ده له خوا د خلافت اجازه ورکړل شوه او د ده خلیفه و. دی د بایزید روښان او روښانیانو له سرسختو مخالفانو څخه و. محمد صدیق روهي له روښانیانو سره د اخوند دروېزه د مخالفت علتونه زیاتره پر ديني اساساتو متکي بولي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۱۰ مخ).

اخوند دروېزه چې په عربي، پارسي او پښتو دریې ژبو سره یې ښه عبور درلود، د خپل دور یو عالم او په فقهي علومو ښه پوه و. د ده د آثارو شمېر د ډار مستیټر مطابق پنځوس یاد شوی دی، ولې دغه پنځوس واړه کتابونه د تاریخ په پاڼو کې خوندي نه دي پاتې شوي. د ده ټول آثار په مجموعي او عمومي توګه مذهبي او تاریخي بڼه لري او په موضوعي لحاظ د عقایدو، عباداتو، فقهي علومو، د شریعت او طریقت او د سیرت په موضوعاتي اډانه بنا شوي دي(عرفان ختک، ۲۰۱۱م، ۱۳۰، ۱۳۱ مخونه).

دی یو متشرع عالم و، خو د دې ترڅنګه یې له سلوک او معرفته هم برخه درلوده. په پښتو او پارسي

ژبو يې ځينې آثار ليکلي او ځينې يې له عربي او پارسي څخه پښتو ته اړولي دي. مخزن الاسلام، د تجويد رساله او الفنامه يې آثار دي. د ده په آثارو کې د شريعت عنصر ډېر برجسته دی. په آثارو او ترجمو کې يې هنري ارزښتونه په نشت شمار دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۱۱ مخ).

د ده په ټولو آثارو کې زيات شهرت «*مخزن الاسلام*» ته حاصل دی. مخزن الاسلام د علم فقهې، د علم حديث او د علم ادب يو داسې لرغونی ديني او مذهبي کتاب دی چې په علمي او ادبي لحاظ يې د خپل وخت هيڅ کتاب برابري نه شي کولی(عرفان خټک، ۲۰۱۱م، ۱۳۷ مخ).

دا د هغه مهال ګټور اثر دی چې د يوولسمې پېړۍ په شاوخوا کې کښل شوی دی. که څه هم د اخوند دروېزه په ليکنې د ده د پلويانو او پيروانو ليکنې هم ور زياتې شوې دي، خو کورنۍ او بهرنۍ څېړونکي بيا دغه اثر د اخوند دروېزه په نوم يادوي. په مخزن الاسلام کې د پښتو مسجع نثر، نيمګړی نظم او يو څو نمونې د بشپړ نظم تر سترګو کېږي. په مخزن کې نه يواځې مذهبي ښېګڼې لولو، بلکې يو څه تبليغي رنګ او خوند هم لري. په دغه کتاب کې يو تت شانته تاريخي رنګ هم شته. د مخزن الاسلام له کتاب نه ډېرې قلمي نسخې تيارې شوې دي. د دغه کتاب ځينې نسخې په هند او پښتونخوا کې هم ليدلی شوې دي او پر دې سربېره په پاريس او لندن کې هم خوند دي، يواځې د برېتش په کتابتون کې ۲۱ قلمي نسخې شته. دا قلمي نسخې لږو ډېرې يو له بله سره توپير لري، په دغه اثر کې پر اخوند دروېزه سربېره د ملا عبدالکريم (د دروېزه زوی)، عبدالحليم (د دروېزه لمسي)، مصطفی محمد، ملا اصغر، عبدالسلام، عمرخان، شېرمحمد، رحيمداد يا عبدالرحيم... ليکنې او يادونې شته(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۴۱- ۴۲ مخونه). د مخزن الاسلام ۳۷ نسخې د افغانستان د ملي آرشيف پښتو خطي نسخو برخه کې شته دي(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۶۲- ۱۸۹ مخونه).

بي بي مريم وايي: مخزن د نثر انداز واعظانه دی، داسې دی، لکه يو خطيب چې د ممبر له پاسه ناست وي او په مخصوص واعظانه انداز کې تقرير کوي.

مخزن الاسلام د اخوند دروېزه د مسلک او مکتب پيروکارو لپاره هم او عام ولس لپاره هم د يوه بشپړ ديني او مذهبي سرمايې حيثيت لري. د فقهي او شرعي مسايلو، ديني او اسلامي تعليماتو لپاره هم د ډېر اهميت او افاديت وړ کتاب دی(عرفان خټک، ۲۰۱۱م، ۱۴۰، ۱۴۳ مخونه).

د اخوند دروېزه رساله چې «*مخارج الحروف*» نومېږي، د مخزن الاسلام په درېيم فصل کې راغلې او د ۱۰۰۰هـ.ق کال په شاوخوا کې يې په نظم کښلې ده. پيل يې داسې دی:

د ښه خدای ثنا به وایم څو مې توان وي د ژبیه تر پایونه
چې قرآن یې راستولی په رسول دی، په کې دېرش سره حرفونه
(رشاد، ۱۳۵۹ل، اووه مخ)

بیا یې مخرجونه او د تجوید ځینې قواعد په لنډیز سره بیان کړي دي. په پای کې یوه خاتمه لري چې دا ډول ده:

د قرآن قاعدې دې ګرانې په پارسي په عربي هر چا ویلي
پر استاذ باندې یې زده کړ بې استاذه هیڅا نه دي پېژندلي
د قرآن حکمونه ډېر دي هر چا نه زده، کم سړي ور پوهېدلي
هر چه سر خود یې لولي په دوزخ کې یې څېرونه درولي
«دروېزه» لږ ځینې ووې چې دا هونبره ځنې زده کا او پرې چر کا
له دوزخه به ازاد شي تل تر ترله، ثوابونه به خدای ورکا
.....
دا فقیر چې شفقت پر پښتنو کا، کلي دین ور وښینه
هر چې یاد یې په دعا کا غه دي خدای په دین دنیا نه شرموینه

دغه رساله د مخزن الاسلام د ۱۲۹۳هـ.ق کال چاپ په یوولسوو مخونو، د ۱۳۰۰هـ.ق کال چاپ په دولسو مخونو او د ۱۹۶۹م کال چاپ په لسو مخونو کې ځای شوې ده(رشاد، ۱۳۵۹ل، نهه، لس، یوولس مخونه).

اخوند دروېزه بابا په خپله زمانه کې د یوه دیني عالم او واعظ په حیث ډېر شهرت درلود، د سید علي ترمذي مرید خاص و او هم له هغه نه یې د معرفت او سلوک لار موندلې وه، خو د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې د اخون دروېزه شهرت د بایزید انصاري د مخالفت په سبب شوی دی، ځکه چې دوی په خپلو کې ډېرې مناظرې او مباحثې کړې دي او هم په دغه سبب په خپل عصر کې د دواړو شهرت عام شوی و. د دوی مخالفت یواځې تر مباحثو او مناظرو محدود نه وو پاتې، بلکې په تحریري او تقریري میدان کې یې هم د خیر البیان او مخزن الاسلام غوندې اثبات موندی شي. دغه دواړه کتابونه نه صرف زمونږ د پښتو ژبې دیني او مذهبي اثاثې دي، بلکې دا دوه مکتبونه، مسلکونه او سبکونه دي چې د پښتو ژبې او ادب په ارتقاء او د نثري ادب په پیلولو کې اهم رول لوبوي(عرفان خټک، ۲۰۱۱م، ۱۵۰

مخ).

خوشحال بابا وايي:

دروېزه له يوه لوريه را پيدا شه　　په لږ علم په دا ملک کې لوی ملا شه

(ختک، ۱۳۸۴ل، ۷۷۵ مخ)

په دې بيت او ورپسې څو نورو بيتونو کې پر دروېزه نيوکې شوې دي، خو د خوشحال غونته شخصيت دروېزه ته د «لوی ملا» خطاب کړی دی.

په لسمه پېړۍ کې د روښاني غورځنګ غړو او د دوی د مقابل لوري اخوند دروېزه او د هغه پلويانو د خپل فکر د خپرولو او عرفاني لارې د روښانولو په خاطر پښتو ژبې او ادب ته درنه ليکلې زېرمه په ميراث پرېښې ده.

پورتني اشخاص د لسمې او د دې پېړۍ د شاوخوا زمانې شاعران دي. اوس د **يوولسمې** پېړۍ اړوندو شاعرانو ته تم کېږو چې هم د روښاني تحريک او هم د اخوند دروېزه د فکر اشخاص او هم له دې دوو ډلو اخوا درېيمه ډله او نور متفرق اشخاص په کې معرفي کوو.

ابابکر کندهاری د روښان د لارې پيرو، د روښانيانو په غورځنګ کې د يادونې وړ فرهنګي شخصيت او د پښتو ژبې پياوړی شاعر او نوميالی ديني عالم و. د «*مرآة العارفين*» او «*سراج العارفين*» په نومونو يې دوه منظوم کتابونه تأليف کړي دي(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۲۰۷ مخ). د «سراج العارفين» په نامه د پښتو د ديوان ځينې پاڼې يې حالنامې خوندي کړي دي. دی د پښتو ژبې د دوو مشهورو شاعرانو علي محمد مخلص او خواجه محمد پلار دی(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۲۰۱ مخ). د «مرآة العارفين» په نامه په پښتو ژبه د اشعارو ديوان يې هم درلود خو اوس ورک دی، مګر ځينې اقتباسونه يې په حالنامه کې راغلي دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۹۸، ۹۹ مخونه). نوموړی د روښاني تحريک له اعيانو [لويانو] څخه او د اوسېدو ځای يې کندهار و، په يوولسمې هجري پېړۍ کې يې ژوند کاوه. ابابکر په ديني او شرقي علومو کې مطالعه لرله، د روښانيانو له ملي، روحاني او تصوفي تحريک سره يوځای شو. تصوفي شعر يې وايه او په تصوف کې د وحدةالوجود له پيروانو څخه و. دا شعر د ده دی:

خيرالبيان يې کړ ور وړاندې　　احداد خدای وته سجده کړه

(هېوادمل، ۱۳۵۶هـ.ش، ۷ مخ)

خواجه‌محمد بن ابابکر کندهاری د يوولسمې هجري پېړۍ شاعر دی. د ده پښتو ديوان تر اوسه نه

دی لیدل شوی خو د بایزید روښان په حالنامه کې یې یادونه شوې ده او په هغې کې یې یو-دوه غزل شته. خواجه محمد له خپلې کورنۍ سره هندوستان ته تللی او هلته په اوسته کې اوسېده. نوموړی د روښانیانو له ملي نظریې څخه اغېزمن شوی چې له امله یې د دغې ډلې غړی شوی هم و. د خواجه‌محمد شعرونه ځانګړی جوړښت لري چې په لنډ بحر کې یې ویلي دي. لهجه یې کندهارۍ پښتو ده. د ده شعرونه زیاتره تصوفي او عرفاني بڼه لري او د روښان د عرفاني افکارو ځلا په کې له ورایه ځلېږي. د خواجه‌محمد د زوکړې او مړینې نېټې څرګندې نه دي. دا لاندې بیتونه یې د شعر د بېلګې په توګه راوړو:

هیڅوک در خبر نه دي — د مسکین عارف له راي
خواجه محمد قناعت کړی — لوی غني به سي ګدای

(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸۹ل، ۵۱۵ مخ)

کله چې د روښاني غورځنګ د مشاهیرو پر خدمتونو خبره کېږي، نو یو په کې علي محمد مخلص دی چې د دې تحریک حقدار او مشر لیکوال او شاعر شخص و.

علي محمد مخلص د ابابکر کندهاري زوی، د پښتنو کاسي شینواري قبیلې ته منسوب او د بایزید روښان د تصوفي، عرفاني او ادبي لارې له پیاوړو لارویانو څخه و(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۲۰۷ مخ). د حالنامې د واقعاتو له مخې د علي‌محمد مخلص د زېږېدنې نېټه قیاساً ۱۰۲۰/۱۰۱۹هـ.ق (۱۶۱۰/ ۱۶۱۱م) ټاکل کېدلی شي. زیات امکان لري چې د ده زېږېدنه په قندهار کې شوې وي، دویم امکان یې تېراه کېدی شي(خویشکی. ن‌ن، ۲۷، ۲۹ مخونه). مخلص په دغسې یوه عالمه او عارفه کورنۍ کې سترګې نړۍ ته غړولې او رالوی شوی و. له راپاتې آثارو څخه یې څرګندېږي چې د وخت دودیز دیني او ادبي علوم یې لوستي او په عرفان او تصوف کې لوړ پوړ ته رسېدلی و. په پښتو او دري ژبو یې شعر وایه، د شعر لوی دیوان یې را پاتې دی چې ۵۱۷۲ بیتونه لري. دغه دیوان د پېښور پښتو اکېډیمي له خوا چاپ شوی دی.

مخلص پیاوړی لیکوال او مؤرخ هم و. په پښتو او دري ژبو یې په نثر لیکلي دوه آثار راپاتې دي. په دري ژبه یې د بایزید روښان «*حالنامه*» لیکلې او چاپ ده. بل اثر یې په پښتو نثر لیکلې *رساله* ده چې علمي، عرفاني او تصوفي موضوع‌ګانې په کې راغلې دي.

د مخلص آثارو ته په کتنې، نوموړی د روښاني عرفاني ادبي مکتب پیاوړی لاروی، نومیالی عالم،

شاعر او لیکوال و. د ژوند وروستۍ شپې ورځې یې د هند په رشیدآباد کې تېرې کړې دي. د هغه مړینه د ۱۰۸۰هـ.ق کال شاوخوا اټکل شوې ده(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۲۰۷، ۲۰۸ مخونه).

د علي محمد مخلص د خپلې وینا له مخې پنځه کلن یا شپږ کلن و چې قرآن یې لوسته، فیض یې له میرزا خان انصاري موندلی دی(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۱۷۷ مخ). دولت لوانې مشهور روښاني شاعر چې د ده معاصر و، د ولي په درانه نامه یې یادوي او د هغه له شخصیته د روحاني ګټې اخیستنې یادونه هم کوي:

د دولت ولي صحبت یو لوی دولت دی د مستۍ په دیدن مست شم بې صهبا

دا مخلص یې له صحبته فایده‌من شو ښه یاران د دین اوتاد دي نقبا

د مخلص له شعر او د حالنامې له مطالعې څخه ښکاري چې دی لوی عالم او فاضل شخصیت و. د قرآن او حدیث پر مطالعې سربېره د پارسي، عربي او هندي ادبیاتو مطالعه یې هم لرله. مخلص په حالنامه کې د ډېرو معتبرو آثارو مآخذ وړاندې کوي. د مخلص د شعر په باب مولانا عبدالقدوس قاسمي لیکي چې د مخلص کلام د پښتو په صوفیانه کلام کې تر ټولو لوړ مقام لري، ځکه چې په دې کې ادب هم شته، فن هم شته او علم هم شته. د مخلص دیوان د پارسي د لوړې صوفیانه شاعرۍ او د پښتو د صوفیانه ادب ترمنځ و میانه کړۍ ده چې د دواړو ژبو د صوفیانو ترون راولي او د روښانیانو پیوند د ابن عربي، رومي او د وحدة الوجود له نورو نقیبانو سره لګوي. مخلص له روښاني مکتب سره تړلی او د روښاني شاعرانو ترمنځ لوړ او اوچت مقام لري. دی د روښاني طریقت بلندوی او شاعري یې د فکر و فن او شخصیت هینداره ده او لکه د نورو سترو روښاني شاعرانو پر فن یې فکر ځواکمن ښکاري. خو له ځواکمنۍ سره سره د عرفان رموزو او اسرارو د ده شاعرۍ ته هنري ښایست ورکړی دی(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۱۷۸، ۱۷۹، ۱۸۱ مخونه). د مخلص تصنیفات دا دي:

۱- *پښتو دیوان*: د مخلص پښتو دیوان ضخیم دیوان دی، پنځه زره یو سل او دوه اویا شعرونه لري، د دې دیوان پیل له یو نعت شریف نه شوې ده چې په مربع ډول ۶۱ رباعیاني لري، بیا ورپسې دوه الفنامې دي چې یوه نیمګړې ده او دویمه پوره ده. الفنامې نه وروسته غزلې شروع کېږي چې شمېر یې ۳۶۰ ته رسي. له غزلو نه پس رباعیاني پیلیږي چې اصل شمېر یې ۵۴ دی. د مخلص په پښتو دیوان کې د هغو له څو شعرونه نه علاوه چې د پارسي ژبې د مشهورو شاعرانو دي او د سرخط په توګه یې د بعضو غزلو په سر کې استعمال کړي دي، له دې نه علاوه د ده خپل پارسي شعرونه نشته.

۲- *حالنامه*: د دې کتاب ژبه پارسي ده. د موضوع له لحاظه په درېیو برخو کې وېشل کېدی شي.

۳- *د نثر رساله* : دا رساله د زلمي هېوادمل په زیار له مقدمي او تعلیق سره په کابل مجله کې چاپ شوې ده(خویشکی. ن‌ن، ۵۷، ۵۸، ۵۹، ٦۱ مخونه).

د علي محمد مخلص له شاعرۍ نه او د حالنامې د لوستو نه دا ندازه ډېره په اسانه لګیږي چې دی ډېر لوی عالم او لوستی سړی و. په باطني او روحاني توګه د ذات د معرفت او د توحید له علم نه اګاه و او په روحاني سلسله کې د خلافت په منصب نمانځلی شوی و. له دې نه علاوه د تصوف په فلسفیانه او علمي سطح هم پوره اګاه و، د قرآن او حدیثو مطالعه یې لرله، د پارسي، عربي او هندي ژبې او ادب نه هم خبر و. په حالنامه کې چې ده د کومو کتابونو ذکر کړی دی، یا یې تړې حوالې را اخیستې دي، هغه د ده په مطالعه معتبر شهادت وړاندې کوي. د ده د مرګ نېټه ۱۰۸۰هـ.ق کال خواوشا ټاکل کیږي(خویشکی، ن‌ن، ۳۰، ۳۲ مخونه).

د علي‌محمد مخلص د شاعرۍ موضوع د پیر روښان د تعلیماتو او فلسفې وضاحت او خورونه ده. د پیر روښان د تعلیماتو روح د وحدت الوجود فلسفه ده. دغه وجه ده چې د مخلص هر غزل یو عنوان لري چې په هغو آیتونو، حدیثونو او مقولو اړه لري چې د وحدة الوجود د نظریې نکاتو او جزئیاتو باندې رڼا غورځوي. د مخلص د بیان اسلوب او انداز ټول اصطلاحي دی، په دې وجه د ده شاعري ډېره زیاته فلسفیانه او علمي ژورتیا لري(خویشکی، ن‌ن، ۴۸ مخ).

د نورو روښاني شاعرانو په پرتله مخلص د خپل هر غزل یو سرخط ټاکي او دغه سرخطونه اکثر د وحدت الوجودي فلسفې په رڼا کې د قرآن د مطلوبه آیتونو، حدیثونو او د تصوفي مقولو لنډ لنډ عبارتونه دي. د دې عبارتونو ژبه اکثره پارسي او کله کله عربي وي(خویشکی، ن‌ن، ۱۴ مخ).

د بېلګې په توګه:

در بیان حدیث نبوي حاسِبوا أنفسَکم قبل أن تُحاسَبوا. ایضاً: لا یقبل عبادت عبد کلها بغیر معرفة.

نبوي حدیث: د ځان محاسبه وکړئ د دې نه مخکې چې ستاسو محاسبه وشي. ایضاً: د بنده عبادت بغیر د معرفته نه قبلیږي[۱].

د هر چا آخر وجود دی و یزدان ته　　عاقبت چوب دار حضور شي و دیوان ته

که ته اوس دا خپل حساب کتاب درست نه کړې　　دانسته بلا دې وروسته و ځان ته

نن حساب تر حساب وړاندې وکړه وروره په حشر (به) ډېر حیران شې و میزان ته

---

[۱] پروېز مهجور خویشکی وایی: د دغو پارسي او عربي عباراتو پښتو ژباړه ده کړې ده.

نن دا تله ترازو دي ستا په لاس کښې　　که عاقل يې (نو) ميل مه کړه و عصيان ته
موتوا قبل ان تموتوا پېش له مرګه　　په دنيا کښې حضوري کړه و سبحان ته
(مخلص، نن، ۱۵۸ مخ)

در صفت بیداری شب خصوصاً سحر و در منفعت ذکر خفي و مجاهده نمودن با نفس کافر و در معنی حدیث لا يسعى في الأرض ولا في السماء ولكن يسعى في قلوب المؤمنين.

که په هره شپه بيدار وسې سحر ته　　روښنايي به دې زړه بيا مومي اکثر ته
په خفي ذکر مشغول اوسه خوب مه کړه　　د فقير خبره وازميه دا ورته
نن کوشش جهد اختيار کړه پر نوس باندې　　د سحر خوب پرې حرام کړه پَر کافر ته
کم خورد خفتن اختيار کړه که طالب يې　　کم ګفتن خلوت فائده ګټه بېشتر ته
(مخلص، نن، ۱۸۰ مخ)

در بيان آيت: الله نور السموت والارض (سوره نور آيت: ۳۵). و في حديث قدسي: (انا مكان المكان ليس في مكان) در آن چيزی که خدا نباشد آن چيز هم نباشد.

په بيان د آيت: ﴿اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ﴾. قدسي حديث: زه د ټولو ځايونو مرجع يم بيا هم په کوم ځای کې وسېدونکی نه يم په کوم ځيز کې چې خدای نه وي هغه ځيز هم نه وي.

که دې ګورم په هر ځيز کښې يې عيان ته　　و بينا وته حضور په هر مکان ته
ته په هر مکان موجود مکان په تا کې　　لا مکان يې مکان نه لرې سبحان ته
(مخلص، نن، ۱۸۴ مخ)

حديث: حب الدنيا حرام على اهل الآخرة والآخرة حرام على اهل الدنيا وهما حرامان على اهل الله.

ايضاً: همت المرء يقلع الجبال. ايضاً: الطير يطير بالجناح والمرء يطير بالهمة.

د دنيا حب د آخرت په اهل حرام دی او آخرت د دنيا په اهل باندې او دا دواړه حرام دي په اهل الله. د سړي همت غرونه د ويښه [ښخه] وباسي. مرغی په پرو الوځي او سړی په همت.

ای طالبه که دې مينه په مولا شته　　د مولا په لار کښې ډېر لونه بالا شته
که صادق ثابت قدم يې شکېبا شه　　د صابر مقام په دوه کونه بالا شته
ناصبور له بلا تښتي کم همت دی　　د همت د ځښتن دين هم يې دنيا شته
(مخلص، نن، ۱۹۲، ۱۹۳ مخونه)

در معنی ایه کریمه: ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالإِكْرَامِ﴾(الرحمن: ٢٦- ٢٧ آیتونه).

د دې ایت کریمه په معنا کې: په ځمکه باندې چې څه دي ټول فنا کېدونکي دي، صرف ستاسو د پروردګار ذات، د عظمت او احسان والا به باقي وي.

په دنيا کښې د وفا اشنايي نشته — د هېڅ څيز په دا عالم رهايي نشته
هغه څيز چې عاقبت درنه جدا شي — په تحقيق د هغه څيز وفايي نشته
وفادار جهان هغه دی که باور کړې — د اشنا له اشنايۍ جدايي نشته

(مخلص، ن‌ن، ٢٠٥ مخ)

حديث قدسي: رحمتي سبقت علي غضبي. آيت شريف: ﴿وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ﴾(الطلاق آيت: ٣)

حديث قدسي: زما رحمت زما په غضب مخکښې دی. آيت شريف: چا چې په خدای توکل وساته، هغه د هغه دپاره کافي دی.

د رحيم د ښه رحمت وسعت مې وکوت — پر غضب باندې سبقت رحمت مې وکوت
د ګناه په سبب رزق د چا کم نه کا — ښه عجب د رب کريم صفت مې وکوت

(مخلص، ن‌ن، ٢١٣ مخ

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ﴾

ترجمه: ای خلقو تاسو د خدای محتاج يئ الله غني او د ټولو خوبو خاوند دی

په دنيا کښې که سلطان غني دی راج — کل و حق ته دي عاجز غريب محتاج
هر سړی ګوره فقير مولی غني دی — دروېشان ګدايان سوال کاندي له خواج
دا سړي له ځانه هيڅ نه لري خوار دي — چې لري واړه د حق ګوره بې ساج

(مخلص، ن‌ن، ٢٣٦ مخ)

د علي محمد مخلص له اشعارو جوت معلوميږي چې نوموړی په قرآن کريم او احاديثو کې پوره پوهه لري او د همدغو دواړو په رڼا کې يې خپل مافي الضمير ښکاره کړی، خو دا چې دی د پير روښان مريد او د هغه د افکارو مفسر دی، د قرآن کريم آيتونه او نبوي ملغلرلې يې د تصوف له زاويې په خپلو اشعارو کې بيان کړې دي. همدا ده چې وايي:

در بیان آنکه کلام که موافق آیت و حدیث است عمل کردن بدان هیکل

په بیان د دې چې (دا) کلام د آیت او حدیث موافق دی او په دې هیکل عمل په کار دی.

د فقیر وینا ثابته له آیاته له حدیثه چې په دا وینا عمل کا په محکم پرې تشبیثه

نن مضبوط نیسه دا پرې چې پرې نوځي ښکته مړی چې له لاسه ووځي ویاسته ښکته درومي بې مکیثه

(مخلص، ن‌ن، ۲۳۱ مخ)

یوه خبره باید واضح شي چې د «پښتانه شعراء» څلورم ټوک، مخلص د ارزاني ورور بللی خو دا حکم ځکه ناسم دی چې د ارزاني د پلار نوم د ده د خپل صراحت له مخې برهان او د مخلص د پلار نوم د ده د خپل صراحت په اساس ابابکر کندهاری دی. ده هم لکه د ارزاني، دولت، واصل او نورو روښانیانو غوندې د روښاني لارې د روښانولو لپاره خوارۀ تصوفي شعرونه ویلي، یو پنډ دیوان لري او روښاني لارې ته یې په بشپړه ګروهې درلودلو سره دا لار ستایلې او نور یې ورته رابللي دي(رفیع، ۱۳۵۹ل، ۳۰۸ مخ).

ملا عمر د ارزاني ورور او د بایزید روښان له پیروانو څخه دی. غالباً دی هم فاضل، شاعر او لیکوال و. د عبدالغني کاسي جونګ اکثرې ویناوې د روښانیانو ښکاري، د اټکل له مخې دا شعر د عمر روښاني بلل کېږي:

د ګور دغه تنګه خونه نې دریځه شته نې ورونه

په ګور کښې د بدانو ښادي نشته لور د لوره عذابونه

په ګور کښې نه به نور وي نه به میاشت وي

نه به دا ستوري چې ځلېږي په آسمان لکه چراغونه....(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۸۳۷، ۸۳۸ مخونه)

ملا عمر د روښاني ډلې له لویانو څخه و او د یوولسمې هجري پېړۍ په لومړیو کې یې ژوند کاوه. هغه د روښانیانو تصوفي ملي نهضت کې لاس درلود، د پښتو مذهبي شاعر و. دا د هغه دی:

ای فقیره عمر ولې ډېره زېرمه نه کړې د سحر پر شبیلونه (هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۴۶ مخ)

عبدالله قصور د عبدالحق خیشکي زوی په ۱۰۴۳هـ.ق کال د پنجاب په قصور سیمه کې زېږېدلی. په صوفیه حلقو کې په عبدالله قصوري خیشکي شهرت درلود. هغه ۲۳ کاله د پوهې په حاصلولو بوخت و. تر تحصیل وروسته یې خپل وخت تدریس او تألیف ته ځانګړی کړ، تألیفات یې ۵۲ ټوکو ته رسیږي. له مهمو تألیفاتو څخه چې په تصوفي کړیو کې مشهور دی، د کریمداد پښتو الفنامې شرحه ده

چې «*شرح کلمات وافیات*» نومیږي. عبدالله تر ۱۱۰۶هـ.ق کال پورې ژوندی و(هېوادمل. ۱۳۵۶ل، ۳۲۷ مخ). کلمات وافیه چې د کریمداد د شعرونو شرحه ده د نظمولو کال یې ۱۰۸۲هـ.ق او د لیکلو کال یې ۱۲۳۰هـ.ق دی، د پاڼو شمېر ۵۰ او د افغانستان د علومو اکاډمي په کتابتون کې د خوندي نسخې شمېره یې ۱۸۶ ده. موجوده پیل تر بسم الله وروسته: «بعد از حمد به منتهی وثناء لا یحصی خداوند عزوجل د علاو پس از درود نام محمد حضرت رسول صلی الله علیه وسلم سید الورا مگوید...»(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱۱۰ مخ).

شیخ آدم روښاني د ظریف زوی او د بټک د کورنۍ و چې له خپل نامه سره یې د خپلې تصوفي لارې د وړتیا له مخې د «شیخ» او «فقیر» کلمې زیاتې کړې او له خپلې لېونۍ مینې سره د وړتیا له امله یې له خپل نامه سره کله کله د «دېوانه» کلمه هم راوړې ده. استوګنځی یې د اشنغر د جیندي د سیند غاړې وې. د آدم خان د ژوند زمانه د ۱۰۴۰هـ.ق او ۱۱۱۸هـ.ق کلونو ترمنځ اټکلېږي(رفیع، ۱۳۵۹ل، ۵ مخ).

شیخ آدم خیشکی د یوولسمې هجري پېړۍ په دوران کې د هند په ځمکو کې ژوند کړی دی. دا شاعر د دیوان خاوند دی. دی خیشکی او په خیشکو کې بټکزی دی. د ده دایمي استوګنه په پنجاب او کله کله د تاریخي افغانستان هشنغر ته هم راغلی دی(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۲۷۰، ۲۷۳ مخونه). د آدم د دیوان یواځینۍ قلمي نسخه د زلمي هېوادمل په ځاني کتابتون کې خوندي ده(رفیع، ۱۳۵۹ل، ۱ مخ). دیوان یې د محمد معصوم هوتک له خېړنو سره یو ځای په ۱۳۹۳هـ.ش کال چاپ شو. د شیخ آدم دیوان له مطالعې ښکاري چې دی یو متصوف او عارف شاعر دی، د عرفان او تصوف له رموزو، دساتیرو او مراتبو، سیرونو او منازلو آګاه او د دې پوهې د اصطلاحاتو په قرینو کې دا مطالب تشریح او توضیح کوي. شیخ آدم د خپلې وینا له مخې د شاه عیسی مرید دی چې طریقه یې نه معلومیږي. د هغه له یوه بیته معلومیږي چې شیخ آدم موحد شاعر دی. د توحید د لارې عارفان د ذات او صفات پر مسأله ډېر تمرکز کوي او پر شرح یې رسایل لیکل شوي دي(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۲۷۰، ۲۷۴ مخونه).

شیخ آدم د لویو متصوفو شاعرانو په څېر الفنامه هم ویلې او د الفباء هر توری یې په یوه غزله کې تشریح کړی دی. په دیوان کې یې د ځینو قبیلو او شاعرانو په باب یادونې، د اسلامي اخلاقي ارزښتونو تبلیغ، وعظ او نصایح لیدل کېږي، اما ورسره عشق او مینه هم پر دې اشعارو حاوي دي، مګر دا عشق کله له سلوکي مسایلو سره اړه لري(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۲۷۵ مخ).

د ده وينا څرګندوي چې ده د تصوف ځانګړې لاره او رده خوښه کړې وه، دا لاره د پښتونخوا د لوی او مبارز صوفي بايزيد روښان لاره وه. آدم داسې وخت ژوند کاوه چې د روښانيانو وسلهواله مبارزه بېخي د ختمېدو په حال کې وه او د دوی د روښانه تصوفي لارې نيول او خوښول له خطره ډک و، همدا سبب دی چې آدم د روښان په باب په صراحت څه نه وايي، خو د روښاني ادب ژبه او اصطلاحاتو خبرې کوي او په غير مستقيم ډول خپل روښانيتوب ثابتوي(رفيع، ۱۳۵۹ل، ٦ مخ).

د کلام نمونې يې:

د مرشد د لاسه هسې چارې کېږي — چې د هستو جامه کړي په نيست بدله
د توحيد د باغ ګلونه مې پېيلي — په معنو يې فهم کړه عبارت لوله
کمينې په دواړو کونو آزادي ده — کبر هيڅکله خلاص نه دی له زلزله
حقيقت څه له مجازه ليرې نه دی — همېشه په کې ليده شي الوولە

(هېوادمل، ۱۳۹٦ل، ۲۷٦ مخ)

څوک چې له خپلو سره بد وي او وصلت نه کوي — يا دې د کور مشر په کور کې شفقت نه کوي
يا دی ملک دی د خپل کلي عدالت نه کوي — نو يې عمل ټول حبطه ولاړ سي له ځانه سره

(هېوادمل، ۱۳۵٦هـ.ش، ۴۷- ۴۸ مخونه)

شيخ آدم د هغو ديوان لرونکو متصوفو شاعرانو په ډله کې دی چې په ديوان کې يې عرفاني افکار د اساس حيثيت لري، د دې ترڅنګه يې د مينې، اخلاقو او ځينو اجتماعي مسايلو په باب هم خبرې کړې دي. ځينې اشعار يې هنري ارزښتونه هم لري. د يوې غزلې دوه بيته يې دا دي:

ما چې خوله په ډېر آرزو درڅخه غوښته — تا لو پټه په حجاب سره ونغښته
دې وې مخ دې سرې لنبې دي و به سوځې — ځان له اوره وساته په بېرته تښته

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲۸ مخ)

د يوولسمې هجري پېړۍ په عالمانو او اديبانو کې د اخوند دروېزه په کورنۍ کې د ده د يوه زوی **عبدالخالق** نوم هم په پښتو ناظمانو کې ياد شوی دی. استاد رښتين وايي چې عبدالخالق د «*شرايط و احکام ايمان*» په نامه کتاب په پښتو نظم کړی دی(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۱۵ مخ). عبدالخالق بن اخوند دروېزه ننګرهاري د يوولسمې هجري پېړۍ له عالمانو او اديبانو څخه و(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۰۰ مخ).

د يوولسمې پېړۍ په دوران کې يو هنرمند عارف شاعر **خواجهمحمد بنګښ** دی. د ده د ژوند زمانه له

۱۰۳۰ څخه تر ۱۱۰۰هـ.ق پورې اټکل کېږي. دی په پښتو ښکلې *دیوان* لري چې غزلې، قصیدې، رباعي او قطعې په کې شته. مضامین یې زیاتره عارفانه، اخلاقي، واعظانه او نور دي، خو غزلې یې خورا ښکلې او په قصیدو کې یې بیا هومره ښکلا نشته. دی په تصوفي لارو کې د چشتیه طریقې پیرو و. د ده د دیوان زیاتره برخې په فکري لحاظ د عرفاني افکارو بیانوونکې دي، خو ده عرفاني مسایل په وچه ژبه نه دي بیان کړي، بلکې د هنر خوا په کې درنه ده، یو بیت یې دا دی:

گوتې تورې کړې په ما یې کړې را پورې زه حیران یم ستا د سپینو گوتو تور ته(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲۶ مخ)

په «فرهنگ زبان و ادبیات پښتو» لومړی ټوک ۱۵۹ مخ کې د «خواجه محمد» په نوم شخص معرفي شوی او دا همدغه خواجه محمد بنګښ دی. په اړه یې راغلي چې د اخوند دروېزه د ادبي مکتب پیرو او د دروېزه د اولادونو معاصر و. نومورې مذهبي شعرونه ویلي، منظومات یې د مخزن په ځینو خطي نسخو کې لیدل کېږي. دا د ده دی:

محمده ستا و لور ته به سفر کړم　　پر لیمه به در روان شم پښې بر کړم
که فرمان د عنایت راباندې وکړې　　زه به خپل اسم پادشاه د بحر و بر کړم
ز خواجه محمد هر گوره گناهکار یم　　امېد به په شفاعت د پیغمبر کړم

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۱۵۹ مخ)

د مرګ په اړه کاږي:

چې مخونه یې روښان وو تر آفتابه　　اوس یکسان شو په لحد کې له ترابه
عاقبت دې ځای د تورو خاورو لاندې　　په دنیا به څه لویي کوې اربابه

(بنګښ، ۱۹۶۵م، ۵۴ مخ)

حدیث شریف دی چې دنیا د آخرت پټی دی، په کار دی چې سړي په دې ژوند کې داسې توښه جوړه کړي چې د آخرت لار یې پرې روښانه شي، ځکه چې هلته د همېشه لپاره استوګنه ده. خواجه وایي:

د آخرت و ودانۍ و ته دې شا کړه　　سازوي ته دا دنیا خانه خرابه

(بنګښ، ۱۹۶۵م، ۵۴ مخ)

یو عشقي کلام یې دا دی:

ما چې ولیده په سترګو یاره ستا مخ　　پرې به ونه ګورم (زه) د بل اشنا مخ
ښایسته مخونه ډېر دي په جهان کې　　ولې دا رنګ به نه وي د هیڅا مخ
سر تر پایه ښایسته وه بې حسابه　　لا په تېره یې جلوه کاندي جدا مخ
چې و حسن ته یې ګورم څټ یې نشته　　ښکته پورته وړاندې وروستو په شا مخ

(بنګښ، ۱۹۶۵م، ۲۷، ۶۴ مخونه)

«دیوان خواجه‌محمد بنګش» د خیال بخاري په اهتمام د پښتو اکیډیمي پېښور پوهنتون له خوا په ۱۹۶۵ل کال چاپ شوی دی. د ده په کلام کې عشقي، اخلاقي او عرفاني اړخونه پیاوړي دي.

آخوند چالاک په قام خټک، د مولانا عبدالوهاب (آخوند پنجو) ملګری او مرید و. چالاک د کونړ په لوېدیځو درو کې د شینوارو او ساپیانو د قومونو په مرسته د اسلام د سپیڅلي دین د خپرولو لپاره له کفارو سره ډېرې جګړې کړې دي. ملا مست په خپل اثر (سلوک الغزات) کې د ده د غزاګانو پوره حال بیان کړی دی. اخوند دروېزه وایي چې دی د مغولي واکمن شاه‌جهان له خوا وژل شوی او قبر یې په پېښور کې دی. له دې ښکاري چې ده په یوولسمه هجري پېړۍ کې ژوند کړی دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸۶ل، ۱۲ مخ).

یوولسمه پېړۍ د پښتونخوا په یوه ځنډه کې د اخون چالاک او د ده د ملګرو د مبارزو او مجادلو دوره هم ده، له یوې خوا له کورګانیانو سره مبارزه کوي او له بله پلوه د محلي کفارو (خصوصاً د اوسني نورستان د اوسېدونکو) مسلمانولو لپاره لېچې رانغاړي او د دوی دا ټولې مجادلې او مبارزې د ده یو مرید ملا مست ځمند په «سلوک الغزات» کې په مست شعر کې ځایوي او تصوفي اشعار د مبارزې د بیان لپاره د دې سړي له خوا دودیږي. له کورګانیانو سره مبارزه د دې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې د ختکو کورنۍ ته په غاړه اخلي او له هغوی سره د مبارزې ډګر ته د تورې او قلم اتل خوشحال خان راوځي(رفیع، ۱۳۹۸ل، ۲۹، ۳۰ مخونه).

قمر دین د سید احمد زوی د درەنور اوسېدونکی چې په ۹۹۱هـ.ق کال زېږېدلی او په ۱۰۸۱هـ.ق کال کې د نوي کالو په عمر مړ شوی دی. تر هغه وخته پورې چې لا ژوندی و، د ده په شعر او شاعرۍ څوک نه وو خبر، دا ځکه چې ده په خپله نه غوښتل چې خلک دې د ده په شعر او شاعرۍ خبر شي، خو کله چې ده له دنیا سترګې پټې کړې، د ده د اشعارو یو *دیوان* چې په خپل لاس یې لیکلی و، ورځخه میراث پاتې شو. د اشعارو له مطالعې یې څرګندیږي چې ده په فقه او مذهبي علومو کې پوره

مطالعه لرله او له دغو علومو سره یې زیاته علاقه وه. د ده اشعار زیاتره مذهبي او تصوفي رنګ لري، لږ هنري ښکلا هم ورسره مله ده. د شعر نمونه یې دا ده:

دا مې اقبال دی چې مین یمه زه ستا په جمال بخت و طالع به مې وي که مې نصیب شي وصال
که حجاب پورته کړې له مخ تل به ښادي وي په ما لکه غونچې د ګل غوړیږي د سهار په شمال
د شهیدګی په مرتبه کې نشته شک و شبه شهید به هله شم دلبر که ستا په تېغ شم حلال
بې غیر له حکمه یوه پاڼه د شجر نه رپي چې حکم وشي د رب زانګي به په شاني د ټال
زه قمر دین به شم پاچا که مې غلام وګڼې جوغه داران ستا غلامان دي یم خبر په دې حال
(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ٦١٢ مخ)

قمر دین په ديني علومو کې مطالعه درلوده او په خپله سیمه کې د ديني عالم په توګه د اعتبار ځښتن سړی تېر شوی دی(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲۲ مخ). د یادولو ده چې یو بل میا قمر الدین هم شته چې د دیارلسمې پېړۍ اړوند دی.

کریمداد چې اصلي نوم یې عبدالکریم دی خو په اشعارو کې ځان کریمداد او کریم بولي. په اخوند کریمداد او میا کریمداد مشهور دی. د اخوند دروېزه ننګرهاري زوی، پیاوړی ديني عالم، عارف او روحاني شخصیت و. د زوکړې نېټه یې نه ده معلومه، خو په ۱۰۷۲هـ.ق د سوات د کوهستان له مشرکانو سره په غزا کې شهید شوی او په سوات کې خاورو ته سپارل شوی دی. د طریقت په سلسله کې یې لوی لاس درلود، ده د خپل پلار ټول تألیفات راټول کړي، ترتیب کړي او آن اصلاح کړي دي. کریمداد د خپل پلار په اثر (مخزن الاسلام) کې هم له ځانه زیاتونې کړې دي. په پښتو کې پر تصوفي او عرفاني شعرونو سربېره ځینې عشقي شعرونه یې هم ویلي دي. د ده په را پاتې آثارو کې «*الفنامه*» ډېره مشهوره ده. د ده نور آثار «*مکتوبات*» او «*مسایل حقوق نسوان*» دي چې په دري ژبه یې لیکلي دي(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۸۷ مخ). د ده د دیوان نسخه په انډیا افس کتابتون کې خوندي ده(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۹۵ مخ).

میا کریمداد مشهور روحاني عالم او فاضل عارف تېر شوی دی چې په تصوف او سلوک کې د معرفت او حقیقت له اسرارو او رموزو نه ډک بیانونه لري او د طریقت په سلسله کې د لوی شهرت خاوند دی. دی د خپل پلار د اثر (مخزن الاسلام) مدون دی، خو په دې کتاب کې یې ډېرې ادبي او تاریخي اضافې هم کړې دي چې یوه په کې د ده خپله الفنامه ده.

عبدالحليم اثر افغاني د کريمداد د يوه بل کتاب «شرح جام جهان نما» يادونه هم کړې ده چې په پارسي يې کښلی، وايي چې په هغه کې يې د علم، تصوف، معرفت او حقيقت باريکې نکتې او د سلوک مقامات بيان کړي دي.

د ميا کريمداد د پارسي او پښتو دواړو ژبو اشعار ډېر زړه راکښونکي، د عشق و محبت له سوز و ساز نه ډک او د معرفت و حقيقت د اسرارو او رموزو يوه لويه دنيا او معنا لرونکې ادبي او علمي پانګه ده(افغاني، ۱۹۶۳م، ۳، ٦، ۷، ۱۴ مخونه).

اخوند کريمداد د اخوند دروېزه د کورنۍ يو پوه او عالم دی چې په پښتو او پارسي ژبو آثار ترې پاتې دي. د مخزن د ځينو خطي نسخو په ملحقاتو کې يې متفرق اشعار هم راغلي دي. يو مخمس يې هم ليدل شوی دی. د ده په پښتو منظومو آثارو کې ډېر شهرت د ده «الفنامه» لري چې د غزلو په چوکاټ کې بشپړه شوې ده. دا هنري ارزښتونه هم لري او فکري خوا يې هم درنه ده او په پښتو کې د عرفاني افکارو په څېړنه او په پښتو ادبياتو کې د وجودي او شهودي عرفاني نظرياتو د لټون په لړ کې د کريمداد الفنامه نه شي هېرېدای. د ده شعرونه خپل خاص عرفاني شور لري. دا لاندې بيتونه يې د بېلګې په توګه را اخلو:

ت: توحيد دی ته يې ګوره — چې جلوه کا لور د لوره
له چا راز کا په کعبه کې — له چا راز کاندي له اوره

* * *

هر طالب چې د شها د خال هوس کا — کمينې دې کا اختياره ځان دې خس کا
بېهوده نظر دې پرېږدي — همېشه دې پاسباني د خپل نفس کا
(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۱۲، ۱۱۳ مخونه)

د کلام بېلګه:

نه ناحق نه بېهوده په دنيا راغلم — د شيرين اشنا په مينه پروا راغلم
په ازل مې کل مقصود د يار[1] ديدن وو — په ديدن پسې يې مست و شيدا راغلم
نام و ننګ مې د ناموس په عالم پرېښود — د جمال په نندارې يې تنها راغلم
خراب زړه مې په ديدن پسې ځکوينه — لکه رام په محبت د سيتا راغلم

[1] په مأخذ کې (ديار) راغلی دی.

زه وامق وم بې عذرا مې قرار نه شي يا مجنون چې په ديدن د ليلا راغلم....

(افغاني، ۱۹٦۳م، ۱۵ مخ)

د يادولو ده چې د کريمداد په نامه پښتو ادب دوه قديم شاعران لري چې يو يې روښانی کريمداد د (۱۰۵٦هـ.ق د حدودو) ديوان لرونکی شاعر دی او بل يې د اخوند دروېزه زوی کريمداد (۱۰۷۳هـ.ق شهيد) دی چې په پښتو او پارسي ژبو ليکوال او شاعر و.

خالقداد د اخوند دروېزه زوی و، په پښتو يې شعرونه ويل، يو کتاب يې د «*شرايط و احکام الايمان*» په نامه نظم کړی دی(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۸۱۲ مخ).

آخوند احمد د اسمعيل زوی د پېښور په لنډۍ نومي کلي کې اوسېده. د آخوند احمد پلار ته د وخت حکومت د ننګرهار د کوټ تيراهي درې خاني وسپارله، په خپل دی هم هلته زېږېدلی چې د خانۍ له کوره روان شو او د ملنګۍ ژوند يې غوره کړ. په کامل پير پسې ګرځېده، وزير آباد ته ولاړ، هلته يې له حاجي سعد الله وزير آبادي (د ۱۰٦۰ق مړ) نه بيعت وکړ او همدلته د روحانيت لوړ مقام ته ورسېد او د خپل مرشد په اشاره د پېښور په لنډۍ کې استوګن شو. اخوند احمد د خپل وخت نامتو عالم، متشرع او په شرعي امورو کې د خلکو مرجع و، ډېرې درنې شرعي پرېکړې به په ده کېدلې او منکرين به ده ته راوستل کېدل او ده به شرعي پوښتنې او ګروېرنې ترې کولې. دا لوی پښتون صوفي په ۱۰٦۰هـ.ق کال وفات او د لنډۍ د جامع جومات په محوطه کې خاورو ته وسپارل شو چې زيارت يې اوس هم د زياتو عقيدتمندانو مرجع دی.

د ده زوی غلام محمد هم د خپل وخت لوی صوفي تېر شوی دی. اخوند احمد په پښتو او دري ژبو ليکنې کولې، په پښتو کې څو ديني داستاني رسالې ترې راپاتې دي چې په پښتو مسجع نثر او نظم يې کښلې، دی د اخوند دروېزه د فکري او نثري مکتب لاروی او په عين حال کې د پښتو د داستاني آثارو رانښلوونکی دی. دا منظوم آثار يې په لاس کې دي:

۱-*د مرګ په باب يوه منظومه*: د مرګ په ناڅاپي راتګ او د مرګ په ويرانيو خبرې په کې شوې دي.

۲-*شمايل‌نامه*: د درېيو مخمسونو مجموعه ده چې د اخوند دروېزه د شمايل‌نامې په پيروي يې ويلې ده(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۸٦ل، ۱۰- ۱۱ مخونه).

پيل: واورئ ای يارانو.

پای: يو ګناهګار دی، فاتحه پسې کانئ، ګناهونه يې بسيار وو، ګناهونه څرګندېږي(نجرابي، ۱۴۰۲ل،

۱۴۸- ۱۵۲ مخونه).

د آخوند احمد ليکلي او ژباړلي آثار او رسايل ديني او مذهبي اړخ لري او ترځنګ يې صوفيانه جذابې غزلې هم لري. د جذابې او تر ديني احساس لاندې د ښکلې غزلې څو بيتونه يې دا دي:

جنت يې جوړ کړ په زېړ ګلونه چې په کې ناستې د جنت جونه

کنګرې يې روغې کړې د سرو زرو شهد و شکر دي په کې رودونه(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۱۶ مخ)

خوشحال خان خټک (۱۰۲۲- ۱۲۰۰هـ.ق) ملي اتل، ستر عالم، فيلسوف، نوميالی ليکوال، مؤرخ، وتلی او پېژندل شوی شاعر، د تورې او قلم خاوند، هنرمند او ننګيالی و، لوی استاد علامه حبيبي يې په اړه وايي: خوشحال خان په کوچنيوالي کې د خپلې زمانې مروج علوم ټول ويلي وو، د ده له کلامه ښه ښکاره کېږي چې ده اسلامي علوم، لکه فقه، تفسير او نور عقلي او فلسفي علوم، لکه منطق، حکمت او ادبي علوم، د فصاحت او بلاغت اصول، لکه معاني، بيان، عروض، قافيه او نور ټوله ويلي او ښه عالم و(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۸۹ل، ۴۵۲ مخ).

خوشحال خان په ځوانۍ کې تر ډېره له ښکار سره سروکار لاره، خو د دې ترځنګ د هغه له آثارو څخه څرګندېږي چې زده کړې يې هم کړې دي، ځکه د فقهې په پېچلو مسايلو باندې پوهېده: «پر بېلابېلو مضامينو او علومو باندې د هغه ډول ډول تصانيف او تأليفات مور ته د هغه د ذهني صلاحيتونو د تنوع او د هغې ترځنګ هغې پراخې مطالعې پته راکوي چې دی پرې مسلط و»(مومند، ۱۳۸۵، ۷۷ مخ).

محمد صديق روهي د خوشحال د شعر د مضامينو د تنوع او بيا په هغو کې د ټولنيز اړخ په اړه وايي: «د خوشحال په اشعارو کې هر ډول عشقي، اخلاقي، ديني، عرفاني، فلسفي او علمي مضامين شته؛ خو اجتماعي ايډيال (يعني د پښتنو د حکومت د جوړولو مفکوره) يې د ټولو مضامينو په سر کې راځي»(روهي، ۱۳۸۶ل، ۳۰۴ مخ).

څېړونکی عبدالستار سعيد ليکي: «ملت پال هم چې له ناصح، واعظ، يا شيخ سره د ځان رند بلونکي صوفي خوشحال سمبوليکه مشاجره ويني نو پرته له دې چې د دې سمبوليکې عرفاني ژبې په حقيقت او مطلوبه معنا ځان پوه کړي، ظاهري مطلب يې د خپلې بې پشتوانې مفکورې او نظريې لپاره د بنسټ ډبرې په حيث کافي ګڼي. دوی خوشحال خان خټک په داسې حال کې د ملا او صوفي او د دښمن په حيث په خلکو ومانه چې که حقيقت ته نظر وکړو، خوشحال خان خټک په خپل د هماغې زمانې

لوی ملا یا دیني عالم تېر شوی. د دې مدعا کره دلیل د نوموړي په دیوان کې عرفاني محتوا، د نعت او حمد په موضوع مکرر اشعار، د فضل‌نامې اثر چې حنفي فقه یې منظومه کړې او تر ټولو مهم نومـوړي ته منسوب د سورت یوسف تفسیر او د فقهې د کتاب هدایې پښتو ژباړه ده. د دیني علومو د یوه شاګرد په حیث ویلی شم چې د ملاتوب په سفر کې تر ټولو سخت ترین کتاب همدغه هدایه په خاص ډول د (کتاب البیوع) برخه یې ده چې یواځې په نوم ملا نه، بلکې تکـړه او واقعـي مـلا بـه یـې پـه تـدریس او ترجمه توانیږي. دا چې خوشحال خټک دغه کتاب ژباړي معلومه ده چې د خپل وخـت مـدرس او پـه کتابونو برلاسی دیني عالم و. خو له دې ټولو حقائقو سره سره مو، ته خوشحال خان هم د غني خـان او اجمل خټک په تله راتلل کیږي»(سعید، ۲۰۱۵م، https://www.facebook.com/zahid.jalaly).

دوست محمد کامل د خوشحال د عقیدې، اخلاقو او عاداتو تر عنوان لاندې لیکي: «خان د نمونځ اودس او د روژې ډېر پابند و او د سخاوت یې دا حال و چې سره د امیرۍ او خانۍ او سرداری، صاحب نصاب شوی نه و، وضع قطع فقیرانه وه، ډېر رښتینی او صافګو سړی و، اګر که جنسي جذبات پرې ډېر غالب و، خو د هغو د تسکین دپاره یې ناجایزه طریقې نه وې استعمال کړي....»(کامل، ۱۹۶۰م، ۵۱ مخ).

خوشحال خان خټک ګڼ آثار لري:

کلیات: عشقي، ديني، اجتماعي، سیاسي، فلسفي، علمي، عرفاني، تربیوي، انتقادي، تاریخي، واقعاتي رویدادونه او نور ګڼ مضامین لري. دا کلیات څو ځله د مختلفو کسانو له خوا ترتیب او چاپ شوی دی. په دیني ګاڼه سمبال د کلام بېلګې یې وروسته راځي.

فضل‌نامه: خوشحال خټک دا مثنوي په ۱۰۸۹هـ.ق کال کې بشپړه کړې ده. د استاد کامل مومند په باور د دې کتاب له لیکلو د خوشحال مقصد دا دی چې یو طالب العلم په اسانۍ سره ضروري دیني او فقهي مسایل او احکام زده کړي. په دې کتاب کې ډېر زیات دیني او فقهي مسایل په ډېره اسانه او قریب الفهم طریقه بیان شوي دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۴۳، ۱۴۵ مخونه). دې اثر کې یو جدا فصل د فالنامې هم شته او ځینې د طب نسخې هم لري(عرفان خټک، ۲۰۱۱م، ۱۷۶ مخ).

فضل‌نامه په لنډ بحر کې د خوشحال خان مثنوي ده چې په یوولسو بابو کې ۱۱۸ فصله لري. تر حمد، نعت، د چاریارو او امامانو تر مناقبو وروسته د کتاب د تألیف ذکر لري، ورپسې د عقایدو، فقهې، پل‌صراط، بعث بعد الموت، دوزخ، جنتونو، عبادت، ګناهونو، خیر و شر، توبې، د اخلاقو، طاعت او

ریا، علم، د نبوت اثبات، د صحابه‌وو د فضایلو، د امام اعظم او د هغه د مذهب د تعریف، د طهارت او د فرض او واجبو ذکر، د بلوغت د علامو... مسایل په کې راغلي دي. فضل‌نامه تر اوسه درې ځلي چاپ شوې ده.

دا اثر د محمد عبدالشکور په مقدمه په ۲۶۰ مخونو کې په ۱۹۵۲م کال پېښور کې چاپ ده. په «ارمغان خوشحال» کې هم راغلې او چاپ ده. انتقادي متن يې نورالله ولسپال تهیه کړی، خطي نسخې يې شته دي(دوست، ۱۳۹۹ل، ۲۱۱ مخ). بله فضل‌نامه د خوشحال بابا په کلیاتو کې راغلې چې یارمحمد مغموم ختک په ۲۰۱۶م کال په ۱۹۲ مخونو کې چاپ کړې ده. «د خوشحال خان ختک کلیات» چې د عبدالقیوم زاهد مشوانې له خوا ترتیب شوی او په ۱۳۸۴هـ.ش کال چاپ دی، فضل نامه هم په کې ځای شوې ده.

په فضل‌نامه کې چې دیني ضروري مسائل راغلي دي، د کلام نمونه يې دا ده:

په قرآن کې حکم دا دی — خلق درې ګروهه پیدا دی
مؤمنان منافقان دي — بیا له پسه کافران دي
لارښونی د هر چا دی — ضلالت که د هدی دی
هدایت که ضلالت دی — کل د ده په مشیت دی
مَن هَدَاللهُ ته نظر کړه — مَنْ يُضْلِلْ هسې باور کړه(ختک، ۱۳۸۴ل، ۸۰۷ مخ)

د دوزخ او د دوزخیانو په باره کې وایي:

دا حدیث د مصطفی دی — دوزخ څو رنګه پیدا دی
دي اووه درکه واړه — ته امان له واړو غواړه
جهنم اول دوزخ دی — په عذاب هر ګوره شخ دی
بیا لظی دی بیا حطمه دی — څلورم يې هاویه دی
بیا پنځم سقر ای یاره — بیا سعیر جهنم وشماره
قهر هومره د هر یک دی — چې حساب پ لک در لک دی(ختک، ۱۳۸۴ل، ۸۱۱ مخ)

په دې بیتونو کې د دوزخ نومونه لکه څنګه چې قرآن کریم کې راغلي، یاد شوي دي.

«*نام حق*» د پارسي د مشهور مذهبي کتاب «پنج گنج» د رومبۍ برخې (کریما) دویمه برخه ده چې خوشحال بابا يې پښتو منظومه ترجمه په ۱۰۶۶ق کال کې کړې ده. د خوشحال بابا دا زیار او اثر د

همېش خلیل په تحقیق، سمون او حواشي په ۱۹۹۶م کال «د نام حق پښتو منظومې ترجمې څو پانې» په نوم خپور کړی دی(عرفان خټک، ۲۰۱۱م، ۱۷۹، ۱۸۰ مخونه). خان په «نام حق» کې د سجده سهوه په باب وایي:

اوس بیان د سجده سهو کړم وتاته — ای مؤمنه د زړه غوږ باسه و ماته
که په فرض یا په واجب کې تأخیر وشي — چې یې هېر کا په نمانځه کې تقصیر وشي
که سجده د سهو وکا په نمانځه کې — د نمانځه نقصان یې ورک شي په دا کړه کې
بویه دا چې دواړه لوریه سلام ولي — لغه پسه دې سجده په تمام ولي
په نمانځه کې که څو سوې له چا وشي — په یوه سجده یې واړه سهوې وشي

(خټک، ۱۳۸۴هـ.ش، ۷۳۵ مخ)

په دې بیتونو کې د سجدې سهوې فقهي احکام ښودل شوي دي.

لیکوال زاهد جلالي لیکي: په فضلنامه کتاب کې خوشحال خان د فقهې تقریباً ټول مهم مسایل شرحه کوي او غواړي چې په شعري بڼه یې وړاندې کړي چې خلکو ته یې حفظ اسانه شي او دین په خلکو کې عام شي. د دغه کتاب لوستل سړي ته ښکاره کوي چې خوشحال کوم عادي ملا نه و، بلکې لوی فقیه او عالم ملا و. د دې ترڅنګ خوشحال د حنفي فقهې یو ډېر معتبر کتاب هدایه هم پښتو ته ژباړلې. پښتو ته د دې کتاب ژباړل آسانه کار نه دی، د دې لپاره باید ژباړن د فقهې لوی عالم وي چې خوشحال دیو باید پر عربي او فقهي اصطلاحاتو برلاسی وي، باید پښتو کې ښه بلد او راحت وي او نور اړین شرطونه یې باید پوره کړي وي چې خوشحال خان دا کار کړی او د خپلې پوهې لوی ثبوت یې وړاندې کړی دی(جلالي، ۱۴۰۴ل، ۱۵۷ مخ).

«*اخلاقنامه*» خوشحال ته منسوب اثر دی چې د اخلاق محسني ازاده او منظومه پښتو ترجمه ده. لومړي ۱۷ بابه یې یوه سړي او ۳ وروستي بابونه یې بل چا ترجمه کړي او نظم کړي دي. د لومړیو بابونو په باب دا رایه ده چې ناظم او مترجم یې خوشحال خان خټک دی او پاتې درې نور بابونه به د ده کوم زوی بشپړ کړي وي. ځینې نور محققان بیا دا نظریه ردوي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۴۶ مخ). دا موضوع نورې څېړنې ته اړتیا ده. همدا ده چې سرفراز خان عقاب خټک د «خوشحال نامه» اثر په «اخلاقنامه» مقاله کې دا رد کړې چې اخلاقنامه دې د خوشحال خان خټک اثر وي. لیکوال کاږي چې د دې اثر مترجم د خان زوی و. هغه زیاتوي: اخلاقنامه نه د خان د لاسه ترجمه ده، نه د خان او د هغه د یوه زوی

تخلیق دی، نه د خان اثر دی، نه د دوو مصنفانو کارنامه ده او نه د فتح علي خان د زوی تصنیف دی، خو داسې ډېر قراین موجود دي چې مترجم د خان فرزند دلبند و(خټک، ۱۳٦۵ل، ۱۲۲، ۱۱٦ مخونه).
استاد صمیم کاږي چې اخلاقنامه د خوشحال وروستی اثر دی چې د ژوند په وروستیو کې یې کښلی دی. دا د هرات د واعظ کاشفي د «اخلاق محسني» په ډول کښل شوی او څېرکي یې په هماغه دود اوډول شوي دي. مطالب او کیسې یې زیاتره ځنې را اخیستي خو د وچې ژباړې بڼه نه لري. په ډېرو برخو کې د ده خپل فکر او نظر ښکاره شوی او ځینې نورې کیسې یې هم راوړې دي. اخلاقنامه شل بابه ده. خوشحال غوښتل چې د اخلاق محسني غوندې څلوېښت بابه ولري، خو مرګ نه دی پریښی او یواځې اوولس بابه یې ده په خپله نظم کړي او پاتې درې یې کوم زوی چې خپل نوم نه یادوي، بشپړ کړي دي(صمیم، ۱۳۸٦ل- ب، ۱۱۹ مخ). اخلاقنامه پر ۱۹۸۲م د پېښور قامي مکتب په ۱۸۰ مخو کې خپره کړې چې ښاغلي همېش خلیل پرې دېرش مخیزه څېړنیزه سریزه کښلې ده.
په «اخلاقنامه» اثر کې خوشحال بابا کاږي:

د مولا ښه عنایت دی	که پوهېږې عبادت دی
فرایض که واجبات دي	چې تعیین په خپل اوقات دي
پرستش دې د خدای کېږي	هر سنت دې په ځای کېږي
قبایح دي که حرام دي	چې نومړي نام په نام دي
همه واړو و ته شا کړه	ترکول یې په رښتیا کړه
غاړه امر وته کښېږده	هر چې نهې واړه پرېږده
پیروي د پاک رسول کړه	د نبي حکم قبول کړه(خټک، ۱۳۸۴هـ.ش، ٦۰۰ مخ)

محققانو د خوشحال په آثارو کې فرخنامه، آئینه، هدایه او نور هم یاد کړي دي، خو دا کتابونه تر اوسه نه دي لیدل شوي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۴۵ مخ).
دلته د خوشحال خټک په آثارو کې اسلامي، عرفاني مسایلو ته تم کېږو.
خوشحال خان خټک د توري او قلم د وصفي انتساب ترڅنګه د یوه عرفاني شاعر او تصوف په ډګر کې هم وتلي شعرونه ویلي دي. په دې برخه کې یې چې کوم شعرونه ویلي، د پوخوالي، سلاست، جامع‌توب او هنري کمال په اعتبار تقریباً بې ځپو سمندر ته پاتې کېږي چې ډېر ارتوالی او ژوروالی لري او د هنریت د مدارجو په څوکو یې عرفاني لمر څرکونه خپاره دي. د تورې او قلم دا بې جوړ

شاعر خوشحال په روحاني او عرفاني شعرونو کې د یزداني جمال او کمال په برجسته توګه ځلېدونکی دی او ښکاره دلیل یې د ده د منظومو او منثورو آثارو له ډلې: هدایه (د فقهې د مشهور کتاب هدایې پښتو ترجمه)، ائینه (د فقهې په باب کتاب) او فضل‌نامه (د مذهبي مسألو متعلق)(نړیوال، ۱۳۹۳ل، ۷۷، ۷۸ مخونه) دی.

د خوشحال خان د کلیاتو لومړنی شعر د الله تعالی د بې‌ساري صنعت له فهم او خیال نه د بهر خلقت ډېر لوړ مدارج په اثبات رسوي. په دې شعر کې خوشحال د خپل ایجادګر قلم په واسطه د انسان او اشرف المخلوقات د څېړې انځور ایستلی او د هغه په ځینو غړو کې یې د خالق د بې‌همتا صانع او خالق د کمالیاتو تجلیاتو ته داسې انعکاس ورکړی دی:

صورت‌ګر چې ښه صورت په دېوال ساز کا — کل عالم یې په صفت زبان دراز کا
د هغه نقاش په صنع نظر نه کا — چې له ځاځکي نه دا نقش و طراز کا
سترګې، وروځې، پوزه نور کېږدي په مخ کې — غاښ و شونډې، ژبه خوله سره پرداز کا
یو سر بل سر په سر جوړ کا دوه غوږونه — چې په دا دواړه اروېدنه د آواز کا
بند په بند د لاسو ګوتې وبله کېږدي — سر تر پایه درست صورت سره یو راز کا
که څوک زر کتابه وکښي له دې بابه — که په کښل شي، زر به نور پسې آغاز کا
هر وښته چې په صورت باندې لیده شي — که پرې ځیر شي د شناخت ور به درته واز کا

(خټک کلیات، ۱۴۸۴ل، ۱ مخ)

پورتني بیتونه د انسان خلقت ته اشاره لري چې الله تعالی یې په اړه فرمایي: ﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾.

خوشحال خټک نعتیه کلامونه لري چې یو یې دا دی:

چې په روی به یې بخښل شي پاک، ناپاک — بل سړی نه دی، صاحب دی د لولاک
تر هلال یې صدقه شم تر بلاله — په اخلاص یم زه د دوی د تلي خاک
د بوذر او د سلمان یې دروېزګر یم — تل د دوی په محبت دی زما ژواک...
محمد د علم شهر دی، دی یې ور دی — تر قنبر یې شه خوشحال خټک فداک

(خټک، ۱۳۵۸ل، ۱۰۳ مخ)

په دې نعت کې د رسول الله ﷺ صفت شوی او هم د هغه د څو تنو یارانو یادونه شوې ده.

خوشحال د رسول الله معجزو ته هم پام شوی، وایي:

چې یې میاشت کړه د اسمان د پاسه شقه　　چې آفتاب یې راښکاره کړه له شفقه
چې په سر باندې یې ابر سایبان و　　چې یې پاتې جبرائیل شو له اسبقه

(خټک، ۱۳۵۸ل، ۲۲۸ مخ)

د رسول الله یوه معجزه دا وه چې سپوږمۍ دوه ځایه شوه او دې پېښې ته د سیرت په کتابونو کې د (شق القمر) اصطلاح کارول شوې ده.

خوشحال خټک د لوی خدای معرفت لومړی د ځان له پېژندنې څخه بولي، وایي:

عارف سړی هغه دی چې یې شناخت وشو د ځان　　د ځان په معرفت کې معرفت دی د سبحان
چې ترس یې د زړه نه وي، نه عمل لري د نېکو　　په دا یې نظر مه کړه چې په یاد لولي قرآن

(خټک، ۱۳۵۸ل، ۱٦۱ مخ)

د عارفانو مشهوره خبره ده چې (من عرف نفسه فقد عرف ربه)، همدا خبره خوشحال په پورتني لومړي بیت کې څرګنده کړې ده. دوهم بیت یې د قرآن کریم دې ارشاد ته اشاره ده چې: ﴿لِمَ تَقُولُونَ مَا لاَ تَفْعَلُونَ﴾، یعني ولې تاسې هغه (خبرې) کوئ چې عمل وربانديې نه کوئ.

د تقدیر په باره کې کاږي:

د عارف په بخره علم لرني [لدني] دی　　په «الست» روزي شوی بې تحصیله
چې یې واړه «امنا وصدقنا» کړه　　د دانا وینا به نه وي بې تأویله

(خټک، ۱۳۵۸ل، ۲۳۴ مخ)

پورتني بیتونه دې قرآني آیتونو ته نغوته لري چې: ﴿أَلَسْتَ بِرَبِّكُمْ قَالُواْ بَلَى....﴾

د انسان اصل ته اشاره لري:

ای چې اصل دې یوه قطره مني ده　　په داسې رنګ وجود دې څه مني ده
راشه زړه ورپورې مه تړه نادانه　　که یې ګورې دا فاني دنیا دني ده

(خټک، ۱۳۵۸ل، ۲۵٦ مخ)

الله تعالی فرمایلي دي: ﴿أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَى﴾، یعني: ایا انسان د مني یو څاڅکی نه و چې په رحم کې تویول کېږي؟

خوشحال خان مسلمان د الله تعالی لوري ته وربولي چې د نفس و هوا ونه مني، بلکې له رب سره

اړيکه پيدا کړي:

چې له خلکو نه زړه پرې کړه　　زړه پيوند کړه له الله
که هوا دې کړله ترکه　　نور قبول يې د درگاه
«موتوا قبل ان تموتوا»　　په دا راز شه انتباه(نړيوال، ۱۳۹۳ل، ۹۰ مخ)

د ستر خوشحال په نظم او نثر دواړو کې له شکلي او محتوايي پلوه امثال، حکم، تلميحات، اقتباسات، اشارات او تضمينات راغلي دي، خو دلته يواځې د قرآني آيتونو د تضمين برخه خوښه شوې او هغه هم د جزيي تضمين (هغه تضمين چې شاعر د قرآني آيت يوه برخه په وينا کې ځای کړي)(صميم، ۱۳۸٦ل- ب، ۷۰ مخ).

لاندې د خوشحال بابا مطلوبه بېلگه را اخيستل شوې چې په کې د قرآن‌کريم يوه يا څو کلمې راغلي، بيا همدا کلمه د قرآن‌مجيد په آيت کې ثابته شوې او ترڅنگ يې د آيت ترجمه راغلې ده. البته د بيتونو خوښوني د (گام پر گام له خوشال سره) اثر څخه را اخيستل شوې دي.

خوشحال وايي:

کرلانې لا نور شراب نوشلي نه دي　　دا مستي واړه په جام الستي کا
(خټک، ۱۹٦۷م، ۳۲۷ مخ)

* * *

د عارف په بخره علم لدني دی　　په الست يې روزي شوې بې تحميله
(خټک، ۱۹٦۷م، ۴۲۹ مخ)

په دې بيتونو کې د انسانانو هغې ژمنې ته اشاره ده چې له پيدا کېدو مخکې يې کړې وه. الله تعالی فرمايي: ﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُواْ بَلَىٰ﴾ (الاعراف: ۱۷۲ آيت)؛ «او ای پيغمبره! خلکو ته هغه وخت ور پر زړه کړه چې ستا رب د بنيادمانو له شاگانو څخه د هغوی ځوځات را ايستلی و او هغوی يې په خپله پر هغوی باندې شاهدان گرځولي وو او پوښتنه يې ورڅخه کړې وه: (ايا زه ستاسې خدای نه يم؟) هغوی وويل: هرومرو همدا ته مو رب يې».

په طفيل يې پيدا شوي دوه جهانه　　په مازاغ يې و نظر ته مذموم دی
(خټک، ۱۹٦۷م، ۵ مخ)

پورتنی بیت د الله تعالی دې ارشاد ته نغوته کوي: ﴿مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَى﴾(النجم: ۱۷ آیت)؛ «کړې نه شوې (د پیغمبر) سترګې او نه له بریده واوښتې (له هدفه تېرې نه شوې».

په سدره یې قدم کښېښ جبرییل یې بېرته پرېښ

(خټک، ۱۹۸۲م، ۵۶ مخ)

اسمانونو ته د حضرت محمد ﷺ سفر ته اشاره ده چې په معراج مشهور دی، په قرآن‌کریم کې راغلي: «عِندَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى»؛ «یو ځل بیا یې هغه پرښته له سدرة المنتهی سره ولیده».

آمنا په صد نا شه اطعنا په سمعنا شه(خټک، ۱۹۸۲م، ۵۸ مخ)

قرآني ارشاد دی: ﴿وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا﴾(البقرة: ۲۸۵ آیت)؛ «موږ حکم واورېد او اطاعت مو ومانه».

من ذا الذي نظر کړه ځان د ده په حال خبره کړه(خټک، ۱۹۸۲م، ۶۱ مخ)

دغه عبارت په آیت الکرسي کې راغلي: ﴿مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ﴾(البقرة: ۲۵۵ آیت)؛ «څوک دی چې د هغه په وړاندې د هغه له اجازې پرته د چا شفاعت وکړي».

د ﴿مَن ذَا الَّذِي﴾ عبارت د البقرة سورت په ۲۴۵، د الاحزاب په ۱۷ او د الحدید ۱۱ آیت کې هم راغلی دی.

د ملحد په زړه به نه لګي خبرې که ویل دې ورته تل د «نون» او «صاد» شي

(خټک، ۱۹۶۷م، ۶۶۳ مخ)

په قرآن کریم کې دوه داسې سورتونه (القلم او ص) دي چې په همدې تورو پیل شوي دي او هغه دا دي:

﴿ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ﴾(القلم: ۱ آیت)؛ «ن، قسم دی پر قلم او پر هغه څه چې لیکونکی یې لیکي».

﴿ص وَالْقُرْآنِ ذِي الذِّكْرِ﴾(ص: ۱ آیت)؛ «ص، قسم دی له نصیحت نه پر ډک قرآن».

هر آیت یې د معنو په سترګو ګوره د صورت سترګې تر کومه په «یس» ږدې

(خټک، ۱۹۶۷م، ۶۴۲ مخ)

راشه نظر وکړه په «طه» په «یس» باندې خدای دی صفت کړی په قرآن د محمد

(خټک، ۱۹۶۷م، ۳ مخ)

په قرآن شریف کې دوه داسې سورتونه دي چې په همدې تورو (طه او یس) پیلیږي او هغه دا دي:

﴿طه مَا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَى﴾(طه: ۱-۲ آیتونه)؛ «طه، موږ دا قرآن پر تا باندې د دې لپاره نه دی

نازل کړی چې ته په کړاو اخته شې».
﴿یس وَالْقُرْآنِ الْحَکِیمِ﴾(یس: ۱-۲ آیتونه)؛ «یس او قسم دی پر قرآن حکیم».

اندوه مې نه شته خبر په راز یم په «لا تقنطوا» کرم ته ساز یم

(خټک، ۱۹٦۷م، ۱۵۴ مخ)

د (لا تقنطوا) عبارت د خوشحال د شعرونو په درېیو نورو بېلابېلو ځایونو او هم دستارنامه کې راغلی چې د قرآن‌کریم په دې آیت کې شته: ﴿لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ﴾(الزمر: ۵۳ آیت)؛ «د الله له رحمت څخه مه نهیلي کېږئ».

ایاک نعبد لولي په سبع مثاني کې د زړه دې څو هوی دي، هغه واړه دي معبود

(خټک، ۱۹٦۷م، ۳۵۷ مخ)

په دې بیت کې د قرآن کریم د دوو آیتونو ځینو برخو ته اشارې شوې دي:
﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ﴾(الفاتحة: ۵ آیت)؛ (موږ همدا ستا عبادت کوو).
﴿وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِنَ الْمَثَانِي﴾(الحجر: ۸۷ آیت)؛ «موږ تاته اوه داسې آیتونه درکړي دي چې د بیا بیا تکرارولو وړ دي».

څوک چې اشتي یې غواړي که دی غلیم دی «والصلح خیر» ځای د تسلیم دی

(خټک، ۱۹٦۷م، ۲۴۱ مخ)

همدا عبارت په قرآن کې هم راغلی: ﴿وَالصُّلْحُ خَيْرٌ﴾(النساء: ۱۲۸ آیت)؛ «روغه جوړه په هر حال ډېره ښه ده».

راشه واوره هسې دین مخلصین له الدین(خټک، ۱۹٦۷م، ۸۱۷ مخ)

همدا عبارت په قرآن کریم کې (۷) ځله راغلی چې یوه ځای کې داسې دی: ﴿وَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾(الاعراف: ۲۹ آیت)؛ «او هغه ﷻ په اخلاص او اطاعت سره وغواړئ».

که رؤیت یې ناممکن وی په دنیا کې د «ارني» ویل به نه وو په موسی کې
چې موسی و ته ځواب «لن تراني» و څه عجب جلوه لیدله شي په دا کې

(خټک، ۱۹٦۷م، ٦۳٦ مخ)

په دې بیتونو کې د موسی علیه السلام هغې غوښتنې ته اشاره ده چې وایي: ﴿قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَن تَرَانِي﴾(الاعراف: ۱۴۳ آیت)؛ «هغه (موسی) هیله وکړه چې ای پروردګاره! ماته د لیدو مخه راکړه چې

زه تا وګورم. ویې فرمایل: ته ما نه شې لیدلای».

نظر وکړه په قرآن کې　　په سورة الرحمن کې
سترګې قاصرات الطرف　　په سپینوالي لکه برفې (ختیک، فضلنامه، ۱۸ مخ)

* * *

فهمیده کوته زبانه　　قاصرات الطرف جانه (ختیک، ۱۹٦۷م، ۹۲٦ مخ)

* * *

ښه دلربه قاصرات الطرف ای یاره　　په خیرات، احسان جوړه ښه دیداره
په عرباً، په اتراباً سره پسندلي　　په حوراً او عیناً درست سره ګلزاره
(ختیک، ۱۹۹۱م، ۱۲۸ مخ)

په قرآن شریف کې راغلي: ﴿فِيهِنَّ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ﴾(الرحمن: ٥٦ آیت)؛ «په دغو جنتونو کې به ښکته کتونکې ښځې وي».

د ﴿قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ﴾ کلمې په دوو نورو ځایونو (الصافات: ٤٨ آیت او ص: ٥٢ آیت) کې هم راغلې دي.

د دوهم بیت کلمې په قرآن کې بیا داسې راغلې دي: ﴿عُرُبًا أَتْرَابًا﴾(الواقعة: ۳۷ آیت)؛ «د خپلو همځولو مېړونو عاشقانې».

چې کراماً کاتبین راځخه خوښ ځي　　هسې رنګ مې ګورستان ته وسپاره
(ختیک، ۱۹٦۷م، ۸۱ مخ)

په دې بیت کې لیکونکو پرښتو ته اشاره شوې چې په قرآن‌مجید کې یې په اړه راغلي: ﴿كِرَامًا كَاتِبِينَ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ﴾(الانفطار: ۱۱- ۱۲ آیتونه)؛ «داسې عزتمن لیکونکي چې ستاسې پر کړو وړو پوهېږي».

چې ظلوم جهول یادیري، کنت کنزاً هم پوهېږي　　ته و دا ته نظر مه کړه چې دا غوښې استخوان یې (ختیک، ۱۹٦۷م، ٦۳۰ مخ)

* * *

چې ظلوم جهول یې یاد کړم　　که پوهېږې دېر کرم دی (ختیک، ۱۹٦۷م، ٦۴۰ مخ)

الله تعالی د انسان ځانګړنه چې پورته بیتونو کې ورته نغوته شوې، په لاندې آیت کې داسې بیان کړې

ده: ﴿إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولاً﴾(الاحزاب: ۷۲ آيت)؛ «بېشکه هغه غټ ظالم او جاهل دی».
البته په بيتونو کې دغه کلمې له قرآني آيت څخه په لږ څه توپير راغلې دي.
د خوشحال خان په «دستارنامه» اثر کې د قرآن‌کريم ګڼ آيتونه او يا يې ځينې برخې راغلې دي، لکه: ښځې مزرعه د مردانو دي: ﴿نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ﴾(البقرة: ۲۲۳ آيت) د جهان وداني په دا زراعت ده. ستاسې ښځې ستاسې کښتونه دي. په دا کې شک نشته چې مردان بهتر تر زنان دي، لکه وارد شوي دي: ﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ﴾(خټک، ۱۹۹۱م، ۵۵ مخ).
اوس هغه بېلګې را اخلو چې خوشحال بابا په کې له قرآنه ملهم خو دی، خو اقتباس او تضمين يې نه دی کړی، يعني تعبير او مفهوم يې قرآني دی، خو ژبه او عبارات يې خپل دي چې د دې بېلګو زياته برخه تلميح ده(صميم، ۱۳۸٦ل- ب ، ۸۷ مخ). دا يې بېلګې:

حبش په مکه راغی　　چې مکه کاندي ويرانه
قريشو جنګ ونه کړ　　تار په تار لاړل له ما نه
چې وخت د محمد شو　　عرب سلوم شول په مړانه (خټک، ۱۹٦۷م، ۷۲۵ مخ)

په پورتنيو بيتونو کې د اصحاب‌الفيل کيسې ته اشاره ده چې د ابرهه په نوم پاچا له خپلو فيلانو سره د کعبې د ويجاړولو په موخه را روان شو، خو له آسمانه پرې ابابيل رانازل شول او هغوی ټول يې هلاک کړل. دا کيسه په سورةالفيل کې راغلې ده.

خپلو وروڼو يوسف واچاوه کوهي ته　　مشرف شو دی په جاه او په جلال

په دې بيت کې د يوسف عليه‌السلام کيسې ته اشاره ده چې په قرآن‌مجيد کې يې په اړه راغلي: ﴿وَأَلْقُوهُ فِي غَيَابَةِ الْجُبِّ﴾(يوسف: ۱۰ آيت)؛ «او ويې پټېله چې په يوه تروړمی کې يې واچوي».

يو سجده په اخلاص ښه ده　　نه سل زره په ريا
تر عاصي نه لا بدتر هغه عابد دی　　چې په خپل طاعت به عجب يا ريا کا

په دې بيتونو کې د هغو لمونځ‌کوونکو بيان راغلی چې لمونځ د ريا لپاره کوي. الله تعالی فرمايي: ﴿فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ الَّذِينَ هُمْ يُرَاؤُونَ﴾(الماعون:۴- ٦ آيتونه)؛ «افسوس دې وي پر هغو لمونځ کوونکي، هغه کسان چې له خپل لمانځه غافل دي، هغه کسان چې ريا (ځان ښودنه) کوي».
شط د رود نيل که د موسی په حکم وشو شق د قمر وشو په فرمان د محمد

په دې بیت کې هم د موسی علیه السلام د نجات کیسې ته اشاره ده چې د نیل سیند ورته دوه ځایه شو او ترې تېر شو او هم د رسول الله ﷺ هغې معجزې ته نغوته ده چې سپوږمۍ په کې دوه ځایه شوه. د موسی علیه السلام په باب الله تعالی فرمایي: ﴿فَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنِ اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْبَحْرَ فَانْفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ﴾(الشعراء: ٦٣ آیت)؛ «نو موسی ته مو وحیه وکړه چې سمندر په خپلې لکړې ووهه، نو سمندر څیرې شو او هره ټوټه یې د یوه سترې غونډۍ په څېر شوه».

د شق القمر په باب قرآني ارشاد دی: ﴿اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ﴾ (القمر: ۱ آیت)؛ «قیامت نژدې شو او سپوږمۍ څېرې (دوې ټوټې) شوه».

حکایت شو څنې پاتې　　نه ماهي شته نه یونس

(ختیک، ۱۹٦۷م، ارمغان خوشحال)

په دې بیت کې د یونس علیه‌السلام کیسې ته اشاره ده چې قوم یې خبره نه منله او ترې خفه لاړ، د سیند غاړې ته ورسېد، په سیند کې کب یا ماهي تېر کړ او تر یو څه وخت د کب په خېټه کې و، اخر الله تعالی د هغه دعاء قبوله کړه او د کب له خېټې یې را ووېست. همدا موضوع په قرآن‌کریم کې راغلې چې په یوه برخه کې فرمایي: ﴿فَالْتَقَمَهُ الْحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٌ﴾ (الصافات: ۱۴۲ آیت)؛ «نو په پای کې کب هغه تېر کړ او هغه ځان پرې ګانه».

نه په ډېر ده نه په لږ د خدای په کړه ده　　لږ لښکر په ډېر لښکر مومي ظفر

(ختیک، ۱۹٦۷م، ۲۰)

خوشحال بابا د اسلام د دین دې حقیقت ته اشاره لري چې که د دین له دښمنانو سره د مسلمانانو جګړه پېښېږي، نو که د مقابل لوري شمېر او وسایل زیات هم وي، بری د مسلمانانو په نصیب کېږي، لکه همدا کار چې د رسول الله ﷺ په وخت کې په څو غزاګانو کې شوی دی. الله تعالی فرمایي: ﴿كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ (البقرة: ۲۴۹ آیت)؛ «ډېر کرته یوې وړې ډلې د الله په اراده پر یوې لویې ډلې بری ترلاسه کړی دی».

که آفتاب دی که مهتاب دی واړه ستوري ورځ او شپه په عبادت کې د معبود دي

(ختیک، ۱۳۸۴ل، ۲۷٦ مخ)

په دې بیت کې څرګنده شوې چې الله تعالی ته ټول کاینات عبادت کوي، آن لمر، سپوږمۍ، ستوري او نور مخلوقات. همدا مفهوم په دې آیت کریمه کې رانغښتل شوی: ﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَنْ فِي

السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ وَكَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ﴾(الحج: ۱۸ آیت)؛ «ایا ته نه وینې چې د الله په وړاندې هغه ټول څوک چې په اسمانونو کې دي او هغه چې په ځمکه کې دي سر په سجده دي او لمر او سپوږمي او ستوری او غرونه او ونې او ځاروي او اکثره انسانان».

پورته کرښو کې د خوشحال بابا د کلام څو بېلګې د نمونې په توګه وړاندې شوې، کوم کې چې په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول قرآني آیتونه په کې را اخیستل شوي او یا نغوته ورته شوې ده. دا په دې دلالت کوي چې خوشحال بابا د قرآن‌کریم پر معنا، تفسیر او مفاهیمو پوه و او په حقیقت کې د یوه ديني عالم په توګه یې دغه قرآني مفاهیم په خپلو شعرونو او نثرونو کې ځلولي دي.

خوشحال «دستارنامه» نثري اثر هم لري چې د دې اثر په منثوره برخه کې به پرې خبره وشي.

جمیل بېګ خټک د شهباز خان خټک زوی او د خوشحال خان خټک سکه ورور دی. په تاریخ مرصع کې راغلي چې کله په ۱۰۵۰هـ.ق کال شهباز خان شهید شو، جمیل بېګ هم له خپل پلار سره په یوه جګړه کې ټپي شوی و. خو ده له خپل ورور سره یوځای د خپل پلار انتقام واخیست او له همدې مهاله وروسته یې فقیري غوره کړه. دی د شیخ رحمکار مرید و، په حجره کې یې قرآن‌شریف او یو څو د فقهې کتابونه خوندي وو. فقیر جمیل بېګ د مستۍ او جذبې په حالت کې ځینې منظومې هم ویلې دي. همدارنګه یې د نظم ترڅنګ په نثر هم لیکنې کړې دي. پر پښتو نظم سربېره په دري ژبه هم د ښې انشاء او مطالعې څښتن و. جمیل بېګ په ۱۱۱۶هـ.ق کال مړ شوی او د پېښور د نوښار د خټکو په سیمه کې ښخ دی چې مزار یې درګۍ او تنګاړو ته څېرمه واقع دی. لاندې آثار یې په تألیفاتو کې یاد شوي چې په ۱۳۶۵ل کال د افضل خان خټک د تاریخ مرصع د ۲۷۰ تلین په مناسبت د کابل پوهنتون د تاریخ او فلسفې د پوهنځي له خوا چاپ شوي دي:

۱) تذکرة الاولیاء، نور محمدیه، خلاصة الطالبین، شمس العارفین، اسرار العاشقین، زبدة السالکین، تحفة المقربین، قدوة العارفین، د شیخ رحمکار مناقب(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸۹ل، ۱۱۹- ۱۲۰ مخونه).

د نوموړي آثارو نومونو ته چې نظر وشي، ترې ښکاري چې دغه جمیل بېګ دیني او عرفاني مطالعه لرله. میا وکیل شاه فقیرخپل چې جمیل بېګ یې په نېکونو کې حسابیږي، لیکي: «خپل نیکه او د ستر خوشال خان خټکه سکه ورور جمیل بېګ (جمال خان) د خپل وخت ستر دیني عالم، ولي الله، شاعر

او په عرفاني دنيا کې په فقير بابا مشهور دی»(فقيرخيل، ۱۳۹۲ل، انتساب مخ)، نو معلوميږي چې د خوشحال بابا دغه ورور د خپل وخت لوی ديني عالم و.

اشرف خان هجري (۱۰۴۴-۱۱۰۶هـ.ق) د خوشحال خان ختک زوی او د پښتو ژبې نومیالی شاعر و. د اشعارو بشپړ *ديوان* يې په ۱۹۸۵م کال د همېش خليل په زيار چاپ شوی دی(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۸۶ل، ۴۱۵ مخ). د ده په ديوان کې بېلابېل اجتماعي، سياسي، فلسفي، ديني، عشقي او نور مسايل بيان شوي دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۵۳ مخ). څو نمونې يې را اخلو:

چې په ملک د حسن ستا په سر دی تاج مناسب دی که له ښکلو اخلي باج

د خوبی مداح دې زه مهر په بل کړې ستا په دور مې نن اولید دا رواج

نه د چا په زړه جوړه مينې وفا کا نه په يو رنګه وطن کا دوه مهراج

هغه يار چې په ديدن يې مبتهج وم په ارسال يې د جواب يم نن محتاج

(هجري، ۱۹۵۸م، ۳۱۰ مخ)

د ده ديوان له عاشقانه خبرو مالامال دی، خو ورسره په څنګ کې يې په شاعری کې ديني ښکلاوې هم شته، لکه الله تعالی ته د رسېدو لار چې ښيي:

رسېدل مولا ته هومره مشکل نه دی که حائل په ميان کې نه وي د هوا بت

ولايت به د مطلب په حيات خپل کړي که نابود کړي په کوشش د عمل دا بت

هغه رب زما خالق چې لا شريک دی هجري مات لکه خليل کړه ناروا بت

(هجري، ۱۹۵۸م، ۳۰۳ مخ)

د تهجدو لمانځه ته په اشارې وايي:

سحرګاه که اهل دل رب ته نياز هغه دم وي دروازه د قبول باز

که خبر شې ته د نيمو شپو له فيضه اوبه نه کړي هغه وخت د پښو دراز

(هجري، ۱۹۵۸م، ۳۳۴ مخ)

عبدالقادر خان ختک (په ۱۰۶۳هـ.ق کال زوکړی) دانشمند او عالم سړی و، له عرفان سره يې مينه وه، د تصوفي طريقو څخه له نقشبنديه طريقې سره يې نسبت درلود او د شيخ سعدي لاهوري مريد او خليفه و. ده په پښتو نظم او نثر آثار ليکلي دي. په منظومو آثارو کې يې د اشعارو *ديوان* د يادونې وړ اثر دی. په دې ديوان «*حديقه* ختک» کې اخلاقي، عرفاني، ديني، عشقي، اجتماعي او تاريخي مسايل

بیان شوي دي. د سعدي شېرازي مشهور ګلستان ځینې برخې نظم په نظم او نثر په نثر د «*ګلدستې*» په نامه په پښتو ترجمه کړی دی. عبدالقادر خان د جامي د «*یوسف زلیخا کیسه*» په ډېره خوږه او زړه‌وړونکې مثنوي په پښتو ترجمه کړې ده. د ده د یوسف زلیخا شهرت په پښتنو کې خورا ډېر دی حتی په جوماتونو کې په محلي نصاب کې شامله ده او د کلیو زده‌کوونکو ته تدریس کېږي. د حضرت محمد ﷺ «*څلوېښت حدیثونه*» یې په پښتو نظم ترجمه کړي دي.«*قصیده برده*» هم عبدالقادر خان په پښتو نظم ترجمه کړې ده. دی یوه«*نصیحت نامه*» هم لري(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۵۵ مخ).

د عبدالقادر خان خټک د اشعارو «*دیوان*» د ده د غزلیاتو، رباعیاتو، قصائدو، قطعاتو او متفرقاتو مجموعه ده چې د نورالله ولسپال په زیار د افغانستان د علومو اکاډمي له خوا په ۱۳٦۸ل کال خپور شوی دی. پیل یې داسې شوی دی:

چې څوک په مزکه یا په اسمان دي　　واړه په حمد د پاک سبحان دي

نقصان په غوږو کې د سامعانو دی　　اشیا یې واړه سبحان دي(خټک، ۱۳٦۸ل، ۱ مخ)

«*څلوېښت حدیثونه*» د عبدالقادر خان خټک د احادیثو منظومه ترجمه ده چې په مثنوي طرز یې ویلې ده. د «پښتانه شعراء» لومړي ټوک کې استاد حبیبي دغه ترجمه پنځه سوه بیته یاده کړې او نور یې په دې باب کې څه نه دي کښلي. خو هېوادمل لیکي: د څلوېښتو حدیثونو د ترجمې دغه رساله د دیوان د خطي نسخې په ۱۳ مخونو کې ځای شوې ده او د بیتونو شمېره یې ۹۴ دی، نه پنځه سوه. د عبدالقادر خان خټک د دغه اثر بله نسخه د پېښور پښتو اکېډیمي په خطي کتابتون کې شته، دا نسخه ښاغلي میا سناءالدین کاکاخېل په ۱۹۳۵م کې له کومې خطي نسخې رانقل کړې ده(عرفان خټک، ۲۰۱۱م، ۲۲۳، ۲۲۴ مخونه).

«*یوسف زلیخا*» د حضرت یوسف علیه السلام قصه ده چې مولانا جامي په پارسي نظم کړې ده، طرز یې د مثنوي دی او تقریباً څلور زره بیتونه لري. پښتو ژبه کې دا کیسه په رنګ رنګ او بېلوبېلو وختونو کې لیکوالو او شاعرانو بیان کړې ده. عبدالقادر خان خټک هم دغه کیسه د مولانا جامي له پارسي نظم نه پښتو ته په ۱۱۱۲هـ.ق کال را اړولې ده او لکه د خپلو نورو منظومو ترجمو په رنګ یې د مثنوي په بحر او طرز کې په روانه او خوږه ژبه ویلې ده. دا لکه د پارسي د کیسې څلور زره بیتونه لري. په ۱۲۸۸هـ.ق او ۱۲۹۸هـ.ق کلونو کې په ډهلي کې چاپ شوې ده. په ۱۳۱۵هـ.ق کال د دار السلطنې مطبعې او ۱۳۴۱هـ.ق له لاهور نه خپره شوې ده(عرفان خټک، ۲۰۱۱م، ۲۲۴، ۲۲۵ مخونه). د افغانستان ملي

آرشیف کې د «یوسف زلیخا» د (۲۲۷) شمېرې دویمه نسخې پیل وروسته له بسم الله:

عنایت ربه په ما کړه　　د امېد غونچه مې وا کړه

پای:

چې تمام شه دا کتاب　　پـه پښتو شه انتخاب(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۲۰۹- ۲۱۰ مخونه)

«*قصیده برده*» د سرور کونین حضرت محمد ﷺ په شان کې د مدحې او نعت دا سپېڅلی اثر په عربي ژبه کې ابو عبدالله شرف الدین بوصیري (٦۰۸- ٦۹٥هـ.ق) کې ویلی دی. نورو ژبو ته هم ترجمه شوی او پښتو کې عبدالقادر خان خټک دغه اثر ژباړلی چې اول ځل په ۱۳۰۹ل ډهلي کې او بیا په ۱۳۴٥ق کال لاهور کې خپور شوی دی(عرفان خټک، ۲۰۱۱م، ۱۷۹، ۲۲٥ مخونه).

«*نصیحت نامه*» خوږه او سلیسه مثنوي ده چې ټوله د تجنیس په صفت ویل شوې او عبدالقادر خپله استادي او د شعر کمال په کې ښکار کړی دی. د دې کتاب د سر څو بیتونه موجود دي(خټک، ۱۳٦۸ل، ص مخ).

عبدالقادر خټک د خپل وخت مروج ديني او ادبي علوم په داسې ډول زده کړل چې د خپل وخت نامتو څېره وګرځېده او د هماغو علومو په تدریس یې پیل وکړ او ګڼ شمېر شاګردان یې وروزل. خټک په عربي او دري ژبو رواني خبرې کولې، هغه د البوصیري قصیده مورِ ته د تصوف او ادبیاتو په برخه کې لوی میراث پریښی دی. عبدالقادر خټک خپل موضوعات له قرآن کریم څخه را ایستلي او خپل شعرونه یې په قرآني الفاظو او عباراتو ښایسته کړي دي. دی د خپلو احساساتو د څرګندولو لپاره په کافي اندازه هڅه کړې چې کلام یې له قرآني معناګانو ډک شي. هغه د نورو مسلمانو شاعرانو په څېر د قرآن کریم تر تأثیر لاندې و(منګل، nal.org/journals/۲۰۲۳/jan-http://pukhtunkhwajour june/۰۱۰۹۹.pdf). لاندې د قرآن کریم اغېز د خټک بابا پر شاعرۍ شنو.

ادیبان او شاعران تل د خپلو خبرو او مطالبو د تقویې لپاره قرآن کریم ته مراجعه کوي، هغه معناګانې ترې اخلي چې د دوی کلام ته قوت او غښتلتیا وربخښي، په ځانګړي ډول دوی تل د اسلامي تربیې په برخه کې خپل کلام د قرآن کریم په زېور ښایسته کوي. د عبدالقادر خان خټک په فکر او شاعرۍ باندې د قرآن کریم تأثیر او اغېز په ښکاره ډولونو څرګندیږي چې لاندې پرې په موضوعي، فني یا هنري او لفظي اغېزو رڼا اچوو. دغه بحث د استاد یار زمان منګل له څېړنې سره سم په لنډیز سره را اخلم.

أ- موضوعي اغېز: عبدالقادر خټک د خپل دريځ د پياوړتيا په پار قرآن کريم ته رجوع کړې او مفاهيم يې ترې اخيستي او بيا يې ژباړلي دي. هغه دا کار د دې لپاره کړی چې ټولنه په اسلامي اخلاقو وروزل شي او سالمه تربيه يې وشي.

که د نوموړي ديوان په غور سره ولوستل شي، نو ډېری قرآني مفاهيم، تعبيرات او کلمات شته چې هغه استعمال کړي دي. د بېلگې په ډول يو ځای په خپل کلام کې د رسول الله ﷺ پيروي ته اشاره کړې او هغه يې پر مسلمانانو لازمي ګڼلې ده، وايي:

خدای په خپله ستا صفت دی بيان کړی　　نشته شی چې مدحه ستا د اوصاف نه کا
چې يې ستا په شريعت قدم ثابت کړ　　له صراطه دې هغه سړی خاف نه کا

خټک پاسنی معنا او مفهوم د قرآن کريم له ﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ﴾(آل عمران: ۳۱ آيت) څخه اخيستی دی.

بل ځای شاعر د ونې د پيدايښت او څرنګوالي او له هغې څخه د اور پيدا کېدلو په اړه وايي:

چې له شنې ونې نه سرې لمبې پيدا کا　　که له سرو لمبو بهار کا څه عجب

عبدالقادر خان يادې معنا د قرآن کريم له دې آيت څخه را اخيستې چې فرمايي: ﴿أَفَرَأَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ أَأَنتُمْ أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَا أَمْ نَحْنُ الْمُنشِؤُونَ﴾(الواقعة: ۷۱- ۷۲ آيتونه)؛ «ايا تاسو هغه اور ليدلی چې تاسو يې بلوئ؟ تاسو يې ونې پيدا کړي که موږ؟»

بل ځای عبدالقادر خټک د آدم عليه السلام د پيدايښت حکمت ته په اشارې سره وايي:

چې مخلوق يې کړ آدم له ما و طينه　　روح يې کړ له خپله روحه په کې دم

نوموړي پورتنی معنا د قرآن کريم له دې آيت څخه اخيستې چې فرمايي: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الإِنسَانَ مِن سُلاَلَةٍ مِّن طِينٍ﴾(المؤمنون: ۱۲ آيت)؛ «په يقين سره موږ انسان د خاورې له نسب نه پيدا کړ».

همدارنګه بل ځای شاعر د هغو نعمتونو يادونه کړې چې الله پاک آدم عليه السلام ته په جنت کې ورکړي، وايي:

و جنت ته يې روان ډېر په اعزاز کړ　　پرې پريوان يې کړ انواع انواع نعم

دغه مفهوم د قرآن کريم له هغو آيتونو را اخيستل شوی چې په جنت کې د آدم عليه السلام د درناوي په اړه راغلي دي؛ الله پاک فرمايي: ﴿وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلاَ مِنْهَا رَغَداً حَيْثُ شِئْتُمَا﴾(البقرة: ۳۵ آيت)؛ «بيا موږ آدم ته وويل چې ته او مېرمن مو جنت کې اوسئ او وخورئ په پوره

پراخې هر څه مو چې خوښ وي».

بل ځای عبدالقادر خټک په نورو بیتونو کې د آدم علیه السلام له جنت نه د راوتلو یادونه کړې ده او دا خبره یې په ډاګه کړې چې شیطان تل انسان ته په کمین کې دی او دسیسې ورته جوړوي، وایي:

بیا شیطان یې وسوسه ور وسته زړه ته　　په ویل یې د حوا وخوړ غنم

د جنت جامې یې والوتې له تنه　　بې لباسه شو بربنډ په هغه دم

له جنته یې بیرون په درد او دوک کړ　　د عاصي آدم ندا شوه په عالم

یاد مفهوم د قرآن کریم له دې آیت څخه اخیستل شوی چې فرمایي: ﴿فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ وَقُلْنَا اهْبِطُواْ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمْ فِي الأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ﴾(البقرة: ۳۶ آیت)؛ «بیا شیطان دواړو ته په زړه کې وسوسه واچوله، له هغو نعمتونو یې ووېستل چې دوی په کې وو او مور ورته وویل چې له جنته کوز شئ او تاسو به د یو بل دښمن وئ او پر ځمکه به تر یو وخته اوسېږئ».

عبدالقادر خان د الله پاک لویي او په بندګانو یې د هغه شفقت او مرحمت ته اشاره کړې او یادونه یې کړې ده چې که بنده‌ګان هر څومره کوښښ وکړي چې د الله پاک د نعمتونو شکر ادا کړي، نه یې شي کولای، وایي:

که سیندونه د جهان واړه سیاهي شي　　قلمونه د جهان واړه اشجار کا

د خپل خدای د نعمتونو په حساب شي　　ګومان مه کړه چې یې یو نعمت په شمار شي

خټک یاد مفهوم د قرآن کریم له دې آیت څخه اخیستی چې فرمایي: ﴿قُل لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا﴾(الکهف: ۱۱۹ آیت)؛ «که چېرته دا سیندونه رنګونه شي ترڅو د الله پاک نعمتونه ولیکي، نو دا سیندونه به ختم شي، وړاندې له دې نه چې د الله پاک احسانونه ولیکل شي، که نور رنګونه هم راوړو»(منګل، .(nal.org/journals/۲۰۲۳/jan-june/۰۱۰۹۹.pdfhttp://pukhtunkhwajour

عبدالقادر خان خټک په یوه مثنوي کې د پاچاهانو او مشرانو په باب وایي:

په قیامت به وي د عرش تر سیوري لاندې‌بادشان چې عادلان شي عدل کاندي

په هر قوم چې کرم د کردګار شي　　سرداران به یې دینداره نېکوکار شي

ښه حاکم رحمت په خلقو د سبحان دی　　بد صورت که د انسان لري شیطان دی

(هېوادمل، ١٣٧٩ل، ١٥٦ مخ)

د دې شعر لومړی بيت د دې حديث مصداق دی چې: (سَبعةٌ يُظِلُّهمُ اللهُ في ظِلِّه يَومَ لا ظِلَّ إلَّا ظِلُّه: الإمامُ العادِلُ...).

عبدالقادر خان خټک يو تصوفي شاعر و، نو بې له شکه د ده په زياتو شعرونو کې د عرفاني تجلياتو اغېزې ډېرې ليدل کېږي او حتی د ده په زياتو اشعارو کې اخلاقي او وعظيه اړخونه برجسته ښکاري. د ده پر «نصيحت نامه» او «چهل حديث» سربېره د اشعارو په ديوان کې يې زيات عرفاني او مذهبي څرکونه څلېدونکي ښکاري. د هغه يوه حميده قصيده کې راځي:

که په تن دی هر وښته ژبه هزار کا — بيا د ژبې يې هزار گفتار کا
که سيندونه د جهان واړه سياهي شي — قلمونه د جهان واړه اشجار کا
فرښتې سړي، پېريان وبله ټول شي — په بيان په کښو هزار ځله تکرار کا
د خپل خدای د نعمتونو په حساب شي — گومان مه کړه چې يې يو نعمت په شمار کا

(نړيوال، ١٣٩٣ل، ١١٨ مخ)

پورتني بيتونه د الله تعالی دې آيتونو ته اشاره لري چې فرمايي: ﴿وَلَوْ أَنَّمَا فِي الأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلاَمٌ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ﴾(لقمان: ٢٧ آيت)؛ «او که چېرته په ځمکه کې ټولې ونې قلمونه شي او سمندر رنګ شي او ورپسې اووه نور سمندرونه ورسره مرسته وکړي نو د الله خبرې به (په ليکنه) تمامې نه شي».

عبدالقادر خان خټک د حضرت آدم عليه السلام پيدايښت او له جنته د هغه د راوتلو کيسه په لاندې شعر کې بيان کړې ده:

عجب خوښ په خوب اوده وم د عدم — نه مې غم و د خوښۍ يې نه د غم
يا وحوش وای يا طيور يا بل اشيا وای — کشکې زه نه وای پيدا بنې آدم
نه اول شوم نه دويم شوم نه درېم شوم — څلورېويه د حق فضل و کرم
چې مخلق يې کړ، آدم له ماء و طينه — روح يې کړ له خپله روحه په کې دم
له اوله يې سجود و فرښتو کړ — په تکريم د «کرمنا» شو مکرم
و جنت ته يې روان په ډېر اعزاز کړ — پرې پرېوان يې کړ انواع انواع نعم
بيا شيطان يې وسوسه ور وسته زړه ته — په ويل يې حوا وخوړ غنم

د جنت جامې يې والوتې له تنه　　بې لباسه شو بربنډ په هغه دم
له جنته يې بيرون په درد و دوک کړ　　د «عصی آدم» نه شوه په عالم
ده د زړه له سوزه دا ناره وهله　　هم يې دا ناره د زخم شوه مرهم
هيڅ صحبت له زوروره سره نه شي　　گرم يې ته عبدالقادره يار ناگرم
(نړيوال، ۱۳۹۳ل، ۱۲۶- ۱۲۷ مخونه)

په دې بيتونو کې د آدم ﷺ د پيدايښت، په جنت کې د هغه د اوسېدلو او بيا له هغه سره د شيطان د چل او فريب ورکولو خبره چې له املې يې له جنت څخه ووېستل شو، بهير بيان شوی دی. له دې ښکاري چې عبدالقادر خان ختک د قرآن کريم په معنا او تفسير پوه و، ځکه همدغه حکايت په قرآن کريم کې راغلی او بيا نوموړي د نظم په ژبه بيان کړی دی.

ب) فني (هنري) اغېز: عبدالقادر خان له قرآن کريم نه فني او هنري اغېزه هم قبوله کړې ده او قرآني مفاهيم يې په هنري ډول کارولي دي، ترڅو په دې وسيله د خپلو عواطفو او احساساتو څرګندونه وکړي. په دغه ډول کارولو، نوموړي قرآن کريم تحت اللفظي نه دی ژباړلی، بلکې هغه يې په هنري قالب کې اچولی او بيا يې خپل عواطف په کې ورغښتي دي او دا کار هغه څوک کولای شي چې د قرآن کريم او د قرآني علومو په اړه بشپړ معلومات ولري. دا کار د هر چا د وس کار نه دی، بلکې ډېر مهارت غواړي، ترڅو د پېښېدونکي پېښې او دريځ ترمنځ اړه ټينګه کړای شي، نو له دې املې ادیب اړ دی چې ژور فکر وکړي. د بېلګې په ډول، عبدالقادر ختک يو ځای خپل احساس د ادريس ﷺ د مرګ پېښې په اړه بيان کړی او دا خبره يې په اثبات رسولې چې هيڅوک له مرګه نه شي خلاصېدای، وايي:

له اجله يې هوړې خلاصی ونه شو　　ځان ادريس له ځمکې پاس که په سما يووړ

دلته د شاعر موخه دا ده چې له مرګه خلاصون نشته، که څه هم ادريس ﷺ بره آسمان ته وخوت، خو دغو تللو دی له مرګ نه خلاص نه شو کړای.

دغه مفهوم په دې آيت کې راغلی چې فرمايي: ﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾(مريم: ۵۶- ۵۷ آيتونه)؛ «په (دغه) کتاب کې د ادريس ياده وکړه، بې‌شکه چې دی رښتونی نبي و. او موږ هغه لوړ ځای ته پورته کړ».

عبدالقادر ختک بل ځای په خپلو احساساتو کې د عيسی ﷺ هغې کيسې ته اشاره کړې چې څنګه

به يې د الله پاک په امر مړي را ژوندي کول او دلته د خپل محبوب جدايي او بېلتون ته اشاره کوي چې ستا وصال ماته د عيسى عليه السلام تر دمه کم نه دی، وايي:

زه مرده ته مې عيسې يې ژوندی کېږم ستا په دم

د نومورې موخه دلته لفظي تکرار نه دی، بلکې غواړي خپل داخلي واقعيت او احساس را وسپړي او خپل عواطف د محبوب او گران شخصيت په هکله څرگند کړي.

الله تعالى په خپل کلام کې د عيسى عليه السلام حال ته په اشارې سره فرمايي: ﴿وَأُحْيِـي الْمَوْتَىَ بِإِذْنِ اللّهِ﴾؛ «او مړي ژوندي کوم د الله په اجازه».

شاعر د هغه درووند مسؤوليت په اړه خبرې کوي چې ځمکې او آسمانونو يې له وړلو انکار وکړ، خو انسان دې مسؤوليت ته اوږه ورکړه او دا پېټی يې اوچت کړ، وايي:

هغه بار چې آسمان نه شي اخيستلی په کوم زور به يې عبدالقادر سهي کا

(منگل، nal.org/journals/۲۰۲۳/jan-june/۰۱۰۹۹.pdfhttp://pukhtunkhwajour)

پورتنی مفهوم له دې آيت کريمه څخه اخيستل شوی چې فرمايي: ﴿إِنَّا عَرَضْنَا الأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الإِنسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولاً﴾(الاحزاب: ۷۲ آيت)؛ «بې‌شکه مور دغه امانت اسمانونو او ځمکې او غرونو ته وړاندې کړ، نو له پورته کولو يې ډډه وکړه او تر يې وويرېدل او انسان هغه پر غاړه واخيست، بې‌شکه چې دغه (انسان غټ) ظالم، (زيات) ناپوه دی».

ج) لفظي اغېز: له دې څخه هدف دا دی چې د قرآن کريم الفاظ او کلمات په خپل کلام کې راوړل شي.

ليکوالو او شاعرانو د قرآن کريم اغېز په خپل کلام کې منلی او تل يې هڅه کړې چې قرآني عبارتونو او کلمو څخه د خپلو شعرونو او هنري نثرونو په بڼاينه کې کار واخلي، دوی له قرآن کريم څخه تل الهام اخيستی او خپله شاعري يې پرې ښايسته کړې ده. پخوانيو عالمانو او کره‌کتونکو دا کار ښه نوښت ګڼلی. د عربي نړۍ ستر عالم او کره‌کتونکی جاحظ وايي: خلکو به دا غوره ګڼله چې خطيبان يا شاعران په علمي او نورو ناستو کې په خپلو خبرو او بيانونو کې له قرآن کريم څخه آيتونه را واخلي او خپل بيان او تقرير پرې ښکلی او بڼای کړي.

عبدالقادر ختک هم د نورو شاعرانو په څېر په خپلو شعرونو کې له قرآن څخه ګټه اخيستې او د قرآن

کریم د آیتونو ټوټې یې په ځینو شعرونو کې د خپل فکر او نظر د تأیید په پار کارولې دي. د بېلګې په ډول وایي:

چې تا قدم په خاورو کښېښود فلک　　قال یا لیت ربا کنت تراب

شاعر دلته وایي، انسان چې کله په ژوند کې له ستونزو سره مخامخ شي، له زغم نه یې عاجز شي، بیا دا هیله کوي چې خدایه! کاشکې زه خاورې وای، دلته وینو چې شاعر د ﴿یَا لَیْتَنِي کُنتُ تُرَابًا﴾(النازعات: ۴۰ آیت) قرآني کلمات له لږ تغییر سره را اخیستي او خپل داخلي حالت یې پرې تعبیر کړی دی.

شاعر د قرآن کریم د آیت یوه بله ټوټه د خپل دریځ د تقویت لپاره کارولې، وایي:

که باور دې په دا نه شي ورشه گوره　　په قرآن کې «بئس مثوی الظالمین»

دلته شاعر د قرآن کریم د ﴿بِئْسَ مَثْوَى الظَّالِمِينَ﴾(آل عمران: ۱۵۱ آیت» مبارکه یوه ټوټه کارولې او د خپل دریځ د پخلي په پار یې له دې آیت نه مرسته اخیستې ترڅو د خپلو احساساتو له لوري دا بیان کړي، هر هغه څوک چې ظلم کوي، باید ځانونه اصلاح کړي که نه نو ځای به یې دوزخ وي(منگل، nal.org/journals/۲۰۲۳/jan-june/۰۱۰۹۹.pdfhttp://pukhtunkhwajour).

عبدالقادر خان د حضرت محمد ﷺ په ستاینه کې وایي:

سخ د هغه زړه چې کا اشغال د محمد　　بخت د هغې خولې چې لري قال د محمد

بې له یوه خدایه چې کمال دی د ده علم　　نور چاته ښکار نه دی کمال د محمد

حضرت موسی په طور «فاخلع نعلیک» حکم پرې وشو　　عرض هم مفخر شو په نعال د محمد

(نړیوال، ۱۳۹۳ل، ۱۲۴ مخ)

له پورتنیو بېلګو چې دلته «مشت نمونه خروار» وړاندې شوې، له ورایه ښکاري چې عبدالقادر خان خټک د قرآن کریم بشپړه مطالعه لرله، پر مفاهیمو او موضوعاتو یې پوهېده او دا کار پرته له دې چې یو څوک په اسلامي اساساتو پوه نه وي، څوک ورته نه شي رسېدای او نه یې په معناګانو او تعبیرونو پوهېدای شي.

د عبد القادر خان د علمیت او پوهې په اړه باید وویل شي چې نوموړی د خپل وخت ښه عالم او فاضل بنیادم و، په پارسي او عربي ژبو یې ښه عبور درلود، په فقهي، شرعي، تصوفي او ديني علومو کې یې ساری نه و، د ده یو شمېر شعرونه چې په اخلاقي، مذهبي او د پند و نصایح غوندې په موضوعاتو ویل شوي دي، ده د روحانیاتي او تصوفي رجحاناتو عکاسي کوي او دا ترې جوتیږي چې د تېز

بصیرت خاوند و او همېشه یې د خپلې پوهې، ادراک او د مشاهداتو او تجرباتو په رڼا کې اخلاقي او مذهبي شاعري کړې ده او دغه جاویدانه افکار مونږ سره د ده د علمیت او پوهې له هر څه نه غټ ثبوت هم دی. د عبدالقادر خان خټک علمي، مذهبي او دیني مطالعه ډېره ژوره ده. د قرآن تعلیماتو او حدیث نبوي نه ښه باخبره و، د ده په اشعارو کې چې د قرآن او حدیث کومه ترجماني موندی شي، هغه د دې خبرې ثبوت دی چې د ده د علمیت معیار څومره کوټلی پوخ او علوي وو(عرفان خټک، ۲۰۱۱م، ۲۳۰ مخ).

صدر خان خټک (د زوکړې کال یې تخمیناً ۱۰۶۵هـ.ق) د آدم خان درخانۍ او دلۍ شهو پر ملي رومانونو سربېره چې په پښتو نظم یې اوډلي، د حضرت پیغمبر ﷺ *معجزات* او د *حضرت علي جنګنامه* یې په پښتو نظم کړي دي. دا دواړه کتابونه خطي دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۵۹ مخ). صدر خان خټک، له دیوانه ۱۳ غزلې او یوه قصیده لرو، د هغه دوه مخمسه هم شته(حبیبي ۱۳۹۱ل، ۳۱۸ مخ).

سکندر خان خټک (۱۰۶۸- ۱۱۱۹هـ.ق کال ژوندی) د خوشحال خان خټک زوی دی.

دی عالم او دانشمند سړی و، په پارسي او عربي او نورو ژبو ښه پوهېده او د خپلې کورنۍ له علمي او فرهنګي محیطه یې ښه استفاده کړې وه. د اشعارو *دیوان* لري چې دوست محمد خان کامل مومند په زیار چاپ شوی دی. د ده په دیوان کې غزلې، قصیدې، رباعي، قطعه، مثنوي، ترجیع‌بند او نور شعري انواع پیدا کېږي. د ده شعر د موضوع رنګارنګي او ورسره د هنر ډېره لوړه مایه لري. د *لیلا و مجنون* کیسه یې هم ډېره خوندوره نظم کړې ده. دا کیسه د پښتو مثنوي په قالب کې په ۱۰۹۰هـ.ق کال نظم شوې ده. دا کیسه هم چاپ ده. *شمایلنامه*، *پندنامه*، *ختم احزاب* او *یوسف زلیخا* د ده ځینې کوچنۍ مثنوي‌ګانې دي، د ځینو نامکمل متنونه یې په چاپي دیوان کې هم راغلي دي. خو د شمایلنامې او پندنامې د مثنویاتو بشپړ متنونه یې کابل کې چاپ دي. د *مهرو مشتري کیسه* یې هم نظم کړې ده. خو دغه کیسه تر اوسه نه ده لیدل شوې(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۵۷ مخ).

پردیوان سربېره نور علمي او ادبي آثار او تألیفات لري چې تر معلومیږي چې سکندر خان خټک د خوشحال بابا د مکتب ستر علمي او ادبي غړی و. د آثارو لنډ جاج یې لاندې اخلو:

شمایل‌نامه: د میا فقیرشاه په کتابتون کې چې د دیوان سکندرخان کومه خطي نسخه ده په هغې کې مکمل شمایل نامه ۶۴ بیته لري. دا شمایل نامه یې د اخوند دروېزه شمایل نامې نه پښتو کې په مثنوي نظم کړې ده(فقیرخېل، ۱۳۹۹ل، ۲۵- ۲۶ مخونه). په پیل کې یې وایي:

شمایل د پاک نبي په پښتو ژبه دروښه اخون ویلي وو طالبه
هر پښتون یې په لوستلو بهره مند دی د اخون فضیلت پټ نه دی څرګند دی
په عروض په قافیه کې څه خو وران وه بې پروا اخون له وزنه له میزان وه
ما وې زه په وزن جوړ دا شمایل کړم په لوستل یې پښتانه واړه مایل کړم
هر سړی چې خوښ په دا شمایل شینه وسکندر ته دې دعا وکا په مینه(خټک، ۱۳۹۹ل، ٦٢٦ مخ)

پندنامه: ۳۹ بیتونه لري چې له وعظ او نصیحتونو نه ډکه ده. د دې پندنامې باره کې سکندرخان په خپلو شعرونو کې وایي چې دا پندنامه ده د خواجه یوسف نقشبندي له پارسي کتاب نه په پښتو کې منظومه ترجمه کړې ده(فقیرخېل، ۱۳۹۹ل، ۲۷ مخ). پیل یې داسې دی:

په کتاب کې د بزرګانو دي راغلي ما په خپلو دواړو سترګو دي لیدلي
نور یې ډېر نصیحت کړی بېشمار دی ما څو بیته په پښتو کړی یادګار دی
ته یې ونغوره له ما نه پرې عمل کړه مسافر یې په دا ملک د تلو تکل کړه
ساتندوی دې په هر آن کې مولا اوسه کاروبار دې په ادب په تقوا اوسه
ګذشته مردان په یاد تقوا دین کړه موافقه د دوی تلنه په یقین کړه
بل چې اهل د سنت د جماعت وي ستا دې تل هم د هغو سره صحبت وي
بل په علم د حدیث د فقه کار کړه د صوفي جاهله وتښته فرار کړه
پل پنځه وخته نمونځ تل په جماعت کړه په دا شرط چې مه اذان مه اقامت کړه
بل د ځان شهرت په خلقو کې هم مه کړه شهرت ډېر آفت لري له ما نه زده کړه
(خټک، ۱۳۹۹ل، ٦٣٥ مخ)

ختم احزاب: د سکندرخان خټک په چاپي دیوان کې له ۳۲۷- ۳۲۹ مخه پورې د ختم احزاب په نوم وړه غوندې مثنوي ده چې د میا وکیل شاه فقیرخېل د کتابتون په خطي نسخه کې هم شته، په دې خطي نسخه کې د ختم احزاب له شروع نه مخکې «رب یسر بسم الله الرحمن الرحیم وتمم بالخیر» لیکلي او د دې له پاسه یې داسې لیکلي:

ختم احزاب واوره زما نه که لوسته شي ای مسلمانه(فقیرخېل، ۱۳۹۹ل، ۲۹- ۳۰ مخونه)

د یوسف زلیخا مثنوي: د سکندر خان په چاپي دیوان کې له درې سوه دېرشم نه تر درې سوه څلور دېرشم (۳۳۰ - ۳۳۴) مخه پورې د یوسف زلیخا مثنوي لیکلې ده چې نامکمله ده او ۵۱ شعرونه [ښایي بیتونه وي] لري(فقیرخېل، ۱۳۹۹ل، ۳۰ مخ).

لیلی او مجنون: په پښتو ادب کې شپږو تنو دا قصه لیکلې ده چې په دغو کسانو کې سکندرخان خټک لومړی شاعر دی چې د لیلی او مجنون قصه یې په مثنوي نظم کې په ۱۰۹۰هـ.ق کال کې ولیکله. په ۱۲۹۴هـ.ق کال په ډهلي کې چاپ شوې چې ۲۰۸۴ شعرونه [بیتونه] لري او دوهم ځل د پښتو ټولنې کابل له خوا په ۱۳۵۸هـ.ش کال چاپ شوې ده(فقیرخېل، ۱۳۹۹ل، ۳۰، ۳۱ مخونه).

د «مناجات د باري تعالی» په برخه کې یې راغلي:

ای یوه خدایه چې خپل عمل ته کسم شرمنده شم چې کوم عذر وړاندې نیسم
نه د خولې څخه توفیق د ځواب وینم نه توفیق د ځان د قهر عذاب وینم
هغه ورځ چې ته قاضي شې عدالت کړې خپل عمل به ورښکاره په قیامت کړې
زه تر خپلو ګناهونو شرمنده یم په ایرو کې د ظلمت سرافګنده یم

بل ځای وایي:

ای سړیه! د اتیا کلونو زوړ شوې لا حرص لرې له عمره کله موړ شوې
د هلکو سره ګرځې حرص دې ډېر دی زړه دې ډک شو له هوسه مرګ دې هېر دی
ولې نه تړې له وخته بار د کوچ ته ګرځې پوچ، ویل کړې پوچ، خندا کړې پوچ ته
لوی عظیم دریاب اخیستی د هوس یې دې دریاب په مخ کې وړې لکه خس یې
تمام عمر دې ضایع په خوشحالي کړو د زړه کور دې له اصلي فکره خالي کړ
راشه نور عمر په ذکر د خدای تېر کړه د قیامت عاقبت یاد کړه هوس هېر کړه

(خټک. ۱۳۹۹ل، ۶۴۲، ۶۵۲ مخونه)

مهرو مشتري: د سکندرخان بل اثر د مهرو مشتري قصه ده چې د محمد بن احمد العطار تبریزي له اثر څخه یې په پښتو نظم اړولې ده. د دې کتاب یادونه مستر راورټي د خپل پښتو ګرامر په سریزه کې کړې مګر په خپله کتاب مونږ ته تر اوسه پورې نه دی رسېدلی(رښتین، ۱۹۹۳م، ۵ مخ).

دوست محمد خان کامل مومند لیکي: «د موادو په لحاظ د سکندر خان شاعري ډېر اړخیزه ده، په بېلو بېلو مضمونونو کې، لکه الهیات او تصوف، اخلاق او سیاست، عشق او محبت کې سکندر خان د

خیال او فن له رویه ښکلې ویناګانې کړې دي چې ډېرې شاعرانه خوبۍ رعایات او تلازمات او صنایع او بدایع لري. د ده د کلام له مطالعې نه پس اکثر نقادان به دی د پښتو د اولې درجې په شاعرانو کې شمېري»(مومند، ۱۹۶۲م، ۱۵ مخ).

د سکندر خان خټک په شاعرۍ کې صوفیانه کلام که هم لږ دی خو بیا هم په کې ځای په ځای د تصوف او عرفان رنګ ښکاري، لکه چې وایي:

هر یو لور چې ګورم مخ د اشنا وینم　　درست اسمان مې آینه شو زمین هم

عارفان کاندي مدام په بقا څرخ　　که ظاهر کاندي دلې په ننا څرخ

چې په لوح و په محفوظ کې څه یادیږي هغه ویني عارفان په زړه صفا

د دنیا دردونه دردوي د بې دردو　　ښه چې خلاص یې له درده اهل درد کړو

څوک چې ستا په خط و خال مبتلا نه شي　　که یې لوستې کلمه بې ایمان لاړل

سکندرخان په خپله شاعرۍ کې د ښو اخلاقو، خیر ښېګڼې، د بل د زړه ساتنې، د بې وسه او بې وزله خلکو سره د مرستې باره کې څه ښه درس ورکوي او وایي:

ډېر احسان چې به چا وکړې هېروه یې　　څوک چې لږ درسره وکړه ډېروه یې

بل ځای له بې کسو سره د مرستې په اړه کاږي:

یو په لسه به یې بیا مومي باور کړه　　چې مدد د خوارو زار سره کوي

(فقیرخېل، ۱۳۹۹ل، ۴۸، ۴۹، ۵۰ مخونه)

سکندرخان په خصوصي توګه د غزل شاعر دی. یو ځای د شونډو په باب وایي:

که لذت یې د خوږو شونډو په خوله کا　　قند نبات خواږه به هېر کا په دنیا کې

ستا د شونډو د بوسې هسې مستي وه　　دا مستي کله لري شراب رحیق

په لذت دې د سرو شونډو کوثر هیڅ کړو د حیات اوبه لا هم زم زم هم

بل ځای وایي:

سپینه خوله ورځنې مه غواړه سکندره　　ښایسته په ورکول د خوله تنګیږي

د معشوقې وعده خلافي داسې انځوروي:

یو تېره بله تېره، بله تېره　　په تېر تېر دې عمر تېر کړو تېره وئ(فقیرخېل، ۱۳۹۹ل، ۵۲، ۵۳ مخونه)

د سکندر خان کلیات د میا وکیل شاه فقیرخېل په سریزه، ترتیب او سمون سره په کابل کې په ۱۳۹۹هـ.ش کال په ۸۷۹ مخونو کې چاپ شوی دی. تر دې وړاندې دغه دیوان د دوست محمد خان کامل مومند له خوا هم چاپ شوی و. فقیرخېل وایي: «زما خطي نسخه او د پښتو اکېډیمۍ خطي نسخه په هر لحاظ مکملې نسخې دي او د ارواښاد دوست محمد خان کامل مهمند چاپي دیوان نیمګړی او نامکمله دی»(فقیرخېل، ۱۳۹۹ل، ٦٥ مخ).

گوهر خان خټک شاعر او لیکوال او د خوشحال زوی دی، د زوکړې نېټه یې ۱۰۷۰هـ.ق ښودل شوې ده. د شعر دیوان یې تر اوسه نه دی ترلاسه شوی، خو یو زیات شمېر متفرق اشعار یې موجود دي. شعر یې خوږ، روان او عام‌فهمه دی، د نورو ژبو د کارولو پر ځای خپلې مورنۍ ژبې پښتو ته ترجیح ورکوي او له پښتنو لیکوالو او شاعرانو څخه په کلکه غواړي چې په خبرو او لیکنه کې له خپلې مورنۍ پښتو څخه استفاده وکړي. د گوهر خان خټک په شعر کې صوفیانه فکر او خیال له ورایه معلومیږي او کوښښ کوي په خپل خواږه شعر کې هغه مفاهیم وکاروي چې د خلکو له عقیدې او فکر سره ټراو لري. د گوهر خان خټک ژوند تر ۱۱۲٦هـ.ق کال پورې یقیني دی. د کلام بېلګه یې:

چې په مهر دې نظر شي هر انسان ته — په بهانه، بهانه یې وبولې خپل ځان ته
مجوسي، آتش پرست یار د احمد کړې — چې هیڅ نه رسیږي عقل و گومان ته
عجمي له اهل بیت سره حساب کړې — سکه تره د احمد خوشې کړې شیطان ته
بوالحکم د مکې څرنگ دوزخي کړې — له حبشه بلال راولې رضوان ته
ځای د دم وهلو نشته هر څه کاندي — حیراني ده په هر کار کې و سبحان ته
شفیع کړی مې سلمان دی ستا و در ته — ما گوهر ایماندار بیایه بل جهان ته

(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۱۲۲ مخ)

سید انوار الحق لیکي: «خپله وو که د نورو استاذانو او اتالیقو په ذریعه وو خو خوشحال خپلو زامنو ته په پارسي، عربي کې د دیني علومو د درس نه علاوه علي الخصوص په ادب کې د شعر و سخن او د انشاء او املا پوره پوره تعلیم ورکړی وو»(عرفان خټک، ۲۰۱۱م، ۲۲۸، ۲۲۹ مخونه).

محمد کاظم چې په **کاظم خان شیدا** اوخار دی، د افضل خان خټک زوی چې د ۱۱۳۵ او ۱۱۴۰هـ.ق کلونو په شاوخوا کې د خټکو د علاقې د سرای په افضل آباد کې زېږېدلی دی. شیدا حنفي مذهبه، د نقشبندیه طریقې صوفي، دینداره او پرهېزګاره انسان و. د ده د دیوان له مطالعې ښکاري چې

دی یو عالم او د مطالعې خاوند شخصیت و او په ۱۱۹۴هـ.ق کال وفات شوی دی. له ده یو *دیوان* پاتې دی چې څو ځله چاپ شوی دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۶۹۹ مخ). حنیف خلیل د شیدا د زوکړې د کال په باب کاږي چې تاریخي پېښې او شواهد ښیي چې هغه له پورتنیو ذکر شویو کلونو نه کم نه کم لس کاله ضرور مخکې پیدا شوی او د هغه د پیدایښت کال اندازتاً د ۱۱۲۵ او ۱۱۳۰هـ. ق ترمنځ متعین کېدای شي(خلیل. ۱۳۸۴ل، ۶ مخ).

د شیدا په شعرونو کې مذهبي څرکونو ته چې کتنه وکړو، نو ویلی شو چې:

کاظم خان چې کله خپل کور او کلی پرېښود او کشمېر ته مسافر شو، هلته یې شرقي علوم چې اسلامي مروج علوم و، ولوستل. ده د خپلې دیني پخې عقیدې او د خپلو نیکونو او نوور متدینو شاعرانو غوندې خپل دیوان د عالم د پروردګار په حمد و ثناء پیل کړی دی، لکه چې وایي:

ای د کل جهان صنیعه — ای د هر اسمان بدیعه
کامله قدرت د تا دی — نادره صنعت د تا دی
لوی دیوان دې مرتب کړ — چې انسان دې منتخب کړ
هر ورق یې ګوناګون دی — هر مضمون بوقلمون دی

کاظم خان شیدا په خپل یوه نعتیه مناقب کې حضرت محمد ﷺ د سردار العالمین، نورالانوار، رحمت للعلمین، سید المرسلین، د لولاک د یزداني تاج او تر عرش المعلی پورته مقام درلودونکی او داسې نورو سپېڅلو، لوړو او عرفاني لقبونو ستایلی، لکه چې وایي:

ای په فرق د آدم تاجه — د تمام عالم سراجه
ته د هر نعت لایق یې — بې نظیر د خلایق یې
چې سبب د افلاک ته یې — مخاطب په لولاک ته یې
ته سید د مرسلین یې — رحمت للعلمین یې(شیدا، ۱۳۳۱ل، ۱۰، ۱۹۸ مخونه)

شیدا د حضرت محمد ﷺ د څلورو مکرمو یارانو ستاینې په ډېره لوړه تکریمه ژبه او توصیفي الفاظو داسې کوي، پیل یې د حضرت ابوبکر الصدیق په ستاینه کوو:

اوس ممدوح زما صدیق دی — چې فطرت یې د تصدیق دی
بل سرور د صحابه دی — دی بهتر د صحابه دی
په زمره د صادقین کې — په کافه د سابقین کې...

هسې شان به خدای قبول دی　　چې ثاني د پاک رسول دی
رهنما دی د دې لارې　　گوره «اذ هما في الغار»

شیدا د حضرت عمر د اسلام د خپرولو په لار کې د اتلولۍ او د عدالت علمبردار، د اسلامي فتوحاتو د محاذونو غښتلی قوت او په کفارو ډېر سخت‌زړی او د حضرت محمد ﷺ د صمیمي مصاحب په باب منقبت کې وایي:

اوس به کړم د عمر مدحه　　تل په چشم و په سر مدحه
بلند بانگ یې لکه لمر شو　　چې اسلام پرې منور شو
عجب شان د دره دار دی　　چې ثاني د یار غار دی
چې عمر دره بالا کړه　　اسمان خمه ورته ملا کړه...
په صدیق پسې عمر دی　　مصاحب د پیغمبر دی

د کاظم خان شیدا په توصیفي کلام کې عثمان بن عفان د «ذوالنورین»، د انبیاوو د اخلاقو کلک پیرو او د قرآن عظیم د جامع په صفتونو یاد شوی دی:

اوس به مدح د عثمان کړم　　چې سامع مزکه آسمان کړم
جمله نور، تمام انوار و　　«ذوالنورین» اسمان وار و....
مقرب د پاک احد دی　　مصاحب د محمد دی
لوی شان لوی یې استان دی　　چې جامع د درست قرآن دی
زده کړه دا: پس له عمره　　په امت کې عثمان غوره

کاظم خان د حضرت علي په باره کاږي:

اوس په مدحه د علي یم　　چې فدا د دې ولي یم
منتها د سلاسل دی　　مقتدا د هر واصل دی...
«تراهم رکعا» لوله　　«سجدا» د زړه په ځله
چې عابد د خپل معبود و　　څه رکوع څه یې سجود و
په عثمان پسې علي دی　　په اصحاب کې متجلي دی

(شیدا، ۱۳۳۱ل، ۲۰۰، ۲۰۱ ، ۲۰۲، ۲۰۳ مخونه)

شیدا د قرآن پاک د احکامو مطابق د انسان اماره نفس د هغه لوی دښمن بولي او له هغه سره مقابلې ته

جهاد اکبر وایي او له اسلامي ښېګڼو څخه هغه وخت خوند اخیستل کېدای شي چې د ده له شره مؤمن مسلمان خلاص وي، وایي:

هسې چارې کړې پر ما اماره نفسه　　چې لیدلی هیڅا نه دی له خناسه
ستا و جنګ وته اکبر جهاد وایه شي　　د کندې تر کافر ځان بوله دپاسه
د اسلام په حلاوت به هله پوه شم　　که نجات مې شي روزي د تا له لاسه

(شیدا، ۱۳۳۱ل، ۲۱۱ مخ)

ملا مست څمند د پښتو ژبې پیاوړی شاعر او لیکوال دی، د یوولسمې هجري پېړۍ له ناظمانو او واعظانو څخه ګڼل کېږي. د «پښتانه شعراء» د لومړي ټوک لیکوال یې د زوکړې کال ۹۵۰هـ.ق شاوخوا اټکل کړی دی. نوموړی د خپلې زمانې پیاوړي دیني عالم و. د نقشبندیه طریقې پیرو او د پښتنو د نومیالي روحاني شخصیت اخوند چالاک له مریدانو او کلکو لارویانو څخه و. په ادبي څېړنو کې یې اصلي ټاټوبی د خیبر سیمه بلل شوې ده، خو د ده د آثارو له مطالعې څخه جوتیږي چې یو ګرځند سړی و، د پښتونخوا په ډېرو سیمو کې ګرځېدلی او په ځینو ځایونو کې د څه مودې لپاره مېشت شوی هم دی. تر ۱۰۷۰هـ.ق کال پورې یې ژوند یقینی دی، ځکه چې دغه نېټه یې په یوه شعر کې راغلې ده. د ننګرهار په شینوارو کې مړ او قبر یې د اچین ولسوالۍ د مامند درې د دودوني په کلي کې دی. اوس هم ډېر وګړي د ارادت له مخې د ده زیارت ته ورځي(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ٦٦٦ مخ).

مست د خپل عصر ښه عالم او مدقق ملا و چې اسلامي علوم، فقه، عقاید او تفسیر یې لوستي دي. ده ده خیرالبیان په سبک یو کتاب چې «سلوک الغزات» نومیږي، لیکلی او دا کتاب د پښتو ژبې له پخوانیو آثارو څخه ګڼل کېږي. پر دې سربېره ملا مست ځینې نور رسایل چې اخلاقي او دیني مواعظ دي، لري. داسې ښکاره کېږي چې ملا مست د خپل عصر یو مجاهد سړی و او ده هر کله د غزا په باب تبلیغ کاوه او خپل کتاب (سلوک الغزات) یې هم د جهاد پر تشویق او ترغیب لیکلی دی. دی تل د خپل استاد او مرشد (اخوند څالاک توغی) ستاینه کوي او داسې ښکاره کېږي چې په دغه عصر کې دا سړی د پښتنو اقوامو مرشد و او هرکله به یې غزاوې او جهادونه کول. د ملا مست قلمي کتابونه شته چې د پښتو منثور غوره آثار ګڼل کېږي، مګر په دغو کتابو کې یې ځینې قصاید او غزلیات هم شته چې دیني مضامین او موعظې په کې نظم شوي دي. مست د اشعارو په مقاطعو کې خپل نوم «مست» راوړي او د خپل عصر اکثر وقایع نظم کوي، مراثي وایي، ستاینې او غندنې لري(حبیبي، ۹۹، ۱۰۰

مخونه).

له ملا مست ځمند څخه په پښتو او دري ژبو منظوم او منثور آثار راپاتې دي چې نومونه يې دا دي:

١) *سلوک الغزوات*: سريزه يې په دري نثر، څه برخه يې په عربي او زياته برخه يې پښتو نثر دی چې د خپل مرشد اخوند چالاک غزاګانې او مجاهدې يې په کې بيان کړې دي.

٢) *د حضرت محمد ﷺ د مناقبو رساله* (دري نثر).

٣) *سوال ځواب*: ځينې دعاګانې او حکايتونه په کې په پښتو ژبه راغلي دي.

٤) *الفنامې*: د پښتو شعرونه دي.

٥) *متفرق شعرونه* (آريانا دايرة المعارف، ١٣٩٢ل، ٦٦٦ مخ).

ملا مست ځمند چې د بېلابېلو رسالو يو پنډ کليات ترې پاتې دی، په کې د «*سلوک الغزات*» رساله هم شامله ده چې د شرقي افغانستان او د سوات په کوهستاناتو کې د اخوند چالاک د جنګونو بيانونه لري. پر «سلوک الغزات» سربېره د ده په کلياتو کې د *حضرت محمد ﷺ د مناقبو او سوال و جواب رسالې*، *الفنامې* او د ده متفرق پاڑکي شامل دي. له دې کلياتو څخه چې کومې سنې ترلاسه کېږي، يوه په کې د ١٠٦٤هـ.ق سنه ده. په دې کلياتو کې تاريخي، واقعاتي، رزمي، عرفاني، اخلاقي، ديني او شرعي مسايل او حتی اجتماعي پاڑکي موندل کېږي. د هنر پلوشې د ده پر ځينو منظوماتو تته ځلا لري او نور ډېر منظومات يې هنري ښېګڼې نه لري. د ده د يوې رباعي جوړښت دا دی:

زه چې ياد کړم شهيدان د لمتی　　پر فراق اوښې بهېږي په غوتی

آه سرد مې لکه دود تر خوله روان شي　　د غم اور مې يشوي د زړه چاتی

(هېوادمل، ١٣٧٩ل، ١٢٥ مخ)

د مست د کلياتو خطي نسخه د افغانستان ملي آرشيف کې ساتل کېږي «د افغانستان د ملي آرشيف پښتو خطي نسخې» ليکوال د ملا مست د کلياتو په باب کاږي:

کليات د ملا مست ځمند (زمند): دغه ټولګه جمعاً (١٧٠) پاڼي = (٣٤٠) مخه دي. دغه مجموعه د ملا مست د آثارو له جملې څخه ده دغه مجموعه آثار د ملا مست دي چې لاندې ياد شوي دي:

١ـ *سلوک الغزات*: دغه رساله منثور او منظوم يا نيمه منظومه ده چې له لومړی صفحې تر (١٠٧) مخ په شمول که څه هم دغه رساله وروسته له بسم الله په پارسي نثر شروع تقريباً اووه مخه د هغه مقدمې، چې په دغه ځای ځينې عبارتونه عربي او نبوي احاديث هم ليدل کېږي او وروسته د افغانستان د

مشرقي سيمو او وګړو د جنګ او جګړو بحث راغلی دی.

۲ـ *رساله مناقب محمد*(ص): دغه رساله د مجموعي له ۱۰۸ مخ نه پیل او په ۱٦٦ مخ ختمه شوې چې کاملاً په مناقب د حمدو ثنا د خدای(ج) او د رسول یې ده.

۳ـ *د سوال او ځواب رساله*: دغه منظومه رساله له مخ (۱٦۸) تر (۲۳۸) پورې ده چې په څو بابونو ویشل کېږي، عنوانونه د هر باب په پارسي او سور خط لیکل شوې دي چې موضوعات یې ديني، اخلاقي او حکایتونه دي.

۴ـ *الفنامه*: دغه رساله وروسته د سوال او ځواب له رسالي پیل او په (۲۴۸) مخ کې پای ته رسیدلي، ملامست په دی رساله کې ځینې لیکنې په هر مخ کې نیم بیت یا یوه مصره او په بعضو کې یو بیت راوړی.

۵ـ *متفرقه موضوعات*: په دی ځای کې بېلابېل موضوعات لکه: اخلاق، تصوف، تاریخ او عشقي آثار راغلي دي، او له (۲۴۸) مخ پیل او په مخ د ۳۴۰ پای ته رسیدلي دي. د دې کلیاتو د ثبت شمېره (۹ پر ۲۲) ده چې په ملي آرشیف کې خوندي ده او چاپ نه دي(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۴۴- ۱۴۵ مخونه).

زلمي هېوادمل د ملا مست څمند له آثارو (سلوک الغزوات او نورو رسالو) څخه «*د مست منتخبات*» غورچانې ترتیب کړی او د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز په ۱۳٦۴ل کال کې چاپ او خپور کړی دی.

د دغه اثر اصلي متن په بسم الله الرحمن الرحیم پیل شوی چې تر هغه لاندې د الف‌نامې سرلیک راغلی او بیا ورپسې په ترتیب سره حمد، له زمانې شکایت، د هجر بحر، د سلوک خبرې، نعما، ریخته پارسي و افغاني، لیده ما، د شمشاد او چندړ مناظره، د شاه حسین غوري احوال، د ژوند حال، د عدم بحرو برونه شي، سوال او ځواب، د وطن بېلتون، د شینواري غلجي جوړه، غافل اثر ستا، د عالم صفت، د الله د ذات صفت، د سلطان محمود غزنوي پر مزار، له خپل قسمت نه شکایت، د مست خبرې، د اخوند چالاک مدحه، سوال ځواب، غم یې مه خوره او کوټه بخت تر سرلیکونو لاندې شعرونه راغلي چې ورپسې یې تعلیقات مل شوي دي. د یادونې وړ ده چې د هر شعر او غزل مهم او مشکل لغتونه هم په لمنلیک کې معنا شوي دي. د دې منتخب د مقدمې په کښلو او د متن په ترتیب او د تعلیقاتو په لیکلو کې له ۱۳۰ آثارو څخه استفاده شوې ده.

په دې غورچانې کې په شکلي لحاظ الفنامې، غزل، قصیده ډوله غزلونه او نور شته. د غورچانې د نظمونو

ځینې برخې د اخوند دروېزه د مخزن‌الاسلام منظومو او مسجع نثرونو ته ورته دي او ځینې نظمونه خو تخنیکي ستونزې لري او د هنریت تومنه په کې کمه ده(هېوادمل، ۱۳۶۴ل، بېلابېل مخونه).
په «سلوک الغزات» کې خلک جهاد او غزا ته هڅول شوي دي. ملا مست په دې کتاب کې خپل مرشد ستایلی او د هغه اخلاقي او عقیدوي مسایل یې په کې ځای کړي دي. هغه په دیني او اخلاقي علومو، فقهې او تفسیر کې کافي معلومات لرل. عالم او مجاهد شخص و(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۷۰ مخ).
د ده د کلام نخبې د ده له کتابو او رسالو څخه:

د صورت ژوند (ون) فنا دی غم یې مه خوره څه امېد پر دا دنیا دی غم یې مه خوره
هر نفس د شیرین عمر روانیږي که باور دې دا ویناوې غم یې مه خوره
هر مراد نامراد دپاره شوي حق رحیم، کریم دانا دی غم یې مه خوره...
(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ٦٦٦ مخ)

بله بېلګه:

په دوه کونه به سردار هغه الله کا پیروي چې د سرور نبي الله کا
د حضرت مینه همېشه پر غزا وه امتي دې همېش مټ د ده په راه کا
اول امر معروف فرض پر عالمانو چې د امر په بیان عالم اګاه کا
تر هغه نېکۍ افضل هغه ثواب دی چې په دین د حق خبر عاصي ګمراه کا
رشتیا حق ویل لازم پر عالمانو سخاوت دې هر غني، عدل پادشاه کا
(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۱۰۱، ۱۰۲ مخونه)

ملا مست مسجع نثر هم ویلی چې وروسته یې تفصیل راځي.
بابوجان د یوولسمې پېړۍ دیني عالم، شاعر او ادیب و. په عربي، فقهي او اخلاقي علومو کې یې مطالعه لرله او د افغانستان له جیدو عالمانو ګڼل کېده. بابوجان د دروېزه د زامنو معاصر او د هغه د مکتب پیرو و. دی د راورټي او میر احمدشاه رضواني په وینا، د یوسفزیو په سیمو کې مدفون دی. هغه «*سریاني قصیده*» په پښتو منظومه ترجمه کړه او یو بل کتاب چې اخلاقي موضوعات، دیني او مذهبي قصص او متفرق غزلیات په کې دي، ترې پاتې دی. د بابوجان د کتاب منتخب مستر راورټي په «ګلشن روه» کې چاپ کړ، فاضل استاد پوهاند عبدالشکور رشاد د دې منتخب د غلطیو په اړه جامع کتاب ولیکه او د بابوجان د ژوند تیاره اړخونه یې روښانه کړل. د بابوجان غزلیات او متفرق نظمونه د مخزن

الاسلام په زياترو خطي نسخو کې ليدل کېږي. دا د ده دی:

سينه ستا کړه د دنيا مينې لتاړه　　د زړه مينه دې تمامه پسې لاړه

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ٦۳- ٦۴ مخونه)

قاضي ميراحمدشاه رضواني په خپل کتاب (شکرستان) کې د بابوجان لغماني له ديوانه پنځه نمونې را اخيستې دي. دا اشعار په کلاسيکي ډول د غزل او قصيدې په اسلوب ليکل شوي دي، په دې اشعارو کې ده مذهبي او اخلاقي مضامين بيان کړي دي، پخوانيو کيسو او روايتو ته يې هم په کې اشارت کړی دی. يو بل زوړ قلمي ديوان هم شته چې هغه هم بابوجان ليکلی دی. د دې کتاب مضامين هم اخلاقي او مذهبي دي، مګر دومره ده چې د دې کتاب د تحرير سبک د اخوند دروېزه د سبک غوندې نيم مقفی سبک دی، دا خو ظاهره ده چې دا دواړه کتابونه بېل بېل دي. مستر راورټي په (ګلشن روه) کې وايي چې دی د بلورستان له سرو کافرو څخه و چې مسلمان شوی دی. علامه رشاد (په ګلشن روه کې د بابوجان منتخبات نثر نه دي) اثر کې د بابوجان ژوند تر ۱۰٦۸ق پورې په يقيني ډول ثابت ګڼلی دی، خو تر ۱۰۸۳ق کال پورې يې د بابوجان د ژوندي پاتې کېدو سره د (غالباً) قيد راوړی دی. بابوجان په يوسفزو کې ښځ دی او خلک يې د قبر زيارت کوي. د ده د کتابونو له لوستلو معلوميږي چې بابوجان په خپل عصر کې د ديني علومو کامل ملا و او اکثره يې په دغو کتابونو کې د تفاسيرو روايتو ته اشارتونه کړي دي.

د کلام نمونه يې:

سينه ستا کړه د دنيا مينې لتاړه　　د زړه مېنه دي تمامه پسې لاړه

د دنيا له مينې هسې مبدل شوې　　څه درواغ الا بلا دې کړه په غاړه

محرمان مستحقان دي نامحروم کړه　　د حرام پوښتنه نه کړې هر څه نغاړه

هغه مال به دې بلا شي سياه سرخه　　لکه خوګ، خنزير، پلنګ ووځي له جاړه

....

انبياء له بخيلانو روی ګردان دي　　عرض به نه کا د ظالم بخيل دپاره

د بخيل په باب راغلي آياتونه　　عذابونه به پر سخت کاندي دوباره

د بابوجان په بيانونو باور نه کا　　د هغو چې برخه شوې ده له ناره

(حبيبي، ۱۳۹۱ل، ۱۷۹، ۱۸۰ مخونه)

په ټوله کې بابو جان لغمانی د پښتو په پخوانیو شاعرانو کې د اشعارو د دیوان، قصیده سریاني، الفنامې او نورو ډېرو قصصو ناظم دی چې د ده دغه ټول آثار د ده کلیات جوړوي او دا کلیات په دوو دفترونو کې ترتیب شوی دی. په کلیاتو کې یې عرفاني، اخلاقي، تربیوي، قصصي مطالب او د دیني مسایلو بیانونه راغلي دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۱۷ مخ).

«*قصیده سریاني (دعای سریاني)*» د بابوجان وینا او ترجمه ده او د لیننګراد د ختیځ‌پوهنې انستیټوټ کې په ۱۹۰۲ شمېره خوندي ده، پیل یې: تر بسم الله وروسته:

انا الموجود فاطلبني تجدني	فان نطلب سوایي لم تجدني
زه موجود یمه همیشه	که طلب لرې دروېشه
پای: دا دعا چې عربي وه	مثال ونه د طوبی وه
بابوجان غریب پښتو کړه	دا ګلونه د پسرلي وه....

په یاد شوي انستیټوت کې د دې دعاء بله خطي نسخه هم په ۱۹۰۱ شمېره موجوده ده(هېوادمل، ۱۳٦٦ل- ب، ۱۰، ۱۱ مخونه). د دې نسخې د پای برخه تر پورتنیو بیتونو لږ تفاوت لري. ما په خپل اثر (د مسجع نثر څېړنه) ۲۸۲- ۲۸۳ مخونو کې پورتنی کلام د نامعلوم شخص بللی، په داسې حال کې چې دا د بابوجان کلام دی.

د بابوجان لغماني دوه قلمي نسخې په برېښ کتابتون کې خوندي دي. په کتاب کې یې مذهبي ښوونې د شعر په بڼه راغلې دي. د نوموړي شعرونه د الله تعالی او نبي ﷺ په ستاینه کې ویل شوي دي. یو شمېر قرآني کیسې یې چې د پیغمبرانو په هکله دي، لکه آدم ﷺ، سلیمان ﷺ او حضرت محمد ﷺ کښلې دي(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۴۲، ۴۳ مخونه).

د افغانستان د علومو اکاډمي په کتابتون کې خوندي د بابو جان دیوان په اړه راغلي چې په ۱۱۸۵هـ.ق کال لیکل شوی، ٦۸ پاڼې لري او د کتابتون شمېره یې ۲۵٦- الف ده. تصوفي، دیني، اصلاحي او اخلاقي حکایتونه دي. موجود پیل یې:

لکه مخلوق هم دواړه تعلقت لهچا یاري نه غواړي

دی فارغ دی. د مخلوق الصحبت

لن تراني د اروېدلی(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱٦۳، ۱٦۴ مخونه)

د افغانستان ملي آرشیف کې د بابوجان د خوندي دیوان په باب کښل شوي چې د پاڼو شمېر(۱٦۲)

دی.

پیل: وروسته له بسم الله: د ښه خدای ثنا به وایم څو زما د رب توان شي

شته پای: عاجز دې له دا کول د حقوق شرعیه فوت یې ور د قرآن شریف چې...(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۷۲-۷۳ مخونه).

اخوند میاداد محمدزی د شیخ رحمکار خټک (۱۰۶۳هـ.ق کال مړ) مرید او په اتمانزو کې اوسېده. ژوند یې د ۱۱۰۰هـ.ق کال د حدودو اټکل شوی دی. هغه له تصوف او سلوک څخه برخمن و. په پښتو ژبه یې نظم او نثر لیکه(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۹۶ مخ). زیارت یې د اتمانزو د کلي په زړه هدیره کې دی(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۹ مخ). دی د شعر مغتنم *دیوان* او منثوره *نورنامه* لري. پرسوزه او عارفانه غزلیات یې ویلي دي. دی له هغو عارفانو څخه دی چې وینا یې خاص روحانیت او جذابیت لري. د غزل څو بیتونه یې دا دي:

که دې د حق مینه روزي شي له دوامه سره — لکه الف چې وصلت بیا مونده له لامه سره

که دې اودس د محبت په میو وشي چېرې — د حقیت لمونځ به ادا کړې له امامه سره

اخوند میاداد د دیوان خاوند شاعر چې په الهي مینه کې یې خورا خوندور او سوزناک اشعار ویلي دي. د ده دیوان تراوسه نه دی چاپ شوی. د دیوان دوې نسخې یې په بلوچستان او پښتونخوا کې لیدل شوې دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲۸، ۱۲۹ مخونه).

د کلام بېلګې یې:

الا یا ایها الساقي پیاله که لرې له ما — راشه بهاء واخله دا دُر او ملغلرې له ما

تا چې دا سپینې جامې رنګ کړې پیر کامل پر خوم کې — دا د تهمت خبرې لرې که نادرې له ما

په نیمو شپو یو پر عظیم دریاب کې ولوېدمه — دا بېګانه عالم پې څه خبر به ښه یې لرې له ما

راځه لاس دلاسه ونیسو خدا رو له درومو چارګل پېزوان یې الول خوار و خوړلی دُرې له ما

اخون میاداد لاس په نامه ولاړ دی ګوره — ور لره وسکي سپینه خوله شهد سکرې له ما

* * *

هغه چې زه تا غوندې الله لرم — زه له چا اندوه پروا لرم

هغه بدخواه نه به زما څه اوکا — چې بدرګه راسره تا غوندې همراه لرم

لوح محفوظ مې په خپل زړه کې اولید — زړه روشناسه لکه ماه لرم

تا چې د عشق خبرې کښنوی زما په زړه کې　　خزانه څو پټ له نګاه لرم
د عشق راز به پټ څرنګ کړم له خلقه　　چې ژړا او ډنګرتیا دواړه ګواه لرم
زه د ایمان په بخځه ډېر وېرېږم　　چې د شیطان غوندې بدخواه لرم...
که نمانځي مې ترې هم بل څښتن مې نشته　　زه میا داد، نه بل الله، نه بل درګاه لرم

(افغاني، ۱۹۶۳م، ۳۰ مخ)

د اخوند دروېزه سبک په تقلید په لیکل شوو آثارو کې د **میر حسین هروي** «*نافع المسلمین*» چې په ۱۰۷۰هـ.ق کال کې تکمیل شوی، نه شي هېرېدای. دا کتاب د ګنو مضامینو او رسالو مجموعه ده. په دې کتاب کې د «خلاصة الاسلام» پښتو ترجمه، «نورنامه»، نور ګڼ دیني، شرعي او فقهي مسایل په پښتو ژبه بیان شوي دي. دا مضامین او رسایل د مخزن په سبک نظمونو کې تکمیل شوي دي. د یوولسمې پېړۍ دا سړی دوې منظومې *الفنامې* هم لري چې یوه یې د غزلو، غزل‌ډوله نظمونو او قطعاتو په چوکاټ کې نظم شوې او بله یې د څلوریزو په چوکاټ کې ده. له دې الفنامې یوه څلوریزه دا ده:

الف: ابتدا دې په نامه کوم الله بنده پور دې له ګناه
که ستا رحم پر ما وشي　　زه به نه دورمم بې راه(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۱۷ مخ)

حسین هروي چې د مسجع نثر لیکنې ترڅنګ نظمونه هم ویلي، د بېلګې په توګه یې له الفنامې څخه د شعر بېلګې را اخلو:

یګانه د حق پر لار شه　　همېشه د ده پر لار شه
شاه به ووینې حضوره　　اې طالبه له جمله غیره بېزار شه
دروېشان بارداري ونې　　ته په ونه کې انار شه
دا دنیا د غم دریاب دی　　ځنې ووځه برکنار شه
غیرې مینې کل اغزي دي　　اې طالبه! ته بیرون له دغه خار شه
اماره نفس دې کافر دی　　له کافره سره تل په کارزار شه....(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۸۰۷، ۸۰۸ مخونه)

یا:

الف – اسم د الله دی　　بل سر مه ګوره په پراته
دی په ذات کې یګانه دی　　شریک نه لري له ذاته

هم زنده په خپل وجود دی ترس يې نشته له مماته
دواړه کونه په ده هستي دي هيڅ نشته له ده پراته

(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۷۰۲، ۱۷۰۳ مخونه)

د ده په نظمونو کې عرفاني اړخ غالب ښکاري.

«د پښتو د ادبي تاريخي خطي منابع» اثر کې د مير حسين د دوو الفنامو يادونه راغلې چې د يوې د ويلو کال ۱۰۷۰هـ.ق ښودل شوی، ۱۱ پاڼې لري او د لينګراد د ختيځپوهنې په انستيتوت کې خوندي ده. دا الفنامه د غزلو يا غزل‌وشمه اوږدو نظمونو او ټوټو (قطعو) په چوکاټ کې نظم شوې، د ټولو غزلو او پاړ کو شمېر يې ۲۸ دی. د الفبې هر توری په کې په يوه غزله يا قطعه کې شرح شوی دی. د بلې الفنامې د ويلو کال هم ۱۰۷۰هـ.ق دی، د پاڼو شمېر يې ۹ او په ياد شوي انستيتوت کې خوندي ده. د دې الفنامې شکلي سکښت د مربعونو په چوکاټ کې دی.(هېوادمل، زلمی، ۱۳٦٦ل- ب، ۱، ۲ مخونه).

د دې کړۍ بل عارف شاعر **کنډيږ** دی. دی هم متصوف او عارف شاعر تېر شوی دی، يو *ديوان* ځنې پاتې دی چې تراوسه نه دی چاپ شوی. دی هم د يوولسمې پېړۍ د اواخرو شاعر ښکاري. د ده شعر رواني او ښکلا هم لري، عارفانه او د سلوک مسايل يې په شاعرانه ژبه بيان کړي دي. د ديوان خطي نسخه يې له پروفيسور ولي محمد خان کاکړ سره شته.

په همدې ډله کې د عارف شاعر **فتح‌شاه** نوم هم د يادولو ده. دی د يوولسمې پېړۍ د اواخرو شاعر او ليکوال معلوميږي. د اشعارو او آثارو يو *کلیات* لري چې تر اوسه نه دی چاپ شوی، يوه خطي نسخه يې په بريتانيا کې محفوظه ده. په دې کلياتو کې چې د ده د اشعارو ځينې برخې کتل شوې دي، يو عارف او متصوف سړی ښکاري، دا لاندې بيتونه يې د حال ښکارندويي تر يوه حده کولی شي:

د حق جوش به په هغو سينو کې وينه چې له حقه مشرف په مجذوبي شه
د سالک سلوک تر ډېره حده بويه چې مقصود سر يې حاصل له باري شه

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲۹ مخ)

فتح‌شاه چې د پښتو له پخوانيو شاعرانو څخه دی، د کلياتو دوه ټوکه او د «*بحر المسايل*» په نوم بله مذهبي رساله يې ترې پاتې دي. دا د هغه شعر دی:

خدای قادر په خپل قدرت دی تر حد زيات د ده صفت دی

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳٦٦ مخ)

«*کلیات فتح شاه*» دوه ټوکه قلمي نسخې په برېښ کتابتون کې شته، یو ټوک ۲۰۹ او بل یې ۱۲۷ مخونه لري(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۵۱ مخ).

د عارفانو دغه دربیمه ډله د پښتو ادب په پرمختیایي سیر کې خپل نقش لري او د پښتو د عرفاني پانګې په غني کولو کې یې له آثارو سترګې نه شي پټېدای. د همدغو حلقې د شاعرانو او لیکوالو په آثارو کې ځینې داسې آثار هم شته چې د پښتو ادب د موضوعي پراختیا په پروسه کې بېاغېزې نه دي، لکه د مذهبي حماسو او رزمیو ایجادول او نور دې ته ورته د مذهبي او اخلاقي آثارو ایجاد، لکه بحر الایمان، نصیحت نامه او نور(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۳۰ مخ).

احمد داؤدزی د یوولسمې هجري پېړۍ له مشهورو صوفیانو او مشایخو څخه و او د پېښور په شاوخوا کې اوسېده. شیخ د نقشبندیه طریقې پابند و، پر روحاني مراتبو سربېره د پښتو ناظم او ادیب و. د «*الشرایع و الاحکام*» په نوم کتاب یې په پښتو نظم ویلی دی. شیخ احمد په ۱۱۱۸هـ.ق کال له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي او په داؤدزي سیمه کې ښخ دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۵ مخ).

سلیمان د یوولسمې پېړۍ د حدودو مذهبي شاعر او ناظم دی چې د «حکایت رسول» په نوم منظوم اثر یې عبدالغني کاسي په خپله مخطوطه کې خوندي کړی دی. دا شعر د ده دی:

ای فقیر سلیمانه — ته به ومرې له ارمانه
هغه دوزخ به تا څه کاندي — که اور نه وي ستا له ځانه

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۲۲۰ مخ)

سید حسین چې له یزید سره د امامانو د جنګ قصه یې په پښتو روان نظم ویلې ده، ځای ځای خپل نوم سید او کله سید حسین راوړي. دی د یوولسمې پېړۍ د حدودو شاعر دی چې د پښتو لومړنیو مذهبي حماسه‌سرایانو په ډله کې کې دی. د ده جنګنامه د *جنګنامه امامین* او *جنګنامه حسنین* په نامه ده چې په وارو وارو چاپ شوې ده. دا سید حسین ځینې مخمسونه هم لري او د مخمس په قالب کې ویل شوې یوه *الفنامه* یې هم شته چې یو بند یې دا دی:

الف نوم دی د الله — یادوه یې په هر ساه
د زړه رزق کړه الا الله — همېشه اوسه په تراه

چې ضایع نه کړې دفتر(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲٦ مخ)

سید حسین چې مذهبي او ديني شاعر و، «*جنګنامه امامین*» یې د اخوند دروېزه ننګرهاري له آثارو

څخه ترجمه کړی دی. په قصه کې کله کله خپل تخلص «سید» راوړي. دا د ده دی:

حمد ثنا د خدای کړم چې خالق د هر کرم ؤ و لقد کرمنا بني آدم ؤ

تر هر چا یې په خپل دوست باندې کرم ؤ چې تر کل جهان په واړو مقدم ؤ

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۲۳۲ مخ)

د افغانستان د ملي آرشیف کې خوندي د حسین «الفنامه» شته چې د متن بېلګه یې دا ده:

دغه سید المرسلین کړه ذاتي مهر آغاز کړه

د جهان مثل دریاب دی دا صورت پکې روان لکه جهاز کړه

د حقیقت قبله وغواړه که طالب یې همېشه ورته نماز کړه

محبت یې کړ ندرت له زړه نه بېرته واړه مینې د مجاز کړه

(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۰- ۱۱ مخونه)

غلام محمد د شېر خان[1] زوی او په خټه ګګیانی دی. نوموړی د پېښور په «دواوه» کې اوسېده، د زېږېدو دقیقه نېټه یې نه ده څرګنده، خو دا چې ده خپله «معراجنامه» نومی اثر په ۱۱۱۵هـ.ق کال له دري ژبې څخه په پښتو نظم ژباړلی دی، چې دا مهال به غالباً د پوخوالي پراو ته رسېدلی وي، نو ځکه دی د یوولسمې پېړۍ د پای او د دولسمې پېړۍ د پیل یا لومړیو کلونو شاعر ګڼل کېږي.

د غلام محمد له آثارو په تېره د ده له تفسیر څخه څرګندیږي چې ده د خپل وخت دودیز علوم لوستي و، د مطالعې او معلوماتو خاوند و. د ده ډېر شعرونه د مثنوي په کالب کې ویل شوي دي، خو د ادبي نزاکتونو او شعري تلازماتو څه ځانګړی خیال یې نه دی ساتلی، مګر وزن او قافیه یې اړین ګڼلي دي. نوموړی یو قصه ویونکی شاعر دی او شعرونه یې ساده دي(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۲۷۴ مخ).

غلام محمد چې په دواوې کې له استوګنې وروسته هندوستان ته تللی، وینا یې ساده او عموماً د مثنوي په ډول ده. د شعر فنون او نزاکتونه نه لري، فقط د بحر او قافیې لحاظ کوي. دی یو کیسه‌ساز شاعر دی چې د *سیف الملوک* په نامه یې یوه کیسه نظم کړې ده، یوه *معراجنامه* یې هم منظومه لیکلې ده. دوه نور کتابونه (*جنګنامه*) او د (*والضحی منظوم تفسیر*) هم له ده څخه پاتې دي. د ده له تفسیره ښکارېږي چې د دې علم په کتابو کې یې ښه معلومات درلودل. د سیف الملوک قصه یې په پښتنو کې ډېر شهرت لري، مګر ډېر خرافات په کې ګډ شوي دي(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۲۰۸- ۲۰۹ مخونه).

[1] دایرة المعارف دویم دور، پنځم ټوک ۲۷۴ مخ کې دغه نوم «شیرین خان» راغلی دی.

کله چې په هندوستان کې د پښتو آثارو د ايجاد او ودې مسايل سره وکتل او ارزيابي شي، نو په يوه خاصه زماني مقطع کې له ځينو داسې آثارو سره مخامخ کېږو چې د ديني تعليم او تربيې او هم د عصر د ځينو نورو رواجي علومو د ښوونې په منظور ايجاد شوي او ترجمه شوي دي. په هندوستان کې قديم د دغه ډول شرايطو لرونکی ايجاد شوی يا ترجمه شوی اثر هماغه د غلام محمد ګګيانۍ معراجنامه ده. ده د معراجنامې په پای کې ويلي دي:

سن د هجر وه زر سل پنځلس کاله	دا بيان چې غلامی ابن شير خان که
په صورت سړه‌بنی خښی وايه شي	ملک وطن يې دوابه په کې ګذران که
په تپه کې ګګيانۍ ذات موکاخېل يم	د قسمت دانې چې بند په هندوستان که
د نبي معراجنامه په پارسي ژبه	ما غلام محمد پښتو ژبه بيان که

له دې بيتونو څخه ښکاري چې غلام محمد ابن شېر خان موکاخيل ګګيانۍ د پښتونخوا د دوابې اوسېدونکی و، مګر له وطنه لېرې د ده په اصطلاح د قسمت دانې په هندوستان بند کړی و او ده دغه معراجنامه په هندوستان کې له پارسي څخه په پښتو منظومه راژباړلې چې پارسي مأخذ يې نه دی ښوولی. ګګيانۍ د خپلې معراجنامې د نظمولو لپاره قصيده ډوله نظمي شکلي بڼه غوره کړې ده. په ګرده معراجنامه کې رديف او قافيه نه بدليږي او کابو ۷۹۴ بيته معراجنامه يې په همدې قالب کې او په همدا بڼه نظم کړې ده. په دې اثر کې د اسلام د نازولي پيغمبر حضرت محمد ﷺ د معراج واقعه په داسې ډول نظم شوې ده چې د پښتو په ديني حلقو کې د محشورو خلکو او يا د ديني زده‌کړو د طالبانو او شوقيانو په ذوق برابره ده. ګګيانۍ خپله معراجنامه داسې پيل کړې ده:

په حضرت نبي چې مهر مستعان که	جبرائيل يې په بللو ور روان که
اويا زره فرښتې ورسره نورې	خو مقام يې د ښاغلي په استان که
الصلوة والاسلام[1] قم حبيبه	نن شپه مورِ ته رب هسې رنګ فرمان که

هېوادمل زياتوي: «د غلام محمد دغه په هندوستان کې نظم شوې او ترجمه شوې معراجنامه يواځې په هندوستان کې پاتې نه شوه، بلکې په ټول تاريخي افغانستان کې يې په ديني حلقو کې شهرت پيدا کړ او ما په خپله څو کاله دمخه وليدل چې له وردګو نيولې آن تر کلاته د دې سيمې په کليوالي ديني نصاب کې دغه د غلام محمد ګګيانۍ نظم کړې معراجنامه شامله وه او سهار چې به د کلي ماشومان

[1] ماته [والسلام] سم بربښي.

جوماتونو ته د درس لپاره ورتلل، له ځینو سره به دغه معراجنامه وه. دا په دې معنا چې دغه معراجنامه د خپلې هستۍ په دې څه کم درې سوه (۱۳۶۹ل کالونو کې) ډېره مشهوره شوې او د دیني تعلیمي اهدافو د پر مخ بېولو لپاره ترې ښه کار اخیستل شوی دی»(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۳۱، ۳۳۲ مخونه).

د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو خطي نسخو کې د خوندي «معراجنامه» ۵۲ پاڼې لري او موضوع يې د حضرت محمد ﷺ د معراج حکایت دی دی. تر بسم الله وروسته:

په حضرت رسول چې مهر مستعان که جبرائیل ي بللو ور روان که

اویا زره فرښتې وي ورسره نورې څو مقام ي د ښاغلي په آستان که

(دوست، ۱۳۹۹ل، ۴۳، ۴۴ مخونه)

د معراجنامې څلور لاسي نسخې د بریتانیا په کتابتونونو کې خوندي دي. دا د معراج شپې کیسه ده چې لیکوال يې غلام‌محمد د پېښور ګګیانۍ پښتون او د قادریه طریقې لاروی بلل شوی. نوموړي دا کتاب هغه مهال له پارسي نه ژباړلی چې دی په هند کې بندي و(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۱۳۷ مخ).

د افغانستان ملي آرشیف کې د «*معراجنامه*» څو نسخې خوندي دي، چې د یوې نسخې پیل يې داسې دی:

په حضرت نبي چې مهر مستعان که جبرایل يې په بللو در روان که

پای:

چې و خط و ته نظر د ناظران شي په دعا ورته په تمه کاتبان شي(نجرابي، ۱۴۰۲ ل، ۱۹۱ مخ)

«معراجنامه کلان و خورد افغاني» د غلام محمد او یوه نامعلوم شخص اثر دی چې په ۱۳۲۲هـ.ق/ ۱۹۰۴م کال لاهور کې په ۳۶ مخونو کې چاپ ده. د حضرت محمد ﷺ د معراج کیسه ده چې لویه معراجنامه د قصیدې په توګه په دولس سیلابي بیتونو کې د غلام محمد له خوا ویله شوې او کوچنۍ معراجنامه بیا په اته څپیزه مثنوي د بې نومه شاعر ده(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۷۵۴ مخ). د غلام محمد «معراج نامه کلان» په پېښور په ۱۲۹۵هـ.ق په ۴۸ مخونو کې(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۱۸۲ مخ) هم چاپ شوې ده.

د غلام محمد په آثارو کې ځینې نور کتابونه هم یاد شوي، لکه هاني جارج راورټي چې د ده په آثارو کې «*جنګنامه حسنین*» او «*سیف الملوک بدیع جماله*» هم یاد کړي دي. پروفیسور بلو مهارت بیا د غلام محمد د *سیف الملوک* د قصې نسخه د بریټش موزیم د پښتو نسخو په لړۍ کې ښوولې ده. په «پښتانه شعراء» کې يې «*تفسیر والضحی*» هم د ده په منظوماتو کې شمېرلی او «فرهنګ زبان و ادبیات

پښتو» کې یې یو بل اثر «*قصه عزازیل*» هم یاد شوی دی.

د غلام محمد ګګیانۍ د آثارو له مطالعې څخه ښکاري چې یوه قصه‌سرا شاعر دی چې ځینې دیني حکایات او قصص او په شرقي فرهنګ کې ځینې شاملې قصې یې په پښتو نظم کړې دي. په دغو آثارو کې معراجنامه او تفسیر والضحی ډېر مشهور شوي دي. په لسګونو خطي نسخې یې دورې او هورې پیدا کېږي او په دې دوو وروستیو پېړیو کې په لسګونو ځله په هندوستان او پښتونخوا کې چاپ شوي دي چې د خطي نسخو دغه تعداد او د چاپونو د شمېر زیاتوالی یې په دې دلالت کوي چې د ده دغه آثار د پښتنو په دیني حلقو کې معمول وو او لوستونکي یې لرل او د همدې تقاضا او مینې په اساس د غلام محمد دغه آثار ډېر لیکل شوي او چاپ شوي دي(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۳۲، ۳۳۳ مخونه).

«تفسیر و الضحی» د «والضحی» د سورې پښتو منظوم تفسیر دی. استاد هېوادمل «د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې» اثر کې د دې تفسیر د لیکلو کال ۱۱۸۱هـ.ق ښودلی دی(هېوادمل، ۱۳۶۳ل، ۵ مخ). د پښتو له لومړنیو تفسیرونو څخه ګڼل کېږي چې غلام محمد ګګیانۍ (زوکړه ۱۰۹۰ق شاوخوا) په دولسمه هجري پېړۍ کې منظوم کړی او په ۱۲۹۷هـ.ق/ ۱۸۸۰م کال په ډیلي کې چاپ دی. په دولس څپه‌ییز مثنوي کښل شوی چې څه دپاسه ۱۳۰۰ بیتونه لري. قلمي او چاپي نسخې یې زیاتې دي. مفسر دا نه وایي چې تفسیر یې ترجمه که تألیف دی، خو له محتوا یې ښکاري چې له کوم دري تفسیر نه ترجمه شوی دی. له تفسیر والضحی څخه چې قلمي نسخه یې شته، څو بیته د نمونې په ډول رانقلوو:

هسې وایي د صدیق په خلافت کې — یو سړی و ډوب تمام په معصیت کې
ډېر فاسق زاني میخور ډک له عصیان و — نقل کړی ده له دې فاني جهان و
هغه شپه صدیق په خوب کې و لیدلی — شاهانه تاج یې پر سر و ځلېدلی
ابوبکر ځنې وکړله پوښتنه — دا عزت دې په څه بیا موند له څښتنه؟
ته په فسق او په فجور هر چرته معروف وې — بېرون تللی له نېکیه له وقوف وې
غه سړي ورته عرض وکړ اې صدیقه — دا خبر رښتیا و تا ته کړم تحقیقه
یوه ورځ هر ګورم وړی بې‌قوت وم — کور ته تللی د مړی خوړو په نیت وم
چې مړی مې په لاسونو واخیسته — هغه وخت فقیر پر ما ناره وکړله

غه مړی مې هغه وخت و فقیر ورکړه　　زه هم هسې وړی کښېناستم باور کړه
اوس هغه مړی دلې ځما په ښه شوه　　راوستم یې تر دې ځایه ځما مله شوه
باري خدای مې رامعارف کړه ګناهونه　　رایې وبخښله واړه نعمتونه
(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۲۰۸- ۲۰۹ مخونه)

د تفسیر والضحی هغه نسخه چې د افغانستان د علومو اکاډمي د خطي نسخو برخه کې ساتل شوې ده، پیل یې تر (بسم الله) وروسته داسې دی:

اصطلاح دارنک ده د عاشقانُ　　چه عاشق لره باید دي طالبانُ
هیڅ عاشق د یار نوم نه اخلي پژبه　　د دوی واړه اصطلاح دا ده طالبَ
(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱۷ مخ)

د افغانستان ملي آرشیف کې خوندي «تفسیر سورت والضحی» پیل او پای داسې ښودل شوی دی:

پیل: باري سوګند پر ځای نیت یاد کړي　　چې روښان د لمر په نور شي درست وګړي

پای: ...کل اناس داخلوها (تمت تمام شد، کاری من نظام شد، از دست خط سید محمد)

افغانستان ملي آرشیف کې د «*تفسیر سورت الفتح*» منظوم اثر یادونه شوې چې مفسر یې غلام محمد ګګیانې ښودل شوی دی. پیل یې له بسم الله وروسته: سوګند پر ځانیت یاد کړم....

پای: هم بخشش د کل مومن غواړم

دغه تفسیر د پښتو په ټولنه کې یو درسي مذهبي کتاب په توګه پېژندل شوی، د پښتنو په اکثرو سیمو او جوماتونو کې دغه منظوم کتاب ملا صاحبان یې خپلو شاګردانو ته تدریسوي، خطي نسخې یې ډېرې دي، بار بار په پخواني هند او پېښور کې چاپ شوي دي(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۵۰- ۵۱ مخونه).

د افغانستان ملي آرشیف کې د خوندي «قصه د سیف الملوک» په اړه راغلي چې د پښتو منظومه کیسه ده، ناظم یې ظاهراً معلوم نه دی، په پښتو ژبه کې د دغې نسخې ناظمان ډېر دي لکه: غلام محمد، شیرګل، محمد او داسې نورو چې پښتو ته یې نظم کړي ده. د دغې کیسې د پیل او پای پاڼې لوېدلي یا له منځه تللې دي.

شته پیل: قلزم قهر په غضب شه
په کشتن کولب شه....

پای: دریاب له نوره دا حدیث؟(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۳۷- ۱۳۸ مخونه)

«*قصه عزازیل*» د غلام محمد منظوم اثر دی چې دیني منځپانګه لري. چاپ نه دی. ناقص الاول خطي نسخه یې چې ۱۶ مخه ده، د علومو اکاډمۍ کتابتون کې خوندي ده(هېوادمل، ۱۳٦٦ل، ۲۸۷ مخ).
«*تولدنامه*» د امام حسن امام حسین د زېږېدو او ژوند قصه ده چې ناظم یې غلام محمد ګګیانې دی. دا قصه لا چاپ نه ده، خطي نسخې یې موندل کېږي او یوه نسخه یې د بریتانیا په کتابتونونو کې شته(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۴۰ مخ).
د «*تجوید خزانة القراء*» ناظم غلام محمد ښودل شوی، د نظمولو او لیکلو کلونه یې نامعلوم دي، د پاڼو شمېر ٦٦ دی، د علومو اکاډمي د کتابتون شمېره یې ۱۸۳- الف ده، ناچاپ ده. موضوع یې د قرآن عظیم الشان تجوید دی چې شاعر نظم کړی دی. دغه راز د قرآن کریم د تلاوت آداب، حروف، ادغام، ساکن، حروف شمسي، حروف قمري په کې شامل دي. موجوده پیل یې تر (بسم الله) وروسته:
تل؟ الحمد لله وایم
خپل خالق پثنا ستایم
.... پیدا دی
و خپل رب ته پثنا دی
که سړی، پېري، طیور دي
جمادات، نبات، ظهور دي
پورته چې «د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو خطي نسخو تحلیلي څېړنه» اثر په حواله د «تجوید خزانة القراء» ناظم غلام محمد ښودل شوی، باید وویل شي چې په همدغه اثر کې «خزانة القراء» د محمد رسول هم ښودل شوی دی(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱۵، ۱٦، ۱۸ مخونه). د دواړو تجویدونو د سر بیتونونه تقریباً سره یو شان دي. د محمد رسول په اړه معلومات وروسته راځي.
د پښتو داستاني ادبیاتو پرمختیایي بهیر کې د غلام محمد ګګیانې نوم د یادولو دی. دی ګڼ دیني رسایل لري چې ځینې یې قصې دي. د سیف الملوک داستان چې ادبي ارزښت لري او له پارسي څخه منظوم پښتو ترجمه شوی، د ده داستاني اثر دی(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۵۷ مخ).
صدیق یو متصوف شاعر دی، د یوولسمې او دولسمې هجري پېړیو په حدودو کې یې ژوند کړی دی او د زوکړې نېټه یې د یوولسمې پېړۍ د دوهمې نیمایي په لومړیو دوو لسیزو کې اټکل کېږي. د ده په *دیوان* کې د نورو عشقي، اخلاقي، اجتماعي مسایلو د بیان ترڅنګه عرفاني افکار هم روزل شوي او

لاندې پاړکی یې جوتوي چې صدیق منظمه عرفاني مطالعه درلوده او عرفان د یوه مسلک په توګه د ده پر شاعري وزرې غوړولې دي:

چې ثابت په شریعت شې　　نور سالک د حقیقت شې
د توحید ډېوه کړه بله　　چې روان په طریقت شې
بې پرواهه به رفتن کړې　　چې د پیر په معرفت شې
د تلقین ذکر حاصل کړه　　چې مشغول په محبت شې

د صدیق په دیوان کې هنري ارزښتونه هم په ښه معیار کې دي. پر پښتو سربېره یې په پارسي ژبه هم شاعري کړې ده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲۷ مخ).

د صدیق د کلام نورې بېلګې:

راښکاره شو نن هغه پرې رخسار بیا　　چې په دین و دل مې اوس کاندي ناتار بیا
په یوه دیدن یې هر څه له ما یووړل　　اوس له خیاله راته نه ګوري دوبار بیا
چې هجران زما په زړه کې وښخ کړي　　د وصال طبیب مې وکیښ هغه خار بیا
خپل وژلي چې شمېرې چاته ما یاد کړه　　چېرې نه له شماره وباسې ما خوار بیا
په خندا دې چې بوسه نن و ما راکړه　　دا خو عین زه توانګر کړم تا نیستګار بیا
بس کړه دا چې صدیق ستا سترګو ملنګ کړ　　نور به څه کا د دنیا په مخ روزګار بیا

(صدیق، ۱۳۵۸ل، ۲۶ مخ)

د ده په شاعرۍ کې د مینې او محبت خبرې ډېرې دي چې پورته بیتونه یې«مشت نمونه خروار» په توګه وړاندې شول. پردې سربېره یې په شاعري کې ټولنیز مسایل هم رانغښتي دي، لکه دا لاندې دوه بېلګې:

په هر چا باندې چې کړې چارې ناپسندې چېرې نه چې په تا وشي هغه شندې

ما په دا سترګو لیدل په کې پراته وو　　هم هغو چې چا وبل ته ویستې کندې
چې روزګار یې و په وچه ځمکه کړي　　و فلک ورته د تل ځمکه کړي بلندې

* * * * *

نېک و بد په خاطر څو چې د جهان ږدې د ارمان داغونه واړه په خپل ځان ږدې

خپل پردي غمونه څو لرې په زړه کې　　هومره پیتې و خپل سر ته د تاوان ږدې
که دې غم ښادي ته شا کړه ځوانمردي ده　　په تجرید به قدم پورته تر آسمان ږدې

(صدیق، ۱۳۵۸ل، ۲۲۰، ۲۲۱ مخونه)

ملا محمد فاضل برېښ د یوولسمې هجري پېړۍ د وروستیو وختونو د افغانستان دیني عالم او مؤلف و. د کندهار په ښوراوک کې اوسېده. د «*روضه ربانی*» په نوم کتاب یې تصنیف کړی دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۵۱ مخ).

که د یوولسمې هجري پېړۍ په جریان کې د پښتو ایجاد شوي آثار له نظره تېر شي، بې له شکه تر ټ خرګندیږي چې په دې پېړۍ کې ځینې داسې آثار په پښتو کې ایجاد شوي چې د منطقې له ادبي آثارو سره په تله کې د اچولو جوګه دي. په دې پېړۍ کې دغه راټوکېدلی پرمختللی ادبي جریان بیا په دولسمه پېړۍ کې د پرمختیا نویو پوړیو ته قدمونه کېښودل او نوي جریانونه او نوي ادبي او فرهنګي تمایلات یې را وزېرول(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۷۴ مخ).

مصطفی د نورمحمد زوی او د کریمداد لمسی دی. ده چې د **دولسمې هجري** پېړۍ په اوایلو کې ژوند کړی، د پښتو ژبې شاعر او متصوف سړی و، د عرفاني نظریو په خپلولو کې یې د خپل نیکه لار نیولې ده. د «*الفنامې*» یوه نمونه دی هم لري، د الفبا ځینې توري یې په خپلو ځینو پاړکو کې تشریح کړي دي. په شعر کې یې هنري قوت تر کریمداد زیات نه دی. د ده څو بیتونه دا دي:

ل، لطیف لکه سور ګل شه　　د معنا په مېوه پور شه
د طاعت په پانړو ګور شه　　په بلا کې یې صبور شه
په نعمت کې یې شکور شه
ته له نفسه، له شیطانه سره جنګ کړه

د ده په متفرقو منظوماتو کې د «آیة الکرسي» منظومه پښتو ترجمه هم لیدل کېږي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۱۳، ۱۱۴ مخونه).

مصطفی محمد د خپل نیکه «مخزن الاسلام» یې دوهم ځلي په ۱۱۱۲هـ.ق کال تدوین کړی او د مخزن دوهم ټولوونکی ګڼل کېږي، په خپله دی هم شاعر و. مذهبي او عرفاني شعر یې وایه، شعرونه یې د مخزن په ملحقاتو کې ثبت دي. نوموړی د سوات په سلامپور کې ښخ دی. دا د هغه دی:

مصطفی محمد یو ګناهګار دی　　شفاعت د پاک رسول ته امېدوار دی

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۷۷ مخ)

«د افغانستان د ملي آرشیف پښتو خطي نسخې» اثر لیکوال کاږي، «ملحقات» چې راټولوونکی یې

مصطفی محمد ابن میا نورمحمد ابن امام الدین ابن عبدالکریم شهید ابن مخدوم دروېزه دی، پیل یې داسې دی: .... ملحقات بعضی یاران و مریدان و شاگردان.....
پای: ....واقع شد فراغ این جمیعت ثانی این تألیف روز چهارشنبه، وخت ظهر، به تاریخ دوازدهم ماه محرالحرم، سنه یکهزارو یکصدو دوازده، من الهجرت، موضوع اسلام پور در مسجد اندرون خلوت خانه بابا جیو(نجرابي، ۱۴۰۲ ل، ۱۹۸ مخ).
افضل العلماء ملا یارمحمد هوتک د دولسمې هجري پېړۍ د حدودو دانشمند او مؤلف و. دی د افغانستان د دانش‌پرور او ادب‌دوست پاچا شاه‌حسین هوتک استاد و. هغه د پاچا شعرونه د نارنج مانۍ په ادبي غونډو کې اورېدل او غلطۍ یې ور سمولې. ده په فقه کې د «*مسایل ارکان خمسه*» په نوم کتاب کښلی دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۵۴۷ مخ). په «پټه خزانه» کې راغلي: «پادشاه عالم پناه په ارګ کې د قندهار هغه قصر چې نارنج باله سي هلته په هفته یوه ورځ دربار کا په کتب خانه کې او په مجلس کې علماء جمع کېږي او شعراء او فضلاء ټولوي. زه محمد هوتک کاتب د دې کتاب هم په دې مجلس کې یم او د پادشاه ظل الله اشعار او ابیات په قلم کاږم او کتاب د دیوان یې مرتب سوی دی. کله په پښتو اشعار وایي او کله پارسي ژبې ته هم میل کا او استاد العلماء **ملا یارمحمد** ته یې قرائت کا چې سهو و سقم ځنې زایل کا او د پادشاه په اشعارو کې لږ سهوه لیده سي او علماء یې ټول په بلاغت او فصاحت قایل دي او سماع ته مایل»(هوتک، ۱۹۸۹م ، ۱۰۲ مخ).
ملا محمد یونس د ملا محمد اکبر توخي زوی د دولسمې هجري پېړۍ له علماوو، دانشمندانو او لیکوالو څخه و. د وخت په رواجي علومو یې بشپړه حیطه لرله، د افغانستان د پوهې پالونکي پاچا (شاه‌حسین هوتک) په وخت کې د کندهار جامع جومات امام و او شاګردانو ته یې تدریس کاوه. هغه د «*جامع فرایض*» په نوم کتاب په پښتو لیکلی دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۶۲ مخ).
ملا زعفران تره‌کی د شاه‌حسین هوتکي د دربار له سیاسي مشاورینو او جیدو عالمانو څخه و او د هېواد په پوځي او فرهنګي چارو کې یې هم لویه او فعاله ونډه درلوده او هم د شاه‌حسین هوتکي د زوی (محمد) استاد و. په حکمت، ریاضي او طب کې استاد او په طب او حکمت کې یې د «*ګلدسته زعفران*» په نامه کتاب لیکلی دی. د پټې خزانې مؤلف لیکي: ملا زعفران د شاه او ژوب د فتحې زېرۍ شاه‌حسین هوتکي ته په داسې حال کې راوړ چې هغه له فضلاوو او علماوو سره په مجلس کې ناست و او د زېرۍ ترځنګ یې دا بیتونه هم وړاندې کړل:

د حسین پادشاه د بخت نندارہ ګورئ چې یې فتحه په لښکرو ژوب و شال کا
دا زېرى مې راوړى دى حضور ته نو زعفران انعام پر سر زعفراني شال کا

د یادولو ده چې یو بل ملا زعفران د شاه‌محمود هوتک او شاه‌اشرف هوتک د واکمنۍ پر مهال په ایران کې له دوی سره ملګرى و او ستر عالم شخصیت و(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۰ل، ۱۸۲ مخ).

کامل عالم **ملا محمد عادل** د ملا محمد فاضل بړېځ زوى د دولسمې هجري پېړۍ په لومړیو کې په ښوراوک کې اوسېده. عالم او بصیر شخص و، عمر یې تدریس او ارشاد ته ځانګړى کړى و. د «*محاسن الصلوة*» په نوم کتاب یې تألیف کړى دى(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۴۷ مخ).

په پټه خزانه کې راغلي: «ملا محمد عادل بړېځ په قوم بړېځ او عالم او متورع سړى و، خلقو له لارښوونه کا، شوراوک کې اوسي او طالبانو ته درس کا. د ده پلار ملا محمد فاضل هم ښه ملا و چې «روضه رباني» کتاب یې کښلى و. ملامحمد عادل هم یو کتاب نظم کړى دى چې «محاسن الصلوة» یې نوم دى او د لمانځه مسایل او ثوابونه او د تارکینو عذابونه یې په کې کښلي دي. دا یو څو بیتونه له هغه کتابه دلته رانقل کوم چې یادګار وي:

هغه خلق عاصیان دي چې په فرض کې کهالان دي
چې فرض نه کاندي له قصده دوی بېشکه کافران دي
....
علم فرض پر هر سړي دى چې فرض نه کا څه کسان دي
چې په قصد یو لمونځ قضا کا په دوزخ کې فاسقان دي
خدا په تا زه امان غواړم له هغو چې فاخران دي
له هغو سره مې ګډ کا چې خاصه ایمانداران دي»

(هوتک، ۱۹۸۹م، ۱۲۵، ۱۲٦ مخونه)

ملا محمد ایاز نیازی په دولسمه هجري پېړۍ کې د افغانستان له عارفانو او ادیبانو څخه و، په کندهار کې اوسېده. په طریقت کې د میا عبدالحکیم کاکړ له مریدانو څخه و. د «پټه خزانه» مؤلف کاږي: «ملا محمد ایاز ښه اواز لري او کله کله چې خپل اشعار په غنا سره لولي خلق ژړوي او دیوان د اشعارو یې ډېر متین دى او نکات عارفانه په کې سته. ملا محمد ایاز د شعر غونډ *دیوان* لري او ډېر ښه عارفانه اشعار یې په کې جمع کړي چې څو رباعۍ یې دا دي:

زړه هغه دی چې لري د عرفان برخه　　دغه ښه ده پر دنیا د انسان برخه
هغه زړه چې نه یې مهر نه عرفان وي　　وړي په ژوند کې د ناڅیزه حیوان برخه

یا:

محبت د آب و خاک دی بې بنیاد　　راسه څه کړې د دنیا خونه آباد
که دې زړه سپین وي د خدای له محبته　　پر صحرا به یې بې کوره اوره ښاد»

(هوتک، ۱۹۸۹م، ۱۲۸، ۱۲۹ مخونه)

ملا محمد حافظ بارکزی په دولسمه هجري پېړۍ کې د افغانستان واعظ، عالم او پیاوړی عارف و چې د کندهار په شاوخوا کې اوسېده. د دیني علومو عالم او په فقه کې یې د استادۍ مقام درلود. په جامع جوماتونو کې یې نصیحتونه کول او ترڅنګ یې خپل عارفانه شعرونه ویل(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۳۷ مخ). د «پټه خزانه» فاضل مؤلف یې په اړه کاږي: «ملا محمد حافظ بارکزی په فقه کې استاد دی او په جامعه‌ګانو کې د جمعې په ورځ وعظ کا نو په «واعظ» مشهور سوی دی. کله کله په خطبه کې خپل اشعار هم وایي، اشعار یې ټول نصیحت دي. یو کتاب یې کښلی دی، نوم یې دی «*تحفه واعظ*» او په دې کتاب کې یې د تقوا او زهد وعظونه کښلي او خلقو ته یې امر په معروف او نهي منکر کړی دی. په طریقت کې د میان نورمحمد صاحب (په ۱۱۷۲هـ.ق کال مړ) مرید دی او تدریس کا د احکامو د فقه په قندهار کې، طالبان د علوم یې له مجلسه فیض مومي او په حلقه د تدریس یې حاضر وي. له «تحفه واعظ» څخه یې دا بدله را اخیستل شوې ده:

کم بخته مه کړه پر دنیا ډونګونه‌که دې زړه غواړي د جنت ګلونه

* * *

کم بخته مور یو مېلمانه پر دنیا　وطن مو بل دی آخر ځو په رشتیا
هم به ښه بد سي را معلوم په عقبا　　نو له سره اور کئ په امان ځانونه

* * *

کم بخته! مه کوه حرام چې بد دی　　چې کړي حرام هغه باطن کې دد دی
اعمال یې ټوله په عقبا کې رد دی　　په لویه ورځ به یې وي تور مخونه»

(هوتک، ۱۹۸۹م، ۱۳۰، ۱۳۱ مخونه)

د «پټه خزانه» مؤلف لیکي: «**ملا بازمحمد توخی** په اټغر کې اوسي او په اصناف د اشعارو کې استاد

دی، غزل او رباعي وايي او زما چې محمد هوتک يم، همراز دی. ملا باز مبادي د علومو لوستي او فقه شريفه کې تيار دی، کله منطق او حکمت لولي او خپلو شاګردانو ته يې درس ورکوي. دمخه په ابتداء د ځوانۍ تللی و او په هندوستان يې له استادانو لوست کړی».

دا چې د پټې خزانې ليکوال محمد هوتک وايي چې ملا بازمحمد يې همراز دی، نو هوتک چې د دولسمې پېړۍ د منځنيو کلونو سړی دی، ځکه پټه خزانه يې په ۱۱۴۲هـ.ق کال کې تأليف کړې ده، ملا بازمحمد هم د همدغې زمانې سړی دی. دا يې هم د کلام بېلګه:

راسه پر څنګ، راسه ليلی، ته مې نږدې سه له دل يمه زخمي چې مې ونه نجتي[1] په خوږ زړه منګول
راسه پر څنګ، راسه ليلی ولې له ما کړې بېلتون؟ دا ستا له غمه مې زړګی دی په سرو وينو ګلګون
که هر څو تښتم نه پرېږدي مې ستا د عشق شواخون زه نه خلاصيږم له غمازه په لېږدنه په تلل

(هوتک، ۱۹۸۹م، ۹۷، ۹۸ مخونه)

ملا باز په منطق، حکمت او فقه کې تبحر درلود، شاګردانو ته يې تدريس کاوه. د شعر په ټولو اصنافو کې استاد و، خو غزل او رباعي يې ښې ليکلې دي. ملا باز د هوتکي دربار د نارنج مانۍ په ادبي محافلو کې ګډون کاوه. دا د ده دی:

پر کورو يې رمې ګرځي د باز برخه يو چيچی دی
د باز ښکار وي د غرځنو اوس مې بس ها سپينکی وری دی

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ٦۷ مخ)

ملا پيرمحمد مياجي د ملا سرور هوتک زوی د دولسمې هجري پېړۍ علمي او ادبي شخص و. له خپل پلاره يې استفاضه وکړه او له حاجي مير خان نيکه سره په جنګونو کې مل و. کله چې افغان شهنشاه شاه‌محمود هوتک په اصفهان کې و، پيرمحمد مياجي يې هملته وباله او د اصفهان په علماوو او دانشمندانو کې يې ښه شهرت وموند. د هغه ځای علماوو ده ته د «پير افغان» خطاب کاوه. مياجي *افضل الطرايق* او *«الفرايض في رد الروافض»* وليکل (هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۹۸ مخ).

په «پټه خزانه» کې هم راغلي چې ملا پيرمحمد هوتک مياجي صاحب په علم اخلاق کې يو کتاب کښلی دی چې «افضل الطرايق» يې نوم دی او په هغه کتاب د عقايدو او اخلاقو بيان کا. يو بل کتاب هم لرينه چې «الفرايض في رد الروافض» يې نوم دی. په افضل الطرايق کې يې دا حکايت کښلی دی

[1] نصبول.

چې زه يې له هغه کتابه دلته ثبت کاندم چې په دې کتاب کې يادګار وي:

شيخ متي چې خليلي و — دی له آره لوی ولي و
يوه ورځ روان پر لار و — لوی ځښتن په استغفار و
کړه ده ذکر د غفار — يو شېبه نه و اوزګار
پر دې لار وې تيرې ګټې — لارې مځکې وې په پټې
ډېرې شپې راغی رويدار — چې يې صافه کړله لاره

(هوتک، ۱۹۸۹م ، ۱۱۲-۱۱۳ مخونه)

ريدي خان مومند د غياث خان زوی او د مسعود خان مهمند لمسی دی. د هوتکو د دورې له لويو ادیبانو، عالمانو او شاعرانو څخه و، اشعار يې خواږه دي او د بلاغت علوم يې لوستي دي، په فقه، تفسير او صرف او نحو کې هسې نه او پوره لوست لري چې طالبان يې حل د مشکلاتو څنې کا. ريدي خان په ۱۱۳۶هـ.ق کال اصفهان ته ولاړ او هلته يې له شاه‌محمود سره ناستې لرلې، بيا قندهار ته راغی او يو کتاب يې وليکه چې په هغه کې يې د ميرويس نيکه او د هغه د زوی شاه‌محمود هوتک د ازادۍ غوښتنې مبارزې، پېښې او جنګونه په څلور زرو بيتونو کې په نظم بيان کړل او د هغه کتاب نوم يې «*محمودنامه*» کېښود. دی سربېره پر دې د غزلو، مثنوي او رباعياتو مکمل ديوان يې درلود. په دې اثر کې د ګرګين خان ګرجي د وژلو قصه او د اصفهان د فتوحاتو نقلونه ټول په کې شته(هوتک، ۱۹۸۹م، ۱۱۷ مخ).

د محمودنامې د اثر د کلام بېلګه:

اوس به نو تاته حکايت کړم د ښو — خوږ روايت د ګرګين خان د وژلو
چې مير خان تللی اصفهان ته ونه — مخ يې مکې د پاک سبحان ته ونه
پاچا تې عرض کړ ټول اقوال د پښتون — د ګرګين ظلم بد احوال د پښتون
پاچا ويل زه نسوای کولای چاره — د ګرګين خان ظلم و ستم دپاره

(مومند، ۱۳۷۹ل، ۲۹- ۳۰ مخونه)

«محمودنامه» د حبيب الله رفيع په سريزه، سمون او سپړنې په ۱۳۷۹ل کال پېښور کې په ۷۱ مخونو کې چاپ شوې ده.

بابوجان بابی د کرم خان زوی و، د علم او ادب برخه يې هم درلوده او د ملا پير محمد هوتک شاګرد

و. ده د «*قصص العاشقین*[1]» په نامه د شها او ګلان کیسه په پښتو مثنوي کښلې وه(هوتک، ۱۳۸۴ل، ۱۱۵ مخ). دی د اتغر له مشرانو څخه و او د میرویس نیکه په ملي جرګه کې یې ګډون درلود. عالم او ادیب سړی و. له قلم نه بې‌برخې او بې‌نصیبه نه و، په پښتو ژبه یې شعر وایه، په ۱۱۲۹هـ.ق کال کې یې د (شها او ګلان) مشهوره قصه په پښتو نظم کړه او د هغې نوم یې «*قصص العاشقین*» کښبود. د عشق یوه مثنوي یې لیکلې ده. په «پټه‌خزانه» کې له دغه کتابه یو نظم په دې ډول رانقل شوی دی:

عشق یو هسې توریالی دی — چې پر هر ځای یې بری دی
د عشق اور هسې سوزان دی — چې سوځلی یې جهان دی
زړه بې عشقه کله زړه دی — چې بې عشقه زړه د مړه دی
نه دی عشق په یوه رنګ — کله صلح ګهي جنګ (هوتک، ۱۳۳۹ل، ۱۳۶ مخ)

سید حسن «*سیرة النبي*» یا «*شمایل‌نامه*» په ۱۱۲۱هـ.ق کې لیکلې ده. د دې منظومې یوه قلمي نسخه د هند د رامپور په رضا کتابخانه کې شته، ۱۵۸ مخونه لري، پوهاند رښتین لیدلې ده. د سر بیتونه یې دا دي:

اول وایه په زبان — سِنه ثنا د پاک سبحان
بیا درود پر پیغمبر دی — چې تر کل جهان بهتر دی
پس له حمد له صلاته — راشه واوره وایم تاته
محمد آخر زمان — د دوو کونو پهلوان

البته دا هغه سید حسن حسن نه دی چې په «پښتانه شعراء» درېیم ټوک ۲۱۴ نمبر کې معرفي شوی دی(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۸۵۰ مخ).

سید حسن د دولسمې هجري پېړۍ د اوایلو دیني عالم او ناظم و. «*سیرت النبي (ص)*» یې له پارسي څخه په پښتو نظم ترجمه کړی دی. دا د ده شعر دی:

په پارسي و انشا شوی — سید حسن تري پښتو ووې
سنه هجر په شماره شوه — په څلور حرفه پوره شوه(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۲۳۲ مخ)

پښتو ادبپوهانو دغه اثر د سیرت په نوم معرفي کړی دی، خو ډاکټر میکنزي د دې کتاب دوه نورې

[1] «د مولوي شېرمحمد هوتک یاد» اثر ۷۲ مخ کې د نصرالله زرمتي مقاله کې دغه نوم (قصص العارفین) لیکل شوی چې سم نه دی.

نسخې (د بریتانیا په کتابتونونو کې خوندي) د تولدنامه په نوم معرفي کړې دي(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۳۱۷ مخ).

«د برېتانیا کتابتونونو کې د پښتو قلمي نسخو پېژندنه» اثر لیکوال لیکلي چې د «*تولدنامه*» نسخه په دوو اوږدو شعرونو مشتمله ده. لومړی شعر تولدنامه ده چې د حضرت محمد ﷺ زېږېدنه سره له ټولو معجزو بیانوي. دا کیسه **سید حسین** په ۱۱۲۱هـ.ق کال پښتو ته اړولې او نظم کړې ده. سید حسین ډېر لږ پېژندل شوی شاعر دی او له دې نسخې پرته ترې بل څه پاتې نه دي.

د نسخې دویمه برخه «*جنگ‌نامه*» د امامانو ده چې د کربلا پېښې حال بیانوي. پیل او پای یې دا دی:

تر هر چا اول پدوست باند کرم ؤ — چه تر کل جهان پر هر څه مقدوم [مقدم] ؤ

هم سرخط شه د جمله پیغامبران — بهترین هم د عرب د عجم ؤ

پای

روایت له معتبر کتابتون — سید و ښکلی په حاشیه د خپل دیوان و

دا قصه وه پفارسي اخون ویلې — سید حسین تر پر پوښتو ښکلی دیوان و

دغه قلمي نسخه په مانچستر کې د Rylands په کتابتون کې خوندي ده(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۱۴۱، ۱۴۳ مخونه).

د افغانستان د ملي آرشیف کې د «نورنامه» په نوم اثر شته چې د حسین له خوا په پښتو ژباړل شوې ده. د نسخې د لیکلو طرز او پېژندلو لپاره لاندې بېلګه وړاندې کېږي: د ښه خدای ثنا وایم چې ثنا په خدای باندې ښاېږي، واک یې ډېر دی بې حده، په هېڅا پوره نه شو، نه به کېږي، دی قادر په هره چارې، له قدرته یې پیدا کېږي، پادشاهي یې دی قایم تر اوله تر اخره، هېڅ خلل پکې نه کېږي (فعال لما یرید) دی چې مې خواست و؛ هغه مې وکړل، هم چې کا؛ هغه به کېږي(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۲۰۳ مخ).

د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کتابتون کې په ۱۸۲ نمبر د ثبت *سیرت النبي (ص)* ناظم سید حسین دی او د نظمولو او د لیکلو کال ۱۱۲۱هـ.ق دی، د پاڼو شمېر یې ۲۵ دی. د کتاب موضوع د سرور کائنات حضرت محمد ﷺ سیرت دی، بېل بېل بیانونه په کې په مثنوي نظم شوي دي. متن ناظم له پارسي څخه په پښتو نظم کړی دی(دوست، ۱۳۹۹ل، ۳۴، ۳۵ مخونه).

رحیمداد بن مصطفی محمد بن نورمحمد بن کریمداد بن دروېزه د دولسمې هجري پېړۍ د شاوخوا مذهبي شاعر او ديني عالم و. مذهبي شعر یې وایه، د هغه متفرق اشعار د مخزن الاسلام په خطي نسخو

کې لیدل شوي او د هغه د *لمانځه د ترجمې رساله* د «رشید البیان» په حاشیه کې چاپ شوې ده(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۹۰- ۱۹۱ مخونه). دا په پښتو کې د رحیمداد یا عبدالرحیم د لمانځه یوه پخوانۍ منظومه ترجمه ده(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۵ مخ).

رحیمداد په ۱۱۴٦هـ.ق کال وفات او د سوات په سلام‌پور کې ښخ دی. دا شعر د ده دی:

تر شیرین اسم دې جار شم محمده که دې خاورې د دربار شم محمده

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۹۰- ۱۹۱ مخونه)

د **عبدالرحیم** مذهبي اشعار د مخزن الاسلام خطي نسخې په اکثرو ملحقاتو کې لیدل کېږي. دا د هغه دی:

دغه هسې ښایسته بشرې شوې تورې خاورې چې په ښایست یې مخی نه وو د پسرلي ګلونه

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۰۳ مخ)

د اخوند دروېزه په کورنۍ کې د شاعر رحیمداد د اشعارو هنري خوا ډېره درنه ده او څو مدحیه اشعار یې د مخزن الاسلام په ملحقاتو کې د رحیمداد او عبدالرحیم په نومونو راغلي دي. ځینې مدحیه اشعار چې د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد ﷺ په ستاینه کې یې ویلي، خورا خواږه او شور انګېزي یې زیاته ده، لکه د ده د یوې مدحیې دا بیتونه:

تر شیرین اسم دې جار شم محمده سرفراز دې په دیدار شم محمده

سعادت د دواړو کونو زما دا دی که دې خاورې د دیار شم محمده

ستا ثنا به د لویي ویلای نه شم که بلبله د سهار شم محمده

ستا له جامه جرعه راکړه چې یې نوش کړم سر تر پایه به خمار شم محمده

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۱۴، ۱۱۵ مخونه)

ملا نورمحمد غلجی (دولسمې هجري پېړۍ په حدودو کې اوسېدلی) پر مسجع نثر لیکلي «نافع المسلمین» سربېره په پښتو ځینې مخمسونه هم لري چې دا دی:

ته مؤمن ژوندی په دین یې زما یاره ته ژړا فریاد کوه په څو کوکاره

استغفار توبه کوه د ځان دپاره ته هم ځان ساته پناه غواړه له ناره

بیداري کړه په سهار کې زما دلداره

زه و تاته یو ویی کړم زما وروره په سهار بیداري وکړه آخر وګوره

یا به ته سې په جنان کې یا په اوره　　چې ستا حال به په څه رنګه سي له ګوره
بیداري کړه په سهار کې زما دلداره
په هر وقت له مسلمانه دلداري کړه　　په دریمه شپه کې ډېره بیداري کړه
هم پر خپل صورت وژاړه هم زاري کړه　　دا خپل ځان لکه حباب ترې بېزاري کړه

(هوتک، ۱۹۸۹م، ۱۳۵، ۱۳۶ مخونه)

د ملا غلجي د اثر او فکري لیدلوري په اړه نور معلومات په راتلونکی بحث کې راغلي دي.

فیض الله اخوندزاده د محمد کریم اخوندزاده زوی، بټیزی پښتون او د هشتنګر د اګړې اوسېدونکی و. دی د ۱۱۵۰هـ.ق-۱۲۲۰هـ.ق زمانې یو لوی روحاني، بزرګ، عالم، فاضل او د پښتو ژبې شاعر ښکلی شاعر دی او په نقشبندیه طریقه کې د حضرت میا محمد عمر د څمکنو مرید دی. اخوند فیض الله خان او ورور یې اخوند عبدالله خان ډېر لوی عالمان وو او د پېښور ښار په محبت خان جومات کې یې د دیني علمونو طالبانو ته درس ورکاوه. جان محمد کاکړ چې د خپل پیر طریقت فیض الله صاحب ذکر کوي، هغه همدا اخوندزاده فیض الله خان د اګړې دی. هغه ویلي چې اخوندزاده څلور تألیفات لري(افغاني، ۱۹۶۳م، ۱۲۳، ۱۲۴، ۱۲۵، ۱۳۶ مخونه).

استاد رشاد کاږي: د حاجي زبردست «ذخیرة القراء» چې د «تېر هېر شاعران» کې د فیض الله اخونزاده نومي سړي تألیف بلل شوی دی، دا یوه تېروتنه ده(رشاد، ۱۳۵۹ل، دېرش مخ). استاد رفیع هم وایي چې د حاجي زبردست «ذخیرة القراء» ښاغلي اثر د اخونزاده فیض الله بللې او ځینو نورو کسانو هم استناد پرې کړی، خو دا انتساب سم نه دی. همداراز همده د احمد په آثارو کې هم راوړې ده(رفیع، ۱۳۵۹ل، ۳۷۴ مخ). چې دا هم تېروتنه ده.

ملا اختر په دولسمه هجري پېړۍ کې په کندهار کې اوسېده، د پښتو ژبې لیکوال او مؤلف و. د پښتنو په تاریخ کې یې مطالعه لرله، «*د پښتنو تاریخ*» یې اثر دی. انګرېز مستر بلیو د «ملا اختر تاریخ» یادونه کوي(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۲۷ مخ).

رحمان بابا د یوه ځانګړي سبک خاوند دی، د ده سبک د خپلو خاصو ځانګړتیاوو له پلوه په ولس او فرهنګي حلقو کې عالمګیر شهرت او محبوبیت وګاټه او د دولسمې، دیارلسمې او څوارلسمې پېړۍ ډېرو شاعرانو په ده پسې اقتداء وکړه. پښتنو شاعرانو د لسان الغیب، سلطان الشعراء او واف (بلبل) لقبونه ورکړل. عبدالرحمن مومند د عبدالستار زوی په ۱۰۴۲هـ.ق د پېښور د سیمو په بهادر کلي کې زېږېدلی

دی. دی له خپل کلي څخه هزارخانې ته راغی او دلته اوسېده. ده له ملا محمد یوسف یوسفزي څخه درس ووایه او د زده‌کړو لپاره یې کوهاټ او هندوستان ته هم سفرونه وکړل. رحمان بابا د خپل وخت رواجي علوم لوستي و، په پارسي او عربي ادب کې یې مطالعه درلوده او هم د تصوف له رموزو آګاه و. د پښتو دغه عظیم انسان دوست شاعر په ۱۱۲۸هـ.ق له دنیا څخه سترګې پټې کړې او د پېښور د هزارخانې په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو. له ده څخه په پښتو ژبه د شعر یو ښکلی *دیوان* را پاتې دی چې په دوو دفترونو کې تنظیم شوی دی. دا دیوان په ګردو پښتنو کې مشهور او د احترام وړ دی او خلک فالونه پرې باسي او خپل مرادونه ځنې غواړي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۷۴، ۱۷۵ مخونه).

ملا عبدالرحمن هغه شاعر دی چې شعرونه یې هر چاته په زړه پورې دي(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۱۰۴ مخ). د ختیځ په مسلمانانو او صحیح‌العقیده خلکو کې اکثرو شاعرانو خصوصاً په زړو دورونو کې د قرآن‌حکیم تعلیمات د خپلو شعرونو لپاره اساس ګرځولي، خو په دې اړه چې کوم شهرت، ارزښت او لوړ مقام رحمان بابا ته حاصل دی، هغه د بل کوم شاعر په نصیب نه شو. دې نابغه او دوراندېش شاعر د قرآن تعلیمات په خپله شاعرۍ کې په داسې طرز نقش کړي چې شاعري یې له الهامي کیفیاتو، جذبې، تأثیر او روحانیت څخه ډکه، خو له پاسه کمال یې پرې دا کړی دی چې فني چوکاټ او زاویې داسې برابرې دي چې د شعر کیف او سرور یې د زړه او روح تر ژورواليِ محسوسیږي. له قرآن کریم څخه رحمان بابا تر خپله حده ډېره استفاده کړې ده. دا استفاده د رحمان بابا پر علمیت او قرآن فهمۍ دلالت کوي. د هغه بنیادي شعر:

دا چې زه وتاته وایم که یې خدای کا　　په آیات و په حدیث کې به څرګند وي

د رحمان بابا د تعلیماتو غرض او منشأ سره سره د هغه د نیت، اخلاص او قرآن‌فهمۍ غمازي کوي. هغه د معاشرتي تنزل په عصر او د انحطاط په دور کې خپل کلام د نشأةثانیه پیغام ګرځولی او د پښتنو اصلاح یې د قرآن د تعلیماتو په ذریعه د بې‌غرضه مصلح او خیرخواه په حیث کړې ده(ارمان، ۱۴۰۱ل، ۳۶۵، ۳۶۶ مخونه).

دوست محمد خان کامل د رحمان بابا په شاعرۍ کې د اسلامي تعلیماتو د موضوع په اړه لیکي: د ښایست او مینې د دنیا د واقعاتو، حسن او عشق د عالم د کیفیاتو له بیان او شرحې نه علاوه چې د رحمان بابا د کلام یوه مهمه برخه د کوم ځیز لپاره ځانګړې ده، هغه د دیني فرائضو د پوره کولو، د دنیا په مقابله کې د آخرت د غوره ګڼلو او د توښې کولو تلقین دی(مومند، ۲۰۰۶م، ۲۴۶ مخ).

د سید رسول رسا هم دا نظر دی چې رحمان بابا د خپل دور یو ستر او جید عالم و. هغه د اسلامي تعلیماتو په روح ډېره ښه پوهه ځکه لرله چې د قرآن حکیم او حدیثو مبارکو یې غرقه لوسته کړې وه(رسا، ۱۹۷۶م، ۲۱ مخ).

د اسلم مومند اډوکېټ په خیال، د رحمان بابا شاعري د قرآن او سنت مطابق ده. دا شاعري د مسلمانانو لپاره د رحمت وجه ده(ارمان، ۱۴۰۱ل، ۳٦۸ مخ).

پروفیسور داور خان داود لیکي: د رحمان بابا د شعر او وینا اساس او بنیاد دیني او شرعي دی. د هغه هره وینا او هره خبره د قرآن او حدیث مطابق ده. په دې کې شک نشته چې د رحمان بابا د وینا اساس د اسلام دین دی، خو د داور خان په وینا کې دومره ترمیم کېدای شي چې د رحمان بابا د شاعرۍ زیاتره برخه د قرآن او حدیث مطابق ده، «هره وینا» مبالغه ده چې ثابتېدای نه شي.

دی زیاتوي: د رحمان بابا د تعلیماتو اهمیت او ضرورت چې څومره مخکې وو، دومره اوس هم دی او له دې نه پس به یې هم دغسې وي. دا داسې تعلیمات دي چې د مذهب او شرعې عین مطابق دي، تر څو چې مسلمان، مسلمان وي، دا تعلیمات او افکار به د خپل ژوند رهنما اصول ګڼي او د یوې ضابطه حیات په څېر به یې قبلوي. رحمان بابا چې تر ننه یاد دی، نو هم د دې اعلی او ارفع تعلیماتو په وجه دی(داود، ۱۹۹۷م، ۱۱۴، ۲۳۷- ۲۳۸ مخونه).

ډاکټر پروېز مهجور وایي: د رحمان بابا د ژوند د فلسفې او پیغام بنیاد اسلام دی، الهي آیین او قانون دی... د رحمان بابا پیغام ته د قرآن او حدیث سند او تأیید حاصل دی او په دې د پښتون ولس پوره اعتماد دی.

مولوي احمد حسن لیکي: رحمان بابا په خپله خوږه پښتو کې داسې ویناګانې کړې دي چې هم شعرونه دي سازونه دي، عجیبه عجیبه خوندور مثالونه دي او په کې د قرآن عظم او احادیثو مفهومونه او رنګا رنګ ضرب الامثال دي.

شېر احمد خلیل په دې ضمن کې داسې ګویا دی: رحمان بابا یو قادر الکلام شاعر و. هغه یو عالم او فاضل سړی و. د ژوند غورزې پرزې یې لیدلې وې. په معاشرتي ژوند کې یې پوره پوره برخه اخیستې وه او د قرآن او احادیثو علمونه یې حاصل کړي وو(ارمان، ۱۴۰۱ل، ۳٦۹ مخ).

داورخان داود رحمان بابا د اسلامي نظریې علمبردار ګڼي، د هغوی دا رایه ډېره خلاصه او مختصره ده، خو جامع او حق په جانب ضرور ده، وایي: رحمان بابا هم د خپل دور یو مشهور مصلح، مبلغ، عالم او

مفکر و چې د اسلامي نظريې د خورولو په غرض يې خپل خيالات او نظريات موزون کړي او خپل ولس ته يې د تقليد او پيروۍ په غرض وړاندې کړي دي.
د قرآن حکيم يو بل جوت اثر د رحمان بابا پر شاعرۍ دا دی چې څومره عقيدې هم اسلام ذکر کړې دي، لکه توحيد، رسالت، ختمِ نبوت، قضاء او قدر، د قيامت قيام، حشر، جنت دوزخ، له مرګ نه پس ژوندون، حساب کتاب او نور، دغه ټول عقايد د رحمان بابا په شعرونو کې د اسلام د تعليماتو او د الله تعالی د غوښتنې عين مطابق دی. د رحمان بابا د کلام له ژورې مطالعې معلوميږي چې هغه د اسلامي تعليماتو له روح څخه خبر و. دغه اسلامي تعليمات (قرآن، حديث او د دې دواړو متعلقات) د هغه د شاعرۍ محور دی. ارواښاد شېر شاه ترخوي په دې اړه يو پوره کتاب (رحمان او قرآن) ليکلی دی(ارمان، ۱۴۰۱ل، ۳۷۰ ، ۳۷۲ مخونه).
شېرشاه ترخوي د رحمان بابا د قرآن فهمۍ او علميت په اړه ليکي: شاعر انسانيت رحمان بابا رحمة الله عليه يو هغه متقي او په قرآن کريم پوه انسان و چې د قرآن کريم تعليمات يې د شعر په چوکاټ کې په اسانه او روانه ژبه خپل قوم ته وړاندې کړي دي، په دې غرض چې قوم له اسلامي تعليماتو نه په ښه شان خبر او عمل کولو ته پرې تيار شي.
حضرت رحمان بابا يو ښه عالم، متقي او په قرآن پوه انسان ثابتيږي، ځکه چې هغه د قرآن اکثر مطالب په ډېرو مختصرو ټکو کې د شعر په چوکاټ کې ځای کړي دي چې د انسان ذهن او فکر د قرآن مجيد غوښتنو ته راکاږي پر هغې يې عمل کولو ته تياروي(ترخوی، ۲۰۰۰م، ۲۷، ۵۰ مخونه).
د رحمان بابا د شاعرۍ سرچينه اسلام دی، ځکه يې شاعري له تحريک، عمل او جذبې څخه ډکه ده. شاعري يې د ابِ حيات چينه ده. په دې موضوع د رحمان بابا تر ټولو مهم شعر دا دی:

په دنيا کې که څه کار دی خو د دين دی د دې کار په کننده و افرين دی

ډېر واضح او صفا شعر دی. د ژوند مقصد ګويا د دين خدمت دی او چې څوک د مقصد حيات تابع وي، هغه ته داد نه ورکول زياتی دی، ځکه نو رحمان بابا د دين کار کوونکو ته شاباسی او افرين ورکوي.
رحمان بابا يو ديندار او تقواداره مسلمان و. د هغه ګفتار د هغه د کردار عکاسي کوي. هغه د اسلام د دين اصل روح په مسلمانانو کې ليدل غوښتل. همدا وجه ده چې د اسلامي تعليماتو په رڼا کې يې د مسلمانانو د رهنمايۍ چارې په شاعرانه اظهار او تعبير سره کولې. که په شاعرانه تخيلاتو، استعارو او

کنایو پسې ځو، نو بیا د دین، مذهب، اسلام، مسلمانۍ او د دې د متعلقاتو دایره د رحمان بابا په شاعرۍ کې ډېره پراخه ده.

لاندې د ده د شاعرۍ ځینې برخې تحلیلوو. بیل د قرآن حکیم له آیتونو څخه د رحمان بابا نېغ په نېغه استفادې څخه کوو:

د قرآن او د حدیث په کتو خوښ شوی بیا په لاس حدیث قرآن ولیدی درېغه

رحمان بابا د قرآن حکیم له آیتونو څخه په داسې طرز په خپل کلام کې استفاده کړې ده چې یو خوا یې د قرآن پاک د پیغام په رسولو کې کلیدي کردار لوبولی، د دې فکري سرچینې یې عامې کړي او بل خوا یې د فن تقاضې هم مجروحې کړې نه دي. د هغه دا استفاده اومه او خشکه نه ده.

د رحمان بابا د دیوان ابتداء له دې شعر څخه کېږي:

گوره هسې کردگار دی رب زما چې صاحب د کل اختیار دی رب زما

په ټولو کایناتو اختیار د الله تعالی دی، پر دې موضوع قرآن حکیم کې ډېر آیتونه شته. دلته ترې څلور آیتونه ذکر کېږي. د لومړي آیت څرک د شعر په لومړۍ او د وروستیو دوو آیتونو اثر په دویمه مصرعه کې ښکار دی:

﴿وَهُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ﴾(یاسین: ۸۱ آیت)؛ «او هم هغه ذات (الله تبارک و تعالی) پیدا کوونکی او ډېر غوره پېژندګلي کوونکی دی».

﴿قُلْ إِنَّ الأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ﴾(آل عمران: ۱۵۴ آیت)؛ «ووایه (دوی ته ای نبي) بې شکه اختیار ټول د الله دی».

﴿وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ﴾(النور: ۴۲ آیت)؛ «په اسمانونو او ځمکه کې پاچاهي د الله تعالی ده او هغه طرف ته ورتلل دي(ارمان، ۱۴۰۱ل، ۳۸۳، ۳۹۵، ۳۹۷ مخونه).

د رحمان بابا له احادیثو څخه نېغ په نېغه او رمزي او کنایي استفاده

دا چې زه وتاته وایم که یې خدای کا په آیات و په حدیث کې به څرګند وي

د دې بیت د دعوې دویمه برخه دا ده چې رحمان بابا خپله شاعري د حدیث په مضامینو هم غني کړې ده. له قرآن‌حکیم سره د احادیثو ذکر هرومرو راځي. رحمان بابا صفا خبره کړې ده چې د هغه وینا به له قرآن‌حکیم او احادیث څخه عبارت وي. د هغه د دعوې دویمه برخه مورِ ته د هغه د احادیثو د پوهې او له دې سره د مینې او عقیدت ادراک راکوي. هغه له قرآن‌کریم سره سره د احادیثو هم ښه عالم و، تر

ډېره حده تړې واقف و او ژوره پوهه یې پرې لرله.

د قرآني مضامینو په شان رحمان بابا له احادیثو څخه هم په خپلو شعرونو کې د عقایدو، عباداتو، معاملاتو او اخلاقیاتو په حواله ډېره استفاده کړې ده. د فناء او بقا، د ژوند په اهمیت، بهترین معاشرت او د نورو په اړه یې هم له حدیثو څخه خوشه‌چیني ښکاره ده. دا خوشه‌چیني او استفاده د شاعر انسانیت د علمیت، پوهې او فني ګرفت آینه‌داره ده. بل خوا له رسول اکرم سره د رحمان بابا د مینې او عقیدت ثبوت هم دا دی چې د هغوی له حکمت او پوهې څخه ډکې خبرې شاعر انسانیت د پښتون ولس لپاره په خوږه شاعرانه ژبه کې کارولي او دغه شان یې د پښتون ولس اصلاح، اخلاقي او ټولنیزه روزنه، تربیت او تهذیب د خپلې شاعرۍ وظیفه وګرځوله(ارمان، ۱۴۰۱ل، ٦۱۹، ٦۲۰ مخونه).

عصمت سوراني رحمان بابا ته «شیخ‌الحدیث» ویلی دی، هغه د رحمان بابا له اسلامي تعلیماتو څخه د استفادې لنډه خبره یې هم کړې ده؛ خو رحمان بابا «شیخ‌الحدیث» و یا نه و؟ دا ځان ته بحث دی چې ژوره مطالعه غواړي. دا خبره لیکل اسانه ده، خو ثابتول یې ډېر لوی شواخون غواړي. البته دا خبره ډاډه کېدی شي چې تر خپله حده او وسه رحمان بابا په حدیثو ښه پوهه لرله. داخلي شهادتونه څرګندوي چې شاعر انسانیت له حدیثو څخه په خپله شاعرۍ کې په لویه پیمانه فکري مؤاخذه کړې ده چې دا یې د حدیث فهمۍ ادراک مورِ ته راکوي(ارمان، ۱۴۰۱ل، ٦۲۲- ٦۲۳ مخونه).

د رحمان بابا په اسلامي تعلیماتو خصوصاً پر قرآن او حدیث باندې د پوهې او په خپله شاعرۍ کې د هغې د فني استعمال په اړه داود خان داود لیکي: «دا د رحمان بابا جدت پسندي ده چې خپل اشعار یې د آیات او حدیث د مفهوم تابع ګرځولي دي، په داسې ډول چې نه یې تړې د یو عالم وعظ جوړ کړی او نه د یو ناصح یا مبلغ نصیحت یا تبلیغ. د دې بر عکس د آیات یا حدیث معنا یا مفهوم یې په داسې طریقه په ښه راوستی دی چې په شعر کې یې نه څه ګرانوالی پیدا کړی او نه څه پېچیدګي، بلکې دلته یې هم د سادګۍ، روانۍ او سلاست خاص خیال ساتلی دی. بله دا چې د آیت او حدیث د معنا او مفهوم مطابق وعظ، نصیحت یا تبلیغ یې په داسې طریقه کړی دی چې نه په لوستونکو بد لګي او نه تړې مخ اړوي، بلکې د دې بر عکس یو خاص خوښي، شوق او مینه ورسره څرګندوي»(داود، ۱۹۹۷م، ۱۱۸- ۱۱۹ مخونه).

یو مشهور حدیث مبارک دی چې: ﴿المُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ المُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ﴾؛ «مسلمان هغه دی د چا له ژبې او لاس څخه چې نور مسلمانان په امان کې وي». رحمان بابا دا لاندې بیتونه په همدغه

پورتني حديث ليکلي دي:

راشه مه کوه له چا سره جفا　　لږ ژوندون دی ضائع کېږي بې‌وفا
خدای امان وکړه له هسې زندګيه　　چې ته بد وايې له بله بل له تا
ګونګ بهتر دی چې بې‌کام و بې‌زبان وي‌نه　　چې ژبه شي په بد ويل ګويا
چې د ورور د عزيز زړه پرې ازارېږي　　حاصل مه شه هغه خپله مدعا

* * *

دنيا کښت د آخرت دی　　دا خبره ده رښتيا

دا شعر د دې حديث په بنياد ليکل شوی دی: ﴿الدنيا مزرعة الاخرة﴾. «دنيا د آخرت پټی دی﴾(ارمان، ۱۴۰۱ل، ٦٢٤، ٦٢٥، ٦٢٨ مخونه).

د رحمان بابا د ديوان شعرونه ګواه دي چې هغه له قرآن فهمی سره سره د حديث فهمی مظاهره هم کړې ده. په دې کې د هغه له حديثو لوستې نه سېوا له رسول اکرم ﷺ سره د هغه محبت هم له پامه نه شي غوځېدای. د خپلې مطالعې په رڼا کې هغه ته دا اندازه شوې وه چې دا مبارک احاديث د علم، حکمت، دانش او پوهې بېښبها خزانې دي. په دې کې ژوند دی او دا د يوه مثالي ژوند لپاره کارول اصلي دانايي ده، همدا وجه چې هغه د خپل کلام د معنوي اړخ تنه بوده له حديثو څخه جوړه کړې او د فن د تکميل تقاضي يې هم په نظر کې ساتلې دي.

چې يې دين د محمد دی قبول کړی　　جنتي دی که فاسق دی که پارسا

د پورتنی موضوع اساس دا مبارک حديث دی چې: ﴿يَا أَبَا ذَرٍّ بَشِّرِ النَّاسَ أَنَّه مَنْ قَالَ لَا اِلَهَ اِلَّا اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ﴾؛ «ای ابو ذر! خلکو ته زېری ورکړه چې چا «لا اله الا الله» وويله، (له دې سره يې قلبي او ذهني هماهنګي برابره وه)، جنت ته به داخليږي»(ارمان، ۱۴۰۱ل، ٦٣٠، ٦٣٤ مخونه).

چې دوې ښځې وي د چا　　هم سخي وي هم پارسا
خدمت کړونې د څښتن وي　　په ښه خوی وي اراستا
تفاوت په کې حرام دی　　که شړی وي که خاصا
لازم دا دي و څښتن ته　　تفاوت دې نه کا بيا

.....

دا حديث دی وارد شوی　　که څوک فهم کا په دا

هغه څوک چې تفاوت کا زه وېزار یم دی له ما

په مشکوة کې دي راغلي ورشه وپوښته علماء

په دې شعرونو کې حدیث په دېر کمال ځای شوی دی. سره له سیاق و سباق او حوالې یو حدیث نظم کول او د هغې درک څرګندول د رحمان بابا د علمیت ژوندی ثبوت دی. دا حدیث په مشکوة او ځینو نورو کتابونو کې هم شته چې په کې د هغه بنیادم حال ذکر شوی چې دوه ښځې یې وي خو په هغې کې انصاف نه کوي: ﴿اِذَا کَانَ عِندَ الرَّجُلِ اِمْرَأَتَانِ فَلَمْ یَعْدِلْ بَیْنَهُمَا جَاءَ یَوْمَ القِیَامَةِ وَشِقُّهُ سَاقِطٌ﴾. ژباړه: کله چې د یوه سړي دوه ښځې وي او په هغو دواړو کې عدل نه کوي، د قیامت په ورځ به (دا سړی) په داسې حال کې راشي چې نیمه حصه (د وجود) به یې نه وي(ارمان، ۱۴۰۱ل، ۶۴۰- ۶۴۱ مخونه).

د بابا د تصوف په اړه د رحمان‌پوه ادیب ارواښاد میر عبدالصمد خان خیالات له پامه نه شي غورځېدای. میر صاحب په تصوف یو اوږد باب ټرلی او د خپلې اسلامي مطالعې په رڼا کې یې د تصوف او رحمان بابا په شاعرۍ ډېره ماهرانه او عالمانه رایه ورکړې ده.

په یو ځای کې لیکي: "د پښتون عملي مزاج له اسلامي او افغاني امتزاج نه جوړ دی. د رحمان بابا ادب هم د دې امتزاجي مزاج نماینده او ترجمان دی. داسې حال کې چې ځینې شاغلي رحمان بابا ته صرف په صوفي ویلو ضد کوي نو تعجب شان وشي. که تصوف محض یو اضافي یا د اسلام مترادف لفظ وي، بیا خو سمه ده. رسماً او تکلفاً که مونږ هغوی ته صوفي ووایو نو څه خبره نه ده خو که چېرې اسلام بذاتِ خود یو مکمل ضابطۀ حیات وي نو بیا رحمان بابا ته صرف په صوفي ویلو اکتفا نه شي کېدای. هغه د اسلام او صرف د اسلام شارح او ترجمان دی".

د میر صاحب دا رایه ډېره وزني ده، ځکه چې د رحمان بابا شاعري د اسلامي تعلیماتو له روح څخه عبارت ده او هر کله چې اسلام یو مکمل ضابطۀ حیات دی نو په داسې حال کې په اسلامي معاشره کې د تصوف څه توک نه جوړېږي. رحمان بابا چې د خپلې شاعرۍ په اساس د اسلامي تعلیماتو شارح او ترجمان دی، هغه ته صوفي ویل له هغه سره انصاف نه دی. په نورو ټکو کې د صوفي لفظ د هغه مقام محدودوي او د اسلام شارح او ترجمان، شاعرِ انسانیت سره دا ډېر لوی زیاتی دی.

میر صاحب وایي: "رحمان بابا یو عالم فاضل سړی و چې د اسلام د روح او افغاني جوهر رازدان و او چونکې د اوچتې پایې شاعر هم و او هغه ټول اوصاف یې لرل چې هغه یو اعلیٰ او بلند پایه شاعر لري. مثلاً بلند جذبات، پاکیزه خیالات، وجدان، سوزوساز او د عشق و محبت بې پناه احساسات او ادراکات

او د هغوی عالمانه او ادیبانه شخصیت. د هغوی یو بل ډېر لوی حیثیت دا و چې هغه په خپله دروښ و، په صحیح معنیوو کې اسلامي فقیر و او افغاني طبع او مزاج یې لا په دې سېوا و ځکه نو هغوی د خپلو خیالاتو او جذباتو څرګندونه په داسې رنګ او انداز وکړه، د کوم چې له داسې حضراتو نه توقع کېږي. زما په خیال رحمان بابا که صوفي وي او که نه وي یو انقلابي مفکر او فلسفي ضرور و. څه ته چې مونږ اسلامي تصوف وایو هغه یوه اضافي خبره ده. اسلام چې د ژوند کومه مکمله فلسفه وړاندې کړې ده، هغه د تصوف له هغو ټولو نظریاتو نه زیاته اوچته، جامع، پاکیزه او ښایسته ده، کوم چې د تصوف ټول تاریخ وړاندې کړي دي."

همدا موصوف لیکونکی وړاندې لیکي: "په خپله قرآن د روح او باطن په صفایې دومره زور ورکوي چې د دنیا یو تصوف هم د هغې تصور نه شي کولای. په احادیثو کې د ظواهرِ اسلام باطني تشریحات ډېر ډېر ترلاسه کېږي."

میر صاحب د اسلامي تعلیماتو په جامعیت، عالمګیریت او اکملیت کې ډېر بهترین دلایل وړاندې کړي او دا تأثر یې ورکړی چې اسلام کامل او اکمل دین او مکمل ضابطۀ حیات دی، ځکه دې ته د کوم تصوف ضرورت نشته.

میر صاحب د رحمان بابا او تصوف په اړه خپله خلاصه خبره په دې ډول کړې ده: "زما په خیال رحمان بابا د صوفیانو له هغې ډلې سره تعلق نه لري چې هغه د تصوف په یوه مستقله فلسفه عمل کوونکی وي. د رحمان بابا له کومو شعرونو څخه چې هغه صوفي ثابتولی شي یا بعضې ښاغلیو ته په هغې کې له تصوف سره سره د وحدت الوجودیت خبره په نظر راځي که د هغې د (متعلقه شعرونو) په ژور نظر مطالعه وکړی شي نو صرف یوه خبره به معلومه شي او هغه دا چې د هغه (رحمان بابا) افکار په اسلام او بنیادي عقیده ولاړ دي چې په هغې ټول اهلِ اسلام یوه خوله دي او چې هغه د خواصو او عوامو ټولو عقیده ده"(ارمان، ۱۴۰۱ل، ۸۹۱- ۸۹۳ مخونه).

پروفیسور فهم دل راهي د میا بهادر شاه ظفر کاکاخېل الفاظ د رحمان بابا د اخلاقي شاعرۍ په حواله دا شان په خپل کتاب کې درج کړي دي: "که چرې مونږ د اخلاقي تعلیم په حقله د بابا د کلام جاج واخلو، نو مونږ داسې اشعار موندی شو چې هغه د قرآن کریم د آیتونو او احادیثِ نبوي ﷺ په رڼا کې ویل شوي دي، بلکې که زه دا ووایم چې بابا د شعر په ژبه د دې آیتونو او احادیث نبوي ﷺ مفهوم ظاهر کړی دی نو دا به بې ځایه نه وي او دا د دې خبرې څرګند ثبوت دی چې رحمان بابا یو لوی

عارف او عالم وو"(ارمان، ۱۴۰۱ل، ۱۰۳۳ مخ).

دلته ثابته شوې چې د رحمان بابا لاسرسی قرآن حکیم ته په داسې انداز دی چې هغه ترې نېغ په نېغه او فني، رمزي او کنایيي استفاده هم کړې ده. دلته ثابته شوې چې رحمان بابا د مستشرقینو د ویناوو په اساس یو روایتي مُلا نه دی، بلکې د خپلې زمانې له جمله مروجه علومو څخه واقف یو جید او قرآن فهمه عالم دی(ارمان، ۱۴۰۱ل، ۱۰٦۸ مخ).

شېر شاه ترخوی رحمان بابا یو نېک انسان او ستر عالمِ دین بولي. د هغوی کلام د اسلامي تعلیماتو مرقع ګڼي او د کلام د همه ګیریت او قادرالکلامۍ اعتراف يې کوي او پرې دا زیاتونه هم کوي چې د بابا په شاعرۍ کې د خانقایت اثار نشته. هغه د مسلکي صوفیت له ژوند نه مبرا دی. موصوف دا ډېره مهمه خبره کوي چې د قرآن د تعلیماتو په رڼا کې مورِ رحمان بابا ته د "صوفي" پر ځای "متقي" شاعر ویلای شو، ځکه چې دا قرآني لفظ دی او د قرآن ټول احکام او قوانین له دې لفظ نه چاپېره چورلي. د ترخوي صیب رایه هم ډېره وزني ده. هر کله چې مورِ رحمان بابا د اسلامي تعلیماتو شارح، عالم او نماینده شاعر سره سره اسلامي ترجمان هم منو، نو بیا ورلره مناسب لقب د "متقي" دی او د الله په نزد هم زیات عزتمند هغه کس دی څوک چې زیات متقي وي(ارمان، ۱۴۰۱ل، ۸۲- ۸۳ مخونه)، ځکه الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾(الحجرات: ۱۳ آیت)؛ «بې شکه چې د الله په نزد ستاسې ډېر عزتمند ستاسو ډېر ځان ساتونکی دی».

میرمحمد د میر شریف زوی د ننګرهار په حصارک شیرشاهي کې اوسېده، په دیني علومو کې يې مطالعه لرله. د حضرت رسول «*وفاتنامه*» يې نظم کړې چې د ناظم شجرة النسب هم ورسره مل ده. دا د هغه دی:

که پوښتنه کړې زما د پېژاندګیې — پلار نیکه نسب مې غواړې له دوستیې
عاجز زوی د میر شریف حصارکی یم — او نیکه مې میر شفیع زه يې نمسی یم
(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۰۵ مخ)

حاجي ملا یارمحمد پاپیني د خپل عصر جید عالم و او د دولسمې پېړۍ په لومړیو کې يې د شینوارو په پاپین سیمه کې ژوند کاوه. له سلوک او معرفت څخه برخمن و او د شیخ آدم بنوري مشوانې مرید و. په تصوف کې يې د «*کتاب السلوک*» په نوم اثر لیکلی دی(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۲۳۳ مخ).

دی چې په میا جار محمد یا میا جر محمد هم شهرت لري، زیارت يې د «هزار ناو» د خورِ ختیځې

خواته د (لوی پاپین) د کلي په هديره کې دی او په ختیځو ولایتونو کې د ارادتمندانو ترمنځ د «پاپین‌بابا» په نامه یادیږي. دی د خوشحال خټک معاصر و. له ۱۰۵۱هـ.ق (۱۶۴۱م) کال نه دمخه شرقي پنجاب ته تللی او له شیخ آدم بنوري (۱۰۵۳هـ.ق) نه یې لاسنیوی کړی، بیا له خپل پیر سره حجاز ته تللی دی. د ژوند زمانه یې تر ۱۰۷۰هـ.ق پورې او د مړینې مهال یې د څمکنو د میا محمد عمر د «خزینة الاسرار» کتاب له لیکلو (۱۱۱۲هـ. ق/ ۱۰۷۰م) نه دمخه تاکل کېدای شي.

د «وفاتنامې» ناظم (میرمحمد) دی په علم او ادب پوه ښیي، د څمکنو میا عمر صاحب د ده له نامه سره تل «مولانا» لیکي او په خپله د مولانا حاجي یارمحمد له وینا څخه څرګندیږي چې کله دی مرید کېده، نو مروج ديني علوم یې لوستي و. بیا د ده پیر شیخ آدم بنوري ورته وویل چې د حضرت شیخ فریدالدین عطار کتابونه هم ولولي. مولانا حاجي یارمحمد له شیخ آدم بنوري څخه د خلافت خرقه ومونډله، په شینوارو او د هغه په شاوخوا کې یې نقشبندیه طریقه خپره کړله.

نوموړي په پښتو او پارسي ژبو مؤلف، لیکوال او شاعر و، د هغه له تألیفاتو څخه یو کتاب معلوم دی چې د یوې خطي نسخې پر پشتې باندې لیکل شوي: «کتاب السلوک از ملفوظات حضرت میا یارمحمد خان صاحب علیه الرحمه پاپین شینواري». د دغه «کتاب السلوک» تومنه د حضرت شیخ فرید الدین عطار مشهور کتاب (تذکرة الاولیاء) ده. میا یارمحمد په تذکرة الاولیاء کې د ذکر شویو بزرګانو غوره حالات، اقوال او نکات اقتباس کړي او د نورو مأخذونو په استناد یې له لازمو اضافو نه وروسته ځانګړی کتاب ترې جوړ کړی دی. ده په دې کتاب کې د هر بزرګ له حالاتو او اقوالو څخه غوره نکتې را اخیستي او د هرې نقطې په پای کې یې لومړی په پارسي ژبه د بیت یا رباعي یا قطعې تر عنوان لاندې د هغه د مطلب لنډیز نظم کړی او بیا یې د (افغاني) تر عنوان لاندې هغه لنډ مطلب په پښتو نظم اړولی دی. له دغو بیتونو څخه د نوموړي د شعر نمونه دا ده:

یارمحمد په خوب کې پښې پر ګلبدن شه اوس تر ویښه زیات په خوب باندې مین شه

* * *

ښایسته د یارمحمد په خپله یار شه بیهوده منت اوس پاته د رویبار شه

* * *

یارمحمده! که عارف یې ځان خسته کړه بار د هر چا په سر وړه لویه سینه کړه

* * *

هر عابد چې خان بهتر ګڼي له بله　　يارمحمده د دين وليي يې وکښله
يارمحمده! شيخ جنيد ولي ويلي　　د همت سواره ړومبي دي رسېدلي

(خدمتګار، ۲۰۱۳م، ۲۰۹۱، ۲۰۹۲، ۲۰۹۳ مخونه)

د «کتاب السلوک» درې خطي نسخې معلومې دي(خدمتګار، ۲۰۱۳م کال، ۲۰۹۶ مخ).

معزالله مومند د عبدالله خان زوی په خټه محب‌خېل مومند دی. د پېښور په کوټله نومې سيمه کې يې نړۍ ته سترګې غړولې دي. د زېرېدو دقيقه نېټه يې څرګنده نه ده، خو د ديوان له داخلي شهادتونو څخه يې په ډاګه کېږي چې نوموړي په دولسمې هجري پېړۍ کې ژوند کړی وي. هغه د رحمان بابا او عبدالقادر خان خټک هم‌مهالی ګڼلی شوی خو داسې ښکاري چې تر هغوی به کشر وي، ځکه چې دی په پښتو شعر کې د رحمان بابا د ادبي مکتب پيرو او له هغه نه اغېزمن شوی هم دی او هم يې د دغه مهال د ځينو شاعرانو، لکه عبدالقادر خان او سکندر خان شعرونه هم تضمين کړي دي. د همدغو او دې ته ورته څېړنو په پايله کې د ده د زوکړې نېټه ۱۰۸۵هـ.ق کال ښودل شوې ده. مومند د خپل وخت دوديز ديني علوم، لکه تفسير، حديث، فقه، فلسفه، د بيان علم، معاني او بديع لوستي و او ښه لاس يې په کې درلود. همدارنګه يې د پارسي ژبې ډېر ادبي آثار هم مطالعه کړي و.

نوموړی که څه هم په يوې داسې کورنۍ کې زېرېدلی و چې په خپل وخت کې يې لويې لويې دندې درلودې او د هر يوه له نوم سره د خان او ملک کلمه هم ملګرې وه او ټول مقتدر خلک وو، خو د معزالله خان مومند حالات د دې ټولو پر خلاف د رحمان بابا د ژوند ترجماني کوي. هغه د مياړ عمر څمکني مريد و چې د هغه د احوالو په اړه يې يو اثر هم ليکلی دی.

په شعر کې يې حسن، مينه، اخلاق، تصوف او نورې موضوع ګانې ځلېدلې دي چې په دې ترڅ کې يې د پښتو، پارسي او اردو ګډ ملمع شعر هم ويلی دی. دی پر پښتو سربېره په دري او اردو ژبو هم ښه پوهېده او په دې ژبو د پښتو په څېر لاسبری و، په دې دواړو ژبو کې يې هم داسې شعرونه ويلي چې د کيفيت له مخې داسې نه ښکاري چې دا د ده دوهمې ژبې دي، نو ځکه د پښتو په څېر د پارسي او اردو شاعرانو په لومړي ليکه کې هم راځي. نوموړی په پښتو شعر کې خپل نوم معمولاً معزالله ليکي خو کله کله ورسره مهمند هم ملګري کوي، په پارسي او اردو شعرونو کې «افغان» تخلص کاروي.

د مړينې نېټه يې هم پوره روښانه نه ده، خو په ځينو سرچينو کې د ده ژوند تر ۱۱۶۷هـ.ق کال پورې باوري ګڼل شوی دی. خو د ده هغه غزليزه ويرنه چې په دري ژبه يې د بادشاه بېګم په نامه د يوې

مېرمنې په مرګ ویلې او تاریخي ماده یې ۱۱۸۲هـ.ق راوځي، نو ځکه یې تر همدې نښتې ژوند یقیني ګڼل شوی دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ٦۱۰ مخ). آثار یې دا دي:

۱-*د اشعارو دیوان*: چاپ دی او دري برخې لري: پښتو شعرونه، دري شعرونه، اردو شعرونه. د معز الله دیوان په ۱۹۵۷م له پېښور د همېش خلیل په زیار خپور شوی دی، دوهم او درېیم چاپ هم لري. په آریانا دایرة المعارف لومړي ټوک کې راغلي چې معز الله مومند په پښتو، پارسي او اردو چې دی ورته هندوستاني وایي، ژبو شعرونه ویل او د ده دیوان (آیینه معانما) د یادو شوو درې واړو ژبو ګډ دیوان دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸٦ل، ۱۰۴ مخ).

۲-*مجمع الاسرار*: منظوم اثر دی چې د میا عمر څمکني په اړه یې په دري ژبه لیکلی دی. د دې اثر مقدمه په پارسي نثر دی، ولې د کتاب متن فارسی منظوم دی او د مثنوي په انداز دی. په ۱۱٦۳هـ.ق کال پای ته رسېدلی دی. په دې کتاب کې ټول ۵۴ مناقب و کرامات دي.

۳-*مجموعه چهار رساله*: په دري نثر دی چې د دې کتاب نوم طب‌نامه دی، خو حقیقت کې د دې کتاب په اولنۍ صفحه کې مجموعه چهار رساله درج دی، ځکه چې دا کتاب د څلورو رسالو نچوړ مجموعه ده، موضوعات یې په دغه طرز دي: معدن الجواهر، الغرائدت، الصنائع منتخبات، جامع البدائد(خلیل، ۱۳۹۱ل، ح، ط، ي مخونه).

«دیوان معزالله خان مومند» همېش خلیل ترتیب کړی چې درېیم چاپ یې په ۱۳۹۱ کال په ۲۴٦ مخونو کې چاپ شوی دی. له ۱-۱۵٦ مخ پورې د ده پښتو شعرونه، له ۱۵۷- ۲۲۳ مخ پورې د ده پارسي کلام او له ۲۲۴- ۲۳۲ مخ پورې یې اردو کلام راغلی دی. د دیوان په وروستۍ برخه کې د دیوان فرهنګ یا د ځینو کلمو معناګانې راغلې دي. د دیوان د مخمس یوه برخه کې وایي:

هر چې زړه د خدای په مینه مبتلا کا — د دنیا له تعلقه ځان رها کا
د خدای ذکر شپه و ورځ په هره سا کا — چې ناستی د فقیرۍ په بوریا کا
غلامان یې کمینه شي بادشاهان

بل ځای کاږي:

په حسد داو په کینه د هیڅا مه شه — بل د نفس و د هوا په رضا مه شه
سر د شمعې خپله ژبه قلم پرې کا — که هوښیار یې بې محله ګویا مه شه
سل غمونه تعلق د دانایۍ دي — که هوس کړې و ښادۍ ته دانا مه شه

د اجل په دود به رزق په کور در رسي سرګردانه په مانند د اسیا مه شه

د کلام بله بېلګه یې:

چې بې یاره یو ساعت په ما قیامت دی د وګړي په ما څه له ملامت دی؟
چې سبا یې غوړېده په بېګا تله دي په دا باغ کې څه د ګلو اقامت دی
مه نظر د تکبر په ونې وکړه چې د دې شجر ثمر هم ندامت دی...
که د شعر کرامت له چا نه غواړې معزالله د رحمان شعر کرامت دی

(مومند، ۱۳۹۱ل، ۱۴۸، ۱۰٦، ۱۳۴ مخونه)

د معزالله خان له اشعارو جوتیږي چې دی یو عالم او ادیب سړی و او په ادبیاتو کې یې مه لاس درلود. **یونس خیبري** چې نوم یې محمد یونس خان او د نورمحمد خان زوی دی، د پښتو ژبې خوږژبی شاعر دی چې په ۱۰۹۹هـ.ق کال زېږېدلی دی. په اصل کې موسی‌خېل دی او په خیبر کې یې ژوند کاوه. ده په پېښور کې زده‌کړه وکړه، د رحمان بابا شاګرد او د ده د سبک او مکتب لاروی او د تفسیر، فقهې، حدیث، نحو، صرف، معاني، بدیع، طب او پارسي او عربي ادب په برخه کې یې د خپل دور معیارونه پوره کړي و(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۷ل، ۵۲۷ مخ). استاد هېوادمل بیا کاږي چې یونس خیبري چې د زوکړې نېټه یې ۱۱۰۰هـ. ق یا ۱۰۹۹هـ. ق راوخي، د رحمان بابا په مستقیمو شاګردانو کې حساب دی. خو ادبپوهان باوري دي چې یونس د رحمان بابا داسې شاګرد دی چې په خپلو رنګینو اشعارو سره یې هنري معیار کله تر استاد اوړي. یونس په پښتو ژبه د شعر ښکلې *دیوان* لري چې عشقي، اخلاقي، تربیوي، اجتماعي او ديني اشعار په کې دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۷٦، ۱۷۷ مخونه). دیوان یې درې زره بیته دی، په ۱۱۷٦هـ.ق کال په ۱۷۵ مخونو کې خطاطي شوی دی. د دغې یواځینۍ ارزښتمنې نسخې انتقادي متن په ۱۳۵٦هـ.ش کال د عبدالله بختاني خدمتګار له خوا چمتو شوی او د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا په ۲٦۸ مخونو کې چاپ شوی دی. د دغه شاعر په شعري ګلبن کې د ښایسته ګلونو په غېږ کې د مینې او عشق د بلبلانو نغمې اورېدل کېږي، خو د حقیقي عشق او عرفان نور او تجلا په کې ډېره ځلیږي. سربېره پر دې اغېزناک ديني او د ټولنیزو اخلاقو درسونه هم د ده د شعر په محتوا کې نغښتي دي. له ادبي پلوه، د خیبري شعر د پښتو کلاسیک شعر له پیاوړو بېلګو څخه ګڼل کېږي. د ده په شعري دیوان کې د نورو ادبي موضوعاتو ترڅنګ زیاتې معماوې هم شته(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۷ل، ۵۲۷ مخ).

د شعر بېلګې يې:

د هر چا تر خپل مطلب پورې ياري ده — تر مطلبه پورته تشه بېګاري ده
د اخلاص د اشنايۍ دېګدان سوړ شه — د لباس اشنايي ګرمه بازاري ده
د راحت په ورځ تقصير د خپلوۍ نه دی — د ضرور په ورځ له ياره بېزاري ده
په دا وخت د بل هنر پوښتنه مه کړه — لوی هنر له هنرونو زرداري ده....

* * *

اول کار په بې فهمي په نادانې څه — بيا آخر يې بې حاصله پښېماني څه
چې حاصل يې لکه خورکه يا ويړي وي — په رنځورو ډېر خوراک مهرباني څه
هغه کار چې بې آفت وي په تأخير کې — د يوه زمان تر بله آساني څه
چې اقرار تصديق يې دواړه حاصل نه وي بې فايدې د تش رسوم مسلماني څه

(خيبري، ۱۳۵۶ل، ۱۹۷، ۱۹۸ مخونه)

مهين خليل هم د رحمان بابا د سبک پيرو شاعر دی. د *ديوان* خاوند شاعر دی، خطي نسخې يې په هند کې شته. په ۱۱۲۷هـ.ق کال يې د «*تذکرة الابرار*» په نامه يو بل کتاب هم نظم کړی دی چې دا کتاب تر اوسه نه دی چاپ شوی او خطي متنونه يې په کابل، پېښور او هند کې موندل کېږي. په دې کتاب کې يې د شرقي فرهنګ ځينې کيسې او حکايات په پښتو نظم بيان کړي دي. مهين د پېښور د سيمو د خليلو د قبيلې يو عالم شاعر و او د تصوف په لارو يې هم يون کړی دی. د کبرويه تصوفي لارې پيرو و او په دې لاره کې يې له شيخ ابراهيم خليل څخه لاسنيوی کړی دی. مهين خليل دوې *الفنامې* هم ويلې دي. د ده په آثارو کې پر حکاياتو سربېره عشقي، ديني او اجتماعي مسايل ځان ښکاروي او عرفان هم د ده په شعر خپلې وزرې غوړولې دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۷۸ مخ). مهين د پېښور علاقې د داودزي تپې د يوې باندې اوسېدونکی و. د ۱۰۸۰هـ.ق کال شاوخوا زېږېدلی او ژوند يې تر ۱۱۲۷هـ.ق کال پورې يقيني دی. مهين د پارسي نثر يو کتاب د عظمت داودزي په وينا په پښتو نظم ترجمه کړی چې «تذکرة الابرار» نومېږي چې د پيغمبرانو په حکاياتو مشتمل دی او د پښتو اکېډيمۍ پېښور کې موجود دی. د دغه کتاب په اړه وايي:

ما فارسي نثر منظوم کړ — په پښتو کې ما مکتوم کړ
واړه نقل د بزرګانو — تذکره ابرار مې يې نوم کړ

مهین له یوه شاعر نه علاوه ښه مترجم هم و. د ده د څو غزلو د موندلو او د پورتني اثر له لوستلو نه معلومیږي چې دی ښه عالم، روان، ساده او له اغلاقه پاک شاعر و چې د مشکلو الفاظو او پېچلو مضامینو له بیانولو نه یې خپل لاس رابښکلی و. په کلام کې یې د تصوف او پند و نصیحت رنګ غالب دی، لکه یو ځای کې چې وایي:

د دنیا په هوس زغلي ښکته پورته　　په دغه هوس به اولویږي و اور ته

* * *

هر سړی چې همېشه عزت د بل کا　　دا عزت د هغو نه دی واړه خپل کا

(خلیل، ۱۹۶۰م، ۸۳، ۸۴ مخونه)

پښتو تذکره لیکونکو(نګارانو) یې د ژوند زمانه تر(۱۱۲۷ هـ ق) پورې یقیني ښودلې؛ مګر د ده د دیوان له مطالعې چې د ډهلي په موزیم کې وموندل شو، د نوموړي د ژوند زمانه یې (۱۱۴۰ هـ ق) ښودلې ده(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۲۲ مخ).

د کلام بېلګې یې:

تر مقصوده به هله سړی رسیږي　　په هر څه کې چې مرضي د خپل دلبر کا

عشق د عقل په هنر کله نیوه شي　　عاشقان همېش د زړه سودا په سر کا

چې باور یې په توحید باندې محکم شي ترې به دفع ماسوا د شک لښکر کا

خپل اشنا به د اشنا په سترګو ګوري　　بې اشنا به په نور چا کله نظر کا

له نااهله یاره ځان ساتنه فرض ده　　په لږ عیب سره دې ورک واړه هنر کا

په وئیل زما به هغه اوپوهیږي　　چې له تورې تېرې اوځي مخ په نمر کا

د مهین وئیل مې لا تر دې خواږه شي　　که میان جې پیاله د خاص محبت ورکه

(خلیل، ۱۹۶۰م، ۸۷ مخ)

په «ورکه خزانه» کې د نوموړي د «حکایت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم» اوږد نظم راغلی چې داسې پیل شوی دی:

پس له ده نور محمد دی　　د نبیانو سر آمد دی

دی د دوو کونو سراج دی　　د نبیانو د سر تاج دی

د دوو کونو وداني دی　　ځای د وحي آسماني دی

بهترین د مخلوقات دی　　پاکیزه شیرین یې ذات دی
رحمة العالمین دی　　د خورشید په څای مبین دی(خلیل، ۱۹۶۰م، ۹۲مخ)

د افغانستان د ملي آرشیف پښتو خطي نسخو کې د خوندي منظوم «تذکرةالابرار» پیل او موجود پای داسې دی:

چې اغاز په بسم الله کــړم　　پرې ثنا د پاک مولا کړم

* * *

د حضرت له برکته　　په حرمت ستا د نبینو

د دغې نسخې ناظم (مهین) تذکرةالابرار د شیخ فریدالدین عطار د آثارو ژباړه ده. د مهین تذکرةالابرار بله خطي نسخه د پېښور پښتو اکاډمۍ په کتابتون کې خوندې ده[۱].

د دغه اثر د کلام بېلګه:

دغه ځمکه او فلکیـات　　او باقي نور کاینات
دۀ پیدا پخپل قدرت کړۀ　　رنګارنګ اختـراعات کړۀ
په دربار کې یې امیران دي　　هم پراته دي ګدایان دي
ټول له ده نه کومک غواړي　　که ولیان که مرسلان دي
ډېر لري شان او شوکت　　قادر دی په هر خلقت
دی رازق د هر موجود دی　　هم لري قهر او رحمت
بې نیاز دی ټول یې ستایي　　په صفت یې ګرد لګیا دي
د هستۍ وروسته چې دی دی　　هر اشیا یې ثنا وایي
ای زما پاک خالقه　　د ثنا و صفت لایقه
ستا ثنا به پوره نه شي　　له ده واړه خلایقه
ته لایق د خپل ثنا یې　　په ظاهر باطن پنا یې
ته په ذات هسې داور یې　　په مخلوق واړه قـادر یې
شریک نـه لري په ذات کې　　نه په ذات نه په صفات کې

---

[۱]. د تذکرةالابرار یوه نسخه د هندوستان د ډهلي په ملي موزیم کې هم خوندي ده (وګ: د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې).

امر ستا واړه نافذ دی په چیزې[1] او په کلیات کې

جفت دې نشته پاک احد یې لم یلد ولم یولد دی(نجرابي، ۱۴۰۲ ل، ۲۳-۲۵ مخونه)

د **څمکنو میا عمر** یا **حضرت میا محمد عمر** په دولسمه هجري پېړۍ کې لوی ولي او ستر ملا (عالم) تېر شوی دی. دی په پښتنو کې د څوکنو (څمکنو) په میا صاحب سره شهرت لري. میا محمد عمر د ابراهیم زوی او د کلاخان لمسی دی. استاد رشاد یې په ۱۰۸۰هـ. ق کال کې زېږېدلی بولي. ابتدایي تحصیل یې د پېښور په شاوخوا کې کړی او تر ۱۰۹۹هـ.ق دمخه د علم په حاصلولو پسې کابل ته راغلی دی او تر ۱۱۰۳هـ.ق کال دمخه له کابله پېښور ته ستون شوی دی. په ۱۱۰۴هـ.ق کال په لاهور کې د حضرت شیخ سعدي لاهوري نقشبندي په حضور مشرف شوی دی. میا عمر په ۱۱۰۵هـ.ق کال د شیخ سعدي لاهوري لاسنیوی وکړي او د نقشبندیه مجددي طریقې تلقین یې ومونډ. شیخ سعدي د پښتانه ستانه شیخ آدم مشوانې (۱۰۵۳هـ.ق کال مړ) له لویو خلیفه ګانو څخه و. په ۱۲۳۱هـ.ق کال چې اټکی حضرت جي صاحب ومړ، د روحي روزنې لپاره ډېر خلک میا صاحب ته رامات شول او د بزرګۍ او ولایت غږ یې تر لیرو ولاړ. حافظ مرغزي لیکلي چې د دولسمې هجري سدۍ په شپږمه لسیزه کې چې د افشار نادر د فتور دوره وه، میا صاحب لاهور ته ولاړ، د لاهور نېکان او ملایان ده ته راغلل او له نادري وحشته یې د خلاصون دعاء ورڅخه وغوښته.

لوی احمدشاه بابا که له یوې خوا بزرګانو ته ارادت او ملایانو ته احترام درلود، له بلې خوا یې د خپلې پاچاهۍ ستنې هم په دوی ټینګولې. په ۱۱۶۰هـ.ق کې چې نوموړی له خپل لښکره سره تر خیبر واوښت او پېښور یې له ناصر خان زیګ (د ډهلي دربار والي) ونیو، له میا صاحب رحمه الله څخه د دعاء اخیستلو لپاره څمکنو ته ورغی. د ځینو په قول، مرید یې شو او د لنګر لپاره یې په وارو وارو ډېرې سرکاري ځمکې وروبخښلې. حضرت میا عمر صاحب د غري او خښې لوی پیر و، د ورځې به یې پنځوسوو تنو ته په لنګر کې ډوډۍ پخېدله، له باجوړه نیولې تر چچ و هزاره پورې د ده مریدان و. د ده له دعاء او رضا سره د پېښور د مضافاتو ټول پښتانه د زړه له کومې د لوی احمد شاه ملاتړي شول(رشاد، ۱۳۶۰ل، ۱، ۲، ۸، ۱۱، ۱۳، ۱۴، ۱۷، ۲۰، ۲۳ مخونه).

میا محمد عمر د مذهبي علومو لوی عالم او د خپل وخت ستر روحاني پېشوا و. کله چې احمد شاه بابا پاني‌پت ته تلی، نو میا محمد عمر صاحب ورسره اوولس زره پنځه سوه تنه لښکر استولی و. میا عمر د

---

[1]. آر: جز یې.

څمکنو خپل ټول عمر د خلکو په روحاني تربیه، تصنیف، تألیف او تدریس کې تېر کړی دی(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۸٦۷ مخ). په څمکنو کې یې د ديني علومو مدرسه لرله(رښتین، ۱۹۸۸م، ۲۲ مخ).

د میا صاحب عمر تر سلو کالو اوښتی و، د ده مړینه په ۱۱۹۰هـ.ق کال کې پېښه ده. د پېښور په څمکنو نومي کلي کې خاورو ته سپارل شوی، زیارت یې مشهور دی چې تر اوسه پورې خلک د استفاضې په نیامت ورځي.

میا صاحب د شعر ښه قریحه او روانه طبعه درلوده، له ده څخه په پښتو، پارسي او عربي ژبو اشعار پاتې دي. دی د پارسي قصیدو په پایونو کې د خپل نامه وروستی جزء (عمر) د تخلص پر ځای راوړي او د پښتو قصیدو په پای کې یې څو ځایه (فقیر) راوړی دی. میا صاحب په عربي، پارسي او پښتو ژبو کې کتابونه کښلي دي. په دې باب د ده خپل بیان دا دی:

تصانیف له دې فقیره چې عیان دي — په فارسي په عربي کې نمایان دي
په پښتو ژبه هم ما کړي بسیار دي — ځینې ځینې یې مشهور په هر دیار دي
(رشاد، ۱۳٦۰ل، ۲۷، ۳۱، ۴۰ مخونه)

پارسي او پښتو مؤلفات یې دا دي:

۱- *خزینة الاسرار*: په خزینة الاسرار کې دا کتاب د جواهر الاسرار په نامه یاد شوی دی. د تألیف کال یې ۱۱۱۲هـ.ق دی. په دې اثر کې د شیخ آدم مشوانې (۱۰۵۳هـ.ق مړ)، شیخ سعدي لاهوري (۱۰۳۳-۱۱۰۸هـ.ق) او شیخ یحیی اټکي (۱۰۴۱- ۱۱۳۱هـ.ق) حالات او کرامات په تفصیل سره لیکل شوي دي. د خزینة الاسرار ژبه پارسي ده، د بیان اسلوب یې سلیس او روان دی. دا اثر چاپ نه دی، نسخې یې شته(رشاد، ۱۳٦۰ل، ۴۱، ۴۲، ۴۳، ۴۴ مخونه).

۲- *خلاصه کیداني افغاني*: په عربي ژبه د لمانځه په باب د حنفي فقهې رساله ده. لطف الله نسفي الکیداني (۷۵۰هـ.ق مړ) کښلې ده. یوه مقدمه او اته بابه لري. د دغې رسالې څلور پښتو ترجمې دي چې یوه په کې د څوکنو د میا صاحب ده. د ده پښتو کړې خلاصه په نظم ده. لومړی باب یې قصیده غوندې دی، د نورو بابونو شکل یې مثنوي دی. څو بیته یې دا دي:

دویم باب د واجباتو بیانیږي — د طالب زړه په لوستلو یې خوښیږي
واجبات د نمانځه یوویشت چې تمام دي — بعضې خاص دي که پوهیږې بعضې عام دي
عام ته زده کړه درته وایم ای طالبه! — غوږ پر کښېږده، درتې نمایم ای طالبه!

د چاپي خلاصه کیداني افغاني ټول بیتونه ۱۲۷۱ دي. په دغو کې د مقدمې درې پنځوس او د خاتمة الطبع تر عنوان لاندې پنځه ویشت بیته چې ټول ۷۸ بیته کېږي، د فضل‌حق اخوندزاده اشنغري دي، پاتې ۱۱۹۳ بیتونه یې د څمکنو د میا صاحب دي. فضل حق د میا صاحب تر مرګ وروسته دغه بیتونه پرې زیات کړي دي. میا صاحب د خلاصې اته بابه چې د لمانځه د فرضو، واجبو، سنتو، مستحباتو، مباحاتو، مکروهاتو، محرماتو او مفسداتو عنوانه لري، په ۳۴۳ بیتونو کې پښتو کړي دي. په دغه چاپي خلاصه کې د میا صاحب اته نیم سوه داسې بیتونه هم راغلي چې له خلاصه کیداني سره مستقیمه اړیکه نه لري. میا صاحب خلاصه کیداني د خپل کشر زوی (عبیدالله میاګل) (۱۲۳۳هـ. ق مړ) په غوښتنه پښتو کړې ده(رشاد، ۱۳۶۰ل، ۴۵، ۴۶، ۴۷، ۴۹ مخونه).

دغه راز د «*خلاصه کیداني افغاني مع دیګر مسایل مفیده*» په نوم د میا محمد عمر چمکني اثر دی چې په ۱۲۹۸ق کال ډهلي کې په ۶۴ مخونو کې چاپ دی. له عربي خلاصه کیداني نه فقهي مسألې په پښتو دولس څېزه خوږه مثنوي را اړولی شوې دي. په پای کې یې ځینې دیني حکایات هم شته(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۴۴۲ مخ).

د میا عمر د څمکنو په پښتو آثارو کې د «خلاصه کیداني» پښتو منظومې ترجمې سره ډېر زیات منظوم ضمایم ښکاره دي. په دې ضمایمو کې میا صاحب ځینې حکایات په پښتو نظم راوړي دي. دغه حکایات څه ادبي ارزښتونه لري. د میا صاحب پښتو کړې خلاصه له ضمایمو سره په ۱۲۹۸هـ.ق کال په ډهلي کې چاپ شوې ده.

۳- *شمایلنامه*: استاد رشاد کاږي چې په پښتو کې ده ته لس شمایلنامې معلومې دي چې یوه په هغو کې د څمکنو د میا صاحب لیکنه ده. دا یې په ۱۱۶۳هـ.ق کال په څمکنو کې نظم کړې ده. د نظم شکلي سکښت یې د غزلې او قصیدې په شان دی. په کابل پوهنتون کې خوندي شمایلنامه چې ۱۲۶ بیته ده، پنځه فصلونه لري. د اسلام د ستر پیغمبر د شمایلو دا منظومه رساله تر اوسه نه ده چاپ.

۴- *شرح فقه الاکبر*: په عربي ژبه یوه رساله ده چې په علم کلام او عقایدو پورې اړه لري. د تألیف نسبت یې امام اعظم ابو حنیفه ته کېږي. په فقه الاکبر له ملا علي قاري الهروي څخه پرته نورو خلکو هم شرحې لیکلې دي. یوه په هغو کې د څمکنو د میا صاحب شرحه ده چې په پارسي ژبه یې لیکلې ده. د میا صاحب د شرح فقه الاکبر یوه خطي نسخه د ازبکستان د تاشکند په کتب‌خانه کې خوندي ده.

۵-*المعالي شرح الامالي*: امالي په عربي ژبه کې يوه قصيده چې ټول بيتونه يې ۷۳ دي. د موضوع له مخې په علم کلام او عقايدو پورې اړه لري. د دغې قصيدې يوه پارسي شرحه د څمکنو ميا صاحب ليکلې ده. د دې اثر د تأليف کال ۱۱۵۸هـ.ق ښودل شوی دی.

٦-*نسب‌نامه*: د برټېش موزيم په کتلاک کې د ميا صاحب دغه رساله د پښتنو د نسب‌نامې په نامه ضبط شوې ده او آريانا دايرة المعارف کې هم د ميا صاحب څمکني په مؤلفاتو کې دغه رساله د پښتنو نسب‌نامه بلل شوې ده. استاد رشاد ليکلي چې د ميا عمر د عربي کتابونو څرک نشته(رشاد، ۱۳٦۰ل، ۵۲، ۵۳، ۵۴، ۵٦، ۵۸، ۵۹، ۴۰ مخونه)، خو بايد وويل شي چې د ده عربي آثار دا دي:

۷-*اللالي على نهج القوافي الامالي*: د مشهورې امالي قصيدې په طرز يې ترتيب کړې عربي قصيده ده چې ۳۲۴ بيته لري. د علم التوحيد مباحث بيانوي.

۸-*شمس الهدى*: بشپړ نوم يې شمس الهدا بدر الدجى في ذكر.... خيرالورى دی. ژبه يې عربي ده او په ۱۱۸۳هـ.ق کال کې يې ليکل شوې ده.

۹-*نصيحة عبادالله او امة محمد رسول الله*: دا رساله د تنباکو د استعمال او کښت د حرمت بيانونه لري، يو ځل په ۱۳۰۰هـ.ق او بيا په ۱۳۸۴هـ.ق کال چاپ شوې ده. دکتور حنيف ميا صاحب ته د دې رسالې منسوبول رد کړي دي(اغبز(۱۳۹۷ل، ۲۵ مخ).

د کلام بېلګه يې له «توضيح المعالي» څخه:

اوس باعث د دې تصنيف بيانوم	کل مقصود تا ته د زړه عيانوم
تصانيف له دې فقيره چې عيان دي	په پارسي په عربي کې نمايان دي
په پښتو ژبه هم ما کړي بسيار دي	ځينې ځينې بيا مشهور په هر ديار دي
خلاصه په عربي کې لوی کتاب دی	د نمانځه د مسايلو انتخاب دی
په خاطر مې راغله دا چې يې پښتو کړم	په پښتو ژبه آسان په پښتنو کړم
دا اثر به له ما پاته شي دنيا کې	دا عمل به مې په کار شي په عقبا کې
	(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۷۸۸ مخ)

د خلاصه کيداني د سر بيتونه يې دا دي:

حد ثنا د هغه خدای چې پاک سبحان دی	او په مور يې د اميان کړی احسان دی
خداوند دی د زمين او د آسمان	په تسبيح يې ملايک هم انس و جان

(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۸٦۸ مخ)

د «شمايل نبوي» د سر څو بيتونه دا دي:

تل ثنا ده د هغه پروردګار　　چې ممکن يې له نابوده کړ اظهار

بيا يې غوره په عالم کې پاک رسول که　　هم يې مونږ د ده امت کړو ايماندار

(رشاد، ۱۳٦۰ل، ۲۰- ۲۱ مخونه)

محمدي صاحبزاده د ميا عمر څمکني زوی په ۱۱۰۸هـ.ق کال [په «فرهنګ ادبيات پښتو» درېيم ټوک کې راغلي چې دا کال حدسي او ناسم دی] په څمکنو کې زېږېدلی او په ۱۲۲۰هـ.ق کال وفات شوی دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۵۸ مخ). د عبدالحليم اثر په (روحاني رابطه او روحاني ټرون) کې هم د صاحبزاده د زوکړې نېټه ۱۱۰۹هـ.ق کال ښودل شوی دی. خو څېړونکي دا نېټه نه مني او دی د دولسمې پېړۍ په منځنۍ کې زېږېدلی بولي. د خپل وخت مروج ديني علوم يې له خپل پلار ميا عمر نه لوستي و، بيا يې د نورو بېلابېلو ديني عالمانو نه ځينې مروج ديني کتابونه لوستي چې ذهني پانګه يې پرې رڼه کړې وه، يعني په ديني علومو کې يې د کمال او فضيلت مقام ترلاسه کړی و چې په اوچت عالم او پياوړي شاعر او ليکوال پېژندوی دی. د تصوف د طريقت، معرفت او سلوک په مقامونو هم پوهېده چې په شاعرۍ کې يې ډېر لږ څرک لګي چې هغه هم په نشت حسابېږي. ده په پښتو، دري او عربي ژبو څو ځانګړي نظمي او نثري کتابونه پنځولي او ليکلي دي، په ځانګړي ډول يې پښتو ادب ته دوه ډوله خدمت کړی دی؛ يو يې د پنځونې برخه او بله يې د نورو آثارو خوندي کولو برخه ده چې د پښتو ادب ځولۍ پرې ډکه ښکاري او هم يې د ادب ځلی دنګ ساتلی و. د پښتو ډېر ارزښتمن ديوانونه يې خوندي کړي دي. دغه کار ته يې يو شمېر کاتبان او خطاطان په خپله حجره او دېره کې ګومارلي وو چې په لږ کې يې د يو شمېر نامتو او تکړه شاعرانو ديوانونه پرې خطاطي کړي وو. دا يې آثار دي:

۱) *ديوان*: د پښتو شعرونو پنډ ديوان دی چې په لومړي ځل په ۱۹۸۵م کال چاپ شوی دی.

۲) *مقاصد الفقهه*: دا کتاب يې په عربي ژبه ليکلی، فقهي مسايل بيانوي، ناچاپ دی.

۳) *برهان الاصول في بيان الاصول*: دا کتاب يې هم په عربي ژبه ليکلی، د فقهي مسايلو په اړه خبرې لري، ناچاپ دی.

٤) *نعت النبي (ص)*: دا کتاب منظومه رساله ده چې په عربي ژبه ليکل شوی، ناچاپ دی.

۵) *صلواة محمد (ص):* دا کتاب يې په دري ژبه ليکلی، منظوم درود دی، ناچاپ دی.

٦) *رياحين الصلواة في بساطين البرکات*: دا کتاب يې په عربي ژبه ليکلی، ناچاپ دی. هېوادمل کاږي چې حنيف خليل ليکي چې عبدالحليم اثر دا اثر د ميا عمر وراره بازګل ته منسوب کړی دی.

۷) *مستغاث*: دا کتاب په پښتو ژبه نظم شوی او له حضرت محمد ﷺ سره يې د مينې، عقيدت او ارادت له مخې په نظم کړی چې په لومړي ځل د ډاکټر محمد حنيف خليل په څېړنې، اوډنې او سريزې په ۱۳۹۵ل کال په کوټه بلوچستان کې د پښتو اکيډيمۍ له خوا په ۲۵۳ مخونو کې چاپ شوی دی(اغېز، ۱۳، ۱۴، ۱۵- ۱٦ مخونه). استاد رفيع ليکي: د مستغاث د کتاب موضوع د حضرت محمد نعت او ستاينه ده. تر عربي سريزې وروسته يې لومړی بند داسې پيليږي:

حمد ثنا ده خدای لره چې رب العلمين دی هم رحمن د کل عالم رحيم په مؤمنين دی
لا شريک په ذات صفات مالک د يوم الدين دی نشته ضد او نه مدبر فوق زمين دی
بيا صلوة سلام په پاک رسول چې تل امين دی هم سيد سند رسول خاتم النبيين دی
هم په آل اصحاب يې چې د هر يو خادم دين دی زه د پاک حضرت مداح شفيع د مذنبين دی
کړم په پښتو دا مستغاث کلام متين دی هر چې وايم پاک حضرت حبيب الواصلين دی
(اغېز، ۱۳۹۷ل، ٦۴ مخ)

استاد هېوادمل د صاحبزاده د آثارو په باب کاږي: د پښتنو ستر روحاني شخصيت او د پښتو او عربي ژبو ليکوال او شاعر ميا محمدي صاحبزاده د څمکنو د هندي سبک ديوان لرونکی شاعر دی. صاحبزاده د «المستغاث» په نامه منظوم پښتو کتاب لري. د «برهان الاصول» او «مقاصد الفقه» په نامه عربي دوه کتابونه يې هم ليدل شوي دي. دی سربېره پر دې چې د پښتو ډېر ښه شاعر و، يو بل فرهنګي کار يې دا کړی دی چې د پښتو د ډېرو شاعرانو ديوانونه يې په خپل فرمايش پر ډېرو ښو خطاطانو خطاطي کړي دي او د پښتو غټه ادبي ذخيره يې په دې توګه خوندي کړې ده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۱۹، ۲۲۰ مخونه). د تاريخي افغانستان دغه ستره فرهنګي او روحاني هستي ستر عالم او عارف، د وخت پېشوا او روحاني، غوره اديب او شاعر و. پر روحاني نفوذ سربېره د پښتو غوره شاعر او ليکوال و. په پارسي او عربي ژبو يې هم ليکل کول. د پښتو نادر کتابونه او ديوانونه د هغه په پرمايښت او امر په ښه خط قلمي شوي چې د دې مهم کار نېکه يادونه به يې تل په پښتو ادبي څېړنو کې کېږي(هېوادمل، ۱۳۵٦هـ.ش، ۴۵۸ مخ).

پادري هيوز ليکي: محمدي صاحبزاده د ميا عمر صاحب مشر زوی او هغه ته ډېر ګران و، په ديني، علمي چارو کې ورته ډېر نژدې و، تر دې چې ميا عمر صاحب خپل پښتو منظوم اثر (خلاصه کيداني) د ده په وينا ليکلی دی. د د ديني علومو لوی عالم او په عربي ادب کې د لوړې مرتبې خاوند و. د څوکنو له ميا عمر نه چې ده ته څه شته او جايداد پاتې و، د هغو ټول حاصلات او عايدات يې د علم او پوهې په خدمت او د پښتو ژبې او ادب پياوړتيا او پرمختيا په لاره کې لګول. په ۱۲۱۱هـ.ق کې د څمکنو د ميا عمر صاحب د مزار په خوا کې يې جومات جوړ کړ او په هغه کې يې د ديني علومو مدرسه تأسيس او مدرسې پورې مربوطه لويه کتابخانه يې جوړه کړه او بې‌شمېره کاتبان يې د پښتو د غوره ادبي آثارو او نايابو کتابونو په نقلولو وګمارل. په دغو کاتبانو کې محمد شفيق ختک، فتح محمد خان څمکنی، ملا ولي کندهاری، ګل محمد پېښاوری (لومړی) او ګل محمد پېښاوری (دويم) نومونه په خاص طور د يادولو وړ دي. د محمدي صاحبزاده مدرسې او مکتبې زيات با ارزښته يادګارونه د پښتو ژبې او ادب د خطي نسخو په توګه چې ځينې يې مطلا او ساده ميناتوري لري، زمونږ تر زمانې پورې رسېدلي او د پښتو ادب دا قېمتي ذخيره د نړۍ په مختلفو کتابخانو کې خوندي ده. د دې ادبي خدمتونو په لړ کې يواځې دا نه چې د محمدي صاحبزاده په توجه کتابونه نقلېدل، بلکې دوی د هغه وخت شاعران د خپلو کتابونو تدوين او راټولولو ته هم تشويقول، بيا د هغو کتابونو نسخې د دوی له خوا زياتېدلې(اغبز، ۱۳۹۷ل، ۱۷- ۱۸ مخونه).

استاد رښتين وايي، محمدي صاحبزاده له پښتو ادب سره ډېره مينه لرله، د پښتو ډېر کتابونه او ديوانونه يې راټول کړي و او د پښتو د قلمي نسخو لويه کتابخانه يې جوړه کړې وه. د پښتو د قلمي نسخو د رانقلولو لپاره يې ډېرو کاتبانو ته پيسې او تنخوا ورکوله او په دغه راز يې د خپل علمي او ادبي ذوق پالنه کوله(رښتين، ۱۳۷۲ل، ۱۳۷ مخ). ښاغلي اثر په خپل کتاب (روحاني ټرون) کې ليکي: «په خصوصيت سره چې نن ورځې د پښتو ژبې د ادب تاريخ څومره قلمي نسخې په لاس راځي، اکثر هغه دي چې د محمدي صاحبزاده په خرڅ او اهتمام سره په بهترين رسم الخط منقش او مطلا قلمي شوې دي»(افغاني. روحاني رابطه او روحاني ټرون، ن‌ن، ۸۱۷ مخ).

استاد عبدالحی حبيبي ليکي: د محمد صاحبزاده اشعار او ادبي طبع ډېره خوښه او ښه ده. دی د کاظم خان شيدا معاصر او د ده له ملګرو څخه دی چې پس له ۱۱۵۰ د ده د شاعرۍ او ادب غږ لوړ شوی او په پښتو ادبياتو کې يې ښه مقام موندلی دی. محمدي په شعر کې د حميد مومند پر سبک ځي او

اشعار يې سلاست لري(اغبز، ۱۳۹۷ل، ۳۸ مخ).

عبدالباري جهاني ليکي: که څه هم چې محمدي صاحبزاده له يوې روحاني کورنۍ څخه دی او حتی مشهور شاعر علي‌خان يې خپل پير او مرشد بولي، مګر د ده په شعرونو کې د تصوف څرګند مفاهيم چندانې نه ليده کېږي، بلکې تقريباً خپل شعرونه يې د جانان د جمال ستايلو او د غماز غندلو ته وقف کړي دي. اوس نو دلته بيا دا خبره پاتې کېږي او هغه به د حقيقي او مجازي عشق خبره وي. د حقيقت او مجاز د کلمو احوال يې يواځې خدای ته معلوم دی(اغبز، ۱۳۹۷ل، ۷۵ مخ).

د کلام بېلګې يې:

هيڅ په عقل په تدبير نه دی نصيب — چا ترلی په زنځير نه دی نصيب
ستوري والوځي که هر څو لمر به نه شي — د بادشاه بخت د فقير نه دی نصيب
په سينه کې مې زړه نښه درته تل دی — د کږو بنو ستا تير نه دی نصيب
د تصوير غنچه په باد گل شوې نه ده — چې هوس د زړه زهير نه دی نصيب
ستا د زلفو دري ډېر ډېر کاږه سم کړه — لا د سپي غماز تعزير نه دی نصيب

يا:

شرموي هر يو سړی د دنيا طمع — د سپيتوب نامه حاصل کا په دا طمع
چې ارهنډه يې په کور کې وي ولاړه — د کجورې ورنه کاندې خطا طمع
چې کرې به نن وربشې په پټي کې — د غنمو خوشې کا ترې صبا طمع
يوه ورځ به يې مړی شي خوله کې زهر — له غليمه چې څوک کا د حلوا طمع
د هغو وربوز د سپي که د سړي دی — چې آشنا کا د دنيا له آشنا طمع
(حبيبي، ۱۳۹۱ل، ۲۲۲، ۲۲۳ مخونه)

محمدي صاحبزاده د سخاوت په باب وايي:

نه دې وخوړه نه تا په خيرات ورکړه — ستا په دا پاتې دنيا بويه افسوس

د حيا په هکله وايي:

له هغه د حيا شرم روزگار لاړ شه — چې اخيستی يې وه د نس په هوا طمع

د ښه نيت په اړه کاږي:

چې نيت کوږ لري عمل يې کله سم وي او په ځمکه کرښې تله کاندي د مار کج

(صاحبزاده، ۱۹۸۵م، ۱۹۹، ۲۶۵، ۸۷۵ مخونه)

دغه بيت د رسول الله ﷺ د ﴿إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ﴾(البخاري. د حديث شمېره: ۱) حديث مفهوم لرونکی دی.

د ناپوهۍ رنځ په هکله څرګندوي:

په ښوره ځمکه کې چا لیدلی ګل دی و جاهل ته نصیحت کول عبث

پورتنی بيت د ﴿وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا﴾ (الفرقان: ۶۳ آيت) مفهوم بيانوي چې معنا يې ده: «او که جاهلان په مخه ورشي نو ورته وايي تاسې ته سلام دی».

عبيدالله ميا‌ګل يا **احمدي صاحبزاده** چې اصلي نوم يې عبيدالله و، د هند د نيمې وچې د يوې نامتو علمي او روحاني کورنۍ ممتاز غړی و. که څه هم "احمدي" او "عبدالله" د هغه لقبونه وو، خو پلار يې- چې روحاني مرشد او ميا عمر څمکنی و - هغه په مينه "ميا ګل" باله او په همدې نوم په خپله زمانه کې ډېر مشهور و. "غريب" د هغه شعري تخلص و، که څه هم هغه په دې برخه کې "ميا ګل" او "احمدي" هم کارول.

احمدي صاحبزاده په ۱۷۰۴م کال کې د پښور په څمکني کې زېږېدلی او د خپل پلار ميا عمر څمکني او مشر ورور محمدي صاحبزاده تر څارنې او روزنې لاندې لوی شوی و. هغه په ظاهري او باطني علومو کې خپلې زده‌کړې بشپړې کړې، د نقشبنديه طريقې له مخې يې له خپل ورور سره بيعت وکړ او وروسته له هغه چې محمدي صاحبزاده په ۱۸۰۵م کال کې وفات شو، نوموړي د هغه ځاىناستی شو او روحاني مشري (مسندِ سجاده‌ګي) يې پر غاړه واخيسته. احمدي صاحبزاده په ۱۸۱۷م کال کې وفات شو.

شاعر او څېړونکي ډاکټر زبير حسرت د هغه «ديوان» موندلی او چاپ کړی يې ده. د دې ديوان تر ټولو لويه ځانګړنه دا ده چې ټول شعري متن يې پر «نعت» (د حضرت محمد ﷺ په مدح کې شعر) مشتمل دی. دغه ټولګه د «حمد» (د لوی څښتن ثنا) په بيان سره پيليږي او پاتې برخه يې له رسول الله ﷺ سره د مينې او عقيدت او د هغه د فضيلتونو د ستايلو په مضامينو مشتمله ده. دا نعتونه چې په بېلابېلو شعري قالبونو لکه غزل، ترجيع‌بند، ترکيب‌بند، مخمس او رباعياتو کې ويل شوي، يوه ځانګړې هنري او معنوي فضاء رامنځته کوي.

پر دې اثر ۱۱۵ مخيزه سريزه ليکل شوې ججې پيل يې د ميا عمر څمکني د دورې له سياسي، ديني او

ټولنیزو حالاتو څخه کېږي او ورپسې د میا عمر څمکني، محمدي صاحبزاده او احمدي صاحبزاده د ژوند، علمي خدماتو او ادبي مقام په اړه مفصل بحث وړاندې کوي. د دې «دیوان» اصلي نسخه د میا طارق شاه کاکاخېل په مشهوره «کاکاخېل کتابتون» کې موجوده وه. (عابد، ۲۰۲۶م، https://www.facebook.com/abdullah.janabid.۵)

احمدي صاحبزاده له احمدشاه بابا سره د هرات د فتحې په جګړو کې ملګری و او د خپل پلار میا عمر له خوا نه له درې نورو بزرګانو سره په دغه سفر مأمور شوی و. دی خپل پلار ته ډېر ګران و او د «توضیح المعاني» کتاب یې د ده لپاره تألیف کړی و. دغه‌شان د ده مشر ورور محمدي صاحبزاده هم خپل «مقاصد الفقه» نومی کتاب د ده په سپارښتنه لیکلی دی. عبیدالله میاګل په خپله هم د ديني علومو لوی فاضل او د عقایدو او فقهې په ډېرو کتابونو یې حاشیې لیکلې دي. سربېره پر دې دی علم پالونکی بزرګ ادیب و.

د میاګل تر ټولو لوی صفت دا دی چې ده د خپل مشر ورور په شان د پښتو ادب د پالنې او روزنې لپاره ډېر زیات خدمت کړی دی. ډېر شاعران یې روزلي او پاللي دي او ډېر پښتو کتابونه او دیوانونه یې په کاتبانو نقل کړي او په خپله کتابخانه کې یې خوندي ساتلي دي. ده د خپل کتاب (هفت پیکر) په سریزه کې د پښتو د ډېرو دیوانونو ستاینه کړې ده چې دغه ټول دیوانونه له ده سره موجود وو او همېشه به تړې د پښتو شاعرانو او دوستانو فایده اخیسته.

د عبیدالله میاګل د غزلونو سبک د رحمان بابا او عبدالحمید سبک ته ورته دی، په ادبي اشعارو او تشبیهاتو کې د حمید د سبک او په عشق، اخلاقو، روانۍ او خوږوالي کې د رحمان بابا د سبک تابع دی. د ده قبر په څمکنو کې دی او د خپل پلار او ورور ترڅنګ د خدای د رحمت په غېږ کې په خواږه خوب ویده دی(رښتین، ۱۳۷۲ل، ۱۴۱، ۱۴۲، ۱۴۳، ۱۴۴ مخونه).

د ده زیات آثار د پښتو منظومې قصې دي، یوه مجموعه یې په اوو قصو شامله ده چې دوه‌نیم زره بیته لري او «*هفت پیکر*» نومیږي. د دې قصو یوه قصه جهاندار شاهزاده په ۱۹۶۱م کال په پېښور کې چاپ کړې ده. دی د «*شمایل نبوي*» په نامه بل منظوم اثر هم لري چې یوه قلمي نسخه یې د ملکنډ په ګنډېرو کې له ملا محمد ایوب سره ده. پر دغو کتابونو سربېره د شعر د یوه جلا *دیوان* خاوند هم دی. اثر لیکي چې د ده د اشعارو دیوان ده لیدلی چې اوه زره شعره لري. اثر د ده په تألیفاتو کې «*عبرت‌نامه*» هم راوړې ده چې یوه قلمي نسخه یې د پېښور په موزیم کې خوندي ده، اخلاقي او تصوفي کتاب دی. اثر

د ده په تألیفاتو کې «*منظوم مناجات*» هم ذکر کړي چې د یوه مناجات اخري شعر یې دا دی:

ما میاګل روی د حبیب تا له راوړی　　چې مې عفو کل خطا کړې زما ربه

دغه شان «*شجره طریقت*» یې هم منظوم اثر بلل شوی دی.

میاګل قصه‌ویونکی شاعر دی او په دې برخه کې اوچت مقام لري. ښاغلی همېش لیکي چې دغه قصې په ډېرو خوږو او زړه راښکونکو اشعارو کې ترجمه شوې دي چې هیڅکله پرې د ترجمې ګومان نه کېږي.

ښاغلي اثر په (تېر هېر شاعران) کې لیکلي چې د شیخ فریدالدین عطار مشهوره مثنوي پندنامه هم ده په پښتو نظم تضمین کړې ده چې ټول بیتونه یې درې زره دي، لاکن په (روحاني ترون) کې بیا دغه اثر د میا وسیم تألیف بولي(رښتین، ۱۳۷۲ل، ۱۴۴، ۱۴۵، ۱۴۶ مخونه).

د ده «شمائل نبوي» په ۲۴ مخونو کې چاپ دی. د حضرت محمد ﷺ شمایل د مسدس په توګه په کې نظم شوي دي(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۶۴۲ مخ).

استاد هېوادمل د احمدي صاحبزاده د یوه منظوم اثر «*عبرت نامه*» یادونه هم کړې چې ديني او صوفیانه مسایل یې په مختلفو قالبونو کې بیان کړي دي. خطي نسخه یې د پېښور ښار په (ریکارد افس مرکزي) کې شته ده، ۴۰۲ مخه لري(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۴۵ مخ).

د نظمونو ځینې برخې یې:

ته توفیق د نېکۍ راکړې زما ربه　　له بدۍ مې بله خوا کړې زما ربه

نفس شیطان یم په ډکه هر درنګ اخیستی　　ته مې خلاص له دې بلا کړې زما ربه

ګونګه ژبه ګویا کړې په خپل ذکر　　فکر زړه له مې عطا کړې زما ربه

اموخته دی زما نفس په غیرو چارو　　له هغه یې مخ په دا کړې زما ربه

هدایت توفیق له تا غواړم عاجز یم　　ته خپل یاد مې مشغولا کړې زما ربه....

د مثنوي نمونه:

دیوانونه د فارسي د پښتو ډېر وو　　چې یاران به په شپه په ورځ ورنه چاپېر وو

د عبدالرحمن دیوان د خوشحال خان وو د اشرف د خلیفه د بابوجان وو

د سکندر دولت مرزا د ارزاني وو　　د صدر د کاظم خان چې لا ثاني وو

د عبدالحمید دیوان هم پروت حاضر وو　　چې مشتاق ورته په هر ساعت ناظر وو

هم دارنګ د مصري خان د علي خان وو
د صديق ديوان څرګند چې په بيان وو
هم دارنګ د قلندر د خيرالدين وو
د حاجي محسن او بل د صدر الدين وو
د يونس ديوان هم پروت په ښه عنوان وو
ديوانونو سره پروت هم په دا شان وو
د کامګار ختک ديوان په ښه ترتيب وو
په مجلس کې حاضر پروت ورته قريب وو
د فاضل ديوان چې هر غزل يې فرد دی
په مجلس کې چې حاضر د عشق له درد وو
څه به شمېرم ديوانونه په دا شان
له حد زيات دي چې يې راوړم په بيان
(افغاني، ۱۹۶۳م، ۱۳۸، ۱۴۲ مخونه)

په دې شعر کې د مياګل د مطالعې څرک ښه لګېږي چې د پښتو له ډېرو ديوانونو او شاعرانو يې خبر و او هم يې ښايي لوستي هم وي.

يو غزل يې له «هفت پيکر» څخه:

مخامخ مې تورو سترګو سره جنګ دی
چې مې زړه لکه لاله په وينو رنګ دی
ستا د غم لښکرې راغلې ناګهانه
د زړه غولي کې به ځای نه شي چې تنګ دی
مرګ په هر چا باندې راشي يو ځل تېر وي
زما مرګ په جدايي کې ستا هر درنګ دی
سره لمبه شه راته مخ هر لور د مزکې
هغه يار چې دا ساعت له ما په څنګ دی
چې ستا مخ يې وليد زړه به مې ځي چرته
سلامت له شمعې کله لاړ پتنګ دی....
(افغاني، ۱۹۶۳م، ۱۴۲ مخ)

يو مناجات يې دا دی:

په زاری ولاړ حيران يم، عرض مې دا دی پيغمبره
په ژړا څېرې ګرېوان يم، عرض مې دا دی پيغمبره
يا حضرت ستا نوم راپورې، ته مې ولې حال نه ګورې
ورک خراب تراب پرېشان يم، عرض مې دا دی پيغمبره....
د قيامت ډېرې سختی، د ګناه له بدبختی
له دې غمه سرګردان يم، عرض مې دا دی پيغمبره
شفاعت نصيب زما کړې، د دې رنځ زما دوا کړې
همېشه په غم د ځان يم، عرض مې دا دی پيغمبره(رښتين، ۱۳۷۲ل، ۱۵۰، ۱۵۱ مخونه)

استاد هېوادمل وایي، د دولسمې او دیارلسمې پیړۍ په اوږدو کې د تاریخي افغانستان په سیمو کې ډېر اوسېدلي شاعران او لیکوال د دې کورنۍ مریدان، خلیفه‌گان او ارادتمندان وو. دغو خلکو هم د پښتو آثارو په لیکلو او نظمونو کې ښه برخه اخیستې او ځینو دغو کسانو ډېر ښکلي د لوړې پایې ادبي آثار هم مورِ ته راپریښي دي. د دې کورنۍ په مریدانو کې دغه لاندې لیکوال، شاعران او ناظمان معلوم دي. البته دلته د هغو کسانو یادونه کېږي چې دیني عالمان دي:

۱) مولانا دادین: د حضرت میا عمر *مناقب* یې په پښتو نظم کړي دي. دی د مناقبو نور پښتو آثار هم لري.

۲) مولانا نورمحمد قریشي: د ډېرو منظومو رسالو او منثورو رسالو مؤلف دی. د ځینو اثارو خطي نسخې یې د پېښور په ملي آرشیف کې شته. «نور البیان» یې د حضرت میاعمر او کورنۍ په احوالو او مناقبو کې لیکلی دی. د میا عمر د مناقبو بل منظوم اثر هم لري. ارواښاد اثر یې په «تېر هېر شاعران» کې احوال راوړی او د ده ځینې نور آثار یې هم ښوولي دي.

۳) مولانا محمد شفیق خټک: ده هم د مولانا محمد عمر مناقب په پښتو نظم کړي دي(اغېز، ۱۳۹۷ل، ۳۲، ۳۳ مخونه).

په یوه قلمي کتاب کې د **محمد یوسف** نومي یو نظم چې مناجات دی، راغلی دی. دا قلمي کتاب په ۱۲۷۳هـ.ق کال قلمي شوی دی. نظم ۱۰۸ بیتونه لري، د مخمس په طرز دی او د قطعې په وزن تر هرو دوو بیتونو وروسته د آیت شریف دا الفاظ دي: ﴿وَقِنَا رَبَّنَا عَذَابَ النَّارِ﴾(افغاني، ۱۹۶۳م، ۸۶ مخ).

د آیت پورتنۍ برخه د قرآن کریم د البقرة سورت په ۲۰۱ آیت کې داسې راغلې ده: ﴿وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾. مطلب د «ربنا» کلمه په شعر کې اضافه راغلې ده. البته که د شاعر مراد آیت وي، اما که عربي مقوله یا دعاء وي، نو بیا همدا عبارت هم سم دی.

د دې نظم لومړني او وروستني بیتونه دا دي:

الهي د ستا کرم دی ډېر بسیار زه هر گوره یمه گنهگار

بې عمل یم خوار و زار په محشر کې مې ته مه کړې شرمسار

وَقِنَا رَبَّنَا عَذَابَ النَّار

اوس زاري کوم و تاته ما یو دم مه پرېږده ماته

درست مې وځکوې و تاته زما ښه خدایه حیات

وَقِنَا رَبَّنَا عَذَابَ النَّارِ

په اخره کې وايي:

زه دې ستا په کرم ویاړم　　هم به تاته ډېر ډېر ژاړم

ستا په امر پسې لاړم　　لږ مې وویل ډېر غواړم

وَقِنَا رَبَّنَا عَذَابَ النَّار

استادان مشایخ واړه　　مور و پلار عزیزان واړه

شاګردان یاران کل واړه　　په رحمت کې یې ونغاړه

وَقِنَا رَبَّنَا عَذَابَ النَّارِ

په بېکسۍ د یتیمانو　　په خواریۍ د اسیرانو

په زارۍ د فقیرانو　　یوسف شمار کړې له خاصانو

وَقِنَا رَبَّنَا عَذَابَ النَّار

یوسف تا وته نولیږي　　ستا له قهره ډېر یریږي

له دوزخه ډېر ترهیږي　　په بار بار ځکه وییږي

وَقِنَا رَبَّنَا عَذَابَ النَّار

د یوسف په اړه ویلی شو، هر کله چې د ده دا مناجات په دې قلمي کتاب کې د عبیدالله میاګل له مناجاتو سره یوځای انتخاب شوي دي، نو ویلی شو چې یوسف د میا محمد عمر د څمکنو په مریدانو کې شمار دی او د دولسمې صدۍ یو روحاني عالم او شاعر دی او زیاته ممکنه ده چې دا هغه اخوند محمد یوسف وي چې د میا محمد عمر د یو بل مرید دادین د قول مطابق له لوی احمدشاه بابا سره د مستنګ قلعه په جنګ کې ملګری و. دا دین وایي:

بل وتد ولي اخوند ملا یوسف و　　ریاضت ته یې شیطان په تأسف و

له دې معلومیږي چې اخوند محمد یوسف د ولایت او بزرګۍ مرتبه لرله او د اوتادو په درجه کې وو. بله خبره دا چې دی ملا و چې د یوسف مناجات په دې مصرع غور وشي: «شاګردان یاران کل واړه»، نو د دادین د دې قول تصدیق کېږي چې اخوند محمد یوسف ملا و او د دیني علومو درس به یې ورکاوه او دا مناجات هم د دې اخوند وتد ولي ملا محمد یوسف دی چې دادین ذکر کړی دی. دادین وایي چې ملا محمد یوسف په قوم درانی او په څمکنو کې اوسېده(افغاني، ۱۹۶۳م، ۸۷، ۸۸

مخونه).

مصري خان ګګیانۍ د پښتو مشهور دیوان لرونکی شاعر دی چې د پښتونخوا د پېښور د دوابې سیمې د کانګړې کلي اوسېدونکی د پښتنو د ګګیانیو له قبیلې څخه و. د زوکړې کال یې دقیق نه دی معلوم، خو په ځینو ادبي څېړنو کې د ۱۰۷۵هـ.ق شاوخوا کلونه اټکل شوي دي. د مصري خان د ژوند ډېر حالات نه دي معلوم، یواځې د دیوان له داخلي شهادتونو څخه یې دومره څرګندیږي چې د هندوستان د مغولو د وروستیو واکمنو اورنګزېب بهادرشاه (۱۱۱۹- ۱۱۲۴هـ.ق) او فرخ سیر د واکمنیو پر مهال یې ژوند کړی دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۵۷۴ مخ). خو د «فرهنګ ادبیات پښتو» اثر لیکوال یې ژوند تر ۱۱۵۰هـ.ق پورې یقیني بولي(هېوادمل، (۱۳٦٦ل، ۳۴۹ مخ).

د مصري خان ګګیانۍ د تعلیم او زده‌کړې په باره کې د هغه له شعرونو څرګندیږي چې هغه ښه عالم او فاضل سړی و او د هغه وخت په ټولو مروجو علومو: تفسیر، حدیث، فقهې، تاریخ، معاني، بیان او نورو کې یې ښه اهلیت درلود. شعرونه یې په پښتو او پارسي دي. د پښتو او پارسي او د پښتو او اردو ګډ شعرونه هم لري. د چاپې *دیوان* ټول شعرونه یې ۳۰۱۷ بیتونه دي چې عشقي، حماسي، اخلاقي او تصوفي مضامینو کې غزل، رباعیات، قصاید او نظمونه دي. په کلاسیک ادب کې د شعر سویه اوچته او معیار یې پوخ دی(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۸۵۲ مخ).

د اشعارو له منځپانګې یې جوتیږي چې د خپل وخت دیني او ادبي علوم یې لوستي، د علم، پوهې او فضیلت لوړ پوړ ته رسېدلی و. د قرآن عظیم الشان په تفسیر، ژباړې، حدیثو او فقهي مسایلو ښه پوهېده، ډېر دیني او شرعي احکام یې د شعر په خوږه او رنګینه ژبه بیان کړي دي. د ځوانۍ په لومړیو کلونو کې یې د خپل کلي کانګړې له یوه ارباب سره د منشي‌توب دنده ترسره کوله او ښه سوکاله ژوند یې درلود او بیا په پاخه عمر کې د خپل کلي په جومات کې یې د امامت او د دیني علومو زده‌کوونکو ته د تدریس چارې ترسره کولې چې د ژوند د دواړو پراوونو حالاتو یې په شعر کې انعکاس موندلی دی.

په پښتو او دري ژبو یې شعرونه ویلي او په شعر و شاعرۍ کې یې د عربي، اردو او هندي کلمو او د دغو ژبو له مقولو، محاورو او ورځنیو مفاهیمو له راوړلو څخه جوتیږي چې نوموړی په دغو ټولو ژبو هم ښه پوهېده. په شعرونو کې یې خپل نوم او تخلص «مصر، مصري خان، مصر ګګیانۍ او ګګیانۍ» راوړی دی.

د مصري خان دیوان د هغې واحدې قلمي نسخې له مخې چې په ۱۱۷٦هـ.ق کال د ګل محمد پېښوري

په ښکلي خط لیکل شوی، په ۱۹۵۹م کال د خیال بخاري په سریزه او تعلیقاتو د پښتونخوا پښنور پوهنتون پښتو اکېډیمۍ له خوا چاپ او خپور شوی دی. دا چاپي دیوان چې ۳۰۱۷ بیتونه لري، د مجازي او حقیقي مینې پر بېلابېلو موضوعاتو سربېره ډول ډول دیني، اخلاقي، ټولنیز، رزمي، حماسي، سیاسي او تاریخي مسایل او د شعرونو بېلابېلو ډولونه لري چې له لوړو هنري ادبي ارزښتونو، لفظي او معنوي صنایعو او ښکلاوو څخه برخمن دی.

د ده د شعر بېلګه:

تنها نه دی له رقیبه زړه زما پوخ — د آشنا له استغنا مې دی زړه لا پوخ
چې لاله غوندې مې کار په نافرمان شو — ترو به څه نه وي زړه زما شیدا پوخ
هر یو څیز د اور په تاو سره پخیږي — مګر زه د یار له مخه شوم جدا پوخ
د مراد له خوا نه واړه وږي ولاړه — دې سرپرش تنور نان نه کړه د هیڅا پوخ....
شیخ ملا چې بهره مند له دره نه وي — د طعام غوندې له مالګې وي تنها پوخ
همه عمر به خلاص نه شي له خواری — مهوس[1] چې په کار نه وي د کیمیا پوخ
هر چه صبر و تحمل د ځان پېشه کا — د مقصود دېګ به یې شي په مدعا پوخ
د خپل یار د عشق له تاوه «مصر» ووې — دا غزل له ابتدا تر انتها پوخ

د خلکو او ټولنې د سمون په موخه کاږي:

کار په اعتدال کړه مه افراط کړه مه تفریط — ښه شه ښه خصال کړه مه افراط کړه مه تفریط
ښه کړه له نېکانو په هنر بد له بدانو — کل په خپل محال کړه مه افراط کړه مه تفریط
بارور تحمل کړه نه چې ورک وقر وقار کړې — قطع له ارذال[2] کړه مه افراط کړه مه تفریط
کم وایه خوش ګوی شه جرأت مه کړه په ګفتار کې — فهم په خپل قال کړه مه افراط کړه مه تفریط

(ګګیانې، ۱۹۵۹م، ۱۴، ۱۵، ۴۴ مخونه)

میا فقیرالله جلال‌آبادی د عبدالرحمن زوی د پنجاب په روتاس کې یې نړۍ ته سترګې غړولې دي. ویل کېږي چې له ۱۱۰۰هـ.ق کال څخه وروسته زېږېدلی او په جلال‌آباد کې را لوی شوی، ځکه چې نیکونه یې د جلال‌آباد په حصارک ک اوسېدل. له نامه سره یې کله شیخ، کله شاه او کله میا لیکل

---

[1] کیمیاګر.

[2] په اثر کې (ارزال) لیکل شوی چې سم نه دی.

شوي دي. ميا فقيرالله د خپل وخت ټول دوديز اسلامي علوم لوستي و، خو په فقهي، حديث، تصوف او نجومو کې يې لوی لاس درلود. نوموړی په احاديثو کې د شيخ محمد هاشم نتهوي او په مکه کې د سيد عبدالقادر مالکي مستند مأذون دی او همدارنګه يې د شيخ محي الدين عربي آثار هم له مولانا محمد معين نتهوي څخه لوستي دي.

په پېښور کې د شيخ محمد مسعود په لاس په نقشبنديه طريقه کې داخل شوی دی، ډېره موده په کندهار کې اوسېدلی، هلته يې هم درس ويلی او هم يې درس ورکړی چې په کندهار کې له ښه شهرت څخه برخمن دی، تر اوسه يو جومات د ده په نامه يادېږي چې له دراني ستروا کی سره د ده د روحي او ثقافتي اړيکو څرګندونه کوي. ده له اعليحضرت احمدشاه بابا سره عارفانه مکاتبې درلودې.

ميا فقيرالله د يوه روحاني مخکښ په توګه په ټول افغانستان، بلوڅو او سند کې خورا ډېر نفوذ درلود، ده د خپلې علمي او روحاني درسګاه (مدرسې) د بنسټ ډېره په شکارپور کې ايښې وه چې دغه ښار د احمدشاه بابا په وخت کې د افغاني واکمنۍ يو لوی مرکز و او هرې خواته به د فقيرالله روحاني مينهوال او ارادتمندان د تبليغ او تلقين لپاره له همدې ځايه خپرېدل. د تصوف او طريقت په سلسلو کې به يې ډېر خلک داخلول. دی يواځې د نقشبنديه طريقې مبلغ نه و، بلکې د قادرييې طريقې مأذون هم و، حتی په عربستان کې يې هم ارادتمندان درلودل. د ده هڅه دا وه چې خلک اسلامي احکامو او ښو اخلاقو ته راوبولي او عملاً يې د خدای ﷻ او خلکو خدمت ته تيار کړي.

فقيرالله په شکارپور کې لوی کتابتون هم جوړ کړی و چې ډېرې نادرې او په زرګونو قلمي نسخې په کې خوندي وې. دغه روحاني او سياسي شخصيت، ستر او پېژندل شوی عالم په ۱۱۹۵هـ.ق کال له نړۍ څخه سترګې پټې کړې او په شکارپور کې خاورو ته وسپارل شو چې اوس يې عام و خاص زيارت ته ورځي.

ده ډېر مريدان درلودل، سياسي فکر يې هم درلود او له دې ټولو سره سره ښه ليکوال او شاعر هم و، ده په پښتو، پارسي او عربي ژبو ډېر کتابتونه ليکلي دي، شعرونه يې زياتره عرفاني او روحاني بڼه لري او په پارسي شعر کې «فقير» تخلص کوي. آريانا دايرة المعارف يې آثار دا ښودلي:

فتح الجميل في مدارج التكميل، براهين النجات من مصايب دنيا والعرصات، فيوضات الهيه، طريق الارشاد في تكميل المؤمنين و الاولاد، منتخب الاصول، په اصول فقه کې، وثيقة الاكابر، فتوحات غيبيه، جواهر الاوراد، قصيده مبروره چې په ۱۱٦۲هـ.ق کال يې په مدينه منوره کې د حضرت محمد

ﷺ پر مزار ويلې ده، قطب الارشاد يا مدارج عاليه، كتاب الازهار في ثبوت الاثار (عربي)، محمود الاوراد، په طب او اورادو كې، فوايد فقيرالله (پښتو)، د وجود تحقيق د فلسفې، علم او تصوف په رڼا كې (دري)، د سلوک او طريقو رساله (دري)، د مولوي بلخي د مثنوي د مشكلو بيتونو شرحه (دري)، مكتوبات، مدارج عاليه او ملفوظات...(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۴۲۱ ، ۴۲۲ مخونه).

حاجي ميا فقيرالله جلال آبادي د دولسمې پېړۍ په دوران كې په هند كې د افغانانو له سترو عرفاني، اجتماعي او فرهنگي شخصيتونو څخه و چې د علم او فيض انگازې يې تر لېرو لېرو ملكونو پورې خورې وې. د افغانستان او هندوستان مسلمانان يې د علم او عرفان له فيضه مستفيد و. دی د هندوستان د رهتاس په وډه‌كوه يا وډه‌گرهـ نومي ځای كې زوكړی و، خو دی وايي چې نيكونه يې د بل ځای و. بل ځای ميا صاحب په خپلو مكتوباتو كې ښكاره ښوولې ده او له خپل نامه سره يې مكاني نسبت حصاركی، روتاسي او كله هم الروتاسي النيكنهاری ښيي. له دې بيانه راوځي چې د ميا فقيرالله جلال آبادي ﷺ نيكونه د ننگرهار د جلال آباد د توابعو د حصارک له سيمو هندوستان ته تللي او بيا هورې په رهتاس كې مېشت شوي دي.

ميا فقير الله جلال آبادي د ژوند ډېر كلونه په همدې روتاس كې تېر كړي وو او د علم او عرفان په ګټه همدلې اراسته شوی او پښتو آثار يې همدلته ايجاد كړي وو، تر ۱۱۵۱هـ.ق كال پورې خو يې دلې ژوند يقيني دی. ميا صاحب د احمد شاه بابا د سلطنت (۱۱۶۰- ۱۱۸۶هـ.ق) له دورانه دمخه شكارپور ته تللی دی. هغه د ژوند تر پايه په شكارپور كې پاتې شوی او په ۱۱۹۵هـ.ق كې مړ دی او هم هورې خاورو ته سپارل شوی دی. د ده مدفن له خپلو ټولو ملحقاتو سره د (شاه دربار) په نامه يادېږي. په شكارپور كې د ده د استوګنې د همدې نسبت پر اساس زياتره د ده له نامه سره د ميا فقيرالله جلال آبادي ثم شكارپورې نسبت هم لګېدلی دی. ميا فقير الله د وخت رواجي علوم لوستي و او د خپلې زمانې له منلو علماوو او روحاني اجتماعي شخصيتونو څخه و. پر نقشبندي تصوفي طريقې سربېره يې د ۳۲ نورو صوفيانه لارو د ارشاد اذن او اجازت حاصل كړی و.

ميا صاحب په پښتو، پارسي، عربي او هندكو ژبو كې د تأليف او شعر ويلو صلاحيت درلود، لكه چې خپله يې ويلي دي:

عربي او فارسي ژبه كتاب ډېر لرم طالبه

پوهاند حبيبي يې د عربي، پښتو او پارسي تأليفاتو شمېره شل ښوولې ده. جلال آبادي چې د علم د

پرمختیا او غوړول او د فکر د تولید په برخه کې کوم کار کړی دی، د دغو علمي او فکري هڅو له امله د ده مرتبت د علم او فکر په تاریخ کې ډېر عالي ارزیابي کېدای شي. د ده په پښتو آثارو کې دغه درې رسالې دي: فواید فقیرالله، اسماء الحسنی او کیمیای سعادت. دغه درې سره رسالې په یوه وقایه کې له ۱۲۹۳هـ.ق کال نه تر ۱۴۰۸هـ.ق کال پورې په لسګونو ځله په هندوستان او پېښور کې چاپ شوي دي. ښکاري چې دغه پښتو آثار میا صاحب په روهتاس کې د مېشتو پښتنو او د خپل اصلي وطن (افغانستان) د افغانانو د رنځونو په معالجه کې د دوی د ضروریاتو د رفع کولو په منظور په پښتو نظم کړي او کښلي دي.

۱- *فواید فقیر الله*: شعري سکښت یې مثنوي دی او په دې مثنوي کې یې په دوو عمده برخو کې: د فواید دعا او فواید دوا تر سرلیکونو لاندې مطالب سره تنظیم کړي دي. د فواید دعا برخه ټوله ۲۳۱ بیته ده، د فواید دوا په برخه کې د بېلابېلو ناروغیو په باب نسخې راغلې دي چې دا برخه ګرده ۲۶۴ بیته ده. د دغه اثر متن استاد زلمي هېوادمل تهیه کړی، د ده له یادونو او د پوهاند رشاد له مفصلې مقدمې او مفصلو تعلیقاتو او لغتنامې سره په ۱۳۵۹ل کال د کابل پوهنتون له خوا چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د میا صاحب د نظم شېوه داسې ده:

د حکمت له علمه یاره — وایم تاته برخورداره
زه له بو علي سینا نه — نښه قاعده ښیم و تاته
ته نښه غوږ باسه یې یاره — زما یاره نېکوکاره
دا د رنځ کلي آلاته — دي څلور په عقل زیاته

(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۳۳ - ۳۳۸ مخونه)

په دې اثر کې د څو سورتونو فضایل بیان شوي چې د الفلق او الناس سورتونو په اړه په کې راغلي:

د فلق سورة دلداره — هر سبا بېګا اې یاره
درې ځل لوله واروه ناسه — ځان له هر بلا کړه خلاصه

که وسواس دې په زړه ډېر وي ډېر بې حد تر حساب تېر وي

د والناس سورة اې دله — همېشه یې ډېر ډېر لوله
کل وسواس د تا له دله — ورک به شي بې تحمله

اِسناد واړه شه تمام تر سین پورې اختتام(جلال آبادي، ۱۳۵۹ل، ۴۰ مخ)

۲-*اسماء الحسنی*: دا د باري تعالی د مبارکو او مقدسو نومونو په تشریح کې منظومه رساله ده چې ګرده ۴۸۷ بیته کېږي او لکه د ده نور منظوم پښتو آثار د لنډ بحر په اته څپیزه مثنوي کې نظم شوې ده. دا رساله په دې بیتونو پیل شوې ده:

ربه ستا ثنا به وایم څو ژوندی په دا دنیا یم
کل ثنا ده ستا لایقه ای د کل جهان خالقه
گواهي لم چې احد یې لم یلد و لم یولد یې
شریک نه لرې سبحانه مبرا یې له نقصانه(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۳۸، ۳۳۹ مخونه)

د دغه اثر تحقیقي متن استاد هېوادمل تهیه کړی او د ده له یادونو سره کابل پوهنتون چاپ کړی، مقدمه، تعلیقات او لغتنامه یې پوهاند رشاد تهیه کړې دي. د «اسماء الحسنی» یوه نسخه د افغانستان د علومو اکاډمۍ د کتابخانې پښتو خطي نسخو کې شته چې د نظمولو کال یې ۱۱۵۱هـ.ق او د لیکلو کال ۱۲۳۲ هـ.ق دی، د پاڼو شمېر یې ۴۸ دی. د دې کتاب موضوع د الله پاک د نومونو ګټې، تصوفي مسایل، دعاګانې او د درملو نسخې دي. دا کوچنۍ نسخه د فقیر د ګڼو مضامینو مجموعه ده، ۴۸ مخونه یې اسماء الحسني دي، ورپسې شپږ پاڼې یې د تصوف په اړه (د طریقه ختم خواجه کان) تر سرلیک لاندې راغلی، په تعقیب یې د قرآن عظیم الشان د (عم)، (النازعات) او نورو څه منظوم تفسیرونه او دعاګانې راغلې دي، وروستي څلورویشت مخونه یې د درملنې لپاره منظومې نسخې راغلې دي. پیل یې تر (بسم الله) وروسته:

ستا ثنا دا همبره نده چه تمام د چا پخله ده
پر لحمد له ثنا نَ درود وایم یا سبحان
ستا پدوست چه محمد دی دی د کل مخلوق سر دی(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱۱، ۱۲ مخونه)

۳-*کیمیای سعادت*: په دې اثر کې لومړی لس دعاوې، نهه نقشونه له خپلو منظومو اسنادو او خاصیتونو سره او د نوې میاشتې د کتلو ترتیب راغلی دی. تر دې وروسته د مزمل د سورې خاصیت، بیا د جامو اغوستلو، د نوکانو پرې کولو، د سر خریبلو، د حضرت علي وصیت نامه، د جماعت د لمانځه او جومات ته د داخلېدو د آدابو په باب مفصل مطالب په کې راغلي دي. دا اثر منظومې او منثورې برخې لري. تحقیقي متن یې زرین انځور تهیه کړی او په ۱۳۶۷ل کال د اسلامي علومو د څېړنو مرکز له خوا

چاپ شوی دی. دا کتاب په دې بیتونو پیلېږي:

اول ثنا وایم د رب　　په ډېر عجز و په ادب
دی خالق د کل مخلوق دی　　هم رازق د هر مرزوق دی
مثل نه لري بې شکه　　عقیده مې ده پرې کلکه
هم صلوة پر محمد دی　　چې محبوب د پاک احد دی

د ده په دغو تعلیمي او روزنیزو آثارو کې د میا صاحب نظمونه روان خو دي، خو د دې ترڅنګ زواید او شعري ګډوډي هم د ده په نظمونو کې لیدل کېږي(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۳۹، ۳۴۱ مخ).

میا شرف د ننګرهار ګردي کڅ اوسېدونکی و او همدلته ننګرهار کې زوکړی و. دی الکوزی و. د ژوند یوه برخه یې په هندوستان کې تېره کړې ده، په ډهلي کې اوسېدلی او د هند په نورو ځمکو کې یې هم وخت تېر کړی دی. میا شرف له احمد شاهي لښکرو سره د پاني‌پت په جګړه (۱۱۷۴ق) کې حاضر و(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۶۷ مخ).

میا شرف الکوزی ننګرهاری د احمدشاه بابا هم زمانه او د دولسمې هجري پېړۍ د دوهمې برخې منلی شاعر دی. مستر راورټي د خپل پښتو ګرامر په سریزه کې میا شرف د جلال آباد اوسېدونکی او د پښتو اشعارو خاوند بولي. دی لیکي چې د ده دیوان د حمید له دیوان څخه جګ و. دا هم وایي چې میا شرف د عربي (*قصیده برده*) هم په پښتو نظم ترجمه کړې ده. د راورټي له یادونې څخه څرګندیږي چې ده د میا شرف *دیوان* هم لیدلی و، خو له بده‌مرغه چې اوس یې د دیوان پوره پته نه لګېږي. د ملا شرف د بردې قصیده په هند کې چاپ شوې هم ده(رښتین، ۱۳۷۲ل، ۱۰۳، ۱۰۴ مخونه).

د پښتو ژبې دا عروضي شاعر او د عروضو عالم له هغو شاعرانو څخه دی چې د اشعارو دیوان یې درلود، د بردې قصیده یې هم په پښتو نظم ترجمه کړې ده. په پښتو یې نظم او نثر لیکلی دی. په نظم او نثر کې یې د عربي او پارسي او هندي ژبو لغات زیات دي، اما د ده کمال دا دی چې د عروضو د علم ډېر درانه اصطلاحات یې پښتو ته اړولي دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۴۳ مخ).

دی متفرق پاړکي او بیتونه لري. پر دې سربېره د برده قصیدې پښتو ترجمه هم لري. دا ترجمه ۱۶۵ بیته ده چې د پیل بیت یې دا دی:

ایا مګر له یادو د جیران د ذي سلم　　ځي اوښې وینې دواړه دې له سترګو وبله ضم

او د پای دوه بیتونه یې داسې دي:

مولی له حمد نبي له درود هم آل اصحاب مغفور لرې الله شرف تل په ډېر کرم
دا شان له والدینو له اجدادو اقرباوو هم کل ذکور اناث چې عرب دي یا عجم

د بردې د قصیدې ترجمه خوږه او په‌زړه‌پورې ده. ترجمه یې سره له دې چې زیات شمېر عربي او دري لغات یې په کې راوړي او حتي عربي ترکیبونه هم لري، خو بیا روانه او خوږه ده.

د ده لاس ته راغلي بیتونه او مکمل پاڼکی د هنر او ښکلا له نظره هم د پښتو په غوره آثارو کې شمارل کېږي. د ده هره غزله او هر بیت د خپلو عروضي رغښتونو ترڅنګ د ښکلا او هنر یوه نمونه هم کېدای شي. لاندې بیتونه یې د کتو دي:

لمر د مخ ستا کا په هر ځای کې په شان شان تجله لمر قمر ماه فلک تا کړه په ښایست خجله
ما شجر باغ ته گذر کړ په مخه راغلې له ما نم د شبنم او په گل پروتکه په مخ ستا وه خوله
(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۶۸، ۳۶۹، ۳۷۱ مخونه)

ملا یا **میا محب الدین** یا محب الله چې په فقیر بابا سره پېژندل کېږي او مزار یې تر لالپورې پورته د سدې نومي ځای کې واقع دی، د میا شرف ننګرهاري ورور دی. دی د «*قصیده برده*» ترجمه لري. د استاد رشاد د معلوماتو له مخې، په پښتو ژبه کې د قصیدې بردې ترجمې دې کسانو کړې دي: عبدالقادر خان خټک، ملا شېرمحمد هوتک، میا شرف الکوزي، محب الدین او نورمحمد(نایل، ۱۳۹۸، ۱۹ مخ). د بردې قصیده ټوله ۱۶۵ بیته ده، خو ملا محب الدین د مخمس پرې درې بنده ور اضافه کړي چې ۱۶۸ بنده کېږي. د ده د ژباړلې «بُردې قصیدې» لومړی بند دا دی:

ته چې فریادونه، واوېلا کوې هر دم هم تاوده آهونه، اسوېلي په هر قدم
ووایه و ما ته، ستا په څه دي درد و غم؟ یا خو دې یاد شوي دي یاران د ذي سلم
گډې وډې درومي دې له زېزمو اوښې دم

د مقطع (۱۶۵) بند یې دا دی:

خواست کوم له تا زه یا ارحم الراحمین روی درلره دروړم د رحمةٌ للعالمین
وبخښې په فضل دا عاجز محب الدین هم یې والدین، هم کل بناتٍ (و) بنین

کل مسلمانان چې څه عرب دي یا عجم(نایل، ۱۳۹۸، ۲۵۴، ۲۵۹ مخونه)

ملا عبدالرشید د سلطان حسین زوی د عبدالرحیم لمسی او په لنګرکوټ کې زېږېدلی دی. نومورې په یوې داسې کورنۍ کې نړۍ ته راغلی چې په روحانیت، علم او ادب کې یې زیات شهرت درلود او په

ملتان کې استوګن و. د ملا عبدالرشید غور نیکه له ملتان څخه لنګرکوټ ته تللی او په «ګړهپوره» کې اوسېده چې هلته هم یو روحاني مشر و.

ملا عبدالرشید قریشي د خپل وخت دودیز علوم لوستي و او ترڅنګ یې شاعر او ادیب هم و. د ده له خپلې وینا څخه څرګندیږي چې نوموړی په ۱۱۲۹هـ.ق کال کې ژوندی و، نو ځکه یې د زوکړې نېټه له ۱۱۰۰هـ.ق دمخه اټکل شوې ده. عبدالرشید د «*رشید البیان*» په نامه په ۱۱۲۹هـ.ق کال یو اثر په پښتو نظم لیکلی چې په دې اثر کې یې د فقهې او عقایدو ابتدایي مسایل د مثنوي په کالب کې په ښه عام‌فهمه ژبه لیکل شوي دي. دا کتاب په پښتنو کې ډېر شهرت لري، واړه هلکان، نجونې او ښځې یې په کورونو کې لولي او د پښتنو د کورنیو ښوونځیو یو درسي کتاب دی. د بیتونو شمېر یې له ۱۰۰۰ څخه اوړي. دا اثر تر اوسه څو ځله چاپ شوی دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۷۴ مخ).

که څه هم ملا رشید یواځې دیني مسائل منظوم کړي او بلې خوا ته یې په شعر کې توجه نه ده کړې، مګر داسې ښکاریږي چې روانه طبعه یې درلوده او ښه ادیب و(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۲۵۶، ۲۵۷ مخونه). له دې کتابه یې څو بیتونه د نمونې په ډول ولولئ:

چې محکم په لمانځه اوسي	له دنیا به ایمان یوسي
هم به خدای پرې رضامن شي	پرې آسان به ځنکدن شي
تاریکي به ترې رب دور کا	پرې به قبر کلي نور کا
له صراطه به یې تېر کا	تېر به دې د باد په څېر کا
ښایسته به لکه نمر وي	دی به کل نورالبشر وي
پاک رسول به یې شفیع وي	ملایک به یې مطیع شي
په ښې لاس به نامه ورکا	سخته ورځ به یې اختر کا
لوړه تنده به پرې نه وي	نه ولاړ به په غارمه وي
هم روزي به یې جنت شي	هم سېراب به په جنت شي

(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۷۴ مخ)

د افغانستان ملي آرشیف کې د «رشید البیان» څو نسخې نسخې موجودې.

د افغانستان د علومو اکاډمي په کتابتون کې په (۳٦۵) شمېره خوندي «رشید البیان» ۴۸ پاڼې لري، دیني لارښوونې، اودس، لمونځ، د ایمان ارکان، روژه.... په کې په مثنوي کې نظم شوي دي. پیل یې داسې

دی:

پس له حمده لصلوات　　دا رنګ وایم زه و تاته

چې طلب د علم فرض دی　　د دین علم لکه قرض دی(دوست، ۱۳۹۹ل، ۸۶ مخ)

د بریتانیا په کتابتونو کې د «رشید البیان» لس نسخې خوندي دي چې په کې مذهبي لارښودنې د شعر په بڼه لیکل شوې دي. عبدالرشید هغه څوک و چې خلکو به ملا یا اخوند باله. ده په ساده او روانه ژبه دغه کتاب لیکلی چې ښځې او ماشومان پرې وپوهېږي. دغه کتاب په وار وار ولیکل شو او په ۶۴ څېرکو کې خپور شو، خو د یوې کاپۍ په وروستۍ برخه کې یې یو اضافه څېرکی چې منځپانګه یې د شیطان کړو وړو ته ځانګړې شوې، راغلی دی(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۵۳، ۵۴ مخونه).

د «رشید البیان» یوه خطي نسخه د لیننګراد د ختیځپوهنې په انستیتوټ کې په (۹۶-الف» نومره خوندي ده(هېوادمل، ۱۳۶۶ل-ب، ۹ مخ).

«رشید البیان» په ۵۶ مخونو کې په لاهور کې چاپ دی. یو دیني منظوم اثر دی چې په پښتني سیمو کې په ولسي تعلیمي نصاب کې شامل دی. دا کتاب څو ځله خپور شوی او خپریږي او ضمیمه یې دا لاندې موضوعات دي: ترجمه نماز، شش قل، حکایت رسول، پنج گوهر، صدوسی مسئله، هفت هیکل، مناجات امام اعظم، مناجات امام شافعي، مناجات مطیع الله، شمایل نامه، مناجات غوث الاعظم(رفیع، ۱۳۵۴ل، ۱۹۹ مخ). دا اثر نور چاپونه هم لري.

«*رشید البیان مع شرح امنت بالله*» د عبدالرشید اثر دی چې په ډهلي کي په ۶۴ مخونو کې چاپ دی. په پښتو د لومړنیو فقهي مسایلو کتاب دی او د آمنت بالله شرح د حافظ الپوري له خوا په نظم شوې ده(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۵۹۶ مخ).

ملا شاهو اخوند د لوی احمدشاه بابا (۱۱۶۰- ۱۱۸۶هـ. ق) همعصره ستر عالم او منلی روحاني شخصیت، متصوف او عارف و. د لوی احمدشاه بابا په دبار کې د لوړ قدرت او عزت څښتن او د «ملا ارادت» لقب یې درلود. معصوم هوتک په خپل اثر (سل پګړۍ یو پوړنی، ۱۲۳ مخ) کې ملا شاهو اخوند دیوان لرونکی شاعر بللی چې تېروتنه ده. ملا شاهو اخوند ساګزی هوتک و، د پلار نوم یې «طالب نیکه» او «ملا میاداد» بلل شوي دي او مزار یې په شینکۍ ولسوالۍ کې دی. علامه رشاد کښلي دي چې ملا شاهو اخوند د میا عمر څمکني مرید او خلیفه و(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۹ - ۱۲ مخونه).

په ځینو لیکنو کې د «ملا شاهو نیکه» په نامه هم یاد شوی دی. د ده ارادتمندان زرګونو تنو ته رسېدل.

دی په سره غره او د کلات د ارغنداو په شاوخوا کې د مېرېنې تر وخته پورې خلک سمې ته لارې ته رابلل(هوتک، ۱۳۸۴ل، ۱۲۴ مخ).

محمد معصوم هوتک د «ملا شاهو اخوند او کورنۍ ئې» اثر کې لیکي چې ملا شاهو اخوند رحمه‌الله د احمدشاهي دربار روحاني رکن وو او د بابا په دربار کې یې خاص مقام درلود. تر ملا شاهو اخوند وروسته یې زوی ملا شېرمحمد هوتک د پلار ځای‌ناستی شو. ملا شېرمحمد هوتک نه یواځې د پلار لار واخیسته، بل په پښتو او عربي یې ډېر آثار موږ ته په میراث راپرېښوول چې زیاته برخه یې پښتو منظومات دي. استاد محمدمعصوم هوتک د دې کورنۍ په باب ښه تحقیق کړی دی. د ملا شاهو روحاني حیثیت، د ملا شېرمحمد هوتک پراخ عملیت او د دې کورنۍ د اسلافو علمي و ادبي خدمت روښانه کول او توضیح کول د دې اثر اصلي موضوع ده(احمدزی، ۱۴۰۵، ناچاپ).

په پښتو ادب کې د «شېرمحمد» په نامه ډېر شاعران او ویناوال شته چې څه یې په ادبي تذکرو او ادب تاریخونو کې معرفي شوي او ځینو یې ښایي تر دې دمه ادبي تذکرو او ادب تاریخونو ته لار نه وي موندلې. معلوم شېرمحمد نومي شاعران دا دي:

۱- شېرمحمد د پښتو یو لرغونی شاعر دی چې بشپړ دیوان ترې را پاتې دي. نوموړی د پښین اصلي اوسېدونکی دی، خو د اځکزو په سیمه کې یې هم ژوند کړی دی.

۲- بل شېرمحمد د ۱۱۴۰هـ.ق شاوخوا په پېښور کې اوسېده او څو ځلوریځې ترې راپاتې دي.

۳- بل شېرمحمد ننګرهار دی چې د ژوند زمانه یې له ۱۱۰۰هـ.ق کال وروسته ښودل شوې ده. نوموړي د ديني او اخلاقي موضوعګانو په اړه شعرونه ویل.

۴- ځلورم شېرمحمد نومی شاعر د دوست محمد زوی دی چې د ۱۲۱۲هـ.ق شاوخوا د لغمان د مرکز د شمټیو په کلي کې زېږېدلی او د ۱۲۶۹هـ.ق کال په حدودو کې همالته مړ شوی دی. نوموړی د ديني قصو ناظم بلل شوی دی.

۵- بل شېرمحمد نومی شاعر د مهربان خان زوی او د بلوڅو قبایلو ته منسوب دی چې په ۱۳۴۹هـ.ق کال د پنځوسو کالو په عمر مړ شوی دی(ناصر، ۱۳۹۰ل، ۸ مخ).

۶- میا شېرمحمد هوتک چې د حضرت میا عبدالحمید هوتک زوی دی(هوتک، ۲۰۰۵م، ۹۹ مخ) او یادونه یې په «سل پګړۍ یو پوړنی» کې راغلې ده.

تر پورته یادو شویو شېرمحمد نومو شاعرانو مخکې د **شېرمحمد هوتک** په نوم یوه شخص هم ژوند

کړی چې په ۱۰۹۲هـ.ق کال د لرغوني کندهار د کلات په «ښه بولان» کې د هوتکو په یوې علمي کورنۍ کې یې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي. پلار یې ملا شاهو اخوند نومېده. شېرمحمد هوتک د خپل وخت دودیز علوم تر یوې کچې په خپله سیمه کې ولوستل او بیا د نورو زده‌کړو د حاصلولو لپاره هرات او وروسته د پارس (اوسني ایران) مشهورو ښارونو ته سفرونه وکړل او د زده‌کړو تر بشپړولو وروسته بېرته هېواد ته راستون شو. دا مهال نوموړی ښه ملا شوی و او د وخت په دودیزو علومو کې له ښو معلوماتو برخمن و. په قرائت، تفسیر، احادیثو، فقهې، اصولو او نورو علومو کې یې پر لاس لرلو سربېره په منطق او زیاترو شرقي علومو کې د بشپړې پوهې او مهارت خاوند و. ده یو څه آثار تألیف او ځینې یې له عربي څخه په پښتو راژباړلي دي. ملا شېرمحمد هوتک د صفویانو، هوتکیانو او ابدالیانو په دورو کې ژوند کاوه او د لوی احمد شاه بابا (۱۱۶۹- ۱۱۸۶هـ.ق) د واکمنۍ پر مهال په ۱۱۷۵هـ.ق کال د ۸۳ کالو په عمر په کندهار کې مړ او هملته خاورو ته وسپارل شو.

د ده آثار زیاتره د مثنوي په لنډ بحر کې ویل شوي، خو د اوږده بحر پر شعرونو سربېره یې په نورو صنفونو کې هم قلم ازمایلی دی. د ده ژباړلي نظمونه ټول د مثنوي په چوکاټ کې دي. منظومې او مثنوي‌ګانې یې په ساده او روانه ژبه کښل شوي، ابهام او تعقید په کې نه تر سترګو کېږي او په ساده الفاظو د اسلامي عقایدو، اخلاقو او اعمالو واعظانه بیان دی، لکه:

راشه خوږ تر انګبین شه　　کبر مه کوه کمین شه
چې په دا هنر والا وي　　د هغو رتبه بالا وي

د ده د آثارو له مطالعې څخه څرګندېږي چې نوموړی د دیني آثارو ښه ژباړونکی دی. تر اوسه موږ ته ښکار آثار یې دا دي:

۱- *اسرار العارفین*: د نهه زرو بیتونو مثنوي ده چې د فقهې، اخلاقو، عقایدو او سلوک مسایل په کې دي. په دې اثر کې د امام غزالي او نورو متقدمینو له آثارو څخه انتخابي برخې را ژباړل شوي او ژباړونکي وربانديې د قرآن کریم او احادیثو برخه هم ور زیاته کړې ده. د دې کتاب خطي نسخې پرېمانه دي او تر اوسه څو ځله چاپ شوی دی. دغه اثر د «اسرار السالکین» په نوم هم یاد شوی دی(ناصر، ۱۳۹۰ل، ۹- ۱۱ مخونه). ملا خیرالله هوتک په خپل قلمي دیوان کې په همدې نوم یاد کړی دی.

ځینو محققینو «اسرار العارفین» او «اسرار السالکین» یو کتاب بللی دی. په داسې حال کې چې دا دوه

کتابونه سره بېل او دواړه د ملا شېرمحمد اخوندزاده په قلم يو په پښتو او بل په عربي ژبه ليکل شوی دی(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۵۲، ۵۳ مخونه).

«اسرار العارفين» د پښتو منظوم اثر دی چې په دولسمه هجري پېړۍ کې ليکل شوی، په زياته اندازه د امام غزالي له کيمياي سعادت او نورو باوري آثارو نه استفاده په کې شوې ده او د خپلو خبرو د پخلي لپاره يې قرآني آيات او حديثونه په کې راوړي دي. اسرار العارفين په رکنونو، اصلونو او اجزاوو وېشل شوي دي. لومړی رکن يې د عقايدو په اړه دی چې «آمنت بالله» په کې شرحه شوې ده؛ دوهم رکن يې د شريعت په باب دی چې د لمانځه، صدقې، روژې، حج، تلاوت، د خدای ذکر، د حلالو غوښتنې، ښه معاشرت، امر بالمعروف په نهو اصلونو وېشل شوي؛ درېيم رکن يې طريقت دی چې لومړۍ برخه يې د بدو کړو، بدو خبرو، غوسې، کينې، بخل، د دنيا د مينې، جاه، کبر، ځان غوښتنې، ځان ښودنې لس اصلونه لري او دوهمه برخه يې د ښو کړو، توبې، وېرې او امېد، زهد، صبر، شکر، اخلاص او رښتيا، توکل، مينې، په قضاء راضي کېدلو، د مړينې ياد ساتلو او د سنت د پيروۍ يوولس اصلونه لري او پنځه رکنه يې د تجويد رساله ده.

اسرار العارفين په لنډه ته څېړنه مثنوي کښل شوی، قلمي نسخې يې زياتې موندل کېږي، څو ځله چاپ شوی، زوړ چاپ يې د ۱۲۸۰هـ.ق کال دی چې په بمبيي کې چاپ شوی دی.

«اسرار العارفين» په ۱۳۲٦هـ.ق کال په مطبعه اسلاميه لاهور کې په ۳۹۱ مخونو کې خپور شوی دی. موضوع يې ديني راز راز مسايل دي چې په خورا لنډه مثنوي ليکل شوي او ځای په ځای آيات او احاديث هم په کې راغلي دي(رفيع، ۱۳۵۴ل، ۱۴ مخ).

د افغانستان د علومو اکاډمي په کتابتون کې په (۲۴۱) شمېره خوندي «اسرار العارفين» چې د عرفان، تصوف، اصلاحي او اخلاقي مسايل په کې په مثنوي فورم کې بيان شوي دي. پيل يې تر بسم الله وروسته:

هم لاعده وي لاحده لغريب شېرمحمده(دوست، ۱۳۹۹ل، ۵۹، ٦۰ مخونه)

د اسرار العارفين په اته څېړنه مثنوي کې د شعريت يا تخيل څرک نه ليدل کېږي، يواځې وزن او قافيه لري. هره قافيه لرونکې وينا شعر نه دی، بلکې د شعر لپاره شعريت يا تخيل بنسټيز توکي دي، خو د ناظم هدف دلته نورو ته د اخلاقي او غوره ديني، مذهبي، عرفاني او نورو علومو ور زده کول دي چې همدغه ډول نظمونه له نومورو موضوعاتو سره ډېر ښه جوړښت لري، ځکه د لوستونکي په ذهن کې

تر زیات وخت پاتې کېږي. مونږ په خپل پښتو ادب او دري ادب کې ډېرې داسې منظومې لرو چې شعر نه دی، یواځې نظم یې ګڼلی شو، لکه ځینې ديني، طبي او تاریخي منظوم آثار چې ناظمانو نظم کړي، خو د شعریت یا تخیل څرک په کې نه لیدل کېږي او یواځې وزن، قافیه او ردیف لري. ملا شېرمحمد هوتک د ديني مسایلو او ټولنیزو چارو د ښودلو لپاره له همدغسې نظم څخه ګټه پورته کوي، شاعرانه انځورونو پسې نه ګرځي، خو ټول تأکید یې په پیغام کې وي(قیومي، ۱۳۹۰ل، ۷۶، ۷۷، ۷۸ مخونه).

اسرار العارفین چې له دیني محتوا مالامال دی، څو بېلګې یې دا دي:

د لمانځه په اړه وایي:

که د نمونځ که طهارت دی	واجب فرض که سنت دی
مستحب که یې اداب وي	موافق چې پر کتاب وي
لکه تن چې د انسان دی	یو یې روح او بل یې ځان دی
د نمانځه دا هسې شان دی	یو یې روح او بل ځان دی
چې قیام او بل قعود دی	د نمانځه تن وجود دی
دا رکوع سجود اساس دی	لکه سر ایښی او لاس دی(هوتک، ۱۳۵۵ل، ۹۸ مخ)

د قرآن کریم د تلاوت په اړه وایي:

د قرآن له تلاوته	غافل مه شه نېک خصلته
په دنیا چې تلاوت که	په عقبا یې شفاعت کا(هوتک، ۱۳۵۵ل، ۱۱۶ مخ)

د استغفار یا توبې په اړه کاږي:

د عوام توبه ګوره	له ګناه څخه وروره
د صالح توبه خوشخویه	د باطن له بده خویه
د صدیق توبه جانانه	له غفلته له نسیانه(هوتک، ۱۳۵۵ل، ۲۵۰- ۲۵۱ مخونه)

د مور و پلار حقونو یادونه داسې کوي:

دا احوال چې در بیان شه	د کافه اهل ایمان شه
خاصه حق د مور او پلار دی	چې لازم پر نېکو کار دی
هغه کار مه کړه هیڅکله	مه یې غوږ باسه له بله

چې د دوی په کې ازار وي که کردار وي که گفتار وي(هوتک، ۱۳۵۵ل، ۱۵۱ مخ)

۲-*اسرار السالکین*: د دې کتاب یادونه د ملا خیرالله هوتک په کلام کې راغلې ده. خو وروسته د ځینو څېړونکو له خوا د «اسرار العارفین» دوهم نوم ګنل شوی دی. دا کتاب په ۱۴۴۲هـ.ق کال د مصنف د کورنۍ له خوا کوټه کې په افسیټ ډول چاپ او خپور شو. ټول مخونه یې له فهرست او د سر له یاداښت پرته ۲۴۷ دي. فهرست یې ۷ مخه او یاداښت یې په عربي ژبه دوه مخه دی. کتاب پر یوې مقدمې، درو مسلکونو، پنځو فصلونو او یوې خاتمې مشتمل دی. هر فصل یې فرعي عنوانونه هم لري او زیاتره مبحثونه یې د «اِعلم ایّدک الله تعالی» په عبارت سره پیلیږي. کتاب تر بسم الله او دعا وروسته داسې پیل شوی دی:

«.... اما بعد، فیقول العاصي شیرمحمد خادم الفقراء بل المتشبه به لما کان علم التصوف من العلوم الشریفة والجواهر النفسیة بل هو العلم بالحقیقة... اردت ان اکتب من جمة التفاسیر والتصانیف المتقدمین ورسائل المتأخرین... و رتبتها علی مقدمة و ثلث مسالک و خواتم و سمیتها باسرار السالکین».

ژباړه: «.. اما بعد، خادم الفقراء عاصي شیرمحمد وایي څرنګه چې د تصوف علم له شریفه علومو او ښکلو مرغلرو او یو حقیقي علم دی... ځکه مې نو اراده وکړه چې له سترو تفاسیرو، د پخوانیو علماوو له تصانیفو او د علم د وروستنیو علماوو له رسالو څخه په استفادې سره په تصوف کې یو کتاب ولیکم او پر یوه مقدمه، درو مسلکونو او خاتمو باندې یې ترتیب کړم او اسرار السالکین نوم پر کښېږدم....»(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۷۷، ۷۸، ۷۹ مخونه).

۳-*تجوید افغاني*: په اته څېزه مثنوي ویل شوی او د بیتونو شمېر یې د ۶۰۰ په شاوخوا کې دی. د دې اثر خطي نسخې د اسرار العارفین د ځینو نسخو په پای کې او په ځینو چاپونو کې ورسره راغلي او په ځانګړې توګه هم چاپ شوې دي. دا اثر دولس څېرکي او یوه خاتمه لري. په دې کې د حروفو مخرجونه، صفات او بیا د بېلابېلو تورو د ادا ډولونه ښودل شوي دي. د وقف، وصل او نورو احکام یې هم راوړي دي. په دې اثر کې علم قرائت یا تجوید په اسانه بڼه په پښتو بیان شوی دی(ناصر، ۱۳۹۰ل، ۱۲ مخ).

«تجوید الافغاني» په ۱۳۲۹هـ.ق کال محمدي مطبعه کې په ۸۰ مخونو کې چاپ دی. د تجوید په باب د دې اثر په پای کې له ۵۲ مخ نه وروسته د ملا شېرمحمد له خوا کښل شوې د مړي د تکفین او تجهیز

رساله هم راغلې ده(رفیع، ۱۳۵٦ل، ۳۹۱ مخ).

باید وویل شي چې د لوی احمدشاه بابا (۱۱٦۰- ۱۱۸٦هـ.ق) په پاچاهي کې په پښتو ژبه د لیکل شویو معلومو تجویدونو شمېر درېیو ته رسیږي. په دغو کې یو منظوم تجوید ملا شېرمحمد (ساکزي) هوتک لیکلی دی(رشاد، ۱۳۵۹ل، یوولس مخ). د ملا شېرمحمد پښتو *تجوید* چې له اسرار العارفین سره یوځای دوه پلا چاپ شوی دی. بحر یې خفیف دی. شروع یې داسې شوې ده:

صد هزار ثنا سبحانه — په هزار هزار لسانه

چې ستا ذات لره سزا وي — ستا خوښي و ستا رضا وي

څه به وایم له تجویده — که توفیق وي له مجیده

.....

د تجوید معنا یې دا ده — د حرفونو ښه ادا ده(رشاد، ۱۳۵۹ل، یوولس، دیارلس مخونه)

۴- *د میت رساله*: کوچنی اثر دی چې د دولس څېزیزې مثنوي په کالب کې ویل شوی دی. له اسلامي نظره د ناروغ له پوښتنې نه نیولې بیا د مړي تر مینځلو، جنازې، تکفین، تدفین او تعزیې پورې اداب او رسوم په کې راغلي دي.

۵- *د مستخلص د اشعارو شرحه (شرح اشعار مستخلص الحقایق)*: په دې اثر کې د مستخلص بیتونه په عربي شرحه او بیا پښتو شوي دي. قلمي نسخې یې شته. (ناصر، ۱۳۹۰ل، ۱۱، ۱۲ مخونه). مستخلص الحقایق د حنفي فقهې مشهور تدریسي کتاب او مؤلف یې ابوالقاسم بن ابي بکر اللیثي السمرقندي دی. مولانا شېرمحمد هوتک د دغه کتاب داشعارو شرحه په پښتو نظم کښلې ده. دا اثر تر اوسه چاپ شوی نه دی، خو خطي نسخې یې ډېرې موندل کېږي(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۸۲ مخ).

٦- *د قصیده برده یا د بردې قصیدې پښتو ژباړه*: په عربي ژبه کې د حضرت محمد ﷺ په توصیف کې منظومه ده. د دې اثر یوه نسخه د محمد حلیمي سلیمي په کتابتون کې خوندي ده چې پر عربي متن او دري ژباړې سربېره پښتو ژباړه هم لري. دا قصیده د مربع په چوکاټ کې ژباړل شوې ده. د دې ژباړې د هر بیت له پاسه کښل شوي: «ملا شېرمحمد اخوند افغان». فکر کېږي چې دا ژباړه هم د ملا هوتک ده، خو په نسخه کې صراحت نه لري. دا اثر پر هوتک سربېره اخوند دروېزه، عبدالقادر خټک، ملا شرف [میا شرف]، محب الدین، نورمحمد قریش او نورو هم په پښتو ژباړلی دی(ناصر، ۱۳۹۰ل، ۱۲ مخ).

استاد رفیع لیکي: پر دې سربېره د بردې قصیدې منثورې ژباړې، د لغاتو حل، د متن حاصل هم په پښتو

کې شته او هم یې یوه ژباړه معاصر لیکوال د اکوړه خټک اوسېدونکي سراج کړې ده. دی زیاتوي: «زه چې له ماشومتوب نه د بردې قصیدې له متن او ژباړو سره مصروف او مشغول وم، له څلوېښتو کلونو راهیسې کار پرې کوم او غواړم چې د پښتو ټولې ژباړې یې له لازمو تشریحاتو سره خپرې کړم، د «خادر بوالله» مې نوم پرې ایښی چې له لوی خدای نه یې د چاپولو توفیق غواړم»(رفیع. ۱۳۹۰ل، ۱۸، ۲۳ مخونه).

۷- *شمایلنامه (شمایلنامه نبوي)*: معصوم هوتک لیکي چې عبدالرؤف بېنوا په یوه ناچاپ مقاله کې چې له څېړنېوه زلمي هېوادمل سره خوندي وه، د شېرمحمد هوتک د شمایلنامې په باب ویل شوي دي چې دا شمایلنامه په اته پنځوسو بیتونو کې د څلوریځو په کالب کې شوې ده. (ناصر، ۱۳۹۰ل، ۱۳ مخ)

معصوم هوتک لیکي: د اسرار العارفین نوي چاپ کې یې «شمایلنامه» تر نظر تېره شوه، ذهن ته یې د خپل کتابتون د نیمګړې پښتو شمایلنامې متن (دوه مخه) ووغلل. کله یې چې دا متن د اسرار العارفین له نوي چاپ (۱۳٦۹هـ.ش) شمایلنامې سره مقابله کړ، ورته ثابته شوه چې دا شمایلنامه هماغه د ملا شېرمحمد اخوندزاده هوتک شمایلنامه ده. د دې دوه مخه متن تر بسم الله وروسته داسې پیل شوی دی:

عظیم الهامة

لوی بزرگ د حبیب سر وو	چې لایق د تاج افسر وو
کل پیدا د ده له رویه	که ملک وو که بشر وو
د سر وېښته یې وروره	له غوږو سره خمسوره
ځلېده لکه ګلونه	په قفا کښې لور د لوره(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۹۵، ۹٦ مخوه)

پر دې آثارو سربېره د شرح وقایې او شرح الیاس له مغلقاتو سره هم د ملا شېرمحمد هوتک نوم لیکل شوی دی. معصوم هوتک په خپل اثر (سل پګړۍ یو پوړنی) کې د شرح مغلقات شرح الیاس او مناجاتو په نوم آثارو یادونه هم کړې ده(ناصر، ۱۳۹۰ل، ۱۴ مخ).

۸- *نور الظلم علی شرح الوقایة*: دا اثر مولوي محمد اسلم اخوندزاده د خطي اسرارالسالکین د سر په یوه یاداښت کې او مولوي محمد اکبر اخوندزاده په خپلو یادښتونو کې د «نورالظلم علی شرح الوقایة» په نامه راوړی دی. نورو لیکوالو بیا د «کشف الاستار في حل مغلقات شرح وقایة» په نامه ثبت کړی دی. اخوند ملا شېرمحمد په خپل بل اثر (شرح اشعار مستخلص الحقائق) کې د «نور الظلم» په نامه یاد

کړی دی.

۹- *شرح الیاس*: موبوی محمد اسلم او مولوي محمد اکبر د «الملجأ علی شرح الیاس» په نامه راوړی او ملا شېرمحمد اخوند په «شرح اشعار مستخلص الحقائق» کې د «شرح الیاس» په نامه یاد کړی دی.

۱۰- *نورالحکم*: د ملا شېرمحمد هوتک اثر دی چې خطي نسخه یې په کندهار کې له اسدالله ارماني سره خوندي ده، خو د مولوي محمد یوسف اخوندزاده په یاداښت کې دا اثر «حاشیه علی شرح میر ایساغوجي» بلل شوی او د مرحوم غریبک په یاداښت کې د «آمنت بالله» شرح ګڼله شوې ده.

۱۱- *زبدة الأفکار شرح بدیع المیزان*: دغه کتاب په عربي ژبه د بدیع المیزان شرحه ده. بدیع المیزان د منطق کتاب دی، خطي نسخې یې ډېرې نه ترلاسه کېږي.

۱۲- *تاج العلل في الصرف*: د دې کتاب یادونه د مولوي محمد اسلم اخوندزاده په قلم د اسرار السالکین د خطي نسخې په سر کې شوې او مولوي محمد اکبر اخوندزاده یې هم په خپلو یاداښتونو کې نوم ثبت کړی دی. خو د کومې خطي نسخې څرک یې تر اوسه لګېدلی نه دی.

۱۳- *شرح آمنت بالله*: (وګورئ نورالحکم).

۱۴- *معجزات*: د دې معجزات یوه خطي نسخه په کوټه کې په ډاکټر رفیقي څېړنیز مرکز خوندي ده چې یوه برخه یې داسې ده:

حمد ثنا به د احد کړم — چې په نعت یې د احمد کړم
چې کثرت خواهش احد کړ — له احده یې احمد کړ
په احد کښې چې میم راشي — له احد، احمد پیدا شي
د احمد له نوره جانه — آراسته شول دوه جهانه

(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۱۰۱، ۱۰۲، ۱۰۳، ۱۰۴ مخ)

معصوم هوتک کاږي: له ده سره په موجودو پاڼو کې داسې شواهد نشته چې د دې معراجنامې شېرمحمد دې له نورو همعصرو شېرمحمد نامو څخه رابېل کړي. دا څېړنه به هغه څوک کوي چې د دغې معراجنامې بشپړ متن چاپوي.

۱۵- *مناجات الهي*: دغه منظوم مناجات ډېرو لیکوالو د ملا شېرمحمد هوتک په آثارو کې راوړی خو نور وضاحت یې چا لیکلی نه دی. دغه مناجات په پښتو دی، دوه پنځوس بیته لري او د اسرار العارفین سره چاپ دی.

۱۶- *مناجات سرور کائنات ص*: دغه مناجات هم په پښتو نظم ویل شوی دی. دوه پنځوس بیته لري او د اسرار العارفین له وروستي چاپ سره یوځای خپور شوی دی. د دې مناجات خطي نسخې موندل کېږي.

۱۷- *مناجات غوث شیخ عبدالقادر الجیلاني رح*: د دغه منظوم مناجات ژبه هم پښتو ده، اته ویشته بیته لري او د اسرار العارفین له وروستي چاپ سره یوځای راغلی دی.

۱۸- *شرح اسماء الله الحسنی*: دغه منظوم اثر هم په پښتو ژبه د اسرار العارفین له هغه چاپ سر یو ځای دی چې د اهتمام چارې یې مولوي محمد اصغر اخوندزاده سرته رسولې دي.

میا فقیرالله جلال آبادي هم په پښتو ژبه د اسماء الحسنی په نامه منظوم اثر لري. میا فقیرالله د ملا شېرمحمد اخوند معاصر شخصیت دی او دواړو تقریبا په یوه وخت کې د اسماء الحسنی شرحې په پښتو ژبه نظم کړې دي.

۱۹- *شرح اسماء محمدي*: دغه اثر په منظوم ډول په مثنوي بحر کې ویل شوی اثر دی. پښتو ژبه لري، ۳۶۵ بیتونه لري(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۱۰۶، ۱۰۸ - ۱۱۱ مخونه).

د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون کې په ۲۲۱ نمبر «د حضرت محمد ﷺ (معجزات- شمایل نامه)» په نوم د ملا شېرمحمد منظوم اثر خوندي دی. په دې اثر کې سیرت النبي ﷺ او معجزات په خوږه پښتو مثنوي نظم شوې دي، لومړۍ برخه یې معجزات او وروستۍ یې شمایل نامه ده. پیل یې تر (بسم الله) وروسته:

هسې یو ساعت له پسه	حضرت ووې علي کسه
دا بل څوک دی ستا د څنګ	چې راغلی دی بې درنګ
شمایل د محمد دي	پښتو کړی شېرمحمد دی
خاتمه به پر ایمان کړې	ثنا خوان د محمد دی

د علومو اکاډمي کتابتون کې په ۳۴۵ شمېره «د حضرت محمد ﷺ (معجزات، نورنامه، وفات نامه)» په نوم اثر هم شته چې ناظم یې شېرمحمد دی چې درې برخې لري، لومړۍ برخه نورنامه، دوهمه معجزات او دریمه وفات نامه ده چې په مثنوي نظم شوې ده. پیل یې تر (بسم الله) وروسته:

په بار بار به ثنا وایم	څو ژوندی پر دا دنیا یم
دغه خدای چې دی رحمان دی	او څما د ژب توان دی

بيا درود يې پرسول　　چې د خداى پدر قبول

(دوست، ۱۳۹۹ل، ۲۲، ۲۳، ۲۴ مخونه)

پوهاند عبدالحی حبيبي وايي: ملا شېرمحمد هوتک د خپلې زمانې د مشهورو عالمانو په ډله کې ګڼل کېږي... ده په مذهبي، ديني، منطق او نورو شرقي علومو کې پوره مهارت درلود او ځينې مستقل آثار يې هم پاتې شوي دي. دی د قندهار له قديمو او پخوانيو شاعرانو څخه دی چې د پښتو لپاره يې مهم خدمت کړی دی. په شعر کې د ده لهجه عالمانه معلوميږي او پر اخلاقي او عرفاني مضامينو، وعظ او نصيحت مشتمل دي. ده ديني، مذهبي او عقيدوي مضامين په پښتو کې بيان کړي دي، د پښتو شعراوو په متوسطه ډله کې حسابيږي(حبيبي، ۱۳۹۱ل، ۱۷۳ مخ).

ملا شېرمحمد هوتک زيات مؤلفات لري او پښتو ژبې ته يې په خپلو آثارو سره د قدر وړ خدمت کړی دی. د علامه حبيبي وينا ده چې: «په داسې وخت کې چې د نورو ژبو علمي او ادبي اثر پر خلقو باندې پروت وو، د پښتو لپاره يو خدمت کول او پښتو تأليف او تصنيف کول ښتيا ده چې د ډېر قدر وړ ګڼله کېږي». اسد پوهاند رشاد يې تر لسو د زياتو تأليفاتو څښتن بولي. تأليفات يې زياتره منظوم دي(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۴۷ مخ).

د شېرمحمد هوتک آثارو ته په کتنې په ډاډ سره ويلای شو چې د يوه پياوړي ديني عالم په توګه يې عربي او دري ژبې ښې زده وې، په خلاص مټ يې تړې استفاده کولی شوه، ډېر اړين موضوعات يې د دغو ژبو له آثارو خوښ کړي او په خپله مورنۍ ژبه (پښتو) يې د خپل لوړ ادبي استعداد په قوت هغه په ښه فصاحت او بلاغت سره داسې نظم کړي چې د سواد د هرې کچې زده کړي لا څه نالوستی يې هم د معنا او مفهوم په درک کې ډېره ستونزه نه احساسوي. د شېرمحمد هوتک دا منظوم آثار هم د هغې زمانې د نورو منظومو ديني، اخلاقي او ټولنيزو آثارو، لکه د خوشحال خان خټک اخلاقنامه، طبنامه، فضل نامه؛ د ميا فقيرالله جلال آبادي فوايد شريعت او اسماءالحسنى؛ د حميد مومند شرعة الاسلام؛ د اخوند ګدا نافع المسلمين؛ د ملا عبدالرشيد رشيد البيان او نورو په څېر د ديني علومو په زده کړه او نورو وګړو ته د تدريس او عام پوهاوي په منظور په ډېره ساده او روانه ژبه په نظم شوي دي، نو ځکه په کې شعريت يا هنريت تت دی، مونږ د دغو آثارو لوړ ادبي ارزښت د هغو د نظم روانه، فصيحه او بليغه ژبه بللی شو(هاشمي، ۱۳۹۰ل، ۸۵ مخ).

استاد هېوادمل وايي، د ملا شېرمحمد هوتک په منظومو پښتو آثارو کې هنري او ادبي ارزښتونه زياتره

نشته. د ده د قصیده برده ترجمه او ځینې نور محدود بیتونه ښایي په ادبي تاریخ کې د شاملولو جوګه وي خو نه د رحمان بابا د سبک په پیروانو کې. د ده نظمونه او مثنویات ساده او روان دي. یقیني خبره ده چې د شېرمحمد هوتک او د ده په شرایطو نور ناظمانو احوال او آثار په فرهنګي تاریخ کې د مطالعې ځای لري، نه په ادبي تاریخ کې. ښایي په ځینو خاصو مواردو کې ځینې ځنګزنې اشارې د شېرمحمد هوتک او نورو دغسې ناظمانو آثارو ته وشي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۹۵، ۱۹۶ مخونه).

استاد هېوادمل چې پورتنۍ خبره کړې چې د دغه ډول ناظمانو آثار په ادبي تاریخ کې ځای نه لري، خو په خاصو مواردو کې یې آثارو ته اشارې کېدای شي. د استاد همدا نظر مورِ ته اجازه راکوي چې کله په پښتو ادبیاتو کې د ديني علماوو د خدمتونو ونډه څېړو، نو اړ یو په همدغسې یوه مورد کې ټول هغه آثار چې دیني او شرعي منځپانګه ولري، یادونه وشي او هغه پښتو ژبې او ادب ته د یوه خدمت په توګه خوندي او لوستونکو ته بیان شي.

عبدالرحیم هوتک د اتو ملیزي زوی او د ملک سلطان لمسی دی، پلرنی ټاټوبی یې د کلات د سیوري «ښه بولان» دی. نوموړی د خپل ځان په باب کاږي:

زه فقیر کندهاری یم او په اصل کې غلځی یم په کلات کې یم زوکړی، عمر باد غوندې تېرېږي

(ژړک، ۱۳۹۱ل، ۱۴ مخ)

«د عبدالرحیم هوتک دیوان» سریزې لیکوال صادق ژړک د مهاجرتنامې په حواله لیکي: اټکل کولای شو چې دی به د ۱۱۰۰هـ.ق کال شاوخوا زېږېدلی وي او اټکل کېږي چې تر ۱۱۷۰هـ.ق کال وروسته په بخارا کې وفات شوی دی(ژړک، ۱۳۹۱ل، ۱۱، ۱۲ مخونه).

د عبدالرحیم هوتک په اړه چې له خپل وطن کندهار څخه تللی دی، معصوم هوتک داسې معلومات راکوي: له خپل هېواده تر وتلو وروسته یې په نیشاپور کې اړولي دي، څو کاله وروسته تهران او ورامین ته کډه کېږي او هورې اووه کلونه پاتې شوی دی. په تهران کې یې د ملا حضرت هاشم په نامه د یو پیر لاسنیوی کړی دی. له دغه ځایه بخارا ته تللی دی. بخارا ته د تګ په وخت کې یې عمر شل کاله بلل شوی دی. په بخارا کې د ملا محمد «املا» په حضور مشرف شوی او اووه کاله د ده په کور کې د مېلمه په توګه پاته شوی دی. په دغه اووه کاله کې تل د خپل پیر (املا) په خدمت کې ولاړ و. کورنۍ یې له تهرانه ببرته خپل ټاټوبي (ښه بولان) ته ستنه شوې او ده په بخارا کې استوګنه غوره کړې ده. پنځوس کاله یې په بخارا کې تېر کړي دي، عمر یې تر اویاوو کلونو رسېدلی دی او په همدغو کلونو کې په

بخارا کې مړ او غالباً به هورې ښخ وي(هوتک، ۲۰۰۵م، ۵۹ مخ).

عبدالرحیم هوتک یو عالم سړی او غالباً به یې د خپل وخت دودیز علوم، لکه فقه، تفسیر، صرف و نحو، فلسفه او منطق لوستي وي، نو ځکه د ده په شعر کې قوت، متانت او علمي رنګ ښکاره دی. د ده په شعر کې عشقي، اخلاقي، عرفاني او فلسفي موضوع ګانې شته. د هېواد مینه د ده د شعر یوه مهمه ځانګړنه ده. دی له روحاني نړۍ سره ټینګه علاقه لري او غالباً له مادیاتو څخه تښتي. له دې امله د ده په شعر کې د عزلت او تجرد، صبر او د نفس د اصلاح خوا ډېره پیاوړې ده. د دې ترڅنګ یې شعرونه خواږه او عام فهمه دي. عبدالرحیم هوتک د شعر یو پنډ *دیوان* لري چې د شعر سبک یې د ادبپوهانو د مطالعاتو له مخې د رحمان بابا تابع بلل شوی دی. له دې څخه دا په ډاګه کېږي چې عبدالرحیم هوتک له پښتونخوا او افغانستان نه ډېر لرې په بخارا کې هم د رحمان بابا دیوان مطالعه کړی و. د ده په دیوان کې غټه برخه د غزلو ده چې شمېر یې له ۳۵۰ څخه اوړي. د دیوان د ټولو بیتونو شمېر یې نږدې ۶۰۰۰ ته رسیږي. په بخارا کې د اوسېدو پر مهال د بخارا د امیر توجه ورته ډېره وه او په رسمي او ټولنیزو چارو کې یې د هغه له مرستو او مشورو څخه کار اخیستی دی. د هغه د دربار په اسنادو کې د «ملا عبدالرحیم» په نامه یاد شوی دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۷۱، ۷۲ مخونه).

ژړک کاږي: په دې کې هیڅ شک نشته چې د ده سبک د رحمان بابا له شعري ژبې سره نژدې دی، خو د دې باوجود که ووایو نو بې ځایه به نه وي چې عبدالرحیم هوتک په شاعرۍ کې یوه درېیمه لار غوره کړې ده، هغه داسې چې د ده سبک د رحمان بابا او حمید مومند ترمنځ یو نوی جوړښت لري چې له دې امله ویلای شو چې هغه د دوی ترمنځ د سبک درېیمه لاره ټاکي.

پښتو کلاسیک شاعران عموماً له مادي مینې څخه پر اړخ پاته شوي دي او د تصوف لوری یې نیولی دی. عبدالرحیم هوتک د تصوف ترڅنګ مادي مینې ته هم ارزښت ورکوي چې په دې باب له خوشحال خان او حمید مومند سره نزدیکت لري(ژړک، ۱۳۹۱ل، ۲۵، ۳۰ مخونه).

د عبدالرحیم هوتک له کلامه سړی پوهېږي چې ده د وخت علوم: صرف، نحو، تفسیر، فقه، فلسفه، منطق او اخلاق لوستي و. په پښتو ادبیاتو کې یې مطالعه لرله او د میرزا خان، رحمان بابا، خوشحال خان او بابوجان یاد یې پر دې خبره دلالت کوي چې د دغو شاعرانو اشعار ور رسېدلي او لوستي یې و. د ده د شعر ژبه خوږه، روانه او خورا سلیسه ده(هوتک، ۱۳۸۴ل، ۶۰، ۶۲ مخونه). د ده په دیوان کې اخلاقي، عشقي، ديني او عرفاني اشعار موندل کېږي. اشعار یې خواږه، ساده او عام فهمه

دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۹۳ مخ).

د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون کې په ۲۵۳ شمېره «د عبدالرحيم هوتک ديوان» خوندی دی چې د ديوان په وروستيو پاڼو کې د يادښت له مخې څرګندېږي چې ناظم د ذخيرة الملوک له کتاب څخه د لمانځه موضوع په پښتو نظم ژباړلې ده. د دې ديوان پيل تر بسم الله وروسته:

الهي صبح د محشر کړه زړه ځما — هم مقام د عرش اکبر کړه زړه ځما
دغه ژبه مې ګويا ستا پڼا کړه — دروازه د فيض خلاص کړه په ما
(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱۹۵، ۱۹٦ مخونه)

د عبدالرحيم هوتک د شاعرۍ ډېره برخه د خپل معشوق په ستاينې او له هغه سره د وصال په ارمان بيان شوې ده، خو ځای ځای د وعظ، نصيحت او د شريعت پر لارې د تللو بيانونه هم لري، لکه چې وايي:

له نااهله ياري مه کوه که مرد يې — ټول نقصان د نااهلانو اختلاط
که ملا يې مجلس کړه د ملايانو — زينهار مه کړه د اميانو اختلاط
د مجلس اثر رښتيا دی په حديث کښې — راسه کړه له صالحانو اختلاط
که ته غواړې چې آشنا درسره ښه سي — مه کړه ډېر د بد اصلانو اختلاط
(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۸۳ مخ)

پورتني بيتونه له نېکو او صالحو خلکو سره په ملګرتيا ټينګار لري او همدا موضوع په هغه حديث شريف کې راغلې چې رسول الله فرمايي: ﴿إِنَّمَا مَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّالِحِ وَالْجَلِيسِ السَّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيرِ فَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً﴾(مسند الصحابة في الكتب التسعة. د حديث شمېره: ۲٦۲۸)؛ يعني: «د نېک ملګري او بد ملګري مثال د مشک پلورونکي او آهنګر په څېر دی. د مشک پلورونکی به يا تاسو ته يو څه درکړي يا به تاسو ترې يو څه واخلئ يا به تاسو ترې يو ښه بوی ومومئ؛ آهنګر به يا ستاسو جامې وسوځوي يا به تاسو ترې بد بوی ومومئ».

په لاندې بيتونو کې د خپل ځان د پالنې او د ايمان پر ساتلو ټينګار شوی دی:

همېشه اوسه پر ځان باندې حافظ — خصوصاً پر خپل ايمان باندې حافظ
.....
ډار دې نسته اې «رحيمه» په جهان کښې پاک الله دی پر جهان باندې حافظ

(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۸۴ مخ)

وروستی بیت د دې آیت مفهوم بیانوي چې: ﴿فَاللَّهُ خَيْرٌ حَافِظًا﴾(یوسف: ٦٤ آیت)؛ «نو الله تر ټولو ښه ساتونکی دی او هماغه تر (ټولو) لوروونکو ښه لوروونکی دی»

دغه راز له الله تعالی څخه د وېرې کولو او ګناه نه کولو خبره کوي، وایي:

ولې دارنګه کوې مدام ګناه — نه دي ډار سي نه دې وېره له الله...
د قیامت له ورځې هسې بې خبر یې — چې مدام یې په زینت کښې د کلاه
که صفا د زړه مقصد لرې «رحیمه» — په اخلاص همېشه وایه یا الله

دغه راز کاږي:

همېشه له خپله خدا غواړه پناه — چې له لارې روی ګردان نسې بې راه
شیطان مدام پر تا باندې حملې دي — غافل مه کښېنه مدام اوسه اګاه...
که ته غواړې چې لښکر د شیطان مات کړې — د تمجید کلیمه وایه تر بېګاه
له اخلاصه توبه وکاږه «رحیمه» — پر خپل ځان باندې ظالم مه سه تباه

(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۱۴۸، ۱۴۹ مخونه)

لومړی بیت یې د (قل اعوذ برب الناس) آیت مفهوم ارایه کوي او ورپسې بیتونه له شیطان سره پر مقابلې ټینګار لري او په پای کې د توبې وېستلو خبره شوې ده.

* * *

راسه راسه ګناه مه کوه له زاده — که خبر یې له قیامته له میعاده
نصیحت به درته وکړم کې نغوږې — غافل مه کښېنه یو دم د خدای له یاده

(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۱۷۰ مخ)

په دې بیتونو کې وعظ او نصیحت دی چې د الله یاد تل کوه او د قیامت له وېرې ګناه ونه کړې.

تر خواږه نامه دې جار سم محمده — برخوردار دې په دیدار سم محمده
شپه او ورځ مې آرزو دا ده و څښتن ته — چې روان د تا پر لار سم محمده

(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۱۷۱ مخ)

په دې بیتونو کې له رسول الله سره د مینې او محبت اظهار شوی او د هغه آیت مفهوم دی چې: ﴿أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ﴾ (النساء: ۵۹آیت)؛ «ای مؤمنانو، د الله او د رسول پیروي وکړئ»

عبدالرحیم هوتک پر ذکر کولو ټینګار کوي او هم د توحید مسألې ته اشاره لري:

سالکان بې ذکر، فکر، بل کار نه که — بې له خدایه محبت پر بل یار نه که
په توحید کښې سره تللي مستغرق وي — یو ساعت د شاه بې دیده قرار نه که

(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۱۸۴ مخ)

په لاندې بیتونو کې شاعر انسان دې متوجه کړی چې د دنیا غمونو پرځای فکر آخرت ته پام وکړي، دی چې چا پیدا کړی، نو روزي رسوونکی هم هماغه ذات دی چې حتماً ورته روزي رسوي.

راسه غوږ باسه زما نصیحتونه — په دنیا پسې ډېر مکړه ارمانونه
هغه چا چې خوله درکړې رزق به درکه — د ډوډۍ دپاره مه کوه فکرونه
ته لا نه وې له آدمه پیدا سوی — ستا دپاره یې پیدا کړه نعمتونه
اندېښنه د آخرت کوه که مرد یې — ځان فارغ کړه د دنیا له روزګارونه

(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۲۱۱ مخ)

دغه راز د دنیا، مرګ او د آخرت لپاره د توښې په اړه کاږي:

راسه پرېږده د دنیا واړه کارونه — پس له مرګه به ډېر وکړې ارمانونه
شپه او ورځ درباندې تېره په غفلت سي — خبره نه سې د سبحان په احسانونه
دا دنیا واړه په مثل کاروان سرای دی — ځینې لېږدي ځینې اړوي بارونه
چې سبا منتظر اوسې و نور چا ته — ولې نن په خپله نه کړې خیراتونه
که مېړه یې توشه وکوه د لارې — شه دي نسته د دنیا په اسبابونه
که دې زر کاله وي عمر خو به مړ سې — عاقبت به دې خراب سي ایوانونه

(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۲۱۴ مخ)

په دې بیتونو کې د آخرت لپاره د توښې پر برابرولو ټینګار شوی او هم څرګنده شوې چې په دې دنیا کې لکه مسافر داسې واوسه، لکه حدیث شریف کې چې عبدالله بن عمر وایي چې رسول الله ﷺ زما اوږه ونیوله او راته یې وویل: ﴿كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ﴾(البخاري، د حدیث شمېره: ٦٤١٥)؛ «په دې نړۍ کې داسې اوسېږه لکه یو نااشنا یا مسافر چې له لارې تېرېدونکی وي».

* * *

ملا دې ټیټه سوه لا نه کړې طاعت ولې — نه کړې نه کړې په اخلاص عبادت ولې

د مجلس یاران دې ټول درځخه بیل سوه　　حیرانېرم وادې نخیست عبرت ولې
ته چې شپه او ورځ و نورو ته پند وایې　　و دا خپل ځان ته نه کړې نصیحت ولې
د ځوانۍ وخت دې کل په ګناه تېر کړه　　سپینه ږیره نه پرېږدي معصیت ولې
راسه راسه توبه وکاږه له بدو　　غافل پروت یې له دا هسې دولت ولې
(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۲۵۸ مخ)

په دې ملغلرو کې مسلمان ته ورپاده شوې چې عمر درباندې تېرېږي، همځولو دې له دې نړۍ کډه کړې، خو بیا هم طاعت نه کوې او له تللیو څخه عبرت نه اخلې. اوس دې هم سر وخت دی، توبه وباسه او د غفلت له کندې ځان راوباسه.

* * *

ای زما زړه ولې دا رنګه عصیان کړې　　چې په خلقو کښې طاعت، ګناه پنهان کړې
شپه او ورځ به دې ګناه کړې توبه نه کړې څه پوهېږې چې دا سود کوې که زیان کړې
شیطاني فعلونه ډېر لرې په زړه کښې　　ځان صوفي ګڼې پر نورو بد ګومان کړې(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۲۷۶ مخ)

انسان له ریا او ځان ښودنې څخه منع شوی چې په دې سره هغه زیان مومي او دا ټول شیطاني اعمال دي چې شیطانان پرې خوشحالېږي. الله تعالی پر هغو کسانو افسوس کړی چې لمونځونه نه کوي او ریا کوي. فرمایي: ﴿فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ الَّذِينَ هُمْ يُرَاؤُونَ﴾(الماعون: ٤ - ٦ آیتونه)؛ «نو ویره دې وي هغه لمونځ کوونکي. هغه کسان چې له خپل لمانځه غافل دي. هغه کسان چې ریا (ځان ښودنه) کوي».

د **حبیب الله** د زوکړې او استوګنې ځای له خیبره تر اټکه په پرتو لتو [سیمو] کې دی. د دولسمې هجري پېړۍ په حدودو کې یې ژوند کړی دی او د لوی احمدشاه بابا د پاچاهي زمانه یې د شعر د عروج مهال ګڼلی شو. حبیب الله د څمکنو د میا عمر د مریدانو او ارادتمندانو له ډلې څخه دی. دی لکه څنګه چې د هغه وخت په مروجو علومو ښه پوهېده او هغه یې زده کړي وو، په نورو ژبو کې یې هم ځان تر یوه ځایه رسولی و(غروال، ۱۳٦۰ل، ۲، ۳، ۵، ۸ مخونه).

په ځینو منابعو کې ویل شوي چې حبیب الله کندهاری و، خو وروستیو څېړنو ښودلې چې نوموړی د کندهار نه، بلکې د پېښور د شاوخوا اوسېدونکی دی. د حبیب الله د کندهاري‌توب نظر له هغې غزل

څخه را ولاړ شوی چې دغه مرحوم شاعر د کندهار په وصف کې ویلې ده. (هېوادمل، ۱۳٦٦ل- الف، ۲۴۵ مخ)

«د حبیب الله دیوان» د محمد عارف غروال له خوا ترتیب او د افغانستان د علومو اکاډمي له خوا په ۱۳٦۰هـ.ش کال چاپ شوی دی.

د ده په دیوان کې د اجتماعي موضوعاتو پر بیان سربېره تصوفي او ديني موضوعات، نصایح او وعظیه کلام راغلي دي.

دی صوفي‌مشربه شاعر دی چې د همدې مشرب د پیروی په رڼا کې په تصوف کې ورننوځي. د پخوانیو شاعرانو د کلام ستره برخه وعظ او نصیحت ته وقف شوې ده. د اجتماعي، عشقي او تصوفي اشعارو په څنګ کې یې دغه برخه کې هم د خپل فکر نیلی ځغلولی دی. (غروال، ۱۳٦۰ل، ۵ مخ).

د حبیب الله دیوان په دې بیتونو پیل شوی دی:

الف نوم دی ثابت شوی د مولا — عالمونه یې عاجز دي له ثنا
ده «الست» دی «بربکم» ویلي — هر ارواح پرې مصوت شو چې بلا
ګوره څه یې دي ویلي و رسول ته — ښه آیت دی معتبر قل هو الله
د آدم خبرې کېږي څه عجبې — چې یې دا ځواب و کړی ربنا
هم په دا سبب ابلیس لعین مردود شو — چې ځواب یې و ورکړی په خطا
چې شبان و بې غصې رحمت یې ډېر و — تل یې راز و له الله د موسا
هم انسان دی چې مکان یې دی ورکړی — له زمینه په اسمان کې د عیسا
ګوره خضر ته یې عمر څو ورکړی — چې به پایې تر قیامته ابدا
(حبیب الله. ۱۳٦۰ل، ۱۸ مخ)

په دې بیتونو کې اکثریت قرآني مفاهیم ځای شوي چې دا په خپله د شاعر په ديني درایت او پوهې دلالت کوي.

بل ځای د مرګ د حقیقت او د قیامت د ورځې حال داسې بیانوي:

قضا راغله پوهېرم وار زما دی — دا حدیث مې درواغ نه دی په رښتیا دی
هیڅ توښه راڅخه نشته حق حیران یم — د مرګي چوب دار راغلی په بیدیا دی
د رحلت آواز مې تل په غوږو لګي — دا مدام وایي چې درومه کوچ د «ستا» دی

زه همراه پیدا کومه نه یې مومم
ډېر وېرېږم چې سفر مې یک تنها دی
آه افسوس دی هیڅ توښه راڅخه نشته
خپل اختیار ګوره زما په ځان بلا دی
ډېر حذر مې د لحد له تاریکۍ شي
چې منکر نکیر حساب کوي ګویا دی
ډېر عذاب یې دی باور کړه وپوهېږه
د ګناه په برابر عذاب ږښتیا دی
چې د حشر نشر ورځ وي نور به څه کړې
چې اتلس زره قوم په تماشا دی
هم صراط تر تېغ تېره تر موی نری دی
هر عاصي به تړې پرېوزي په غلطا دی
دوزخونه یې اووه دي پیدا کړي
د مومن عذاب په قدر د جزا دی
چې سخي وي پرهېزګار جنت یې ځای دی
د هوس خوراک به خوري تل په خندا دی
براقونه فواکه به ورله ورکا
لور د لوره د جنت په تماشا دی
چې دا هسې نعمتونه د مومن دي
سترګې وخوره چې په کار کې د دنیا دی...
زه حبیب الله په تمه د جنت یم
چې رحیم کریم معبود مې پاک مولا دی

(حبیب الله. ۱۳۶۰ل، ۱۳۹ مخ)

د کندهار په وصف کې کاږي:

نن به وایم څو خبرې آه ارمان دی کندهاره
ښې خوږې ښایسته نادرې آه ارمان دی کندهاره
سختې لارې د کابل دي ښه دا شوه په تېرېدل دي
معتبر زما ویل دي آه ارمان دی کندهاره
چې راپورته له خیبر شوم سترګې مړم په ژړل شوم
توبه‌ګار له پردو خپل شوم آه ارمان دی کندهاره
چې طالب د دنیا وینه په دا لاره دې ورځینه
دین به هم مومي په مینه آه ارمان دی کندهاره
چې داخل په کندهار شوم ناآرامه پر قرار شوم
په ثنا د کردګار شوم آه ارمان دی کندهاره
تلم راتلم په مسجدونه ځای په ځای وو ښه رودونه
په وخت وخت مې کړل نمونځونه آه ارمان دی کندهاره

هر سړی يې ثناخوان و، خنده رويه خوش دهان و
په ويل فصيح زبان و آه ارمان دی کندهاره.... (حبيب الله. ۱۳٦۰ل، ۹۷ مخ)

حميد مومند په قبيله مومند او په مومندو کې خدريزی چې په ماشوگگر کې زېږېدلی او اټکل کېږي چې د ۱۰۸۰هـ.ق کال په شاوخوا کې به زېږېدلی وي. د حميد د ديوان او نورو آثارو له مطالعې څخه دا پايله ترلاسه کېږي چې ده د خپل وخت دوديز علوم لوستي وو او په ديني او شرعي علومو کې د ښې مطالعې څښتن و او همدارنګه يې په ادبي علومو کې هم ښه لاس درلود. په دري، عربي او حتی د هندي ژبو په ځينو لهجو هم پوهېده. د حميد د آثارو مطالعه دا ښيي چې نوموړي پر پښتو سربېره په دري ادب کې هم ژوره مطالعه درلوده او د دې ژبې په ادبياتو هم لاسبری و. ده دوه اثره له دري څخه په پښتو نظم اړولي. ځينې څېړونکي په دې باور دي چې حميد مدرس ملا او دوديز علومو طالب العلمانو ته يې درس ورکاوه. حميد مومند د هندي ادبي ښوونځي پيرو شاعر دی او په دې سبک يې شعرونه ويلي او بيا ډېرو نورو پښتنو شاعرانو د ده پيروي کړې او د ده پر لاره تللي او د ده سبک يې منلی دی. د ده ژوند تر ۱۱۴۸هـ.ق کال پورې يقيني دی(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۸۹ل، ۳۹۹، ۴۰۰ مخونه). عبدالحميد مومند په خپل وخت کې په ملا عبدالحميد مشهور و. دا خبره چې دی ملا و، د ده د ځينو آثارو د خطي نسخو په پای کې ليدل کېږي(هوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۱۵ مخ). په برېښش کتابتون کې د حميد مومند دوه لاسي نسخې خوندي دي، يو ځای نيم ځای نوموړی د ملا حميد په نوم هم ياد شوی دی(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۱۰۹ مخ).

سره له دې چې عبدالحميد مومند د رندانه او شوخې شاعرۍ له مخې ځانګړی شهرت لري، خو د هغه د ځينو شعرونو له منځپانګې او فکري ژوروالي څخه څرګندېږي چې نوموړی ديني عالم هم و. په قرآن کريم، احاديثو، فقهې او سيرت النبی ﷺ کې يې ژوره پوهه لرله او له همدې امله يې په آثارو کې ځای ځای د آيتونو، احاديثو، فقهي مسايلو او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د سيرت مسايل ځليږي.

عبدالحميد مومند دغه آثار لري:

۱-*ديوان*: تر لس وارو پورې چاپ شوی دی.

۲-*شاه‌گدا*: په ۱۱۳۸هـ.ش کې يې دا کيسه چې دمخه هلالي په پارسي ليکلې وه، حميد په پښتو ترجمه کړې ده. دا منظومه درې وارې چاپ شوې ده.

۳- عبدالحمید د مولانا غنیمت د (*نیرنګ عشق*) مثنوي او د عزیز او شاهد کیسه له پارسي څخه په پښتو ترجمه کړي چې دا دواړه آثار په پېښور کې طبع شوي دي. نیرنګ عشق پنځه واړې چاپ شوی دی.

د یادولو ده چې د حمید بشپړ کلیات (دیوان، نیرنګ عشق، قصه شاه و گدا) د محمد آصف صمیم په سریزه او زیار د دانش خپرندویې ټولنې له خوا دوه ځله په ۱۳۸۳ل (۲۰۰۴م) او ۱۳۸٦ل (۲۰۰۷م) کلونو کې چاپ شوی دی.

۴- د حمید وروستی موندل شوی اثر «*شرعة الاسلام*» دی. دا د مثنوي په فورم کې منظوم شوی اثر د دوست شینواري په زیار په ۱۳٦٦ل کال په کابل کې چاپ شوی او موضوع یې فقه ده(روهیال، ۱۳۹۱ل، ۱۹۵ مخ)، بل چاپ یې د عبدالکریم عامر په زیار په ۲۰۱۹م کې خپور شوی دی.

دې موشګاف شاعر په کوچنیوالي کې د دیني علومو زده‌کړې کړې، دغه علوم یې نېه زده‌کړل او په الهیاتو کې د لوی لاس څښتن شو. دی چې کله شهرت ته ورسېد، نو له شاوخوا ځایونو نه شاګردان ورباندې رامات شول او تدریس یې جاري شو. څرنګه چې د حمید مومند اشعار پېچلي دي، ساده او عام فهمه نه دي، نو ځکه یې په ولس کې د عبدالرحمن په اندازه شهرت نه دی پیدا کړی، خو سره د دې ورته د درناوي په خاطر بابا وایو(جنتي، ۱۳٦٦ل، ٦۲، ٦۳ مخونه).

لاندې د پښتو ژبې د دغه نامتو شخصیت چې د هرې دیني او شرعي موضوع په ټراو ملغلرلې پېیلي، هغه مو په قرآن‌کریم او نبوي احادیثو کې پلټلې چې د همدې تأثر په بنا نوموړي په خپله شاعرۍ کې د کلام الله او نبوي سنتو خیال ساتلی او په هغه سره یې خپل کلام مستند او باوري کړی دی. د شاعري دا اړخ یې له قرآن‌کریم او احادیثو څخه هم په مستقیم ډول او هم اشارتاً یا نامستقیم ډول کړی دی.

الله تعالی په خپل کلام کې څو ځایه مسلمان ته د هغه د دنیوي او اخروي ګټو لپاره پر ذکر کولو ټینګار کړی دی، لکه چې فرمایي: ﴿فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ﴾(البقرة: ۱۵۲ آیت)؛ «نو ما یاد کړئ (په اطاعت او عبادت) چې زه (هم) تاسې یاد کړم»؛ ﴿اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾ (الأحزاب: ٤۱ آیت)؛ «الله په ډېر ډېر یادولو سره یادوئ». دغه راز په یوه حدیث شریف کې راځي: ﴿أَنَّ أَعْرَابِيًّا قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم- إِنَّ شَرَائِعَ الإِسْلاَمِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَىَّ فَأَنْبِئْنِى مِنْهَا بِشَىْءٍ أَتَشَبَّثُ بِهِ. قَالَ: لاَ يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ﴾؛ یعني: «یو اعرابي رسول الله ﷺ ته وویل چې د اسلام شرائع راباندې زیات شول، داسې یو څه را وښیه چې هغه تل کوم: ورته یې وویل: همېشه خپله ژبه د الله تعالی په ذکر مرطوبه ساته». حمید مومند د الله تعالی د ذکر کولو مفهوم په لاندې بیت کې ځای کړی دی:

هر نفس د خدای په یادو اولی تر دی بې اوبو زندګي کله شي د کب(مومند، ۱۳۸٦ل، ۲۸ مخ)

لکه څنګه چې کب بې اوبو ژوندی نه شي پاتې کېدلی، نو مسلمان هم باید خپله ژبه هر وخت د الله تعالی په ذکر او یاد لمده وساتي.

انسان له ګناهونو خوندي نه دی، خو الله تعالی د هغه لپاره د توبې دروازه تل پرانیستې پرېښې ده، البته په دې شرط چې له کړې ګناه څخه توبه وکړي او هوډ ولري چې بیا به یې نه تکراروي؛ کـه یـې لـه زړه توبه ووښته، خدای ﷻ مهربانه دی چې له کړې ګناه یې ور تېر شي. الله تعـالی فرمـایي: ﴿أَيُّهَـا الَّـذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ﴾ (التحریم: ۸ آیت)؛ یعني: «ای مؤمنانو، الله ته توبه وکړئ، د زړه له کـومې (او لـه پښـېمانۍ نـه ډکه) توبه، ګوندې الله ستاسې څخه ستاسې ګناهونه ورژوي او تاسـې تـه پـه داسـې بـاغونو کـې ځـای درکړي چې د هغوی (تر ونو) لاندې ویالې بهـېږي». زمـوږ دغـه سـتر شـاعر هـم انسـان متوجـه کـړی، مخکې تر دې چې سبا پښېمانه شي، نن وار ړومبی کړه او له ټولو ګناهونو لاس په سر شه، وایي:

نن ساعت تا لره هسې مناسب دي هی توبه کړه له تمامه معصیته...

چې سبا په خپلو بدو پښېمانېږې ولې نن پښېمانه نه شې له غیرته(مومند، ۱۳۸٦ل، ۱٦۰ مخ)

ظلم له انسانیت نه وتلې چاره ده او همدا ده چې د مظلوم آه او فریاد الله تعـالی مسـتقیم اوري. د پښـتو ژبې نوښتګر شاعر حمید مومند په لاندنیو شعرونو کې همدا موضـوع پـه بېلابېلـو الفـاظو کـې څرګنـده کړې ده. وایي چې د مظلوم فریاد مستقیماً الله تعالی اوري؛ که د ښار یوه وړه کوډۍ په ظلم ودانه شوې وي، ټول ښار ورسره بربادیږي؛ نن دې که په کمزوري لاس بر دی، همدغه زور بـه دې سـبا نـه وي؛ او که زر خولې ستا په اړه دعاء کوي، نو د یوه آزار مخه نه شي نیولی:

درسته شپه چې مظلومان آهونه زور کا سحر پورې د فلک په لمن اور کا

که هر څو یې لوغړن د آه په اور کړي څوک به خوی له کج روی د فلک نور کا

(مومند، ۱۳۸٦ل، ۱۹ مخ)

خدای دې نه کا چاته وازې د آزار خولې دغه خولې دي په معنا کې د ښامار خولې..

د یوې خولې له آزاره ووېرېږه که په عمر دې دعا کاندي هزار خولې

(مومند، ۱۳۸٦ل، ۲٤۷ مخ)

د مظلوم آه او آزار و چا ته مه شه　　عالمونه يې ورانېږي له ارخښه
د مظلوم آزار خالي نه ځي حميده　　د ويشتوني ګوزار پاس لګي په نخښه
(مومند، ۱۳۸٦ل، ۱۹۳ مخ)

رسول الله ﷺ هم خپل امت ته دا پيغام ورکړی چې د مظلوم له ازاره ځان وژغورئ ځکه د هغه او الله ترمنځ پرده نشته. فرمايي: ﴿اتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ (فَإِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا) وَبَيْنَ اللهِ حِجَابٌ﴾(السلمي. الجامع الصحيح سنن الترمذي، د حديث شمېره: ٦٢٥)؛ «د مظلوم له ښېرا ځخه ځان وساتئ، ځکه چې د هغه او الله تعالی ترمنځ هيڅ پرده نشته»، يعني د مظلوم دعاء مستقيماً قبليږي. عبدالحميد مومند د ظالم خصلتونه غندلي، ژر تېرېدونکي يې ګڼلي، لارښوونه يې ورته کړې چې له خپلو هغو بدو کړو ځخه لاس واخلي چې د ټولنې سمه او ښکلې مانې ورانوي. ټولنيز خوږ او د مينې ډک ژوند تريخوي او دوستي په دښمني اړوي. همدارنګه يې ظالم ته خبرداری ورکړی چې په خپلو کړو او ناوړو خصلتونو باندې کتنه وکړي، که نه نو بدو راتلونکو ته يې بايد پرته له کومه شکه په انتظار کې واوسي(لودين، ١٣٦٦ل، ١١٨ مخ).

لاندې بيت ګورو چې وايي:

چې حميد په کې خندا کا ريشخندي کا　　ځای د غم او د ژړا ده دا دنيا
(لودين، ١٣٦٦ل، ٣ مخ)

په پورتني بيت کې حميد مومند په خپل ځان انتقاد کوي چې په دې دنيا کې خنداګانې کوي، په داسې حال کې چې دا نړۍ د غم او ژړا ځای دی. الله تعالی په خپل کلام کې هم وايي چې تاسو په دې دنيا کې خاندئ خو ژاړئ نه، لکه چې فرمايي: {وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ}(النجم: ٦٠)؛ «او خاندئ او نه ژاړئ».

مسلمان ته نه ښايي چې د بل چا مال ته يې سترګې پټې وي، هغه ترې په زور، نيرنګ او چل وخوري؛ که دا کار يې وکړ، پايله به يې ناوړه وي. انسان‌دوست شخصيت حميد بابا د پرديو مالونو د خوړلو او د هغه عاقبت مفهوم په لاندې بيتونو کې انځور کړی دی:

ځو به خورې پردي مالونه په ستم　　يوه ورځ به دې په نس کې شي اړم
د مظلوم د مال روټی خپله بوټی خورې　　مه شه هيڅ په دا خوراک خوښ و خورم
ماته ستا حرام خورګي هسې ليده شي　　لکه ځوک په مشت منډې مار و لړم

بې شبهې مار و لړم دي نور څه نه دي　　راځکولي په ستم دام و درم
په حرامه دنيا ساز مه شه يو کار ستا　　چې سل نور درځخه وران کاندي برهم
(لودين، ١٣٦٦ل، ١٢٢، ١٢٣ مخونه)

الله تعالى د حرام مال له خوړلو څخه مسلمانان منع کړي، فرمايي: ﴿لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ﴾(النساء: ٢٩ آيت)؛ «په ناحقه سره خپلې شتمنۍ په خپلو منځونو کې مه خورئ». بل ځای په قرآن کريم کې راغلي: ﴿وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ﴾(البقره: ١٨٨ آيت)؛ (او په خپلو منځو کې خپل مالونه په ناحقه سره مه خورئ».

د الله تعالى په لار کې د مال قربانولو په باب حميد بابا کاږي:

اول ولوله آيت د «لن تنا»　　هاله لاف د محبت کړه د آشنا
څو دې سر په تنه پورې مال په ځای دی نشته ځای درکې هرګز د دې وينا
(مومند، ١٣٨٦ل، ٧ مخ)

پورتنيو بيتونو کې د آل عمران سورت (٩٢) آيت ته اشاره ده چې الله تعالى وايي: ﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ﴾(آل عمران: ٩٢ آيت)؛ «له سره به تاسې د (پوره) ښېګڼې (درجه) ونه مومئ ترڅو چې له هغه شي ځخه چې ستاسې خوښ وي (د الله په لار کې) خيرات ونه کړئ». مطلب دا دی چې که د اعلى درجې نېکي حاصلول غواړئ نو خپل ډېر ګران توکي او مالونه د الله تعالى په لار کې صدقه کړئ. حميد بابا هم وايي چې د خپل محبوب د محبت لافې وهې، نو خپل مال او آن خپل سر په دې لاره کې قربان کړه، که دا کار نه کوې، خپل مقصود ته رسېدل ناشونی دی.

هر بنده چې پيدا شوی، خالق يې روزي هم رسوي. الله تعالى فرمايي: ﴿وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾(آل عمران، ٢٧ آيت)؛ «او هر هغه چاته چې وغواړي بې‌حسابه روزي ورکوي». د پښتو ژبې دغه متشرع شاعر ډاډ ورکوي چې د رزق رسولو اندېښنه نه ده په کار، ځکه چا چې هغه زوکړی دی، د روزي اسباب يې هم ورته برابر کړي دي، وايي:

په سبب د رزق دلګير مه شه حميده!　　ولې شته هغه مسبب الاسباب
(مومند، ١٣٨٦ل، ٢٨ مخ)

نومیالی حميد مومند انسان او په تېره بيا مسلمان دې ته متوجه کړی چې تل له ځان سره د خپلو کړو وړو او ويناوو محاسبه ولري؛ يعني مخکې تر دې چې حساب درسره وشي او د پښېمانۍ اوښکې تويې

کړې، خپله صفايي همدلته په دې دنيا کې وکړه:

چې سبا د هغه کار په حساب نيو شي صاف کړه نن له ځان سره هغه حساب(مومند، ۱۳۸٦ل، ۲۷ مخ)

* * *

چې سبا دې ژړوي په اوښو وينو نن بايده ده غم خورگي د هغه غم(مومند، ۱۳۸٦ل، ۱۲۵ مخ)

له عمر بن الخطاب ﷺ څخه روايت دی چې وايي: ﴿حَاسِبوا أَنفسَكم قَبلَ أن تُحَاسِبُوا وَتَزَيَنوا للعَرضِ الأَكبرِ وَإِنمَا يخَف الحِسَاب يَوم القيَامَة عَلَى حَاسِب نَفسه فِي الدُنيَا﴾(السلمي، الجامع الصحيح سنن الترمذي)؛ «مخکې له دې چې حساب درسره وشي، له ځان سره حساب وکړئ او ځانونه د لويې نندارې لپاره سنبال کړئ. د قيامت په ورځ به د هغه چا لپاره حساب اسانه وي چې په دې نړۍ کې له ځان سره حساب کوي».

حميد بابا تکبر غندلی او په خپلو شعرونو کې يې د تواضع ستاينه کړې ده، هغه په يو بيت کې مخاطب ته وايي:

تا چې تېز تېزه کمند د خودرايۍ ما د ستا د پرېوتو هاله ارمان خوړ(مومند، ۱۳۸٦ل، ٦۹ مخ)

او په قدسي حديث کې راغلي دی، ﴿قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي وَالْعَظَمَةُ إِزَارِي فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ﴾(السجستاني، ۱۰۲ مخ)؛ «الله تعالى فرمايلي: لويي زما خادر دی او عظمت زما لباس دی، څوک چې له ما سره د دې دواړو په اړه شخړه وکړي، زه به يې اور ته واچوم».

زمونږ د خوږ پيغمبر ارشاد دی چې تر هغه پورې ستاسو ايمان بشپړ نه دی تر څو هغه څه چې د ځان لپاره خوښوې د بل ورور لپاره يې هم خوښ نه کړې: ﴿لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ﴾(السلمي، د حديث شمېره: ۲۵۱۵). ملا عبدالحميد همدا مفهوم په لاندې بيتونو کې په ډاګه کړی دی:

هغه مه پسنده په بل باندې انصاف کړه چې يې نه پسندې په ځان باندې ماتم

چې په خپل صورت اغزی سهلی نه شي بل ته ولې رسوې د تېغ الم

* * *

د هغو په خونه پېښ جنګ و قتال شي چې هوس د چا د جنګ و د قتال کا

(مومند، ۱۳۸٦ل، ۱۲۴، ۲۳ مخونه)

د ټولو انسانانو پيل له حضرت آدم عليه السلام څخه شوی دی، کله چې هغه پيدا شو او د هغه له پښتی نه بې‌بې حوا پيدا شوه، نو ورسره انساني لړی هم پيل او وغځېده. مطلب دا چې د ټولو انسانانو اصل يو دی، نو نه ښايي چې يو انسان پر بل ځان لوړ وګڼي. د انسانيت خواخوږی شاعر مومند بابا همدا مطلب په لاندې بيتونو کې څه ښه انځور کړی دی:

د يو تن اندامونه دي بې شکه — لوی هلک بني آدم په صورت سم
ته هم هيڅ له فرښتې زوکړی نه يې — چې چارپای بولې دا نور بني آدم
آدم زاد دي د يوې ونې ښاخونه — چرته د ښاخ زعفران شوې نور شړشم

(مومند، ١٣٨٦ل، ١٢٤ مخ)

له دې څخه د بشر ټوله نوعه موخه او مطلب دی، ځکه چې آدم زاد په معنا واړه يو صورت دي. په يوه حديث شريف کې راځي چې رسول الله وفرمايل: ﴿يَا أَيها النَّاس أَلَا إِنَّ رَبَّكم وَاحِد وَإِنَّ أَبَاكم وَاحِد لَا فَضلَ لِعَربِي عَلَى أَعجَمِي وَلَا لِعَجَمِي عَلَى عَرَبِي وَلَا لِأَحمَرَ عَلَى أَسوَدَ وَلَا أَسوَدَ عَلَى أَحمَر إِلَّا بِالتَّقوَا﴾ (الشيباني. د حديث شمېره: ٢٣٥٣٦)؛ «ای خلکو! رب مو يو دی او پلار مو يو دی، عربي په عجمي غوره‌والی نه لري او نه هم عجمي په عربي، نه سور په تور او نه تور په سور مګر په تقوا سره».

مبتکر شاعر عبدالحميد مومند وګړي د ښو خلکو ناستې ولاړې ته را بولي او له بدو يې منع کوي، ځکه ښه، ښه اغېزه لري او بد بده(لودين، (١٣٦٦ل، ١٢٨ مخ). ده موږ دې ته متوجه کړي يو چې د بدانو پر ځای له نېکانو سره ناسته پاسته تجربه شوې او ازمويل شوې مسأله ده، وايي:

تېز تأثير لري تر ښو صحبت د بدو — دا خبره آزموده ده په بيا بيا

* * *

چې دلې دې کېږي ناسته له بدانو — هورې مه غواړه د نېکو د رختن

(مومند، ١٣٨٦ل، ٤، ١٣٧ مخونه)

د رسول الله ﷺ په يوه حديث کې راغلي چې ښه ملګری د عطر جوړوونکي په څېر دی، که هغه تاته زيان ونه رسوي، نو د هغه خوږ بوی به تاته ورسيږي؛ خو بد ملګری د آهنګر په څېر دی، که هغه تا په سپرغيو ونه سوځوي، نو د هغه بوی خو حتماً در رسيږي. د حديث متن داسې دی: ﴿إِنَّمَا مَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّالِحِ وَالْجَلِيسِ السَّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيرِ فَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً﴾(مسند الصحابة

في الكتب التسعة. د حديث شمېره: ۲۶۲۸)؛ يعني: «د نېک ملګري او بد ملګري مثال د مشک پلورونکي او آهنګر په څېر دی. د مشک پلورونکی به یا تاسو ته یو څه درکړي یا به تاسو ترې یو څه واخلئ یا به تاسو ترې یو ښه بوی ومومئ؛ آهنګر به یا ستاسو جامې وسوځوي یا به تاسو ترې بد بوی ومومئ».

یوسف ﷺ د یعقوب ﷺ هغه نازولی ښایسته زوی و چې خپلو وروڼو یې د رڅې او حسادت له امله په څاه کې واچاوه، بیا یوه کاروان ته په لاس ورغی، خرڅ یې کړ، د مصر پاچا واخیسته. د پاچا مېرمنې ترې نامطلوبه غوښتنه وکړه، خو هغه رد کړه، هماغه و چې زنداني یې کړ. کلونه وروسته له زندانه ازاد او د پاچا په دربار کې د لوی مقام څښتن شو. حمید مومند وایي چې یوسف ﷺ هغه مهال پاچاهي ته ورسېد چې ناخوالې یې ولیدې او د زمانې څېړې یې وخوړې:

یوسف هاله شه لایق د بادشاهیې چې یې وخوړې څېړې د غضب(مومند، ۱۳۸۶ل، ۲۹ مخ)

حمید بابا هغه موضوع بار بار یادوي چې د ده لاشعور ته یې لاره کړې وي، همدغه مفهوم په یو بل بیت کې داسې څرګندوي:

د یوسف د مخ ډیوه شوه هاله بله چې یې سور کړ په څېړو برادر مخ(مومند، ۱۳۸۶ل، ۴۹ مخ)

د الله تعالی په سپېڅلي کتاب کې د «یوسف» په نوم یو سورت موجود دی چې د هغه پورتنی حالت په کې په تفصیل سره بیان شوی دی او په پای کې چې یوسف له خپل پلار او کورنۍ سره یوځای کېږي، نو خپل پلار ته وایي: ﴿يَا أَبَتِ هَـذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا وَقَدْ أَحْسَنَ بِيَ إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ وَجَاء بِكُم مِّنَ الْبَدْوِ مِن بَعْدِ أَن نَّزغَ الشَّيْطَانُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِي إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَاء إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِن تَأْوِيلِ الأَحَادِيثِ﴾(یوسف: ۱۰۰ – ۱۰۱ آیتونه)؛ «ای زما پلاره، دا دی زما د پخواني خوب تعبیر. په رښتیا سره چې الله هغه رښتیا کړ او بې‌شکه چې (الله) له ما سره ښېګڼه وکړه کله چې یې له زندان څخه را وایستم او تاسې یې له صحرا څخه (دلته) راوستئ، وروسته له دې چې شیطان زما او زما د وروڼو ترمنځ دښمني واچوله. بې‌شکه چې زما رب د هغه چا لپاره چې وغواړي د نرمۍ څښتن دی. بې‌شکه چې همغه پوهېدونکی، حکمت لرونکی دی. ای زما ربه بې‌شکه چې تا ماته ځواک راکړ او ماته دې د خوبو (او پېښو) د تعبیر پوهه را وښوده».

هغه مشهور متل دی چې: ژبه هم کلا ده هم بلا. په ډېرو نبوي ملغلرو کې راغلي چې د مسلمان ژبه باید نرمه وي او ځوک یې له امله ونه ځوروي شي. په یوه حدیث شریف کې راځي چې له رسول الله څخه

وپوښتل شول چې: ﴿أَيُّ الْإِسْلَامِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ﴾؛ «کوم اسلام غوره دی؟ ويې فرمايل: هغه چې مسلمانان يې له ژبې او لاس څخه په امن کې وي»؛ يا چې ارشاد يې دی: ﴿الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ﴾ (السجستاني، د حديث شمېره: ۲٤۸۳)؛ «مسلمان هغه دی چې نور مسلمانان يې له ژبې او لاس څخه په امن کې وي». د ناوړې ژبې له کارولو څخه حميد مومند هم انسان ډډې کولو ته هڅولی، چې هغه تر تېغ بدتره ده او ورسره زړونه پرې کېږي:

ژبورو ته له ژبې آفت رسي　　پرېکوي د زړګي سر جلاته ژبه
چې مدام د قتل وينې څڅي څاڅي　　تر هغه تېغه ده بده ماته ژبه(مومند، ۱۳۸٦ل، ۱۵۴ مخ)

الله تعالى په خپل سپخلي کتاب کې مسلمان مخاطب کړی چې تاسو څه وايئ، پر هغو ولې عمل نه کوئ، فرمايي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ﴾(الصف: ۲-۳ آيتونه)؛ «ای مؤمنانو، ولې تاسې هغه (خبرې) کوئ چې (ورباندې) عمل نه کوئ. د الله په نزد د لوی قهر سبب دی هغه شی چې وایاست يې او عملي کوئ يې نه». همدغه مطلب د پښتو ادب ځلاندې څېړې عبدالحميد په دې بليغو الفاظو کړی دی:

بې کرداره گفتار محض سر درد دی　　مونده نه شي د مراد مغز په دا پوچه
چې نا اهلو ته يې څوک تر خولې وباسي　　دردانه کاندي د خپلې وينا پوچه
(مومند، ۱۳۸٦ل، ۱٦۴ مخ)

د پوچ شعر غندنه داسې کوي:

هم د نه خوږوي زړه څوک　　ډېر د پوچ شعر په کړه څوک
ښه دي شکم له زوو ډک　　نه له شعره ډک وتيک

مومند بابا ياد حکم له دې نبوي حديث څخه اخيستی چې وايي: ﴿لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ اَحَدِكُمْ قَيْحاً خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْراً﴾(البخاري، د حديث شمېره: ٥٦۸۸)؛ «له تاسو څخه د يو کس ګېډه له زوو ډکه ښه ده تر دې چې له شعر څخه ډکه شي».

حميد بابا د پورتنۍ غندنې ترڅنګ د ښه شعر ويل ښه کار هم بللی دی.

دغه راز مومند په خپلو شعرونو کې د قرآن کريم ځينې برخې او د حديثونو ټوټې راوړې دي، لکه:

باري خلاص «نعوذ بالله منها» کړه　　هم «ولا حول ولا قوة» رها کړه

په پورتني بيت کې مومند د نيرنګ عشق د قصې په يوه برخه کې د شاهد د ښايست او ښکلا په اړه

غږيږي او د هغه ښکلا او ښايسته فتنه ګڼي، ځکه چې هر څوک يې ووينې نو زړه پرې بايلي آن تر دې د وخت قاضي هم خپل ځان نه شي ترې ساتلی. پورته شاعر د قاضي په ژبه غږېدلی دی. په دې بيت کې «نعوذ بالله منها»(البخاري، د حديث شمېره: ۲۳۴۰.او «ولا حول ولا قوة»(النيسابوري، د حديث شمېره: ۲۰۷۷) په اصل کې د حديثونو ټوټې دي(منګل، ۱۳۹۵ل، ۱۰- ۱۱ مخونه).

دغه راز کاږي:

«ان کنتم تحبون الله» ګوره «من اطاع» مصور کړه حد يې ژغوره

په دې بيت کې ﴿إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ﴾ د سورت آل عمران د ۳۱ آيت يوه برخه ده او «من اطاع» د يوه حديث د متن برخه ده.

بل ځای هم وايي:

«لا احصي ثناء» د حبر عذر خواهي کړه په دا خپل کوتاهي د لارې کوتاهي کړه

مومند دلته د حديث يوه ټوته کارولې، ﴿لَا أُحْصِي ثَنَاء عَلَيْک﴾(النيسابوري، د حديث شمېره: ۴۸۶)؛ (زه نه شم کولای چې ستا حق په هغه ډول ادا کړم چې ته يې مستحق يې).

اوس د نوموړي د يوه فقهي کتاب ژباړې ته چې «*شرعة الاسلام*» نومېږي، سر ور ښکاره کوو.

پوهاند رشاد ليکي: د «شرعة الاسلام» منظوم عربي متن په يوه جلد کښې يو مرغوب ګټور او نفيس اثر دی چې د حضرت سيد المرسلين ﷺ سنن په ډېره پښته ژبه پکښې څېړل شوي دي، مؤلف يې د بخارا مفتي امام الواعظ رکن الاسلام محمود بن ابي بکر الحنفي دی چې په (امازاده) اوخار او په ۵۷۳هـ. ق کال مړ دی». د دې اثر څو شرحې ليکل شوې دي. دا کتاب په پارسي هم ترجمه شوی دی. پښتو ترجمه يې چې د حميد مومند په غښتلي قلم ليکلی شوې ده، په پښتو تبليغي آثارو کې د ادبي نفاست له مخې هسکه درجه لري.

دی زياتوي، د حميد مومند شرعة الاسلام د کميت په لحاظ د ده تر ټولو څرګندولو آثارو لوی او ضخيم اثر دی، ځکه چې دا اثر تخميناً پنځلس زرو بيتونو ته رسيږي. د «شرعة الاسلام» پښتو منظومه ترجمه موشګاف عبدالحميد د ۱۱۴۸هـ.ق د کوچني اختر په شپږ ويشتمه پای ته رسولې ده(رشاد، ۱۳۶۶ل، ۳، ۲ مخونه). څو نمونې يې دا دي:

ثابت شوي په سنت دي يقيني په خپل زينت دي

دا دي واوره درته وايم عربي په پښتو نمايم

چې یوه ورځ جبرائیل و حضرت ته کړو ویل
وې یې وایه پیغامبره دم قدم خدای ته رهبره
اسلام څه دی ایمان څه دی احسان څه دی امان څه دی
ده دا رنګ جدا جدا که جواب د سوال ادا
چې بنده څښتن غني په یکي وپېژني
دا ګواهي کا په زړه لیکه چې خدای یو دی بې شریکه
ازلي و لا یزال دی هر صفت یې په کمال دی(عبدالحمید، ۲۰۱۹م، ۵۲ مخ)

* * *

په دا فصل کښې لالنه زده کړه ته د دین پالنه
په هر کار کښې خدای لره خالص نیت په ځان لره
چې بې نیته عمل هیڅ دی لا که وایې د ځان پیڅ دی
چې حجت په دا کمال دی حدیث «انما الاعمال» دی(عبدالحمید، ۲۰۱۹م، ٦٦ مخ)

* * *

جنازې ته دي ډېر کسي چې ترې پند و عبرت نسي
جنازه د دې دپاره وړاندې وړه شي نېک و پاره
بل د کور له جنازه تېزه وړي په اندازه
نه په ډچکې نه په زغاسته مرده راست وي که ناراسته
ښه په سر پورې د مړي د الحمدُ لوست نومړي
الف لم ذلک دورې تر هم «المفلحون» پورې
په سر پورې د مرده لوست دي ښه په ښه کرده(عبدالحمید، ۲۰۱۹م، ۵۱۰ مخ)

* * *

پټه خوله

افضل خوی د مومنانو خاموشي ده امینانو
خزانه بخره په کس کښې وي د چېې خولې په وس کې
له خبرو شي ببری د فتنو او دی بمبری

له خبرو کسل بلا ولاړيږي واويلا
لوی هنر ده خاموشي کا د عيب پرده پوشي
گفتگوی تر شرافت لري ډېر شر و افت
له اوله دې څوک هيڅ نه وايي چې لري پيڅ(رشاد، ۱۳٦٦، ۴-۵ مخونه)

* * *

کړه په حق د همسايه کې زده دا فصل په يانه کې
چې لري لويه پايه خصمانه د همسايه
غنيمت ښه نزديکت دی ورسره ډېر برکت دی(شينواری، ۱۳٦٦ل، ث مخ)

په پورتنيو څو بېلګو کې روښانه ليدل کېږي چې «شرعة الاسلام» کې د دين اساسات او فقهي مسايل بيان شوي چې دا کار د حميد بابا له خوا په خوږه او روانه پښتو را ژباړل شوي او بيان شوي دي.

دوست شينواری کاږي: شرعة الاسلام د حميد مومند په اشعارو کې هم د کيفيت او هم د کميت له مخې مهم ځای لري. د کيفيت له مخې په دغه اثر کې چې آزاده ترجمه ده او خپله د حميد نظر په کې مهم ځای لري، داسې نوي موضوعات شته چې د حميد په نورو آثارو کې نه دي درج. لکه يو عالم اجتماعي روابط، طبي مسايل او کلتوري بحثونه. د کميت په لحاظ د حميد په ټولو آثارو کې دغه کتاب لومړی مقام لري. په دې کتاب کې لکه له نامه يې چې څرګندېږي د اسلامي اخلاقو کړو وړو، خبرو، فکر کولو، ټولنيزو ادابو په لارو چارو بحث شوی. په دې کتاب کې ډېری داسې مسألې شته چې هغه زموږ په اجتماعي ژوند کې هر وخت او هره ورځ حياتي ارزښت لري.

څېړنپوه دوست شينواری او څېړندوی محمد آصف صميم دواړه ياد شوی اثر دينې کتاب بولي؛ دوست ليکلي: «د حميد مومند دغه شرعة الاسلام يو ديني، اجتماعي، اخلاقي کتاب دی»(شينواری، ۱۳٦٦ل، أ، ث، ب مخونه). صميم هم کښلي: «شرعة الاسلام د موضوع له پلوه تر هنري زيات فقهي او ديني دی»(صميم، ۱۳۸٦ل- الف، لس مخ).

د حميد بابا د «شرعة الاسلام» پورتنيو بېلګو او هم د څېړونکو تحقيقاتو ته په کتلو سره ويلی شو چې د دې اثر منځپانګه ديني مسايل تشکيلوي چې دا په پښتو کې د اسلامي ادب د پانګې پر زياتېدو سربېره د دې ژبې ويونکو ته يې ديني او خاصتاً فقهي مسايل په اسانه ژبه بيان کړي دي.

د پښتو ادب د دې سرلارې له آثارو او شعرونو څخه له ورايه ښکاري چې حميد بابا د هغه وخت

متداول اسلامي او دیني علوم لوستي و او پرې برلاسی و او په همدې خاطر مورِ دی د یـوه دینـي عـالم په توګه هم پېژندلی شو. په ځینو آثارو کې نوموړي ته «ملا» ویل شوی، لکه پوهاند رښتین چې لیکـي: «عبدالحمید مومند د دولسمې پیړۍ د اولې برخې خورا مشهور نومیالی ادیب او شاعر دی. دی ښه مـلا هم و او طالبانو ته به یې تدریس کاوه»(رښتین، ۱۳۹۱ل - ب، ۱۳۲ مخ). «د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره» اثر کې هم راغلي: «که څه هم حمید یو ملا شاعر و خو بیا هم هغـه د ټـولنې پـه عینـي او ذهنـي چاپېریال کې ژوند کړی دی».

د حمید مومند د اشعارو یو لوی خصوصیت دا دی چې هغه د ټولنې له ښه بد سره مستقیمه رابطـه لـري او د پندونو او وعظونو په څنګ کې داسـې اشـعار هـم لـري چـې هغـه د ټـولنې هـر وګـړي تـه داسـې اجتماعي لارښودنه کوي چې اساس یې په کار باندې بنا وي(زیور، ۱۳۸٦ل، ۲۷۱، ۲٦۳ مخونه).

د حمید مومند له اشعارو څخه جوتېږي چې ده د کتاب الله او سنت رسول پوره مطالعه لرله او ځان یې پرې ښه پوه کړی و، همدا لامل دی چې له قرآن کریم او نبوي احـادیثو څخـه پـه اغېزمنتیـا یـې قـرآني ارشادات او نبـوي مرغلـرې د خپـل کـلام د تقـویې او مسـتند کولـو لپـاره راوړي او د خپـل کـلام ادبي چاپېریال یې پرې ښایسته کړی دی. دغه کار یې په څو لارو کړی، کله یې د هغو کُلي مفهوم بیان کړی او کله یې هماغه هوبهو قرآني او نبوي الفاظ کارولي او په دې سره یې خپل هنري کلام تـه اسـلامي او دیني پیوندونه ورکړي دي.

کامګار ختک د نامدار خان زوی او د اشرف خان هجري لمسی او د خوشحال خان ختک کړوسی دی. د ختک د اکوړي د سرای په کلي کې یې استوګنه درلوده او په ۱۱٦۵هـ.ق کال کې وفات شوی دی. د کامګار ختک له یوې غزلې معلومیږي چې دیني او مذهبي علوم یې له میا جمیل څخه زده کړي دي او ښایي د میا جمیل له شاګردانو څخه وي(متین، ۱۳۵۸ل، ب، ج مخونه).

میا وکیل شاه فقیرخپل چې د کامګار ختک کلیات یې ترتیب کړي او چاپ کړی دی، په سریزه کې یې کښلي چې د کامګار خان د زېږېدنې نېټه به د ۱۰۹۸هـ.ق یا ۱۱۰۰هـ.ق خواوشا وي(فقیرخپل، ۱۳۹۳ل، ۹ مخ). کامګار په خپل نیکني ټاټوبي سرای اکوړه کې پیدا شوی او تر تنکۍ ځوانۍ پورې یې په خپل کلي کې ژوند کړی او وروسته د ده د پلار او تره افضل خان ختک د مخالفتونو له امله له سرای څخه وتلی او د ژوند اوږده موده یې په دوبیانو کې تېره کړې ده. دی د پښتو شعرونو *دیوان* لري چې په کابل او پېښور کې څو ځله چاپ شوی دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۷۱٦ مخ). کامګار د

«*شرح عقاید*» په نوم پښتو منظوم اثر هم لري چې خطي نسخه يې پېښور پښتو اکېډيمۍ کې شته(رفيقي، ۲۰۲۲م، ۱۱۹ مخ).

کامګار خان په قرآني، حديثو او فقهي علومو کې لوی لاس درلود او د همدې علومو د ژورې مطالعې له برکته يې په خپل کلام کې ډېر اسلامي، ديني او اخلاقي مواد ځای کړي او د خپلې شاعرۍ يوه لويه برخه يې همدې موضوعاتو ته ځانګړې کړې ده. تسنيم الحق کاکاخېل په دې اړه وايي، د خپل خاندان د نورو مشهورو ځوانانو په شان کامګار خان هم له نورو مروجه علومو سره سره له مذهبي علومو سره پوره اشنا و. د دې د ثبوت لپاره د ديوان په ابتدايي حمديه باندې يو نظر اچولي کافي دي، د تمامو مشهورو پيغمبرانو مشهور معجزات يې څنګه په ساده او عامو الفاظو کې د شعر په لړۍ کې پېيلي دي. له دې نه علاوه د فقهي اصطلاحاتو استعمال، د احاديثو ترجمې، تاريخي واقعاتو او آيتونو ته اشارې د هغه د پوخ علم پوره ثبوت دی(فقيرخېل، ۱۳۹۳ل، ۹ مخ). سربېره پر دې چې کامګار خان ختک په خپل ديوان کې ډېرو ديني مسايلو ته اشاره کړې او خپلو شعرونو ته يې پرې معنويت وربخښلی دی، ترڅنګ يې د شرح عقايد مثنوي تر سرليک لاندې تر خپلې وسې کابو ټول ديني مسايل را اخيستي دي. ځرنګه چې د شعر په ژبه د ديني عقايدو بيانول خورا ستونزمنه چاره ده، ډېرې پوهې، استعداد او وړتيا ته اړتيا لري، خو کامګار خان ختک په ډېره ښه توګه دا چاره ترسره کړې ده(سونيا هوتک، ناچاپ اثر).

د کامګار له اشعارو او افکارو څخه ځرګندېږي چې په ديني علومو کې د لوی لاس خاوند و، په اشعارو کې يې د فقهې، احاديثو او قرآن شريف ځينې موضوعات شته چې په دې لاندنيو بيتونو کې ښه ځرګندېږي:

په کمال چې دې نصاب د تا د حسن مستحق يم اشنا ما لره زکوة را

چې مې سرو مال څو دی تر واړو تېر يم چې خبر د لن تنا په آيت زه يم(متين، ۱۳۵۸ل، ډ مخ)

بل ځای وايي:

هر مقصود ته وسيله بويه عاقله د کامګار وسيله رب وته ياسين دی

له حاجته خدای دی خلاص ورشه ولوله اخلاص(فقيرخېل، ۱۳۹۳ل، ۲۱۳، ۳۱۷ مخونه)

لومړي بيت کې د قرآن کريم ياسين سورت ته او دوهم بيت کې د الاخلاص سورت ته اشارې شوې دي.

دی په خپلو شعرونو کې د قرآني آيتونو استعمال داسې کوي:

ځکه پوه په حال د لوح او د قلم شو چې له درسه يې د ما اوحی سبق شو

(فقيرخېل، ۱۳۹۳ل، ۱۷۵ مخ)

په دې بيت کې (ما اوحی) د النجم سورت لسم آيت يوې برخې ته اشاره شوې ده.

ډک د زړه مصحف لري په آيتونو سپين رخسار يې والضحی والليل

(فقيرخېل، ۱۳۹۳ل، ۱۴۵ مخ)

په دې بيت کې د الضحی او الليل سورتونو لومړيو کلمو ته نغوته شوې ده.

کامګار خټک د حديثو په رڼا کې لاندې مرغلرلې پېيلې دي:

په اجماع د درست امت دا حديث دی د حضرت

چې څوک مړ اهل قبله شي پر دې کړله جنازه شي(فقيرخېل، ۱۳۹۳ل، ۳۹۱ مخ)

بل ځای وايي:

دا دنيا ګنده جيفه طالب يې سپي دی اهل دل له دنيا ځکه کاندي کرکه(کامګار خټک، ۱۳۵۸ل، ۱۱۳ مخ)

په دې بيت کې دې حديث ته اشاره ده چې فرمايي: ﴿الدُّنيا جِيفةٌ، وطُلَّابُها کلابٌ﴾؛ يعني: «دنيا ګنده مرداره ده او د هغې غوښتونکي سپيان دي».

سعيد خټک چې يو شاعر و، په ۱۱۱۸هـ.ق کال د کوهاټ په نواحيو کې اوسېده. دی يو مذهبي او ديندار سړی و، د خپل وخت دوديز علوم يې لوستي و او ښه عالم و، خصوصاً د فقهې په علم کې يې لوی لاس درلود. ده په پښتو او پارسي ژبو شعر وايه، د *ديوان* يوه نسخه يې په ګنج‌بخش کتابتون کې شته. ديوان يې دوې برخې لري؛ لومړۍ برخه يې پارسي او دوهمه يې پښتو ده. د پارسي برخې ټولې پاڼې يې ۱۷۱ او د پښتو برخه يې ۸۵ پاڼې لري. ديوان يې د همېش خليل په زيار چاپ شوی دی. د ده له شعرونو ښکاري چې د خوشحال د کورنۍ يو فرد دی، ځکه چې په شعرونو کې يې د خوشحال بابا او د هغه د اولادونو ذکر راغلی دی(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۰ل، ۴۳۱ مخ).

همېش خليل کاږي، د بابا سعيد ژوند تر ۱۱۲۴هـ.ق پورې يقيني دی. داسې معلوميږي چې بابا سعيد د خوشحال خان خټک د کورنۍ يو فرد و، په خپل ديوان کې د خوشحال د پلار شهباز خان او د يوسفزو او د خټکو ترمنځ د جنګونو ذکر کوي. دغه‌راز د خوشحال خان خټک شاعري ستايي. د بابا

سعید شاعری په غزلیاتو، قصایدو، رباعیاتو او مقطعاتو مشتمله ده. له پښتو نه علاوه د فارسی دیوان هم لري. په کلام کې يې د عربي رنګ ډېر غالب دی، د عربي او پارسي الفاظو استعمال يې په کثرت سره کړی دی. د شاعری زیاته برخه يې پند و نصیحت دی، لکه:

محنتونه په دنیا کې چې غره کا — د عقبا د عیش په یاد د زړه ومه کا
شاید نه يې دی چنګل د باز په یاد وو — دا خندا هوس چې زرکې په دده کا
چې يې مخ شه په سجده په رسا فکر — د عقبا ښادي به تل له غم سره کا

* * *

څو هر کار ته چې ملا ونه ترې کلکه — که د دین که د دنیا نه شي ښکه
چې همت د پکار بر شه وپوهېره — دغه کار نه به منګول کړې آخر ډکه
د اخلاص دلیل پخوا بیایه کار کښې — بې اخلاص کارونه سپک ګڼه له ککه
(خلیل، ۱۹۶۰م، ۳۶۹- ۳۷۰ مخونه)

* * *

په بنده باندې چې خپل فضل کرم کا — په دنیا و مافیها به يې زړه ام کا
بل نشان به يې همه له زړه نه یوسي — یو د خپلې مینې نقش به پرې رقم کا
دنیادار دنیا به خوار ورته تر خس شي — په خرقه کې به يې هسې محتشم کا
د عالم امېد تراش د مخ د آب وي — ترک يې څرنګ په ابرو مرد محترم کا
که تمام عالم د ډېر یا کمه وي څه — تر تقدیر به څه نه ډېر نه به څه کم کا
د ماضي عصیان علاج په نور څه نه شي — مګر مل د زړه حسرت نقش قدم کا
د ورځ ورځ په قوت راشي اوسه سعیده — ترکه به دې حسرت له دله صنم کا
(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۰ل، ۴۳۱ مخ)

په دې بیتونو کې دې اشاره ده چې په چا د الله تعالی فضل وشي، نو د دنیا پر ځای يې خپله مینه په زړه کې ور اچوي. دغه راز د تقدیر مسألې ته هم نغوته په کې شوې چې څه درته لیکل شوي، هماغه به درته رسېږي.

عبدالکبیر مشهور په **اخوند کبیر**، حافظ کبیر د پښتو کثیر الکلام شاعر دی چې په دولسمه هجري پېړۍ کې اوسېده، د وخت له رواجي علومو، فقهي او شرعي علومو او سیرت څخه برخه‌من و. په شعر

کې له احمدشاه ابدالي څخه يادونه کوي. د هغه له منظومو آثارو: «*در المجالس، جنت الفردوس، سيف الظفر، دفع الفقر، نورنامه، شمايل نامه، جنگ نامه امامين، معجزات کلان و معجزات خورد*» يې معلوم دي(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۹۴ مخ).

دی د پښتو ژبې تکړه شاعر او د زياتو آثارو خاوند دی، د پېښور د تاکال اوسېدونکی و. د احمدشاه بابا هم زمانه او د دغه وخت لوی عالم او پوه شاعر دی. وايي چې قبر يې د تاکال په زړه مقبره کې له غريب آباد سره نزدې پوره شهرت لري. د عبدالکبير اشعار زيات مذهبي، اخلاقي او تصوفي رنګ لري(رښتين، ۱۳۷۲ل، ۱۱۲، ۱۱۳ مخونه).

د عبدالکبير شعرونه مذهبي، اخلاقي او تصوفي دي او خپل ټول تأليفات يې د پښتو ژبې په کوچني بحر کې ليکلي دي(افغاني، ۱۹٦۳م، ۷۰ مخ). لاندې دهر اثر لنډ جاج اخلو:

۱- *معجزات*: په لنډ بحر کې د مثنوي په صورت کې ويل شوی او د کوم عربي اثر ترجمه ده. په ۱۸۷۷م کال په ډهلي کې چاپ شوی دی، تقريباً ۱۵۰۰ بيتونه لري او د حمد شروع يې داسې شوې ده:

اې چې خدای واحد احد يې لم يلد و لم يولد يې

هر چې کړې هغه به وشي بې د ستا له کړو څه نه شي

چې څه نه وي تې پيدا کړې بيا يې هسې رنګ پنا کړې(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۷۴۰ مخ)

دا کتاب د وعظ او نصيحت پانګه ده او د رسول الله معجزې په کې بيان شوې دي. د دې کتاب يوه قلمي نسخه په پېښور کې له اکمل اسدابادي سره شته دی. دغه کتاب د ملا رحمت په قلم نقل شوی دی او په آخر کې د اخوند موسی رساله چې (تولدنامه) نومېږي، هم رانقل شوې ده. دغه کتاب په ۱۹۱۲م کال په لاهور کې چاپ شوی دی(رښتين، ۱۳۷۲ل، ۱۱۵، ۱۱٦ مخونه).

اخوند کبير «معجزات» د لوی احمد شاه بابا د واکمنۍ پر اووم کال پيل کړی دی، داسې ښکاري چې دی په دا مهال د پاخه عمر و او زده‌کړې به يې هم پای ته رسولې وې. د کتاب په پيل کې وايي:

په شروع د دې کتاب شوم په وکښو در نايا‌ب شوم

سن و هجر و چې مې شمار کړه (سوغق) مې ترې اظهار کړ

(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۸٦ل، ۱۱ مخ)

د «معجزات» دوه قلمي نسخې په بريټش کتابتون کې خوندي دي. نسخه په لاندې بيتونو پيليږي:

هغه علم چې د خدای دی تر عاجز د خلقو رای دی

نه خبر پر جبرائیل دی　　نه خبر پر میکائیل دی
نه خبر پر اسرائیل دی　　نه خبر پر عزرائیل دی
نه خبر پر سغر ره دی　　نه خبر پر نبره ره دی

پای:

چه وتا وته ووایم　　زه ئې وکښم وئې ونمایم
عاقل ته اشارات دي　　کبیر کړی نصیحت دی(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۱۴۳ مخ)

د «معجزات» خطي نسخه د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کتابتون کې په ۲۲۹ شمېره کې په ۱٦٦ پاڼو کې خوندي دی. موضوع یې سیرت النبي او د حضرت محمد ﷺ معجزات په ښکلې مثنوي او غزل فورمونو کې راوړې دي. موجوده پیل تر بسم الله وروسته:

څوک مسلم څوک یې کافر کړل　　څوک یې ښځې څوک یې نر کړل
څوک پادشاه څوک یې امیر کړل　　څوک غنیان څوک یې فقیر کړل

«معجزات کبیر» د کبیر اثر دی چې د نظمولو کال یې نامعلوم او د لیکلو کال یې ۱۲۸۰هـ.ق دی، د پاڼو شمېر ۲۴۷ او د کتابتون شمېره ۱۰۷ ده. د حضرت محمد معجزات، د څلورو یارانو، حضرت حسن او حسین او حضرت عایشې خوږې کیسې د مثنوي په فورم کې په نظم شوې دي. موجوده پیل یې:

ای چې خدای احد واحد دی لم یلد و لم یولد دی
هر چه کړي هغه بوشي　　بې دا ستا له کړه څه نه شي
چه څه نوي ته ئې پیدا کړې　　بیا یې هسې رنګ فنا کړې
(دوست، ۱۳۹۹ل، ۳۷، ۳۸، ۱۴۸، ۱۴۹ مخونه)

«معجزات کلان» د اخوند عبدالکبیر اثر دی چې په ۱۲۵۷هـ.ق کال لاهور کې په ۲۱۲ مخونو کې چاپ دی. دا د لیکوال د معجزاتو د کتاب بشپړه نسخه ده چې له اصلي قلمي نسخې څخه خپره شوې ده. ټوله په لنډه مثنوي ده(رفیع، ۱۳۵٦ل، ۷۵۲ مخ).

۲-*دفع الفقر*: په لنډه مثنوي کې منظومه ترجمه ده. د کتاب شروع داسې شوې ده:

کل ثنا خدای سره ښایي　　چا ویلي یا یې وایي
هسې خدای چې دی خالق دی　　د همه مخلوق رازق دی
هم قابض دی هم باسط دی　　هم رحمان، رحیم، مقسط دی

د «دفع الفقر» یوه قلمي نسخه د پښتو ټولنې په کتابخانه کې شته، ۷۱ مخه لري، په ۱۲٦۸هـ.ق کال ملا محمد سلیم کښلې ده. د فقر د ورک کولو لپاره دعاوې په کې دي. د دفع الفقر په نامه یو کتاب د پېښور د قصه خوانۍ کتابفروش حاجي محمد امیر تر ۱۲۹۸ق کال دمخه چاپ کړی دی(رشاد ۱۳۹۱ل - ج، ۷۴۱ مخ).

د افغانستان علومو اکاډمي کې په ۲۴٦ شمېره خوندي «دفع الفقر» خطي نسخه ۷۱ پاڼې لري، موضوع یې ديني، اصلاحي کیسې، حکایتونه او د حدیثونو شرحه او ژباړه ده(دوست، ۱۳۹۹ل، ۲۰، ۲۱ مخونه).

۳-*در المجالس*: سیف الظفر بن برهان الدین بهاري د دې اثر مؤلف دی. د دې کتاب یوه قلمي نسخه د پښتو ټولنې په کتابخانه کې شته او ۹٦ مخه لري. د دې نسخې بیا لیکونکی (زبیر گل) دی چې د یاسین نومي لپاره یې په ۱۲۸۴هـ.ق کال کښلی دی. عبدالکبیر در مجالس له یوې پارسې نسخې څخه په ۱۱۵۵هـ.ق کال په پښتو ژبه نظم کړی دی. دی وایي:

دا کتاب چې څوک په لاس هم　　واخلي ورشي دا وسواس هم
مصنف یې په کور دور و　　چې دا هومره یې ډېر غور و
سن د هجر و څو تللی　　د ده کوم و مسکن کلی...

دا اثر په ۱۸۸۰م کال په ډهلي کې چاپ شوی دی. په پښتو کې یو بل «در مجالس» هم شته چې ملا نعمت الله تر عبدالکبیر وروسته نظم کړی دی. د ملا نعمت الله «در مجالس» په ۱۲ سېلابه وزن کې او د اخوند عبدالکبیر در مجالس په ۸ سېلابه وزن کې ویل شوی دی(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۷۴۲ مخ). دغه اثر د خدای په ثناء او صفت داسې شروع کېږي:

حمد ثنا چې بې عدد دی　　کل لایق د پاک احد دی
دی بادشاه دی بې وزیره　　بې پروا دی له مشیره
مشورت نه کا له چا دی　　له هر چا دی بې پروا دی
چې بې کن کړ فیکون شي　　له عدمه دی بېرون شو

دا کتاب په ۳۳ بابونو شامل دی او د نبیانو او ولیانو خوږې قصې په کې بیان شوې دي. په ۱۲۹۷هـ.ق کال په ډهلي کې چاپ شوی هم دی(رښتین، ۱۳۷۲ل، ۱۱۲، ۱۱۳، ۱۱۴ مخونه). په ۱۳۲۸هـ.ق کال لاهور کې هم په ۱۸۰ مخونو کې چاپ دی(رفیع، ۱۳۵٦ل، ۵۱۸ مخ).

د «دُر المجالس» هغه نسخه چې د افغانستان د علومو اکاډمی په کتابتون کې په ۹٦ شمېره خوندي ده،

موضوع يې حمدونه، نعتونه، د نبيانو، وليانو، حضرت آدم ﷺ، ابراهيم ﷺ، شعيب ﷺ، موسی ﷺ، حضرت محمد ﷺ، خلفاء راشدينو په اړه دی، ټول درې دېرش بابونه دي. متن له پارسي نسخې څخه ژباړل شوی دی، شاعر وايي:

دا کتاب په فارسي زبان وه　　افغانان و ته کران وه
په پښتو سره مې جوړ کړ　　شوق و ذوق مې د زړه سوړ کړ

پيل يې تر (بسم الله) وروسته:

حمد ثنا چې بيعدد دی　　کل لايق د پاک احد دی
دی بادشاه دی بې وزيره　　بې پروا دی له مشيره(دوست، ۱۳۹۹ل، ۲۶، ۲۷ مخونه)

د «در المجالس» نسخه د افغانستان ملي آرشيف کې هم شته(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۶۴ مخ).

۴- *جنت الفردوس*: ۳۸ بابه لري او ډېر ځله چاپ شوی دی. يوه نسخه يې په بريټش موزيم کې خوندي ده، يوه قلمي نسخه يې د پښتو ټولنې په کتابخانه کې خوندي ده. د دغې نسخې د سر بيتونه دا دي:

اوس به وايم له کتابه　　د کتاب له هره بابه
د هر باب جدا ثواب دی　　حد يې نشته تر حد تېر دي
د ثواب کارونه ډېر دي　　چې منقول له هر کتاب دي

۵- اخوند عبدالکبير د *لقمان حکيم يوه قصه* هم په پښتو ترجمه کړې او دا قصه څو پلا چاپ شوې ده.

۶- د اخوند کبير يو بل کتاب د *تميم انصاري قصه* ده چې په ۱۱۵۸هـ.ق کال يې نظم کړې ده او په ۱۲۸۶هـ.ق کال چاپ شوې ده.

۷- د اخوند کبير يو شمېر *مناجاتونه* د فوائد الشريعة د هغې چاپې نسخې پر حاشيو باندې چاپ شوي دي چې په ۱۳۰۴هـ.ق کال په ډهلي کې ليتوګراف شوې ده. اخوند کبير *الفنامه* هم لري. دا دوه آثاره د رشيد بيان په پای کې کښل شوي دي(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۷۴۳ مخ).

«*مناجات*» د څو مناجاتو مجموعه ده چې يوه قلمي نسخه يې د لندن په موزيم کې شته او بله نسخه يې په پېښور کې عبدالحليم سره ده. په دې نسخه کې ځلور نظمونه موجود دي چې د اول نظم شروع يې دا ده:

غافل ولې يې بې رايه　　آخر تله دي له دې سرايه

که ستا مينه وي له خدايه هر نفس دا هسې وايه

لا اله الا الله

د اخوند کبير نور مناجاتونه د فوايد الشريعت په حاشيو باندې په ۱۳۰۴ق کال په ډهلي کې چاپ شوي دي.

۸- *جنت الفردوس*: په ورکوټي مثنوي يو کتاب دی، يوه قلمي نسخه په ۱۲۲۸هـ.ق کال د عبيدالله په قلم نقل شوې ده. دا کتاب په پښور کې چاپ شوی هم دی(رښتين، ۱۳۷۲ل، ۱۱٦، ۱۱۷ مخونه). د «جنت الفردوس» دوه نسخې بريتانيا کې دي. په دې اثر کې حافظ عبدالکبير په شاعرانه بڼه په مذهبي تقوا ببلابېل اړخونه انځور کړي دي. نوموړی د دې ترڅنګ د څو نورو ليکنو پنځوونکی هم دی چې په هغو کې معجزات، مناجاتونه، مذهبي شعرونه او د لقمان حکيم په باب يوه کيسه شامله ده(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۵۹ مخ).

د افغانستان د علومو اکاډمي د کتابتون په خطي نسخو کې په ۲۳۵ شمېره خوندي «جنت الفردوس» کې د اسلام د پنځو بناوو په اړه، همدارنګه نور ديني او شرعي مسايل په مثنوي فورم کې بيان شوي دي. پيل يې تر بسم الله وروسته:

پس لحمده لصلواة حقيقت وايم و تاته

هر چار به سړی کاندِ وی يو شي باعث پرِ باندِ(دوست، ۱۳۹۹ل، ٦۹، ۷۰ مخونه)

د افغانستان ملي آرشيف کې هم د «جنت الفردوس» خطي نسخه شته(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۵۳ مخ).

۹- د «*جنګنامه کلان*» ناظم يې اخوند کبير بلل شوی چې په ۱۲۹۷هـ.ق کال ډهلي کې په ۳۲ مخونو کې چاپ ده. د امامينو د خونړۍ جګړې کيسه ده او په پای کې د ملا محمد عظيم يو مناجات او د ملا مقصود غزل لري(رفيع، ۱۳۵٦ل، ۴۱۸ مخ).

۱۰- د افغانستان ملي آرشيف کې د «*دقايق الاخبار*» په نوم خطي نسخه د حافظ عبدالکبير بلل شوې ده. د نسخې د کلام يوه بېلګه داسې ده:

روايت له هريره دی مخفي نه دی باهره دی

دې په دا شان روايت کـا له دې حاله مقالت کا

هر مومن چې له دنيا نه سفر وکاندي ای جانـــــه

يو مياشت په هر ماښـام روح راځي داءم مـــدام

هره ورځ تر خپله داره　　دغه روځ را درومي یاره

کوم ابیات چې د کتاب په آخر کې د مناجاتو په ډول د کاتب له خوا لیکل شوي، په دې ډول دي:

الهـی پر عبیدالله نظر کړه　　په خدمت د محمد غونـدې سرداره

حافظ عبدالکبیر د احمدشاه بابا د وخت کثیرالکلام ناظم او شاعر دی، ډېر کتابونه یې له نورو ژبو، لکه پارسي او عربي نه په پښتو ژبه نظم کړي، قبر یې د پېښور په تهکال کې دی. د قایق الاخبار چې دا حادیثو بحث په کې راغلی او د حضرت محمد ﷺ د ژوند خبر یا احوال را اخیستي دي، له عربي نه پښتو ته منظومه ژباړه ده، کاتب یې عبیدالله نومېږي چې څو ابیات یې د کتاب په آخر کې لیدل کېږي، دغه دقایق الاخبار تر اوسه نه دی چاپ شوی(نجرابي، ۱۴۰۲ ل، ٦٦- ٦٨ مخونه).

اخوند کبیر چې په پښتو ډېر دیني آثار یې نظم کړي او له نورو ژبو څخه یې ترجمه هم کړې ده. د ده په منظومو ترجمه کړو او لیکلو آثارو کې ځینې حکایتي آثار هم شته، لکه د *تمیم انصاري قصه* او د *غل او قاضي قصه*. د ده د تمیم انصاري قصه په ۱۲۸٦هـ.ق کال په پېښور کې چاپ شوې ده او د غل او قاضي د قصې خطي نسخه د پېښور پوهنتون په کتابخانه کې شته. پر دې سربېره اخوند کبیر یوه *طوطي‌نامه* هم لري(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۵۷ مخ).

استاد هېوادمل (*د غل او قاضي قصه*) په باب لیکي چې د نوموړي کتاب خطي نسخه چې د اخوند کبیر متفرق منظومات هم په کې شامل دي، د پېښور پوهنتون په کتابخانه کې ساتله کېږي(هېوادمل، ۱۳٦۷ل – الف، ۷۷ مخ).

د ده ځینې نور آثار دا دي:

«*سیف الظفر*» هم د اخوند کبیر اثر بلل شوی دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸٦ل، ۱۱ مخ).

د اخون کبیر د اشعارو له څېړنې څخه څرګندیږي چې دی یو صوفي مشربه شاعر دی، ټول اشعار یې د مذهب د عقیدې او تصوف په باره کې په ساده او اسانه ژبه ویلي دي. د ده په اشعارو کې د ده علمي او دیني شخصیت په ښه ډول څرګندیږي. له دې کبله حافظ کبیر یو پیاوړی شرعي عالم او د پښتو یو روان شاعر ګڼل کېږي. د حافظ کبیر د شاعرۍ معنوي خوا په ظاهري خوا ډېره غالبه ده، نو ځکه په ادبي لحاظ د ده شعر د لویو استادانو په کتار کې نه راځي، مګر د کمیت له مخې ورته غښتلی او تکړه شاعر ویلی شو، ولې چې ډېر کتابونه یې لیکلي او په پښتو شاعرۍ کې یې خپل قوت او مینه دواړه ښودلي دي(رښتین، ۱۳۷۲ل، ۱۱۸ مخ).

د کلام بېلگه يې:

غافل ولې بې راى　　آخر تله دې له دې سراى
که ستا مينه وي له خداى　　هر نفس دا هسې واى
لا اله الا الله

توى وه د سترگو نم ته　　مؤخر هم مقدم ته
هر قدم هم په هر دم ته　　هسې وايي هر قدم ته
لا اله الا الله

هر نفس د تلو تکل کړه　　راشه يارَ نېک عمل کړه
هم په خداى توکل کړه　　هم دا ذکر د ځان مل کړه
لا اله الا الله

که په رو وي يا په زوره　　نور څه مه وايه اى روره
دا آواز وي لور د لوره　　خو دا ذکر وايه گوره
لا اله الا الله

هر گيا چې له زمين　　سر که پورته نازنين
که باور کوې آمين　　هسې شان ذکر کوين
لا اله الا الله

هسې شان چې څه اشجار دي　دوى مقر په دا اقرار دي
په توحيد د کردگار دي　　همېشه په اذکار دي
لا اله الا الله....(افغاني، ۱۹۶۳م، ۷۳- ۷۴ مخونه)

عبدالکريم د دولسمې هجري پېړۍ قصه‌ويونکى او مذهبي شاعر دى. د *تميم انصاري قصه* يې په ۱۱۵۸هـ.ق کال په پښتو مثنوي نظم کړې ده. دا د هغه دى:

په نامه عبدالکريم يم　　خاکپاى د هر فقير يم
زر سل اته پنځوس　　شوى وو د هجر اوس(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۲۲ مخ)

د افغانستان ملي آرشيف کې خوندي «قصه د تميم انصار» په اړه راغلي چې دغه پښتو منظوم داستان چې د سيد محمد نومي په لاس کتابت شوى، د پاڼو شمېر يې (۷۷) دى.

پیل: له امام جعفر صادقه روایت واوره صادقه....

پای: دوی ای شا آمین ظلل الله روی زمین(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۳۸ مخ)

پورته یادونه وشوه چې اخوند کبیر هم د تمیم انصاري قصه لري او عبدالکریم یې هم لري.

حافظ مرغزی چې په ادبي څېړنو کې یې په همدې نوم شهرت موندلی، اصلي نوم یې ګل محمد دی، په ۱۱۲۶هـ.ق کال د پښتونخوا د صوابۍ په مرغز نومي کلي کې زېږېدلی، وروسته د ديني علومو په زده‌کړې پسې پنجاب ته تللی او په سیالکوټ کې یې د علومو زده‌کړه کړې او بیا خپل پلرني ټاټوبي ته راغلی او په پېښور کې استوګن شوی وی. د نومیالي روحاني شخصیت د ځمکنو میا عمر د مریدانو په ډله کې شامل شوی او په نقشبندیه طریقه کې یې د هغه لاسنیوی کړی دی.

حافظ مرغزی سربېره پر دې چې پیاوړی دینی عالم و، د پښتو خوږ ژبی شاعر هم و. نوموړي ډېره موده د لوی احمد شاه بابا په لښکرو کې هم ټېره کړې او د هند په سوبو کې شامل او د بابا د پوره پاملرنې وړ شخصیت و، نو ځکه یې ورځخه د دغو سوبو او ویاړلو کارنامو په اړه د پښتو شاهنامې لیکلو هیله کړې ده. حافظ دا غوښتنه ترسره کړې او په ۱۱۶۷هـ.ق کال یې په پښتو نظم د احمدشاهي شاهنامې د لیکلو چارې بشپړې کړې وې. دا اثر په ۱۹۶۵م کال د پېښور پښتو اکاډمۍ له خوا د «*شاهنامه احمدشاه ابدالي*» په نامه چاپ شوی دی. د شاهنامې ناظم د احمدشاه بابا د سلطنت د لومړیو شپاړسو کلونو پېښې په خپله شاهنامه کې بیان کړې دي. په ادبي څېړنو کې جوته شوې چې د ژوند وروستي کلونه یې په پنجاب کې تېر کړي او تر ۱۱۹۰هـ.ق کال پورې یې ژوند یقیني دی. د شاهنامې څو بیتونه یې دا دي:

چې فرمان د شهریار و په زیبا ښکلی ګفتار و

چې حافظ دې شاهنامه که په جهان دې دا نامه که

شاهنامه دې که رنګین جوړ زېبا در ثمین(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸۹ل، ۲۹۸ مخ)

اخوند حافظ شېرمحمد د سید شکر الدین زوی ګیلاني سید دی. د دوی کورنۍ د ۱۱۵۰هـ.ق په شاوخوا کې د بنو بازار احمد خان ته راغلې ده. دی د ۱۲۱۴هـ.ق په شاوخوا کې همدلته مړ او ښخ شوی دی. د ديني علومو مولوي، عالم او محقق او خورا لویه کتابخانه یې درلوده چې «په څلوېښت ګزه اوږده کوټه کې له یو سر نه تر بل سر پورې څلور واړه طرفه، له فرش نه تر چت پورې کتابونه وو» چې د ده تر مرګ نه وروسته «درې ورځې سر په سر په اوښانو، خرو او کچرو بار د (کرم سیند) ته لاهو

کړلی شول». د شعر نمونه يې:

محمد رسول د دوو کونو سرور دی　　د اسلام د لارې څه عجب رهبر دی
کل نبيان زما د سترګو تور ليمه دي　　محمد رسول الله په کې بهتر دی
نبيان واړه ښايسته دي لکه ستوري　　محمد د عبدالله شمس و قمر دی
که دين د نورو مرسلانو شريعت و　　شريعت د محمد په کې اظهر دی
دين د نورو مرسلانو نهايت دی‌او د ده دين مې تر قيامته معتبر دی
د موسی عيسی دين يې منسوخ کړ　　د عظمت يې دغه هسې رنګ اثر دی

د حافظ شېرمحمد او حافظ مرغزي (د احمدشاهي شاهنامې د مؤلف) ترمنځ د نون قطني پر موضوع ليکلې مناظره شوې ده(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۸۷۹، ۸۸۰ مخونه).

گل محمد کاکړ د خپل عصر زاهد او عالم سړی و چې تر ۱۲۰۰هـ.ق وروسته يې په کندهار کې ژوند کاوه. دی په شرقي علومو، فقه، تصوف او اخلاقو کې د مطالعې خاوند و او يو منظوم کتاب يې په پښتو ليکلی دی چې «*شمس العابدين*» نومېږي. گل محمد په پښتو بدلې [غزليات] هم لري چې د «شمس العابدين» په پای کې يې ځينې ليکلی شوې دي. د ده د آثارو ټول قلمي او نادر دي او داسې ځنې ښکاريږي چې گل محمد متصوف او اخلاقي شاعر او ډېر د رحمان بابا پيرو دی. دا بيتونه د ده د شعر د نمونې په ډول وړاندې کېږي:

زما د سرو شونډو د ميو تمنا ده دا د　　زهرو ډک جامونه دي پر څه؟
ولې نه گورې دلبره دا څه حال دی؟　　زما سوي آوازونه نه دي پر څه؟
که شيدا نه يم دلبره راته وايه　　دا د اوښو دريابونه دي پر څه؟
گل محمد له هغه غمه نه خلاصيږي　　ستا لا نور سوي داغونه دي پر څه؟

(رښتين، ۱۳۹۱ل - الف، ۴۰۱ مخ)

رحمت داوی چې بشپړ نوم يې رحمت الله دی، د زوکړې دقيقه نېټه يې نه ده څرګنده، خو د ده د شعرونو له مطالعې ښکاري چې نوموړی به د احمدشاه بابا د واکمنۍ د پيل په کال (۱۱۶۰هـ. ق) يا تر هغه څه وروسته په ۱۱۵۷هـ.ق کال د کندهار په ښهر صفا کې زېږېدلی وي. د داوي له فکر او اشعارو څخه دا په ډاګه کېږي چې ده د خپل وخت دوديز علوم لوستي او ملا شوی و، ځکه چې د تلميح او استعارو په بڼه په خپلو اشعارو کې د ديني مسايلو يادونه کوي. همدارنګه يې د ديني زده‌کړو ترڅنګه

ښه ادبي مطالعه هم درلوده. د پښتو او دري ژبو شاعرانو او ويناوالو ديوانونه او آثار يې لوستي و. د رحمت داوي د شعرونو له مطالعې څخه دا هم څرګندېږي چې دی د رحمان بابا د ادبي مکتب پيرو و، د دې ترڅنګ رحمت داوي د هندي ادبي سبک د پښتو او دري اشعارو مطالعه هم کړې وه چې د دې سبک نازکخيالۍ يې هم په خپل شعر کې ځای کړې دي. د ده ژوند چې تر ۱۲۱۰هـ.ق کال پورې يقيني دی، تر اوسه يې لاندې آثار معلوم دي:

۱) *ديوان*: د ده ديوان څينې منتخبات همېش خليل په «ورکه خزانه» او حبيب الله رفيع په «زېرې کالنۍ» (۱۳۵۷ل) کې راوړې دي. همدارنګه يې په دې وروستيو کې د ديوان يوه برخه د همېش خليل په زيار چاپ شوې ده.

۲) *ليلی او مجنون*: دا اثر يې په ۱۲۱۰هـ.ق د نظامي ګنجوي له پارسي ليلی و مجنون څخه د مثنوي په کالب کې په پښتو ژبارلی چې د بيتونو شمېر يې ۵۰۰۰ ته رسيږي. دغه اثر د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز له خوا په ۱۳۵۸ل کال په عکسي ډول خپور شوی دی. د پښتو شعر بېلګه يې:

هغه دم چې يار اغيار و ته کاته — د غيرت سيخونه زما تر زړه خاته
نشته هيڅوک چې مې لږ څه تسلا کا — غبرګ لېمه مې په فراق کې وواته
زه کمبخت کړم خدای محروم د يار له وصله — ګڼه تل بلبل په ګل کا الواته

(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۰ل، ۵۶، ۵۷ مخونه)

د رحمت داوي د اشعارو له لوستو نه معلوميږي چې کلام يې ساده، روان او له خوږوالي سره سره سليس هم دی. ولې په شاعرانه رعاياتو، اصنافو او اوصافو سپور دی. شاعري يې اکثره د عشق او محبت ترجماني کوي، لکه:

يار که يو څله دُوي زلفې په شانه کا — عاشقان به له حيرته دېوانه کا
په خرام خرام که ورشي لکه شمع — واړه جمع د مجلس به پروانه کا
د سرو شونډو می که يو څله په نوش کا — زاهدان د صومعې په رندانه کا
چې يې هيڅ نظر په نام په ننګ نه وي — صد ساله[1] زاهد به هسې مستانه کا
په راتله د سپرلي ډېر خوشحاله کېږي — بلبل څکه په ژړا کې ترانه کا....

[1] په اثر کې «صاله» کښل شوی چې ناسم دی.

* * *

دواړه سترګې مې د يار په انتظار دي ځکه هسې تري د صبح در نثار دي
چې هيڅ چرې يې روغ زړه پرې ږښې نه دی دا کارونه د فلک کج رفتار دی
زه چې اووينم د خپل ټټر داغونه ګمان اوکړم زما په طور صد هزار دي
تنها نه يم زه فلک په زړه نتلی ډېر نتلي لکه زه يم بې شمار دي
غم دې نه کوي په عمر زما قسم دی چې مين شو پر نګار هغه نګار دی
زه وايم غم د مينې بډايي ده چې مين په دنيا شو هغه خوار دی
(خليل، ۱۹٦۰م، ۱۵۱، ۱۸۰ مخونه)

قنبر علي خان د اورکزی قبيلې د عبدالعزيزخېلو د څانګې د باقي‌خېلو په پښه کې د سرور خان کره د تېرا د مشهورې درې (دره مني‌خېل) په «کلايه» نومي کلي کې پيدا شوی و. ابتدايي زده‌کړه يې د خواوشا له عالمانو نه کړې وه. د زلميتوب په وخت د خپل عصر د مشهور صوفي او بزرګ سيد انورشاه صاحب د مريدی حلقه يې په غوږ کړه او تر آخر عمره د هغو په معتقدينو کې و. قنبر علي خان له يوه شاعر نه علاوه د خپل وخت صوفي، عالم او عامل هم و، د ژوند په وروستيو شپو ورځو کې ناروغه شو او د علاج لپاره پېښور ته لاړ. آخر د ۱۲۰۷هـ.ق کال د جمعې په شپه د رجب المرجب په ۱۱مه وفات شو او د چراغ‌بېګ په هديره کې دفن کړی شو (خليل، ۱۹٦۰م - الف، ۳۷۸، ۳۷۹ مخونه).

قنبر علي خان د اشعارو *ديوان* او د «*اشک قنبر*» په نامه د نوحو ځانګړی اثر لري. په دې دوهم کتاب کې يې د کربلا پېښې ډېرې سوزناکې راوړې دي. غزلې او نور اشعار يې خوږه او سوزناکه دي. د ده غزل او نور اشعار د هنر لوړه مايه او ځينې اشعار يې فکري ارزښتونه هم لري. د رحمان بابا د يوې غزلې په جواب کې د ويلې غزلې يو بيت يې دا دی:

کړی چې رحمان مومند سوال د دې غزل و دا ښکلی غزل مې په جواب راسره يووړ
(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۴۸ مخ)

کلام يې:

چې د دين شاهراه دې پريښوه ځې په پټه په باريک صراط به ځرنګ درومې جټه
د ګناه په درانه بار به درمانده شې په منزل چې د عمل ناقه شي لټه
د رجا ګشت د ماتم په اوښکو نم که په کوشش د زړه د خوف له ارهټه

په دنيا طاعت نجات د آخرت دی　　د دنيا دانه که کمه وي که غټه
کارخانه يې د انسان مهمان‌خانه کړه　　دسترخوان په نعمت پروت په څو څو پټه
لا کله به د ديدن ستوري ښکاره شي　　په طلب يې ستوري ستړي شوله نټه
د قنبر علي هر يو بيت سوزنده دی　　په گوګل کې يې زړه پروت لکه سکروټه

(قنبر علي خان. ۱۹۶۰م، ۱۸ مخ)

په دغه شعر کې انسان دې متوجه شوی چې د دين خوا ونيسي، که نه په پل صراط تېرېدل سخت کار دی.

عشقيه کلام يې بيا داسې دی:

درېغه راوړی يو خبر چا له دلداره　　چې مې خلاص کړي له منت د هغه ياره
زه د عشق غمونو ووېستم له عقله　　گفتگوی مې هرگز نه شي له هوښياره
اوښکې نه دي چې په مخ مې ښکاره کېږي　　دا خوناب راځي د خوږ زړه له پرهاره
نصيحت تعويذ مې څه ترې په غاړې　　د هجران په بستر پروت يم بې قراره
د عاشق مثال د گل دی که پوهېږې　　پرورش يې دی د مينې له ابشاره
که افسوس مې ستا د مخ په زړه کې نه وي　　د لاله سينه له څه نه ده داغداره
په هجران مې بينا سترګې نابينا شوې　　مګر بيا مومي بيا آب ستا له ديداره...

(قنبر علي خان. ۱۹۶۰م، ۳۶ مخ)

قنبر علي چې په ديني مسايلو پوه دی، په لاندينې کلام کې د قيامت د ورځې احوال بيانوي:

چې د عدل توره اوځي له غلافه　　ملک به خلاص که د ستم له اختلافه
زنګ د ظلم چې په زړه د جهان پروت دی　　په صيقل به د انصاف که سينه صافه
چې سراج د دين ظاهر په بيت الله شي　　مؤمنان به شي په جمع له اطرافه
ظالمان به سزا بيا مومي د ظلم　　مظلومان به سرفراز شي له انصافه
چې افتاب د امامت شعاع پيدا که　　درست جهان به نوراني که قاف تر قافه
د يمين اصحاب ښل که له شماله　　چې ساقي د نور جلوه که له اعرافه

د طوبا د ګلو هار به که تر غاړې — ګل حوران د مؤمنانو له ذفافه[1]
هر مقصود به د قنبر علي حاصل شي — چې ژړيږي د حسين له طوافه
خداونده! په حرکت د شاه حسين — شاه په مخکې د قنبر ګناه کړې معافه
(قنبر علي خان. ۱۹٦۰م، ٦۳- ٦۴ مخونه)

يو بل تصوفي کلام يې داسې دی:

که خبر شې د قاله له احترامه — د کاذب وينا به وګنې حرامه
بشارت په نبي من جاء بالصدق — صدقه به اشارت وي له امامه
د رسول کلام د حق له معرفت دی — د جاهل وينا من يحي العظام
د کامل خبره بند ده زړه په سر کې — چې مذکور که له صلوة و له صيامه
د کلام و حقيقت و ته يې نظر که — هسې نه چې بل ګومان وکړې ای خامه
د قنبر علي د زړه يقين حاصل شي — چې يې می نوش کړه د حقيقت له جامه
(قنبر علي خان. ۱۹٦۰م، ۷۴- ۷۵ مخونه)

د ده په اشعارو کې اخلاقي او تنبيهي مسايل او هم د عشق خوا خای شوي دي. همدا ده چې همېش خليل چې «ديوان قنبر علي خان» يې ترتيب او په ۱۹٦۰م کې چاپ کړی، ليکي چې قنبر علي خان په عشقي، اخلاقي او عرفاني اړخونو طبع ازمايي کړې ده، په کلام کې يې رنګيني هم شته، ځينې اشعار خو يې دومره اوچت دي چې سړی ورته حيران شي. ده په خپل ديوان کې ځای ځای د اهل بيتو په تعريف کې اشعار ويلي دي(خليل، ۱۹٦۰م – ج؛ ک، ل مخونه).

ملا يارمحمد د ملا شجاع زوی د ملا محمد اسلم لمسی او په ختې ترين دی. نوموړی د کندهار په خوشاب کې اوسېده. د زېرېدو نېټه يې څرګنده نه ده. ده د خپل وخت مروج ديني علوم لوستي و، په تېره بيا په فقهې او ميراث کې يې زياته مطالعه درلوده. نوموړی د پښتو، دري او عربي ژبو په ادبياتو کې هم د مطالعې خاوند و. د پښتو ژبې تکړه شاعر او د پښتو مثنوي په قالب کې يې د ديني مطالبو په بيانولو کې لوی لاس درلود. هغه پر دې سربېره چې په ديني علومو کې يې شاګردان درلودل او د تدريس چارې يې پر مخ بېولې، په شعر او شاعری کې يې هم شاګردان روزل، له دې ډلې څخه د

[1] دا به (زفاف) وي چې د واده معنا ښندي يا لکه چې وايي: شب زفاف يعني د واده شپه، خو (ذفاف) وژونکي زهر او چټک ته ويل کېږي.

بېلګې په توګه محمد نصیر د عبدالحکیم زوی یادولی شو چې د پښتو ژبې شاعر و.

د ملا یارمحمد د شعرونو ټولګه «*راحت العشاق*» نومیږي، لومړی ټوک یې ۱۲۶ مخونه لري چې د ده عشقي، تصوفي او ټولنیز شعرونه په کې راغلي دي. دوهم ټوک یې ۸۶ مخه دی او د اولیاوو د مناقبو رساله ده. په «فرهنګ زبان وادبیاتو پښتو» کې د دغه اثر نوم «راحت القلوب» لیکل شوی دی. د ملا یارمحمد د مړینې کره نېټه څرګنده نه ده، خو ژوند یې تر ۱۱۴۹هـ.ق کال پورې باوري دی.

د کلام بېلګه:

د خالق په ثنا خوله لره ګویا — هر بنده دی بنده‌ګي لره پیدا
نباتات (که) مایعات که جمادات دي — حیوانات (دي) که زمین دی که سما
(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۷ل، ۴۷۵ مخ)

«د افغانستان د ملي آرشیف پښتو خطي نسخې» اثر کې د ملا یارمحمد کندهاري د دیوان درې ټوکونه معرفي شوي دي.

د ملا یارمحمد دیوان تر دې دمه نه دی چاپ شوی، د دیوان درې خطي نسخې یې د ملي آرشیف په کتابتون کې خوندي دي چې دغه درې نسخې د یاد دیوان لومړی ټوک، دویم ټوک او درېیم ټوک دي. د متن بېلګه یې:

زخمي درون په زړه کې په کنار د خمارو یم ربنا — د ښکلي مخ په تمنا شپه ورځ په نارو یم ربنا
د عشق جوش خروش سرګردان لکه آسیا یم — په شان لکه منصور بند د زلفو پتارو یم ربنا
بې د مینې د خوبرویانو بل کمال هنر مې نشته — اورېدونکي په ګرېوان لکه باران پښتو یم ربنا
له حجاب مخ بیرون که ښکاره کې رنګین یار — د عشق له ډېره سوزه بیوه شان پسو تویم[؟؟] ربنا
آه فریاد مې د بلبل مداما سینه سوزان یم — په شان د عندلیب بلند ساز په نغمو یم ربنا

د لومړي ټوک د پای پارسي متن کې د ۱۳۳۹ کال او د دویم ټوک د پای متن کې د ۱۳۴۰ کال یادونه شوې ده.

د افغانستان د ملي آرشیف پښتو خطي نسخو کې د ملا یارمحمد منظوم اثر «*ضابط میراثنامه*» خوندي دی. پیل: وروسته له بسم الله: نن مې په خوله عجبه .....

پای: هم قریب مې و درطي کړ

د کتاب له پیل نه مخکې د (۴) پاڼو په منځ د همدې مؤلف شعرونه دي، باقي نور یې د میراثنامې بحث

دی او دا هغه کتاب دی، چې د میراث مسایل په کې شرحه شوي، تر اوسه نه دی چاپ شوی. د دغې نسخې د لا زیاتو پېژندلو لپاره د متن بېلګه دا ده:

شهنشاه د اسلام وروره غورِ کوه ما ته وګوره
زه پر تا باندې سلام کړم خوار صورت لره نېک نام کړم
پادشاهي دې پر قرار سه دښمنان دې خوار و زار سه

(نجرابي، ۱۴۰۲ ل، ۱۰۸- ۱۰۹، ۱۱۱، ۱۳۰ مخونه)

علي‌خان د پښتو ادب د دویمې یا کلاسیکې دورې پیاوړی، خوږژبی او نازکخیاله شاعر دی. دی د دولسمې پېړۍ د وروستي مهال شاعر، د پښتونخوا د چارسدې د هشنغر سیمې اوسېدونکی و او په مامنزو یا مهمنزو قبیلې پورې مربوط و. د ده د استوګنې ځای هشنغر ښودل شوی او بیا په خپل محبوب او یا ارادتمند پسې له خپلې سیمې څخه پېښور ته تللی، څه موده یې هلته تېره کړې او بیا بېرته خپلې سیمې او کلي ته راغلی، هلته اوسېدلی او د دیني علومو په تدریس بوخت شوی دی.

د دیوان له مطالعې څخه یې جوتیږي چې علي‌خان په دیني او ادبي علومو کې تر لوړې کچې زده‌کړه کړې او لوی دیني عالم، مفسر او فقهي و. ډېر دیني، فقهي او شرعي مطالب یې د شعر په خوږه او رنګینه ژبه بیان کړي دي چې د شاعر د علم او پوهې کچه ترې معلومیږي. علي‌خان د طریقت په لړ کې د پښتنو د مشهور شخصیت د څمکنو میاعمر د روحاني کورنۍ په ځانګړې توګه د هغه زوی نازکخیال شاعر محمدي صاحبزاده ته ډېر ارادتمند او د هغه د طریقت د لارې پیرو و. علي‌خان پیاوړی ادبي استعداد او لوړ ذوق درلود، د پښتو د نازکخیالۍ د ادبي مکتب له نومیالیو لارویانو څخه دی، پر خپلې مورنۍ ژبې پښتو سربېره یې په دري ژبه هم شعرونه ویلي دي.

پروفیسور سید محمد تقویم‌الحق کاکاخېل چې د علي‌خان دیوان یې ترتیب کړی او په ۱۹۵۱م کال د اداره اشاعت سرحد له خوا چاپ شوی، د علي‌خان ټوله شاعري په درې دورو وېشلې ده. لومړۍ دوره چې د ده د ځوانۍ شاعري ده، د محتوا او منځپانګې له پلوه د مینې له سوز او ګُداز نه ډکې خبرې لري، د مجازي مینې ډېر رنګونه او کیفیتونه په کې ښه په ځلېدو دي. دوهمه دوره یې هغه پراو دی چې شاعر له مجازي مینې مورِ او زړه یې سوړ شوی ښکاري او حقیقي مینې ته د مجاز په پل د تېرېدو هیله او هڅه کوي. د دې دورې د شعر ژبه یې ساده، خو له لوړ تخییل او سوز او ګداز نه ډکه ښکاري. درېیمه دوره یې د پاخه عمر شاعري ده چې شاعر د طریقت په لاره روان شوی، له مجازي مینې څخه حقیقي

مینې ته راغلی، د تصوف او عرفان پراوونه وهي. د دې دور په شاعرۍ کې یې دیني، اخلاقي او ټولنیز موضوعات، پندونه او نصیحتونه او نور مسایل ډېر تر سترګو کېږي. د شعر ژبه یې ډېره خوږه او پخه شوې، په شعرونو کې یې لوړ خیال او ژورې معناګانې غاړه غړۍ دي. د علي‌خان د مړینې کال هم په دقیق ډول نه دی معلوم، قبر یې د چارسدې د هشنغر د پرانګو په هدیره کې دی، په ډېرلیک یې د زوکړې کال ۱۱۵۰هـ.ق او د مړینې کال ۱۱۹۵هـ.ق لیکل شوی دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۲۰۴، ۲۰۵ مخونه).

د ده د زوکړې او مړینې نېټې په تیارو کې پرتې دي، خو د ځینو پوهانو په اند، د ده له اشعارو ښکاري چې دی په ځوانۍ کې مړ وي. خو آریانا حقپال وایي: «علي‌خان ډېر علم لري او په کلام کې یې ډول ډول علمونه څرګندیږي، دغه راز یې په هر بیت کې ځانګړی معنویت او هنریت، ښه نصیحتونه او داسې نورې چارې ټولې دومره اسانې نه دي چې سړی دې په دومره کم عمر کې ترلاسه کړي او ببرته دې نورو ته په دومره قوت سره د شعر په ژبه وړاندې کړي، ځکه خو زه وایم چې علي خان به د ډېرې ځوانۍ په عمر نه وي مړ شوی». علي خان د پښتو ژبې نامتو عالم، ادیب او روحاني، تصوفي شاعر دی چې ژوند یې له ډېرو کړاوونو ډک ښکاري(حقپال، ۱۳۸۶ل، ۱۳، ۱۷، ۳۳ مخونه). دی د پښتو ژبې ستر شاعر چې د کلاسیکې او معاصرې دورې ترمنځ د اتصال کړۍ ده. د هغه له دیوان څخه معلومیږی چې دی لوی عالم او ادیب دی، د دین ښه عالم دی، داسې برېښي چې د علومو تدریس یې هم کاوه، د تفسیر، حدیث، فقهې، صرف او نحوې، منطق، فلسفې هیأت او مناظرې په میدان کې یې پوره لاس درلوده. ده تر هر څه زیات هغه علم خوښاوه چې دیني هدایت په کې وي، اهل علمو ته سلام وایي، په ځانګړې توګه هغه عالمان چې د خدای ﷻ د هدایت پیروان وي:

اهل علمو ته سلام د علي خان دی　　خصوصاً بیا من یتبع الهدا

(حقپال، ۱۳۸۶ل، ۴، ۴۳ مخونه)

لاندې د هر علم په اړه د علي خان له دیوان څخه بېلګې را اخلو:

په قرآن‌کریم باندې پوهېدنه د هر چا د وس کار نه دی، په تېره بیا د هغه له تفسیر څخه په ځانګړو ځایونو کې کار اخیستل د بشپړ علم او پوهې پایله ده چې دا کار د علي‌خان په اشعارو کې په ډېره ښه توګه لیدل کېږي. دا یو حقیقت دی چې د یوه بشپړ آیت یا یوې برخې راوړل په خپل کلام کې له چا څخه د اورېدو یا اقتباس په صورت کې په دومره کچه نه شي کېدای، له دې نه په یقین سره ویلی شو

چې علي‌خان د قرآن په تفسیر او تشریح ډېر ښه پوهېده، د بېلګې په توګه د هغه لاندې څو بیتونه وړاندې کوو:

آخرت لوټ کړو علي خان سورو د هجر که یې څو په ځان پوکلو «لإیلاف»

علي خان چې «مع العسر یسرا» لولم زړه په دا به ښه کوم ولې تر کومه

«وابتغوا الیه الوسیله» را په یاد کړه راشه علي خانه ورته ګوره وسیلې

د یارۍ مزی به «لا انفصام لها» و که د ښکلیو له جانبه یې غبرګون وی

(علي خان، ۱۹۵۱م، ۱۰۶، ۱۲۰، ۱۵۲، ۱۵۶ مخونه)

په لومړۍ بېلګه کې له «لإیلاف» څخه د قریش سورت مراد دی. په دې بیت کې اضافي مؤکده تشبیه کارول شوې، (هجر) مشبه او (سورو) مشبه به ده چې له آره ترکیب د هجر سورو دی، سربېره پر دې د تلمیح صنعت هم په کې راوړل شوی چې هغه د قرآن کریم آیت (لإیلاف قریش) ته اشاره ده. په دویمه بېلګه کې «مع العسر یسرا» د (الانشراح= الم نشرح لک صدرک) سورت پنځم آیت ته اشاره ده چې معنا یې ده: له سختۍ سره آسانتیا شته. په دریمه بېلګه کې «وابتغوا الیه الوسیلة» د (المائدة) سورت ۳۵ آیت ته اشاره ده چې معنا یې ده: او د هغه په دربار کې د کامیابۍ وسیله ولټوئ. په څلورمه بېلګه کې د البقرة سورت ۲۵۶ آیت ته اشاره شوې ده(حقپال، ۱۳۸۶ل، ۴۴، ۴۵، ۴۶ مخونه).

علي خان د قرآن کریم او حدیثو په باب کاږي:

څه د نېکو همراهان دي یو قرآن دویم حدیث

چې و حق ته رهبران دي یو قرآن دویم حدیث

سپر د هرې خرخښې دي د هغې جهان توښې دي

هم ښیوې د دې جهان دي یو قرآن دویم حدیث

ستا د جهل رنځ به روغ کا تاریکي به دې فروغ کا

دواړه شمعې د عرفان دي یو قرآن دویم حدیث

هر سړی چې پرې عمل کا له ولیانو به ځان مل کا

تېغ په لاس د مسلمان دي یو قرآن دویم حدیث

تياره زړونه نوراني کا د دين خوار سړی غني کا
لوی رهبر د هر انسان دي يو قرآن دويم حديث(علي خان، ۱۹۵۱م، ۵۳ مخ)
په دې غزل کې د قرآن کريم او نبوي احاديثو ګټې بيان شوې دي چې دا څرګندونې علي خان د دين د لوړپوړو علماوو په کتار کې دروي.
بل ځای وايي:

په نعم الختن الحد کې غور کړه　　چې حديث په دې حديث که تم د لونو

د ﴿نِعْمَ الْخَتَنُ الْقَبْرُ﴾(البلدحي، ۱۳۵٦هـ) معنا داده چې ښه زوم قبر دی چې لور مړه شي غم يې غوخ شي(حقپال، ۱۳۸٦ل، ۴۸ مخ).
سربېره پر دې علي خان په خپلو شعرونو کې ډېر احاديث لفظًا يا يواځې مفهوم په تشريحي ډول راوړی دی.
علي خان د صرف او نحوې په برخه کې هم خپل مهارت څرګند کړی چې څو بېلګې يې په لاندې بيتونو کې را اخلو:

خلقو خو به وې چې پټ په فعل کې ضمير وي　　ما فعل جفا وليد څرګند ستا په ضمير کې

پېښې زيات خلات يم په مجلس کې د خوبانو　　زه لکه حرفونه د اليوم تنساها يم

ښه مې منظور نه شو په منظر د خوش منظرو　　لغوه مې عمل شو په مدخول د کافه ما يم

اضافت چې دې د مينې راته وشو　　ځای په ځای د غم صيغې شوې را مضافې(علي خان، ۱۹۵۱م، ۸۴، ۱۲۲، ۱۰٦ مخونه)

په پورتنيو بېلګو کې د فعل، ضمير، د اليوم تنساها حرفونه، ما (د نفي توری)، اضافت صيغې او مضاف صرفي او نحوي اصطلاحات او نښې نښانې دي.
په دويمه بېلګه کې علي خان وايي چې زه د خوبانو په مجلس کې داسې يم، لکه د عربي ژبې په تورو کې (اليوم تنساها). د عربي ژبې د قاعدې له مخې (اليوم تنساها) هغه توري دي چې له نورو نه ګوښه پاتې شوي دي او علي‌خان خپل ځان له دې تورو سره تشبيه کوي، څو توري چې يو ډول حکم ولري،

سره يوځای کېږي، يو لفظ يا يوه جمله ترې جوړېږي، ترڅو اسان او په حافظه کې پاتې شي(حقپال، ۱۳۸٦ل، ۴۹، ۵۰ مخونه).

د منطق د علم ځينې اصطلاحات د علي‌خان په اشعارو کې ليدل کېږي. د بېلګې په توګه:

عنوانات دي دا ابيات معنون حکم ښه بد ګوره د محمودل او د موضوع

(علي خان، ۱۹۵۱م، ۱۰۴ مخ)

د دې بيت په اړه پروفيسور ميا تقويم الحق کاکاخېل وايي چې (موضوع او محمول) منطقي اصطلاح ده چې په نحوه کې يې مبتدا او خبر بولي او حکم مبتدا ته خبر ثابتول دي. مطلب دا چې اشعار خو (عنوانات) دي او له معنا نه تعبير د اصل حکم ثابتول دي، نو که هغه ښه وي نو شعر هم ښه دی او که بد وي، شعر هم بد دی، په خپله په شعر کې څه خوبي يا بدي نشته.

بل ځای کاږي:

هر مراد دې وړم که نتيجه زما وصال شي پور په دواړه شرطه د صغرا او د کبرا يم

(علي خان، ۱۹۵۱م، ۱۲۳ مخ)

په دې بيت کې بيا هم د منطق موضوع راغلې ده. (صغری) او (کبری) دوه مهم اصطلاحات دي. په منطق کې هر دليل درې برخې لري. لومړی ته صغری او دويمې ته کبری وايي، درېيمه برخه يې پايله وي. که لومړی برخه (صغری) مثبته وي، نفي نه وي او دويمه برخه (کبری) عام حکم ولري. څه خاص حکم نه وي، نو پايله به يې سمه راوځي. لکه که مونږ ووايو چې علي‌خان شاعر دی او هر شاعر تخيل لري، په دې توګه علي‌خان تخيل لري. نو لومړی جمله صغری مثبته ده، دويمه جمله کبری عامه ده، نو نتيجه يې يقيناً سمه ده. د بيت مطلب دا شو چې زه د محبوب د حکم مثبت ځواب ورکوم او د هغه هر حکم وړم. د صغری او کبری دواړه شرطه اثبات او عموميت يعني ايجاب او کليت پوره کوم، ليکن بيا هم پايله (وصال) نه راوځي، يعني مثبته نه ده. په لنډه توګه ويلی شو چې محمول او موضوع، صغری او کبری د منطق کلمې دي، محمول او موضوع ته په نحوې کې مبتدا او خبر وايي.

د علي خان په اشعارو کې فلسفي کلمې هم شته. پر دې سربېره د ده د شعرونو له مطالعې څرګندېږي چې دی واقعاً لوی عالم وو، د ده ديوان د علمونو خزانه ده او د هر علم څرکونه په کې ليدل کېږي(حقپال، ۱۳۸٦ل، ۵۲، ۵۵ مخونه).

علي خان ډېر پوخ او خوږژبی شاعر دی. دی د اسلام له نظره شعر ويل روا ګڼي او وايي چې که

عقاید، فقه، سلوک او نور علمونه په شعر وویل شي، څه پروا نه لري؛ خو که دروغ، پوچې خبرې او نور قبایح په نثر هم وویل شي، نو هغه ښه نه دي، بلکې ناروا دي:

عالمان شعر په څه ګڼي ممنوع　　په قرآن کې ډېر لفظونه دي مسجوع
عین حسن د ثقاتو هم په دا کې　　ډېر ابیات له آن حضرته دي مسموع
عقاید فقه سلوک راوړه په نظم　　بلاغت رښتیا قصص ښه دي مقطوع
عجیبه مجاز صفت نظر قدرت ته　　له عفت سره حسن وي هم مشروع
عبث پوچ دروغ ویل وي که کنځل وي　　بې له نظمه هم قبیح وي په وقوع

د نوموړي غزل یو بل بیت کې وایي:

عذاب نه دی نه ثواب شعر خو ثوب دی　　ګاه یې اغوندي انسان ګاه یې سبوع

(علي خان، ۱۹۵۱م، ۱۰۴ مخ)

له پورته څخه دا هم څرګندیږي چې علي خان په ديني علومو ډېر زیات پوهېده. دی وایي: شعر د اسلام له نظره نه ثواب لري نه عذاب. د دین او ادب پوهان په دې نظر دي چې شعر ویل نه ګناه ده او نه ثواب، بلکې د شعر مفهوم ته ارزښت ورکوي چې ښه وینا، د نصیحت خبره یا د انسان د ګټې مسأله په کې ذکر شي، نو هرومرو ثواب لري او که بده وینا وي یا څوک بدې لارې ته رهنمایي کوي یا هم هسې د وخت ضیاع وي، نو حرام دی. همداراز هره وینا یا عمل چې نه ثواب ولري او نه عذاب، هغه مباح وي، نو د ده له نظره شعر مباح دی، ځکه چې نه ثواب لري او نه عذاب. پاتې شوه ښه وینا که په نظم وي یا نثر، ثواب لري، خو بده وینا که په نظم وي یا نثر عذاب ده(حقپال، ۱۳۸۶ل، ۵۷ مخ).

احمدشاه بابا د پښتو ژبې شاعر و او په همدې ژبه ترې یو *دیوان* پاتې دی چې د بیتونو شمېر یې دوه نیمو زرو ته رسیږي. موضوعات یې هم رنګین دي. یوه *الف‌نامه* یې هم په دیوان کې شته چې د ده د عرفاني مشرب نمایندګي کوي. د ده په دیوان کې تصوفي موضوعات، د عشق او مینې خبرې، اجتماعي او وطني مسایل او ديني مطالب پیدا کیږي. د ده د آثارو مطالعه ښکاروي چې احمدشاه بابا عالم او دانشمند سړی و او په پښتو او پارسي ژبو یې د شعر ویلو استعداد هم درلود. د ده په دیوان کې د ځینو ښو شعرونو ترڅنګه لږ ضعیف شعرونه هم شته، هنري مټره یې په منځني حد کې ده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۳۷ مخ).

احمدشاه بابا د دې ترڅنګ چې پیاوړی عالم، شاعر او د اوسني افغانستان پلار و، پر ديني او مذهبي

فکر سمبال شخصیت و او هم یې له دیني علماوو او اولیاوو سره ځانګړې علاقه او راشه درشه لرله. په دې اړه ګنډا سنګهـ لیکي: احمدشاه دینداره سړی او مذهبي فکر یې درلود. ده له ملایانو او ملنګانو (دروېشانو) سره په ډېر درنښت چلند کاوه او له صابرشاه سره د ده علاقه خو ښېخې هر چاته څرګنده ده. ده به تل له کابل څخه د پنجاب په لور لار کې د ځمکنیو له شیخ عمر او د لاهور او باټالا له والیانو سره په دغو ځایونو کې د تم‌کېدو په وخت کې لیدنې کتنې کولې. په ۱۷۶۰م کال کې ده په ډیلي کې هغه وخت د خواجه نظام الدین اولیا زیارت وکړ چې د جټانو په خلاف یې پوځي عملیات تر لاس لاندې ونیول. همداشان د پاني‌پت له تاریخي جګړې وروسته دی د بوعلي قلندر زیارت ته لاړ. په داسې حال کې چې ټول لویان او لوړرتبه مامورین به د ده په حضور کې په درنښت ولاړ وو، سیدانو او ملایانو ته د ناستې اجازه ورکړل شوې وه. په همدې ډول ده به هره پنجشنبه‌علماء او دینداره ملنګان د شپې ډوډۍ ته رابلل، له هغوی سره به په هغو علومو او مذهبي مسایلو غږېده چې دی ورسره ډېر علاقمند و. دی په خپله هم یو متقي او سپېڅلی شخص و او تل یې د یوه ولي د کرکټر لېوالتیا درلوده(سنګهـ، ۱۳٦٦ل، ۴۴۱- ۴۴۲ مخونه).

احمدشاه بابا د شاعرۍ ځانګړی سبک لري چې د خوشحال بابا د سبک لږ لږ نخښې هم په کې شته، د رحمان بابا د سبک ځینې ځانګړنې هم لري او د روښانیانو د سبک او حتی د ده د معاصر او د دربار د شاعر پیرمحمد کاکړ د سبک رنګ هم په کې شته. د احمدشاه بابا د شاعرۍ په تصوفي اړخ کې د رحمان بابا د سبک پر اغېز سربېره د روښاني تصوف رنګونه هم جوت او ښکار دي او خصوصاً شعر یې د شکل له اړخه تر خوشحال بابا او رحمان بابا ډېر زیات د روښاني شاعرانو رده پالي او تر ډېره حده د رحمان بابا د شعر له سلاست او د خوشحال بابا د شعر له صلابت نه راټیت دی او ان کله کله له فني ګډوډیو، د قافیې له ګنډو عیبونو سره مخامخ او د بحرونو او سېلابونو له کچ او میچ نه پرېوتی دی(رفیع، ۱۳۷۸ل، ي مخ). له همدې څرګندولو سره سم د نوموړي د کلام بېلګو تم کېږو چې لومړۍ یې له الله تعالی سره د راز و نیاز او دویمه یې د مینې او ګداز خبرې لري:

زه زاري کوم اله — شرمنده یم پر ګناه
ناامېد ستا له رحمته — تللي نه دي له درګاه
د تا فضل کرم ډېر دی — له عمل یم رو سیاه
په عمل مې باور نسته — کلمه به کړم پناه

چې و خپل عمل ته ګورم　　وایم کشکې وای ګیاه
نفس شیطان راسره مل دي　　نه سي یو کار عنالله

* * *

ای دلبره په طلب یم ستا د لب　　په رښتیا، نه په دروغ یم مذبذب
زه غریق د خپلو اوښیو په درباب یم　　بیا په دا دریاب کښې تړی لکه کب
عاشقیِ مې و زړه هسې صافي ورکړه　　بې صورت، صورت د یار وینم عجب
دا د عشق بازار د سر دی زما جانه　　ګوره نه دی دا بازار بیا په نسب

(احمدشاه بابا، ۱۳۷۸ل، ۸۱، ۱۵ مخونه)

پیرمحمد کاکړ مبتکر شاعر او د پښتو ادب تاریخ کې د نوي سبک مؤسس دی. د احمدشاهي عصر عالم، شاعر او مؤرخ و. د زېږېدو ځای یې د کاکړستان ږوب سیمه وه او د اعلیحضرت احمدشاه بابا په عصر کې له ږوب څخه کندهار ته راغی، د دربار علمي او ادبي رکن او د بابا د زوی شهزاده سلیمان استاد و. پیرمحمد کاکړ د عصر په متداوله علومو کې استاد، د افغانانو په تاریخ پوه او د تدریس او تألیف له اصولو سره بشپړ اشنا و. د هغه په تألیفاتو کې: «د شعر *دیوان*، *معرفة الافغاني*، *د پښتنو تاریخ*» یاد شوي دي. پیرمحمد په شعر کې د نوي سبک اساس کښېښود او تر هغه وروسته د سیمې ډېرو شاعرانو د هغه د سبک پیروي وکړه. هغه تر ۱۲۱۶هـ.ق کال پورې ژوندی و. دا د ده شعر دی:

موږ له هیواده تنها راغلي یو　　د بنِ طوطیان یو په دام وتلي یو
غمازه ظلم راباندې مه کړه　　د ښو یارانو فراق نتلي یو

(هیوادمل، ۱۳۵۶ل، ۹۷- ۹۸ مخونه)

پیرمحمد کاکړ د لوی احمدشاه بابا د کورنۍ استاد پاتې شوی دی. دی په اصل کې د بلوچستان د هند و باغ د یعقوبي نومي کلي اوسېدونکی و، په احمدشاهي عصر کې کندهار ته راوستل شو او بیا د احمدشاه بابا، تیمورشاه او د تیمورشاه د زامنو تر عصره هم ژوندی و.

پیرمحمد کاکړ د پښتو د ډېرو شاعرانو او د پښتو د ډېرو لویو عالمانو په قطار کې ولاړ سړی دی. د شعر یو ښکلی دیوان لري چې موضوعات یې رنګین دی. دیوان یې د هنري ارزښتونو له پلوه هم د مننې وړ دی، تصویرونه یې ښکلي، بلاغت او فصاحت یې لوړ معیار لري او شاعر د خپلو اشعارو د ښکلي کولو لپاره د کلماتو په انتخاب کې د ښه صلاحیت خاوند دی. ده پر پښتو سربېره په پارسي ژبه هم شعر

ویلی او د «*هدایة المبتدي*» په نامه کتاب په پارسي نثر لیکلی دی(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۳۹، ۲۴۰ مخونه).

د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون په خطي نسخو کې په (۱۶۲) شمېره خوندي «*د ملا پیر محمد قندهار دیوان*» چې ناظم یې ملا پیرمحمد قندهار دی، ۱۲۷ پاڼې لري. عشقي غزلونه، اخلاقي او عبرتي صبغه لري، د کتاب په پای کې څو پارسي عشقي غزلې هم لري. موجوده پیل یې:

حال د زړه به مې مدام ورته تحریر کړم　　که دلبر نه وای خبر له دې خواښت
محبوبا پر بستر واوښته لخوبه　　که هوسۍ وه د بهار پر کلو رغښت
(دوست، ۱۳۹۹ل، ۲۰۳، ۲۰۴ مخونه)

پیرمحمد د خپل عصر لوی عالم او مدرس و چې ډېر شاګردان یې لرل، یو شاګرد یې ابراهیم خان کاکړ و چې د ده دیوان یې په ۱۲۰۳هـ.ق کې نقل کړی دی. هغه وخت چې احمدشابه بابا وفات شو او شهزاده سلیمان د ده پر ځای په کندهار کې د افغانستان پر تخت کښېناست، نو پیرمحمد د «*معرفة الافغاني*» په نامه یو کتاب د پښتو د صرف او نحو او لغت او محاورې په باب د پښتو د شوقمندانو او زده‌کوونکو لپاره د اعلیحضرت سلیمان حضور ته تقدیم کړ چې د پاچا له لوري ښه ومنل شو او قدر یې وکړی شو. دا کتاب په افغانستان کې د پښتو لومړنۍ صرف و نحو بلل کېږي او په دې بیتونو شروع شوی دی:

پس له حمده له درووده　　شوه د شاه مدحه مقصوده
شاه سلیمان د حکم نمبر دی　　کل عالم پرې منور دی
د شاه تخت د سلیماني دی　　عجب لطف یزداني دی
زېب زینت دی شاه د علم　　سیال یې نشته څوک په حلم(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۲۷۴ مخ)

معرفة الافغاني لومړی وار په ۱۳۴۱هـ.ق کال په لاهور کې چاپ شو. لس بابه لري. لومړی باب په بیان کې د حمد باري تعالی، دویم باب په بیان کې د نعت د سید المرسلین، دریم باب په بیان د ذکر د اصحابو، څلورم باب په بیان کې د مدحې د شاهزاده سلیمان، پنځم باب په بیان کې د هغو الفاظو چې بادشاهان او حاکم او هسې نور اهل د دیوان یې ډېر استعمالوینه، شپږم باب په بیان کې د هغو الفاظو چې دا نور خلک یې وایي، اووم باب په بیان کې د خوراک او د څښنې او د اغوستنې، اتم باب په بیان کې د هغو الفاظو چې صحرانشینان او مالداران یې ډېر مستعملوینه او بریکار د دوی وي، نهم باب په

بیان کې د الفاظو چې ښکاریان یې مستعملوینه، لسم باب په بیان کې د لغاتو او اسماوو مفرده دی چې شپږ فصله لري؛ لومړی فصل په بیان کې د اسماوو د هغو ځیزونو چې په اسمان کې دي یا قریب و اسمان ته دي، دویم فصل په بیان کې د حیواناتو چې ماسېوا له مرغانو دي، درېیم فصل په بیان کې د مرغانو، څلورم فصل په بیان کې د باقي اشیاوو موجوده وو، پنځم فصل په بیان کې د رنځونو، شپږم فصل په بیان کې د حروفو تهجیو (نیازی، ۱۳۹۰ل، ۷۷، ۷۸ مخونه).

پیرمحمد د خپل عصر له لویو ادباوو او شعراوو څخه دی چې د کلام په سلاست، بلاغت او متانت کې یې له ټولو څخه نوم وړی دی. یو دیوان یې لومړی وار په ۱۳۰۳هـ.ق کال په ډهلي کې چاپ شوی دی(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۲۷٦ مخ).

ده د پښتو د ادب یو نوی مکتب پرانیستی او د ملي ژبې د شعر بدیع سبک یې موندلی دی چې تر ده وروسته نورو د ده د سبک پیروي هم کړې ده. د پیرمحمد سبک په سادګي، سلاست او متانت کې د خوشحال خان او رحمان مکتب ته ورته دی او په مضمون آفرینۍ او نزاکت او ادیبانه تلازماتو او استعاراتو کې د حمید او شیدا د مکتب ښېګڼې لري، ځکه نو د ده ویناوې خورا خوږې او له خونده ډکې دي او د ده ادبي مکتب د پښتو ادب غوره سبک منځ ته را ایستلی چې تر ده پخوا نه وو.

د پیرمحمد استادي او لوړ ادبي مقام تر ده وروسته نورو شاعرانو هم منلی دی، لکه:

د اخوند ملا پیرمحمد نظم که واورې — هر ګفتار یې دی په مثل د بلبل

(مرزا حنان کندهاری)

د کلام نمونه یې:

جوړ په شعر کې رحمان غیب اللسان دی په دا څېر نشته هر ګز د انسان شعر

تر مصرع یې جار شه لاړ د مرغلرو — په څه تار یې اوبخته کړ یکسان شعر

بل په شعر کې هم سیال د خوشحال خان نشته — که څه درشت دی دا د ده سخندان شعر

که څوک بحر مواج وایي ورته ښایي — په دیوان کې یې مونده شي هر شان شعر

هیڅ تر شعر د رحمان به ډېر کم نه وي — و منصف ته د خټک خوشحال خان شعر

لکه شعر دی د ده په پښتونخوا کې — بل به کم وي په دا وخت د افغان شعر

بیا رنګین شعر بیان عبدالقادر کړ — د اشرف دی هم تر ده نه سوزان شعر

پس له دویه موشګاف «عبدالحمید» دی — چې یې ووې ښه نازک نکته‌دان شعر

د میرزا شعر به جوړ و ولې درېغه — په وحشي الفاظو ده کړ ویران شعر
د مشهورو شاعرانو حال مې ووې — نه و ما وته د نورو عیان شعر
چې انصاف زه «پیرمحمد» کړم لافې نه کړم — په همعصرو کې مې خوښ دی د ځان شعر
(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۲۷۷، ۲۷۸ مخونه)

ملا فرح الدین نسلاً عرب او د احمدشاه بابا د عصر له مشهورو اولیاوو او علماوو څخه دی چې وروسته یې په کندهار کې په زهد او ارشاد ډېر شهرت موندلی دی. دی په ۱۱۵۹هـ.ق زېږېدلی او په ۱۲۴۱هـ.ق کال په کندهار کې په ۸۲ کلنۍ کې وفات شوی او د هرات بازار په جامع کې ښخ دی. ملا صاحب ډېر شاګردان او مریدان درلودل. دی په خپله د مشهور میا فقیرالله جلال آبادي مرید او ډېره مکاتبه او مراسله یې ورسره درلوده. د ده د علم او روحانیت لوړتیا له دې معلومیږي چې د کندهار یو لوی او نوموړی عالم او محقق حبیب الله اخندزاده د ده مخلص او شاګرد و. ملا فرح الدین اخوند د خپل عصر ادیب او مؤلف هم و، ده په اخلاقو او تصوف کې تألیفونه کړي دي چې یو منظوم کتاب یې «*تعداد الکبائر*» نومېږي او د پښتو لنډ مثنوي دی. په دې کتاب کې ده اسلامي اخلاق او عقاید بیان کړي او کبائر یې شمېرلي دي. دا کتاب تر دوه زره بیته پورې رسېږي.

ملا فرح الدین اخوند په کندهار کې د نقشبندیه طریقې لوی مرشد و، په پښتو ژبه اثر «تعداد الکبایر» یې چاپ شوی هم دی(هوتک، ۱۳۹۸ل، ۱۴ مخ).

«*مجموعه اشعار*» هغه مجموعه چې په دوهمه برخه کې یې د ملا فرح الدین قندهاري مناجات ثبت شوي دي. مخطوطه یې په ۱۴ ورقو کې په ۱۳۵۰هـ.ق کال کې خطاطي شوې ده(هیوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۸۷ مخ).

لاندې د ده د کلام نمونه ولولئ:

شفقت په مسلمان کړه — له هر چا سره احسان کړه
په ښادۍ د ده ښادمن شه — هم په غم د ده غمجن شه
چې د کفر موجبات دي — په دوه کونه مهلکات دي
له همه وو احتراز کړه — بیا دې شرعې ته اعزاز کړه
که افعال وي که اقوال وي — یا چې نور باقي احوال وي
محرم چې دا شرعي وي — پرې وارد دلیل قطعي وي

اجتناب ورځنې فرض دی واوره زما و تاته عرض دی(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۳۰۴، ۳۰۵ مخونه)

محمدګل کوهاټی د حاجي بهادر کوهاټي (۱۰۹۰هـ.ق کې مړ) د لور له طرفه نمسی و. په ۱۱٦۷هـ.ق کال ژوندی او فعال و. د نقشبندي طریقې پیرو و. نوموړی د دیني علومو عالم او په تصوف کې وارد و. په عربي او پارسي ژبو پوهېده. په پښتو کې منظوم او منثور آثار ترې پاتې دي. د ده د منظومو او منثورو رسالو یوه مجموعه د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کتابخونه کې خوندي ده چې دا څلور مستقلې رسالې هم په کې شاملې دي:

۱-*صوفي‌نامه*: دار ساله ۱۲۰ بیته ده. ناظم یې نوم داسې ښودلی دی:

څو بیتونه دي معلوم کړه ته یې وشماره مفهوم کړه
یو سل شل دي زیات هم نه دي برجسته دي مات هم نه دي
اسم یې زده کړه خانه کوم دی؟ هم صوفي‌نامه یې نوم دی
هر سالک چې دا په یاد کا دا فقیر په دعا ښاد کا

۲-*شمایل نامه*.

۳-*وعظ نامه*: ۷۹ بیته لري.

۴-*الف نامه*: په دې رساله کې د الفبې هر توری په یو بیت کې تشریح شوی دی، لکه:

الف، الله تل وایه زر به ورشي تر څایه
ب، بېزار له ما سوا شه طلبګار د لا اله شه(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۷۰۵، ۱۷۰٦ مخونه)

محمد ګل په دیني او مذهبي علومو کې مطالعه لرله، دا د ده دی:

محمدګل نقشبندي دی په کوهاټ کې ناست بندي دی
د حاجي بهادر فرزند دی ناست د یار په مینه بند دی
خپل مرشد له برکته خپل خدای خلاص کړ له محنته(هیوادمل، ۱۳٦۵ل، ۲۹٦ مخ)

عبدالباري ګدا دیني عالم او په غالب ګومان د کندهار اوسېدونکی او په دولسمه هجري پېړۍ کې یې ژوند کاوه. د «مختصر» په نوم کتاب یې په ۱۱٦۰هـ.ق په مثنوي ویلی دی. د ده له اشعارو څخه:

محض نوم د ګدا سم شو عبدالباري ورله رقم شو
سل و زر شپېته کلونه چې تېر شوي د نبي له هجر وونه

«مختصر» د دین د مسایلو او ارکانو په بیان کې مثنوي ده، تر اوسه چاپ نه ده، واحده خطي نسخه یې

په شلو ورقو کې د زلمي هېوادمل په خطي مجموعه کې ساتل کېږي(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۲۸۸، ۱۹۳ مخونه).

عبدالباري ګدا او محمد ګل کوهاټي داسې ناظمان او ليکوال دي چې په پښتو يې د ديني او شرعي احکامو په بيان او نورو علومو او هم د طب او حکمت په باب پښتو آثار ليکلي دي.

محمد گل د دولسمې هجري پېړۍ د حدودو صوفي شاعر و، په شعر کې «فقير» تخلص کوي، مخصوص سبک يې د پښتو مذهبي شعر کې رامنځته کړ، اکثره پښتو مذهبي شاعرانو دغه سبک وپاله او شاعري يې په کې وکړه. دا د هغه دی:

محمدګل فقير زهير دی　　همېشه د ځان په وير دی
ستا کرم ته په ځير ځير دی　　راکړه لاس د خدای دپاره(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۵۲ مخ)

د افغانستان ملي آرشيف کې د «*نعت شريف*» په نوم خطي نسخه چې ناظم يې محمد ګل بلل شوی دی. د پاڼو شمېر يې (له ۱۱۸ الف مخ نه تر ۱۲۲ ب پورې) دی. پيل يې داسې دی:

ته محبوب يې سبحاني يې　　په جهان کې بې ثاني يې
د ځښتن مهرباني يې　　راکړه لاس د خدای لپاره

پای: اللهم اغفرلی محمدګل فقير زهير دی(نجرابي، ۱۴۰۲ ل، ۲۰۲ مخ).

محمود رفيق د دولسمې هجري پېړۍ له ادیبانو او عالمانو څخه و، په هندي او عربي ژبو پوهېده، د قرآن عظيم *تجويد* يې له هندي څخه په پښتو مثنوي ژباړلی دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴٦۳ مخ).

د ده دا مثنوي په لنډ بحر دی، د ليک او نظم کولو وخت يې نه دی معلوم. فقط د يوې قلمي نسخې خط او کاغذ دا ښکاره کوي چې کتاب زوړ دی. د قلمي نسخې پر حاشيه يو مهر شته چې سنه يې (۱۱۸۵هـ.ق) ده، نو دا ځنې څرګندېږي چې محمود رفيق خپل کتاب تر دغه کال دمخه نظم کړی دی.

د ده کلام ډېر ادبي او بديعي مزايا نه لري، فقط د تجويد مسائل يې په ساده ژبه سره پېيلي دي. دی وايي چې ده دغه کتاب له هندي ژبې څخه په پښتو نظم کړی دی.

د کلام نمونه يې له تجويد څخه نعت او نور څو بيتونه دا دي:

که ته نه وای ای احمده　　هيڅ به نه وای بې احده
بې له تا به نور څه نه وو　　که ته نه وای نور به څه وو؟
نه آدم نه به حوا وه　　نه پيدا به دا دنيا وه....

اې طالبه نېکوکاره　　کړه دعا د خدای دپاره
که حیات پر دې دنیا یم　　هم محتاج دې د دعا یم
چې سفر کړم له دې سرایه　　مغفرت راباندې وایه
وایه خدایه پرې کرم کړې　　او «محمود رفیق» ببغم کړې(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۲۳۱، ۲۲۳ مخونه)

سعادت خان د دولسمې هجري پېړۍ ديني عالم او پښتون ناظم و چې د هند د بهار صوبې په رهتاس کې اوسېده، يوه موده په کابل او ننګرهار کې هم اوسېدلی دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۲۱۴ مخ). دی د عبدالرحمن زوی په اصل کې د هند د رهتاس علاقې دی. د لاهور محمد سعید صاحب چې د خپل عصر مشهور عالم و، شاګرد او د حضرت مسعود لاهوري مرید دی. د ده د کتاب له مطالعې معلومیږي چې په پارسي، هندي او پښتو ژبه پوهېده او «*کیمیای سعادت*» نومی کتاب يې په ۱۱۵۰هـ.ق کال په کابل کې په پښتو لنډ بحر منظوم کړی دی چې ديني او طبي مضامین لري، تر دوه زره بیتو پورې رسیږي. دا کتاب په دې شعر شروع کېږي:

ربه ستا ثنا به وایم　　څو ژوندی په دې دنیا یم
کل ثنا ده ستا لایقه　　اې د کل جهان خالقه
ګواهي کړم چې احد یې　　لم یلد و لم یولد یې
شریک نه لرې سبحانه　　مبرا یې له نقصانه(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۲٦۲ مخ)

د یادولو ده چې د میا فقیر الله جلال آبادي «اسماء الحسنی» په پورتنیو ورته بیتونو پیل شوې چې مخکې يې یادونه شوې ده.

اخون ګدا په دولسمه هجري پېړۍ کې د افغانستان عالم او شاعر و، د وخت متداوله علوم يې زده کړل او د نقشبندیه طریقې پیرو و. د «*نافع المسلمین*» په نوم کتاب يې په ديني علومو کې نظم کړی او په پای کې يې د هغه متفرق غزلیات اشعار ثبت دي(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۰۴ مخ).

اخوند ګدا چې نوم يې نه معلومیږي خو په ګدا مشهور دی، تر ۱۱۷۲هـ.ق کاله پورې يې ژوند یقیني دی. ګدا یو سني مسلمان دی چې نقشبندي میانګل شیخ سعادت خپل سلوکي مرشد بولي. ګدا عالم سړی و، له هره علمه يې څه نه څه برخه لرله، خصوصاً په ديني او مذهبي علوم کې يې خورا لاس درلود. دی د «نافع المسلمین» په نوم اثر لري، دا کتاب په اخوند ګدای مشهور دی او د پښتو په نظم په

متوسط بحر کې ليکل شوی دی. د شعر ډول يې مثنوي دی. دا کتاب تقريباً د ډېرو علومو مجموعه ده. عقايد، فقه، تفسير، حديث، تصوف او داسې د ځينو نورو علومو مسايل په کې شته او د پښتو په مذهبي او ديني کتابونو کې پوره اهميت لري. په دې کتاب کې ځای ځای يو نيم غزل هم پيدا کېږي او د هر غزل په آخر کې د ګدا تخلص هم وي(حبيبي، ۱۳۹۱ل، ۲۸۴ مخ).

«نافع المسلمين» په ۵۴ بابونو، د غزلياتو له يوې ضميمې او متفرقو منظومو چې مهم اجتماعي- ديني مسايل او حکايات په کې شامل دي، په ۳۱۲ مخونو کې په ۱۳۰۲هـ.ق کال په ډهلي کې چاپ شوی دی. ناظم يې د احمدشاهي عصر شاعر دی(هيوادمل، ۱۳٦۵ل، ۲۰۸ مخ).

په برېښ موزيم کې د اخوند ګدا اثر «نافع المسلمين» شته چې د تصوف د اصولو شرحه ده او د مثنوي په بڼه ليکل شوی دی، په ترک دنيا او ديني او اخلاقي مسألو غږيږي(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ٦۱ مخ).

د افغانستان د علومو اکاډمي په کتابتون کې د (۳۵۱) خوندي «نافع المسلمين» د نظمولو کال نامعلوم، خو د ليکلو کال يې ۱۲۰۳هـ.ق دی او ۲۵۹ پاڼې لري. ديني لارښوونې او اخلاقي مسايل، لکه حرص، قناعت، شکر، قهر، د اسلام سنتونه او نور په کې بيان شوي دي. پيل يې داسې دی:

زه هر ګوره له هجرانَ ډېر ازار شوم — پدا حال کښ له دردونو خبرداد شوم
د وصال خبرې اورم له صوفيانو — پکوګل کښ مې زړه تاو وخوري ناقرار شم
د دنيا ننکي مې وارِه پسې شاه کړي — پجهان کښ در ګدا ستا د ديدار شوم
(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱۵۷، ۱۵۸ مخونه)

په «نافع المسلمين» کې فقهي، شرعي او عقيدتي مسايل يې د آياتو، احاديثو او نورو شرعي احکامو په رڼا کې څېړلي دي. دا کتاب په وارو وارو چاپ شوی چې د ادبي تاريخ لپاره د استفادې ډېر وړ نه ګڼل کېږي، خو په همدې کتاب کې د شاعر ځينې ښکلې غزلې، رباعي، قصيده‌ډوله اشعار، ترجيع بند او نور پيدا کېږي. د ده شعر ځينې ښکلاوې او خاص ادبي نزاکتونه لري. دا لاندې رباعي يې د ښکلا او هنر له پلې ډېره لوړه ارزيابي کېدای شي:

د سحر چرګه خوږ شې په کومي — چې تا نارې کړې دلبر مې درومي
يو مې دلبر ځي بل رانه زړه وړي — زړه مې په دا وړي چې دلبر نومي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۷۹، ۱۸۰ مخونه)

داسې معلومیږي چې ګدا د غزلو مستقل *دیوان* هم لري او دا غزلې یې په «نافع المسلمین» کې له هغه ځایه چا رانقل کړې دي. د ګدا له څو غزلو څخه چې په «نافع المسلمین» کې راغلي دي، معلومیږي چې په متوسطه طبقه کې ښکلی شاعر دی. شعر یې مخصوص رنګ او خوند لري، کلام یې عشقي او صوفیانه دی(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۲۸۴ مخ).

د ګدا څو شعرونه

اوښکې وینې شي د مینې له دولته　　سترګې سپینې شي د مینې له دولته
په خوناب سپینې جامې د عاشقانو　　سرې رنګینې شي د مینې له دولته

نن و ماو ته د مینې بلا راغله　　لکه رعد د آسمان په تنا راغله
د جهان بلا همه سره یوځای شوې　　په بانه د عاشقي په ګدا راغله

(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۲۸۵ مخ)

علي اصغر د پښتو ژبې دیني ناظم دی، د حضرت سرور کاینات په اړه یې «*نورنامه*» یې په ۱۱۴۱هـ.ق کال له پارسي څخه په پښتو نظم کړې ده. دا د ده دی:

نورنامه اول په ژبه عربي وه　　فارسي خوانو بیان کړې په پارسي وه
دا درونه په پښتو ژبه پیللي　　له دې بحر نه علي اصغر ایستلي

(هیوادمل، ۱۳۶۵ل، ۲۷۸ مخ)

عبدالکریم کاکړ د کندهار له علماوو څخه و چې په شرقي علومو، فقهې او اخلاقو کې یې ښه لاس درلود او د پښتو ژبې په اوسط درجه شاعرانو کې و. عبدالکریم اخوندزاده په علمي کورنۍ کې روزل شوی او عالمانه ژوند یې درلود. په ۱۱۵۱هـ.ق کال زېږېدلی او په ۱۲۳۵هـ.ق د ۸۴ کالو په عمر په کندهار کې وفات شوی دی. د ده یو پښتو منظوم کتاب «*زین العلم*» د عربي «عین العلم» ترجمه ده چې قلمي نسخې یې میندلی کېږي. دا کتاب ده په ۱۲۳۴هـ.ق منظوم کړی دی. عبدالکریم پر دې کتاب سربېره نور غزلیات هم په پښتو لري. څو بیتونه یې دا دي:

د ښه خوی ګټه ده ډېره　　له ګنډلو تر اند تېره
هغه څوک چې اخلاقي وي　　د هغه نوم به باقي وي
که د چا اخلاق ښه نه وي　　د هغه به ژوند ښه نه وي

د اسلام خو ښه اخلاق دي چې په درست ادیانو طاق دي
د اسلام دین دی راغلی پیغمبر دی پاڅېدلی
چې پوره کړي ښه اخلاق او پر ځای کې دا میثاق
چې «اني بعثت» وروره «لاتمم» هم ګوره....(حبيبي، ۱۳۹۱ل، ۲۸۹، ۲۹۰ مخونه)

عبدالکريم کاکړ په ۱۲۳۵هـ.ق کال وفات شوی دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۲۳ مخ).

حافظ الپوري د رحمان بابا د سبک په پيروانو شاعرانو کې ګڼل کېږي. اصلي نوم يې معظم او د سوات د کانا غوربند په الپوري کې اوسېده. د ژوند زمانه يې د احمد شاهي عصر (۱۱٦۰- ۱۱۸٦هـ.ق) ښوول شوی چې د تيمورشاه دراني (۱۱۸٦- ۱۲۰۷هـ.ق) په زمانه کې هم ژوندی و. دی د شعر *ديوان* لري چې په کې د وعظونو او نصايحو پله درنه ده. د عشقي او عرفاني موضوعاتو د بيان خوا ته يې هم توجه کړې ده. د ده ديوان هنري او ژبنې ارزښتونه ډېر لري چې رواني او په ځينو برخو کې ساده‌ګي هم ورسره مله ده. د ديوان دوه بيتونه يې دا دي:

برګ مېوه مې توی شول د پيرۍ خزان لغړ کړم تېر، لکه برېښنا شوې د ځوانۍ اردي بهشته
سود سودا هغه کا چې بازار له بها يوسي ته چې دست خالي ځې په بازار کې وړيا څه شته
(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۸۰ مخ)

د ده ديوان پر پنځو برخو وېشل شوی دی: (توحيد او رسالت، حقيقي عشق، د اهل سلوک نصيحت، مجازي عشق، نصيحت عامه)(حبيبي، ۱۳۹۱ل، ۲۹۲ مخ).

«*شرح امنت بالله*» د معظم خان حافظ الپوري پښتو منظوم اثر دی چې خطي نسخه يې د پېښور پښتو اکېډيمۍ کې شته(رفيقي، ۲۰۲۲م، ۱۱۸ مخ).

همدغه «شرحه امنت بالله) له رشيد البيان سره يو ځای د «*رشيد البيان مع شرح امنت بالله*» په نوم په ډهلي کي په ٦۴ مخونو کې چاپ دی(رفيع، ۱۳۵٦ل، ۵۹٦ مخ).

ملا علم اپريدی د احمدشاه بابا د زمانې شاعر دی او په ۱۱٦۲هـ.ق کال کې دوه دېرش کلن و. د ده د شعرونو د مجموعې قلمي نسخه د ډهلي د ملي موزيم په کتابخانه کې شته او پوهاند رښتين ليدلې ده. دغه نسخه په ۱۱۷۷هـ.ق کې ليکل شوې ده او دوې برخې لري:

۱-*د کريما ترجمه*: په ۱۱٦۲هـ.ق کال په ۲۳ ورځو کې ليکل شوې ده. د سر بيتونه يې دا دي:

اې کريمه عنايت زما پر حال کړه ما ازاد په خپل د نوس له جال کړه

که زه هر څو د ګناه په شراب ډک يم　　په الطاف نظر زما په هر احوال کړه

(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۸۵۷ مخ)

«کريما» د پښتو مثنوي په قالب کې منظومه ترجمه ده چې سعدي ته منسوب مشهور اخلاقي او ديني اثر دی. پښتو يې د ملا علم اپريدي له خوا ترجمه شوې، چاپ نه ده، خطي نسخه يې په ۱۷ پاڼو کې د ملا علم له ديوان سره مل د ډهلي ملي موزيم کې ساتل کېږي(هيوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۶۳ مخ).

۲- د *علم ديوان*: دغه ديوان ۲۰۰ مخونه لري، په ۱۱۶۴هـ.ق کال ليکل شوی دی. ديوان په دې بيت پيليږي:

حمد ثنا به همېشه د کردګار کړم　　چې پيدا په دا جهان پروردګار کړم

د علم په شعرونو کې رواني او رنګيني ليدل کېږي او هر راز مضامين لري. د ملک حال، د ملکانو رواجونه، د اپريديو عادتونه يې بيان کړي دي. په يوه شعر کې وايي:

نه جهان نه به آسمان وي　　نه پېريان نه به انسان وي

نه کابل نه به خيبر وي　　نه مغول نه به سره زر وي

نه کټار نه به ګمبير وي　　نه غزا نه به اسير وي

نه باړه نه به تېرا وي　　نه به تل دښمن ګمراه وي

نه تل غم نه به علم وي　　اووه څېز اتم قلم وي(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۸۵۸ مخ)

«بياض ملا علم اپريدی» د ملا علم اپريدي د قصيدو، غزلياتو او حکايتي مثنوياتو مجموعه ده چې موضوعات يې اکثره اجتماعي، حکايتي او ديني دي. دوه عاشقانه غزلې هم په کې ليدل کېږي. چاپ نه دی او خطي نسخه يې په ۱۳ مخونو کې په ۱۱۷۷هـ.ق کال د زين الدين پښوري په خط ليکل شوې ده او د ډهلي په ملي موزيم کې ساتل کېږي(هيوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۹ مخ).

ملا علم اپريدي په خپلو اشعارو کې احمدشاهي پاچاهي ستايلې ده. اشعار يې رنګين او راز راز مطالب په کې بيان شوي دي. د يوې غزلې دوه بيته يې دا دي:

په ګلزار کې تماشا کړه د سرو ګلو　　د دنيا ساعت به نه وي تل تر تلو

د خزان له غمه ژاړي په بهار کې　　د فراق ناري چې اوري له بلبلو(هيوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۴۴ مخ)

د احمدشاه عصر ناظم **قابل اورکزی** يوه منظومه رساله په ۱۳۳۰هـ.ق کال په لاهور کې او يو ځل تر دې دمخه چاپ شوې ده چې «*ترسنامه*» نومېږي. قابل په خپل دې ديني اثر کې احمد شاه بابا ستايي

او د هغه توجه ځان او د تيرا نورو عالمانو ته اړوي او له دې نه چې د تيرا د عالمانو يو رنګه نمايندګي کوي، د ده خپل ولسي مقام هم څرګندیږي. وګورئ د کتاب د شلم باب په پای کې وايي:

دا کتاب قابل پښتو کړ — جوړ يې نظم په پښتو کړ
پادشاهي د احمد شاه ده — تر دکنه يې غوغا ده
په اسلام کې پهلوان دی — په کافرو مسلمان دی
د علماوو په عزت دی — هر ساعت يې په حرمت دی
احمدشاه وبخښې خدايه! — اې قادره رهنمايه....

څرنګه چې دا کتاب د احمد شاه بابا او د هغه د فتوحاتو په وخت کې ليکل شوی دی، نو څرنګه چې احمدشاه بابا په ۱۱۶۰هـ.ق پاچا شوی، نو د شاعر د ژوندانه او شاعرۍ او د دې کتاب د تألیف وخت هم دې دورې کې بولو.

شاعر د ترسنامې د مأخذ په باره کې ويلي دي:

منقول شوی زما وروره — غزالي دقايق نه ګوره

له دې نه څرګندیږي چې دغه رساله د امام غزالي له کوم اثر نه ترجمه شوې ده چې اغلباً (دقايق الاخبار) دی. د قابل اورکزي د چاپي ترسنامې په لومړي مخ کې د کتاب نوم داسې ثبت شوی دی: (ترجمه دقايق الاخبار مشهور به ترسنامه افغاني) او داسې پيليږي:

کل ثناء صفت د خدای دی — چې بادشاه ورته ګدای دی

(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۱۰۳۹، ۱۰۴۰، ۱۰۴۱، ۱۰۴۲ مخونه)

د قابل اورکزي «ترسنامه افغاني ترجمه دقايق الاخبار مع رساله مختصر قضاء عمومي» پېښور کې په ۱۳۱۲هـ.ق ۴۸ مخه چاپ ده، نور چاپونه هم لري(رفيع، ۱۳۵۶ل، ۱۹۰ مخ).

په هند کې د ديداکتيک پښتو آثارو د ليکوالو او ناظمانو په ډله کې ولاړ سړی **آصف ختک** دی چې د دولسمې پېړۍ په وروستيو لسيزو کې يې په ختيځ پنجاب کې پښتو آثار ليکلي او ترجمه کړي دي. دی د «*تحفة العقايد*» په نوم اثر لري چې کوچنۍ منظومه رساله ده او د ده د آثارو د مجموعې په اتو پاڼو کې راغلې ده. دا رساله په دې بيتونو پای ته رسېدلې ده:

دا ښخ دی د اسلام — بې له دې هر عمل خام
چې له دې نه لا چارې شوه — څکه صرفه مې خواري شوه

عربي شوه پښتو یاره — محض دغه نیت دپاره
مگر وي د چا په کار شي — له دې عالم برخوردار شي
تحفة العقاید یاره — مسمی شه له دې پاره
چې وصول د عقاید دي — په کې درج یې فواید دي
چې طالب ځینې کامګار شي — د آصف دې مددګار شي
په دعا دې که شاد — والدین ورسره یاد
دا هم واوره اې دلبنده — حق دې خلاص له لا بنده
که ښه درشي و زړه ته — ملامت مه کوه مړه ته
منظر کړه د خپل نظر — د نعمان فقه اکبر
قصیده امالي وروره — د هروي شرح پر ګوره
سن د چې سلیم دی — غین و قاف او صادر و جیم دی

له لوړو بیتونو څرګنده شوه چې آصف دا رساله له کوم عربي اثره پښتو منظومه ترجمه کړې ده. دا رساله ده په تاراګرهـ کې پر ۱۱۹۳هـ.ق کال ترجمه کړې ده. «تحفة العقاید» د مثنوي په قالب کې نظم شوی دی او مباحث یې په عقایدو پورې اړه لري. په دې مجموع کې تر دې دوو منظومو او منثورو رسالو سربېره د آصف دوې غزلې او یو مخمس هم شته. د ده نظمونه یې د معیار نه دي او عادي نظمونو کې حسابیږي.

آصف څټک یوه کوچنۍ منثوره او منظومه پښتو رساله لري چې ۴۴ پاڼې ده، ځینې ضمیمه پاڼې هم لري. دا خطي رساله په حقیقت کې د آصف د دوو رسالو مجموعه ده چې یوه منثوره او بله منظومه ده. په منثوره رساله «*نصیحت الملوک*» کې د منثورو عباراتو په منځ کې بیتونه راوړي دي، لکه:

که جفا او ظلم وکړه ظالمانو — سر ګذشته شول جهان ساز په مظلومانو...

(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۴۷، ۳۴۳ مخونه)

حافظ رحمت خان د شاه‌عالم بن محمود خان بن شهاب الدین خان بړیځي زوی و. د حافظ رحمت خان نیکونه د کندهار د ښوراوک اوسېدونکي وو، خو د حافظ مشر نیکه شیخ شهاب الدین له خپل ټاټوبي د اټک د سیمې لنګرکوټ ته راغی او د خلکو روحاني مرشد و. حافظ رحمت خان د بړېځو همدې روحاني کورنۍ ته منسوب شخص دی، د زوکړې کال یې ۱۱۲۰هـ.ق په افغانستان کې ښوول

شوی دی. ده له کوچنيتوبه د ديني علومو کتابونه لوستي او قرآن عظيم يې په دولس کلنۍ کې ختم کړی و. دی چې د بلوغ سن ته ورسېد، نو يې د آسونو له تجارت سره شوق پيدا شو او د همدې تجارت په نيت بدخشان ته ولاړ.

تر نواب علي محمد خان وروسته په عملي ډول نواب حافظ رحمت خان د روهيلکنډ حکمران و. پر هندوستان د لوی احمد شاه بابا د لښکرکښيو په دوران کې هم ده سهم درلود او د پانيپت په مشهوره جګړه کې هم شريک و. دی په يوه جنګ کې په ۱۱۸۸هـ.ق کال شهيد شو.

حافظ صاحب د خپلو دغو حربي، سياسي، اجتماعي او د شخصيت ګڼو نورو خواوو او اوصافو ترڅنګ فرهنګي شخصيت هم و. دی د پښتو او پارسي ژبو ليکوال او شاعر و، په پارسي ترې منثور او منظوم آثار او په پښتو ترې ځينې منظومات تر موږ رسېدلي دي. حافظ صاحب په ۱۱۸۴هـ.ق کال د «خلاصة الانساب» په نامه د پښتنو د انسانو په خصوص کې يو مختصر منثور کتاب په پارسي ژبه کښلی دی. د ده ځيني پارسي او پښتو منظومات هم ورسره مله دي(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۵۲۲، ۵۲۴، ۵۲۵، ۵۲۷ مخونه). د ده د پښتو منظومو درې ټوټې د «خلاصة الانساب» د دوو خطي نسخو په پای کې شته. يوه ټوته يې دا ده:

اې څښتنه کې مې لوی دي ګناهونه هم تېر دي تر حسابونه
ستا د عفوې در باب[1] لوی دی ډېر عصيانه پرې پاکيږي

د حافظ رحمت خان د «خلاصة الانساب» په مقدمه کې هم د کتاب مؤلف حافظ رحمت خان ځيني پښتو او پارسي بيتونه د استشهاد په توګه راوړي چې ځينې د نورو شاعرانو دي، مګر په همدې مقدمه کې يې د حضرت محمد ﷺ په مناقبو کې د ده د يوه ويل شوي پاړکي درې بنده هم خوندي کړي چې دا دي:

د حق څو پرې شفقت دی چې لولاک د ده خلعت دی
دی سبب د کل خلقت دی په هر ځای د حق حرمت دی
پرې دې وايي درست عالم
صلی الله عليه وسلم
عرش کرسي مزکه آسمان د ده کل دي ثناخوان

[1] ښايي «دریاب» وي.

نظر کړه د ده په شان　　چې پرې ګروهي عرش لړزان
د پائیزار شه مستحکم
صلی الله علیه وسلم
که نبیان که مرسلان دي　　د ده واړه نایبان دي
دی بادشاه دوی امیران دي　　که ملک که انس که جان دی
د ده دي حشم خدم
صلی الله علیه وسلم

پر دغو منظومو سربېره د ده یو مخمس او یو بل پاړکی د عبدالقادر خان ختک د دیوان د یوې خطي نسخې په پای کې خوندي دی چې د سر بیتونه یې دا دي:

دا کارونه په ازل شو　　چې پیدا پښتون مغل شو
په نیتونو ځبله ببل شو　　همېشه په جنګ جدل شو
بویه نې شته د زړه سند
بد نیتي یې ده له ځایه　　ځوک به څه که راته وایه
کړیتون دی له خدایه　　مغل ډېر کرده ګمایه
احسان نه وي پر څرګند(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۵۲۸، ۵۲۹ مخونه)

حافظ محمد (د ۱۲۰۰هـ.ق او ۱۲۰۷هـ.ق کلونو په منځ کې وفات) د فقهې علم د مشهور کتاب «مستخلص الحقایق شرح کنز الدقائق» د اشعارو شرحه لیکلې چې دا کتاب په ۱۲۸۸هـ.ق کال چاپ شوی دی. [د دې شرحې او لیکوال په معلومات د دې اثر په نثري برخه کې راغلي دي) د دې چاپ شوې نسخې تصحیح مولوي عین الله د عبدالله لغماني زوی کړې ده. د همدې عین الله تصحیح کړي کتاب په حاشیه باندې د هر یوه عربي شعر په پښتو ژبه کې منظومه ترجمه ده. دا پښتو شعرونه د چاپ شوي کتاب په حاشیه باندې بل چا په پښتو رسم الخط کې لیکلي دي، دا رباعیات ټول ۶۴ دي، لیکن د چاپ شوي کتاب په حاشیه باندې د قلمي رباعیاتو له ملاحظې نه دا اندازه نه شي لګېدای چې دا پښتو رباعیات د چا دي. یو برداشت دا دی چې دا **رباعیات** د حافظ محمد صاحب کلام دی چې څو یې دا دي:

ما احتیاج ډېر تاسو ته کړی هم زاري　　رد د بلاو کړې نشته ما سره تیاري

کړې مې ټول محتاج په دې بلاوو کې کريم ته　　نوم يې محمد دی کړې د ده منت باري

* * *

يا جزا د نېکو به دا رسي چې يې غواړم　　رب رحيم که رحم په ما وکړه ثنا وايم

يا سزا د بدو چې له امره يې واته دي　　خود په نارو سر و پښېمان په واويلا يم

* * *

نه پوهېږم ياره هغه وقت چې زه قصد وکړم　　زمکې وته وروره چې تدبير به ورته څه کړم

مراد خو مې نېکي ده ولې کوم له خيرو شره　　پېښ به شي و ماته وايه کوم عذر به زه کړم(افغاني، ۱۹۶۳م، ۹۱، ۹۲، ۹۳، ۹۴ مخونه)

له پورتنيو کرښو جوتيږي حافظ محمد چې ديني عالم و، پښتو ژبې ته يې خدمت کړی، هم يې د يوه فقي کتاب د اشعارو شرحه ليکلې او هم په پښتو ژبه شاعري کړې ده.

نورمحمد په قوم قريشي دی، د ملاکنډ ايجنسۍ د سوات راني‌زي د خانخېلو د تاپې نومي کلي اوسېدونکی و او د ميا محمد عمر څمکني شاګرد او مريد و. د دولسمې هجري صدۍ د وروستۍ حصې يو پښتون عالم، صوفي او شاعر دی. په «مناقب ميا عمر» کې يې په اړه راغلي: د علاقه مردان د کمال‌زو د هوتي نومي کلي فتح خان نومي يو قومي سردار راته دا بيان کړی دی چې په سوات کې يو معتبر ملا و، نورمحمد نوم يې و(افغاني، ۱۹۶۳م، ۱۰۵ مخ). نورمحمد لومړی د سوات په خانخېل تهانه کې اوسېده او بيا د خپل مرشد (ميا عمر) په ځای څمکنيو کې مېشت شو. صوفي شاعر دی، «قصيده برده» يې په پښتو مخمس ژباړلې ده(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۵۲۸ مخ). ده د «*قصيده برده*» منظومه شرحه په ۱۲۰۰هـ.ق کال کې په پښتو ژبه ليکلې ده. دا منظومه تر اوسه نه ده چاپ شوې. د دې کتاب يوه نمونه دا ده:

حمد لايق د پاک احد دی　　چې بې‌نيازه دی صمد دی

بيا درود په محمد دی　　هم په آل د ده بې حد دی

هر چه د ده په پې روان دی

محمد، اشرف په نامه وو نه　　بوصيري لقب يې شه نه

د نبي صفت يې که نه　　شه شهرت ته رسېده نه

دی بادشاه د ما د ځان دی....

نورمحمد پښتو دغه کړه　　په لس ورځې يې مسوده کړه
په کال پس بيا کره کړه　　و دعا ته يې اسره کړه
دغه عرض په قاريان دی
د کتاب په اخر کې ليکي:
دا کتاب د بوصيري وو　　غه په ژبه عربي وو
صفت کړی د نبي وو　　په فارسي شرح هندي وو
هم افغاني کړی ډېر افغان دی
د اخون دروېزه جانه　　ښه پوښتو ده مسلمانه
ده مؤثره زما خانه　　تر هر چا ده دا آسانه
خپل ثواب دپاره وايم دا مې توان دی....
چې له ښکلو کتاب تم شه　　په څلور د محرم شه
په جلوس د څوارلسم شه　　د تيمور شاه عالم شه
هم په دا تاريخ وفات شاه درّان دی
هم شارح هم يې کاتب شه　　نورمحمد د دې کاسب شه
په دعا د شاه طالب شه　　په خلف د شاه راغب شه

استوار يې په اقبال دور دوران دی(افغاني، ۱۹۶۳م، ۱۰۶، ۱۰۷، ۱۱۰ مخونه)

استاد هېوادمل کاږي، مولانا نورمحمد قريشي د ډېرو منظومو رسالو او منثورو رسالو مؤلف دی. د ځينو آثارو خطي نسخې يې د پېښور په ملي آرشيف کې شته. «*نور البيان*» يې د حضرت مياعمر او کورنۍ په احوالو او مناقبو کې ليکلی دی. د ميا عمر د مناقبو بل منظوم اثر هم لري. اروښاد اثر يې په «تېر هېر شاعران» کې احوال راوړي او د ده ځينې نور آثار يې هم ښوولي دي(اغېز، ۱۳۹۷ل ننګرهار، ۳۳ مخ).

غلام محمد غورياخېل مومند د دولسمې هجري پېړۍ له مثنوي ويونکو او ديني علماوو څخه و او د اخوند جمال غورياخېل مومند لمسی دی چې دی د خوشحال خان خټک معاصر و. غلام محمد د پېښور په پندو کې اوسېده، شعري طبعه يې لرله او له ديني علومو هم برخمن و، په ۱۱۵۹هـ.ق کال کې يې د «*نوبهار*» په نوم کتاب نظم کړی دی. دا د ده دی:

قدم مه ږده زيات تر حده　　زبان بند کړه له گفتاره

«نوبهار» په خفيف بحر کې مثنوي ده چې ديني احکام بيانوي او په اتو بابونو کې په ۱۱۵۹هـ.ق کال بشپړه شوې ده. چاپ نه ده، مخطوطه يې په پښور کې شته(هيوادمل، ۱۳٦۵ل، ۲۸۱، ۲۱۱ مخونه).

مسري خان ګګياني د پښتو او پارسي ژبو ديوان لرونکي شاعر ژوند او ادبي دوران له هغه دوران سره سمون لري چې په کندهار کې د هوتکو پاچاهي په زور او شور کې وه. دی د پښور د دواوې په کانګړه نومي ځای کې اوسېده. د خپل وخت لوی عالم او په مروجو علومو کې رسېدلی او د پښتو پارسي ژبو ښه شاعر و. د ده ژوند تر ۱۱۵۰هـ.ق کال پورې يقيني ګڼل شوی ده. *ديوان* يې په ۱۹۵۹م کال پېښور کې چاپ دی چې موضوعات يې عشقي، اخلاقي او عرفاني رنګ لري(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۱۱ مخ).

سيد انورشاه په ۱۱۴۷هـ.ق کال د بر محمدخېلو درې په «کلايه» کې پيدا شوی و. دا چې عالم، پرهېزګار او له سلوک نه واقف سړی و، همدغه وجه ده چې له ګدۍ نشينۍ نه وروسته ګڼ شمېر خلک د ده د مريدۍ په حلقه کې شامل شول. خپله علاقه کې په «ميا صاحب» مشهور دی، ژوند يې تر ۱۲۰۷هـ.ق کال پورې يقيني دی. قنبر علي خان چې د پښتو په مقدمينو شاعرانو کې څرګند حيثيت لري، د سيد انورشاه عقيدتمند او مريد و، بلکې د سيد انورشاه د تعليماتو پرې دومره زيات اثر شوی و چې خپل اخري ژوند يې ټول له هغه سره يوځای تېر کړی و. انورشاه له وفات نه پس «کلايه» ته مخامخ په «ليړي» مقام کې دفن کړی شو او ښه ګنبد پرې ولاړ دی. سيد انورشاه صاحب *ديوان* شاعر دی او داسې ويل کېږي چې مکمل ديوان يې سيد قاسم د ابراهيم‌زي تحصيل هنګو سره دی. د کلام نمونې يې:

که دعا لولې قاموس	راست به کړه نقش معکوس
که طلب د آخرت کړې	د دنيا پرېږده ناموس
مخلصان به هوسيږي	مخالف به شي مأيوس
د شمال اصحاب به ژاړي	هم شامي کوفي و طوس
د خپل ځان ساتنه بويه	منافق د دين جاسوس
ناقبول طاعت به څه کړې	که وي انبار د بوس
که قبول شي پرې نازېږه	که خروار وي که فلوس

انورشاه د زړه خلوت کړه　　تل د فکر د عروس

* * *

باده راشه د شیرین یار له وطنه　　عرض وکړه څه احوال یار له دیدنه
نوراني محبوب د مخ رنګ ګلابي دی　　ارغوان له شقائق زیات له سوسنه
چې صفت تعریف د ګل او د بلبل کا　　نسترین، سنبل، نسرین وه له سوسنه
فرهاد څه چارې په ځان باندې وې کړې　　خبر نه و له دې هسې دود شیونه
امتیاز یې و هر چا وته معلوم شي　　ګل پسر شي چې جدا شي له چمنه
عاشقانو په باب دا کار عنایت دی　　زه به ولې ملامت کړم له کوه کنه
د یار بوني د زلفو دا تأثیر پیدا کړه　　معطر خوشبویي د مشک شوه له ختنه
په جمال د خپل صورت چې نازېدلې　　تماشې که لون لون له دیدنه
انور ستا په تېغ شهید دی که باور کړې　　خوش خرم دی که سِنخ شوی بې کفنه

(خلیل، ۱۹۶۰م، ۲۰۷، ۲۰۸، ۲۱۱-۲۱۳ مخونه)

د انورشاه له شعرونو سِکاري چې کلام یې دیني او هم عشقي اړخونه لري.

میر عبدالله[1] د محمد زوی په قوم سواتی او مشهور په مولوي صاحب و. په ۱۱۳۰هـ.ق کال کې د نندهار په مشهور کلي جیسول کې پیدا شوی و، ابتدایي زده‌کړه یې د خپلې علاقې له عالمانو نه کړې وه. په زلمیتوب کې لاهور ته تللی او هلته یې په یوه درسګاه کې د مختلفو علومو حاصلولو په خاطر د خپل عمر شپاړس کلونه صرف کړل. تر تحصیل وروسته د لاهور په مشهور مقام کرشن‌نګر کې دېره شو او هلته د یوه هندو هلک لعل چندکپور د مجازي مینې حسن په دام بندي شو.

میر عبدالله خپل کلي جیسول ته راغی او د مینې د دغې انقلابي تبدیلۍ نتیجه دا شوه چې د مجاز رنګ حقیقت واخیست، د علاقې خلق یې عقیدتمن شول او د روحاني استفادې لپاره به هر وخت تړې خلق ګیرچاپېر ناست وو. میر عبدالله عالم سړی و او خصوصاً په تصوف علم کې مشهور و، د ۱۱۹۷هـ.ق د رجب په ۲۵مه وفات شوی دی. د ده د قلمي دیوان «*جام محبت*» یوه قلمي نسخه پښتو اکېډیمۍ پېښور کې شته. حقیقت دا دی چې د میر عبدالله کلام د حسن، عشق او احساساتو د بې

[1] د میر عبدالله یو غزل ډارمسټېر په «هاروبهار» کې شامل کړی دی، چې وروسته صدیق الله رښتین په «پښتانه شعراء» دویم ټوک کې نقل کړی، خو پورتنی میر عبدالله او د «هاروبهار» میر عبدالله بېل بېل دي.

الايشه تخيلاتو ترجماني سره سره د هغه د زخمي زړه مجروح کيفيت هم بيانوي او لوستونکي د هغه د زړه د سوخت او مينې د تاو اندازه د هغه له اشعارو نه په اسانه لګولی شي. عشقي کلام يې له سوز او درد او په ادبي تلازماتو ډک دی.

مير عبدالله د نوو خيالاتو په نوي طرز کې د بيانولو په وجه پښتو شاعري کې نښې اضافې کړې دي او د مضمون افرينی او نازکخيالی نښې نښې نمونې يې په ديوان کې موندلی کېږي(خليل، ۱۹۶۰م، ۱۰۵، ۱۰۷-۱۰۸، ۱۱۰ مخونه). د ده کلام:

د آهو په شان کتل کا تور چشمان ستا — لکه لعل د بدخشان ښکاري ليان ستا
دا له ګنج څخه چاپېره ښاماران دي — که چاپېر له سپين رخسار دي تور زلفان ستا
دا باران د پشکال په شېبو راغی — که فرياد سره ژړېږي عاشقان ستا
دا نافې د چين ماچين د ختن واړه — جمع شوي نن زما په باغ بوستان ستا
دا کباب دی چا په اور باندې نيولی — که قطره زما د زړه اوسوه نيران ستا
تر دې هسې آزادي نه چې زما ده — يم خوشحاله په کمند کې بنديوان ستا....

بله نمونه يې:

چې له لويو سره خاندي هلکان نن — بل څه نشته دا تأثير دی دوران نن
چې موسم د خزان راغی ظلم زور شه — ولاړ څکه باغ کې ګل څېرې ګرېوان نن
باد به کله په منګول کې څوک ايسار کا — څله کړمه په تېر وار باندې ارمان نن
خپل پردي مې په کار نه شو های افسوس دی — چې د غم په درياب ډوب کړمه هجران نن
خوشبويي د يار د زلفو بادخوره کړه — له نافې سره که راغلی څوک کاروان نن....

(خليل، ۱۹۶۰م، ۱۱۲، ۱۳۸ مخونه)

په «ورکه خزانه» کې د مير عبدالله د شعرونو ګڼې نمونې راغلي چې له زياترو يې له خپل محبوب څخه د فراق او بېلتون سوې ناړې معلوميږي.

احمد د پيرمحمد کاکړ د ادبي مکتب پيرو او د کندهار په روه‌آباد کې يې ژوند کاوه. د خپل وخت جيد عالم او برلاسی شاعر و، ژوند يې تر ۱۲۰۱هـ.ق کال پورې باوري دی. د هغو له آثارو د پښتو شعر «*ديوان*، *حقيقت الاسلام* او *علم و عمل*» ليدل شوي دي(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۱۲ مخ).

فدامحمد د دولسمې هجري پېړۍ د حدودو مذهبي شاعر و، د ننګرهار په کترغي سيمه کې زېږېدلی،

یوه موده په «توتو» کې اوسېدلی، هغه د دیني علومو عالم او مذهبي شاعر و. د آنحضرت ﷺ «*وفاتنامه*» یې منظومه تألیف کړې ده. په یوه شعر کې د ستر احمدشاه بابا او تیمورشاه یادونه کوي، د تیمورشاهي درانی د عصر تر لومړیو پورې ژوندی و. دا د هغه دی:

حای وطن ننګرهار دی　　سکونت مې توتو غار دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۶۷ مخ)

د افغانستان ملي آرشیف کې خوندي منظومه «وفاتنامه حضرت محمد ﷺ» د فدامحمد ننګرهاري ده، پیل او پای یې داسې دی:

محمد زموږ رسول دی　　د الله په در قبول دی

* * *

د پای له خوا یې پاڼې لوېدلي دي او هغه څه چې شته:

که دې ثواب پکار دی　　په سهر دې بیدار دی(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۲۰۵ مخ)

ملا محمد عمر ساکزي په ۱۱۱۳هـ.ق کال د لغمان په مرکز کې دې نړۍ سترګې غړولې دي. رواجي علوم یې د سیمې له مشهورو استادانو زده کړل، په فقه، تفسیر، عقایدو او خصوصاً په علم قرائت کې مطالعه او ښه پوهه لرله. د تجوید په علم کې یې یوه *رساله* په پښتو نظم کړې ده. ملا محمد عمر په ۱۲۰۵هـ.ق کال په کابل کې مړ شوی او د خواجه‌رواش په لمنه کې ښخ دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۵۰ مخ).

عبدالله خان افغاني نویس د کابل مجلې د لومړي کال په یوه ګڼه کې لیکلي دي: «ملا محمد عمر ساګزی په ۱۱۱۳هـ.ق کال د لغمان په دنده کې زېږېدلی او په ۱۲۰۵هـ.ق کال په کابل کې مړ او د خواجه‌رواش د غره په لمن کې ښخ دی، ده په پښتو ژبه یو تجوید کښلی دی چې تر اوسه پورې نه دی چاپ شوی». امین الله خان زمریالي د ۱۳۱۸ل کال کالنۍ په ۳۲۹ مخ کې راوړي دي: «تجوید: تألیف د ملا محمد عمر ساکزي د لغمان د دندې چاپ شوی نه دی». دغه مطلب په «فرهنګ زبان و ادبیات پښتو» کې هم شته، البته منظوم کلمه پرې زیاته شوې ده(رشاد، ۱۳۵۹ل، اووه پنځوس).

نصرالله کاکړ د دولسمې هجري پېړۍ له دانشمندانو او عالمانو څخه و چې د کندهار په توابعو کې اوسېده. د لشکرنویسۍ پېشه یې لرله. نصرالله په شعر کې د «مسکین» تخلص کاوه. د پارسي «نام حق» یې د «*فرحت الافغان*» په نوم په پښتو ژباړلی او پر هغه یې زیاتونې کړې دي. دا د هغه دی:

ما مسکین چې دا بیان کړ　　یکا یک مې در عیان کړ

گوندې خدای د دې له رویه خلاص کا ما له بده خویه(هېوادمل، ۱۳۵٦هـ.ش، ۵۱٦ مخ)

نور الدین د دولسمې پېړۍ عالم او شاعر و، په صوبه سرحد کې یې ژوند کاوه او د «*حنیفیه*» په نوم د فقهي مسایلو د شرحې کتاب یې په ۱۱۸۰هـ.ق کال نظم کړی دی. د «ادبي ستوري» مؤلف وایي چې هغه د خټک قبیلې شاعر و. دا د ده دی:

شکر شرحه شوه تیاره په توفیق له کردگاره

چې تمامه په خامه شوه مسمی په (حنیفیه) شوه

که زما ویل ترخه دي لایق ستا د طبعې نه دي(رفیع، ۱۳۵۹ل، ٦۱ مخ)

یاسین ابدالی د کریمداد ابدالي زوی د دولسمې هجري پېړۍ شاعر او عالم و. په جلدک کې اوسېده او په علم القراءة کې یې خاصه مطالعه لرله، د قرآن عظیم د *تجوید قواعد* یې په ۱۱۸٦هـ.ق کال په پښتو نظم ژباړلي دي. د ده له اشعارو څخه دا دي:

نوم زما که غواړې یاد یاسین زوی د کریمداد(هیوادمل، ۱۳٦۵ل، ۳۰۹ مخ)

رکن الدین چې د ژوند دور د ۱۷۳۰م او ۱۸۰۰م په کلونو کې یقیني ښکاري، د ده د یـوه اثـر «مناقـب غوث الاعظم» د اثر مهتمم احسان الله خان دانش لیکي چې د ۱۷۳۰ عشره یې د زېرېدو زیات محتاط تاریخ دی او د وفات کلونه یې د نولسمې پېړۍ له ړومبۍ عشرې نه اوړي او په دوهمـه کـې داخلېـږي. مزار یې د موسی زي په کلي کې دی. هغه چې په رکن عالم او فاضل میا صاحب هم مشهور و، موسـی زی او د پښتور د هزار خوانې ضلعې اوسېدونکی و. ده قرآن کریم حفظ کړی، د قادریې طریقې پیرو و او د دې سلسـلې د دوهـم سـجاده نشـین حضرـت سـید غـلام قادرشـاه څخـه یـې لاسـنیوی کـړی دی(احمدزی، ۱۳۹٦ل، ۱۵۳ مخ).

مولانا حافظ رکن عالم یا رکن الدین د منیر زوی د احمد شاهي عصر عالم دی، اصلي ټاتوبی یې د پښتور د هزارخانې کلی دی او د ده په خپله وینا په کوم خاص ګومان کټهیر ته ورغلی دی. دا احتمال شته چې د افضل خان عمرخېل د تفسیر افضلیه د بیاکتنې په مجالسو کې یې له نورو علماوو سره برخه اخیستې وي. دی له دې کارونو سره سره، ځینې نور آثار هم لري چې یو په کې د قادریه طریقې د سرلاري عبدالقادر جیلاني «*مناقب غوث الاعظم*» دي. دی په خپله د قادریه طریقې پیرو و. رکن الدین د تجوید لوی عالم و، د قرآن دوه تجویده یې نظم کړي دي، یو مفصل د «*حفظ الاداب*» په نامه (درې زره بیته) او بل مجمل چې «*قانون قرائت*» نومیږي. دا دواړه تجویدونه نظم دي، مګر د قانون

القرائت هغه متن چې له تفسیر افضلیه سره چاپ دی، وروستی قانون یې په نثر لیکل شوی دی(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۵۵۷، ۵۵۸ مخونه). په نثري برخه یې راتلونکي بحث کې خبره شوې ده.

د احمدشاه دورې دوه پښتو تجویدونه د پښتو، پارسي او عربي ژبو شاعر رکن عالم یا رکن الدین ابن منیر غوري‌خېل (غوري) کښلي دي. د ده لومړی او مفصل تجوید «حفظ الآداب» نومیږي. دا په پښتو ژبه تر ټولو مفصل او لوی تجوید و، درې زره بیته یې درلودل. د دې اثر د تألیف او تنظیم نېټه تر ۱۱۷۳هـ.ق کال دمخه ده. د ابن منیر دوهم مجمل تجوید «*قانون‌القرائت*» نومیږي چې په ۱۱۷۳هـ.ق کال یې تألیف او تنظیم کړی دی. د دغه کتاب په مقدمه کې یې داسې ویلي دي:

نور مې وشو څو موده پس اراده	چې که بل کتاب کړم جمعه لږ ساده
خو چې محض څو فایدې وي په کې جمعه	یعني متن یې کوته وي دا ده طمعه
خبر نه یې کوته لفظ لري دا نفعه	چې نسیان یې له خاطره شي رفعه
و شهرت ته رسېدلی دا مثال دی	که خبر شې خیر کلام ما قل دال دی....

په دې رساله کې هر بیان د قانون تر عنوان لاندې راځي.

د «حفظ الآداب» او «قانون قرائت» دواړه شکل مثنوي دي، په دولس څېزه وزن کې ویل شوي دي.

د قانون القرائت چاپ د دیارلسمې هجري سدۍ د اواخرو معلومیږي او د یوه بل یاداشت له مخې، دا اثر لومړی ځل په ۱۸۷۹م [غالباً ۱۲۹۶هـ.ق] کال چاپ شوی دی(رشاد، ۱۳۵۹ل، اولس، اتلس، نولس، شل، دوه ویشت، درویشت مخونه).

«د برېتانیا کتابتونونو کې د پښتو قلمي نسخو پېژندنه» اثر لیکوال لیکي چې د «حفظ الاداب» لاسي نسخه په ۱۷۷۲م (۱۱۸۶ق) په نسخي لیکدود لیکل شوې ده(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۶۴ مخ).

رکن الدین د نواب حافظ رحمت خان په جومات کې د ویلو دوو الفنامو ناظم هم دی. د ده هغه آثار چې یې په کتېږ کې نظم کړې دي، دوې الفنامې دي چې د دې الفنامو په ځینو برخو کې دا وړ یادونې لري:

ر، راهي شه رهبر غواړه	عمر تېر شه اکثره واړه
پرېږده ته د ګنګا غاړه	دغه ورد لازم کړه ژاړه

موجود نشته بې له ذاته

د رکن الدین یا رکن عالم الفنامې د ده د مناقب غوث الاعظم له هغې خطي نسخې سره ضمیمه راغلي

چې له حمدالله صحاف کندهاري سره خوندي دی. دا دواړه الفنامې د مخمس په کالب کې نظم شوې دي. لومړۍ الفنامه يې ۲۹ بنده ده او د الفبا هر توری يې د مخمس په يو بند کې تشريح کړی او په دې ډول شروع کېږي:

الف- اې په تخت د غرور ناست هيڅه نيڅه ډېر عالم د ستا له ظلمه بې درېڅه
دا جسه به دې آخر شي تيڅه ميڅه بې پروا مه شه د مرګ له تيره تېڅه
خدای دپاره ظلم مه کوه بې درېڅه

د ده دويمه الفنامه ۳۹ بندونه لري(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۵۵۶، ۵۵۷ مخونه).

«*مناقب غوث الاعظم*» په ۱۹۹۳م کې په پېښور کې د احسان الله خان دانش په اهتمام په (۴۶۵ + ۱۸) مخونو کې چاپ شوی دی. د اثر په ۳- ۱۰۰ مخونو کې د کتاب او د هغه ليکوال په اړه د يوې اردو ليکنې په شمول، څو بېلابېلې ضميمې راغلې دي. په لومړي مخ کې د کتاب د ليکلو نېټه داسې ليکل شوې ده: (تحرير شده ۱۱۷۳هجري بمطابق ۱۷۵۹-۶۰ عيسوي). د ليکوال نوم يې داسې ياد کړی دی: (حضرت مولانا ميا سيد رکن الدين قادري فاضلي الملقب په رکن عالم و المشهور په فاضل ميا صيب رحمة الله عليه و علی آبائه الکريم). ورپسې د کتاب مختصر فهرست راغلی دی. په ۱۳۹۵ل کال کې د «*التحفة القادرية*» په نوم اثر خپور شو چې زما د څېړنې مطابق معلومه شوه چې دا هماغه «مناقب غوث الاعظم» اثر دی چې په ېبل نوم چاپ شوی دی.

د دې کتاب يوه نسخه په ايرلنډ کې موجوده وه او په کابل کې د ترکيې د سفارت مستشار ډاکټر سنان ايلخان په زيار په همدې هېواد کې موندل شوې ده. دا چې نوموړي په کابل کې د ترکيې په سفارت کې د مستشار په توګه کار کاوه، د کتاب ژبه يې پېژندلې وه. دا اثر د ۱۳۹۵هـ.ش کال په نيمايي شاوخوا په کابل کې د ترکيې د پراختيايي ادارې «تېکا»(TIKA) له خوا چاپ شوی دی. دا اثر ۷۲۲ مخونه لري، د اثر ټول بيتونه (۷۸۷۰) ته رسېږي.

خو د دواړو نسخونو د بابونو او څنګزنو عنوانونو او هم د بيتونو په شکلي برخه کې لږ لږ بدلون ليدل کېږي. بله دا چې ويل کېږي د دې اثر يوه بله نسخه د بلوچستان په کوټه ښار کې له حمدالله صحاف سره هم شته(احمدزی، ۱۳۹۶ل، ۱۶۳، ۱۶۴، ۱۷۵ مخونه).

د دې اثر د کلام بېلګې:

شکر فضل د ښه خدای شه چه تمام عالم آرای شه

څه عجب تحفه کتاب دی — چه جامع د هر باب دی
پکښې جمع کارستان دی — دا کتاب عجب داستان دی
ښه صحي صادق اقوال دي — سر بسره د پیر احوال دي
.....
پظاهر دا حکایات دي — پمعنی کښې حدیثات دي
پظاهر د پیر صفت دی — پمعنی سني سنت دي
ښه تحفه طرفه کتاب دی — سر بسر د پیر آداب دي
د کتاب پای په دې بیتونو کوي:
دامنګیر چې د لوی پیر یم — بې پروا ابن منیر یم
که په ما څوک شک کوینه — ځما څه شي جک وهینه
که اول که مې آخر دی — که باطن که مې ظاهر دی
پیر زما عبدالقادر دی — القادر عبدالقادر دی
د علمانُ چې اجلاس وي — دا کتاب به یې په لاس وي
دا کتاب به یې په کار وي — هر چې بوی په کې د ناس وي
روګردان به ځنې نه وي — مګر هغه چې خناس وي

(ابن منیر، ۱۳۹۶ل، ۷۰۸، ۷۱۶ مخونه)

صالح محمد تاجیک د حاجي عبدالکریم زوی د دولسمې پیړۍ په اواخرو کې د بلوچستان په شاوخوا کې اوسېده او تر ۱۲۰۸هـ.ق کال پورې ژوندی و. د «*خیر الدوام*» په نوم کتاب یې په پښتو مثنوي تألیف کړی او د قرآن‌کریم د *لومړی او وروستی پارې منظوم تفسیر* یې کړی دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۲۷۳ مخ).

د صالح محمد تاجیک (زوکړه ۱۱۵۰ق شاوخوا) د قرآن کریم **د** *البقرة سورت* منظوم تفسیر هم لري چې په ۱۲۰۸هـ.ق کې یې پای ته رسولی. دا تفسیر په لنډه اته څپه‌ییزه مثنوي کښل شوی چې د ټولو بیتونو شمېر یې ۳ زرو ته رسېږي. استاد رفیع وایي: د تفسیر دا نسخه ده او هېوادمل په ۱۳۵۴ کال کندهار کې واخیسته او اوس د ده په کتابخانه کې ده(شاه جهان، ۲۰۰۰م، ۴۹ مخ).

ملا صالح محمد داوی د احمدشاهي عصر شاعر و او د دولسمې هجري پیړۍ په وروستیو کې د

کندهار په اخوند کلي کې اوسېده. د *دیوان* څښتن شاعر دی او د ملا حسن تلوکاني پیروي یې کړې ده(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۲۷۳ مخ).

ملا صالح محمد په قوم داوي دی. د کندهار له پرهېزګارو او ریاضت‌کښو علماوو څخه و، په خپل عصر کې متقي او د سلوک خاوند شخص و. د ده د سلوک مرشد میا نورمحمد دی چې په (پوټي میا) مشهور و. ملا صالح محمد د ملا حسن معاصر او د یوه منبع فیض اخیستونکي وو چې د احمدشاه بابا او تیمورشاه په عصر کې یې ژوند کاوه. ملا صالح محمد د خپل مرشد او رهنما پر ځای د (اخوند په کلي) کې اوسېده. دی ښه روانه طبع لري او اشعار یې غالباً د تلوکان د ملا حسن پر ډول او سبک دي. دی یو دیوان هم لري، اکثره په کې حمد او نعت بیان شوی دی. د کلام نمونه یې دا ده:

کشکې زه نن د دلبر تر روضه جار سوای دغه پسه یې بیا خاورې د دربار سوای

په باڼو مې کړای جارو د حرم غولی په ژړا مې اوپاشي در او دېوار سوای

طوافونه مې مدام پر پنجرو کړای د بلبل په شان د شوقه په چغر سوای

(رښتین، ۱۳۹۱ل - الف، ۳۷۳ مخ)

د ده اشعار خاص سوز او ګُداز لري.

شمس الدین کاکړ د کندهار په قلیچ‌آباد کې زېږېدلی، خو د ځینو ستونزو له امله یې په ځوانۍ کې خپل کور او کلی پریښی او د هندوستان په بېلابېلو سیمو (لاهور، پنچاب، کشمیر) کې اوسېدلی دی. نوموړی د هېواد پرېښودل خپله ناکامه مینه او د وخت د واکمنانو ناخوالې ګڼي. د کاکړ له *دیوان* څخه معلومیږي چې نوموړي د خپل وخت دودیز علوم، لکه تفسیر، حدیث، صرف، نحو، فقه او په څنګ کې یې ځینې پارسي آثار، لکه بوستان او ګلستان لوستي دي. د ده د زوکړې کال ۱۱۸۰هـ.ق اټکل شوی دی. نوموړی د خپل دیوان دوهم دفتر په ۱۲۳۸هـ.ق کال پای ته رسولی دی. له ځینو بیتونو یې ښکاري چې دی د عمر په وروستیو کې بېرته خپلې سیمې ته راغلی دی. دی په شعر کې په عامه توګه د پیرمحمد کاکړ پیرو دی خو سربېره پر دې د پښتو ژبې د زیاترو پخوانیو شاعرانو په سبک یې هم شعرونه ویلي دي. دیوان یې لومړی ځل په ۱۳۳۳هـ.ش کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی چې مخونه یې ۱٦۹ او د بیتونو شمېر یې ۵۰۷۵ ته رسیږي(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۰ل، ۷۱۷ مخ).

«د شمس الدین کاکړ دیوان» د نصرالله ناصر او بسم الله حقمل په سریزه او ویې پانګې سره په ۱۳۸۴ل کال په ۱۷۸ مخونو کې بیا چاپ شوی دی. د دیوان په سریزه کې د «پښتانه شعرا» په حواله «سراج

الموتی» د ده اثر لیکل شوی چې دا منسوبتیا ناسمه ده. دغه اثر د شمس الدین غلجی دی.

د کلام بېلګې یې:

چې د نوم د نېکي نه شو په جهان لوړ — څه فایده که دې په خټو دی ایوان لوړ
خاموشي د هر دانا ورباندې خاندي — په مجلس کې چې نادان کوي کلام لوړ
که مطلب دې بلنده ده لکه سروه — هر سړی په مرتبه ګڼه تر ځان لوړ
لویي نه ښایي پر څنګ د اهل دلو — یو قدم په جوار مه ږده د قرآن لوړ(کاکړ، ۱۳۸۴ل، ۴۸ مخ)

په دې شعر کې انسان د نېکي کولو خواته متوجه شوی، بله دا چې که په کوم مجلس کې ناپوه غږېږي، نو پوه شخص خاموشي اختیاروي، خو دا هم یادوي چې هیڅاته نه ښایي چې تکبر او لویي وکړي.

ربه زه دې په څه غم کې مبتلا کړم — ګرفتاره دې د نفس په هوا کړم
ظالم نفس دې له ما سره همرا کړ — استوګنی دې په څنګ کې د بلا کړم
پیشه وي مې و پلا ته تر ځان وړاندې — بیا په لاس دې د هغه ږانده عصا کړم
صبح و شام عیش و عشرت راڅخه غواړي — په دغه عیش و عشرت کې یې بیدیا کړم
په دوستي کې دې څوک هسې په چا نه کا — لکه زه چې یې په درست جهان رسوا کړم

(کاکړ، ۱۳۸۴ل، ۸۴ مخ)

په دې بیتونو کې د نفس له خواهشاتو سرتېکول شوی چې له املې یې دی په بېلابېلو بلاګانو اخته کړی دی.

د ده دیوان له عاشقانه او د مینې سوز و ګداز مالامال دی، وایي:

هسې خوښ یم د دلبر په دشنامونو — لکه خوښ وي څوک د چا په انعامونو
تر هغه قاصد بل سل ځله قربان شم — چې راوړي زما له یاره سلامونه
د وصال عمر یې برق راباندې تېر شو — په تلوار راڅخه ځي په لوی ګامونه
یار به نه ورکړ تقصیر د راستولو — ولې نه رسي بوسه په پیغامونو
د مقصود لوری یې هیڅ موندلی نه شم — که هر څو ورپسې زه کړم ناکامونه

(کاکړ، ۱۳۸۴ل، ۱۲۵ مخ)

ملک داد غرشین د ملا آدین زوی د سړبني پښتنو غرشین قبیلې څخه و، په کندهار کې اوسېد او د

۱۱۵۰هـ.ق کال په حدودو کې د بلوچستان قلات ته لاړ او هملته مېشت شو. په پښتو، پارسي، بلوچي او براهوي ژبو يې ليکل کول او شعرونه ويل، يواځې په براهوي ژبه ديني منظومه *رساله* (۱۱۷٦هـ. ق کال تأليف) يې د ژوند له ګردابونو خوندي پاتې ده(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۸٦ مخ).

محمد فهيم د دلدار الدين زوی په دولسمه هجري پېړۍ کې د افغانستان له دانشمندانو، فضلاوو او اديبانو څخه و، په طريقت کې د نقشبنديه طريقې پابند و او په ديني علومو کې يې مطالعه درلوده. د حضرت محمد ﷺ «*نورنامه*» يې په ۱۱۴۹هـ.ق کال منظومه تأليف کړې ده(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۵۲ مخ). محمد فهيم د اخوند دروېزه له مکتبه‌فکر سره تعلق لري(افغاني، ۱۹٦۳م، ۵۹ مخ).

د محمد فهيم دغه زړه منظومه رساله «نورنامه» چې په ۱۲۹۸هـ.ق کال په هندوستان کې خپره شوې، د استاد رفيع لاس ته ورغلې ده. که څه هم په پښتو کې نورې «نورنامې» هم شته خو د پښتو د نورو شاعرانو له خوا ترجمه شوې دي چې له هغه ډلې دوه نورنامې له استاد رفيع سره شته چې لومړی «نورنامه» د غلام‌نوي له خوا پښتو شوې او بله نورنامه د جان‌محمد نومي له خوا پښتو شوې ده؛ خو کومه «نورنامه» چې د شاعر محمد فهيم ليکلې ده، هغه په بل شکل او بېل طرز ده.

که څه هم د محمد فهيم د ژوند زمانه نوره نه ده معلومه خو ده خپله نورنامه د ۱۱۴۹هـ.ق کال د عاشورا په ورځ (د محرم لسمه) پښتو کړې ده. له يوه بيت څخه د ده د زېږېدو وخت د دولسمې پېړۍ اوايل اټکلېدای شي، خو د مړيني په باب يې څه معلومات نشته. پورتنۍ دوې نورنامې د قصيدې په توګه ترجمه شوي او د محمد فهيم «نورنامه» په لنډه مثنوي ژباړل شوې ده. همداراز دا هم بايد ووايو چې د غلام نوي «نورنامه» له يوې منبع او د جان محمد او محمد فهيم نورنامې له بلې منبع څخه پښتو شوې دي.

د محمد فهيم او جان‌محمد نورنامې له يوې منبع څخه پښتو شوي او دواړو په بېلو بېلو الفاظو يو مطلب ادا کړی خو بيا هم د دواړو تمهيدونه بېل او په ډېرو ځايو کې نور اختلافات او توپيرونه هم لري چې دا اختلافونه يا ښايي له اصل څخه منځ ته راغلي وي، يعني کوم اصل چې د جان‌محمد لاس ته ورغلی او نورنامه يې ترې پښتو کړې، هغه يو شان او کوم اصل چې د محمد فهيم لاس ته ورغلی، هغه بل شان وي او يا څرنګه چې د محمد فهيم ديني معلومات زيات وو او په دې برخه کې د استادۍ درجې ته رسېدلی و، نو ښايي چې په ځينو ځايو کې يې نورو موثوقو مأخذونو ته هم مراجعه کړې وي چې دا به د دواړو نورنامو د اختلاف سبب شوی وي. همداراز محمد فهيم يوه لويه سريزه د حمد په نامه او بله

برخه يې په پای کې د نعت په نامه زياته کړې، په دې ترتيب د ده ترجمه د يوې تتبع حيثيت هم پيدا کوي. د ده د نورنامې بيتونه له اوەنيم سوو بيتونو زيات دي او په ډېره خوږه پښتو يې ويلي چې پيل يې داسې دی:

تل ثنا به د رب وايم　　څو ژوندی په دا دنيا يم
توفيق راکړې زما ربه　　په ثنا مې سر کړه ژبه
دا سنګين زړه زما پاره کړه　　خپل جمال ترې راښکاره کړه
اور د مينې په ما بل کړه　　په دا اور کې مې جلبل کړه
ربه زړه زما طوطا کړه　　اموخته يې په ثنا کړه....

بله نمونه يې:

هر اشياء چې څه پيدا دي　　په صفت د حق ګويا دي
که هر څو لطيف عجب دی　　دا کلام دلته عجب دی
په ارشاد کې دا رنګ وايي　　چې هر حرف د قرآن ستايي
دا کلام دلته فائق دی　　پرې کلام د حق ناطق دی

(رفيع، ۱۳۵۳ل، ۸۸- ۸۹، ۹۰، ۹۱ مخونه)

د محمد فهيم په دې کتاب کې د اسلامي علومو د علم عقائد د دوو مشهورو درسي کتابونو «حاشية الخيالي على شرح العقائد» او «شرح مواقف» حواله هم راغلې ده. له دې نه معلوميږي چې دی د معقولو او منقولو دواړو علمونو عالم تېر شوی، هغه شعرونه دا دي:

بل روايت دا رنګ وايه شي　　له کتاب آروېده شي
په خيالي کې يې اوګوره　　نقل دارنګ دی اې روره
تېرسو ديارلس مرسل دي　　په همه وو کې افضل دی

په شرح مواقف کې مې ليدلی په پښتو مې دې ترې ښکلی(افغاني، ۱۹۶۳م، ٦۲ مخ)

معلوميږي چې محمد فهيم په ديني برخه کې رسېدلی شخص دی او له همدې امله يې کومه نورنامه چې ژباړلې، د خپلې ديني مطالعې په نتيجه کې يې مطالب تر نورو نورنامو زيات کړي دي.

دا نورنامه په ۱۲۹۸هـ.ق چاپ شوې هم ده(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱٦۱ مخ). دغه راز د محمد فهيم، غلام نوي او دروېزه «نورنامه کلان و نورنامه خورد معه صدوسی مسئله» په ډهلي کې په ۱۲۹۸ کال په ۴۰

مخونو کې چاپ دی. په دې مجموعه کې د حضرت رسول د نور د پیدایښت په باب منظوم معلومات راغونډ شوي او په مسجع نثر یوسل او دېرش دیني مسألې په کې راغلې دي(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۷۸۲ مخ).

ملا جان محمد کاکړ د کاکړستان د ژوب د ګوسې د ناوې په (شمامزي) نومي کلي کې اوسېده، خو د زېږېدو او مړینې دقیقې نېټې یې نه دي څرګندې او زیاتره په اټکل ولاړې دي چې دغه اټکل تر ډېره د ده د خپلو شعرونو پر بنسټ شوی دی. سیال کاکړ یې د اعلیحضرت تیمورشاه د زوی شاه‌شجاع هم‌مهالی ګڼي، ځکه چې دی په خپلو شعرونو کې د شاه‌شجاع یادونه کوي او ترخ کې یې د خپل دیوان بشپړتابه ته هم نغوته کوي:

شجاع‌ملک که ناز په کندهار کی　　زه نازېرمه د ږوب په وچو غرو خدا
پر خپل کشور مې خپله دمدمه ده　　څه به ویایم د شجاع‌الملک له دمدمه خدا

دی د میا عمر څمکنې (۱۰۸۴- ۱۱۹۰هـ.ق) مرید هم و.

د جان‌محمد کاکړ (۱۲۵۸هـ.ق کال ژوندی) د ژوند د حالاتو او د ده د آثارو له مطالعې څرګندیږي چې ده د خپل وخت دودیز علوم لوستي و او د دغو علومو د حاصلولو لپاره یې د کندهار مدرسې لټولې، په بنو او پېښور کې ګرځېدلی او کلونه کلونه یې د زده‌کړې او تحصیل په خاطر د پردېسي ژوند ستونزې ګاللې دي. همدارنګه د ده د آثارو له مطالعې څخه دا هم جوتېږي چې په فقه، حدیثو او نورو دیني علومو کې د مطالعې څښتن و. جان‌محمد د دې ترڅنګ د وینا او ناظمې ښه استعداد هم درلود، پر دیني موضوع‌ګانو سربېره یې کله کله عشقي موضوعګانې هم په نظم بیانولې. د ده په منظومو آثارو کې دا لاندې آثار معلوم دي:

۱- *د اشعارو دیوان*: خطي نسخه یې په خپله د شاعر په خط حافظ خان محمد کاکړ پیدا کړې وه. د سیال کاکړ په وینا، دغه نسخه ۲۱۲ مخونه لري او د بیتونو شمېر یې ۲۳۳۶ دی.

۲-*حلیدین*: د ده له دې بیتونو څخه په ډاګه کېږي چې په همدې نامه یې یو اثر لیکلی:

ما چې دا دیوان تصنیف کړ بعون الله　　یو لا بل په حلي دین مسمی
حلیه دین په یو کال پس و دا تر وړاندې　　په تاریخ د فرهنګیانو د غزا

(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸۹ل، ۳۹- ۴۰ مخونه)

پورته شعر کې یې ویلي چې دی سربېره پر دیوان یو بل دیوان د «حلیدین» په نامه هم لري. خو په دغه نامه د ده د بل دیوان پته تر اوسه په لاس نه ده راغلې(رشاد، ۱۳۹۱ل - ج، ۷۰۲ مخ). جان محمد دا د تر

لاسته راغلي ديوان يو کال پس ليکلی دی، که يې ديوان په ۱۲۵۵هـ.ق کال کې بشپړ وګنو، نو بيا د حليدين کال ۱۲۵۶هـ.ق کال دی.

۳-*مالي*: دا رساله يې استاد هېوادمل ذکر کوي چې په پيل کې د توحيد او سلوک بحثونه لري، ورپسې د محمد ﷺ د معراج خبرې، بيا د څلورو يارانو بيان لري، دغه بحث لا روان دی چې د رسالې نورې پاڼې لوېدلي دي. نسخه يې د حبيب الله رفيع په کتابتون کې خوندي ده(عامر، ۱۳۹۲ل، ۱۴ مخ).

په آريانا دايرة المعارف کې راغلي چې جان‌محمد کاکړ په ۱۲۵۰هـ.ق کال کې مړ شوی دی(آريانا دايرة المعارف، ۳۹ مخ)، خو «د ملا جان محمد کاکړ ديوان» مدون عامر ليکي چې د ده مړينه د شاه‌شجاع له مرګه (۱۲۵۸هـ.ق) وروسته اټکليږي(عامر، ۱۳۹۲ل، ۵ مخ).

جان محمد کاکړ چې د دولسمې پېړۍ د اواخرو او د ديارلسمې پېړۍ د اوايلو شاعر و، په ديوان کې يې غټه برخه د غزلو ده. غزلې يې زياتره ديني، اخلاقي رنګ لري، د وعظ او نصيحت خبرې هم په کې شته. پر ځينو غزلو يې د عرفان مالګه دوړېدلې ده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۵۳ مخ).

ملا جان محمد کاکړ د پښتو ډېر پوخ او خوږژبی شاعر و. د اشعارو له مطالعې يې ځرګنديږي چې په فقه، تصوف او نورو متداوله پوهنو کې يې لوس لاس درلود، په عربي او پارسي هم پوهېده. دی په قوم کاکړ او ټاټوبی يې ډوب دی او متداوله پوهنې يې د بنو له شېرمحمد اخندزاده څخه زده کړې دي او فيض الله ته يې ارادت درلود. ديوان يې په زړه املا په ۳۵۸ مخو کې د ۴۰۰۰۰ بيتونو په شمول مردف او مرتب شوی دی، اشعار يې په لنډ بحر ويلي او زياتره يې صوفيانه او اخلاقي او عشقي دي(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۷۰۱ مخ).

ديوان يې «د ملا جان محمد کاکړ ديوان» په نوم د عبدالکريم عامر له خوا په ۱۳۹۲هـ.ش کې چاپ دی.

له دې ديوان څخه يې د کلام نمونې:

خدايه قطع مې نصيب د ښکلو مه کړې — ته و ماته آهو چشمه لعل فام را
د خوبانو په باغو کې مې ورګډ کړې — په دې باغ کې سرو قده ګل اندام را
خدايه! ما ګډ کړې د ترکو په ټولۍ کې — د ترکانو په ټولونو کې قيام را
اې مستجب الدعواته دا قبول کړې — د ګل رخو محبوبانو يو پيغام را

* * *

په یوه مناجات کې کاږي:

الاعمال بالنیات　　جان محمد کړي مناجات

خدا تر سر یې کړې حاجات　　فریاد رس الهي

ور صمد یې ور احد　　شفاعت د محمد

کړې نصیب د جان محمد　　فریاد رس الهي(کاکړ، ۱۳۹۲ل، ۲۰، ۳٦٦ مخونه)

د ملا جان محمد کاکړ کلام له مینې او محبت څخه مالامال دی او ترڅنګ یې په مناجاتونو کې له خپل خالقه د خپلو حاجتو د پوره کېدو هیله کړې ده. د پورتني مناجات لومړی کلمې د یوه حدیث شریف عبارت دی.

رسول‌داد د دولسمې هجري پېړۍ د حدودو عالم او مذهبي ناظم دی چې د پکتیا د ګومل په خروټو کې اوسېده. د دیني علومو عالم او د پښتو ناظم و. د «*در البیان*» په نوم کتاب یې په اخلاقي او مذهبي موضوعاتو منظوم تألیف کړی دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۹۳ مخ).

د ده قلمي کتاب «در البیان» د پښتو په مثنوي کې په لنډ بحر کې لیکل شوی چې شپېته مخه او تقریباً ۷۴۰ بیته دی. موضوعات یې مذهبي او دیني دي. د کتاب په آخر کې په خپله مصنف لیکي چې دا کتاب د نورو معتبرو کتابونو، لکه شرح عین العلم، مدارک، تحفة الاحرار، دقایق الاخبار او نورو څخه مأخوذ دی. دا کتاب په ۱۲۸۱هـ.ق کال کې تصنیف شوی، مګر د کتاب په اخر کې ۱۲۹۱هـ.ق سنه لیکل شوې ده، نو احتمال لري چې دا به یا په لیکلو کې سهوه پېښه شوې وي او یا به یې دا د تسوید سنه وي او هغه دمخه به یې د تصنیف. دا کتاب په دې لاندې بیتونو شروع شوی دی:

له اوله بسم الله ده　　ورپسې د رب ثنا ده

پسې درود په پیغمبر ده　　چې تر کل عالم بهتر ده

د ده له رویه یې پیدا کړ　　دا جهان یې هویدا کړ....(رښتین، ۱۳۹۱ل - الف، ۵۰۵ مخ)

په یوه بیت کې وایي:

چې تربیت د یتیم کړینه　　ډېر ثواب ګوره لرینه(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۹۳ مخ)

د رسول‌داد شعر اسان او روان دی او منځپانګه یې دیني مفاهیم څرګندوي.

علامه رشاد لیکي چې د رسول داد د «در البیان» یوه خطي نسخه د کابل پوهنتون په کتابتون کې

خوندي ده. دا هغه نسخه ده چې له ارواښاد سراج الدين خان سعيد شينواري څخه وه. د دغې نسخې يو نقل د ده (رشاد) په کتابخانه کې هم شته(رشاد، ۱۳۹۱ل- الف، ۳۵۳ مخ).

حضرت شاه د مردان ضلعې د بائيزو د علاقې د چرچوړ نومي کلي اوسېدونکی و، د قرآن شريف حافظ و او په نقشبنديه طريقه کې د بونير د بشر نړۍ نوړمي کلي د حافظ اخوند محمد صديق مريد و. د ده د اشعارو څو پاڼې د عبدالحليم اثر افغاني لاس ته ورغلي چې په هغو کې د صفحاتو شمېره له ۳۰۶ څخه تر ۳۱۱ پورې ده. په شمار باندې تقريباً څلور زره بيته دی چې ده سره يې صرف ۱۰۷ بيتونه شته دي. حضرت شاه تر ۱۸۳۹م کال پورې ژوندی و(افغاني، ۱۹۶۳م، ۱۱۵، ۱۱۶ مخونه).

حضرت‌شاه بابا د خپل ژوند زياته برخه په دولسمه هجري پېړۍ کې تېره کړې ده او د ديارلسمې هجري د دويمي لسيزې په اوايلو کې يې *ديوان* مرتب شوی دی او تر ۱۲۱۹هـ.ق پورې يقيناً ژوندی و. دی يو صوفي مشربه شخصيت او د تصوف په نقشبنديه سلسله کې په خلافت نمانځلی شوی و. د هغوی زړه له دنيوي مينې او الايشونو نه پاک و.

هغه وايي:

که منصب د عاشقۍ مې خدای روزي کا هی توبه شه د شاهيه له منصبه

حضرت‌شاه بابا چې له لوی خدای نه د عاشقۍ کوم منصب غواړي، هغه بغير له څه شک او شبهې نه د حقيقي عاشقۍ منصب دی او د دغه منصب د اعلی مقام او مرتبې تعين له زمانو راهيسې د سلوک او عرفان په دنيا کې شوی دی. نوموړی نه يواځې د رحمان بابا د ادبي مکتب پيرو دی، بلکې د معرفت لاره يې هم هغه ده په کومه چې رحمان بابا تګ کړی و. دغه د عشق لاره وه.

د حضرت‌شاه بابا د شاعرۍ بل واضح موضوعاتي او فکري اړخ اخلاقي او اصلاحي دی. د هغوی د اخلاقي او اصلاحي تفکر بنياد په مذهب باندې محکم ولاړ دی. د هغوی د فکر مرکز او محور د شريعت پابندي ده او هم په دې کې هغوی د فرد او معاشرې اصلاح او فلاح ويني. د اسلام په پنج‌بنا باندې ځان محکم ساتل، تقوا او پرهېزګاري اختيارول، عبادت او زهد سره ريا نه ګډول، دنياوي حرص نه ځان ساتل، انسانيت سره خير ښېګڼه کول او دې سره ټرلي نور اخلاقي موضوعات د حضرت‌شاه بابا په اخلاقي شاعرۍ کې په رنګ رنګ او راز راز بيان شوي دي(عابد، ۱۴۰۲ل، ۷۴، ۷۶، ۷۷، ۷۸، ۸۲ مخونه).

د حضرت شاه ديوان چې د عبدالله جان عابد په سمونه او څېړنه په ۱۴۰۲ل کې چاپ شوی دی، دا

دیوان چې د پیل څو بیتونه نه لري، په دې الفاظو پیل شوی دی:

د قیامت لیده بې مثله و مکانه بې جهت و بې غفلت (شو تبرا)

حضرت شاه ته د رحمت په نظر ګوره چې هر دم یې ستا ثنا شي مشغولا

* * *

پس له حمده په اول ده دا انشا په صفت د محمد کړم ابتدا

په اغا د نېکې چارې مناسب ده‌په صفت د محمد ژبه ګویا(حضرت شاه، ۱۴۰۲ل، ۱۱۷ مخ)

په دې حمد ډوله کلام کې یې د الله تعالی لویي او د پیغمبر ﷺ ستاینه بیان کړې ده.

ما ټول قران منلی دی، د زړه په صدق سره‌په تېره تېره مې زړه صاد و قاف و نون یوړو

خواهش د لږ علم لرم، له ډېر عمله سره پکار ئې نه شه که ډېر علم افلاطون یوړو(حضرت شاه، ۱۴۰۲ل، ۱۹۸ مخ)

پورتنیو بیت کې له "ص، ق، ن" (صاد، قاف، نون) څخه به مراد هغه مقطع توري دي چې د څو قرآني سورتونو په پیل کې راغلي دي. «صاد» سورت په قرآن کریم کې په ۳۸مه شمېره، « قاف» سورت په ۵۰مه او «نون» سورت په ٦٨مه شمېره کې راغلی دی.

حضرت شاه په لاندې بیتونو کې ښه هغه عبادت هغه بولي چې د الله په درګاه کې قبول شي، دغه راز د مسلمانی څو نورې نکتې هم بیانوي، وایي:

افتخار په عبادت مناسب نه دی هله وایه چې مقبول ئې په درګاه شي

مشکلات د زمانې زننده تر دي مګر چا لره د خدای فضل پناه شي

چې هجران وربانديې کړي اتش بازی هغه زړونه که روښان (وي) هم سیاه شي

شریعت د اسلام حکم په هغه کا چې قائل په لا اله الا الله شي

هم یقین په کلمه د توحید اوکړي هم تابع د محمد رسول الله شي(حضرت شاه، ۱۴۰۲ل، ۲۲٦ مخ)

معاذالدین خټک د اکبر خان زوی او د سعادت خان لمسی دی. سعادت خان د خوشحال بابا زوی دی(فقیرخپل، ۱۳۹۲ل- الف، ۹، ۱۰ مخونه). معاذالدین په هغه زمانه کې ژوند کاوه، کله چې پر ډهلي د محمدشاه بادشاهي وه، دغه زمانه له ۱۱۳۱هـ.ق څخه تر ۱۱٦۰هـ.ق پورې ده، خو د هغه ژوند تر ۱۱۷۷هـ. ق پورې یقیني دی. د زوکړې کال یې ۱۱۱۸ یا ۱۱۱۹هـ.ق اټکلېدای شي.

دی له اکوړې سره نږدې د جي‌تي رودِ دپاسه په شیدو کلي کې اوسېده او هم هلته په شیدو کلي کې د (محله قاضي خېل) سهیل طرف ته له ریلوې پاتک سره نږدې یې مزار هم دی(فقیرخېل، ۱۳۹۲ل، ۱۸، ۲۲، ۲۴ مخونه). ده «*حصن الایمان*» په ۱۱۵۷هـ.ق کال لیکلی دی. «*ربقة الاسلام*» چې فقهي مسایل په کې د ډېرو مستندو دیني کتابونو په حواله په ۱۱۶۰هـ.ق کال یې په پښتو مثنوي لیکلی دی. د دې کتاب خطي نسخه چې ۳۰۰ مخوه لري، د پښتو اکېډیمۍ پېښور پوهنتون په کتابخانه کې شته. دا کتاب په ۱۳۳۰هـ.ق کال چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د علم عقاید، توحید، فقهي او تصوف مسایل راټول شوي دي. د کتاب ښېګڼه دا ده چې له هرې مسألې سره سره د هغه کتاب حواله هم ورکوي چې له کوم نه یې دغه مسأله اخیستې ده. طب (*دلیل العلیل*) یې په پښتو مثنوي لیکلی دی. د دې کتاب خطي نسخه د پښتو اکېډیمۍ پېښور پوهنتون کې شته، ټول ۴۲۱ مخونه لري. د دې کتاب په پای کې ۱۱۷۷هـ.ق کال لیکل شوی دی(فقیرخېل، ۱۳۹۲ل، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۶ مخونه).

معاذالدین د ډېر علم او پوهې څښتن و او په دیني، فقهي، تصوفي، طبي علومو کې ورته ملکه حاصله ده او هم یې د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ لپاره په هره موضوع د خپل علمیت او قابلیت په رڼا کې کتابونه په پښتو کې منظوم په مثنوي کې لیکلي او په دغه علمي او ادبي میدان کې یې مشالونه بل کړي دي او د علم لارې یې روښانه کړي، خو صرف پر دغو کتابونو یې اکتفاء نه ده کړې، بلکې خپل یو *دیوان* یې هم له غزلو او رباعیانو سره مورِ ته پرېښی دی. د معاذالدین خټک د دیوان خطي نسخه میا وکیل شاه فقیرخېل په ۲۰۰۱ کې موندلې ده. معاذالدین دا دیوان په ۱۱۷۳هـ.ق/ ۱۷۵۹م کال کې لیکلی دی. دغه دیوان له تصوف، وحدانیت، اخلاقو، مجازي عشق، حقیقي عشقي او اجتماعي اخلاقیانو له درس نه ډک دی. په شعرونو کې یې د فارسي او عربي لفظونه هم استعمال کړي دي. په شاعري کې یې حمد، مناجات ډېر زړه راښکونکي دي او هم یې کلاسیکي، تصوفي او عشقي رنګ غالب دی(فقیرخېل، ۱۳۹۲ل، ۲۴، ۲۵، ۲۶ مخونه).

«د معاذالدین خټک دیوان» د میا وکیل شاه فقیرخېل له خوا په ۱۳۹۲ل کال په ۱۷۸ مخونو کې چاپ دی چې دیوان په دې بیتونو پیل شوی دی:

ستا ثنا مې په پښتو کړه ابتدا	ستا ثنا د خاصو عامو اهتدا
هدایت له تانه غواړم یا الله	لک الحمد هم په دا مې اقتدا
د توفیق زنجیر مې طوق د خپل ګردن کړو	رحمت په سیند مې ډوب کړه احدا

چې مې عجز ستا د در وي اختیار کړی　　د خودبین په حق کښې ښکوم تبت یدا
ډېر عاجز معاذالدین یم نه توانېرم　　عجز ستا په در زما دی ابدا

په دې دیوان کې د معاذالدین ۵۹ رباعی هم شته چې یوه بېلګه یې دا ده:

په مخ په څه اوړم یوم الحساب ته　　هر موی مې جوړ دی الیم عذاب ته
د جنت در مې معصیت بند کړو　　څو به یې ګورم د فتح باب ته(ختک، ۱۳۹۲ل، ۱، ۱۵۷ مخونه)

د معاذالدین په عشقیه غزلونو کې رنګینه او پرکیفه شاعري ښکاري، لکه په دې لاندې شعر کې یې د خپل یار د اثري سترګو، د زلفو تناسب او د خولې ورکولو تصویر څومره په ښایسته رنګ سره ښودلي دي:

اثري سترګې ستا څه سحر حلال کا　　چې حضور یې د کتاب راڅخه یوړو
ما د خولې لباس کاوه زړه مې ساته　　تا د زلفو په تناب راڅخه یوړو
وایي خوله مې و تا درکړه هومره ځله　　ډېرې مینې دې حساب راڅخه یوړو
ما پلو په مخکې ووړ معاذالدین ته　　د آه باد اوس نقاب راڅخه یوړو

د معاذ الدین شعري سبک په ځینو ځایو کې له کاظم خان شیدا سره او په ځینو کې له سعید ختک سره نږدېوالی او سمون خوري، دیوان یې له پندو نصیحت نه ډک دی، هر غزل یې د حسن و عشق د المیو هنداره ده، په شاعرۍ کې د تصوف نازکې پردې او حدونه هم په ښه علمي اندازه کې د شعر په ژبه مورِ ته ښودلي او په حقیقي شاعرۍ کې یې د لوی خدای او د هغه له محبوب سره د مینې اظهار په ډېر ښه اندازه کې کړی چې په لوستو سره په لوستونکي کې جذبې او ولولې راپاروي او له یو خاص کیفیت نه تېروي(فقیرخېل، ۱۳۹۲ل، ۲۷- ۲۸، ۳۰ مخونه).

د ده په «*ربقة الاسلام*» کې د عقایدو، توحید، فقهې او تصوف مسایل په اسانه ژبه بیان شوي دي. دغه کتاب په اول ځل په ۱۲۹۶هـ.ق کال په ډهلي کې او بیا په ۱۳۳۰هـ.ق کال لاهور کې په ۱۳۶ مخونو چاپ شوی دی. په «ربقة الاسلام» کې له ډېرو مشهورو کتابونو څخه اخیستنه شوې ده. د دې اثر پیل په دې ډول شوی دی:

حمد خدای له سزاوار دی　　چې زمونږ پروردګار دی
زه آغاز د ده په نام کړم　　چې دا کار باندې تمام کړم

هر یو کار چې مؤمن کاندې بسم الله بویه پرې باندې(رښتین، ۱۳۷۲ل، ۹۲، ۹۳ مخونه)

دغه کتاب کې د فقهې ځینې ضروري مسألې په نظم کې بیان کړل شوې دي. مؤلف یې په اړه کاږي:

مؤلف د کتاب یاره امېدواره له کردګاره

چې ختېک معاذ الدین دی پر تقصیر بنده کمین دی

رب د عفوه له ده وکا په غفران دې زړه ښه کا(خلیل، ۱۹۶۰م، ۳٦٦ مخ)

د دې اثر بله نمونه:

په مفتاح صلوة کې ښکلی واوره دی هسې راغلی

چې هر څیز پرې فرض وینه فرض یې علم هم پرې شینه

د واجب وینه واجبه د سنت، سنت طالبه

مستحب چې هغه څیز وي مستحب یې علم نیز وي

په قیامت به اول چاته حساب کیږي له ایمانه

ورپسې به د نمانځه وي بیا پوښتن به د نور څه وي

چې یې عقل بلوغ وشي اول فرض ایمان دا وړه شي

ځکه ما چې کتاب ساز کړ په ایمان سره آغاز کړ

نوم د ده چې مې تمام کړ په خیر، ربقة الاسلام کړ

مزین دی په شل باب بیا هر باب له دې کتاب

مشتمل دی په فصلونه کال «غسق» وو درې حرفونه

بې نقطه حرف میانه دی منقوطه وړاندې ورسته دی

هر چې نقل انتخاب شي حواله به په کتاب شي(افغاني، ۱۹٦۳م، ۵۵-۵٦ مخونه)

د «دلیل العلیل» د سر بیتونه یې دا دي:

حمد خدای لره لایق دی چې د کل مخلوق خالق دی

هر چه څه دي بالا پست ده کړه کل له نیسته هسته

چې لیدل ځمکه آسمان شي یا چې څه د دوی تر میان شي

خود پخود نه دی اظهاره نه دی بې له کردګاره

لوګی نه وي بې له اوره

نه مصنوع بې صانع روره....(افغاني، ۱۹۶۳م، ۵۲ مخ)

د معز الدين بل اثر «*حصن الايمان*» د عقايدو په باب مثنوي ده چې دولس بابه دی چې په ۱۱۵۷هـ.ق کال يې بشپړه کړې ده. چاپ نه ده او د پېښور پښتو اکاډمۍ د خطي نسخو په آرشيف کې خوندي ده. د ۱۲۶۶هـ.ق کال ليکلې نسخه يې ۱۶۴ مخه لري(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۵۵ مخ).

د معاذالدين اشعار ساده او روان دي، کلام يې عشقيه، اخلاقي او تصوفي اړخونه لري. يوځای د نفساني او حقيقي مينې موازنه داسې کوي:

نفساني مينه وي سپوره بې نمکه	روحاني د روحانينو وي نمکينه
نفساني مينه فاني غرض امېزه	روحاني وي بې غرضه تکه سپينه
روحاني خاطر د ورکه روحاني ته	له ناقصه زړه ساته معاذالدينه
دا عجب دی چې نکتې د عاقلانو	نن معاذ د عاشقۍ په قلم کښېنه

د وخت ارزښت داسې بيانوي:

دا خصلت به لوی گناه وي و دانا ته	چې د نن کارونه اچوي صبا ته

د عشقي کلام بېلگه يې:

د زلفو په حلقو لکه مضراب مه وهه گوتې	گوره د يار مخ ته په کتاب مه وهه گوتې
غواړه هغه شونډې چې د يار آب حيات دي	مه غولېږه اې دله په شراب مه وهه گوتې
خپل وجود رباب کړه چې د يار په درد غږيږي	څه غواړي بې درده په رباب مه وهه گوتې
گاه پخلا گاه مرور شايد په دائ	چې اشنا له اشنايانو نا اشنا کړې
زه خو د ستا د زېبا مخ په لمبو اوسوم	بيا کوم اور را لگوې چې کله شا کړې(خليل، ۱۹۶۰م، ۳۶۳، ۳۶۱، ۳۶۵ مخونه)

په هند کې زوکړی پښتون اپريدی شاعر قاسم علي خان په دې سيمه کې د رحمان بابا د پيروانو د ډلې عالم او پوه شخص و(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۹۱ مخ). **قاسم علي خان افريدی** هغه پښتون شاعر دی چې په هند کې زوکړی، هلته لوی شوی او هورې مړ دی. د ده پلار برهان خان نومېده او لوی نېکه يې نېکنام خان و، نېکونه يې په ۱۱۱۸هـ.ق کال له تاريخي افغانستان څخه هندوستان ته تللي او قاسم علي په ۱۱۸۳هـ.ق په هندوستان کې زوکړی دی.

قاسم علي خان پر خپلې مورنۍ ژبې (پښتو) سربېره په پارسي، هندي او عربي ژبو ښه پوهېده. په پښتو،

پارسي او هندي ژبو يې د شعر ويلو او څه ليکلو صلاحيت او استعداد درلود. کشميري او انګريزي ژبې يې هم څه زده وې. د آثارو له مطالعې يې ښکاري چې په رواجي علومو او اسلامي پوهنو او عرفاني موضوعاتو کې د مطالعې تښتن و. قاسم په رساله اپريدي کې خپل تأليفات داسې ياد کړي دي: *ديوان افريدي*، *خوابنامه* (په پښتو ژبه)، *ديوان افريدي* (په هندي ژبه)، *افريدي‌نامه* (په پنځو ژبو: پارسي، پښتو، کشميري، انګرېزي، هندي)، *شفاعت‌نامه افريدي*، *رساله افريدي*. دغه ګرده آثار د ده په کليات کې راغلي چې تر اوسه يې درې نسخې معلومې دي. رساله افريدي يو تاريخي او واقعاتي اثر دی(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۴۰۲، ۴۰۵ مخونه).

ده د نوکرۍ په وجه مصروف ژوند تېر کړی دی، خو بيا يې هم له قلم سره ملګرتيا نه ده پرېښې او د ۳۹ کالو په عمر کې يې شپږ کتابونه ليکلي دي. خيال بخاري يې د بل کتاب «رساله تصوف» او زلمي هېوادمل هم دغې رسالې ته «عقايد و ايقان تصوف» نوم ورکړی دی، خو دا بل کتاب يا رساله نه ده، د رساله افريدي باب دی(فقير، ۲۰۲۵م، ٦، ۷ مخونه).

«ديوان قاسم علي خان افريدي» د ډاکټر فقيرمحمد فقير په تحقيق او تدوين سره په ۲۰۲۵م کال کې چاپ شوی دی. ده ليکلي:

د پښتو ديوان تدوين او تحقيق يې په اول ځل د ده له خوا د چاپ په شکل کې وړاندې کېږي. «*پښتو ديوان*» د قاسم علي خان افريدي ړومبی کتاب دی چې په ۱۲۰٦هـ.ق کال مکمل شوی دی. دا ديوان يې په درويشت کلنۍ کې پوره کړی دی. بل اهميت يې دا دی چې قاسم علي خان په هند کې پيدا شوی او دوی پښتو شاعري کړې ده. دوی وايی چې تر دغه وخت پورې دغلته د دوی د خاندان درې اتيا کسانو کې ده او يو کس نيم ته پښتو ورتله. په دې ديوان يوه مرثيه داسې هم شته چې د حافظ غلام محمد په مرګ ليکلې شوې ده او تاريخ ترې ۱۲۰۹هـ.ق راوځي(فقير، ۲۰۲۵م، ۷ مخ). «*خواب‌نامه*» په قلمي شکل کې اسلاميه کالج کې خوندي ده. لس بابونه لري، د خوبونو او د هغو د تعبيرونو ذکر لري. د اسلاميه کالج نسخه کې يې د کتابت تاريخ اتلسم د شعبان ۱۲۳۰هـ.ق کال دی. «*اردو ديوان*» د دې ديوان يوه نسخه اسلاميه کالج کې ده چې خيال بخاري په ۱۹۷۱م کال چاپ کړې ده. زلمی هېوادمل وايي چې ده يې بله نسخه د مولانا ابوالکلام لايبريري کې ليدلې ده. په دې کې د قاسم علي خان په اردو د پښتو اثرات محسوسېدلی شي. دا ديوان کلام الدين په ۱۲۳۷هـ.ق کې مکمل کړی دی. قاسم علي خان د اردو ديوان په ۱۲۱٦هـ.ق کې مکمل کړی دی. «*افريدي‌نامه*» د قاسم علي خان افريدي

لغتونه دي چې په پنځو ژبو (هندي، پښتو، پارسي، کشمیري او انګرېزي) کې لیکل شوی دی. د لیکلو تاریخ پرې نشته. «*رساله افریدي*» د افریدي خودنوشت دی چې د هغه د خاندان حالات، د هغه دور تاریخي پېښې په کې درج دي. دوه ویشت بابونه لري او تر ۱۲۲۵هـ.ق کال پورې حالات لري(فقیر، ۲۰۲۵م، ۷، ۸، ۹، ۱۱ مخونه).

په برېښش کتابتون کې د قاسم علي خان اپریدي د «دیوان اپریدي» په نوم دوه قلمي نسخې خوندي دي. د شعرونو منځپانګه یې ديني، عرفاني او اخلاقي رنګ او خوند لري، ولې په یوه قصیده کې یې د پرنګیانو تېرى هم غندلی دی(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۱۱۸ مخ).

خیال بخاري د دیوان قاسم علي افریدي (اردو) په مقدمه او زلمي هېوادمل د همدغه کتاب په دویم چاپ کې د رساله افریدي د دوه ویشتم باب عرفاني بحثونه د ځانګړي اثر په توګه معرفي کړي دي. خیال بخاري ورته (رساله تصوف) نوم ورکړی دی. خو هېوادمل وایي وروسته ور معلومه شوه چې دا ځانګړې رساله نه ده.

د رساله افریدي دوه ویشتم باب په ۱۲۲۵هـ.ق پای ته رسېدلی دی. د ده بله رساله افریدي‌نامه ده او په ځینو ځایونو کې د فرهنګ افریدي په نامه هم یاده شوې ده. دا فرهنګ د لغاتو یو فهرست دی چې یوې پارسي کلمې ته یې په څنګ کې پښتو، کشمیري، انګلیسي او هندي معناوې هم ورکښلې دي. دا فرهنګ په غالب ګومان د دیارلسمې پېړۍ د لومړیو دوو لسیزو په دوران کې تألیف شوی دی. د قاسم علي خان پارسي – دري اشعار د ده په شفاعت‌نامه افریدي کې راغلي دي، نور متفرق پارسي- دري اشعار یې له پښتو دیوان سره ضمیمه راغلي دي.

د ده په پښتو آثارو کې «خوابنامه» ده چې د پښتو مثنوي په کالب کې یې نظم کړې ده. مثنوي یې اوږده دولس څپیزه مثنوي ده. د دې رسالې له مطالعې سړي ته په علم التعبیر کې د ده د صلاحیت او مطالعې پته لګېږي. دی په دې رساله کې د خوبونو تعبیر په لاندې شېوه بیانوي:

چاته غیشه یا لینده په خوب عیان شي　　هم نشین د اکابرو بزرګان شي

که په خوب کې توغ نغاره و تا لیده شي　　فتح بیا مومي که هر څو یې کمزورى

ده د خپل فکر د اظهار لپاره د شرقي شعري اصنافو د انتخاب ترڅنګ د پښتو د ولسي شاعري ژانرونه هم نه دي هېر کړي او پښتو چاربیتې یې هم ویلې دي. د ده په دیوان کې ډېر ځایه د رحمان بابا د غزلو په څمکه ویلي غزلې موندلی کېږي او په ځینو ځایونو کې حتی فکر هم له رحمان بابا څخه اخلي او

همدا سبب دی چې محققانو دی د رحمان بابا د سبک پیرو بللی دی(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۴۰۶، ۴۰۷، ۴۰۹ مخونه). دی یو صوفي شاعر دی او له مشهورو تصوفي لارو څخه دی د قادریه طریقې پیرو او له غلام محمد نومي څخه یې د دې طریقې لاسنیوی کړی و. قاسم علي خان خپله شفاعت‌نامه افریدي د قادریه طریقې افکارو او اذکارو بیان ته وقف کړې ده. همدارنګه د رساله‌افریدي د دوه ویشتم باب تصوفي بحثونه له عرفان او تصوف او خصوصاً قادریه طریقې سره د ده د ټراو څرګندونه کوي. د ده د تصوفي افکارو له مطالعې څخه ښکاري چې قاسم علي د وحدت‌الوجود د عرفاني افکارو تابع و او د دې لارې د تبلیغ لپاره یې اشعار ویلي دي، لکه دا بیتونه:

شش جهت په یک جهت یو شان به گورې — همه اوس باندې به تل کاندې گذر
دا انعام په هر کس کله منکشف شي — وي عارف ته د دفتر معنا اظهر
(قاسم علي) معرفت لره پیدا شوې — حق په هر صفات موجود دی ظاهر تر

د قاسم علي دیوان د فکري رنګارنګیو ترڅنګه د شعر په رنګیني کې ډېر دمخه نه دی، د ده په ځینو پاړکو کې د هنر پلوشې لږ ځلا لري او شعرونه یې اوچته هنري مټره نه لري. د ده یو هنري ډوله غزله هم د کتو ده:

ډېر مدت شو چې په غم دې مبتلا یم — هسې نه چې نن مهرو په تا شیدا یم
زما ستا د مینې ډېر شوه مدتونه — ته لا اوس وایې و ماته یار د چا یم
که مې پېرې که مې پلورې عذر نه کړم — دروغ نه وایم دا هسې په رشتیا یم

قاسم علي افریدی په ۱۲۴۱هـ.ق[1] کال وفات شوی دی(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۴۱۲، ۴۱۴، ۴۱۷ مخونه)؛ خو آریانا دایرة المعارف کاږي چې هغه په ۱۲۳۱هـ.ق په فرخ‌آباد کې مړ شوی دی. د عشقیه کلام بېلګه یې:

که دې بیا مومم یو تار د تورو زلفو — کړم په غاړه به زنار د تورو زلفو
هنود که پرستش د کنشت کاندي — لکه زه یم پرستار د تورو زلفو
هغه زړونه به بیا کله راجار ووځي — چې شو یو ځله حصار د تورو زلفو
(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۵۲۰ مخ)

غلام شاه د دولسمې هجري پېړۍ د حدودو د *دیوان* خاوند شاعر و. د هغه د دیوان څو پاڼې موندل

[1] آریانا دایرة المعارف، دویم دور، پنځم ټوک ۵۲۰ مخ کې راغلي چې هغه په ۱۲۳۱هـ.ق په فرخ‌آباد کې مړ شوی دی.

شوې دي. غزلیات یې دیني او مذهبي مضامین لري. دا د هغه دی:

غلام شاه دې طمع دار دی ستا له فضله امېدوار دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۵۹ مخ)

عبد العظیم رانیزی د پښتو ژبې نومیالی شاعر دی چې په ۱۱٦۷هـ.ق کال د پښتونخوا د سوات په رانیزو سیمه کې زېږېدلی او د رانیزي له مشهورې پښتنې قبیلې څخه و، پلار یې عبدالعزیز خان نومېده چې خاني او د خپلې سیمې مشري یې ورته له پلاره پاتې وه.

عبدالعظیم د شپږو میاشتو و چې پلار یې د کورنۍ تربګنۍ له امله په ډېرې بې‌رحمۍ سره ووژل شو او مور یې عبدالعظیم د خپل کلي په یوې روحاني او ستانه کورنۍ کې له مرګه وژغوره، څو ورځې وروسته یې مور له ماشوم زوی سره له سوات نه پېښور ته ولاړه او هلته یې د تهکال د نومیالي دیني عالم مولوي سرفراز خان په کور کې واړول، څه موده وروسته چې د مولوي صاحب یواځینی زلمی زوی مړ شو، نو عبدالعظیم یې په زوی‌ولۍ ونیو، عظیم د نوموړي عالم او فاضل شخصیت تر روزنې لاندې را لوی شو، له هغه څخه یې د دیني علومو زده‌کړه وکړه، په ځوانۍ کې مولوي سرفراز خپله لور ورته نکاح کړه او بیا چې کله مولوي سرفراز مړ شو، د هغه د کور او نورې شتمنۍ ترڅنګ د کلي د جومات د امامت چارې هم ور وسپارل شوې او د ژوند تر پایه یې دغلته شېې او ورځې په امامت او د دیني علومو په زده‌کړه او نورو ته په تدریس تېرې کړې. په ځوانۍ کې د خاص کونړ د مهربان صاحب په روحاني لارښوونه د چشتیه طریقې پیرو شو، لکه چې وایي:

پیر زما د طریقت دی خاص کونړ کې مهربان صاحب یې نوم دی عشق افزایه

د عظیم رانیزي د شاعرۍ د پیلامې په اړه ویل کېږي چې د هغه د حبیب‌ګل او محبوب‌ګل په نومونو دوه زامن وو چې هغوی ته یې ودونه هم کړي او دواړو یو یو زوی هم درلود. د عظیم دوه زامن په ځوانۍ کې یو په بل پسې مړه شول او دې پېښې هغه ډېر خواشینی کړ چې همدا یې د شاعرۍ رابرسېره کېدو لامل شو. سره له دې چې شاعر په خپل یو شعر کې یادونه کوي چې له ځوانۍ څخه یې شاعري پیل کړې وه، کله کله به یې شعرونه ویل چې هغه یې له خلکو څخه پټ ساتل، خو د زامنو مړینې د هغه شعر ته نوی سوز او ساز ورکړ. عظیم رانیزي ډېر ژر د خپل خواږه تصوفي، عرفاني او د زامنو د بېلتانه له سوز او سازه ډکو شعرونو له امله د نومیالي شاعر په توګه وپېژندل شو. د شعر ژبه یې ساده، روانه خو ډېره خوږه او رنګینه ده. د عرفان او تصوف ډېر پېچلي مسایل یې په داسې انداز کې بیان کړي چې هر لوستی او نالوستی ورڅخه پوره پند او خوند اخیستی شي. شاعر په خپل یوه شعر کې

خپله شاعري د موضوع‌ګانو په لحاظ داسې وېشلې ده:

دا ویل به زما وي په څلور قسمه　　عشق، سلوک، درېیم به وعظ و نصیحت وي

څلورم به مې له درده د زامنو　　څه ویلي له خفګان د مصیبت وي

عظیم رانیزی نه یواځې دا چې پیاوړی دیني عالم او خورڑبې شاعر و، د خپل وخت په ملي مبارزینو او مجاهدینو کې هم شمېر دی. هغه مهال چې سکانو پر پېښور یرغل وکړ او پر ضد یې جهاد او مقابله پیل شوه، عظیم رانیزي هم په دغه مقابله او مبارزه کې برخه لرله، هم یې جهاد او د دښمن مقابلې ته خلک هڅول او راپاڅول او هم عملاً په هغو جګړو کې برخه‌وال و چې د امیر دوست محمد خان د زامنو سردار غلام حیدر خان، سردار محمد افضل خان او وزیر محمد اکبر خان په مشرۍ د پښتونخوا د خیبر او جم په سیمو کې له سکانو سره وشوې. غازیان بریالي او دښمن له ماتې سره مخامخ شو. د عظیم رانیزي د مړینې کال نه دی معلوم خو تر ۱۲۵۳هـ.ق کال پورې یې ژوند یقینی دی. شاعر په دغه کال یوه مخمس لیکلی او دغه پورتنۍ نېټه یې په کې داسې ښودلې ده:

د تصنیف د مخمس واوره سامعه　　سن یو زر، دوه سوه درې پنځوس ووایه

قبر یې د تهکال د باباجي نیکه په هدیره کې معلوم دی، ارادتمندان یې زیارت ته ورځي. عظیم رانیزی د شعرونو مردف *دیوان* لري، څو ځله په پېښور کې چاپ شوی دی چې په کې د شعر بېلابېل ډولونه، غزلې، بوللې، الفنامې، مخمسونه او نور شته. د دیوان له کتنې څخه یې معلومیږي چې پر دیني علومو سربېره یې په پښتو شعر و ادب کې هم پوره مطالعه درلوده، د پخوانیو او خپلو هم‌مهالو پښتنو شاعرانو دیوانونه یې لوستي، په یو شعر کې یې د ځینو شاعرانو لکه د رحمان بابا، حمید مومند، محمدي صاحبزاده او نورو یادونې او ستاینې کړې دي(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۷۵- ۷۶ مخونه).

عبدالعظیم رانیزی چې د پېښور په معاصرو ادبي حلقو کې په «عظیم بابا» شهرت درلود، بې‌تکلفه شعري طبع یې لرله، متصوف عالم او سالک و(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۱۳ مخ).

داسې معلومیږي چې عظیم مروجه کتابونه ټول لوستي دي او د هغه وخت په اصطلاح پوره ملا او عالم و. عظیم صاحب که څه هم ملا دی او د علماوو په ډله کې حسابیږي، مګر سره له دې هم دی، صوفي‌مشرب او یو سالک سړی تېر شوی دی. عظیم یو متصوف عالم دی. تر تحصیل وروسته په تهکال کې امام او مدرس و، مګر د عشق په خوږ خوږمن شوی، نو یې درس او تدریس پرېښی او نور عمر یې د ادب او شعر په دنیا کې تېر کړی دی. عظیم په متوسطه طبقه کې ښکلی شاعر دی. ښه ښه

افکار، نازک نازک خیالات، مهم مطالب یې په ډېره ساده او اسانه الفاظو کې راوړي دي. عظیم د روان طبیعت خاوند دی او ډېره بې‌تکلفه طبیعي قریحه لري. دی داسې شاعر نه دی چې د شعر په جوړولو یې ځان مجبور کړی دی، بلکې شعر یې طبیعي او له هر قسم مجبوریت څخه خالي دی. د عظیم د دیوان مهم مطالب څلور دي: عشق، سلوک، وعظ او نصیحت، د زامنو مرګ(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۳۱۰ مخ).

د کلام نمونه یې چې وعظ دی:

چې یاري نه کړې د خدای مینې کړې نورې — معلومیږي چې د خدای په در کې چورې
چې دنیا و مافیها واړه فاني دي — بنده ولې زړه تړې په فاني پورې
عاقبت به ترښه پرېوځي سر دلاندې — څو تر څو به د حیات په براق سورې
نه پوهیږم چې به خلاص په کوم طرف شې — چې د خدای له حکمه تښتې په سر تورې....
چې عمل په خپل ویل نه کړې عظیمه — سزاوار د هر عتاب د هر پیغورې

(رانیزی، ۱۳۳۳هـ.ق، ۳۷ مخ)

د شعر بله بېلګه یې:

اوس زمور د زمانې نه برکت لاړ — هر چا د زړه نه مهر محبت لاړ
ښه توښه به یو آشنا د آشنا نه شي — خاطر نه کړي یو تر بله رعایت لاړ
عالمانو علم پرېښود بې عمل شول — فقیرانو ځنې صبر و قناعت لاړ
ځان مېشته کا پېښور کې سکان ځکه — بارکزو نه چې انصاف او عدالت لاړ
د غزا تورې یې پرانیستې د ملا نه — په یو وارې مؤمنانو نه همت لاړ
یو تر بله سره ږدي د ټګۍ لومې — له هر چا څخه احسان او مروت لاړ
هغه کس دی بختور «عبدالعظیمه»! — چې له سرایه د دنیا نه امانت لاړ

(رانیزی، ۱۳۳۳هـ.ق، ۴۳- ۴۴ مخونه)

میا نعیم متي‌زی د شیخ محمد شعیب زوی، په قبیله خلیل مهمند دی. د شاه‌زمان سدوزي معاصر دی، د پېښور په خلیلو کې زېږېدلی او لوی شوی دی او خپل دیوان یې په ځوانۍ کې په ۱۲۳۰هـ.ق کال ختم کړی دی، نو دغه شاعر د ۱۲۰۰هـ.ق په حدودو کې زوکړی او روحاني حیات یې درلود. داسې ښکاري چې په خپله میا نعیم د سدوزو په عصر کې کندهار ته راغلی دی، د دوی اولاده د کندهار د

ناکودک په کلي کې هستيري او خلک عقيدت او ارادت ورته لري.

د ده دېوان تقريباً درز زره بيته دی، د شعر مضامين يې عشقي او تصوفي دي. د رحمان بابا د سبک پيرو او د دغه مکتب يو ښه لوستونکی دی. د تصوف په دنيا کې لکه استاد ماهر دی. په پښتو شعر کې ډېر د دې ژبې نادر لغات او کلمات راوړي، ويناوې يې متانت او سلاست او ځينې بدلې يې په رواني او خوږوالي کې د لوړو استادانو د بدلو خوند لري(رښتين، ۱۳۹۱ل - الف، ۳۸۴، ۳۸۵ مخونه).

لاندې مثالونو کې د شاعر ادبي نزاکتونو ته ملتفت کېږو:

په وصال کې مې زياتيږي شر و شور لا — ستا بېلتون راباندې ولګوي اور لا
د ابروی متاع که غواړم په ياری کې — په سودا کې ستا د مينې شم سر تور لا
که په مينه کې تهمت په ما وايه شي — د عشق کار مې پخته کېږي په پيغور لا
که هر څو يې په امېد ورشم تر زلفو — لګوي مې خوله پر زړه باندې منګور لا
په ژړا مې هيڅ پروا د ښکليو نه شي — په باران د باغ ګلونه شي سمسور لا
لکه موم يې ويلې کېږم د مخ نور ته — په وصال کې راښکاره کا هسې زور لا
چې يې خيال د زنخدان و زړه ته تېر کړم — په کوهي کې مې غوزار کاندي نسکور لا
که نعيم ته ځان ښکاره لکه افتاب کړې — لکه ګل هسې يې زړه شي ورته خور لا

(ميا نعيم، ۱۹۶۴م، ۳۷ مخ)

د نصيحت په بڼه وايي:

هر سحر جرس نارې وهي تيار شه — د غفلت په خوب اوده پاسه بيدار شه
وداني په لارې نشته توښه واخله — د توښې په زېرمه پورته په تلوار شه
قزاقان يې تل وهي بدرګه بيايه — په دا لار کې وېره ډېره ده، اوښيار شه
چې صبا يې په کول پښېمانه کېږي — لا وړومبی له هغو بدو توبه‌ګار شه
ته چې بل ته نصيحت کوې نعيمه — مستقيم يو وارې ته په خپل ګفتار شه

(ميا نعيم، ۱۹۶۴م، ۷۹ مخ)

د اخلاص په باب کاږي:

بې اخلاصه د اسلام حلاوت نشته — که اسلام دی ګفتګو دی د اخلاص
که زمين دی که زمان که عرش کرسي ده ذکر فکر په هر سوی دی د اخلاص

صافوي خړې سینې له غیره فکره هسې رنګه شست و شوی دی د اخلاص

(میا نعیم، ۱۹۶۴م، ۸۹ مخ)

له بلې خوا واعظ ته په خطاب کې وایي:

مکوه وما وته پندونه نور واعظه څله کړې بې ځایه په عشاقو زور واعظه

پټه په غلا مینه ډېر عالم کوي د ترکو زه په کوم ګناه کړم تا دا هسې چور واعظه

(میا نعیم، ۱۹۶۴م، ۹۵ مخ)

د میا نعیم دیوان د خیال بخاري په زیار په ۱۹۶۴م کال چاپ شوی دی. کله چې د ده د دیوان پاڼې واړول شي، نو په شعرونو کې یې همدا دوه ډوله (عشقي او تصوفي یا ديني) اشعار مخې ته راځي.

شیخ احمد خان د لغمان د زیارت په کلي کې اوسېده. دی د ۱۲۰۰هـ.ق په حدودو کې ژوندی او د تیمورشاه په عصر کې یې رتبه او معاش درلود، د ده د علم او خوارې شعر شهرت په هره خوا کې و. نوموړی د تیمورشاه د عصر په پای کې وفات او د لغمان د مهترلمک د مړستون په خوا کې ښخ دی. نوموړي په پښتو او عربي ژبو شعر وایه او د ده سبک او د شعر ډول په لغمان او ننګرهار په شیخ احمدخاني شعر مشهور او د هغې خوا شاعران چې تر ده وروسته تېر شوي دي، په استادي مني او په شاګردي یې افتخار کوي. د شیخ احمد پاخه او طبیعي اشعار په ملي لهجه زښت مشهور او په خوږوالي او بلاغت کې خړګند او وتلي دي. که څه هم له شیخ کوم مرتب دیوان نه دی پاتې، مګر متفرق اشعار یې د خلقو په زړو کې ساتلي پاتې دي. شیخ احمد د قرآن عظیم *تفسیر* په پښتو نظم کړی او دا خپل جاوېد اثر یې د ملي ژبې په ادب کې پرېښی دی، مګر متأسفانه دا مبارک کتاب اوس ورک دی. د وینا نخښې یې:

کمیس یې شین اغوستی لکه کوتره ګرځي په شنه جلګه راغله له یار سره اوتره ګرځي

د خندا ډکه خوله دا ښکلې ناز پروره ګرځي یو یې شین خال دی، نندارې یې د جبین کړمه ملي بدله

مخ دې جماعت صنم، شین خال دې امام دی ومې لیدې صبح و شام، نښه د اسلام دی

مخ دې لکه لمر جنې وختې د پام پر سر زه دې یم نوکر جنې ودې نیو سور شال پر سر

لور د زورورو یې ګرځې د کلا پر سر ډېره ښایسته یې ته نن مې درته پام دی....

(رښتین، ۱۳۹۱ل - الف، ۳۷۷، ۳۷۸ مخونه)

شیخ احمدخان په دیني علومو، تفسیر او احادیثو کې کافي معلومات درلودل، د پښتو په ملي آهنګونو ښې ترانې لري او دیني قصص یې هم په همدې قالب کې منظوم کړي دي. د ده غزلې او اشعار شفاهي بڼه لري او د سیمې خلکو په خولو کې وې. شیخ د قرآن عظیم تفسیر نسخې نایابه دي. دا د ده شعر دی:

بله مینه په کار نه ده ماسوا د حق له مینې

چې یې زړه وکاندي جوش احمد خان ګرځي تازه(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۹- ۲۰ مخونه)

شیخ احمد خان د خپل وخت لوی صوفي، عارف، عالم او وتلی شاعر و. د مهترلام بابا مرید او په زیارت کې یې همېشنی شیخ پاتې شوی دی. ډېره دیني پوهه او علمي شخصیت یې درلود. یوه وړه د شعرونو ټولګه یې لال پاچا ازمون د «*سندریزې کیسې*» په نوم راټوله کړې ده.

چاربیته

هغه ورځ سخته ده چې بده جدایي راشي چې بند په بند وربل بېلیږي له جبینه سره

هغه ورځ سخته ده چې کور ته یې ریبار ولېږي چې د جلې پلار ته یو پوه سړی هوښیار ولېږي

مالګه، نکریزي، اسبابونه، نقل بار ولېږي پرېکون یې وکوي غوایي، وریجې تیار ولېږي

دیګی په شاقفګیر په لاس ورته نایي راشي کار یې تمام غوایی خلاص کړي ماسپښینه سره

هغه ورځ سخته ده چې کار د دوی تیار شي نا چې د واده په خیرو و شر راضي یې پلار شي نا

نه به یې خوب نه به خندا روغه ببمار شي ناواړه غمونه د جلې په سر انبار شي نا

(سعید، ۱۴۰۱ل، ۷۸، ۷۹ مخونه)

د **پیاو الدین** یا **فیاو الدین** دیوان «*عجیب البیان*» نومیږي چې ۱۳۵ پاڼې لري او د بیتونو شمېر یې څلورنیم زرو ته رسیږي. د ده دیوان د تصوفي او په تصوفي رنګ کې رنګ د عشقي او اجتماعي شعرونو مجموعه ده. له دیوان څخه یې څرګندیږي چې ده په دیني مسایلو کې ښه مطالعه درلوده او د دې ترڅنګ یې د تصوف مطالعه کړې وه او د خپل وخت د کوم پیر د مریدۍ په حلقه کې شامل و. د پیاوالدین ژوند تر ۱۲۰۰هـ.ق کال او را وروسته ټاکل کېږي. د وینا نمونه یې:

زړه دې وخوړ په دا ډېرو اندېښنو راشه هیله د خدای واخله په دیښنو

ملا بسته کړه د همت پټکی تر ملا کړه زغره واغونده د ننګ د پښتنو

توکل د وړاندې سپر په لاس کې نیسه برابر ورځه د دوی په نښانو

له اوله اتفاق د قوم بايده دی　　حاکمان نيسي وطن په سهمانو
د هغه قوم په دښمنو بری نه وي　　چې يې زړونه سره ډک وي له کينو
يو سړی چې په اولس کې بد کردار شي　　مبتلا يې کا ډېر خلک په فتنو
(رفيع، ۱۳۵۹ل، ۱۰۲، ۱۰۴، ۱۰۸ مخونه)

د **ملا لتاړ شلماني** د ژوند زمانه د دولسمې هجري پېړۍ وروستۍ او د ديارلسمې پېړۍ د لومړۍ نيمايي تر لومړيو څو لسيزو پورې ټاکل کېږي. د ده د مړينې يقيني نېټه نه ده څرګنده. د ملا لتاړ شلماني ديوان د ۱۱۹۰هـ.ق کال کې بشپړ شوی او دا مهال به د ۲۹ کالو و، نو په همدې بنا د ده د زوکړې کال شاوخوا ۱۱٦۱هـ.ق کال ټاکل کېږي. دی د نواب فيض الله خان (۱۱۸۸- ۱۲۰۸هـ.ق) په زمانه کې په رامپور کې اوسېدلی دی(هېوادمل، ۱۳۹٦ل، ۳۸۸، ۳۸۷ مخونه).

د ملا لتاړ د ديوان له مطالعې څخه څرګنديږي چې ده د خپل وخت دوديز علوم لوستي او ښه عالم و. همدارنګه دا هم ورڅخه ښکاري چې اصلاً د شلمان يا سلمان دی، دی وايي:

په غمزه د تورو سترګو ناغه دارو　　زخمي کړی زه «لتاړ» سلماني تا يم

خو له دې بيت څخه دا نه معلوميږي چې دی په هند کې زېږېدلی او که په خپل اصلي ټاټوبي (سلمان يا شلمان) کې. (د افغانستان په ختيځو سيمو او پښتونخوا کې د شلمان په نامه کلی دی چې د لتاړ په شعر کې د سلمان په بڼه راغلی دی). خو دا خبره ښکاره ده چې دی د رامپور د پښتنو په ادبي بزم کې شامل او د نواب فيض الله خان د نوابۍ پر مهال يې همالته ژوند کړی دی(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ٦٦۴ مخ).

د لتاړ له نامه سره د «ملا» نسبت دا ښکاره کوي چې ده به په ديني علومو او د وخت په رواجي علومو کې مطالعه درلوده او د خپل زمان له ادبي روایاتو سره هم يو څه آشنا ښکاري. له ده څخه *ديوان* پاتې دی چې په چاپي نسخه کې يې ګرده ۳۰۹۰ بيته راغلي دي. ملا لتاړ د رحمان بابا د سبک پيرو ګڼل شوی دی. ده د مينې او عشق د موضوع د بيان ترڅنګ اخلاقي مطالب او مواعظ زيات په خپل شعر کې بيان کړي دي. دغه راز يې په ځينو پاړکو او بيتونو کې د سلوک او معرفت خبرې هم شوې دي او د عرفاني افکارو نری شمال هم پرې لګېدلی دی، لکه دا بيتونه:

ساقي ما لره می د محبت را　　له دې خلکو يې پناه په څه حکمت را
چې يې نوش کړم خبر شم له شش جهته　　هسې ما لره شراب د معرفت را

میخانې لره مې بوځه چې پرې سېر شم　　د زغملو یې هم ما لره طاقت را
د دنیا له می نابه مې توبه شه　　ته و ما لتاړ شراب د حقیقت را
(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۸۸، ۳۸۹، ۳۹۰ مخونه)

د ملا لتاړ دیوان د عبدالرحیم ځدرانۍ له خوا له هغې یواځینۍ قلمي نسخې چې د هند په ملي موزیم کې خوندي ده، رانقل او د ده له سریزې، لمنلیکونو او لغتنامې سره په ۱۳۶۷ل کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز له خوا په ۲۶۰ مخونو کې چاپ او خپور شوی دی. د نوموړي د دیوان زیاته برخه غزلو نیولې خو ځلوریزې او ځینې نور شعري فورمونه هم په کې شته.

د هغه د دیوان شعرونه ټولنیزه، دیني، تصوفي او عشقي محتوا لري چې په هغو کې بېلابېل لفظي او معنوي صنایع هم پرېمانه دي.

د ملا لتاړ د مړینې کره نېټه څرګنده نه ده، خو معلومیږي چې دی به تر ۱۲۲۱هـ.ق کال پورې ژوندی و. ښایي تر دې وروسته یې هم ژوند کړی وي خو په اړه یې معلومات په واک کې نشته(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۶۶۴ مخ). د ملا لتاړ د دیوان پیل داسې شوی دی:

کل ثنا ده خدایه ستا　　چې ته رب یې د هر چا
ښکته پورته چې هر څه دی　　همه واړه دی له تا
ته ځښتن د کل عالم یې　　بل یو سیال نشته د تا
واړه خواست کاندي له تانه　　که بادشاه دی که ګدا

د کلام بله بېلګه یې:

چې داخل د پیرمغان په میخانه شوم　　په یوه پیاله د میو مستانه شوم
خپل پردی راځخه تېښته کا له ورایه　　په اتکل د روغو خلقو دیوانه شوم
له تندي مې همېشه لوڅې خېرې　　په آتش د عاشقۍ کې بریانه شوم
د ناموس نمرې مې لرې کړې له ځانه　　په موسم د شیدایۍ کې عریان شوم
(ملا لتاړ، ۱۳۶۷ل، ۱۵، ۱۰۵ مخونه)

نوموړی د هدفمن ژوند تېرولو په پار موږ ته کاږي:

که څوک شپې ورځې د خپل عمر په شمار کا　　اواره به د دنیا فاني روزګار کا
د نېکي په لور به یون کا له اخلاصه　　ځان به خپل له جمله بدو پرهېزګار کا

تل تر تله به مشغول په عبادت شي　　په هر دم به له گناه استغفار کا
د غفلت پردې به لرې کا له سترگو　　په خاطر کې به صحيح د بهبود لار کا
(ملا لتار، ۱۳٦۷ل، ۲٦ مخ)

د کوهاټ په ځنګل‌خېلو کې ښځ **مطيع الله پيره‌خېل** د رحمان بابا د سبک بل د ديوان خاوند شاعر دی چې د دولسمې پېړۍ په اواخرو او د ديارلسمې په لومړي نيمايي کې يې ژوند کړی دی. ادبي مؤرخان يې ژوند تر ۱۲۵۰هـ.ق کال پورې يقيني ګڼي. ده په پښتو، پارسي او هندکو ژبو اشعار ويلي دي. په پښتو کې تر يو *ديوان* پاتې دی چې موضوعات يې اخلاقي، تاريخي، عشقي او ديني دي. پر ديوان سربېره د ده يو *مناجات* ډېر مشهور دی چې په لسګونه چاپونه لري. مطيع الله «*نورنامه*» هم لري. ده ته ادبپوهانو د «خوشنوا بلبل» لقب ورکړی او د رحمان بابا د سبک په پيروانو کې د ښې وينا خاوند دی. يوه سوزناکه رباعي يې دا ده:

هېر به دې نه کړم شيرينه ياره　　ته ما هېر مه کړه د خدای دپاره
زه مسافر شوم د هند د لوري　　ته خوشحالېږې د نورو ياره(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۸۲ مخ)

د افغانستان ملي آرشيف کې «د مطيع الله پيرخېل ديوان» په اړه راغلي چې د دغې نسخي کاتب شيخ نيازګل دی، د کتابت کال يې دقيق معلوم نه دی، کېدای شي د ديارلسمې هجري پېړۍ په وروستيو کې ليکل شوی وي، د پاڼو شمېر يې (۱۴٦). پيل له غورځېدلو پاڼو وروسته: کل لويي کبريايي...

پای: دی سردار د راجين(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۱۵- ۱۱٦ مخونه)

د مطيع الله پيره‌خېل يو څه شاعري د «ځنګل‌خېلو ادبي ټولنې» په اوږده کچه په پښتور کې په ۱۹۸٦م کال چاپ کړې ده، خو څېړندوی بشرمل زرغون وايي چې ده يې د ملي آرشيف له نسخې څخه انتقادي متن برابر کړی خو لا چاپ نه دی.

د مطيع الله ديوان تقريباً دوه نيم زره بيته دی، دا ديوان په ۱۲۲٦هـ.ق کال کې تمام شوی او «نورنامه» يې هم په وروستيو پاڼو کې ليکل شوې ده. که څه هم د مطيع الله وينا اکثره عشقي ده، ليکن په خپل ديوان کې يې اخلاقي، اجتماعي او تاريخي مضامين هم ويلي دي. معلومېږي چې مطيع الله په پخوانو قديمي علومو او خصوصاً په منطق کې هم تر يوې اندازې پورې بلديت درلود او د رحمان بابا د مکتب شاګرد او د سبک پيرو دی. ده په خپل ديوان کې د عصر ډېر وقايع او د هغه وخت د مشاهيرو نومونه راوړي دي(رښتين، ۱۳۹۱ل - الف، ۳۹۱ مخ).

د کلام بېلګې يې:

لکه زه يم په تنور کې د هجران وريت — هسې رنګ به کباب نه وي پر دوکان وريت
دا سرخي چې د غروب پر وخت ليده شي — دا ځما له آهه منځ شو د آسمان وريت
ته ګمان د دروغجن راباندې مه کړه — زه مجنون غوندې په عشق يم يکسان وريت
بلبلان په سحر ځکه کوکې کاندې — چې يې زړونه دي په غم کې د خزان وريت
وايي ځکه د اغيار ترځنګه دروم — چې زړګی شي د عاشق راته ښه شان وريت
لکه وچ پاڼې چې اور ته کړې بيا وريت وي — د يار سترګو هسې زه کړم په زمان وريت

(پيړه‌خېل، ۱۹۸٦م، ٦۹ مخ)

پورتنۍ شعر يې د عشقي خوا څرګندونه کوي او دا لاندې شعر يې بيا له الله تعالی سره د مينې اظهار کوي:

ځوک چې مينه په خدای کا په دنيا نه کا هغه شپه ورځې ژړا کا خندا نه کا

د هيڅا طاعت به هومره قبول نه شي — ځو اخلاص په عبادت کې پيدا نه کا
بيا به نه مومي لذت دا ستا د يادو — ځوک چې ترک واړه لذت د دنيا نه کا
تر درګاه به دې هيڅوک هومره رانه شي — ځو چې خپله اور په خونه لګيا نه کا
هم به پټ اسرار هيڅا ته څرګند نه شي — ځو دا خپل عمل خالي له ريا نه کا
مطيع الله ډېر ګناهګار، اختيار د ستا دی — که بخښې يې ځوک به چون و چرا نه کا
مطيع الله له جمله بدو توبه وکړه — ربه ته که توفيق ورکړې چې بيا نه کا

(پيړه‌خېل، ۱۹۸٦م، ۵۷ مخ)

طالب رشيد د ملا لعل بېګ زوی د دراني تيمورشاه په عصر (۱۱۸٦- ۱۲۰۷هـ.ق) کې د پکتيا اريوب کې ژوند کاوه. شاعر او د ديني علومو عالم و. د «*ګل او صنوبر*» کيسه يې په ۱۱۹۴هـ.ق کال کې له پارسي ځخه په پښتو نظم انتقال کړې ده. دا د هغه دی:

ما رشيد هم نشانه کړه — په کتاب مې يادە نامه کړه
د ملا لعل بېګ فرزند يم — د آخوند صاحب دل بند يم

(هېوادمل، ۱۳۵٦هـ.ش، ۲۸۳ مخ)

د دولسمې پېړۍ د شاعرانو او ناظمانو له ژوند، احوال او آثارو سره تر بلدتيا وروسته، اوس تردې

ورپسې یعني **دیارلسمې پېړۍ** د همدغسې اشخاصو جاج اخلو.

محمدجي په اخونزاده مشهور لوی عالم و، د ګدون د علاقې په دیول نومي کلي کې استوګن و. د حضرت سید امیر صاحب له خاصو مریدانو څخه و، د سوات اخوند عبدالغفور صاحب چې له حضرت‌جي صاحب سره په ۱۲۶۰هـ.ق کال اختلاف و، نو په هغه وخت کې دې شاعر په یوه نظم کې د حضرت‌جي صاحب تعریف او مرسته کړې ده. محمدجي لوی فقهي عالم و، د فقهې علم په مشهور کتاب (شرح الوقایه) باندې یې ډېره فاضلانه *حاشیه* لیکلې ده چې یوه قلمي نسخه یې د ده د زوی محمد اشرف اخونزاده په لاس لیکل شوې ده. د محمدجي یو نظم په «مدح الابرابر» او دوه چاربیتې یې د پادري هیوز په پښتو مجموعه کې راغلې دي. صفي الله ختک په خپل کتاب (نظم الدرر) کې د حضرت‌جي صاحب د کوټې د سوات د لومړني سفر چې د ۱۲۷۲هـ.ق کال په دوران کې یې کړی و، د ګدون د علاقې د څومره مریدانو او عالمانو نومونه ذکر کړي، په هغه کې د محمدجي نوم په نظر نه راځي. هر کله چې په دې سفر کې د حضرت‌جي صاحب سره ټول عالمان او مریدان ملګري وو، نو په دې وجه دا ویلی شو چې محمدجي له ۱۲۷۲هـ.ق کال نه مخکې کلونو کې وفات شوی دی(افغاني، ۱۹۶۳م، ۱۹۰ مخ).

محمدجي مجذوب شاعر و او د پښتو په ملي اوزانو یې شعرونه ویل. د هغه شعرونه ډار مستېر ثبت کړي دي. دا د هغه دی:

چې مازیګر شي شاه د ځان په جوړول ولګي
اور مې په ګوګل ولګي(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۳۶ مخ)

د کلام بله نمونه یې:

په حجت نه حدیث وو نه کتاب — ره ګمایي شه د ړندو اخون کذاب
سرانجام د مشیخت یې فضیحت وي — چې په لاره د سنت نه کړي ذهاب
چې پلیته په ګندګۍ لري مښوکه — د طوطیانو مقام نه مومي عذاب
د رښتینو خوی میدان ته راوتل وي — دروغژن ګرځي مخ پټی په حجاب
په افواهو د بدخواهو نه پټیږي — هغه نور چې متمم یې وي وهاب(افغاني، ۱۹۶۳م، ۱۹۱ مخ)

محمد امان د ملا زمرد اخوند زوی، په قوم داوی دی. د کندهار د خوا معلومیږي. د ده یو وړکی قلمي *دیوان* شته. کلام یې عشقي دی، شعر یې ډېر پوخ نه معلومیږي. د دیوان په اخر کې یې د دیوان د ختم

تاریخ (۱۲۸۳هـ.ق) کال لیکلی دی. له دې نه معلومه شوه چې د ده ژوند له ۱۲۵۰هـ.ق راپدېخوا و. له دیوان څخه یې دا نمونه را اخلو:

مستي راشه نن دې وار دی　　در لېرلی مې رویبار دی
ستا د هجر په لمبه کښې　　زما پر زړه د غم ناتار دی
تورې زلفې دې شانه کړې　　خراب زړه مې ناقرار دی
تور بانه دي خدنګ غشي　　پر ما خوار باندې یې وار دی
زه محمد امان رنځور یم
دوا راوړه د خدای پار دی(رښتین، ۱۳۹۱ل - الف، ۵۶۱ مخ)

د افغانستان ملي آرشیف کې «*د ملا محمد امان کندهاري دیوان*» شته چې ۱۶۴ پاڼې لري. شته پیل: هم د ځای د عافیانو هم مسکن د کاظمانو....

پای: در پادشاهی شیرجان در خیل عظیم اخوندزاده...(نجرابي، ۱۴۰۲ ل، ۱۰۷ مخ).

ملا شېرداد کاکړ دیني عالم او د دیارلسمې هجري پېړۍ د حدودو پښتو ناظم و چې د کندهار په شاوخوا کې اوسېده. د دیني علومو عالم او پښتو نظمونه یې ویلي دي. د عین العلم کتاب یې د «*زرین الحلم*» په نوم په پښتو منظوم ژباړلی دی. دا د ده دی:

په پښتو مې دین منظوم کړ　　چې اسان پر هر افغان دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۲۶۳ مخ)

محمد د دیني علومو عالم او د پښتو مذهبي ناظم و چې د دیارلسمې هجري پېړۍ په شاوخوا کې یې ژوند کاوه. د وخت په رواجي علومو، اخلاقو او سیر کې یې مطالعه لرله. د حضرت محمد ﷺ *سیرت* یې په ۱۲۶۶هـ.ق کال منظوم ژباړلی دی. دا د هغه دی:

ای زما ربه خالقه　　کل ثنا ده ستا لایقه(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۲۶ مخ)

شمس الدین دلازاک عالم، فقیه او مذهبي ناظم و چې د یوولسمې هجري پېړۍ په حدودو کې ژوندی و. دی د فقهې او میراث په علومو کې وارد او د صلاحیت خاوند و. په پښتو او عربي ژبو یې لیکل کول. د «*شمس الباصرین*» په نوم کتاب یې په پښتو مثنوي په ۱۰۹۶هـ.ق کال نظم کړی دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۲۵۵ مخ).

د شمس الدین دلازاک یوه زړه قلمي نسخه د کابل په عامه کتابتون کې قید ده، دا قلمي اثر څلور برخې لري: په عربي څو پاڼې دعائیه، په پښتو نظم شمس الباصرین، سراج (په عربي)، د حساب په باره

کې څو پاڼې.

«شمس الباصرین» پښتو منظومه رساله یې ۳۸ مخونه لري او داسې شروع کېږي:

د اوله آغاز مې په نامه د پاک سبحان دی

چې اول آخر یې نشته دی خالق د کل جهان دی

بسم الله وایم قدیمه	اې هادي رحمان رحیمه
هدایت غواړم له تا نه	اې په سر خفي علیمه
علم راکړه علیمه	ستا په فیض بې تعلیمه
چې علم ورسره مل وي	سمه لار وي مستقیمه
مستقیم مې په عمل کړې	بل توفیق راسره مل کړې....
اوس یاري غواړم له خدایه	چې دی خیرالناصرین دی
که مې دا کتاب تمام که	نوم یې شمس الباصرین دی

د کتاب د لیکنې په باب لیکي:

یوم ختم سن هجري	اوس یو ځای وینه دوه توکه

که د یوې توجیه له مخې (یو ختم) د ابجد په حساب د کتاب د لیکلو تاریخ وګڼو، بیا نو ۱۰۹۶هـ.ق ترې راوځي. په داسې حال کې چې د سراجي په آخر کې د شیخ رحمکار د یوه لمسي لاسلیک لیدل کېږي او شیخ رحمکار په خپله په ۱۰۶۳هـ.ق کې وفات شوی دی. سړی فکر کولای شي چې شاعر شمس الدین دلازاک هم د دغې زمانې سړی و او د شیخ رحمکار د سلسلې مرید او متصوف شاعر دی(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۸۴۳- ۸۴۴ مخونه).

د «شمس الباصرین یوه قلمي نسخه د پېښور د پښتو اکیډیمۍ په خطي کتابتون کې شته. د پېښور د نسخې له اختتامیه لیکنو داسې ښکاري چې شمس الدین دلازاک د لاچي اوسېدونکی و(هېوادمل، ۱۳۶۷ل - الف، ۸۷ مخ). بله قلمي نسخه یې د افغانستان په ملي آرشیف کې خوندي ده چې پیل او پای یې داسې دی:

وروسته له بسم الله:

دا ولي آغاز چې په نامه د حق سبحان دی چې اول اخر نشته دی خالق د کل جهان دی

پای: خدای مه کړه بې ایمان شمس الدین بیان د....؟

هر که خواند دعا طمع دارم
زانکه من بنده گنهگارم(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۲۸ مخ)

ملا بازګل اخونزاده ديني عالم، يوناني طبيب او د پښتو ژبې ناظم و. د ديارلسمې هجري پيړۍ په اوايلو کې يې د پښتونستان شاوخوا ژوند کاوه. پخواني طب کې يې د «*شافع الامراض*» په نوم منظوم کتاب تأليف کړی دی. دا يې شعر دی:

دا نسخه شوله تمامه　　درته وايم نېک فرجامه
له دسته د بازګل　　په همزولو کې دی ګل(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۶۹ مخ)

«شافع الامراض» چاپ نه دی، خطي نسخه يې په ۸۸ مخونو کې د پېښور پښتو اکېډيمۍ په خطي مجموعه کې خوندي ده(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۲۷ مخ).

حميدالله د اميرالله خان زوی په ۱۲۲۵هـ.ق کال زېږېدلی او په ۱۳۱۷هـ.ق کال د ۹۲ کالو په عمر وفات شوی دی. د مردان ضلعې د صوابۍ تحصيل د کالوخان نومي کلي اوسېدونکی و، په قام رزړ مندن او د خپل وخت ښه عالم شاعر او د ديني علومو مدرس و. په پښتو ژبه مثنوي کې يې يو کتاب ليکلی دی چې قلمي نسخه يې له زوی سره وه چې بيا ترې ورکه شوې ده. د کتاب نوم «*احوال النساء*» و. يو څو شعرونه چې د زوی په بياض کې يې ليکلي، پاتې دي.

د کلام بېلګې يې:

په چينه يا په ګودر کې　　چې شي جمع لکه زرکې
وايي ګوره کنه خوارې　　د فلانکي د خاوند چارې
داسې ترخ ورسره تله کا　　تش د خولې غږ ورته نه کا
هلته بله پرې نعره کا　　لکۍ پورته لکه خره کا
هلته بله خوش ګفتاره　　پرې راپورته شي د واره
وی زما خو خپل خوی دا دی　　و هر چاته هويدا دی
چې خاوند مې راشي کور ته　　مخ ترې واړوم بل لور ته
زړه مې ناخلي چې خوږيږم　　چې د کټه به کوزېږم
وايم نشته زما زور　　په پښه وښيم ورته شکور
چې څه مومي هغه وخوري　　چې څه نوي نور به څه خوري

بيا کنډې کنډول کنګال لوښي ټول سره سنبال

چې بهر ځي رخصت غواړي

بې رخصته خوري سوباړي

* * *

د ده وس به د خامتا وي هم هغې ته يې وارخطا وي

دا به وايي ګډې وډې په خامتا مې خوږ شوې ډډې

ريښم راوړه را له پور تر پټو به کوم کور

لس لس پټې مې خوښيږي چې هر څوک راته پسخيږي

را له راوړه ګل بدن اَلچه شه ستا کفن

شي سوسی سپېره دې ورکه سور سالو غواړم په کلکه(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۸۲- ۲۸۳ مخونه)

له دې شعرونو د دې شاعر سادګي او د طبيعت رواني معلوميږي. ژبه يې ساده ده، روزمره محاورې دي او د هغه وخت د نفسياتي او تهذيبي رجحاناتو عکس په کې ځلانده دی.

ملا احمد د اسماعيل ابدالي زوی د کندهار له الکوزو څخه و. مشهور عالم او ليکوال و. په کندهار او هند کې يې خپل تحصيلات سرته رسولي دي او د تيمورشاه په عصر کې قاضي القضات و. نوموړي په کندهار کې ډېر مشهور عالمان، لکه کندهاری محقق مولوي حبيب الله کاکړ، ملا عبدالحق علي‌زی او ملا کټه تره‌کی روزلي دي. ملا احمد قندهاری په طريقت کې د پوټي له ميا نورمحمد څخه استفاضه کړې ده. د حجاز سفر ته تللی او د عربو له علماوو سره يې علمی مباحثې کړې دي. دی د خپل وخت قاضي، مدرس او روحاني مشر و. ملا احمد د ۱۲۲۰هـ.ق په شاوخوا کې په کندهار کې وفات شوی دی. ډېر کتابونه يې ليکلي چې تر اوسه يو هم نه دی چاپ شوی او ټول خطي دي، لکه:

۱-*تعليم السلوک*: د تصوف په موضوع کې.

۲-*کاشفه*: په پارسي ژبه.

۳-*فارقه*: د وحدت وجود او شهود د فرق په باره کې عربي رساله.

۴-*بيان الوافي في الطوايف الصوفية*: عربي رساله ده، د صوفيانو د ډلو او طريقو په بيان کې.

۵- د *منطقو پر تصور او تصديق باندې شرح*.

نوموړی د پښتو شاعر هم و، خپلې اشعار يې د خلکو په ياد و، لاندې رباعي يې پوهاند حبيبي له قاضي

اخترمحمد ساکزي څخه اورېدلې ده:

نظر مې وکړ کون و مکان ته دې کښتي، پورتي، مځکې، اسمان ته

څه چې لیده شو یواځې دی و شئون د ذات دي ګوره جهان ته(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۱۰۶۱ مخ)

قاضي غلام محمد هوتک د کندهار له مشهورو قاضیانو او پیاوړو عالمانو څخه و چې د امیر شېر علي خان د سلطنت په دوره کې یې ژوند کاوه. قاضي صاحب په فقه او تصوف کې چاپ او ناچاپ آثار لري چې مشهور یې «*ارشاد الحق*» نومیږي. دا ستر ديني عالم او لوی عارف په ۱۲۳۴هـ.ق کال وفات شو(سعید، ۱۳۹۴ل، ۲۹۲ مخ).

قاضي غلام محمد په شرقي او اسلامي علومو کې استاد کل، په فقهې، حدیث، تفسیر، صرف و نحوه او په اخلاقو کې د تبحر او اجتهاد درجې ته رسېدلی و. امیر شېرعلي خان د قاضي صاحب پر علم او تقوا زیات متقاعد و، کله چې به په کندهار کې و، د تګ او راتګ علاقه یې ورسره ساتله، سید جمال الدین افغان په هغه سفر کې چې کندهار ته راغلی و، د کندهار د لویو ملایانو په لړ کې یې د قاضي صاحب نوم هم اخیستی دی او د ده په کور کې یې ورسره لیدلي دي. قاضي صاحب په کندهار کې وفات شوی او قبر یې د شاه ولي پر غاړه حضرت جي بابا نږدې دی(سلطاني، ۱۴۰۰ل، ۸۳ مخ).

قاضي غلام محمد هوتک چې په اسلامي علومو کې د «استاد کل» لقب ګټلی و چاپ او ناچاپ آثار لري چې مشهور یې «ارشادالحق» دی. د «*تنزیه الخلفاء عن مطاعن الاعداء*» په نوم اثر هم لري چې په ۱۲۶۴هـ.ق کال یې بشپړ کړی دی(هوتک، ۱۳۸۴ل، ۱۳۳، ۱۴۳ مخونه).

میر امام الدین احمد دروېش د شیخ سعد الدین احمد انصاري (۱۱۴۰- ۱۲۲۵هـ. ق) زوی دی چې په ۱۲۲۳هـ.ق کال کې ژوندی و. د هغه له دې بیت نه څرګندیږي چې سپین‌ږیرتوب ته رسېدلی و:

ږیره سپینه شوه دروېشه فکر وکړه کردګار ته ملامت یې مخ دې تور دی

میر امام الدین ديني مروج علوم لوستي او د تصوف په مقاماتو پوه و. د پښتو او دري ژبو شاعر و. لاندې آثار ترې پاتې دي:

۱- *د پای منار د حاجي صاحب د احوالو رساله*: په دې اثر کې دی د خپل پلار (حاجي صاحب) د نسب، سلوک، ژوندانه، خوارقو او کراماتو او د هغه د وفات په باره کې معلومات ورکوي.

۲- *د شعرونو دیوان*: په دې دیوان کې غزلیات، قصاید او رباعیات راغلي دي. د دې دیوان شعرونه په دري ژبه دي، خو د شاعر یواځې اوه پښتو غزلې هم په کې خوندي دي. کېدای شي چې نور پښتو

شعرونه هم ولري. نوموړي د نجوم او هيأت په علومو کې هم آثار ليکلي دي(خدمتګار، ۲۰۱۳م کال، ۲۰۹۸، ۲۰۹۹ مخونه).

د پښتو شعر نمونې يې:

که ياري راسره نه کا يار زما — تر قيامت به وي، بل اور شرار زما
ما د سپي رقيب په سخه نه کې خدايه! — په چمن چې ګل د ده شي خار زما
که مجنون يم په طلب د يار ناصحه! — سر لوړي ده په کې نشته عار زما....

* * *

زړه مې په ځای نه دی يو زمان دا ستا له لاسه — مړ به شم دلبره په ارمان دا ستا له لاسه
يا خو بيماري مې له علاجه ده وتلې — يا خو نه روغيږي رنځوران دا ستا له لاسه
هوش مې په سر نشته که زما د سر غليم يې — نه دې خپه کيږي پرېشان دا ستا له لاسه....

(خدمتګار، ۲۰۱۳م کال، ۲۱۰۰، ۲۱۰۱ مخونه)

د د دې شاعر د شعرونو عشقي خوا غالبه ده.

علي اکبر اورکزی د دولسمې پېړۍ د دوهمې نيمايي د ديوان خاوند شاعر تېر شوی دی. د ده ديوان «*ګلشن افغان*» نومېږي. د پارسي ژبې شاعر او ليکوال هم و. په تېرا کې زوکړی او هوړې ځوان شوی و. متصوف سړی او د نقشبنديه طريقې پيرو و. د ده ځينې غزلې هنري جذب او کشش لري(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۵۰ مخ).

له يوه شعر نه يې دا اندازه لګېږي چې د ۱۰۸۸هـ.ق کال شاوخوا زېږېدلی دی. د اورکزي شاعرانه افکار نه خو ډېر وسعت لري او نه ډېر ژوروالی، البته په غزلو کې يې ځای په ځای چستي، رواني او رنګيني محسوسيږي. دی د بايزيد روښان د مسلک پيرو او هم د هغه مدرسه فکر شاعر معلوميږي(خليل، ۱۹۶۰م، ۴۲۵، ۴۲۷ مخونه).

څو عارفان کلامونه يې دا دي:

و اسفل ورته يې مه لېره له قصده — روح مِنْ اَمْرِ رَبِّي تر لاهوته
زمانه به دې بيا ور ولي له وصله — شکايت مه کړه له جوره اخوته
کل سختی د ګناه فعل رژوينه — عارفان څکه مائيله دي په سخته....

* * *

ای تر بار د تعلق لاندې کریابو — بېهوده فکرونو وړیو اضطرابو
له صافۍ یې د مینا حرکت نکه — مې و غش له ګوګل راوړي له خرابو
دا بهشت و دوزخ ستا خپله کرده دي — او له اوره وېره څه وي د ترابو
کل وسواس د نوس په خوی پورې تړي — ملک څکه بې پروا وي له عذابو
مړېدل د زمانې له خوانه نشته — تشنه کله سېراب شوی له سرابو
(خلیل، ۱۹۶۰م، ۳۱۰، ۳۱۱ مخونه)

د اورکزي له پورتنیو او دې ورته نورو بېلګو یې ښکاري چې دی په دیني مسایلو پوه شاعر و، په تېره عرفاني اړخ پرې غالب دی او همدا موضوعات یې په کلام کې ظاهریږي.

ملا عبدالنبي بېټنی د محمد اسماعیل زوی په قام بېټنی دی او د کندهار د ذاکر په کلي کې اوسېده. ده د دیارلسمې هجري پېړۍ په اوایلو کې ژوند کاوه، عارف او بزګوار سړی و. دی د کندهار د ذاکر د میان عبدالحمید صاحبزاده له مریدانو څخه و. عبدالنبي د خپل عصر عالم، سالک او زاهد سړی و چې د ذاکر غره په خوا کې یې اوس هم زیارت معلوم دی. ملا عبدالنبي روانه طبعه لري، یو مردف *دیوان* یې هم پرې اینبی دی. د ده د شعر له مزایاوو څخه دا ده چې د پښتو سوچه لغتونه زیات کاروي. مضامین یې اکثره عشقي، عرفاني او زاهدانه دي. په تصوف کې د افکارو پوختوب یې ښه ښکاره دی او د کلام لویه برخه یې هم تصوف دی. له دې لاندې بیتو څخه د ده عرفاني افکار اندازه کولی شو:

د عرفان رانجه که پورې کړې په سترګو — فرق به وکړې د سواد او د بیاض
که دوا د ریاضت کړې په ځان پورې — له وجوده به بیرون کړې کل امراض

د ده له ویناوو څخه ښکاره کېږي چې دی در حمان بابا د مکتب شاګردی دی. هغه د تصوف ګران اصطلاحات او مضامین په ښه ژبه او خواږه شعر ویلی شي. عرفاني او تصوف تجربې یې هم له ویناوو څخه اوخاریږي(رښتین، ۱۳۹۱ل - الف، ۳۸۷، ۳۸۸ مخونه).

مطیع الله روهیال چې د عبدالنبي بېټني دیوان یې ترتیب کړی او په ۱۴۰۲ل کال کې چاپ شوی، لیکي چې عبدالنبي بېټنی د خپل وخت عالم، سالک او زاهد سړی و، د شاعري ډېره برخه یې تصوفي او عرفاني موضوعات جوړوي، خو ترڅنګ یې عشقي خوا هم هېره کړې نه ده او په دېوان کې یې عشقي غزلې هم موندلی کېږي. د استاد خادم په وینا، په تصوف کې یې د افکارو پوختوب ښکاره دی او د کلام لویه برخه یې هم تصوف دی(روهیال، ۱۴۰۲ل، ۱۰- ۱۱ مخونه).

د ده په کلام کې عرفاني پلوشې په غورځنګو دي چې یوه بېلګه یې دا ده:

که په کار دې د شها د نتي تخت دی — لکه لعل هسې سور د زړه په خون شه
لا تر څو به ګدایي کړې حرص ناکه — توکل په سر کې تاج [د] همایون شه
که پر زړه دې د مقصود ګبیني خیال شته — په تلوار روان پر لار د یعبدون شه
د تقوا توښه ترڅنګ درسره واخله — په مقصود پسې ګردان لکه ګردون شه
که هوا د برګ و ښاخ لرې په زړه کې — لکه تخم درست په خاورو کې مدفون شه(بېټنی، ۱۴۰۲ل، ۱۱۴ مخ)

نوموړي په خپل شوخ نظر د محبوبا تصویر داسې جوړوي:

سپین ګردن دې د اصلي چندنو درخته — تورې زلفې تر چارپېر لکه ښهمار دي
سپین جبین دې د افتاب په دود جلوه که — کږې وروځې دې عجب نقش نګار دي
تور مژګان دې واړه غشي د خدنګ دي — هزار زړونه یې پېیلي په هر تار دي
تا چې رخت د حسن کښېښو په بازار کې — خریدار یې پر هر لوري صد هزار دي
ستا د مخ ګلان به څرنګ تازه نه وي — چې اوبه زما د سترګو په جویبار دي
سره لبان دې لکه لعل د بدخشان دي — دواړې سترګې دې له خوابه پرخمار دي
زه نبي چې نن له خلقو پر کنار څم — زخمیان تل له خپله سېله پر کنار دي

(بېټنی، ۱۴۰۲ل، ۱۳۲ مخ)

مولوي احمد الکوزی د مولوي محمد اسماعیل کندهاري زوی، د خپل وخت نومیالی عالم، د کندهار د زیاترو عالمانو استاد او مشهور لیکوال و. نوموړي په کندهار او هند کې خپل تحصیلات سرته رسولي او د تیمورشاه په عصر کې قاضي القضات و. دی له علم او تبحر څخه علاوه عابد او متقي ملا و. روحانیت او معنویت یې خورا قوي و. نوموړي په کندهار کې ډېر مشهور عالمان، لکه علامه محقق حبیب الله کندهاري (مشهور په ابو اخندزاده)، ملا عبدالحق علیزی کندهاری (مشهور په استاد کل) او ملا کټه تره‌کی کندهاری روزلي دي. مولوي احمد حجاز ته هم سفر کړی او د عربو له علماوو سره یې علمي مباحثې کړې دي. نوموړي ډېر کتابونه لیکلي چې مشهور یې دا دي:

۱- تعلیمات السلوک، د تصوف په موضوع کې.
۲- فارقه، د وحدت وجود او شهود د فرق په باره کې، عربي رساله.

۳- بيان الوافيه لطوايف الصوفية، عربي رساله. د صوفيانو د ډلو او طريقو په باره کې.

۴- کاشفه، په پارسي ژبه.

۵- پر مير زاهد هروي شرح.

٦- د ميرزا قطبي پر قطبيه باندې شرح.

په «کندهاري علماء» اثر کې د مولوي احمد الکوزی کندهاري د مړينې کال ۱۲۳۴هـ.ق ښودل شوی چې د کندهار د عيدګاه دروازې دباندې په لويه هديره کې ښخ دی(سلطاني، ۱۴۰۰ل، ۷۳ مخ). خو «د افغانستان مفاخر» اثر کې راغلي چې مولوي احمد الکوزی کندهار د ۱۲۳۴هـ.ق کال په شاوخوا کې وفات شوی دی(سعيد، ۱۳۹۴ل، ۲۸۷ مخ).

ملا محمد حسن تلوکانی په ۱۱۷۷هـ.ق کال د کندهار ښار د لوېديځ په تلوکان نومي کلي کې سترګې غړولې دي. په خټه اسحق‌زی دی چې نوم يې په ځينو تذکرو کې د «ملا حسن اسحق‌زی، ملا حسن د تلوکان، ملا حسن تلوکانی» په بڼه راغلی دی خو په شعر کې خپل نوم معمولاً «حسن» ليکي. ملا حسن مروج ديني علوم لوستي او د خپل وخت له جيدو او پېژندل شويو علماوو څخه ګڼل کېده. هغه د نورمحمد داوي په خانقاه کې د عرفان او سلوک د لارې له نوميالیو مشايخو عبدالحکيم کاکړ او ميا فقيرالله جلال آبادي څخه ډېر څه ترلاسه کړل او د کندهار له مشهور ميا نورمحمد څخه چې په «پوټې بابا» مشهور و، هم فيض موندلی دی. په ټول کندهار کې د يوه لوړپوړي روحاني په توګه پېژندل کېده. ملا حسن څو ځل پلی د حج فريضې د ادايني لپاره د بيت الله شريف زيارت ته تللی دی.

هغه پر پښتو سربېره په پارسي ژبه هم ښه پوهېده او په دواړو ژبو شعرونه ترې راپاتې دي. د «*فارسي ديوان*» يې ۵۰۰۰ بيته دی چې په ۱۲۰۱هـ.ق کال يې ترتيب او تدوين کړی دی. په دې ديوان کې غزلې، مخمسونه او د شعرونو نور ډولونه ليدل کېږي چې لومړی ځل د اعليحضرت امان الله خان د واکمنۍ پر مهال چاپ شوی او له هغه وروسته څو ځله نور هم چاپ شوی دی. د هغه پښتو ديوان تر اوسه نه دی ترلاسه شوی خو «فراقنامه» چاپ او خپره شوې ده. همدارنګه د «پښتانه شعراء» د بشپړ متن په ۵۸۷ مخ (د ۱۳۹۱هـ.ش کال چاپ) کې هم خپره شوې ده. ملا حسن د «تحفة المدايح و مجموعة الفصايح» په نوم يو بل اثر هم ليکلی دی. دا اثر منثورې او منظومې برخې لري چې حمد، نعت، د څلورو يارانو مناقب، اخلاقي او عرفاني موضوع‌ګانې په کې بيان شوې دي.

ملا حسن د ٦۸ کالو په عمر په ۱۲۴۵هـ.ق کال له دې نړۍ سترګې پټې کړې او د خپل کلي تلوکان په

هدیره کې خاورو ته سپارل شوی او مزار یې تر اوسه د خلکو مرجع ده(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ٦٦٠- ٦٦١ مخونه).

ملا حسن تر ځلمیتوبه د علومو په تحصیل بوخت و او له ابتداء د ده طبیعت عاشقانه او د شوق او گدازه ډک و او د ځوانۍ او تحصیل تر ورځو وروسته د ده پر مزاج یو خاص کیفیت جاري شو او په غرونو او رغو کې به پښې‌ېبله گرځېده او د عشق او محبت په نشه به داسې سرشار و چې دنیا او مافیها ته یې نه کتل. ملا حسن د کندهار مشهور میا نورمحمد ته چې په (پوټي میا) مشهور دی، عقیدت درلود. ده ټول ژوند په روحاني خوندو کې تېر کړی او د خپل عصر معروف ديني رهنماء و چې تر اوسه لا هم خلک د ده په زیارت تشرف مومي.

ملا حسن د خپل عصر ډېر لوی عالم، فاضل، زاهد او بزرگوال و چې یوه روانه او خوږه د شعر طبع یې درلوده. دی په پښتو یو بشپړ *دیوان* لري چې ډېر نادر دی. نور تألیفونه یې هم کړي چې د ده د لمسو په لاس کې دي او نشر شوي نه دي. ملا حسن له حضور نبوي سره ډېره مینه لري، دې مینې دی د حجاز پاکې ځمکې ته ور وستی دی. د حسن د پښتو خوږ کلام ډېر اثرناک دی او له دردمنو احساساتو څخه ډک دی، خصوصاً د ده رباعیات په خپل فوق‌العاده ابتکار او سلاست او شور انگېزي کې لوړه درجه لري(رښتین، ۱۳۹۱ل -الف، ۳۷۰، ۳۷۱ مخونه).

استاد رشاد د «پښتانه شعراء» د دوهم ټوک په سریزه کې لیکي: د تلوکان ملا حسن اخوند پارسي دیوان «*روح الایمان او وسیلة الجنان*» نومیږي. لومړی وار په ۱۳۴۷هـ.ق چاپ شوی دی. د ملا حسن اخوند یوه عربي قصیده هم په روح الایمان او وسیلة الجنان کې چاپ شوې ده. د ملا حسن اخوند په هغه خطي دیوان کې چې په ۱۲٦۷هـ.ق کال محمد ذاکر نومي په کندهار کې لیکلی، له ۱۹۳ مخه څخه تر ۲٦۷ مخه پورې د ملا حسن اخوند پښتو نظمونه راغلي. دغه خطي نسخه یو وخت د پښتو ټولنې په کتابتون کې ساتله کېدله(رشاد، ۱۳۹۱ل - الف، ۳۴۸ مخ).

«تحفة المدایح» لا چاپ نه دی، خطي نسخه یې په ۲۳۵ مخونو کې د سلیمي قندهاري په کتابخانه کې شته. په دې اثر کې د شاعر پښتو او پارسي شعرونه یوځای راغلي دي(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۳۳ مخ).

روهیال لیکي، ملا حسن د پښتو او پارسي دیوانونه لري. پارسي دیوان یې څو ځله چاپ شوی دی، خو پښتو دیوان یې تر دې ګړیه نه دی موندل شوی. ملا حسن «*فراقنامه*» هم لري چې د علامه حبیبي په زیار موندل شوې ده. دا فراقنامه په هغې مجموعه کې خپره شوې ده چې د شیخ بوستان بړېځ د

څلورسومې کالیزې د نمانځنې په ویاړ په ۱۳۶۰ل کې خپره شوه. پښتو فراقنامه داسې پیل شوې ده:

دوسته! ستا حدیث تېره د جهاګ[1] سر دی‌دا زخمي زړګی زما پر برابر دی

ښایسته جمال دې غر د والضحی دی — د زلفینو بوی دې څرنګ معطر دی

چې پر زړه یې ستا د مینې اور بلیږي — له هغو څخه دوږخ کړی حذر دی

(رښتین، ۱۳۹۱ل - الف، ۵۸۷ مخ)

د کلام نورې نمونې یې:

د سهار باده قرار مه اوسه — په شتاب درومه احوال مې یوسه

ورته مې عرض که د خدای دپاره — فارغ له حاله ځما مه اوسه

د رب حبیبه! نوم خو دې دُر دی — زړه دې د رب په حکمتو پُر دی

خراب صورت که دلې دلې دی — زړه مې د استانو په ور حضور دی

تر تا قربان شم د حق رسوله — د پاک الله په ور قبوله

د رب دپاره که نظر وکړې — هجران خسته کړم په زړه ملوله

(رښتین، ۱۳۹۱ل - الف، ۳۷۱ مخ)

هغه چارې چې زما په خاطر اوري — شیخ یې نه ویني په خوب ملا په توري

ما ویل زه به دیدن کړم د یارانو — زه چې راغلم یاران نه سته مېنې توري

سپینې پښې مې د رباط پر پوټي وسوې — خپل آشنای په تش نظر نه راته ګوري

چې چندن لره ورځي خپل سر به بایلي — دا پې مارانو ځای د چندن سیوري

(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ٦٦٠- ٦٦١ مخونه)

ښاغلی نجیب نایل وایي چې ملا حسن تلوکان د «آدم خان درخانی» کیسه هم لري.

ملا ولیداد کاکړ په قوم کاکړ و چې په کندهار کې اوسېده، د خپل عصر پوه او ادیب عالم و چې په عربي علومو او مخصوصاً فقه او اخلاقو کې یې ښه مهارت درلود او د کندهار د مشهور عالم او مرشد ملا فرح الدین مخلص او په هغه سلسله کې شامل و. دی په کندهار کې وفات او هورې ښخ شوی او د

[1] جهاګ: یو جګ بوټی دی.

ژوند وخت يې تر ۱۲۰۰هـ.ق وروسته دی. نوموړی روحاني سړی و او د طريقت په سلسلو کې هم د ملا حليم او بيا د شيخ فرح الدين کندهاري مخلص و.

ملا وليداد په ۱۲۲۴هـ.ق کال په کندهار کې د «*زين الحلم*» په نامه کتاب ليکلی او په لنډه مثنوي او قطعاتو کې يې منظوم کړی دی. دا کتاب د ملا عبدالکريم د «زين العلم» په اقتفاء مفصلاً د «عين العلم» پښتو منظومه ترجمه ده چې علمي، فقهي او اخلاقي مسايل يې په پښتو خوږه او ساده ژبه ترجمه کړي دي. دا کتاب له ادبي پلوه بې له ساده‌ګۍ نور ادبي مزايا نه لري، فقط د ده مقصد دا دی چې په سپېځلې ژبه خپل پښتانه ويونکي په ځينو اخلاقي او ديني خبرو وپوهوي او يو داسې کتاب وليکي چې عوام ګټه ورځنې واخلي. «زين الحلم» ټول تر شپږ زرو بيتو پورې رسېږي او شل بابه دی چې لاندې د ده د وينا د نمونې په ډول يو څو اخلاقي ټوټې له دې کتابه نقل کوو.

علم

فرض د علم زده کول دي	ضروري يې هم لوستل دي
پر هر چا چې مسلمان وي	که مړونه که زنان وي
هر هغه څوک چې دانا وي	په سود زيان چې د عقبا وي
له هغو نابرابر وي	چې په دين کې بې خبر وي...

د مېړه حق

د مېړه حق اطاعت دی	پر مباح په هر حالت دی
چې وارد دا رنګ خبر دی	فرمايلي پيغمبر دی:
«هره ښځه چې وفات سي	پر دايه حال يې ممات سي
چې مېړه ځنې راضي وي	پس جنت به يې روزي وي»

(رښتين، ۱۳۹۱ل - الف، ۳۷۵، ۳۷٦، ۳۷۷ مخونه)

استاد رشاد ليکي چې د زين الحلم يوه خطي نسخه د افغانستان په ملي آرشيف کې خوندي ده، مخونه يې ۲۹۵ دي. ويل کېږي يوه بله خطي نسخه يې د حبيب الله رفيع په کتابتون کې خوندي وه(رشاد، ۱۳۹۱ل - الف، ۳۵۳ مخ).

د دې اثر يوه خطي نسخه د علومو اکاډمي د علمي غړي څېړندوی بشرمل زرغون په کتابتون کې، بله په کوټه کې د صاحبزاده حميدالله له زامنو سره ده او يوه نسخه يې د پښتو پښتو اکاډمي کې هم شته.

نو معلومیږي چې د «زین الحلم» پنځه نسخې موجودې دي.

د افغانستان ملي آرشیف کې د «زین الحلم» خطي نسخې په اړه راغلي چې د پانو شمېر یې (۲۹۵) دی. پیل: له بسم الله وروسته:

شکر شکر د رحمان دی　　پر شندل راته د توان دی

پای:

ولیداد په دعا یاد کړئ　　پر وجود باندې ما ښاد کړئ(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۲۲ مخ)

د یادولو ده چې د دیارلسمې پېړۍ د حدود دیني عالم ملا شېرداد کاکړ هم عین العلم کتاب د «زین الحلم» په نوم په پښتو منظوم ژباړلی دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۲٦۳ مخ).

پښتو تذکرو د بېګ‌محمد په نامه یو زوړ شاعر ضبط کړی دی چې د یوولسمې پېړۍ په وروستۍ نیمایي کې یې ژوند درلود(رفیع، ۱۳۵۳ل، ۱۸ مخ). صوفي شاعر و، تصوفي غزله یې د عبدالغني کاسي په جونګ او د «بیانات افغاني» په بله منتخبه مجموعه کې خوندي ده. دغه بېګ‌محمد چې دلې معرفي کېږي، له یاد شوي بېګ‌محمد نومي شاعر نه پرته بل شاعر دی. دا **بېګ‌محمد** د دوست محمد زوی او د ۱۲۰۰هـ.ق کال په شاوخوا کې یې د لغمان د مرکز په شمټۍ نومي کلي کې دنیا ته سترګې پرانیستې دي او د ۱۲٦۴هـ.ق په حدودو کې مړ دی. دی د دیني علومو په مبادیو پوهېده، لیک لوست یې کولای شوای، د شعر طبعه یې هم درلوده. دیني موضوعات او قصص یې د پښتو د ولسي اهنګونو په کالب کې نظمول او چاربیتې یې هم جوړولې، د سیمې وروستي شاعران یې هم یادونه کوي(هېوادمل، ۱۳٦۲ل، ۲۵- ۲٦ مخونه).

بېګ محمد د پښتو ولسي شاعر و، دیني او خیالي قصص او حکایات یې د پښتو په ملي اوزانو نظم کړي، د حضرت محمد ﷺ «*وفاتنامه*» یې په همدې قالب کې ویلې چې د سیمې په دیني حلقو کې مشهوره وه. دا شعر د ده دی:

راشئ مټ په نېکۍ کاینئ　　دا ژوند به وي تر کله

بېګ‌محمد وښې خدایه　　ته په روی د پیغمبر

غوږ یې کښېږدئ مومنانو　　حکایت وایم له سره(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۸٦ مخ)

«وفاتنامه» اثر یې داسې پیل کېږي:

اول حمد د پاک الله دی　　چې غفور دی هم غفار

هم رحمان و هم رحیم دی — وېره بویه له قهار
دوهم نعت د مصطفی دی — دی دوو کونو سردار
شفاعت به د عاصیانو — په قیامت کوي رویدار
خلقه وایمه په ژبه — مرتبه د چهاریار
اول یار یې صدیق و — دوهم عمر و دره دار
دریم یې دی عثمان — علي زمری د ذوالجلال
پرون ما و وکړه پوښتنه — له ملا مې واخیست حال

* * *

روایت دی له رسوله — دوه ویشت کاله زما جانه
څلور میاشتې څلور ورځې تېرې شوي — قرآن راغی له سبحان
په سر کې اقراء و — درته وایم نمایانه
اکملت لکم دینکم — آیت دی داسې ګردانه
د آیت داسې مضمون دی — پیغمبر شو په ګریانه
د امت سختي دي ډېرې — د فراق اوښکې یکسانه....

د دې منظومې وفاتنامې په بندونو کې د بیتونو د شمېر کوم خاص نظم نشته، ځینې یې لږ او ځینې یې ډېر دي. دا خبره طبیعي ځکه ده چې د منظومې له عمره تر سلو زیات کلونه تېر شوي دي او په دې څه دپاسه سلو کلونو عمر کې خوله په خوله ګرځېدلې ده، نو حتمي ده چې ځینې بیتونه به یې له راویانو هېر شوي وي، خو له دې سره سره یې هم محتوا او شکلي سکښت په خپل شکل موجود دی. د محتوا په لحاظ هم د وفاتنامې موضوعات ښایي کمبوتی ولري او له دیني نصوصو سره سل په سلو کې یو شانوالی ونه لري، خو بیا هم د یوه کلیوال شاعر دیني طرز تفکر ښیي. شاعر په خپله وایي چې د وفاتنامې په نظمولو کې یې له کوم مأخذ نه استفاده نه ده کړې، بلکې له «ملا» یې پوښتنه کړې او د ملا له خولې اورېدلي یې نظم کړي دي(هېوادمل، ۱۳٦۲ل، ۲۷، ۳٦، ۳۷ مخونه).

ملا عبدالحق خروټی د ملا عبدالغفور زوی په ۱۲۱۵هـ.ق[1] (۱۸۰۰م) کال کې زېرېدلی او په ۱۲۹۰هـ.ق (۱۸۷۳م) کال کې مړ او په کندهار کې د سید میر احمدي د زیارت شمال غرب ته په خپله

[1] په «آریانا دایرة المعارف، دویم دور، شپږم ټوک» ٦٦۳ مخ کې دغه کال ۱۲۱۴هـ.ق ښودل شوی دی.

پلرنۍ هديره کې ښخ دی.

هغه د عمر په شلم کال ټول مروج علوم بشپړ کړل. په استادانو کې يې حبو اخوندزاده (۱۲۱۳-۱۲۶۵هـ.ق) هم ياد شوی دی چې هغه بيا د قاضي القضاة ملا احمد الکوزي شاګر دی. ملا عبدالحق خروټي تر زده‌کړې وروسته د تفسير، حديث، فقهې، عقايدو، د فقهې او حديثو د اصولو، رياضي، معاني او نورو تدريس کاوه او ډېر شاګردان يې روزلي دي. د افغانستان هندوستان لويو عالمانو هغه په علميت سره منلی او د خپل عصر (علامه) يې باله. هغه په (محقق العلماء) او (استاد الکل) مشهور و. د هغه معاصرو عالمانو په علمي مسايلو کې به هر وخت ترې نه مشورې غوښتلې او نظريې به يې تأييدولې. وايي چې امير دوست محمد خان، محقق العلماء ته په ډېر درانه نظر کتل او علمي تبحر يې مانه. ملا خروټي د پښتو شاعر او مؤلف هم و. د هغه ځينې ليکلي آثار له خلکو سره موجود دي او ځينې له منځه تللي دي. دغه دوه اثره يې دلته يادوو:

۱- *شرح اربعين*: په مأخذونو کې د دې کتاب يادونه شوې ده. د حضرت نبي کريم ﷺ د څلوېښتو حديثونو ډېرې مجموعې په دې نامه دي.

۲- *ياقوت السير*: دا اثر د امير جمال الدين بن عطاءالله بن فضل الله الحسيني الهروي (۹۲۷هـ.ق/ ۱۵۲۰م) د «روضة الاحباب في سير النبي والآل و الاصحاب» د کتاب منظومه پښتو ترجمه ده. لکه څرنګه چې يې له نامه څخه څرګنديږي دغه کتاب د اسلام د پيغمبر حضرت محمد ﷺ او د هغه د کورنۍ او صحابه‌وو ﷺ سيرت او تاريخ دی. ملا عبدالحق د دغه کتاب د منظومې ترجمې کار په ۱۲۸۶هـ.ق کال[1] کې بشپړ کړی دی. د دې کتاب خطي نسخې ډېرې پيدا کېږي. مرحوم پوهاند عبدالحی حبيبي په ۱۳۶۰ل کال له ښاغلي زلمي هېوادمل او ښاغلي حبيب الله رفيع نه غوښتي وو چې اثر چاپ ته تيار کړي. هېوادمل د کتاب د لومړي ټوک کار د ملي آرشيف او د پوهاند جاوېد د خطي نسخو له مخه پای ته ورساوه او د «ياقوت السير» لومړی ټوک په ۱۳۶۷ل کال د اسلامي علومو د مرکز له خوا په ۴۶۱ مخونو کې چاپ شو. په دې ټوک کې تر «غزوه دومة الجندل» پورې پېښې په ۸۲۳۸ بيتونو کې بيان شوې دي. په نمونه کې به د همدې کتاب څوب بيتونه وړاندې کړو:

پس له حمده له صلوته وايي دا مسکين و تاته

[1] استاد هېوادمل کاږي چې «ياقوت السير» په ۱۲۵۰هـ.ق کال منظوم شوی دی. (زلمی هېوادمل. فرهنګ زبان و ادبيات پښتو، لومړی ټوک، د تعليم او تربيې وزارت د تأليف او ترجمې رياست، ۱۳۵۶ل، ۲۹۴ مخ).

چه سير د پيغمبر يعني حال د لوی سرور
ډېر عظيم شريف هنر دی هم لوی علم باثمر دی
خود څرګند او هويدا ده تر لمر سپينه دا وينا ده
چې له حاله د پيشوا خپل مقتدا او رهنما خپل
بويه دا چې مسلمان باخبر شي په ښه شان
چې کاملې[1] يې عقيده شي پاک له غشه يې[2] سينه شي
زړه يې صاف او نوراني شي پاک مؤمن حقاني شي
خبردار شي له کماله د پيشوا له بزرګ حاله
بزرګي او درجات د سرور کاينات(خدمتګار، ۲۰۱۲م کال، ۱۷۳۴، ۱۷۳۵، ۱۷۳۶ مخونه)

«د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو خطي نسخو تحليلي څېړنه» اثر کې راغلي چې «*ياقوت السير*» د کتابت کال ۱۲۸۴هـ.ق دی، د پاڼو شمېر ۳۲۸ او د افغانستان علومو اکاډمۍ کې يې د ثبت شمېره ۱۷۰ ده. دا اثر ناچاپ دی او په کې د حضرت محمد ﷺ سيرت (نسب، ولادت او بعثت) په مثنوي فورم کې بيان شوی دی. د ناظم په وينا يې چې دا کتاب يې له (روضة الاحباب) کتاب څخه منظومه ژباړه کړې ده. پيل يې تر بسم الله وروسته:

ربه ته راکړې توفيق مدد راکړې پر تقيق
اوس شروع نور په مطلب کړم په توفيق د حق طلب کړم(دوست، ۱۳۹۹ل، ۵۶، ۵۷ مخونه)

ملا زبردست د کندهار د شاوخوا اوسېدونکی و. دی د خپل عصر ښه عالم او متقي سړی و. د تيمورشاه معاصر او وروسته يې په ۱۲۲۶هـ.ق کال يو پښتو منظوم کتاب «*روضة النعيم*» ليکلی دی. له دې کتابه ښکاري چې ملا صاحب په عربي علومو کې ماهر و. ده خپل کتاب د ملا شېرمحمد پر ډول ليکلی او ډېر احاديث يې له «عين العلم» او «مشکوة شريف» څخه غوره کړي او په سليسه ژبه يې پښتو کړي دي. د شعر ژبه يې ډېره ساده او روانه ده او په لنډه مثنوي کې يې ښه مطالب ادا کړي دي. د ملا صاحب افکار ټول ديني او اخلاقي رنګ لري(رښتين، ۱۳۹۱ل - الف، ۳۹۲ مخ).

د حاجي زبردست لاندې آثارو معلوم دي:

---

[1] کامله يې.

[2] به يې.

۱- *ذخیرة القراء*: د قرآن عظیم تجوید دی، ټول پنځه ویشت فصله لري او د بیتونو شمېر یې ۹۲۱ ته رسیږي. د مثنوي په قالب کې نظم شوی دی. د دې کتاب خطي نسخې ډېرې دي. په ډهلي او لاهور کې چاپ شوی هم دی او استاد هېوادمل ته معلوم پخوانی چاپ یې د ۱۲۹۵هـ.ق کال دی. په حاشیو کې یې د تجوید دوې نورې کوچنۍ رسالې هم چاپ شوې دي.

د «تېر هیر شاعران» مؤلف د زبردست «ذخیرة القراء» فیض الله اخونزاده او هم احمد ته منسوبه ګڼلې ده چې دا تېروتنه ده(هېوادمل، ۱۳٦٦ل- ب، ۱۰٦ مخ).

حاجي زبردست بټيزي دا تجوید په ۱۲۱۵هـ.ق[1] کال په پښتو ژبه نظم کړې ده. لومړی وار په ۱۲۹۴هـ.ق (۱۸۷۷م) کال په ډهلي کې چاپ شوی دی. دوه درې واره نور هم چاپ شوی دی(رشاد، ۱۳۹۱ل- الف، ۳۵۵مخ).

«ذخیرة القراء» د تجوید په علم رڼا اچوي او ناظم یې کوښښ کړی چې د تجوید کره مسألې او قوي اقوال راټول کړي، نو ځکه د تجوید په علم کې یوه مستنده او خصوصاً په پښتو کې یوه بېساریې رساله ده(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۰ل، ۱٦۴ مخ).

د «ذخیرةالقراء» پیل داسې شوی دی:

جمله حمد دی له ازله	ستا دپاره لم یزله
چې حامد دې حمد ویلی	پټ ښکاره دی تا لیدلی
یا به پس له دې څوک وایي	په جمله ثنا دې ستایي
خاص مختص دی ستا دپاره	زیات لایق دی خدای ستاره
کله دی صاحب قدرت څوک	چې تمام که ستا صفت څوک

د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کتابتون کې د «ذخیرة القراء» خطي نسخه شته(دوست، ۱۳۹۹ل، ۳۱ مخ).

د کلام بله بېلګه:

مطلب مومې طلب‌ګاره	که په ځنډوي که له واره
په اخلاص چې څوک طلب کا	رب حاصل ورته مطلب کا
بې مطلبه نه پاتېږي	نه کا شک چې څوک پوهېږي

[1] آریانا دایرة المعارف، څلورم ټوک، ۱۳۹۰ل، ۱٦۴ مخ کې دغه کال ۱۲۱٦هـ.ق ښودل شوی دی.

طلب کړه که يې لايق　　د مطلوب چې وي فايق

(آريانا دايرة المعارف، ١٣٩٠ل، ١٦٤ مخ)

٢-*کنز القراء*: دا هم تجويد دی چې حاجي زبردست په ١٢٢٠هـ.ق کال کې په پارسي ژبه کښلی دی. د دې کتاب په مقدمه کې يې د خپل پښتو تجويد يادونه هم کړې ده. خطي نسخې يې موجودې دي.

٣-*روضة النعيم*: پښتو مثنوي ده چې د نوي احاديثو پښتو ترجمې وړاندې کوي. د دې کتاب د معرفي په باب د زبردست خپله وينا دا ده:

نوم يې روضة النعيم دی　　جوړ په فضل د رحيم دی

خزانه د دين دنيا ده　　د عقبی توښه دې دا ده

دا کتاب اوه ويشت بابه　　شو يوځای جمع اربابه

اوس خاتمه د دې کتاب　　گوره کړې له ثواب

وو له هجرته زر دوسو کاله　　شپږويشت نور هم زما لاله

وکړ رب لطف و انعام　　چې شه دا کتاب تمام

د دې کتاب خطي نسخه شته دي.

استاد هېوادمل وايي: له ده سره د «روضة النعيم» په نوم بل چاپي کتاب هم شته چې ټول خصوصيات يې د حاجي زبردست له «روضة النعيم» سره يو شي دي. دا کتاب په ١٣٠٥هـ.ق کال په لاهور کې چاپ شوی دی. ټول مخونه يې ٢٧ دي، خو د دې «روضة النعيم» مترجم او ناظم محمد رفيق دی(هېوادمل، ١٣٦٦ل- ب، ١٠٦- ١٠٨ مخونه).

«روضة النعيم» د افغانستان په ملي آرشيف کې هم شته. دغه نسخه چې په ١٢٧٢هـ.ق کال گل محمد ليکلې ده، په اتيا پاڼو کې ځای شوې ده، مگر نوموړی شاعر په قام کاکړ نه دی او پر روضة النعيم سربېره نور هم څو کتابونه لري. مناجاتونه او نعتونه يې هم شته. د کرم خان زوی حاجي زبردست په قام تور ترين او په تور ترينو کې بټيزی دی(رشاد، ١٣٩١ل- الف، ٣٥٤ مخ).

د يادولو ده چې د افغانستان ملي آرشيف کې په همدې خصوصياتو کې د روضة النعيم په نوم بل کتاب (١٥٩ مخونو کې) شته دی، ناظم يې حاجي زبردست دی او د ١٣٥ نبوي احاديثو له شرحې او نظم څخه په ١٢٢٦هـ.ق کال ترې فارغ شوی دی. د دې کتاب بابونه هم ٢٧ دي. د ملي آرشيف مخطوطه په ١٢٧٢هـ.ق کتابت شوې ده، د زبرست «روضة النعيم» بله نسخه د سيال کاکړ په کتابخانه

کې خوندي ده او ۷۴ ورقې دی(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱۱۵ مخ).

له روضة النعیم څخه بېلګه:

مَن طَلَبَ وَجَدَ

مطلب مومې طلب‌ګاره که په ځنډ وي که له واره

په اخلاص چې څوک طلب کا رب حاصل ورته مطلب کا

بې مطلبه نه پاتېږي نه کا شک چې څوک پوهېږي

طلب کړه که يې لايق د مطلوب چې وي فايق(رښتين، ۱۳۹۱ل – الف، ۳۹۲ مخ)

۴- درود: دا منظوم اثر د مخمس په قالب کې نظم شوی دی، ټول بندونه يې ۱۸ دي. دا منظومه حاجي زبردست په ډېر قوت نظم کړې ده. خطي نسخه يې د لېننګراد د ختيځ‌پوهنې انستيټوت په خطي کتابونو کې ساتل کېږي. دا نسخه له «ذخيرة القراء» سره مله راغلې ده او تر «ذخيرة القراء» وروسته د ځانګړې رسالې په توګه تر بسم الله وروسته پيل شوې ده(هېوادمل، ۱۳٦٦ل- ب، ۱۰۸ مخ).

د دې «درود» د ليکلو کال ۱۲۱۷هـ.ق، د پاڼو شمېر يې ۳ دی. پيل يې تر بسم الله وروسته:

همرې درود سلام کړم لک عدد د کل عالم

هر نفس په هر قدم وشه له خدا پر تا هر دم

ترحم يا نبي الله ترحم...(هېوادمل، ۱۳٦٦ل- ب، ۵ مخ).

۵- مناجات: د مثنوي په قالب کې نظم شوی دی. د خطي «روضة النعيم» په پای کې خوندي دی. د پيل بيتونونه يې دا دي:

الله عرض کړم وتاته نظر کړه د لطف و ماته

جمله خواست مې کړه قبول په خدمت د خپل رسول

او پای يې دا دی:

د زبردست وکړه بخښنه روی د حضرت دی زما څښتنه

خدايه پر لطف و کرم داد کړه و جنت وته يې ازاده کړه

٦- مناجات: دا مناجات هم د مخمس په قالب کې نظم شوی دی. ټول دولس بندونه لري او د خطي «روضة النعيم» په ۱۵۵- ۱۵۸ مخونو کې خوندي دی. د پيل بند يې دا دی:

له تا خدايه د مغفرت کوم غوښتنه د خپل حبيب په عزت وکړې زما بخښن

دا هر کار مې کړه په خپل رحمت تښتنه عفو کړه په عطوفت زما پشنه

د کلام په روی مې وبخښې تښتنه

دانشمند بريښ په «ادبي ستوري» کې کښلي دي: د پېښور پوهنتون په کتابخانه کې چې د «ذخيرة القراء» کومه نسخه شته، د هغې په پای کې د زبردست يو نعتيه مخمس او يو منقبت خوندي دی. کېدای شي چې دا هم د ده يادو شويو وروستيو درېيو آثارو دوهمې نسخې وي او يا يې هم بېل ځانګړي منظوم رسايل وي(هېوادمل، ۱۳٦٦ل- ب، ۱۰۸- ۱۰۹ مخونه).

د افغانستان د علومو اکاډمي په خطي کتابونو کې د «*مناجات سرور عالم*» په نوم اثر شته چې ناظم يې زبردست ښودل شوی دی، د پاڼو شمېر ۷ او موضوع يې د سرور کائنات حضرت محمد ﷺ نعتونه او ستاينه ده چې شاعر ورته د مناجات سرور عالم نوم ورکړی دی. پيل يې تر بسم الله وروسته:

هم ي درود سلام کوه لکَ عدد کل عالم(دوست، ۱۳۹۹ل، ۵۳، ۵۴ مخونه)

معلوميږي چې حاجي زبردست په مروجه علومو کې مطالعه لرله، ښه مترجم او ناظم و او د نورو خدمتونو ترڅنګ يې د علم قرائت په باب په پښتو پارسي ښه خدمت کړی دی.

جمعه بارکزی د کندهار په زاړه ماشور کې اوسېده. په پښتانه شعراء کې يې د ده د مړينې کال ۱۲۵۹هـ.ق کال ليکلی دی. د حاجي جمعه د ديوان له مطالعې څخه ترلاسه کېږي چې دی عالم سړی و او په ادبي فنونو هم ښه پوهېده. د ده معاصر شاعر ميرزا حنان بارکزي دی د «ملا جمعه» په نوم ياد کړی دی:

ملا جمعه په شاعری کې ډېر استاد و په هر بيت سره يې زړونه سولول

له دې بيت څخه ښکاري چې حاجي جمعه، ديني علوم لوستي او ديني عالم و، ده پر ملايي سربېره له سلوک او عرفان سره هم اړيکې درلودې. حاجي جمعه بارکزی د رحمان بابا د سبک پيرو و، خو له دې سره سره د ده په ديوان کې د خوشحال خان، ميرزا خان، پيرمحمد کاکړ، حميد مومند، کاظم خان شيدا او نورو شاعرانو د کلام اغېزې هم شته او د ځينو شاعرانو د غزلو يادونه يې هم کړې ده. له دې دا پايله ترلاسه کېږي چې دی د پښتو په کلاسيک ادب کې د مطالعې ځښتن و او غالباً به يې د دغو شاعرانو ديوانونه مطالعه کړي وي. نوموړی د حج فريضې د ادا کولو لپاره څو ځله بيت‌الله شريف ته تللی دی، نوموړی وروستی ځل په ۱۲۵۹هـ.ق کال ورغلی چې هملته مړ او خاورو ته سپارل شوی دی. له نوموړي څخه مردف *ديوان* پاتې دی چې د رحمان بابا په پيروی يې په دوو دفترونو کې ترتيب کړی

دی او ټول ۲۶۵ مخه کېږي. د بارکزي دیوان په ۱۳۶۰ل کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا په ۱۹۲ مخونو کې چاپ شو(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸۹ل، ۱۱۰ مخ).

د دیارلسمې هجري پېړۍ په دوران کې د کندهار په سیمو کې د اوسېدلو شاعرانو له ډلې څخه حاجي جمعه بارکزی د جذابې وینا خاوند شاعر دی. په دیوان کې یې تاریخي، اجتماعي، عشقي، دیني، اخلاقي او عرفاني موضوعات بیان شوي دي. دی په تصوف کې د نقشبندیه طریقې پابند ښکاري او د دې طریقې سلسله یې په خپل یوه نظم کې بیان کړې ده. په شعر کې یې د روانۍ ترڅنګه ښکلا هم لیدل کېږي، شاعرانه خیالونه یې ښه او د انځورګري قوت یې هم بد نه دی(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۸۶، ۱۸۷ مخونه).

استاد حبیبي لیکلي: «ملا جمعه دارای دیوان مردف و مکملی است که نسخه‌های آن کمتر بدست میاید»(هېوادمل، ۱۳۶۰ل، ۲مخ).

د دې دیوان د نسخې د لومړي مخ په حاشیه کې د استاد محمد ګل نوري داسې یادښت شته چې په کې کښل شوي دي: «دیوان مرحوم ملا جمعه قندهاري است که نیز در قندهار دستیاب نمودم». په «پښتانه شعراء» کې لیکل شوي: «ده خپل دیوان په ۱۲۵۸هـ.ق کې خلاص کړی دی»، دا د تأمل وړ خبره ده. ۱۲۵۸هـ.ق د دیوان د خطاطي کال دی، ښایي شاعر خپل دیوان دمخه بشپړ کړی وي او بیا وروسته د ذوق خاوندانو ترې نورې نسخې کښلې وي.(هېوادمل، ۱۳۶۰ل، ۳۰، ۳۱ مخونه)

حاجي جمعه په خپل دیوان کې د عشقي موضوعاتو د بیان ترڅنګه په خپلو ځینو پاړکو کې اخلاقي مسایل هم د وعظ او نصیحت په بڼه بیانوي چې دا د هغه وخت د دیواني ادب یوه ځانګړنه ده. ده د یوه مسلکي صوفي په توګه په خپلو زیاتو پاړکو کې د تصوف او سلوک خاص رموز بیان کړي دي. د ده دیوان ډېرې صوفیانه غزلې او پاړکي لري چې د تصوف او سلوک په پېچلو لارو کې د ده د سیر او ګرځېدا ښکارندویي کوي(هېوادمل، ۱۳۶۰ل، ۸ مخ).

استاد هېوادمل کاږي: «د حاجي جمعه بارکزي د دیوان متن په برابرولو کې د اصلي نسخې او نقل د دوو دفترونو خیال نه دی ساتل شوی، دیوان مې په درېیو برخو وېشلی دی: ۱- غزلې، ۲- قصیده‌وشمه غزلې، ۳- متفرقات او پارسي او ملمع کلام. دیوان مردف شوی او هر پاړکی نومره لري». البته پارسي کلام یې د ادبي ضعف له امله د محترم استاد پوهاند رشاد په غوښتنه له دیوان څخه وغورځول شو(هېوادمل، ۱۳۶۰ل، ۳۷، ۳۸ مخونه).

د ملا جمعه چاپې دیوان تر (بسم الله الرحمن الرحیم) وروسته په دې الفاظو پیل شوی دی:

الهي نوم دې فایض تر ابدا — چې په درسته بسم الله ده په معنا
زوال نه لرې په دا به یقین وکړم — بې مانند بې مثاله بې همتا
ته صانع یې د ټولو و مخلوقاتو — رزق روزي ور رسوینه هویدا
په قیامت به وي رحیم پر مؤمنانو — کافران بې وي له رحمه بینوا
پیدا کړي یې اتلس زره قومه په ظاهر — باطن قادر دی تر هر چا
په ثنا یې زنده سر واړه مشغول دي — که په روی دي د زمین که پر سما...

.(بارکزی، ۱۳۶۰ل، ۳۹ مخ).

د کلام نورې بېلګې یې:

که څوک ووینې په دید ستا منور مخ — وبه نه گوري د شمس و د قمر مخ
لکه نور چې منور ستا د سپین مخ دی — نسته داسې پر دنیا و پر محشر مخ
لاس له ننگه له ناموسه څخه واخلي — پر هغو باندې چې ستا سي برابر مخ
دا رښا کل پیروي ستا ده دلبره — په روښان دې هم د بحر هم د بر مخ
ستا د مخ تر ځایه نه سي رسېدلای — که چاودلی وي سل ځله په کوثر مخ
که مخونه کښلي ډېر دي بې حسابه — داسې نسته د وفاوو د هنر مخ
زما ستا پر کښلي مخ باندې نظر دی — منتظره زه جمعه نه یم د هر مخ

(بارکزی، ۱۳۶۰ل، ۵۷ مخ)

* * *

نن د باغ په لوري تله کا صنم ورو ورو — په خمار خمار کاته کې صنم ورو ورو
سره گلان به د باغ حسن ځنې پور کا — که یې ولیده د حسن ارم ورو ورو

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۸۷ مخ)

پورتنیو بیتونو کې د معشوق د ښکلا ستاینه شوې ده.

هغه کار چې دې جوړ نه سو په تقدیر — نه جوړیږي په تلاښ و په تدبیر
غم د دین و د ایمان کړه نور څه مه کړه — په غمونو د دنیا مه سه زهیر
که نېکي کړې که بدي کړې رب دې ویني — خدای د هر فعل سمیع دی هم بصیر

په نېکي باندې جزا په بد سزا ده　　والله علی کل شیئ قدیر

(بارکزی، ۱۳۶۰ل، ۶۴ مخ)

جمعه خان په دې کلام کې وعظ او نصیحت کوي چې د دنیوي غمونو پر ځای ډېر تمرکز د دین او ایمان په ساتنه او پالنه وکړه. تل نېکي کوه او له بدیو ځان ساته. بیا یې خپل کلام د یوه آیت په یوې برخې غښتلی کړی دی.

په دیني اساساتو کې یو مهم اصل «اخلاص» دی چې په لرلو سره یې د مسلمان اعمال د الله تعالی په دربار کې د منل کېدو جوګه ګرځي. ملا جمعه همدا اصل او د هغه مرتبه داسې بیان کړې ده:

دا یو څه عجب هنر لري اخلاص　　په صدف کې پټ ګوهر لري اخلاص

د اخلاص څښتن له غمه بې پروا وي　　نه زوال نه څه خطر لري اخلاص

د لباس تن د اخلاص په تېغ غوڅیږي　　سر تر پایه پر جوهر لري اخلاص

څه سیالي برابري ورسره کېږي　　هغه څوک چې مقرر لري اخلاص

دا اخلاص په مثال ونه ده د فیض　　ښه سایه هم ښه ثمر لري اخلاص

(بارکزی، ۱۳۶۰ل، ۷۰ مخ)

په یوه «مربع» کې د خپل زړه حال داسې بیانوي:

یا وای ناست یا سره ګرځېدای په باغ کې　　معطره وای د ګلو په دماغ کې

دوه په دوه مو سره راز وای په فراغ کې　　هم مانع په دواړو سترګو ړوند اغیار وای

د ملا جمعه بارکزي چاپېي دیوان په دې ټکو پای مومي:

«جمعه» مه سه د دنیا په کار مشغول　　پرېږده پرېږده هر یو امر ناقبول

له زړه باسه هره چاره که وي معقول　　ماروا[ماورا] له قال الله قا[قال] الرسول

په اوربشه په کار نه دی ماسوا　　په فاني څه اعتبار دی د بقا

آخر فنا، آخر فنا، آخر فنا(بارکزی، ۱۳۶۰ل، ۱۸۵، ۱۹۲ مخونه)

د استاد هېوادمل د شننې په تأیید چې وایي د جمعه بارکزي شعرونه زیاتره عشقي او اخلاقي رنګ لري، پورتنیو څو بېلګو ته چې ځیر شو، همدا مدعا په کې صدق کوي.

عبیدالله الکوزی د عبدالجلال زوی د دیارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې د کندهار په شاوخوا کې اوسېده. د پښتو شاعر او د مذهبي علومو عالم و. په دیني علومو بشپړ پوهېده، د «*محبوب الصالحین*»

په نوم د ديني احکامو او مسایلو کتاب یې په ۱۲۹۰هـ.ق کال کې منظوم تألیف کړی دی. دا د هغه دی:

زما نوم عبیدالله دی　　په بندګي د پاک الله دی
د پلار نوم عبدالجلال دی　　او نیکه زما مهربان دی
په نسب الکوزی یم　　الکو کې بیانزی یم(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۳۴ مخ)

د افغانستان د علومو اکاډمي په خطي نسخو کې د «محبوب الصالحین» نسخه شته چې د نظمولو کال یې ۱۲۹۰هـ.ق او د لیکلو کال یې ۱۲۹۷هـ.ق دی، ۷۸ پاڼې لري او د کتابتون شمېره یې ۲٦۵ ده. دیني، اخلاقي او اصلاحي مسایل په کې نظم شوي دي. موجوده پیل یې:

هر چه کاندي دییه کن فیکون کاندي　　فعال لما یرید هم د ده شان دي
دی تعز و تذل[1] من تشا دی　　دی محیي دی هم ممیت د کل جهاندی

(دوست، ۱۳۹۹ل، ۲۱۵ مخ)

الکوزي خپل دغه اثر د رشید البیان په پیروۍ په پښتو مثنوي نظم کړی دی. غزلې یې د خپل جوړښت له پلوه د رحمان بابا د سبک اثرات مني(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۸۷ مخ).

د احمد په نامه زښته زیات شاعران په پښتو تذکرو کې معرفي شوي دي، همداراز د پښتو د ادب تاریخ هم ګڼ احمد نامي راوړل شوي دي. د اخون دروېزه اصلي نوم هم «احمد» دی. خو دا لاندې احمد نامی له دې ټولو بل څوک دی.

ملا احمد خلیل چې بشپړ نوم یې ګل احمد دی، خو په احمد مشهور دی، په خپل خلیل او د سفید ډېرۍ (سپینې وړۍ) د موسی‌خېلو اوسېدونکی دی، احمد په ۱۲٦۷هـ.ق[2] کال زېږېدلی او د ۱۳۰۵ هـ.ق کال شاوخوا د ۳۸ کلونو په عمر وفات شوی دی. احمد څه ناڅه د وخت دودیز علوم لوستي او په قادریه طریقه کې د اخوند عبدالغفور چې په سوات صاحب مشهور دی، مرید و. ملا احمد خلیل ګڼ آثار چې زیاتره یې نظم دي، لیکلي دي.

نوموړي ديني علوم او د خپل وخت مروج علوم زده کړل او د اسلامي او شرقي علومو تر حاصلولو وروسته یې تدریس او تألیف ته مخه کړه. دا یې شعر دی:

---

[1] په اثر کې «تزل» لیکل شوی چې ناسم دی.

[2] په «تیر هیر شاعران» اثر ۲۵٦ مخ کې یې د زوکړې کال۱۲۴۲هـ.ق دی.

تیراهي کې سکونت کړم　　هم پیشه د امامت کړم
یم په اصل کې خلیل　　وایم تاته اوس دلیل
سفید ډهیري کې مې ښه جد دی　　خاص بنده د پاک احد دی
فرزند یم د عبدالکریم　　که ایمان مې شي سلیم(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۱۴ مخ)

د احمد پلار عبدالکریم یا کریم‌شاه نومېده، دی په خټه خلیل موسی‌خېل او د اخونزاده‌ګانو له کورنۍ څخه د سفید ډهرۍ د کلي اوسېدونکی و. په تیراهي نومي کلي کې یې امامت کاوه او بیا یې په پجګي کې امامت درلود، نو ځکه دی په احمد خلیل، احمد اخوندخېل، احمد تیراهي او احمد د پجګي مشهور دی. ده خپل زیات آثار د دیارلسمې پېړۍ په پای کې کښلي(رفیع، ۱۳۵۹ل، ۳۷۶ مخ). دغه احمد په ۱۲۹۳هـ.ق کال د پښتونخوا په «تیراهي» نومي ځای کې اوسېده او په همدې ځای کې یې په یوه جومات کې امامت کاوه. د ده زیاتره آثار په نظم دي چې دا دي:

۱) *مناجات صاحب سوات*: دا اثر یې د مربع په بڼه په ۱۲۹۱هـ.ق کال نظم کړی چې ۲۶ پندونه لري.

۲) *خوابنامه، فالنامه، بیمارنامه او تعویذات*: په اته څېزه مثنوي کښل شوی چې خوابنامه یې ۲۷۰ بیته، فالنامه ۱۶ بیته او بیمارنامه ۶۱ بیته ده او تعویذونه د دایرو او جدولونو په توګه په کې راغلي چې په ۱۲۹۳هـ.ق کال لیکل شوي او یو ځای خپرې شوې دي.

له خوابنامې څخه:

پس له حمده له صلوته　　راشه غوږ ونیسه ماته
چې باعث په بنده راشي　　نور یې خدای ته التجا شي
هر انسان لره خطا شته　　له مولی ځنې عطا شته
القصه ښکوم خوابنامه زه　　ورسره ضم فالنامه زه
چې پښتو ته شي اسانه　　په فارسي ده قدرګرانه

له «فالنامې» څخه:

پس له دارنګه کلامه　　وایم تا و ته نېکنامه
اوس مې دارنګه فکرت دی　　فالنامې و ته حاجت دی
نقل دی له شیخ نصرالدینه　　اې زما وروره امینه

ده ويلي دي دا شان په ترتيب سره اسان

فاتحه دې له يو واره ولولي اې برخورداره....(رفيع، ١٣٥٣ل، ١١٢- ١١٣ مخونه)

٣) *ظهور المطالب*: دا اثر په پښتو او دري په نظم او نثر کښل شوی چې اوراد، تعويذونه او دعاګانې په کې دي چې په وارو وارو چاپ شوی دی.

٤) *قصه شهزاده بی نظير و بدر منير*: په اته څپيزه مثنوي کښل شوې چې يونيم زر بيتونه لري او په ١٢٩٥هـ.ق کال نظم شوې ده.

٥) *هدايت المؤمنين*: په لنډه اته څپيزه مثنوي د خلاصه کيداني او نورو فقهي مسألو ژباړه ده چې په ١٢٩٥ق کال نظم شوې ده.

٦) *قصه گل بکاولي*: دا کيسه په ١٢٩٦هـ.ق [1] کال احمد له کوم کتاب نه په اته څپيزه مثنوي ژباړلې ده.

٧) *حقيقة الاسلام*: دا اثر يې په ١٢٩٩هـ.ق کال په اته څپيزه مثنوي کښلی چې اسلامي عقايد، اخلاق او فقهي مسايل په کې دي.

٨) *طريقة الاسلام*: د فقهي مسألو مجموعه ده چې په اته څپيزه مثنوي کښل شوې او له حقيقة الاسلام سره يوځای خپره شوې ده.

٩) *مناجات ملا صاحب مانکی*: د شيخ عبدالحق مانکي صاحب په ستاينه کې ويل شوی مخمس دی چې شل بندونه لري. د حقيقة الاسلام په حاشيه کې خپور شوی او تر ١٢٩٥هـ.ق کال وروسته ويل شوی دی.

١٠) *قصه ابراهيم عليه السلام*: د اسماعيل عليه السلام د قربانۍ په باب د ابراهيم عليه السلام کيسه ده چې په دولس څپيزه مربع يې ويلې او ٣٣ بندونه لري، په ١٢٩٩هـ.ق کال کې چاپ شوې ده.

١١) *ليلی مجنون*: دا کيسه په اته څپيزه مثنوي نظم شوې او په ١٢٩٥هـ.ق کال خپره شوې ده.

١٢) *قيامت‌نامه*: دا رساله په اته څپيزه مثنوي په ١٢٩٦هـ.ق کال تأليف شوې چې د پنځوسوو په شاوخوا کې بيتونه لري.

١٣) *جواهر الانبياء معروف و مشهور به قصص الانبياء*: د پيغمبرانو کيسې په دولس څپيزه مثنوي کې نظم شوي، د تأليف کال يې ١٣٠١ق دی.

---

[1] په «فرهنگ ادبيات پښتو» ١٧٢ مخ کې دا کال ١٢٦٧هـ.ق ښودل شوی دی.

۱٤) *انیس الواعظین*: دا اثر په اته څېیزه مثنوي په ۱۳۰۵هـ.ق کال نظم شوی چې فقهي او اخلاقي موضوعات په کې دي.

۱۵) *قصه جمجمه*: دا کیسه یې د مولوي احمد د دولس څېیزې مثنوي له مخې په اته څېیزه مثنوي کښلې چې په ۱۸۸۱م (۱۲٦۰ل) کال چاپ شوې ده.

۱٦) *قصه شهزاده رت و پدمن*: دا کیسه په لنډه مثنوي ده چې په ۱۲۹۸هـ.ق کال چاپ شوې ده.

۱۷) *قصه طوطي و مینا*: دا منظومه کیسه په ۱۸۷۹م (۱۲۵۸ل) کال چاپ شوې ده.

۱۸) *حکایات الصالحین*: د رسېدلو بزرګانو کیسې دي چې په مثنوي یې ژباړلې او په ۱۳۰۳هـ.ق کال چاپ شوې ده.

۱۹) *قصه منصور حلاج*: دا هم په مثنوي ویل شوې کیسه ده چې په ۱۲۹۵هـ.ق کال چاپ شوې ده.

۲۰) *د ګنبد قصه*: دا منظومه کیسه د انګلستان په موزیم کې خوندي ده چې ویناوال یې ملا احمد دی.

۲۱) *قصه شهزاده بهرام او ګل اندامه*: دا کیسه په ۱۸۹۰م (۱۲٦۹هـ.ق) کال چاپ شوې ده.

۲۲) *قصه د خلورو یارانو*: دا منظومه کیسه ده چې په ۱۸۸۱م (۱۲٦۰ل) کال چاپ شوې ده.

۲۳) *قصه شاه روم*: دا منظومه کیسه ده چې په ۱۸۸۱م (۱۲٦۰ل) کال چاپ شوې ده.

۲٤) *نصیحت نامه*: دا منظومه هم په ۱۸۸۱م (۱۲٦۰ل) کال چاپ شوې ده(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸٦ل، ۲۳۸- ۲۳۹ مخونه).

لاندې د ده د ځینو آثارو لنډ جاج اخلو:

«انیس الواعظین» د فقهي او اخلاقي موضوعاتو په دې ټولګه کې د فقهي مسایلو ترڅنګ اخلاقي کیسې هم د نمونې او تمثیل په توګه په کې راغلي، په ۱۲٦٦هـ.ش کال کې یې له پارسي ژباړلی، دیوان ګهړک سنګهـ مطبع نامي پریس لاهور کې کې خپره شوې ده، ۳۵٦ مخونه لري(رفیع، ۱۳۵٦ل، ۳۳۸ مخ). د کتاب ټول متن اته زره بیته دی چې څو ځله چاپ شوی دی. هغه نسخه چې حبیب الله رفیع لیدلې، ۱۲۸۸ل کال کې لاهور کې چاپ ده(رفیع، ۱۳۹۴ل، ۲۴۴ مخ). د دې اثر متن یې کابو اته زره بیته دی. ملا احمد خلیل دغه پښتو مثنوي په ۱۳۰۵هـ.ق کال کې کښلې ده، یو چاپ یې په ۱۳۲۷هـ.ق کې لاهور کې شوی او ۳۵٦ مخونه لري(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱۵۷ مخ).

د یادولو ده چې «انیس الواعظین (بطرز جدید)» په اته څېیزه مثنوي کې قاضي ګل احمد یو ځل بیا له

دري پښتو کړی او د احمد (دپچګي) ترجمه يې ناسمه ګڼلې، ديوان چهجو سنګهـ خپره کړې، ۱۲۸۸ل کال اسلامي پريس لاهور کې چاپ شوې، ۳۵٦ مخونه لري(رفيع، ۱۳۵٦ل، ۳۳۸ مخ).

«د ابراهيم قصه» د احمد خليل په اوږده بحر کې منظومه قصه ده چې په ۱۲۹۹هـ.ق کال د محمد امين تهکالي د تفسير يسير په حاشيه کې په ډهلي کې چاپ شوې ده. په دې قصه کې د اسماعيل عليه السلام د قربانۍ په باره کې د ابراهيم عليه السلام قصه راغلې ده.

«قيامت‌نامه» په خفيف بحر کې د احمد خليل مثنوي ده چې په ۱۲۹٦هـ.ق کال يې نظم کړې او کابو پنځه سوه بيتونه لري. د قيامت مسايل بيانوي، ۲۰ مخه ده او په ۱۳۱۰هـ.ق کال لاهور کې چاپ ده(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱۵۷، ۱٦۱ مخونه). «قيامت‌نامه» چې قلمي نسخه يې په اتلسمه پېړۍ کې په نسخي ليکدود کښل شوې ده، يواځينۍ کاپي يې د کمبرج پوهنتون په کتابتون کې خوندي ده. دا يو مثنوي شعر دی چې د قيامت د ورځې يادونه کوي. په پيل کې يې لولو:

د حضرت دين چې مين دي　　دي منکور ته م زړه شين دی
زړه مې ډوب شه بې ويلو　　څای نشته د زغملو
له بيان لا چاري ده　　و خپل خدای ته م زاري ده

ښکاري چې دغه مثنوي له پارسي ژبې څخه را اړول شوې وي چې اصلاً دغه شعر د ډهلي د شاه رفيع الدين دی چې په وار وار په هند کې ژباړل شوی دی(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ٦۳ مخ).

«حکايات الصالحين» په رسېدلو بزرګانو پورې د اړوندو وړو وړو کيسو ټولګه ده چې ملا احمد خليل پر مثنوي ژباړلې، يوه زړه نسخه يې په ۱۲٦۲ل کال چاپ شوې ده(رفيع، ۱۳۹۴ل، ۲۳۷ مخ).

«هداية المومنين» د خلاصه کيداني او د ديني او فقهي مسايلو ترجمه ده چې احمدخېل په ۱۲۹۵هـ.ق کال منظومه کړې، ۷٦ مخه ده او په ۱۲۹٦هـ.ق کال ډهلي کې چاپ ده(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۲۱٦ مخ). ملا احمد په دې اثر کې خلاصه کيداني ژباړلې او نور فقهي مسايل يې ورسره مله کړي دي. د ده دا اثر په لنډه مثنوي دی، څه برخه يې منثور هم ده(رفيع، ۱۳۹۴ل، ۲۳۷ مخ). د هداية المؤمنين د کتاب پيل داسې شوی دی:

ستايش د هغه رب دی　　چې په اسم کې عجب دی
مقدس لري خپل ذات　　هم عاري دی له حاجات
يګانه دی هم په ذات　　هم لايق د هر صفات

او په اخر کې يې وايي:

اوس بيان کړم حقيقت خپل — وايم زه په کتابت خپل
زما اصل دی خليل — درته وايم په تعجيل
مسمی چې زما پلار دی — کريم شاه نوم يې اظهار دی...
په نامه فقير احمد يم — دري پنځوس هم په عدد يم
سن پنځه نوي دپاسه — دولس سوه نور وو ناسه
دا کتاب چې مې تمام شه — دا حساب ځکه ارقام شه
ورځ پنځمه ذوالحجه وه — چې مې خلاصه رساله وه
د پيشين په وقت کې جانه — کلام تم شه له زبانه
بند زما په لاس قلم شه — له ما پاتې دا رقم شه
والسلام والاکرام

وي دې هر چاته اعلام(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۵۸ – ۲۵۹ مخونه)

«رساله رد وهابي» منظومه رساله ده چې د وهابي ډلې د عقايدو په رد کې په پښتو مثنوي احمد پچکي نظم کړې ده. دغه رساله د «روضة النعيم» (۳۰۵هـ.ق کال چاپ) په حاشيه کې لاهور کې چاپ شوې ده.

«طوطي نامه» قصه پر احمد تيراهي سربېره ملا احمد جان هم د مثنوي قالب کې نظم کړې ده(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۱۲، ۱۴۳ مخونه).

«د حضرت عيسی (ع) کيسه» د افغانستان د علومو اکاډمي په خطي کتابتون کې شته، ۱۲ پاڼې لري او د کتابتون شمېره يې ۴۲ب ده. د حضرت عيسی د پيدايښت او د هغه د مور بي‌بي مريمې د ژوند او پېښو بيانونه په اته څپيزه مثنوي کې نظم شوي دي. پيل يې تر بسم الله وروسته:

دا عجب يو حکايت دی — القيصه يو روايت دی
چې عيسی ابن مريم وه — چې مشهوره په دې عالم وه(دوست، ۱۳۹۹ل، ۷۸ مخ)

«حقيقة الاسلام» د ديني او فقهي مسايلو رساله ده چې د سوال و ځواب بڼه لري، زر بيتونه دي. څو ځله چاپ شوې ده، يو چاپ يې ۶۰ مخه لري او په ۱۳۲۱هـ.ق کال لاهور کې چاپ ده(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۵۷ مخ).

د «جواهر الانبیاء/ قصص الانبیاء» په اخر کې د احمد د غزلونو یو مختصر شان انتخاب شامل کړی شوی دی چې یوه نمونه یې دا ده:

د معشوق په مخ توان نشته د خبرو	که پوهیږې دغه کار دی د زړه ورو
هر یو کار چې په دنیا کړه بېهوده څوک	گویا غواړي د ښیښې قېمت په زرو
پیسه نه لري په لاس کې ای مفلسه	په بازار کې بیعه کړي د ملغلرو
عقل نه لري د وخت له معرفته	دیوانه شولې په مثل د اوترو
په منګول باندې ساته باز ښکار دپاره	وبه نه کړې سیل په ښه ښایسته کونترو

احمد واغوسته خرقه د دروېشانو

ځان یې شمار که په قطار د قلندرو(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۶۵ مخ)

«جواهر الانبیاء مشهور به قصص الانبیاء» پېښور کې په ۱۳۱۹هـ.ق کال په ۳۶ مخونو کې چاپ دی.

«جمجمه افغاني» پېښور کې په ۱۲۹۲هـ.ق/ ۱۸۷۵م، ۱۶ مخه چاپ شوې، نور چاپونه هم لري.

«حقیقة الاسلام- او نور» پېښور کې په ۱۳۲۱هـ.ق / ۱۹۰۳م، ۶۰ مخه چاپ ده. نور چاپونه هم لري.

«عهدنامه» په پېښور کې په ۸ مخونو کې چاپ، «شفاعت نامه معه وفات نامه» په ۱۶ مخونو کې، « دیوان احمد» په ۹۶ مخونو کې، جلیل البرهان ترجمه دلیل (احسان)» په ۸۰ مخونو کې، انیس الواعظین جدید« په ۳۵۶ مخونو کې د ګل احمد(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۱۸، ۱۹، ۲۰۴- ۲۰۵ مخونه) آثار بلل شوي او چاپ دي.

احمدګل د سمن‌ګل زوی په قام حسن‌خېل د مشرقي د ګلایي مومند دی. دی په دغه ځای کې په ۱۲۵۸هـ.ق کال کې زېږېدلی او په ۱۲۷۳هـ.ق کال په ۱۵ کلنۍ کې له کوره ووت. د تحصیل لپاره چج هزار ته او له هغه ځایه بیا د احادیثو او تفاسیرو د زده‌کړې لپاره د لاهور اسلامي مدرسو ته تللی دی. مصر ته هم تللی او تقریباً اته کاله هلته وو او د خورا لوړ فضل خاوند شو. د دغه سفر په دوره کې یې د وطن پاکه خاوره له زړه نه ده وتلې او یوه عربي منظومه یې د دې مدعا ښه څرګندوی دی. په ۱۲۸۹هـ.ق کال له مصر څخه بېرته لاهور ته راغی او د لاهور په اسلامي مدرسو کې د تعلیم لپاره د مدرس په حیث وټاکل شو. په لاهور کې شپږ کاله و، وروسته په ۱۲۹۵هـ.ق کې د پېښور له لارې خپل وطن ته را ورسېد. دلته یې بیا ډېر شاګردان پیدا شول او په خصوصي ډول به یې طالبانو ته تعلیمونه ورکول. د ده اشعار تر اندازې زیات له تأثیره ډک دي چې خلکو د متلونو په ډول استعمالول. احمدګل

په خپل وطن کې له دیارلس کاله ژوندون څخه وروسته د شینوارو په (کهي) کې وفات شو او بیا د چپرهار د رود د للمې په کلي کې خښ شوی دی(رښتین، ۱۳۹۱ل - الف، ۴۹۵، ۴۹۷ مخونه). دی په ۱۳۱۰هـ.ق کې وفات شوی دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۲۲ مخ.

نوموړی په خپل شعر کې که څه هم لږ او ډېر په ځینو غزلیاتو کې د رحمان بابا سبک ته اړخ لګوي، مګر ده په خصوصي راز خپل شعر ته یو نوی رنګ ورکړی چې په هغه سبک او اسلوب د نورو شاعرانو شعر کم لیدل کېږي. د ده اشعار زیات په ملي لهجه او ملي رنګ دي. ده نوي ډول بحور په پښتو کې موندلي او خپل اشعار یې په هغه قالب کې اچولي دي. مثلاً دی د (رسول اکرم ص) د وفاتنامې په وروستني بیت کې وایي:

نوم احمد ګل دی زما　　قال د بلبل دی زما

ننګرهار خپل دی زما　　له ګناهونو لاندې مات مې د ملا تېر دی ربه

تل په ما ویر دی ربه(رښتین، ۱۳۹۱ل - الف، ۴۹۸ مخ)

له دې بیتونو معلومیږي چې احمدګل «*وفاتنامه*» هم لري.

د ده په کلام تصوفي او ديني افکار هم لیدل کېږي، لکه چې وایي:

چې یې ډېر د دنیا مال وي　　خو په دې شرط چې حلال وي

یو شو بچ له احتیاجه　　چې کریه دې له مزاجه

استغنا یې دوباره ده　　له غیرت سره یاري ده

حج زکوة چې پرې ادا کي　　خدای له خپل ځانه رضا کي

هر ګز نه یم طرفدار　　د حرام حبې دینار(رښتین، ۱۳۹۱ل - الف ، ۵۰۰ مخ)

له مولوي احمد ګل نه دا لاندې آثار را پاتې دي:

۱) د اشعارو یوه مجموعه، قلمي نسخه، د خدمتګار په کتابتون کې شته چې «دیوان احمدي» نومیږي.

۲) د کوټوال قصه: په ۱۳۰۴هـ.ق کال په لاهور کې چاپ شوې ده.

۳) د نیمبولا او تیمبولا قصه: ۱۳۰۱هـ.ق کال د لاهور چاپ.

٤) د امیر عبدالرحمان شهنامه: قلمي نسخه، حبیب الله رفیع چاپ ته چمتو کړې او د ۱۹۰۰ شاوخوا بیتونه لري. (د دې شاهنامې یوه خطي نسخه د غلام سرور ناشر په کتابخانه کې وه.

٥) د مولانا جلال الدين بلخي د مثنوي د ځينو کيسو ژباړه، قلمي.

٦) د مدارک التنزيل د ځينو روياتو ژباړه، قلمي.

٧) د خطبو يوه پانګه په مجموعة الخطب کې (آريانا دايرة المعارف، ١٣٨٦ل، ٢٤١- ٢٤٢ مخونه).

احمدګل په خپل عصر کې د امير عبدالرحمن خان پاچا لپاره په پښتو ژبه يو منظوم ديوان ليکلی و او بيا يې هغه حضور ته د «*ديوان احمدي*[1]» په نامه وړاندې کړی و او د هغه له حضوره يې پرې خورا زيات بخشش اخيستی و. په پښتو ژبه د ګټې ډکې خطبې په نظم ليکلې دي چې هغه په «*مجموع الخطب*» کې راغلې دي. د ده له آثارو څخه يوه د «*کوتوال قصه*» او بل د عظيم ګل «*نيمبولا*» کتابونه چاپ شوي دي او د مسودو په ډول يې د *مولانای روم صاحب د مثنوي د قصو ترجمې* او د *مدارک التنزيل* د ځينو روياتو ترجمې هم شته. د ده اکثر اشعار خلکو په خوله کې ياد کړي دي.

د شعر نمونه يې:

هيڅ ترحم نشته دی په هغه دلخراش کې　　تېر شو په تالاش کې

مرم ذرې ذرې شمه - وسوزم ايرې شمه

ته چې د زړګي حالونه سپي رقيب ته پاش کې　　تېر شو په تالاش کې

ستا که پر ما پام نه وي – ژوند به مې ارام نه وي....

استاد وايي چې د احمد ګل د ديوان يوه خطي نسخه له سرمحقق عبدالله بختاني سره شته او شاهنامه امير عبدالرحمن يې د زلمي هېوادمل په قول د کندوز د غلام سرور ناشر په کتابخانه کې خوندي ده (ربښتين، ١٣٩١ل - الف، ٥٠١، ٥٠٢ مخونه).

مولوي احمد د تنګي (١٢٦١- ١٣٠٠هـ.ق) د دې ترڅنګ چې د پښتو له پياوړو نثر ليکونکو څخه و، کله کله يې شعر هم ويلی دی. لاندې شعر د ده دی:

په هر دم په هر زمان په کار ده ژبه　　د همه واړه جهان په کار ده ژبه

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ١٦- ١٧ مخونه)

د ده منظوم آثار دا دي:

١) *غل او قاضي*: دا کيسه مولوي صاحب په لنډه اته څپيزه مثنوي په ١٢٨٣هـ.ق کال نظم کړه چې

[1] زلمي هېوادمل ليکلي چې د احمد ګل د ديوان يوه خطي نسخه د سرمحقق عبدالله بختاني په کتابخانه کې خوندي ده (د منابعو پېژندنه او ارزيابي، ٦٥ مخ)

چاپي او قلمي نسخې يې شته.

۲) د جمجمه *پادشاه کیسه*: دا کیسه په دولس څپیزه مثنوي په ۱۲۸۸هـ.ق کال نظم شوې او لومړی ځل په ۱۲۹۲هـ.ق کال په ډیلي کې خپره شوې ده.

۳) *مناجات محمد*.

٤) *منظومې خطبې*: چې وخت پر وخت يې د جمعې او اخترونو په لمونځونو کې ويلې دي(آريانا دايرة المعارف، ١٣٨٦ل، ۲۴۲ مخ).

۵) *مناجات محمد*.

٦) *علم غیب*: چې پر بدعتونو بحث لري.

۷) *آدم درخانی*: دا کیسه مولوي احمد په خواږه نثر ليکلې چې په پېښور کې ډاکټر خالد خان خټک په ځانګړې توګه چاپ کړې ده(آريانا دايرة المعارف، ١٣٨٦ل، ۲۴۲ مخ).

بلوم هارټ د برټش موزيم په فهرست کې ليکلي دي: د تنګي د مولوي احمد له خوا چې **د آدم خان درخانی**[1] کومه منظومه قصه ليکل شوې وه، په ۱۸۷۲م کال په پېښور کې چاپ شوې ده. ګيرس د *بهرام ګل اندامې* يوه پښتو منظومه قصه د مولوي احمد بولي. د مولوي شعر که څه هم چې شعر يې د شخصيت او علميت په اندازه د ستاينې وړ نه دی، خو دا دی سره له دې څو بيتونو يې چې د اختر په خطبه کې يې ويلي دي، دلته را اخلو:

دا چې نن خلک اختر اختر کوينه	نادانان دي دوی اختر نه پېژنينه
دا اختر نه دی چې سپور شي په آس باندې	اختر هغه دی چې نېک عمل وکاندې
دا اختر نه دی چې جمع کړي اسباب څوک	اختر هغه دی چې سم ورکړي حساب څوک
دا اختر نه دی چې عيش و عشرت وکړي اختر	هغه دی چې خدای ته عبادت کړي
هغه څوک چې عبادت د پاک اکبر کړي	تل دې دی متابعت د پيغمبر کړي

(رشاد، ١٣٩١ل- ج، ۷۷۳ مخ)

له دې پورته نظم څخه ښکاري چې مولوي صاحب په شعر او نظم کې هم څه برخه لرله.

مولوي احمد جان تاجر د آزاد خان زوی په خټه الکوزی دی. مولوي احمد جان د ۱۲۶۰هـ.ق کال

[1] بل ځای راغلي چې دا کيسه مولوي احمد په خواږه نثر ليکلې چې په پېښور کې ډاکټر خالد خان خټک په ځانګړې توګه چاپ کړې ده.

په شاوخوا په کندهار ښار کې زېږېدلی او د ۱۳۲۰ق په شاوخوا کابل کې مړ شوی دی. تاجر په ادب، فقه، تفسیر، اسلامي قضاء، محاسبه او نورو رواجي پوهنو کې خپله زده کړه د کندهار او هند په مدرسو کې سر ته رسولې ده. په ۱۳۰۲ق/ ۱۸۸۴م د امیر عبدالرحمن په امر له هېواده اخراج او هند ته فرار شوی دی. څو کاله وروسته بېرته راغی. له فراري‌توب نه وروسته او دمخه يې د امیر عبدالرحمن په دربار کې کار کاوه او د دفترونو د چارو د سمون، تقنین او د دولتي ادارو د تأسیس په چارو بوخت و. ده د قضاء او شرعي محکمو قواعد په پارسي ژبه لیکلي دي. د دغه کتاب نوم (اساس القضات) دی چې په ۱۳۱۰هـ.ق کال کې چاپ شوی دی. دی د پښتو او دري شاعر او لیکوال و. تجارت يې هم کاوه، نو ځکه تخلص يې تاجر و. في البدیهه ابتکاري شعرونه يې ویل. د شعر نمونه:

سپېدې مګر خیال د چولو لري — چې زړه تلاښ د تېښدلو لري
اوښکه به څو وي په زانګو د سترګو — دا هلک وخت د تلو راتللو لري
د وصل صید په دعا رام کله سي؟ — وحشي خو خوی د ترهېدلو لري....

مشهوره مشروطه غوښتونکی شاعر مولوي محمد سرور واصف د نوموړي مولوي احمد جان تاجر زوی دی(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۱۰۸۹، ۱۰۹۰ مخونه).

یوه خوږه او ابتکاري پښتو غزله يې پښتو تذکرو راوړې ده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۵۰ مخ) چې پورته يې یادونه وشوه. مولوي تاجر په ادبي علومو، حنفي فقهې او قضاء کې د مطالعې او کافي صلاحیت خاوند و. د افغانستان د قضایي اجراآتو په تنظیمولو کې يې سبه خدمتونه کړي دي(هېوادمل. ۱۳۵۶ل، ۱۰۰ مخ).

په پښتو ادب کې د محمد جان په نامه څو تنه [څلور] شاعران او ویناوال لرو. کوم **محمد جان** چې دلته زمور مطلوب دی، له هغه څخه په یوه کوچنۍ مجموعه کې څو رسالې را پاتې دي(رفیع، ۱۳۵۹ل، ۲۲۳ مخ). دا شاعر د زابل د سیمو ګڼل کېږي. له ده څخه یوه رساله د «*خوف القلوب*» په نامه را پاتې ده چې په دولس څپیزه مثنوي ویله شوې او د څلور سوو په شاوخوا کې بیتونه لري. دا رساله تر پند او نصیحت وروسته له ځنکدن نه پیلیږي، د تکفین، تدفین، سوال او ځواب او نورو بیانونه کوي او د جنت او دوزخ په بحث ختمیږي چې په پای کې یو مناجات لري. په دې پسې یوه بله رساله راځي. دا صوفیانه «*الفنامه*» ده چې اته څپیزه مربع ویله شوې، بیا یوه عشقي غزل ده او ورپسې بله «*الفنامه*» ده چې دا هم اته څپیزه ده او د مینې رازونه يې په کې نغښتي دي. بله «*رساله*» يې بیا هم دولس څپیزه ده،

د لمانځه، حيض او مېړه د حقونو په باب ديني او د ځمکې او اسمانونو په باب له فولکلور نه متأثر ديني روايات راوړي. د محمد جان له آثارو څخه ښکاري چې دی يو طالب العلم و، عربي فقه يې لوستې وه او د دې ترڅنګ يې ډېر لږ نور معلومات ورسره درلودل. فقهي مسايل يې له عربي څخه ژباړلي او ځای په ځای يې خپله يادونه هم کړې ده.

د شعر د جوړښت او د نسخې د کاغذ او ليک له مخې ښکاري چې محمد جان په ديارلسمه پېړۍ کې ژوند کاوه. د ده د شعر په نمونه کې د ده له دوهمې الفنامې څخه څو بندونه راوړو:

الف- آه، افسوس کوينه	چې يې وسوه پر تا مينه
لکه نمر چې ښايسته دی	تر نمر زيات د يار بشر
ت- تمام، جمله جهان	که يوسف دی که کنعان
تورې خاورې ستا د در دي	که پرې وکې يو نظر
ث- ثنا، ذکر و تسبيح کړي	مدام ستا وايي صريح کړي
د زړه فکر يې بل نسته	بې له تا څخه شام سحر
ج - جهت څه دی دلداره	چې هجران کوې بې شماره

هجران خوی دی ستا په خپله [ای دلبره] له ما څله مرور (رفيع، ۱۳۵۹ل، ۲۲۶، ۲۲۷ مخونه)

د افغانستان د علومو اکاډمي په خطي برخه کې د «*خوف القلوب (مجموعه)*» په نوم د محمد جان نظم کړی اثر شته چې د پاڼو شمېر ۳۲ او د افغانستان د علومو اکاډمی په کتابتون کې په ۳۳۹ شمېره خوندي ده. د الله ﷻ وېره او خوف، ديني او شرعي احکام، شروط الصلوة، په منځ کې د دې کوچنی مربع شکله پاڼې باندې د دوزخ، جنت او نعت څلوريزې ليکل شوې دي. پيل يې تر بسم الله وروسته داسې دی:

حمد ثنا دی له ازل ای حبيب هم څه کيژي تر ابدي ای مجيب (دوست، ۱۳۹۹ل، ۷۷ مخ)

کليم الله اخوندزاده د حبيب الله زوی او د ملا سلطان لمسی دی. په ۱۲۱۰هـ.ق کال د ننګرهار د شينوارو په سيوري کلي کې زېږېدلی او په ۱۲۹۵هـ.ق کال کې د ۸۵ کالو په عمر مړ شوی دی. ده په خپل محيط او ماحول کې د يوه عالم، فاضل او شاعر په صفت شهرت لاره. وايي چې متداوله او مروجه پوهنو، لکه د فقهې اصول، احاديث، منطق او نورو ديني او مذهبي پوهنو کې يې پوره لاس درلود او د دغو پوهنو د زده‌کړې لپاره په سوات، باجوړ او د پښتونستان په ډېرو ځايو کې ګرځېدلی

دی. په پارسي او عربي هم ډېر ښه پوهېده، تر دې چې په عربي ژبه يې يو کتاب «*تحفة المؤمنين*» په نامه کښلی دی.

کليم الله اخوندزاده سربېره پر دې چې په ديني او مذهبي پوهنو کې د استادی حق حاصل کړی دی، نو په دغه لاره کې يې ډېر شاګردان لرل او روزلي يې دي. په شعر او شاعری کې يې قريحه او استعداد د يادونې وړ دی. ويل کېږي چې دی د اشعارو يو *ديوان* هم لري، خو له‌بده‌مرغه تر اوسه زموږ په لاس نه دی راغلی. د ده کوم اشعار چې تر اوسه د ځينو خلکو له خولې اورېدل کېږي، زياتره عشقي او اجتماعي رنګ لري. د کلام نمونې يې دادي:

واويلا ورته کومه په هر حين کې — دلسوزي نه پيدا کېږي دلسنګين کې
په وصال کې د هجران غمو خسته کړم — زهر خورمه په پياله د انګبين کې
پس له مرګه به ژوندی شم که خوله راکړي — دا کمال دی ما ليدلی نازنين کې

* * *

ستا په مينه کې که لاړ شي سر زما — هغه ورځ به وي برات اختر زما
ستا د مخ حال[1] مې په سترګو کې منقوش دی — ټول عالم کړ راته حال نظر يما
ملغلرې به د اوشکو درپېښکش کړم — نور څه نشته دی کمال هنر زما

(رشاد، ١٣٩١ل- ج، ٦٥٩، ٦٦٠ مخونه)

کليم الله اخوندزاده د محمد شينواري په نوم زوی هم لري چې وروسته يې په اړه خبره کېږي.

مولانا ميا بزرګ د دولسمې هجري پېړۍ له نومياليو پوهانو او ليکوالو څخه و. د باجوړ په «شوو» کې اوسېده. د ديني علومو تدريس يې کاوه، په پښتو، عربي او دري پوهېده او په ١١٨٢هـ.ق کال يې د *يوسف زليخا کيسه* له فارسي څخه په پښتو واړوله او لويه شرحه يې باندې وليکله چې د درسي متن بڼه يې غوره کړې وه او د هغې سيمې په ديني مدرسو کې تدريس کېدله(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٧٥ مخ).

پورتني اشخاص اکثريت يې د دولسمې پېړۍ اړوند دي، اوس هغه ديني ادبي شخصيتونو يادوو چې تر دې وروسته پېړۍ (**ديارلسمې**) پورې اړوند دي.

ملا محمد اکرم چې په اکرم اخونزاده يې شهرت درلود، د ١٣٠٠هـ.ق کال په شاوخوا کې ژوندی و. د حضرت محمد ﷺ «*نورنامه*» يې د غزل او قصيدې په قالبونو کې نظم کړې ده. معلوميږي چې ملا اکرم

[1] په آريانا دايرة المعارف، دويم دور، پنځم ټوک، ١٣٩٢ل، ٨٦١ مخ کې د دې بيت د «حال» کلمې «خال» ليکل شوې دي.

سیرت او نورو دیني علومو کې مطالعه لرله. د هغه نورنامه د مذهبي تدریس په کړیو کې «د ملا اکرم نورنامه» په نوم شهرت لري(هېوادمل، ۱۳۵۶هـ.ش، ۴۶ مخ).

د ملا محمد اکرم اخونزاده د منظومې «نورنامې» د وینا له طرز او ډول څخه یې ښکاري چې له هغو اکرم نومونو څخه ښه دی چې په «پښتانه شعراء، ورکه خزانه او بهار نوروزي» کې راغلي دي. د محمد اکرم اخونزاده په نورنامه کې د محمد ﷺ د نور د پیدا کېدو کیسه نظم شوې ده. موږ له دې نه وړاندې هم په پښتو کې څو منظومې نورنامې لرو چې مشهورې یې د محمد فهیم، جان محمد او غلام نوي نورنامې دي. د اکرم نورنامه د پرله‌پسې غزلو او بوللو په توګه ده، هره غزل او بوللە د اکرم په نامه ختمیږي او بیا په بل ردیف او قافیه غزل یا بوللە پیلیږي او د نورنامې مطلب یو له بله سره نښلي. د نورنامې خطي او چاپي نسخې په لاس کې دي چې داسې پیلیږي:

چې خدای نور کړو د حضرت نبي پیدا — نه لا عرش ؤ، نه کرسۍ وه، نه سما
نه ملک ؤ، نه سړی ؤ، نه پیری ؤ — په اویا زره کلونو لا پخوا
لکه نور چې یې د پاک نبي پیدا کړ — په ادب یې سجده وکړه د مولا
لکه نور په سجده پرېووت و مولا ته — زر یې یوړه له څښتنه مدعا
پاک الله وربانديې دا رنګ اواز وکړ — ای حبیبه شه په دا ویل شنوا...

د نورنامې ټولې غزلې او بوللې پنځلس دي. د محمد اکرم د شعر له جوړښت او روانۍ څخه ښکاري چې ده د پښتو د دیواني ادب د نهضت په دوره کې ژوند کاوه او د ژوند وخت یې د دولسمې پیړۍ په اواخرو کې دی(رفیع، ۱۳۵۹ل، ۱۸۲، ۱۸۳، ۱۸۴- ۱۸۵ مخونه).

له نورنامې څخه د اکرم د وینا یوه نمونه:

«*نورنامه ملا اکرم*» لاهور کې په ۱۶ مخونو کې چاپ دی. د حضرت محمد ﷺ د نور د پیدایښت په باب د اکرم نومي شاعر رساله ده چې د بدلو او بوللو په چوکاټ کې ویله شوې او په پای کې د واعظ دوه شعرونه هم لري(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۷۸۲ مخ).

عبدالله مذهبي شاعر دی، د مثنوي په قالب کې یې د حضرت محمد ﷺ «*نورنامه*» منظومه کړې، په اړه یې نور معلومات نشته، دا د ده دی:

ما عبداله د خان دپاره — امیل جوړ کړ خوش نظاره(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۲۷۵ مخ)

حنان بارکزی د دیارلسمې هجري پیړۍ ذواللسانین شاعر دی، د محمد حسن زوی او د استاد رشاد د

څېړنې پر بنسټ يې ژوند تر ۱۲۹۲هـ.ق پورې يقيني دی. له دې نېټې دوه کاله دمخه په ۱۲۹۰هـ.ق کال کې يې «تسکين القلوب» اثر په دري ښکلي نثر او ليکنه بشپړ کړی دی. ميرزا حنان د شهزاده سليم جواهري قصه او څو نورې فولکلوري کيسې هم په نظم کړې دي. د ده ديوان څو ځله چاپ دی(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۸۹ل، ۱۲۲ مخ). «تسکين القلوب» اثر سعيد گوهر له فارسي نه پښتو ته ژباړلی او د محمود اياز په زيار پر ۱۴۰۵هـ.ش (۲۰۲٦م) کال کوټه کې چاپ شوی دی.

د حنان بارکزي په شعرونو کې مذهبي تجلياتو په اړه بايد ووايو چې:

دی نه يواځې يو تکړه ناظم و، بلکې د هغه وخت مروجه ديني علوم يې لوستي او تر يوه حده يې د قرآن پاک ترجمه کړې او د نبوي احاديثو په متعلق يې هم معلومات درلودل. ده خپل ديوان په حميده کلام پيل کړی وايي:

الهي د محبت په اور کې توان را — سمندر رنگه د پټې خولې بيان را
کل سختی مې له زړه وباسې قادره — لکه زلفې د خوبانو زړه پريشان را

(بارکزی، ۱۳۳٦ل، ۱ مخ)

د حنان بارکزي ځينې شعرونه د وعظيه موضوعاتو قوي روحيه لري، لکه چې وايي:

راشه پرېږده د دنيا روزگار قبيح — په لاس واخله د نبي د دين تسبيح
له غيبته له بهتانه ځان نگاه کړه — کلمه وايه په ښه زبان فصيح
ځان د خدای بې ياده مه کړه څو زوندی يې — هلته نه شې چې اجل دې کا ذبيح
که ځان غواړې د آسمان پر بام د پاسه — له دنيا کړه مينه پرې لکه مسيح

(بارکزی، ۱۳۳٦ل، ۱۸ مخ)

ميرزا حنان په لاندې وعظيه کلام کې د شريعت د لارې غوښتنه بيانوي او غوره خصلتونو ته د انسان پام راگرځوي:

سم ايږده د شريعت په لار قدم — مه ږده کور قدم چې ته شې هلته سم
نم د زړه تر سترگو تويې په لوی سهار کړه — د عصيان نامه پاکېږي په دا نم
صبحدم توبه زاری کړه وقار ته — حرام کړه پر سترگو خوب د صبحدم
زېم د اوښکو د مظلوم نه اجتناب کړه — چې د عمر دېوال زود وهي دا نم
کرم کړه په زېر دستانو په ډېر لطف — که له خدايه امېدوار يې د کرم

(بارکزی، ۱۳۳٦ل، ۷۱ مخ)

حنان په لاندې شعر کې غافل انسان مخاطب کوي:

څو غافل ګرځې انسان	په خپل ځان پورې حیران
خدای په خپله ستا شاهد دی	حذر نه کړې له عصیان
ته «الا لیعبدون» یې	د خوړو د اوبو زیان
سر د کل خطا دینار	په خطا پسې روان
همېشه د رزق دپاره	مرور یې له آسمان
هوښ کړه ته یواځې نه یې	ستا په رنګ دی صد چندان
«کل شیئ هالک» دی	«الا وجهه» نادان
«ولو کان في بروج»	دا خبر دی له فرقان
ته په څه باندې غره یې	چې سر کاږې له فرمان
په پیرۍ عبادت نه شي	ګټه اوس وکوه ځوان...
«دنیا سجن د مؤمن دی»	وځه ته له دې زندان
«للانسان عدو» دی	ته دوستي کړې له شیطان
نصیحت و ځان ته وکړه	بل ته څه وایې چنان

(بارکزی، ۱۳۳٦ل کال، ۸۵ مخ)

په پورتني شعر کې نوموړي خپل کلام په قرآني آیتونو مستدلل کړی دی.

د افغانستان ملي آرشیف کې د حنان دیوان دوه خطي نسخې موجودې دي(نجرابي، ۱۴۰۲ ل، ۷۸ مخ).

د حنان دیوان په ۱۳۳٦هـ.ش کال پښتو ټولنې چاپ کړی، ښاغلي صحاف دا دېوان په کوښته کې چاپ کړی او هم یې په کې د هغه یو اثر چې په مثنوي نظم شوی، چاپ کړی دی.

ملا خیرالله د ولي محمد و. دی د مور له خوا د کندهار یوې سترې علمي او روحاني کورنۍ ته منسوب دی، مورنی نیکه یې ملا شاهو ساګزی هوتک دی(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ٦۱۴، ٦۱٦ مخونه). د ملا خیرالله د زوکړې کال ۱۲۱۳هـ.ق دی. خو په «فرهنګ زبان و ادبیات پښتو» کې یې په ۱۲۱۲هـ.ق کال د کلات د سیوري سیمې په شېبولان کې زېږېدلی بولي(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱٦٦ مخ). هغه په

۱۲۲۵هـ.ق کال د علم په طلب پسې ملا تړلې ده او د پردیسۍ په کړاو اخته شوی دی. له دیوانه یې معلومیږي چې ملا خیرالله د خپل وخت په ډېرو مروجو علمونو کې لاس درلود او په ځینو کې د تبحر درجې ته هم رسېدلی و. ده د علم تر تحصیل وروسته له ملا صاحبدین عمرزي هوتک څخه روحاني استفاضه شروع کړې ده. له نوموړي ملا صاحبدین څخه د خلافت تر حاصلولو وروسته د ۱۲۵۰هـ.ق کال په شاوخوا کې خپل ټاټوبي (ښه بولان) ته د استوګنې په نیت راستون شوی او د سیر و سلوک افاضه یې شروع کړې ده. دی د علم او عرفان د تکمیل لپاره بخارا ته هم تللی دی. د ملا خیرالله ژوند تر ۱۲۸٦هـ.ق کال پورې یقیني دی، تر دې وروسته یې د ژوند حال او د مړینې نېټه نه ده څرګنده، قبر یې د ښه بولان په لویه او زړه هدیره کې دی.

د ملا خیرالله *دیوان* چې غالباً د ده په خپل قلم لیکل شوی دی، سر تر پایه تصوفي رنګ لري، د عرفان او سلوک ډېرې درنې مسألې په کې څېړل شوې دي. د وحدت الوجود لور ته هم هڅه ځنې ښکاري. د ده دیوان دوه ټوکه دی، لومړی ټوک یې ۲۲۳ او دوهم ټوک یې ۱۷۴ مخونه لري چې ټول ۳۹۷ مخونه کېږي. په لومړي ټوک کې یې څه عربي او پارسي نظمونه هم شته او سربېره پر دې یو څه عربي مسجع نثرونه هم په کې ضبط دي. د دوهم ټوک په پای کې یې ځینې اوزبکي لغتونه او جملې په پښتو اړول شوي دي او داسې معلومیږي چې دا د هغه اوزبکي پښتو فرهنګ یو جزء دی چې د ځینو په قول ملا خیرالله لیکلی دی. د دیوان له مطالعې څخه یې څرګندیږي چې دا پښتون عالم، سالک او ناظم پر خپله مورنۍ ژبه (پښتو) سربېره په پارسي، عربي او اوزبکي هم پوهېده او په دغو څلورو سرو ژبو کې یې د څه لیکلو قدرت په نصیب وو.

ملا خیرالله ډېر زیار ایستلی چې د حضرت عبدالقادر بېدل د اشعارو مطالب په خپل پښتو شعر کې ځای کړي، مګر افسوس چې دا کار نه دی ځنې شوی او زیاتره یې د خپل کلام انسجام، موزونیت او وضاحت هم پرې بایللی دی. په ځینو بیتونو کې یې د ترجمې رنګ له ورایه ښکاري. د ملا خیر الله کلام یو خو سر تر پایه عرفاني اسرار دي او بل یې د وینا په ترکیب او ترتیب کې څه ضعف هم لیدل کېږي، ځکه یې نو په کلام کې تعقید او ابهام ډېر دی. سربېره پر دې ملا خیرالله په خپل نظم کې زیاتره د وزن او قافیې مراعات هم لکه څنګه چې لازم وو، نه دی کړی، له دې امله یې په کلام کې بېخوندي پیدا شوې ده. د ده د پښتو کلام څو غوره نمونې دا دي:

ترڅو به تحمل په ضعیف تن د تهمتو کړم　　د پښو افتادګي لکه شبنم د تګ اسباب را

له ترکه د خودی مي د نیاز اوښکې بهیرې د ګلو پر اوږو لکه شبنم سیر مهتاب را

* * *

زه حباب شمعه د بزم د دریاب شوم — در کشاد، پرده د سترګو د سراب شوم
د وحدت نارې وهم عبارت سازه — د کثرت په نام تنها در نایاب شوم
عرصه ګاه مې د وحدت له تنګه دله — دامن ګیره د کامل لکه حباب شوم
هر ویښته مې تماشه کړي له وحدته — لکه شمعه سر تر پا نور د آفتاب شوم

(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ٦١٧، ٦١٨، ٦١٩ مخونه)

معصوم هوتک لیکي: د ملا خیرالله د دېوان څرک د افغانستان د علومو اکاډمۍ پر نسخه سربېره د بخارا په کتابتون کې هم لګېدلی دی. اړوند حسین نایل هغه کتلی او یادښتونه یې څنې اخستي وو، دغه یادښتونه یې وروسته ښاغلي حبیب الله رفیع ته د استفادې لپاره ورکړي وو(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۹ مخ).

دوست‌محمد خټک د پښتو پیاوړی شاعر، ناظم، لیکوال او ژباړن و، د محمد اکرم خان لمسی[1] او د ۱۲۳۰هـ.ق کال په شاوخوا کې په کندهار کې زېږېدلی دی. په اصل کې د پېښور او د خوشحال خان خټک له کورنۍ څخه و چې د څینو کورنیو اختلافاتو له امله یې نیکه محمد زمان خان له پېښوره کندهار ته راغلی و. دوست‌محمد د خوشحال د علمي کورنۍ وروستنی ستوری دی، د مړینې نېټه یې ښه نه ده معلومه خو تر ۱۲۹۲هـ.ق کال پورې یې چې په دغه کال کې یې خپل یو اثر «اخلاق احمدي» په نظم ژباړلی دی، ژوند یقیني دی. دوست‌محمد خټک سربېره پر شاعرۍ لوی دیني عالم و، په پښتو او دري ژبو یې څینې لیکلي او ژباړلي آثار را پاتې دي(رښتین، ۱۳۹۱ل -الف، ۴۴۲ مخ) چې دا دي:

۱) په ۱۲۷۵هـ. ق کال یې د واعظ کاشفي تفسیر حسیني په پښتو ژبه ژباړلی او په «*تفسیر بدر منیر*» یې نومولی دی.

د افغانستان ملي آرشیف کې راغلي چې تفسیر بدر منیر (له ۲۷ نه تر وروستۍ [پاڑې]) د ملا دوست محمد خټک اثر دی چې د تفسیر په پای کې په شپږ پاڼو کې د عقیدې، ایمان او اهل د سنت او جماعت په اړه بحث شوی دی. د کلام یوه بېلګه یې دا ده: «(سبح الله) نمازګذاري یې وکړه؛ یعنې پرستش یې وکړه (ما فی السموات والارض) هر څه چې په اسمانو کې دي، له فرشتګانو څخه او هر څه

[1] په آریانا دایرة المعارف، درېم ټوک، ۷۲۰ مخ کې یې زوی بللی شوی دی.

چې پر زمین دي، له مومنانو څخه»(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۴۹- ۵۰ مخونه).

۲) د عربي «*دلایل الخیرات*» شرحه یې په پښتو ژبه لیکلې ده.

۳) د «*بحر العلوم*» په نامه کتاب یې د مثنوي په کالب کې نظم کړی دی. دا کتاب ۱۱۵۹ مخونه، تقریباً ۲۰۰۸۰ بیتونه لري او په دولسو بابونو باندې وېشل شوی دی. دا په حقیقت کې د ډېرو عربي کتابونو لنډیز او د نصیحتونو او حکمتونو، اخلاقي او عقیدتي مسایلو مجموعه ده. دوست‌محمد په ۱۲۹۰هـ. ق د اعلیحضرت امیر شېر علي خان په زمانه کې «بحر العلوم» نظم کړی دی(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۴۲ مخ). د افغانستان ملي آرشیف کې د دې اثر خوندي نسخې پیل او پای:

اول حمد د کردگار دی　　زیات له حده یې شمار دی

* * *

گردان ایجابت این دعا استغفرالله العظیم(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۵ مخ)

٤) د «*اخلاق احمدي*» په نامه کتاب یې له عربي طریقه محمدیه څخه د خپل پلار په امر د پښتو په لنډ مثنوي بحر را ژباړلی دی چې ۲۷۲ مخونه او ۱۱۰۰۰ بیتونه لري(رښتین، ۱۳۹۱ل - الف، ۴۴۲- ۴۴۳ مخونه). دغه اثر په «*طریقه محمدیه*» هم یاد شوی چې د حضرت محمد ﷺ ارشادات او وصیتونه او دیني اوامر یې په پښتو مثنوي نظم کړي دي. خطي نسخه یې ۷۷۲ مخه ده او د افغانستان ملي آرشیف کې خوندي ده. خټک په ۱۲۹۲هـ.ق د دې کتاب نظمول بشپړ کړي دي(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۴۲ مخ). د افغانستان ملي آرشیف کې د «*توحید او معتقدات اهل سنت جماعت*» منظوم اثر خوندي دی چې د ځینو شواهدو په اساس شاید د ملا دوست محمد وي. پیل او پای یې:

پیل: بیان کې ده اصل د توحید....

پای: د ایمان او امن له عذابه د حق تعالی کفر دی(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۵۳ مخ).

د «پښتانه شعراء» د دوهم ټول لیکوال یادونه کوي چې دوست محمد خټک په دري ژبه هم لیکلي آثار لري چې خپاره شوي نه دي.

د قلمي بحر العلوم له خاتمې څخه:

دا کتاب بحر العلوم دی　　په کې هر شی ښه معلوم دی

په کې ډېر نصیحتونه　　له هر قسمه حکمتونه

ښه ګوهر په کې تابان دی　　تر آفتابه درخشان دی

هر لولو يې منور دی　　اشک له رویه د قمر دی
کان د در و د یاقوت دی　　هر گفتار يې د زړ قوت دی
ایاتونه حدیثونه　　په کې ډېر دي دلیلونه....(رښتین، ۱۳۹۱ل - الف، ۴۴۴ مخ)

له «اخلاق احمدي» څخه يې یو منظوم حکایت دا دی:

ابراهیم بن ادهم و　　دی و خدای ته مکرم و
ده دا به په اجرت یاره　　وه اخیستی برخورداره
و عمان وته دلربره　　دی روان و بهروره

قمچی ولوېده له دنه بیارته دی وگرځېدنه...(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸۹ل، ۷۲۱ مخ)

په دې بېلگو کې يې د وعظ و نصیحت خوا درنه ده.

ملا فیض محمد اخونزاده د ملا مغل زوی د ملا یارګل اخوندزاده لمسی دی. دی یو عالم او روحاني سړی و چې د ۱۲۵۰هـ.ق کال په شاوخوا کې زېږېدلی دی. د زوکړې او استوګنې ځای يې د لوګر موسهي و، نو ځکه د موسهي په اخونزاده سره مشهور شوی دی. په ختې حسین‌خېل جریانی دی. ده د وطن له مشهورو علماوو څخه تحصیل کړی او وروسته د سوات د مشهور مرشد ملا عبدالغفور صاحب مرید شوی او په ځلورو طریقو کې يې د ارشاد اذن موندلی دی. مجاهد سړی و او ډېر مریدان او محصلین يې لرل. د ملا نجم الدین اخوند (د هډې صاحب) ملګری، همکار او هم‌فکره و او په وطني مجاهداتو کې يې برخه لرله.

ملا فیض محمد په پښتو، پارسي او عربي ژبو ښه پوهېده او په درو سره ژبو کې اشعار ځنې پاتې دي.

د ملا صاحب د مؤلفاتو شمېر ۳۱ ښوول کېږي او دغه څو کتابه يې معلوم دي:

۱) *روضة المجاهدین*: پښتو مثنوي دی په خفیف بحر کې ویل شوی دی.

دا اثر د خپلواکۍ له جذباتو څخه ډک دی، ښاغلي پژواک موندلی او د پښتو ټولنې په کتابخانه کې يې خوندي کړی دی. ۱۳۵ مخه دی چې دا نسخه په ۱۳۳۷هـ.ق کال کې د محب العلماء محمد اسمعیل پوپلزي لپاره کښل شوې ده. د روضة المجاهدین یوه خطي نسخه د افغانستان په ملي آرشیف کې خوندي ده. دا کتاب اساساً د ملا فیض محمد له خوا د جهاد په تشویق کې په پښتو لنډه مثنوي لیکل شوی دی، ټول نژدې یونیم زر بیته کېږي. دی لومړی هغه آیاتونه او احادیث چې د جهاد په تشویق کې راغلي دي، یو یو را اخلي، لومړی يې په پارسي او بیا يې په پښتو نظم کوي. کتاب يې داسې شروع

کېږي:

په نامه د لوی عزیز　　چې قادر دی په هر څیز
دی پیدا کاندي انسان　　بیا یې پوه که په بیان
شي عالم په حقایقو　　اظهار که د دقایقو

د کتاب په پای کې د امیر شېر علي خان ستاینه کوي. په دې ډول اخوندزاده صاحب د کتاب شروع د امیر شېر علي خان له وینا څخه کوي او داسې ښکاري چې ده دا کتاب د امیر په فرمایش په نظم کړی دی.

څرنګه چې ده د خپل کتاب نوم (روضة المجاهدین) ایښی دی، نو ځکه یې ډېر مباحث په عسکریت اړه لري او دا ځکه چې دی په خپل هم یو مجاهد سړی و، نو د عسکریت آداب او لوازم په ښه ډول بیانوي. په یو ځای کې هغه صفات او اخلاق ښیي چې له یوه عسکر مشر سره لازم دي، لکه:

په لښکر کې چې افسر وي　　مې باید چې دلاور وي
شجاعت لري کرار وي　　په صفونو کې جدار وي
هم عاقل او مدبر وي　　ښه دینداره مذکر وي
دلسوزي لري ناصح وي　　هم انصاف لري صالح وي
سخاوت لري ښه داد که　　له لښکر سره امداد که
چست چالاک وي ثقیل نه وي　　هم ظالم او بخیل نه وي

دا کتاب په ۱۲۹۳هـ.ق کې تمام شوی دی. ملا فیض محمد اخوند له پلاره یتیم پاتې شو، اکا یې چې په حاجي صاحب مشهور و، د ده روزنه وکړه. د ملا فیض محمد اخوند پر شناخته د ده د وفات تاریخ ۱۳۱۹هـ.ق کال لیکل شوی دی او عمر یې ۶۹ کاله او نهه میاشتې و. ملا صاحب د قادریې طریقې ارشاد کاوه او ډېر خلیفه‌ګان یې درلودل.

۲- *معدن الجواهر*: د دې مردف او مکمل دیوان دیباچه یو پارسي مثنوي دی چې د مناجات او شجرې حیثیت لري او په هغه کې یې د قادریې طریقې پیران تر حضرت علي پورې رسولي دي. د دغه مناجات بیتونه ۸۷ دي. د دغه دیوان چې کومه نسخه استاد رشاد لیدلې، ۱۲۸ مخه لري، پارسي غزلې یې ۱۸، قصیدې یې ۵۰ دي. یوه عربي قصیده هم د جیم په ردیف کې شته. له مناجات سره د ټول دیوان بیتونه ۱۶۲۸ دي(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۶۳۶، ۶۳۷، ۶۴۷ مخونه). په «فرهنګ ادبیات پښتو» دویم

ټوک کې بیا راغلي چې «*معدن الجواهر*» په پښتو، پارسي او عربي ژبو تصوفي او عرفاني اثر دی چې پښتو برخه یې ۳۰ صفحې او ۶۹۰ بیتونه دي. دا منظومه په ۱۳۱۰هـ.ق تألیف شوې ده، مؤلف او ناظم یې فیض محمد اخونزاده موسهي دی(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۹۸ مخ).

۳- *ذخیرة السعادت*: قلمي نسخه یې ۲۴۱ مخه لري. د پښتو منظوم اثر دی، ځای ځای لږ پارسي نثر هم په کې شته، په خفیف بحر کې ویل شوی دی. دغه اثر دوې برخې لري: لومړۍ برخه یې د معجزو برخه ده او په بله برخه کې یې تنبیهات او توبیخات دي. د دې کتاب شروع په دغو بیتو شوې ده:

ای زمور ربه خالقه — کل ثنا ده ستا لایقه
شریک نه لرې عالي یې — له همه عیبه خالي یې
حد دې نشته ته قدیم یې — په هر شي باندې علیم یې

۴- *تحفة الملوک*.

۵- *رد الروافض*.

۶- *خطبې*: په دغه اثر کې هغه پښتو او پارسي منظومې خطبې راټولې شوې دي چې ملا فیض محمد اخوند له خپلې طبعې څخه لیکلې دي. د پښتو خطبې نمونه:

نصیحت په بدبختانو اثر نه کا — آیاتونه ورته وایم باور نه کا
د دنیا په محبت زړونه ړانده شوه — نابینا ته رڼا شمس و قمر نه که

نفس شیطان دواړه دښمن د پاک الله دي پیروي د دواړو کاندي حذر نه که(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۶۴۷، ۶۴۸، ۶۴۹ مخونه)

ملا عبدالباقي کاکړ چې «افغان» یې تخلص کاوه، د عبدالرسول اخوندزاده زوی، د محمود اخوندزاده لمسی او د ملا الف اخوند کړوسی دی. نومورۍ د کندهار د احمدشاهي ښار د پوپلزیو په کوڅه کې چې اوس د ملا ګلداد په نامه یادیږي اوسېده. د ملا عبدالباقي غور نیکه (ملا الف اخوند) د لوی احمد شاه بابا د واکمنۍ پرمهال د کاکړستان له ږوب نه کندهار ته راغلی او هملته مېشت شوی دی. د ملا عبدالباقي د زوکړې نېټه په دقیقه توګه څرګنده نه ده، خو د ده د «تهذیب الواجبات» له مطالعې څخه دا په ډاګه کېږي چې دی به د دیارلسمې هجري قمري پېړۍ د دوهمې نیمایي په لومړیو وختونو کې زېږېدلی وي. ده د امیر دوست محمد خان په دوهمه پلا پاچاهي (۱۲۵۸- ۱۲۷۹هـ.ق) نومورۍ امیر لیدلی او کله چې د هغه مشر زوی امیر محمد افضل خان په ۱۲۸۳هـ.ق کال په کابل کې پاچا شو، ملا

عبدالباقي په کابل کې و او امير يې له نږدې ليدلی و. ملا عبدالباقي د ۱۳۴۴هـ.ق کال د رجب مياشتې په ۱۲مه (د ۱۳۰۴ل کال د سلواغې په ٦مه) د څو اتيا کلونو په عمر په کندهار کې مړ شوی دی.

ملا عبدالباقي افغان د خپل وخت دوديز علوم لوستي و او ښه ملا شوی و، تل به يې د ديني اوامرو تبليغ کاوه او خلک به يې له بدو او نامشروع چارو څخه منع کول، د همدې موخې لپاره يې په پښتو ژبه د «*تهذيب الواجبات لتخريب العادات*» په نوم منظوم اثر وليکه، دغه اثر د «*تبيين الواجبات*» په نامه هم ياد شوی دی. د دې اثر مطالب زياتره ديني او تبليغي رنګ لري، همدارنګه ځينې تاريخي، ملي او وطني مسايل او موضوع‌ګانې هم په کې منعکسې شوې دي چې ۲۲ غزلې او ۵۹ رباعي‌ګانې هم په کې راغلې دي. دا اثر د پښتو مثنوي په اوږد بحر کې ويل شوی دی. د ده په نظمونو کې د ارسال‌المثل صنعت زيات ليدل کېږي چې د ده وينا ته يې خاص رنګ ورکړی دی. د دې اثر بېلابېلې برخې په سراج الاخبار افغانيه کې هم چاپ او خپرې شوې دي خو په مستقله توګه په ۱۳۴۱هـ.ق کال ۲۷۵ مخه د يوه سوداګر له خوا چاپ او خپور شوی دی. دغه چاپي اثر پر پنځو لويو ګفتارونو وېشل شوی چې هر لوی ګفتار بيا په خطبو او ګفتارونو وېشل شوی دی.

د کلام بېلګه:

تا نن ولې سستي وکړه په غيرت د دين افغانه — وګوره په دواړو سترګو څه لرې له خانومانه
هر ګروه له کسب و کار دی ګروې به خپلې شنې — ستا د تورې تر نوک څاڅې همېشه د دښمن وينې
د سلطان محمود له وخته ما څنډله تېره توره — که مې جهل رهبر نه وی پر مخ تلم تر دور صوره
له هغه وخته تر ننه بې حسابه ګوزارونه — د افغان د آس په نعل ايرې شوې دي لوړ غرونه

(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ٦۰ مخ)

په لاندې څو بيتونو کې د اسلام عظمت او شان ښکاره کوي:

را اخيستی مې شهباز دی د خپل عشق رباب وهمه
نغاره د اسلام کوک شوه دواړه برېته تاوومه
د ساقي شراب له عشقه عالم ټول وينم ګلرنګه
خوشحالي پر حال د هغو چې يې زړه پاک شو له زنګه
څه نغمې څه ترانې دي قسم قسم آوازونه
قمريان پر ښاخو ناست دي مطلب نوي کړه سازونه (رښتين، ۱۳۹۱ل - الف، ۵۷۵ مخ)

غلام محمد پوپلزی د پښور په چارسده کې اوسېده، د زوکړې دقیقه نېټه یې څرګنده نه ده، دا چې «د اسلام مد و جزر» په نامه د ده یو ژباړلی اثر په ۱۳۱۰هـ.ق کال چاپ شوی، نو ځکه دا اټکل کېږي چې ده به د دیارلسمې قمري پېړۍ د دوهمې نیمایي په پیل یا له هغې لږ وړاندې نړۍ ته سترګې غړولې وي. د آثارو له مطالعې یې ښکاري چې ده د خپل وخت دودیز علوم یې لوستي او ښه ملا شوی دی. روانه طبعه یې درلوده او په خپله ژبه ښه لاسبری و. په خپل شعر کې یواځې په عشقي مضامینو منحصر نه پاتې کېده، بلکې د ملت د ښېګڼو او عصري ګټو او د خلکو د ویښولو مسایل به یې هم په خپل شعر کې منعکسول. نوموړي دغه لاندې آثار تألیف او یا ژباړلي دي:

«*د اسلام مد و جزر*»: دا د مولانا حالي[1] لیکلی اثر دی چې په هندوستان کې یې ډېر شهرت ترلاسه کړی و. د کتاب اصلي متن د مسدس په بڼه دی، خو پوپلزي په پښتو مثنوي ژباړلی او د کتاب په پیل کې یې یوه غور تبصره هم پرې لیکلې ده. دا اثر په ۱۳۱۰هـ.ق چاپ شوی دی. له دې اثر څخه وروسته یې د مولانا حالي یو بل اثر چې د ښوونې او روزنې په باب یې لیکلی، هم ژباړلی دی. هغه د ژبې د زده‌کړې د قواعدو په اړه یو بل اثر هم لیکلی چې «*محمدي قاعده*» نومېږي.

د کلام بېلګه:

له بقراط حکیم نه وکړه چا پوښتنه	چې هوښیاره د کامل عقل څښتنه
کوم یو رنځ دی چې سړی پرې هلاکېږي	په دنیا کې یې دارو نه پیدا کېږي
وې یې داسې ناجوړتیا په دنیا نشته	چې دارو یې مونده نه شي....
که وېړیا دی که آسان دی که مشکل دی	هر مرض له پیدا کړی خدای درمل دی
که د رنځ نخښې سبب ورته څرګند کا	په خندا شي په طبیب پورې ریشخند کا
نه دارو خوري نه پروا یې په پرهېز شي	په ورو ورو هغه کمزوری مرض تېز شي
د طبیب له نزدیکته یې نفرت شي	تر هغه چې له دنیا څنې رخصت شي
دغه حال به په دنیا د هغه قوم وي	چې په سپینه رڼا ورځ ویده په نوم وي
	(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۲۷۵ مخ)

مولوي میا حمدالله فقیرخېل د کمال الدین زوی چې د نسب سلسله یې د خوشحال خان خټک

[1] د «مد و جزر اسلام» په نوم دري اثر د مولوي محمد سرور خان واصف اثر هم شته چې د محمد معصوم هوتک په مقدمه،، ترتیب او تحشیه په ۱۴۰۰هـ.ق کال کې خپور شوی چې ۹۶ مخه دی.

ورور فقیر جمیل بېګ ته رسېږي. ده د خپل وخت دودیز علوم لوستي و، په دیني علومو کې وارد و، متقي او پرهېزګاره سړی و. نوموړی د مردان د سوابۍ په سړه‌چینه کې اوسېده، د خپل وخت له متصوفو شاعرانو څخه و چې په دې لړ کې د کوټې د باباجي سید محمد امیر صاحب له مریدانو څخه ګڼل کېده. د خپل پیر په ستاینه کې یې ۲۴ قصیدې لیکلې دي، همدارنګه یې د خپل غور (ور) نیکه (فقیر جمیل بېګ) په ستاینه کې هم شعرونه ویلي دي. له دې شاعر څخه یو *دیوان* پاتې دی چې قلمي نسخه یې د میا وکیل‌شاه فقیرخېل په شخصي کتابتون کې خوندي ده. دا دیوان د اتیایمو کلونو په پیل کې چاپ ته چمتو شوی و. د ده په دیوان کې ۷۱ پښتو غزلونه، یو شمېر مناجات، نعتونه، منقبتونه او د شاعر دوه پارسي غزلونه شته دي. شعرونه یې زیاتره عشقي، تصوفي او اخلاقي رنګ لري. د مولوي میا حمدالله فقیرخېل د زوکړې کره نېټه معلومه نه ده، خو نوموړی د ۱۲۹۰هـ.ق کال د پښتونخوا د کوهستان د تانیګر په کمهي‌کوټ نومي کلي کې مړ او د همدې کلي د جومات ترڅنګ ښخ دی.

د کلام بېلګه:

چې رایاد شي راته خپل خوارِه یاران — د فراق اوښې مې څاڅي په ګرېوان
چې یې نه وینم جمال د مهرویانو — رضامند یم که شم ړوند په دوه چشمان
هسې ډېر غمونه راغلل په ما باندې — په تحریر، تقریر یې نه شم کړی بیان
آرزومند یم عمر ټول د دې خبرې — دربغه ولیدی سپین مخ د یار عیان

(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۷۴۹، ۱۷۵۰ مخونه)

د شیخ رحمکار بابا په زامنو کې یو هم شیخ ضیاءالدین دی چې د خوشحال خان خټک لور د هغه مېرمن ده. د نوموړي په اولاده کې **میا عبدالله کاکاخېل** د میا ابرار کاکاخېل زوی ستر دیني عالم او عارف شاعر دی. میا مسرور ګل کاکاخېل د زیارت د شاعرانو په قصیده کې هغه داسې یاد کړی دی:

د ملا میا عبدالله صاحب هر شعر — په دریاب د علم و فضل کې سېلاب دی

میا عبدالله کاکاخېل چې د نسب لړی یې شیخ رحمکار (کاکا صاحب) ته رسېږي، د خپل وخت دودیز دیني علوم لوستي و او ستر دیني عالم، عارف او شاعر و. د زوکړې او مړینې کره نېټې یې نه دي څرګندې. نوموړي د عربي فقهې یو مشهور کتاب «*در مختار*» په پښتو نظم کړی دی. د دې نسخې په پاڼه د دې اثر د لیکلو نېټه داسې ثبت شوې ده: «شروع کتاب در شب سه شنبه رجب ۱۳۰۳هـ». له دې لیکنې ښکاري چې د دې اثر ژباړونکی به همدا مهال د نسبتاً پاخه عمر خاوند او په لیکنه او ژباړه کې

به د صلاحیت خاوند و. د میا عبدالله د دې اثر چې ټول ۱۶۳ پاڼې دي، پر پوښ باندې یې یو غزل لیکل شوی او دا ترې په ډاګه کېږي چې ده پر دې منظومې ژباړې سربېره شعرونه هم ویلي دي.

کتاب داسې پیلیږي:

پس له حمده د خپل خدایه	چې ښکاریږي دی له ورایه
او له صلاته له سلام	په نبي خیر الانام
په اصحابو هم په آل	تل دې وي بې قیل و قال
ابوبکر په عمر هم	په عثمان او په حیدر هم
یوه ورځ مې په زړه یاره	راغله دا واوره هوښیاره
چې یو څو بابه د دین	پښتو کړم په شعر آیین
چې آسان شي پښتنو ته	هم سړو هم ارتینو ته....

د ده له کلامه معلومیږي چې میا صاحب «در مختار» په پښتو ترجمه کړی او له «شامي» او نورو نه یې هم اخیستنې کړې دي. دا کتاب په لنډ اته څېړ بحر کې مثنوي ده.

له حمد او نعت وروسته داسې لیکي:

چې یو څو بابه د دین	پښتو کړم په شعر آئین
چې اسان شي پښتنو ته	هم سړو هم ارتینو ته

غزل یې دا دی:

دا دي سړې لمبې چې مې په زړه کړي بلبدې	یا دي فراقونه راته شو په رسېدل
دا دي سړې سکروټې هډو پوست مې ایرې کړینه	یا دې سره لبان چې مې په زړه کړي ګرځېدل
دا دي تېره غشي زما سترګو کې څرخېږي یا دې تور بانه چې کړي په زړه کې څرخېدل...	

که د میا صاحب د درمختار منظومه ترجمه د یوه نقاد په نظر هسې قافیه بندي هم وي، نو دا پورتنی غزل یې د ښه معیاري شعر په یو دیوان ارزي(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۷۹۵، ۱۷۹۷ مخونه).

بل ځای راغلي چې د «تفسیر حسیني» ژباړه میا عبدالله کاکاخېل (۱۲۵۲- ۱۳۳۵هـ.ق) په دیارلسمه لمریزه پېړۍ کې کړې ده. په دې اړه معلومات وروسته راځي.

ملا نعمت الله چې په ادبي حلقو کې د پښتو په فردوسي شهرت لري، د عطاءالله اخونزاده محمدزي زوی په ۱۲۷۵هـ.ق کال د پېښور نوښار کې زېږېدلی دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۵۲۰ مخ). دی د ۱۹۲۹م

کال د سپټمبر په ۳۰مه وفات شوی او د نوښار په باجوړ هدیره کې ښخ دی(هېوادمل، ۱۳٦٦ل، ۳۴۸ مخ). هغه دیني داستانونه، خیالي او فولکلوري قصص په خاصه شیوه نظم کړي دي. د هغه ټول داستانونه استادانه تمهید لري چې له تمهید وروسته اصلي پېښه شرحه کوي، هنر یې ښکلی او ښایسته دی. تألیفات او ترجمې یې دا دي: موسی خان گلمکی، ظریف خان سواتی، فتح خان کندهاری، لیلی او مجنون، شیرین او فرهاد، سوهني مهینوال، گل او صنوبر، شاهنامه (د فردوسي شاهنامې ترجمه)، د رستم او سهراب جنگنامه، شهزاده بهرام گور، واسع‌نامه نوبهار، طوطي‌نامه، خجسته بانو، چهار درویش، حاتم طایي، آداب زنانه، اکتساب زنان، مکر زنان، ریل نام، نیموبلا و تیموبلا، وجه تسمیه پراچگان، مجموعه کسب‌نامه، شاهنامه، چترال، تذکره غوثیه، در المجالس، حقیقت السلام، اعجاز محمدي، جنگنامه حسنین، گلزار شایقین، جنگنامه شیرعلي، انیس الواعظین، تعبیر خوابنامه کلان، فالنامه کلان، تفسیر سوره رحمان، تفسیر سوره یاسین، سوره ملک، طب بوعلي سینا، شهزاده رعنا و زیبا، هشت بهشت، کلیله و دمنه او قصص الانبیاء.

د هغه قصص زیاتره له نورو ژبو ترجمه شوي دي. د آثارو له مطالعې یې ښکاري چې مولوي په مروجه علومو پوهېده او په پښتو، پارسي، عربي، پنجابي او چترالي ژبو کې وارد او ښه بلد و، له هغو ټولو یې استفاده کولی شوای. نور متفرق غزلیات هم لري او په غزلیاتو کې یې ټولنیز افکار هم تر سترګو کېږي. دا د هغه دی:

خلقه بیا ناسازګري اورم د ګردون — د فلک له لاسه خورم د جګر خون
د هر چا په سینه داغ د بېلتانه دی — فلک ویشتی هی سړی په لړمانه دی
نه ده خوا د فلک هیڅا باندې یخه — چاته مه شه په ستم د فلک مخه
(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۲۰- ۵۲۱ مخونه)

دی پر دغو داستاني آثارو سربېره نور ډېر دیني او طبي او معلوماتي منظوم او منثور آثار هم لري. خو دی په نهایت کې قصه ویونکی شاعر دی.

دغه داستاني آثار زیاتره حتی ټول د مثنوي په شعري قالب کې نظم شوي دي. دغو داستانونو په پښتو کې د مثنوي د شعري ژانر له ودې سره ډېره مرسته کړې ده. په دغو داستان ویونکو کې ځینې د استادی درجه لري، لکه ملا نعمت الله او ملا احمد جان. د دوی مهارت دا دی چې د داستان تر پیل دمخه د داستان لپاره خورا ښکلی ادبي تمهید ږدي او بیا قصه شروع کوي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲٦۱، ۲٦۲

مخونه).

د ملا نعمت الله له شاهنامې څخه د کلام بېلګه:

په دې ځای راوي ویلی مضمون هسې حکایت راته معلوم په قانون هسې
له دنیا نه چې هوشنګ وکړ رحلت طهمورث که خدای بادشاه د ولایت
غریب دوست غریب نوازه دادګر و همېشه عدل انصاف یې په خاطر و

(رښتین، ۱۳۹۱ل - الف، ۵۴۱ مخ)

بله بېلګه یې:

مشک افشان قلم زما لکه طوطي نن په چمن د عاشقۍ کوي مستي نن
په ورو ورو راته د عشق وایي بدلې تماشې ته را اوچتې شوې بلبلې
په افسوس چې کړي اغازه افسانه عندلیب شي ورنه پورته مستانه

(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۷ل، ۹۸ مخ)

د ځینو آثارو تفصیل یې داسې دی:

«الف لیله» د شرقي سیمو لرغوني حکایات دي چې له نورو ژبو پښتو ته په ځلورو برخو کې ژباړل شوي او په ۴۵۰ مخونو کې چاپ دي(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۲ مخ).

«هشت بهشت یعني هفت پیکر بزبان افغاني» په لاهور کې په ۶۴ مخونو کې چاپ دی. په دولس څپېزه مثنوي فولکلوري کیسه ده. په حاشیو کې یې د صوات صاحب منثور سوانح او د ملا نعمت الله یوه اوږده بوللە راغلې او په پای کې یې د حمیدګل، محمد رفیق، نوروز او دادمحمد څو غزلې هم راغلې دي.

«مقدمه عاشق معه نظم رقعات عاشقانه» د ملا نعمت الله ۳۲ مخیز اثر دی چې په ډهلي کې چاپ دی. د معشوق او عاشق کیسه په کې نظم شوې او د دوی ترمنځ پېښه شوې جګړه په کې تشریح شوې ده(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۷۹۷، ۷۵۸ مخونه).

«قصه اکبر بادشاه و بیربل وزیر» د ملا نعمت الله اثر دی چې په ۱۳۱۳هـ.ق کال ډهلي کې په ۱۶ مخونو کې چاپ دی. په نظم او نثر په بیربل پورې تړل شوې ټوکې په کې راغلې دي.

«قصه د پیشو او د مېرې» د ملا نعمت الله اثر دی چې لاهور کې په دولسو مخونو کې چاپ دی. موضوع یې په دولس څپېزه مثنوي کې د پیشو او د مېرې فولکلوري کیسه ده.

«قصه سوهني مهينوال» د ملا نعمت الله د شاه جهان کورگاني له وخت سره تړلې فولکلوري ۱۲ مخيزه کيسه ده چې په دولس څپيزه مثنوي کې نظم شوې ده.
«قصه شهزاده اختر منير و شهزادي ساهرو» د ملا نعمت الله اثر دی چې لاهور کې په ۴۰ مخونو کې چاپ دی. موضوع يې فولکلوري کيسه ده چې په دولس څپيزه مثنوي يې ويلې ده.
«قصه شهزاده رعنا و زيبا» د ملا نعمت الله ۱۰۸ مخيز اثر دی چې لاهور کې چاپ دی. د ختن د جلاوېن شهزاده د مينې او ستونزو کيسه ده چې په دولس څپيزه مثنوي کې نظم شوې ده(رفيع، ۱۳۵٦ل، ٦۸۱، ٦۸٦، ٦۸۸، ٦۹۰، ٦۹٦ مخونه).
«قصه شيرين و فرهاد» د ملا نعمت الله ۲۴ مخيز اثر دی چې لاهور کې چاپ دی. په اته څپيزه مثنوي کې د شيرين او فرهاد مشهوره کيسه په کې نظم شوې ده.
«قصه موسی خان گلمکی» د ملا نعمت الله ۴۰ مخيز اثر دی. د موسی خان او گلمکی ملي فولکلوري کيسه ده چې په دولس څپيزه مثنوي کې په خواږه نظم ويلی شوې ده(رفيع، ۱۳۵٦ل، ۷۰۲، ۷۰٦ مخونه).
«قصه مهتاب جان و بيگم جان يعني مکر زنان» د ملا نعمت الله ۳۲ مخيز اثر دی چې په دولس څپيزه مثنوي په کې فولکلوري کيسه نظم شوې ده.
«قصه نيمبولا، افغاني» د ملا نعمت الله ۲۴ مخيز اثر دی چې په دولس څپيزه مثنوي په کې د نيمبولا فولکلوري کيسه نظم شوې ده(رفيع، ۱۳۵٦ل، ۷۰۲، ۷۰٦، ۷۰۷ مخونه).
«قصص الانبياء معرف بجواهر الانبياء» د ملا نعمت الله نوښاري اثر دی چې په ۱۳۲۸هـ.ق لاهور کې په ۳۲۷ مخونو کې چاپ دی. د يو شمېر نامتو پيغمبرانو کيسې په ۱۲ څپيزه مثنوي په کې راغلې دي چې له آدم عليه السلام څخه پيليږي او په حضرت محمد ﷺ باندې ختميږي او هم په پای کې د څلورو يارانو په باب غږيږي.
«قصه اختر منير افغاني» د ملا نعمت الله اثر دی چې په ۱۳۳۱هـ.ق کال لاهور کې په ۴۰ مخونو کې چاپ دی. په دولس څپيزه مثنوي د اختر منير فولکلوري کيسه په کې نظم شوې ده.
«در مجالس کبير» د ملا نعمت الله اثر دی چې په ۱۳۲۳هـ.ق کال لاهور کې په ۲۴ مخونو کې چاپ دی. د يو شمېر کيسو مجموعه ده چې ديني، انتباهي مطالب لري او په دولس څپيزه مثنوي کې ويله شوې ده(رفيع، ۱۳۵٦ل، ٦۸۰، ٦۸۰، ۳۱۵ مخونه). «در مجالس افغاني» ملا نعمت الله د اخوند کبير (در

مجالس) چې پخوا له ده په لنډه مثنوي ویل شوی، پر دولس څپیزه مثنوي نظم کړی. دې اثر کې چې د بیتونو شمېر یې تر درې زرو اوړي، د الله تعالی پر پیغمبرانو او خاصانو پورې اړوند کیسې راغلي، یوه نسخه یې ۱۲۸۲هـ.ش دیوان چهجو او جیون سنګهـ خپره کړې، ۲۴۰ مخونه لري(رفیع، ۱۳۹۴ل، ۲۸۳ مخ).

«احادیث سید المرسلین معروف به رفیع[1] الواعظین» د ملا نعمت الله اثر دی چې د ډهلي په هندوپریس کې په ۴۰ مخونو کې چاپ دی: موضوع یې دا ده:

درته کښم هغه خبرې　　چې ترې زار شه مرغلرې
له توریته را ایستلې　　په پوښتو مې درته کښلې
له موسی سره بیان　　چې وه کړی پاک سبحان
له هغو نه منتخب دی　　نصیحت په کې عجب دی
په کې وعظ و نصیحت دی　　نصیحت چې ښېش قېمت دی

«باغ و بهار افغاني المعروف به چهار دروېش» د ملا نعمت الله اثر دی چې په ۱۳۲۶ق/ ۱۹۰۸م کال لاهور کې په ۱۳۶ مخونو کې چاپ دی. موضوع یې د څلورو فقیرانو د ژوند انتباه اخیستونکې فولکلوري کیسه ده چې په دولس څپیزه مثنوي په خورې پښتو لیکل شوې ده(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۳۱۵، ۳۴۴ مخونه).

ملا نعمت الله خپل کابو ټول آثار دیني او فولکلوریکو کیسو بیانولو ته ځانګړي کړي او هغه یې د مثنوي په چوکاټ کې قلمبند کړي دي.

ملا ولي محمد د سوات د خوا یو پښتون ملا و چې د سوات د مشهور روحاني مرشد میان عبدالغفور صاحب صافي شاګرد او خادم و. ولي محمد تر ۱۲۳۰هـ.ق وروسته زېږېدلی او تر ۱۲۹۵ هـ.ق کاله لا ژوندی و. ده یو کتاب د مثنوي په ډول په دوه زره بیته د خپل مرشد پر سوانحو او د ژوند پر احوال لیکلی او منظوم کړی دی. شعر یې ښه دی او داسې ښکاریږي چې په عربي علومو او فقه کې ښه عالم و. لاندې له دغه کتابه د یوې غزا حال چې د ولي محمد په عصر کې واقعه شوې ده، بیانیږي:

د غازیانو صفت

په وسلو سره وو پر په ښه دستور　　الول باندې ها خورې زلفې د حور

[1] په «فرهنګ ادبیاتو پښتو، ۲ ټوک» کې «رفیق» کلمه راغلې ده.

تېرې توري يې په ملا کې الوښزاندې　　چقماقي توپک يې پاس په اوږو باندې
کمربند سره وې ملا د دوی تړلې　　او سرې سترګې يې په وينو وې لړلې
په دب دب سره راغلي وو دوی مست　　د دښمن به پرتوګاښ شو ورته سست

(رښتين، ۱۳۹۱ل - الف، ۴۴۶ مخ)

استاد رشاد ليکي چې د ولي محمد کتاب «*جديد البيان*» نومېږي چې په ۱۲۹۸هـ.ق کال په ډهلي کې چاپ شوی دی. يوه خطي نسخه يې د پېښور د پښتو اکاډيمۍ په کتابتون کې خوندي دي. ښاغلي زلمي هېوادمل دا هم زياته کړې ده چې دغه ولي محمد د سوات نه، بلکې د چچ اوسېدونکی و(رشاد، ۱۳۹۱ل- الف، ۳۵۰ مخ).

سيد کمال د کوز کونړ اوسېدونکی دی، د کوز کونړ په کوزنۍ خوا کې لوی کلی دی چې شګه يې بولي. د شګې برې خواته د مياګانو کلي دي. سيد کمال د شګې د دغو کلو دی او د همدغو مياګانو د تېر ځنې دی. سيد کمال شپېته اويا کاله مخکې (دا معلومات په ۱۳۲۱هـ.ش کې ليکل شوي، نو د شاعر ژوند د ديارلسمې پېړۍ وروستۍ نيمايي کې دی) ژوند کاوه. خلک سيد کمال ته په سپه نظر او د بزرګۍ په سترګه ګوري.

سيد کمال يو عالم، متدين او له دنيا بېزاره سړی و، دی له اوله څخه پر يوه نجلۍ عاشق و چې ببوجانه نومېده. استاد رښتين وايي چې د ده يوه دوست ده ته د سيد کمال ديوان ورکړ، مګر په دې کتاب کې له هغو غزلو څخه يو هم نه وو چې د خلکو په خولو جاري وو. دا کتاب د رحمان بابا د ديوان په اندازه دی او د همدغه لوی شاعر د سبک تعقيب په کې شوی دی. د دې کتاب نوم «*گلشن عشاق*» دی، مګر د دې کتاب شعر د سيد کمال تر مقام ډېر ټيټ معلوميږي او د ده د ملي له سر والا غزلو سره هيڅ ډډه نه لګوي. د سيد کمال خوله به د ببوجانې له نامه څخه په بل شي نه خوځيږي، مګر په دې کتاب کې د ببوجانې هيڅ ذکر نشته. يو غزل يې دا دی:

لکه طوطي به ګرځېدم په هر چمن باندې ځان مې مورِ نه که د ګلونو په ديدن باندې
لکه طوطي به ګرځېدم....

لکه طوطي فرياد کوم په هر چمن ژاړم　　زه خدای ته سوال کوم ستا خال د زنخدان غواړم
نامردې زه دا ستا د وصل په ارمان لاړم　　ما ببوجانه ژړوي په هر سخن باندې
لکه طوطي به ګرځېدم....

(رښتين، ۱۳۹۱ل -الف، ۵۳۰، ۵۳۲ مخونه)

د سيد کمال د ديوان خطي نسخه د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون کې شته، خو د ده کليات اکاډميسين سيد محی الدين هاشمي ترتيب کړی، خو لا چاپ نه دی.

استاد سيد محی الدين هاشمي په خپل يوه يادښت وايي، سيد کمال د امير عبدالرحمن د واکمنۍ په مهال ژوندی و. د هغه په يوه نظامي مرکز کې يې د کاتب په توګه دنده ترسره کړې ده. کله چې امير له ببوجانې سره د هغه له مينې خبر شوی، عسکر يې ورکړی چې ولاړ شي او ببوجان په زور ده ته په نکاح کړي، تر يو ځايه تللي، بېرته پښېمانه شوی، له امير سره په نظامي قرارګاه کې يې دنده پريښې او د لالپورې اکبر خان سره دېره شوی دی.

عبدالزاهد په قوم اندړ د زرملې د خواجه‌خېلو په کلي کې زېږېدلی دی. دی ملا او طالب العلم سړی و، عمر يې په تحصيل کې تېر شوی دی. ژوند يې د ۱۲۸۵هـ.ق په حدودو کې تخمينيږي. دی يو پر درد او د عشق په اور سوی شاعر دی، په ځوانۍ کې ورسره عشق ملګری شو او د غزني د مربوطاتو د نوغي کلي د اکرم‌خان دېګان پر لور چې بي‌بي هوا نومېده، مين شو. ده له سوزه ډک اشعار او چاربيټې ويلي او له خلکو جلا به يې خپل عمر د محبت په عالم کې تېراوه. په شعر کې زاهد تخلص راوړي او په ملا زاهد مشهور دی. د خپل محيط په خلکو کې د لوی شهرت خاوند دی، خلک ورته د بزرګۍ عقيده لري. وايي چې عبدالزاهد يو قلمي *ديوان* هم لري، مګر تراوسه شوی نه دی. دی د ۱۳۲۰هـ.ق په خواوشا کې مړ شوی او د غزني په علاقه کې د خپلې معشوقې د کلي خواته چې ژوند به يې هم هلته تېراوه، ښخ دی. لاندې يې د شعر نمونه ده:

نن شپه مې بيا په خوب ليدلی د دلبر بشر، لولاک په سر، د نمر په شان ځليږي
د ده له رويه خدای پيدا کړله دنيا، سما مخ يې رڼا، برېښنا در يې دندانه
دی په باطن کې اولين دی تر هر چا پيدا، نه و بابا، حوا بې له سبحانه....

(رښتين، ۱۳۹۱ل -الف، ۵۵۳، ۵۵۴ مخونه)

ملا عبدالزاهد د غزني ولسي مشهور شاعر و. ده د پښتو په ملي اوزانو او کلاسيک طرز شعرونه ويلي دي. دا د هغه دی:

که به راوړې دواړه لب شکر ترين شيرين زنه ګبين د سين په شان ځليږي

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۰۸ مخ)

جانان هوتک چې د خپلې مورنۍ ژبې پښتو لوی او تکړه شاعر تېر شوی دی، په پارسي نظم کې يې هم لاس درلود او ډېر څه ځنې پاتې دي. د ده اصلي نوم جانان يا محمد جانان و. پلار يې ملا يارمحمد اخوندزاده نومېده، په خټه ملاخېل، غازي‌خېل، عمرزی هوتک دی. پلار او نيکه يې عالمان تېر شوي او دی په خپله هم يو لوی عالم او منلی عارف و، ځکه يې نو کورنۍ په اخوندزاده‌خېلو اوځاره ده. د جانان کورنۍ لومړی د سره‌غره په لمن کې مېشته وه چې د شاه‌جوی ختيځ لور ته د کندهار د کلات شمال شرقي خواته واقع دی. جانان چې له تحصيله فارغ شو، له سره‌غره ولېږدېد او په (مرغه) کې مېشت شو(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ٦۲۴ مخ).

مولوي محمد جانان اخوندزاده فدوي د پښتو او پارسي ژبې کثير الکلام ديوان لرونکی شاعر دی. فدوي د خپلې استوګنې مېنه «مرغه» او په مرغه کې بيا «زهره» يادوي، وايي:

هوتک زما نسب وطن دی په سره غره کې مې مسکن دی

په سره غره کې بيا مرغه دی په مرغه کې بيا زهره دی(سعيد، ۱۴۰۲ل، د مخونو شمېر نه لري)

جانان د علم تر تحصيل وروسته د نفس تزکيې ته توجه وکړه او د تصوف په سيند کې غوټه شو. ده د سير او سلوک په برخه کې د حاجي ملا دوست محمد کندهاري نقشبندي (۱۲۱٦- ۱۲۸۴ق مړ) لاسنيوی کړی و.

ملا جانان له خپل پير حاجي دوست محمد کندهاري څخه د ارشاد او خلافت اذن تر ۱۲۷۱هـ.ق کال پخوا موندلی دی، ځکه په هغه خط کې چې ده په ۱۲۷۱هـ.ق کال خپل پير احمد سعيد ته کښلی، په هغه کې يې ملا جانان د خپل خليفه په توګه معرفي کړی او د ده په باب يې کښلي دي: «مولوي محمد جانان اخوندزاده سلم الله تعالی که از ساکنان مرغه است ولد قاضي ملا يارمحمد اخوندزاده که از خانواده کلان است، جامع علوم متداوله و در علم تصوف بی نظير است....». د ملا جانان د زوکړې کال تخميناً ۱۲۲۵هـ.ق کال په شاوخوا کې ټاکل کېږي. د د مړينې نېټه يې هم نه ده څرګنده، خو له يوه پارسي بيته يې معلوميږي چې تر ۱۳۰۷هـ.ق کال پورې ژوندی و. په يوه خط کې ان د نومورې ژوند تر ۱۳۰۹هـ.ق کاله پورې يقيني کوي. قبر يې د مرغې د زړې کلا په هديره کې دی.

د جانان په اثارو کې صرف د ده د پښتو او پارسي نظمونو يوه مجموعه شته چې پر څلورو ټوکو وېشل شوې ده. له لومړي ټوک پرته د نورو دريې واړو ټوکو ټول مخونه ۱۰۲۷ کېږي. جانان د دغې مجموعې هر ټوک د يوه دفتر په نامه بللی دی. د اشعارو په درېيم او څلورم دفتر کې يې پښتو او پارسي نظمونه

ګډوډ کښل شوي او دوهم دفتر يې يواځې د پښتو اشعارو لپاره خاص کړی شوی دی. د جانان د اشعارو مجموعه چې د کليات په نوم يې يادوو، د نظم زياتره شکلي او معنوي اقسام لري.

ملا جانان *الفنامه* هم لري چې په خفيف بحر کې يې ويلې ده(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ٦٢٥، ٦٢٧، ٦٢٨، ٦٢٩ مخونه).

استاد هېوادمل بيا کاږي چې له نوموړي د پښتو او پارسي *څلور ديوانه* پاتې دي، د شعر ويلو ترڅنګ دی عالم او متصوف سړی هم و، علميت او عرفاني مشرب يې پر شعر اغېزې کړې دي. اشعار يې ځينې بديعي شکلاوې لري، يو شکلی بيت يې دا دی:

فقط ستا د تېغ د لبو تبسم يې خونبها ده که پراته دي ستا په در کې د شاهی لايق سرونه

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۵۱ مخ)

د جانان تخلص په پښتو اشعارو کې عموماً (فدوي) او په پارسي نظمونو کې (خامي) دی. کله کله يې په پښتو اشعارو کې هم (خامي) تخلص ليدل شوی دی. د ده په کلام کې ملايمت او سلاست زيات دی. تر ډېره حده يې له وضوح او صراحته کار اخيستی دی. تعقيدات يې په کلام کې نشته. د تصوف رنګ يې پر وينا غالب دی او د سير و سلوک اصطلاحات په کې ډېر دي.

د جانان د پښتو کلام څو نمونې دا دي:

سپلنی شو ستا د حسن د عاشق د زړه دانه

د سپوږمۍ پر مخ لوګی دی ستا د عشق زبانه

ګاهي داغ ګاهي مرهم ږدي پر سينه د عاشقانو

کله کله دلبري کړي کله ناز دا نازدانه

په هر دم باندې قيامت وي ستا د عشق له تاخت و تازه

نه خبرېږي له محشره ستا د ميو مستانه

د عاشق د اوښکو عکس پر ګرېوان ستا معلوميږي

که دا هار دی د پېرونو پر آسمان دانه دانه

که دا نه دی ستا غمو د فدوي خاطر لوټلی

ولې ناست دی په عالم کې له عالمه بېګانه(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ٦٣٠، ٦٣١ مخونه)

«د سره غره ګلونه» په نامه مجموعې څخه يې د کلام نمونه:

څو د تن خونه رنګينه په غم نه کړم　　رونې اوښکې پر باڼو باندې تم نه کړم
پر خشکه وجود مې بوی د عرق نه وي　　څو د زړه خوناب په هر رګ کې نم نه کړم
نه سميږي موزون حرف د عاشقيه　　څو د زړه له وينو تر خپل قلم نه کړم
په خوب نه وينم وصلت د ګلرخانو　　څو رنګين له هره خاره قدم نه کړم
پر هغه عهد و پيمان مې زيات ثبات دی　　«فدوي» مات به په اسانه قسم نه کړم

(هوتک، ۱۳۸۴ل، ۷۳ مخ)

د جانان فدوي ديوان د محمد معصوم هوتک په سريزې او مقابلې په ۱۴۰۱هـ.ش کال چاپ دی.

محمد هغه شاعر دی چې په بخارا کې يې ژوند کړی دی. د ۱۲۲۰هـ.ق کال په شاوخوا کې زېږېدلی او د ديارلسمې هجري پېړۍ په دوهمه نيمايي کې په بخارا کې و. ده په ۱۲٦۱هـ.ق کال د «*خزينة القراء*» په نامه کتاب په ۴۹ بابونو کې نظم کړی او د قرآن عظيم د تجويد قواعد يې په کې ښوولي دي. په ۱۲٦۲هـ.ق کال يې د «*فرض عين*» په نامه کتاب هم په بخارا کې نظم کړی دی. دا کتاب شل بابونه لري. د محمد بخارايي دا دواړه پښتو کتابونه په ادبي تاريخ کې د مطالعې ځای نه لري خو د ده کوم آثار چې ده ته په ادبي تاريخ کې ځای ورکوي، هغه د ده ځينې ادبي ترجمې او څو پښتو غزلې دي. ده د مولانا جلال الدين بلخي د مثنوي معنوي ځينې حکايات په پښتو مثنوي ترجمه کړي او پر دې سربېره ده ځينې پښتو غزلې هم ويلې دي چې جوړښت او بافت يې د عبدالرحمن بابا له سبک سره نزديکتونه لري. دوه بيته يې دا دي:

چې سوخته ژوند يې د هجر په سخت اور وي　　تر دا هسې ژوند مړ ښه دی چې په ګور وي
بې دلبره که څوک ناست وي په ګلزار کې　　دا ګلزار ورته د مار د لړم کور وي

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۹۴ مخ)

محمد چې يو فاضل او عارف پښتون تېر شوی، د خپل وخت پر اکثرو متداولو علومو يې احتوا درلوده. له پښتو سره د مينې او زړه‌سوي په حکم يې ډېر پښتو کتابونه ليکلي دي، «خزينة القراء» محمد په بخارا کې ليکلی او اصلي موضوع يې تجويد دی او نور متفرقات، لکه عشقي غزلې، د غوث الاعظم، امام اعظم، مولانا جلال الدين بلخي، خپل پير (صوفي صاحب) او د بخارا د پاچا (امير) ستاينې هم لري. د افادې ژبه يې پسته او اسانه ده. دا کتاب ۱۲۹ مخه او ۴۹ بابونه لري. د «فرض العين» موضوع احکام الفرايض دي.

د دې فاضل پښتانه د وفات نېټه او ځای نه دی څرګند، مګر د زوکړې نېټه یې د مؤلفاتو د تاریخ له مخې په تخميني صورت د ۱۲۲۰هـ.ق کال شاوخوا ټاکل کېږي. د اصلي ټاټوبي په باب یې په آثارو کې صریح ذکر نشته، مګر له اشعارو یې ښکاري چې دی د کسي‌غره د شاوخوا و او یا هلته ډېر اوسېدلی دی(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۷۴۹ مخ).

د «خزینةالقراء» دوې خطي نسخې د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کتابتون کې خوندي دي او د «فرض عین» یوه خطي نسخه د پوهاند رشاد په کتابتون کې خوندي ده(رشاد، ۱۳۵۹ل، دري دېرش مخ).

د « فرهنگ زبان و ادبیات پښتو» اثر لیکوال «طریقه محمد» هم د ده اثر بللی دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۲۶ مخ).

د «خزینةالقراء» په پنځم باب کې د غاښونو په باب وایي:

اوس د غاښو نامه زده کړه	هر یو ګوښی په نامه کړه
و مخرج ته دا په کار دی	و هر حرف ته خپل غاښ یار دی
ثنایا دي غاښ د وړاندې	دوه د پاسه دوه د لاندې
پښتانه یې «دوه‌کی» وایي	دا څلور په دا نام ښایي
بل یو یو له هر طرفه	رباعي بولي مولفه
پښتانه ورته اې وروره	«چارسالي» وایي وګوره
یو د ښی، یو د کېن لاس دی	دوه راکوزه شوه او دوه پاس دي
ناب پسې څلور دندان دي	«نیښ» یې بولي چې افغان دی

د غاښونو د پښتو نومونو راوړل د دغې رسالې نوښت دی(رشاد، ۱۳۵۹ل، یو دېرش مخ).

د کلام نمونه یې: د فرض عین حاشیه: و ان الله اشتری من المؤمنین انفسهم و الموالهم بان له الجنة. [د دې آیت په لیکلو کې املایي غلطي شته، اصلي آیت داسې دی: ﴿إِنَّ اللّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الجَنَّةَ﴾(التوبة: ۱۰۰ آیت).

د رحمت کاروان راغلی دی سودا کا	له مومن سره خالق بیع و شرا کا
سرومال درځخه غواړي که یې پلورې	د پسې عوض به در جنت مأوا کا
ناقصانو جنت واخیست په عوض کې	عاشقان یې له جنته استغنا کا
په عوض د خپل قېمت کې دیدار غواړم	که هزار ځله جنت راته عطا کا

(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۷۵۱ مخ)

فیض الله قریشي د هزاره ضلعې د لغمانو تربېله کلي کې اوسېده. د دیني علومو فاضل و، په عربي ادب کې یې ښه مهارت درلود او په پارسي او پښتو یې شعرونه هم ویل. د کوټهې د حضرت سید امیر صاحب مرید و او ډېره موده یې ورسره تېره کړې ده. فیض الله درې کتابونه تألیف کړي دي:

۱- په عربي او پارسي ژبه رساله ده چې د «*اقامة الجمعة* و *فرضیة الجمعة*» په نوم سره یې لیکلې ده. د دیباچې شروع یې داسې ده: «الحمدلله الذي یسبح له الرمال، ویسجد له الطلال، ویتدکدک من هیبة الجبال، خالق الانسان من طین اللازب والصلصال.... یا آیها الذین آمنو اذا نودي للصلوة من یوم الجمعة...».

د دې رسالې د لیکلو طرز د علمي تحقیق برابر دی او له پورته اقتباس نه یې په عربي ژبه او ادب کې د مهارت او علم د فضل اندازه لګېدلی شي.

۲- د حضرت صاحب مناقب چې په پارسي یې لیکلی دی. د پارسي ژبې انشاء او نظم یې دواړه کمزوري دي.

۳- په پښتو ژبه منظوم مناقب. په دې کې په تاریخي لحاظ سره ډېر معلومات راټول شوي دي. دا منظوم مناقب په ۱۲۶۹هـ.ق کې لیکل شوي او نوم یې «*ګنج سعادت*» دی.

د کلام نمونه:

یوه ورځې زه په خپله زما جانه	کَیَاله وم راغلی ناګهانه
نور صبا تري نه لاړم کوټې له	نن زمان د دین یوې ټوټې له
نور نمونځ د امامت هلته ما که	حضرت صاحب زما په شا که
چې زه فارغ شوم له نمازه	د خپل خالق له خوږه رازه
حضرت صاحب مې ناګهان	دا خبره و ښکه له دهان
د یتیمانو مال دی تا خوړلی	دا اور دې له دې خوراک سره ټرلی
په هغه شپه ما دی یتیم لا له	وې خوړلې غوښې بې ورغاله
نور بدل د هغو غوښو مې پوره که	په دې خوراک مې ځان کمتر شماره که
هر څوک چې د نفس اوري په رښتیا	هغه خوار و زار شي په عقبا په دنیا
خدایه نفس د فیض الله ته برقرار کړې	په آخرت یې ته لایق د خپل دیدار کړې

(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۲۴، ۲۲۵، ۲۲۷، ۲۲۸ مخونه)

فیض الله قریشي د دیارلسمې پېړۍ د وروستۍ نیمایي لیکوال او شاعر معلومیږي. له آثارو یې ښکاري چې په عربي ژبې پوره برلاسی و او هم یې وینا او کلام کې دیني رنګ غالب دی.

صفي الله په قبیله خټک او د پېښور د مصري باندې اوسېدونکی و. صاحبزاده عبدالحی د «مخزن الاسرار» په دیباچه کې لیکلي چې ملا صفي الله صاحب په «باندې ملا» مشهور و. په خپله زمانه کې لوی عالم، منشي، ادیب او تاریخ‌دان تېر شوی دی. د علم دین له تحصیل نه چې فارغ شو، نو تصوف ته یې رجوع وکړه او حضرت‌جي صاحب څخه په کوټه کې یې بیعت د نقشبندیه طریقې وکړ او ځان یې په دې باب کې هم کمال ته ورساوه، لکه چې د هغه د تصوف اندازه د هغه له تألیف «*مخزن الاسرار*» نه کېدلی شي. یو بل کتاب یې په ۱۲۷۹هـ.ق کال په پارسي هم تصنیف کړی چې نوم یې «*نظم الدرر في سلک السیر*» دی او په ۱۳۰۵هـ.ق کال چاپ شوی دی. د صفي الله بل منظوم کتاب هم شته چې په ۱۲۶۱هـ.ق کال کې د پښتو په کوچني بحر کې په مثنوي یې لیکلی او یوه نیمګړې نسخه یې د صاحبزاده عبدالحمید د ټوپۍ په قلمي کتابخانه کې موجوده ده. له یوه بیانه یې معلومیږي چې د دغه کتاب نوم «**بدر منیر**» دی.

د صفي الله د کتابونو له مطالعې معلومیږي چې د دیني علمونو او د تصوف له رموزو او اسرارو نه ښه پوه و او د شعر او ادب په لړ کې یې موزون طبیعت درلود. «مخزن الاسرار» یې په پښتو نثر لیکلی، لیکن د لیکلو اسلوب یې د اخوند دروېزه بابا د مخزن الاسلام په څېر دی(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۳۳، ۲۳۴، ۲۳۵ مخونه).

صفي الله خټک چې متصوف عالم و او د دیارلسمې هجري پېړۍ په وروستیو کې د افغانستان موزون شاعر او مؤرخ و، په پښتو، پارسي او عربي ژبو یې لیکل کول. د هغه بل معلوم اثر د حضرت‌جي مناقب (پښتو منظوم) دی(هېوادمل، ۱۳۵۶هـ.ش، ۲۷۸ مخ).

د کلام نمونه یې: په الفنامه کې وایي:

الف الله مې بلا ریبَ یګانه دی	هم دوبین یې بلا دریغَ بېګانه دی
د وحدت په سمه لاره چې روان شه	عقلمند دی هغه کس هم فرزانه دی
چې اغیار وته نظر کا رب ته نه کا	دې بېشکه عاقل نه دی دېوانه دی
د وحدت په بال چې والوته له ورایه	رسېدلی د مقصود تر آشیانه دی....

په «مدح الابرار» نومي کتاب کې د صفي الله څو نظمونه راغلي دي. یو مربع نظم دی چې ۱۲ بیتونه لري. یو بند یې دا دی:

ای صاحب عالي نظره ومې مه باسې له فهمه
تر همه عالم یې غوره ومې مه باسې له فهمه
چې کوټه دِ تا وطن دی
بل مدین دِ تا مسکن دی
باج کټه هم ستا گلشن دی
ومې مه باسې فهمه
د وحدت د باغ بلبل یې
ثناخوان یې په هر گل یې
په گلابو په سنبل یې
ومې مه باسې فهمه...(افغان، ۱۹۶۳م، ۲۳۷، ۲۳۸ مخونه)

صفی الله د «بدر منیر» په پای کې د خپل پیر طریقت حضرت‌جي صاحب د کوټې په باب وایي:

چې یې نوم صفي الله دی امېدوار دی له درگاه دی
شکر فضل د منان شه چې په ما باندې احسان شه
مُلاقي یې له طالع کړم د دې هسې پیر تابع کړم
ډېر مې شوی وو مدت چې زه ومه په دې نیت
چې له چا سره بیعت وکړم زه د طریقت
چې له چا به زه واصل شوم په مکان به یې داخل شوم
په احوال به یې ناظر شوم چې به ده وته حاضر شوم
که اقوال که یې افعال وو یا چې نور د ده خصال وو
خو اکثر به له قرآنه مخالف وو زما جانه
له سنت د حضرت مخالف به یې وو خصلت
(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۴۰- ۲۴۱ مخونه)

صفي الله د یوه دیني پوه په توګه په خپلې پښتو ژبې په نثر او نظم دواړو کې دیني ارشادات او تصوفي

مسایل بیان کړي دي، خو ښکاري چې د خپل پیر حضرت‌جي صاحب په دفاع او ستاینه کې یې ډېر نظمونه کښلي دي.

محمد علي غریب د سید علي زوی په اصل د پښور د سپینې‌وړی اوسېدونکی و او د دارښګو د عالمانو له خاندان څخه و. د عربي علومو ښه تکړه او کوټلی عالم و. په یو عربي کتاب (درهم الکیس) باندې یې حاشیه لیکلې ده. د هغې په اخره کې لیکي: «د خدای د نعمتونو د اظهار په طور سره وایم چې د احسان کوونکي رب فضلونه چې په ما شوي له حد او حساب څخه زیات دي، لیکن دوه نعمتونه یې په خصوصیت سره داسې دي چې ذکر یې لازم دی: یو دا چې د هر یو علم نه یې خبردار کړی یم، خصوصاً له ديني فنونو او علمونو څخه، سره د ادبي مقدماتو، لکه صرف، نحو، معاني، بیان، بدیع، لغة شول او هم له مقصدي علمونو څخه یې اګاهي راکړې ده، لکه چې تفسیر، حدیث شول او دغه شان د تشریحي علمونو ځنې لکه: تصوف او علم الکلام شول او ورسره د ټولو اصولي او فروعي علمونو ځني اګاهي یې راکړې ده. دویم دا چې توفیق یې راکړی چې په مختلفو علمونو کې په ګنو کتابونو مې حاشیې ولیکلې چې نومونه یې دا دي:

۱) حاشیه د کتاب مولوي شرح حسامي.

۲) حاشیه د تلخیص المفتاح (ناتمام).

۳) حاشیه د شرح وقایه (په علم فقه کې د دې حاشیې ذخیرة العقبی نوم دی چې د دویم جلد مکمله او د اول جلد ناتمامه ده).

٤) حاشیه د «درهم الکیس».

۵) نبذ المقال في من هو المُضل والضال (عربي).

٦) القول المنقول في فن الاصول (عربي).

۷) رساله في اثبات صلوة الجمعة في هذه الناحیة المسماة بالقول المعین.

۸) رساله «اقامة الجمعة في من انکر».

۹) رسالة «الولي والولایة».

۱۰) رسالة «حب الله ورسوله».

علاوه له دغې نه مختلفې عربي، پارسي او پښتو قصیدې او غزلیات مې چې اکثر یې د سلوک او معرفت په بیان کې ویلې دي». محمد د دغه پورته بیان په آخر کې لیکي چې له ټولو عالمانو او عارفانو

سره عقيدت لري، خصوصاً د نقشبنديه طريقې له بزرګانو سره يې خصوصي عقيدت دی او د هغې وجه دا وه چې دی په نقشبنيده طريقه کې د حضرت‌جي صاحب سيد امير د کوټې مريد و. په ۱۳۰۰ او ۱۳۰۸هـ.ق کې يې د حضرت خواجه بهاؤ الدين نقشبنديه په منقبت کې پارسي قصيدې ليکلې دي. د ده يو پښتو نظم په «مدح الابرار» کې او درې پارسي نظمونه په مناقب د حضرت جي کې راغلي دي. د کلام نمونه يې:

طوطا په ناز ساتلی ښه نازبين د ناز پرور دی — خوشنود يې له کلام ځنې جن ملک بشر دی
بلبل په ښاخ د ګل باندې هر وخت ثنا صفت کا — همدم اوسي له ګلَ ښه منظور د يار په در دی
شاه باز لري پرواز عجب په سيل کې د بازانو — پنجه لري سکيخه ځکه په خلقو مهيب تر دی
شهسوار کاندي سورلی همېش په شا د ابلقانو — اسبق په سابقانو کې رهبر په سم و غر دی
سلطان لري په سر باندې لوی تاج د معرفت — خوبان د هر زمان همه په ده پسې لښکر دی
خورشيد دی د عالم جهان همه په ده روښان دی — محرم هم په خلوت کې د اسرارو سراسر دی
حضرت ته د کوټې لري محمد علي يو عرض — ما کلک نيسه له لاسه په نري پل مې ګذر دی

(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۶۸- ۲۶۹، ۲۷۰ مخونه)

قاضي خيرالله پشاوري د «خير اللغات» په مقدمه کې ليکي چې محمد علي د *قرآن عظيم تفسير* په پښتو ژبه کړی و(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۴۹ مخ). له دې ټولو پورتنيو آثارو معلوميږي چې محمد علي ديني عالم او د پښتو ليکوال و.

د قاضي پشاوري خبره لا ماته دقيقه نه ده چې په رښتيا همدا محمد علي پورتنی محمد علي غريب دی که بل څوک؟

محمد رسول په ديارلسمه هجري پېړۍ کې د افغانستان له عالمانو، پوهانو او اديبانو څخه و چې په جغتو کې اوسېده. په پښتو او پارسي ژبو يې ليکل کول، په ۱۲۷۸هـ.ق کال يې يو کتاب چې څلور برخې لري، تأليف کړی دی. لومړۍ برخه يې د مجموعې شکل او د شعر ديوان دی، دوهمه برخه يې «*کنز القراء*» تجويد دی، دريېمه برخه يې سوال او ځواب او څلورمه برخه يې د تاريخ له مسايلو بحث کوي چې په پارسي ژبه ليکل شوی دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۴۱ مخ.). «کنز القراء» منظومه ترجمه ده، په دې باب د ده خپل الفاظ دا دي:

کنز قراء مې په پښتو کړ — دا پښتون مې باندې پو کړ

* * *

ما چې دا کتاب پښتو کړ　　په تاریخ کې مې د څو کړ
یو زر دوه سوه اووه کاله　　اته باندې اویا شماره
دا کلونه د هجرت ؤ　　د هجرت د پاک حضرت ؤ
که د چا مې نوم په کار دی　　«محمد رسول» په ګناه بار دی
(رشاد، ۱۳۵۹ل، نهه دېرش، څلوېښت مخونه)

د افغانستان ملي آرشیف کې د محمد رسول منظم تجوید خوندي دی، پیل او پای یې:

اول حمد د پاک الله دی　　چې خالق د کل اشیا دی

* * *

په قیامت چې شرمنده　　نه شي خوار عاجز بنده(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۲۰- ۲۱ مخونه)

د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کتابتون کې د ناظم محمد رسول «خزانة القراء» په نوم اثر خوندي دي، د نظمولو او د لیکلو کال یې ۱۲۶۱هـ.ق دی، د پاڼو شمېر ۶۷ او د کتابتون شمېره یې ۱۷۳ ده. د کتاب مرکزي موضوع د قرآن عظیم الشان د قرائت تجوید دی، ټول څلوېښت بابه لري، لومړی باب د (خزانة القرا) د تألیف په اړه معلومات او ورپسې د تجوید د علم موضوعات وړاندې کېږي، موضوعات یې په مثنوي فورم کې نظم شوي، په پای کې یې څه غزلونه هم شته. پیل یې تر (بسم الله) وروسته:

زَ الحمد لله وایم　　خپل خالق پٹنا ستایم
کل اشیا چه څه پیدا دي　　و خپل رب ته په ثنا دي(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱۸، ۱۹ مخونه)

میا شېرمحمد هوتک (د ذاکر شریف) د حضرت میا عبدالحمید هوتک درېیم زوی و چې د ژوند زمانه یې د سدوزیو پاچاهانو (تېمورشاه او زمانشاه) وختونه وو. دی د ذاکر شریف د صاحبزاده‌ګانو «سرحلقه» بلل کېده او خورا ډېر مریدان او مخلصان یې درلودل. ویل کېږي چې میا شېرمحمد په تصوف کې د «*زاد السالکین*» په نوم کتاب په ۱۲۷۱هـ.ق کال کښلی و(هوتک، ۱۳۸۴ل، ۹۹ مخ).

له دې معلومېږي چې میا شېرمحمد د دیارلسمې پېړۍ سړی و، خو دا نه څرګندېږي چې اثر یې نثر و که نظم. دغه‌راز ښکاري چې پورتنی میا شېرمحمد هوتک به هغه د ګڼو آثارو خاوند شېرمحمد هوتک (۱۰۹۲- ۱۱۷۵هـ.ق) نه وي چې د احمدشاه بابا د واکمنۍ په مهال وفات شوی دی او پوره تفصیل یې مخکې تېر شوی دی.

حبيب الرحمن د ديارلسمې هجري پېړۍ په وروستيو کې د پښتونستان په شاوخوا کې اوسېده، د سوات اخوند صاحب (۱۲۹۵هـ.ق) «*وفاتنامه*» يې مور ته رسېدلې ده. د ده له اشعارو:

د صاحب ملکونه واړه وران ويجاړ شول ستا پرې خونه ورانه شه حبيب الرحمانه

د انګلستان د کتابتونونو د پښتو مخطوطاتو په فهرست کې د «*وفاتنامه*» په نوم مذهبي اثر د فقير تأليف معرفي شوی دی. د مخزن الاسلام په څو خطي نسخو او په څينو خطي جونګونو کې هم دغه وفاتنامه د فقير په نوم ثبت ده. مستقلې خطي نسخې يې ډېرې دي. دلته شک پيدا کېږي چې ايا دغه مذهبي منظومه واقعاً د فقير په نوم د يوه شاعر ده او که د کوم بل شاعر ده چې تخلص يې فقير دی، ځکه د پښتو اکثرو مذهبي شاعرانو د خپل نوم په عوض کې فقير تخلص ځان ته کارولی دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۲۸، ۳۷۵ مخونه).

حيدرجان د پښتو ديني عالم او ناظم و چې د ديارلسمې هجري پېړۍ په اواخرو کې يې ژوند کاوه. د «*درة البيضا*» په نوم د ديني مسايلو او مذهبي قصصو کتاب يې نظم کړی دی. دا د ده دی:

په تصنيف د حيدر جان چې پرې شولو مهربان(هېوادمل، ۱۳۵٦هـ.ش، ۱۴۴ مخ)

خانزمان بن حبيب خان د سرکانو قبيلې ته منسوب دی او په شعر کې «فقير» تخلص کوي، د چچ هزاره په بهبوتي کې اوسېده. ده «*خلاصه کيداني*» په ۱۲۷٦هـ.ق منظومه ترجمه کړې ده. دا د ده دی:

اوس صابر په خپل نصيب شه ای فقيره بيهوده خبرې پرې کړه په مقراض

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۴۸ مخ)

سيد امين د ديارلسمې هجري پېړۍ ديني ناظم و، «*منقبت غوث الاعظم*» يې د محمد خان په پيروۍ نظم کړی، د هغه خطي منظومې شته دي. دا د ده دی:

سيد امين دې خدمتګار دی په دشت ولاړ حيران دی

لاس په نال دی لويه څوانه د بغداد شاه ميرانه(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۲۲۸ مخ)

عبدالحميد الکوزی د محمد اسماعيل الکوزي زوی د ديارلسمې هجري پېړۍ په شاوخوا کې په کندهار کې اوسېده. په ديني علومو کې يې لاسرسي او بشپړه پوهه لرله. د پښتو ناظم و. «*طريقه محمديه*»(د څو ديني رسالو لرونکې) او د «*خلاصه کيداني*» ترجمه يې معلوم منظوم تأليفات دي. دا د هغه دی:

ولايت مې قندهار دی د پلار نوم که دې په کار دی

اسماعيل الكوزى دى الكوزو کې يعقوب‌زى دى(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۲۹۸ مخ)

«طريقه محمديه» د ديني مسايلو مجموعه ده چې عبدالحميد الكوزي په پښتو مثنوي نظم کړې او خطي نسخې يې شته دي(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱۴۳ مخ).

بايد وويل شي چې د « فرهنگ زبان و ادبيات پښتو» اثر ليکوال «طريقه محمد» د محمد اثر هم بللى دى(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۲٦ مخ). دوست‌محمد خټک د «اخلاق احمدي» په نامه کتاب له عربي طريقه محمديه څخه را ژباړلى چې مخکې يې يادونه شوې ده.

عبدالرحمن د ديارلسمې هجري پېړۍ د حدودو عالم او ليکوال و چې په تنګي هشنغر کې اوسېده. د ديني علومو عالم او د پښتو ليکوال و. «*منية المصلي*» يې په پښتو ترجمه کړې دى(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۰۱ مخ). ملا عبدالرحمن د تنګي هشنغر په نصرت‌زيو سيمه کې اوسېده. د پښتو ژبې شاعر او تر ۱۲۳۰هـ.ق کال پورې ژوندى و. دا د هغه دى:

ما چې ستا د بلو سترګو دا ناز وليد د زړه سر مې په پنجه کې د باز وليد

(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۳۲۰ مخ)

عبدالرحمن د ديارلسمې هجري پېړۍ د اواخرو ديني عالم او د پښتو ناظم و. د ميراث علم د ابتدايي قواعدو *رساله* يې په پښتو نظم کړې ده. دا د هغه دى:

د ميراث مال يې پښتو کړ عبدالرحمن په دا بيتو کړ(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۰۱ مخ)

قاضي عبدالرحمن د ۱۳۰۰هـ.ق کال په حدودو کې د پښتونستان اړوند په تورو کې اوسېده. د سوات د بابوزيو د قبيلې شاعر او عالم و. «*دلپذير*» افسانه يې په پښتو منظومه تأليف کړې ده. د هندي مقاماتو په طرز د *شعرونو مجموعه* د هغه ده او د «*سير السالكين*» په ترجمه کې يې هم ونډه لرلې ده. دا د هغه دى:

د فراق آتش مې کړه سينه مجمر هر يوه آه مې دى د خولې جوړې اخګر

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۰۲ مخ)

ابن الفقيه يو پښتون عالم دى چې نوم يې عبدالرحمن و او لقب يې ابن الفقيه و، خپل نوم ابي الحسن البستاني ليکي. د شاه بهادرشاه عالمګير په زمانه کې په ډهلي کې اوسېده. د «مفتاح الرحمان» په نوم يې په پارسي ژبه د «تجويد القرآن» شرحه يې ليکلې ده چې د هغې په آخر کې د قرآن په ترتيل سره د لوستلو په باب يو څو پښتو شعرونه يې د «*رساله ترتيل*» په نوم سره ليکلي دي.

د شعرونو نمونه یې دا ده:

ای طالبه قرآن خوانه — دا نکته واوره له ما نه
چې ترتیل دی په درې قسمه — هم یې زده کړه په درې اسمه
یو ترتیل قرار لوستل دي — د قرآن آداب شمېرل دي
بل ترتیل واجب یادیږي — که دې نیت د زده کړې کېږي
هغه دا دی واوره ما نه — چې مکتوب دی له عثمانه...

او داسې پای ته رسیږي:

دا درې قسمه چې بیان شه — ټول ترتیل درته عیان شه
تلاوت د قرآن یاره — دی سنت یا نفل شماره
تلاوت السنة وایي — قاري تا ته دا رنګ ښایي
تلاوت چې په دا شان کړې — چې حقوق ادا په ځان کړې
بس ثواب به ستا حاصل شي — هم عذاب له تا زایل شي
د ترتیل بحث تمام شه — د ابن‌الفقیه کلام شه(افغاني، ۱۹۶۳م، ۱۸۵، ۱۸۷ مخونه)

په هندوستان کې د دیداکتیک آثارو د ایجاد په لړ کې د ابن الفقیه آثار هم مخې ته راځي. د ده د ترتیل دا رساله (۳۸ بیته) د قرآن عظیم د لوست د آدابو د ښوونې تعلیمي رساله ده. دا رساله د دغه ډول آثارو د عمومي شعري سکښت له مخې د مثنوي په قالب کې نظم شوې ده، رواني لري او تعقید په کې نشته. د نظم سیستم یې د بیان له شېوې سره متناسب اوډل شوی دی(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۴۷، ۳۴۸ مخونه).

د «*رساله ترتیل*» قلمي نسخه د صوابی په ضلع مردان کې د صاحبزاده عبدالحمید په کتابتون کې شته(خدمتګار، ۱۳۸۲ل، ۵۶ مخ).

غلام‌نوي د دیارلسمې هجري پېړۍ د حدودو عالم او شاعر و، د دیني علومو عالم او د پښتو ناظم و. د حضرت محمد ﷺ «*نورنامه*» یې منظومه تألیف کړې ده. دا د هغه طبعه ده:

نورنامه وه په پارسي له عربي سره آمېزه — ما غلام نوي ترې ووایه بیان خپل(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۶۴ مخ)

د افغانستان د علومو اکاډمي د خطي نسخو په څانګه کې خوندي «نورنامه (معراج النبي ص)» د

نظمولو کال نه دی معلوم خو د لیکلو کال یې ۱۲۹۳هـ.ق دی، د پاڼو شمېر ۱۲ او په علومو اکاډمۍ کې یې د ثبت نمبر ۱۳۸ دی. د دې اثر موضوع د الله تعالی ستاینه، د حضرت محمد ﷺ نعت، عبرتناک دیني حکایتي مسایل دي. په پای کې ناظم کاږي: نورنامه په پارسي او عربي وه خو ما په پښتون بیان کړه. له دې ښکاري چې نورنامه ژباړه ده. پیل یې تر بسم الله وروسته:

په بار بار به ثنا وایم د رحمن خپل — ای یارانو څو مې وي د ژبې توان خپل
هم درود پر پاک رسول باند وایم — لفادنه؟ امان غواړم د ایمان خپل

(دوست، ۱۳۹۹ل، ۴۳، ۴۴ مخونه)

په ادبي ستوري لومړي ټوک کې راغلي چې غلام نوي د پښتو ورک شاعر دی. په اصل کې به دا نوم غلام نبي وي خو د عوامو له اصطلاح سره سم غلام نوي اړول شوی دی(رفیع، ۱۳۵۳ل، ۱۰۹ مخ).

د افغانستان ملي آرشیف کې هم د غلام نوي «نورنامه» شته(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۲۰۳ مخ).

فقیر د دیني علومو عالم او د پښتو ناظم و، د «*تنزیل در خواص آیات قرآن کریم*» په نوم کتاب یې په ۱۲۵۶هـ.ق کال تألیف کړی دی. دا د هغه دی:

فقیر کل پښتو انشا کړه له تنزیله سن د هجر نو نو غر وه په تفصیل

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۷۵ مخ)

فقیرشاه د دیارلسمې پیړۍ په وروستیو کې د پښور په پیرپیاوي کې اوسېده. کوچنۍ مذهبي او عارفانه «*رساله*» یې په ۱۲۹۵هـ.ق کال منظومه تألیف کړې ده. دا د هغه دی:

فقیرشاه ربه داخل د دیو په خپل کړې — دی مغفور د اولیاوو په طفیل کړې
پېښور کې یې شکاره لکه د نور کړې — خاص تپه د خالصي کې پرې آباده

عین قریه د پیرپیاوي کړې پرې دلشاده(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۷۶ مخ)

محمود عالم او د پښتو دیني ناظم و چې د دیارلسمې هجري پیړۍ په حدودو کې اوسېده. د «*حبل المتین*» په نوم د اسلامي عقایدو کتاب یې په ۱۲۸۵هـ.ق کال منظوم تألیف کړی دی. دا د هغه دی:

زر دوه سوه اتیا کاله — پنځه نور وو زما لاله
د هجرت په هغه دم — چې محمود وچ که قلم(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۶۲ مخ)

«حبل المتین» د اسلامي عقایدو په اړه منظوم اثر دی چې خطي نسخه یې ۲۵ مخه دی او د پروفیسور ولي محمد خان سیال په کتابخانه کې خوندي ده، خو لا چاپ نه ده(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۵۵ مخ).

ملا مطلوب بارکزی د دیارلسمې هجري پېړۍ د حدودو ناظم او خطاط و، د کندهار په شاوخوا کې اوسېده. د حاجي جمعه بارکزي دیوان یې په په ۱۲۵۸هـ.ق کال خطاطي کړی، د هغه *مثنوي* له دې دیوان سره مل ده. دا د هغه دی:

که هر څو په ډېر ګناه یم ګرفتاره　　ستا و فضل و ته هیڅ دي یا غفاره

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۷۷ مخ)

معظم مذهبي شاعر و چې د دیارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې یې ژوند کړی، د دیني علومو عالم و، په تجوید او علم قرائت کې یې معلومات درلودل. د «*رموز اوقاف قرآن*» په نوم رساله یې منظومه تألیف کړې ده. دا د هغه دی:

که حق دارنګه کرم که　　نور غم ولې معظم که

معظم شاه د سیدمحمد زوی د دین عالم او د پښتو ناظم و، منظومه *الفنامه* ترې پاتې ده(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۸۱ مخ).

ملا جان د دیارلسمې هجري پېړۍ د حدودو ديني عالم، د پښتو ناظم او خطاط و. هغه د «*معجزات*» رساله په ۱۳۲۵هـ.ق کال کې خطاطي کړې ده، مناجات یې هم ورسره مل و. دا د هغه دی:

دا کتاب د ملا میر خان دی　　زه یې کړم د ده فرمان دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۸۵ مخ)

«*اخبار الاخرت*» ديني مثنوي ده چې له اخرت، قیامت، حشر، نکیر و منکر او د قیامت له علامو بحث کوي. د کتاب اصل په هندکو ژبه دی او د **منورشاه** په نوم شخص په ۱۲۸۰هـ.ق کال په پښتو مثنوي ژباړلی دی. په ۱۱۷ پاڼو کې د پېښور پښتو اکاډمي په خطي آرشیف کې ده(هیوادمل، ۱۳٦۵ل، ٦ مخ). منورشاه د دیارلسمې هجري پېړۍ د حدودو ديني عالم او مذهبي شاعر و. د وخت د رواجي علومو مطالعه یې لرله، په پښتو ژبه یې مذهبي شعرونه ویلي. د هغه مذهبي منظومې رسالې موجودې دي. دا د هغه دی:

پښتانه دې دعاخواه وي　　د فقیر منورشاه وي

ډېر عاصي و ګنهګار دی　　رو سیا لیل و نهار دی

میا احمد د پښتو مذهبي شاعر دی، د حضرت محمد ﷺ د *معراج کیسه* یې نظم کړې، مخمس یې هم له دې مثنوي سره ضم دی. نوموړی د پښتو له پخوانیو شاعرانو څخه حسابیږي. دا د هغه دی:

الف یو الله احد دی　　بې شریکه بې حسد دی

لم يلد و لم يولد دی　　چې باور نه کاندي بد دی

په دا ټينګ لرو باور (هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۹۰، ۴۹۴ مخونه)

قاضي نعمت الله ديني ناظم و، د حضرت محمد ﷺ د معراج قصه يې له ۱۲٦۰هـ.ق کال مخکې په پښتو مثنوي نظم کړې ده. دا د هغه دی:

پر دښمن يې کړی لاس باندې ځوک چې ماته دعا کاندي (هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۲۰ مخ)

د افغانستان د علومو اکاډمي په خطي برخه کې په ۲۲۳ شمېره د خوندي «معراج النبي ﷺ» په باب راغلي چې په ۱۲٦۱هـ.ق کال نظم شوې، ٦۸ پاڼې دی. موضوع يې سيرت النبي ﷺ او د حضرت محمد د معراج کيسه ده. تر بسم الله وروسته:

کلي حمد د خدای لايق دی　　چې د کل مخلوق خالق دی

خصوصاً پر ما واجب دی　　څو دا نمر طالع غارب دی (دوست، ۱۳۹۹ل، ۴۲ مخ)

ولي محمد هوتک د بلوچستان د شاوخوا شاعر و، د «*مصباح الظلم*» په نوم کتاب يې د ديارلسمې هجري پېړۍ په اواسطو کې تأليف کړی دی. د آثارو له مطالعې يې ښکاري چې هغه عالم شخص و. په شعر کې يې هم رواني او سادګي ليدل کېږي. دا د هغه دی:

او په اصل و په نسب سره هوتک يم　　نسب څه کړم د ګناه په شاميت ورک يم (هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۴۱ مخ)

«مصباح الظلم» ديني مثنوي ده چې د اسماء الحسنى تشريح، د تجويد قواعد او نور ديني مسايل په کې راغلي دي. د کتاب موضوعات له عربي او پارسي آثارو پښتو ته راژباړل شوي دي. خطي نسخه يې ۱۲۴ ورقې لري (۱۲۸۰هـ.ق کال کې کتابت شوې) او د سيال کاکړ په کتابتون کې خوندي ده (هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱۹٦ مخ).

ولي الله د محمد ګل زوی، ديني عالم، مؤلف او شارح و. د اخوند دروېزه «مخزن الاسلام» يې په ۱۲۷٦هـ.ق د «*تبيان الحقايق*» په نوم په عربي شرحه کړی دی (هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۴۱ مخ.).

«*د جرجيس قصه*» د ديني منځپانګې لرونکی متن او د پښتو مثنوي په قالب کې له جرجيس څخه حکايت دی چې د **شمس الدين کاکاخېل** له خوا نظم شوی دی. خطي نسخه يې په ۵۹ مخونو کې د پېښور پښتو اکاډيمۍ په خطي مجموعه کې خوندي ده. په ۱۲٦۸هـ.ق کال د محمود په خط ده.

«*د تجويد قواعد*» د تجويد د علم قواعد او اساسات بيانوي او د پښتو شعر په ملي اوزانو کې نظم شوې

ده، ناظم يې ځان **حافظ** را پېژني. دغه اثر د «ذخيرة القراء» په حاشيه کې په لومړنيو دېرشونو مخونو کې په ۱۲۹۵هـ.ق کال ډهلي کې چاپ شوې ده(هېوادمل، ۱۳٦٥ل، ۱۵۸، ۱٦۰ مخونه).

فقيرگل د ديارلسمې پېړۍ د حدودو شاعر او ديني عالم و، د «*کتاب تنزيل*» په نوم کتاب يې د قرآني آياتو د خواصو په اړه په ۱۲۵٦هـ.ق کال تأليف کړی دی. دا د ده دی:

له اوله نازل شوی چې قرآن دی　　له ښه خدايه په نبي اخر زمان دی

«*کتاب التنزيل*» د قرآن کريم د آيتونو د خواصو په باره کې مثنوي ده. کتاب چاپ نه دی، خطي نسخه يې په ۴۳ مخونو کې (په ۱۳۳۷هـ.ق کال کې خطاطي شوی) د سيال کاکړ په کتابتون کې خوندي ده(هېوادمل، ۱۳٦٥ل، ۲۸۴، ۱٦۲ مخونه).

رسال د ديارلسمې هجري پېړۍ په اواسطو کې يې ژوند کاوه، په پښتو او عربي ژبو ديني ناظم دی، د هغه منظوم او منثور ديني او مذهبي کتاب موجود دی. دا شعر د ده دی:

حمد کل ثنا په خدای ښايسته په بار بار　　چې دی رب د عالميانو تل به وينه برقرار

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۹۲ مخ)

«*مسايل سلوک*» د محمد رسال منظوم اثر دی چې په ۱۲٦۵هـ.ق کال منظوم شوی، د سلوک مسايل او ديني مباحث په کې بيان شوي دي، دوه خطي نسخې يې ليدل شوې دي. يوه نسخه يې ۱۴۸ ورقې لري او د سيال کاکړ کتابخانه کې ده، د بلې نسخې راپور په زېري جريده کې په ۱۳۵۳هـ.ش کال ورکړل شوی دی(هېوادمل، ۱۳٦٥ل، ۱۹۵ مخ).

ملک زعفران ديني ناظم و، د ديارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې د پښتونخوا د شاوخوا په پجکي کې اوسېده، پلار يې يوسف نومېده. د هغه پښتو *منظومې ادعيې* د صلوة الهداية په رساله کې چاپ دي. څو نورې منظومې رسالې لري. دا وينا د ده ده:

دا دعا که څوک مانځه نه د صباح　　پس ولولي درته وايم په صلاح

محمد صادق د پښتو ژبې ديني واعظ او ناظم و، د ديارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې د پښتونخوا په شاوخوا کې اوسېده او د هغه منظومه «*نصيحت نامه*» د پېښور پښتو اکاډمۍ کې خوندي د سلم حاشيې په خطي نسخه کې راغلې ده. دا د ده دی:

نصيحت مې که تمام‌والسلام علی الدوام

په نام محمد صادق يم　　د هر چا نه نالايق يم(هېوادمل، ۱۳٦٥ل، ۲۵۷، ۲۹۴- ۲۹۵ مخونه)

په پښتو کې ګڼو کسانو د «نصیحت نامه» په نوم آثار کښلي دي.

وسیم کاکاخېل د دیارلسمې هجري پېړۍ له جیدو علماوو څخه و او منطق، فلسفې، ریاضي، حکمت او ديني علومو کې يې بشپړ لاسرسی درلود. په حکمتي ملا مشهور و. وسیم ګل د عبدالرحیم زوی د خټکو قبیلو کاکاخېلو پښې ته منسوب او په باجوړ کې اوسېده. په پښتو، پارسي او عربي ژبو يې لیکل کول او شعرونه يې ویل. «*صنعت اصطرلاب*»، «*تحفة الناظمین*» او «*سیف ظفر*» يې آثار دي. د هغه ژوند تر ۱۲۷۹هـ.ق کال پورې يقيني دی. دا د ده شعر دی:

خدای زده رد ده که قبوله ده پرې پند کا داسې زمکه وسیم ښکلی فرمانه ده

(هېوادمل، ١٣٦٥ل، ۳۰۸- ۳۰۹ مخونه)

عبدالکبیر مشهور په اخوند کبیر، هم د «*سیف الظفر*» په نوم اثر لري(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ۳۹۴ مخ).

مولانا رفیع القدر د مولانا محمد رفیق زوی په دیارلسمې هجري پېړۍ کې [د پښتونخوا] په کونړه کلي کې اوسېده او په همدې پېړۍ کې وفات شوی دی. د پښتو ژبې عالم او شاعر و، د «*هزار مسایل*» په نوم منظوم کتاب لري. دا ديني کتاب دی چې مهم ديني مسایل په کې په سه او روان نظم په پښتو بیان شوي دي. چاپ نه دی، خطي نسخه يې په صوابی کې د هغه له کورنۍ سره شته(هېوادمل، ١٣٦٥ل، ٢٥٦، ٢١٦ مخونه).

نجابت ديني ناظم دی، له پارسي څخه يې د «*هزار مسایل*» په نوم کتاب په پښتو منظوم ژباړلی دی. دا د هغه دی:

په بزرګي د لوی حضرت په پښتو کړه نجابت

زه عاصي یم د رحمان ګوندې خلاص شم له نقصان(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ۵۱۲ مخ)

«هزار مسایل» ډېر چاپونه لري او پخوانی چاپ يې په ۱۳۱۲هـ.ق کال په ډهلي کې ښکاره دی(هېوادمل، ١٣٦٥ل، ٢١٦ مخ).

د «هزار مسایل» خطي نسخه د افغانستان د علومو اکاډمي کې په ۲۴۳ شمېره خوندي ده، ٦٤ پاڼې لري. ديني او شرعي مسایل په غزل او مثنوي فورم کې په کې راغلي دي. پیل يې داسې دی:

یوه شپه اول سحر جبرائیل پر پیغمبر

په تلوار راغی لحق پرې يې وکړ دا خبر

خدای سلام پر تا ویلی

دا د پارسي له «هزار مسايل» څخه په پښتو ژبه نظم ژباړه ده(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱٦۰، ۱٦۱ مخونه).
د دغه اثر يوه خطي نسخه د افغانستان ملي آرشيف کې هم شته ده(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۲۰٦ مخ).
مراد علي صاحبزاده چې د ننګرهار د کامې ولسوالۍ اوسېدونکی دی، د وخت رواجي علوم، لکه صرف، نحو، منطق، حکمت، فقه، ميراث، تفسير، حديث، عروض او ادبيات يې ويلي دي او د قرآن‌شريف حافظ و. په خپل وخت کې ښه ليکوال، مؤلف، مدرس او شاعر تېر شوی دی. د ده زوی محمد صاحبزاده د هغه په باره کې ليکي: په عربي، پارسي، پښتو او هندي ژبو کې يې ځانله او ګډ شعرونه ډېر ويلي چې له شمېر نه وتلي دي. شعر ويل ورته هيڅ تکليف نه و. نظم او نثر ورته يو شان و. د توحيد د اسرارو او نصايحو په باره کې يې ډېر غزليات شته(خدمتګار، ۱۳۸۲ل، ۱۰۷ مخ).
مراد علي صاحبزاده له خپل والد او مشرانو وروڼو څخه يې تعليمونه حاصل کړي دي. د عربي په ټولو علومو او ادبياتو کې يې لوی لاس درلود او په دغو اکثرو علومو کې معتبر تصنيفونه هم لري. په عربي، پارسي او پښتو يې ښه فصيحه طبعه درلوده او په دې درو سرو ژبو کې خواږه اشعار ځنې پاتې دي. د نظم په باب د مراد علي صاحبزاده قريحه لوړ مقام لري. د ده نظم ساده، روان او طبيعي دی، تکلف په کې هيڅ نه حس کېږي. د معنا په لحاظ د ده نظمونه ټول ديني، اخلاقي او متصوفانه دي(رښتين، ۱۳۹۱ل - الف، ۴۱۸ مخ).
مراد علي صاحبزاده چې بشپړه پېژندنه يې د دې اثر په منثوره برخه کې راغلې، شعرونه او نظمونه هم ويلي دي، چې لاندې آثار ترې پاتې دي:
-*الف‌نامه*: د «اکسير القلوب» په روايت په عربي او پارسي نظم کې مناجات دی. يوه منظومه الفنامه په عربي ژبه د قرآن شريف د ختم د دعاء په بڼه د مؤلف له خوا ليکل شوې ده چې ۳۵ بيتونه لري. دا الفنامه د تفسير يسير د لومړي ټوک په پای کې چاپ شوې ده. د دې نظم په کسر کې د هغه د ليکلو د تاريخ ماده د (غرندل) عبارت ليکل شوی چې د ابجد په حساب ۱۲۸۴ ترې جوړيږي.
- *د اعلال، ادغام او تخفيف رساله*: په عربي صرف کې منظومه پارسي رساله ده، څلور پاڼې او ۴۴ بيتونه لري. په ۱۲۹۵هـ.ق کال ليکل شوې ده.
- *د اختر خطبې*: د لوی او واړه اختر د لمونځونو خطبې په عربي او پارسي نظم او نثر په ۱۳ پاڼو کې په خپله د مؤلف په قلم په ۱۲۸۷هـ.ق کال کې ليکل شوې دي.
- *غزليات او اشعار*: د مراد علي صاحبزاده څه شعرونه د يوه کتاب په سر کې ليکل شوي دي. دغه

قلمي کتاب (شرح اطوار سالکان) نومیږي. د دغه کتاب له شروع کېدو نه دمخه پنځه پاڼې اشعار دي. له دغو نه دمخه یوه پاڼه سپینه ده او په اول مخ یې دا بیت لیکل شوی دی:

کړم سلام ډېر فراوان په هر زمان رب دې ورکاندي لقاء جنت حوران

د دغو پاڼو اشعار په دې ترتیب دي: د جامي یو غزل، د مراد علي ځلور پارسي غزلونه، یو پښتو او بیا یو پارسي غزل او ورپسې د معین الدین چشتي پارسي غزلونه. سربېره پر دې د مراد علي نور متفرق اشعار د مسودو په ډول شته(خدمتګار، ۱۳۸۲ل، ۱۱۴- ۱۱۷ مخونه).

- *واجبیه*: د عربي (حاجبیه) منظومه شرحه، د عروضو او قافیې په باره کې ده. حاجبیة د ابن حاجب رحمه الله د عروضو علم کې لیکلې ده.

- *پارسي منظومه کافیه*: د ابن حاجب د کافیې منظومه پارسي ترجمه ده او د عربي ژبې نور قواعد هم په کې زیات شوي دي.

- *ارثیه*: په پارسي نظم د میراث د فقهې مسایل. د سراجي د کتاب په ترتیب.

- *قصیده بدریه*: عربي او پارسي نظم. د بدر د اصحابو د حالاتو په باره کې(خدمتګار، ۱۳۸۲ل، ۱۱۷- ۱۲۰ مخونه).

د مراد علي صاحبزاده د اشعارو نمونې:

د ده لاندې نظم د «تفسیر یسیر» د دوهم ټوک له مقدمې نه را اخلو چې په یو وزن او په یوه موضوع په عربي، پارسي او پښتو ژبو کې درې درې بیتونه لیکل شوي دي:

الهمني یا الهي حسن تقریر البیان	واعصمني عن قصور الفهم في تلک الاوان
وارزقني خالقي قلباً سلیماً فانتاً	ثم غفراناً و رضواناً و حباً في الجنان
واسقني صهباء حبک واشف اسقامي بها	واحشرني بعد موتي مکرماً لا مستهان
حمد خالق را است حمد و بعد حمد شکر نیز	بی حساب و بی شمار و بی نهایت بی کران
آن خداوندی که بعد از عمر هفتاد و سه سال	داد توفیقم به تفسیر دوم جلد از قرآن
پنجم ماه محرم بود سال (سدل غرب)	چون به چاه فکر کردم غرب تقریرم روان
تاته وایم محتاج غواړم فضل هم قلبي حیات	هم له تا غواړم محبت هم شهود ای مهربان
صبر غواړم شکر هم بل حب ذاتي هم خلوص	هم هدایت معرفت هم عجز و زاري هر زمان
تل په دنیا صدق هم اخلاص غواړي دا مراد	هم په عقبی جنت الفردوس هم دیدار، هان

(خدمتگار، ۱۳۸۲ل، ۱۲۰- ۱۲۱ مخونه)

د وينا بله بېلګه يې:

دا عجب نه دي له خدايه چې قادر دی
پر هر څيز چې دی جمع پرګنه کا په قدرت په يو سړي کې
او دا هم نه دی عجب د ده له زوره له قدرته
چې دی ځای کې سيند له ځېرمي په يو دم په يو ګړي کې(رښتين، ۱۳۹۱ل -الف، ۴۱۹ مخ)

دا هم د صاحبزاده دی:

په باطن اوسه آشنا او په ظاهر بېګانه شه په ښکاره اوسه خالي او په کې ډکه پيمانه شه
(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴٦٨ مخ)

محمد امين ديني عالم او د پښتو مذهبي ناظم و چې د ديارلسمې هجري پېړۍ د وروستيو په حدودو کې د پېښور په تهکال کې اوسېده. ديني او فقهي آثار يې له پارسي څخه په پښتو ژباړلي دي. دا د هغه دی:

ځای زما تهکال يادېږي له خليلو حسابېږي
پلار نيکه مې حافظان وو په تهکال کې ساکنان وو(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۳۳ مخ)

د محمد امين يو منظوم فقهي اثر په ۲۴ مخونو کې په ۱۲۹۵هـ.ق کال په ډهلي کې چاپ شوی دی. دا *رساله* د سوال او ځواب په بڼه د فقهې ګران مسايل بيانوي او د شاګردانو د ذهن د روزنې لپاره ښه تمرين ګڼل کېږي. دا رساله په دې وروستيو بيتونو پای ته رسېږي او داسې معلوميږي چې له پارسي نه او په اغلب ګومان د پارسي (حيرت الفقه) نومې رسالې ترجمه شوې ده:

د فارسي چې مشکلات دي خو دا هومره دي نه زيات دي
ما همه کړلو تمام قرار کښېناستم آرام
والصلوة والسلام په نبي خير الانام(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۹۰۰، ۹۰۱ مخونه)

د دغه محمد امين تاکالي *ديوان* چاپ شوی دی(هېوادمل، ۱۳٦۷ل -الف، ۹۰ مخ).

«*قصه اصحاب کهف و رقيم*» د محمد امين د تهکال او احمد اثر دی چې لاهور کې په ۴۸ مخونو کې چاپ دی. په دې رساله کې د اصحاب کهف او رقيم پر کيسې سربېره د چاريارو فضائل، د دوزخ و جنت احوال، مکر زنان، نصيحت النساء، د هاروت او ماروت کيسه هم راغلي دي چې ټول يې په

مخمس او مثنوي دي. د ټولو مؤلف محمد امين دی، يواځې د هاروت او ماروت کيسه احمد ليکلې ده(رفيع، ١٣٥٦ل، ٦٨١ مخ).

فيض الله کاکړ د ملا بابړ زوی چې اصلي وطن يې ړوب او کندهار ته د هوتکو په آخر کې راغلي وو، ملا بابړ عالم او زاهد سړی و چې د کندهار د ښار تر جوړېدو وروسته يې زوی فيض الله اخوندزاده د سردار شاه‌ولي خان د احمد شاه بابا د لوی وزير ملا او استاد و. فيض الله علم او تقوا له پلاره په ميراث وړې وه او د کندهار مشهور عالم او مؤلف مولوي حبيب الله د ده زوی و.

اورېدل شوي چې فيض الله کاکړ ډېر ښه پښتو اشعار ويل او د شاه‌زمان تر زمانې ژوندی او سپين‌ږيری عالم او شاعر و. د دې سړي نور اشعار ورک دي، فقط دغه څو بيته يې پاتې دي:

که دعشق له کړه خلاص شوم، زه به نذر کاندم غړی-دعشق اور هسې ستي کړم،لکه پنډه او سپين خړی
د پت مزي سره غړم، ببرته اوم د عشق په تاو شي که هر څو پرېږ وي غښتلی، ببرته شي هغه اومړی
(حبيبي، ١٣٩١ل، ٣١٣، ٣١٤ مخونه)

ملا فيض الله د خپل وخت عالم، مدرس او په عربي، پارسي او پښتو ژبو د تصنيفاتو څښتن، شاعر، پياوړی ليکوال او په احمدشاهي عصر کې د وخت واکمنانو ته د درناوي وړ شخصيت و. لوی احمدشاه د خپل زوی تيمور د ښوونې روزنې کار د څو تنو عالمانو، خطيبانو، اديبانو او منشيانو پر غاړه اچولی وو چې په دغه ډله کې ملا فيض الله هم و. نوموړی د اشرف الوزراء وزير شاه ولي خان بامېزي د کورنۍ استاد هم و او وزير ورته په درنه سترګه کتل.

د ملا فيض الله کاکړ په آثارو کې يوه عربي رساله شته چې د خپل زوی حبيب الله لپاره يې په منطقو کې کښلې ده. د بلې رسالې نوم يې «*تحقيق التوبة*» دی او دغه راز يې پر *تجويد* هم يو کتاب تأليف کړی دی. د دغو آثارو خطي نسخې د کابل په ملي آرشيف کې خوندي وې. د معصوم هوتک په خبره، د حاجي عبدالمجيد هوتک په قلمي کتابونو کې د ملا فيض الله يو اثر خوندي و، خو اوس يې له ده څخه نوم هېر دی. ملا فيض الله شعر هم وايه. په «پښتانه شعراء» لومړي ټوک کې يې دغه پښتو شعر خوند دي:

که د عشق له کړه خلاص شوم زه په نذر کاندم غړی
د عشق اور هسې ستي کړم لکه پنډه او سپين خړی
د پت مزي سره غړم ببرته اوم د عشق په تاو شي

که هر څو پرېږ وي غښتلی ببرته شي هغه اومړی (هوتک، ۱۳۹۸ل، ۱۳،۱۴- ۱۵ مخونه)

علامه حبيب الله کندهاری (حبو اخندزاده) د ملا فيض الله زوی و، په معقولو او منقولو علومو کې د تبحر درجې ته رسېدلی و، د علم او فضيلت انګازې يې تر هېواد دباندې ملکونو (ايران، هند او حجاز) ته رسېدلې وې او په بهر کې يې د پوهانو له خوا د (محقق کندهاري) او (فاضل کندهاري) لقبونه ګټلي و. د خپل هېواد په علمي حلقو کې په (حبو اخندزاده) مشهور و. دی د ۱۲۱۳هـ.ق/ ۱۷۹۸م کال د کندهار ښار بامیزو په کوڅه کې وزېږېد، لومړنۍ زده‌کړې يې د خپل فاضل پلار تر لارښوونې لاندې د کورنۍ له غړو څخه وکړې، په ځواني کې يې د خپل عصر مروج علوم (صرف، نحو، بلاغت، تفسير، حديث، فقه، اخلاقيات) ولوستل، پر دې سربېره يې په رياضي او نجوم کې هم ژورې مطالعې وکړې.

سردار مهردل خان مشرقي (په هغه وخت کې پر کندهار د واکمن کهندل خان ورور) چې د پښتو او پارسي ژبو شاعر، ليکوال او فرهنګپال سړی و او په کندهار کې د ده کور د يوه ادبي انجمن شکل درلود، علامه حبيب الله کندهاري ته ډېر ارادت درلود او درناوی يې کاوه، د خپلې کورنۍ د غړو استاد په توګه يې تر ې علمي استفاده کوله. علامه حبيب الله د نومورې سردار په غوښتنه د حديثو په باب يو کتاب کښلی دی چې «*نقد الثقات ...*» نومېږي.

علامه حبيب الله په عربي، پارسي او پښتو کې زيات کتابونه تأليف کړي دي چې شمېر يې تر دېرشو اوړي. په همدغو درېيو ژبو يې شعر هم وايه. د کندهار په شخصي کتابخانو کې داسې يوه نه وه چې د علامه حبو اخونزاده تأليفات دې يې خوندي کړي نه وي. د حيدر آباد د دکن، پېښور او د افغانستان په ملي آرشيف کې يې هم آثار شته(هوتک، ۱۳۹۸ل، ۱۷، ۱۹، ۲۱ مخونه). د علامه حبيبي په يوه ليکنه کې يې آثار داسې معرفي شوي دي:

۱) *شوارق* (په عربي ژبه)، په علم حديث کې.

۲) *رساله تفکر* (په پارسي ژبه)، موضوع يې اخلاق او عرفان دی.

۳) *رساله نماز و اسرار آن* (په پارسي ژبه)، په دې کتاب کې د لمانځه د اسرارو په باب د منقولو او معقولو علومو له مخې بحث شوی دی.

٤) *موعظې او خطبې* (پارسي او عربي).

۵) *رساله صبر و شکر* (پارسي)، په اخلاقو کې.

٦) *رساله محبت الهي* (پارسي)، په تصوف او اخلاقو کې.

۷) *رساله تمیز مؤمن و کافر* (پارسي)، ديني او کلامي څېړنه ده.

۸) *تواریخ وفیات مشاهیر اسلامي در قرون ثلاثه* (پارسي).

۹) *شمه بارقه* (پارسي)، د وحدت الوجود او وحدت الشهود په باب.

۱۰) *چهل مسأله ديني* (پارسي)، د ملا محمد اعظم اندړ د سوالونو په ځواب کې. د ملي آرشيف په خطي نسخو کې د (جواب فاضل) په نامه يوه رساله شته چې د ملا حبيب الله قندهاري په قلم د محمد اعظم غزنوي په جواب کې کښل شوې ده چې غالباً به همدا رساله وي.

۱۱) *احکام الملة في احکام اهل القبلة* (عربي)، د امام غزالي پر (محصل فيصل التفرقه) نوې څېړنې او زياتونې دي.

۱۲) *مغتنم الحصول في علوم الاصول* (عربي)، اصول فقهې ته په کې انتقادي کتنه شوې ده. د بشپړېدو کال يې ۱۲۵۷هـ. ق دی. پر مغتنم د هرات ملا محمد عمر سلجوقي (۱۳۳۱ق) د (الملهم پر مغتنم) په نامه شرحه کښلې ده.

۱۳) *انموذج العلوم*، په دې کتاب کې د محقق دواني، ميرزا حبيب الله شيرازي او خواجه افضل ترکي درې گوني نماذج راغونډ شوي او د متقدمينو پر افکارو يې خپلې څېړنې او مطالعات ور زيات کړي دي.

۱٤) *رساله مغالطات*، په منطق کې د ځينو مشهورو او غير مشهورو مغالطاتو کره کتنه ده.

۱۵) *ابانه الملة في التوقف عن تکفير اهل القبلة* (عربي)، موضوع يې فقه، عقايد او کلام دی. دا اثر يې په پارسي هم ليکلی دی.

۱٦) *مرآة الحق* (عربي)، اوه فصله لري او په ۱۲٦۲ق کې تأليف کړی دی.

۱۷) *وحدت وجود او شهود* (پارسي)، د ملا محمد اعظم اندړ د پوښتنو په جواب کې[1].

۱۸) *مستحق القبول والقبلة في تحقيق سمت القبلة* (پارسي)، د قبلې ښوولو په برخه کې د فقهې او رياضي دلايلو پر اساس معلومات دي چې په پنځو فصلونو کې راغونډ شوي دي.

۱۹) *رساله موسيقي* (پارسي)، په دې رساله کې د موسيقي د علم پر رواتوب او نارواتوب بحث شوی

---

[1] د حاجي عبدالمجيد هوتک په خطي مجموعه کې د «المشکلة اجوبة السؤالات» په نامه د علامه حبو اخندزاده يو اثر خوندي و، حاجي صاحب په خپل قلم پرې کښلی و چې «در جواب ميا محمد اعظم رح». که دا اثر له ۱۷ نمبر کتاب څخه بېل وي، نو د علامه پر آثارو باندې يو بل اثر هم زياتيږي.

دی.

۲۰) *تنقيح التهافت الفلاسفة* (عربي)، د امام غزالي او اتن ارشد اندلسي او خواجه زاده رومي په فلسفي مناظرو کې د انصاف په رعايت او ازاد فکر سره يې حکميت کړی او په ځينو برخو کې يې خپل نظر د دليل او برهان په راوړلو سره بيان کړی دی.

۲۱) پر *الغ بېګي زيج* باندې نوې څېړنه او حاشيه (پارسي). الغ بيګي زيج د هيأت ډېر مشهور کتاب دی چې علامه کندهاري پرې ګټورې حاشيې کښلي او هغه خاص مسايل يې وربانديې زيات کړي چې ده خپله کشف کړي وو.

۲۲) *شرح نمسط تاسع اشارات ابن سينا* (عربي).

۲۳) *بسط البسايط* (عربي)، د منطقو پر ځينو مباحثو شرحه.

۲٤) *منتخب تحرير اقليدس* (عربي).

۲۵) د *تحرير اقليدس* پارسي ترجمه.

۲٦) د *اکثرثاو ذوسيوس* ترجمه.

۲۷) *مختصر کشف القناع في احکام شکل القطاع*، د خواجه نصير طوسي د يوه تأليف لنډيز دی.

۲۸) *رياضي المهندسين*، په عربي او پارسي دواړو ژبو په همدې نامه ليکل شوی دی. د مخونو شمېر يې پر غټ کاغذ يو زرو و پنځوسوو ته رسيږي.

۲۹) *شرح مقامات حريري* (پارسي).

۳۰) *نقد الثقات في التزييف الموضوعات*، دا کتاب يې د احاديثو په تخريج کې د سردار مهردل خان مشرقي په غوښتنه کښلی دی.

۳۱) *رساله غرور*، دا رساله د «اقسام و محاري و آفات غرور» په نامه هم بلل شوې ده.

۳۲) *منهاج العابدين* (پښتو)، په اخلاق او عرفان کې ۷۰۰۰ بيته د امام غزالي د منهاج العابدين ترجمه.

۳۳) *لسان الميزان في تقويم الاذهان* (عربي)، د منطق په څېړنه او انتقاد کې ليکل شوی او په پنځوسوو مخونو کې يې د هند و پارس د علماوو له کتابو څخه د «تصوراتو مبحثونه» راغونډ کړي دي.

۳٤) *ابجد التواريخ* (عربي)، موضوع يې د اسلام تاريخ دی، ۵۰۰ مخه لري او د ليکلو کال يې ۱۲۵۲هـ.ق دی(هوتک، ۱۳۹۸ل، ۲۳- ۳۲ مخونه).

حبو اخونزاده په ۱۲٦۵هـ.ق کال وفات شو او په کندهار کې د دوی په پلرنۍ هديره کې ښخ

دی(هوتک، ۱۳۹۸ل، ۳۴ مخ).

د علامه حبیب الله کندهاري پښتو اشعار چې مور ته رارسېدلي دي، یو منظوم کتاب (منهاج العابدین) دی چې په لنډ بحر کې دی. په دې کتاب کې د علامه د کلام متانت، خوږوالی او سلاست ښه ښکارېږي او دا خبره ثابتوي چې علامه لکه د خپل عصر مشهور مؤلف او محقق چې و، دغسې هم په ادب او شعر کې لوړ او د پښتنو شعراوو په لومړۍ مرتبه کې حسابېږي. دی په خپله ملي ژبه خوږ کلام او متینه وینا او روان او رشیق [ښکلي او ظریف] اشعار لري. د کلام نمونه یې دا ده چې (حمد) دی:

کل ثناء چې یې څوک وایي — پر خالق د جهان ښایي
چې صانع دی هم حاکم دی — هم جواد دی هم کریم دی
کل نقوش چې څه عیان دي — چې پر لوح دا مکان دي
په قلم یې د قدرت — نقش کړي په حکمت
په عرصه د کاینات کې — په صفحه د موجودات کې

(ربښتین، ۱۳۹۱ل -الف، ۴۳۶، ۴۳۸ مخونه)

بله نمونه یې:

پس له حمده له صلوته — واوره ته نېکو صفاته
وایي تا ته دا فقیر — چې دی سراپا تقصیر
مقصر او روسیاه دی — که یې نوم حبیب الله دی
چې زمور شیخ د طریقت دی — راهنما د حقیقت دی
مقتدا د عام و خاص دی — د محیط بحر غواص دی
د احسان د درج گوهر دی — د عرفان د برج اختر دی....(هوتک، ۱۳۹۸ل، ۳۶ مخ)

د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون په خطي څانگه کې په ۱۶۱ شمېره خوندي «منهاج العابدین» ۲۴۶ پاڼې لري. عرفان او تصوف، سلوک، طریقت، د نفس تزکیه او نور موضوعات یې منځپانگه ده. نسخه له آره د امام غزالي د منهاج العابدین له پارسي نسخې څخه پښتو ژباړه ده(دوست، ۱۳۹۹ل، ۲۱۶ مخ). د افغانستان ملي آرشیف کې هم دغه اثر شته(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۹۶ مخ). په ۱۳۰۶هـ.ق کال بمبیي کې چاپ دی چې د مثنوي په چوکاټ کې ديني مسألې او تصوفي بحثونه په کې راغلي دي(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۷۶۷ مخ).

مولوي عبدالمجيد کاکړ په ١٢٢٦هـ.ق کال کندهار کې زېږېدلی دی. هغه د علامه حبيب الله کاکړ له علمي کورنۍ څخه و. له هغه څخه يې علمي استفاده کړې، فقه، منطق او سير يې مطالعه کړل، نبوي سيرت يې په ١٢٩٦هـ.ق کال په پښتو مثنوي نظم کړی دی. دا د هغه دی:

پر خپل خدای ښه اعتماد　　توکل يې و، بنياد(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٣٢٨ مخ)

عبدالمجيد اخندزاده د علامه حبيب الله کندهاري دوهم زوی و، د خپل عصر په علماوو کې يې نوم درلود او ترڅنګ يې د وخت ښه خطاط او طبيب هم و. پښتو «*سيرت نبوي*» يې په پنځلس زرو بيتو کې کښلی دی(هوتک، ١٣٩٨ل، ٣٨ مخ).

مولوي عبدالمجيد کاکړ په ديني علومو استاد و. د کندهار د بلدي په کلي کې وفات شو او مدفون دی. دی هغه شاعر دی چې افکار يې ټول ديني دي، د سيرت کتاب يې په کندهار کې د پښتو په لنډ بحر منظوم کړی دی. په دې کتاب کې فاضل مؤلف ډېر مستند تاريخي روايات راټول کړي او په ساده ژبه يې نظم کړي دي. د کلام نمونه يې وګورئ:

د حنين د غزا يوه واقعه

روايت دی چې سرور　　غوښت روان شي دی بيشتر

کړه غاتره يې هيبت　　و دښمن ته په سرعت

نور عباس او بوسفيان　　نه پرېښو چې شي روان

او ويل به پاک نبي　　بې پروا په دا ګړي

«زه نبي لا کذب يم　　ابن عبدالمطلب يم».....(رښتين، ١٣٩١ل - الف، ٤٤٠ مخ)

عبدالرحيم د ديارلسمې هجري پېړۍ د اواخرو اديب او شاعر چې د مردان د رڼړو په امانکوټ کې اوسېده. د ديني علومو عالم او د پښتو ناظم و. «*مقدمه جزري، پنج گوهر، هفت هيکل*» آثار يې تذکره ليکوالو ياد کړي دي. دا د هغه دی:

خدايه ما عبدالرحيم　　کړې له اوره بچ سليم

له زواله د ايمان　　خدايه راکړې ته امان(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٣٠٣ مخ)

«*مقدمه جزري*» منظومه رساله ده چې شمس الدين ابوالخير محمد بن علي بن يوسف جزري ليکلې ده. استاد رشاد کاږي، په پښتو ژبه کې د «مقدمه جزري» درې ترجمې معلومې دي. په دغو کې دوې نظم او يوه نثر ده. په منظومو ترجمو کې لومړۍ ترجمه د ملا عبدالرحيم ده چې د امانکوټ

اوسېدونکی و او په ۱۲۶۹هـ.ق کال يې پښتو کړې ده. د دغې رسالې ټول بيتونه ۲۰۰ دي چې په دولس هجايي درېيم وزن کې د مثنوي په توګه ويل شوي دي، د فصلونو وېش نه لري. دا اثر اول وار په ۱۲۹۵هـ.ق = ۱۸۷۸م کال چاپ شوی او بل وار په ۱۳۳۰هـ.ق کال په لاهور کې چاپ شوی دی. دغه نسخه شپاړس مخه لري. پيل يې داسې شوی دی:

حمد ثنا ده خاصه تا له ودوده　　زيات له شمېر له عدده نامحدوده
زه به څه صفت کومه ستا سبحانه　　کوتاه داده زه ناتوان يم، مهربانه
امېدوار دې يم له فضله له کرمه　　خدايه ډېره شوه صادره رانه گرمه

بې له فضله به خلاص نه شم ستا هيڅکله د دفتر ورق مې تور دی له ازله(رشاد، ۱۳۵۹ل، څلور دېرش، اووه دېرش مخونه)

د «مقدمه جزري» بله منظومه پښتو ترجمه **اسماعيل** کړې ده. د ده د ژوند زمانه نه ده معلومه او نه يې د ژوندانه په باب معلومات شته. د دې کتاب شروع داسې شوې ده:

اول حمد کړم د سبحان　　چې يې زه کړم مسلمان
بل دې وي صلوة سلام　　پر نبي آخر زمان

* * *

اسماعيله عامي راشه　　د قرآن قاعدې گويا شه

* * *

دا قرآن کله آسان دی　　چې کلام د پاک سبحان دی
بارې دومره خو يې زده کړه　　چې جواز پرې د لمانځه کړه

د اسماعيل دغه پښتو ترجمه په خفيف بحر کې ده. د رسالې ټول بيتونه ۱۵۴ دي. دا رساله د معرفة القرآن په پای کې چاپ شوې ده(رشاد، ۱۳۵۹ل، شپږ دېرش، اووه دېرش مخونه).

د تجويد بله پښتو رساله «*معرفة القرآن*» دی چې د نصرالله خان نصر الکوزي په توجه او ترتيب د ده تر مرګ وروسته په ۱۹٦٦م (۱۳۸۵هـ.ق) کال پېښور کې چاپ شوې ده. همېش خليل پرې مقدمه کښلې او د رسالې د مؤلف په باب يې څه نه دي ليکلي. د رسالې پر وقايه باندې د اسماعيل نوم ليکلی چې مخکې د «مقدمه جزري» په پښتو ترجمو کې يې يادونه وشوه. استاد رشاد وايي: په «معرفة القرآن» کې زه د مؤلف پر نامه پېښ نه شوم، البته تر معرفة القرآن وروسته چې د مقدمه جزري منظومه پښتو ترجمه

کښلې ده، په هغه کې د ناظم نوم اسماعيل راغلی دی.

د معرفة القرآن رساله پر يوولسو بابونو وېشل شوې ده، تر دغو بابونو وروسته د الف لام د احکامو بيان او د قرائت د اوو امامانو رموز هم راغلي دي. تر عربي حمد و نعت وروسته د رسالې پيل داسې شوی دی: «پس له بسم الله او پس له حمد نه او پس له صلوت نه او پس له سلام نه دا رساله ده چې تعلق لري په تجويد د قرآن پورې يعني په تحسين د قرآن پورې، سميت هذه الرسالة بمعرفت القرآن يعني نوم کېښود د دې رسالې معرفت القرآن...». مؤلف پس له دې د مخارجو بيان شروع کوي. د معرفة القرآن د چاپي نسخې قطعه کوچنۍ ده، د رسالې ټول مخونه ۴۶ دي.

د تجويد بله پښتو رساله «*موصول القراء*» ده. د دې رسالې په متن، مقدمه او خاتمه کې د مؤلف نوم نه ښکاري. د رسالې شروع داسې شوې ده:

پس له حمده له دروده	دا خبره ده مذبوده[1]
چې طلب د علم فرض دی	لازم شوی لکه قرض دی
خصوصاً علم قرائت دی	چې ثابت دی په آيت دی
خدای تعالی فرمايلي	په قرآن کې ما ليدلي
دي ويلي حق تعالی	ورتل القرآن ترتيلا

دغه خطي نسخه شل مخه لري، قطع يې کوچنۍ ده. په دې رساله کې *نثر او نظم* سره ګډ دی، په ځينو ځايو کې يې پارسي عبارتونه هم راغلي دي. د نظم برخه يې د اسماعيل له پښتو کړي (مقدمه جزري) سره مشترکات و مشابهات لري(رشاد، ۱۳۵۹ل، څلوېښت، څلور څلوېښت، پنځه څلوېښت مخونه).

«*موسول القراء*» دېرش پاڼې (شپېته مخونه) لري. تر مقدمې وروسته په بېلابېلو فصلونو کې د تجويد احکام په کې بيان شوي دي.

په نسخه کې د ملا مير باز نوم راغلی چې غالباً د اثر مؤلف او يا لږ تر لږه د دې نسخې کاتب دی. پر نسخې د تأليف او ليک نېټه نه ده ليکل شوې. د ليکدود او کاغذ له مخې يې د ليک نېټه له نن نه سل کاله دمخه اټکلېدای شي(خدمتګار، ۱۳۸۲ل، ۶۹، ۷۱، ۷۲ مخونه). (دا خبره استاد بختاني په ۱۳۷۰هـ.ش کال کې کړې، نو له دې نېټې سل کال مخکې شاوخوا ۱۲۷۰ل کال کېږي).

«*زاد القراء*» د قرآن عظيم د تجويد د مسايلو په باب په ۱۷ بابونو مشتمله رساله ده چې په ۱۲۹۵هـ.ق

[1] د دې کلمې اصلي بڼه «مضبوطه» ده.

کال **میا مبین** د مثنوي په قالب کې نظم کړې ده. دا تجوید چاپ نه دی، خطي نسخه یې د پښور پښتو اکاډمي په آرشیف کې خوندي ده. میا مبین د پښتو ژبې مذهبي ناظم او د شمال مغربي سرحدي صوبې په شاوخوا کې په دیارلسمه هجري پیړۍ کې یې ژوند کاوه. دا د ده دی:

میان مبین ځکه مفهوم په خپل ژبه یې مرقوم کړ(هېوادمل، ۱۳٦٥ل، ۱۱۷، ۲۹۱ مخونه)

نورالله شاه د اتلسمې میلادي پیړۍ د حدودو روحاني عالم او مرثیه‌ویونکی شاعر و، د پښتونستان په اشترزي کې اوسېده. «*مراثي امامین*» یې نظم کړی، حضرت علي او کورنۍ یې په شعر کې ستایلي دي. دا د هغه دی:

مځکې نارې کړې هر کله راشې په ډېرې مینې مهمان د ما شې(هېوادمل، ۱۳٥٦ل، ٥۲۷ مخ)

مولوي نورالله یوسفزی په قام یوسفزی، رځړ، ملکزی دی چې اصلي ځای یې «یارحسین» دی او له هغه ځایه جهانګیري ته رالېږدېدلی دی. ده د دیارلسمې هجري پیړۍ په اواخرو کې ژوند کاوه او په ۱۲۹۰هـ.ق کال یې د نظامي ګنجوي سکندرنامه د «*چمن افغاني*» په نامه په پښتو خوارې نظم اړولې ده چې د بیتونو شمېر یې تر پنځو زرو اوړي او په ۱۳۰۹هـ.ق کال یې د نسخې لیکل بشپړ کړي دي. د «چمن افغاني» نظم خوږ، روان او په زړه‌پورې دی او د ترجمې اغېز نه په کې لیدل کېږي، دا ښکاروي چې نورالله یوسفزی پیاوړی او د ځپاند استعداد درلودونکی و او امکان شته چې پر دې کتاب سربېره یې نور پښتو شعرونه هم ویلي و(رفیع، ۱۳٥۹ل، ۱۸۷، ۱۸۸ مخونه).

د ده د وینا نمونه د دې اثر له پیل او پای نه یوه یوه را اخلو:

ربه ستا ذکر مې قوت د جګر اوسه ستا صفت زما د ژبې جوهر اوسه
په خپل فضل صفایي د ضمیر راکړه ضمیر ما له له هر چا نه منیر راکړه

شګفته مې په صورت کې د زړه ګل کړې په دې ګل مې په نغمه ژبه بلبل کړې

په ګلشن کې د وحدت قدم زما کړه په توحید باندې ځرګند علم زما کړه
کدورت مې له خاطر نه رابهر کړه په ما زاغ باندې روښان زما بصر کړه
شریعت او معرفت نصیب زما کړه په چمن کې د وحدت عندلیب ما کړه

پای:

اوس له تا نه مې امید د مغفرت دی هر چې وشو په هغې مې ندامت دی
مغفرت زما د پلار او مور نصیب که سوال قبول (کړه مل) کرم زما غریب کړه

هم د واړو مؤمنانو عفوه غواړم　　مقدم په حق د خپل گناه کې ژاړم
په دې ختم حکايت که نورالله　　ذکر دا که لا اله الا الله

(رفيع، ۱۳۵۹ل، ۱۸۸، ۱۹۵ مخونه)

«*کتاب المنير*» د علم القرآن په اړه کتاب دی چې شل بابونه لري او په پښتو مثنوي منظوم شوی، ناظم يې **حافظ زمان** دی. مخطوطه يې په ۱۲۴ مخونو کې (په ۱۳۴۱هـ.ق کال کتابت شوې) د پېښور پښتو اکاډمي په خطي زېرمه کې ساتل کېږي. حافظ خان زمان ديني عالم او د قرآن‌کريم حافظ و، په علم‌القرآن کې يې پراخه مطالعه لرله. هغه د جندول شاوخوا په مياکلي کې ژوند کاوه او د ديارلسمې هجري پېړۍ د اواخرو شاعر دی. دا د ده شعر دی:

دا کتاب المنير دی يوويشت بابه　　قواعد د هر باب زده که احبابه

(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۶۳، ۲۴۸ مخونه)

صالح محمد د محمد موسی زوی د ديارلسمې هجري پېړۍ د حدودو مذهبي شاعر دی، په هشنغر کې اوسېده. د هغه له منظومو آثارو «*حکايت رسول*» چاپ دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۲۷۲ مخ). صالح محمد د ديارلسمې صدۍ د لومړۍ حصې مشهور عالم، ادیب، شاعر او خوشنويس دی. په شعرونو کې (ملا) او (غريب) دواړه تخلصونه راوړي، يوه اوږده قصيده يې د حکايت او افسانې په شکل د مثنوي په بحر کې ليکلې ده، ټول ۱۰۲ بيتونه دي. ملا صالح محمد په ځينو ځايونو کې ليکي چې په قوم آوان دی او د هشنغر د مشهور کلي چارسدې خواته د درانې قبيلې په زاړه کلي منگله کې اوسېده او غالباً همله‌ته په حق رسېدلی وی.

د يادې قصيدې پيل داسې دی:

يوه شپه حضرت اوده شو په سحر　　پرې عتاب ملک ولو د اکبر
ای سروره ته په خوب ښايسته نه يې　　ښايسته يې په خدمت د رب اکبر
پيدا کړی مې يې ته د دې دپاره　　چې پېشوا شي د امت په لوی محشر
ته چې دارنگ بې غمه شوې سروره　　امتيان به دې داخل کړم په سفر
عام و خاص به يې اړ تاو کړمه دوزخ ته　　خلاص به نه کړمه له دوی نه يو بشر
دا آواز چې د حضرت په غوږو پرېوت　　په تن باندې شه ضعيف لکه تمر
ای ملا نصيحت تاته وايم راشه　　ته د زړه په خوږ واوره دا خبر

پای يې داسې دی:

په غريب ته فضل وکړې يوه خدايه ځنکدن له يې چې راشي پيغمبر
دا قصه مې په فارسي کې وه موندلې پښتو کړه صالح محمد په زهر و زور
زمانه شوه د شيطان له مکره ډکه دروغ نه وايم پرې وکړه ته باور
زه غريب ملا هر گوره گنهگار يم غني خدايه ما لايق کړه د خپل در
(افغاني، ۱۹٦۳م، ۱۴۸- ۱۴۹، ۱۵۱ مخونه)

ملا ظريف د ديارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې ژوند کاوه. مناجات ويونکی شاعر و. د هغه خطي شعرونه ليدل شوي دي. دا د هغه دی:

ظريف ستا صفت بيان کړ د زړه حال يې را عيان کړ (هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۲۸۷ مخ)

«مناجات ملا ظريف اخوند» حمديه او نعتيه مربعات دي چې ناظم يې ملا ظريف اخوند دی، مخطوطه يې پنځه ورقې ده او د سيال کاکړ کتابتون کې خوندي ده(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۲۰۲ مخ).

محمد نجيم د افغانستان شمال کې اوسېده، ژوند يې د ديارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې اټکل شوی دی. د مذهبي او ديني مسايلو په بيان کې يې (منظوم او منثور) *کتاب* له ۱۳۰۰هـ.ق کال مخکې تأليف کړی دی. دا د هغه دی:

ای د پاک احمد مختاره په مخلوق باندې ابراره
ما خبر کړې له اسراره د حضرت د عشق دپاره(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۵۵ مخ)

عبدالوهاب د ولي محمد زوی د ديارلسمې هجري پېړۍ په وروستيو کې يې ژوند کاوه. مذهبي ناظم او د ديني علومو طالب‌العلم و. *نامعلوم الاسم کتاب* ترې پاتې دی چې په تأليفولو کې يې له «بحر العلوم» څخه استفاده کړې ده. عارفانه او اخلاقي غزليات يې له همدې اثر سره مل دي. کتاب په دې بيت پيليږي:

کل ثنا په الله ښايي چې ثنا يې هر څيز وايي

علي اصغر آخونزاده د ملا محمد صفا آخونزاده زوی په ۱۲۱۲هـ.ق کال د لغمان د مرکز په کټل سيمه کې زېږېدلی او په ۱۲۹۷هـ.ق کال مړ شوی دی. هغه د ديني علومو عالم او د پښتو ژبې شاعر و. علي اصغر ظريف او مجلسي شخص و. فکاهي اشعار يې ويل. «*دقايق الاخبار*» او د اخوند دروبزه «*تذکرة الابرار والاشرار*» يې له تأليفاتو او ترجمو څخه وو(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۳۲، ۳۴۱ مخونه).

د پښتو ادبياتو دويمه دورې د **څوارلسمې پېړۍ** تر لومړيو دوو- دوه نيمو لسيزو پورې غځېدلې ده چې لاندې په همدې زماني محدوده او يا له دې راپدېخوا څو کلونو کې د ديني علماوو له خوا کښل شوي آثار يا هغه آثار چې منځپانګه يې ديني اړخ ولري، را اخلو.

د **ملا امير** په نوم يو شاعر تېر شوی چې ژوند يې د ۱۲۹۱هـ.ق په حدودو کې ټاکل کېږي، مردف ديوان لري او بشپړ متن يې د کندهار مجلې د درېيمې دورې، پنځم کال، د لينډۍ- کب ۱۳۸۵ل ګڼه کې د ضميمې په توګه خپور شوی دی. وروسته محمد معصوم هوتک همدا ديوان «*د ملا امير ديوان*» په نوم ترتيب او په ۱۳۹۵ل کال کې يې له کندهاره خپور کړی دی.

له بلې خوا پوهاند رشاد په «پښتانه شعراء» کې د امير په نوم يو شاعر سره د شعر له يوې بېلګې سره معرفي کړی دی. دا چې دا امير او د ديوان خاوند ملا امير يو شخص دی که بېل؟ په دې اړه لا کوټلې خبره نه ده شوې.

استاد رشاد ليکي: امير په ختې پوپلزی و، د کندهار د تلوکان نومي کلي کې اوسېده، دې سربېره پر دې چې ښه عالم، فاضل او ويښ پښتون و، د پښتو ژبې يو حساس انتقادي او اجتماعي شاعر هم و. به بذله‌ګويي او ظرافت کې يې ډېر شهرت درلود. د ده د پښتو مردف ديوان شته او د فارسي او عربي ديوانو د لرلو په باب يې هم خپرې کېږي. د ده ژوند د ۱۲۹۱هـ. ق[1] کې په حدودو کې ټاکلی شو او عمر يې تر ۹۵ کالو پورې رسېدلی دی. له دېوانه يې معلومېږي چې د ژوند وروستي کلونه يې په ګرش (هلمند) کې تېر کړي دي. د وينا نمونه يې:

منقلبې د دنيا تمامې چارې	شوې خرابې چې ليدې مې هغه لارې
عربي اسان ماړه نه دي په لوخو	نيشکر، بادام وهي زوی د حمارې
بلبلان، توتيان حيران پر صحرا ګرځي	کارګان ټوله پر ګلزار وهي چيغارې
نادان ناست بېغمه عيش کوي اميره	هوښياران دي مبتلا په سل دشوارې

(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۷۴۴ مخ)

استاد معصوم هوتک بيا ليکي: ملا امير د څورلسمې هجري قمري پېړۍ په سر کې په کندهار کې يو له هغو شاعرانو څخه و چې مردف ديوان يې درلود او شعرونه يې د خلکو خولو ته لوېدلي ول، هسې خو

[1] د ۱۳۹۱ل کال چاپ «پښتانه شعراء» کې دا کال ۱۳۹۱ ليکل شوی چې چاپې غلطي ده او دا خبره استاد معصوم هوتک د (ملا امير ديوان) کې هم کړې ده.

په پښتنو شاعرانو کې مور د (امیر) او (امیرمحمد) په نامه څو تنه پېژنو، خو پیاوړي محقق پوهاند عبدالشکور رشاد د پښتانه شعراء په درېیم ټوک کې د امیر په نامه یو شاعر معرفي کړی دی چې زمور تر بحث لاندې ملا امیر سره یې ځینې ګډ وجوات شته(هوتک، ۱۳۹۵ل - د، ۵ مخ). د استاد رشاد څرګندونې پورته راغلې دي.

معصوم هوتک کاږي: «په پښتانه شعراء کې د امیر د کلام د (ې) ردیف څلور بیتونه خوندي دي(پورته راغلي)، زه په غوخه توګه حکم نه سم کولای چې (امیر) او (ملا امیر) به یو سړی وي. د (امیر) په باب خو پوهاند رشاد لیکي چې ظریفه او شوخه طبعه یې درلوده، د ملا امیر په دیوان کې ما د ظرافت او شوخی صریحه نمونه ونه موندله. خو د عصر او د وخت نزدېوالي او د اوږده عمر تېرول او د ملا امیر په دیوان کې د (نهر سراج ویالې) یادونه بیا هغه وجوهات دي چې د دوی ترمنځ شریک دي. د اوسنیو مأخذونو، روایتونو او دیوان څخه دا فیصله ګرانه ده چې (امیر) او (ملا امیر) به یو شاعر وي. په هر صورت زه اوس دی د (ملا امیر) په نامه د موجوده دیوان له مخې تاسې ته درپېژنم او دیوان یې درته معرفي کوم، نوره خېړنه به راتلونکي ته پرېږدو، ګوندې داسې مواد لاس ته راشي چې د دې موضوع له سپینېدو سره مرسته وکړي».

دی زیاتوي، د ده د کتابتون په خطي نسخو کې د ملا امیر دیوان شته چې نوم یې «مخبر العشق جدیدی» پرې ایښی دی، دیوان مردف او د پای له خوا نیمګړی دی. د (ې) ردیف هغه څلور بیتونه چې د «پښتانه شعراء» په درېیم ټوک کې خوندي دي، دلته نشته. که (امیر) او (ملا امیر) یو شاعر وي، نو ښایي دغه بیتونه به په هغو پاڼو کې وي چې ضایع شوې دي (هوتک، ۱۳۹۵ل - د، ٦- ۷ مخونه).

د ملا امیر اشعار د ده پر علم او پوهې باندې شاهدي ورکوي. د تصوف خوا یې درنه ده. اخلاقي شعرونه هم لري. له اشعارو څخه یې معلومیږي چې ملا امیر په سلوک کې د نقشبندیه طریقې پیرو دی او څان د (شیخ کبیر) مرید بولي. (هوتک، ۱۳۹۵ل - د، ۹ مخ).

ملا امیر د متوسطې درجې ملا، د ټیټې سویې شاعر، د لوړ جوش و خروش مخلص سالک دیر دیوان یې له یو څو غزلو پرته نور ټول د سیر او سلوک مسئلو ته وقف کړی او د تصوف غامض او پېچلي موضوعات یې په ډېر ساده شعر کې بیان کړي دي. د ده شعر له لویه سره هم فوق العاده ساده او له هنري مزیته خالي دی او فني کمزورۍ، قافیوي نیمګړتیاوې او د وزن ناهماهنګۍ یې د لوستونکو مخې ته دېرې راځي، خو د تصوفي اړخ زیاتوب یې د شعري قابلیت د نه وړتیا له امله د شعر خوند و

رنګ نور هم ورپيکه کړی دی. (هوتک، ۱۳۹۵ل - د، ۱۱- ۱۲ مخونه).

د ملا امير د شعرونو څو بېلګو ته دلته تمېرو:

بدبخته زمانه شوه له طاعته غافلان دي — و دين ته يې شا کړې په دنيا پسې روان دي
بيدار شئ مؤمنانو لوی سفر لرئ په مخه — نکير منکر به درشي سوال جواب يې په ايمان دي
کامل که دې ايمان و هيڅ دې وېره خطره نشته — راووځه و نېکی ته بد عمل دي د ځان زيان دي
فهم وکه (اې) مؤمنه عاقبت دا دنيا پاته — محصل د هر چا مرګ دی ځنې پاتې يتيمان دي
سپين زړه دې تورېږي ګناهونه دې ډېرېږي — صيقل (يې) اسم ذات ده د شريعت که پر را وړاندې
پنځه روځې ژوندی دی عاقبت به روانېږو ژاړه — (ملا اميره) نفس شيطان دي دښمنان دي

(ملا امير، ۱۳۹۵ل، ۱۱۸ مخ)

په دې بيتونو کې يې مسلمان نېکو چارو ترسره کولو او آخرت ته په پاملرنې سره متوجه کړی دی.

بل ځای د مور و پلار، استاد، عالم او مسلمان د حقونو په باب کاږي:

مور و پلار و ته هيڅ مه ووايه پوچ — مرتبه به دې کمتره سي تر مچ
پاک سبحان يې بيان کړی په قرآن کې — د والدينو دی حق ډېر وباسه غچ
بيا مې حق د استاذانو ده بې‌شماره — ښه محکم يې ټينګوه لکه سپين ګچ
بيا حقونه پر هر چا د علماوو — د نبي ميراث يې وړی دی په پچ
يو مومن پر بل مومن لري حقونه — ښه محبت سره کوئ شيطان که تچ
له کفارو سره همېش منازعه کړو — له کفارو سره دی زمور د دين غچ

(ملا امير، ۱۳۹۵ل، ۳٦ مخ)

محمد رفيق عالم او استاد شاعر و، د ۱۳۰۰هـ.ق کال په حددو کې د پښور په اکبرپوره کې اوسېده. په ادبي حلقو کې په محمد رفيق شمس الفلک شهرت درلود، په شرقي علومو کې يې مطالعه لرله. په پښتو ژبه يې استادانه شعر وايه، د *شعرونو ټولګه* يې تدوين شوې او نور آثار يې، لکه «*رساله صفاتيه*» او «*ارشاد الطالبين*» يې چاپ دي. د محمد رفيق متفرق اشعار په «ګلزار پښتو» او «جشن نوروزي» کې ثبت دي. دا د هغه دی:

ضعيف محزن دی په در پروت زه رفيق — آه و فرياد ستا په دربار لرم

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۴۲ مخ)

مولوي محمد رفيق اکبر د پښتو له کثير الکلامو شاعرانو څخه دی. د پښتو غزل او مثنوي يوه درنه ذخيره د ده په آثارو کې پيدا کېږي. د ده ديوان د «*شمس الفلک*» په نامه شهرت لري او د پښتو د اسلامیه کالج په کتابخانه کې يې نسخه موجوده ده، ده د «*فردوسي شهنامه*» يې د دير د نواب په غوښتنه پښتو کړې وه چې د يوې برخې خطي متن يې د پېښور د پښتو اکاډيمۍ په کتابخانه کې شته. «*رساله صفاتيه، شمس الهدايت، روضة النعيم، ارشاد الطالبين او شمع الهدايت*» د ده نور منظوم پښتو آثار دي. د يوه روايت له مخې، مولوي محمد رفيق په ۱۳۰۳هـ.ق کال مړ شوی دی. د ده قلمي خدمت زمونږ په فرهنګي تاريخ کې خپل خاص ځای لري(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۵۴ مخ).

پر پورتنيو آثارو سربېره دی څو نور آثار هم لري چې لاندې ورته اشارې شوې دي:

«رساله صفاتيه» په ۱۳۱۸هـ.ق کال په ۴۰ مخونو کې چاپ دی. د تجويد په باب په دولس څپيزه مثنوي په زړه پورې رساله ده(رفيع، ۱۳۵٦ل، ۵۹۵ مخ).

«شمس الهدايت» ديني اثر دی، په مثنوي قالب کې يې ديني مسايل په کې نظم کړي دي. ۴۸ مخه دی او په ۱۳۳۰هـ.ق کال لاهور کې چاپ دی(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱۳۲ مخ).

«روضة النعيم» د وهابيت په رد کې محمد رفيق په پښتو ژبه ليکلی دی (بريتيش موزيم). په دغه رساله کې د تمباکو د منعې د ساز د سرود د منعې په نامه رسالې هم شته. *تحفة الاخبار* هم د دغه کتاب يو جزء دی چې په ۱۳۰۵هـ.ق (۱۸۸۸م) په لاهور کې چاپ شوی دی (رشاد، ۱۳۹۱ل - الف، ۳۵۴ مخ).

«*تحفة الاخبار*» ديني مثنوي ده چې د سوال او ځواب بڼه لري. په پيل کې پوښتنه شوې او بيا ځواب ورکول شوی دی. له پښتو متن سره هممهاله احاديث او قرآني آيتونه هم په کې راغلي دي. دا رساله د لاهور د ۱۳۰۵هـ.ق کال چاپ د «روضة النعيم» په حاشيه کې راغلې ده. مترجم او ناظم يې محمد رفيق دی(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۳۲ مخ). د يادولو ده چې «تحفة الاخبار ترجمه لباب الاخبار» د حديثونو پښتو منثوره ترجمه د محمد حسن هم شته.

«*قواعد القرآن*» د محمد رفيق مثنوي ده چې په پيل کې د حضرت محمد ﷺ معجزې او په پای کې د قرآن د تجويد قواعد بيانوي. چاپ نه ده، خطي نسخه يې ۵۴ مخه او د پروفيسور ولي محمد خان سيال کاکړ په کتابتون کې خوندي ده. بله نسخه يې د پوهاند ډاکټر جاوېد په کتابخانه کې ساتل کېږي(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱٦۱مخ).

يو مهم ټکی دا دی چې ښايي تر اوسه د پښتو ادبياتو څېړونکو ته نه وي معلوم او هغه دا چې په قرآن

مجيد کې د *يوسف د سورت تفسير* محمد رفيق په نظم او نثر په پښتو ژبو کښلی او د *تفسير محمدي* په نامه په ۱۳۲۲هـ.ق کال ۷۲ مخه د هندوستان د ډهلي په تحفه هند نومې مطبعه کې چاپ شوی دی. د دغه تفسير پيل په دې بيتونو شوی دی:

چې بهار شو د دانش د بزم شمع — سرو سر د امېد راښکه په دا طمع
پرنګين يې د غم شين تر زمرد کړ — شهنشاه يې پرې سلطان د عطارد کړ
حرکات يې په تأثير د مردمک شو — ثناخوان يې جن پري انس و ملک شو
تور کاکل يې مشک افشان پاس په سنبل شو — په نګهت يې ګوره مست ګل و بلبل شو

(هېوادمل، ۱۳٦۰ل، ج مخ)

ملا ميران د کندهار د خوا خوږ او مشهور شاعر دی، ښې ښې خوږې غزلې يې ويلې دي، اشعار يې زيات عشقي دي، د ۱۳۰۰هـ.ق په خواوشا کې يې حيات درلود. دی د شعر يو *ديوان* هم لري چې ډېر کم پيدا کېږي. نور د ده متعلق معلومات په لاس کې نشته. د کلام نمونه يې وګورئ:

نن مې رنځ د بېلتانه دی چې کړېږم نه رغېږم — که وصال راباندې راشي د غنچو په شان غوړېږم
د ليلی سينه باغچه ده رنګا رنګ ګلان پرې زانګي — زه بلبل د صبحدم يم د هر ګل په مخ پرېږم
د ظالم رقيب د لاسه بندي پروت په زولانه کې — خپل اشنا مې را خبر کئ سبا بيا په دار څړېږم

(رښتين، ۱۳۹۱ل - الف، ۵۱۲ مخ)

شاد محمد خان د پښتو ژبې شاعر او دانشمند سړی و. له شاعرانو عالمانو سره يې مينه وه او د شاعرانو په روزنه کې يې هم برخه اخيسته. د «*معارج النبوة*» پښتو منظومه ترجمه يې په ۱۳۱۲هـ.ق کال بشپړه کړې او دی هم تر دې نېټې وروسته وفات شوی دی. د انوار سهيلي پښتو ترجمه د «*دبير دانش*» په نامه ترې پاتې ده. د پښتو شعر *ديوان* هم لري چې د پېښور پښتو اکېډيمۍ چاپ کړی دی. شاد محمد خان په خپله شاعرۍ کې د رحمان بابا لاره نيولې ده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۸۴ مخ).

عبدالجبار مذهبي نظم او نثر په پښتو ژبه ليکه. د څوارلسمې هجري پېړۍ په اوايلو کې د پېښور په نواحيو کې اوسېده. د «*ګلشن وظايف*» په نوم منظوم او منثور کتاب يې تأليف کړی دی. دا د هغه دی:

زه عبدالجبار مريد د پير بغداد يم — همېشه زه په رضا د خپل استاد يم

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۲۹۳ مخ)

ميا محمد سعيد د ميا محمد جنيد زوی دی چې د نسب سلسله يې بهادر بابا المعروف په «ابک

صاحب» ته رسيږي او د دوی قبيلې ته ابک‌خېل مياګان وايي. نوموړی په ۱۲٦۲هـ.ق کال د پښتونخوا د مردان د کاټلنګ په کلي کې زېږېدلی او په ۱۳۳۴هـ.ق (۱۹۱۵م) کال مړ او د کاټلنک په هديره کې ښخ دی.

عالم، فاضل او د پښتو شاعر و، ژوند يې په خپل کلي کې تېر کړی دی. په ۱۳۰۴هـ.ق کال کې يې کشر ورور ميا عبدالجليل مړ شو چې د هغه د مړينې له امله ډېر ويرجن شو. له ډېره غمه او د کورنيو اقتصادي مشکلاتو له امله د بنګال «اسام» ته ولاړ او په دې سفر کې له زياتو ستونزو سره مخامخ شو. هلته يې «د زقوم پاچا کيسه» او ورسره «*د اسام سفرنامه*» ليکلې ده. د زقوم پاچا کيسه يې (*فتح العراق*) نومولې ده، لکه چې وايي:

ورته نوم شو مقرر (فتح العراق) بيا　　په فارسی‌کې دغه نوم لري اوراق بيا

د دې کيسې او سفرنامې ذکر شوې خطي نسخې د مردان په ساولډير کې د ميا وکيل شاه فقيرخېل په کتابتون کې خوندي دي(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۷۸۹ مخ).

له پورتنې بيت څخه معلوميږي چې «د زقوم بادشاه کيسه» يې له پارسي څخه پښتو کړې ده.

مولوي عبدالرؤف د مولوي عبدالرحيم اخونزاده شهيد زوی د علامه حبو اخونزاده لمسی د ملا فيض الله کاکړ کړوسی او د ملا بابړ کوسی دی چې په ۱۲٦۷هـ.ق کال کې په کندهار کې زېږېدلی دی. مورنی نيکه يې قاضي ملا غلام قندهاری و. نوموړي په عربي، پارسي او پښتو ژبه کې ښه قلم درلود او په دې درو ژبو کې يې تأليفات پرې ايښي دي. په ۱۳۳۳هـ.ق کال په کابل کې د وبا خپرېدو له امله وفات او د (کوه خواجه صفا) په لمن کې دفن دی.

مولوي عبدالرؤف خاکي په کابل کې د سراج الاخبار افغانستان په نامه انجمن جوړ کړ چې د هغه وخت زياتره منورين او پوهان په کې راغونډ وو. د دغه انجمن له خوا د نوموړي په نوښت او سرمحرری باندې د «سراج الاخبار افغانستان» په نامه مياشتنی جريده خپره شوه چې لومړی شماره يې د ۱۹۰٦م کال د جنوری پر ۱۱مه د کابل د ماشين‌خانې له چاپ‌خانې څخه راووتله او همدا يې وروستی ګڼه هم شوه، ځکه انګرېزانو بد په يووړل او امير ته يې د جريدې د بندېدو حکم وکړ(هوتک، ۱۳۹۸ل، ٤٦، ٤۷، ٤۸ مخونه).

مولوي عبدالرؤف په پارسي او عربي ژبه کې شاعري هم کړې ده. په پارسي اشعارو کې يې تخلص (خاکي) و. د ده معلوم تأليفات دا دي:

١) کشکول: د پښتو، پارسي او عربي اشعارو مجموعه ده. په دغه مجموعه کې يې د نورو شاعرانو شعرونه هم غونډ کړي دي.

٢) خردنامه امير – پارسي.

٣) تفسير سورة حشر- پارسي.

٤) سلامنامه عربي، د مزارشريف د روضې لپاره. د دغې سلامنامې يوه برخه د امير عبدالرحمن په امر د مزارشريف د روضې پر دروازه وليکل شوه.

٥) تفسير آيات العهود من کلام الملک الودود – پارسي.

٦) رد ناسخ التواريخ- پارسي، د ناسخ التواريخ د يوې برخې رد.

٧) رساله افغانستان- پارسي.

٨) عقد اللامي في تتبع بداء لامالي- عربي. د عقايدو او کلام په باب قصيده.

٩) کلمات امير البلاد في الترغيب الى الجهاد.

١٠) تفسير سورة فاتحه او د قرآن د دېرشمې پارې تفسير.

د افغانستان د ملي آرشيف په خطي نسخو کې د «تقويم الدين» په نامه يوه نسخه خوندي ده چې په ليکنه کې يې يو شمېر علماوو برخه اخيستې ده، په هغو کې د مولوي عبدالرؤف نوم هم شته، نور يې ملا ابوبکر، ملا غلام محمد، ملا عبدالخالق، قاضي مير جمال، ملا رمضان ممتحن، ملا سيف الدين، ملا سيد محمد ممتحن، ملا سعدالدين، ملا دادمحمد ممتحن، ملا عبيدالله ممتحن، ملا عبدالله او حافظ حبيب الله دي. د کتاب موضوع د جهاد په باب شرعي مسايل دي چې په دري ژبه ليکل شوی دی(هوتک، ١٣٩٨ل، ٥٠، ٥١ مخونه). د اکاډميسين هاشمي د معلوماتو له مخې، دا کتاب د عبدالرحمن خان په وخت کې چاپ شوی هم دی.

مولوي خاکي متداول علوم له خپل پلار مولوي عبدالرحيم شهيد څخه زده کړل. په تفسير، حديث، فقهې، بلاغت، رياضي، تاريخ او منطق کې يې ډېره پوهه لرله. په پښتو، پارسي او عربي ژبو يې ليکل کول. مولوي د امير عبدالرحمن په عصر کې د حضور ملا او د شاهي مدرسې مدرس و او د حبيب الله خان په عصر کې د سراج الاخبار افغانستان (١٣٢٣هـ.ق) لومړنۍ ګڼه د ده په مديريت چاپ شوه. په پښتو، پارسي او عربي ژبو د هغه د تأليفاتو شمېر ١١ ته رسيږي چې له دې ډلې کچکول په دوو ټوکونو (پښتو، پارسي، عربي) او په پښتو ژبه د فاتحې سورت او د کلام الله د اخري سورت تفسير يادولی

شو (هېوادمل، ١٣٥٦ل، ١٤٦- ١٤٧ مخونه).

«*نافع القراء*» د **ملا بازمحمد کندهاري** دی، د مؤلف په خط ده، د کتابت کال يې (١٣٠٦هـ) دی، د پاڼو شمېر يې (٥٠) دی. ملا بازمحمد د پښتو ژبې له ناظمانو او شاعرانو څخه و، سربېره پر دې نوموړی د متفرقو او بېلابېلو نظمونو کتاب هم لري. دغه نافع القراء نه دی چاپ شوی.

پيل: وروسته له بسم الله: هغه محمد چې لايق واړه غفار دی....

پای: زړه داغ لکه لالا... په غم کې (نجرابي، ١٤٠٢ل، ٢٠١ مخ)

علي احمد مسکين ديني عالم او د پښتو ناظم و، په شعر کې يې «مسکين» تخلص کاوه، د «*مفتاح الفرايض*» په نوم کتاب يې په پښتو مثنوي نظم کړی دی. د هغه نور متفرق غزليات هم شته دي. دا د هغه دی:

خوار مسکين په هجران سوی سرګردان دی　　تل بدله په ډېر انوار د دې ظلمت کړې

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٤٧٥ مخ)

د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون کې په ١٣٠ شمېره کې د خوندي «*مفتاح الفرايض*» د پاڼو شمېر ٦١ دی. ديني او شرعي فرايض او فقهي مسايل په مثنوي فورم کې په کې بيان شوي دي. موجوده پيل يې:

پاول کر محفوظ راکړه　　کل احاد پابند اکړه

دااارقام که دويم کان وي　　هر يو لس پر دا مکان وي (دوست، ١٣٩٩ل، ١٥٠ مخ)

محمد عمر اخونزاده د خواجه محمد اخونزاده زوی عالم او د پښتو شاعر و، د کلات په خالای سيمه کې دفن دی. «*در المختار*» يې په پښتو ژبه منظوم ژباړلی دی.

محمد رسول د جنوبي پښتونستان د سيمو ناظم دی. د ديني مسايلو په اړه کوچنی *رساله* يې په پښتو نظم کړې ده. ژوند يې د ١٣٠٠هـ.ق کال په حدودو کې اټکل شوی دی. دا د هغه منظومه ده:

پس ته وګرځوه ياره　　مبلغ اول ثاني د واره

ملا شاه‌پسند اخوند د پښتو مذهبي شاعر او صوفي عالم دی چې په ١٢٧٠هـ.ق کال د نښ په کاريز قصبه (خوردیزي) کې زېږېدلی او په ١٣٢٩هـ.ق کال يې له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي. نوموړي د «*زاد الراحلين*» په نوم کتاب چې پندونه، وعظونه او نصايح دي، نظم کړی دی. دا د ده دی:

پندونه ورته وايي شاه پسند　　ولې بند دی د اشنا ورځخه پاتې

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ۴۵۰، ۴۴۱، ۲۴۸ مخونه)

د نېش اخند صاحب (ملا شاه‌پسند اخند) د کندهار په لته کې يو ښاغلی سالک او منلی ستانه تېر شوی دی. دی د خپل وخت په متشرعو روحانيونو کې يو وتلی سړی و. يو منظوم تبليغي اثر «تنبيه الغافلين» يا «زاد الراحلين» لري چې سر تر پايه موعظه او پند دی. دی په خته پوښلزی او د نېش د سيمې د خوردیزو په کارښ کې زوکړی دی. اخوند صاحب چې ځوان شو، پر علمي تحصيل سربېره يې صنعت ته هم لاس واچاوه. ده خپلو مريدانو ته تر معمول ارشاد علاوه د عملي خير رسولو تلقين زيات کاوه. د وينا نمونه يې:

هر ستم آغاز شو په جهان کې د ظالم شوه پر مظلوم اوږده لاسونه
د مظلوم استغاثه هيڅ فايده نه کا چې حاکم ته ظالم ورکاندي موکونه

(رشاد، ١٣٩١ل- ج، ٧٢٣، ٧٢۴ مخونه)

محمد رحيم د څوارلسمې هجري پېړۍ د لومړيو وختونو له مشايخو او شاعرانو څخه دی، د ملا شاه پسند آخوند مريد و. تصوفي شعر يې وايه، د هغه *مثنوي* (١٣٢٩هـ.ق کال) د ملا شاه پسند آخوند له «زاد الراحلين» سره ضميمه ده او چاپ ده. د کندهار د شاوخوا شاعر و. دا د هغه دی:

محمد رحيم سو نالان ارمان، ارمان خو ارمان
د خپل پير صفت ثنا اوس کوم په ښتيا(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ۴۴۰ مخ)

عبدالحکيم د ديني علومو طالب‌العلم او د پښتو شاعر و چې په تنګي اشنغر کې اوسېده. پښتو، عربي او هندي ژبې يې زده وې. «*ګلبن نعت*» يې له هندي څخه په ١٣١٨هـ.ق کال ترجمه کړی او «*جنګنامه زيتون*» يې په ١٣٢٦هـ.ق کال منظوم تأليف کړی دی. دا د هغه دی:

چې طلب عبدالحکيم نه يې د غوښتو کړ د هندکو ګلبن نعت يې په پښتو کړ

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢٩٥- ٢٩٦ مخونه)

ملا رحمت د پښتو مذهبي ناظم و چې د څوارلسمې هجري پېړۍ په اوايلو کې په پښتونستان کې اوسېده. د «*زيتون جنګنامه*» يې په پښتو مثنوي نظم کړې ده. د ده له اشعارو دا دی:

ای رحمته وکړه شکر کتاب تم شه په يو وار دې زړګی سپک له ډېره غم شه

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ١٨٧ مخ)

شاعر دغه جنګي قصه په مثنوي کې نظم کړې، ٣٦ مخه دی او په ١٣٣٥هـ.ق کال لاهور کې چاپ

شوې ده(هېوادمل، ١٣٦٥ل، ۴۹ مخ).

د حميد سبک په کندهار کې د معاصرانو تر دورې پورې مقبول او ډېرو معاصرو شاعرانو د ده د سبک پيروي کوله او د حميد په غزلو يې مخمسونه ليکلي. ملا رحمت الله، ملا قلندر او مولوي عبدالغفار بريالی په معاصره دوره کې د هندي سبک پيروان بللی کېږي(هېوادمل، ١٣٧٩ل، ٢٢٧ مخ).

شاه‌محمد د کاکړو قبيلې د ناتورزي پښې شاعر و چې د ١٣٠٠هـ.ق کال په شاوخوا کې د کاکړستان په بوري کې اوسېده. د پښتو مذهبي ويناوال و. پښتو «*خوابنامه*» او «*فالنامه*» يې آثار دي. نور خطي مذهبي منظومات يې هم ليدل شوي دي. دا د ده دی:

بزرګي او لويي تا له　　خدای بې درکې زما لاله

د يادولو ده چې ملا احمد خليل هم «خوابنامه» او «فالنامه» لري.

سيد مذهبي ناظم او مترجم و. د محمد بن اسمعيل «*ارشاد العباد الی سبيل الرشاد*» يې په پښتو مثنوي ترجمه کړې دی. دا د ده دی:

هم رحمت وکړه بې حده　　پر سيد زمور محمده

هم پر آل پر اصحابو　　پر پيرو پر احبابو

مولوي سيد احمد د نولسمې پېړۍ په حدودو کې د پښور يوسفزيو په کوته سيمه کې اوسېده. د پښتو د «*ضروب الامثال*» مجموعه يې برابره کړې ده(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢٥٠، ٢٢۴، ٢٢٦ مخونه).

ملا سرور بنګښ په ١٨۴٩م کال د کوهاټ په ځنګل‌خېلو کې زېږېدلی، د ديني علومو عالم او د پښتو ژبې شاعر و. په ١٩٣٧م کال يې له ژوند سره مخه سېه کړې ده. د «*نغمات ملا سرور کوهاتي*» په نوم د هغه د شعرونو مجموعه د پښور پښتو اکاډيمۍ په خطي زېرمه کې خوندي ده(هېوادمل، ١٣٦٦ل، ٢۴٧ مخ). دغه اثر اکمل اسدآبادي په ١٩٥٨م کال تدوين او راټول کړی دی، د شاعر اشعار، ديني حکايات او منظومه معراجنامه په کې شامله ده. چاپ نه ده، لاسکښلې نسخه يې د پښور پښتو اکاډمۍ په آرشيف کې خوندي ده(هېوادمل، ١٣٦٥ل، ٢١٠ مخ).

ملا پير محمد اخوند د ١٣٠٠هـ.ق کال په حدودو کې په بلوچستان کې ژوند کاوه، مذهبي ناظم و، د هغه منظومه «*وصيت‌نامه*» ليدل شوې ده. دا شعر د ده دی:

وصيت خود سنت دی جانه　　پر همه مسلمانانه

حسن ديني عالم او د پښتو ناظم و چې د ديارلسمې هجري پېړۍ په وروستيو او د څوارلسمې هجري

پېړۍ په لومړيو کې يې ژوند کاوه. هغه د پښتونستان د شاوخوا په سفيد ډېرۍ کې د امامت پيشه لرله، د «*گلزار حيدري*» په نوم کتاب يې په ۱۳۱۳هـ.ق کال نظم کړی دی. دا د ده شعر دی:

قدرت گوره له خښتنه واوره دا له خوار حسنه(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۹۷، ۱۳۰ مخونه)

عبدالجليل امين مذهبي شاعر و او په شرعي او مذهبي موضوعاتو کې يې معلومات لرل. اخلاقي او مذهبي اثر يې په ۱۳۳۰هـ.ق کال نظم کړی دی. دا د ده دی:

لس ورځې اته مياشتې دوه کلونه په حساب د عبدالجليل امين شوې ای اخونه

سيد ابو عليشاه بن سيد امير الدين د پښتو د ښه بيان او خوارې کلام شاعر دی چې په ۱۸۳۳م کال کې د پېښور د شېقدر اسلام‌آباد کې زېږېدلی دی. ديني علوم يې په کتوزي کې حاصل کړل، يوه موده په «پنډيالي» کې اوسېدلی، په تدريس او تأليف بوخت و. «*جنگنامه حسنين، مناقب غوث الاعظم، در محفل، وفاتنامه، د جابر انصاري قصه، کليله او دمنه، ليلا او مجنون، نصير بربری، قصه قهقه، قصه شمشاد، قصه مرغابي، بختيار، مير حاتم، آدم درخانی، قصه دل افروز، جنگنامه محمد حنيفه، جنگنامه شيرعلي، جنگنامه کلان، د سيد ديوان او مناجات*» يې معلوم تأليفات دي. د هغه په *ديوان* کې غزلونه او په پښتو ملي آهنګونو اشعار ليدل کېږي. ابو عليشاه په ۱۹۳۰م کال کې وفات شوی دی. دا شعر د ده دی:

که ښکاره دې په چمن شي د مخ ګل په نارو سورو راځي ورله بلبل

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۴، ۱۰ مخونه)

«د پښتو ادبياتو تاريخ»، اثر لومړي ټوک کې بيا راغلي چې نومورۍ په ۱۹۰۳م کال مړ شوی او د ده ټول حکايتي آثار چاپ شوي دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲٦۰ مخ).

مولوي ازاد خان ساپی د محب الدين زوی په ختې لنډاخېل ساپی په ۱۲۸۲هـ.ق/ ۱۲۴۵ل کال د کاپيسا ولايت د تګاو درې د لنډاخېلو ساپيو په کلي کې زېږېدلی دی. نومورۍ د ديني علومو د زده‌کړو لپاره تر هندوستانه لاړ او په بېلابېلو فنونو کې يې مهارت حاصل کړ. ده پارسي، عربي، اردو او... ژبې زده کړې او خلکو د يوه پياوړي دانشمند په حيث وپېژاند. ده شعر او شاعری سره پوره علاقه لرله او په دې لړ کې د ښې قريحې او ښه ذوق خاوند و او ښه خوارې او پاخه شعرونه يې هم بوللي دي. په خپلو شعرونو کې يې زياتره پندونه او لارښوونې خای کړې دي او د شعر په فصيح او بليغه ژبه ولس ته تبليغ کوي، نو له همدې امله يې شعرونه له ادبي اړخه اجتماعي حيثيت هم لري. د شعر نمونه يې دا

ده:

دا وطن خپلو پردو کړ راته اور — ځکه نه پاتيږم دلته باقي نور
که مې خپل که مې پردي بېګانه دي — ټول وطن يې کړ سکروټې لور په لور
که سيالي ورسره کړمه ناپوهي ده — د جاهله سره چا وهلی زور
تا به هغلته سړی وبولم د — چې بدخور دې په خوږه کې کړ نسکور
ازاد خانه راشه غلی کښه بس کړه — چې جوړ نه کې د بدخور ځانته پيغور

مولوي ازاد خان په ۱۳۲۵هـ.ق کال په حق ورسېد او په خپله پلرنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شو (سعيد، ۱۴۰۱ل، ۱۳۸ مخ).

مولوي آزاد خان روانه شعري طبعه يې لرله او د پښتو په ملي اوزانو يې شعرونه ويل. کله کله يې په کلاسيک طرز سره د غزل او رباعي ويلو طبعه ازمايي هم کړې ده. د ده شعرونه زياتره شفاهي بڼه لري، د اشعارو کوچنۍ *مجموعه* يې راټوله او ترتيب شوې ده. د هغه شعر دی:

آزادي د آزاد خان ده په کلام کې — دی په سوال شرميږي ډېر له خپل شرفه

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴ مخ)

د کريمداد په نامه پښتو ادب دوه قديم شاعران لري چې يو يې روښانی کريمداد د (۱۰۵٦هـ.ق د حدودو) ديوان لرونکی شاعر دی، بل يې د اخوند دروېزه زوی کريمداد (۱۰۷۳هـ.ق شهيد) دی چې په پښتو او پارسي ژبو ليکوال او شاعر و. بل کريمداد متأخر شاعر دی چې په ولسي اوزانو کې يې هم شاعري کړې او غزلې يې هم ويلې دي. دغه کريمداد د خالقداد زوی او په خټه غلامزی ستريانې دی، د هندوستان په مالوه کې اته دېرش کلن مړ شوی دی. د مړينې نېټه يې د ۱۳۴۰هـ.ق شاوخوا اټکل کېږي. کريمداد د ديني علومو مبادي لوستي و، اصلي ټاټوبی يې د ډېرهاسمعيل‌خان د کلاچې سيمې دي. په خلکو کې په **ملا کريمداد** مشهور و. رب‌نواز خان جعفرزي گنډه‌پور کښلي دي چې د ده *ديوان* يې ليدلی چې زر بيته لري او په کوهي پاره کې له افضل خان مدرس سره و. د «بيدياني گلونه» نومې تذکرې د کښنو له مخې يې د زوکړې کال ۱۳۰۲هـ.ق ښوول کېږي. د حافظ عظيم د ديوان ټولوونکي ليکلي چې ملا کريمداد *ديوان* هم درلود. د حافظ عظيم (۱۳۲۱هـ.ق کال مړ) د ديوان ټولوونکي د دغه ديوان په تعليقاتو کې د کريمداد پاړکی خوندي کړی چې يوه په کې لنډه «*معراجنامه*» ده چې په ولسي وزمونو کې ويل شوې ده:

ناري وهمه سري لمبې مې په ځيګر لګاژي　　د دلبر جان وروځې ليندۍ باڼه کبير لګاژي
ناري وهمه دلبر جان ګل د بهار دی نا　　له خپله نوره پيدا کړی کردګار دی نا....
په حسن دارو کې ښکاره دی حسن‌دار دی نا　　دی په همه واړو خوبانو کې سردار دی نا

دا يوه اوږده چاربيته ده چې پورته يې څو بيتونه راوړل شول. د ده دا لاندې غزله د (بيدياني ګلونه) نومې تذکره کې خوندي ده:

بلبل صدا که په چمن کې چې دلبر راځي زهره جبين نازک بدن ماه پيکر به راځي
صف آرا شول بلبلان په ګلشن د ګلو　　چې نن چمن ته نازنين ماه انور به راځي...
اې کريمداده مه کړه غم د محشر له سختۍ　　چې شفاعت ته مصطفی نبي سرور به راځي
(هېوادمل، ١٣٦٢ل، ١٧٦- ١٧٧ مخونه)

امیرشاه چې په محمد علي مشهور و، ديني عالم او مذهبي ناظم و، د امامت پيشه يې لرله، د پښتونستان په شاوخوا کوټه کې اوسېده. هندوستان ته يې سفر کړی و او په لکنهو کې يې ژوند غوره کړ. امیرشاه تر ١٢٧٨هـ.ق کال ژوندی و. په پښتو او عربي يې شعرونه ويل، «*شمايل نبوي*» يې په پښتو منظوم کړی دی(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٥٤ مخ).

د (تبر هبر شاعران) د تذکرې د کښنو له مخې، امير شاه چې په اصل کې د پښتونخوا د کوټې اوسېدونکی و، بيا هندوستان ته ولاړ، په لکهنو کې يې استوګنه کوله، په ١٢٧٨هـ.ق کال يوه موده په ګوالیار کې هم اوسېدلی او کورنۍ يې په مليح‌آباد کې اوسېدله. له امير شاه څخه يوه شمايلنامه پاتې ده چې د مربعونو په کالب کې يې نظم کړې ده. د دغسې نظمونو له عمومي غوښتنو سره سم دا نظمونه هم روان دي او زده کړه يې اسانه ده. د پيل څو مربعونه يې دا دي:

پس له حمده له صلواته　　راشه غوږ ونيسه ماته
شمايل وايه هر چاته　　راکړه لاس د مدد ماته

* * *

ستا صورت چې خدای پيدا کړ ښه يې نوم محمد ستا کړ
ټول جهان يې پرې رڼا کړه　　راکړه لاس د خدای دپاره

دا منظومه رساله ګرده ١٢٦ بيته ده. د حضرت محمد ﷺ د شمايلو تر بيان وروسته په دې خوږو مربعو پای ته رسېدلې ده:

امیر شاه زهیر دی ژاړي　　صبح و شام درته ولاړي
ستا د لطف خوانچه غواړي　　راکړه لاس د رب دپاره
امیر شاه په خوږو پور کړه　　کل غمونی له زړه د ورکړه
په خپل حب کې یې چور چور کړه　　راکړه لاس د رب دپاره

د دې سیمې په ایجادي تعلیمي او دیداکتیک نظمونو کې د امیر شاه نظمونه تر نورو هغو د جذب او اغېزمنۍ له پلوه لږ څه دمخه دي(هېوادمل، ١٣٩٦ل، ٣٤٨، ٣٤٩ مخونه).

عبدالحلیم گل کاکاخېل ختک دیني ناظم و چې د څوارلسمې هجري پېړي په لومړیو کې په «زیارت مسجد گورگوره» کې اوسېده. په دیني علومو پوره پوهېده، «*څلوېښت حدیثونه*» یې په ١٣٠٨هـ.ق[1] کال او «منیة المصلي» یې د «*رخت محکم*» په نوم په ١٣١٦هـ.ق کال منظوم ترجمه کړي دي. دا د هغه دي:

دا تازه باغچه چې سازه شوه د گلو　　مناسب دي خبرول اوس د بلبلو(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢٩٧ مخ)

میا عبدالحلیم کاکاخېل ختک چې د وفات نېټه یې د ١٣٣٤هـ.ق کال شاوخوا ښوول شوې ده، «چهل حدیث» یې د شمالي هندوستان په بنارس کې یې سرته رسولی دی. دا پښو منظومه ترجمه د شیخ شاه ولي الله دهلوي له ترتیب کړي چهل حدیث نه په پښتو نظم ترجمه ده. په دې رساله کې پر مقدمې او خاتمې سربېره د حضرت پیغمبر څلوېښت حدیثونه په پښتو نظم ترجمه شوي دي. میا عبدالحلیم کاکاخېل د ١٣٠٥هـ.ق کال شاوخوا د هندوستان په بنارس کې دېره و. دی د «رخت محکم» په نوم اثر هم لري چې سوات کې یې لیکلی دی. په چهل حدیث کې رسالې مقدمې کې راغلي دي:

پس له دې به یې مرقوم کړم راویان　　د سفر شرح کړم زه درته بیان
فقط کښمه ترجمه درته مومنه　　خدای مې مه کړه په گناه لمن ریمنه
یو اردو ده بل په ما غمونه زورور و　　ډک جامونه مې د عیش واړه نسکور و
په نامه عبدالحلیم میا کاکاخېل یم　　اوس له خپلو عزیزانو ورونو بېل یم

په دې اثر هر حدیث شریف په پښتو نظم ترجمه شوی دی. د احادیثو په ترجمه کې د بیتونو د شمېر کوم خاص معیار په نظر کې نه دی نیول شوی، یو حدیث چې اوږد دی، په ډېرو او لنډ یې حتی په

[1] «په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پراوونه» ١٣٩٦هـ. ش کال چاپ ٣٤٩ مخ کې دغه کال (١٣٠٥هـ.ق) لیکل شوی دی.

درېيو بيتونو کې هم ترجمه کړی دی. د ځينو احاديثو تر ترجمې وروسته يې له حديث شريف مربوط ځينې حکايات هم منظوم راوړي دي.

د ميا عبدالحليم نظمونه هم د مثنوي په قالب کې راغلي دي. دا رساله چې نظمونه يې رواني لري او کله کله ناظم د ځينو خاصو الفاظو په استعمال سره غوښتي خپل نظم ته ښکلا ور وبخښي، اما دا نظمونه د ديني روزنې او ديني تعليم لپاره جوړ شوي دي(هېوادمل، ١٣٩٦ل، ٣٤٩، ٣٥٠ مخونه).

«*رخت محکم ترجمه منية المصلي*» په ١٣١٦ق کال ډهلي کې په ٢١٤ مخونو کې چاپ ده. فقهي مسايل دي چې له عربي منية المصلي څخه را ترجمه شوي او هم د کاکاخېلو په باب په زړه پورې بحث لري. دا کتاب په اته څېړيزه مثنوي کښل شوی دی(رفيع، ١٣٥٦ل، ٥٩٤ مخ).

مطهر کاکاخېل د شلمې پېړۍ د اوايلو ديني عالم او مذهبي ناظم و، د کاکاصاحب زيارت کې اوسېده. د «*دره نادره*» په نوم کتاب يې له سلطاني مجموعې څخه په ١٣٢١هـ.ق ترجمه کړی دی. دا د هغه دی:

حمد ثنا وايم بې‌حده　　پاک الله ته بې عدده(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٤٧٨ مخ)

«در نادره» په ١٣٢٣هـ.ق/ ١٩٠٥م کې لاهور کې په ١٣٦ مخونو کې چاپ دی. د ديني فقهي مسألو مجموعه ده چې په اته څېړيزه مثنوي ويله شوې ده(رفيع، ١٣٥٦ل، ٥٢١ مخ).

ملا سيد عبدالغني چې ناظم او پښتو ليکوال دی، په «*تذکره*» منظوم او منثور ديني کتاب کې يې اخلاقي، ديني او شرعي مسايل بيان کړي دي(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢٣٧ مخ). نوموړی د «*زبدة الکلام*» په نوم په نظم او نثر د لمانځه د مسايلو په باره کې هم اثر لري.

د سيد عبدالغني منظومې ديني مضمون لري، مگر شعري کيفيت يې هم د قناعت او توجه وړ او تر عادي ملايي نظمونو لوړ دی. د شعر ژبه يې ساده عام فهمه روانه او خوږه ده. د نمونې په ډول له «زبدة الکلام» څخه:

دين قايم په اقامت دی د صلوة　　راشئ خلقو دې کې ډېر کوئ احتياط
کړئ ادا يې په ادب او په حضور　　هم ساتنه يې بې حده کړئ ضرور
بې ادبه چې هر څوک کوي لمونځونه　　نور هغو لره هيڅ نشته ثوابونه
له مفسد، حرام، مکروه نه يې پرهېز کړئ　　په سنتو، مستحبو يې ځان تېز کړئ

له «زبدة الکلام» بله بېلگه:

په دا ځای کې دا کتاب شولو اوس خلاص　　پس له دې دې وي سلام د خاص الخاص

چې سید عبدالغني خلاص دا بیان کا جوړ رونق یې د تمام افغانستان کا
کل ابیات یې معشوقې دي جوړ نادرې هر یو نثر په معنا کښې مرغلرې....
(خدمتګار، ۲۰۱۲م کال، ۱۸۱۵، ۱۸۱٦، ۱۸۱۷ مخونه)

سید مجدد ننګرهاری دیني عالم او مذهبي ناظم و. په ۱۲۸۷هـ.ق کال د ننګرهار روداتو کې زېږېدلی دی. په منطق، فقهې، صرف، نحوه، ریاضي او اخلاقو کې یې مطالعه لرله. مذهبي اشعار یې ویلي او دیني مسایل یې په پښتو نظم ترجمه کړي، د *ملا جامي د ابیاتو شرحه* او «*رساله کحل*» یې تألیفات دي. د هغه نورې متفرقې شعري ټوټې هم شته دي. دی په ۱۳۴۷هـ.ق کال کې وفات شوی دی. دا د ده شعر دی:

اشعار مې کړه تیار په ډېر تلوار شي به اظهار گفتار مې په مقتدار تله قرار شي په خروار
(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۲۴۰ مخ)

محمد اکبر د سوات د کوکارۍ اوسېدونکی شاعر دی چې د دیوان یوه خطي نسخه ترې پاتې ده او په بریټیش موزیم کې خوندي ده. د کلام د سیاق او سباق او د دیوان له لیک او کاغذ نه یې دا اټکل شوی چې شاعر به غالباً د اتلسمې میلادي پېړۍ د دوهمې نیمایي او د نولسمې پېړۍ د پیل د زمانې سړی و. د بلوم هارټ او میکنزي د اټکل له مخې د دیوان د لیک زمانه اتلسمه پېړۍ ممکنه ده. په دیوان کې شل دپاسه دوه زره شعرونه دي چې زیاتره یې غزلونه دي، یو څو قصیدې هم لري، یوه چاربیته، ځینې مناجاتونه او یوه په‌زړه‌پورې معما هم په کې شته. د «*اسماء الحسنی*» یو مکمل او منظوم باب هم لري چې د شعر انداز یې ډېر ښکلی او سلیس دی. اکبر وایي چې دا حصه هغه د (حصن الحصین) له شرحې نه ترجمه کړې ده. د اکبر له شعر نه سړی پوهېدی شي چې هغه د دیني او ادبي علومو عالم او له سلوک او تصوف نه باخبر و. له خپلو خلکو سره یې مینه وه. د هغو د ژوندانه، دود دستور، رسم رواج، اخلاقو او عاداتو، ستونزو او پرابلمونو زیات انعکاس د ده په شعر کې شوی دی. سربېره پر دې د هغه شعر عشقي، اجتماعي، انتقادي او اخلاقي محتوا لري. هغه په پښتو، عربي، پارسي، هندي او ګوجري ژبو پوهېده او په دغو پنځو واړو ژبو یې یو ګډ غزل او د پښتو او پارسي بل ګډ غزل (شېر و شکر) یې مونږ ته رسېدلی دی(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۷۲۱، ۱۷۲۲ مخونه).

نوموړي په خپلو شعرونو کې د ټولنې پر نیمګړتیاوو انتقاد کړی، وایي:

لکه شوم چې په عالمو مسلم دی هسې نه دي مسلم چېرې سخیان

و حاتم ته نن خطاب د لېونې شي　　هوښياران دي د جهان واړه شومان
منافقو د اکبر زړګی رنځور کړو　　نه قبليږي يې سفره د آب و نان

* * *

د دې دور دا نابوده ياران ورک شه　　دا په خوی خصلت لړم و ماران ورک شه
چه اثر پرې د شرابو شوملې نه کا　　بېهوده لړلي خولې ميخواران ورک شه
چې په زړه د اکبر ټول سره لګيا دي　　دا بلا د تورو زلفو ماران ورک شه
چې د ميو په جرع له شرعې ډار کا　　د اکبر غوندې بې زړه ملايان ورک شه

(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۷۲٦ مخ)

سفيد شاه د پښتو شاعر و او د پېښور د علاقې په سراى کې اوسېده. يو کتاب يې د «*هدايت الاعمى*» په نامه منظوم کړى دى.

روهيال ليکي: د سفيدشاه په باب د «تېر هېر شاعران» مؤلف ليکلي دي: «....عالم سړى و، بيا وروسته بدرښو ته راغى او د سيد غلام خان په جماعت کې به يې امامتي کوله، د اويا کالو په عمر په ۱۳۲۷ق/ ۱۹۰۹م کې په حق رسېدلى دى، تقريباً د ۱۲۵۷هـ.ق په خواوشا کې پيدا شوى و(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۸۱۳ مخ). سفيد شاه ديني طالب‌العلم او پښتون شاعر و چې په اکوړه خټک کې زېږېدلى. دى د ديني علومو عالم او ظريف شاعر و. د هغه متفرق غزليات په «بهار نوروزي» کې چاپ شوي او «هدايت الاعمى» يې په ۱۳۱٦هـ.ق کال کې نظم کړى دى(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۲۱٦ مخ).

د يادولو ده چې د دولسمې پېړۍ د اواخرو او د ديارلسمې پېړۍ په اوايلو کې اوسېدلى شمس الدين غلجى هم د «هداية الاعمى» په نوم منثور اثر لري.

د کلام نمونه يې:

ياره راشه چې پخه کړو ښه حلوا　　درې څيزونه به زما وي او درې ستا
اور، اوبه، خاشاک زما په ذمه باندې　　شيريني، غوړي، وړه کړه ته پيدا
چې پخه شي بيا به دواړه سره نيم شو　　يعني زه به کړم خوراک ته تماشا(رشاد، ۱۳۹۱ل-ج،۸۲۲ مخ)

د يوې ښکلې غزلې دوه بيته يې دا دي:

اې دلبره لب شکرې ماه جبينې　　بيا د خيال جامې دې واغوستې رنګينې
د پتنګ غوندې دې زه په اور جليا کړم　　ترس دې هيڅ راباندې نه شي دل سنګينې

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۵۲ مخ)

میا قمر دین د کوزپړو د لوی کلي د مولانا احمد زوی د حافظ حفیظ الله لمسی په ۱۲۸۳هـ.ق[1] کال د پښور په ارچینی[2] کې زېږېدلی، وروسته له هغه برو ته راغلی، په دغه کلي کې متوطن شوی او بیا په ۱۳۳۶هـ.ق کې مړ او هلته خښ شوی دی. د «فرهنگ زبان و ادبیات پښتو» د لومړي ټوک په ۳۹۰ مخ کې دغه سنه ۱۳۲۶هـ.ق لیکل شوې ده. دی د ژوندانه په لومړۍ دوره کې د هډې مولانا نجم الدین د طریقت په حلقه کې شامل او په پای کې خپله هم یو لوړ روحاني مقام ته رسېدلی او د ډېرو زیاتو خلکو له خوا نمانځل شوی دی. برسېره پر روحاني مقام میا صاحب زبرست عالم تېر شوی دی. مروجه علوم یې، لکه: فقه، اصول، حدیث، تفسیر، منطق، صرف، نحو او نور لوستلي دي. د تصانیفو او تألیفاتو خاوند هم دی چې تصانیف یې عموماً دولس دي په لاندې ډول سره:

۱- *تنویر الضحی في تفسیر سورة الضحی*: دا کتاب د والضحی سورة په تفسیر کې په پارسي ژبه لیکل شوی او ۱۴۰ مخه لري او چاپ شوی هم دی.

۲- *ریاض شاداب*: دا کتاب د ایاک نعبد و ایاک نستعین په تفسیر کې په پارسي لیکل شوی دی او ۲۰۰ مخه لري.

۳- *ورضة [روضة] الواعظین*: دا کتاب ۴۰۰ مخه لري او د لسو حدیثونو په ترجمه او تشریح کې لیکل شوی دی.

۴- *جنان الجنان*: په دې کتاب کې میا صاحب د خدای تعالی ۲۶ حکمتونه د حضرت آدم علیه السلام په راکښته کېدو کې بیان کړي او ۲۴۰ مخه دی.

۵- *جمع الغرائب في المنع عن بیان المعایب*: دا کتاب د غیبت په قبح کې په عقلي او نقلي مستندو دلایلو په ۴۸۲ مخونو کې بشپړ شوی دی.

۶- *هدایة الاصدقاء*: دا کتاب د الصلوة المؤمنین د حدیث په ترجمه او تشریح کې لیکل شوی دی.

۷- د (افضل الذکر لا اله الا الله محمد رسول الله) حدیث شرح او ترجمه.

۸- دوه رسالې یې د اشارة په اثبات کې لیکلې دي چې یوه یې چاپ شوې هم ده.

---

[1] «د افغانستان مفاخر» لومړي ټوک ۳۷۷ مخ کې دا کال ۱۲۷۳هـ.ق لیکل شوی او په «فرهنگ زبان و ادبیات پښتو» ۳۹۰ مخ کې دا کال ۱۳۸۳هـ.ق کښل شوی، چې طباعتي غلطي به وي.

[2] «د افغانستان مفاخر» لومړي ټوک ۳۷۷ مخ کې (اچنی) لیکل شوی دی.

۹- يوه رساله يې د پاچا په حقوقو کې په رعيت ليکلې ده.
۱۰- بله رساله يې پر پاچا باندې د رعيت په حقوقو کې ليکلې ده.
۱۱- تر ټولو وروستی اثر يې د خواجه حافظ د ديوان شرح ده.

ميا صاحب برسېره پر لوړ علمي شخصيت د ډېرو ښو اشعارو خاوند هم دی چې زياتره يې پارسي دي. پښتو اشعار يې که څه هم چې زيات دي، مګر مورږ ته له يوې مثنوي څخه نور څه پوره لاس ته نه دي راغلي. البته له مثنوي څخه هم دومره معلومېدای شي چې اشعار يې سليس او روان دي. د دغې مثنوي څو بيتونه دا دي:

(د خير آباد اوسېدونکي قاضي شينواري ته خط)

اې قلمه څو موده دې آرام وکړ　　قلمدان کې دې ډېر خوب صبح و شام وکړ
نه دې سترې مشوانۍ کړه نه قرطاس　　نه ستومانه دې په خط کړو زما لاس
نه دې جوړ کړلو يو سخت ځای په کتاب کې　　نه دې نقل کړ يو بيت د عشق په باب کې
(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۷۳۲، ۷۳۳ مخونه)

عبدالقدير د عبدالحميد اخوندزاده صاحب زوی دی او د کامې په ملکانه نومي کلي کې د ۱۲۸۰هـ.ق په شاوخوا کې زېږېدلی دی. مولوي صاحب متداوله علوم، لکه فقه، تفسير، حديث، منطق، کلام، حکمت، فرايض، نحو، صرف، معاني، رياضي او نور په ښه ډول پای ته رسولی وو. ده د ۱۳۲۰هـ.ق په شاوخوا کې په نوموړي کلي کې تدريس کاوه او د طالبانو ښه حلقه ترې چاپېره وه، متقي او پرهېزګاره سړی و، علاوه پر دې د طب د فن کتابونه يې هم ويلي و. مولوي صاحب د شعر او ادب له دنيا نه هم بې خبره نه وو، د ښې شاعرانه قريحې خاوند و او ښايي چې ډېر ښه اشعار به يې ويلي وي، مګر يواځې دوه غزلې يې ترلاسه شوي. يوه غزل يې داسې ده:

دلبره وکړه لږ نظر پر ګدايانو خپلو　　شراب د لبو کړه قسمت په عاشقانو خپلو
بېهوښه پروت په غم د وصل مدام ستا دلبره　　که لږ نظر پر مدهوش وکړې د چشمانو خپلو
که زه شيدا يم سربلند خوښ يم په دواړو کونو　　نيمه خبره راته وکړه په لبانو خپلو....
(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ٦٥٧، ٦٥٨ مخونه)

عبدالقدير [چې د ژوند په لومړيو کې] طالب‌العلم شخص و او د وخت له رواجي علومو څخه برخه‌من و. په لرغوني طب کې يې هم لاس درلود، په پښتو ژبه يې په ملي اوزانو شعرونه هم ويل. دا د

هغه دی:

بې سببه خوف اخیستی یې عبدالقدیره ته غشي په شان ورک شه په هغه نبي سرور پسې
(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٣٢٠ مخ)

ملا میر یحیی په خټه پوپلزی دی او د شکور اخوند په کلي کې اوسېده. دی د خاکرېز خورا مشهور عالم او شاعر و. صرف، نحو، منطق او فقه یې ویلي و. د ده د شعر طبعه روانه او بې تکلفه وه. د ده غزلې د کندهار په هره خوا کې خپرې شوې او هر چا اورېدلې دي. وایي چې د ده دیوان د ده له یوه شاګرد سره و. مګر له هغه څخه ورک شوی دی. د حیات دوره یې له ١٣٠٠هـ.ق څخه راپدېخوا تخمینېږي. ده په ملي وزن ډېرې غزلې ویلي، لاندې یې د کلام نمونه ده:

تر زړګي مې وینې دارې شوې د رب دپاره مرمه　　د بېلتون په ملک نارې سوې چې زما یاره ګلفمه
دواړو سترګو مې آماس نن د هجران له زوره وکه　　د ډېر رنځه اوس بیماري شوې د خدای دپاره مرمه
(رښتین، ١٣٩١ل - الف، ٥٧٤، ٥٧٥ مخونه)

د یادولو ده چې د ملا میر یحیی کندهاري خطي *دیوان* د ښاغلي زلمي هېوادمل په قول له عبدالرحمن جان کندهاري سره دی(رشاد، ١٣٩١ل- الف، ٣٥٣ مخ) او په خپله استاد هېوادمل کاږي، ملا میر یحیی پوپلزی د پښتو په ملي اوزانو او د هندي موسیقۍ مقامونو په پیروي یې غزلې ویلې دي. د شعرونو مجموعه یې لیدل شوې ده(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٥٠٨ مخ).

رضوګل مروت چې کله کله په خپلو شعرونو کې خپل نوم «رضاخان» هم راوړي او «مولوي سید محمد رضاء» یا د «مروتو سعدي» هم بلل شوی دی، په ټبر مروت او د بنو د ضلعې د لکيمروت د تحصیل د ګورکه کلي اوسېدونکی و، نو ځکه کله کله خپل نوم «رضوګل ګورکی» هم لیکي. ده د څوارلسمې هجري پېړۍ په اوایلو کې ژوند کاوه، د خپل وخت متداول ديني علوم یې لوستي و او خلکو د مولوي صاحب په نامه یاداوه. دی د نقشبندیې طریقې پیرو او د حضرت عبدالقادر زکوړي چې په ډېرهاسماعیلخان کې اوسېده، مرید و. ده په پښتو او دري ډېر آثار کښلي چې دا لاندې آثار یې څرګند دي:

١-*آداب‌المریدین*: دا رساله ده په ١٣٣٠هـ.ق کال په دولس څپیزه مثنوي نظم کړې چې په همدې کال خپره شوې هم ده. په دې رساله کې یې د پیر په برخه کې اوه ځلوښت ادبه لیکلي او خپل دا اثر یې خپل پیر ته سوغات کړی دی. په دې اثر کې د رضوګل څو دري شعرونه هم شته. پښتو شعر یې روان

او بې‌ګټو دی. اثر يې ټول د غزل او رباعي په چوکاټ کې ليکلی او مريدانو ته يې د پيرپرستۍ ژور تبليغ په کې کړی دی. دا اثر په «هندوستان ستيم پريس لاهور» کې په ۳۰ مخونو کې خپور شوی دی.

۲- *جهدنامه*: د رضوګل مروت بل منظوم اثر دې چې په دولس څپيزه مثنوي يې نظم کړی او په ۱۳۳۰هـ.ق کال د لاهور په اسلاميه مطبعه کې خپور شوی دی. په دې اثر کې يې د وجود د بېلو بېلو غړو د ړېړدېدلو خواص او فولکلوري نتايج ښودلي دي. دا اثر شپاړس مخه لري.

۳- «*ګنجينه عمليات*» په نثر ليکل شوی او ځای په ځای پښتو او دري بيتونه هم لري.

د دري آثارو نومونه يې دا دي: ۱- کريما جديد، ۲- اخلاق نبي، ۳- در يتيم، ۴- تيغ رضايي بمرګ مرزايي، ۵- شواهد اتفاقيه، ٦- روضة المصطفی مشهور به بوستان رضاخاني به جواب بوستانی سعدي. ۷- نام حق منظومه به افغاني معه فارسی.

دی په خپل يوه کتاب کې چې په ۱۹۱۳م کال يې کښلی، ځان ۲۹ کلن بولي چې په دې اساس د ده د زېږېدو کال (۱۸۸۴م) کېږي او تر ۱۹۲٦م پورې يې ژوند يقيني دی، ځکه چې په دې کال يې د تعويذاتو کتاب خپور شوی دی. د رضوګل په ليکنو کې د مروتو د لهجې خصوصيات له ورايه برېښي. خو د يادولو ده، لکه مخکې چې راغلل، «اداب المريدين» يې په ۱۳۳۰هـ.ق کې نظم کړی، نو تر دې وخته ژوندی و.

د «آداب المريدين» رساله يې په دې ډول پيليږي:

د خالق حمدو ثنا کړم هر اوقات	درود وايم په سرور د کاينات
انبياؤ کې افضل زمور پېشوا ده	نام اشرف يې محمد عليه الصلوة
په چشمانو مې ياران څلور قبول دي	خو صديق اکبر په واړو کې دی زيات
طريقه نقشبنديه له ده روانه	هر مريد ته يې رسيږي فيوضات
دي په حقه څلور واړه مذهبونه	خو مذهب د حنفي خورِ تر نبات

د «جهدونامې» د پای برخه يې دا ده:

که ټوپيږي کينې پښې تله ګلګونه	وبه کړي سفر مونده به کړي مالونه
نوري پاڼې له کتابه وې پرېوتې	ځکه هر دواړو پښو پاته شولې ګوتې
په دې ځای مې که تمام دغه کتاب	بيا مې ورکړ سيوا سنګهـ ته په شتاب
سيوا سنګهـ او سادهو سنګهـ په چلتی چاپ که	مشهور (يې) تر کابل او تر پنجاب که

بې له دوی نشته دی چاته اجازت　　چاپ کولو ته تر ورځې د قیامت
نوم د ما که ځوک وغواړي رضاخان یم　　سر تر پایه ډک له سهوې له نقصان یم
ما ضلعه بنو مروت ده ګورکی یم　　غزنیخېل ځخه په لوري دمکی یم
تر قیامته دې صلواة والسلام وي　　آل سره دې په احمد نبي تمام وي(رفیع، ۱۳۵۹ل، ۲۴۹، ۲۵۱، ۲۵۲، ۲۵۳، ۲۵۵ مخونه)

رضوګل مروت د دویمې ادبي دورې د وروستي وخت شاعر دی چې ښایي د عمر وروستی برخه یې په درېیمه ادبي دوره کې تېره شوې وي. په پښتو آثارو کې یې دوه نظمونه او یو نثر دی.

قصه‌پرداز شاعر محمد اسمعیل د دیارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې د پښتونستان په نواحیو کې اوسېده. هغه مذهبي قصص په پښتو نظم کړي دي. «*قصه آهو*» د هغه منظوم یادګار دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۲۹ مخ).

ملا احمد جان د پېښور د دواوړ په مړدانه کې اوسېده. د پښتو کیسه‌لیکونکی شاعر دی چې په پښتو نظم یې زیاتې کیسې لیکلې دي. د ده ژوند تر ۱۳۳۲هـ.ق پورې معلوم دی. دا هغه وخت دی چې نومورې د «*شهزاده شیرویه کیسه*» په کې پای ته رسولې ده. دغه کیسه یې په مثنوي کې لیکلې ده. دی له کیسو سره ځانګړې مینه او شوق لري. د ملا نعمت الله د مکتب تکړه شاګرد دی. ده ته به د پېښور کتاب‌پلورونکو د پښتو کیسو لیکلو فرمایش ورکاوه، ده به لیکلې او هغوی به چاپولې او ده ته به یې اجوره هم ورکوله. دغه لاندې کتابونه او کیسې د ده په نامه مشهورې دي:

د ورقه او ګلشاه کیسه، د ممتاز کیسه، د شهزاده بهرام او ګل اندامې کیسه، د امیر حمزه داستان، د شهزاده شیرویه کیسه، د یوسف او زلیخا کیسه او د نظامي سکندرنامه یې هم په پښتو کړې ده(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸٦ل، ۲۳۷ مخ).

ملا احمد جان پر قصو سربېره غزلې او د پښتو په ملي اوزانو شعرونه هم لري. د هغه په تألیفاتو کې دا هم شامل دي: *شهزاده فلک ناز، طوطي‌نامه* او نورې خیالي او روایتي قصې معلومې دي. دا بیت د ده طبعه ده:

مرور یم ګیله‌من له خپله یاره　　زه احمد جان د لویې لارې قلندر شوم(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۷ مخ)

د څو آثارو تفصیل یې داسې دی:

«شهزاده بلند اقبال او قمرجبینه» د شرقي سیمو خیالي او روایتي قصه ده چې ملا احمد جان د نورو ژبو

له ادبياتو په پښتو منظومه کړې ده. د ده ترجمه ۴۸ مخه ده اوږ پېښور کې چاپ ده.
«شهزاده شيرويه» په پښتو منظومه ترجمه شوې قصه ده چې ناظم او مترجم يې ملا احمدجان دی. دا قصه درې ځلي چاپ شوې ده، لومړی ځل په ۱۳۳۸هـ.ق کال او دوهم ځل په ۱۹۰۶م کال کې چاپ شوې ده.
«سکندرنامه» د پارسي سکندرنامې په پښتو مثنوي ترجمه ده چې ژباړن او ناظم يې د څوارلسمې پېړۍ قصه‌پرداز شاعر ملا احمد جان دی. دا کيسه ۱۴۴ مخه او لاهور کې چاپ ده. موضوع يې د سکندر مقدوني حالات او د هغه په باره کې حکايات دي(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱۳۴، ۱۳۵، ۱۲۲ مخونه).
«طوطي نامه يعني قصه طوطي مينا» د ملا احمد جان د توتي او مينا زباني کيسه ده چې د خلکو له خولو يې په دولس څېيزه مثنوي نظم کړې او ځای په ځای يې غزلې هم پرې ور زياتې کړې دي. دا اثر پېښور کې په ۸۰ مخونو کې چاپ دی(رفيع، ۱۳۵٦ل، ٦۵۹ مخ).
«حيدري گلدسته» د ملا احمد جان په اوږده بحر کې پښتو مثنوي ده چې بشپړ نوم يې «گلدسته حيدري مشهور به جنگنامه حضرت علي» دی. په دې مثنوي کې د حضرت علي ﷺ د جنګونو په باره کې روايتي قصص راغلي دي. ۱۱۲ مخه ده او پېښور کې چاپ ده.
«ورقه و گلشاه» يې په پښتو مثنوي بيان کړې او په ٦۴ مخونو کې په ۱۳۴۰هـ.ق کال لاهور کې او بيا څو ځله پېښور کې چاپ شوې ده(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱۷۳، ۲۱۵ مخونه).
مولوي تاج محمد د مير احمد خان زوی او په ۱۸۷۰م کال زېږېدلی دی. پلار يې د امير شېر علي خان د پاچاهۍ په وخت کې له لوګر څخه پېښور ته په کډه تللی و. د ده تعليمي معيار ډېر اوچت و. په پښتو، پارسي، اردو، عربي او انګريزي ژبو باندې ډېر ښه پوهېده او په نورو علومو کې يې د (بي، آی) درجه اخيستې وه. همدارنګه يې لس کاله په هند کې د اسلامي علومو په زده‌کړه هم تېر کړي وو. نوموړی د خپل وخت پياوړی عالم، مبلغ، سياسي شخصيت، مجاهد، مدرس او زاهد و. يو څه موده د پېښور د حمايت الاسلام په های سکول کې استاد و. بيا وروسته د پخواني صوبه سرحد د ټولو اسلامي مدرسو رئيس او مهتمم شو. د انګرېزانو په خلاف غزا کې يې برخه اخيستې ده. *څلور کتابونه* چې په مختلفو ژبو د هر ډول مضامينو مجموعې دي، ورځخه په يادګار پاتې دي. د يوه کتاب د غرض په باب ليکي: «دا کتاب مې جمع کړ د دې لپاره که چېرته څوک وغواړي په دې لار کې تلل وکاندي او څوک بيا نه مومي چې لار ورته وښيي. نو دا کتاب زما به هغه ته لار وښيي». مولوي صاحب د منګلو د

بغاوت په کال (۱۳۰۳ل) د ترنګزو حاجي صاحب سره هلته تللی و، د غوږ د سخت درد له امله وفات شو او د خوست ولایت د عسکري چوپۍ ترځنګ په یوه باغچه کې خاورو ته وسپارل شو(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸۷ل، ۵۷۹ مخ).

احمد دین طالب د خپل وخت ښه ملا، عالم او شاعر سړی دی. په اصل د اشنغر د اتمانزو او په خټه فریدخېل و، مګر زیاته استوګنه یې په سوات کې وه. وروسته مردان ته راوستل شوی، هلته د عمر تر پایه اوسېدلی، همله وفات او خاورو ته سپارل شوی دی. د احمد دین د اشعارو ټول دفترونه له صحبت خان (د مردان د سیمې نومیالی سندرغاړي) سره وو چې د ده د *اشعارو لومړی ټوک* چې یواځې رباعیات او کتابي غزلونه دي، چاپ کړی او *دوهم ټوک* یې چې په چاربیتو او نیمکو شامل دی، هم د چاپ لپاره تیار کړی و. احمد دین طالب د ځوارلسمې پېړۍ د لومړۍ برخې عالم او پوه شاعر دی. د ده په اشعارو کې خاص خوند او سوز پروت دی، څه چې وایي د زړه له درده یې وایي، د ده په اشعارو کې د عشق او مینې هنګامه ډېره توده ده. په صداقت او رښتیا ویلو، عشق او تصوف کې د رحمان بابا پیرو دی او په نازکخیالۍ کې د حمید د لارې ملګری دی، مګر په عام ډول د رحمان بابا د سبک پیرو معلومیږي. د ده په اشعارو کې که څه هم رواني او اساني زیاته ده، خو کله کله د ملایۍ او طالبۍ په جوش کې ډېرې مشکلې عربي کلمې هم استعمالوي او خپل شعر د عامو خلکو د پوهې له چوکاټ نه وباسي، لکه:

نصیب د نصیب ستا به نهیه نه شي　　په سلم د سلم کینه وباله مه شه

(رښتین، ۱۳۷۲ل، ۲۰۲، ۲۰۳ مخونه)

محمد اشرف غمګین د احمد دین د زېږېدو کال ۱۲۸۳هـ.ق/ ۱۸٦٦م او د مړینې کال ۱۳۵۳هـ.ق ښوولی دی(فقیرخېل، ۱۳۹۲ل، ٥٦ مخ)؛ خو څېړونکی عبدالله جان عابد وایي چې "صرفِ میر چاربیته" د احمد دین طالب د ژوند د اخري برخې یادګار دی. د دغې چاربېتې د لیک نېټه " ۱۳۵۳هـ ماه جمادي الاول" ده. دغه اندراج د عیسوي کال د "اګست ۱۹۳۴م" سره برابر دی. دغه چاربیته او دغه لیکلی کال او میاشت د احمد دین طالب په خپل خط دي، ځکه نو مونږ په وثوق سره ویلی شوچې د هغه ژوند د اګست ۱۹۳۴م پورې یقیني دی، اوس نو په دې حساب او حواله د اګست ۱۹۳۴م نه وړاندې د پښتو ادب په ځینو منابعو کې د هغه د وفات په اړه ټول راوړل شوي کلونه د اعتبار وړ نه دي (عابد، ۲۰۲٦م، https://www.facebook.com/abdullah.janabid.٥/posts/pfbid).

احمد دين طالب د پښتو، پارسي، عربي او اردو ژبو باندې پوه، لوی عالم، حکيم او شاعر و. د ديني علومو او حکمت زده‌کړې سره سره په پښتو ادب کې يې ولسي شاعري ته يو جلا رنګ او آهنګ ورکړی دی او دغه ولسي شاعري يې په ډېره خوږه او ساده پښتو کې هم د ولس په ولسي رنګ کې وړاندې کړې او د ولس د احساساتو او جذباتو ترجماني يې په کې په ډېر ښايسته انداز کې کړې ده. د ده شعرونه د عشق و محبت، له سوز او ساز نه ډک په سر تال پوره ښکلي طرزونه او آهنګونه لري، په شعرونو کې يې د علم و حکمت، پند و نصيحت، زهد و تقوا ملغلرې هم پېيلې دي(فقيرخېل، ۱۳۹۲ل، ٥٦، ٥٧، ٥٨ مخونه).

څېړونکی عبدالله جان عابد کاږي، "صرفِ مير چاربېته" د احمد دين طالب اثر دی. دا علمي چاربېته تر اوسه ورکه وه چې اوس د لوی خدای په فضل وموندل شوه. د دې چاربيتې بنياد د سيد شريف جرجاني عرف سيد السند (۱۳۳۹ـ۱۴۱۳م) مشهور کتاب "صرفِ مير" دی. دا کتاب چې په فارسي ژبه ليکلی شوی دی، د عربي علمِ صرف (Morphology) يو معروف او بنيادي درسي کتاب دی، کوم چې د سيد شريف جرجاني په وروستو تصانيفو کښې شمېرلی شي.

د احمد دين طالب دا چاربيته "کړه بند چاربېته "ده چې په اتلسو کړو مشتمله ده. هره کړه يئ درې جزيزه ده او درې ځله سر سره تړلې شوې ده. په دې چاربېته کښې احمد دين طالب ټول صرفِ مير رانغاړلی دی. د احمد دين طالب دا هڅه په اصل کې زمونږ د ځينو مشرقي ژبو د هغه روايت هم يوه مضبوطه کړۍ ده، په کوم کې چې به د دغو ژبو ناظمانو دقيق درسي متون د طالب علمانو د اسانتيا لپاره په منظومه بڼه وړاندې کول. د دې ګڼ مثالونه په دغه ژبو کې موجود دي، خو په پښتو ژبه کې دا د خپل نوعيت وړومبی متن دی چې ژر به په مدونه بڼه، سره له مقدمې او توضيحاتو وړاندې شي.

د احمد دين طالب د اشعارو ديوان لومړی د احمد طالب ديوان او بياد احمد دين طالب کليات په نوم په ۱۳۹۲هـ.ش کال د ميا وکيل شاه فقيرخېل په سريزه او زيار په کابل کې چاپ شوی دی.

دا يې د کلام بېلګې:

د ګلو لښتې تاندې رب دې کړه زما	په قهقهه چې خاندې رب دې کړه زما
د ګل ياسمنه يې نازک بدنه	لاس مې واخله د کمينه يې نازک بدنه
رسوا دې کړمه په مينه يې نازک بدنه	ستي شوم په هجران رب دې کړه زما

د ګلو لښتې تاندې رب دې کړه زما　　په قهقهه چې خاندې رب دې کړه زما

(طالب، ۱۳۹۲ل، ۳۹۸ مخ)

د احمد دین په اشعارو کې اخلاقي او اجتماعي رنګ زیات لیدل کېږي، خصوصاً د بې‌وفایۍ، غلطۍ او ټګۍ غندنه کوي او له کم اصلي څخه ډېر سر تکوي:

هغه یار چې بې وعدې شي مه یې وینه　　که سپین مخ د پالودې شي مه یې وینه

چې په زړه یې محبت درسره نه وي　　که خپل سود له درنزدې شي مه یې وینه

احمد دین د ژوندانه د چال چلند په باره کې د اعتدال لارې ملګری دی، وایي:

داسې خوږ لکه د شهدو شکر مه شه　　تریخ په مثل د حنظل د ثمر مه شه

که ډېر خوږ شوې لکه قند خلک به دې وخوري　　ببرته قی لکه د زهرو د زر مه شه

میانه د تریخ او خوږ په منځ کې اوسه　　په بد خوی او بد خصلت مشهور مه شه

(رښتین، ۱۳۷۲ل، ۲۰۴، ۲۰۵ مخونه)

عبدالله د څوارلسمې هجري پېړۍ د اوایلو ناظم او خطاط و او د کندهار په اطرافو کې اوسېده. د هغه ژوند تر ۱۳۳۰هـ.ق کال پورې یقیني دی. دیني منظومې او د پښتو خطي نسخې یې په خط لیدل شوې دي. دا د هغه دی:

هر حاجت زما پوره کی　　زه عاصي یم هر ګناه مې مغفوره کې

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۲۵ مخ)

عبدالله د پښتو مذهبي شاعر دی، په ۱۸۳۴م کال د هشنغر په اتمانزو کې زېږېدلی، دیني علوم یې په خپله سیمه کې زده کړل، د امامتي پېشه یې لرله او په ۱۹۱۴م کال یې له نړۍ سترګې پټې کړې. دا د ده دی:

دین اسلام واخله دلبره دیدار راواخله د سرو سترګو خمار را(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۲۷۵ مخ)

جناب (میا) کاکاخېل چې نوم یې جناب د پلار نوم یې میا حجاب په خټه کاکاخېل د زیارت کاکا صاحب اوسېدونکی دی، په ۱۸۴۴م کال زېږېدلی او د ۸۵ کالو په عمر د ۱۹۲۹م کال د نومبر په ۹مه وفات شوی او په خپل کلي کې د خپل باغ په یوه ګوټ کې ښخ دی. په سوداګرۍ یې خپله ګوزاره او ژوند تېراوه، د وخت مروج علوم یې زده کړي وو، په ادبي علومو، شرعي او اخلاقي مسایلو کې د مطالعې او نظر څښتن و. په پښتو او دري ژبو یې شعر وایه او نثر یې لیکه. خپل عمر یې په تبلیغ، تألیف

او د خلکو ترمنځ په روغه جوړه کولو کې تېراوه. تألیفات يې دا دي:

۱) *ديوان د ميا جناب کاکاخېل*: په ۱۹۷۰م کال د عبدالخالق خليق په واسطه پښور کې په ۳۲۸ مخونو کې چاپ شوی دی.

۲) *مدارج النبوة*: نږدې دوه نيم سوه مخه پښتو ژباړه ده.

۳) *علاج الاطفال*: يوه منظومه پښتو رساله ده.

٤) *دعای سرياني*: په پارسي ژبه ليکل شوې ده.

د کلام بېلګه يې:

وښيه جبين د غره له سره ماه جبينه — لېرې کړه تياره زما له زړه او له زمينه
رب چې ته ليلا کړې ما مجنون وته دلبره — زه مجنون به څه کوم په بله ليلا مينه...

ختې ساه د مړو او د ژوندیو تر ميانه پروت دی مل د جناب ته شې يا الله العالمينه(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۸۹ل، ۱۲۰، ۱۲۱ مخونه)

«*الحمدلله*» د ديني نثرونو او ځينو دعاګانو د نعتيه اشعارو ټولګه ده چې ناظم يې **حاجي محمد امين مداح** دی. په ۱۳۲۹هـ.ق کال پښور کې چاپ شوې ده(هېوادمل، ۱۳٦٥ل، ۱۲ مخ).

مولوي حمدالله د سيد عبدالله زوی دی، د کامې د مراد علي صاحبزاده ورور و. حمدالله د مذهبي متداولو علومو تحصيل کړی دی، په عربي، دري او پښتو کې ليکوال او شاعر و. د «*نمونه عبوديت*» کتاب يې په دري، عربي او پښتو نثر او نظم ليکلی او مذهبي- تصوفي مضمون لري. قلمي نسخه يې د مؤلف د زوی د کامې حاجي احمدالله سره شته چې په ۹۴ مخونو په خپله د مؤلف په قلم ليکل شوې او ليکل يې په ۱۳۳۰هـ.ق کې پای ته رسېدلي دي. د حاجي احمدالله د وينا له مخې، د ده د پلار د پښتو نور شعرونه هم شته. يو نظم يې دا دی:

چې کنتم خير امت مونږ په دې يو — چې امر و نهي ټول د رب پسې يو
نور هيڅ نشته له دې بهتره په دنيا — چې راټول شو په ننګه د دين د مولا
په کل محشر به کوم يو مفتخر وي — په ختم اخر چې دين لري منتصر وي
په کومک کې د دين ودرېږه محکم — چې کومک شي له تا سره جمله عالم
(بختانی، ۱۳۹۱ل. ۹۲۲، ۹۲۳ مخونه)

مولوي عبدالواحد مفتون د فيض محمد زوی په ختې ترين دی. د کندهار ښار د عمران په کوڅه کې

زېږېدلی دی. خپل ژوند يې په تدريس او ليکنو کې تېر کړی دی. په ۱۳۱۴هـ.ق کال يې د کاکړ شمس الدين ديوان په ښکلي خط ليکلی دی. د هغه ديوان په پای کې يې دا شعر ليکلی دی:

د هجران له غمه داسې يم په تاب کې　　لکه سره سيخ چې رغړوي څوک په کباب کې
د فراق له لاسه ژړا کوم دوه قسمه　　لکه راز د زېروبم چې په درياب کې
چې تصوير دې د شبرنګ ګيسو محکم کړم　　هغه دم مې زړه بند سي په طناب کې....

مولوي مفتون سربېره پر پښتو په عربي، دري، اردو او بلوچي هم پوهېده. د هرات د پيرانو او مشايخو په باره کې يې *رساله* ليکلې ده. بله رساله يې په *تصوف* کې او بل کتاب يې د «*جواهر الاعراض*» په نامه ليکلی دی. مولوي مفتون د ۱۳۱۲ل کال د ميزان په ۲۲مه مړ شوی او په کندهار کې د لويې ويالې پر غاړه ښخ دی(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۹۲۹ مخ).

محمد رضا ديني عالم او د قلم خاوند دانشمند و. دی د ملا مير بابا زوی و او د ننګرهار په مزينه کې اوسېده. د تولد او وفات کلونه يې نه دي معلوم، خو ليکل شوي چې په اويا کلنۍ کې وفات شوی دی. په پښتو او پارسي يې شعرونه ويل او نثر يې هم ليکه. آثار ترې پاتې دي، لکه «*تحفة السالکين*» او «*ګلچين جام عشق*». دا د ده شعر دی:

زه محمد رضا فقير يم　　خاص مريد د هغه پير يم
نيک نظر ته يې په ځير يم　　د اجمير چشتي بابا(هېوادمل، ۱۳٦٥ل، ۲۹۳- ۲۹۴ مخونه)

«*گنجة الگوهري*» په درېيو برخو کې منظوم کتاب دی چې څلور زره درې سوه او پنځوس بيتونه لري. لومړۍ برخه يې مثنوي ده چې ديني او مذهبي قصص او ځينې تاريخي پېښې په کې دي. په دوهمه برخه کې د قرآن کريم د آيتونو شرحه، احاديث او ديني مسايل لري. په درېيمه برخه کې د پند و نصيحت مسايل راغلي دي. دا برخه غزلې هم لري. دا کتاب **دوست محمد خان سواتي** په ۱۳۳۲هـ.ق کال بشپړ کړی، چاپ نه دی او لاسليکلې نسخه يې په سوات کې شته.

«*ګلزار ولايت*» د پيرپايي د اوسېدونکي **مولوي کرامت شاه** د پښتو او پارسي اشعارو مجموعه ده چې په ۱۸۴ مخونو کې چاپ ده. د دې مجموعې د اشعارو مضامين زياتره ديني دي، په نورو موضوعاتو هم په کې اشعار پيدا کېږي. مولوي کرامت شاه د څوارلسمې هجري پېړۍ شاعر و، د ديني علومو عالم او د پښتو او پارسي ژبو شاعر و. يادې شوې د شعرونو مجموعه يې په ۱۳۳۰هـ.ق کال چاپ شوې ده. مولوي د پېښور د شاوخوا په پيرپايي سيمه کې ژوند کاوه. دا د ده ده:

ده وې اې کرامت شاه راشه گفتار کړه څو خبرې راته جمع د خپل پلار کړه(هېوادمل، ۱۳٦٥ل، ۱۷۸، ۱۷٥، ۲۸۷ مخونه)

«*رساله میراث*» د فیض الله منظومه رساله ده چې ناظم يې د ميراث مسايل په پښتو مثنوي بيان کړي دي، لاسکښلې نسخه يې ۲۷ مخه ده او د سيال کاکړ په کتابخانه کې خوندي ده.

«*تنبیه الکاتبین*» د قاري حسن او ملا شهور رساله ده چې د کاتبانو او نسخه ليکونکو لپاره په کې د نسخې په باره کې لارښوونې راغلې دي. ۸۰ مخونه لري او په ۱۹۱۷م کال پېښور کې چاپ شوې ده(هېوادمل، ۱۳٦٥ل، ۱۱۳، ۳۹ مخونه).

په پېښور آرشيف کې د شهور ملا چې اصلي نوم يې آدم خان دی، د تجويد يوه منظومه ضابطه شته(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ٦۱۴ مخ).

«*ضابطه قرائت*» د ملا شهور کوهستاني اثر دی چې لاهور کې په ۲۰ مخونو کې چاپ دی. د تجويد په باب خبرې لري او د قرآن د تلاوت سمه لاره په کې ښودل شوې ده(رفيع، ۱۳٥٦ل، ٦٥٥ مخ). دا ضابطه هم د لنډ بحر په اته څپيزه مثنوي کې ده چې څلور سوه دېرش بيته لري او داسې پيليږي:

پس له یاده د سبحانه	چې رحمان رحیم باله شي
او له درود د مصطفی نه	چې مقتدا سلیم وایه شي
او له نعت د ال مجتبی نه	چې پېشوا حلیم ستایه شي

او داسې پای ته رسي:

ضابطه خلاصه کوتاه شوه	په قانون د رمز ادا شوه
په حساب کې يې بيتونه	ل ت شو دواړه حرفونه

بیا ملا چې د شهور دی	چې دې فن له په ظهور دی
غواړي ای طالبه ځوانه	تل دعا ستا له زبانه
مصنف د کوهستان دی	په شهور کې يې مکان دی
له اخره دلرزا نه	ته يې وساتې رحمانه
مور او پلار چې يې د ځان دي	نور چې څه کل مومنان دي
شي خړوب دې په رحمت کې	ستا له دره په قيامت کې

د استاد بختاني په حواله، دغه ضابطه د لاهور په کارونيشن مطبعه کې په ۱۳۵۹هـ.ق/ ۱۳۱۹ل کال يا تر دې لږ څه دمخه چاپ شوې ده او د تجويد اړوند مسايلو بيان په کې راغلی دی(خدمتگار، ۱۳۸۲ل، ۵۸- ٦٠ مخونه).

«د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو خطي نسخو تحليلي څېړنه» اثر کې بيا د دې ضابطې نوم «*ضابطه تجويد*» چې ناظم يې ملا شهور دی، د پانو شمېر يې ۳۰ او د افغانستان د علومو اکاډمی په کتابتون کې په ۳۵۲ شمېره کې خوندي ده(دوست، ۱۳۹۹ل، ۳٦، ۳۷ مخونه).

بل ځای راغلي چې ملا شهور چې اصلي نوم يې نه دی معلوم، په خپل منظوم اثر «*ضابطه ميراث*» او نورو مذهبي منظومو کوچنيو رسالو کې يې ځان ملا شهور معرفي کړی دی. دا د هغه دی:

مصنف د کوهستان دی په شهور کې يې مکان دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۸۵ مخ)

حاجي مظفر په ۱۲۷۸هـ.ق کال زېږېدلی او په پښور کې اوسېده. دی له قصه ويونکو شاعرانو څخه دی چې ديني او عشقي کيسې يې منظومې کړې دي، لکه: جنت النعيم، حمله حيدری، د گلفامې او شهزاده قصه(خدمتگار، ۲۰۱۳م، ۲۱۲۰ مخ). حاجي مظفر د پښتو مذهبي شاعر و، د ۱۳۰۰هـ.ق کال په حدودو کې د پښتونستان په شاوخوا کې اوسېده. د «*جنت النعيم*» کتاب يې په ۱۳۰۰هـ.ق کال نظم کړی او د «*حمله حيدري*» په نوم منظوم اثر هم د ده تأليف دی. شعر يې ساده او فصيح دی. دا د هغه دی:

پشاور مې وطن دی چوه گوجر مې مسکن دی

او حاجي مظفر جانه دا مې نوم دی واوره ما نه(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۷۹ مخ)

ملا محمد نور د ملا سيد محمد زوی د لوگر په پاتخاب‌شانه کې زېږېدلی، بيا د کندز خان‌آباد ته لاړ او د عمر تر پايه هملته اوسېده. د هغه ژوند تر ۱۳۲۹هـ.ق کال پورې باوري دی. پښتو، پارسي او عربي ژبې يې زده وې او په همدې درې واړو ژبو يې ليکل کول. د هغه پښتو مذهبي شعرونه شته دي. دا د هغه دی:

خاونده فضل وکړه ذات کبريا لپاره فضل په ما وکړه محمد خير الوراء لپاره

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۵۷ مخ)

د يادولو ده چې د افغانستان د علومو اکاډمي په خطي څانگه کې «*د محمد نور شعرونه*» په نوم اثر شته چې ناظم يې محمد نور دی، د نظمولو او ليکلو کلونه يې نامعلوم دي، ۲۷ پانې لري او د کتابتون

شمېره يې ١٦٥ ده. په ايمان، لمانځه، زکات او نورو موضوعاتو کې د نبوي حديثونو شرحه او منظومه ژباړه ده. موجوده پيل يې:

سل ديرس مسله زده کړه　　که اخرت لره څه وړې

فرضئي زده کول دي تيې زده کړه　　کتخپل غاړه خلاصي(دوست، ١٣٩٩ل، ٢٠١، ٢٠٢ مخونه)

ملا ارسلا د «*قصه فتح خان قندهاري*» په نوم اثر لري چې پېښور کې په ١٩٢٧م کال په ٦٤ مخونو کې چاپ ده(رفيع، ١٣٥٦ل، ٢٩ مخ).

پروفيسور ولي محمد خان سيال په خپله رساله (مزارات) کې کښلي چې **ملا سرور کاکړ** د رحمان بابا د اشعارو منتخبات په پښتو نثر تفسير او شرح کړي دي(هېوادمل، ١٤٠٣ل، ٢٥٠ مخ). له بلې خوا «*ديوان سرور*» د ملا سرور اخونزاده کاکړ د پښتو او پارسي شعرونو مجموعه ده چې عشقي او ديني موضوعات لري. دا ديوان چاپ نه دی او يادونه يې په «مزارات» رساله کې راغلې ده. دا ديوان د پښتو او پارسي شعرونو مجموعه ده چې عشقي او ديني موضوعات لري(هېوادمل، ١٣٦٦ل، ٢٧٨ مخ).

د پښتو داسې ناظمان لرو چې ديني عالم به نه وي، خو ديني مسايل به يې ترجمه يا نظم کړي وي، لکه پورتنی حاجي مظفر.

داسې آثار شته چې ناظمان او شاعران نه دي معلوم او يا داسې مجموعې هم شته چې د ګڼو ناظمانو او شاعرانو د کلام ېلګې په کې خوندي دي چې دلته ترې يادونه کوو:

«*ديني مسايل*» چې ناظم، د نظمولو کال او د ليکلو کال يې نامعلوم دی، ٢٦ پاڼې لري، د کتابتون شمېره يې ٢٣٣ ده. ديني مسايل، ايمان، لمونځ، اودس، د مسواک استعمال، د ځينو سورتونو فضيلت او د حديثونو شرحې په کې راغلې دي. بې سره او پايه نيمګړې نسخه ده. موجوده پيل يې تر بسم الله وروسته:

مګر دی به بهشتي وي　　او ايمان به يې شتي وي

حضرت بيا دي دا ويلي　　هغه وقت چې څوک ځملي(دوست، ١٣٩٩ل، ٨٤ مخ)

«*بهار جانان*» چې په کې د ګڼو شاعرانو (ملا زاهد، ملا عبدالرحمن زميندااوري، ملا ميران، ملا خواجه او ملا محمد شريف جانان....) شعرونه مولوي محمد شريف جانان راټول کړي او په ١٣٥٠ کال په ٣٦ مخونو کې د لاهور صابر مطبعه کې چاپ دی(رفيع، ١٣٥٤ل، ٢٧ مخ).

د افغانستان د علومو اکاډمي د خطي نسخو په څانګه کې په ٣٥٣ شمېره «د جزيل کاکاخېل شعرونه» په

نوم قلمي نسخه شته، ۱۷ پاڼې لري. ديني او اخلاقي لارښوونې په مثنوي فورم کې په کې بيان شوې دي. موجود پيل تر بسم الله ورسته:

شات که نبي پاک تا کړی اختيار وو؟

اومت په ټول خوار وو

شراب کدِ وي څکلي ای محبوب د غفار

دايم درته بيچاره؟(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱۷۵، ۱۷٦ مخونه)

«*مجموعه اشعار*» هغه مجموعه چې دوه برخې لري، لومړۍ برخه کې يې د قصص الانبياء منتخب راغلی چې ناظم يې **ملا محمد رحيم** دی او له پارسي قصص الانبياء څخه په پښتو مثنوي ژباړل شوی دی. په دوهمه برخه کې د ملا فرح الدين قندهاري مناجات ثبت شوی دی. مخطوطه يې په ۱۴ ورقو کې (په ۱۳۵۰هـ.ق کال کې خطاطي شوې) د نجيب قندهاري په کتابخانه کې خوندي ده. چاپ نه ده(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱۸۷ مخ).

«د افغانستان د ملي آرشيف پښتو خطي نسخې» اثر کې د يوې مجموعې يادونه شوې چې (۲۳) آثار لري، هر يو په بسم الله پيل او د هر يو تر لومړي مخ وروسته له ميناتورۍ رنګ اميزه شوې سر لوحه په کشميري کار لري او متن په دغه جونګ يا مجموعه کې د بېلابېلو شاعرانو آثار ځای پر ځای شوي چې ځينې يې پېژندل شوي او ځينې نه دي معرفي شوي چې حتی په تذکرو کې هم له هغو يادونه نه ده شوې، زياتره آثار د اخوند دروېزه او د لارويانو يې دي او په ځينو برخو کې د پير روښان د پيروانو، لکه ارزاني آثار هم ليدل کېږي. د دغې ټولګې راټولوونکی دقيق معلوم نه دی؛ مګر له قرينې يې ښکاري چې راټولوونکی يې د اخوند دروېزه له لارويانو څخه وي؛ ځکه د مخزن الاسلام د ليکولو طرز له دغې مجموعې سره ډېر ورته‌والی لري. د مجموعې رسالې که نظم دي که نثر ټولو کې ديني موضوعات راغلي، له (۲۳) آثارو څلور يې عربي او يو دري دی. د پاڼو شمېر يې (۱۸۵) دی. د ټولګې رسالې دا دي:

۱-*نعت شريف*: ناظم يې معلوم نه دی، په نسخ ښکلي خط ليکل شوې، له لومړي ب مخ نه تر څلورم ب مخ پورې.

پيل: چې هېڅ نه وو ته يې يـار

پای: حقيقت د هر يو يار وي محمد

لا اله الا الله محمد رسول الله

۲-*شمايلنامه*: د اخوند دروېزه ده، له پنځم الف مخ نه تر پنځلسم مخ پورې.

۳-*نعت شريف*: د خواجه محمد ده له شپاړلسم ب مخ نه تر اوولسم ب مخ پورې.

پيل: محمد ستا و لور ته سفر کړم...

پای: ډېر امېد په شفاعت د پيغمبر کړم

۴-*تصوفي رساله*: (ذکر لااله الا الله) ناظم يې معلوم نه دی، له ۱۸ الف مخ نه تر ۲۰ ب پورې.

پيل: که مين يې له جماله د محبوبې له وصاله

پای: پښتو سره ابيات لا اله الا الله.

۵-*نعت شريف*: د عبدالرحيم دی، له ۲۱ الف مخ نه تر ۲۲ الف پورې.

پيل: تر شېرين اسم دې جار شم محمده سرفراز دې د ديدار شم محمده

پای: که زه عبدالرحيم دې جلبدار شم محمده

٦-*شمايلنامه*: د اخوند احمد ده، له ۲۲ب مخ تر مخ ۳۹ الف.

پيل: واورئ ای يارانو.

پای: يو ګناهګار دی، فاتحه پسې کانئ، ګناهونه يې بسيار وو، ګناهونه څرګندېږي(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۴۸ مخ)

۷-*حکايت رسول*: د ارزاني ده، له ۳۹ ب مخ نه تر ٥٤ الف پورې.

پيل: ای د آدم زويه ورځ به راشي

پای: ارزاني ولې نه ژاړې، خپل مقصود ولې نه غواړې، هوی ستا د عمر شپې دي، څوک ولاړې دي څوک لاړې.

۸-*شفاعتنامه*: د شيخ محمد سعيد ده، له ٥٤ الف مخ نه تر ٦۹ ب پورې.

پيل: واورئ مومنانو شفاعتنامه د پاک رسول ده

پای: شيخ محمد سعيد حسن او د پيغمبر (ص) دوستي به تر دا زياته واوره رسيژه.

۹-*شرح احاديث*: د اخوند دروېزه ده، له ۷۰ الف مخ نه تر ۸۸ الف پورې.

پيل: کل ثنا د خدای لايق ده له ازله

پای: دروېزه فقير حديث په پښتو ووې امېدوار دی له ښه خدايه همه له ډېره

۱۰-*نکات*: د مجمل او مفصل ایمان په باره کې، د (۱۳۰) مسألو بیان، د اخوند دروېزه ده، له ۹۲ الف مخ نه تر ۱۰۰ ب پورې.

پیل: لومړی ټکی: در بیان ایمان مجمل و مفصل.

پای: هر چا دا بیان په یاد کا افغانان لره دا بیان تمام دی.

۱۱- د *شیخ عبدالقادر جیلاني مناجات*: ویونکی یې محمدګل دی، له ۱۰۱ الف مخ نه تر ۱۱۱ ب پورې.

پیل: ای په نزد د حق رویداره د حضرت نبي مختاره

پای: راکړه لاس د خدای دپاره

[د دې محمد ګل او د پورتني بیت په اړه خبره وروسته هم راغلې ده].

۱۲-*مناجات*: ویونکی یې محمدګل دی، له ۱۱۸ ب مخ نه تر ۱۲۵ الف پورې.

پیل: ای د دوو کونو سردار پادشا

پای: زما د لاس ستا د لمن وي

۱۳-*مناجات*: د اخوند درویزه دی، له ۱۲۵ الف مخ تر ۱۳۳ ب مخ پورې.

پیل: ای د رب خاص حبیب...

پای: ما نیولې ستا لمن دی

۱۴-*شمایلنامه*: ویونکی یې معلوم نه دی، له ۲۱ مخ نه تر ۱۳٤ الف ۱٤٦ پورې.

پیل: او بیشک خدای قدیم دی.

۱۵-*مناجات*: له ۱٤٦ الف تر ۱۵۹ الف مخ پورې.

پیل: ای په حق د حق رهبره..

پای: لاس د رب دپاره راکړه.

۱۷-*مناجات*: ویونکی یې نعیم دی، له مخ د ۱٦٦ الف څخه تر ۱۷۱ ب مخ.

پیل: رب بل زما سیده په سم لاره کړه

پای: را عطا د محمد په روی دیدار کړه

۱۸-*مدحې*: د حضرت محمد ﷺ او د خلفای راشدینو او تابعینو او د اسلام د نورو علماوو، فضلاوو مدحې چې د (محمد) په نوم ده، له ۱۷۱ ب نه تر ۱۸۵ الف پورې.

پيل: ای زمور پاکه رسوله

پای: لاس د خدای لپاره راکړه(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۴۸- ۱۵۲ مخونه)

مجموعه بيانات و ملحقات (نظم او نثر): د پاڼو شمېر (د ۹۷ مخ د الف تر مخ د ۱۰۱ ب)، د کتاب شمېره (٦٨ پر ۴) ده، کاتب مياخان د شاهي خان زوی. پيل: وروسته له بسم الله: بېچاره احمد بيان په پوست وويل عرض په کې نو؛ مګر دا چې يې څوک په دعا ياد کا خدای دې حرمت حاله روزي که.

پای: که ايمان دې سلامت وي، که مومن يې اميدوار شه له ديداره، له جنان

تمت تمام شو، بروز بنجشنبه نوشته بماند سياه بر سفيد نويسنده را نيست فردا اميد.

مجموعه بيانات و ملحقات: د يادې ټولګې ناظمين شېرمحمد، عبدالرحيم، خوشال خان، رحيم داد، خواجه محمد، رحمان، احمد او بابوجان دي، د حضرت محمد ﷺ د وفاتنامې په ګډون پيل شوې، له ۴٦۵ ب مخ نه تر ۵۳۹ الف پورې پای ته رسېدلې ده، کاتب خپل نوم نه دی ليکلی، خو د کتابت تاريخ د رجب المرجب (۱۵)، سنه ۱۱۴۱ .

پيل:

رسول د دوه کونو سرور دی — د اسلام د لارې څه عجب رهبر دی

کل نبيان زما د سترګو تور لېمه دي — محمد رسول الله په کې بهتر دی

مجموعه بيانات افغاني يا نصيحت نامه (منظوم): دغه ټولګه د مخزن السلام تر ختمېدو وروسته د بابوجان، رحمان بابا او شېرمحمد منظومه شوې، پاڼو شمېر (له مخ ۴۴۰ب تر مخ ۴۱۵ الف).

پيل وروسته له بسم الله:

نصيحت که په خوله وايم بې اثر — تر دا هسې ويل پټه خوله بهتر

دا حديث د پيغمبر هسې ويلي — چې اينده زمانه ورځ په ورځ کهتر

پای:

شېرمحمد د خدای مېلمه دی غم دې نه کا — مېلمنو لره تيار ورځي دلبر

لکه بد کړ هسې ښه کړ شېرمحمده — نېک و بد به سر ونخې سر بسر

(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۵۴، ۱۵۵ مخونه)

مجموعه نصايح متفرقه افغاني: دغه ټولګه چې د حضرت محمد ﷺ د وفاتنامې په ګډون ويل شوې؛ له ۲۲۷ ب مخ نه تر ۲۵۲ ب پورې ده، د کتابت نېټه يې محرم الحرام (۱۱۴۵) ده.

پيل:

(قصه وفاتنامه د رسول اکرم ﷺ)

واورئ! يارانو دا روايت دی له رسول　　چې اول آيت د قرآن اقرأ

پای:

دغه ياران د خدای د عرش تر سايه کاندي　　چې واړه خلقه و خدای ته

(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۵۹- ۱٦۰ مخونه)

۴- ۱- ۲. د ديني علماوو منظوم کلامونه

په پورتني بحث کې په مشخص ډول ليکلي او ژباړلي آثار په کرونولوژيکه بڼه وښودل شول، خو په همدې زماني محدوده کې داسې ديني شاعران او ناظمان لرو چې د يوه يا څو بيتونو او يا يوه يا څو شعرونو او نظمونو درک يې شوی دی. دلته د همدې کلامونو جاج اخلو:

شيخ عيسی مشوانی د شېرشاه سوري (۱۴۷۲م يا ۱۴۸٦م- ۱۵۴۵م) معاصر و، د هند په دامله سيمه کې اوسېده. ستر صوفي او عارف و. په پښتو، پارسي او هندويي يې شاعر کړې ده. دا د هغه دی:

په خپله کار کړي په خپله انکار کړي　　کله بادار يم کله مې خوار کړي

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۴۹ مخ)

ملا اصغر د گدای زوی او د اخوند دروېزه ورور دی چې پښتو منظومات ترې را پاتې دي. د ده لاسته راغلي منظومات وعظيه موضوعات چاپېروي. د ده يوه منظومه داسې پيل شوې ده:

واورئ يارانو نبي ناست په جماعت و　　جبرائيل و پرې راغلی له ښه خدايه پرې رحمت و

د ملا اصغر د ژوند زمانه د لسمې او يوولسمې هجري پېړۍ په حدودو کې اټکل کېږي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۱۲ مخ). دی د پښتو ژبې ويناوال او د اخوند دروېزه په سبک منظومې ټوټې لري، د مخزن په ځينو خطي نسخو کې يې منظومات ليدل شوي دي(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۷ مخ).

محمد حليم د عبدالله زوی او د اخوند دروېزه لمسی و، د ده د عرفاني اشعارو نمونې د هغه په هغې «الفنامه» کې ليدل کېږي چې ځينې برخې يې د مخزن په ملحقاتو کې خوندي دي. د ده په عرفاني اشعارو کې هنري ارزښتونه د کريمداد تر اشعارو هم پرمختللي دي. دا لاندې څو بيتونه يې د کتو دي:

شهی ډېر غشي ورغ کړي　　عاشقان يې دي نوموړي

دوی ويشتلي په غونډ زړه دي　　په ميدان ورته ورغړي

د ده په لاسته راغلي کلام کې ځينې منظومې ترجمې هم شته. د سعدي شېرازي يوه غزله يې په پښتو نظم ترجمه کړې ده. د ژوند زمانه يې د يوولسمې هجري پېړۍ په دوران کې اټکل کېږي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۱۳ مخ).

نورمحمد د کريمداد زوی د اخوند دروېزه لمسی په ۱۰۸٦هـ.ق کال وفات شوی او د سوات په سلام‌پور کې ښخ دی. نورمحمد د اخوند دروېزه د ادبي مکتب پيرو دی، مذهبي شعرونه يې د مخزن په ځينو خطي نسخو کې ليدل شوي دي.

عبدالسلام د پاينده‌محمد زوی د اخوند دروېزه د ادبي مکتب پيرو او شاگرد و او د همدې مکتب په پيروي پښتو منظومې لري. د مخزن د ځينو خطي نسخو په ملحقاتو کې يې شعرونه ليدل شوي دي: دا د هغه دی:

يوه ويی به درته وايم د صديق د بزرگيې د رسول له جماعته
چې صديق وو سرحلقه د اولياوو دغه لو برخه موندلې له رحمته
(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۲۷، ۳۰۹ مخونه)

د اخوند دروېزه له لمسی عبدالسلام په پښتو ځينې اشعار ځينې پاتې دي. د ده د ژوند زمانه هم د يوولسمې هجري پېړۍ اواخر اټکل کېږي. د عبدالسلام ځينې منظوم نظمونه د مخزن په ځينو خطي نسخو کې شته. دا نظمونه شعريت نه لري او ځينې پر ديني اساساتو بنا بيانونه دي، لکه دا بيتونه:

يو ويی به درته وايم د صديق له بزرگيي د رسول له جماعته
صديق و سر حلقه د اولياوو دغه لوبخې موندلې له رحمته
دويم عمر فاروق دی چې مکه يې کړه وزگاره له کافرو له بتانو په يکلخته
(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۱۴ مخ)

نورالدين د پښتو لرغونی شاعر دی، ژوند يې د يوولسمې هجري پېړۍ په حدودو کې اټکل شوی دی. د هغه مذهبي ټوټې ليدل شوې دي. دا د هغه دی:

اتلس شلې ورځې دولس مياشتې دي د کال فنون نسايه کې مې ليدلی دی دا حال

ولي محمد د يوولسمې هجري پېړۍ په حدودو کې د افغانستان له مشهورو صوفيانو او شاعرانو څخه و. مذهبي منظومې يې په ځينو خطي نسخو کې ثبت دي. دا د هغه دی:

ولي محمد مټ پر شريعت کړه څو مړ نه يې مه بېلېره د عالمانو له قطاره

قادرداد د روښاني ډلې شاعر د محمد زمان زوی، د زېږېدو کال يې د ۱۰۳۴هـ.ق حدود اټکل شوی او ژوند يې تر ۱۱۱۸هـ.ق کال پورې يقيني دی. يوه موده يې په هند کې تېره کړې ده. قادرداد د وحدةالوجود د تصوفي مسلک پيرو و. عارفانه قصايد او غزليات يې په «ورکه خزانه» کې خوندي دي. دا د هغه دی:

چې مدام په زړه کې خيال لري و جنګ ته څوک به څه وايي دې مست و شوخ و شنګ ته

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۲۵، ۵۴۰، ۳۸۳ مخونه)

قادرداد چې د پير روښان کودی دی، مور يې دريا خاتون د احداد لور وه. د احداد مېرمن بيبي آلايي پر ۱۰۴۷ق کال له خپلوانو سره هند ته ولاړه. په دغو نويو ورغليو روښانيانو کې قادرداد هم و چې هغه وخت د ۱۲ يا ۱۳ کالو هلک و.

د ده شعر د روښاني طريقت هينداره ده او د خپلو سلفو پر لار روان ښکاري:

په هر څه کې تجليت کا يو الف دی بې نقاطه

* * *

د وحدت په تنهايۍ يو احد، احد صدا کړه

په خدايي رښتينی فکر ائينه د زړه صفا کړه(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۱۹٦، ۱۹۷، ۱۹۸ مخونه)

ځينې نور داسې روښاني شاعران شته چې د دوی د منظمو آثارو درک نشته، بلکې د متفرقو آثارو او شعرونو يادونه يې په حالنامه کې شوې ده، لکه **حاجي ګداى** چې د روښاني د طريقې په لاره کې د کمال درجې ته رسېدلی و. **دروېش دادو** د روښاني مسلک پيرو و او په دې لاره کې د خليفه تر درجې پورې رسېدلی و(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۹۸، ۹۹ مخونه).

په يوولسمه پېړۍ کې د ځينو داسې متصوفو شاعرانو، ديني او اخلاقي مبلغينو او واعظانو يوه ډله هم شته چې نه د روښانيانو په ډلې اړه لري او نه سل په سلو کې د دروېزه په پيروانو پورې تړل کېږي. په فکري لحاظ يې آثار عرفاني، اخلاقي او تبليغي رنګ لري او په عام ډول د اسلامي فرهنګ اساسات بيانوي. په دې ډله شاعرانو او ناظمانو کې د ځينو ديوانونه لاس ته راغلي او د ځينو هم متفرق پاڼې موجود دي. دغو پوهانو د عرفام په خم کې رنګېدلي اشعار هم ويلي او د اسلامي بنسټونو او اخلاقو د تبليغ په منظور يې وعظونه او نصيحتونه هم په خپلو نظمونو کې وړاندې کړي دي. دا کسان دا دي:

ميا علي محمد: د ده يو وعظيه پاڼې چې ځينې بيتونه يې د سلوک يوه نيمه خبره هم لري او د هنر

تومنه هم تر يوې اندازې ورسره ملګرې ده، د «بيانات افغاني» په خطي نسخه کې شته. دا شاعر د يوولسمې هجري پېړۍ معلوميږي. دا بيتونه يې د شعري استعداد د ښکارندوی په توګه وړاندې کېږي:

هغه توتيان چې ثمر ګرځي چغار کاندي اصلي بلبله خوشې ناسته د ګلزار کاندي
هغو توتيانو ته يې شکرې ورکړې دا تور زاغان يې په مرداره غره هار کاندي
(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲۱، ۱۲۲ مخونه)

شېرمحمد له خوا يو طالب‌العلم و چې پس له ۱۱۰۰هـ.ق کاله ژوندی او د ديني علومو په لوست او تحصيل بوخت و. ملا شېرمحمد ډېر ديني او اخلاقي اشعار ويلي چې اوس يې موږ ته لږ را رسېدلي دي. د ده سوانح او د ژوندون وقايع نور نه دي څرګند. له دې قطعې څخه يې شاعرانه تخيل او د ژوندون ډول ښه ښکاريږي:

يا ليتني کنت ترابا
يا ګوښه واى له سړيو پر اسمان باندې سحاب واى
يا عاشق واى پر مهريو يا معشوق لکه آفتاب واى
چې نه دا شوې نه هغه شوې
شېرمحمد کشکې تراب واى

د شېرمحمد له ديني او اخلاقي غزلو څخه دا موجوده ده:

يو بيان به درته وايم مختصر ته يې ياد لره دايم د زړه پر سر
خداى او مرګ همېشه ياد لره مومنه چې تر دا نصيحت نشته بهتر
که ته دا وظيفه ونيسې محکمه په خپل زړه کې به يې بيا مومې اثر
بل خوراک، پوښاک حلال کوه عاقله له کلي حرام ونيسه حذر
له دروغه له غيبته ځان نګاه کړه چې غيبيت دی تر زنا دی لا بتر
د مومن ازارول هيڅکله مه کړه چې مومن ازاروي ځان يې سقر...
څو ژوندی يې ته طالب د علم اوسه په طلب د علم ګرځه ور په ور
(حبيبي، ۱۳۹۱ل، ۱۷۵، ۱۷۶ مخونه)

استاد هېوادمل کاږي، د شېرمحمد په نوم شاعر په «پښتانه شعراء» لومړي ټوک کې د شېرمحمد ننګرهاري په نامه معرفي شوی دی، مګر داسې کوم سند نشته چې دی دې د ننګرهار وګڼل شي. دا

شاعر د یوولسمې پیړۍ د حدودو ژوندی ښکاري. د دغه شېرمحمد ډېر اخلاقي او ديني اشعار د مخزن الاسلام په ملحقاتو کې خوندي دي.

اخوند مصري د هغو صوفيانو او واعظانو په ډله کې ولاړ هغه شاعر دی چې د یوولسمې پیړۍ په حدودو کې به يې ژوند کړی وي. د کلام ډېرې نمونې يې نشته، د مخزن الاسلام د ځینو نسخو په ملحقاتو کې يې یوه نیمه غزله موندله کېږي. د غزلې مقطع يې د حال ښکارندویه ده، ده ویلي دي:

اخوند مصري په تا پسې دردمن نور به په څه رغېږي ستا لېونۍ مینه مې غواړي له دیداره سره

شیخ آدین د یوولسمې پیړۍ له متصوفو شاعرانو څخه دی چې شعر يې هم عرفاني چاشني لري او هم شعریت. د پښتور په توابعو کې اوسېده او د شیخ رحمکار کاکا صاحب (د ۱۰۶۳هـ.ق کال متوفی) مرید و. دی په ۱۰۷۳هـ.ق کال وفات شوی دی. د مخزن په ملحقاتو کې يې هم اشعار خوندي دي. په «ادبي ستوري» لومړي ټوک کې يې خوندي شوې غزله د صوفیانه حال نمایندګي کوي، لکه چې وایي:

له روغه خلقه کناره زه مرور ګرځم پر زړه مې مینه د هغه یار زه پرې اوتر ګرځم

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲۲، ۱۲۳ مخونه)

شیخ آدین روحاني، عالم او متصوف ویناوال و چې په هندوستان کې يې ژوند کاوه، له هغه ځایه يې پښتور ته هجرت وکړ، د شیخ رحمکار کاکا صاحب روحاني او تصوفي خانقا ته يې لار ومونده او د کاکاصاحب زیارت کې مېشت شو. دی د پښتو ژبې ادیب، شاعر و، پرشوره صوفیانه غزلې يې مور ته رسېدلې دي. آدین په ۱۰۷۳هـ.ق کال کې وفات شوی او د کاکاصاحب زیارت کې ښخ دی. دا شعر د هغه دی:

پر عاشقانو تل تهمت وایه شي او زه آدین د تهمتونو پنډ پر سر ګرځم

آزاد د پښتو ژبې صوفي شاعر و. د یوولسمې پیړۍ په شاوخوا کې يې ژوند کړی دی. د ده صوفیانه شعر د «ادبي ستوري» مؤلف د هغه له ژوندلیک سره ثبت کړی دی:

آزاده مټ پر شریعت کړه ودرېږه یاره چې د مولا مینه يې روزي شي هغه خوار نه وي

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۲، ۳ مخونه)

بېګ محمد د یوولسمې پیړۍ د حدودو له شاعرانو څخه دی، د ده یوه غزله د مخزن په ملحقاتو کې شته. له لاندې بیتونو يې ښکاري چې د عرفان له رموزو خبر و، لکه:

د ګومان کړې دې ماته په نظر کړه څه عجب پټ سپاهي يې بهادرې
د ديدن اجر به درکه بېګ محمده ته چې هسې د هجران غمونه نغرې

شاعر **قادر** هم د يوولسمې هجري پېړۍ د حدودو ښکاري، د مخزن په ملحقاتو کې يې اشعار راغلي دي. د هغو مبلغينو او عارفانو په ډله کې شامل سړی ښکاري چې د يوولسمې پېړۍ په حدودو کې به يې د خپلو خلکو د لارښوونې او روحاني روزنې په منظور په پښتو عارفانه او اخلاقي او کله کله د مينې او محبت اشعار ويل. لاس ته راغلې غزله يې داسې جذابه شروع کېږي:

غم راسره مل دی د سرخ چشمو له فراقه ځوک به مې د حال خبره يوسي تر عراقه

د **ميا الهداد** په نامه د يوه عارف شاعر څو غزلې هم ترلاسه شوې دي، خو د ده د احوالو په باب دقيق معلومات نشته. د خپلو غزلو په مقطع کې يې خپل نوم ميا الهداد راوړی دی.

نجابت هم په همدې تصوفي او تبليغي حلقه کې محشور سړی دی، د يوولسمې هجري پېړۍ د حدودو شاعر معلوميږي او له مخزن الاسلام سره په نښتو ملحقاتو او د بيانات افغاني په خطي نسخه کې يې اشعار راغلي دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲۳، ۱۲۴ مخونه).

د پورتنيو کسانو له لاسته راغلو پاړکو څخه معلوميږي چې دغو خلکو له عرفان سره مينه درلوده او ځينو يې د شديدو ديني احساساتو تر اغېز لاندې ځينې ديني او اخلاقي مسايل د خپلو خلکو د روزلو په منظور بيان کړي دي. دغه آثار ځينې د شعر د تخنيکي جوړښتونو له پلوه کمبوتۍ لري، مګر يو ډول احساس او سوز په کې شته، چې دغه احساس او سوز يې پر جوله اغېز ښندي او په لوستونکو کې د شور او جذب د پيدا کولو له امله ارزښتمني پيدا کوي او ځينو دغو آثارو ته تر يوه حده د شعر په سترګه کتل کېږي. په ځينو دغو آثارو کې تصوير او تخيل هم ليدل کېږي خو بڼه يې پرمختللې نه ده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲۴ مخ).

مسکين د شيخ رحمکار کاکا صاحب مريد او خليفه و او په خواجه مسکين صاحب يادېده. عالم، صوفي او د پښتو ژبې پوخ شاعر و. هر کله چې کاکا صاحب (عليه الرحمة) په ۱۰۶۳هـ.ق کال په حق رسېدلی دی، نو ويلی شو چې خواجه مسکين د ۱۱۰۰هـ.ق کال د آخري حصې پښتون شاعر دی.

د ابوبکر ميا صاحب په قلمي مجموعه کې د ۱۲۰۰هـ.ق کال شاوخوا زمانه کې يو نظم ليکل شوی دی، صرف د نظم په اخره کې يې تخلص «مسکين» راغلی دی. نظم دا دی:

زه غريب ډېر ګناهګار يم ته مې وبخښې يا ربَ له ګناهه شرمسار يم ته مې وبخښې يا ربَ

تمام پُر یم له ګناهه ای د کل عالم پناهه ستا له فضله امېدوار ته مې وبخښې یا ربَ
خواست مې تا ته دی خالقه د همه خلقو رازقه که زه هر څو بد کردار یم ته مې وبخښې یا ربَ
معصیت مې تر حد تېر دی د بیابان تر شګو ډېر دی د غفران په انتظار یم ته مې وبخښې یا ربَ
زه که هر څو ناقبول یم بیا امت د پاک رسول یم هم دوستدار د چاریار یم ته مې وبخښې یا ربَ....

د مسکین د یوه بل نیمګړي نظم څو بیتونه دا دي:

زه قربان شم تر جمال د محمد هم تر خلق هم تر کمال د محمد
لکه دی چې دی رویدار په عالم کې هم داسې ګنې آل د محمد
عالمان د زمانې که سره ټول شي وبه نه رسي تر قال د محمد
له مشرقه تر مغربه زما دله چرته نشته دی مثال د محمد

په لندن موزیم کې د عبدالقادر خان خټک د دیوان یوه نسخه ده چې تقریباً په ۱۲۰۰هـ.ق کې قلمي شوې ده، په دغه نسخه کې د مسکین یو غزل موجود دی(افغاني، ۱۹٦۳م، ۱- ۲ مخونه).

مسکین د پښتور په نواحیو کې اوسېده. عالم او متشرع عالم او د پښتو صوفي شاعر و، په سیمه کې د «خواجه مسکین صاحب» خطاب ورته کېده. د هغه متفرق اشعار لیدل شوي دي(هېوادمل، ۱۳٥٦ل، ۴۷۵ مخ) چې پورته تري یادونه وشوه.

د مسکین په پورتنیو دوو نظمونو کې دیني مسایل غالب دی؛ په لومړي کې له الله تعالی څخه د مغفرت او بخښلو غوښتنه شوې ده او په بل کې د رسول الله ﷺ ستاینه شوې ده.

شیخ فرید په یوولسمې هجري پېړۍ کې د افغانستان له صوفیانو او عارفو شاعرانو څخه وی، د میا قاسم مصطفی زوی و چې د یوولسمې پېړۍ په وروستیو کې یې ژوند کاوه. عابد او نېک شخص و، خلکو پرې عقیده درلوده. په پښتو ژبه یې عرفاني او اخلاقي غزل ویلی دی(هېوادمل، ۱۳٥٦ل، ۳۷۰ مخ). نومورې د چارسد تحصیل په مشهور کلي پرانګ کې یو عالم تېر شوی دی. په یوه کتاب کې د ده یوه غزل شته چې دا ده:

شاه چې دا هسې رنګ زړی کونه بیمازه ګرځي د ښو یارانو جدایي شوه ناقراره ګرځي
مینه دې ورکړه عاشقان دې وسو دا بېګانه عالم دې ببرته له انګاره ګرځي
مینه دې زنار کړه د خپل یاره په غاړه هغه عاشق نه دی چې بې ستا له زناره ګرځي
سلام دې راغی د خپل یار له لوریه شها د یار په سلام مسته شوه خماره ګرځي

گل د نهال کړ د خپل په يار په غولي　　شها د يار تر باغ چاپېره شوه ملیار گرځي
نور عالم دې حورې جنتونه غواړي　　دا شیخ فرید دې طمعدار ستا له دیداره گرځي
(افغاني، ۱۹۶۳م، ۳۲، ۳۳ مخونه)

د ده غزله عرفاني رنگ لري او هنري پرداخت يې هم بد نه دی.

د ده غزله په خوند رنگ کې د روښانيانو د معاصرو صوفيانو ځينو صوفيانه غزلو ته پاتېږي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۴۷ مخ).

د **افضل الدوله افضل خان** د پېښور پښتو اکېډيمي کې د خوندي «تفسير افضليه» نسخې تر الحاقي بيتونو وروسته د افضل خان خپل منظومات خوندي دي چې لومړی منظومه څلور بيتيزه او بله بيا د ۱۳ بيتونو يوه قطعه ده او د ديارلسو نورو بيتونو يې بيا بله منظومه ده چې شعري سکښت يې د اوږدې غزلې دی.

چې له ځانه سره مې وکړه مطالا　　هسې رنگ مې د خاطر وشوه صلا
پښتانه وته پارسي ژبه وه گرانه　　دا پښتو به لولي هر امير ملا
نو پښتو مې دا تفسير په ډېر اخلاص　　که کرم راباندې و که خدای تعالی
پښتانه دې افضل خان ته دعا کاندي　　چې يې وبخښي کريم غفار مولا

د تفسير په منځ منځ کې ځينې نور پښتو بيتونه هم شته چې کېدای شي د ده خپل وي او يا د پارسي تفسير استشهادي بيتونه دي چې په پښتو ترجمه کړي دي. د افضل خان له دغو منظومو ټوټو څخه مور ته دومره ښکاري چې ده په پښتو کې د نظمولو استطاعت درلود، د ده منظومې ټوټې تشې او وچې منظومې دي چې د هنري او فکري مترې د نشتوالي ترڅنگ کومه خاصه رواني هم نه لري، بلکې ځای ځای گنډې، سکتې او خزم او خرم هم په کې موندل کېږي(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۵۸۲ مخ).

د شعرونو بله بېلگه يې يې دا ده:

چې امير الامرا د هندوستان دی　　بهادر افضل الدوله مير افغان دی
چې بل څه يې نظر نشته بې له خدايه　　خاص بنده د پاک الله چې افضل خان دی
چې تفسير يې په پښتو کړله پارسي نه　　محبت د افضل خان په قام افغان دی
پښتانه و ته پاڼسي ژبه وه گرانه　　دا پښتو به لولي امير ملا
نور پښتو مې دا تفسير په ډېر اخلاص کړ　　که کرم راباندې وکا خدای تعالا

پښتانه دې افضل خان ته دعا کاندي　　چې يې وبخښي کريم غفار مولا

(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۸٦۰ مخ)

عبدالغني کاسي د ملا شېرخان کاسي زوی د ملتان دارالامان کې اوسېده. ناظم، خطاط او ديني طالب‌العلم و. تر ۱۱۴۲هـ.ق کال پورې ژوندی و. «بيانات افغانی» يې په دوو ټوکونو کې برابر کړی، د مخزن نسخې يې په خط ليدل شوې دي. د **ملا عبدالغني** منظومې هم په لاس کې دي. دا د هغه دی:

فقير عبدالغني مختصر بيان ويلی　　پر گناه او پر تقصير دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۱٦ مخ)

د احمدشاهي دور ليکوال مولوي عبدالله چې په پښتو نثر يې «*فتاوای احمدشاهي*» ليکلی، ناظم هم و چې ځينې بيتونه يې دا دي:

اول حمد دی د مولا　　پر نعماء پر آلا

حمد يې ډېر دی بې حسابه　　يم عاجز له دغه بابه

حمد ويل يې لوی نعمت دی　　حمد په حمد بل عنايت دی(رښتين، ۱۳۷۲ل، ۹۸ مخ)

د دې اثر په منظومه مقدمه کې يې د احمدشاه در دران مدحه هم کړې ده. د پاچا په ستاينه کې وايي:

مسمی په عبدالله يم　　دعاگوی د خپل پادشاه يم

الهي عمر يې ډېر کړې　　دښمنان يې واړه زېر کړې

له مشرقه تر مغربه　　له شماله تر جنوبه

بادشاهت يې په نصيب کړې　　دښمنان يې بې نصيب کړې(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۲٦ مخ)

زينب د هوتکي ټبر اړوند او د ملي زعيم ميرويس خان لور ده. اسلامي احکام، قرآن‌کريم، فقه او د وخت متداول پښتو او دري کتابونه يې په وړکتوب کې د ميرويس خان له کورنۍ معلم له ملا نورمحمد غلجي څخه زده کړي وو. بي‌بي زينب پر اسلامي علومو پر لاسرسي سربېره د ادبياتو لېواله او شعري لوړه قريحه يې درلوده. هغه يوه مېرنۍ ښځه وه چې د پلار له مرگ وروسته يې د دولتداری په چارو کې له خپلو وروڼو سره مرسته کوله او ورونو يې د هغې سلا مشورې ته غوږ نيوه او کار يې تر اخيست. بي‌بي زينبه د لوړو ملي او سياسي احساساتو د درلودلو تر څنگ دري او پښتو ادبياتو ته لېواله وه. لاندې د هغې وېرنې څو بيته چې د خپل ورور د اصفهان د پاچا شاه‌محمود هوتک په مرگ (۱۱۳۷هـ.ق) کې يې په پښتو ويلې ده، راوړو:

ږغ سو چې ورور تېر له دنيا سونا　　کندهار واړه په ژړا سونا

زړه مې په ویر کې مبتلا سونا　　چې شاه محمود له ما جلا سونا
دا رونړ جهان راته تورتم دی نا　　زړه د بېلتون په تېغ کړم دی نا
هوتک غمجن په دې ماتم دي نا　　د پاچهۍ تاج مو بر هم دی نا....
(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۰ل، ۲۲۳ مخ)

د ملا ښایسته خان د جونګ راغونډوونکي د یوه مخمس دپاسه لیکلي: «مخمس **ملا سعید** از خلیل» چې دا په واضح ټکو کې ښیي چې سعید «خلیل» او د خلیلو استوګن و او غالب ګومان دا دی چې ملا ښایسته خان هم د هماغه وختو سړی دی او ممکنه ده چې له ځینو شاعرانو سره یې په خپله لیدلي او غزلې یې ترې اخیستې وي. شعر دا دی:

په ښایست دې مخ له شمعې روښان لا دی　　سپین جبین دې له مرآته لا جلا دی
د ذقن په چاه دې بند هر مبتلا دی　　خجل شوی دې له سترګو نه شهلا دی
قد سرو دې له شمشاده ډېر بالا دی
وړې شونډې دې یاقوت غاښ دې درونه　　تور بانې دې ناوکی تل پیې پر زړونه
ستا و مخ ته نه رسیږي نور مخونه　　له رخساره دې خجل دي سره ګلونه
په جهان کې عجب عکس (؟) ستا د وفا دی.....(رفیع، ۱۳۵۳ل، ۳۸، ۴۷ مخونه)

محمد ګل: دا محمد ګل پرته له هغه مسعود محمد ګل څخه دی چې په «پټه خزانه» او «د پښتو د ادب تاریخ» کې معرفي شوی دی. د محمدګل له هغه یوه شعر څخه پرته چې د پښتو له یوې نومورکې مجموعې[1] څخه لاس ته راغلی، نور آثار په لاس کې نشته او څرنګه چې په دې خطي نسخه کې زیات د اخوند دروېزه او د ده د پیروانو آثار راغلي دي، نو له دې کبله محمد ګل هم د دروېزه له پیروانو څخه ګڼلی شو او له دې سببه چې اخون دروېزه د یوولسمې پېړۍ په اوایلو کې ژوند کاوه او اکثره پیروان یې په دولسمه هجري پېړۍ کې هم ژوندي وو، نو ځکه محمدګل هم د اټکل له مخې د پورتنیو پېړیو شاعر بللای شو. د ده د ژوند په باب نور معلومات نشته، خو له هغه شعر څخه چې ده د شیخ عبدالقادر جیلاني په ستاینه کې ویلی، د ده په ديني علومو کې معلومات ترې څرګندیږي. ده دا شعر په لنډ بحر او د مربع په ډول سره لیکلی چې ډېر اوږد دی. د سر څو بندونه یې دا دي:

---

[1] استاد رفیع وایي: دا خطي نسخه د اطلاعاتو او کلتوز وزارت په خطي کتابخانه کې خوندي ده چې ۲۳ ېلې ېلې برخې او ده یې مفصله پېژندګلوي «کتاب» په مجله کې لیکلې ده.

اې په نزد د حق رويداره د حضرت نبي مختاره
اې د کل عالم سرداره راکړه لاس د خدای دپاره
* * *
اې چې نوم د تا عيان د تاج د هر ولي سلطان دی
شان (دې) ډېر معظم شان دی راکړه لاس د خدای دپاره
* * *
زه در جار شم مير محی الدينه شيخ عبدالقادر امينه
اې زمونږ حبل المتينه راکړه لاس د خدای دپاره
* * *
پر تا فضل د رحيم دی څکه ستا مثل عديم دی
په شيخي دې نوم عظيم دی راکړه لاس د خدای دپاره(رفيع، ۱۳۵۳ل، ۸۱، ۸۲ مخونه)

معصوم هوتک ليکي: «د افغانستان د علومو اکاډمۍ په پښتو خطي نسخو کې د اسرار العارفين د يوې خطي نسخې په پای کې د محمد گل په نامه څو بيتونه شته چې د سر بيت يې دا دی:

اې په نزد د حق رويداره د حضرت نبي مختاره

له امکانه لېرې نه ده چې دا محمد گل نومی دی زمونږ تر بحث لاندې شخص وي؟ خو دا خبره بايد په پام کې ونيسو چې په دغه عصر کې نور محمدگل نومي ناظمين هم شته»(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۱۱۱ مخ).

معصوم هوتک پورتنی مطلب د مولوي محمد گل اخوندزاده چې د ملا شېرمحمد هوتک زوی او د حاجي دوست محمد کندهاري (۱۲۱۶- ۱۲۸۴هـ.ق) له مريدانو څخه و(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۱۲۲ مخ)، د معرفي کېدو په پای کې راوړی دی.

جان‌محمد (د ۱۱۵۰هـ.ق کال په شاوخوا کې يې ژوندی) د پښتو په پخواني ادب کې عالم او ديندار شاعر تېر شوی چې غالباً به د پېښور او ننگرهار د خواوشا اوسېدونکی و. دی د پښتو ژبې هغه شاعر و چې زياتره شعرونه يې عرفاني، اخلاقي او ديني موضوع‌گانو ته ځانگړي شوي وو. په شعر او شاعری کې يې هم شهرت ته رسېدلی و، اشعار يې ديني او اخلاقي رنگ لري، خو د دې ترڅنگ يې ځينې عشقي شعرونه هم ويلي دي چې دا لاندې لاسته راغلی غزل يې د کلام د نمونې په توگه راوړو:

بد لښکر د بېلتانه راته ولاړ شو پر دغه ځما د زړه ښهر ويجاړ شو

د وصال له ډېره قدره دې خبر کړم　　چې مې زړه ستا په بېلتون باندې لتاړ شو
د وصال بهار مې تويه شو په ځمکه　　چې راپېښ د جدايي تود اهاړ شو....
د بېلتون په سهر دې ولې ويشت آشنايه　　جان‌محمد په سينه ماته له تا لاړ شو

(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۸۹ل، ۳۹ مخ)

د جان‌محمد متفرق اشعار ډېر ليدل شوي دي چې زياتره يې د مخزن الاسلام په خطي نسخو کې محفوظ دي. د ده په ځينو اشعارو کې يوه جذبه هم ليدل کېږي او په ځينو کې يې د هنر پلوشې ځليږي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۵ مخ).

جان‌محمد د حضرت محمد ﷺ په ثناء او صفت کې په مسجع نثر د «*نورنامه*» په نوم اثر ليکلی چې مسجع نثر دی.

د جان‌محمد پښتو شوې «نورنامه» د قصيدې په ډول ده او د سر بيتونه يې دا دي:

کل ثنا پاکي د تا قديمه رب العلمينه　　او درود په پيغمبر سل زره لکه وينه
هم په آل د ده هم په واړو اصحابو　　هم په کل مومنانو رحمت د خداى وينه

(رفيع، ۱۳۵۳ل، ۸۸- ۸۹ مخونه)

ملا محمد صديق د يارمحمد پوپلزي زوی د دولسمې هجري پېړۍ په حددو کې د کندهار په ارغستان کې اوسېده. نوموړي صرف، نحو، فقه او منطق له ملا نورمحمد بړېځ ځخه زده کړل. بالبداهه شاعر و. د «پټه خزانه» مؤلف د هغه د بديهه‌ويلو يادونه کړې او د شعر نمونه يې هم ثبت کړې ده(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۴٦ مخ). دا د هغه دی:

لکه بلبل چې بې له ګله بل ارمان نه لري　　هسې بې ياره بل هيله عاشقان نه لري
چې ژاړم کاندم بې له ياره بل مطلب نه لرم　　چې هسې سور يمه په وينو بل سبب نه لرم
بې ياره نور څه نه غواړمه نور مطلب نه لرم‌چې څوک مين سي بې له ياره بل ارمان نه لري

(هوتک، ۱۹۸۹م، ۱۱۱، ۱۱۲ مخونه)

ميا عبدالکريم د خپل وخت مشهور او تکړه عالم و، په ۱۱۰۲هـ.ق/ ۱۷۲۳م کال د لغمان په اليشنګ دره کې زېږېدلی دی(سعيد، ۱۳۹۴ل، ۲۸۳ مخ). دی د خپل عصر مشهور عالم او زبردست راهنما و، پلار يې ميا الله بخش نومېده. د ميا عبدالکريم علمي شهرت په ټول ننګرهار او پېښور کې خپور او د احمدشاه بابا او تيمورشاه معاصر و. دی په لغمان کې اوسېده او يوه علمي حلقه يې درلوده، هر کله په

تدريس او لارښوونه بوخت و. دی په ۱۲۰۷هـ.ق وفات شوی او د لغمان د علیشنګ په خپل استوګنځي (دیره میا صاحب) کې خښ شو. میا عبدالکریم د پښتو ښه ادیب او شاعر هم و چې ډېر اشعار یې د خلکو په یاد دي او ښایي چې دیوان یې هم درلود، مګر اوس ورک دی(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۳۱۴ مخ). میا عبدالکریم چې د دولسمې هجري پېړۍ د اواخرو کې د افغانستان مشهور صوفي، روحاني او شاعر و. عالم او روحاني شخص و، زیارت ته یې عام خلک ورځي. هغه سالک شاعر و او مذهبي متفرقې ټوټې یې شته دي(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۲۴ مخ).

د ده دوه واعظانه اشعار لاس ته راغلي دي چې یو دا دی:

که مې د حق مینه روزي شي له دوامه سره لکه الف چې وصلت بیا مومي له لامه سره
په تا لیدلې لار چې تلې توښه دې ولې نه وړه اوس د هی هی فریاد کوې له هره ګامه سره
اول دې خوب په نالیچو په پشمینو کولی اوس دې د ګور چینجي مستي کړي له اندامه سره
اول دې ښې لوړې مانۍ بیا دې باغچې جوړې کړې اوس دې مرګي خو نه هواره کړه له بامه سره
عبدالکریمه مه نازېره په نیمګړې دنیا د مسافر دلته څه دي له دوامه سره

(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۳۱۴ مخ)

د یادولو ده چې د پورتني شعر لومړی بیت اخوند میاداد محمدزي (د ۱۱۰۰هـ. ق کال ژوندی) هم په کم توپیر سره ویلی دی:

که دې د حق مینه روزي شي له دوامه سره لکه الف چې وصلت بیا مونده له لامه سره
که دې اودس د محبت په میو وشي چېرې د حقیت لمونځ به ادا کړې له امامه سره

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲۸، ۱۲۹ مخونه)

بله نمونه یې:

څه عجب باغ و د سرو ګلو پرې خزان ولګېد
بلبلې لاړې په ژړا ګډېږي سوران ولګېد
خلیل د خدای و چې نمرود ګذار کړ و سرو لمبو ته
چې خدای یې مل وو هغه پورې ګلستان اولګېد...
عبدالکریم ولې غم کړې څه له مست نه ګرځې
نبي سردار د دواړو کونو پهلوان اولګېد(سعید، ۱۳۹۴ل، ۲۸۴ مخ)

ميا عبدالکريم په اولسي اوزانو او غزل کې شاعري کړې ده. په «اولسي سندرې» درېيم ټوک کې د ده يوه سندره خوندي ده چې پيل يې داسې دی:

شونډې دې قند دي سرې شغلې زلفان جالونه توبه
دندان لعلونه توبه

جبرائيل وويل اخي پاڅې چې رب دې بولي ډېر مقرب دې بولي
پاس په اسمان کې ملايک خير العرب دې بولي ډېر په ادب دې بولي
باري په تا باندې ويلي سلامونه توبه دندان لعلونه توبه.....(هېوادمل، ۱۳۷۰ل، ۱۰۱ مخ)

ملا مقصود د پښنور د کړې‌ولې دی. هغه په قام خليل مومند دی. مقصود جان يې اصلي نوم معلومېږي خو ده اکثره په خپلو بدلو کې خپل نوم ملا مقصود ذکر کړی دی. نوموړې په خپلو اشعارو کې د لعلپورې اکبر خان څو ځايه ستايلی دی، معلومېږي چې لعلپورې ته راغلی او خان يې ليدلی دی. اکبر خان د امير عبدالرحمن معاصر و. د ملا مقصود شعر اکثره چاربيټې دي او د غزګانو واقعات يې په کې ويلي دي، لکه د تيرالام او درګي جنګ. د ده چاربيټې ډېرې روانې او خوږې دي او په دې لحاظ چې په دغو چاربيتو کې ديني او ملي رنګ غالب دی، نو ځکه يې په وطن کې زيات شهرت حاصل کړی دی. ده غزل او رباعي‌ګانې هم ويلي خو د چاربيتو غوندې شهرت يې نه دی ترلاسه کړی(رښتين، ۱۳۹۱ل - الف، ۵۳۵ مخ). ملا مقصود حماسي شاعر او د ديني علومو طالب‌العلم و. د پښتو په ملي اوزانو يې حماسي، عشقي، اخلاقي او مذهبي شعرونه ويلي دي. ډارمسټټر د هغه شعرونه ثبت کړي دي(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۸۳ مخ).

د چاربيټې نمونه يې

شين خالې دې په مثال ايښی د وروځو په پيوند ځلېږي زر فشان
اوربل دې الول لکه بخمل دی بند په بند راپورته که چشمان

شين خالی دې په مثال ايښی د وروځو په مابين د ورايه تجلی کا
نری پوزه الف خواږه دې دواړه شفتين زړګی مې واويلا کا....

(رښتين، ۱۳۹۱ل - الف، ۵۳٦ مخ)

ملا صيام الدين د لغمان د عزيز خان کځ اوسېدونکی او په کجوري ملا صاحب مشهور و، د پلار نوم

يې محمد نظيف[1] و او د تخمين له مخې په ١٢٥٦ل [کابو ١٢٩٤هـ.ق] کال کې زېږېدلی دی. ملا صاحب ډېر فصيح او بليغ سړی و. دی د پښتو او پارسي ډېر ښه شاعر وو، له شعر او شاعرۍ سره يې ډېره مينه لرله. ځينې اشعار يې ليدل شوي، نمونه يې دا ده:

سبا پاڅي تر بېګا دې د خولې شور ځي نه ستومان شوې نه دي هيڅ د زړګي زور ځي
د اجل سواره د هر سړي په کور ځي ګورستان ته د چا پلار او د چا مور ځي
(رشاد، ١٣٩١ل- ج، ٦٥٢ مخ)

کجوري ملا هغه روحاني شخص و، د هغه ځای خلکو د روحاني مرشد او پيشوا په توګه منلی دی. عرفاني شعر يې هم ويلی دی. د «پښتانه شعراء» د درېيم ټوک مؤلف د هغه احوال ثبت کړي دی(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢٨١ مخ).

عبدالستار د شينوارو د مزينې اوسېدونکی د هډې د نجم الدين اخوندزاده (١٣١٩هـ.ق/ ١٩٠٢م وفات) له مريدانو او شيخانو څخه و. عبدالستار په ولسي اهنګونو شعرونه جوړول او اشعار يې د مضمون له مخې اکثره ديني او اخلاقي نصيحتونه دي، د جمعې د لمانځه منظومې خطبې يې هم جوړې کړې دي. يوه خطبه يې چې ډېر شهرت لري، دلته د ده د شعر د نمونې په توګه وړاندې کېږي:

په لسان مې اول حمد د کردګار ځي بيا درود په محمد نبي رويدار ځي
د دنيا عمر بې شانه په تلوار ځي د يارانو کډې ګور ته وار په وار ځي

عمر تېر شو په آخره ارمان راغی د فلک ګردش ته ګوره خزان راغی
د باغچې ګلان واړه تار په تار ځي د يارانو کډې ګور ته وار په وار ځي....
د چا زړه به شي ډېر بد د چا به ښه شي يوه ورځ به عنقريب داسې غږ وشي
چې نن قبر ته عاصي عبدالستار ځي د يارانو کډې ګور ته وار په وار ځي
(بختانی، ١٣٩١ل. ٩١٤، ٩١٥ مخونه)

مولانا محمد شاه د سوات د بلکانې اوسېدونکی اتمانخېل پښتون، په دولسمه هجري پېړۍ کې يې ژوند کاوه، د ديني علومو ستر عالم او مدرس و او يوه لويه او بډايه کتابخونه يې لرله. د نوموړي د کتابخونې يوه خطي نسخه د مولانا عبدالرحمن جامي فوايد ضيائيه (شرح ملا جامي) ده. د دې کتاب

[1] په (فرهنګ زبان و ادبيات پښتو، لومړی ټوک، ٢٨١ مخ) کې محمد لطيف کښل شوی دی.

په پای کې څو پانې سپينې دي او په وروستۍ پاڼه يې د غزل په فورم د نصيحت يوه منظومه ده چې د سر د څو بيتونو کاغذ يې رژېدلی او دا بيتونه يې پاتې دي:

کمينې کړه خپله کسب که پوهېږې — چاته مه وايه ترخه خبره لواړه
په هر لور په هر ديار د مرګ نارې دي — يوه ورځ به دې که زرخونه ويجاړه
وارثان به دې په ملا بازي ښادي کا — ستا تنه به شي د ګور په خاک لتاړه
چې دا هسې سخت سفر لرې د وړاندې — په سرو سترګو همېشه د غم نه ژاړه
د دنيا په خوشحالۍ څله نازېږې — يا به نن وي يا سبا درځخه لاړه
د دنيا چارې په تا دي که پوهېږې — محمدشاه لمن تړې زر کوه ونغاړه

داسې معلوميږي چې د دې منظومې ناظم محمدشاه د مولانا حضرت شاه په کورنۍ کې د دولسمې هجري پېړۍ د پای شاعر دی(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۷۱۱، ۱۷۱۲ مخونه).

سيد شېرمحمد د سيد شکر الدين زوی د بنو په احمدخان بازار کې اوسېده. د ديني علومو عالم او متصوف شاعر و. هغه د حافظ مرغزي (۱۱۷٦هـ.ق) معاصر ګڼل کېږي. دا د ده دی:

د توښې زېرمه دې وکړه شېرمحمده — يوه ورځ به دې روان کا په سفر

(هېوادمل، ۱۳٥٦ل، ۲۳٥ مخ)

د سن پيترزبورګ د ختيځ پېژندنې د انستيتوت د خطي نسخو په کتابخونه کې د شمس الدين (مذهب‌نامه) نومې خطي نسخه ساتل کېږي. د دې نسخې په پای کې د **سيف الله** دوه شعرونه هم ثبت دي. د سيف الله شعرونه هم د کندهار په لهجه دي. کېدی شي چې دا دواړه د زمان او مکان له مخې سره نژدې وي. د سيف الله دا شعرونه د ولسي سندرو د چهاربيتې په وزن دي، عشقي او ديني مضمون لري. معلوميږي چې شاعر څه ناڅه ملا سړی وي. مګر د زياتو معلوماتو او سواد خاوند نه ښکاري. يوه چهاربيتي يې دا ده:

ليلا زما په زړه کې څرنګه پرهار جوړ کی په اور يې وسوم په ځيګر کې مې انګار جوړ کی

* * *

ليلا وتلې ده په سيل تماشې کوي — عاشقان يې لور د لوره نندارې کوي
مخ يې مشال سترګې د نمر په شان شغلې کوي — ليلا مې بيا نن ځان په نقش و په نګار جوړ کی
په اور يې وسوم په ځيګر کې مې انګار جوړ کی

* * *

ربه ما وژغورې د کبر د مني خدايه! بل نجات راکړې د دوزخ د حيراني خدايه
د لعين هبته سوې ډېرې خواري خدايه! چې يې په دين کې کبر کاوه تا ده لره زنار جوړ کی
په اور يې وسوم په ځيګر کې مې انګار جوړ کی

د قيامت سختې خواری ډېر عذابونه لري په دا خبر يم هم جنت هم دوزخونه لري
کافران به تر ابده فريادونه لري ملايکانو لري[1] څه ښايسته ګلزار جوړ کی
په اور يې وسوم په ځيګر کې مې انګار جوړ کی

* * *

محمد باري پيدا که دا زمونږ غمخواره عاصيان د ده له رويه خلاص دي د دوزخ له اوره
پر ما رونا به کړي د لحد خونه توره محمد باري د دوو کونو سردار جوړ کی
په اور يې وسوم په ځيګر کې مې انګار جوړ کی....(خدمتګار، ۲۰۱۲م ، ۱۷۱٦، ۱۷۱۷ مخونه)

د پورتنۍ چهاربيتی لومړی برخه عشقي او دويمه يې ديني رنګ لري.

ملا عبدالکريم يوسفزی د مستقيم خان زوی، د هند د رامپور اوسېدونکی دی چې د دولسمې هجري قمري پېړۍ په اواخرو کې يې د شاعرۍ هنګامه توده وه. هغه په پښتو چاربيتې جوړولې، شاګردان يې هم درلودل او په رامپور کې د چاربيتو د ويلو لړۍ ده پيل کړې ده. د نوموړي يوه چاربيته سرمحقق زلمي هېوادمل په ۱۳٦۲ل کال په رامپور کې د شېر علي خان شکېب رامپوري له ضبط څخه رانقل کړې ده. د چاربيتې په کسر کې شاعر خپل نوم (کريم خان) ياد کړی او کېدی شي چې دا هماغه کريم خان وي چې قاسم علي‌خان اپريدي (۱۱۸۳- ۱۲۴۱هـ.ق) په خپل ديوان کې داسې ياد کړی دی:

که نواب محبت خان که کريم خان دی او که بل شو کاظم خان معروف شيدا

د قاسم علي‌خان په دې بيت کې ذکر شوي ژوندي شاعران ياد شوي دي. نو کېدی شي چې کريم خان د ديارلسمې پېړۍ په اوايلو کې ژوندی و.

د کريم خان چاربيته:

---

[1] لره يې.

زړه دې له ما وړی ځنګه ما نور کړوې؟

* * *

که څه دي حورې يا غلمانه په کار مې نه دي بې له تا نه
تا يادومه هر زمانه زړه په فراق مې ځوروې

* * *

چې زه جدا شومه له تا نه هجر کې سوځم دلربا
په تمام عمر کې جانافګار زړګی مې کړوې

* * *

ته ښايسته يې له هر چا نه رب پيدا کړی يې انسانه
خو ولې څه کړم مهربانه! په اور مې ته هم اړوې

* * *

چېرته وتښتم له جانانه امان امان! له دلربا نه
لږ رحم کړه په کريم خانه د غم غوبل پرې ګرځوې(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۷۲۹، ۱۷۳۰ مخونه)

ملا عبدالرحمن د پکلی د علاقې د اګړه‌ور د تپې د تراوړی د کلي اوسېدونکی و. متقي او عابد سړی او د کوټي د حضرت‌جي صاحب سيد امير رحمه‌الله په در کې دربان و. د نوموړي مناقب يې ويلي دي. دا يې نمونه ده:

ته د کل عجم عرب بادشاه کړې د عالم رب
په سيد شوې ملقب دواړه لاس راکړه عجب
که وليان په جهان ډېر دي تر شمارې تر حده تېر دي
واړه ستا تر پګړی زېر دي دواړه لاس راکړه عجب
ای په نزد د حق رويداره! د حضرت نبي مختاره....(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۷۵۷ مخ)

د دې نظم وروستنی بيت (ای په نزد د حق رويداره - د حضرت نبي مختاره) محمد ګل هم ويلی چې پورته يې يادونه شوې ده.

د دولسمې پېړۍ په اخره کې د مردان ضلعې په صوابۍ علاقه کې يو رنګين بيان صوفي او رومانې شاعر تېر شوی چې تخلص يې بياض و، پوره نوم يې **محمد بياض** دی، د صوابۍ په زيده نومې کلي کې

اوسېده او په قوم جدون و.

بیاض په زیدي سیمه کې د یوه دیني عالم په حیثیت اوسېده. له یوه شعر نه یې معلومیږي چې له دې نه وروسته څه موده په پېښور کې هم اوسېدلی او بیا په اخري عمر کې دکن ته تللی دی. د ده په ډېرو شعرونو کې د پردیسی او مسافر لفظونه راغلي دي. د وطن او د وطن د یارانو د بېلتانه سوزناکې بدلې او شعرونه یې ویلي او هم دې پردیسي‌توب د ده په شعرونو کې د دردناکی او سوز تأثیر پیدا کړی دی. دی چې سپین‌ږیرتوب ته رسېدلی، خو له سپین‌ږیرتوب سره سره یې په اشعارو او غزلو کې شوخي او رنګیني موجوده ده چې یو خوا ته د عبرت او نصیحت مضمون دی او بل خوا ته د پښتو ژبې د ساده او لطیف طرز د بیان نادره نمونې دي، لکه چې د خپل سپین‌ږیرتوب او عمر په هکله څومره په رنګینی سره وایي:

غاښ وتلی، تیته ملا، سترګې تاریکې — بیاض ښکلي پسې ګرځي سوال د خولې کا
سپینه ږیره بیاض خوله غواړي د یاره — ملامت پرې باندې وایي عالم ځکه
په پیرۍ کې د بیاض زاړه هډونه
سره لمبه د عشق په اور لکه واښه شو

د شوخی او رنګینی په باب یې دا لاندې شعر هم د کتلو دی چې څومره ډېره بې‌ساختګي او رواني په کې موجوده ده:

ما بیاض لره چې یار خوله راکوله
لکه لښته راته ماته بند په بند شه
چې ترې اخلم چرې خوله وچولی ترېو که — یار په خوله نا نا کوي په زړه صفا یي
سود یې نه شي په دیدن خوله ورنزدې کړه — د بیاض د زړه دمه په ښکلول شي
(افغاني، ۱۹۶۳م، ۷۷، ۷۸، ۷۹ مخونه)

بیاض د څوکنو د میا صاحب محمد عمر مرید دی او په ګڼو شعرونو کې یې دې خبرې ته اشاره کړې ده.

بیاض له ۱۲۰۰هـ.ق نه وروسته هم ژوندی و(افغاني، ۱۹۶۳م، ۸۰، ۸۲مخونه).

بیاض چې دیني عالم هم و، په خپلو شعرونو کې یې عشقي او رندانه موضوعات مطرح کړي او د خپل زړه خبره یې په کې څرګنده کړې ده. په «تیر هیر شاعران» کې د نوموړي د څو شعرونو نمونې راغلې

دي، خو د يادولو ده چې د بياض په نوم شاعر ديوان دوه ځله چاپ شوی دی؛ لومړی ځل ډېر مخکې د «ديوان بياض» په نوم پښتونخوا کې او دويم ځل عبدالله بختاني خدمتګار په۱۳۸۳هـ.ش کال کابل کې چاپ کړی دی.

بي‌بي‌ګله د افغانستان پرهېزګاره شاعره ده چې د دولسمې هجري پېړۍ په حدودو کې د پېښور په شاوخوا کې اوسېده. په ديني علومو کې يې مطالعه لرله او عالمه ښځه وه. د هغې اوږد مناجات شته. دا شعر د هغې دی:

بي بي ګله خبرداره　　له کل نهي توبه‌ګاره
په ايمان شکر ګذاره　　پاڅه وخت دی د سبا(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٨۴ مخ)

سيد نظيف د دولسمې هجري پېړۍ عالم او مؤلف دی، د پښتونستان شاوخوا اوسېده. د اخوند دروېزه ننګرهاري «مخزن الاسلام» يې شرحه کړی، مذهبي او ديني شعر يې ويلی. دا شعر د ده دی:

سيد نظيفه پوچ ويل آواز د ډول وي　　له معنيي نه ډک ويل د شير بويه

ملا شاه جهان مرثيه‌ليکونکی او نوحه‌سرا شاعر دی چې د اتلسمې ميلادي پېړۍ په حدودو کې د پښتونستان په شاوخوا کې اوسېده. د کربلا پېښې يې د پښتو په ملي اوزانو نظم کړې دي. شعرونه يې د سيمې صوفيانو ياد کړي دي.

ملا عبدالرحيم اخونزاده بن علي اصغر اخونزاده بن ملا محمد صفا اخونزاده په ١٢٣٨هـ.ق کال د لغمان د مرکز په کټل کې زېږېدلی او په ١٣٢١هـ.ق کال هملته وفات شوی دی. نوموړي د وخت رواجي علوم زده کړل، په پښتو ژبه يې فکاهي شعرونه ويل، فکاهيات يې د هغې سيمې له اهل ذوق سره خوندي دي. دا د هغه شعر دی:

ته چې دا عزت کوې عبدالرحيمه　　نه به شې په تا مېلمه بني آدم
(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢۴٣، ٢۴٨، ٣٠۴ مخونه)

د علي اصغر اخونزاده يادونه مخکې راغلې ده.

عبدالغفار د پښتو ديني شاعر او مذهبي ليکوال و چې د ١٢٦٠هـ.ق په حدودو کې يې د کندهار په توابعو کې ژوند کاوه. د ديني علومو پر مبادیو پوهېده، په پښتو ژبه يې نثر او نظم ليکه. د هغه د هجوياتو بيتونه دا دي:

ای اخونده نېک خصلته نېک رفتاره　　زه له تا سره اخلاص کړم بې اختياره

چې دی بد رد ناخن حلال په سر کړ لمر له شرمه مخ په ځای د مازیګر کړ
شمشاد قد چې دی په باغ کې سر را لوړ کی سرو سر د سلامي په زانو ورکړ

عمر د پښتو مذهبي شاعر و، ژوند يې د دولسمې هجري پېړۍ په وروستيو کې اټکل کېږي. د عمر خطي شعرونه په ځينو خطي نسخو کې ليدل شوي دي. شعرونه يې د پښتو په غربي لهجه ليکل شوي. احتمال لري چې شاعر د کندهار د سيمو وي. دا د هغه دی:

عمر مخ په مخ سو و خپل يار ته مګر شه يار دی چې يار د يا کا ګاه ګاه

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٣١٥، ٣٢٣، ٣٤٦ مخونه)

فيض الله د دولسمې هجري پېړۍ د حدودو شاعر و، د پښتو ژبې صوفي شاعر و، عارفانه غزليات يې ويلي دي. دا د هغه دی:

راشه فيض الله د شيطان مه نغوړه ځان ژاړه پاڅه روانېږه ستا د کوچ کاروان روان دی

فيض الله د (١١٥٠- ١٢٢٠هـ.ق) په حدودو کې د هشنغر په اګره کې اوسېده. د ميا عمر ځمکني د مريدانو په حلقه شامل او په طريقت کې د نقشبنديه طريقې پابند و. ليکوال او ناظم و.

فيض الله له ١٢٠٠هـ.ق وروسته کلونو کې د کندهار په خاکرېز کې اوسېده، د پښتو په ملي اوزانو يې مذهبي او اخلاقي شعرونه ويل. د هغه د شعر طبعه عالي او شعرونه يې د قوي شعري استعداد ښکارندويي کوي. فيض الله د ديارلسمې هجري پېړۍ په لومړيو کې د کندهار په ارغنداب کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي او هملته ښخ دی. دا د هغه دی:

ژړي ګل مې پرې کاوه فساد را وسو بوستان څه سو
خپل بلبل مې لوباوه پر الواته سو جانان څه سو

قادر د پښتو پخوانی شاعر دی چې د دولسمې هجري پېړۍ کې په شاوخوا کې اوسېده. عارف او متصوف شخص و، پرشوره عارفانه غزليات يې ويلي دي. دا د هغه دی:

سپين شه و عالم ته زړه خيرن ګرځه قادره هسې صراف شته دی چې پوهېږي بې سوراګه

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٣٧٨، ٣٧٩، ٣٨٢ مخونه)

ملا قيوم هغه څوک دی چې قاضي خيرالله پشاوري د «خير اللغات» په مقدمه کې د پښتو د قديمي شاعر په توګه يادونه کړې ده او له يادونې يې جوتيږي چې هغه د ديني علومو عالم او د ملي ژبې شاعر و.

کبير ښه خطاط او د پښتو مذهبي ناظم و چې د دولسمې هجري پېړۍ په منځنيو کلونو کې يې ژوند کاوه. د پښتو خطي نسخې يې په خط ليدل شوې دي. د صدر خان خټک «معجزات» رساله يې په ١١٦٧هـ.ق کال خطاطي کړې او په پای کې يې خپله مثنوي هم ورسره ضم کړې ده. دا د هغه منظومه ده:

د کبير کاتب له لاسه دا کتاب مرقوم شه ناسه
د شعبان آخره ورځ وه دا شين آسمان ته باران ورېځ وه(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٣٩١، ٣٩٤ مخونه)

کرم نسا چې په بيبۍ تاج مشهوره وه او په شعر کې يې «تاج» تخلص کاوه، د حيات‌گل مومند لور د پېښور په شبقدر کې اوسېده. د قادريه طريقې پابنده، عارفه او عالمه ښځه وه. د هغې عارفانه غزليات د «مدح الابرار» مؤلف ثبت کړي او په «تير هير شاعران» تذکره کې يې احوال او اشعار خوندي دي. دا د هغې شعر دی:

کړه نظر راباندې جانه د کوټې شاه مردانه

محمد طاهر جمرياني د محمد علي جمرياني زوی د دولسمې هجري پېړۍ د حدودو ظريف شاعر و، په کندهار کې اوسېده، د ديني علومو عالم او بديهه‌ويونکی شاعر و. مذهبي علوم يې د سيمې له علماوو زده کړل. زمور د هېواد له دانشمند اديب او نامتو مؤرخ محمد هوتک سره يې ادبي او علمي اړيکه وه. دا رباعي د هغه ظريفه طبعه ده:

صحبت ډېر کا اثر گوره منکر نه سي د اثر
ته د مخه هغه شی وې اوس انسان سولې بشر

ملا مرتضی د رحمت الله زوی د کندهار په ارغستان کې اوسېده. د پښتو ناظم او خطاط و، د هغه په قلم خطي نسخې ليدل شوې دي. منظومې ديني قصې يې شته دي. دا د هغه دی:

بې شکه خلقه د لاله په زړه داغونه دي گلۍ د بلبل پرې چغارونه دي
(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ۴۴٧، ۴٦٨ مخونه)

مير حضرت د پښتو پخوانی شاعر دی، د دولسمې هجري پېړۍ په اواخرو کې اوسېدلی. د هغه مذهبي شعرونه ليدل شوي دي. دا د هغه دی:

مير حضرته د دين طالع دې نشته چې نصيب دې خوار و زار دی څه په کار دی

ملا نجم الدين د ملا شمس الدين زوی د پښتو ولسي شاعر دی چې د دولسمې هجري پېړۍ په

وروستیو کې اوسېدلی دی. د هغه خطي غزلیات په ملي آهنګونو لیدل شوي دي. دا د هغه دی:

ساقي د رب دپاره څه خو ګوتې پیاله و ما را

نظرمحمد د محمد علم خان محمدزي زوی په ۱۱۹٦هـ.ق کال د کندهار په ګنج کوڅه کې زېږېدلی او په ۱۳۱٦هـ.ق کال يې له ژوند سره مخه ښه کړې ده. دی عابد او صالح شخص، مؤلف او مدرس و، خپل وخت يې تألیف او تدریس ته ځانګړی کړی و. «*تحفة الخلفای راشدین، مولودنامه، اخلاق نامه*» يې معلوم تألیفات دي. هغه کله کله شعر ویلی او شعري ټوټې يې لیدل شوې دي.

نعیم په دولسمه هجري پېړۍ کې د افغانستان صوفي شاعر او د اخوند دروېزه د ادبي مکتب پیرو و. د هغه عارفانه مخمس د اشعارو په یوه خطي جونګ کې لیدل شوی دی. دا مخمس د هغه دی:

ربه پل زما سیده په سمه لار کړې زړه مې ستا په محبت باندې بیدار کړې

مبدل مې بدعمل په نېک کردار کړې عندلیب مې د جنت په نوبهار کړې

راعطا د محمد په روی دیدار کړې(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۰۱، ۵۱۲، ۵۱۷، ۵۲۱ مخونه)

ملا هوس د پښتو ادب مرثیه‌نګار شاعر دی چې په اتلسمه میلادي پېړۍ کې په اشترزي بالا کې اوسېده. د امامینو مرثیې يې ویلي او د کربلا پېښې يې د پښتو په ملي اوزانو نظم کړې دي. دا د هغه دی:

خدایه راکوز کړې د هوا شینکي مرغونه چې مدینې و ته مې یوسي سلامونه

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۴۵ مخ)

ملا احمدشاه مرثیه لیکونکی او نوحه‌سرا شاعر دی، د اتلسمې میلادي پېړۍ په شاوخوا کې د پښتونستان په توابعو کې اوسېده. د کربلا پېښې په باره کې شعرونه لري. د هغه منظومې د عاشورا په ورځ په خاص شور او جذب سره ویل کېږي. دا د ده شعر دی:

د یزید لونې سلامې ولاړې دي و خیالي اکبره

ورته ورکوز شه و خیالي اکبره

ملا تور مذهبي شاعر او ناظم دی چې د مطیع الله پیره‌خېل (د ۱۲۰۰هـ.ق په حدودو کې) د مناجاتو په پیروي يې مناجات ویلی دی. دی خطاط، ناظم او د دیني علومو طالب و. د دیارلسمې هجري پېړۍ په لومړیو کې يې ژوند کاوه. دا شعر د ده دی:

ملا تور يې ګنهګار دی او په زړه يې تور غم بار دی

په خپل يار پسې بېمار دی پر خپل کور کې په دا کوکار دی

لا الله الا هو (هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢١، ١٠٤ مخونه)

محمدګل د بېګ‌محمد زوی په ١٢٥٧هـ.ق کال د لغمان د مرکز په شمتي کې زېږېدلی او په ١٣٠٨هـ.ق کال وفات شوی دی. ده د ديني علومو مبادي زده کړل او د پښتو په ملي اوزانو يې شعرونه ويل. دا د هغه دی:

زه شعر وايم د ځانه مطلب اخلم له کتابه هر څوک که مې شاګرد شي په وينا يې کړم سېرابه

په ځلورو ژبو وايمه شعرونه بې حسابه بې علته سندرې وايم په ميدان يې لا جوابه

د پير له برکته هر غزل مې معنی دار نور بس که محمدګله زياتي پرېږده دا بيان

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٣٧٨، ٤٥٣ مخونه)

ملا سکندر ستريانې د ملا محمد اخونزاده زوی و. په ١٢٣٤هـ.ق کال زوکړی او په ١٣٠٢هـ.ق کال مړ دی. سکندر د ستريانو د غوريزي پښې ته منسوب و او د ډېرەاسماعيل‌خان د تحصيل کلاچې په کوهي باره کې اوسېده. د پښتو په ملي اوزانو کې يې اشعار ويلي او د حافظ عظيم له شعري پلويانو څخه ګڼل شوی دی. د سکندر ستريانې ذکر په پښتو منظمو تذکرو کې نه دی شوی. په «فرهنګ زبان و ادبيات پښتو» کې يې يوه لنډه يادونه راغلې ده. د ده پاړکي او لنډه پېژندنه رب نواز خان جعفرزي ګنډەپور د حافظ عظيم (١٣٢١هـ.ق مړ) د ديوان په پايځور کې راوړې ده. د حافظ دغه ديوان د پېښور اکېډيمۍ په خطي کتابونو کې محفوظ دی او په پايځوړ کې يې د ملا سکندر په څېر د نورو ډېرو ولسي شاعرانو پاړکي او سوانح خوندي شوي دي. دی د يوه ولسي شاعر په توګه زمونږ په ادبي تذکرو کې ځای نيسي. د ده د کلام په نمونه کې لاندې پاړکی وګورئ:

تر ايرو سکور ښه دی تر منت پور ښه دی‌تر بېوفا اشنا نه سپی آدم‌خور ښه دی

* * *

تربرونه ډېر غواړه تر ځان يې زېر غواړه توره د بل مه کړه د ځان شمشېر غواړه

شده په هيڅا نسته خپل ځان په شير غواړه‌تر دا پردو زامنو ړوند زوی د مور ښه دی

* * *

بې ځايه منډې مه کړه نکاح د کونډې مه کړه که يې ويړيا درکوي لور د برمنډې مه کړه

چې درسره نه وي تل ياري د ځنډې مه کړه چې درسره وي مدام په سترګو کور ښه دی

* * *

آس سر هوا پرېږده يار بې وفا پرېږده که وي هر څو ښايسته جل بې حيا پرېږده
چې په کوڅو کې ګرځې زوی د ملا پرېږده تر زرين پوش پياده د غوايي سپور ښه دی
(هېوادمل، ۱۳٦۲ل، ۸۷، ۸۸ مخونه)

د شېرمحمد په نامه ډېر شاعران لرو. دغه شېرمحمد چې دلته يې معرفي کېږي، تر اوسه پښتو تذکرو نه دی معرفي کړی او يواځې «فرهنګ زبان و ادبياتو پښتو» يې لنډه پېژندنه راوړې ده. **شېرمحمد** د دوست محمد زوی د ۱۲۱۲هـ.ق کال په شاوخوا کې د لغمان د مرکز د شمتی په کلي کې زوکړی دی. پلار، ورونه، ورېرونه او کورنۍ يې ټول شاعران وو. شېرمحمد کليوال ولسي شاعر و، کليوالي ژوند يې درلود، بزګري يې کوله، د دې ترڅنګه يې د شعر ويلو قريحه هم درلوده او د پښتو په خپلو ملي اوزانو يې اشعار ويل، ديني او مذهبي قصې يې نظمولې. د شېرمحمد ديني قصو ته چې وکتل شي، فکر کېږي چې دی به په ليک لوست او د ديني علومو په مبادیو پوهېده. د ده په قصصي سندرو کې د «*ماهيګير*» او «*ابو شحمه*» قصې ډېرې مشهورې دي. وايي چې شېرمحمد د ۱۲٦۹هـ.ق کال په شاوخوا کې په خپل کلي کې مړ او هورې ښخ دی.

دا يې د کلام يوه نمونه:

زه بنده د خدای يم تل يې ثنا وايم
بې شکه چې خدای يو دی وحده شريک نه لري
سيال په هيڅ طريق نه لري
دين د محمد چلوم ښې په محبت چلوم
دی بم شفاعت که د محشر په روڅ رويدار و
د امت غمخوار و
په اوله پيغمبر و پاچا حکومت يې و په هر چا
پس له محمده پاچا و ابابکر صديق
خلقه د ده و رفيق
ابابکر و يار د حضرت تېر شو د خدای په قدرت
پس له ابابکره پاچاهي کوله عمر خطاب

عدل چلېده په انصاف

يو زوی د حضرت عمر قرآن‌خوان و ښه معتبر

غوږ ونيسئ يارانو زه قصه د ابو شحمه وايمه

ښې په هنګامه وايمه...(هېوادمل، ۱۳٦۲ل، ۱۰۲، ۱۰۳ مخونه)

«*د ماهيګير*» قصه محمد عالم هم نظم کړې ده. دغه قصه د اخلاقي منځپانګې لرونکې او د ديني روحيې تر اغېز لاندې ترجمه او نظم شوې ده. ناظم يې محمد عالم ښوول شوی چې د مثنوي په قالب کې يې نظم کړې ده. خطي نسخه يې د پېښور پښتو اکاډيمۍ په خطي مجموعه کې خوندي ده(هيوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱٦۰ مخ).

ملا عبدالباقي د دوست محمد زوی د ۱۲۲۰هـ.ش کال په شاوخوا کې د ميدان د سيمې په رويان کې زوکړی دی. ديني علوم يې په هماغه سيمه کې لوستي و، په ليک لوست پوهېده، د دې ترڅنګه يې د شعر ويلو قريحه هم درلوده او د پښتو د ولسي شاعرۍ په اوزانو کې يې شاعري کوله. عبدالباقي به اوړی، منی او پسرلی په ميدان کې او د ژمي په موسم کې به لغمان کې اوسېده. د ۱۳۱۱هـ.ش کال په شاوخوا کې وفات شوی دی. د اشعارو کومه مجموعه يې نه ده ټوله شوې، خو متفرق اشعار يې په ميدان او لغمان کې د خلکو زده دي. ده د پښتو د ولسي شاعرۍ په اوزانو کې ډېرې ديني او کليوالي قصې هم نظم کړې دي او ځينې فکاهي اشعار يې هم ويلي دي. د دغه عبدالباقي له نظم کړو قصو څخه يوه قصه د حضرت محمد ﷺ د يوه خوب په باب ده چې د پښتو د ادبي تاريخ په څېړنو کې د «حکايت رسول» په نامه يادې شوې ده. دغه قصه له ارزاني روښاني (۱۰۱۰هـ.ق) نيولې بيا تر معاصرې دورې پورې ډېرو شاعرانو نظم کړې ده او استاد هېوادمل پر دغه حکايت يوه لنډه څېړنه کړې چې وړمې مجلې خپره کړې ده. په دغه څېړنه کې د عبدالباقي ميداني د دغې قصې يادونه شوې او د هماغه مخ په حاشيه کې يې لنډه پېژندنه راغلې ده(هېوادمل، ۱۳٦۲ل، ۱۲۰، ۱۲۱ مخونه).

نوموړي په پښتو ملي اوزانو يې شعر وايه، محلي او مذهبي قصص يې په همدې قالبونو کې نظم کړي دي. دا د هغه دی:

اوښکې مې پر مخ باندې راځي ديوانه به شي واوا خورکی ببګانه به شي

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۲۹۲ مخ)

په «اولسي سندرې» درېيم ټوک کې د عبدالباقي په ۴۹۸- ۴۹۹ شمېرو دوه سندرې خوندي دي چې

یوه یې دا ده:

ټولو پیغمبرو کې زمونږ نبي سردار دی
تود د ده بازار دی

ټولو پیغمبرو کې اول یار یې صدیق دی د نبي رفیق دی
دوهم یار یې عمر هم دره‌دار دی تود د ده بازار دی
ټولو پیغمبرو کې درېیم[1] یار یې عثمان دی جامع چې د قرآن دی
څلورم یار یې علي چې صاحب د ذوالفقار دی تور د ده بازار دی
ټولو پیغمبرو کې نبي کړی معراج ګوره د ده تاج
تاج یې د لولاک و نازولی د ستار دی تور د ده بازار دی
ټول پیغمبران به وي چې سخت روز محشر شي ډېر په شور و شر شي
هر یو پیغمبر له خپل امت ځني بېزار دی تور د ده بازار دی
ټولو پیغمبرو کې زمونږ نبي افضل دی پاک باچا یې مل دی

عاجز (عبدالباقي) د ده په مینه ګرفتار دی تور د ده بازار دی(هېوادمل، ۱۳۷۰ل، ۱۳۲ مخ)

ملا مومن د کندهار د سیمې ولسي شاعر دی چې د پښتو په ملي آهنګونو یې شعر وایه او د خپل قوم او ولس کارنامې او مړانې یې په همدې کالبونو کې نظمولې. ښایي ده عشقي او دیني او اجتماعي اشعار هم ویلي وي. دی د ۱۲۰۰ل د حدودو شاعر دی چې تر ۱۲۵۹ل کال پورې ژوندی و. کومه سندره چې ده د کندهاري میر احمد جان په مېړانې پورې ویلې ده، د لوی استاد علامه پوهاند حبیبي د څېړنو له مخې د ۱۲۵۹ل کال په واقعاتو پورې اړه لري، نو په همدې اساس تر دغې نېټې پورې د ده ژوند یقیني ګڼل کېږي. لوی استاد چې په خپله یوه مقاله کې د ده سندره راوړې، نو د ده له نامه سره یې د «ملا» نسبتي صفت هم ور اضافه کړی دی او دا تر زباتیرې چې مومن به ملا هم و، په دیني علومو به هم پوهېده او له دې سره یې د شعر ویلو طبع هم درلوده. دا د ده د کلام یواځینۍ ترلاسه شوې نمونه:

هم شهید سوې هم غازي میرامد جانه د مړانې ډغ دې ولاړ تر هندوستانه

* * *

[1] اصل کې «دوهم» دی.

پرنګي پر کوږک راوستل پوجونه　　پر بولدک يې ډېر راواړول توپونه
سره ګوره ولاړ په لاس کې توپکونه　　شهيدان يې کړل د لارې ګوروانونه
اخکزي سوله په ريګ کې سرګردانه
کندهار ولاړ پر ننګه د اسلام و　　پرنګي په باتو بيا تړلی لام و
سپين سهار يې په توپونو کې ماښام و　　د غازيانو پر ټولو يې دروم و دام و
دوی ول راسه چې مالوم کو پر ميدانه....(هېوادمل، ۱۳٦۲ل، ۲۴۲- ۲۴۳ مخونه)

ملا مومن د افغان- انګليس د دويم جنګ پېښه په شعر کې بيان کړې ده(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۳۰۲ مخ).

عبدالکريم صاحبزاده د مهتر موسی صاحبزاده زوی په ۱۲۵۵هـ.ق د کندهار په شاوخوا کې زېږېدلی دی. د وخت له علماوو يې رواجي علوم زده کړل، علمي او روحاني شهرت يې وموند. د امير حبيب الله له درباره څخه يې دوامداره معاش اخيست. له فيض محمد هزاره سره يې د «سراج التواريخ» په تدوينولو کې مرسته کړې ده. په پښتو او پارسي ژبو يې شعرونه ويل. اشعار يې ثبت شوي دي. صاحبزاده په ۱۳۲۸/۱۳۲۷هـ.ق نېټه له دې نړۍ رحلت کړی دی. دا د هغه دی:

چې دی بد رد ناخن حلال په سر کړ　　لمر له شرمه مخ په خای د مازيګر کړ
شمشاد قد چې دی په باغ کې سر را لوړ کی　　سرو سر د سلامي په زانو ورکړ
(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۲۳ مخ)

ملا محمد د راز الدين خان زوی په خټه ساپی د ۱۲۴۰هـ.ش[1] کال په شاوخوا کې د لغمان د احمدزو په کلي کې زوکړی او په ۱۳۰۵هـ.ش کال مړ شوی دی. ابتدايي ليک لوست يې په لغمان کې وکړ، بيا کابل ته راغی او د مولوي محمد عبدالرؤف خان کاکړ په شاګردانو کې شامل شو. همدغه مهال يې دربار ته لاره پيدا کړه او د امير عبدالرحمن (۱۲۹۸- ۱۳۱۹هـ.ق) په دربار کې د عرض بيګي او د پښتو منشي و. د امير حبيب الله (۱۳۱۹- ۱۳۳۷هـ.ق) په عصر کې يې هم دغه وظيفه درلوده. ملا محمد د غازي امان الله خان (۱۳۳۷- ۱۳۴۷هـ.ق) په زمانه کې د پښتو مرکز له جوړېدو وروسته د دغې مرکې غړی و او د «يوازنی پښتو» په کتاب کې يې لاسليک هم ليدل کېږي. ملا محمد د دغو رسمي ملازمتونو ترڅنګه د شعر ويلو قريحه هم درلوده او پر پښتو يې د څه ليکلو توان هم درلوده او د سراج الاخبار د چلوونکو يې قلمي مرستې ته سترګې په لار وې او له دوی سره يې مرسته کوله.

[1] په «فرهنګ زبان و ادبيات پښتو» لومړي ټوک ۴۳ مخ کې د زېږېدو کال (۱۲۳۰هـ.ق) کښل شوی دی.

په سراج الاخبار کې د ده یوه پارچه شعر شته چې د کلام د نمونې په توګه یې وړاندې کوو:

افغانستان خلق زمري دي په افګار به شئ خیالات د بدو ورته مه کړئ نګونسار به شئ

افغانستان خلق قانع په خپل دولت و ملک دي صبر په خپلو غرو کوي مانع د بل له ملک دي

تابع د خپل امیر په سل رنګه تل دي که سپک نظر ورلره وکړئ پاس په دار به شئ....

(هېوادمل، ۱۳٦۲ل، ۲۳٦، ۲۳۷، ۲۳۸ مخونه)

دی چې په ملا محمد افغان نویس هم یادېده چې د امیر عبدالرحمن په دوران کې یې دربار ته لاره پیدا کړه، د عمر تر اخره د پښتو ژبې او ادب په خدمت کې و. ملا محمد په پښتو نظم او نثر لیکل کول، د هغه و اشعارو ځینې ټوټې په سراج الاخبار کې چاپ شوې دي. پاچایي فرمانونه او ځینو نور اسناد یې په پښتو ترجمه کړي دي. ملا محمد په ۱۳۰۵هـ.ق کال له دې نړۍ کوچېدلی دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۳ مخ)

ملا فضل حق د اشنغر د تنګي اوسېدونکی، شاعر او خطاط و. د ده د لیک کومه نمونه چې په لاس کې ده، د څمکنو د میا محمد عمر د (*خلاصه کیداني*) په پښتو منظوم کتاب دی چې په ۱۲۹۸هـ.ق کال کې فضل‌حق لیکلی او په ډیلي کې چاپ شوی دی. داسې معلومیږي چې د کتاب د اصلي نسخې پاڼې زړې او ورنه لوېدلې دي او ځینې برخې یې له لوستو نه وتلې وې، نو هغه برخې هم ملا فضل حق بشپړې کړې دي. هغه د خلاصې د سر (۵۳) بیتونه دي. د دې کتاب په پای کې ملا فضل حق د هغه خاتم الطبع لیکلې ده او د کتاب د سر د تکمیلولو خبره یې هم په کې کړې ده چې داسې شروع کېږي:

مبارک شئ پښتنو ته دا کتاب میا صاحب د څوکنو عالي جناب

په پښتو ژبه یې ساز کړ ټول په خپله مسایل یې زیات واضح کړه یو تر بله

مخکې وایي:

د حاجي صاحب[1] وه خوښه چې پوره شي دغه سر ته هم بیتونه ورسره شي

ماته یې ووې چې دا پاته کار ته وکړه چې پوره شي خلاصه زما زړه ښه کړه

وامې خیست ترېنه قلم مشوانۍ دواړه ومې ښکل زر دا ابیات ډېوې په غاړه

درې پنځوس دي دا بیتونه له حسابه د الحمدلله نه یې شماره تر ول بابه

باقي ټول د میا صاحب مغفور مرحوم دي چې امثال یې په ابیاتو کې معلوم دي

[1] حاجي محمد امیر د کتابونو تاجر او د خلاصې د کتاب ناشر.

(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۹۰۶-۹۰۷ مخونه)

ملا محمد امان بن گل محمد بن ملا يعقوب د ديارلسمې هجري پېړۍ په لومړيو کې د کندهار په پاشمول کې اوسېده. ترين قبيلې ته منسوب دی. د ديني علومو عالم، شاعر او مشهور خطاط و. په ۱۲۱۶هـ.ق کال کې يې د «شرح الياس» نسخه خطاطي کړې، په دې اثر کې يې متفرق غزلونه ليدل شوي دي. د ده له اشعارو دا دی:

چې په درد و په غمو سره الود دی ته پر وکه يو نظر خوار دی امان(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۵۲ مخ)

مولانا يا **اخوندزاده نورمحمد** په کهيا ملا صاحب مشهور دی، کهيا نومی کلی د اباسيند پر غاړه دی. دی د کوټي د حضرت‌جي صاحب سيد محمد امير (۱۲۱۰- ۱۲۴۹هـ.ق) په خاصو مريدانو کې و(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۹۰۳ مخ). نورمحمد و د حضرت‌جي صاحب د دربار روزنامه‌نويس و. مختصر او نامکمل تحرير يې په «نظم الدر» کې مندرج شوی دی. دا کتاب د مسري باندې صفي الله ختک په ۱۲۷۹هـ.ق کې په پارسي ژبه ليکلی او د حضرت جي صاحب سوانح هم په کې راغلي دي. نورمحمد کيا ملا صاحب د حضرت جي صاحب په مناقبو کې په ۴۸ بيتونو *بوللە* لري چې څينې بيتونه يې وړاند کېږي:

مرتبه دې ده بلنده هر وګړي ته څرګنده خصوصاً د خاصو ځانه د کوټي شاه مردانه!

په مجلس کې چې ستا راشي کُلي بدو ته يې شا شي خوش تقريره لب خندانه! د کوټي شاه مردانه!

ته په ياد د خدای مسرور يې په هر ملک کې مشهور يې اخلاص ډېر لرې بې شانه د کوټي شاه مردانه!

ته محبوب د پاک الله يې نازولی د درګاه يې رضا غواړې له سبحانه د کوټي شاه مردانه!

خواهش ستا متابعت دی د سنت د پاک حضرت دی اې زما جان جانانه! د کوټي شاه مردانه!

(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۷۶۷ مخ)

ملا طيب صاحب چې اصل اوسېدونکی د پکلی و، بيا د ټونک په ښار کې يې قيام اختيار کړ او د نواب ټونک پير شو او هلته يې ډېر خلق معتقد شول. ملا طيب د کوټي د حضرت‌جي له مادحانو او مأذونانو څخه و. د خپل پير په مدح و منقبت کې اوږدې منظومې لري. يوه منظومه يې ۲۲ بيته ده او په دې مطلع شروع کېږي:

ولاړ په دين د پاک سرور دی د کوټي حضرت‌جي د حقيقت د لار رهبر دی د کوټی حضرت‌جي

(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۶۰۵ مخ)

بله منظومه يې ۳۸ بيته ده او په دې بيتونو شروع کېږي:

نه پوهېږم چې په څو مې زړه زهير دی اندرون مې نن بې شانه ډېر دلګير دی

نه يې هيڅرته قرار نه يې ارام شته د بنې په شانه پورته هواګير دی

په ځوانۍ کې مې سم قد کړه لينده شه د غم پېټی مې مات کړی د ملا تير دی....

(خدمتګار، ۲۰۱۲م ، ۱۷۷۲ مخ)

دا دواړه منظومې د کوټې د حضرت‌جي سيد امير (۱۲۱۰- ۱۲۹۴هـ.ق) په مدح او منقبت کې ويل شوې دي. ملا طيب د نقشبنديې طريقې پيرو و او د دې طريقې د ارشاد اذن يې درلود او په هند کې د همدې طريقې د اصولو او لارښوونو مطابق د خلکو په رهنمايي بوخت، عالم او عارف سړی و. په پښتو کې يې د نظمولو استعداد درلود، په نظمونو کې يې د روحاني جذب څه مټره ليدل کېږي او په عربي ژبه د پوهې له امله يې عربي کلمات، اصطلاحات او ترکيبونه په نظمونو کې ليدل کېږي. څنګه چې حضرت‌جي يې پير و، د ژوند زمانه يې ديارلسمه پېړۍ اټکل کېږي او غالباً د څورلسمې هغې په لومړيو لسيزو کې هم ژوندی و(هېوادمل، ۱۳۹٦ل، ٦۰٦ مخ).

ميا محمد عثمان غني د شيخ عبدالصمد ګل زوی دی. دی په خټه مهمند د ۱۸۳٦م کال په شاوخوا د کوزې پښتونخوا په پيو کې زېږېدلی او د ۱۸۹۰م کال په شاوخوا کې وفات شوی دی. ده په دولس کلنۍ کې قرآن کريم ختم کړ، په شپاړس کلنۍ کې يې د فقهې د کتابونو لوستل پيل کړل، قدوري، کنز الدقايق، هداية او نور کتابونه او ورسره يې منطق، رياضي، هندسه او الهيات هم ولوستل او تر شل کلنې پورې يې ټول ديني او دنيايي رواجي علوم سرته ورسول. له عالمانو بزرګرانو سره د ميا عثمان غني ډېر مينه او ارادت و. د عالمانو فاضلانو ډېر زيات قدردان و. په ورځو ورځو به يې ځان سره ايسارول او په علمي ديني مسايلو به يې ورسره بحثونه کول. هغه عالم او دانشمند سړی و. د پښتو او پارسي شاعر و.

د وينا بېلګه يې:

عجيبه مسلمانان دي دين نه ليرې مؤمنان دي

د نېکانو اولادونه په غلطه لار روان دي

دا لا څه کوې نور ګوره په لالچ کې سرګردان دي

زه چې دوی ته حق وينا کړم ځکه دوی مې دښمنان دي

خدايه بچ يې له ګناه کړې عجيبه شان سرمښان دي

ته توفيق د نېکۍ ورکړې سرګردانه په جهان دي(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۸۰۹ مخ)

ملا نېک محمد غازي په خټه کاکړ د جنوبي پښتونخوا د خانوزيو اوسېدونکی په ۱۲٦۰هـ.ق (۱۸۴۴م) کې زېږېدلی او په ۱۳۴۴هـ.ق (۱۹۲٦م) کال کې وفات شوی دی. نوموړي په ۱۲۸۵هـ.ق (۱۸٦۳م) کال د ميوند په غزا کې برخه اخيستې ده او د همدې غزا په باره کې يې شعر ويلی دی. د پښين پر فيض محمد غازي باندې هم د هغه يوه منظومه شته او هغه چاربيته دا ده:

فيض محمد غازي يې مړ کړئ سره لاسونه — د اسلام پر زړه کې کښېنول داغونه
فيض محمد ويل دا څه د غم ګړی دی — چې پر سر مې د ګولیو سور سړکی دی....

د ميوند غزا چاربيته يې:

لويه ربه! د ګوره وغرغړې دي — د محمد ايوب پوځونه په پسې دي
لويه ربه! سره ويې نيول تېغونه — پر غرو پرېوتل د شنو توپو خوپونه
ايوب خان لکه زمری کوي جنګونه — د يعقوب په پښو کې پرېوتې ځولنې دي

(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۸۱۰، ۱۸۱۱ مخونه)

محمد رفيق د ديارلسمې هجري پېړۍ مذهبي ناظم او خطاط و، د کندهار په سيمو کې اوسېده، په ۱۲۵۹هـ.ق کال ژوندی و. د هغه مذهبي منظومې موجودې دي: دا د هغه دی:

محمد رفيق مې امېد وار د شفاعت دی — چې يې خلاص کړې له نيرانه په غفران خپل

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۴۳ مخ)

فيض الله صاحبزاده د مهتر موسی صاحبزاده زوی د پکتيکا د کټه‌واز د سيمې د عرض‌بيګي د کلي د صاحبزاده‌ګانو د کورنۍ له مشرانو څخه دی چې په ۱۳۳۰هـ.ق (۱۹۱۲م) کال کې مړ او د نوموړي کلي په هديره کې ښخ دی. دی عالم، اديب او متقي سړی و. په هندوستان، ايران او عربي هېوادونو کې ګرځېدلی و. په پښتو او پارسي ژبو يې شعر وايه.

د نوموړي د پښتو شعر نمونه:

هيڅ پروا دې له سيالانو څخه نه سي — که په لاس کړې د بيوې په شان کنګړ
رنګينه وربښمين کالي دي تا اغوستي — د لونګۍ پر ځای پر سر ټرې چمبړ
په هيڅ ډول مې د يار ديدن پرې نه ښوو — که هر څوو د رقيب راته تل غريږ
د رقيب په لاپو شاپو بند واز نه يم — هجران شو زمری را مات يې کړ اورمېږ(خدمتګار،

۲۰۱۲م ، ۱۸۲۱ مخ)

د «فرهنگ زبان و ادبیات پښتو» اثر لیکوال بیا لیکي چې فیض الله صاحبزاده په ۱۲٦٥هـ.ق کال زېږېدلی، له رواجي علومو برخه‌من و، په پښتو، پارسي او عربي ژبو يې شعرونه ویل، په ۱۳۲۱هـ.ق کال په کټواز کې وفات شو او په عرض ېېګي قلعه کې ښخ شو. دا د هغه دی:

فخر هر چېرې په علم په تقوا وي　　په مړو فخر کوي قوم د اورمړ(هېوادمل، ۱۳٥٦ل، ۳۸۰ مخ)

میا محمد عرفان د میا محمد عثمان غني زوی چې په ۱۸٦۰م کال په پېو کې زېږېدلی او په ۱۹۳۰م کال هملته مړ او ښخ دی. کله چې د زده‌کړې وخت يې راغی، نو پلار يې ورته ښه استادان ونیول او ده له هغوی څخه مروجه ديني او دنيايي علوم ولوستل. په عربي، پارسي او پښتو ښه پوهېده او په اردو کې يې هم ښه لیک او لوست کولای شوای. په پارسي ډېر پوهېده او يوه انګرېز ته يې دا ژبه ور زده کړه. میا عرفان د حضرت شیخ شهباز د علم و عرفان او د دین د خپرولو وظیفه جاري ساتله. د علاقې خلکو ته به يې د ضرورت مطابق په عربي کې د فقهې او تفسیر د کتابونو، په پارسي کې د بوستان، ګلستان او د مولانا جلا الدین بلخي د مثنوي معنوي او په پښتو کې د جنت الفردوس، رشید البیان او د رحمان بابا د دیوان درسونه ورکول. دی د پښتو او پارسي شاعر و. د هغه یواځې دا څو بیتونه پاتې دي:

راشه واوره و نېکانو هدایت　　دنیا پرېږده فکر وکړه د قیامت

د دنیا غمونو دومره لېونی کړې چې دې هېر دی د هغې دنیا شامت

د بدکارو انجام بد دی که پوهېږې　　درنه هېر دی د خدای رسول طاعت

نور به څه وایم و تاته زما یاره　　شیطاني کارونه کاندې هر ساعت

(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۸۴۳، ۱۸۴۴ مخونه)

ملا امیر د صوابۍ تحصیل د مردان ضلعې په کلابټ نومي کلي کې یو شاعر تېر شوی دی. په خپلو شعرونو کې امیر او ملا امیر دواړه تخلصونه کوي. په ځینو شعرونو کې د شاه‌شجاع د کابل د تخت‌نشینۍ او بیا له تخت نه د کوزېدو ذکر کوي، نو ویلی شو چې د ۱۲۴۰هـ.ق د زمانې شاعر دی. امیر په پښتو ژبه کې د تمیم انصاري قصه په نظم کړې ده. د ده شعرونه د قصو له مخصوص طرز سره برابر دی. د کلام نمونه يې:

ته به څو ګرځې حیات دلته خرسنده　　چې مدام کوې کارونه ناپسنده

ناګهانه مې اواز په غوږو ساز شه　　چې تړې وتښته تميمَ عقل وندې
دا دنيا ده مکرجنه دلفريبه　　څکه ناسته ده غمجنه ناخرسنده
هر سړی چې په دې باندې مبتلا شي　　مبتلا شي په بلا کار يې بې خونده
پر ښايست او پر جامې يې غلط مه شه　　هم عاشق په خط مې مه شه خردمنده
دا آواز مې چې په غوږ شو بيا په خود شوم　　په توبه په استغفار شومه څو چنده
ساه نيولې په رو رو راغلم تر پيره　　پير ويل چې راته وايه بائي بنده
د ښه خدای قدرت دې وليده په سترګو　　ما وې او ستا په دعا خلاص شم له ګنده...

(افغاني، ۱۹۶۳م، ۱۷۸ مخ)

ملا امير قصه‌ويونکی شاعر و او په قصه‌ليکنه کې د فياض مندړ پيرو و. د هغه له قصو څخه د تميم انصاري قصه او زقوم قصه معلومې دي. د افغان- انګليسي د لومړي جنګ پېښې يې منظومې کړې دي. دا د ده دی:

آشنا ستا په سينه خوله څنګه جوړيږه　　چې ته اخلې له اميره رخصتونه

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۵۵ مخ)

احمدجي اخوندزاده په اصل کې د خويشکي کلي اوسېدونکی و، بيا د شينوارو علاقې ته لاړ او په قصابه نومي کلي کې استوګن شه. په يوه روايت چې احمدجي اخوندزاده د علم و بصيرت او سلوک و معرفت خاوند و، په شينوارو کې په باباجي صاحب مشهور و او په دغه علاقه کې د خلکو پېشوا او روحاني مقتدا و. د ۱۲۶۰هـ.ق کال په شاوخوا کې شهيد کړی شو او زيارت يې په موضع قصابه کې د شهيد باباجي په نوم شهرت لري. د ده صرف دا يو نظم لاس ته راغلی چې د تصوف و عرفان او د پند و نصيحت په بيان کې غوره اشعار دي او د ده د طبيعت رواني او ښکلی‌والی تړې معلوميږي، وايي:

بلبلانو ژبې وسپړدې چغار که　　د صباح په لوري واړه انتظار که
که رنګين نقاب يې پورته کړ له مخه　　په رڼا به راښکاره تازه ګلزار که
د بلبل په دود مې تا و ته زاري ده　　چې ښکاره راته د عين يقين لار که
چې سر کوز کړم په دا خپل ګرېوان کې ګورم　　ټول ګنه وي څو د زړه سترګې مې ښکار که
په خپل نفس کې شرمنده تر حده تېر يم　　کوم عمل دی چې صبا به مې پکار که
غرض دا بې ستا له مهره بل څه نشته　　چې مخ تور بنده پرِ خپل خاطر قرار که

تش يې مه پرېږده په بېرته ای کريمه مختورن که حاجت عرض ستا په دلبار که....

(افغاني، ۱۹۶۳م، ۱۸۳- ۱۸۴ مخونه)

احمدجي اخونزاده په دې شعر کې د خپلې ناتوانۍ عرض خپل رب ته کړی چې مخ يې تور نه کړي او يواځې يې پرې نه ږدي.

مولانا حاجي عبدالرحيم د فقير عبدالکريم زوی و، د خليل قبيلې ميتاخېل دی، د پرانګ په ګندي ياسين کې اوسېده. د سوات د باباجي صاحب مريد و، د عربي علومو ښه عالم و او خصوصاً د هغې زمانې د رواج مطابق د پارسي کتابونو درس به يې ورکاوه او په خپله به يې هم په پارسي، عربي او پښتو ژبو کې شاعري کوله. په ۱۲۹۳هـ.ق کال يې د علم صرف د مشهور کتاب (شافيې) کتابت په خپله کړی دی. د سوات د باباجي صاحب يوه اوږده مرثيه يې ليکلې ده چې په هغې کې يو بيت په عربي ژبه او په آخره کې لس بيتونه په پارسي ژبه دي. اکثره شعرونه يې اخلاقي او د پند و نصيحت ښه لري.

د کلام نمونې يې:

نعمت عجيبه عجيبه عمر دی له تا په هوس لاړ بيا نه راځي په بېرته لکه تللی نفس لاړ

هم اوس يې تدارک کوه موندلِ بيا محال دي هرګز نه درځي لاس ته چې مارغه له قفس لاړ

توښه وه د عقبی تا په دنيا کې کړه خرابه دا هسې عزيز ځيز له تا په شل و په لس لاړ

ناظر يې د مولا په لګول د دې دولت کې په تا به شي حساب که يو نفس دی عبث لاړ

ټول لګت به دې ګوري درپسې نويسنده دی تا ازميې چې کس دی که ناکس لکه خس لاړ...

(افغاني، ۱۹۶۳م، ۱۹۴، ۱۹۵ مخونه)

* * *

بې مثله بې مثاله دی زما رب الارباب بيرون له وهم و خياله دی زما رب الارباب

قدرت د ده محيط دی په جميع ممکناتو قادر بر کماله دی زما رب الارباب

واحد لا شريک دی معرفت يې فرض عين دی باقي هم بې زواله دی زما رب الارباب

د فکر تصور په ذات پاک کې لاره نشته خارج له قيل و قاله دی زما رب الارباب

کم کيف ګڼه لوی حيف چې به يې خدای و له نسبت کړې بری له دې احواله دی زما رب الارباب

(افغاني، ۱۹۶۳م، ۱۹۶ مخ)

ملا محمود اخونزاده د سدم د چارغلي اوسېدونکی او د حاجي شمس الدين اخونزاده وراره و. تره يې

د خپل وخت ډېر لوی عالم او د حضرت‌جي صاحب د کوټې په مريدانو کې مشهور فاضل سړی تېر شوی دی. محمود د دې علمي کورنۍ يو اديب او رنګين بيان شاعر و، په دغه وجه د سوات صاحب د مخالفت له کبله په چارغلي کې ورته ژوند ګران شوی او پښتور ښار سره نږدې سپينه‌وړۍ کلي ته راغلی او همدلته وفات شوی دی. صاحبزاده عبدالحی د ده د حالاتو په تذکره کې ليکي چې ډېر لوی عالم او شاعر و. يو پښتو نظم يې په «مدح الابرار» کې راغلی دی چې د ده د کلام په توګه يې دلته راوړو:

چې په اذکار کاندي چغار هغه محکم اونيسه
ګوره باري ذکر جاري په هر هر دم اونيسه
چې يې قدم په عالم هغه صنم له ورشه د عشق په اور شه لکه سکور زړګی پرې سم اونيسه
د لامکان ماه تابان دی نن زمان حضرت‌جي
چې د توحيد ګل دی وحيد ځان پرې شبنم اونيسه...

بل کلام يې:

چشم آبدار دُر يتيم همه بدن لرينه
په صبح و شام په ذکر هر سړی ايمن لرينه
قطب دوران او فرياد رس د هر سړي دی مدام لکه بلبل نظر په ګل د هر چمن لرينه
که ديدار غواړې دنيا پرېږده حضرت‌جي له ورشه
فخر عالم دی خلوت تل در انجمن لرينه
لږ نظر سره صيقل که زنګ وهلي زړونه غوث الابرار دی هم سفر اندر وطن لرينه
د زړه رنځور لره دارو په هر زمان ورکوي
عاشقان ځکه د هر لور ورته رفتن لرينه
فَاسْتَقِمْ په باغيچه کې نونهال ختلی چې بلبلان يې چغاری په هر فتن لرينه
محمود چې څو په دنيا ګرځي حضرت جي له به ځي
که مړ شه رب دې په کوی د ده دفن لرينه(افغاني، ١٩٦٣م، ٢٦٦- ٢٦٧ مخونه)

د «پښتانه شعراء» په لومړي ټوک کې د آدم خان په نام د يوه ويناوال له نامه سره مخامخ کېږو چې له درخانۍ سره يې د مينې داستان زمونږ د فولکلوري ادب يو خوندور باب جوړوي. د آدم په نامه څلور

نور شاعران هم پېژنو چې یو په کې د یوولسم هجري قرن د حدودو شاعر دی او د وینا نمونې یې د عبدالغني کاسي په جونګ کې خوندي دي. د دې نامه بل شاعر شیخ آدم روښاني دی چې د اورنګزېب (۱۰٦۸- ۱۱۱۸هـ.ق) د زمانې دیوان لرونکی پښتون شاعر ښوول شوی دی. د درېیم آدم شاعر شعرونه میا حسیب‌ګل (۱۳۰۵هـ.ق مړ) په خپل بیاض کې راوړي دي او څلورم یې بیا د کندهار د رېګ د سیمو اوسېدونکی ولسي شاعر آدم دی چې کابو لس کاله دمخه [د ۱۳۴٦هـ.ق کال شاوخوا، ځکه دغه مطلب د ۱۳٥٦ کال اثر (فرهنګ زبان و ادبیات پښتو) څخه را اخیستل شوی] وفات شوی دی. یوه بل **آدم** نومي چې په «بیدیاني ګلونه» اثر کې یې پښتو ادب څېړنو ته لار پیدا کړې ده، د کورمې او پاړه‌چنار په سیمو کې او یا هم د کوهاټ او تیرا په نواحیو او درو کې یې ژوند کړی دی. د دیارلسمې پېړۍ د حدودو پښتون شاعر ښکاري چې په ۱۳۲۱هـ.ق کال یې نوحو یوه قلمي جونګ ته لاره پیدا کړې ده(هېوادمل، ۱۳٦۲ل، ۱، ۲، ۴ مخونه).

اسماعیل د پښتو له ناظمانو څخه دی چې د ۱۳۰۰هـ.ق کال په حدودو کې د بلوچستان په شاوخوا کې اوسېده. د هغه دیني منظومې شته دي او پښتو نسخې د هغه په خط لیدل شوې دي. (پښتو نسخې د سیال کاکړ دي)

خولقندي ولي صاحب د ۱۲۰۰هـ.ش [کابو ۱۲۳٦هـ.ق] کال په حدودو کې د ننګرهار ښوه کې اوسېده. د کرامت او خوارقو خاوند و، خلک یې په ولایت باورمند وو. کله کله یې په پښتو ژبه شعرونه ویلي او د هغه ځای د صوفیانو په یاد وو(هېوادمل، ۱۳٥٦ل، ۳۳، ۱٦۳ مخونه).

اخونزاده عبدالحکیم د پښتونخوا په شاوخوا ګوجروګړهي کې اوسېده، د پښتو ژبې شاعر، د دیني علومو عالم او د میا عمر څمکني له ارادتمندانو څخه و، په ۱۲۳٦هـ.ق کې وفات شوی دی. دا د ده دی:

ده ویل چې عبادت د ده خاصه وه د انوارو د اسرارو خلاصه وه(هېوادمل، ۱۳٦٥ل، ۲۷۲ مخ)

ملا اکبر شاه د یوسفزو علاقې د کوندي کلي اوسېدونکی و. په ۱۲۸۰هـ.ق کې ژوندی و. د ده یو چاربیته د ډارمستتر په (هاروبهار) کې شته چې د قتل‌ګړ[1] په جګړې پورې اړه لري. پیل یې داسې شوی دی:

راغله غازیان د پیرنګي په دغه ګړ باندې اوړي قتل ګړ باندې

[1] د امېلې په کنډو کې د هغه ګټ نوم دی چې ډېر پېرنګیان په کې وژل شوي دي (پښتانه شعراء، ۸۹۸ مخ).

راغله غازيان غزا له واړه لور په لور عالمه ګډ يې کړ په شور عالمه
دا شادو مخی خدای ورکړی دی په کور عالمه اخلي به ترې خور عالمه
توره يې نه وه ډز يې ورکړ په لوړ باندې اوړي قتل ګړ باندې

پای يې داسې دی:

نه ايساريږي مومنان ترېنه خطر نه کوي توپي پرې اثر نه کوي
ځان پرې غازي کړئ چې څوک دين د پيغمبر نه کوي بد دی چې باور نه کوي
زه اکبرشاه ملا درځمه په ملاتړ باندې اوړي قتل ګړ باندې

(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۸۹۳، ۸۹۴ مخونه)

د ديارلسمې په وروستيو کې اوسېدلي ملا اکبر شاه د «*آدم خان درخانی*» قصه يې هم منظومه کړې ده(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ۴۵ مخ).

اخون اکرم هغه شاعر دی چې په اړه يې ډېر معلومات نشته. د هغه خطي منظومې شته او هلته خپل ځان «اخون» معرفي کوي. اخون اکرم د پښتو لرغونی ويناوال دی چې مذهبي او ديني مسايل يې نظمول. دا د ده دی:

هزار شکر د باري کړم هم په شوق و په زاري کړم

ملا محمد کرم نيازی د لغمان د الينګار په «وت» سيمه کې اوسېده، د هغه ژوند د ۱۳۰۰هـ.ق کال شاوخوا اټکليږي. اکرم د ديني علومو عالم او د پښتو ولسي شاعر و. د الينګار سيمې جغرافيوي احوال يې په پښتو نظم کړي دي. دا د ده وينا ده:

حساب درته کوم ښيم د څو کلو نومونه چې دروغ په کې رانه شي رښتيا وايمه حالونه

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ۴۶، ۴۷ مخونه)

حافظ د چپليار په حافظانو کې اوسېده، ديني او مذهبي شاعر، د پښتو په ملي اوزانو يې مذهبي شعرونه ويل. دا د ده شعر دی:

خبر کړه مختصره باقي پرېږده دا ګفتار حافظه سوال کوه چې مولا درکاندي ديدار

حافظ پښتو د وردګو له عالمانو او صوفيانو څخه و چې په سيمه کې په حافظ پښتو مشهور و، هغه په شيخ اعظم کې اوسېده او د ۱۲۵۰هـ.ق کال په حدودو کې وفات شوی دی. حافظ د شعر موزونه طبعه لرله او صوفيانه شعر يې ويلی دی.

ملا حبیب الله د خیرالله ځمند زوی د دیارلسمې هجري پیړۍ په حدودو کې د کندهار په شاوخوا کې اوسېده. د ملا عبدالحق خروټي «یاقوت السیر» یې په ۱۲۸۴هـ.ق خطاطي کړې، خطاط او د پښتو ناظم و. د هغه منظومات لیدل شوي دي(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۲۲، ۱۲۷ مخونه).

حضرت د پښتو مذهبي ناظم و چې د ۱۳۰۰هـ.ق کال په حدودو کې ژوندی و. د هغه خطي مناجات شته دی. دا د ده دی:

زه حضرت یم دل افګاره　　د الله رسول دپاره
یو نظر وکړه دلداره　　راکړه لاس د خدای دپاره

خانزاده د پښتو مذهبي شاعر و چې د دیارلسمې هجري پیړۍ په حدودو کې یې ژوند کاوه. د هغه خطي مناجات لیدل شوي دي. دا د ده دی:

خانزاده که ګناهکار دی　　یو رب د ده غفار دی
بل په مخ کې یې سردار دی　　چې د رب په در سردار دی

خان محمد مذهبي ناظم او خطاط و، د دیارلسمې هجري پیړۍ په لومړیو کې د کندهار په شاوخوا کې اوسېده. پښتو مذهبي شعر یې ویلی، پښتو نسخې یې خطاطي کړي، «جنګنامه امامین» یې په ۱۲۴۰هـ.ق کال خطاطي کړې او په هغه کې د خطاط (خان محمد) بیتونه هم مل دي. دا د ده بیتونه دي:

ملامت راباندې مه وایه طالبه　　که څه زیات و کم پیدا شي له کاتبه

خیرالدین د سوات اخون صاحب (د ۱۲۱۳هـ.ق زوکړی) مرید و، د اخوند په منقبت کې منظومې لري چې د «رشید البیان» خطي نسخو سره مل دي. خیرالدین د دیارلسمې هجري پیړۍ د وروستیو وختونو مذهبي ناظم دی. دا یې شعر دی:

همېشه د اخلاص په لار روانه　　د بېګي اخون صاحبه مهربانه
ډېر عالم دې د دعا په غم ایسار کړ　　غرض دا چې شوې هر چاته فیض رسانه

ملا خیر الدین بن ملا محمد انور خدرخېل د دیارلسمې هجري پیړۍ په وروستیو کې په بادام کې اوسېده. خطاط او مذهبي ناظم و. دی مذهبي نظمونه لري او د پښتو خطي نسخې یې په خط لیدل شوې دي(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۳۳، ۱۴۸، ۱۵۰، ۱٦۴، ۱٦۵ مخونه).

دلاسا د پښتو مذهبي ناظم و چې په دیارلسمې هجري پیړۍ کې یې ژوند کاوه. د هغه مذهبي متفرق

منظومات شته او ژوند يې تر ۱۲۸۸هـ.ق کال پورې باوري دی. دا د ده دی:

دا دعا دې مستجاب شي　　په درگاه د لوی وهاب شي

ملا دوست علي د تيرا په شاوخوا د سلطان‌زي په ستره ګړهی کې اوسېده او تر ۱۸۰۰م وروسته وفات شوی دی. په شعر کې يې د حضرت علي ستاينه کړې، د امامينو او د کربلا پېښې يې نظم کړې دي. دا يې شعر دی:

يا عزرائيله په شتاب راشه　　د عرش بيبيانو په حال آګاه شه

ارواح د ټولو شاميانو واخله　　چې بندکی نارې د قاسم جان درومي

دوست محمد د ديارلسمې هجري پېړۍ د حدودو شاعر و. دی د محمد ګل فقير (د ۱۲۰۰هـ.ق د حدودو) په پيروی منقبت لري او د پښتو له ديني ويناوالو حسابيږي. دا يې کلام دی:

دوست محمد يو ګناهکار دی　　په غمونو کې حصار دی

تل ګويا په دا کوکار دی　　زما لاس تا دې لمن وي

دولت جان احمدزی د ننګرهار حصارک غلجايي په نرګسی سيمه کې اوسېده. طالب‌العلم او پښتون شاعر و. د هغه مذهبي، اخلاقي او عشقي غزليات شته دي. دی د عبدالرحمن د عصر (۱۲۹٦-۱۳۱۹هـ.ق) په اوايلو کې وفات شو. دا د ده دی:

جبين دې تخت دی زلفې دې پوجونه　　خال دې پاچا دی ډېر کوي حکمونه

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۷۲، ۱۷۳، ۱۷۵، ۱۷٦، ۱۷۹ مخونه)

رؤف جان ماما چې په شعر کې «ماما» تخلص کوي، د ديارلسمې هجري پېړۍ په اواخرو کې په پېښور نوښار کې اوسېده. مذهبي شاعر و، د پښتو په ملي اوزانو کې يې ديني او اخلاقي شعرونه ويلي دي. «مولود خيرالبشر» او «ګلزار مدينه» کې د ده شعرونه ثبت دي. دا شعر يې دی:

ډېر کړه مرګي ګوره بندي په ګورستان دغسې　　ورک شه عالمه د هغو نام و نښان دغسې

ملا رويدار ناصر د ديارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې يې ژوند کاوه، پښتو مذهبي ناظم او خطاط و. د هغه منظومات ليدل شوي دي.

زبيرګل د ديارلسمې هجري پېړۍ د اواخرو مذهبي ناظم او خطاط و. د حافظ کبير «در مجالس» يې په ۱۲۸۴هـ.ق کال خطاطي کړې او د نسخې په پای کې د خطاط (زبيرګل) مثنوي هم ضبط شوې ده. دا د ده ده:

زبیرګل په نوم مرقوم شو　　د یاسین په نام او نوم شو

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ١٩٧-١٩٨، ٢٠٠ مخونه)

سپینه د دیارلسمې هجري پېړۍ له پرده‌نشینو ویناوالو څخه وه، د نورمحمد خان الکوزي لور او د ١٢٠٠هـ.ق په حدودو کې هرات کې یې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې او تر ١٢٥٥هـ.ق کال پورې ژوندۍ وه. سپینه عالمه او فاضله ښځه وه، په مروجه علومو کې یې مطالعه لرله. د هرات د محاصرې (١٢٥٥هـ.ق) کیسه یې په پښتو مثنوي نظم کړې، د دې مثنوي ځینې برخه شته. دا شعر د هغې دی:

له سپینې خوارې څخه به نه وي آثار　　دا به وي خاورې پاتې سي به یادګار

سراج الدین مذهبي شاعر او ناظم و، د هغه دیني غزلیات او متفرقې ټوټې لیدل شوې دي. ژوند یې د دیارلسمې پېړۍ په حدودو کې اټکل شوی دی. دا د ده دی:

راشه زما طالبه سبا کوچ و ته نظر وکه　　هجران وګوره جاهلانو ته خبر وکه

ملا سرفراز د دیارلسمې هجري پېړۍ د حدودو ديني عالم، ناظم او خطاط و. خطي کتابونه د هغه په خط شته دي او خپلې منظومې یې هم ورسره مل کړې دي. یوه عربي نسخه یې په ١٢٨١هـ.ق کال خطاطي کړې او په پای کې یې [خپله] منظومه هم ورسره خوندي ده. دا بیت د ده طبعه ده:

هر څوک چې سرفراز په دعا یاد کا　　په دیدار دې خدای خپل ښاد کا

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢٠٧، ٢٠٩، ٢١٠ مخونه)

ملا سرور د تورەباز زوی، ملاخېلو قبیلې ته منسوب و او د لغمان مرکز نولام سیمه کې اوسېده. د ١٢٤٨هـ.ش کال په حدودو کې زېږېدلی او په ١٣٠٠هـ.ق کال کې وفات شوی دی. دیني علوم یې د سیمې له علماوو زده کړل، امامتي یې کوله او په سیمه کې په ملا سرور مشهور و. هغه په پښتو ملي اوزانو مذهبي او عشقي شعرونه ویلي دي. شعرونه یې ثبت دي. دا د ده دی:

خوب خندا د یار وصال سره مزه کا　　چې بې وصله خوب خندا که ګاو خر دی

بختور سړی د یار په وصال موړ شي　　بس که بس که چې جدا ملا سرور دی

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢١٢ مخ)

په «اولسي سندرې» کې د ده یو کلام را اخیستل شوی چې پیل او پای یې داسې دی:

غزل وایم لعل و مرجان

غنچه د ګلو څلور یاران

اول يار يې حضرت صديق　　همېشه خلکه د ده رفيق
مولا نه غواړم د زړه توفيق　　راضي و ده نه نبي سلطان
دوهم يار يې و حضرت عمر　　په يارانو باندې دی معتبر
مين په ده و خير البشر　　صفت يې کوم څو مې شي توان
دريېم يار يې و حضرت عثمان　　چې سخا يې کړله په هر زمان
دی جامع و خلکه د سپين قرآن　　بيان بې کوه په صبح و شام
حضرت علي په دلدل سپور　　غزا بې کړله ده لور په لور
....
سرور يمه زه ځای مې نولام　　بيان کومه په صبح و شام
هوس مې نه شي زه يم ناکام　　رفيق مې ډېر دي دا حبيب جان
(هېوادمل، ١٣٦٦ل- ج، ١٠٢ مخ)

له پورتني کلامه جوتيږي چې شاعر يې د خلفاء راشدينو په باره کې د معلوماتو لرونکی شخص و.

سيد امير د ديني علومو عالم او د پښتو ژبې متصوف ويناوال و. د کندهار په کشک‌نخود کې اوسېده، په پښتو او عربي ژبو يې ليکل کول، د «*ارشاد السالکين في مدارج العارفين*» په نوم کتاب يې په عربي ژبه تأليف کړی دی. پښتو شعر هم په کې ضميمه دی. دا د ده دی:

اوس دلې گرځم ملنګ غواړم غمخور　　راکه لاس د سنجري نوراني ځوانه(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢٢٨ مخ)

سيد شمس الدين مذهبي شاعر و، د سيد احمد مشکين زوی او د ننګرهار په کامه کې اوسېده. د هغه ژوند د ديارلسمې هجري پېړۍ په اواخرو کې اټکل شوی دی. د هغه مذهبي منظومات شته دي. دا د ده دی:

شمس الدين ستا په درګاه کې　　يم ولاړ ګاه و بېګاه کې
ای نبي په حشرګاه کې　　په منګول کې مې ونيسه

سيد شهاب الدين د سيد سعدالدين زوی د امير دوست محمد خان د زمانې روحاني پېشوا او مشهور صوفي و چې د لغمان د مرکز په قلعچه کې اوسېده. په پښتو ژبه يې تصوفي شعر ويلی او د اعليحضرت امير شېرعلي خان په دوهمه دوره (١٢٨٥- ١٢٩٦هـ.ق) کې له موږ جلا شوی دی. قبر يې په قلعچه کې

د خاص او عام زیارتګاه دی. دا د ده دی:

سید شهاب الدین یمه　　پاک او یک دین یمه

په زړه غمګین یمه　　بیره مې کېږي له شیطان لعینه

غمخوار مې شي امینه(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ۲۳۴، ۲۳۵ مخونه)

شاه‌ولي علي‌خېل د بوستان زوی د دیارلسمې هجري پېړۍ د حدودو ديني عالم او د پښتو شاعر و. د غزني شاوخوا اوسېده، د هغه د اشعارو مجموعه شته ده.

شفیع د دیارلسمې هجري پېړۍ د حدودو فقیه او دانشمند و. په پښتو ژبه يې شعر وایه او په پارسي ژبه يې نثر لیکه. له عربي ژبې سره هم بلد و. د مستخلص الحقایق بیتونه يې په پښتو رباعیاتو او قطعاتو شرح کړي دي. دا رباعي د ده ده:

عبادت که په اخلاص کړې د باري　　په عقبا کې تاته شوې تیاري

چې حاجیان په عرفان راشي زاري کا　　قبلوي الله د دوی خواري زاري

ملا شمس الدین د ملا لعل محمد آخوندزازده وریاخېل زوی د پغمان په بېګ‌توت کې اوسېده. شاعر، خطاط او د ديني علومو طالب‌العلم و. د هغه ژوند د دیارلسمې هجري پېړۍ د شاوخوا اټکل شوی دی. پښتو شعرونه يې لیدل شوي دي. دا د ده دی:

کوم وای وای د بېلتانه له لاسه　　په زړه زخمي یم له شیطانه خناسه

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ۲۵۱، ۲۵۴، ۲۵۷ مخونه)

شېرمحمد په یوه شاعره کورنۍ کې د لغمان د مرکز په شمتي کې په ۱۲۱۲هـ.ق کال زېږېدلی، پلار يې دوست‌محمد او وروڼه يې شاعران وو. شېرمحمد به ديني او مذهبي قصص نظم کول. په ۱۲۶۹هـ.ق کال يې له دې نړۍ رخصت اخیستی دی. دا د هغه دی:

غافل مه شه شېرمحمده د دنیا بازار دی وران　　پنځه وخته دعا کړه چې حاصل دې شي ایمان

صاحبو عاجزه د پښتو شاعره ده، د ګل محمد خان بارکزي لور او د کندهار په ګورګان سیمه کې اوسېده. په ديني علومو کې يې لاسبری درلود، ادیبه او دانشمنده مېرمن وه. د هغې ژوند تر ۱۲۹۷هـ.ق کال پورې باوري دی. دا د هغې شعر دی:

پر خپل خدای به فریاد کړم عوض غواړم له باري　　ننګوم به ګرندی

صفت خان دولت‌زی د ۱۲۵۰هـ.ق په حدودو کې د چپلیار په دولت‌زیو کې اوسېده. متشرع او

اخلاقي شخص و، د پښتو په ملي اوزانو يې اخلاقي، عشقي او مذهبي شعرونه ويلي دي. دا د هغه دی:

لکه زانې چې د سيل نه کناره شي　　په نارو ګرځي اوتره په هر لوري
په نارو به کله بېل شي له خپلوانو　　خپل پردو ته لګوه د سترګو توري

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢٦٦، ٢٧١، ٢٧٨ مخونه)

برهان المحققين او قطب المرشدين **محمد رسول** په صوفي صاحب مشهور له صوفيانو او مشايخو څخه و. محمد رسول ساکزی په ١٢٣٠هـ.ق کال کندهار کې زېږېدلی او په ١٢٧٨هـ.ق کال له دې نړۍ رخصت شوی دی. د نقشبنديه طريقې پيرو او د کشف الاسرار شخص و. کله کله يې په پښتو ژبه عارفانه پرسوزه شعر وايه. د هغه د صوفيانه شعرونو نمونه د ملا قطب اخوند کندهاري د «معاني الصلوة» خطي نسخې په پيل کې ثبت دی. دا د هغه دی:

د يار مراد په مراد ونيسه رسوله　　دا غمګين خاطر به خلاص سي له ملاله

قاضي طلامحمد د قاضي حسن پشاوري زوی د ديارلسمې هجري پېړۍ د وروستيو عالم دی. قاضي د خپل وخت په رواجي علومو کې کافي معلومات لرل. په پښتو، پارسي او عربي ژبو يې ليکل کول او شعر يې وايه.

عبادالله د پښتو مذهبي شاعر دی چې د ديارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې يې ژوند کاوه. د هغه مذهبي او عرفاني غزليات په ځينو خطي مجموعو کې ليدل شوي دي. دا د هغه دی:

سُبه بيان دې وکړو ای عاجز عبادالله　　نيسه دا روژه کوه بندګي د پاک الله

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢٨٠، ٢٨٤، ٢٩٠ مخونه)

ملا محمد حسن اخوندزاده د ملا شمس الدين اخوندزاده زوی په خټه توخی د کندهار يو فاضل عالم و او په «کندهاري آخونزاده» مشهور دی. شعري طبعه يې هم درلوده. پښتو او پارسي اشعار يې ويل. ابتدايي علوم يې په هلمند کې له ملا جان محمد اخندزاده څخه ويلي و، وروسته بيا هرات ولاړ او هلته په (اوبه) کې مېشت شو. د مرګ تر وخته پورې يې بې له تدريسه بل کار نه درلود او په ارشاد بوخت و. د زوکړې نېټه يې تقريباً د ١٢٦٢هـ.ق کال په شاوخوا کې ټاکل کېږي. وفات يې د ١٣٤٢هـ.ق کال تقريباً د اتيا کالو په عمر پېښ شوی دی. د اوبې د بندبنوش په کلي کې ښخ دی. ملا محمد حسن ته د هرات ډېرو خلکو ارادات او اخلاص درلود او پر شرعه ډېر ټينګ و. د ده له اشعارو څخه صرف درې پښتو رباعۍ لاسته راغلې دي چې دوه يې دا دي:

په عالم کې يې هر ځای دی هياهوی خوښول يې نه په گفت شي نه په گوی
حقيقي مينه په خاورو نه پټيږي د مين له قبره ځي د مينې بوی

چې تسخير که د عشق شاه د زړه اورنگ حسن هم ورسره واړوئ خپل رنگ
پرې کوه واړه رشتې د نورو مينو که د نام که د ناموس وي که د ننگ
(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۷۵۳- ۷۵۴ مخونه)

ملا عبدالحق اخکزی فکاهي ويونکی شاعر او ديني عالم دی چې د کندهار په رېگ کې اوسېده. د پښتو په ملي اوزانو کې يې فکاهي، مذهبي، اخلاقي او عشقي شعرونه ويلي، د کندهار د بزم او ادب په مجلسونو کې يې گډون کاوه. د مجلس سړی و. دا د هغه دی:

ستا د سترگو په بغل کې څاڅکي سره دي دغه واړه دې داغونه زما په زړه دي

ملا عبدالحکيم د ملا عبدالرشيد اخونزاده زوی د کندهار په فيروز آباد کې اوسېده او تر ۱۲۹۲هـ.ق کال پورې ژوندی و. هغه خطاط او ناظم و. پښتو نسخې د هغه په خط ليدل شوې دي. د هغه منظومې هم شته دي.

عبدالغفور صافی (اخون سوات) په ديارلسمه هجري پېړۍ کې د افغانستان مشهور صوفي، ښه ويناوال او مبارز و. د انگرېزانو په خلاف يې جهادونه کړي او پر دې سربېره د پښتو ژبې شاعر و. د هغه مثنوي د «کنز السالکين»(د کابل خطي کتابخانه کې خوندي) په يوې نسخه کې شته. اخوند په ۱۸۷۷م وفات شو. د هغه د مريدانو په حلقه کې د پښتو ژبې اديبان او شاعران شامل وو چې ټول په همدې ژبه کې ليکنې لري(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۲۹۵، ۳۱٦ مخونه).

مصطفی مذهبي ناظم او ديني عالم و، د ديارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې اوسېده، عربي ژبه يې زده وه او په ديني علومو کې هم د مطالعې تښتن و، په پښتو ژبه يې منظومات (د ۱۲۷۲هـ.ق کال کتابت) ليدل شوي دي. خطاط هم و. دا بيتونه د ده دي:

چې و خط و ته زما عاجز نظر کړې په دعا به مې ياد هغه حضر کړې

عبيدالله د ديارلسمې هجري پېړۍ د حدودو د پښتو مذهبي ناظم و، خطاط هم و، پښتو خطي نسخې يې په خط شته دي، د هغه مذهبي منظومې هم په لاس کې دي. دی تر ۱۲۲۸هـ.ق کال پورې ژوندی و. دا د هغه دی:

مناجات اوس کاتب کاندي که قبول يې رب وکاندي
د کاتب نوم عبيدالله دی طمع دار ډېر له الله دی

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ۴۷۷، ۳۳۳ مخونه)

ملا عبيدالله د ملا انکو اخوند زوی د ديارلسمې هجري پېړۍ د حدودو ديني عالم، ناظم او خطاط و. په کندهار کې اوسېده او ژوند يې تر ۱۳۳۷هـ.ق کال پورې يقيني دی. د پښتو خطي نسخې يې په خط ليدل شوې دي. د هغه منظومې هم شته دي.

مولوي کرم الدين عشرت په ۱۸۲۰م کال د پېښور په چهارسده ضلعه کې زېږېدلی او په ۱۸۹۸م کې وفات شوی دی. په پښتو، پارسي او اردو ژبو شعرونه ويل او له ديني علومو هم بشپړ برخمن و.

عطوف د پښتونستان د شاوخوا سيمو شاعر و، مذهبي او اخلاقي شعرونه يې په ځينو مجموعو کې چاپ شوي دي. د هغه ژوند تر ۱۲۹۵هـ.ق کال پورې يقيني دی. دا د هغه دی:

زه عطوف ډېر گنهگار يم، ستا د وصل طلبگار يم يا شفيع المذنبينه مه مې باسه له نظره

(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ۳۳۴، ۳۳۷، ۳۳۹ مخونه)

ملا علي جان د محمد فقير زوی د کندهار په گوندیگان کې اوسېده. په پښتو ژبه يې شعرونه ويل. هغه په ۱۳۰٦هـ.ق کال شهيد شوی دی. دا د هغه دی:

ربه ستا رضا ده نوی غم پر مومنان سو دوی د باغ گلونه مولا څرنگه خزان سو

غلام عثمان د مراد علي زوی ديني عالم او د پښتو شاعر و، د ننگرهار په کامه کې اوسېده او د ۱۲۵۰هـ.ق کال په حدودو کې زېږېدلی دی. عمر يې تأليف او تدريس ته ځانگړی کړی و. دا د هغه دی:

بنده ستا د اعمالو دفتر دا دی گوره پام کړه چې ځای د خطر دا دی

فيض الله د ۱۳۰۰هـ.ق کال په حدودو کې په نظام‌گر کې اوسېده. د ديني علومو عالم او مذهبي شاعر و. د هغه پښتو ديني منظومې رسالې شته دي. دا د هغه دی:

د دنيا زېب و زينت واړه پر تا دی فيض الله دا کلام کړی په رښتيا دی(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ۳۴۲، ۳۵۸، ۳۷۹ مخونه)

لعل محمد د پښتو ادب ولسي شاعر او په قبيله نورزی و. د سپين بولدک په کارېز کې اوسېده او د ۱۲۷۰هـ.ق کال په حدودو کې يې رحلت کړی او همله خښ دی. لعل محمد د پښتو مذهبي شاعر و،

د هغه په شته شعرونو کې د مذهب او اخلاقو رنګ غالب دی.

ملا محراب ديني طالب‌العلم، د پښتو مذهبي ناظم او خطاط و چې تر ۱۲٦۱هـ.ق کال پورې ژوندی و. د پښتو نسخې د هغه په خط لیدل شوې دي چې مذهبي منظومې يې هم ورسره ضميمه دي.

ملا محمد انور اتمانخېل د ازاد سرحد په ماموند سيمه کې د امامت پېشه لرله، په پښتو ژبه يې شعر وايه، شعرونه يې په ملي اوزانو دي، د هغه شعرونه خوندي شوي دي(هېوادمل، ۱۳٥٦ل، ۴۲۰، ۴۲۵، ۴۳۳ مخونه).

محمد شريف د ديارلسمې هجري پېړۍ د وروستيو مذهبي شاعر دی چې تر ۱۳۲۰هـ.ق کال پورې ژوندی و. د سوات په نواحيو کې اوسېده، د اخون الياس په مناقبو کې يې کتاب منظوم تألیف کړی دی. دا د هغه دی:

نوبهار دی معشوقې ګرځي له خياله د طوطيانو په ګلګشت خوږې سندرې

ملا محمد طاهر د ملا محمد خان زوی د ديارلسمې هجري پېړۍ د حدودو مذهبي ناظم او ديني عالم و. د هغه په خط کتابونه او رسالې ليدل شوې دي. د پښتو منظومات يې هم له دې نسخو سره مل دي.

محمد عجب د ديارلسمې هجري پېړۍ د حدودو صوفي شاعر و چې د افغانستان په شمال کې اوسېده. په پښتو ژبه يې مذهبي نثر او نظم ليکه، د هغه منظومې او منثورې ليکنې په يوې خطي مجموعه کې ليدل شوې دي. دا د هغه دی:

د عجب زخمونه هر وخت تازه کېږي د بيچون جمال ته ګورم نګرانه

محمد عظيم د ديارلسمې هجري پېړۍ د حدودو د پښتو مذهبي شاعر و، د هغه خطي مناجات شته دی. دا د هغه دی:

د کلمې په برکت محمد عظيم داخل کړې په جنت

دی غم کړه فراغت راکړه لاس د خدای دپاره

ملا محمد عظيم د ديارلسمې هجري پېړۍ د حدود مذهبي شاعر و، د پښتونستان په سوړيزيو کې اوسېده او تر ۱۲۹٦هـ.ق کال پورې ژوندی و. د هغه اشعار شته دي. دا د هغه دی:

په نامه محمد عظيم يم له قهاره په ډېر بيم يم

سوړي‌زي کې مې مسکن دی هم هغه زما وطن دی

(هېوادمل، ۱۳٥٦ل، ۴۴٥، ۴۴۷، ۴۴۸، ۴۴۹ مخونه)

ملا نظرمحمد د پښتو ديني ناظم او خطاط و، د ديارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې يې ژوند کړی دی. د پښتو خطي نسخې يې په خط ليدل شوې دي او د ملا نظرمحمد مذهبي مثنويات هم ورسره مل دي. هغه مور د مذهبي ناظم په توګه پېژنو.

نور احمد د ديارلسمې هجري پېړۍ د حدودو مذهبي ناظم و، د هغه ديني نظمونه په متفرق شکل شته دي. دا د هغه دی:

نوراحمد که دې خپل درله سپيو شمار کړي څه کمی به دې له فضل و کرامت وه

مولانا نورمحمد مشهور په کهيا ملا د حضرت‌جي کوټه (۱۲۱۰- ۱۲۴۹هـ.ق) مريد و. هغه د اباسيند غاړې په کهيا سيمه کې اوسېده. مذهبي او صوفيانه شعر يې وايه. د «پښتانه شعراء» د څلورم ټوک مؤلف يې احوال ضبط کړي دي. دا د هغه دی:

په کهيا ملا مشهور يم گدا ستا د پاک حضور يم

پر مې نه ږدې په دا مانه د کوټې شاه مردانه

واعظ مذهبي شاعر و، د ديارلسمې هجري پېړۍ په اواخرو کې د پښتونستان په شاوخوا کې اوسېده. مذهبي او ديني شعر يې وايه. د هغه مذهبي متفرق شعرونه په ځينو مجموعو کې چاپ دي. دا د هغه دی:

زه واعظ چې خپل ځان ته په نظر شم وايم دا چې خلاص به نه شم بې له ناره

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۱۸، ۵۲۴، ۵۳۱، ۵۳۷ مخونه)

اسدالله د ديارلسمې پېړۍ شاعر دی چې ديني علومو ته يې لاسرسی درلود او د پښتو ناظم هم و. د الله تعالی نهه نوي نومونه يې په پښتو نظم شرحه کړي دي. دا يې وينا ده:

ربه تاته ده معلومه اسدالله کړله منظومه

د اسمای حسنی شرحه پښتنو لره مرقومه

محمد نور د ديارلسمې هجري پېړۍ شاعر او په پښتونخوا کې اوسېده. د هغه په خپل قلم يوه ټوټه شعر د پېښور يونيورسټي کتابتون کې خوندي د «غل او قاضي« کيسې د خطي نسخې په پای کې راغلی دی. د هغه شعر په مقطع کې وايي:

زه محمد نور خاکي بند په بسم الله دروم په هر قدم چې کښېږدم زه دامن گير د محمد رسول الله دروم

ملا مفصیل د هشنغر په رڅړو سیمه کې ژوند کاوه، د پښتو ولسي شاعر و. دیني علوم یې زده کړل او د خپلې سیمې په جومات کې یې د امامتي دنده لرله. په ملي اهنګونو شعرونه یې ویلي او شعرونه یې شفاهي بڼه لري. ملا مفصیل په پنځوس کلنۍ کې په ۱۹۱۳م کال کې وفات شوی دی. دا د ده دی:

چې مې یار ولید په څنګ کې د اغیار ناست　　هغه دم مې ولید ځان په سر د دار ناست

منیب د ختڅکو قبیلې د کاکاخېلو عالم او شاعر و او په هشنغر تنګي کې اوسېده. تذکره لیکونکو یې ژوند د دیارلسمې هجري پیړۍ بللی دی. د دې شاعر غزل د هغه د زوی خادم کاکاخېل د اشعارو په دیوان کې راغلې ده. دا د ده دی:

مینې ستا یم په څو قسمه قلب نتلی　　طمع مه کوه زما چې شي به غلی

(هېوادمل، ۱۳٦٥ل، ۲۲۳، ۲۹۷، ۳۰۱ مخونه)

نورمحمد نوري افغان په پښتو و پارسي دواړو ژبو شاعري کړې ده او په نثر کې یې ښه پوره قلم چلولی دی. د پښتو شاعرۍ *دیوان* یې ورک دی. د پښتو شعر بېلګه یې:

چې طالب د افتاب رویه دلستان یم　　د سحر په شان به خود څیرې ګرېوان یم
چې مې نمر د وصل سر په غروب کښېښود　　د شفق په څېر تر سترګو خون فشار یم
هست و نیست مې په یوه ګردش کاوه شي　　ګرد غبار د یوه څه ګرم جولان یم
په هندي ادا یې هر څه له ما لوټ کړه　　زه ساده په زړه پښتون د خراسان یم

(هوتک، ۱۳۸۴ل، ۱۳۸، ۱۳۹ مخونه)

مناجات

«په حرمت د پاک احمد وه　　هم صلواة باندې سرمد وه
هم په آل هم په اصحاب یې　　په پیرو د پاک جناب یې
څو ګردان وي دا سپهر　　درخشان وي ماه و مهر
څو چمن د بهاران وي　　انجمن او ښه یاران وي....
تل منصور دی زمور شاه وي　　دښمنان دې روسیاه وي

د پورته نظم زیاتره بیتونه د کاظم شیدا دي چې دلته تضمین شوي دي(رشاد، ۱۳۹۱ل- ج، ۷۸۵ مخ).

رضوان الله رضوان (تر ۱۳۰۳هـ.ق کال پورې ژوندی) چې نثرلیکونکی و، نظمونه یې هم لیکلي د نظم نمونه یې له (طب اکسیر) نه دا ده:

لايق حمد دی د حکيم　　چې شاني د هر سقيم
په کمال او په قدرت　　دی خالق د هر خلقت
له حکمته يې عقول　　پيدا کړي په يو تول
له غايته حذاقته　　له کمالِ خپل خلقته
عناصر اربعه گوره　　مخالف يې کړه ای روره
شبه معجون يې مرکب که　　آدمي يې ترِ مرتب که(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۳۱ مخ)

د افغانستان ملي آرشيف کې د «*فضايل*» په نوم منظوم اثر شته، خو د ليکوال په اړه يې معلومات نشته. پيل:

محمد زموږ رسول دی　　د الله په در قبول دی

شته پای:

که باور دې نه شي وروره　　فضايل کتاب وگوره(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۳۴ مخ)

ملا محمد اکرم هوتک چې په ديارلسمه هجري پېړۍ کې د کندهار نامتو عالم او اديب و، د علامه محمود طرزي استاد و. طرزی يې په اړه کاږي: «ما يو استاد درلود چې ملا محمد اکرم نومېده او د کندهار له هوتکي قوم څخه و... نوموړی په اصوليه او فروعيه علومو، فنون، حکمت او فلسفه کې دومره ماهر و چې انسان د هغه علمي معلوماتو پراختيا او منطقي حاضر ځوابۍ ته حيرانېده...».

علامه حبيبي ليکلي چې ملا محمد اکرم هوتک د طرزي کورنۍ د تبعيد په ورځو کې له هغوی سره مل و. د ملا اکرم يو بيت:

دا ستا په مينه په شپو شپو زه کړېدلی يم　　اوس دې پرېږدمه چې ماز درته غندلی يم

ملا محمد اکرم هوتک د هندي سبک شاعر دی چې د کندهار له سيمې سره اړه لري. متفرق پښتو آثار يې شته(هېوادمل، ۱۳٦٦ل، ۲۴۰- ۲۴۱ مخونه).

ملا دين محمد کدي‌زی شاعر او ديني عالم و. په څوارلسمه هجري پېړۍ کې يې په بوري سيمه کې ژوند کاوه. د پښتو ژبې ولسي شاعر و او کدي‌زي قبيلې ته منسوب و. دا د ده شعر دی:

د فراق ناري وهمه مرم له غمه　　سر او پای د شقوی وسطي منمه

عبدالله د پښتو مذهبي شاعر دی، په ۱۸۳۴م کال د هشنغر په اتمانزو کې زېږېدلی، ديني علوم يې په خپله سيمه کې زده کړل، د امامتي پېشه يې لرله او په ۱۹۱۴م کال يې له نړۍ سترګې پټې کړې. دا د ده

ده:

دین اسلام واخله دلبره دیدار راواخله د سرو سترګو خمار را

(هیوادمل، ۱۳٦۵ل، ۲۵۳، ۲۷۵ مخونه)

یارګل د بېګ‌محمد زوی د لغمان ولسي شاعر دی. د لغمان د مرکز په شمتي کې په یوې شاعرې کورنۍ کې یې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي. د دیني علومو مبادي یې زده کړل، دیني او خیالي قصص یې نظمول او د ۱۳۰۰هـ.ق کال په حدودو کې یې له دې نړۍ رخصت اخیستی دی. د هغه قصص د سیمې د اهل ذوقو په یاد وو. د سیمې وروستیو شاعرانو لکه مفتي عبدالحنان (۱۳۲۳هـ.ق کال مړ) د هغه یادونه کړې ده:

دوست محمد پسې یارګل پسې سلطان　　که سید میر ؤ که سیدګل ؤ که سیدجان

یارمحمد شینواری د ملک بازمیر شینواري زوی په ۱۸۸٦م کال په لواړګي کې زېږېدلی دی. دیني تعلیم او د اردو ژبه یې له ملا عبدالخالق پجکي زده کړل، بیا په پوځ کې شامل شو، څه موده وروسته کابل ته راغی، امیر حبیب الله یې درنښت وکړ او پوځ کې یې یوه دنده ور وسپارله. یارمحمد په ۱۹۱۳م کال ومړ. هغه د پښتو په ملي اوزانو شعر وایه چې موضوعات یې عشقي او حماسي و. دا د هغه دی:

لام یې را جوړ که ځي چیني ته دی روان پیرنګی　　رب دې کا ستومان پیرنګی

(هیوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۴٦، ۵۴۷ مخونه)

نورمحمد د ۱۳۰۰هـ.ق کال په حدودو کې د میدان وردګو په شاوخوا کې اوسېده. مذهبي شعر یې وایه، د هغه خطي منظوم منقبتونه شته دي. دا د هغه دی:

نورمحمد بنده فقیر دی　　په دنیا کې ډېر زهیر دی

دی مرید د لوی پیر دی　　زما پیر غوث الاعظم دی

نورمحمد کاکړ د شلمې پېړۍ په لومړیو کې په کندهار کې اوسېده. مذهبي شعر یې وایه، خطاط هم و. د پښتو خطي نسخې یې په خط لیدل شوې دي. د هغه مذهبي متفرقې شعري ټوټې شته دي. دا د هغه دی:

نورمحمده خواره ژاړه　　عفوه غواړه له ستاره

ګناهونه دي سوه ډېره　　تر حساب تر شماره تېره

میر دین د ۱۳۰۰هـ.ق په حدودو کې د ننګرهار په بټي‌کوټ کې اوسېده، د پښتو په ملي اوزانو یې شعر

ويلی او ديني قصص يې نظم کړي دي. د داود عليه السلام قصه او پيره زن قصه يې مشهوره ده. دا د هغه دی:

په غره د کوه قاف يو مرغه دی زما لاله　　پنځه سوه کلونه تېروي په يوه ځاله

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۵۲۹، ۵۰۲ مخونه)

ملا محمد کريم د ۱۳۰۰هـ.ق په حدودو کې د کندهار په شاوخوا کې اوسېده. طالب‌العلم شخص او شاعر و، د هندي موسيقۍ د مقامونو په پيروۍ يې شعر ويلی، د هغه متفرق غزليات په «بهار جانان» کې چاپ دي. دا د هغه دی:

څوک چې منکر سي هغه کس وي پر دواړه کونو کافر
محمد کريم په غم آلود سينه تنور ورسره

غلام فاروق مذهبي شاعر دی او د ۱۳۰۰هـ.ق کال په حدودو کې د کندهار په شاوخوا کې اوسېده. مذهبي او ديني جذاب شعرونه يې ويلي. نعتونه او مناجاتونه يې په ځينو مجموعو کې چاپ شوي دي. دا د هغه دی:

غلام فاروق بولي خپل ځان له محبانو　　که يې حساب کړي خدای د ده په مريدانو

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۵۲، ۳۵۹ مخونه)

اسماعيل د پښتو له ناظمانو څخه دی چې د ۱۳۰۰هـ.ق کال په حدودو کې د بلوچستان په شاوخوا کې اوسېده. د هغه ديني منظومې شته دي او پښتو نسخې د هغه په خط ليدل شوې دي. (پښتو نسخې د سيال کاکړ دي)

عبدالجبار د ۱۳۰۰هـ.ق کال د حدودو مذهبي شاعر و چې د پښتونستان په سيمو کې اوسېده. د هغه منظومې خطبې د دغه ډول مجموعو په ځينو نسخو کې چاپ شوې دي. دا د هغه دی:

ای عاصي عبدالجباره توبه واخله ځان دپاره　　مخکې لار ده ډېره گرانه دنيا به پاتې شي له تا نه

ملا عبدالحق د عبدالباقي زوی په ۱۲۸۳هـ.ق کال د ننگرهار د مزينې په ميران سيمه کې زېږېدلی او په ۱۳۴۳هـ.ق کال وفات شوی دی. د پښتو ژبې شاعر و او د پښتو په ملي اوزانو يې اجتماعي، مذهبي او اخلاقي شعرونه ويلي دي. دا د هغه دی:

عبدالحق کوي دعا　　په درگاه د پاک مولا
چې دا خاوره د آريا　　تل ساتي له خزانه(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۳، ۲۹۳، ۲۹۴ مخونه)

ملا شېرمحمد د ۱۳۰۰هـ.ق په حدودو کې د کندهار په اخکزیو کې اوسېده. د پښتو په ملي اوزانو يې عاشقانه شعرونه ويلي دي. دا د ده دی:

تل د غم تر غبار لاندې شېرمحمد يم د رحمت ابر پر سر زما سايه را

شمس الدين طالب د ملا مير يحيى (د ۱۳۰۰هـ.ق کال شاوخوا) معاصر او د کندهار په حوا کوڅه کې اوسېده. د ديني علومو طالب‌العلم او بديهه‌ويونکی شاعر و. له ملا مير يحيى سره د هغه شعري مقابلې د کندهار د خلکو په خولو وې. دا د ده دی:

ښه ابتدا وه په بسم الله وه- وايمه حمد وثنا که سي رښتيا جواب زما چې غوښتی ؤ مير يحيى

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۲۶۶، ۲۵۵ مخونه)

اخوند رسول خان د پښتونستان په «ترلاندي» سيمه کې اوسېده(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۱۹۰- ۱۹۱ مخونه). د «پټ ستوري» مؤلف د «پښتانه شاعران» په استناد د هغه نوم رسول شاه د عرب شاه زوی ښودلی او ويلي يې دي چې په اتيا کلنۍ کې د څوارلسمې هجري پېړۍ په اوايلو کې وفات شوی دی. دا د ده شعر دی:

رسول شاه که خدای د دوست.... رها که مونږ به واخلو د ايمان مبارکي

(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۳۱۵ مخ)

ملا خواجه محمد هغه شاعر دی چې د پښتو په ملي اوزانو يې شعر ويلی او د ۱۳۰۰هـ.ق کال په حدودو کې په کندهار کې اوسېده. د هغه ځينې غزليات په «بهار جانان» کې چاپ شوي، په پښتو تذکرو کې يې احوال ثبت شوی دی. دا د ده دی:

تل په سرو سترګو ژاړم چې جانان دی نا د رب يې وصلت غواړم ويږ په ځان دی نا

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۱۶۰ مخ)

ملا حفيظ د کندهار نومورکی شاعر دی چې د ۱۳۰۰هـ.ق کال په حدودو کې د کندهار په شاوخوا سيمه کې اوسېده. جذابې عشقي او عرفاني غزليات يې ويل.

ملا حکيم د ننګرهار د کامې په ډاګ کې اوسېده، د پښتو ولسي خوږژبی شاعر و، د پښتو په ملي اوزانو يې شعر وايه. شعرونه يې په خلکو کې شهرت درلود. د شعر موضوع يې عشقي او ديني ده. دا د ده شعر دی:

سور ټيک دې په جبين باندې شغلې کا قلندرې په شان لکه د لمر

حليم شاه مناجات ويونکی شاعر دی، مناجاتونه يې په مجموعو کې ثبت شوي دي. د هغه له کلام ښکاري چې په ديني علومو کې يې مطالعه لرله او د شعر په اصنافو کې ماهر و. دا د ده دی:

غافل مه اوسه حليم شاه　　دايم درته ولاړ يم

ملا صالح محمد برېځ د بلوچستان په شاوخوا کې اوسېده او په ۱۳۴۴هـ.ق کال يې له نړۍ سترګې پټې کړې دي. د پښتو ژبې شاعر و او په کلاسيک طرز يې شعر وايه. د علامه عبدالعلي مقام يې داسې ستايلی دی:

آخره زمانه سوه هر سړی کړي شاعري　　کامل په کې

يو نه ونيم مګر يو عبدالعلي

(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۳۴، ۱۳۵، ۱۳۷، ۲۷۴ مخونه)

ملا مير افضل د صلاح الدين زوی په ۱۸۳۰م کال د پښتونخوا پېښو ته نږدې (د دربو څوکی) په کلي کې زېږېدلی او په ۱۹۰٦م کال هملته يې له نړۍ څخه سترګې پټې کړې دي. نوموړی ديني عالم او په پښتو او پارسي کې شاعر و. د خپلې زمانې د ډېرو کسانو د وفات د تاريخ قطعې يې په پارسي کې کښلي او د ځينو کسانو ويرنې يې هم ليکلې دي. د ملا مير افضل د وينا په بېلګه کې به د هغه د يوې ليکلې ويرنې څو بيتونه وړاندې کړو:

داخل د گور شو غوث الزمان

افسوس افسوس ارمان ارمان　　اوښکې مې څاڅې لوند مې گريوان

چې نن وفات شو غوث د جهان　　شور و غوغا شوه په هر مکان

داخل د گور شو غوث الزمان....(خدمتگار، ۲۰۱۲م ، ۱۸۱۳ مخ)

سلطان د محمدگل زوی په ۱۲۴۰هـ.ق د لغمان په شمټي کې زېږېدلی او په ۱۳۲۰هـ.ق کې مړ شوی دی. د ديني علومو عالم او ولسي شاعر و. د شعر نمونه:

ورېشه ملا ته موړې ووايه حالونه　　نيسي مې پېريان راسره کاندي جنجالونه

ورېشه ملا ته موړې وگوري کتاب کې　　دا څرنګه پېرۍ دی ډاروي مې دی په خواب کې

اوس هم لا ښه نه يم ډوبه يم د غم سېلاب کې　　هر وخت چې پر ما راشي ورانوي مې شنه خالونه

وويل ملا چې د لور زړه دې چېرته تللی دی　　رنګ يې چې ژېړي عاشقی غشی خوړلی دی

ته لا خبر نه يې پرې خبر دي عالمونه.....

(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۹۱۲، ۹۱۳ مخونه)

ملا سید خیرمحمد کندهاری شاعر دی چې د اټکل له مخې د څوارلسمې هجري قمري پېړۍ په لومړیو کلونو کې یې ژوند کاوه او دوه‌نیم پاړکي یې له یوه لاس کښلي جونګ څخه لاسته راغلي دي. دا پاړکي د ولسي سندرو پخې نمونې ګڼل کېږي(رفیع، ۱۳۵۳ل، ۱۹۰، ۱۹۱ مخونه). د اټکل او نښو له مخې (چې لیکنه یې په کندهاری لهجه ده) ویلای شو چې دا جونګ په کندهار کې لیکل شوی او هم اټکلیږي چې دا جونګ دې [له ۱۳۵۳ کال وړاندې] اتیا - نوي کاله مخکې لیکل شوي وي، نو ځکه دا اټکل هم کولی شو چې سید خیرمحمد دې د کندهار د شاوخوا سیمو اوسېدونکی و. د پاړکو له مطالبو یې څرګندیږي چې د وخت په دیني علومو کې یې لاس درلود، لوستی او د معلوماتو لرونکی سړی و، خو د پاړکو مطالب یې ښې ولسي او د ولسي چاربیتو په چوکاټ کې دي، خو د پاړکو مطالب یې په څرګنده ښیي چې ویونکي یې عامي او بې‌سواده نه و، خصوصاً د یوه پاړکي له دې سرلیک نه: «نعت ملا سید خیرمحمد» را په ګوته کوي چې خیر محمد ملا هم و. د سید خیرمحمد درې خواږه پاړکي په دې جونګ کې خوندي دي او د پاړکو له رواني او پوخوالي څخه یې ښکاري چې ملا سید خیرمحمد به نور ډېر پاړکي هم درلودل، خو اوس یې همدا درې ترلاسه شوي دي. د پاړکو جوړښت یې د څلور مسره‌ییزو چاربیتو په چوکاټ کې دی. د پاړکو مطالب یې نعتونه، منقبتونه او دیني خوږې ستاینې دي چې ځینې یې دا دي:

نور د محمد له پاکه نوره د سبحان دی چا چې شک په راوړ هغه کله مسلمان دی

* * *

شک وباسه له دله بې‌شبهې حبیب د رب دی که نور انبیا ډېر دي تر هر چا دی مقرب دی

په زېرې د معراج یې حاصل شوی کل مطلب دی هر نامدار مرسل یې و لویی و ته حیران دی

* * *

څلور دي مذهبونه که ثابت د چا یقین دی څلور سره بر حق دي پرې روښان د رسول دین دی

اعلی مذهب تر نورو د سراج الامتین دی اول امام اعظم دی مسما دی په نعمان دی....

(رفیع، ۱۳۵۳ل، ۱۹۲، ۱۹۳ مخونه)

فضل محمود مخفي د نورمحمد زوی په ۱۸۸۴م کال د چارسدې د پاینده‌خېلو په کندي کې زېږېدلی

او په ۱۹۴۷م کال کې مړ شوی دی. اصلاً د باجوړ دی، کورنۍ یې پېښور ته راغلې او په ۱۹۱۰م کې یې د چارسدې منځنۍ ښوونځي پای ته ورساوه، بیا یې په اسلامیه های‌سکول کې تر زده‌کړو وروسته د پېښور په ایډورډ کالج کې شامل شو. له مدرسې نه چې فارغ شو، د دیوبند په مدرسه کې د مولانا محمود الحسن شاګرد شو. د ترنګزو له حاجي صاحب سره یې اړیکې پیدا کړې او د هغوی له خوا د مردان د «ګدر» په اسلامي مدرسه کې مقرر شو، څه موده وروسته د دیر د «سیند» په سیمه کې مېشته شو او د «مانېوکي» مولوي صاحب په نوم مشهور شو. له دغه ځای څخه یې د انګرېزانو پر خلاف مبارزه جاري وساتله. په ۱۹۱۹م کې اعلیحضرت امان الله خان ته ور ورپېژندل شو. د هغه په دوره کې یې په باجوړ کې څلور مدرسې هم جوړې کړې دي.

د کلام بېلګه:

وطن، وطن، وطن ای خوږ وطن زما — په ما له هر څه ګران
په تا کې دی ارمان د روح و سر د تن زما — له تا نه زه قربان

(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۴۱۲ مخ)

کوم ملا حسن چې دلته معرفي کېږي هغه په «پښتانه شعراء» کې له معرفي شوي ملا حسن څخه جلا دی. هغه حسن نومي شاعران چې «پښتانه شعراء» درېیم ټوک او «فرهنګ زبان و ادبیات پښتو» لومړي ټوک لنډ لنډ را پېژندلي، په هغوې کې دی نه دی راغلی. د دغه **ملا حسن** دوې چاربیتې د «ګلشن اشعار افغاني[1]» په خطي نسخه کې خوندي دي. د دواړو چاربیتونو په پیل کې ټولوونکي کښلي دي: «چاربیته د ملا حسن د شاه منصور» د سید محمد عمر د کوټي اوسېدونکی. له دې لنډې کښنې څخه دا راوځي چې ملا حسن د پښتو چاربیتې شاعر و، د سرحدي صوبې [پښتونخوا] په «شاه منصور» نومي کلي کې اوسېده، ملا هم و. په «ګلشن اشعار افغاني» کې د ده په دوو خوندي شوو چاربیتو کې یوه چاربیته ټوکي او انتقادي رنګ لري چې کسر یې دا دی:

د غره په جماعت کې نه کوي مېلمه ته ست — ګوډی ملا محبت

بله چاربیته یې عشقي رنګ لري چې دا ده:

---

[1] د «ګلشن اشعار افغاني» دوهمه برخه ۱۶۸ مخه لري، د بېلابېلو شاعرانو منتخبې ولسي سندرې په کې راغونډې شوې دي. ټولوونکی یې د کوټي سید محمد عمر دی، د شاعرانو یوه یوه لیکه شرح حال یې هم له سندرو سره راوړی دی. نسخه د پېښور د اسلامیه کالج د کتابخانې په خطي کتابونو کې محفوظه ده.

د تورو زلفو په کمند کې دې حصار کړمه لکه طوطي افسوس چغار کړمه سحر سحر

* * *

کمند د زلفو د ګردنه مې چاپېر شه ناست یم زهیر ظلم دې ډېر شه په ما اسیر
سلګۍ وهم لکه ماشوم تمام مې سیر شه رنګ مې تغییر قلم مې ګیر شه د غم په بیر
مخ که څرګند چې زه ارمان ستا د دیدار کړمه یم زحمتي عرض په ریبار کړمه سحر سحر

* * *

مه کړه عرضونه په ریبار نه به قبول شې کار به کړې وران زیات به دې نول شي وصل مې ګران
بخت دې نسکور رنګ به دې سور لکه کلول[1] شي په های سوران غم به نزول شي په تا باران
خال په پیوند کې که د وروځو در اظهار کړمه شي به ستي نوی سینګار کړمه سحر سحر...

د ملا حسن د نور ژوند، زوکړې او مړینې په باب څه خاص معلومات په لاس کې نشته، خو دومره تخمیناً ویلای شو چې د ۱۳۰۰هـ.ق کال په حدودو کې یې د شاعرۍ هنګامه توده وه، چاربیتې او بدلې یې د پېښور په شاوخوا سیمو کې خورې شوې وې او سید محمد عمر کوټي چې د ۱۹۰۰م په شاوخوا کې د «ګلشن اشعار افغاني» دوهم ټوک ټولاوه او ترتیباوه، نو یې د ده ولسي سندرې هم په دې کتاب کې انتخاب او خوندي کړې دي(هېوادمل، ۱۳۶۲ل، ۵۱- ۵۲، ۵۴ مخونه).

محمدجان صاحبزاده په ۱۲۸۷هـ.ق کال زوکړې(سعید، ۱۳۹۴ل، ۳۸۷ مخ) ، د ملا فیض محمد اخونزاده جمریاني زوی په خټه پښتون حسین‌خېل د کابل په موسهي کې زېږېدلی او په ۱۳۳۷هـ.ق په همدغه ځای کې مړ او ښخ دی. دی عالم، فاضل سړی او ښه شاعر و. په متداولو علومو، لکه: فقهې، اصول، حدیث، تفسیر، منطق او نورو کې یې لاس درلود. په خلکو او مریدانو کې په (کاکا صاحب) مشهور و. کاکاصاحب په پښتو او دري شعرونه ویلي او د آثارو خاوند دی. شعرونه یې تصوفي دي او د شعر ژبه یې خوږه، روانه او ساده ده. څه شعرونه یې لاس ته راغلي دي چې د شعر ډېر اقسام په کې شته. د نمونې په ډول یې دا شعر را اخلو:

تل به نه وي د دنیا دغه دوران آخر درومي که ګدا دی که سلطان
په پردي کور باندې زړه مه ټړئ وروڼو کوچ و بار دی واړه یو مسافران
هر سحر نارې وهي ملکې ګوره! کوچ دی کوچ دی څئ تیار شئ په کاروان

[1] کلول: یو بوټی چې د غنمو په فصل کې کېږي.

کډې بار دي د یارانو وړاندې وروسته بخت د هغو چې دوی لاړه صالحان

(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۱۱۰۲ مخ)

حمیدالله اخونزاده په «سوات ملا» مشهور و، په قبیله باماخېل و چې د باماخېله په نوم بر سوات کې یو کلی هم شته دی. په سیدو شریف کې اوسېده. کله چې د سوات د اخوند صاحب او د حضرت صاحب (کوټي ملا صاحب) په منځ کې اختلاف ډېر شو، نو کوټي ته یې هجرت وکړ. صاحبزاده عبدالحی د کوټي په خپل کتاب (مدح الابرار) کې لیکي: حمیدالله ډېر لوی عالم او شاعر و، تخلص یې حمید و، غالباً په ۱۳۲۱هـ.ق وفات شو. حمیدالله په ۱۲۷۲هـ.ق کې د سوات په اولني سفر کې د خپل پیر طریقت حضرت سید امیر صاحب (کوټي ملا صاحب) سره ملګری و(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۴۳ مخ). حمید په پارسي ژبه هم ډېره ښه شاعر کړې ده. د ده په پښتو کلام کې چې کوم سوز او درد دی، رنګیني او سرجوشي ده، دا د ده د نورو ملګرو شاعرانو په کلام کې نشته. د حضرت‌جي صاحب ټول هغه مریدان چې د شعر و ادب موزونه طبعه یې لرله، ټول ډېر ښه عالمان او فاضلان هم وو، لیکن د حمید په کلام کې چې کومه پختګي ده، هغه یو بېل مقام لري. د عبدالقادر خان د مشهور غزل په جواب کې وایي:

چې یې ولیدې ستا شونډې میګون هسې غنچه شوه له ډېره غمه پرخون هسې

چې و چاه د زنخدان ته یې ناظر شوم سر مِ کېښود د حیرت په زنګون هسې

دا دولت د عاشقی نه وو نور څه وو چې بیرون کړم له سواته اخون هسې

چې مِ ولید رقیب د یار له څنګه شه له قهره مې تناکې لړمون هسې

عاشقي نه وه کیمیا د سعادت وه چې په لاس راغی دولت د جنون هسې

چې دِ واغوست سروپا د عشق حمیده دا خلعت دې مبارک شه میمون هسې

(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۴۴ مخ)

نور عاشقانه کلامونه یې دا دي:

یو ځل مخ راته ښکاره کړه له حجابه چې هجران مې د زړه خونه کړه خرابه

واړه ستا د هجران تاو دی زه پوهېږم چې مې وریت شه د زړه سر سینه کبابه

ټول خوبان دي ستا په مخکې لکه ستوري ستا د حسن شغلې تېرې تر آفتابه

ستا له زلفو د ختن نافې شرمیږي د فردوس د باغیچې تازه ګلابه...

* * *

که څوک وګوري په سترګو د انصاف وبه نه کړي ستا له حسنَ انحراف
نمر له شرمه چې ستا مخ ته يې کتی نه شومخ يې پټ کړ په لمن د کوهِ قاف
ستا له شرمه اوس په پانو کې پټيږي چې همېش واهه ګلاب د حسن لاف
له سرو شونډو دِ اثر د اور څرګند شو داغ يې کېښود د لاله په زړګي صاف
که ساکت شم ستا د حسن له تعريفه بوی د مښکو نه پټيږي په غلاف...
(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۴۵، ۲۴۶ مخونه)

حميدالله اخونزاده (سوات ملا) په خپل کلام کې د محبوب ستاينه په عالي الفاظو وړاندې کړې ده.
ملا محب الحق اخونزاده د پکلی آلايي د پاګوړي د کلي اوسېدونکی ډېر لوی عالم او شاعر تېر شوی دی. د کوټې د حضرت جي په مخ لکه پتنګ عاشق و او په دې مينه کې يې نظمونه ليکلي دي:

اې په ځمکه پيدا نهره! لاس د رب دپاره راکړه!
په انوارو منوره! لاس د رب دپاره راکړه!
له اوله تر آخره ستا تأييد دی له قادره
هېر مې نه کړې له خاطره لاس د رب دپاره راکړه!
په ښه خوی سره خليقه! په مخلوق د خدای شفيقه
په رحمت د رب غريقه! لاس د رب دپاره راکړه
اې له پايه ان تر فرقه! د وحدت په نور کې غرقه!
مشهور تر غرب و شرقه لاس د رب دپاره راکړه....(خدمتګار، ۲۰۱۲م، ۱۷۵۸ مخ)

نورمحمد په (**کيا ملا صاحب**) مشهور و او د حضرت جي صاحب د دربار روزنامه‌نويس و. مختصر او نامکمل تحرير يې په «نظم الدر» کې مندرج شوی دی. دا کتاب د مسري باندې صفي الله ختک په ۱۲۷۹هـ.ق کې په پارسي ژبه ليکلی او د حضرت جي صاحب سوانح هم په کې راغلي دي. نورمحمد کيا ملا صاحب د حضرت جي صاحب په مناقبو کې په ۴۸ بيتونو *بوالله* لري چې ځينې بيتونه يې وړاند کېږي:

مرتبه دې ده بلنده هر وګړي ته څرګنده خصوصاً د خاصو ځانه د کوټې شاه مردانه!
په مجلس کې چې ستا راشي کُلي بدو ته يې شا شي خوش تقريره لب خندانه! د کوټې شاه مردانه!

ته په ياد د خداى مسرور يې په هر ملک کې مشهور يې اخلاص ډېر لرې بې شانه د کوټي شاه مردانه!
ته محبوب د پاک الله يې نازولى د درگاه يې رضا غواړې له سبحانه د کوټي شاه مردانه!
خواهش ستا متابعت دى د سنت د پاک حضرت دى اې زما جان جانانه! د کوټې شاه مردانه!

مولوي بحر الدين په (د کوپرې مولوي صاحب) باندې مشهور و. په هندوستان کې يې تعليم کړى و. لوى عالم و. منطق او معقولاتو کې يې خاص لاسرسى و. کله چې د کوټې حضرت جي صاحب ناروغه و، نو دا پوخ غزل يې ويلى دى:

په پرکار د عاشقۍ مې زړه د ودان کړې بيا په قطر مې تر قطبه د خوبان کړې
کج رفتار مې د ابرو په تخيل کړې بيا مې سم روان په رمز د مژگان کړې
ژوبل ژوبل مې کړې زړه په تېغ د سترگو بيا رفو يې په زلفينو د جانان کړې...

(خدمتگار، ۲۰۱۲م، ۱۷۶۷، ۱۷۷۱ مخونه)

ملا بهادر ديني او مذهبي ناظم او مناجات ويونکى دى چې د څوارلسمې هجري پېړۍ د اوايلو په حدودو کې يې په پښتونستان کې ژوند کاوه. د هغه مناجاتونه او خطبې شته دي. دا شعر د ده دى:

د بهادر ويل به هلته در په کار شي په لحد کې چې شي سوال رباني

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۷۹ مخ)

عبدالله د څوارلسمې هجري پېړۍ د اوايلو ناظم او خطاط و او د کندهار په اطرافو کې اوسېده. د هغه ژوند تر ۱۳۳۰هـ.ق کال پورې يقيني دى. ديني منظومې او د پښتو خطي نسخې يې په خط ليدل شوې دي. دا د هغه دى:

هر حاجت زما پوره کى زه عاصي يم هر گناه مې مغفوره کې

مولوي عبدالمجيد پشاوري ديني عالم، مفسر او محدث و. قاضي خير الله د «خير اللغات» په مقدمه کې د پښتو مؤلف او شاعر په توګه د مولوي عبدالمجيد پشاوري يادونه کړې ده.

ملا کريم د حاجي عبدالله پوپلزي (۱۳۳۳هـ.ق کال مړ) له استادانو څخه و. په پښتو ملي ژبه يې شعر وايه. د هغه پښتو شعرونه ليدل شوي دي(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۲۵، ۳۲۸، ۳۹۸ مخونه).

ملا گل سيد بابړ د کونړ د چوکۍ په بابړ کې اوسېده. د پښتو ولسي شاعر و، د پښتو په ملي اوزانو يې شعر وايه. شعرونه يې شفاهي بڼه لري. دا د هغه دى:

دنيا فاني ده وروره آخر ارمان دى طوطيان د باغه درومي پاتې خزان دى

ملا گل محمد خان د څوارلسمې هجري پېړۍ په لومړيو کې د پښتونستان د ګنډاپور په نواحيو کې اوسېده. د پښتو په ملي اوزانو يې شعر وايه. په شاعرۍ کې د حافظ عظيم ګنډاپوري (د ۱۳۲۱هـ.ق کال مړ) پيرو دی.

ګل ملا خان د ديني علومو عالم او مدرس او د پښتو ژبې شاعر و چې د پښتونستان په توابعو کې اوسېده. په ملي اوزانو يې شعر وايه، بديهه ويونکی شاعر و. د خپل عصر له اکثرو شاعرانو سره يې شعري مقابله کړې ده. دا د هغه دی:

مخ راواړوه نيم زل مخامخ راته ګفتار که شفتين دې له اسنينو نه جدا وته په يو وار که

(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۱۱، ۴۱۴ مخ)

پورته چې کوم اشخاص معرفي شوي، سره له دې چې د کلام د يوې يا څو نمونو درک يې تر اوسه لګېدلی، په دې اړه يو نظر دا دی چې يواځې لوی شاعران چې اثر يا آثار لري، معرفي شي او نور په عمومي ليکلړ کې يواځې د نومونو په يادونو اکتفاء وشي؛ خو ماته دا سمه ونه برېښېده، د هغوی په اړه چې تر دې دمه کومه لنډه پېژندګلوي او د کلام نمونه يې راغلې، هغه مې دلته را واخيستل شي چې له يوې خوا يې حق اداء شي او له بلې خوا ښايي په راتلونکي کې د دغسې اشخاصو د کلام نورې ښلګې او يا آن د اثر يا آثارو درک يې وشي. دا چې دوی په خپل وخت کې د ملا او ديني عالم په توګه نومول شوي، نو لازمه مې وبلله چې دغه ډول اشخاص که بشپړ اثر يا آثار هم ونه لري، خو د شعر په ويلو يې خپل هويت ساتلی، هم يې خپل فکر بيان کړی او ضمناً يې پښتو ژبې ته خدمت هم کړی دی، نو مې د هغوی لنډې لنډې معرفی او د کلام ښلګې په دې څېړنه کې ځای په ځای کړې.

۴- ۱ - ۳. د ديني علماوو د منظومو آثارو او کلامونو د منځپانګې تحليل

د پښتو ادبياتو په ټوله زماني مقطع کې دويمه ادبي دوره چې له لسمې تر څوارلسمې پېړۍ موده رانغاړي، تر ټولو بډاينه دوره ده، ځکه ګڼو شاعرانو او ناظمانو په کې خپل مافي الضمير د شعر او نظم په مختلفو قالبونو او موضوعاتو کې اظهار کړی دی. په دې اشخاصو کې اکثريت يې داسې دي چې په اسلامي اساساتو يې ځانونه پوه کړي، په قرآن کريم، تفسير، نبوي احاديثو، عقايدو، فقهې، ميراث، سيرت، تجويد، تصوف، عرفان او اخلاقو کې د مطالعې خاوندان شوي وو چې دا د هغه وخت دودېز او مروج علوم هم بلل کېدل. دوی چې کله شعري پنځونې کړې دي، د ځينو ټوله شاعري پر ديني بنسټونو ولاړه ده، ځينو بيا د همدې ترڅنګ د انساني ټولنې نور مقتضيات او اړخونه، لکه ټولنيزې

ناخوالې، نصيحتونه او د مينې او محبت خبرې بيان کړې دي.
په لسمه پېړۍ کې پښتنو ديني پوهانو تر ډېره تصوفي او عرفاني مطالب په خپلو آثارو کې رانغښتي دي. په دې کې د روښانيانو او اخوند دروېزه او د هغه د پيروانو ونډه جوته ده. خو کله چې يوولسمې پېړۍ ته راځو، هلته بيا خوشحال خان خټک او د ده کورنۍ، رحمان بابا، حميد مومند او نور پښتانه عالمان گورو چې شعري مضامين يې ګڼې خواوې لري. په دې وخت کې پښتو شعر د مضمون له پلوه بشپړ شو. پر پخوانيو عشقي، عرفاني، تبليغي او وعظيه اخلاقي موضوعاتو سربېره د اجتماعي ژوند بېلابېل موضوعات په شعر کې بيان شول.
په فرهنګي لحاظ دغه مهال د پښتنو په سيمو کې د روښانيانو او اخوند دروېزه د پيروانو او د دې دوو ډلو تر اغېزې لاندې د ديني او شرعي احکامو د بيان او د اسلامي قصصو د نظمولو او د عرفاني افکارو د تبليغ او تلقين لپاره کار روان و. د پښتنو د هغه وخت په فرهنګي حلقو کې دغه ډول تمايلاتو د پښتو د ادبي او نورو فرهنګي آثارو د ايجاد او ترجمې په جريان حاکميت درلود. پارسي ژبه دغه وخت په منطقه مسلطه فرهنګي ژبه وه او عربي هم ديني ژبه وه چې د دواړو ژبو زده‌کړه د هغه وخت د پښتنو د فرهنګي او ديني حلقو د نصاب مهم جزء و او هغو پښتنو خانانو چې د هند له مغلي دربار سره روابط درلودل، هغو هم د پارسي ژبې د زده‌کړې خواته توجه کوله او دا ځکه چې د دربار رسمي ژبه هغه وخت پارسي وه. د پارسي ژبې د عرفاوو او اديبانو، شاعرانو آثارو د پښتنو ديني او فرهنګي حلقو او د پښتنو د خانانو دربارونو ته لاره درلوده او د همدغو آثارو له لارې يې پارسي زده کوله. ګلستان، بوستان، سکندرنامه، يوسف زليخا، مثنوي، حديقه، د حافظ ديوان او نور آثار د دغه مهال د پښتنو د تدريس په حلقو کې مروج درسي کتابونه وو(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۳۴، ۱۳۵ مخونه).
يوولسمه هجري پېړۍ د پښتو ادبياتو د رشد او پرمختيا لپاره مناسبه پېړۍ وه. د پښتو ډېر لوی شاعران په دې پېړۍ کې را وزېږېدل، لوی شول او په پښتو يې آثار وليکل او اشعار يې وويل. په دغه پېړۍ کې د پارسي، عربي او ځينو هندي ژبو له ادبياتو سره د پښتو او پښتنو شاعرانو روابط په لوړه سطحه کې موجود شوي وو. د پښتنو په فرهنګي چاپېريال کې هم ځينې داسې شاعران را پيدا شوي وو چې د شعري عالي استعدادونو ترڅنګه يې پراخه مطالعه هم درلوده. پارسي، عربي او ځينې هندي ژبې يې هم زده وې؛ د دغو ژبو په خاص ډول د پارسي آثارو مطالعه زمونږ په فرهنګي کړيو کې دود وه او د پارسي د لويو شاعرانو، لکه فردوسي، سنايي، نظامي، مولانا، امير خسرو، سعدي حافظ او نورو د آثارو

مطالعې د پښتو شاعرانو ترمنځ رواج درلود. د دغې پېړۍ ادبي ترلاسه شوي آثار دا راښيي چې پښتو شاعرانو هم دغه وخت په شعوري ډول د خپلو ادبياتو د غني کولو او صيقلولو زيار يوست او د داسې آثارو ايجاد خواته يې هڅه کوله چې په سيمه کې د موجودو ژبو له روان ادبي پرمختللي بهير سره همګامه وي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۷۳ مخ).

يوولسمه پېړۍ د پښتني فرهنګ د روزنې لپاره بختوره پېړۍ ده. د پښتو آثارو او موجودو اسنادو له مطالعې ښکاري چې د پښتني فرهنګ د بڼ د لا ښېرازتيا لپاره چې کوم نيالګي د لسمې پېړۍ په دويمه نيمايي کې ايښوول شوي وو، د روښاني غورځنګ او د دې غورځنګ د مخالفينو د فکري جريانونو تر اغېز لاندې يې وده وموندله او زياتره د يوولسمې پېړۍ په جريان کې ثمر ته ورسېدل(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۳۱ مخ).

د يوولسمې هجري پېړۍ په پيل کې روښاني ادب په ځوښ کې دی، په تېرو ويناوالو يې نور هم ور زياتيږي، لکه: ميرزا خان انصاري، دولت لوانۍ، علي محمد بن ابابکر کندهاری، خواجه محمد او نور(رفيع، ۱۳۹۸ل، ۲۹ مخ).

په يوولسمه او دولسمه پېړيو کې تر ډېره د اخوند دروېزه پيروانو نظمي آثار او کلامونه پنځولي دي. د اخوند دروېزه «مخزن الاسلام» په پښتنو کې دومره شهرت پيدا کړ چې تر اوسه لا په ديني حلقو کې لوستونکي لري.

د مخزن د سبک په پيروۍ او د اخوند دروېزه او د ده د زوی د افکارو تر اغېز لاندې ډېر آثار وليکل شول. په دغو آثارو کې په شکلي لحاظ نظمونه او د مسجع نثر زياتې نمونې ليدل کېږي. دې جريان ته د منسوبو آثارو منظوم آثار هم د پښتو شعر په ژانري انکشاف کې کوم خاص نقش نه لري. پښتو آثارو په دې دوره کې موضوعي وسعت پيدا کړی دی. ځينې داسې ترجمې او ليکنې دې جريان ته د مربوطو ليکوالو په فرهنګي کارونو کې موندل کېږي، لکه شمايلنامه، شفاعت‌نامه، ايمان‌نامه، د قرآن عظيم د صحيح لوست په منظور تجويدي آثار، نورنامه د ديني زده‌کړو لپاره، د خلاصه کيداني، خلاصة الاسلام او نورو آثارو پښتو ترجمې، ډېر مشهور عربي قصايد، لکه قصيده برده او قصيده سرياني دغه ادبي جريان ته منسوبو ليکوالو په پښتو ترجمه کړل. اسلامي او عربي فرهنګ ته مربوط ډېر مشهور قصص هم همدا مهال پښتو ته واوښتل. دغه ترجمه شوي او ليکل شوي آثار زياتره روزنيز او ديداکتيک بڼه لري. په فکري لحاظ په دې آثارو کې د عرفان او سلوک مسايل هم په کافي اندازه

بيان شوي دي. د دې کورنۍ په پيروانو کې د سلوک او معرفت پابند ليکوال او شاعران هم مومو او د شرعي احکامو مفسرين او مبلغين هم په کې زيات دي. په دې کورنۍ کې او د هغې په پيروانو کې چې کوم منظوم او نيم منظوم آثار ايجاد شوي دي، په هغو کې ادبي او هنري ارزښتونو ته توجه ډېره نه ده شوې. ليکوال خپل اهداف د خلکو د پوهولو لپاره ليکلي دي، شعريت او ادبي خواوو ته يې چندان توجه نه ده کړې. د اخوند دروېزه او د ده د کورنۍ او پيروانو په آثارو کې د الفنامو معنوي ډول ته هم توجه شوې ده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۱۹، ۱۲۰ مخونه).

په دې زمانه کې ډېر نور شاعران او ليکوالان هم رامنځ ته کېږي او ډېرې ادبي څېړې نړۍ ته سترګې پرانيزي:

ملا الف هوتک د «بحر الايمان» مؤلف، امير د «پښتو تجويد» مؤلف، کريمداد د اخوند دروېزه د آثارو بشپړوونکی او الفنامو مؤلف، خالقداد د اخون دروېزه زوی د «شرايط او احکام ايمان» ليکونکی، عبدالحليم دروېزه‌يي شاعر، اخوند قاسم د «فوائد الشريعة» مؤلف، بابوجان د څو مجموعو خاوند، عبدالسلام دروېزه‌يي شاعر، قلندر، عبدالله، اخوند مياداد، اخوند مصری، آدين، آزاد، بېګ محمد، نجابت، قادر، کريمداد روښاني، شيخ فريد، حسين، فاضل او شېرمحمد د دې پېړۍ نور ويناوال او شاعران دي.

په همدې پېړۍ کې د خوشحال خان خټک کره ګڼ شمېر شاعرانو سترګې پرانيستې چې د ده زامن او لونې وې او اکثرو يې خپله ادبي مېوه د دولسمې پېړۍ په پيل کې خپلې ټولنې ته وړاندې کړه چې مشهور يې دا دي: اشرف خان هجري، قادر خان، صدر خان، سکندر خان، بهرام خان، ګوهر خان، حليمه، ازاد خان.... د پښتو لوی صوفي او منلی شاعر رحمان بابا هم په همدې پېړۍ کې زېږېدلی او په همدې پېړۍ کې يې د خوږو شعرونو په ويلو پيل کړی دی(رفيع، ۱۳۹۸ل، ۳۰، ۳۱ مخونه).

د اوسني افغانستان په سيمو کې هم د رحمان بابا د زړه راکښونکي شعر مينه‌وال او خوښوونکي تر هر بل ځايه ډېر وو او دي. د رحمان بابا په ژوند لا د ده کلام د افغانستان لوېديځو سيمو ته رسېدلی و او د افغانانو ملي مشر ميرويس نيکه يې د ۱۱۱۹هـ.ق شاوخوا پر ديوان فالونه نيول. د بابا د شعر همدا مقبوليت، شهرت او د ده شعر ته د افغانانو د ژور احترام نتيجه ده چې نه يواځې د افغانستان پښتانه، بلکې زمورږ نور وروڼه هم د بابا له نامه او شعر سره اشنايي لري او د نورو ژبو واعظان هم د بابا پر شعر تکيه کوي او د خپل قول د پياوړتيا لپاره د ده اشعار د وعظ پر منبرونو خلکو ته وايي(هېوادمل،

۱۳۷۹ل، ۱۸۵ مخ).

د رحمان بابا د پړاو ادبي جریان ته په کتنې ویلی شو چې:

دا پړاو زیاتره د اخلاقو او نصایحو د بیان خواته ډېره توجه کوي. دغه پړاو ته د مربوطو شاعرانو په ځینو دیوانونو کې د عرفان د بېلابېلو طریقو له روشونو سره سم ځینې عرفاني مسایل هم بیان شوي دي، خو د عشق بیان د دې پړاو د اشعارو عمده او متبارزه ځانګړنه ده. د دې پړاو د ځینو شاعرانو په دیوانونو کې اجتماعي مسایل، د جامعې نقد او ورسره ځینې تاریخي او واقعاتي رویدادونه هم راغلي دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۹۷ مخ).

په دولسمه پېړۍ کې اشرف خان هجري خپل دیوان بشپړوي، قادر خان ختک د مولانا جامي یوسف زلیخا ژباړي، د شیخ سعدي ګلستان په پښتو اړوي، خپل دیوان بشپړوي او د عربي د بردې مشهوره قصیده په پښتو بوللە ژباړي. صدر خان ختک آدم خان او درخانۍ کاږي، د دلي او شهو کیسه لیکي، د حضرت رسول معجزې په پښتو اړوي او خپل دیوان بشپړوي، افضل خان ختک د پښتنو لوی تاریخ (تاریخ مرصع) کاږي او انوار سهیلي پښتو کوي، د ده لوره حلیمه د خپلو شعرونو دیوان بشپړوي. بل لور ته رحمان بابا خپل دیوان بشپړوي، حمید بابا سترګې پرانېزي او د نیرنګ عشق، شاه او ګدا د کیسو او شرعة الاسلام او خپل دیوان په وړاندې کولو سره پښتو ادب غني کوي. خواجه محمد بنګښ خپل دیوان کاږي، محمد یونس د رحمان بابا شاګرد خپل دیوان بشپړوي، میرا او قلندر هم په همدې پېړۍ کې له سوزه ډکې نارې کوي. غلام محمد هم معراجنامه، د والضحی تفسیر، جنګنامه او نور آثار کاږي. همداراز په ختیځه پښتونخوا کې ملا عبدالرشید او اخوند ګدا د دې پېړۍ شاعران او ادیبان دي(رفیع، ۱۳۹۸ل، ۳۱، ۳۲ مخونه).

په دولسمه پېړۍ کې د میرویس هوتک او په ټوله کې د هوتکیانو او د احمدشاه بابا د سلطنتونو په دوران کې پښتو ادب او ژبې ته پراخ خدمتونه شوي دي.

د هوتکیانو په دوره کې ښوونه او روزنه، علم، عرفان، ادب او فرهنګ په درسونو او ځانګړو محفلونو کې جریان لاره، هغه علوم چې تدریس کېدل او په هغه وخت کې دود وو، ټول معقول او منقول علوم وو. د دې علومو او ادبیاتو په دودولو کې عالمانو، ادیبانو او شاعرانو ستر نومونه ترلاسه کړي دي. د بېلګې په توګه ملا زعفران. هغه په اصفهان کې د شاه‌محمود او شاه‌اشرف د دورې له مشهورو عالمانو څخه وو چې په خپله اصلاً افغان و. رستم الحکماء په خپل اثر (رستم التواریخ) کې لیکي: تر هر څه

دمخه هغه عالي‌جناب فضايل‌مآب (آخوند ملا زعفران) چې حنفي مذهب و... پيشوا، مقتدا، مجتهد او د اهل سنت لويه ستې ده. منشي مرزا مهدي استرآبادي په خپل اثر (تاريخ جهانکشای نادري) کې د ملا زعفران نوم د ملا صديق او سيدال په نومونو هم ضبط کړی دی چې د شاه اشرف له خوا د استازي په توګه زرقان کې نادرشاه افشار ته استول شوی و چې بيا له خپلو ملګرو سره د نادر قلي (نادرشاه افشار) له خوا په شهادت ورسېد(نير، ۱۳۹۸ل، ۱۹۶، ۱۹۷ مخونه). د هوتکو په غورځنګ کې ملا باز توخي، ملا محمد صديق پوپلزی، ملا پيرمحمد مياجي، بابوجان بابی، ملا محمد عادل بړېخ، ملا محمد اياز نيازی، ملا محمد غلجی، ملا شېرمحمد هوتک... د دې دورې شاعران او ويناوال دي.

په هوتکي دوره کې د افضل الطريق، الفرايض في الرد الروافض، د محمد رسول بياض، پټه خزانه، تحفة الواعظ، جامع الفرايض، خلاصة الفصاحة، خلاصة الطب، د الله يار افريدي ديوان، د زرغونې انا ديوان، د محمد هوتک ديوان، د شاه حسين ديوان، قصص العاشقين، ګلدسته زعفراني، پښتو محمودنامه، محاسن الصلاة، نافع المسلمين.... کښل کېږي(رفيع، ۱۳۹۸ل، ۳۳، ۳۴ مخونه).

د هوتکو د پاچاهۍ په دوران کې ځينو نورو شاعرانو هم په افغانستان، پښتونخوا او نورو سيمو کې ژوند کړی او آثار يې ايجاد کړي دي. دغه کتيګوري ادبي آثار او ويناوال يې چې په نورو جريانونو پورې اړه نه لري، يادونه يې اړينه ده. په دغه ډول شاعرانو او ليکوالو کې يوه ډله داسې شاعران دي چې په عام ډول يې د پښتو د ولسي شاعرۍ په کالبونو کې شاعري کړې ده. په دغو کسانو کې هغه شاعران دي چې محمد هوتک په «پټه خزانه» کې را ښوولي دي، ټول د هوتکي دورې معاصران دي او محمد هوتک را پېژندلي دي. د دوی موضوعات هم رنګا رنګ دي، د عشق او مينې خبرې، ديني او وعظي مسايل، هزليات او فکاهي او خندوونکي خبرې او مطالب رانغاړي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۰۸، ۲۰۹ مخونه).

احمدشاه بابا د دې ترځنګ چې په خپله شاعر و، د هغه په وخت کې ګڼې داسې علمي کورنۍ وې چې علم، فرهنګ او ادب ته يې کار کړی دی، لکه د قاضي غلام محمد هوتک کورنۍ، د ملا بابړ موسی‌خېل اولاده چې په خپله يې د هوتکيانو په وخت کې ژوند کاوه او زوی يې مولوي فيض الله د احمدشاه بابا په وخت کې د اشرف الوزراء شاه ولي خان د کورنۍ استاد و. د ملا اسمعيل الکوزي کورنۍ چې نوموړی په خپله د احمدشاه بابا له وخته په کندهار کې ژوند کاوه، زوی يې ملا احمد د احمدشاهي ښار قاضي و، د دې کورنۍ نور علمي کسان پيرمحمد و(نير، ۱۳۹۸ل، ۲۲۷، ۲۲۸ مخونه).

تیمورشاه ابدالي د خپل پلار احمدشاه بابا د ژوندانه پر وخت د پنجاب او هرات والي و، ده نه یواځې له شعر او شاعري سره علاقه درلوده او په خپله یې هم شعر وایه، بلکې له روحانیونو او عالمانو سره یې ډېره علاقه درلوده، د هغه په وخت کې به هره د جمعې په شپه په بالاحصار کې د عالمانو او روحانیونو غونډه کېده، علمي بحث به ترسره کېده او تیمورشاه په خپله هم په کې ګډون کاوه.(نیر، ۱۳۹۸ل، ۲۳۲ مخ)

د ابدالیانو عالمان د احمد شاه بابا تر رامنځته کېدو وړاندې په عامه توګه د «شیوخ» په نوم یاد شوي دي چې د نعمت الله هروي په مخزن افغاني کې یې لیدلی شو.

د احمدشاه بابا د وخت په عالمانو او شاعرانو کې ملا محمد غوث، ملا درک محمد، مولوي هدایت الله، ملا ابو الوفاء، ملا پیرمحمد کاکړ؛ د تیمورشاه د دورې عالمانو او شاعرانو کې ملا نورمحمد کشمیري، مولوي احمد الله پاني‌پتي، شیخ جلال کشمیري، ملا زبردست کاکړ (شاعر)؛ د زمان شاه د وخت عالمانو او شاعران کې مولوي محمد ابراهیم او زامن یې عبدالرحیم، عبدالوهاب او عبدالرحمن؛ د شاه محمود د وخت عالمانو او شاعرانو کې علامه شیخ ابراهیم، علامه محقق کندهاری؛ د شاه شجاع د وخت عالمانو او شاعرانو کې مراد علي صاحبزاده شاعر او په پښتو ژبه د قرآن کریم لومړی مفسر او ملا ولید کاکړ (نیر، ۱۳۹۸ل، ۲۳۶، ۲۳۷، ۲۳۸، ۲۳۹ مخونه) یادولی شو.

هند ته د لوی احمدشاه بابا له لښکرکښیو سره په ارتباط کې د هند په سیمو کې پښتو ادبیات هم ایجاد شول چې د خپلو ځانګړنو له پلوه له دمخني پراو څخه د بېلتون ښکاره نخښې په کې لیدل کېږي او له دغه جریان سره په ارتباط کې د پښتو ایجادي آثار د نورو ځانګړنو ترڅنګ دا ځانګړنه لري چې په هندوستان کې خوشحال، قلندر، هجري او اشرف خلیل له ادبي ایجادي آثارو وروسته یا ورسره په څنګ کې د دې سیمې په اوسېدونکو پښتنو کې د دیداکتیک او تربیتي مسایلو د بیان خواته ځینې حرکات لیدل کېږي او پښتو نظم او نثر د ديني، تربیتي او دیني لارښوونو تر اغېز لاندې د خلکو لپاره د ځینو اجتماعي ښېګڼو د بیان او تبلیغ په خدمت کې واقع کېږي او پښتو ادب دلې هم خپل هنري رنګ، شور او مستي له لاسه ورکوي. دا جریان لا هسې روان و چې په هندوستان کې د احمدشاه بابا له حربي کارنامو سره په ارتباط کې په دې سیمه کې ځینو اوسېدلو پښتو شاعرانو او لیکوالو داسې آثار وزېږول چې د دې سیمې پښتو ادب یې د تشو وعظي او تبلیغي منظوماتو له تسلطه وژغوره. د هنر ترڅنګ یې نوي موضوعات او نوي افکار او آثارو ایجاد کړل(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۸۱- ۳۸۲ مخونه).

په هوتکي او احمدشاهي دورانونو کې ځینې رزمي او حماسي آثار هم ایجاد شوي دي، اما په دیارلسم قرن کې زمور په هېواد کې د ځینو نوو شرایطو په ایجاد سره ځینو نورو حماسي او رزمي ادبیاتو ته د ایجاد زمینې برابرې شوې(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۶۳ مخ). ملا فیض محمد اخونزاده (۱۲۵۰- ۱۳۱۹هـ.ق) د «روضة المجاهدین» په نامه حماسي اثر لري چې د دیني ارشاداتو په رڼا کې یې د جهاد مسایل په کې بیان کړي دي.

د دیارلسمې پېړۍ په جریان کې چې د افغانستان پر خاوره د هر چا له خوا تجاوزونه شوي دي، د دغو تجاوزونو او بیا له متجاوزینو سره د افغانانو د مېرنۍ مقابلې رویدادونو او جریانونو ګردو چاربیتو ته لاره پیدا کړې ده، په سلګونو چاربیتې په دغو واقعاتو پورې ویلی شوې دي. هغه چاربیتیان چې رزمي چاربیتې یې ویلې دي، د هغو له جملې دیني عالمان یې دا کسان دي: ملا مقصود او ملا مؤمن. د پښتو د ولسي شعر یو ډول کسرونه دي چې د کټه‌واز د سیمو په ځینو شاعرانو ګنډه پورو او مروتو پښتنو کې دغه شعري ډول رواج لري. د مروتو په کسرونو کې پر عشقي مسایلو سربېره دیني او اخلاقي موضوعات بیان شوي دي. د دین او دیني ارزښتونو په رڼا کې ځینې اخلاقي مسایل هم [ولسي] شاعرانو په مقامونو کې بیان کړې دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲٦٦، ۲۷۰ مخونه).

په پښتو ادبیاتو کې د مقامي سندرو دوران ته په کتلو ویلی شو چې:

د هندي موسیقۍ له راګونو سره په توافق پښتو غزل رامنځ ته شو او د هندي موسیقۍ له څپو سره د پښتونخوا په سیمو کې یې وده وموندله، دا ډول غزل د پښتو شعر څېړونکو مقامي سندرې بللې دي. د کندهار په سیمو کې هغه دیني شاعران چې غزلې یې په دې وزنونو او آهنګونو برابرې دي، دا دي: ملا عبدالسلام کرزی، ملا رحمت الله، ملا عبدالمنان، مولوي عیشي، ملا میران او حتی د پښتو او پښتنو د لوی محسن علامه عبدالعلي کاکړ (۱۲۸۹- ۱۳٦۴هـ.ق) ځینې غزلې هم د همدې مقامونو له اوزانو سره برابرې دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۷۴، ۲۷۲ مخونه).

قرآن کریم چې د الله تعالی له لوري په خپل وروستي پیغمبر رانازل شوی کتاب دی، اکثریت مسلمانو شاعرانو قرآني آیتونه په خپلو شعرونو کې اقتباس کړي او یا یې له مفاهیمو څخه په استفادې شعري مرغلرلې پیښې دي. د اسلام دویمه مرجع چې نبوي احادیث دي، هم مسلمانو شاعرانو په خپلو پنځونو کې تر ې استفاده کړې ده، یا یې په خپله د احادیثو ځینې برخې او یا یې تعبیرونه په خپلو اشعارو او نظمونو کې راوړي دي.

د عربي ژبې مشهور نقاد دکتور شوقي ضيف ليکلي، نبوي حديثونه با ارزښته خزانه ده چې تـل ادیبـانو او شاعرانو په خپل نثري او شعري کلام کې کارولي او خپل کلام ته يې ښکلا او ښايسته وربخښلی دی او دا کار تر نن ورځ پورې دوام لري. بل ليکوال محمد العجـاج الخطيـب هـم کـاږي، د اسـلامي نـړۍ ادیبانو او شاعرانو د نبوي حديثونو لوري ته مخه کړه او هغـه يـې د خپلـو ادبي کړنـو لپـاره د لارې رڼـا وګرځوله او د ژوند آداب او اخلاقيـات يـې تـرې واخيسـتل، ځکـه چـې دوی پـه دې پوهېـدل چـې د انسانيت د بريا او کاميابۍ راز الله پاک په همدې کې نغښتی دی. دکتور يار زمان منګل هم وايي، نبوي سنت چې د اسلامي شريعت دويم مصدر او بنسټ دی، هيڅ مسلمان له هغې سترګې نه شي پټولی، نـو [ګڼو پښتنو شاعرانو] هم په خپل وار له قرآن کريم ځخه وروسته نبوي احاديث زده کـړل او عمـل يـې پرې وکړ، آن تر دې چې نورو ته يې ور وښودل او خپل ادبي چاپېريال يې پرې ښايسته کاوه او د اړتيـا په وخت کې يې پرې خړوباوه، د هغې معناګانې او کلمات يې په کلام کې وکارول، له نبوي سنتو ځخه يې اقتباس وکړ او هغه يې تفسير کول او د خپلو عواطفو او احساساتو په انځورولو کې يې تړې اسـتفاده وکړه او خپل فکري دريځونه يې د حديثو په رڼا کې واضح کړل. ادیبان او شاعران تل د خپلو خـبرو او مطالبو د تقويې لپاره حديثو ته مراجعه کوي، هغه معناګانې تـرې اخـلي چـې د دوی کـلام تـه قـوت او غښتلتيا وربخښي، په ځانګړي ډول دوی تل د اسلامي تربيې په برخه کې خپل کلام د حديثونو په زېور ښايسته کوي(منګل، ۱۳۹۵ل، ۳، ۴ مخونه).

پښتانه چې دين يې اسلام او ديني مراجع يې قرآن کريم، احاديث، توحيد، فقه او سيرت دي، له همدې اساساتو ځخه په استفادې ګڼو شاعرانو او ناظمانو يې د خپلو آثار او پنځونو لمنې تړې ډکې کړې دي. پردې سربېره يې همدغه مسايل له نورو ژبو په تېره عربي او دري ځخه د مسؤوليت ادا کولو او خدمت کولو په توګه پښتو ته کړي دي. په دې دوران کې چې د احاديثو، سيرت، فقهې او تجويد کومې کوم ترجمې لرو، د دې ډګر د ډېرې ژباړو اهداف که څه هم ښوونيز دي او يواځې د همدې علومو مسايلو د موضوعاتو حل ښيي، مګر بيا هم د ديني ادب د غنامندۍ او پښتو ژبې د پرمختګ لپاره ګټورې دي.

اجملی ښکلی وايي: «پخوانۍ شاعرۍ ملايانو کړې، علي‌خان د جومات ملا امام و. شاعري او ملاتوب يو ډول پارادوکس ښکاري چې ملا ځنګه شعر ويلی شي، خو سړی چې خپل روايت او شاعرۍ ته وګوري، نو زمور او تاسو پخواني شاعري زياتره ملايان وو. علي‌خان د جومات ملا امام و، حميد بابا لوی عالم و شرعة الاسلام يې ترجمه کړې، تر خوشحاله پورې چې ديني علم يې درلود او دغسې

رحمان بابا تصوفي شاعر و. د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي استاد عبدالقاهر عابد وایي چې پخوا همدا ديني عالمانو او ملایانو شاعرۍ او ادبیاتو ته کار کړی، خو ما ورته وویل چې دا خبره برعکس ده، شاعرانو په اصل کې ديني علم ترلاسه کړی او دین کار یې هم ورسره کاوه»(https://www.youtube.com/watch?v=LpoVuBWAXVE).

پورتنۍ خبره په خپل ځای سمه ده، خو دا هم د ویلو ده چې په اصل کې شاعري کول د ځینو خاصو کسانو امتیاز دی چې په ټولنه کې محدود کسان دغه وړتیا پیدا کوي چې له لفظونو د ګلو ګډۍ جوړه کړي او بیا یې نورو ته د بویولو او ښه احساس ورکولو لپاره وړاندې کوي، له بلې خوا اسلامي پوهه الهي ورکړه چې د ټولنې خاص قشر ترې برخمن کېږي، همدغه کتیګوري خلک ديني مراجع هم وي او آن د پیغمبرانو وارثان بلل شوي دي؛ نو کله چې شاعري او ديني فقاهت سره یوځای شي، نو د نظم او شعر له لارې داسې یو امتزاج رامنځ ته کولی شي چې کلام یې هم دنیوي مزایا او هم اخروي ګټې لرلی شي، دغه راز د یوه متدین شاعر او ناظم پنځونه بیا په مسلمانه ټولنه او خلکو کې محبوبیت هم پیدا کولی شي او خلک یې د شعري کلام بېلګې د خپلې مدعا د ثبوت لپاره وړاندې کوي.

د پښتو ادبیاتو تاریخ له لسمې تر څوارلسمې پېړۍ په جریان کې د رامنځته شوې شاعرۍ ژوره کتنه چې وشي، په هغو کې ديني علماوو پوره ونډه لرلې ده، د شعر او نظم په مختلفو چوکاټونو او آن ولسي فورمونو کې یې منظوم آثار کښلي دي. په دې آثارو کې ځینې داسې دي چې له سره تر پایه ديني مفاهیم په کې رانغښتل شوي او یا هم ديني ارشادات یې که هغه د قرآن کریم او نبوي احادیثو تعبیرونه دي، د سیرت، فقهې، عقایدو، تجوید او میراث مسایل دي، په خپلو آثارو کې ځلولي دي. کله کله خو شاعر خپله قرآني آیت او د حدیث شریف یوه ټوټه هم را اخیستې او خپله مدعا یې پرې مستدلله کړې ده.

دا ټول په دې دلالت کوي چې په اسلام کې شاعرۍ د پوره اهتمام وړ ګرځېدلې او چې ديني عالم په خپله شاعري کوي، دا د شعر او شاعرۍ مقام لا اوچتوي او په ټوله کې د ديني او ادبي چاپېریالونو ترمنځ پیوستون راولي. البته د دې دورې د ځینو شاعرانو شعریت او هنري اړخ یې یو څه کمرنګه دی، اما په ټوله کې یې پښتو ژبې او ادب ته لویه پانګه په میراث پرېښې ده.

۴- ۲. د پښتو په دویمه ادبي دوره کې د ديني علماوو د منثورو آثارو پېژندنه او تحلیل

لومړی د پښتو په دویمه ادبي دوره کې نثر ته عمومي لنډه کتنه کوو او تر هغه وروسته د زماني ترتیب پر بنسټ د ديني علماوو له خوا د لیکل شویو منثورو آثارو او لیکوالو جاج واخلو.

په دویمه دوره کې د پښتو نثر د پیدایښت، پایښت او پرمختیا په لاندې څلورو پړاوونو کې مطالعه کېدای شي:

۱- د مسجع لیکنې پړاو.

۲- بېرته عادي نثر یا ساده لیکنې ته رجوع.

۳- د پښتو نثر کړلپچن پړاو.

۴- د پښتو نثر پرمختللی اصلاحي پړاو او د هنري نثر د پیدایښت زمینې.

په دې څلورو یادو شویو پړاوونو کې په زیاته په دویم پړاو کې د دې پړاو د آثارو ترمنځ ځینې سبکي او فکري تفاوتونه شته چې د پړاوونو ترمنځ د ځانګړو جریانونو په نامه سره بېلیږي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۷۶ مخ).

د مسجع لیکنې پړاو د لسمې پېړۍ له نیمایي پیلیږي او تر دیارلسمې پېړۍ پورې دوام کوي. په همدې جریان کې په یوولسمه پېړۍ کې د نثر عادي کولو او ساده‌لیکنې بهیر هم‌مهاله پیلیږي. بیا یو مهال داسې راځي چې په پښتو نثر کې اغلاق او پېلچتیاوې ډېرېږي تر هغه چې د دیارلسمې پېړۍ له دویمې نیمایي ځخه وروسته پښتو نثر بېرته سمېږي او هم په کې هنري نثر وده کوي.

کله چې په پښتو کې د مسجع نثر د پیدایښت جاج اخلو، هغه له داسې یو وخت سره اړه لري چې د عربي او دري ادبیاتو نفوذ د پښتو پر لوستي قشر زیات شوی او زمور دیني علماوو غوښتي دي چې خپل تعلیمي آثار په دغسې یو سبک ولیکي چې زمور ځېړونکو مسجع نثر، قافیه‌وال نثر او یا نیم‌منظوم سبک بللی دی(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۷۹ مخ).

په لسمه پېړۍ کې پیر روښان د خپل اثر «خیر البیان» په لیکلو سره په دې ژبه کې مسجع نثر دود کړ. د دې اثر په کښلو سره په پښتو نثر کې نوی باب پرانیستل شو او پښتانه د نثري ژانر له یوه نوي اسلوب (سجع) سره اشنا شول او آن تر هرات پورې د مسجع نثر لیکنه دود شوه. خو باید په ډاګه شي چې د بایزید روښان پیروانو دغه لاره تر ډېره نه ده پاللې، تر هغه زیاته د ده سیاسي مخالف اخوند دروېزه د «مخزن الاسلام» او نورو آثارو په لیکلو او پیروانو یې دا لاره تعقیب کړې ده، له روښانیانو سره د فکري او قلمي مبارزې له لارې د آثارو په کښلو سره یې په همدې مسجع نثر ځوابونه ورته وویل چې په دې

سره مسجع نثر ښه وده وکړه. پر اخوند دروېزه سربېره د هغه ګڼ شمېر پیروانو مسجع آثار ایجاد کړي دي. د مسجع نثر بنسټ که پیر روښان ایښی، خو د نثر دې ډول ته چې ډېر کار شوی او پراختیا یې موندلې، هغه د اخوند دروېزه د پیروانو له خوا شوې ده. د دوی مسجع نثرونه هم خپل سلاست او رواني لري او هم یې د پښتو ادب ځولۍ له دغه ډول نثرونو ډکه کړې ده. د لیکنې دغه سبک او شېوې ته په دیني حلقو کې دوام وکړل شو.

یوه موضوع چې په مسجع نثر لیکنې پورې اړه لري، هغه دا ده چې د روښان او دروېزه په زمانه کې یوه ډله داسې هم شته چې تسجیع یې پاللې ده، خو د دې دواړو له پیروانو څخه نه دي. دا ډله «درېیمه ډله» نومول شوې ده. د بایزید روښان او د دروېزه او د ده د پیروانو په مسجع نثرونو کې د عربي او پارسي ادب او د دیني او مذهبي افکارو اغېز زیات لیدل کېږي. د دې تحول یو لوی دلیل دا دی چې په هغه وخت کې دغه قافیه‌وال او مسجع نثر د د دیني وعظ او تبلیغ لپاره مؤثر و.

مطلب دا چې په پښتو کې مسجع‌لیکنه د لسمې هجري پېړۍ په دویمه نیمایي کې را پیدا شوه او د یوولسمې پېړۍ په جریان کې یې ډېر پرمختګ وکړ، ځکه علماوو او دین ته د منسلکو اشخاصو له خوا د شرعي احکامو، اخلاقي مسایلو او دیني موعظو د خپرولو لپاره د لیکنې د مسجع ډول په شېوې یې لیکل وکړل. دغه جریان ته د دیارلسمې پېړۍ تر پایه ځینو دیني پوهانو او ادیبانو د دیني زده‌کړو او تعلیماتو د نشرولو په منظور د لیکنو او یا هم د ترجمې له لارې دوام ورکړ(احمدزی، ۱۴۰۲ل، ۳۹۶-۳۹۷ مخونه) معنا دا چې پښتو مسجع لیکنه یواځې په څو تنو پورې محدوده پاتې نه شوه، د یوولسمې پېړۍ په جریان کې د پښتنو په دیني حلقو کې یې ښه وده وموندله او د یوولسمې هجري پېړۍ په دویمه نیمایي او دولسمه پېړۍ کې مور له سواته تر ملتانه او له ملتانه تر هراته د مېشتو پښتنو په دیني علماوو کې د دې سبک پیروان لیکونکي، لوستونکي او شایقین مومو(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۱۹ مخ).

سره له دې چې د دې مکتبونو د لارویانو په آثارو کې ادبي او هنري ارزښتونو ته ډېره پام نه دی شوی، یواځې یې غوښتي دیني مسایل او د خپل فکر پیغام خپلو خلکو ته ورسوي، خو د هغوی له آثارو څخه د پښتو ژبې د نږدې درېیو پېړیو د تعبیرونو، ترکیبونو او لغتونو پراخه زېرمه را پاتې ده.

په دولسمه او دیارلسمه هجري پېړۍ کې څو داسې آثار شته چې ټول او یا زیاتره برخې یې مسجعات دي. په دغو پېړیو کې هم سجع زیاتره په مذهبي آثارو کې پالل شوې ده. په دیارلسمه هجري پېړۍ کې تر نورو تېرو پېړیو مسجع نثر په هغه کچه او کیفیت چې تر دې مخکې زمانو کې و، نه دی پاتې

شوی. مطلب دا چې د دیارلسمې هجري پېړۍ په وروستیو کې د مسجع نثر لیکنه له رکود سره مخامخ شوې ده. تر دې وروسته وخت څخه تر اوسه پورې خال خال مسجع نثر د ځینو لیکوالو له خوا پالل شوی او په مسجعاتو کې یې ټولنیزو او سیاسي موضوعاتو انعکاس موندلی دی(احمدزی، ۱۴۰۲ل، ۳۹۸ مخ).

د مسجع نثر په اړه تر لنډې یادونې وروسته اوس له لسمې پېړۍ راپدېخوا چې د پښتو ادب تاریخ دویمه دورې تر پیلیږي، دیني عالمانو ته تم کېږو چې پښتو ژبې ته یې د خپل قلم له لارې یا په ټوله کې فرهنګ، علم او ادب ته کوم خدمتونه کړي دي؟

باید ووایو چې له لسمې تر څوارلسمې پېړۍ پورې د پښتو ادب په لمن کې ګڼ شمېر لیکوال، شاعران او ناظمان تېر شوي دي، خو دا چې دا څېړنه په همدې زماني مقطع کې پښتو ادب ته د دیني علماوو خدمتونو ته ځانګړې ده، نو دلته یواځې د همدغه ډول اشخاصو چې د وخت متداول دیني علوم یې لوستي وو، د دیني عالم حیثیت یې درلود او یا دا چې دیني مراجع وو، پر خدمتونو تمرکز کوو او ګورو چې دوی څه ډول آثار ایجاد کړي او څه یې په کې ویلي، محتوا او پیغام یې څه دی؟

۴- ۲- ۱. د دیني علماوو منثور آثار

په دې لړ کې تر لومړی د یادولو شخص د لسمې هجري پېړۍ په نیمایي کې را اوچت شوی مبارز بایزید روښان دی.

بایزید (۹۲۵ یا ۹۲۶ - ۹۸۵هـ ق) د عبدالله زوی او د شیخ محمد لمسی، د خپل وخت لوی مفکر، د ټولنې اصلاح‌کوونکی، د بهرني او پردي واک کلک مخالف او د ولسي مبارزې لارښوونکی او په عین حال کې ستر مذهبي مبلغ و چې وروسته په پیر روښان، میا روښان، بایزید روښان، بایزید اورمړ، پیر دستګیر، بایزید مسکین او سراج الدین او کله هم د خپلو مخالفینو له خوا په «پیر تاریک» القابو یاد شوی دی(احمدزی، ۱۴۰۲ل، ۱۳۵ مخ).

بایزید انصاري د خپل وخت مروج علوم او مشهورې ژبې زده‌کړې وې، د ده مشهور تصنیف د دې خبرې ثبوت دی چې بایزید روښان په عربي، پارسي، هندي او پښتو ښه عبور درلود. د قرآن‌کریم او احادیثو ژوره مطالعه یې کړې وه او د اسلامي علومو، تفسیر او فقهې ستر عالم و. د بایزید د علمي حیثیت د لوړوالي اندازه له دې نه هم په ښه ډول لګېدی شي چې ده د خپل کوټلي علم او پوهې او د عقلي دلیلونو په بنیاد د خپل وخت د سید ترمذي او اخوند دروېزه غوندې عالمانو سره ډېرې مناظرې

او مباحثې کړې وې. په مختصرو ټکو کې وايو چې د پښتو ژبې د ارتقاء د دويم دور «مير کاروان» بايزيد روښان دی(خټک، ۲۰۱۱م، ۵۹، ٦٠ مخونه).

بايزيد روښان د تورې ترځنګ د قلم خاوند هم و، د خپلو خلکو د پوهولو، د خپلې عرفاني لارې د تبليغ او عامو خلکو ته د ديني او شرعي احکامو د ښوولو په منظور يې په پښتو، پارسي، عربي او هندي ژبو آثار وليکل. دی په دې ژبو منظوم او منثور آثار لري چې ځينې يې تر موږ را رسېدلي او هغه دا دي:

۱. *صراط التوحيد*: دا اثر يې په پارسي او عربي په ۹۷۸هـ.ق کال ليکلی او اکبر پاچا ته يې استولی و. د دې کتاب قلمي نسخه شته او چاپ شوی هم دی.

۲. *خير البيان*: ډېر مهم اثر دی چې په څلورو ژبو پښتو، پارسي، عربي او هندي ليکل شوی دی.

۳. *مقصود المؤمنين*: په عربي ژبه دی، ۲۱ فصلونه لري چې وروستي اته فصله يې د بايزيد د ټاکلو مقاماتو څېړنه کوي. د دې کتاب نسخې موندل کېږي. دغه کتاب پښتو ته د «مقصود المومنين له پښتو ترجمې سره» په نوم ژباړل شوی هم دی.

۴. *فخر الطالبين*: د بدخشان والي ميرزا سليمان ته يې هغه وخت وليکه چې دی ټولو واکمنو ته د خپلې بلنې پر تلقين مأمور شو. د دې اثر يادونه په حالنامه کې شوې ده، خو نسخې يې په لاس کې نشته.

۵. *پښتو رسم الخط*: د دې اثر درک له لاندې بيت څخه کېږي:

افغاني لفظ مشکل ؤ لوست کوښښ يې نه شو
ورته وشو کننده ديارلس حرفونه

د ځينو څېړونکو خيال دی چې دا به ځانګړې رساله وي، خو تش له دې شعره يې قياس ستونزمن دی، اما د خير البيان په پيل کې د الله تعالی له خوا ځان ته مخاطب دی: «.... اوکښېرده، په ځينې حرفونو ټکي يا غړوندي يا نورې نښانې بې له حرفونو...».

٦. *فرحت المجتبی*: دغه اثر د سرمحقق زلمي هېوادمل په سريزه او سمون د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز د کابل مجلې له خوا پر ۱۳۸۵هـ.ش کال په ۳۰ مخونو کې خپور شوی دی.

۷. *د علم رساله (تذکره)*: د بايزيد روښان دغه رساله په ۱۳۵۵هـ.ش کال د دوست‌محمد شينواري په سريزه، تحليل او لغت شننه د «روښاني رساله» په نامه د آفسېټ په بڼه خپره شوې، خو پر ۱۳٦۴هـ.ش کال همدغه اثر بيا «د علم رساله» په نامه په اوسني ليکدود چاپ شو. زلمی هېوادمل د دې رسالې د نوم

په اړه لیکي: د دې رسالې نوم «تذکره» ده. سره له دې چې دا رساله «تذکره» ګڼل شوې خو د دې بیت

دا تذکره د علم رساله نومینه

پر بنسټ یې د دقیق نامه په اړه نور غور ته هم اړتیا لیدله کېږي. په دې رساله کې دیني احکام او ځینې فقهي او عرفاني مسایل په نظم بیان شوي دي.

۸. *حالنامه*: بایزید روښان په دې اثر کې خپل احوال او ژوندپېښې په دري ژبه لیکلي چې د ده له مړینې وروسته د هغه یوه مرید علي‌محمد مخلص بشپړ کړی او له سره یې بیا لیکلی دی. د حالنامې اصلي لاس‌کښلې نسخه د علیګړه‌ په سبحان الله لایبریري او نقلونه یې د پنجاب پوهنتون او د پېښور د پښتو اکېډیمي په خطي کتابتون کې خوندي دي. دغه نسخه ۵۲۶ مخه او ۱۵ جزوه لري او د تألیف وخت یې ۱۰۵۰هـ‌ق کال ښودل شوی دی. د حالنامې یو مایکروفلم د بایزید روښان د څلورسوم تلین په مناسبت پښتو ټولنې ته را رسېدلی چې له ډېرو هلو ځلو وروسته د نورالله ولسپال له سریزې سره په ۱۳۶۴هـ‌ش کال په ۷۲۹ مخونو کې په ګستنري بڼه خپور شوی دی.

دغه اثر د «حالنامه د بایزید روښان» په نوم ډاکټر عبدالقدوس عاصم په پښتو ترجمه کړی او په ۲۰۱۹م کال کې په پېښور کې چاپ شوی دی.

۹. *مکتوبات*: څېړونکی قاسمي د ډاکټر جهانګیر په حواله وایي چې د بایزید روښان په تألیفاتو کې مکتوبات دي. قاسمي شک څرګندوي چې دا به ځانګړي مکتوبات وي، یعنې د ده د لیکنو ټولګه به وي او که حالنامه به ښیي.

۱۰. *واجیدي شلوک*: د پنجابي ژبې یو منظوم کتاب دی چې «اونکار ناتھ» راټول کړی دی. د ځینو په اند، دا نظمونه د بایزید روښان دي، ځکه اخوند دروېزه به هم ویل چې په ډېرو ژبو یې شاعري کړې ده.

۱۱. *د روښان نومورکی تألیف*: پوهاند حبیبي د کابل د خطي نسخو په کتابتون کې یو تألیف موندلی چې پرې لیکل شوي: «بنده باری مرید بایزید انصاری، همدان بن شیخ نعمت». له دې ښکاري چې د ۱۰۴۳هـ‌ق کال شاوخوا همدان نومي د روښان د دې تألیف ملکیت درلود.

۱۲. *عریان الغیب*: دا اثر په دري ژبه دی، ۲۸۲ مخونه لري او په نستعلیق خط لیکل شوی دی. د لیکلو نېټه یې نه ده معلومه، خو ترې جوتېږي چې د بایزید روښان په ژوند لیکل شوی دی. دغه نسخه چې موضوعات یې عرفان او تصوف دي، د هغو پوښتنو پر بنسټ کښل شوی چې د بایزید هادي یو شاګرد

حسين له ده څخه کړې دي. د دې اثر د موندلو ويار په ۱۳۹۵هـ.ش کال کې افغان پروفيسور عبدالخالق رشيد ته ور په برخه شوی چې چاپ کړی يې هم دی(احمدزی، ۱۴۰۲ل، ۱۳۷- ۱۳۹ مخونه).

۱۳-*نصيحت‌نامه*: د بايزيد انصاري دري منثور اثر دی چې د محمد معصوم هوتک په مقدمه، تحشيه او زيار په کندهار کې پر ۱۴۰۲هـ.ش کال په ۴۰ مخونو کې چاپ شوی دی.

په دې آثارو کې پر موجود منظوم اثر (د علم رساله) په تېره منظومه برخه کې بحث شوی دی.

د بايزيد روښان پورتني ديارلس واړه آثار مغتنم دي چې اکثريت يې پر ديني، تصوفي او عرفاني موضوعاتو راڅرخي، خو تر ټولو ډېر مشهور يې «خير البيان» دی.

خير البيان چې له ديني او مذهبي مطالبو رغېدلی، په عربي، پارسي، هندي او پښتو يې کښلی چې ځای په ځای په کې له قرآني آيتونو او نبوي احاديثو استفاده هم شوې ده. د نثر اسلوب يې په پښتو ژبه کې د مسجع او مقفی د نيم عروضي نثر د روايت آغاز دی چې له ميا روښان نه وروسته هم دغه اسلوب په پښتو ژبه کې د ديني او مذهبي کتابونو لپاره کارېدلی دی. د پښتو نثر په تاريخ کې خير البيان په مذهبي او ديني لحاظ هم او د پښتو د مقفی او مسجع نثر د اسلوب د رائج کولو له مخې هم د ډېر اهميت وړ ګڼل کېږي. دغه په متنوعو موضوعاتو ليکل شوی اثر ديني، مذهبي او فقهي مسايل، د عقايدو او عباداتو تذکره، د سلوک او معرفت خوږ او شيرين بيان او دغه رنګ د شريعت او طريقت مؤثر مطالب لري(خټک، ۲۰۱۱م، ۸۳ مخ).

د خير البيان د موضوعاتو په اړه بي‌بي مريم ليکي: خير البيان په يوه موضوع نه دی ليکل شوی، بلکې په مختلفو مذهبي موضوعاتو ليکل شوی دی او اکثر موضوعات له حنفي فقهې سره تعلق لري، لکه د قبر عذاب، پل صراط، د محشر عذاب، د اسلام د ارکان خمسه تفصيلي بيان، د فرضو، سنتو، واجبو، مستحبو، مکروهاتو، غسل او د تيمم بيان وغيره(خټک، ۲۰۱۱م، ۸۵ مخ).

د خير البيان د کلام څو نمونې دا دي:

«ګوره! د طاعت، د ګناه د وخت پېژندګلي شرط دی د ايمان د درستوالي دپاره چې حذر کـه پـه وخـت چې توان شي له ګناهان، او په وخت د طاعت دي که چار د احسان. ګوره! د نمانځه د وخت پېژندګلي د نمانځه د درستوالي دپاره شرط دی په آدميان. د صباه وخت صبح صادق دی. هغـه سـپيدي ده چـې څرګندېږي په غاړه د آسمان، باقي وي څو نمر وخېژي، عيان. وخت د نمانځېښين هغـه دی چـې نمـر

وګرځي او د هغه پورې باقي وي چې د هر څه سیوری یې اصلي سیوری یو په دوه شي. اصلي سیوری د نیمې روځې دی په تا دې وي اعلام. ترو وخت د نمانځدیګر شي د هیغه پورې باقي وي چې نمر پټ شي تمام. ترو وخت شي د نمانځبام باقي وي څو شفق پټ شي. شفق د سرخي پس سپیدي ده ترو وقت د نماز خفتن شي د هیغه پورې باقي وي چې سباه رښتیا شي عیان»(روښان، ۱۳۹۶ل، ۱۸۶ مخ).

یا: «بیان د هیغه فرض و واجب و سنت چې په نمانځه د ده په رکن کښې دي راوښیه و ما وته پخپل فرمان او سبحان! او بایزیده! ځما د هستۍ د ستروي په زړه یادول فرض دی چې هغه له یګانګي پس حاصل دی د ایمان. او ځما د نامه د ستروي یادول په زړه یادول فرض دی په قیام هغه چې له نیته پس وړمبی تکبیر دی. بهتر دی چې وایي الله اکبر عیان. که د تکبیر په بدلي الله اجل یا الله اعظم یا وایي رحمان، نمونځ پې روا دی. یا که وایي معنی ئې په هره ژبه آدمیان. قل ادْعُواْ اللّهَ أَوِ ادْعُواْ الرَّحْمَـنَ أَيًّا مَّا تَدْعُواْ فَلَهُ الأَسْمَاء الْحُسْنَى وَلاَ تَجْهَرْ بِصَلاَتِكَ وَلاَ تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلا، په قرآن کښې دی عیان، ولاړ استل او لوست د سورت یا د درې آیتو له قرآن»(روښان، ۱۳۹۶ل، ۱۹۸ مخ).

د مسجع‌لیکنې سبک د عامېدو یو ښکاره دلیل دا دی چې مسجع او آهنګواله کلمې او جملې د وعظونو او دیني تبلیغونو لپاره اغېزناکه وي او په همدې خاطر واعظانو ترې کار اخیستی، خپلې ویناوې او موعظې یې په خوږو اوازونو او ترنمونو ښایسته کړې دي. د پښتو ادب لسمه او یوولسمه پېړۍ چې د پښتو مسجع نثر پیدایښت او پراختیا ته په کې زمینه مساعده شوه، د دې وخت آثار زیاتره دیني رنګ لري او د دیني موعظو او پیغامونو د وړاندې کولو او زده‌کولو لپاره ښه لاره دا ده چې وینا په اهنګواله او مسجع بڼه بیان شي او همدا کار پښتنو لیکوالو او ادیبانو کړی دی. دغه راز پیر روښان، اخوند دروېزه او پیروانو یې د دیني احتیاط په اساس د شعر او شاعرۍ پر ځای خپل کلام په نثر، هغه هم په آهنګین ډول او د قرآن کریم په اسلوب لیکلی، نو همدې ته په پام سره یادو شویو دواړو مسجع‌نګارانو او د هغوی ځینو پیروانو شاعرۍ ته زیاته مخه نه ده کړې، خپل پیغام او د زړه خبره یې په نثر کې وړاندې کړې ده. بله دا چې له شعر څخه نثر او بیا مسجع نثر لیکل اسانه بربښي، شعر خپل مقتضیات، لکه وزن، خیال، عاطفه او قافیه لري، خو مسجع نثر بیا نه وزن مراعتولو او نه هم د شعر نورو عناصرو ته ضرورت لري، یواځې د جملو په اخره کې اهنګوالې کلمې ته اړتیا لري او هغه هم کېدای شي چې له هرو څو جملو او فقرو وروسته یې د قرینو د کلمو توري بدل را بدل شي. همدا ده چې پښتنو لیکوالو خاصتاً په لسمه او یوولسمه پېړۍ کې د مسجعاتو لیکلو ته مخه کړې ده. د همدې وخت پښتو مسجعو نثرونو ته

که ځیر شو، په هغو کې پښتو نثر له عادي رنګه وتلی او د مقفا او مسجع نثر په چوکاټ کې ایسار شوی او د افعالو په آخره کې یې د ترنم «نه» یا نور توري زیات استعمال شوي دي. په مسجعو نثرونو په تېره د پیر روښان په خیر البیان کې آیتونه، حدیثونه او عربي مقولې هم را نقل شوې دي، نو د دې لپاره چې له همدغو عربي متنونو سره یې کلام یو شان وښودل شي، نو نثر په کې مسجع او مترنم شوی دی(احمدزی، ۱۴۰۲ل، ۱۳۴ مخ).

د روښانیانو ادبي پیر ته چې کتنه وکړو، په دې پړاو کې په پښتو کې د مسجع نثر لیکنې زمینه برابره شوه. دغه روش په پښتونخوا کې او آن تر هراته ځینو نورو هم تعقیب کړ. که څه هم په دې ادبي پیر کې د مسجع یا قافیه‌وال نثر بېلګې ایجاد شوې، خو د دې ترڅنګه همدا مهال له سجعې نه آزاد روان نثر لیکل هم پیل شول(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۰۷ مخ).

پیر روښان ګڼ پیروان لرل چې یو په کې **ملا ارزاني** دی (شاوخوا ۹۲۹هـ.ق- ۱۰۲۸هـ.ق). هغه د روښان پیر له مریدانو او خلفاوو څخه و او د پنجاب په قصور کې اوسېده.

دی کلیات لري چې په کلیاتو کې د شعر دفتر، د حکایت رسول رساله او د شاعر څو نورې عرفاني رسالې راغلې دي. په عرفاني *رسالو* کې یوه منثوره او نورې منظومې د رباعي په قالب کې ویلې دي(هیوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۶۴ مخ). نوموړي د روښان پیر د نظریو په تشریح او تفسیر کې دغه منثوره پښتو رساله لیکلې چې خطي نسخې یې لیدلی شوې دي. نثر یې مسجع نه، بلکې روان دی چې د لسمې هجري پېړۍ له شرایطو او غوښتنو سره برابره یې لیکلې ده. د دې رسالې یوه ټوته دا ده: «د سړي اندامونه خدای کړي دي، د هر اندام بخره شته، سترګې خدای کتو لره کړي دي او خوله خدای خبرو لره کړې ده او پوزه خدای دم لره کړې ده او غوږ خدای اروېدو لره کړی دی او پښې خدای یانه لره کړې دي او زړه خدای یاد لره کړی دی چې هېڅ دم د خدای له یاده مه یې تش ننباسه او مه یې وباسه، د سړي عمر سهي هم په شمار دی...»(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۹۷، ۹۸ مخونه).

د دې رساله په ابتداء کې د الله تعالی په پېژندګلوی خبرې شوي او ورپسې عمده بحثونه یې دا دي: توبې ته د طالبانو د کښولو لارې، د عبادت ډولونه، د انسان د بدن د اعضاوو د وظایفو بیان، د پیر کامل د احترام پنځه آداب، د مجتبی طالب اووه خصلته، د قربت مقام، د روح ډولونه، بیان د آواز د ذکر، بیان د وصلت، بیان د اسم اعظم، څلور مسألې او ځینې نورې وړې وړې عرفاني لارښوونې. لیکوال په هره برخه کې د خپل قول د پیاوړتیا لپاره پر قرآني آیتونو، نبوي احادیثو او د مشرانو پر ویناوو اتکاء کړې

ده(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۲۱ مخ). دغه راز يې په دې کوچنۍ رساله کې ديني مسايل، پنځه بناوې، د روښاني عرفان اته مقامونه او ورپسې يې د روح پوړۍ (روح جاري، روح مقيم، روح امين، روح قدسي) او بيا يې نور مسايل راوړي دي، خو د ده نثر د روښان د خير البيان د نثر بر عکس ساده، روان، خوږ او له محاورې سره برابر دی(ناګار، ۱۳۹۰ل، ۱۵۹- ۱۶۰ مخونه).

استاد رفيع وايي، د ارزاني د نثر يوه کوچنۍ رساله شته چې د ده له بشپړ ديوان سره يوځای وه او استاد حبيبي ترې خوښوني کړې دي. د ارزاني نثر د بايزيد روښان تر نثر ډېر روان، خوږ، له وينګ سره سم او سجع ډېره کمه په کې ده(رفيع، ۱۳۵۵ل، ۱۸۳ مخ).

د پير روښان بل پيرو **علي محمد مخلص** (۱۰۱۹ يا ۱۰۲۰هـ.ق - ۱۰۸۰هـ.ق) دی. هغه يوه *منثوره رساله* لري.

دغه رساله د حق د ذات او صفاتو په باب بيانونه لري او هم يې د روح د حقيقت مسايل په کې څېړلي دي. ليکوال د قرآن عظيم آيتونه او د پيغمبر احاديث د خپلو اقوالو د پياوړتيا او د خپلې مدعا د ثبوت لپاره راوړي دي. دا رساله زلمي هېوادمل له مقدمې او تعليقاتو سره د کابل مجلې له لارې خپره کړې ده(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۲۱، ۱۲۲ مخونه).

استاد هېوادمل کاږي، دا رساله علي محمد مخلص په پښتو نثر کښلې ده او د خپلو ويناوو او کښنو د لا قوي کولو په منظور يې د استشهاد لپاره خپل او د ځينو نورو روښاني شاعرانو، دغه‌راز د ځينو پارسي ژبو شاعرانو، لکه مولانا جلال الدين او نورو بيتونه، د احاديثو او آيتونو ترځنګ راوړي دي. دا رساله تصوفي مسايل بيانوي، يواځې يوه خطي نسخه يې د کلکتې په بنګال ايشاټک سوسايټي کې د ميرزا او ارزاني له ديوانونو سره يوځای په يوه وقايه کې خوندي ده، ټول مخونه يې شېرويشت دي. د دې رسالې پيدا کېدل مورِ ته څرګندوي چې مخلص په پښتو او پارسي دواړو کې نظم او نثر کښلی شوای(هېوادمل، ۱۳۶۷ل- ب، ۳۶ مخ).

د رسالې متن تر (بسم الله الرحمن الرحيم) وروسته داسې پيل شوی دی:

«الحمد لله رب العلمين والصلواة علی رسوله محمد و آله اجمعين. اما معلوم دې وي چې د ذات او د صفات او د روح حقيقت کښل پر فقير ډېر مشکل وو، باري په عنايت د الهي، د خپل پوهې په مقدار مې څه وکښل، حق تعالی مې دې له سهو له غلطو ژغوري، د ميامسکين له برکته. ولې چې د حق تعالی ذات په مثل بيچون، بيچګون، بې مانند، دريای عظيم، بېحد، بې پايان دی، او تمام جهان هسې پکې

غرق دی، لکه هړی[1] په اوبو کې يا ماهي په درياب کې، د خدای هستي هسې پهې دی، لکه اوبه په ګړي کې يا په ماهي کې....»(هېوادمل، ۱۳٦۷ل - ب، ۳۷ مخ)

بله بېلګه: «هرکله چې هغه وينه روح نباتي تر دماغه ورسوي، روح حيواني پکې داخل کا، حرکت، پنځه حسه پکې ورشي، ګوره پنځه ګوهره، پنځه چراغه دی، هر کله چې دا پنځه چراغه په پنځه ځايه په صورت کې بل کا، هاله روح انساني پکې داخل کا. ګوره اول چراغ عقل دی، ځای يې سر دی؛ دوهم چراغ شرم دی، ځای يې سترګې دي؛ دريم چراغ علم دی، ځای يې زړه دی؛ څلورم چراغ صبر دی، ځای يې نوس دی؛ پنځم ورع يعني پرهيزګاري دی، ځای يې وريت اندام دی؛ هر کله چې يې سر مستور شي په عقل او سترګې منور شي په شرم او زړه منور شي په علم او نوس منور شي په صبر او اندام يې منور شي په وراغه[2]، هاله روح انساني داخل شي په صورت کې والله اعلم بالصواب. ګوره نبي ويلي دي، عليه الصلوة والسلام: «الروح کان ثلاثة انواع، روح الجاري مسافره و روح المقيم و روح آل امين، اما روح الجاري يخرج بوقت النوم و روح المقيم يخرج بوقت الموت و روح آل امين کان روح الاضافي. روح الاضافي يکون معه ابداً»؛ يعني ارواحان درې ګون دي په صورت کې: يو جاري، دوهم مقيم، دريم روح امين دی. ګوره روح جاري ووځي د خوب په وقت، روح المقيم ووځي د مرګ په وقت، روح الامين وي له سړي سره په هر حال کې تل ته تله. معلوم دې وي چې روح مقيم ته روح حيواني، نفس حيواني، نفس هستي، يعني حقيقت آب حيات، شراب حقيقي، پياله طهور، شراب آب کوثر وايي»(هېوادمل، ۱۳٦۷ل - ب، ۴٦ مخ).

په پورتنيو بېلګو کې عرفاني او د روح اړوند مسايل بيان شوي او بيا يې موضوع په حديث مستدلله کړې ده.

استاد هېوادمل د ارزاني او مخلص نثرونو سره پرتله کړي، وايي چې د دواړو نثرونه د شرقي ژبو د لرغونو منثورو کتابونو په متابعت د خپل قول د پياوړتيا لپاره په منځ کې آيتونه، احاديث، مقولې، د پارسي ژبو سترو عارفانو بيتونه او په تېره د مخلص په نثر کې د استشهاد لپاره پښتو بيتونه هم راوړل شوي دي(هېوادمل، ۱۳٦۷ل- ب، ۵۱ مخ).

---

[1] د (هړی) معنا مې ونه مونده خو په درياب قاموس کې (لهړی) شته چې لاړي، دستک ، بروړ ته وايي او په پښتو- پښتو تشريحي قاموس کې يې معنا داسې ښودل شوې ده: دستک، ډاګه، هغه لرګي چې په کوټه د پوښښ لپاره اچول کېږي.

[2] (وراغه) ښايي (وراعه يا ورعه) وي چې اصل يې (ورع) دی چې د همدې متن پنځم څراغ ښوول شوی دی.

د بایزید روښان د عربي اثر «*مقصود المؤمنین تحت اللفظ پښتو ترجمه*» چې ښایي **همه‌دان بن شیخ نعمت الله روښاني خلیفه** سرته رسولې وي، ۲۱ بابه لري چې د وعظ او نصیحت د فوایدو، د عقل او نور د معرفت، د ایمان د اصولو او فروعو، خوف او عقوبت، رجاء، د نفس او د هغه د عداوت، د شیطان د مکر او ضلالت، قلب، روح، دنیا، آخرت، توکل او قناعت، توبه او له نواهیو اجتناب مسایل په کې بیان شوي او اته وروستي فصلونه یې د روښاني تصوف د اتو مقامونو تشریح ته وقف شوي دي. د دې منثورې ترجمې یوه نمونه دا ده: «ثناء او صفت هغه خدای لره چې دي صفتونه د ده داناتر او بزرګتر او بخښینده او کلانتر».

د مقصود المؤمنین دا تحت اللفظ ترجمه نه ده چاپ شوې او یواځینۍ خطي نسخه یې د هند د اتهرا پردیش ایالت د مرکز حیدر آباد په سالار جنګ موزیم کې خوندي ده(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۲۲ مخ). بل ځای راغلي چې د بایزید روښان د مقصود المؤمنین دغه پښتو ترجمه د هند د دکن د سالار جنګ په موزیم کې شته، چې همه‌دان ابن شیخ نعمت چې د یوولسمې پېړۍ په دوران کې ژوند کړی، لیکلې ده. دغه ترجمه ادبي ارزښت نه لري(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۰۲ مخ).

دغه اثر د افغانستان د علومو اکاډمي په خطي نسخو کې هم شته. شریف الله دوست لیکي: «*مقصود المؤمنین (له پښتو ترجمې سره)*» د بایزید مسکین اثر دی، د پاڼو شمېر ۷۸ او د کتابتون شمېره یې ۲۱۵ ده. د روښاني طریقې د مقاماتو، منازلو او سیرونو سیاحت دی. موجوده پیل یې تر بسم الله وروسته داسې دی: «الحمدلله حق و احسن حمده بعدد کثیر الاکثر الحمد لله الذي کان من صفاته اعظم اکرم و اکبر الحمد لله الذي کان خالق وقادر آن یخلق الخلایق بعدده مختلف الحمد لله الذي کان (چه دی پیدا کوونی او توانا چه پیدا یک خلقا نوی بقدر ضرورت رنګارنګ یې باور کړ ثنا صفت هغه... چه دی»(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱۵۲، ۱۵۳ مخونه).

د روښانیانو آثار چې په عربي او نورو ژبو دي، هیله ده پښتنو ته راواړول شي.

مودود ترین په روښاني طریقه کې تر خلافته رسېدلی و، د امام الطریقه بایزید روښان په لاس یې بیعت کړی و او د پیر له خوا د خلافت خرقه ورکړل شوې وه، د دې طریقې په تبلیغ او ترویج کې یې له کندهاره تر بلوڅو او سندھ پورې ځمکو کې هڅې وکړې. پر روحاني مراتبو او نفوذه سربېره ده د «*مقصود الطالبین*» په نامه کتاب هم کښلی دی. د کتاب بشپړ متن معلومات لا نشته، اما د دغه اثر منتخبه برخه په حالنامه کې راغلې ده. دا برخه منظومه او منثوره ده او ژبه یې پارسي- دري ده. د

مقصود الطالبین هغه برخې چې حالنامې اقتباس کړې دي، موضوع یې پند او نصایح دي. د نصایحو پیغام یې له اجتماعي او اسلامي اخلاقو، دیني ارشاداتو او لارښوونو مایه اخلي. دکتور میر ولي خان مسعودي هم د مقصود الطالبین موضوع نصایح او دیني مواعظ ښوولي دي. د مقصود الطالبین نثر مطنطن او لږ جذاب دی، ښایي ځینې پارسي بیتونه هم د ده وي. پښتو آثار یې تر اوسه نه دي لیدل شوي، امکان یې شته چې ده دې پر پښتو هم لیکل او ویل کړي وي(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۱۲۱ مخ).

غوث الزمان **شیخ قاسم** په قاسم افغان مشهور د شیخ قدم زوی په ۹۵۶هـ.ق کال د پېښور بدنې کې زېږېدلی، په پېښور او شاوخوا سیمو کې په روحانیت مشهور شو او خلک پرې عقیدتمن شول. له تألیفاتو څخه یې «*تذکره اولیای افغان*» معلوم دی. دی په ۱۰۱۶هـ.ق د ژوند له کاروانه جلا شوی دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۸۴ مخ).

شیخ امام الدین ستر عارف، عالم او فاضل شخص و، په ۱۰۲۰هـ.ق کال د پېښور په بدنې کې زېږېدلی، د کورنۍ له نورو غړو یې علم زده کړ او مشهور عالم شو. په لیکلو یې پیل وکړ، «*کتب تاریخ افغاني*» او «*اولیای افغان*» یې ولیکل. دا اخر الذکر کتاب د «پټه خزانه» مأخذ دی. شیخ په ۱۰۶۰هـ.ق کال رحلت وکړ او په پېښور کې مدفون دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۵۲ مخ).

د مولانا جلال الدین محمد بلخي له مریدانو څخه یو هم **مولانا عبداللطیف** بن عبدالله عباسي دی چې شاوخوا څلورنیم سوه کاله وړاندې د افغانستان د تیراه په آهنپوشانو کې زېږېدلی، دی د علم تر زده‌کړې وروسته د عرفان په سمندر کې دومره ډوب شوی چې د حکیم ابو المجد مجدود بن آدم سنایي غزنوي د «*حدیقة الحقیقة*» د انتقادي متن پر تهیه کولو سربېره یې د مولانا جلال الدین بلخي *مثنوي* داسې انتقادي متن برابر کړی چې د ټولو نسخو ناسخ او تر ټولو سم او صحیح دی. د افغانستان دې پښتون عالم مولانا عبداللطیف عباسي پر دې کار په ۱۰۲۴هـ.ق کال لاس پورې کړ، پوره ۳۵ کاله په دې کار بوخت شو، تر هغه چې د مثنوي متن یې له اتیا نسخو برابر کړ. هغه د مثنوي د دې انتقادي متن تر تهیه کولو وروسته پر ټول کتاب او هر دفتر سریزې ولیکلې، حاشیې یې پرې وکښلې، د آیتونو او حدیثونو سم متونه یې په کې راوړل او لغتنامه یې ورته ولیکله. د دې اثر یوه ډېره نفیسه او پخوانۍ نسخه د استاد حبیب الله رفیع په واک کې ده(رفیع، ۱۳۹۴ل، ۲۹، ۳۰، ۳۱ مخونه).

د لسمې پېړۍ په دویمه نیمایي او د یوولسمې پېړۍ په لومړیو کې **اخوند دروېزه** هغه شخص و چې هم یې ځانګړي تصوفي ښوونځی ایجاد کړ او هم یې ګڼ پیروان پیدا شول.

اخوند دروېزه ننګرهاری (۹۴۰ - ۱۰۲۸هـ.ق) په پښتو، دري او عربي ژبو پوهېده او په همدې ژبو يې خبرې، ليکنه او ژباړه کولای شول. هغه د پير روښان معاصر او د روښانيانو له کلکو مخالفينو څخه و او «مخزن الاسلام» يې د دغه مخالفت له امله له روښاني تحريک په تېره د روښان له «خير البيان» سره د مقابلې لپاره کښلی دی(احمدزی، ۱۴۰۲ل، ۱۴۲ مخ).

نوموړی اخوند فقيه (د ديني علومو عالم)، فقير، ليکوال، متشرع، متصوف او په تصوف او طريقت کې د مرشد او پيرۍ څښتن او په محمدي شريعت برابر عالي سالک و چې وروسته بيا دی د خپل مرشد (پير بابا) سيد علي ترمذي په اجازې د پيرۍ درجې ته ورسېده او د اهل سنت و الجماعت، يعنې د سنيانو زياتره ډلې د ده مريدان او پيروان وو او هم له ده سره د ژوند تر پايه پورې ملګري او متحدان وو. دی يو مؤمن، موحد، حنفي مذهبه او افغان و. په تصوف او طريقت کې د وحدت الشهود مقام ته په رسېدلو کې ډېر ټينګ، معتقد او معتصم و او هم يې پرې ټينګار کاوه، نور خلک يې هم د ځان خواته رابلل او له وحدت الوجوديانو سره يې خپل کلک مخالفت ښوده(سړبن، ۱۳۸۲ل، ۲۴ مخ).

اخوند دروېزه د خپل پير سيد علي ترمذي په هڅونه له روښاني غورځنګ سره دوامداره دښمني وپالله. ده د بايزيد روښان له ملي او تصوفي لارې سره ژور مخالفت درلود، خو د بايزيد روښان د ليکوالۍ پيروي يې وکړه او په هغه سبک چې روښان ليکنې کولې او د خپلو مطالبو د ادا کولو لپاره يې مسجع نثر کاراوه، ده هم په همغه نثر ليکنې وکړې او په پښتو ادب کې يې ګډه لار وپالله.

نوموړی په پښتو او دري ژبو ګڼ تأليفات لري چې دا دي:

۱. *مخزن الاسلام*: تر ټولو مشهور اثر يې دی چې د ده د ګڼو رسالو مجموعه ده، لکه: د امالي قصيدې ژباړه او شرح، د عقايد نسفي ژباړه، د خلاصه کيداني ژباړه، د تجويد رساله، د بردې د قصيدې ژباړه او نور چې ټول يې په مسجع نثر کښلي او د فقهې او عقايدو له مشهورو کتابونو نه يې را اخيستي دي.

۲. *تذکرة الابرار و الاشرار*: په دري ژبه دی چې ځينې ګټور معلومات په کې خوندي دي، خو د پښتنو تاريخ يې په کې له غرضه په ډکه روحيه ليکلی، پښتانه يې د آرين نژاده پر ځای سامي نژاده بللي [چې دا نظر مردود او باطل دی].

۳. *ارشاد الطالبين*: تبليغي او ديني دري نثري اثر دی چې خطي نسخې يې شته او په ۱۲۶۵هـ.ش کال په ډهلي او لاهور کې چاپ شوی دی. دا اثر ډېر ځله د پښتنو علماوو د استفادې وړ ګرځېدلی دی. سيد حسين نومي د دغه کتاب ځينې قصې په پښتو نظم ژباړلي او مولوي محمد رفيق اکبر پوري دغه کتاب

ټول په پښتو نظم اړولی دی.

۴. *ارشاد المریدین*: دا کتاب هم په دري نثر کښل شوی چې صوفیانه او ديني مسایل او هم يې د خپلو مريدانو لپاره ځينې لارښوونې او ارشادات په کې بيان کړي دي. په ۱۲۴۵هـ.ش کال په هندوستان کې چاپ شوی دی.

۵. *ایمان‌نامه*: د ایمان راوړلو په باب په نثر کوچنی رساله ده چې د ایمان او ديني احکامو په باره کې مطالب لري.

د دغه اثر چې د تألیف او د لیکلو کال يې نامعلوم دی، د پاڼو شمېر ۳۲ او د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کتابتون کې يې شمېره ۳۰۹ ده. ديني رساله ده او د ایمان د بشپړتیا لارښود ده. پیل يې تر بسم الله وروسته داسې شوی دی: «نکته ای اول در بیان ایمان مجمل و ایمان مفصل و در بیان ارکان و احکام و شرایط ایمان. د ایمان زده کول فرض پر ادمیان چه ایمان نه پېژنینه هغه دي د کافران»(دوست، ۱۳۹۹ل، ٦٥، ٦٦ مخونه). یو ځای راغلي چې دا اثر په ۱۳۲۷هـ.ق/ ۱۹۰۹م کال اسلامي پریس لاهور کې په ۸ مخونو کې چاپ دی(رفیع، ۱۳٥٦ل، ۳۴۱ مخ). بل ځای د دې اثر نوم «ایمان‌نامه افغاني» راغلی او ۸ مخه لري(رفیع، ۱۳٥٦ل، ۱۰۸ مخ).

٦-*شمایل‌نامه* او ۷-*نورنامه* هم د دروېزه آثار بلل شوي دي.

له بده‌مرغه اخوند دروېزه د ژوند ډېره برخه له خپل مخالف پیر روښان سره د فکري مبارزې په لاره کې تېره کړې ده، خو د همدې مخالفت او رقابت له امله يې پښتو ژبې ته ګټه رسېدلې او غنیمت آثار يې لیکلي دي(احمدزی، ۱۴۰۲ل، ۱۴۳- ۱۴۴ مخونه).

د اخوند دروېزه له پورتنیو آثارو څخه کابو نیمایي يې په پښتو دي چې د یوه ديني عالم په توګه يې دې ژبې او پښتنو ته د ديني او شرعي مفاهیمو د اسانه لېږدولو په خاطر کښلي دي.

د مخزن الاسلام د اثر څو نثري نمونې: «بیان اول - قصیده امالي: د امام حضرت امام محمد اویسي له تصنیفاتو څخه ده او اخوند دروېزه په پښتو ترجمه کړې ده، لکه چې وایي: امام محمد اویسي د ګمراهانو روافضو دین دروغ کړ، د کلام مغز يې وبله ټول کړ امالي کتاب يې روغ کړ؛ ته په دا بیان باور کړه چې په لفظ د افغاني دی، هر چې باور نه کا به کافر شي برابر پر امالي دی؛ اوس د زړه په غوږو واوره دا بیان چې افغاني دی؛ عربي يې په پښتو کړه دا ګفتار د دروېزه ننګرهاري دی»(دروېزه، ۱۹٦۹م، ۸ مخ).

یا: «خلاصه مې په پښتو کړه، بل هر څوک دې زده کا که بنده وي که ازاد وي، هم عورته که مېړه وي دی به شي د کاملانو؛ افغانان په زمانه کې دي بې علمه ځکه مخ یې دی له شرع جار وتلی که له خدایه له رسوله بایده دي، سر هوا رسم دې پرېږدي، وسکه پیروي دې کا د عالمانو؛ لکه دا زده کړه په هر چا باندې لازم دی، اخوند دروېزه بنده د خدای دپاره ووې، هر چې خدای رسول منې له قیامته وم شي وېره اساني په کې مه کاړئ افغانانو؛ د فقیر په افغانانو شفقت دی ځکه ډېر بیان د دین درلره کاندې هر چې یاد یې په دعا کا هغه کس دې په قیامت ودري له مؤمنانو»(دروېزه، ۱۹۶۹م، ۵۴ مخ).

د «ایمان‌نامه» اثر د کلام بېلګه: «د ایمان زده کول فرض پر ادمیانُ چه ایمان نه پیژنینه هغه دی د کافرانُ؛ دا ایمان دی په دوه رنګه، یو مجمل بل مفصل دی، اجمالي ایمان هم حق دی، مفصل پکښې افضل دی؛ هسې وایه چې خدای یو دی محمد له ده راغلی په رښتیا دی، هغه دین مې دې قبول وي چې راغلي په قرآن کښې (؟؟؟) دي، هغه دین چه موافق دی له قرآن او رسول دی قبول کړی، هغه دین ځما قبول دی ما دی لاس ورلګولی، هغه دین چه مخالف دی له قرآن او رسول ځنې وېزار دی، زه ویزار له هغه دینه چې پسرود(؟) هغه دین په دواړه کونه شرمسار دی(دروېزه. ایمان‌نامه «خطي نسخه»).

د «شمایل نامه» اثر د کلام نمونه:

«ته اګاه شه هر چه څو د پاک نبي د سر وېښته وو، دولس لکه دیارلس زره تېرسو دېرش پرې زرغونه وو.... هر چه زما شمایل لولي غمې نشته، ګنې زه یې یم لیدلی، دروېزه بیان پښتو کړ، بل واړه افغانان دې په یاد کا، په هره زمانه کې یې چې ګورې یا یې لولې، دا فقیر دې هم په نېکه دعا یاد کا

یا:

د حضرت رسول جمال و خدای یواځې پیدا کړی
او عالم آدم لا نه و چې نبي یې و هم انبیا کړی
دوه یې توري غټې سترګې هم یې کښلی
لوړه پوزه هم یې توره ګرده ږیره کښلی(احمدزی، ۱۴۰۲ل، ۱۹۱، ۱۹۲ مخونه).

د اخوند دروېزه کلام کله د مسجع نثر او کله د نظم بڼه اختیاروي.

د یادولو ده چې «د پښتو د ادبي تاریخ خطي منابع» اثر کې د «ایمان‌نامه» اثر یادونه شوې چې لیکوال او د لیکلو کال یې نامعلوم ښودل شوی او د لیننګراد د ختیځ‌پوهنې په انستیتوت کې خوندي ده. دا د پښتو ایمان‌نامې یوه ناقصه الاول او ناقص الاخر نسخه ده چې ځینې برخې یې د قصیده سریاني له

نسخې سره نښتې راغلې دي. دا ده ايمان‌نامه: «مفصل دې هسې وايي ما ايمان پر خداى راوړى دى، بيچون و بيچگون دى. هم بې شبې بې نمون دى، بيچون يعني د وقت پښتنه نه شي د ښه خداى چې څه وقت پيدا شوى، بيچگون يعني د ځان پښتنه نه شي د ښه خداى چې د خداى مكان څه ځاى باندې كيږي. بې شبې يعني د مانند پښتنه نه شي د ښه خداى چې خداى په څه مانند دى، بې نمونه، يعني، يعني د رنگ پښتنه نه شي له ښه خدايه چې خداى څه رنگ لرينه يا څرنگه څرگندیږي»(هېوادمل، ۱۳٦٦ل- ب، ۳، ۴ مخونه).

پورتنى متن مسجع ډوله نثر دى.

عبدالكريم مشهور په **اخوند كريمداد** (۱۰۷۲هـ.ق كال شهيد) د اخوند دروېزه زوى و، په شعر كې كريمداد او كريم تخلص كوي. جيد عالم، مشهور روحاني او فاضل عارف و، له تصوف او سلوك څخه كافي برخه‌من و، د خپل پلار د تأليفاتو راټولوونكى او د اخوند دروېزه د مكتب شاگرد و. له پښتو، پارسي او عربي ژبو سره بلد و او ليكل يې پرې كول. دا يې تأليفات دي: «*الف‌نامه، تعليق بر ارشاد المريدين، مكتوبات عبدالكريم (پارسي)، شرح جام جهان نما (پښتو)، حقوق زنان (پارسي)*». پر دې سربېره د مخزن په ملحقاتو كې نور متفرق غزليات يې هم ليدل شوي دي. هندي تذكره‌ليكوالو هغه ته د «محقق افغان» خطاب كړى دى. دى په ۱۰۷۲هـ.ق كې له مشركانو سره په جهاد كې د سوات په كوهستان كې شهيد شو او د سوات سيند ترڅنگ خښ شوى دى(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۹۹ مخ). تر دې يادو آثارو علاوه د ده د نورو آثارو درک هم شته چې لاندې يې ذكر راغلى دى.

كريمداد ښه عالم، فاضل او د سلوك او معرفت له اسرارو او رموزو نه باخبره صوفي‌منش ليكوال و. اگر چې د ده خپل ليک په زياته اندازه كې نشته، خو ده چې د خپل پلار د تصنيفاتو كوم ادبي او علمي خدمت كړى، د ترتيب او تدوين كوم كار يې ترسره كړى او يا يې د دغو علمي ديني او ادبي تصنيفاتو د ترتيبولو په وخت د متن اصلاح او د ژبې ښكلا لپاره كوم علمي خدمت كړى دى، هغه د ده له يوه شاعر نه علاوه د يوه نثرنگار په حيث د پښتو ادب په تاريخ كې د معرفت لوى سبب دى. سيد تقويم الحق كاكاخېل د مخزن په مقدمه كې ليكي: «كريمداد بابا د وخت د تقاضا مطابق په مخزن الاسلام كې د نمانځه سبق، د عقائدو څه ټوټې، د يو دوو آياتو تفسير، د آمنت بالله ترجمه، د جنازې نمونځ او فقهي مسايل ور زيات كړي دي. دا اضافې څنې د اخوند دروېزه غوندې په نثر مسجع كې دي او د هغه په سبک كې ليكلى شوې دي او څنې وړې وړې مسلسلې قطعې يا دوه بيتيزې دي، لكه د نمانځه

سبق»(خټک، ۲۰۱۱م، ۳۱- ۳۲ مخونه).

اخوند کریمداد د «*مقصود الطالبین یا تحفه خانې (کتاب الفاظ کفر)*» رساله هم ترتیب او تدوین کړې، مقدمه یې ورته لیکلې، د رسالې په پای کې یې مؤخره هم ور زیاته کړې ده. نوموړي د خپل پلار اخوند دروېزه د رسالې (الفاظ کفر) هغه مسألې چې په دوو ژبو پښتو او دري راغلې دي، دري برخې یې په پښتو کړې دي. په رساله کې ديني مسایل بیان شوي او هر مطلب یې د (مسأله) تر سرلیک لاندې تشریح کړی دی. دا نثر د یوولسمې پېړۍ د بازګشت د پېر کړه‌وړه او رنګ لري. ودې شي چې دا رساله د اخوند دروېزه زوی کریمداد لیکلې وي. دا تش یو حدس دی چې کېدای شي نور اسناد دا حدس باطل او یا سم وخېژوي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۲۵، ۱۲۶ مخونه). «*تحفة الخاني*» د عربي د یوه ديني کتاب پښتو ترجمه ده، بل اثر یې «*فقهه کریمداد*» دی چې د فقهي مسألو کتاب دی او ځینې مسألې یې په مخزن کې هم راوړلی شوې دي، «*مکتوبات*» چې په پارسي ژبه لیکلی شوی دی. دا ټول د ده په علمیت، پوهه او د یوه ښه نثرنګار او لوړ مترجم او په پښتو، عربي او پارسي ژبو په دسترس درلودلو دلالت کوي. د کریمداد دغو ټولو علمي او ادبي کارنامو ته چې وګورو، نو د ده د نثر د اسلوب او د لیکوالۍ د فن په رڼا کې دا فیصله ښه په اسانه کولی شو چې ده د خپل پلار په رنګ د نثر هم هغه مسجع او مقفی اسلوب نه یواځې برقرار ساتلی، بلکې نوره یې هم ورته شوخي بخښلې ده(خټک، ۲۰۱۱م، ۳۳ مخ).

د کریمداد د مسجع نثر بېلګې: د خالق صفت به کړمه څومې توان وي د ژبې؛ دغه پسه د رسول ثنا به وایم څو حیات یم پر نړۍ؛ دغه پسه د رسول د چهار یارو ته اګاه شه له ابابکر له عمر، پس عثمان پسې علي دی د زړه غوږو دا چار ور، تاسې واروئ اې عالمه هر هلک چه نو عاقل بالغ څرګند پر دا جهان شي؛ دې عورته که مېړه وي تر دا ګل فرض وړنبلی د ښه خدای پېژندګلي په ده تاوان شي. امنت بالله، اول هسې د اګاه شي چه خدای ذات لري بې مثله بې نظیره بې مثاله؛ نه یې ذات د چا په رنګ دی نه هیڅوک د ده په رنګ دی کل اټکل له زړه وباسه ووېړېږه له قادره ذوالجلاله.

یا: هر څوک مټ په شریعت کانړۍ ژویو شریعت د نوح ببړۍ؛ هر چه وغړېده یو ذره له شرعې د هغو وایم په بخره دې خواري؛ دا ویل په عربي وو د ساده افغانانو دپاره په پښتو ژبه مې روغه رساله کړه؛ دا بیان د عقیدې مې وو مؤمنانو سکه څکه یې ما نامه عقیده کړه؛ دا ایمان به یې قوي شي هر چه دا همبره باور کړ او په یاد کا؛ کریمداد یو ګناهګار دی وسکه دی دې هم په نېکه دعا ښاد کا(کریمداد، ۱۹۶۹م،

۱۳۹، ۱۵۰ مخونه).

اخوند کریمداد د دیني شخصیت په توګه د کتابونو مُدون، مترجم او لیکوال و چې پښتو ژبې ته یې غنیمت آثار په میراث پریښي دي.

شیخ عبدالله په **حاجي بهادر کوهاتي** مشهور و، په ۹۸۹هـ.ق په اګره کې وزېږېد او په ۱۰۹۹هـ.ق کال په کوهاټ کې مړ او هملته ښخ شو. دی د آدم بنوري خلیفه، عالم، متصوف او روحاني شخص و. په پارسي ژبه یې د کریمداد په الفنامه مبسوطه شرحه لیکلې چې «*مفتاح الدقایق*» نومیږي(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۸۰ مخ).

بابوجان د پښتو ژبې نومیالی شاعر و چې د اشعارو بشپړ دیوان لري. د کلام (دیني او مذهبي مجموعې) د فورم او چوکاټ په اړه اختلاف موجود دی، څوک یې مسجع نثر بولي او څوک یې نظم. استاد رشاد یې نظم، خو استاد رښتین د ده کلام نیم‌منظوم (مسجع) نثر ګڼي. خو استاد هېوادمل وایي چې دی د دې نظریو ملګری نه دی، نه دا مني چې د بابوجان آثار ټول نثر دي. دغسې د ټولو د پوره نظم‌والي پلوی هم نه دی، د ده د آثارو زیاته برخه نظم ده او د خپلې زمانې د مسلط فرهنګي جریان تر اغېز لاندې یې د ځینو دیني او اخلاقي نصایحو په بیان کې ځینې مسجع ټوټې هم لیکلې دي چې د ده په آثارو کې یې اندازه نسبت منظومو آثارو ته ډېره لږه ده، لکه د یوه مسجع بیان یو ټوکر یې ولولئ: «حیض لږ مدت درې ورځې ویلی که تر دا نه زیات یا کم وي هغه رنځ دی ور رسینه. په مثال د جراحت دی په هر وخت دې اودس کاندې چې یې فرض په قضا کېږي او که درې ورځې حیض وه پسې پاکه شوه درې ورځې په اوومه په اتمه یا په نهمه ورځ بیا وینې ور پیدا شوې واړه حیض دی هم ودې ته څښتن نه نږدې کېږي»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۱۴ مخ).

پښتو مسجع لیکنه د یوولسمې پېړۍ په جریان کې د پښتنو په دیني حلقو کې ښه وده وموندله او د یوولسمې هجري پېړۍ په دویمه نیمایي او دولسمه پېړۍ کې مورِ له سواته تر ملتانه او له ملتانه بیا تر هراته د مېشتو پښتنو په دیني علماوو کې د دې سبک پیروان لیکونکي، لوستونکي او شایقین مومو چې یو له هغو څخه **ملا څالاک** دی. د څالاک په باب مورِ ته د تذکرو او تاریخ په کتابونو کې د څو تنو نومونه معلوم دي. په پښتو مسجع نثر یو اوږد بیان شته چې په سر یې د عنوان په دود کښل شوي دي: (در بیان گفتار ملا څالاک افغانی آورده شود (شد)). له دې عنوانه دا نه ښکاري چې د پښتو دا مسجع نثر به د کوم څالاک وي او صحت ته نږدې حدس دا دی چې دا ملا څالاک هماغه ترین اخوند

څالاک دی چې د سوات د کوهستان په سیمو کې یې جهاد کاوه او تاریخ مرصع یې د (قدوه محققین، زبده علمای دین متین پیغمبر امین، غازی غزای کفار طرف کوهستان کاشغر و چین) په الفاظو او القابو ستایي(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۱۹، ۲۲۰ مخونه). د دې بیان یا رسالې نوم دی «*د الله دیدار په جنت کې*» چې د نثر نمونه یې دا ده: «واروئ مومنانو دا خبره گوره په دا رنگ معلومیږي؛ مومنانو له که ورکړ شي په بهښت کې په آسونو به سواره شي، د هر مومن په سر به تاج وي چې دنیا ترې پورې هېڅ به نه څرگندیږي؛ هم به حورې فرشتگان غلامان وي د دوی رکاب نیولی، د خاکي مومنانو په خدمت کېږي؛ په اول حصار چې ورشي دی د سپینو زرو روغ دی، په نیمایي د پونسو کال لار ویل کېږي»(هېوادمل، ۱۳۶۳ل، ۱۴ مخ).

ملا مست ځمند یو عالم سړی و او د اخوند څالاک شاگرد و. دی په شاوخوا ۹۵۰هـ.ق کال کې پیدا شوی و او مدفن یې د شینوارو په غرونو کې دی(مغموم ختیک، ۲۰۱۱م، ۶۹۴ مخ). دی یوه مجموعه لري چې څو رسالې په کې دي، یوه په کې د «سلوک الغزات» په نوم منثوره رساله ده.

استاد هېوادمل وایي، ملا مست ځمند د ملا څالاک مرید او د دې لارې یو لاروی دی. دی د آثارو یوه مجموعه (کلیات) لري چې زموږ په پښتو څېړنو کې د سلوک الغزات په نامه معروفه ده، حال دا چې سلوک الغزات د دې مجموعې یوه رساله ده او په مجموعه کې د ده نورې څلور رسالې هم شته چې موضوعات یې له سلوک الغزاته بېل دي. په دې کلیات کې د مست راغلې زیاتره رسالې منظومې دي چې ځینې نظمونه یې مات گوډ، ځینې رسا او ځینې ټوټې په هغه سبک دي چې موږ یې مسجع نثر بولو. د ده په کلیات کې مسجعې ټوټې زیاتره په سلوک الغزات نومي رساله او هم د سوال او ځواب په هغه رساله کې راغلې چې مسایل په کې د سوال او ځواب په بڼه مطرح شوي او د کلیات درېیمه رساله ده. د ده د مسجعاتو د سبک د ښوولو لپاره دا لاندې ټوټه یې د کتلو دی: «ما ویل چې ډېر ثواب په څه مونده شي راته وایه، تا ویل چې د رنځور پوښتنه کا، جنازه وړي، آخرت یاد لري یارانو...»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۲۲، ۲۲۳ مخونه). یا: «ذات صفات د حق قدیم کمال تکمیل دی، نه صفات له ذاته بېل فصل تفصیل دی، ذات صفات یې منزه له جهاتونه، مخلوقات کل مکان هم له تور سپین سره زرغونه زېړ رنگ نیل دی...»(ملا مست، ۱۳۶۴ل، ۷۲ مخ)

د لیکنې دا ډول شېوه د هغو مسجع‌لیکونکو له سبک سره یو شان‌والی لري چې د یوولسمې پېړۍ په جریان کې یې په دې سبک آثار لیکلي او یا ترجمه کړي دي.

اخوند احمد د اسماعيل زوی او د پاينده خان لمسی و، د پښور په لنډۍ نومي کلي کې اوسېده. د خانۍ ژوند يې پرېښود او د ملنګۍ ژوند يې غوره کړه، په کامل پير پسې ګرځېده، اخر يې له حاجي سعدالله وزيرابادي (په ١١٠٢هـ.ق کال مړ) سره بيعت وکړ او همدلته د روحانيت لوړ مقام ته ورسېد. اخوند احمد د خپل وخت نامتو عالم، متشرع او په شرعي چارو کې د خلکو مرجع و، ډېرې درنې شرعي فيصلې به په ده کېدلې، منکرين به ده ته راوستل کېدل او ده به شرعي پوښتنې او ګروېرنې ترې کولې. دا لوی پښتون صوفي د ١١١٣هـ.ق کال د جمادي الثاني په ١٢مه نېټه وفات او د لنډۍ د جامع جومات په محوطه کې خاورو ته وسپارل شو. له اخوند احمد نه څو ديني رسالې را پاتې دي چې په مسجع نثر او نظم يې کښلي چې په نثر کې د اخوند دروېزه په لاره ځي او هم د ده د فکري مکتب پلوی او لاروی دی (رفيع، ١٣٦٤ل، ١٦، ١٧، ١٩ مخونه).

د ده ليکلې رسالې دا دي: *١. د ابراهيم خليل الله کيسه* يا *د زوی قرباني*، *٢. ورک زوی څنګه پيدا شو؟* يا *يوسف زليخا*، *٣. تولدنامه د حضرت رسول*، *٤. وفاتنامه*، *٥. د بې‌بي خديجې کيسه*، *٦. د حضرت داؤد کيسه*، *٧. د بې‌نمازانو بيان*، *٨. د حضرت محمد او ابوجهل کيسه*، *٩. شفاعت‌نامه*، *١٠. د مرګ په باب يوه منظومه* (احمدزی، ١۴٠٢ل، ٢٢۴ مخ). البته «د پښتو نثر اته سوه کاله» اثر مؤلف د احمد د: *١١) شمايلنامه*، *١٢) وصيت‌نامه (په دري ژبه)*، *١٣) معراجنامه* (هوادمل، ١٣٩٠ل، ٢٣١ مخ) يادونه هم کوي. د ده په آثارو کې لسمه (د مرګ په باب بيان) او يوولسمه شمېره (شمايلنامه) پښتو نظمونه دي، نورې رسالې يې چې له پند او موعظو ډک د ديني طرز فکر تر اغېزې لاندې اخلاقي بيانونه دي، ټول مسجعات دي.

د ابراهيم خليل الله کيسه يا د زوی قرباني د نثر بېلګه: «واروئ يارانو دا فقير بنده بيان کاندې له خپلې شرمندګۍ. مهماني د لوی بادشاه خوري، بيهوده عقل بې ګوري چې د نوس او شيطان کاندې بندګۍ. شپه او ورځ يې د دنيا په حب تېرېږي، د دين غم يې پسې شا کړ، د ازل نصيب يې شوی د خواری. که طلب کړې نن دې وار دی، څو دا روح درسره يار دی، د نېکۍ څښتن رويدار دی، د بدانو تل نصيب د مختوری. د خليل حکايت واوره، ابراهيم د ده نامه وه، ده د خدای په حکم کار کړ، ځکه نوم يې و ګټلی دا ښه نوم د خليلۍ. يوه شپه په خوب اوده و، ناګها اواز پرې وشه چې نژدې شه خپل خدای ته اې خليله څو حيات يې پر نړۍ. چې سبا شه، دا معنی ورته حاصل شوه چې فاني دنيا حجاب ده، څو

څو اوښ او غوا او مېښې يې خيرات کړې، د مولا له سهنامی. په دويمه شپه يې بيا و خوب ليدلی چې نژدې شه و ښه خدای ته، اې خليله! که وېرېږې د قيامت له حيرانی»(اخوند احمد، ۱۳۶۰ل، ۳۱ مخ).
د اخوند احمد بل اثر د «يوسف زليخا» يا د «يوسف» کيسه ده چې په بېلابېلو آثارو کې په همدې نامه مشهوره ده، خو کله چې استاد حبيب الله رفيع دا اثر چاپ کړی، نو د «ورک زوی څنګه پيدا شو؟» نوم يې ورته غوره کړی دی. دغه اثر د ده په سريزه او سمون خپور شوی دی(احمدزی، ۱۴۰۲ل، ۲۲۹ مخ). د دې اثر بېلګه: «واورئ يارانو نن به وکړم څو خبرې: د مهتر يوسف له حاله د يعقوب له دلګيريې(ئ). چې يوسف ورونو روان کړ، هم له پلاره يې جلا کړ، غه ساعت هم د زحمت و، پر ده باندې ورغلی د خواری. يهودا هم پر اوږو و کښولی و بيابان ته يې ؤ وړی، مخ يې ؤ و وپلار ته، و بيابان ته يې روان کړ، د يعقوب زړګی نه چاود د يوسف له جدايی. مهتر يعقوب له ښهره ؤ وتلی، دی تر ونه لاندې ناست و، خوب يې وليد په ناسته، يو اواز وشه چې څلوېښت څلوېښت پر ده پرېواته غمونه وړه يې وړه يې. د دې خوب معنا يې دا و زړه ته راوړه چې يوسف له ما جدا شه څلوېښت ساعته، يا جدا شه څلوېښت ورځې، يا جدا شه څلوېښت کاله، ېېهوشي شوه پرې غالبه، په بارخو [بارخو] يې اوښې ولاړې لوه يې لوه يې....»(رفيع، ۱۳۶۴ل، ۳۹- ۴۰ مخونه)
د محمد ﷺ د وفات کيسه (وفاتنامه حضرت محمد، درود اکبر) رسالې موضوع د حضرت محمد ﷺ د وفات حکايت دی. په پای کې يې داسې اشاره شوې چې دا له آره پارسي يا عربي خو په پښتو ژباړل شوی حکايت د ناروغۍ له پيله بيا د ملک الموت تر راتګه او ارواح تر ايستلو پورې شوی دی. موجوده پيل يې تر (بسم الله) وروسته: واورئ يارانو دا روايت دی لرسول چې اول ايات د قرآن اقرأ باسم رب(دوست، ۱۳۹۹ل، ۲۹، ۳۰ مخونه).
«کعب *الاخبار*» چې مؤلف يې نامعلوم او ژباړن يې احمد دی، دوه پاڼې لري او د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون کې شمېره يې ۲۵۶- ب ده. د تورات د يوه ديني متن پښتو ترجمه ده چې انسان ته د الله تعالی عظمت او نعمتونه په کې ښودل شوي او په مسجع نثر يې ليکلې ده. موجوده پيل يې: هسې ويلي چه مومنان دِ وپوهيږي، پتوريت کښ م لوستلي، که بادرم د فقير پويل کيږي. درس خبر مِ راوکښ. لتوريت د کاغذ م نوشته کړه(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱۰۹، ۱۱۰ مخونه). د دې متن بله نسخه په «بيانات افغاني» کې هم راغلې چې دواړه متنونه سره يو شان دي. د متن پيل يې داسې دی: «د کعب الاخبار زويی هسې ويلي، هر چې واړه مؤمنان دې وپوهيږي؛ ده وې توريت مې لوست يارانو که باور

وم[مو] د فقير په ويل کېږي؛ دولس خبر مې راوکښل له توريت، په کاغذ مې نوشته کړ په کې واړه معرفت دی بيانيږي...»(کاسي، بيانات افغاني (خطي نسخه)، ۲۰۵ مخ).
«د پښتو د ادبي تاريخ خطي منابع» اثر کې راغلي چې د دې متن يوه خطي نسخه د لينګراد د ختيځپوهنې انستيتوت کې هم موجوده ده چې ليکوال او د ليکلو کال يې نامعلوم دي(هېوادمل، ۱۳٦٦ل- ب، ٦ مخ). دې اثر ته په همدې منبع کې د «دولس خبرې» نوم ورکړل شوی دی.
دا رساله په نيم‌منظوم او کله پوره نظم کښل شوې ده. په پښتو کې د «دولس خبرې» په نامه يوه بله رساله‌گوتې هم شته چې د حبيب الله ديوان سره مله راغلې ده. د دې دواړو رسالو محتويات کابو يو شی دي، خو د حبيب الله رساله رسا نظم دی(هېوادمل، ۱۳٦٦ل- ب، ۱۱۰ مخ).

اخوند احمد چې ديارلس ديني رسالې يې ليکلې، د پښتو له پخوانيو کيسه‌کښونکو څخه دی، لومړی سړی دی چې په پښتو مسجع نثر يې کيسې رانښلولې او زياتې ديني کيسې او روايتونه يې په خپل قلم ليکلي او خوندي کړي دي. ده دري- دريځ‌نيم سوه کاله پخوا په پښتو کې خوږې کيسې وکښلې، داسې کيسې چې زياتې يې د ننني لنډې کيسې په کالب کې ځاييږي. ده چې مسجع‌نگاری ته ډېره مخه کړې ده، مسجع نثر يې ادبي او هنري کړی، کيسې يې په کې ليکلي او ښکلي ادبي اصطلاحات او تشبيهات يې په کې ځای کړي دي، ديني موضوعاتو ته يې خوږلنتوب ورکړی دی(احمدزی، ۱۴۰۲ل، ۲۴۳ مخ).
اخوند مياداد محمدزی د شعر د يوه مغتنم اثر (ديوان) ترځنګ منثوره «*نورنامه*» هم لري.
بدرالحکيم حکيمزی چې دغه «نورنامه» يې په زيار چاپ شوې، ليکي چې مياداد تخميناً په ۹۹۸هـ.ق (۱۵۹۰م) کال کې زېږېدلی او په ۱۰۷۹هـ. ق (۱٦٦۸م) کال په حق رسېدلی دی(اخوند مياداد. نورنامه، ناچاپ، ۲۴ مخ).
د نورنامې د نثر چې مسجع دی، نمونه دا ده: «حمد ثنا دې وي ښه خدای لري چې ساتندوی (دی) د عالميانو؛ د هغه جهان ښادی د هغو دي چې پرهېز کاندي له کفر هم له واړو ګناهونو؛ د ښه خدای درود رحمت پر پاک رسول شه، هم پر آل هم په يارانو؛ دا نورنامه د محمد عليه السلام وتاسې زده کاڼئ دوستانو؛ يوه ورځ جبرائيل عليه السلام راغی و فاطمې ته چې ده مور د مومنانو؛ بي‌بي خاتون مې ورته ووې، السلام عليکم اې اودره. جبرائيل عليه السلام جواب ورنه کړو مومنانو؛ په دوه واره يې نور د

ده سلام ولو. د ده جواب يې هرګز نه وکړو يارانو؛ بي‌بي فاطمې مې ورته ووې چې جواب د سلام فرض کفايه دی تا ونه کړو، ته مې شوې له تارکانو؛ بيا جبرائيل مې ورته ووې، ما په دا سبب ونه کړو چې فاخر کړم، ولې عمر زما دراز دی تر دې واړه ادميانو؛ دغه پس بي بي مې ورته ووې و حضرت ته چې ته په عمر لوی يې که جبرائيل. دا خبر و ما له راکړه چې ته يې له مخبرانو...»(اخوند ميداد. نورنامه، ناچاپ، ۲۵ مخ).

يا: «راشه ميداده سر له بادشاه مه اخله، قلنګ قبول کړه، بادشاه عادل دی، رحم يې ډېر دی. رعيت يې تېر دی. په غم مه شه له زوره وره، اور دې د دروېشانو اور دی، لګېدلی د طالبانو د زړه په کور دې، په صورت له خلقو سره دي، ارواحان يې تللي د خدای په لور دي...»(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۲۸، ۱۲۹ مخونه).

د نورنامې شکلي سکښت نيم‌منظوم دی. کله کله سجع او قافيه مراعتوي، خو روان نثر نه شو ورته ويلای.

د يوولسمې پېړۍ په متقدمو مسجع نګارانو کې بل شخص **جورا** يا **جوهر** دی. ده د حضرت پيغمبر ﷺ «*وفاتنامه*» په مسجع نثر بيان کړې ده(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۴۰ مخ). د کلام بېلګه يې دا ده: «واروئ اې يارانو دا روايت دی له رسوله، اول آيت د قرآن اقرأ او اليوم اکملت لکم دا ايت يې آخرين دی؛ دا آيت په رسول راغی د ده خاطر پر نګران شه، د امت له ډېره غمه اندوهګين دی؛ رسول و مسجد وته روان شه د مدينې پر مسجد راغی اصحاب يې سره ټول کړه پاک رسول هم ورته ووې اې يارانو، يو آيت د قرآن وه پاتې شوی هغه هم راغی خدای راضي په اسلام دين دی، ياران واړه پرې ښادمن شو مګر ابوبکر صديق پکښې غمګين دی. دی اګاه شه چې دا آيت په رسول راغی، پاک حبيب به له موژ درومي، د دې آيت هسې مضمون دی؛ دا ويل يې وکړه پاک رسول وګور وته روان شه. د بي بي عايشه پر حجره راغی لکه دی شه وردننه سر يې د بي‌بي پر ورانه کېښود د ده سره ويژد د بي‌بي ورون دی»(احمد، وفات نامه (خطي نسخه)، ٦- ٧ مخونه).

د دې بېلګې او د وفاتنامې نور مطالب چې سړی مطالعه کوي، ترې معلومېږي چې ليکوال يې په دينې مسايل پوه شخص و.

يارمحمد نومي د حضرت پيغمبر ﷺ معراجنامه ليکلې چې د بيان شېوه يې هماغه د يوولسمې پېړۍ د مسجع‌نګارانو ده. د ده د معراجنامې د پای ځينې برخې دا دي: «هر چه دا معراجنامه پر اخلاص لولي يا

يې اروي پاک حبيب يې مددي هوري وي هم به لاس پرې نه رسي د گمراهان د بداعتي د جملـه وو دښمنان. يارمحمد چې دا بيان کړ امېدوار دی د پاک رسول له شفاعته هم... د دعا دی، هر چـه دی بـه څوک پر نېکه دعا ياد کا د خدای دپاره، پر هغو کسان دې خدای خپل کرم پر وکا چې بـه سـختي وي هم پر واړه عالمان». د يارمحمد د ژوند زمانه يوولسمه پېړۍ اټکل کېدای شي(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۴۳-۲۴۴ مخونه).

د جامع الانوار او د موسی د قصې مؤلف پښتون ليکوال په ملتان کې اوسېدلی **محمد خان ځمند** د جهان خان زوی د دې ډلې بل عالم مسجع‌نگار او ناظم دی. استاد هېوادمل ليکي: محمد خان ځمند پښتون عالم او ليکوال و چې د يوولسمې هجري پېړۍ په اواخرو او د دولسمې هجري پېړۍ په اوايلو کې ژوندی و. ده په پښتو ژبه د اخوند دروېزه د مخزن پر سبک د څه ليکلو او نظمولو کافي توان درلود او خپلې علمي تجربې يې په همدې سبک ته وړاندې کولې.

د ده د «*جامع الانوار*» او «*د موسی قصه*» آثارو شکلي رغښتونه د مخزن الاسلام د نظمونو او مسجع ټوټو له سبک سره نږدېوالی لري او مور د دولسمې پېړۍ په اوايلو کې د پخواني هند په ملتان کې اوسېدلی افغان محمد خان وينو چې د خپلو پښتنو د ديني روزنې او د دوی د ديني معلوماتو په منظور د اخوند دروېزه پر سبک آثار ليکي(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۲۶۱، ۲۶۴ مخونه).

ده د اسلام د پيغمبر په سيرت کې د «جامع الانوار» په نوم جامع کتاب ليکلی او له تأليفه يې په ۱۱۱۸هـ.ق کال د اورنگزېب عالمگير د وفات پر کال فارغ شوی دی. دا اثر يو تمهيد او ۲۱ بابه لري، هر باب يې په فصلونو وېشل شوی دی. د دې کتاب د محتوياتو په باب خپله مؤلف کښلي: په دې کتاب کې د آنحضرت محمد ﷺ د نور له پيدايښته د دوی تر رحلته پورې ټول واقعات، معراج، احسن القصص، شمايل، غزاوې، معجزات او د دوی د کورنۍ بيانونه راغلي دي. دا کتاب تر اوسه چاپ نه دی، خطي نسخې يې د کابل په ملي آرشيف، د حمدالله صحاف کندهاري په کتابخانه او د پېښور پښتو اکېډيمۍ په کتابخانه او پېښور آرشيف کې موندل کېږي.

دا کتاب يوه مقدمه لري چې په دې ډول پيلېږي: ای زما ربه خالقه کل ثنا ده ستا لايقه، ته رحمان، رحيم خدای يې د بخشش امېد زما له تا نه کېږي، ته قادر رب سبحان، که توفيق ماته راکړې، زه عاجز بنده ناتوان، ستا د دوست صفت به له ما يه بيانېږي.

تر دې مقدمې وروسته دد کتاب فهرست راغلی چې گرده ۲۱ بابه په کې دي او ځينې ابواب بيا پر

فصلونو وېشل شوي دي. د جامع الانوار کومه خطي نسخه چې د افغانستان ملي آرشیف کې ده، د کتاب متن په کې ۴۶۵ مخ کې پای ته رسېدلی دی. دا کتاب تر اوسه نه دی چاپ شوی(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۲۶۲ مخ).

د ده بل اثر (د موسی قصه) شل فصله لري او مؤلف په دې باب ویلي دي: «د موسی ﷺ کیسه عجیبه ده راغلې. په قرآن کې ځای په ځای ده خدای ویلې. ما دا واړه پښتو کړه چې عامیان خبر شینه».

د ده آثار که په شکلي لحاظ وکتل شي، د نظم خوا په کې درنه ده، بشپړ نظمونه هم په کې شته، مات ګوډ نظمونه هم لري او مسجعات هم په کې موندل کېږي. د ده د مسجعاتو یوه ټوټه دا ده: «د غني خدای له رحمته، د موسی علیه السلام له برکته، امرزش له خدایه غواړم چې امان مې له شیطانه وژغورینه»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۵۹، ۲۶۰ مخونه).

شیخ محمد سعید چې د یوولسمې هجري پېړۍ له دیني علماوو او مذهبي مؤلفینو څخه دی، د لیکلو سبک یې اخوند دروېزه ته نږدې دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۴۴ مخ)، د «*شفاعت‌نامه*» په نوم اثر لري چې د لیکلو او تألیف کال معلوم نه دی، د پاڼو شمېر یې ۹ دی، د هند په رضا لایبریري کې د اخوند موسی له رسالې او ځینو نورو رسالو او احکامو سره په یوه مجموعه کې خوندي ده. دا دیني اثر دی چې دري څخه په پښتو ژباړل شوی دی. د دې اثر یوه نسخه د افغانستان په ملي آرشیف کې، بله یې د زلمي هېوادمل په شخصي کتابتون او بله یې د هند د رامپور په رضا لایبریري کې خوندي ده(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۱۰۵۵، ۱۰۵۶ مخونه). د وروستۍ نسخې د پیل بیتونه دا دي:

«واورئ یارانو شفاعت نامه د پاک رسول به بیانیږي؛ دا مصنف یوه بېچاره دی بې طاقته، مګر دا چې دا مدد به هم له ده نه ور رسیږي؛ په حدیث کې ثابت شوی امنا و صدقنا، بي‌بي فاطمه زهره په کور کې شي پاته، په هغه ورځ به دا نور خلایق جمله واړه له قبرونه ولاړیږي؛ پس فرمان به د رب وشي جبرائیل ته، چې په کور کې شته که بیرون شو، مګر بي‌بي فاطمه زهره نه بیرون کیږي».

پای: «بیا په هر درم د حج ثواب وایي، بل بنده چې څو ازاد که په دا پارسي کتاب کې هونبره دي لیکلي: شیخ محمد سعید هونبره ځني پوښتو (کذا) کړ، پر توفیق د خدای یې وویل، دوستي د پیغامبر تر دا زیات به نه وییږي؛ خدای عالم دی په جزا بندګان چې ثواب ورکوینه، د بندګان حاجت نشته د ویل، چې د خدای کرم به هونبره وي په دا چار دې نه کړیږي؛ ما چې وکښل پر دا سپین کاغذ د پاسه، زه امید د حساب نه اې خالقه ګوندې لیک مې تر قیامت پاتو کیږي»(هېوادمل، ۱۳۶۳ل، ۱۱۸- ۱۱۹

مخونه).

«شفاعت‌نامه» چې په پښتو مسجع نثر او کله هم په نظم کښل شوی، لا چاپ نه دی او خطي نسخې يې موجودې دي.

مير حسين هروي يا **شيخ حسين هراتي** د پښتو نثرليکوال دی، په هرات کې اوسېده، د «*نافع المسلمين*» په نوم کتاب يې په پښتو مسجع نثر کښلی دی.

دی له آره د هرات دی او په خپل وخت کې د ښې شاعرۍ تر څنګ ښه ناظم هم و. له شعرونو او ليکنو څخه يې داسې جوتيږي چې نوموړي دې په ۱۰۷۰هـ.ق کال ژوندی او فعاليت کړی وي. له ده نه د «نافع المسلمين» په نامه يواځې يو کتاب راپاتې دی. د دې کتاب په سريزه کې مير حسين هروي ځان د فقير مير حسين الهروي په نامه ياد کړی دی. دا کتاب اوه څپرکي لري چې هر څپرکی يې د ځانګړې مقالې حيثيت لري. د ديني، فقهي او اخلاقي مسايلو په اړه په کې ژور بحث کوي او لوستونکی ډېرو نازکو مسايلو ته ځير کوي.

د هروي په پېر کې په پښتو ژبه مسجع نثر ډېر عام و او اکثرو ليکوالو به خپل کلام په نظم يا مسجع نثر ليکه، نو ده هم خپل دغه کتاب په مسجع نثر کښلی دی. د دې کتاب لومړۍ برخه «*خلاصة الاسلام*» نومېږي چې له آره تقريباً د امام اسمعيل بن لطف الله باخرزي د پارسي اثر پښتو ژباړه ده. د کتاب په وروستۍ برخه کې دوې الفنامې هم راغلې دي چې په تصوف کې د ده لاس درلودل ورځخه جوتيږي.

دا کتاب يې هم تر اوسه لا نه دی چاپ شوی، خو قلمي نسخه يې د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کتابتون، د هېواد په ملي آرشيف او د روسيې د سن پيترز بورګ د ختيځ‌پېژندنې مؤسسې د خطي نسخو په کتابتون کې خوندي ده. لکه څنګه چې يې د زوکړې او ژوند حالات اټکلي دي، همداسې يې د مړينې نېټه هم اټکلي ده، خو دومره ويل کېږي چې د همدې يوولسمې هجري پېړۍ په وروستيو کلونو کې مړ دی(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۸۰۷، ۸۰۸ مخونه).

دا اثر د ديني ګڼو آثارو په استناد ليکلی دی. دا اثر چاپ دی. د دې نافع لاس‌کښلې نسخه ۲۸۰ مخه او د پښتو ټولنې په کتابخانه کې ساتل کېږي(هېوادمل، ۱۳٦٥ل، ۲۰۸ مخ). د پښتو ټولنې (يا اوسنۍ علومو اکاډمي) د پښتو خطي نسخو څېړونکی وايي: نافع المسلمين ۱۴۰ پاڼې لري او د افغانستان د علومو اکاډمي په کتابتون کې يې شمېره ۳۴٦ ده. اسلامي لارښوونې، لکه اودس، لمونځ، نفس و تزکيه، شريعت، طريقت، حجاب، اخلاق او نور مسايل په کې په مسجع نثر خرګند شوي دي. «د پښتو ادبي

تاریخ خطي منابع» اثر کې راغلي چې په دې اثر کې پر ځینو متفرقو رسالو او مضامینو سربېره د حسین ځینې مستقل آثار او ترجمې هم راغلې دي، لکه الفنامې، نورنامې او د خلاصة الاسلام ترجمه. موجوده پیل یې تر بسم الله او الحمد لله وروسته: اما بعد: چنین ګوید بنده فرمان کمینه درویشان پایمال هوای نفس و شیطان فقیر حقیر میر حسین الهروي..... پر اصحاب ی رحم وای د دید پاره چه وسیله د فیض و دوی ته لحضرت روخ رسیږي(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱۵۶، ۱۵۷ مخونه).

په «پښتانه شعراء» کې راغلي چې «نافع المسلمین» اوه بابه لري چې هر یو یې ځانته رساله ګڼلی شي او په دیني، فقهي او اخلاقي موضوعاتو شامل دي. له دې څخه څرګندیږي چې حسین هروي د خپل وخت د مروجو دیني علومو عالم و. کتاب یې په نیم منظوم ډول یا په مسجوع قافیه‌وال نثر لیکلی دی. دا هغه فورم دی چې د هغه وخت په دیني ادبیاتو کې مروج و. د ذکر شوي کتاب لومړی باب «خلاصة الاسلام» نومیږي او د امام اسماعیل بن لطف الله باخرزي د پارسي اثر ترجمه ده. د نافع المسلمین په پای کې د مؤلف دوه منظومې *الفنامې* هم شته او د هغو له مخې سړی ویلی شي چې نوموړی په مروج موزون ردیف او قافیه لرونکي نظم کې هم مهارت درلود او د تصوف د کومې لارې سالک او طالب هم و(خدمتګار، ۲۰۱۲م کال، ۱۷۰۲، ۱۷۰۳ مخونه).

د دې اثر د نثر بېلګه د هغه له پیل څخه دا ده: «پر اصحاب یې رحمت وایي د دیه پارچه وسیله د فیض و دوی ته له حضرت روخ رسیژي؛ په دا خطبه کښې هسې اشارت دی چه ایمان اصل دغو واړه عملونه چه په شرع کښې یادیژي؛ بل آګاه شي مومنان چه دا کتاب یې مشتمل دی پر اصول هم پر فروع د دین رغیژي؛ دا اصول فروع په دا جهت یې راوړه چه د ایمان رکن هم دوه دي یو تصدیق د زړه دی بل اقرار د ژب چه په ژب وایه کیژي؛ هسې وایي چه خدای یو دی هم هستي د ده دایم دغه واړه مستدرج دي پالـله کښې لا لله معلوم کېژي؛ د الله معنی غه ذات چه هستي یې تل واجب په خپل ذات د هم جامع یې دی جمیع صفتونه له کماله پاک له عیب له نقصانه وحدانیت یې دغه هسې معلومیژي».

پای یې داسې دی: «پاک نبي مې ته اول ته اخر انبیاوو ځکه هېڅکله یې چار نه غلطیږي؛ نورنامه مې په پښتو کړه هر مومن چې مې په نېک دعا یاد کا یو دل دې په رحمت شي بل په روڅې غه د قیامت د نشرهیژي؛ دا فقیر یو خاکپای دی د علما نه که د دوی له برکته باري خدای پرې ورحمیژي؛ فقیر حسین چې دا بیان کړ امېدوار دی د شه خدای له شه رحمت بله امېد یې د نبي شفاعت کېژي»(هراتی، نافع المسلمین (خطي نسخه)، ۴، ۵۱ مخونه).

د مير حسين د «نورنامې» يوه خطي نسخه د سن پيترز بورګ د ختيځ‌پېژندنې انستيتوت کتابخان په ۲۴۴۲ شمېره کې خوندي ده. (هېوادمل، ۱۳٦٦ل- ب، ۲۳ مخ).

د «نافع المسلمين» په اړه استاد زلمي هېوادمل «د پښتو د ادبي تاريخ خطي منابع» اثر له ۸۹- ۱۰۳ مخ پورې د «مير حسين هروي او د ده پښتو آثار» تر سرليک لاندې بشپړ معلومات وړاندې کړي دي.

د نافع المسلمين د يوې برخې «خلاصة الاسلام» د نثر بېلګه: «په هغه اوبه اودس غسل دواړه پروا دي هم نجاست به د بدن يا د جامه په لړې کيږي؛ هغه اوبه يې د درياب يا د ولو دي يا د رود وي يا د څه [خاه] يا چشمه وي يا دغه حوض چې به حکم د پاکي ورباندې کېږي؛ فصل دوم در بيان آب مقيد وپوهيږي په مقيد اوبه روا دي نجاست که د جامې يا د بدن دور کوينه ولې اودس او غسل نه پروا کېږي؛ لکه اوبه وينه د تاک يا اوبه د خربوزې يا د خيار وي يا باقي واړه ميوه چې په دغه مثال اوبه څنې حصليږي»(هراتی، نافع المسلمين (خطي نسخه)، ۵۴ مخ).

ابوالحسن هراتي چې يو پښتون ليکوال و، قاضي خيرالله پشاوري يې په اړه ليکي چې **ملا ابو الحسن هراتي** «کليله او دمنه» په پښتو ژباړلې ده(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۰ مخ). خو دا نه معلوميږي چې په نظم او که په نثر يې ژباړلې ده.

ماته روښانه نه شوه چې دغه ابو الحسن هراتي او پورتنی شيخ حسين هراتي يو شخص دی که بېل.

مولانا علي خان سرغلاني په يوولسمه هجري پېړۍ کې د افغانستان له مشهورو صوفيانو او ليکوالو څخه و. په ديني علومو کې يې لاس درلود، له پښتو، پارسي او عربي ژبو سره اشنا و(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۴۳ مخ). د ملا علي خان آثار د حبيب الله رفيع په کتابخانه کې محفوظ د عبدالغني کاسي په خط ليکل شوي مخزن الاسلام په ملحقاتو او بيانونو کې شته. د مخزن الاسلام يوه نسخه چې ملا محراب په ۱۲٦۱هـ.ق کال ليکلې ده، هم په کې د ملا علي خان آثار موجود دي. د پېښور په آرشيف په ۴۴ نومره قيد د مخزن الاسلام په ملحقاتو کې د ملا علي خان د اولياوو کرامت په پښتو مسجع نثر شته چې عنوان يې ورته «*قصه افغانی از ملا علي خان سرلغاني*» ورکړی. دغه راز د پښتو اکېډيمۍ په ۱۱۰۱ نومره جونګ کې هم د علي په نامه د يوه مسجع‌نګار دوه مسجع بيانونه خوندي دي چې د يو عنوان دی: «در بيان صفت خدای تعالی» او د بل عنوان دی: «در بيان صفت رسول الله صلی الله عليه وسلم». دا دواړه بيانونه د همدې ملا علي خان ښکاري. د ده د مسجع‌نګاری شېوه دا ده: «هسې صفت يې مه کاينئ خلقه، لک نصاری د عيسی کړ، هر چې د مخلوق برابري وي هسې رنګ صفت يې کاينئ هر چه

ستاسې په خاطر وي. دی دی خدای لوی کړی د بهتري حد یې نشته، فقیر ګویا په ژبه صفت یې کړی نه شي، د فقیر علي زبان ځنې قاصر دی»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۵۰، ۲۵۱ مخونه).

په «بیانات افغاني» خطي نسخه کې یو ۸ مخیز کلام چې د رسول الله ﷺ، د څلورو خلفاوو او امام اعظم ستاینه په کې راغلې ده، شته چې د استاد هېوادمل د پورتنۍ راوړل شوې بېلګې یوه برخه په کې په لږ تفاوت سره موجوده ده، نو په «بیانات افغاني» کې راغلی متن د همدې ملا علي خان سرغلاني بللی شو. د دې کلام پیل داسې شوی دی:

«د خدای سلام درود دې پر رسول مصطفی تل وي، درود به یې زه وایم بل ثواب ځما حاصل وي؛ د هغو په ایمان کې مزه نشته که پوهیږي چې د سید مصطفی له دروده به غافل وي؛ دی په دواړه کونه بهترین دی د سړیو د پیریو، هم هسې د عرب د عجم شهرها که قبایل وي؛ د هغه بهتري به پسو نه وي معلوم په مخلوق کې چې خدمتګاري سردار د فرښتګان هم د خدای استاځی جبرئیل وي؛ جبرائیل د خدای امین دی بیا د ده په ایاتونه په هر زمان د امر نهی په رسولانو باندې نزول دی؛ جهان خدای دی پیدا کړی د رسول له برکته؛ که د ده په دوستي نه وای هست به نه شو باور وکړه که لولاک دی؛ پر ده لوی خلقه به ګمان کا چې احمد هم یو سړی دی مرتبه د ده څو وي دی لکه نمر تر ځمکه لوی دی په ډېر ځله څه شو که دې لرې هلکولۍ په نظر وي؛ د نور پیغامبران مرتبه د ده تر مرتبه پورې هسې څرګندیږي، لکه څاڅکی له بارانه یا اخیستې اوبه چا له دریابه په منګول وي؛ دی پیشوا دی د انبیاوو هم سرتاج د اولیاوو شریعت یې پس ته قیامت هم باقي دی، څو دا دنیا پر دا منزل وي وروستی استاځی دی دی چې پس له ده نه بل شریعت نه پیغامبر شته پس له ده چې څوک دعوې د پیغامبرۍ کاندې یا باور کا هغه دواړه به کافر وي؛ په هسې رنګ صفت مکانۍ خلق لکه نصرانۍ د عیسی کړ، هر چې د مخلوق برابر وي؛ هسې رنګ صفت یې کانۍ هر څو ستاسو په خاطر وي؛ دی خدای دی لوی کړی د بهتري حد یې نشته، فقیر په ژبه ثنا صفت به یې کړی ای نه شي د ژبې څښتن قاصر وي»(کاسي، بیانات افغاني (خطي نسخه)، ۲۶۶ مخ).

ملا علي خان سرغلاني د *حضرت عیسی کیسه* [یا *قصه مریم*] او د *معاذ بن جبل حکایت* هم له پارسي او عربي څخه په پښتو مسجع نثر اړولي دي(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۴۳ مخ).

آخوند موسی بتي‌کوټی عالم، فقیه، مصلح او په خلکو کې د اعتبار خاوند سړی تېر شوی دی چې د ژوند زمانه یې په ۱۱۲۳هـ.ق کال یا تر هغه دمخه ده. د تاریخ مرصع (په ۱۱۲۳- ۱۱۳۶هـ.ق کلونو کې

بشپړ شوی) مؤلف میا محمد موسی بټي‌کوټی د یوه مصلح په حیث یاد کړی دی. معزالدین خټک (۱۱۶۰هـ.ق شاوخوا) په خپل کتاب (ربقة الاسلام) کې پر فتاوای اخوند موسی حواله ورکوي.
د اخوند موسی بټي‌کوټي نوم په ټولو پښتنو په تېره بیا په ختیځو سیمو، لکه ننګرهار، کونړ، باجوړ، شینوارو، اپریدو او پېښور کې زیات مشهور دی. خلک دی د مارانو، لړمانو اوده‌دار او ستر پاړوګر بولي. اوسني پاړوګران د مارانو د نیولو یا د مار چیچلو د دمولو په وخت داسې منترونه وایي چې اکثر عبارات یې پښتو دي او په هغو کې «د خدای په حکم او د بټي‌کوټي اخون موسی په اذن» عبارت هم راځي. هغه منترونه چې د اخوند موسی بټي‌کوټي نوم په کې راځي، زیاتره په منظومو او موزونو الفاظو دي(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۱۰۴۳ مخ).
د نوموړي یوه رساله «*پر شاګرد د استاد د حقوقو بیان*» د هند د رامپور په رضا لایبریري کې خوندي ده. د دې منظومې رسالې پیل (تر بسم الله...) وروسته داسې دی: «واورئ یارانو دا خبرې له خبرو معلومیږي؛ هسې وایي که یو حرف دې له چا زده که، دی بنده هغه څښتن شي، په ارشاد التعالین (کذا) کې یې وګوره، که باوري دي پر پښتو ژبه نه کېږي؛ روایت دی که په بیع دې پلوري، هغه بیع یې روا ده نه هغه مال پرې حرامیږي». پای یې داسې دی: «اوس اکثره عالم دا وایي، د عالمان په خوله څه شي چې خدای کا هغه به وشي، په دغه ویلي کافر دی سکه پخوله د عالمانو سړی کله کله کافر کېږي(کذا)؛ اخون موسی څه لره څه وایې، نه قاضي یې نه امیر یې، نه دې حکم په هر چا باندې چې کېږي»(هېوادمل، ۱۳۶۳ل، ۱۲ مخ).
«پر شاګرد د استاد د حقونو بیان» یا «حقوق الاستاد» رسالې د لیک او تألیف نېټه یې نه ده معلومه، دیني او تبلیغي رساله ده چې له نورو رسالو سره په یوه مجموعه کې راغلې ده(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۹۰ مخ).
اخوند موسی (د محمد زوی) چې د یوولسمې پېړۍ دیني لیکوال او عالم و، د «*تولدنامه*» په نوم دیني رساله یې په پښتو مسجع نثر کښلې ده. دی د ننګرهار په بټي‌کوټ کې ښخ دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۹۰ مخ). په «پښتانه شعراء» اثر کې هم د دې اثر پخلی شوی، لیکي: د اخوند عبدالکبیر د (در نایاب) د کتاب د خطي نسخې په پای کې د ملا رحمت بن محمد شفیع په کتابت لیکل شوې ده او (تولدنامه) نومېږي. لکه چې ګورو په شعر کې شاعر ځان اخوند موسی بللی دی او په اغلب احتمال دا هماغه مشهور آخوند موسی بټي‌کوټی دی چې په تاریخ مرصع کې یاد شوی دی. په هغه وخت کې د دې

ډول شعر د بایزید روښان او اخوند دروېزه سبک په پښتو دیني شعر کې رواج و(بختانی، ۱۴۰۲ل، ۱۰۴۳، ۱۰۴۴، ۱۰۴۵ مخونه).

د یادولو ده چې په پښتو کې پر پورتنۍ «تولدنامه» سربېره د څو نورو کسانو په نوم هم «تولدنامه» اثر شته، لکه: تولدنامه د آخوند احمد او تولدنامه د غلام محمد ګګیانې(رفیقي، ۲۰۲۲م، ۲۲۱ مخ).

حاجي موسی د پښتو مسجع لیکوال و، د یوولسمې هجري پېړۍ په حدودو کې اوسېده. د میراث په علم کې یې **رساله** په پښتو مسجع نثر لیکلې او په پیل کې یې د آخوند دروېزه ستاینه کړې ده. د هغه د ادبي مکتب له پیروانو څخه حسابیږي(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۹۰ مخ).

ماته روښانه نه شوه چې دا حاجي موسی او پورتنی اخوند موسی بټي کوټي یو شخص دی که بېل. البته د ویلو ده چې د میراث په علم کې له لیکلي اثره یې جوتیږي چې په شرعي موضوعاتو اګاه شخص و.

پورتني اشخاص د **یوولسمې پېړۍ** اړوند دي. اوس لاندې تر دې ورپسې پېړۍ د لیکوالو جاج اخلو.

مولانا عبدالحلیم د دولسمې هجري پېړۍ د اوایلو مترجم او عالم و، د عبدالله زوی او د اخوند دروېزه لمسی دی.

ده په ۱۱۲۰هـ.ق کال کې د افضل خان خټک په پرمایښت د پیغمبرانو قصص په پښتو ترجمه کړې دی. دا یو پنډ قصصي کتاب دی. د کتاب په یوه متن کې دوه- درې ځایه د کتاب نوم تاج القصص راغلی او دا هم راغلي چې «تألیف او ترجمه»، خو د همدې متن په آخرو برخو کې یې ځان یواځې مترجم ښوولی دی. د عبدالحلیم د کتاب مطالب له بېلابېلو کتابونو چې تفاسیر، تاریخونه او قصصي کتابونه په کې شامل وو، ترجمه کړي او بیا یې سره تألیف کړي دي او د معارج القصص نوم یې پرې ایښی دی. دا چې د مقدمې په لومړیو برخو کې څو ځایه د تاج القصص نوم راغلی دی، د استاد هېوادمل په باور دا کتاب دوې برخې لري: لومړۍ برخه یې چې د انبیاوو قصې دي، هغه برخه یې «*تاج القصص*» بللې ده او دویمه برخه یې «*معارج القصص*». په کتاب کې د څو تنو پیغمبرانو او نېکانو قیصې راغلې دي او په پای کې د حضرت محمد ﷺ احوال. د متن نمونه یې داده: «د خواجه غلامان وو، هر یوه ته یې ګوسفند ورکړ او وې هسې ځای ته یې بوځئ چې هیڅوک مو نه ویني، حلال یې کړئ او لقمان ته یې هم ګوسفند ورکړ، غلامانو ځایونه د خلوت پیدا کړه او ګوسفندان یې ذبح کړه، پوست یې وکښې او غوښې یې راوړې، لقمان ګوسفند ژوندی راوست، خواجه ووې ولې دې ذبح نه

کړ، وې پدا چې هر ځای ته چې تلم، خدای لیدم، هر ګاه چې هیڅ ځای مې خالي بیا نه موند بیارته مې راووست». د معارج القصص یواځینۍ خطي نسخه په پښور آرشیف کې محفوظه ده، ټول مخونه یې (۱۲۳۶) دي او د پښتو نثر غټه ذخیره په کې محفوظه ده. د تاج القصص یوه ناقصه نسخه د داتا ګنج بخش په کتابخانې کې هم شته(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۵۴، ۱۵۵ مخونه).

د دغه کتاب منځپانګې ته په کتو چې عبدالحلیم په کې له تفاسیرو او نورو آثارو استفاده کړې، ترې معلومیږي چې نوموړي په دیني برخه کې مطالعه لرله او د هغه وخت په دیني عالمانو کې شمار سړی و.

د عبدالحلیم په معلومو آثارو کې بل اثر د «*اختیارات بدیعي*» پښتو ترجمه ده(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۵۵ مخ) چې قلمي نسخه یې د هند رامپور په رضا کتابخانه کې خوندي ده. دا نسخه پوهاند رښتین لیدلې او لیکي چې دا طبي کتاب دی چې مولانا عبدالحلیم د افضل خان خټک په وینا د علي بن حسین (۷۲۹- ۸۰۶ هـ.ق) له (اختیارات بدیعي) پارسي څخه په ۱۱۳۰هـ.ق کال کې په پښتو ترجمه کړی او ۸۰۴ مخه دی. کتاب په نثر دی چې ځای ځای نظم هم لري، لکه:

چې عقل کل لري علم کامل لري　　دولت له بخت سره شامل لري
خان د خانانو میر د میرانو　　محمد افضل دی خدای دې تل لري

یا:

خان راغلی کان په کان　　خاص نیکه یې خوشحال خان دی
اختیارات، که مشکل ګران دي هر مشکل خان ته آسان دی

(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۸۵۶، ۸۵۷ مخونه)

مولانا حلیم د دروېزه د کورنۍ هغه غړی دی چې د پیغمبرانو (علیهم السلام) او نېکانو د ژوند حالات او کیسې یې خوندي کړي او هم یې د یوه ژباړن په توګه طبي کتاب پښتو کړی دی.

حلیم «*نورنامه*» هم لري او د پښور پښتو اکېډیمي کې خوندي ده چې پیل یې داسې دی: «پیدایش چې د مخلوق و هم اول نور د پیغامبر و ځلېدلی په اویا زره کالونه (یې) له خدایه سره راز کړ عاقبت یې خپل صورت ځنې غوښتلی». دا نورنامه چې شکلي سکښت یې د یوولسمې پېړۍ له مسجع آثارو سره یو شان برېښي، په دې عبارت پای ته رسېدلې ده: «دا صفت که څوک په یاد کا یا یې لولي یا یې ځان سره خوندي کا له دنیا به همبره نه ځي څو یې ځان خپل په جنت نه وي لیدلی. دا قصه مې عربي

وه، د نبي د خولې حديث وه، دې فقير حليم پښتو کړ دا کتاب اخوند چالاک پر کابل ولولي». د دې نورنامې بله نسخه د حمدالله صحاف کندهاري په خطي مجموعه کې شته، هلته يې دا وروستۍ برخه داسې ده: «قصه مې عربي وه د نبي د خولې حديث دی. دې فقير حليم پښتو کړه. اخوند څالاک په کابلګرام دې ولولي». دا وروستی متن يې سم دی.

نوموړی د «*آيت کرسي ترجمه او تفسير*» هم لري چې د نورنامې او د همدې آيت کرسي په اړه استاد هېوادمل ليکي: «د مخزن د يوې نسخې په ملحقاتو کې ما د محمد حليم د ملحقاتو په ترڅ کې د آيت کرسي ترجمه او تفسير ليدلی دی چې مسجع نثر دی، خو د حليم نوم په کې نه دی راغلی، نو ځکه ما حليم د اخوند دروېزه د کورنۍ د مسجع‌نګارانو په ډله کې نه دی معرفي کړی، اما ګومانې وم چې کېدای شي هغه ترجمه او تفسير د اخوند دروېزه د لمسي محمد حليم وي؟ خو د دې نورنامې موجوديت او په پای کې د حليم نوم ما په دې نور هم ګومانې کوي چې د آيت الکرسي ترجمه او پښتو تفسير دواړه د محمد حليم بن عبدالله بن دروېزه دي؟ البته دا يو حدس دی امکان لري نور اسناد نورې خبرې رادمخه کړي»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۲۶، ۲۲۷ مخونه).

د حليم د مسجع‌نګارۍ خبره په «بيانات افغاني» جونګ کې د هغه د يوه کلام شتون ثابتوي چې په همدې قلمي اثر کې د مولانا حليم يو کلام خوندي دی چې پيل يې داسې دی:

«واروئ يارانو د بېلتانه لښکر ځان ساز کړ، د وصلت شهر يې خور کړ، هر چه يار له بله جدا کېږي؛ هم بلبل په ژړا شي په غه [هغه] وقت چې له ګلذاره ولاړيږي؛ د يار غم په مثل مار شه، چې ځما زړګی وخوړ، چې زهر په دا تېر سو شپېته رګ کې چليږي؛ هيڅ افسون جړي او دم اثر په نه کا چې څه روغ شم مګر ووينم غه يار چې مې زړګی پسې غوڅيږي؛ څه کړم ځما ياره زه ستا پـه غـم کـې وسـوم مـا د صبر جامه واغوسته مزبوده چې په هيڅ رنګ نه زړيږي...»(کاسي، بيانات افغاني (خطي نسـخه)، ۲۳۸-۲۳۹ مخونه).

اخوند قاسم د عبدالله زوی د پښتو مذهبي نثرليکوال دی، د شـينوارو د پـاپين‌خېلو قبيلـې تـه منسـوب دی، د «*فوايد الشريعت*» په نوم کتاب يې په پښتو مسجع نثر تأليف کړی دی. د اخوند دروېزه د فکـري او ادبي مکتـب پـيرو دی او د دولسـمې هجـري پېړۍ د لومړيـو پـه حـدودو کـې يـې ژونـد کـړی دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۳۸۴ مخ). دی ښه زېرک پوه، عالم، فاضل او د فقهي مسايلو په بيانولو کـې يـې ښه نوم درلود. ده په اشنغر او يوسفزو کې ژوند تېر کړی، د پښتو د يوه نثرنګار په حيث چې د ادبياتو له

تاريخ سره اخوند قاسم د کوم يوه اثر په ذريعه متعارف دی، هغه «فوائد الشريعت» نومېږي. دغه کتاب ګڼې نسخې لري. د لومړي چاپ نېټه يې ۱۲۹۲هـ.ق ښوول شوې او ۲۴۰ مخه دی. دا مذهبي علمي او شرعي کتاب ۸۲ بابونه لري چې په ٦٩ بابونو کې د حنفي فقهې مسايل څېړل شوي او پاتې ۱۳ بابونه زمور د خورو نبي حضرت محمد ﷺ په سيرت مبارک کښل شوي دي. د ده په نثر کې د سجع التزام په نظر راځي او هم دغه هغه رنګ او آهنګ دی چې اخوند قاسم پرې د اخوند دروېزه د مکتب پيرو ثابتېږي. خو نسبتاً د اخوند قاسم د نثر اسلوب ساده او روان دی، ژبه يې خورېده ده او په معنوي او فني لحاظ سره يې زيات غوره دی(ختک، ۲۰۱۱م، ۳۵ مخ).

د راورټي په قول، فوائد الشريعت ډېر ګټور کتاب دی چې د اخوند قاسم له خوا په ۱۱۲۵هـ.ق کال کښل شوی دی. نوموړی په پښور او اشنغر کې يو ديني مشر و(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۴۹ مخ).

دغه کتاب د پښتو ژبې له ديني معتبرو کتابونو څخه دی چې خطي نسخې يې په شخصي او رسمي کتابتونونو کې ډېرې پيدا کېږي، تر لسو ځلو زيات چاپ شوی او خطې نسخه يې د ډېروالي په لحاظ په درېيمه درجه کې قرار لري، ده چې په پښور کې ژوند کاوه، فتوا او قول يې ټولو ته د اعتبار وړ و. د دغه کتاب منتخبات پروفيسور ډورن (۱۸۰۱ــ ۱۸۸۸م) په خريستوماتي کې په ۱۸۴۷م کال په پيترزبورګ کې چاپ او ميجر راورټي (۱۸۲۵- ۱۹۰٦م) په ګلشن روه کې په ۱۸٦۰م او بياځلي ۱۸٦۷م کلونو چاپ کړی دی. د افغانستان د ملي آرشيف پښتو خطي نسخو کې د «فوايد الشريعت» پنځه نسخې موجودې دي(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۳۴- ۱۳۵، ۱۳٦ مخونه). په برېښش کتابتون کې د پښتو قلمي نسخو کې د فوائد الشريعت پنځه قلمي نسخې تر سترګو کېږي(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۴۷ مخ). د دغه اثر يوه خطي نسخه د لېننګراد د ختيځپوهنې انستيټوټ کې په ۲۴۵ نومره هم خوندي ده(هېوادمل، ۱۳٦٦ل- ب، ۱۰ مخ).

استاد رفيع کاږي، فوائد الشريعت په لاهور کې په ۲۴۰ مخونو کې چاپ او راز راز ديني مسائل يې په کې راوړي دي(رفيع، ۱۳۵٦ل، ٦۷٦ مخ). بل چاپ يې په پښور کې په ۱۳۴۰هـ.ق کال شوی چې ۲۸۰ مخه لري(رفيع، ۱۳۵٦ل، ۱۹۰ مخ).

د دغه اثر خطي نسخه د علومو اکاډمي د خطي نسخو په څانګه کې په ۲۹۵ نمبر ثبت ده چې موضوع يې شريعت، سيرت او نور ديني مسايل دي، د پاڼو شمېر يې ۱٦۷ دی، خو دننه صفحه نمبر نه لري، پښتي هم نه لري، د پيل او پای پاڼې يې هم نشته.

د اکاډمي د فواید الشریعت بله نسخه چې په ۱۱۲۶هـ.ق کال یې لیکلې او د خطاطی کال یې ۱۲۶۶ هـ.ق دی، د پاڼو شمېر ۱۸۱ او د کتابتون شمېره یې ۲۸۲ دی. شرعي مسایل: ایمان، عقیده، لمونځ، زکات، حج او نور مسایل په کې راغلي دي(دوست، ۱۳۹۹ل، ۱۰۱ مخ).

د «کاتبان» اثر د څېړنې پر اساس، د اخوند قاسم (۱۰۷۶هـ.ق ژوندی) د «فوائد شریعت» د قلمي نسخو شمېر (۱۹) ته رسیږي(عامر، ۲۰۱۷م، ۲۵ مخ).

د دغه اثر د کلام نمونې: «په حدیث کې دي راغلي چې د نېکبخت نښانې درې دي اول رزق به یې حلال وي، دویم له صالحان به یې مینه هم محبت وي، دریم نمونځ به یې عادت په جماعت وي. هم د بدبخت نښانې درې دي اول رزق به یې حرام وي، دویم مجلس به یې دایم له فاسقان وي، دریم نمونځ به یې یکتنها بې امام وي»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۱۸ مخ).

«هسې زده کړئ مؤمنانو، فرایض هغه ته وایي چه په دلیل یقیني سره ثابت دي، هیڅ شبهه و شک په کې نه وي، دلیلونه یقیني واړه څلور دي، اول ایات خاص دي، دویم ایات عام دي؛ دریم حدیث متواتر دي، څلورم حدیث مشهور دي؛ د فرض حکم دا دی چه په کړه کې یې ثواب دی، که یې نیت په کې د خدای وي او هیڅ ثواب په کې لا نه وي که یې نیت په کې ریا وي، او په بې عذر ترکولو کښې عذاب دی؛ که انکار وکه له هسې رنګ فرض، چه د دوی په فرضیت کښې د امامانو اتفاق وي»(اخوند قاسم، فواید الشریعت «خطي نسخه»).

اخوند قاسم د دیني مشر او مفتي په توګه په خپل پښتو اثر کې د فقهي مسایلو او هم سیرت بیانونه لري چې په همدې برخو کې یې پښتو ته خدمت کړی دی.

ملا نورمحمد توخی غلجی د ملا یارمحمد توخي زوی د دولسمې هجري پېړۍ په حدودو کې د کندهار په پنجوایي کې اوسېده. د حاجي میرخان د کورنۍ استاد و. ملا نورمحمد مشکوة، بخاري شریف، هدایه، کنز او طریقه محمدي شاګردانو ته تدریسول(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۵۳۰ مخ). دی چې د پښتو ژبې مذهبي لیکوال او شاعر دی، د هوتکو د پاچاهۍ کورنۍ د ښځو او نجونو استاد او لوی عالم و، په پښتو یې د «*نافع المسلمین*» په نامه کتاب د اخوند دروېزه د مخزن پر سبک لیکلی دی(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۰۶ مخ). د ده د ژوندانه ډېر اړخونه په تیاره کې دي او لا روښانه نه دي، خو په «پټه خزانه» کې د ده په باب داسې لولو: «مشهور دی په غلجي او په غلجیو کې توخی دی، د ملا یارمحمد زوی دی، اوس په پنجوایي کې اوسي، علوم شرعیه یې ویلي او تدریس کا، په عمر ډېر پوخ سړی دی، اتیا

کلن او د قندهار په ښار کې پنځه کاله د خاندان عاليشان د حاجي ميرخان د ارتينو او کوچنو نجونو استاد و او هغو مخدراتو ته د سرا پرده عصمت يې درس کا»(هوتک، ۱۹۸۹م، ۱۳۵، ۱۳٦ مخونه).
څرنګه چې «پټه خزانه» په ۱۱۴۱هـ.ق کال ليکل شوې، نو په دې حساب د ده د زېږېدنې نېټه د ۱۰٦۱هـ.ق په شاوخوا کې اټکلېدای شي. همدا ډول «پټه خزانه» ليکي چې نورمحمد غلجي شاعر هم و او اشعار به يې ويل او د «نافع المسلمين» په نامه يې يو ديني کتاب هم کښلی و چې شرعي احکام په کې بيان شوي وو او د فقهې او اخلاقو له معتبرو کتابونو څخه چې د عربي له باوري کتابونو څخه ژباړل شوی دی، ګڼل کېده.
د «نافع المسلمين» که په دقيقه توګه ولوستل شي، دا ترې له ورايه ښکاري چې نورمحمد عالم او محقق سړی و، د ديني او شرعي علومو ډېر کتابونه يې لوستي و او په دې برخه کې يې زياته مطالعه درلوده.
د «نافع المسلمين» متن زلمي هېوادمل له يوې واحدې نسخې څخه ترتيب کړی او په ۱۳٦۳هـ.ش کال يې له شروحو، حواشيو، سريزې او څرګندولو سره په ۲۱۴ مخونو کې چاپ کړی چې دلته له دغه اثره هم يوه بېلګه لولو:
«باب در بيان مسواک و ثواب مسواک:
د مسواک ثواب ډېر شان بيانېږي
هم له فقهه له حديثه يې ډېر شان ذکر کېږي
د مسواک کول سنت مؤکده دي
چې انکار کا له سنته ګمراه کېږي
حضرت رسول ويلي چې په مسواک خوله به پاکوينه
هم ښه خدای له غه سړي نه راضي کېږي
هم نبي ويلي که سختي زما په امت نه وای
رب به فرض کړی مسواک و په خالصة الحقايق کې بيانېږي»(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۷ل، ۱۴۰ مخ).
په نافع المسلمين کې ده شرعي احکام بيان کړي او د فقهې له معتبرو کتابونو څخه يې استفاده په کې کړې ده. دا کتاب د ۱۱۳۷- ۱۱۴۲هـ. ق کلونو ترمنځ تأليف او بشپړ شوی دی(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۷ل، ۲۲ مخ).

د نثر بله نمونه يې: «زده‌کړه اې مسلمانه. اول کلمه د شهادت وايه. پرې باور وکړه زما جانه. دويم نمونځ او دريم يې غه زکوة دی. څلورم يې روژه او پنځم حج دی. که د لار مونده امان. ته زده کړه ايمان دا دی. اې مؤمنه (لا اله الا الله محمد رسول الله) وايه گويان. هم باور يې په معنا کړه غه معنا گوره چې دا ده: چې خدای يو دی بې شريکه دا خبره ده روښان. محمد رسول د خدای دی فرستاده و هر چاته هم باور اوکړه. دی رسول دی و هر چاته که پيری دی که انسان. هم ارکان د ايمان زده کړه. پرې باور کړه. هغه دوه دي ای مسلمه زما جان. اول اقرار کول په ژبه چې محمد د خدای دی راوړی. دوهم هغه واړه قبول کړه پرې باور کړه ای جان. هم باور ته په زړه کړنه هم يقين باندې جزم چې قبول واړه احکام کړې. هم شرطونه د ايمان، ته به شينه په امان»(رښتين، ن‌ن، ۱۴۳- ۱۴۴ مخونه).

قاضي مختار دنگرامي ديني عالم او د پښتو ناظم او نثرليکوال و، په دنگرام کې اوسېده، د «*نافع المسلمين*» په نوم کتاب يې منظوم او منثور تأليف کړی دی. دا د هغه دی:

قاضي مختار يې د دنگرام دغه هنر ايښی دی چې ابراهيم په خپل تټر تېره خنجر ايښی دی(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۶۴ مخ)

دا يو وړوکی کتابګوتی دی چې ځينې مسايل يې په نظم و نثر په کې بيان کړي او په ۳۲ مخه په پښور کې چاپ شوی دی(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۷ مخ).

هڅه مې وکړه چې د نوموړي قاضي د ژوند زمانه معلومه کړم، خو درک يې راته ونه شو.

جان محمد د يوولسمې پيړۍ په اواخرو او د دولسمې پيړۍ په اوايلو کې ژوند کړی، په پښتو مسجع نثر يې مستقله رساله ليکلې چې «*نورنامه*» نومېږي او د اسلام د پيغمبر ﷺ د نور پيدايښت بيانونه يې په کې راوړي دي. د ده نورنامه چاپ شوې او خطي نسخې يې ډېرې موندلی کېږي(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۵۸ مخ). نوموړی د پښتو له پخوانيو شاعرانو څخه دی چې د ۱۱۵۰هـق کال په شاوخوا کې ژوندی و، د ننګرهار په شاوخوا کې اوسېده، يو طالب‌العلم شخص و(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۱۱۲ مخ). د پوهاند رښتين په قول، دی د اخوند دروېزه د اولادې له پيروانو څخه و، ديني اشعار يې ډېر دي. داسې ښکاري چې د خپل عصر او زمان عالم و او په سيرت نبوي کې يې ښه معلومات درلودل او له همدې امله يې «نورنامه» ليکلې ده(سرېن، ۱۳۸۲ل، ۱۲۴ مخ) چې له پارسي څخه په پښتو نظم ترجمه کړې ده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۵ مخ).

د افغانستان د علومو اکاډمي په کتابتون کې د جان محمد «نورنامه» شته، د پاڼو شمېر یې ۳۹ او موضوع یې د الله پاک ستاینه، د سرور کائنات حضرت محمد ﷺ سیرت په خورا خوږو الفاظو او ادب سره بیان شوی دی(دوست، ۱۳۹۹ل، ۵۵ مخ).

د «نورنامه» پښتو لاسي نسخه په مانچستر کتابتون کې هم خوندي دي(سنګروال، ۱۳۹۱ل، ۱۸۲ مخ).

د جان محمد «نورنامه» د دروېزه له «شمایل نامه» سره یوځای پېښور کې په ۴۰ مخونو کې هم چاپ ده(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۷۴ مخ).

د کلام بېلګه یې: «کل ثناء پاکي ده ستا قدیمه رب العلمینه! او درود پر پیغمبر سل زره لکه ځله وینه. هم پر آل د ده هم پر واړو اصحابو، هم پر کل مؤمنانو دې رحمت له خدایه وینه. یوه ورځ وه پاک نبي او جبرائیل سره قیصه کړه. بي‌بي فاطمه په هغه ځای حاضره ونه، بي‌بي وویل رسوله! ته یې بزرګ که جبرائیل دی. رسول ویل بي بي ته بزرګي ډېره زما ده نه. جبرائیل ویل رسوله! بزرګي ستا، مشر زه یم، رسول ویل جبرائیله! کوم دلیل درته یاد شه نه. جبرائیل ویل رسوله! بې له خدایه! نور څه نه وو. زه یې کړم پیدا، له ما یو ستوری ړومبی ونه. اویا زره کاله به پټ پروت و هغه ستوری، پس له اویا زرو کالو پورته ولید شه نه. او ما هغه ستوری اویا زره کاله لیدلی، رسول وې هغه ستوری زما نور و تا لیدنه»(جان محمد. نورنامه «خطي نسخه»).

له دې جوتیږي چې جان محمد په سیرت کې د مطالعې او معلوماتو څښتن و او د خپل عصر ښه عالم تېر شوی دی.

د دولسمې پېړۍ په اوایلو کې د تېرو شویو لیکوال د یادونې وړ سړی **محمد منیر** دی چې د «*صراط المستقیم*» د پنډ دیني کتاب مؤلف او ناظم دی. ده خپل کتاب په درې شپوو لیکلی دی: نظم، روان نثر او مسجع نثر. د دویم جلد مقدمه یې په مسجع نثر لیکلې او پیل یې داسې شوی دی: «زده‌کړه ای طالبه چې ارکان د دین اسلام واړه څلور دي: اول نص دی له حدیثه باور وکړه، بیا قیاس د مجتهد دی له اجماع د امت، که له دې څوک انکار کا د هغه مخ تور دی». دا مقدمه ښایسته اوږده ده او د دې کتاب د خطي نسخې اووه اته مخه یې نیولي دي.

د دولسمې پېړۍ بل نثرنګار **شاه‌محمد ترکان** دی چې په نثرنګارۍ کې یې مسجع سبک ته تمایل زیات لیدل کېږي. ده د ترکانانو د کسب په باب *دوې رسالې* لیکلې چې یوه یې نهه پاڼې او بله څلور پاڼې ده. دا رسالې چې په پېښور آرشیف کې خوندي دي، د نثرنګارۍ په کومه چې شپوه کښل شوې

دي، د زیاترو سکښت مسجع دی، لکه دا ټوټه: «او که تا څوک وپوښتي چې جمله اسباب د پرېکول له کوم ځایه دی راوړی. ځواب ورکړه چې مهتر جبرائیل علیه السلام په حکم د خدایتعالی له جنته راوړی او په ټول اسباب باندې یو یو آیت نازل شوی دی او هر هغه څوک چې دا کسب یې کړی یا یې کوینه او له دیه کسبه اوبه، ډوډۍ خورینه او دا آیتونه یې زده وینه، حلال به خورینه او که په دا آیتونه نه پوهیږي حرام به خورینه او په ورځ د قیامت به د دې سړي مخ د دواړو استادانو د وړاندې تور شینه». البته د ترکانو په دې رساله کې ځینې ټوټې روانې هم شته چې سجع نه لري(هېوادمل، ۱۳۹۰ ل، ۲۶۳، ۲۶۴ مخونه).

د ترکانو آثار سره له دې چې د ترکانۍ د کسب په اړه دي، خو له محتوا یې معلومیږي چې ترکانۍ او د دې کسب ښه‌والی یې د دیني نصوصو په رڼا کې څېړلی چې دا په خپله د ده پر دیني پوهې دلالت کوي.

په پښتو ژبه ګڼې شمایلنامې لیکل شوې ده چې په یوه په کې د «*شمایل نبوي*» په نوم د **میا عمر خمکني** (۱۱۹۰هـ.ق کال وفات) ده. سره له دې چې استاد رشاد د دې اثر شکلي سکښت د غزلې او قصیدې په شان بولي، خو استاد هېوادمل وایي: «ما د شمایل نبوي په مقدمه کې ویلي چې د شمایل نبوي ژبه درنه نه ده، خو نظمونه یې رسایي نه لري. خو کله چې ما د میا عمر د شمایل نبوي څلور نورې نسخې وکتلې او د کابل پوهنتون له نسخې سره مې مقابله کړې، نو راښکاره شوه چې د رسالې شکلي جوړښت په ټولو نسخو کې یو شی دی. له اصل سره د نورو نسخو له مقابلې زه په دې باوري شوم چې میا صاحب دا رساله د مسجع‌نګارانو د منظوماتو غوندې جوړه کړې ده. که چېرې مور د شمایل نبوي ټوله رساله وګورو، نو د مسجع‌نګارانو د منظوماتو رنګ و بوی لري او زما په پوهه میا صاحب په قصدي ډول په دې سبک لیکلې ده یا لا اقل زه داسې فکر کوم. که به داسې نه وي، نو میا صاحب خو د خلاصه کیداني ترجمه په رسا نظم ترجمه کړې او نور منظومات یې چې د خلاصې له ترجمې سره مله راغلي دي، ګرده روغ نظمونه دي چې د رسالې له مخې د شمایل نبوي له نظمونو سره د مقایسې وړ نه دي»(هېوادمل، ۱۳۹۴ل، شپږ- اوه مخونه).

د کلام نمونه یې: «ملا یې وه بهتره د بهښت له در جوهرو، چې ترلې په طاعت وه چې حکمت او برکت په کې کمال وه، د بهښت تر سرو یاقوتو یې سینه وه خوش نمایه، په خوبي درخشان تر لال وه،

نوس يې وه پُر حلم، چې قرآن پرې باندې دال وه، قوله تعالى: و انک لعلى خلق عظيم، که ته يې لولې، دا جواب ستا د دغه سوال...»(ميا عمر، ۱۳۹۴ل، ۳۲ مخ).

ميا عمر څمکنی ګڼ آثار لري چې يو په کې منظوم «المعالي» دی، په دې اثر کې نثر هم شته، لکه دا: «پس دا فقيرمحمد عمر ابن محمد ابراهيم محمدي مشرب دی، د جهت د نسب نه، مشهور په افغان سره دی او په واقعاتو او حقيقت کې د دې افغان والي نه غير، ځان ته د بل څه نسبت کولو دعوا نه لري، ليکن هر کله چې د خپل نسب نه په انکار کولو وعيد يعني د سزا حکم وارد وي، د دې وجهې نه کومه خبره چې په نفس الامر کې رشتيا ده، دلته ويلی شي»(رښتين، ۱۹۸۸م، ۲۵، ۲٦ مخونه).

اکبر شاه د «*ګنج الثواب*» په نوم اثر لري چې «د نفلي او ثوابي لمونځونو، ادعيو، اورادو او نورو په باب د مأخذو په ذکر روايات او مسألې لري چې په نيم منظوم ډول ويل شوي دي». دا کتاب نهه‌ډېرش فصله لري چې د ليکلو روش يې داسې دی: «هر سړی چې صبر کا په معصيت کې، پاک الله به ترې راضي وي همېشه په هر ساعت کې. هغه وړ نبي وروستی به واړه ګناهونه د ده وښي په فضل لا زياتي به څنې زر درجې ورکه په جنت کې ملايک به همه واړه رحمتونه په ده وايي. لور د لوره ګناهونه به يې توی شي، دی به غرق شي په رحمت کې. د دوزخ اور پرې حرام تنې ترې خلاص شي که هر څوک په دا دنيا وي متغرق په معصيت کې».

د «ګنج الثواب» په پای کې ځينې تعويذونه او ځينې طبي هدايات د «مسأله» تر عنوان لاندې راغلي دي، لکه دا لاندې مسأله: «او که حيض وي جاري چې نه ودريږي. په اوږده ترې سرې وينې بهېږي. نيم پاو کنځلې دې په شپې خوشتې کوي. سبا يې دې څښې په نهري په ښه شان چې ميده کېږي. څو موده دې دا کار کا. غم دې بيا نه کا هغه وينې به يې بندې شي، نه بهېږي»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲٦٦، ۲٦۷، ۲٦۸ مخونه).

شاه‌نور چې د «*درر البحر*» په نوم منثور اثر لري، پيل يې داسې شوی دی: «پس بنده ضعيف شاه‌نور دارنګه وايي غفرالله له ولوالديه چې انواع د علم ډېر دي. علماوو واړه ېبل ېبل بيان کړي دي اوس حاجت يې چندان نشته و بيان ته ولې دی يو ګناه کار دی، وسيله د عمل نه لري په مخ کې ځکه دا څو پاڼې د حديث کړي سره جمع ګوندې څوک پر نفع واخلي په دعا کې يې يادېږي. نوم درر البحر د حضرت افعال اقوال په کې دي جمع دوی په مثل د درو د درياب دي...»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲٦۹ مخ).

استاد هېوادمل کاږي: «د پښتو اکېډېمۍ پېښور د پښتو نسخو ښاغلي مؤلف په خپل جوړ کړي فهرست کې د «*کتاب احادیث*» په نامه یو اثر راپېژندلی او د مجموعې د احادیثو ټولوونکی او پښتو مترجم یې شاه‌نور ښوولی دی. ما چې د دې فهرست نور کتابونه وپلټل، د «درر البحر» په نامه د یوه بل کتاب په معرفۍ هم پېښ شوم چې مؤلف یې نه دی معلوم، خو ښاغلي رفیع یې په معرفۍ کې کښلي دي: «د بېلابېلو فقهي مسایلو په باب نبوي احادیث په کې راغونډ شوي، طرز یې مسجع نثر دی...». ما چې له «درر البحر» نه د ښاغلي رفیع په جوړ کړي فهرست کې اخیستل شوي اقتباسات د (کتاب احادیث) له اخیستل شویو اقتباساتو سره وکتل، نو راښکاره شوه چې دا دواړه د یوه کتاب دوې بېلابېلې نسخې دي. په یوه نسخه کې د کتاب نوم نشته او په بله کې د مؤلف».(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۶۸- ۲۶۹ مخونه) نو معلومیږي چې «درر البحر» او «کتاب احادیث» یو اثر دی.

لکه چې ښکاره ده دغه ډول سبک د مذهبي مسایلو او ديني کیسو لپاره زیات شهرت لري او ډېرو ديني عالمانو وربانديې لیکنې کړې دي. په عبارتونو او جملو کې چې یو څه وزن او قافیه پیدا شي، نو د وینا او وعظ په وخت کې په اورېدونکو ډېر اثر کوي او د خلکو مینه او علاقه ورسره زیاتیږي. دغه ډول نثر چې له لسمې هجري پېړۍ څخه شروع شوی دی، تر دولسمې پېړۍ پورې را رسېدلی دی(رښتین، ن‌ن، ۱۷۴ مخ).

په لسمه او یوولسمه پېړیو کې چې پښتو مسجع‌نګاري په اوج کې وه او په کې ديني موضوعاتو انعکاس موند، د یوولسمې پېړۍ له دوهمې نیمایي راپدېخوا په کې د خوشحال بابا سبک ایجاد شو. استاد هېوادمل کاږي: د خوشحال بابا د سبک ابتداء غالباً د یوولسمې هجري پېړۍ له دوهمې نیمایي نه کېږي او د دې سبک د پیروۍ څرک آن تر څوارلسمې پېړۍ پورې رسیږي. د خوشحال نثر لیکنې د سبک په پیروي لیکل شوي او ترجمه شوي آثار د پښتو د نثر په تاریخ کې خپل ځانګړی مقام او د پراو حیثیت لري. په دې سبک کې چې کوم آثار لیکل شوي او ترجمه شوي دي، په موضوعي لحاظ زیاتره اجتماعي، ديني، عرفاني، فلسفي، تعلیمي او تاریخي ښکاري، د مرغانو روزنه، حکایتي او طبي آثار دي چې ځینې موضوعات یې ډېر نوي او په دمخنیو پراوونو کې ساری نه لري. که څه هم تر دې پراو دمخه مور د سجع‌نګاری په پراو کې هم د حکایتي ژانر ځینې نمونې لرو خو دا نمونې زیاتره ديني دي. د پیغمبرانو په ژوند او نورو ديني موضوعاتو پورې مربوط حکایات دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۶۹، ۱۷۰ مخونه).

خوشحال خان خټک څو بعدي شخصيت و او ديني اړخ يې هم بارز و، د هغه د ديني منظومو آثارو په اړه تفصيل په تېر بحث کې راغلی دی. د خان يو منثور اثر «دستارنامه» ده چې شل هنره او شل خصلتونه په کې شرحه شوي دي. سره له دې چې د موضوعاتو له پلوه دا اثر تر ډېره ټولنيز او يو څه سياسي اړخونه لري، خو نوموړي همدغه هنرونه او خصلتونه له ديني او شرعي اړخه هم بيان کړي دي. ځای ځای يې په کې له قرآني آيتونو او نبوي احاديثو استفاده کړې ده. لاندې يې څېړو:

د «اول هنر د ځان د پېژندګلۍ» کې خوشحال بابا ليکي: «مَن عَرَفَ نَفْسَهُ فَقَدْ عَرَفَ رَبَّهُ. يعني د هر چا چې د ځان شناخت وشه، پس په تحقيق چې هغو خپل پروردګار وپېژانده».(خټک، ۱۹۹۱م، ۱۷ مخ) دا يوه معروفه مقوله ده چې د عرفان او اخلاقو په کتابونو کې ډېره ځله راغلې ده.

د دې اثر د «دويم هنر د علم چې کسب کمال باله شي» کې راغلي: «د پيغمبرانو متابعت په علم کې دی، هرچه علم بيا مومي، ميراث بيا مومي د پيغمبرانو العُلَمَاءَ وَرَثَةُ الأَنْبِيَاءِ يعني په ځای کښېني د پيغمبرانو. دا شرف بزرګي د علم فکر کړی بويه چې تر کومه حده ده چې د علم څښتن جانشين د پيغمبرانو شي. دا خو د دين لويي ده، د دنيا لويي هم په علم کې ده»(خټک، ۱۹۹۱م، ۱۷ مخ). خان د علم په باره کې خپله مدعا په متن کې راغلي حديث شريف پخه کړې ده.

په «پنځلسم خصلت د همت دی» کې يې راغلي: «رسالت پناه ص لره نبوت همت دواړه سره جبرائيل راوړل: په دواړو کې يې مختار کړ، ده په کې همت ونيوه، نبوت هم ورغی».

د «دستارنامه» اثر څو بېلګې د «مشته نمونه خروار» په توګه پورته وړاندې شوې چې له ورايه تر شکاري چې خوشحال د يوه ديني عالم په توګه خپل دغه اثر د قرآني او د احاديثو په ملغلرو سره پېيلی او مستدلل کړی دی.

څېړونکی زاهد جلالي ليکي، خوشحال خان خټک اول د دستار تاريخ بيانوي چې له اسلام مخکينی عرف دی، خو پاچاهانو ته منحصر و. بيا دا بيانوي چې له اسلام سره دغه عرف په يوه ارزښت بدل شو. خان ليکي چې د دستار شمله هم يو معنويت دی او د مېړانې او تورزنی په معنا ده. بيا د خپلو سرچينو په حواله د دستار او شملې په اړه د احاديثو او د قرآن د مربوطو آياتو تفاسير ليکي. وايي د بدر غزوه کې د دستار شمله پر مسلمانانو حکم شوه او له دې وروسته مؤکد سنت. بيا د قرآن د هغه آيت چې د بدر په جګړه کې د ملايکو د مرستې په اړه ويل شوی، هغه تفسير ذکر کوي چې د «مُسَوِّمِيْنَ» کلمه داسې تفسيروي چې د دغو پنځه زره ملايکو لونګی پر سر وې او لونګيو يې شملې لرلې. هغه دغه‌راز

د لونګۍ او شملې له ديني لحاظه پر اهميت ډېر استدلال کوي او ليکي چې خلفاء اربعه‌وو د دې دستار حق ادا کړی و. يعني دا چې د لونګۍ ريښه له اسلام او مېړنې سره ټړي او د پيغمبر صحابه او د اسلام لومړي شخصيتونه د لونګۍ او مېړنې نمونې بولي. دا د دستار ديني اړخ دی. (جلالي، ۱۴۰۴ل، ۱۷۱ مخ)

دی زياتوي، واقعيت دا دی، څوک چې د خوشحال خټک شعري او نثري آثار ګوري، د خوشحال د وخت فکري پسمنظر په کتلو، د هغه مطابق د يوه متشرع عالم، کلک ملا، پوه فقيه، صوفي مزاجه انسان، طبيب، حکيم، د دنيا له چارو او اسرارو آګاه، د ژوند په رمز و رموزو پوه، کلک پښتون، د علم په ارزښت پوه او ورته ټرې شخصيت په کې ويني(جلالي، ۱۴۰۴ل، ۱۵۰ مخ).

د خوشحال خان خټک د کورنۍ په غړو کې داسې اشخاص وو چې ديني آثار يې کښلي چې يو له هغو څخه د هغه زوی عبدالقادر خان خټک دی.

د **عبدالقادر خان خټک** (۱۰۶۳ – ۱۱۲۵هـ.ق) د ديوان په پيل کې يوه پښتو *منثوره لیکنه* شته، البته د ديوان په ټولو نسخو کې يې دا ليکنه نه ده راغلې. دا يوه موعظه ده چې په پښتو نثر کښل شوې او له حمد و درود وروسته يې لوستونکو ته د ديني اخلاقو په چوکاټ کې ځينې وعظونه کړي دي، د ښو کارونو کولو او له بدو پرهېز ته يې تشويق کړي دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۳۹ مخ). نمونې يې دا دي: «پس د خدای تعالی له حمد جل جلاله او د رسول له درود صلی الله علیه وسلم، ای عزیزه! وپوهېږه چې بهترين د طاعتونو او سر د نعمتونو، حق شناسي يعني اقرار کول په خوله، چې خدای تعالی يو دی، شريک يې نشته او محمد رسول (ص) د ده دی او تصديق يعني باور د زړه په ده باندې». يا: «پس له ايمان تر واړو طاعتونو بهتر نمونځ دی بويه وخت يې کړې نمونځ په ترتيب ادا کوه، سبک کوم چې نمونځ بې سبک وي يعني رکوع، سجود نه بېلوي، په مسجد حاضرېږه، اما امامتي او موذني مه کوه درونده بار دی د مخلصانو کار دی پس له عباداته سعی په ښه خصلت کوه. د انسان او د حيوان تفاوت په خوی دی افضل د ښو خويونو کم ازاري ده، څو توانيږي په لاس په ژبه څوک ازار مه کړه»(خټک، ۱۳۶۸ل، ۱، ۲ مخونه).

«ګلستان» د فارسي ژبې او ادب د پياوړي ليکوال او شاعر سعدي (۵۸۱- ۶۹۱ يا ۶۹۴هـ.ق) ادبي، علمي او عرفاني اثر دی چې ځينې برخې عبدالقادر خان خټک د «ګلدسته» په نوم پښتو کړی دی. د دې اثر نظم په نظم او نثر په نثر ژباړل شوی دی چې د نثر يوه بېلګه يې دا ده: «دوه اميرزاده په مصر کې وو.

يوه طلب د علم کاوه، بل مال ټولاوه. آخر الامر هغه علامه د عصر شه، هغه بل عزيز د مصر. يوه ورځ دې تونګر په خواره سترګه په فقيه ورور نظر وکړ، ورته يې ووې چې زه په سلطنت ورسېدم، ته هم هسې په مسکنت کې پاتو شوې. وې يې ای وروره! شکر د نعمت د حق تعالی تر تا په ما ډېر واجب دی چې زه يې ميراث ته د پيغمبرانو عليهم السلام ورسولم او ته يې د فرعون او هامان په ميراث کښېنولې»(ختک، (۱۳۸۳ل، ۲۱۸ مخ).

گوهر خان ختک شاعر، ليکوال او د خوشحال خان زوی دی، د زوکړې نېټه يې ۱۰۷۰هـ.ق[1] ښودل شوې ده. دی يو صوفي او متشرع سړی و، په نبوي سيرت او اخلاقو کې يې زياته مطالعه درلوده. د همدغې مطالعې او علاقې له امله يې د «*قلب السير*» په نوم د اسلام د ستر پيغمبر حضرت محمد ﷺ د مبارک سيرت لوی کتاب وژباړه. گوهر خان ختک لکه څومره چې خوږ او روان شعر ليکي، همدا شان يې نثر هم روان او بې تکلفه دی(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۱۲۲ مخ). نوموړي پر دې کتاب چې د پښتو نثر يوه غنيمت ذخيره لري، مقدمه هم ليکلې ده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱٦۰ مخ).

د پيغمبر حضرت محمد ﷺ د سيرو دغه پنډ کتاب يې د افضل خان په غوښتنه له دري نه په پښتو ترجمه کړی دی. ټول دېرش بابه دی، د حضرت پيغمبر د نسب په باب يې په څو بابو کې خبرې کړې دي، بيا يې د حضرت محمد ﷺ له زوکړې تر وفاته ټول واقعات راوړي او ورپسې يې د خلفاء راشدينو، معاويه او نورو خلفاوو احوال ثبت کړي دي. بيا يې د قيامت علايم، نزول حضرت عيسی، جوج مأجوج، قيام د قيامت او بعث او د حشر حساب و کتاب او صراط او ذکر د جنت او نازو نعمت په باب خبرې راغلې دي. په کتاب کې ډېرې خبرې او روايات د حکاياتو په بڼه هم بيان شوي دي. قلب السير له مقدمې او فرهنګ سره دکتور زبير حسرت تهيه کړی او په ۲۰۱٦م کال ٥٦٥ مخه د پښتو اکاډمۍ کوټې له خوا چاپ شوی دی(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۵۱، ۱۵۲، ۱۵۳ مخونه).

د مثال په توګه د نثر يوه کوچنۍ بېلګه د قلب السير له سريزې څخه را اخلو: «بل سبب د کتاب دا و چې افضل خان زوی د اشرف خان مرحوم لمسی د خوشحال خان ختک کرلانۍ غفرالله له چې سن د هجري زر سل شل (۱۱۲۰هـ) دی، د پلار د نيکه په ځای قايم مقام دی، نېه سرداري لري، نظر يې په نېک‌نامۍ په آباداني دی. په دا قحط الرجال دی غنيمت دی اللهم تزد احسانه، حق تعالی دې له شرم

[1] په «د پښتو ادبياتو تاريخ» لومړی ټوک ۱۳۷۹ل ۱٦۰ مخ کې يې د زوکړې ۱۰٦۹هـ.ق ښودل شوی دی.

وساتي، نور ساعي که د پښتو کتابونه له هر قسمه لکه فارسیانو کړي دی مرتب شي»(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۱۲۲ مخ).

د سیرت دغه اثر د هغه وخت خلکو او ټولنې ته یو اشد ضرورت و چې دغه تشه ګوهر خان حس کړې او ډکه کړې یې ده.

ګوهر خان له پارسي نه یو بل کتاب هم په پښتو ترجمه کړی چې ټول مخونه یې ۲۵۰ دي، د کتاب خاتمه په پښتو نظم ده. دا یو فقهي کتاب دی چې د لمانځه، اوداسه او نورو فقهي مسایلو تشریح په کې راغلې ده. دکتور راج ولي شاه خټک د کتاب د خاتمې له پښتو نظمونو دا نتیجه اخیستې چې د کتاب نوم به «*افضل‌نامه*» وي. بیتونه داسې دي:

مسایل په کې قوي دي　　واړه دُر نبوي دي
د تاریخ یې خاتمه　　شوه قوي افضل‌نامه
دا پښتو د دې ګوهر　　د خوشحال خټک پسر

استاد هېوادمل وایي: د (قوي افضل‌نامه) له کلماتو د ابجد په حساب (۱۱۲۳) راوځي، نو دا کتاب ګوهر خان له قلب السیر (د ۱۱۲۰هـ.ق ترجمه) درې کاله وروسته ژباړلی دی. کتاب داسې پیل شوی دی: «پس له حمده له صلوة واوره دا چې موژ مامور یو په زده کول د علم فقه په حکم د حدیث چې طلب العلم فریضة علی کل مسلم ومسلمة، یعني طلب د علم فرض دی په واړو مسلمانانو په مردانو په زنانو...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۵۳ مخ).

«*عرفاني تفسیر*» چې یو ارزښتمن اثر دی او د پښتو نثر یې بډای کړی دی، خو د لیکوال په اړه یې څېړونکي لا یوه خوله نه دي. استاد هېوادمل کاږي، د پښتو ځینو څېړونکو د پښتو د عرفاني تفسیر نسبت **افضل خان خټک** (۱۰۷۵- ۱۱۸۳هـ.ق) ته کړی دی، مګر ځینې نور بیا په دې نسبت شک لري(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱٦٥ مخ).

هانري جارج راورټي کښلي چې افضل خان په پښتو د قرآن تفسیر لیکلی او حبیب الله رفیع هم دا تفسیر د افضل خان بللی دی، سرمحقق دوست شینواری بیا وایي چې دا تفسیر د افضل خان خټک نه دی، خو استاد هېوادمل کاږي: «د تفسیر تمهیدي برخې او وروستۍ برخې نشته، نو ځکه د مفسر یا مترجم نوم په کې نه معلومیږي. کوم دلایل چې ښاغلیو رفیع او دوست شینواري وړاندې کړي، په خپل ځای ارزښت لري، خو زما په پوهه که چېرې مورِ ضرور غواړو چې دا خبره ثابته کړو چې دا تفسیر د

چا دی، يو خو بايد د بلې نسخې لټه وکړو او يا يې د پيدايښت انتظار وباسو او يا هم د دغو دوو ښاغلو څېړونکو دلايلو ته په پاملرنې د تفسير شريف موجوده نسخه بيا وپلټو، څو د متني قراينو او شواهدو په استناد د افضل خان له نورو آثارو سره وکتل شي، نو په دې صورت کې بويه چې په نسبي ډول حقيقت ته نزدې نتيجه ترې ترلاسه شي. زما باور دا دی چې که دا تفسير مبارک د هر چا وي، وي دې، خپله متن يې ارزښت لري، کاشکې بشپړه نسخه يې زمونږ په واک کې وای. دغه موجوده نسخه چې ۴۷٦ پاڼې (۹۵۲ مخه) لري، د دې تفسير لومړۍ نيمايي برخه تر موږه را رسوي. د استاد رفيع د برداشت له مخې دا تفسير شريف له کوم دري تفسير نه په پښتو ژباړل شوی او تأليف نه دی»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۴۹، ۱۵۰ مخونه).

استاد رفيع وايي، عرفاني تفسير په دولسمه هجري پېړۍ کې له ارزښتناکو تفسيرونو څخه دی چې نيمه لومړۍ برخه يې شته، خو دوهمه برخه يې لا تر اوسه نه ده موندل شوې. دا تفسير د ختېکو په ليکـدود يعني په ځنځيري ليکدود ليکل شوی دی. شعرونه هم لري چې ۳۱۰ بيتونه يې ورځخه را ايستلي چې د دې تفسير ادبي برخه او ادبي ارزښت څرګندوي(رفيع، ۱۳٦۹ل، ۵، ۱۰ مخونه).

د امام غزالي «کيمياي سعادت» پښتو ته ژباړل شوی دی، خو د مترجم په اړه يې لا اختلاف شته.

په دې اړه راغلي، د امام غزالي د «*کيمياي سعادت پښتو منثوره ترجمه*» چې ابو حامد محمد بن محمد غزالي د (۴۵۰- ۵۰۵هـ.ق کلونو ترمنځ) په دري نثر کښلی د احياء العلوم خلاصه ده، کيمياي سعادت څلور عنوانونه او څلور رکنونه لري چې په عناوينو کې يې: د خپل نفس پېژندنه، د حق تعالی پېژندنه، د دنيا پېژندنه او د آخرت پېژندنه شامل دي. په څلورو رکنونو کې يې: عبادات، معاملات، د دين د سختو لارو غوڅول او منجيات راغلي دي. دا کتاب په پښتو ترجمه شوی دی، يواځينۍ تر اوسه معلومه ناقصه الاول والاخر ګډوډه خطي نسخه يې په پېښور آرشيف کې خوندي ده چې ټولې پاڼې يې (۴۱۱) او مخونه يې (۸۲۲) دي. دا نسخه د ختېکو په ليکدود او په هغه خط کښل شوې ښکاري چې په دې کتاب کې دمخه راغلي عبدالحليم معارج القصص پرې ليکل شوی دی. کاغذ، د خط او ليکدود ډول يې هم د دولسمې پېړۍ د اوايلو ښکاري. استاد هېوادمل وايي: ماته خپله د دې کتاب ترجمه هم د هغو هڅو جز ښکاري چې افضل خان ختېک په پښتو ژبه د نورو آثارو د ترجمې په لړ کې پيل کړې وې. موجوده نسخه مسوده غوندې ده چې ګومان کېږي دوهم ترتيب ته به يې د مترجم وار نه وي رسېدلی او يا هم کېدون لري چې ترتيب شوې نسخه دې يې هم وي خو تر موږ دې نه وي رسېدلي(هېوادمل،

۱۴۰۳ل، ۱۵۷ مخ).

سره له دې چې د دې کتاب مترجم لا معلوم نه دی، خو دا چې اثر ديني محتوا لري، نو په همدې خاطر مو ترې يادونه وکړه.

د هوتکو د پاچاهۍ په زمانه کې (۱۱۲۱- ۱۱۵۰هـ ق/ ۱۷۰۹- ۱۷۳۸م) او په تېره د شاه‌حسين هوتک د پاچاهۍ په دوران کې ډېرو علماوو او شاعرانو له پاچاهي دربار سره ارتباط درلود او د دربار له خوا په درنه سترګه ورته کتل کېدل.

محمد هوتک چې پياوړی ويناوال، ستر دانشمند او بصير مؤرخ و، د دولسمې هجري پېړۍ له علمي مشاهيرو او ادبي اشخاصو څخه و، په ۱۰۸۴هـ.ق کال د کندهار په کوکران کې زېږېدلی، د وخت مروج علوم: فقه، تفسير، حديث، د بلاغت او فصاحت فنون، قافيه او عروض يې له خپل پلار داود هوتک چې عالم سړی و، زده کړل. په همدې وخت کې يې د هوتکيانو دربار ته لار وموندە او د شاه‌حسين په وخت کې يې عزت او حرمت درلود، د دربار مشرانو او اعيانو يې هم درناوی کاوه. محمد هوتک خپل عمر څېړنې، تتبع او تأليف ته وقف کړی و او ارزښتمن آثار يې وليکل. هغه په پښتو نظم او نثر ليکل کول، له تأليفاتو څخه يې «*پټه خزانه، خلاصة الفصاحت، خلاصة الطب، د شعر ديوان*» ثبت شوي دي. له قېمتي تأليفاتو څخه يې يواځې «پټه خزانه» مورِ ته را رسېدلې ده(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۴۲۷ مخ). دغه اثر په ۱۱۴۱- ۱۱۴۲هـ.ق کال کې ليکل شوی دی.

د محمد هوتک د کلام بېلګه د هغه د اثر له پيل را اخلو چې وايي: «حمد و ثنا ده هغه خدای ته چې انسان يې په ژبه او بيان لوړ کا او تميز يې ورکا له نورو حيواناتو په نطق او وينا سره او خپل کلام پاک يې نازل کا، په افصح بيان سره چې هغه معجز او ابلغ دی، له کلامه د ټولو بلغاء او فصحاء. ستاينه او سپاس دی هغه خاوند لره چې بېله ده نسته بل خاوند او نه بل بادار د وګړيو، څښتن دی دئ چې انسانان په خوږو خبرو پالي او د هرې بليغې وينا ملهم دی. درود نامحدود پر هغه پيغمبر دی، عليه الصلوة والسلام چې مورِ تې راوښووله سمه لار او روده».

محمد هوتک د يوه ديني پوه په حيث پښتو ادب او ژبې ته تاريخي او نه هېرېدونکی خدمت کړی چې د ده تر مهاله د ګڼ شمېر نومورکو ليکوالو شاعرانو او د هغوی د آثارو حال احوال يې ثبت کړی دی.

په پښتو کې د تحريري تاريخي حماسو ليکل د هوتکو د پاچاهۍ په دوران پورې اړه لري. د دې

دوران يوه حماسه «*جګړه د محمود افغان، نيول د اصفهان*» نومېږي چې ليکوال يې **محمد امين سرپرېکړی** دی. دی له شاه‌محمود افغاني سره د اصفهان د نيولو په جګړه کې شامل و. دا حماسه په پښتو خواږه نثر ليکل شوې ده او په حماسې کې د راغلو پېښو د بيان په ترڅ کې يې پښتو غږونه يا ناړې هم ورسره ملې کړې دي. د ده د زوکړې کال ۱۰۹۹هـ.ق دی او د زوی د ليکنې له مخې يې، ملا محمد امين سرپرېکړی په ۱۱۷۴هـ.ق کال مړ شوی دی(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۰۴ مخ).

استاد رفيع کاږي، ملا محمد امين سرپرېکړی شېږ دېرش کلن زلمی و چې په ۱۱۳۵هـ.ق کال د هوتکي شاه‌محمود له لښکرو سره د ارسلا خان ناصر تر بيرغ لاندې اصفهان ته ولاړ او څرنګه چې د ده د خپلې وينا له مخې: «د جنګ په فنونو او فتورونو کې ګړندی و»، نو د دې سوبمن ټولواک په لښکر کې يې مېړنی برخه واخيسته او له سوبې وروسته بېرته خپل هېواد ته راستون شو. د ده «*جګړه د محمود افغان، نيول د اصفهان*» کتاب نسخې تر اوسه په لاس کې نشته، خو د ده زوی حافظ نورمحمد يې په خپل «قصه د برښنا يا خدی» نومي اثر کې پته راکوي. موږ ته د دې کتاب کومه داسې نمونه نه ده راپاتې چې د کتاب په باب معلومات راکړي، يواځې دوې جملې يې حافظ نورمحمد د خپلې کيسې په سريزه کې را اخيستې او دا دوې جملې دا راښيي چې د ملا محمد امين سرپرېکړي د کتاب متن په خواږه نثر و او هغه دوې جملې دا دي: «زه په دې غزا کې ۳۶ کلنی وم، د جنګ په فنونو او فتورونو کې ګړندی وم».

ملا محمد امين سرپرېکړی د دې کتاب په کښلو سربېره شعرونه هم ويلي چې نمونې يې راپاتې دي او څو قلمي شعرونه يې د فاضل استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په ځاني کتابتون کې شته(رفيع، ۱۳۵۷ل، ۱۸، ۱۹، ۲۱ مخونه).

حافظ نورمحمد د محمد امين سرپرېکړي زوی د مړاني قبيلې ته منسوب په ۱۱۷۴هـ.ق کال زېږېدلی، لږ عمر يې درلود، په قلات او ديره‌جات کې اوسېده. هغه عالم او مؤلف شخص و، په پښتو ژبه يې نظم او نثر ليکه. «*قصه خدی*» يې په ۱۲۰۴هـ.ق کې په پښتو نثر تأليف کړې ده او اشعار يې هم په کې ضبط دي(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۳۰ مخ). ده د دې د حماسې ليکلو باعث د خپل پلار ملا محمد امين سرپرېکړي تاريخي حماسه (جګړه د محمود افغان، نيول د اصفهان) ښوولی دی(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۰۴ مخ).

پورتنیو دواړو پلار او زوی چې یو یې دیني عالم او بل حافظ دی، لومړي هغه یې زمور د هېواد د جګړې او ننګ یو څېرکی خوندی کړی او دې بل یوه بله حماسه د تاریخ حافظې ته سپارلې ده.

میا عبدالحکیم کاکړ د میا سکندر شاه زوی د خپل وخت لوی بزرګ او عالم و، اصلاً د کندهار و، خو د ۱۱۵۰هـ.ق کال په شاوخوا کې د شاه‌حسین هوتک په عهد کې له کندهاره د پښین سیمې ته لاړ او هلته د خانوزیو په کلي کې مېشت شو. دی د شاه‌حسین د پېر له نومیالیو روحانینو او صوفیانو څخه و چې په نقشبندیه طریقه کې د خپل وخت له اقطابو څخه ګڼل کېده. میا صاحب د خپل وخت لوی دیني عالم و، ډېر کتابونه یې لیکلي چې زیات یې په تصوف کې دي. مشهور تصنیفات یې دا دي: ۱- *حصن الایمان*. ۲- *مقامات تصوف*. ۳- *مجموعه رسائل*. نوموړی په ۱۱۵۳هـ.ق کال وفات شو او د کاکړستان په جټیالۍ نومې علاقه کې خاورو ته وسپارل شو او خلک یې قبر ته د زیارت لپاره ورځي(سعید، ۱۳۹۴ل، ۲۷۰، ۲۷۱ مخونه).

د کندهار د هوتکو پاچاهانو او ملي مشرانو له درباروونو سره په ارتباط کې چې کوم آثار ایجاد شوي دي، ځینې یې ادبي نه دي، لکه افضل الطرایق، ګلدسته زعفراني، خلاصة الطب (د محمد هوتک)، جامع فرایض، نافع المسلمین....، خو څرنګه چې د دغو شاهانو په زیاته د شاه‌حسین مینه له دې سره وه چې په پښتو آثار ولیکل شي او د هر ډول آثارو لیکوال او ناظمان یې تشویقول [نو یادول یې اړین دي]؛ اما د دغو غیر ادبي آثارو ترڅنګه په همدې پېر کې ډېر ادبي آثار هم په پښتو لیکل شوي چې ځینې یې زمور په واک کې دي او ځینې یې لا تر اوسه بشپړ نه دي موندل شوي او یواځې نمونې یې د پټې خزانې په قېمتي پاڼو کې تر موږ رسېدلې دي. د هوتکو د دورې ترلاسه شوي ادبي آثار د پښتو د ادبي تاریخ لپاره ارزښتمن دي او د ادبي تحول ځینې څرګونه موږ ته په لاس راکوي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۰۸ مخ).

پورتنیو څرګندولو ته په کتلو، معلومېږي چې د هوتکي دورې لیکوالان اکثره یې ملایان او دیني عالمان وو چې په خپلو قلمي آثارو یې پښتو ته مغتنم آثار پرېښي او هم یې په دې سره د دې ژبې ویونکو ته خدمت کړی دی.

ځینې داسې نثرونه شته چې په زماني لحاظ د هوتکو د پاچاهي په اواخرو او د لوی احمدشاه بابا د پاچاهۍ ترمنځ لیکل شوي دي چې هر یو یې د سبک خپلې ځانته ځانګړنې لري. دې ته د «د اتصال کړی» نوم ورکړل شوی دی. کوم آثار چې په دې لړ کې راځي، دا دي:

د قرآن عظیم د لسو پاره تفسیر: د قرآن‌کریم د لومړنیو لسو پارو د دې تفسیر وخت ۱۱۴۸هـ.ق کال ښوول شوی دی. مفسر یې **عصام الدین احمد چغتي** د ملا عزیزالله زوی و چې د کندهار په شاوخوا سیمو کې اوسېده. د ده د پښتو تفسیر یواځینۍ معلومه خطي نسخه د افغانستان په ملي آرشیف کې خوندي ده. د دې نثر یوه نمونه دا ده: «... او زر دی چې وبه ویني خدای عمل ستاسې او رسول د خدای به هم ووینې عمل ستاسې یا توبه به وکاږئ له نفاق او یا به مړه شئ په کفر...». د دې تفسیر نثر روان دی مګر د هغه دوران په کندهار کې له لیکل شویو نثرونو سره سیالي نه شي کولی، په ژبه کې یې دروندوالی لیدل کېږي(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۴۵۰ مخ). د قرآن عظیم د دې تفسیر پر لومړۍ پاړې اکاډمیسین پوهاند رشاد مفیدې حاشیې لیکلي او ۱۱۷ مخه په ۱۳۹۵ کال چاپ او له کندهاره خپور شوی دی.

دغه پښتو تفسیر په اصل کې لس پاړې دی، د هغه اصلي نسخه د افغانستان په ملي آرشیف کې خوندي ده او زموږ په مطبوعاتو کې لومړۍ پلا په ۱۳۶۹هـ.ش کال درونډ حبیب الله رفیع راپېژندلې ده(رشاد، ۱۳۹۵ل، ۴ مخ).

د دغه تفسیر په منځ کې یو یاداښت شته چې په هغه کې یې کښلي دي: «۱۰ پاره اول یو جلد تقریباً ۱۰۰۰ مخه، ۱۱۴۸». په دې ډول دا تفسیر د قرآن کریم د لومړیو لسو پارو تفسیر دی، د قرآن عظیم د دې تفسیر لومړۍ پاره اکاډمیسین پوهاند رشاد پر ۱۳۶۳هـ.ش چاپ ته اماده کړې او له بده‌مرغه علامه مرحوم د نورو نهوو پارو د تحشیې فرصت نه دی موندلی(هوتک، ۱۳۹۵ل- ب، ۱۱ مخ).

استاد رفیع لیکلي: «د قرآن کریم د لومړیو لسو پارو دا تفسیر چې په ساده نثر لیکل شوی او ځای ځای مسجع نظم ډوله جملې هم لري، په عمومي توګه یې نظم بې‌سجع دی او کله کله جملې تحت اللفظي معنا غوره کوي. په دې تفسیر شریف کې د لسو پارو تفسیر بشپړ شوی او یوولسمه پاره هم پیل شوې ده، خو نورې پاڼې یې سپینې پاتې شوي. د نسخې د نیمګړتیا له امله د کاتب نوم او د خطاطۍ نېټه نه لري. دا هم څرګنده نه ده چې تفسیر ترجمه دی او که تألیف؟ د لیکوال د مقدمې له انداز څخه ښکاري چې دا تفسیر به تألیف وي نه ترجمه، خصوصاً چې په حاشیو کې ځای ځای ځینې کتابونه ښیي، لکه: جلالین شریف چې زیاتې اخیستنې تریې شوي او یا هم «مدارک، حسیني، عبدالله او انوار» چې د مأخذ په توګه یې یادوي. د دې تفسیر د لیکوال عصام الدین احمد نور آثار په لاس کې نشته. د «چغتي» له انتساب نه څرګندیږي چې د عصام الدین کورنۍ اصلاً پښتانه نه وو، خو په پښتنو کې

اوسېدلي او پښتو يې خپله کړې ده. ده په دولسمه هجري پېړۍ کې د کندهار شاوخوا ژوند کاوه او خپل تفسير يې د ۱۱۴۸هـ.ق کال شاوخوا کښلی دی». دغه بې نومه تفسير چې ليکوال يې مولوي عصام الدين احمد دی، داسې برېښي چې بشپړ تفسير دی، خو تر اوسه يې يواځې لومړۍ لس سپارې شته(رفيع، ۱۳۶۹ ل، ٦- ۸ مخونه).

د افغانستان د ملي آرشيف پښتو خطي نسخو کې دغه اثر شته چې د پاڼو شمېر يې (۵۴۷) دی(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۴۹ مخ).

د دغه تفسير لومړۍ پاره چې د پوهاند عبدالشکور رشاد په سمونه او تحشيې برابر شوی او نوم يې د «پښتو تفسير» ورکړی، د تفسير متن د کتاب له ۱۳ مخ څخه له يوې مخيزې مقدمې پيليږي چې تر حمد او ثناء وروسته په کې راغلي: وايي بنده عصام الدين احمد زوی د اعلم العلماء عزيز الله زوی د افضل الفضلاء عصمت الله چغتي چې توفيق غواړم له خدای مهربان، چې تفسير وښکوم دپاره د افغانان، په ژبه پښتو کوتاه اسان، اگر که لائق نه يم د تفسير د قرآن، کم علم، کم عمل گناه کار يم په ځان، توکل کړم په رحمان، گوندې رب يې کا اسان، چې نفع ترې واخلي مسلمان او سبب شي د بهېښت او د فضل د سبحان، وعليه الاعتماد والتکلان.

ورپسې د تفسير متن داسې پيل شوی دی:

سورة الفاتحة مكية وهي سبع آيات

بسم الله ابتدا کوم پنامه د خدای سبحان الرحمن چې روزي ورکوونکی دی و جمله روزي خوارانو، الرحيم او بښونکی دی د مؤمنانو موحدانو نه د کافرانو. د دوزخ ملائک دي نونس د بسم الله حرفونه هم دي نونس- هر چې يې ووايي په اخلاص، دی به شي له دوزخ لوري خلاص....(احمد، ۱۳۹۵ل، ۱۳- ۱۴ مخونه).

محمد گل کوهاتی يوه تصوفي منثوره رساله لري. دی څو نورې کوچنوټې رسالې هم لري چې منظومې او منثورې دي او هغه دا دي: شمايلنامه، فقرنامه او صوفي‌نامه. د ده په رسالو کې يوه منثوره رساله هم شته چې د نقشبنديې طريقې اصولو او لارښوونو ته په پام ځينې تصوفي مسألې بيانوي(زلمی هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۸۲ مخ). دا رساله يې په ۱۱۵٦هـ.ق کې کښلې ده، ځنګه چې دی ګڼې رسالې لري، ځينې به يې په ۱۱۵٦هـ.ق او ځينې به يې په ۱۱٦۷هـ.ق کال بشپړې کړې دي. د ليکنې روش يې زياتره روان دی، خو د دولسمې پېړۍ د ديني او عرفاني نثرونو رنګ او د ليکنې له روشونو پيروي په

کې له ورایه ښکاري. د دې رسالې د نثر نمونه دا ده: «د فقیر حضرت حاجي بهادر نقشبندي کوهاټی دی فرمایلي په شرح د مخزن الاسلام کې هسې رنګ ویلي، چې یو کامل دی، یو مکمل دی، کامل هغه دی چې هم له شریعت هم له طریقت هم له حقیقت آګاه وي، بیا یې هسې ویلي دي چې هم یې اثر وي په ذکر کې چې وجود د طالب په اسم ذات او په معنا اثبات کا او مکمل هغه دی چې له شریعت او طریقت عارف د ذات او د صفات وي...».

د کوهاټي د منثورو تصوفي نوشتو یوه خطي نسخه د پښتو اسلامیه کالج له پروفیسور پیر مسرت حسین شاه صاحب سره هم شته چې غوښتل یې دا متن تصحیح، تحشیه او تعلیق کړي او بیا یې په انګرېزي وژباړي او د دکتورا ډیزرټېشن په حیث یې وړاندې کړي. له بدهمرغه چې دی خپلې آرزو ته ونه رسېد او وفات شو. د محمد ګل کوهاټي د منثورو رسالو یوه رساله ۲۲ پاڼې د داتا ګنج بخش د کتابخانې په پښتو خطي نسخو کې هم شته(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۴۵۵، ۱۸۳ مخونه).

په احمدشاهي عصر (۱۱۶۰-۱۱۸۶هـ.ق) کې د پښتو نثر پرمختیا ته چې ځیر شو نو ویلی شو چې:

د دې پیر په نثرونو کې د الله تعالی د مبارکو نومونو یوه پښتو منثوره شرح شته چې د څوکنو د میا عمر صاحب د مرید او د څو منظومو آثارو د خاوند **نورمحمد** دی. دی د تاڼې د کلي اوسېدونکی و او په ۱۱۷۰هـ.ق کال یې د لوی خدای د نومونو شرح په پښتو نثر لیکلې ده چې د شرحې نمونه یې دا ده: یا حکیم: اې څښتن د حکمت چې هیڅ کار ستا او هیڅ څیز له نفع د بنده ګانو خالي نه دی....

د نورمحمد «*سماء حسنی*» دا شرح د پېښور آرشیف په خطي مجموعه کې خوند دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۸۴ مخ).

مولانا رکن الدین د احمدشاهي عصر عالم دی، د «قانون القرائت» په نوم تجویدي اثر یې په نظم دی، خو د قانون القرائت هغه متن چې له تفسیر افضلیه سره چاپ دی، وروستی قانون یې په پښتو نثر لیکل شوی دی(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۵۵۷، ۵۵۸ مخونه). د قانون القرائت منثورې برخې د تجوید قاعدې او قوانین دي چې (قانون در بیان ختم القرآن) نومیږي. دا اثر په ۱۱۷۳هـ.ق کال نظم شوی او وروسته په ډهلي کې چاپ شوی دی. د منثورې برخې یوه نمونه یې دا ده: «شماره د سورتونو چې څو په مکه کې راغلي دي او څو په مدینه کې او څو په شپه کې او څو په ورځ کې او څو په سفر کې او څو په کور کې، او څو په ژمي او څو په اوړي کې نزول د سورتونو په مرتبه مرتبه سره شوی دی». د قانون منثورې برخې د احمدشاهي عصر تر زیاترو دیني نثرونو ښې دي او رواني په کې لیدل کېږي(هېوادمل،

۱۴۰۳ل، ۱۸۸ مخ). «قانون القرائت» پښتور کې په ۱۸ مخونو کې(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۲۹ مخ) چاپ شوی دی.

د احمدشاهي عصر او د هغه د دربار علمي او ادبي شخص او عالم لیکوال **مولوي عبدالله** و چې په پښتو نثر یې «*فتاوای احمدشاهي*» کښلی چې د پښتو نثر لویه ذخیره په کې خوندي ده او د ځینو ديني او شرعي مهمو مسایلو شرحه ده. دا فتاوا په پیل کې ځینې منظومات هم لري. نوموړی چې د احمدشاه بابا د زمانې سره لیکوال او عالم دی، د احمدشاه بابا په وینا یې په پښتو نثر دغه ديني فتاوه لیکلې چې ديني او شرعي مسایل یې په کې په سره اسانه ژبه بیان کړي دي. د دې فتاوې په سر کې یو مناجات نعت او بیا د بادشاه صفت راغلی دی.

د دې فتاوا لومړی باب د زکات بیان دی، دوهم باب د روژې په باب دی، درېیم باب د حج په باره کې دی، بیا ورپسې د نکاح، بیعې، قربانۍ او جهاد په برخو کې غوره فقهي او ديني احکام بیان شوي دي. غرض دا چې احمدشاهي فتاوا په ټولو معاملات او فقهي احکامو شامله ده او په پښتو ژبه کې لویه علمي او مذهبي پانګه ده. د احمدشاهي فتاوې یوه قلمي نسخه په پېښور کې د فتح‌محمد خټک په کتابخانه کې خوندي ده چې په ۱۱۹۹هـ.ق کې لیکل شوې ده. دغه فتاوا په هند کې چاپ شوې هم ده چې یوه نسخه یې د پښتو ټولنې په کتابخانه کې موجوده ده(رښتین، ۱۳۷۲ل، ۹۸. ۱۰۰، ۱۰۱ مخونه). د دې فتاوې یوه خطي نسخه چې ۷۱۲ مخه ده په ۱۱۹۹هـ.ق کال کې لیکل شوې ده، د افغانستان ملي آرشیف په خطي مجموعه کې هم وه.

دغه اثر په ۱۳۲۱هـ.ق کال ۴۴۸ مخه په ډهلي کې د مولوي عبدالرحمن خلیل په پرمایښت هم چاپ شوی دی(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۴۵۸، ۱۸۵ مخونه) ؛ خو استاد رفیع وایي چې دا اثر په ۱۳۲۲ق کال په ۴۴۹ مخونو کې په مطبعه فاروقي ډهلي(رفیع، ۱۳۵۶ل، ۱۷۲ مخ) کې چاپ شوې ده.

د افغانستان ملي آرشیف پښتو خطي نسخو کې هم خوندي ده ده(نجرابي، ۱۴۰۲ ل، ۱۳۳ مخ).

د فتاوا د نثر لیکنې روش دا دی: «که سړي خپله بالغه لور و چاته ورکړه بې رضا د هغې – دا نکاح موقوف دی د دې تر اذنه پورې، که یې اذن وکړ روا دی او که یې ونه کړ روا نه دی. او که خپل بالغ زوی له یې ښځه په نکاح واخیسته دا نکاح هم موقوف دی»(رښتین، ۱۳۷۲ل، ۱۰۱ مخ). یا: «که روژه‌دار سړی درستې دانې د انګورو ونغري کفارت پر شته ک نشته؟ مشایخو ویلي دي چې ویه ګورو چې که له ډنډو سره نعردي [نغردي] وي کفاره نه اوړي...».

د ځينو پوهانو باور دا دی چې د دې فتاوې د عربي عباراتو په ترجمه کې يې پښتو جملې د عربي جملو له جوړښت سره سمې جوړې کړې دي، خو دا هم د ويلو ده چې د پښتو په پخوانيو منثورو فقهي او ديني کتابونو کې د فتاوای احمدشاهي نثر روان نثر دی، جملې يې پېچلې نه دي او ګڼې په کې ډېرې لږې ليدل کېږي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۸۵، ۱۸٦ مخونه).

د احمدشاهي عصر بل نثر ليکونکی **قاضي محمد غوث خانعلوم** و، د احمدشاه بابا الف‌نامه يې په پښتو نثر تشريح کړې ده. دا شرح د استاد عبدالشکور رشاد له مقدمې سره په ۱۳۵٦هـ.ش کال په کابل کې چاپ شوې ده(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۴٦ مخ).

په دې اړه راغلي چې د احمدشاه بابا د دويمې الفنامې د پای له خوا د يوې نيمګړې منثورې شرحې متن «*د احمد شاه بابا د اشعارو پښتو شرح*» (٦۴ مخه) په نامه د کندهار مجلې له‌خوا د پوهاند عبدالشکور رشاد له سريزې سره چاپ شوې ده او خطي نسخه يې ۵۷ پاڼې ده چې د افغانستان په ملي آرشيف کې خوندي وه. د دې شرحې مقدمه منظومه ده. د شرحې موجوده متن په پښتو نثر دی چې د بابا د الفنامې د هر بيت شرحه يې په کې کښلې ده، لکه دا بيت:

زړه زما بې مور و پلاره دی فاني و په لقا د ذات ژوندی هم تسلي و

زړه په نزد د علماوو د ظاهر عبادت له لحم صنوبري وجايب اسير نه دوه تجويفه لري يو له تجويفونو چې وجايب ايمن نه دی...».

دا نثر ډېر ګران دی، کړکچونه هم په کې شته. د دې شرحې په تأليف کې شارح د خپلو قولونو د پياوړتيا لپاره قرآني آيتونه، نبوي احاديث، دعاګانې، مقولې، دري او عربي بيتونه د استشهاد لپاره راوړي دي. په دې کې د بابا د ۵۴ بيتونو شرحه راغلې ده(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۸٦، ۱۸۷ مخونه).

ملا محمد غوث چې د اخوند ترکمان زوی و، د احمدشاهي عصر د علم، ادب او سياست له مشاهيرو څخه و. د دې کورنۍ اعلی مورث د اورنګزېب په وخت کې له «غوړه‌مرغه» (د کندهار جنوب شرق وادي) څخه پښور ته لاړ او د يوسفزيو په امازي کې مېشت شو. د اعليحضرت احمدشاه بابا په وخت کې د پښور قاضي و، تر ۱۱۸۰هـ.ق کال پورې ژوندی و. د ميرزای کلان منطق حاشيه او شرح الشرح يې پارسي او پښتو تأليف يې د اعليحضرت احمدشاه بابا د اتو تصوفي او عرفاني غزلو منثوره شرحه ده(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۵۱ مخ) چې د احمدشاه بابا پر ژوند يې بشپړه کړې ده.

د افغانستان ملي آرشيف پښتو خطي نسخو کې يې قلمي نسخه شته(نجرابي، ۱۴۰۲ل، ۱۲۵ مخ).

میا شرف ننگرهاری چې د احمدشاهي عصر شاعر او لیکوال دی، پر منظومو آثارو سربېره، په پښتو نثر د «*پښتو عروض*» په نوم اثر یې په هند کې کښلی دی. دا رساله د استاد ربښتین له څېړنو سره په ۱۳۴۴هـ.ش کال د پښتو ټولنې له‌خوا چاپ شوې ده، متن یې ۳۸ مخه دی، یوه سریزه او لس فصلونه لري. نومورې چې له کوم روش نه استفاده کړې ده، هغه په ځینو ډېرو محدودو ځایونو کې سجع هم لري. د لیکنې شېوه یې داسې ده: اشتر: شتر په لغت کې نقصان عیب دی او په اصطلاح کې اخیسته دي له جامه د مفاعلین چې فاعلن شي ورته پاتې دغه رکن اشتر سره یادیږي. د پښتو عروض نثر ځینې ژبنې کړکېچونه لري، خو په کومه موضوع چې دا نثر لیکل شوی، هغه موضوع هم د دې اثر د نثر په گرانۍ کې بې اغېزې نه برېښي، خو له دې سره هم موضوعات په کې مروړلي نه دي بیان شوي، بلکې وضاحت لري(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۸۷ مخ).

بله بېلگه یې: «په لغت کې دا سرعت تلوار کول دي، هر کله چې اسباب د ده غالب وو پر اوتاد په سرعت سره وایه شي ځکه نوم د ده سریع دی. له ابحارو شکسته وو یې دا اصل دی راغلی ځکه ما یې ترک مثلا کړ...» دا نثر په خپل ساختار کې د نورو ژبو د جملو بندیو اغېزې مني او د پښتو له هغو نثرونو سره لږ نزدېوالی ښیي چې ديني علماوو د منطق، میراث، تجوید او نورو علومو په ضابطو کې لیکلی دی. دا ډول نثرونو ته په ځینو څېړنو کې ملایي نثر هم ویل شوی دی(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۷۲، ۳۷۳ مخونه).

میا شرف چې د پښتو په ادبي تاریخ کې کوم لوی کار کړی، هغه په پښتو شعر کې د عربي عروض ښه تطبیق دی. دغه کتاب په دې برخه کې لومړی کتاب دی او د پښتو عروضو په برخه کې یې یوه کمي پوره کړې ده. د پښتو عروض نثر که څه هم علمي نثر دی، خو بیا هم په اسانه پښتو لیکل شوی دی. دا نثر د خیرالبیان له نثر سره نږدېوالی لري مگر د قافیې د تړلو خیال په کې نه دی ساتل شوی، یواځې د وزم او تول رنگ په کې شته دی. په دې نثر کې اضافي ترکیب د پخوانو کتابونو په شان د پارسي په څېر راځي، یعني مضاف له مضاف الیه نه دمخه راوړي(ربښتین، ۱۳۷۲ل، ۱۰۹، ۱۱۱ مخونه).

«*کیمیاي سعادت*» د امام غزالي د کیمیاي سعادت پښتو ترجمه نه ده چې پورته یې یادونه وشوه، بلکې دا رساله د **حضرت میا فقیر الله جلال‌آبادي** (۱۱۰۰- ۱۱۹۵هـ.ق) په درېیو معلومو پښتو رسالو کې یوه رساله ده چې منظومې او منثورې برخې لري. دا رساله د میا صاحب له ډېرو نورو پښتو رسالو سره یوځای چاپ شوې ده. د میا صاحب کیمیاي سعادت، اسماءالحسنی او فواید فقیرالله درې سره یوځای

چاپ شوې دي. د کيمياي سعادت تحقيقي متن زرين انځور تهيه کړی چې په ۱۳۶۷هـ.ش کال د افغانستان د اسلامي علومو د څېړنو له مرکزه خپور شوی دی.

په کيمياي سعادت کې دغه مطالب ميندل کېږي: لومړی لس دعاوې، نه نقشونه له خپلو منظومو اسنادو او خاصيتونو سره او د نوې مياشتې د کتلو ترتيب راغلی دی. تر دې وروسته د مزمل د سورې خاصيت بيا د جامو اغوستلو، نوکانو پرېکولو، سر خريېلو، د حضرت علي وصيتنامه، د جماعت د لمانځه او جومات ته د ننوتو د آدابو په باب مطالب په کې راغلي دي. د ميا صاحب د نثر ليکنې روش دا ډول دی: «نوې جامې چې څوک سکنې يا يې اغوندي، يا سر خريي يا سر وينځي، د شنې په ورځ که څوک نوې جامه اغوندي، له غمه له اندوه به خلاص وي، ولې هغه جامه به زر څېرلی شي...». دا نثر د دولسمې پېړۍ د زياترو نورو تعليمي او ديداکتيک نثرونو غوندې رواني لري(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۷۸، ۱۸۱، ۱۸۲ مخونه).

د ده د منثورو ټوټو جملې که څه هم لنډې دي او رواني هم په کې ليدل کېږي، مگر د ملايي نثر ليکنې اغېزې په کې له ورايه ښکاري، يعني دا چې جملې يې داسې اوږدې شوي دي چې د پښتو نثر ليکنې له عامې قاعدې څخه يو څه لېرې والی ښيي(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۴۱ مخ).

د دولسمې پېړۍ په دويمه نيمايي کې **نيازمحمد** نومي ديني عالم د «*خزانة العجايب نجيب خاني*» اثر کښلی دی.

د دې کتاب په خاتمه کې د مؤلف نوم نيازمحمد ښوول شوی، پلار يې آخوند ملا عبدالکريم دی، په اصل کې د باجوړ د بانډې و، خو وخت يې په هندوستان کې تېر کړی او د پښتانه نواب نجيب الدوله نجيب خان (۱۱۱۵ يا ۱۱۱۹- ۱۱۸۴هـ.ق) له درباره سره تړلی ديني عالم و، نو په همدې نيامت يې خپل کتاب د همدغه پښتانه نواب نامه ته منسوب کړی دی. د دې کتاب يوه معلومه ناقص‌الاول نسخه په پېښور آرشيف کې شته. د کتاب موجود متن په نثر دی، خو خاتمه يې په نظم ويلې ده. دا کتاب د ۱۱۷۳هـ.ق يا ۱۱۸۳هـ.ق کال تأليف بلل کېږي چې شېر څلوېښت بابه لري چې د څو بابونو نومونه يې دا دي: استنجاء، اودس، غسل، تيمم او کتاب الصلوة چې په څو بابونو وېشل شوی دی. د دې کتاب په تأليف کې مؤلف د شپېتو شاوخوا فقهي او ديني کتابونه کتلي دي. کتاب ټول شرعي او فقهي مسايل بيانوي او په پښتو نثر په يوې داسې موضوع کښل شوی چې د مؤلف په زمانه کې او تر دې دمخه په دې موضوع په نظم او نثر او مسجعاتو په لسګونو مستقل آثار او رسايل کښل شوي وو(هېوادمل،

۱۴۰۳ل، ۱۸۸، ۱۸۹ مخونه).

«خزانة العجايب نجيب‌خاني» چې ۸۷ پاڼې لري، له بيانونو يې ښکاري چې دا اثر يې د عامو پښتنو د پوهاوي لپاره ليکلی دی. د دين او دنيا مسايل يې د فقهي او شرعي احکامو او اصولو په رڼا کې په کې څېړلي دي. ښکاري داسې چې د نجيب خان له خوا د ټولو کړيو علماوو په ډله کې شامل و او هلته يې د شمالي هندوستان جلال آباد کې دا کتاب بشپړ کړی دی. دا کتاب په پښتو نثر دی، ځينې برخې يې نيمه منظوم دي او سجع لري، مګر د متن نثر يې نسبي روان دی، لکه دا ټوټه: «پر ظهيري کې دي ويلي چې که داخله کاندي ګوته په پوزه کې نور هغه سره شي پر وينو او يا نازل شي وينې له شپېلۍ د پوزې اودس مات شو او که وي داخله پر پوزه کې او بيرون ورځني نه شي هغه اودس نه ماتيږي»(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۵۶۸، ۵۶۹ مخونه).

ملا رحمت الله د ملا شفيع زوی د پښتو مذهبي نثرليکوال دی. د احمدشاه بابا په وخت کې يې ژوند کاوه. د هغه د مذهبي نثر رسالې چې د اخوند دروېزه له آثارو ترجمه شوي، د حافظ کبير د جنت‌الفردوس په يوې خطي نسخه کې ضم دي، ليدل شوې دي(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۱۹۰ مخ).

د پېښور په آرشيف کې د «*منثور جنت الفردوس*» کتاب دوې نسخې موجودې دي. په دې کتاب چې **عبدالکبير** نومي کومه مقدمه‌ګوتې ليکلې، ترې څرګنديږي چې د کتاب اصلي ليکوال نجم الدين د خپلو دوستانو په غوښتنه کښلی و، نوم يې پرې جنت الفردوس ايښی و او فصلونه يې يو دېرش وو. دا کتاب په عام ډول ځينې ديني لارښوونې او په ژوند کې د ځينو چارو ښېګڼې د ديني لارښوونو په رڼا کې راښيي. د دې کتاب د مقدمې نثر غالباً ترجمه نه ښکاري او مترجم په خپله ليکلی دی. نوره برخه يې د نجم الدين د جوړ کړي جنت الفردوس پښتو ترجمه ده. د ترجمې روش يې دا دی: «اشراق و هغه ته وايي چې نمر يوه نېزه قدر يا دوه نېزې قدر پورته شي، و دغه ته اشراق وايي. په کتاب کې وايي چې د اشراق نمونځ په درې پنځوس پيغمبران فرض و او پر مورږ مستحب دی. پيغمبران همېشه نه و کړی...». د عبدالکبير نثر د احمدشاهي عصر تر نورو ديني نثرونو ډېره روانې لري، ترجمه يې هم روانه ده او ليکلې مقدمه يې هم دومره کړکېچ نه لري. دا يو لارښودی کتاب دی چې د خلکو د ديني اړتياوو د ليرې کولو او هم پر دين د خلکو د پوهولو لپاره ترجمه شوی دی، خو دلته دا مسأله د سپينولو ده چې د دې پښتو منثور جنت الفردوس مترجم عبدالکبير، هغه د احمدشاهي عصر کثير الکلام ناظم او شاعر حافظ عبدالکبير نه دی چې منظوم جنت الفردوس، در المجالس، معجزات، دفع الفقر، قصه

تمیم انصاري، طوطي‌نامه او نور ډېر آثار لري [په دې اړه معلومات د دې رسالې د نظم په برخه کې شته]. د منثور جنت الفردوس د مقدمې له مطالعې سړي ته داسې کوم سند په لاس نه ورځي چې د منثور جنت الفردوس مترجم او حافظ عبدالکبیر پرې یو تن وبلل شي. د حافظ عبدالکبیر منظوم جنت الفردوس او د عبدالکبیر منثور جنت الفردوس سره توپیرونه لري.

د احمدشاهي عصر د پېر آثار زیاتره تصوفي، ديني او فقهي دي، دا ډول موضوعات په پښتو کې هغه وخت نوي نه وو، بلکې تر دې پېر دمخه ډېرو لیکوالو په دې موضوعاتو کې آثار کښلي او ترجمه کړي وو. د دې دوران په آثارو کې په موضوعي لحاظ ابتکاري اثر د میا شرف پښتو عروض دی چې په دې موضوع تر دې وخته دمخه مورِ بل اثر نه درلود(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۹۴، ۱۹۸ مخونه).

د **منیر** د کښلي او نظم کړي کتاب «*صراط المستقیم*» د دویم جلد مقدمه په پښتو مسجع نثر وه. د دې اثر د لومړي جلد یو بحث په روان پښتو نثر کښل شوی دی. ده دا کتاب د خټکو په ټیري کې د دولسمې پېړۍ په پای کې کښلی او نظم کړی دی، لکه چې ویلي یې دي:

په دې دهر کې چې دین دی غریب شوی دولسم صد دیارلسم ته قریب شوی

دا کتاب د دین د اساساتو په باب منظوم بیانونه لري چې نثر یوه ټوټه یې دا ده: «په کتاب د شیخ شیوخ شمس العارفین شهاب الدین سهروردي کې دا شان فرمایلي دي چې هر کس چې پس له نمانځه د فجر یو ځل د اسماء حسنی ختم کاندي زر نورونه به الله تعالی په هغه بنده له انوارو د معرفت او هدایت نازل کاندي»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱٦٦ مخ).

«*د قدوري پښتو منثوره ترجمه*» چې د حنفي فقهې د مشهور درسي کتاب «قدوري» پښتو ترجمه ده او مترجم یې د کندهار په معروف کې زوکړی او د هلمند په موسی کلا کې اوسېدلی **ملا گلاب آخوند علیزی**[1] دی. د دې ترجمې ځینې برخې عبدالقدیم پتیال پیدا کړې دي. په دې پاڼو کې د کتاب د شپږم باب، دیارلسم باب او د یو بل باب څو پاڼې خوندي دي. دا ترجمه له دې سریزې پیل شوې ښکاري: «ستاینه د هغه خالق چې لوی دی ډېر او بنده‌گانو خپلو ته ډېر ور ټېر. درود پر سیدنا محمد صلی الله علیه وسلم چې پیشوا او امام زمورِ او سلامونه پر صحابه کرامو همه...». دا ژباړه په دولسمه هجري پېړۍ کې د پښتنو ديني علماوو ترمنځ په مروج پښتو نثر شوې ده، نثر وضاحت لري مګر رواني

[1] د عبدالرؤف بېنوا تر نیکه و چې غالباً د دولسمې هجري پېړۍ په دوهمه نیمایي کې د معروف ولسوالۍ له علیزو څخه د هلمند موسی کلا ته تللی او مېشت شوی و.

يې ډېره نه ده، خو په څوارلسمه پېړۍ کې چې زمور په ديني مدارسو کې په کوم نثر د ديني علومو او نورو مروجو درسي نصابي کتابونو ضابطې کښل شوي، له دغو نثرونو د ملا ګلاب آخوند د دولسمې پېړۍ د قدوري د پښتو ترجمې نثر هم روان دی او هم ځينې ژبنۍ ښېګڼې لري(هېوادمل، ۱۹۳ مخ).
د يادولو ده چې ملا ګلاب اخوند د استاد عبدالرؤف بېنوا ټر نيکه دی.
«*قايد الانام الی بيت الحرام*» د يوه نامعلوم خو عالم مؤلف په روان نثر کښل شوی زور کتاب دی. د دې اثر دوې خطي نسخې معلومې دي چې متأسفانه دواړه يې د پيل له خوا نيمګړې دي او د کتاب تمهيدي برخه چې غالباً د مؤلف نوم په کې راځي، هغه په کې نشته. هغه نسخه يې چې د پېښور پوهنتون په کتابخانه کې محفوظه ده، ۳۰۸ مخه دی. بله نسخه يې د پېښور د پښتو اکېډيمۍ په کتابخانه کې هم شته چې ۲۰۶ مخونه لري او په ۱۱۷۶هـ.ق کال کښل شوې او په پای کې د کتاب نوم «قايد الانام الی بيت الحرام» راغلی دی. د دې کتاب محتويات د حج او د حج د مناسکو او حرمينو په باب معلومات دي او حاجيانو ته لارښوونې دي. د معلوماتو، اطلاعاتو او لارښوونو په ترڅ کې ځينې خوندور واړه واړه حکايتونه هم په کې راغلي دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۶۱، ۱۶۲ مخونه).
د دې اثر د مؤلف نوم تر اوسه لا څرګند شوی نه دی، خو منځپانګه يې ديني اړخ لري او هغه د اسلام د پنځم رکن حج په اړه معلومات دي.
فتح‌شاه د منظوماتو ترڅنګ منثور آثار هم لري چې له کلياتو سره يې ضميمه دی. د ده د کلياتو کومه نسخه چې موجوده ده، د ليکلو تاريخ يې ۱۱۹۸هـ.ق کال دی، دا تاريخ را ښيي چې فتح‌شاه به لږ تر لږه د دولسمې پېړۍ په حدودو کې ژوند کاوه. د نثر نمونه يې دا ده: «نقل دی چې بازيد قدس سره چې له فاني جهان ولاړ شه يو عالم په خوب ليده وې پوښته چې حق تعالی له تا سره څه وکړه، ورته يې وويل: ای کسه! هونبره عادت[1] د يوې وربشې قدر هم نه وه، هغه بزرګي د نيمې وربشې په تول مقدار نه ارزېده د څښتن درګاه د بې نيازۍ وې، هيڅوک دې په ځان غره نه شي چې ما هم څه وکړو، لا څه کوم...».
د دې کلياتو د بريتش لايبريري خطي نسخه د ديوان شکل نه لري، د بېلابېلو منظومو او منثورو مطالبو مجموعه ده، ځينې برخې يې يواځې منظومې او ځينې يواځې منثورې دي، بعضې نورې برخې په نظم و نثر دي، معنا دا چې د يوې رسالې څه برخې په نظم او څه په نثر دي. دا رسالې ټولې منظومې دي

[1] دا به «عبادت» وي.

که منثوري، عرفاني مضامين رانغاړي او د منثورو مطالبو په ترڅ کې يې ځينې حکايات هم په پښتو ژبه راوړي دي. عرفان يې د روښاني عرفاني لارې خوند و رنګ لري. د داتا ګنج بخش د کتابخانې په پښتو خطي نسخو کې د فتح‌شاه د آثارو يوه کوچنۍ مجموعه شته چې د پاڼو شمېر يې ۶۸ دی، پيل کې دري رساله ده چې د شيعي مذهب په باب خبرې لري، له ۴۲- ۶۸ پاڼو بله رساله ده چې پيل يې په پښتو نثر شوی، منظومات هم په کې شته خو د پای له خوا ناقصه ده(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۶۳ مخ).
د فتح‌شاه د رسالې محتوا عرفاني اړخ دي او تر ې ښکاري چې ليکوال يې په عرفاني مسايلو پوه شخص و.
آصف يوه مجموعه لري چې د ده په خپل خط په کې دوې رسالې راغلي، يوه يې منثوره رساله «نصيحت الملوک» او بله منظومه رساله «تحفة العقايد» نومېړي او له عربي يې پښتو ترجمه کړې ده.
«نصيحت الملوک» ښايي آصف په ۱۱۹۳هـ.ق کال ژباړلی وي چې دا په پښتو کې د يوه اجتماعي کتاب حيثيت لري. کوم وخت چې يې دا کتاب ترجمه کاوه، نو افغانانو خپل مستقل دولت درلود خو د دې دولت د فرهنګي بنسټونو د تقويې، حکامو او امراوو ته د نياو او رعاياوو د پالنې او د اداړې د چمونو ښووو لپاره ښايي آصف د دې کتاب ترجمه ضرور بللې وي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۶۴، ۱۶۵ مخونه).
«نصيحت الملوک» د يوې پارسي- دري رسالې پښتو ترجمه دچې د نثر بېلګه يې دا ده: «حکايت: يو له سلاطين پيشين په رعايت کې به يې د رعيت سستي کوله، همېشه به يې لښکر جفا په (دوی) سختي کوله، آخر الامر دښمن له هر طرف نموداري وکړه، سپاه رعيت په سبب د دل شکستګي چې يې له ده حاصل وه لا چاره مضطرب شول، بادشاه په لږ مدت کې ګرفتار په دست کې د دشمن شه». د نصيحت الملوک حکايات هم ډېر لنډ او د پند و حکمت خبرې او د فوايدو لارښوونې يې هم ډېر لنډ، خو مفاهيم يې جامع دي، ژر ذهن نشين کېږي د آصف منثورې نوشتې د هغه وخت د نثرنګارۍ روشونو ته په پام روان له لږ اغلاق سره نثر دي او د دې پېړۍ په علمي نثرونو کې هم د نګارش د شېوې او هم د موضوع د انتخاب له پلوه ډېر ارزښت لري(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۳۴۲، ۳۴۳، ۳۴۴، ۳۴۷ مخونه).
سره له دې چې آصف د يوه ژباړن په توګه مطرح دی، خو آثار يې عقيدوي او هم اجتماعي خواوې لري چې دغه ډول آثار د هغه وخت د اړتيا پر بنسټ ټولنې ته وړاندې شوي دي.
بايد وويل شي چې د «نصيحة الملوک» په نوم اثر امام محمد غزالي هم لري چې په ۵۰۳ هجري کال

کې يې ليکلی او د پاچاهۍ او دولتي چارو د اصولو، د شهزادهګانو د تعليم او روزنې او اسلامي اخلاقو په اړه دی (https://fa.wikipedia.org/wiki). دغه اثر د افغانستان د علومو اکاډمي د ژباړې مرکز غړي سليمان اسلامدوست پښتو ته ژباړلی او په ۲۴۶ مخونو کې په ۱۴۰۲ل کال کې چاپ شوی دی.

د هند په سيمو کې د پښتو ادبياتو د دويمې دورې د لومړي پراو زړی د لسمې هجري پيړۍ په پای کې زرغون شوی او د دولسمې پيړۍ تر دوهمې نيمايي پورې يې په دې سيمه کې انکشاف کړی او د ديارلسمې پيړۍ تر پايه يې خپل فرهنګي اثرات د هند پر پښتنو علماوو ساتلي دي. دا پراو د روښانيانو او آخوند دروېزه د ديني او فرهنګي حرکاتو تر اغېز لاندې په هند کې وده مومي(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۲۸۳ مخ).

نواب افضل خان عمرخېل (۱۱۸۳هـ.ق کال مړ) چې د نواب فاضل خان زوی او د هندوستان امير امرا و، د قرآن کريم يو تفسير يې په پښتو ترجمه کړی او د «*تفسير افضليه*» نوم يې پرې ايښی دی. دا تفسير په پښتو نثر دی او د نواب ځينې منظومات هم ورسره مل دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۳۴ مخ). د قرآن کريم د دې تفسير يوه بشپړه او يوه نيمګړې (څو محدودې وروستۍ پاڼې) د پېښور په پښتو اکېډيمۍ کې او اوه پاړې (له نهمې د پنځلسمې تر پايه) د رامپور په رضا لايبريري کې خوندي دي. د پښتو اکېډيمۍ نسخه د همدغې اکېډيمۍ له خوا په ۱۹۹۲م کال چاپ شوې هم ده. دا چې دا تفسير د چا دی؟ په دې اړه پراخ بحثونه شوي دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۸۹ مخ).

استاد بختانی کاږی، د هند د رامپور په رضا کتابخانه کې د قرآن شريف د پښتو تفسير يوه قلمي نسخه په درو ټوکونو کې خوندي ده. پوهاند رښتين دغه نسخه ليدلې ده او د هغو شعرونو له مخې چې هلته شته، مؤلف يې افضل الدوله افضل خان بولي.

د پوهاند رښتين د ليکنې له مخې، د پېښور په اکاډيمي کې د دغه تفسير يوه نسخه شته چې تفسير افضليه نومېږي او د مولانا عبدالقادر په نظر د حيدر آباد دکن د نواب افضل الدوله په وينا پښتو عالمانو په ۱۱۷۴هـ.ق کال کې ليکلی دی. که د رضا کتابخانې او د پېښور د پښتو اکاډيمۍ دا دوې قلمي نسخې د يوه کتاب وي او مؤلف يې يو تن وي، بيا نو د دواړو په باره کې او که ېېل ېېل کتابونه وي، بيا نو د رضا د کتابخانې د نسخې په باره کې د پوهاند رښتين دليل غوره ښکاري(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۸۵۹، ۸۶۰ مخونه).

د همدې بحثونو په رڼا کې استاد هېوادمل وايي، که چېرته تفسير افضل خان پښتو کړی وي، خو په

ترجمه کې به ورسره د عالمانو مشوره وه او په بياکتنه کې به علماوو مرسته ورسره کړې وي. له ځينو يادونو ښکاري چې د تفسير افضليه پښتو مترجم افضل الدوله افضل خان عمرخېل دی(هېوادمل.، ۱۴۰۳ل، ۱۹۱ مخ).

د افضل الدوله افضل خان د نسب شجره تر عمرخان رسي او د دغه عمر خان اولاده عمرخېل بلل کېږي او دا خلک په نسبي لحاظ مندړ دي(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۵۷۷ مخ). نوموړي دغه د قرآن عظيم دغه تفسير له پارسي ژبې په پښتو ژباړلی دی.

د افضل الدوله په فرهنګي کارونو کې د کميت په لحاظ ارزښتمن کار همدا د ده نثرونه دي چې تر اوه سوو زياتو مخونو کې د قرآن عظيم تفسير په پښتو ترجمه کړی دی. د دې تفسير د نثر شېوه دا ده: «صاحب د لبان او مفسران په دا دي چې ميزان عبارت له عدل دی، يعني د تلې مثال دی دپاره د محافظت د حساب او جزا د اعمال په راستۍ سره او جمهور په دې دي چې تله ده چې هغې لره ډنډۍ او دوه پلونه دي...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۹۲ مخ). د نثر بله ټوته يې: «په راد المسير کې يې ويلي دي چې مهر پرې کړی شوی و، يعني له هغو سپينو او په هغو باندې ټکي تور و او ځينې تور وي او هغو باندې ټکي سپين و، يا نوم د هر سړي چې په هغو باندې...». د ده منثورې توټې رواني نه لري، ترجمه يې هومره د يادونې وړ نه ده او څرګندې ښېګڼې نه لري. اما دا چې د هند د يوې سيمې يو نواب حاضريري او په خپله مورنۍ ژبه دومره لوی کار سرته رسوي، نو د مترجم موقف ته په توجه دا کار ارزښتمن ارزيابي کېږي(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۵۸۰، ۵۸۲ مخونه). د نسخې تر الحاقي بيتونو وروسته د افضل خان خپل منظومات خوندي دي چې په دې اړه معلومات په مخکيني بحث کې راغلي دي.

د يادولو ده چې ځينو څېړونکو دغه تفسير د مولانا رکن الدين بللی چې په (۱۱۷۰- ۱۱۷۱هـ. ق) کلونو کې يې ليکلی دی.

پورته د يوولسمې هجري پېړۍ کسان وځېړل شول، اوس همدغه ډول اشخاص په **دولسمه پېړۍ** کې څېړو:

ملا اختر په دولسمه هجري پېړۍ کې په کندهار کې اوسېده، د پښتو ژبې ليکوال او مؤلف و. د پښتنو په تاريخ کې يې مطالعه لرله، «*د پښتنو تاريخ*» يې اثر دی. انګرېز مستر بليو د «ملا اختر تاريخ» يادونه کوي.

مولانا میا بزرگ د دولسمې هجري پېړۍ عالم او لیکوال و. د باجوړ په «شوو» کې اوسېده، مدرس، لیکوال او د دیني علومو عالم و. په پښتو، عربي او پارسي ژبو پوهېده. «*یوسف زلیخا*» یې په ۱۱۸۲هـ.ق کال له پارسي څخه پښتو ته انتقال او مبسوطه شرحه یې پرې ولیکله چې د درسي متن حیثیت یې درلود. د سیمې دیني مدرسو کې یې تدریس کاوه(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۲۷، ۷۵ مخونه).

د داتا ګنج بخش د کتابخانې په پښتو خطي کتابونو کې یوه منثوره او منظومه مجموعه شته چې د منظومې برخې یوه رساله یې د «*نجابت د هزار مسایل نسخه*» ده او منثوره برخه یې درې مخه ده او پیل یې تر بسم الله وروسته داسې شوی دی: «باب دی چې ثابت دی په بیان کې د پېژندو د وریزو چې نېکي دي لا بدې دي دغه رنګ د حضرت علیه السلام نه نقل شوی دی، په هر کال کې څلوېښت ورځې بدې دي، باقي نورې نېکې دي». په دې رساله کې د هجري قمري تقویم د هرې میاشتې نېکې او بدې ورځې یې ښوولې دي. په بدو ورځو کې سفر، جامې څېرل، په جنګ کې ګډون، په هر بل کار پسې ورتګ ښه نه بولي. د میاشتو د نېکو او بدو ورځو د ښودلو روش یې دا دی: «ته یې زده‌کړه په میاشت د حسن حسین کې څلورم، لسم بدې دي، باقي نېکي دي او په میاشت د صفر کې اول ورځ، دویم بدې دي، باقي نېکې دي او په لومړۍ خور دویم درېیم بدې باقي نېکې دي». دا نثر د دوو منظومو رسالو په منځ کې خطاطي شوی دی، دا مجموعه ۱۲۰ پاڼې لري، د نثر لیکونکي نوم په دې نسخه کې نه دی ښکاره، په نثر کې د «ورځو» پر ځای د «وریزو» استعمال موږ ته ښیي چې لیکوال د کرلاڼیو پښتنو د لهجو تابع سړی دی، نثر یې روان دی، هیڅ ډول سکتې په کې نشته، رواني پرې غالبه ده او د دولسمې پېړۍ نثر ښکاري(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۴۱ مخ).

څه دپاسه دوه نیم سوه کاله وړاندې کندهار ښار ته د ږوب له شمال- کاکړستان څخه یو عالم او مدرس ملا را وکوچېد چې **ملا بابړ** نومېده او په خته مسه‌خېل کاکړ و، په کندهار ښار کې یې د تدریس حلقه جوړه کړه او په خلکو کې د درناوي وړ څښتن شو. د ده د ژوند په باب تفصیلي خبرې نه دي معلومې، خو تر ۱۱۹۳هـ.ق کال پورې د نومورې د ژوند زمانه یقیني ده، دا کال د تیمورشاه د پاچاهۍ شپږم کال دی.

د ملا بابړ د تألیفاتو په باب چا څه نه دي کښلي، خو د محمد معصوم هوتک د کندهار د کتابونو په خطي زېرمه کې د محمد محمود بن محمد د (لباب الاخبار) یوه نسخه خوندي ده چې د میر افضل خوګاني په قلم لیکل شوې ده، له دغه کتاب سره د امالي قصیده (عربي)، طریقه اسقاط (پښتو)،

شمايل حضرت محمد ﷺ او ابو المنتهي (عربي) هم ګڼلي وو. طريقه اسقاط چې په پښتو ليکل شوې، خای خای يې عربي عبارتونه او نقل قولونه درلودل او څرنګه چې دغه رساله د سر او پای له خوا نيمګړې وه، ځکه يې د مؤلف نوم معلوم نه و، د نوموړې رسالې مؤلف د ملا بابړ په قولونو استناد کړی او د (مولانا فاضل) په لقب يې ياد کړی او کښلي يې و: «....لما كان الاسقاط من امور الاهم والعظمة فقال مولانا فاضل الاخند ملا بابر اخند كاكري و طريق الاسقاط الميت على التفصيل....». له دې عبارت څخه څرګندیږي چې ملا بابړ د تأليفاتو څښتن و او تأليفات يې په خپل وخت کې ثقه او معتبر کتابونه وو چې نورو مؤلفينو يې قولونه د استناد په توګه نقلول(هوتک، ۱۳۹۸ل، ۱۰، ۱۱ مخ).

ابراهيم سواتی د دولسم هجري قرن له علماوو او مؤلفينو څخه و او د سوات د مشهور پېشوا او لوی بزرګ پير پرنده له اولادې څخه و. د ۱۲۰۰هـ.ق کال په حدودو کې ژوندی و(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۸ مخ). له حاجي ابراهيم سواتی په مسجع نثر دوه حکايتي اثره پاتې دي چې يوه د زقوم قصه ده او بله هم د سيف الملوک او بدیع جمالی قصه. دا قصې تر اوسه نه دي چاپ(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۷۰ مخ). استاد ربښتين ليکي چې حاجي ابراهيم يو روحاني مشر، ښه عالم او د پښتو ژبې ليکونکی و، په عربي ژبه هم ځينې کتابونه لري، خو په پښتو کې يې «*د زقوم پاچا کيسه*» او بله «*د سيف الملوک کيسه*» ليکلې ده(ربښتين،ن‌ن، ۱۷۳ مخ). ښاغلی اثر په خپل کتاب «تېر هېر شاعران» کې وايي: «ما د سوات د کمر کلي په يو زوړ غار کې د زقوم پاچا د قيصې يو څو پاڼې موندلې دي» او په خپل اثر کې يې د دغې کيسې يوه وړه نمونه رانقل کړې ده. د نثر نمونه يې دا ده: «درسته شپه ئې مصلحت د خپل زوی سره وکړ. زامنو ته يې دا وې چې: نه ديو دی نه پيری دی نه سړی دی، خلقه يې سپينه صفا کړه وار په وار. رنګ يې سور نوم يې علي دی، خوی يې درست د عزرائيل دی. خلقه يې رېږ مرېږ کړه په غورزي په نارې په نارې دي غرونه په لړزا شو، شنه مزري ځنې وېريږي په خپل غار. کـه رسـتم سـترام ژونـدی وي هيڅ حاجت به يې و ده و ته ونه کړ. هره ورځ يې خيالوي پروردګار. هسې تېغ يې دی په لاس کې چې تر هيڅ نه ودريږي خلقه يې رېږمريز کړ په غرزی په تنړهار»(افغاني، ۱۹٦۳م، ٦٦ مخ).

استاد روهي کاږي، د لندن پوهنتون د شرقي او افريقايي مطالعاتو د څانګې استاد پروفيسور ميکنزي پښتو ټولنې ته يوه عکاسي شوې قلمي نسخه اهداء کړې ده. دا نسخه د مانچسټر د جان ريلينډرز په کتابخانه کې خوندي ده او د عکاسي شوې نسخې له مخې يې اصلي نوم نه څرګندیږي. د کتاب په اخر کې له دې جملې څخه چې «بيچاره ابراهيم پښتو کړ» معلوميږي چې دا کتاب د ابراهيم نومي په

واسطه پښتو شوی دی او کاتب یې ملا صفي شاه نومیږي. د کتاب په وروستي مخ کې «کاتب الحروف ملا سفي شاه» کښل شوی دی او په لومړی صفحه کې یې له دې عبارت څخه «بتاریخ دهم ربیع الاول سنه ۱۲۶۲ هجري» داسې ښکاري چې موجوده نسخه به د همدې کال په حدودو کې استنساخ شوې وي. کتاب په مسجع نثر ترجمه شوی او دا خبره له احتمال نه لېرې ښکاري چې مترجم دې في البدیهه پښتو کړی او کاتب ته دې دیکته کړی وي. دا کتاب ۶۰ مخه دی. په دې کتاب کې د حضرت علي جنګونه له زقوم بادشاه سره بیان شوي دي، نو ښایي چې د کتاب نوم به «جنګنامه حضرت علي» یا کتاب «*زقوم بادشاه*» او یا د دې په شان کوم بل نوم وي. دا کتاب د پیر روښان پر سبک لیکل شوی دی، نثر یې مسجع او کله کله موزون هم دی، نو په دې لحاظ ورته نیم‌منظوم نثر ویلای شو. کتاب په دې الفاظو شروع کېږي: «یو روځ د مدینې په جمعیت کې رسول ناست وه جبرائیل لحق راغلی پر روی داره خدای سلام پر تا ویل پر بار بار». ټول کتاب په یوه قافیه نه دی لیکل شوی، دا پوره نه معلومیږي چې شاعر د قافیې له قحط سره مخامخ شوی دی او که د لوستونکو د ذوق او روحیې د رعایت لپاره یې قافیه بدله کړې ده. د کتاب موضوع د ادبیاتو د تاریخ لپاره تش د یوې موضوع په حیث قدر او ارزښت لري. سربېره پر دې په دې کتاب کې د ځینو نورو جنګنامو په شان اغراق او مبالغه لیدل کېږي. د دې کتاب لیکدود هم ډېره ابتدایي بڼه لري، مثلاً د «تواضع» کلمه د «توازع» په شکل لیکي، په مقابل کې پښتو «تپاک» د «تفاق» په بڼه لیکي(روهي، ۱۳۸۶ل، ۳۳۹، ۳۴۱، ۳۴۲ مخونه).

د «*سیف الملوک قصه*» قلمي نسخه د پښور په عجائب خانه کې ده. شروع یې داسې ده: «ابراهیم مط(؟) په شریعت کړه چې جنت لره ورځي لایمان دار ده، په وړنیۍ زمانه کې یو بادشاه وو راپیدا شه. د صورت نوم عاصم و، شهر مصر کلی مال په دردمنو زړونو زباد شه. رعیتونه یې ساتل ظلم یې نه کړ په هر لوري ادب ادیب و خو بې تپوس په هر لوري په هواد شه. چې بې زوی عمر یاد شه، بې فرزند بادشاهي په کار نه وه زړه یې بد شه، یوه ورځ یې خرقه واغوسته نامراد شه. امرکانان وزیران واړه ور روان شو چې بادشاه څکه ناشاد شه»(افغاني، ۱۹۶۳م، ۶۹ مخ).

نومورې سجعه لیکنه هم پاللې او په همدې خاطر استاد هېوادمل وایي، حاجي ابراهیم سواتي خپل مسجعات په دې روش کښلي دي: «یوه ورځ د مدینې په جماعت کې رسول ناست وه، جبرائیل له حقه راغی پر رویدار. په تعظیم یې ورته دا وی ای رسوله، خدای سلام پر تا ویلي په بار بار. (د زقوم له قصې

نه)». د نومورې مسجع آثار د پښتو د حکایتي مسجعاتو په مطالعه کې خپل ځای لري او د پښتو د حکایتي ژانر په څېړنو کې د هېرولو نه دی. د لیکنې روش یې له مخنیو مسجع‌نګارانو څخه ښکاره تفاوتونه نه لري(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۷۰ مخ).

په **دیارلسمه پېړۍ** کې هم ګڼ پښتو منثور آثار شته چې دیني علماوو لیکلي یا دا چې منځپانګه یې دیني او شرعي اړخونه لري چې لاندې یې یادونه کېږي.

شمس الدین غلجی دیني عالم او د پښتو مذهبي نثرلیکوال و. د دیارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې یې رسالې او کتابونه د شرعي مسایلو، تصوف، طریقت او حکمت په باب په پښتو نثر تألیف کړي دي(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۲۵۵ مخ). نومورې د دولسمې پېړۍ د اواخرو او د دیارلسمې پېړۍ په اوایلو کې د کندهار د میوند ولسوالۍ په کشک نخود کې اوسېدلی دی. د «*خلاصة المریدین، سراج الموتی، تحفة العابدین، [هدایة الاعمی]، مرحوم الموتی، مذهب نامه او رساله فرایض میراث*» په نومونو رسایل یې کښلي چې په دیني، شرعي، فقهي او حتی عرفاني مسایلو اړه پیدا کوي.

دی چې یو متصوف او فاضل لیکوال و، معلوم آثار یې ټول په پښتو ژبه دي(هوتک، ۱۳۹۵ل- الف، ۳مخ) چې دا دي:

«خلاصة المریدین» د عرفاني مقاماتو، منازلو او سیرونو په باب د کار مطالب لري.

د دې اثر د پاڼو شمېر ٦٥ او د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون کې یې شمېره ۲۱٦ ده. تصوف، د مریدانو لارښود، تزکیه نفس یې موضوع او په لومړیو دوو مخونو کې یې د یونان د فلاسفه‌وو د علم یادونه هم کړې ده. پیل تر بسم الله وروسته داسې دی: الحمد لله الذي اعز العلم الشریعة والطریقة في...(دوست، ۱۳۹۹ل، ۷۵، ۷٦ مخونه). دا اثر د میر حسین شاه په مقدمه او د بسم الله ځیرمن په مقابله، تصحیح او اهتمام د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي له خوا په ۱۳۴۴هـ.ش کال چاپ شوی دی. د دې کتاب د لیک وخت ۱۲۳٦هـ.ق کال دی. په عمومي توګه درې فصله او اتلس برخې لري. په دې فصلونو کې شمس الدین کوښښ کوي د طریقت لار ثابته کړي او حجابونه او انوار وښیي، د اولیاوو انواع تعیین او د دوی مراتب واضح کړي. نور مباحث هم لري.

شمس الدین د کتاب د انشاء لپاره مسجع نثر غوره کړی دی. که څه هم سبک یې تصنعي دی، اما ډېر اسان او روان لیکل شوی دی او هېڅ تعقید په کې نه لیدل کېږي. مؤلف نامأنوس عربي او پارسي الفاظ نه استعمالوي، ځکه چې ده دا کتاب د مبتدیانو لپاره لیکلی و او له دې امله عبارت روان او خالي له

تعقیده راوړي.

دا کتاب په کشک نخود کې چې د کندهار ښار او د هلمند د ناوې په منځ کې یوه منطقه ده، تألیف شوی دی(میر حسین شاه، ۱۳۴۴ل، الف، ب، ج مخونه). معصوم هوتک د دې اثر په اړه یوې تېروتنې ته اشاره لري وایي، د کتاب مؤلف په ناپامې سره شمس الدین کاکړ بلل شوی دی چې که احیاناً دویم وار چاپېده، دغه تېروتنه یې باید سهي شي(هوتک، ۱۳۹۵ل- الف، ۴ مخ).

استاد رښتین ویلي چې په خلاصة المریدین کې شمس الدین د وحدة الشهود او وحدة الوجود د اختلاف مسأله په ډېر ښه شکل حل کړې ده(هېوادمل، ۱۳۹۰ ل، ۲۷۱ مخ).

دا اثر له درېیو کرښو عربي مقدمې وروسته داسې پیل شوی دی:

«دا کتاب په نامه یاد خلاصة المریدین دی، په زبان افغان در بیان کړی شمس الدین دی، لکه دا حدیث چه ویلی زمورِ سید المرسلین دی، چه العلم علمان علم الابدان و علم الادیان و علم الابدان خیر من علم الادیان یعنې علم بدن افضل تر علم دین دی، چه روغ نه وي په بدن کښې له هغه چا پاته شوی علم دین دی، د بدن علم په دوه رنګه یاد شوی چه یو علم طبیبه دی او بل علم طریقت دی، د آدم زاد بدن روغ شوی له عناصر اربعه دی، یعنې خاک، آب آتش باد دی جمع کړی په قدرت کامله دی، یو له بله (دوی) ضدین عناصر اربعه دی»(شمس الدین، ۱۳۴۴ ل، ۱ مخ).

د خلاصة المریدین نثر روان او سلیس دی، خو سجع په کې مراعات شوې ده.

«سراج الموتی» هم د شمس الدین غلجي د پښتو په نیم منظوم نثر باندې یو دیني او مذهبي اثر دی، دیني او فقهي مسألې په کې بیان شوې دي. دا کتاب په دیارلسمې پېړۍ پورې اړه لري او د لیک ډول یې د لسمې او یوولسمې هجري پېړیو په کتار کې درېږي. د دې خبرې وجه دا ده چې په دیارلسمه پېړۍ کې د دیني موضوعاتو د لیکلو لپاره دغه سبک ښه او غوره ګڼل شوی دی، ځکه چې د وعظ او خطابې پر مهال په وزم او آهنګ ویل کېدی شي او په اورېدونکو ښه اثر کولی شي.

دا اثر د عبدالکریم عامر په زیار په ۲۰۱۱م کال د «پښتو ادبي غورځنګ، کوټه» له خوا چاپ شوی دی. د سراج الموتی یوه نسخه د هوتک په کتابخانه کې شته او پېژندنه یې په کچکول (۱/ ۲۷مخ) کې خوندي ده.

د سراج الموتی د نثر نمونه:

«پس له حمده له صلوة، زه شمس الدین وایم و تاته چې هر قول فعل د محمد علیه السلام سنت د

اسلام وینه، په خبرو په حدیث یې خلق بولینه. هر چند حدیثونه چې له بابه د امواتو رسول د خدای ویلي دینه، په دا کتاب (سراج الموتی) کې به یې شمس الدین دا بیان کړینه. یو سنت د اسلام پوښتنه د شناخته مریض دې کړینه. که یې څه هم دوست و دښمن وینه. دوې درې ورځې تر میان دې د شناخته مریض پوښتنه کړینه. او اول وار د مریض پوښتنه له سنتو په شمار وینه. دوباره یې مستحب هم یادوینه. بل په خوشبویی په خوش رویی په نېک نیت دې وري شینه، بل دې لږ ساعت ورته کښېنینه، بل زنګانه په برابر دې ناسته کړینه، شاوخوا دې نه ګورینه چې د مریض ګومان ونه شي چې دا زما کور عیال سهي کوینه، بل دې لاس د مریض په لاس کښې ونیسینه، پر تندي یا پر بل ځای د مریض دې لاس ایږدینه، نور دې دا سوال له مریضه وکړینه چې په څه شان دې مرض دی. باري څه شان دې مرض دی باري خدای دې اسانه کړینه». د دې نثر په ځینو جملو کې وزم هم شته او په پای کې د ترنم لپاره «نه» هم راوړل شوی دی چې په دې وجه په قافیه‌وال [مسجع] نثر کې شاملیږي(رښتین، ننن، ۱۷۷- ۱۷۸ مخونه).

«تحفة العابدین» هم د شمس الدین غلجي اثر دی. د دې رسالې یوه نسخه د معصوم هوتک په کتابتون کې شته چې بشپړه پېژندنه یې په کچکول (۱/ ۲۴مخ) اثر کې خوندي ده. هلته وایي: «...رساله د عبدالرحمن بن الیاس د تحفة العابدین لنډیز او ترجمه ده. لیکنه یې روانه او خوږه ده او داسې معلومیږي چې دا اثر دې هم د خلاصة المریدین په شان د لومړنیو زده‌کوونکو لپاره لیکل شوی وي»(هوتک، ۱۳۹۵ل- الف، ۵- ٦ مخونه).

دا اثر د نوموړي له یوه بل اثر (هدایة الاعمی) سره یوځای د محمد معصوم هوتک په سریزه او تحشیه ترتیب شوی او په کندهار کې په ۱۳۹۵ل کال چاپ شوی دی. دا چې دا کتاب ترجمه ده او که تألیف، په دې اړه معصوم هوتک د همدې کتاب په سریزه کې وضاحتونه لري. مؤلف د رسالې په پیل کې لیکي:

«تر بسم الله وروسته، الحمد جمله ثنا صفت چې ویلی شوی دی لا به ویله کیږي له ازله تر ابده خاصه خدای لره ثابته. چې بل څوک یې لایق نه دی نه به کیږي تر قیامته. والصلوة و السلام دي وي. بې شماره بلا نهایته. له ما بنده عاجز پر حضرت رسول چې پاک نوم یې محمد دی. په جمله و آدمیانو انبیاوو کې سرمد دی. هم پر آل هم پر اولاد هم پر اصحاب د ده دي صلوة رحمت وي. څو د میدان به د قیامت وي. شیخ عبدالرحمن بن الیاس تحفة العابدین کتاب جوړ کړی. په پښتو دی شمس الدین

کوتاه راوړی؛ غفلت مه کوه طالبه. که پر دین دې مینه ډېره ده غالبه؛ دوولس میاشتې خدای پیدا کړې په کال و سر کښې. بیا د هرې میاشتې عبادت شته د حدیثو په دفتر کښې»(غلجی، ۱۳۹۵ل، ۱۶ مخ).

رساله په دغو جملو پای ته رسېدلې ده: «له لسو کتابو مې دا کتاب جوړ کړی. په تحفة العابدین سره مې نوم باندې نومړی؛ دی پیشکش د عابدانو، د اصیل د بندیانو؛ هر چې ما په دعا یاد کړي. خدای دې شمار که له صالحانو؛ که نقصان وي پکښې شوی. د عالمانو په همت دی صحت شوی؛ حسد مه کړه حسد بد دی. حسد خوی د مومن نه دی خوی د دېو و دد دی؛ تمت تمام شد، کار من نظام شد»(غلجی، ۱۳۹۵ل، ۶۵ مخ).

معصوم هوتک لیکي: «د رسالې نثر د هغه وخت مروج نثر دی. جملې یې منظمې هماهنګ لري. زه په احتیاط سره دا حکم کوم چې که دغه رساله په عروضي لحاظ تقطیع شي، نو که ټوله رساله شعر نه وي، یوه برخه خو یې هرومرو شعر خیژي»(هوتک، ۱۳۹۵ل-الف، ٦ مخ). خو که د دې رسالې متن ته په ځیر وکتل شي، نو دا حکم به سخت شي چې هغه نظم یا شعر وبلل شي، ځکه نه یې د مسرو وزن سره همغږي لري او نه هم کومه ځانګړې قافیه تعقیبوي، خو د سجعې اطلاق پرې کېدای شي.

د شمس الدین بل اثر «هدایة الاعمی» دی چې د معصوم هوتک په کتابتون کې شته، هغه داسې معرفي کړی دی: هدایة الاعمی (ناقص الآخر)، لیکونکی یې شمس الدین غلجی دی، ژبه یې پښتو ده، د لیکلو نېټه یې نامعلومه ده، کاتب یې دوست محمد برېخ او د کتابت نېټه یې دوشنبه، ۲۰ میزان ۱۳۴۳ او قطع یې ۱۸* ۲۲ کې ده.

پیل: «تر بسم الله وروسته

اغاز کړم د رحمن رحیم پطمع. د میراث یو څو خبرې مې پښتو کړې سره جمع؛ هر څوک ومري مؤمنان تر هغه پورې چې نښخاوه نه شي. د مرده له ماله په مرده دې خرڅوینه. پس له هغې دې چې لیکي ورکاوه شي. دوهم چې پاته شي تر مړي. پس پور د مړي پرې کړي. دریم، وصیت دې له دریم وښ وکړي. هر چې پاته شي له واړو هغه مهال د وارثانو، له نیمکی ربع اتم وي، یا شپږم، یا دریم یا ثلثان وړي، دغه پس عصبه دي چې زیاتي د مړي مال وړي، که له فرض پاته نه شي، دی محروم غوندې ګوشمال وړي؛ میراث لږ، پو ئې ګرانه و ناپوه وته معمی دی، شمس الدین دی بیان کړی جوړ هدایت الاعمی دی(غلجی، ۱۳۹۵ل، ٦۸ مخ).

د دې اثر پیل په مسجع نثر شوی، خو وروسته چې د میراث یوه یوه مسأله بیان شوې، نو هلته سجع

کمرنګه شوې او نثر عام شوی دی، خو بیا هم ځینې ځایونه یې د سجعې رنګ لري، لکه:
«مسأله: ځلورمه حصه دوه تنه سره راغلي دي. اول، مېړه چې د ولد سره وي ځلورمه حصه میراث وړي د عورتې له ماله. دویم عورته ځلورمه حصه وړي د مېړه له ماله چې ولد ورسره نه وي. که یوه وي، یا څه زیاتې وي، دغه یو حکم لري. ځلورمه بخره عام د زوجینو په حق راغلې مقدّره. اتمه حصه خاص د عورتې په باب ده مقدّره»(غلجی، ۱۳۹۵ل، ۷۰ مخ).
«هدایة الاعمی» د میراث په مسایلو را څرخي.
استاد زلمي هېوادمل د شمس الدین غلجي په آثارو کې د «فرایض میراث» په نامه رساله معرفي کړې ده چې خطي نسخه یې ده د لیننګراد (اوس پترزبورګ) د ختیځ پوهنې د انستیتیوټ په کتابخانه کې په ۱۹۰۲ نمبر کې خوندي ښوولې او ده په خپله کتلې ده. د دغې رسالې پیل یې داسې ښوولی دی: «باب در بیان میراث، رسول د خدای ویلی دینه، چی علم فرایض په خپله زده کوینه، هم یی و بل ته وښینه، د نیم علم ثواب هغه چا لره وینه»(هېوادمل، ۱۳٦٦ل- ب، ۷ مخ).
خو معصوم هوتک وایي، دا رساله د ده د کتب‌خانې د هدایة الاعمی له څو پاڼو سره توپیر لري، خو موضوع او لیکونکی یې سره یو شان دی. دواړه د میراث بحثونه دي او د شمس الدین لیکنې دي. د لیکنې سبک یې هم یو دی. آیا شمس الدین غلجی د میراث په باب دوې رسالې لري؟ دا خبره سپېنېدل غواړي(هوتک، ۱۳۹۵ل- الف، ۱۳ مخ).
په هر حال، د فرایض میراث پورتنی متن چې را نقل شو، مسجع رنګ لري.
شمس الدین پر پورته آثارو سربېره «مرحوم الموتی» او «مذهب‌نامه» هم لري.
معصوم هوتک لیکي چې د «مرحوم الموتی» یادونه زلمي هېوادمل په «فرهنګ زبان و ادبیات پښتو» کې کړې ده، خو ده یې کومه نسخه نه ده کتلې(هوتک، ۱۳۹۵ل- الف، ۵ مخ). دا چې شمس الدین په مسجع نثر کې پوره لاس لري او دې برخې ته یې توجه کړې، نو ښایي «مرحوم الموتی» یې هم مسجع وي، خو په دې اړه قاطع حکم به د دې اثر له لیدو وروسته وشي.
«مذهب‌نامه» چې د تألیف کال یې ۱۲۰۰هـ.ق دی، د پاڼو شمېر یې ۳۹ او د لیننګراد [سن پیترزبورګ] د ختیځ‌پوهنې انستیتیوټ کې په ۲۴۴۸ شمېره خوندي ده، د کتاب په پیل کې د معراج او د حضرت محمد ﷺ په پیدایښت او بیا د پیغمبرانو په خصوص کې خبرې لري. ورپسې د زړو عاشقانو نومونه اخلي، د آدم درخانۍ یاد هم په کې شته. ورپسې د امام اعظم رحمه‌الله په مذهب او بیا د ده د شاګردانو

په باب مفصل بحث لري او د معتبرو کتابونو په استناد د دوی په باب ځینې حکایات هم راوړي. د کتاب په وروستیو برخو کې د ځینو تصوفي طریقو د مشایخو په باب هم څه خبرې لري. د موجودې نسخې په به مخ کې مذهب نامه پیل شوې ده. پیل (تر بسم الله وروسته):
«.... دا کتاب مذهب نامه. تألیف شوي په زره دوه سوه سنه.
اعلم ته زده کړه ای طالبه چې په شپه د معراج رسول د خدای عرض وکړ، چې یا الهي هغه ستا شفقت مکنونه او هم سبب نزول غفرالله لامة ضعیف محمدیه في نجات یوم القیامة کوم دی چې زما و زړګی شي په هغه تکیه ستا دوستي به زما پر امت ماته ښکاره شي، حق تعالی ویل حبیبه!» (هېوادمل، ۱۳٦٦ل-ب، ۱۷، ۱۸ مخونه).
د ده د آثارو جوړښت او د نثر د پرداخت شېوې ته چې سړی ګوري په عام ډول د ده نثرونه مسجع دي او د مسجع‌نګارانو په ډله کې درېږي، خو د ده په ځینو آثارو کې داسې نثرونه هم شته چې سجعې ته تمایل په کې لږ لیدل کېږي، لکه د مذهب نامې پیل(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۷۲ مخ).
مولوي احمد (ابو عبدالله احمد محدث) د عبدالله زوی د اشنغر د تنګي کلي اوسېدونکی و. د زېږېدو نېټه یې ۱۲٦۱هـ.ق (۱۸۴۵م) کال او وفات یې په ۱۳۰۱هـ.ق (۱۸۸۳م) کال واقع شوی دی. ده تر اتلس کلنۍ پورې بزګري کوله او وروسته له هغه یې د دیني علومو په زده‌کړه پیل وکړ. وایي چې په ډېره لږه موده کې یې صرف، نحو، فقه، حدیث او تفسیر ولوسته. په لوستلو کې دومره چالاک و چې بخاري شریف یې په یوه شپه ولوست او فهرست یې هم ور ترتیب کړ. مولوي صاحب برسېره پر اصلاحي او داخلي تبلیغاتو خارجي شاګردان هم روزلي او تربیه کړي دي، لکه جګسن، برډ. د ده دغه کار وروسته د پادري هیوز له دوستۍ نه شروع او د لومړۍ پلا لپاره د یورپینو د پښتو ښوونکی شو. مولوي صاحب د یوې سترې کتابخانې خاوند و(رشاد، ۱۳۹۱ل، ۷۷۱ مخ).
مولوي احمد د تنګي په خټه ابراهیم‌خېل محمدزی دی، د وخت له پیاوړو علماوو څخه یې زده‌کړه وکړه، صرف، نحوه، فقه، حدیث او تفسیر یې ولوستل. نوموړی د ښې حافظې او لوړ استعداد څښتن و او د کلونو مطالعه یې په میاشتو او اونیو کې وکړه او یو پیاوړی مدرس او خطیب شو. ده سلفي عقیده درلوده او ځایي ملایان ورسره وران وو، نو ځکه لومړی د مردان «تورو»، بیا د پېښور تهکال ته ولاړ، په پېښور کې له پادري هیوز سره آشنا او د انګرېزانو د پښتو استاد وټاکل شو او هغوی ته یې د پښتو درسي

متون تهيه کول. مولوي صاحب ته په چارسده کې دښمنانو زهر ورکړل، خو ده قاتل ونه ښود او د ۱۸۸۳م کال د اپريل په لسمه (۱۳۰۱هـ.ق) ۳۸ کلن وفات شو.

مولوي صاحب له وړوکوالي څخه د شعر څپانده استعداد درلود او بيا يې يو خوږ روان او له محاورې سره سم نثر دود کړ او د پښتو د هنري نثر له مؤسسينو څخه وګڼل شو. ده په لږ عمر کې ګڼ آثار وليکل او په پښتو نثر او نظم کې يې معياري آثار رامنځ ته کړل چې منثور آثار يې دا دي:

۸) *تاريخ د سلطان محمود غزنوي*: دا د سلطان محمود غزنوي په باب د «تاريخ فرشته» د يوې برخې ژباړه ده چې مولوي احمد په ۱۲۸۹هـ.ق کال په پښتو را اړولې چې په «کليد افغاني» کې خپره او هم په ځانګړې توګه په لاهور کې چاپ شوې ده.

۹) *ګنج پښتو*: دا د مولوي صاحب ډېر مهم کتاب دی چې د انګرېزانو د پښتو زده‌کړې لپاره يې په روانه او ساده پښتو کښلی، په ۱۸۷۲م کال په «کليد افغاني» کې خپور شوی او هم ځانګړي چاپ شوی دی چې ۴۹ لنډې او اوږدې انتباهي، اجتماعي او کومېډي کيسې په کې راغلې دي. زيات حکايتونه په کې د مولانا جلال الدين محمد بلخي له مثنوي معنوي څخه په پښتو ترجمه شوي دي

۱۰) *کليد افغاني* (د مرتب مرستيال): کليد افغاني د پښتو نثر او نظم غورچانګ دی چې پادري هيوز کړی خو مولوي احمد يې په راتولولو او د ځينو برخو په ليکلو کې زياته مرسته کړې چې لومړی ځل په ۱۸۷۲م کال چاپ شوی دی.

۱۱) *ديوان د عبدالرحمن*: دا د رحمان بابا د ديوان هغه لومړنی انتقادي متن دی چې مولوي احمد د ګڼو نسخو له مخې د هيوز تر ځارنې لاندې ترتيب کړی او په ۱۸۷۷م کال په لاهور کې چاپ شوی دی.

۱۲) د قرآن کريم ژباړه: مولوي احمد د قرآن کريم لومړی او دېرشمه پاره په روانه پښتو ژباړلې چې د ده تر مړينې وروسته په ۱۲۷۳هـ.ش (۱۸۹۴م) او ۱۲۷۴هـ.ش (۱۸۹۵م) کلونو کې خپرې شوې دي.

۱۳) *مفتاح القرآن*: د قرآن شريف يو فهرست او لارښود دی چې د کشف الآيات بڼه لري.

۱٤) *بيان او خاصيت د اسماءالله تعالی*.

۱۵) *مناجات محمد*.

۱۶)*علم غیب*: چې پر بدعتونو بحث لري.

۱۷)*آدم درخانی*: دا کیسه مولوي احمد په خوارې نثر لیکلې چې په پښتور کې ډاکټر خالد خان خټک په ځانګړې توګه چاپ کړې ده. پر دې سربېره ځینې نور آثار هم ده ته منسوب دي(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۸۶ل، ۲۴۲ مخ).

په روهي ادب کې راغلي چې مولوي احمد د *در و مرجان* په نامه هم یو کتاب لري چې لومړی وار په ۱۸۷۲م کې چاپ شوی دی(رشاد، ۱۳۹۱ل، ۷۷۲ مخ).

له آدم درخانی نه یوه نمونه: «نقل دی له میرو نه چې د آدم خان ډېر اشنا او خاص ملګری و چې په کوزه بازدره کې د یوسفزیو سردار و چې ډېر دولت یې لاره او نوم یې طاؤس خان و او د هغه سردار یوه لور وه چې د هغې نامه درخانی یادېدله».

د مولوي احمد لیکنه تر ترجمې ډېره بهتره ده او ترجمه یې بیا هم د دیارلسمې پیړۍ د نورو نثر لیکونکو د ترجمو په پرتله رواني ډېره لري(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۷۹ مخ). د پښتو نثر د دغه اصلاحي جریان سرلاري نثرونه د پښتو نثر لیکنې د دغه اصلاحي جریان بشپړوونکي او د پښتو هنري نثر لیکنې لپاره د اساس ارزښت لري. آدم خان درخانی کیسه یې په خوارې او روان نثر یې لیکلې ده او د مولوي احمد د نثر لیکنې ټول کمال د همدې کیسې په نثرونو کې لیدل کېږي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۷۵- ۲۷۶ مخونه).

مولوي احمد د پښتو له پیاوړو نثرلیکونکو څخه و. په پښتو نثرلیکنه کې یې ساده‌والي ته مخه کړه او د پښتو نثر په تاریخ کې د ساده‌لیکنې له مخکښانو څخه دی. د هغه د ادا او لیکنې طرز خوږ او ښکلی دی.

مولوي دوست محمد د ملا امیر کابلي زوی، اصلاً د غزني اندړ و، کورنۍ یې خوردکابل[1] ته راغلې وه او همدلته اوسېدله. په ۱۲۷۱هـ.ق کال له خپل تره سره ډهلي ته لاړ. زده‌کړې یې هورې وکړې، د ډېرو تألیفات څښتن و. د ټونک ریاست د شریعت او عدالت ناظم و. ټول عمر یې په تدریس، قضاء او تألیف کې تېر کړی دی. دی په ۱۳۲۸هـ.ق کال په ټونک کې ومړ او د موتي‌باغ په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۸۵ مخ). دغه پښتون عالم او مؤلف له ډهلي څخه د راجستان ایالت ټونک ریاست ته لاړ او د ټونک ریاست د شریعت او عدالت ناظم مقرر شو. یوه موده د اګرې

[1]«خوردکابل» د کابل د خاکجبار ولسوالۍ یو کلی دی.

مدرسې مدرس و، په پښتو ژبه يې پر «*آمدنامه*» سربېره «*ضابطه افغاني*» هم تأليف کړی دی(هېوادمل، ١٣٦٦ل، ٢٤٦ مخ).

د مولوي دوست محمد ټونکي «ضابطه افغاني» د پښتو زده‌کړې کتاب دی او تر ١٢٩٩هـ.ق کال دمخه کښل شوی دی. مؤلف دا کتاب د ټونک رياست د هغه وختني نايب نواب عبيدالله خان په غوښتنه کښلی او په اردو ژبه دی، مقدمه هم لري او په متن کې يې ګرامري ضوابط او په پای کې يې قاموسي برخې ور اچولې دي او له کتاب سره ضميمه يې د زده‌کوونکو د اشنايۍ لپاره څه پښتو منظوم او منثور متون هم ورسره راوړي دي. منثورې ټوټې يې ليکوال زياتره د اندړو په لهجه په روانه او خوږه پښتو د خبرو اترو په بڼه خوندي کړې دي. د پښتو نثر نمونه يې دا ده: «ځوانه ستړی مه شې مه خوارېږې، هرکله راشې، درشه نيکی، بېږ بېږ راشې، بېږ بېږ اوسې له کومه راغلې؟ له پېښاوره، چېرته ځې؟ دکن ته؟ څه کار دې دی؟ نوکرۍ پسې ځم. هلکه ډېر ښه وشو چې راغلې زما نوکر ته حاجت دی، ته زما نوکر شه....»(هېوادمل، ١۴٠٣ل، ٢٨٥ مخ).

د ده دغسې څو ټوټې نثرونه د دې ضابطې په پای کې راغلې دي. دا نثرونه روان او خوږه دي او د ليکوال لهجوي اثرات هم ځای ځای پرې خپل ځان څرګندوي. د ده د نثر بېلګې د ديارلسمې پېړۍ په اواخرو کې په هند کې د تعليمي اهدافو لرونکی عادي نثر ښې نمونې کېدای شي.

پر دې سربېره د ډهلي ملي موزيم د خطي نسخو په دستنويس فهرست کې يې د مولوي دوست محمد ټونکي «آمدنامه» هم ضبط کړې ده. د استاد رشاد د يوې ليکنې له مخې، له پښتو سره په ارتباط کې د ده يو اردو کتاب «ضابطه افغاني» نومېږي. درې نسخې يې شته دي. دا کتاب ګرامري او قاموسي برخې، يوه مقدمه او په پای کې د پښتو منظومو او منثورو متونو منتخبې ټوټې لري. د کتاب په مقدمه کې مؤلف د دې ضابطې د تأليف پر سببونو، د حروفو مخارجو، پښتو الفباء او نورو مسايلو بحث کړی دی. د دې ضابطې مقدمه ١٦ پاڼې ده او د نسخې د شپاړسمې پاڼې د ب مخ په وروستيو برخو کې سرته رسېدلې ده. په دې پسې جوخت په همدې مخ کې د اسماوو بيان شروع شوی چې د کتاب لومړی باب دی، پسې دوهم باب راغلی چې د مصادر متعارفه او افعال مشتقه عنوان ورکړل شوی دی. د دې باب بحثونه مؤلف د صرف کبير او صرف صغير تر سرليکونو لاندې سره بېل کړي دي. د صرف صغير د بحثونو يوه نمونه يې دا ده:

مصدر	معنی مصدر	ماضي استمراري	حال	مضارع	مستقبل	امر	نهي

الوتل اوړنا -الوت -الوزي -والوزي -وابه لوزي -وادې -لوزي - نه دې الوي

دويم باب يې د بيان لغت مختلفه عنوان لري. دا برخه د خطي نسخې په پنځو پاڼو کې ځای شوې ده او مردفه راغلې ده. په دې برخه کې لومړی پښتو لغت او بيا ترې لاندې اردو ترجمه کښل شوې ده. يوه نمونه يې داسې ده:

فصل الياء

يخ يخني ږيز ينه يوم يوازې يوستوی يور

تهنډ سردي ريچ کليچي پهاوړه اکيلا اکيلا ديوراني

په پای کې د کتاب خاتمه ده چې پښتو خبرې اترې او بيا د رحمان بابا، محمدي او تنها غزلې په کې راوړې دي.

په دې اثر کې مؤلف هره گرامري قاعده د ضابطې تر سرليک لاندې تشريح کړې ده. دا کتاب د هغو اردو ژبو لپاره چې يې پښتو زده کوله، ليکل شوی دی(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۶۰۲، ۶۰۳ مخونه). استاد هېوادمل کاږي، د غير ادبي آثارو په ترڅ کې داسې آثار شته چې ادبي ارزښت هم لري، لکه د مولوي دوست محمد ټونکي ځينې منثورې ټوټې چې د خپلې «ضابطه افغاني» په پای کې يې اچولې دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۳۵ مخ).

نوموړی چې په پښتو ژبه د ښکلي تعليمي پښتو نثر ليکوال و، قاضي عمراخان ټونکي د ده په تأليفاتو کې دغه آثار هم ښوولي دي:

۱- تحفة الاخلافي عصمت الانبياء، ۳۶۲ مخه، د لکهنو په علوي مطبعه کې چاپ شوی دی.

۲- عين الاصابة في رفع السبابة، دا کتاب پارسي دی، ۲۴ مخه په ۱۳۹۶ق کال د لکهنو په علوي مطبعه کې چاپ شوی دی.

۳- د عين العلم ترجمه په اردو ژبه.

۴- د نزهة الخواطر په حواله شرح هداية الحکمة(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۶۰۵، ۶۰۱ مخونه).

مولوي عبدالحق عليزی د ملا گلستان زوی د ملا گلاب لمسی، په ۱۲۰۸هـ.ق کال په کندهار کې زېږېدلی دی. د خپل وخت (استاد کل) و چې په ډېرو علومو کې يې ساری نه درلوده. دی يو مهال د خرقې شريفې د متولي وظيفه او د خرقې مبارکې د مسجد د جمعې خطبه او امامت دنده لرلې ده. په ډېره ښه توگه د خطابت، امامت او د متولي وظيفه يې سرته رسولې دي. د ديني علومو تدريس يې هم

کاوه. ډېر شاګردان او اخلاصمندان يې درلودل چې په شاګردانو کې يې د هډې ملا صاحب (ملا نجم الدين اخندزاده اندړ) او ملا عبدالحق الكوزی (مشهور په ملا اکا چې لوی عالم او صوفي و) نومونه د خاصې يادونې وړ دي. مولوي صاحب د خطابت، امامت او د متولي له وظيفې سره په څنګ کې قلم هم له لاسه نه دی غورځولی، ډېر کتابونه يې ليکلي چې مشهور يې دا دي:

۱- پر قاضي سلم باندې يې حاشيه ليکلې ده.

۲- په نحوه کې يې د مولانا جامي پر شرح عبدالغفور باندې شرحه ليکلې ده.

۳- پر بخاري باندې يې د کشاف البخاري په نامه په خپل قلم شرحه ليکلې ده.

۴- پر علم الاوقاف باندې يې پوره رساله ليکلې ده.

۵- د قرآن کريم د ۱۴ پارو تفسير.

٦- پر مطول حاشيه.

مولوي عبدالحق عليزی په ۱۲۸۸هـ.ق کال د اتيا کالو په عمر وفات شوی او د کندهار ښار په لويه هديره کې د عيدګاه شمالي لور ته ښخ دی(سلطاني، ۱۴۰۰ل، ۱۸، ۱۹ مخونه).

د ديارلسمې پېړۍ د دويمې نيمايي په مسجع‌ليکونکو کې د **سيدال فقير** نوم هم د هېرولو نه دی. دی د پاينده خان زوی او د سربلند خان لمسی دی چې د خټکو د رياست په ټېرې کې اوسېده، هملته د ۱۲٦۷هـ.ق کال شاوخوا مړ او خښ دی، نظمونه هم لري. د ده د يوه کښلي کتاب څو بابه پيدا شوي چې د اسلام د ستر پيغمبر په سيرت کې کښل شوی دی. د سيرت دغه کتاب ادبپوهانو نيم منظوم نثر ارزولی چې يوه نمونه يې دا ده: «د هجرت چې څلورم کال و راغلی. ابو سفيان او عکرمه ابوالعوري و غوښتلی. دوی وې ته که قول راکړې محمده مورږ به درشو چې له تانه به يو زموږه کېږي»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۷۲- ۲۷۳ مخونه).

د «پښتانه شعراء» څلورم ټوک ليکوال ليکي: سيدال فقير يا سيدال آخوند ديني عالم او فقير سړی و. د ديني علومو تدريس يې کاوه او کتابونه يې ليکل. څه يې خپل تصنفيات وو او څه يې د نورو آثارو کتابت کړی دی. د ده يو قلمي نيمګړی کتاب د «*سيرة النبي*» په باره کې ښاغلي اکمل اسدآبادي ليدلی چې هغه هم په مسجع نثر ليکل شوی. د سيدال فقير دوه بيتونه:

زه سيدال فقير چې ډېر ډېر ژاړم — له خدايه ديدار او شفاعت د رسول غواړم

الهي په برکت د پيغمبر — سيدال فقير کړه منور(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۱۰٦٦ مخ)

صفي الله ختک د دیارلسمې پېړۍ د اواخرو په مسجع نګارانو کې بل سړی دی چې ژوند یې د څوارلسمې پېړۍ تر اوایلو پورې یقیني دی. دی د افغانستان د دیارلسمې هجري پېړۍ د وروستیو کلونو متصوف عالم، شاعر او لیکوال و او د ژوند په وروستیو وختونو کې د پېښور په مسرۍ بانډه کې اوسېده. په پښتو، پارسي او عربي ژبو یې آثار کښلي دي، نظم الدرر في سلک السير (پارسي)، بدر منير (پښتو مثنوي)، مناقب حضرت‌جي (پښتو منظوم) او مخزن الاسرار (تر ډېره پښتو مسجع نثر) یې معلوم تألیفات دي(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۲۷۸ مخ). تر ټولو مهم کتاب یې «*مخزن الاسرار*» دی چې په پښتو نثر لیکل شوی دی.

دا اثر چې په ۱۲۷۹هـ.ق کال کې یې بشپړ کړی، یوه مقدمه، خاتمه او ۳۶ بابه لري. ځینې بابونه یې په روغ نظم او ځینې بابونه یې په مسجع نثر دي. دا کتاب په عام ډول د عرفاني مسایلو تشریح ته وقف دی او د کوټې د صاحبزاده عبدالحی په همت چاپ شوی دی. څلورم باب یې داسې شروع کېږي: «واورئ ای یارانو چې نیول د شیخ ضرور دي، هم حاجت ورته پېښېږي. چې یې شیخ په طریقت کې چرې نه وي دا شیخي یې د شیطان ورته رغېږي. چې یې پیر نه وي نیولی که هر څو په طریقت کې دی په خان باندې چالاک وي عبادت او زهد کاندي شب و روز مګر و خدای ته دی هرګز به نه رسیږي»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۷۳- ۲۷۴ مخونه).

په «فرهنګ ادبیات پښتو» اثر کې راغلي: مخزن الاسرار د اخلاقي او ديني مسایلو په باب کتاب دی. د «تېر هېر شاعران» مؤلف دغه کتاب پښتو نثر ګڼلی او د هغه اقتباسات یې د نثر په توګه تر اخیستي دي، خو استاد هېوادمل وایي چې د همدې اقتباسونو له مطالعې څرګندیږي چې دا کتاب منثور نه، بلکې منظوم دی(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۹۳ مخ). خو عبدالحلیم اثر لیکي، د مخزن الاسرار د لیکلو سبک د اخوند دروېزه د مخزن الاسلام په څېر دی چې نیم منظوم یا وزم‌وال او قافیه‌وال نثر ورته ویل کېږي. دا نثر تر ډېرې اندازې پورې روان او اسان دی او هر څوک پرې پوهیږي، خو د جملو په اخره کې یې د قافیې خیال ساتل شوی دی. ځینې جملې یې وزن او تول هم لري چې په دې وجه د نیم منظوم نثر په لړ کې شاملیږي. دغه نثر د معنا له مخې دیني او مذهبي نثر دی او په هره برخه کې د مخزن الاسلام په لار درومي. که څه هم په دیارلسمه پېړۍ کې د دغه نثر رواج له منځه تللی دی، خو بیا هم یو نیم دیني اثر په دغه سبک او ډول پیدا کېږي(رښتین،ن‌ن، ۲۱۱، ۲۱۲ مخونه).

داسې معلومیږي چې تر ۱۲۸۰هـ.ق پورې په پښتنو عالمانو کې د دیني علمونو د بیان لپاره هم هغه د

اخوند دروېزه طرز او اسلوب د بيان غوره ګڼل کېده او دغه يو کوټلی سبک و. د مخزن الاسرار د اثر بله بېلګه: «تواضع به دربيان کړم چې دغه يو لوی هنر دی. هر څوک چې تواضع کا اوچت کړي پاک اکبر دی. هر څوک چې تواضع کا په دارين کې به رفيع شي. وَمَا تَوَاضَعَ اَحَدٌ الا رَفَعَهُ اللهُ. دا حديث د پاک سرور دی. هر متواضع خدای ته شريف دی. متکبر رذيل خفيف دی. اَلشَّرَفُ التَّوَاضُعُ دا حديث دی ما ليدلی، که ستا هم په دې باور دی، اوچت مه کښېنه له نورو په مجلس کې له متکبرانو به محسوب شې....»(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۳۵ مخ).

ديارلسمې پېړۍ د اواخرو ليکوال **ملا لعل بېګ خراساني** په پښتو مسجع نثر *طبي رساله* کښلې چې د نثر نمونه يې دا ده: «دوران سر په دوه قسمه دی. زه به وايم علاج د هغه باد چې سر ګرځي هسې دور دی د باد. چې سر پورته کا پرېوځي. علاج ووايه لعل بېګه چې خوري رنځور پرې روغ شي، پاکيزه دې شپږ سير تخم د قاشقاش که په جوک تول شي، بيا څلور منه اوبه کړه او ايشوه تر هغه پورې چې يو اوګی (اوړی) پاتې شينه»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۷۴ مخ).

مراد علي صاحبزاده په ۱۲۲۳هـ.ق کال د ننګرهار د کامې ولسوالۍ په پښتني علمي او روحاني کورنۍ کې زېږېدلی دی[1]. د پلار نوم يې حضرت عبدالرحمن سيلاني دی چې په فقير صاحب شهرت لري. د مراد علي پلار پر علم او پوهې سربېره د روحانيت او طريقت د درجې څښتن هم و چې په خپله سيمه کې ورته خلک ډېر ارادت لري. مراد علي صاحبزاده د ځانګړي نبوغ او استعداد خاوند او له همدې امله د خپل پلار تر ځانګړې پاملرنې لاندې و. فقير صاحب خپل زوی ته سپارښتنه کړې وه چې د عربي ژبې په زده‌کړه کې ډېر زيار وباسي. هغه هم د پلار له سپارښتنې سره سم عربي ژبه زده کړه او د نورو زده‌کړو لپاره له عربي کتابتونو څخه د استفادې لار ورته هواره شوه. صاحبزاده له خپل پلار څخه پر زده‌کړې سربېره د سيمې له نورو متبحرو پوهانو، ديني عالمانو او متفکرينو څخه هم زده‌کړه ترلاسه کړه او په لږه موده کې يې د خپل وخت دوديز علوم، لکه صرف، نحو، منطق، حکمت، فقه، تفسير، ميراث، عروض، قافيه او بديع زده کړل.

---

[1] «د افغانستان مفاخر» اثر ليکوال بيا ليکلي چې مولانا مراد علي کاموي په بابا صاحب مشهور د افغانستان له لويو او مشهورو عالمانو څخه و چې په ۱۲۲۰هـ.ق / ۱۷۹۹م د پنجاب د سرګودې د خوشاب په نوشهره نومې سيمه کې زېږېدلی دی. (محمد ګل سعيد. د افغانستان مفاخر، دريم چاپ، مکتبه فاروقيه محله جنګي پېښور، ۱۳۹۴ل، ۳۱۵ مخ).

مراد علي پر خپلې مورنۍ پښتو ژبې سربېره په دري او عربي ژبو هم پوهېده او د قرآن کريم حافظ هم و. په پښتو، دري او عربي ژبو يې کتابونه ليکلي او په زړه‌پورې خواږه شعرونه يې هم ويلي دي. هغه خپل ټول ژوند د علم زده‌کړې، تدريس او د آثارو ليکلو ته ځانګړی کړی او ډېر ارزښتناک کتابونه يې ليکلي دي. صاحبزاده د ۷۴ کلونو په عمر د ۱۲۹۷هـ.ق کال د لومړۍ خور په دولسمه وفات شو او په کامه کې خاورو ته وسپارل شو(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۴۹۰ مخ). مولانا مراد په کوچنيوالي کې قرآن کريم ياد کړ او د لوړو زده‌کړو لپاره هندوستان ته لاړ. کله چې د ديني علومو له زده‌کړې فارغ شو، بېرته خپل کلي ته راغی او پاتې عمر يې د دين په خدمت او په تدريس کې تېر کړ. مولانا مراد علي په نظم او نثر کې لوی لاس درلود، په عربي، هندي، پښتو او پارسي ژبو يې شعرونه ويل، د ديني علومو په بېلابېلو برخو کې يې کتابونه ليکلي، د ټولو ليکل شويو کتابونو شمېر يې ۲۵ ته رسيږي(سعيد، ۱۳۹۴ل، ۳۱۶ مخ).

د هېواد دې نومیالي عالم او فاضل مفسر پښتو ژبې ته تلپاتې قلمي خدمتونو ته کړي دي چې دا دي:

الف) چاپ شوي آثار

۱-*تفسير يسير*: په دوو ټوکونو کې ليکل شوی دی. د لومړي ټوک په ليکلو يې د ۱۲۸۲هـ.ق په شوال مياشت کې شروع کړې ده او د ۱۲۹۱هـ.ق کال په روژې کې يې پای ته رسولی دی. د دويم ټوک په ليکلو يې د ۱۲۹۶هـ.ق په محرم مياشت کې پيل کړی دی. زوی يې صاحبزاده ليکلي چې د ځلورو وروستيو سيپارو کار لا پاتې و چې پلار يې وفات شو. د تفسير د دواړو ټوکونو ليکدود د افغانستان د اوسنۍ زمانې د پښتو معياري ليکدود سره لږ فرق لري. دغه تفسير څو ځله په پېښور او لاهور کې چاپ شوی دی(خدمتګار، ۱۳۸۲ل، ۱۱۱، ۱۱۲، ۱۱۳ مخونه). د پېښور د حميديه پريس چاپ يې ۹۹۲ مخونه لري(رفيع، ۱۳۵۶ل، ۲۲۹ مخ).

د آريانا دايرة المعارف دويم ټوک په ۷۶۸ مخ کې راغلي چې مولوي مراد علي په خپل تفسير کې کله کله د آيتونو د تشريح او تفسير په ترڅ کې خپل ويلي نظمونه هم راوړي. همداراز يې دري او عربي بيتونه هم راوړي دي.

صاحبزاده د تفسير يسير په اړه په عربي، دري او پښتو نظم کړی چې پښتو برخه يې په لاندې ډول ده:

پاڅېره ای مراده چې شپېتم دې شو دا کال	پنجې دې کړه مضبوطې په تفسير او په قرآن
ښايي چې دې دا سعي که مقبوله کردګار	خلعت دې مغفرت که در په غاړه په رضوان

کوتاه وايه الفاظ چې اسان شي په هر چا　　تقرير کوه واضح چې بهره‌مند شي طالبان

(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۲ل، ۴۹۰ مخ)

استاد ربښتين وايي، صاحبزاده لومړنی پښتون دی چې په پښتو ژبه يې د ټول قرآن تفسير ليکلی دی(ربښتين، ۱۳۹۱ل، ۴۱۸، ۴۱۹ مخونه).

بختانی خدمتګار د «تفسير يسير» نثر ته په اشارې ليکي: د تفسير يسير نثر د پښتو ليکنې له مخه يو کمی لري، هغه دا چې د کلام جوړښتونه يا نحوي ترکيبونه يې زياتره د عربي ژبې تر تأثير لاندې دي. دا لا له پخوا نه د مراد علي صاحبزاده تر زمانې او ان تر اوسه پورې په ديني نثر کې دود دی. ځينې کسان دې ته «ملايي نثر» وايي. صاحبزاده خو هم لوی ملا و. ملايانو او طالبانو ته يې تفسير ليکلی دی. د دې تفسير اساسي لوستونکي د ديني علومو استادان او شاګردان دي، مګر له دې سره هم د مفسر کمال دا دی چې ګويا عامو لوستونکو ته يې هم توجه ساتلې ده.

ملايي ژبه اصلاً د ديني احتياط په اثر منځ ته راغلې ده. د ادبي، اجتماعي او ژورنالستي آثارو په ترجمه کې کېدای شي چې مترجم له يوې ژبې نه بلې ته مطلب انتقال کړي او د ټکي په ټکي (تحت اللفظ) ترجمې محدود چوکاټ مات کړي، په تېره بيا په ادبي آثارو او په اخص ډول په شعر کې ازاده ترجمه عامه ده، مګر په ديني مطالبو کې زياتره مترجمان احتياط کوي. د قانون هم دغه قانون دی، خو په يو توپير سره، هغه دا چې په ديني ترجمه کې مترجم له اخروي او دنيوي مؤاخذې نه ځان ساتي او په قانون کې يواځې د اصل او ترجمې د پوره تطابق د قانون د عمل د ساحې د مسؤوليت په حدودو کې رعايت کېږي، خو د ترجمې په عملي ډګر کې معذرت يو شان دی او دغسې احتياط دغسې ژبه منځ ته راولي. کېدی شي چې دا رنګ احتياط کله ناکله د «مضر احتياط» حد ته هم ورسيږي او «د اصل او ترجمې پوره تطابق» پر ځای د موضوع په پوهېدنه کې پوره اغلاق او ابهام پيدا شي. په هر صورت، ديني ترجمې تر اوسه دغسې راغلې دي(خدمتګار، ۱۳۸۲ل، ۱۳۴- ۱۳۵ مخونه).

۲- *صلوتيه*: دا هغه رساله ده چې په هغې کې په عربي، پارسي او پښتو ژبو د لمانځه د عباراتو لغوي څېړنه او ترجمه شوې ده. هغه نسخه چې عبدالله بختاني ليدلې، وايي چې په ۱۳۰۷هـ.ق (۱۸۸۹م) کال په پېښور کې په ۳۲ مخونو کې چاپ شوې ده او درې برخې لري: اوله برخه په عربي ژبه د لمانځه د الفاظو ګرامري او لغوي تشريح ده. دوهمه برخه په پارسي نظم د لمانځه د عباراتو ترجمه ده او دريمه برخه په پښتو نثر د لمانځه د عباراتو ترجمه ده. د دې رسالې د پښتو برخې سبک د تفسير يسير غوندې

دی. معلومیږي چې دا کتاب د فقهې په علم کې لیکل شوی دی.

۳-*الف‌نامه* (خدمتګار، ۱۳۸۲ل، ۱۱۳، ۱۱۴ مخونه).

ب) هغه قلمي آثار چې استاد بختاني لیدلي:

۴-*صنجاني في حل صیغ زنجاني*: د عربي صرف په موضوع کې په عربي ژبه رساله ده او د عربي د مشهور درسي کتاب (زنجاني) شرح ده. د دغه کتاب یوه قلمي نسخه د کامې مولوي محبوب الهي سره ده او په ۱۲۸٦هـ.ق کال کې لیکل شوې ده. دا رساله ۳۱ پاڼې لري چې د سر له طرف نه پوره ده او د آخر له طرف نه یې پاڼې لوېدلې دي.

۵-*تحفة الابرار في احادیث النبي المختار*: دا رساله د حدیث د اصولو په باره کې په عربي ژبه په شپږو پاڼو کې په خپله د مؤلف په قلم په ۱۲۹۵هـ.ق کال لیکل شوې ده. درې فصلونه او یوه خاتمه لري.

٦-*د اعلال، ادغام او تخفیف رساله* (منظومه پارسي).

۷-*د اختر خطبې*: د لوی او واړه اختر د لمونځونو خطبې په عربي او پارسي نظم او نثر په ۱۳ پاڼو کې په خپله د مؤلف په قلم په ۱۲۸۷هـ.ق کال کې لیکل شوې دي.

۸-*غزلیات او اشعار*.

ج) د مراد علي صاحبزاده د یو لړ آثارو پته د هغه د زوی محمد صاحبزاده د «اکسیر القلوب» له مخې لګېږي. هغه دا دي:

۹-*میزان الشعر*: په عربي ژبه د عروضو او قافیې په باب مشهور اثر دی.

۱۰-*واجبیه (منظومه)*.

۱۱-*وافیه في حل ابحاث شافیه*: د عربي صرف په موضوع کې.

۱۲-*مرادیه*: په عربي نحو کې د ابن حاجب د (کافیه) نومي کتاب په سبک.

۱۳-*پارسي منظومه کافیه*.

۱۵-*تراثیه*: په پارسي نثر د (ارثیه) شرح، د میراث په باره کې.

۱٦-*منامیه*: په عربي ژبه د لمانځه، روژې، حج او زکات د حقیقت په باره کې.

۱۷-*نصحیه*: په عربي ژبه د نصیحت رساله.

۱۸-*مختصر المرآة*: په تصوف کې د حضرت امام حسین د «مرآة العارفین» له رسالې نه اختصار او انتخاب.

۱۹-*نخبة الارشاد*: د اخوند دروېزه له «ارشاد المريدين» نه انتخاب. دا رساله نيمګړې پاتې ده.
۲۰-*رساله مراتب وجود*: په پارسي ژبه د تصوف په موضوع کې.
۲۱-*رساله قضایای منطق*: په عربي ژبه د منطق د قضيو په باره کې.
۲۲-*مريح الارواح*: په پارسي ژبه د فقير صاحب عبدالرحمن السيلاني د ژوندانه د سوانحو په باره کې.
۲۳-*قصیده بدریه (منظومه)*.

د) د مراد علي صاحب د دغو دوو لاندې آثارو په باره کې د خلکو په خولو کې روايت موجود دی او د «پښتانه شعراء» کتاب هم ورته اشاره کړې ده:

۲۴-*د پښتو تهجي*: د ابجد خوانۍ نوې لار.

۲۵-*پښتو صرف میر*: په پښتو ژبه د عربي صرف د زده کولو ډېره اسانه طريقه(خدمتګار، ۱۳۸۲ل، ۱۱۴، ۱۱۵، ۱۱۷- ۱۲۰ مخونه).

د مراد علي صاحبزاده ځينې آثار بشپړ په پښتو دي، لکه تفسير يسير او پښتو صرف مير، ځينې يې له نورو ژبو سره په ګډه ليکل شوي، لکه: صلوتية. نوموړي د خپلو آثارو له لارې د پښتو ترځنګ په نورو ژبو خدمت کړی او هم يې د قرآن کريم په تفسير کې پوره ونډه لرلې ده.

د مراد علي پر منظومو آثارو په تېره برخه کې بحث شوی دی.

رضوان الله رضوان د بادشاه ګل زوی د هوتي مردان اوسېدونکی و، په قبيله ماماخېل و، د يوناني طب عالم او حکيم و. په عربي، پارسي او اردو پوهېده. يو کتاب يې «*د مجربات اکسیر*» په نوم ليکلی چې له «طب بشير» نوم اردو کتاب نه يې ترجمه کړی دی. د سوات د باباجي شيخ عبدالغفور مريد و. رضوان په ديني علومو کې د فقهې او اصول الفقه ښه عالم و، په ګڼو علمي بحثونو کې يې برخه اخيستې ده او په دغه زمانه کې چې د مختلفو ديني مسألو کومې رسالې او فتوې چاپ شوې دي، په هغې کې د ده مهرونه شته دي. تر ۱۳۰۳هـ.ق کال پورې د ده ژوند يقيني دی چې په همدې کال کې يې خپل کتاب (*طب اکسیر*) تأليف کړی دی، نو ويلی شو چې رضوان د ديارلسمې هجري پېړۍ د وروستۍ زمانې د پښتو ژبې نثرليکونکی او شاعر دی. نثر يې ساده، سليس او روان دی او شعرونه يې ښه دي. د نثر نمونه يې: واضحه دِ وي چې مراد له علاج نه دفع کول د سبب د بېماری دي او دا امر موقوف دی په تشخيص پورې، يعني او طلب د سبب د مرض دی، پس له هغې موافق له هغې مرض سره علاج کول دي....(افغاني، ۱۹۶۳م، ۲۳۰ مخ)

مولوي نورمحمد نوري د کندهار له نومیالیو علماوو، لیکوالو، شاعرانو او ادیبانو څخه و چې په اصل کې هوتک دی. د زېږېدو او مړینې نېټه او مقبره یې نه ده معلومه. نوموړی د امیر شېر علي خان دربار ته نږدې سړی او د امیر ډېر زیات درناوی یې کاوه(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۷ل، ۱۴۲ مخ). د ده په باب د ټولو داخلي او خارجي منابعو له مطالعې ښکاري چې نوموړی پر پښتو، دري، عربي، سندهي، اردو او انګریزي ژبو پوهېده. پر دې سربېره مؤرخ، ګرامریست او خطاط هم دی(هېوادمل، ۱۳۹٦ل، ۴۴۹ مخ). نوري هوتک ګرځند سړی و، هند یې تر پښو کښلی دی، لندن ته هم تللی دی. د تحفة الامیر د تألیف د ۱۲۸۰ کال پسرلی او دوبی یې په پنجاب کې تېر کړی او بیا کابل ته راغلی او د امیر شېرعلي خان په حضور مشرف شوی دی چې غالباً منی به یې بیا په کابل کې و. د ده په مؤلفاتو کې دوه کتابه څرګند دي:

۱-*ګلشن امارت*: دا تاریخي کتاب په ۱۲۸۷هـ.ق کال په پارسي لیکل شوی دی. د امیر شېر علي‌خان د وړکتوب، ځوانۍ، شهزادګۍ، لومړۍ پاچاهۍ او دوهمې پاچاهۍ د دوو کالو حالات په کې درج دي. په ۱۳۳۵هـ.ش کال د تاریخ انجمن له خوا کابل کې چاپ شو او ۱۹۹ مخه لري(رشاد، ۱۳۹۱ل، ۷۸۳ مخ). دغه تاریخي کتاب لومړی په ۱۳۳۳هـ.ش کال پرله‌پسې په آریانا مجله کې او بیا د مستقل اثر په بڼه د افغانستان د تاریخ ټولنې له خوا خپور شوی دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۷ل، ۱۴۲ مخ).

۲-*تحفة الامیر*: دا کتاب د پښتو ګرامر په باب په پارسي ژبه په ۱۲۸۰هـ.ق کال لیکل شوی دی. ۲۴۰ مخه لري، د پښتو صرف و نحوې په باب عالمانه او مدققانه څېړنه په کې شوې ده او د پښتو په باب په لیکل شویو آثارو کې نفیس اثر ګڼل کېږي(رشاد، ۱۳۹۱ل، ۷۸۳ مخ). په دې اثر کې چې د پښتو ګرامر دی، یو لړ کیسې هم بیان شوې دي.

په تحفة الامیر کې د نورمحمد افغان د پښتو نثر نمونې هم خوندي دي، لکه: «یوه بدرنګه بدخویه ښځه رنځوره شوه، و مېړه ته یې ووې که زه مړ شم ته به څرنګ ژوندون کوې؟ مېړه یې ووې که ته مړه شوې، زه به څه ښه ژوند کوم»(هېوادمل، ۱۳۹٦ل، ۴۵۱ مخ).

«غنچه‌روه» د ده په آثارو کې یاد شوی او تر اوسه نه دی چاپ شوی، ۲۴۰ مخونه لري، نثر یې ساده او روان دی(آریانا دایرة المعارف، ۱۳۹۷ل، ۱۴۲ مخ). د «غنچه روه» یوه قلمي نسخه د لندن کتابخانې په انډیا آفس کتابتون کې خوندي ده، دا پښتو ګرامر دی چې په پارسي ژبه لیکل شوی دی(سنګروال، ۱۳۸۹ل، ۸٦ مخ). خطي نسخه یې ۱٦٦ مخه دی(هیوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱۴۸ مخ). خو معصوم هوتک

وايي، د ميکينزي په فهرست کې د «غنچه روه» په نامه يوه نسخه شته چې د څېړنيوه زلمي هېوادمل د څېړنې له مخې، «غنچه روه» او «تحفة الامير» د يوه کتاب دوه بېلې خطي نسخې دي(هوتک، ۱۳۸۴ل، ۱۳۷ مخ).

همدا ده چې هېوادمل کاږي، مولوي نورمحمد نوري افغان په ۱۲۸۰هـ.ق کې د «غنچه روه» يا «تحفة الامير» په نامه پښتو ګرامر ليکلی چې تر اوسه نه دی چاپ شوی. په دې کتاب کې د ده ځينې پښتو نثرونه هم شته، د دې نثر يو ټوکر دا دی: «په سنه يو زر دوه اتيا هجري کې سردار محمد امين خان حق تعالی دې عفوه د تقصيراتو ورته وکړي، حاکم د قندهار و. محرر د دې رسالې چې تقريباً يوه شپه په خدمت حاضر و. پس له طول د مکالمې وفرمايله چې په دا هومره سياحت کې که دې څه له عجايبو ليدلي دي په عرض يې ورسوه...».

د نوري دا نثر د ديارلسمې پېړۍ له معمولو نثرونو څخه لږ پرمختللی، اما د ده پرمختللي او د خلکو محاورې ته لنډ نثرونه هغه دي چې يې د «غنچه روه» په پای کې ليکلي دي، دا واړه واړه حکايتونه دي چې د خلکو له فولکلوره اخيستل شوي دي، لکه: «کوم لځ خوار و توانګر ته ووې، که زه دې پر وره مړ شم څه به مې کړې؟ توانګر ووې کفن به دې وکړم، خوار ورته وويل يو قميص اوس راکړه چې مړ شم بې فنه مې ښخ کړه»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۷۸ مخ).

۳- د *افغانستان تاريخ*: د لندن په انډيا افيس کې يې يوه قلمي نسخه ضبط ده. دا اثر تر اوسه نه دی چاپ، خطي نسخه يې د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کتابخانه کې ساتله کېږي (منابعو پېژندنه او ارزيابي: ۷۹ مخ)(رشاد، ۱۳۹۱ل، ۷۸۳، ۷۸۴ مخونه). ما چې وکتل په (منابعو پېژندنه او ارزيابي) ۷۹ مخ کې د نورمحمد نوري د تحفة الامير کتاب په باب پورتنۍ خبره چې خطي نسخه يې د اکاډمۍ کتابخانه کې شته، راغلې ده.

سربېره پر دې نوري د خطاطي په فن کې هم برلاسی و او په ۱۲۷۲هـ.ق کال يې «تاريخ مرصع» د جورج راورټي لپاره خطاطي کړی دی. همدارنګه د عبدالقادر خان خټک د ګلدستې يوه داسې قلمي نسخه شته چې په ۱۲۸۴هـ.ق کال[1] په کراچۍ کې د ده په خط ليکل شوې ده چې د بريتانيا په کتابتونونو کې موجوده ده. نوري په نثر ليکلو کې پياوړی ليکوال و(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۹۷ل، ۱۴۲ مخ).

[1] په آريانا دايرة المعارف کې دا کال ۱۳۸۴ ښودل شوی چې ناسم معلوميږي.

حافظ محمد د مولانا دور خان زوی او په قبیله محمدزی دی، د هشتنغر د مشهور کلي عمرزایي اوسېدونکی و، د قادریه طریقې پیر طریقت او روحاني پېشوا و او زیارت یې په عمرزي کې دی. دی د ۱۲۰۰هـ.ق د وروستنۍ زمانې یو مشهور دیني عالم، صوفي او د پښتو ژبې شاعر او ادیب تېر شوی دی. هغه د تیمورشاه په زمانه او په اټکلي ډول د ۱۲۰۰هـ.ق او ۱۲۰۷هـ.ق کلونو په منځ کې وفات شوی دی. حافظ محمد د فقهې علم د مشهور کتاب «مستخلص الحقایق شرح کنز الدقائق» د *اشعارو شرحه* لیکلې ده چې دیباچه یې په دې الفاظو شروع کړې: «الحمدلله اضعاف ما حُمِد و یحمده جمیع خلقه کما یحب ربنا ویرضاه... اما بعد فیقول العبد الفقیر حافظ محمد بن ملا دور خان غفرالله تعالی له و لوالدیه...». دا کتاب په ۱۲۸۸هـ.ق کال کې چې ۵۲ صفحې لري، په پېښور کې چاپ شوی دی(افغاني، ۱۹۶۳م، ۹۰، ۹۱ مخونه).

د ملا عبدالله لغماني زوی **عین الله** د دیارلسمې پېړۍ په نثر لیکونکو کې د یادونې وړ سړی دی، د حافظ محمد د *شرح ادبیات مستخلص (پښتو)* تصحیح دغه عین الله کړې ده، دا کتاب په ۱۲۸۸هـ.ق کال ۵۲ مخه په پېښور کې چاپ شوی دی(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۶ مخ). د دې کتاب اختتامیه همدغه عین الله په پښتو کښلې چې څو جملې یې دا دي: «...پس وایي دا امیدوار د خدای د رحمت عین الله زوی د عبدالله لغماني، هر کله چې اشعار د مستخلص الحقایق گران وو او د هغې د نښتو ځایونو حل کولو او پرانیستلو ته طالبان حاجتمند و او د دې اشعارو گنې شرحې موجودې وې چې یوه په هغې کې شرح د فاضل کامل حافظ محمد د عمرزي...»(افغاني، ۱۹۶۳م، ۹۲ مخ).

«*هدایت المومنین*» چې د **گل احمد خلیل** اثر دی، په ۱۲۹۵هـ.ق کال یې ترجمه او بشپړ کړی او په ۱۲۹۶هـ.ق کال ۷۶ مخه په ډهلي کې چاپ شوی دی. دا کتاب له خلاصه‌کیداني او نورو معتبرو فقهي کتابونو څخه اخیستل شوی او په نظم راوړل شوی دی. په دې منظوم اثر کې څه برخه منثوره هم شته. د نثر لیکنې یوه نمونه: «گوته له اوسپنې او له کانې روا نده بادشاه او قاضي لره گوته ساتل سنت دی او نور ولره ترک بهتر دی...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۶ مخ). بله نمونه یې دا ده:

«مسئله: ښځو لره زېور ور اچول روا دی او مردانو لره روا نه دی، لیکن چې گوته مهرداره وي او غمی هم لرینه.

مسئله: گوته له اوسپنې او له کانې روا نه ده. بادشاه او قاضي لره گوته ساتل سنت دی او نورو لره ترک بهتر دی.

مسئله: طفل نر لره اغوستل د ريښمو او زرو حرام دی»(افغاني، ۱۹٦۳م، ۲٦۳ مخ).
له دې نثر د دې دور د پښتو نثر د ليکلو د طرز اندازه کېدی شي.
«*تعليم المبتدي*» د تجويد رساله ده چې د کابل د پغمان اوسېدونکي **قاري نصير الدين** په ۱۲۹۳هـ.ق (تخميناً ۱۸۷٦م/ ۱۲۵۵هـ.ش) په پښتو نثر ليکلې ده. دا رساله چاپ نه ده، خو يوه خطي نسخه يې د استاد زلمي هېوادمل په شخصي خطي مجموعه کې شته(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۲ مخ). د دې اثر د نثر بېلګه د رسالې له مقدمې څخه را اخلو: «پسله دې مطلب دا دی چې وايي اضعف د حافظانو او احقر د قاريانو امېدوار د رحمت د خدای معين، حافظ نصيرالدين سه‌گنبدي چې جمعه مې کړې يو څو قاعدې له کتابونو معتبرو د علم قرائت ځينې په تکليف د بعض طالبانو سره له اهله د اخلاص او د محبت ځينې له بعض کتابونو، ځينې په طريقه د نقل او له بعضو ځينې په طريقه د حاصل سره له پاره د دې چې ظاهرې شي دا قاعدې مبتديانو لره په سهولت کامل سره او مسمی مې کړه دا رساله په تعليم المبتدي سره....».
دا رساله پر شپاړسو بابونو وېشل شوې ده. په متن کې ځای ځای پارسي بيتونه هم راغلي چې له موضوع سره اړيکې لري. دا نسخه د رسالې د تأليف تر کال شپږ کاله وروسته (په ۱۲۹۹هـ.ق) کې د لغمان په «ده ملخ» نومي کلي کې د ملا عبيدالله لغماني زوی محمد ابراهيم نقل کړې ده. د نسخې قطعه وړه ده. رساله په ۷۷ مخونو کې ځای شوې ده. په اتو مخونو کې د فصل تر عنوان لاندې يوه ضميمه هم لري، د انشاء له سياقه څخه معلوميږي چې دا هم د رسالې مؤلف کښلی دی(رشاد، ۱۳۵۹ل، څلوېښت، يو څلوېښت، دوه څلوېښت مخونه).
«*تحفة الاخبار ترجمه لباب الاخبار*» د حضرت پيغمبر د څلورسوو حديثونو پښتو ترجمه ده. دا ترجمه **محمد حسن** کړې ده. دی د پېښور اوسېدونکی و او په ديارلسمې پېړۍ (نولسمې ميلادي پېړۍ) کې يې د انګرېزانو لپاره پښتو نسخې کښلې. ده د کتابت ترڅنګه د ترجمې او ليکلو توان هم درلود، دغه اثر يې ۹٦ مخه دی چې د ترجمې يوه نمونه يې دا ده: «فرمايلي دي پيغمبر د خدای صلی الله عليه وسلم هر څوک چې درود وايي په ما په ورځ د جمعې څلوېښت کرت ورک به کاندي خدای تعالی له ده نه ګناهونه د څلوېښت کالو».
«*مفتاح*» تجويد **عبدالله** نومي ليکلی چې پيل يې په څو بيتونو شوی او ورپسې منثوره برخه پيل شوې ده. دا نثر د د ديارلسمې پېړۍ د نثرونو تابع ده، کومه خاصه ښېګڼه نه لري. د نثر ليکلو روش يې دا دی:

«او مذهب د علمای صوفي دا دی چې دوی وایي چې نفس تجوید فرض دی په حق د عرب کې او ترتیل واجب دی...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۱۹، ۲۲۱ مخونه).

«*رمزه*» هغه رساله ده چې د تجوید اصول په نظم او نثر په کې بیان شوي دي. یوه خطي نسخه یې په پېښور آرشیف کې خوندي ده، پاڼې یې ۲۷ دي او د نثر لیکلو شېوه یې داسې ده: «مسمی کېږي دا حروف په اظهار سره له دې وجې چې ګرځي دوی سبب لپاره د اظهار د نون ساکن او تنوین...». د دې رسالې مؤلف په نسخه کې نشته.

د «*رساله قرائت*» په نوم د پېښور آرشیف په خطي مجموعه کې د یوې رسالې یوه نسخه شته چې پاڼې یې شېړ دي، د پیل او پای له خوا بشپړه ښکاري. د دې رسالې مؤلف نه دی معلوم، خو مطالب یې د مخزن الاسلام د قرائت له رسالې، مقصود الحافظین او ځینو نورو رسالو څخه اخیستل شوي او په دې ډول شروع شوې ده: «پس زده کړه دا خبره چې د قرآن اته ویشت حروف دي او دري مخرجه دي، یو حلق دی، یوه خوله ده یو شوندې دي...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۱- ۲۲۲ مخونه).

د پورته دواړو رسالو (رمزه، رساله قرائت) د لیکلو نېټې او هم یې د لیکوالو پته را معلومه نه شوه.

فیض الله دیني عالم او د پښتو مذهبي نثرلیکوال دی. د میراث په علم کې یې مطالعه لرله، د «*جواهر المیراث*» په نوم رساله یې له پارسي څخه پښتو ته را اړولې ده. ژوند یې د دیارلسمې هجري پېړۍ د وروستیو وختونو اټکل شوی دی. د کندهار اوسېدونکی معلومیږي(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۷۹ مخ). دا رساله چاپ نه ده، خطي نسخه یې شته چې دېرش پاڼې لري(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۹ مخ).

ملا غلام جان عالم او د پښتو مذهبي لیکوال و، په سهاکو کې اوسېده. «*میراث علم ضابطه*» یې په پښتو نثر تألیف کړې ده. د هغه ژوند د دیارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې اټکل شوی دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۵٦ مخ).

«*رساله موعظه*» یا «*موعظه‌نامه*» ملا غلام جان پښتون پښتو کړې او په ۱۳۱۱هـ.ق د کابل مطبعه دار السلطنه کې په ۱۵٦ مخونو کې چاپ ده. دا د دیني مسایلو مجموعه ده چې د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې خپره شوې او مسایل یې د ده تر نظر لاندې تدوین شوي دي. دا اثر د پښتو له هغو لومړنیو چاپي آثارو څخه دی چې په افغانستان کې خپور شوی دی. دا هغه دیني نصیحتونه دي چې د امیر عبدالرحمن په امر پښتو شوي او خپاره شوي دي(رفیع، ۱۳۵۴ل، ۱۹۸، ۲۸۱ مخونه).

بي‌بي صاحبه د پښتو ژبې مؤلف او عالمه وه، د ديارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې په مردان کې اوسېده. صاحبې د سيمې مستوراتو ته تدريس کاوه او ګڼ ديني کتابونه يې په پښتو ترجمه کړي دي.

خديجه د ديارلسمې هجري پېړۍ په اواخرو کې په مردان کې اوسېده. په ديني علومو، طب او حکمت کې يې مطالعه لرله او په ځينو ديني، مذهبي او طبي کتابونو پښتو حواشي لري. نور کتابونه او رسالې يې په پښتو نظم رانقل کړي دي.

حميدګل د ديارلسمې هجرې پېړۍ د حدودو حاشيه‌ليکونکی او طالب‌العلم و، په فقهې، منطق او نحوه کې يې مطالعه لرله، د منطق او نحوې پر څو کتابونو يې پښتو حواشي ليکلي دي(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢٧١، ١٥٤، ١٤١ مخونه).

قاضي عبدالغفار د ديارلسمې هجري پېړۍ له مؤلفانو او ليکوالانو څخه و چې د ډېره‌اسماعيل‌خان په کلاچي سيمه کې اوسېده. «*انشاء کلاچي*» يې تأليف دی.

غلام يحيى د ديارلسمې هجري پېړۍ په وروستيو کې د کونړ په سېوې کې اوسېده. ديني عالم و، په فقهې او نورو عربي علومو کې يې بشپړه پوهه لرله. د *کافيې مقدمه* په پښتو د هغه امالي ده(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٣١٥، ٣٦٤ مخونه).

ملا محمد رسول منوزی ديني عالم او د پښتو مذهبي نثرليکوال دی. د ديارلسمې هجري پېړۍ په حدودو کې کندهار کې اوسېده. په ديني علومو کې يې مطالعه لرله، په پښتو ژبه يې مذهبي نثر ليکه. د هغه منثورې ليکنې موجودې دي.

مولانا محمد شعيب ديني عالم او د پښتو ليکوال و چې د ديارلسمې هجري پېړۍ په شاوخوا کې د سوات په توابعو کې اوسېده. په فقهې او ديني علومو کې د کافي معلوماتو صلاحيت يې درلود، پر «کافيه» مبسوطه شرحه لري، هغه يې په ١٢٣٦هـ.ق کال کې د سمبټ په سيمه کې وليکله او له همدې امله يې د پښتونخوا په تدريسي حلقو کې په «تحرير سمبټ» مشهوره وه.

مولوي مزمل شاه په «صريخ مولوي» مشهور جيد عالم او تکړه حاشيه ليکوال و، د فدامحمد يوسفزي زوی، په ١٨٠٠هـ.ق کال د چارسدې په صريخ نومې سيمه کې زېږېدلی او په ١٨٧٥هـ.ق له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي. هغه په پښتو او عربي ژبو د ليکلو بشپړ صلاحيت درلود. مزمل شاه پر *قاضيه مبارک* عربي حاشيه او پر *سلم* پښتو حاشيه ليکلې ده(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٤٤٢، ٤٤٤، ٤٤٥، ٤٦٩ مخونه).

مولوي عطامحمد کندهاری د کندهار له مشهورو عالمانو او مؤلفانو څخه و. په قبیله شیخ‌محمدي او په ۱۲۳۳هـ.ق کال د کندهار په ارغستان کې زېږېدلی دی. نوموړی د خپل وخت لوی عالم و، په معقولو، منقولو، الهیاتو، فلسفه، نحو او ریاضي کې یې لوی لاس درلود. دی د خپلې زمانې لوی مدرس او مصنف و، مهم تصانیف لري چې مشهور یې دا دي: په عبدالغفور، قاضي د سلم شرح، شرح چغمني او شرح تازي باندې یې مستقلې حاشیې لیکلې دي. مولوي صاحب په ۱۳۰۲هـ.ق کال د ۶۹ کلونو په عمر وفات او ارغستان کې ښخ دی(سعید، ۱۳۹۴ل، ۳۳۹مخ).

«*پندنامه علي*» **احمد** نومي شخص په پښتو ترجمه کړې ده. دا ترجمه د دیارلسمې پېړۍ د اواخرو ده. د احمد پښتو کړې «پندنامه علي» په پښتو کې د دې پندنامې دویمه یا دریمه ترجمه ده چې تر ده دمخه هم پښتنو عالمانو د خپلو خلکو د روزنې په منظور ترجمه کړې ده. د دې پندنامې مترجم احمد د «*نور الاسلام*» په نامه یوه بله رساله هم لري چې له دري یې پښتو کړې دی. د دې ترجمې پیل داسې دی: یا علي سره د څلور کس مجلس مه کوه. اول بې نماز، دویم شراب خور، دریم زناکار، څلورم دروغګوی چې تا لره د دین دنیا زیان دی».

«*نصیحت نامه لقمان حکیم*» وړوکې منثوره پښتو رساله ده چې جوړوونکي (**محمد سعید**) یې څه پندونه خپله په کې لیکلي او څه یې د لقمان حکیم هغې په پښتو کړي دي، لکه چې یې د دې رسالې په پیل کې لیکلي دي: «اکثر نر او ښځې بعضې خبره نالایقه او بې ادبه د خولې نه ظاهروي، لدې سببه دې بنده عاصي نصیحتونه د لقمان حکیم صاحب او بعضې خبرې له ځانه په طور د نصیحت په پښتو ژبه ولیکلې چې لوستونکو ته فایده ډېره حاصله شي». د دې پندنامې نثر د دیارلسمې پېړۍ د نورو دیني او اخلاقي نثرونو په پرتله روان دی، ورانۍ په کې لږ یا حتی نه لیدل کېږي، پرېکړې او لنډۍ جملې راوړي چې لوستونکي تړې زر او ښه فایده اخیستی شي. د دې نصیحت نامې جوړوونکی محمد سعید د نوښار د توابعو د خوښکو د کلي اوسېدونکی دی چې دا نصیحت نامه د ده د دوو نورو منظومو رسالو په پای کې ورسره یوځای په بمبیي کې چاپ شوې ده. منظوم آثار یې دا دي: *قصه پیرزال او نصیحت النساء*.

«*وعظ‌نامه*» د پېښور په آرشیف کې یوه ۴۲ مخیزه رساله شته چې لیکوال او کاتب یې نه معلومیږي. خو په نسخه کې درې وعظونه لیکل شوي دي، لومړنی وعظ یې په عام ډول اخلاقي خبرې او پندونه وړاندې کوي او د اسلام له تاریخ نه ځنې روایتونه او حکایتونه هم را اخلي، دویم د تبلیغ ګټې بیانوي

او درېيم د کسب او کار او د حلال رزق د ګټلو فوايد بيانوي.

د داتا ګنج بخش د کتابخانې په پښتو خطي کتابونو کې د «*خلاصة الوعظ*» په نامه يوه پښتو خطي نسخه موجوده ده چې ۱۰۱ پاڼې لري. د نثر نمونه يې دا ده: «ويل چې سرور عالم صلى الله تعالى عليه وسلم الهي کوم عمل بهتر دی په نزد ستا، خدای تعالی وويل چې يې هيڅ شی بهتر په نزد زما لکه توکل په ما باندې، هم راضي وي له ما... ای احمد واجب دی، محبت زما چې توکل يې تل په ما وي، صاحب توکل بيا هغه دی چې په نظر او شفقت لکه زما وي او د ده هيڅ ماهيت په مخلوق نه وي». له دې ښکاري چې کتاب د وعظ او نصيحت پر خبرو مبني دی. په يوه بل ځای کې يې د وعظونو په سلسله کې پر ميراث هم وعظ کړی دی. د رسالې په يوه مخ کې د ليکوال يا مترجم نوم راغلی: «ترجمه يې د اصل خوګدل (خوږدل) پښتو کړه د چشتي له رعيت دی»، که دا مخ واقعاً د خلاصة الوعظ جزء وي، نو يې ليکوال **خوږدل** دی(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۳۴، ۲۳۵ مخونه).

ځينو پښتنو علماوو د خپلو خلکو د زړونو روښانولو او د دوی ذهنونو ته د عرفان رڼاوو د رسولو او عرفان ته د متمايلو خلکو د روزنې لپاره ځينې آثار په پښتو ليکلي او يا له نورو ژبو په خپله ژبه ترجمه کړي دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۳۵ مخ). له دغسې رسالو څخه درې يې د حمدالله صحاف کندهاري په خطي مجموعه کې خوندي دي. يوه رساله په کې «*شواهد السلوک*» نومېږي چې غلام حسين سرهندي په دري ژبه ليکلې او يوه د سلوک په رموزو پوه پښتانه په پښتو اړولې ده، خو د مترجم نوم يې په کې نه ښکاري. مترجم يې په مقدمه کې ليکلي دي: «له اوله به ثنا د حق زه وايم چې ممکنات يې ګرځولي ائينې د خپل جمال دي، بيا درود په محمد رسول به وايم چې پيدا شول کائينات د ده له نوره، بيا پر آل پر اصحابو به درود وايم چې پاسوان د ده د دين دی، پس له حمده له صلوة يو بيان به کړم و تاته رساله وه په سلوک کې په زبان د پارسيانو تصنيف کړې غلام حسين سرهندي وه، ښه بيان يې په کې کړی، يادول يې په هر چا باندې واجب دی، رساله شواهد السلوک دی». پښتو ترجمه يې ۱۳ مخه لري، ترجمه يې آهنګينه ده لوستونکي ځانته راکاږي.

دوه نورې رسالې چې په دې خطي مجموعه کې خوندي دي، دواړه په يوځای په يوه وقايه کې راغلې دي. لومړی يې تر بسم الله وروسته شېر بيتيزه منظومه مقدمه‌ګوتې لري، بيا د رسالې بحثونه راغلي چې اول بحث يې د قادريه طريقې په باب دی، بل بحث يې د مرشد کامل او د مرشد کامل د علامو په باب دی.... د دې بحثونو په پای کې يې ۱۲۹۸هـ.ق سنه کښلې او دا ترې ښکاري چې رساله دغه وخت

ليکل شوې ده، خو د کاتب نوم ورسره نشته. د دې رسالې د پيل په برخو کې راغلي دي: «پس له دې که اراده وکړه شيخ چې واخلي عهد او بيعت له مريد څخه نو د دې امر کې مريد ته دې ووايي چې ښې لاس راوغځوه...». بله رساله چې په لومړۍ رسالې پسې تر بسم الله وروسته شروع شوې ده، د پيل په برخو کې يې راغلي دي: «دا رساله مشتمله ده پر بيان باندې د هغه چې تعلق لري په طريقه پورې زمور د بيان څخه د اسماء چې دي اصل دي او اسماء چې دي فرع دي او بيان د نومو د اوو انفس...».

دا دواړه رسالې ترجمه ښکاري، د لومړۍ رسالې نثر روان دی، خو د دويمې هغې کړکېچن ښکاري، رواني په کې نشته او مترجم په ترجمه کې غښتلی نه ښکاري. د دې دواړو رسالو ترجمې او پښتو ليک سبک سړي ته دا ورښيي چې دا رسالې به د يوه سړي نه وي.

د داتا ګنج بخش د کتابخانې په خطي پښتو کتابونو کې د «*مقصد السالکين والمجذوبين*» په نوم رساله شته چې ۴۱ پاڼې لري او په څلورو حصو وېشل شوې ده؛ په يوه حصه کې يې پر شريعت، بله کې پر طريقت، دريمه کې پر حقيقت او څلورمه کې پر معرفت خبرې شوې دي. د نسخې په لومړي او اخر مخ کې د ليکوال او مترجم نوم نه ښکاري، مګر نسخه د ديارلسمې پېړۍ ښکاري. د نثر نمونه يې دا ده: «پويه شه ته چې سالک لره بايده دي چې اول پابند د شريعت شي بيا طلب د مرشد کامل کې، نو بيعت ترينه وکي په حالت د وضو او د جامو پاک نظيف کې او هر وقت تصور د مرشد کوي، حتی چې فنا في شيخ وګرځي او پابند د شرايط د مرشد دې اوسي». دا نثر د پښتو د صوفي نثرونو په سلسله کې نسبي روان نثر دی.

«*اسرار طريقت*» کوچنۍ تصوفي رساله ده چې **محمد يوسف** ليکلې ده. دی ادعا کوي چې دا کتاب په نظم دی، خو حقيقت دا دی چې ځينې برخې يې مات ګوډ او کله هم سم نظمونه، ځينې ځايونه يې مسجع اوږدې اوږدې جملې او ځينې برخې يې نثر دی. د ديارلسمې پېړۍ په ديني حلقو کې د معمول نثر نثر نمونه يې دا ده: «دغه پس نور درې دليله ياد کړه چې پوره به وي سره دغه درې دليله له مسلکاتو مهلکات دغه منزل اربعه وو دی...». دا رساله چې د عرفان د مقامونو، منازلو او عالمونو په باب خبرې لري، په بابونو او فصلونو وېشل شوې ده. ناظم او ليکوال يې محمد يوسف د فيض طلب زوی، د ښهر صفا اوسېدونکی او د امير عبدالرحمن خان معاصر و. له خپل نامه سره يې د نقشبندي او ترنکي نسبتونه هم ليکلي دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۳۶، ۲۳۷ مخونه).

مولوي عبدالرحمن چې د ديارلسمې پېړۍ د اواخرو او څوارلسمې پېړۍ د اوايلو له نثر نګارانو څخه دی، د مير امن دهلوي (۱۸۰۳م) باغ و بهار نومی حکايتي اثر يې د «*چهار چمن نوبهار*» په نامه په پښتو ترجمه کړی دی، دا ترجمه په ۱۳۰۹هـ.ق کال په ډهلي کې په ٦۴ مخونو کې چاپ شوې ده. باغوبهار د چهار دروېش مشهوره قصه ده چې په شرقي فرهنګ کې ډېر شهرت لري، په نظم و نثر کښل شوې ده. په پښتو کې يې هم منظوم وريانټونه شته او په پښتو نثر مولوي عبدالرحمن ابازي ترجمه کړې ده. د ده په «چهار چمن نوبهار» کې يواځې د لومړي دروېش د سير قصه راغلې ده. د قصې پيل داسې دی: «اوس شروع د قصې کومه لوکتې غوږ کېږده، واوره منصفي وکړه په سير د چار دروېش کې يې داسې ليکلي دي او ويونکي ويلي دي چې پخوا د روم په ملک کې يو بادشاه و...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ٦٨٩، ۲۸۳ مخونه).

مولوي عبدالرحمن چې د پښتونستان اړوند په ابازي سيمه کې اوسېده، د پښتو ژبې شاعر او نثرليکوال و. «چهار چمن نوبهار» امير خسرو دهلوي ته منسوب اثر دی چې د مترجم شعرونه هم په دې کې موجود دي(هېوادمل، ۱۳٥٦ل، ۳۰۲ مخ).

د باغوبهار مؤلف امير خسرو (٦٥١- ۷۲٥هـ.ق) دی چې د اثر ژباړونکی يې مولوي عبدالرحمن وايي، د ابازيو اوسېدونکی و او مولوي دی، نه قاضي. د دې کتاب له ژباړې يې ښکاري چې دا د ده لومړنۍ ژباړه نه ده او ښايي له دې نه وړاندې يې څو نور آثار هم ليکلي او ژباړلي وي خو يې نثر داسې پوخوالي او معيار ته رارسېدلی دی. ژباړونکي خپله ژباړه د امير خسرو د دري اثر له اردو ژباړې نه کړې ده. دا اثر چې په نثر ژباړل شوی، ځای ځای ځينې بيتونه هم لري(رفيع، ۱۳۹۴ل، ٤٦، ۴۳ مخونه).

بل ځای راغلي چې «*بهادر دانش*» چې د دلاور طالب عمرخېل اثر دی، متن يې د «چهار دروېش» له مشهور اثر سره ورته دی چې په پښتو کې ملا نعمت الله نظم کړی او مولوي عبدالرحمن په نثر ژباړلی دی(ملاتړ، ۱۳٦٥ل، ۸٦ مخ).

د ديارلسمې پېړۍ په اواخرو او د څوارلسمې په اوايلو کې د تعويذونو، فالونو او انګېرنو په ترڅ کې ځينې طبي نسخې په پښتو نثر کښل شوې دي چې دا ډول نسخې متفرقې دي. د ملا نعمت الله په «*مجموعه اعجاز محمدي معه طب*» نومې مجموعه کې چې په نظم و نثر کښل شوې او ترتيب شوې ده، دغه ډول متفرقې طبي نسخې شته. د نثر برخه يې په فصلونو وېشل شوې ده او نمونه يې دا ده: «حکمت: د پيازو په عرق کې خرمای هندی وسولوه چې ليکل پرې وکړې او نور پرې ولګي حرفونه به

زيږ څرګند شي، آزموده او مجربه ده». د دې پېر په آثارو کې د فالونو، د خوبونو د تعبير، کوډو، انګېرنو او تعويذونو په باب هم ځينې متفرق او مستقل آثار لرو چې ډېره برخه يې ښايي ترجمه وي او ځينې هم ليکنې(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۴۰، ۲۴۱ مخونه).

په دې وخت کې کسب‌نامې هم ليکل شوې دي. ملا نعمت الله نوښاري د «*مجموعه کسب‌نامه*» په نامه منظومه رساله کښلې چې ۲۴ مخه په لاهور کې چاپ ده. په دې مجموعه کې د نايانو، پښانو، دوبيانو او ترکانانو د کسبونو په باب ځينې خبرې په نظم و نثر راغلې دي او د دې کسب‌نامې له ۲۴ مخ نه د نثر يوه ښلګه دلته را اخلو: «بايده دي چې هر دوبي دا رساله زده کړي يا د ځان څخه وساتي، دپاره د دې چې کسب يې حلال شي او په کسب کې يې برکت شي...».

په پښتو د قرآن کريم ګڼ تفسيرونه شوي دي چې ځينې يې بشپړ او ځينې يې نابشپړ دي.

«*تفسير بدر المنير*» ليکوال يې **مولوي دوست محمد خان ختک** (کندهار کې د ۱۲۳۰هـ.ق کال په شاوخوا کې زېږېدلی). نوعيت يې د څه کم پنځو سپارو تفسير دی، د "ق" سورې له لومړيو څخه د قرآن کريم تر پايه پورې ليکل شوی او لومړی پاڼې يې له منځه تللې دي، ځکه نو په غوڅه توګه دا حکم نه شي کېدای چې ټول قرآن دې تفسير کړی وي. اما د دغه تفسير وروستی برخه پر دې دلالت کوي چې ليکوال ټول تفسير بشپړ کړی، خو وروسته يې لومړی برخه ضايع شوې ده. د ليکلو نېټه يې استاد رفيع: ۱۳۰۶هـ.ق او پوهاند رښتين ۱۲۷۵هـ.ق کال بللی دی. شاه‌جهان بيا وايي چې تفسير بدر منير د تفسير حسيني پښتو ترجمه ده چې دوست محمد خټک کړې، ۱۸۷۳م/۱۲۹۰هـ.ق(شاه جهان. ۲۰۰۰م، ۴۹ مخ).

«*تفسير حسيني*» د مولانا کمال الدين بن حسين کاشفي (ملا حسين بن علي الواعظ الکاشفي: آريانا دايرة المعارف، ۷٦٦ مخ) (۹۱۰ق کال مړ) د پارسي «تفسير حسيني» ژباړه ده چې **ميا عبدالله کاکاخېل** (۱۲۵۲- ۱۳۳۵هـ.ق) په ديارلسمه لمريزه پېړۍ کې ترجمه کړی دی. دغه ژباړه چې د چاپې هغو لومړی بلل کېږي، د اتلسمې ميلادي پېړۍ په پای کې چاپ شوې ده. يو ځل ۲ ټوکونو کې چاپ شوې ده، دغه راز په يو ټوک کې هم په ۱۳۳۰هـ.ق کال لاهور کې چاپ شوې ده. پر همدې تفسير د استاد رشاد مقاله کابل مجله کې خپره شوې ده.

«*مخزن التفاسير*» مصنف يې مولانا محمد الياس کوچيانی (۱۹۴۵م کال مړ) دی، په ۱۳۱۳هـ.ق په ډيلي کې خپور شوی دی.

«*ظاهر التفسير*» د مولانا عبدالودود سرحدي دی چې ۱۲۹۲هـ.ش کې ليکل شوی دی.

«*تفسير افغاني*» د مولوي عبدالرؤوف کاکړ په قلم په ۱۲۹۳هـ.ش کال کې ليکل شوی دی. ۳ جلده دی، ملي آرشيف کې موجود دی.

«*پښتو تفسير*» د مولوي عبدالوهاب کندهاري دی چې ۱۲۹۵هـ.ش کې ليکل شوی دی.

«*پښتو تفسير*» د نواب افضل خان دی چې ۱۲۹۹هـ.ش کال کې ليکل شوی دی.

«*تفسير التيسير (تفسير يسير)*» قاضي عبداللطيف ګالوجي ۲ ټوکونو کې ليکلی، پېښور کې ۱۳۰۳هـ.ش (۱۹۲۵م) کال چاپ شوی دی.

د قرآن کريم ګڼې ترجمې د پښتنو ديني عالمانو له خوا شوې دي چې ځينې يې بشپړې او ځينې يې نابشپړې دي.

«*قرآن مجيد*» په ۱۲۷۸هـ.ق کال کې د هندوستان بهوپال کې د هغې سيمې د پښتنو واکمنو له خوا خپور شوی دی. دا ترجمه د افغانستان او هندوستان د علماوو يوې ډلې تهيه کړې چې تر عربي متن لاندې په دوو کرښو کې لومړی پښتو او بيا ترې لاندې اردو ژباړه راغلې ده. د چاپ پر لرغونتوب سربېره د ليکدود له پلوه هم خاص ارزښت لري. «*د قرآن عظيم پښتو ترجمه له ځينو فوايدو سره*» په بهوپال کې ترسره شوی هغه پښتو کار دی چې په دې سيمه کې ترسره شوی چې ځينې پښتو شرحې هم ورسره ملې دي او دا شرحې د دې ترجمې د بېلابېلو برخو په حاشيو کې د (فايده) تر سرليک لاندې خوندي شوې دي. د قرآن شريف د دې ترجمې مترجم يا مترجمين او هم يې د فوايدو ليکونکي نه دي ښکاره. فوايد يې په پښتو او حواشي يې په پارسي ژبه دي، ټول مخونه يې ۱۵۷ دي. دا ترجمه په ۱۲۷۸هـ.ق کال په بهوپال کې چاپ شوې ده. د دې ترجمې يوه نمونه د ماعون سورت دا ده: «آيا تا وليد هغه سړی چې دروغ شميري انصاف کېدل، نو هغه سړی دی چې پور.... وي تأکيدونه کوي پر خو رول د مسکين، نو خرابي ده هغه نمانځيان له چې له خپله نمانځه بې خبر وي. هغه چې ريا کوي او منع کوي د فايده اخيستلو څيزونه».

د فوايدو يوه نمونه يې: «اول فرمايلي وو چې کافران قسمونه خوري چې يوه معجزه ووينو نو به ايمان راوړو او اوس يې فرمان وکړ چې زه ايمان نه ورکوم. نو څرنګه به ايمان راوړي اوس».

له دې نمونو څخه څرګندېږي چې ترجمه يې ډېره خوندوره نه ده او تحت اللفظ ده، اما د حواشيو او فوايدو نثر يې روان دی او د تأليف حکم پرې کېدای شي. اغلب ګومان دا دی چې دا فوايد ليکل

شوي دي، نه دا چې له بلې ژبې دې ترجمه وي(هېوادمل، ١٣٩٦ل، ٥٩٧ مخ).

«د مفتي محمد فتح الله قندهاري ژباړه» په ١٢٤٠هـ.ش کال کې مفتي محمد فتح الله قندهاري (د هند د بهوپال په اسلامي رياست کې د دار الافتاء مرستيال و) د شاه عبدالقادر محدث دهلوي له اردو ترجمې پښتو ته را اړولې، قلمي نسخه يې د هند د رامپور ولايت په رضا کتابتون او د حيدر اباد د دکن د اداره ادبيات اردو په کتابتون کې خوندي ده.

«*قرآن شريف مترجم*» غالباً ژباړونکې ډله يې: قاضي عبدالله، مولوي فضل الحق، مولوي دوست محمد، مولوي عبدالحميد، مولوي الياس، مولوي فضل رحيم دی او لومړی ځل ١٣١٩ هـ.ق (١٢٨٠هـ.ش/ ١٩٠١م، ١٩٠٢م) ډهلي کې چاپ دی.

«*قرآن مجيد مترجم پشتو*» د داربنګو مولانا عبدالحق په ١٩١٣م کال ليکلی، کوټه او پېښور کې څو ځله په ٩٦٠ مخونو کې چاپ دی.

د امام احمد رضا خان د قرآن مجيد ترجمه چې ١٢٨٩هـ.ش کې ليکل شوې، پښتو ته د (*پښتو کنز الايمان*) په نامه ژباړل شوې ده.

«*جواهر القرآن*» مولانا شاه افضل د ١٤مې قمري پېړۍ لومړۍ نيمايي کې ليکلی او ١٢٩٧هـ.ش لاهور کې خپور شوی دی.

«*قرآن مجيد (مترجم)*» مولوي عبدالحق په ١٣٠٦هـ.ش کال کې ليکلی او درې ځله خپور شوی دی.

«*قرآن مجيد ترجمه*»: د مولانا عبدالقادر ترجمه ده، اوله پاره ده، ترجمه شوې او څه برخه د پښتو رسالې په پاڼو کې شايع شوې هم ده.

«*د قرآن کريم د وروستنۍ لسمې برخې ترجمه*» د قرآن کريم د درېيو وروستيو سېپارو ژباړه ده. دا تفسير په سعودي عربستان کې د يوې ټولنې له خوا په څه له پاسه لسو ميليونو ټوکونو کې په څو ژبو خپور شوی دی او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خيريه ټولنو، د قرآن ښوونې مدرسو او حاجيانو او عمره کوونکو ته وړيا وېشل کېږي.

«*د قرآن عظيم د وروستيو پارو تحت اللفظي ترجمه*» د پېښور پښتو اکېډمۍ په خطي کتابونو کې شته، مترجم، کاتب او د کتابت کال يې نه معلوميږي.

اوس د **څوارلسمې** پېړۍ د اوايلو دينې آثارو ته تم کېږو.

قاضي در مکنون د معمر الدين زوی د ١٢٥٠هـ.ق کال شاوخوا د نوښار تحصيل په کاکاخېل زيارت

کې زېرېدلی دی. ديني او ادبي علوم يې همدلته حاصل کړل، په عربي او پارسي ښه پوهېده او پښتو يې مورنۍ ژبه وه. په همدې درې واړو ژبو يې نظم او نثر ليکه. د در مکنون «*مجموعة الخطب*» د پښتو ژبو په ديني حلقو کې شهرت درلود. د هغه متفرق اشعار هم موندل کېږي. قاضي د ۱۳۳۵هـ.ق کال د ربيع الاول په ۱٦مه له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي. دا د ده دی: در مکنون سوی لړمون د ستا په دين باندې(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۲۵۱- ۲۵۲ مخونه).

ملا رمضان هوتک د عقلي او نقلي علومو استاد او د ملا قضات زوی و. پلار و نيکه يې د کندهار د کلات له «سيوري» څخه د وردګو ولايت د ميدان ښار د «بيني‌بادام» کلي ته لېږدېدلي دي. ملا رمضان د خپل وخت له وتلو علماوو څخه و. امير شېرعلي خان د ده علمي قدر و منزلت ته په درنه سترګه کتل او کله چې يې د کابل په بالاحصار کې يوه مدرسه تأسيس کړه، ملا رمضان يې له بيني‌بادام کلي څخه را وغوښت او د همدې مدرسې اداري چارې يې ور وسپارلې. نوموړي د امير عبدالرحمن خان د پاچاهۍ په وخت کې د هغه د زامنو سردار نصرالله خان او سردار حبيب الله خان د استادۍ وظيفه هم درلوده. ده په ۱۳۰۷هـ.ق کال کې يې د سردار نصرالله خان لپاره «*عقايد نسفي*» په پارسي ترجمه کړ چې خطي نسخه يې د کابل په ملي آرشيف کې خوندي وه. ملا هوتک د ۱۳۱۹هـ.ق کال کې د اوياوو کلونو په عمر په کابل کې وفات شوی دی(هوتک، ۱۳۸۴ل، ۲۰۳ مخ).

سره له دې چې ملا رمضان کوم اثر نه لري، خو په خپل وخت کې يې د علم او دين په خپرولو کې ونډه لرلې ده او هم يې د ترجمې له لارې فرهنګ ته خدمت کړی دی.

«*خزاين القصص*» د «الف ليله» پښتو ژباړه ده چې **قاضي صفي‌الله** (۱۲۷۰- ۱۳۴۰هـ.ق) له هندي ژبې څخه کړې ده. دی د پېښور د بدني اوسېدونکی دی چې دغه ژباړه يې په ۱۳۰۴هـ.ق کال کړې ده چې تر اوسه نه ده چاپ شوې او قلمي نسخه يې د پېښور د پښتو اکېډيمۍ د خطي نسخو په مجموعه کې خوندي ده. دا مشهور داستاني کتاب پښتو ژبې ته بېلابېلو شاعرانو او ليکوالو په نظم او نثر راژباړلی چې يوه پخوانۍ منظومه ترجمه يې د ملا نعمت‌الله نوښاري ده چې د «هزار داستان» په نوم چاپ شوې ده. کانديد اکاډميسين محمد انور نوميالي هم دغه اثر د «يو زر و يو شپه» په نوم په پښتو ژباړلی او يوه برخه يې په دوو ټوکونو کې چاپ شوې ده. قاضي صفي الله د خپل وخت نوميالی ديني عالم او ليکوال و، له «خزاين القصص» پرته د منطق د علم ضابطه يې د «*سيف المبتدي*» په نوم په پښتو نثر ليکلې او په ځينو ديني کتابونو يې حاشيې هم ليکلې دي(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۸۹ل، ۴۷۷ مخ).

قاضي صفي الله د قاضي مطهر زوی د څوارلسمې پېړۍ د اوایلو له علماوو او مشایخو څخه و. متداول علوم یې د سیمې له جیدو علماوو څخه زده کړل او خپل وخت یې تألیف او تدریس ته ځانګړی کړی و. د «سیف المبتدي» په نوم د منطق علم ضابطه یې په پښتو نثر تألیف کړی او پر ځینو دیني کتابونو یې حواشي لیکلي دي(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٢٧٨ مخ).

رضوګل مروت (١٨٨٤م کال زوکړی) د «ګنجینه عملیات» موسوم به «ذخیره طلسمات» مشهور به «خلاصه مجربات» اعني «کتاب التعویذات» اثر لري چې د ده تر ټولو لوی پښتو اثر دی چې د عبدالعزیز له دري تعویذات څخه یې ژباړلی او په ١٩٢٦م کال خپور شوی دی. دا اثر ١٧٦ مخونه لري چې په نثر لیکل شوی او ځای په ځای پښتو او دري بیتونه هم لري. د دې کتاب یو چاپ هم د «کنز الحسین افغاني» په نامه یاد شوی چې دیوان ګوهرک سنګهـ چاپ کړی دی(رفیع، ١٣٥٩ل، ٢٤٩- ٢٥٠ مخونه).

ګل محمد خرښبون د ننګرهار د خوګیانو په سرما کې اوسېده، د هغه ژوند د ١٣٠٠هـ.ق کال په حدودو کې اټکل شوی دی. په پښتو ژبه یې نظم او نثر لیکه. په دیني علومو په تېره بیا په میراث کې یې پوهه لرله، د «*میراث ضابطه*» یې په پښتو نثر لیکلې ده. منظومات یې له همدې کتاب سره مل دي. په مقدمه کې یې د امیر عبدالرحمن خان ستاینه کړې ده. دا شعر د ده دی:

دا ستا ټیک دی امیز پیروان وزیر په لبو سور　　شین خالی دې دی سالار پلټنې اخلي او سن زور(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٤١٢ مخ)

«*دُر بې بها*» په پښتو کې د ګل محمد د میراث مشهوره منثوره رساله ده. لیکوال یې د امیر عبدالرحمن خان (١٢٩٦- ١٣١٨هـ.ق) معاصر او د تګاو د لنډاخېلو د کلي اوسېدونکی دی. دی د څوارلسمې پېړۍ د دویمې لسیزې په وروستیو کلونو کې په ډهلي کې وو. «دُر بې بها» یوولس بابونه او څو فصلونه لري. دا کتاب څو ځله چاپ دی او د دې رسالې منثوره برخه داسې شروع کېږي: «هر شخص چې نقل کاندي له دار فنا نه و دار بقا ته، دی به خالي نه وي، یا بې مال پاتې شوی وي یا به نه وي پاتې شوی، کنه وو پاتې شوی په ده دې ولګېږي له بیت المال نه»(هېوادمل، ١٤٠٣ل، ٢٣١ مخ).

مولوي محمد اسمعیل چې د پښتونخوا د هزارې د ډوډیال اوسېدونکی و، د پښتو د زده‌کړې لپاره یې ډېر کتابونه کښلي چې د څو نومونه یې دا دي: «*ائینه الفاظ افغاني*» چې په ١٣٠٠هـ.ق کال تألیف شوی دی. یوه خطي نسخه یې د افغانستان په ملي آرشیف کې وه. په روهي ادب کې د دې کتاب نوم «ائینه

الفاظ و معاني» راغلی دی. دا کتاب اول ځل په ۱۸۸۴م ۱۴۴ مخه په ايبټ آباد کې چاپ شوی دی. «*اتاليق پښتو*» د ده بل کتاب دی چې په ۱۸۹۶م کال په ايبټاباد کې چاپ شوی دی. «*خزينه افغاني*»، «*سوال و جواب افغاني*»، «*پښتو خبرې اترې*» چې په ۱۸۹۰م کال په لاهور کې چاپ دی. «*گفتگوی افغاني با ترجمه هندوستاني*» چې په ۱۸۸۳م کال په ايبټاباد کې چاپ شوي دي. ده دوه نور کتابونه هم ليکلي چې «*افغاني کې پهلی کتاب*» او «*دوسری کتاب*» چې دا دواړه د ده تر مړينې وروسته چاپ دي. نوموړی په ۱۹۸۵م کال وفات شوی دی. د ده په کارونو کې د نثر برخه شته، د ډارمسټر په غوښتنه يې څه نثرونه ليکلي چې په هاروبهار کې چاپ دي. يوه برخه يې دا ده: «اصلاً قصه دا رنګه ده چې د سلطان سکندر بادشاه لوی وزير لقمان حکيم وه. د ملک ټول تدبير به ده کوه او هر څه چې به يې ويل نو بادشاه به منل. له دې کبله نورو وزيرانو ورسره دښمني کوله....». د ده نثرونه د دې پېر د نورو نثرونو غوندې روان او بې ګنډو دي، خوږلت هم په کې شته(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۸۶ مخ).

«*در مکنون*» د حضرت رسالت پناه د سيرت مبارک يوه کوچنۍ رساله ده چې **مولوي عبدالرحيم** په ۱۳۰۹هـ.ق کې په اپوزو د کاکړستان کې په پښتو ترجمه کړې ده. رساله په عربي ژبه د نور العيون په نامه شيخ ابوالفتح محمد بن احمد ليکلې او بيا شاه ولي‌الله دهلوي د سرور المحزون په نامه په دري ترجمه کړه او له دري ترجمې نه مولوي عبدالرحيم خليل په پښتو اړولې ده، نوم يې «در مکنون» پرې ايښی دی. د در مکنون په نامه د سيرو دغه رساله د فتاوای احمدشاهي په حواشيو کې په ۱۳۲۱هـ.ق کې چاپ ده. د فتاوا د متن تر ۱۷۹ مخ پورې حاشيو کې د دې رسالې متن خوندي شوی دی(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۱۷ مخ).

عبدالرحيم د دغه کتاب په سريزه کې د پېښور له توابعو څخه د خليلو د شاهي استوګن بولي، خو داسې ښکاري چې په کاکړستان کې هم اوسېدلی دی. د «فرهنګ زبان و ادبيات پښتو» مؤلف يې له نامه سره «مومند» هم زيات کړی دی(هوتک، ۱۳۹۵ل - ج، ۹ مخ).

د پښتو ترجمې همدا متن محمد معصوم هوتک چاپ ته اماده کړی او د ده له مقدمې سره په ۸۲ مخونو کې په ۱۳۹۵هـ.ش کال له کندهاره خپور شوی دی. دغه اثر په دې متن پيل شوی: «حمد او ثنا چې ګنجائش (ئې) د بني آدم د قوت په احاطه کښې نه شي راتلی، قاطبة هغه ذات لره ښايي چې په وحدانيت ئې جميع مخلوقات د مزکو او د آسمانونو شاهد دي جل جلاله و عظم برهانه او درود نامحدود لائق د هغه هادي برحق او نبي مطلق دی چې په افضليت او په ختميت باندې ئې پخپله

حضرت باري جل ذکره گويا دی....»(اخونزاده، ۱۳۹۵ل، ۱۷ مخ). د ترجمې بله نمونه يې: «ازواج مطهرات حضرت محمد ﷺ: حضرت اول بي‌بي خديجه د خويلد لور په نکاح کړه، لکه چې پخوا يې احوال تېر شه. پس له هغې نه يې ام المؤمنين سوده د زمعه لور په نکاح راوسته. هغه حضرت څخه زړه شوه. حضرت اراده وکړه طلاقه يې کړي، هغې وويل ځما مردانو ته حاجت نشته، ځما مقصود دا دی چې په قيامت کې د حضرت په ازواجو کې وشمارلی شم، ځکه خپل وار يې عايشې صديقې ته وباخښه او طلاق يې وانخيست...».

په دې ترجمه کې رواني شته، حشو او زواید نه په کې ليدل کېږي، د جملو جوړښت يې ښه دی. اما د رسالې خاتمه چې پورته يې نمونه راوړل شوه، خپله مولوي ليکلې او ترجمه نه ده، گنډې لري او رواني په کې نشته(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۱۷ مخ).

خو د در مکنون [ژباړلې] جملې رواني او واضحې دي او اطناب په کې بېخي نشته. د ژباړې دغه څو جملې يې ولولئ، د ټول کتاب د نثر يو مثال وگڼئ: «د قوم د اشرافو دلجويي به يې کوله. اهل فضل به يې خوښ وو، هر چا ته به يې تندی رونړ و، د عذر راوړونکي عذر به يې قبلاوه. په حق او رښتيا ويلو کې ورته زورور او کمزوری يو شان و؟ څوک به يې په تگ کې خپلې شاته نه پرېښود او دا به يې فرمايل چې ځما شا فرښتو ته پرېږدئ او په سورلي کې به يې څوک پلی له ځان سره نه پرېښود. له ځان سره به يې سور کړ او که هغه به نه سورېده نو به يې ورته وفرمايل چې د خپل مطلب ځای ته له ما نه وړاندې لاړ شه»(غضنفر، ۱۳۹۸ل، ۲۷۸ مخ).

د «*تصفية المراة لترجمة المشكوة*» د کتاب پښتو ترجمه **مولوي عبدالحق** د دارښگو کړې او اصلي مؤلف يې شيخ عبدالوهاب دهلوي ښودلی دی. د دې کتاب پښتو ترجمه په دوو ټوکونو کې تهيه شوې ده، د لومړي ټوک په پای کې يې د ترجمې د بشپړېدو کال ۱۳۲۲هـ.ق ښوولی دی. لومړی جلد يې په ۱۳۲۵هـ.ق کال په ۴۷۳ مخونو او دوهم جلد يې په ۱۳۲۷هـ.ق کې په ۴۰۴ مخونو کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د ايمان، علم، طهارت، لمانځه، زکات، روژې، دعواتو او بيوعو اړوند احاديث په پښتو ترجمه شوي دي. د ترجمې يوه بېلگه يې: «او روايت دی له انس نه چې بېشکه ويلي دي، فرمايلي دي پيغمبر د خدای ﷺ هغه چا چې وکړلو نمونځ زمونږه مخ يې کړو قبلې زمونږ او وې خوړله ذبح زمونږ، پس دا کس هغه مسلمان دی چې ده لره وعده د رسول د خدای ده، پس ټگي مه کوئ تاسې له خدای سره په وعده د ده کې، دا روايت مسلم کړی دی»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۱۹ مخ).

«*خاتم النبيين*» د سيرت يوه وړه رساله چې د داربنګو د مولوي عبدالحق زوی **مولوي عبيدالحق** ليکلې او په ۱۹ لويو مخونو کې د مولوي عبدالحق له خوا د ترجمه شوي قرآن شريف په وروستۍ برخه کې چاپ شوې ده. د دې رسالې په پيل کې عبيدالحق ليکلي دي: «دا يوه مختصره رساله د سردار زمونږه حضرت پيغمبر ﷺ خوبۍ او صفتونه هم دا قدرې ښوولی شي څومره چې يوه ذره د نور د رڼا سره، ليکن هر کله چې ما وليدل چې خلق د معتبرو فاضلانو لوی لوی کتابونه لري او د بې خبرۍ او بې علمۍ له جهته نه په تياره کې پراته وي، امېد دی چې دا يوه وړه رساله ولولي نو د مسلمانانو په زړونو کې به د حضرت محمد ﷺ د محبت او تابعداری شوق او محبت او مينه ښه ترقي وکړي...».

مولوي عبيدالحق د څوارلسمې هجري پېړۍ د لومړۍ نيمايي ليکوال ښکاري. د نثر ليکنې شېوه يې د پښتنو ديني عالمانو د نثر ليکنې د روشونو تابع ده.

د داتا ګنج بخش په خطي کتابو کې يوه پښتو خطي نسخه شته چې نوم يې دی: «*رساله افغاني في سير نعمان*»، نسخه د مؤلف په خط ده او مؤلف يې غالباً **مولوي احسن خان** دی. د امام اعظم دا سيرت دوې برخې لري، لومړۍ برخه يې شرح حال او په دويمه برخه کې يې تصنيفات ښوول شوي دي. د دې سيرت لومړۍ برخه داسې پيل شوې ده: «ثنا تا لره ده خدايه يې له هره عيبه پاک، ستا په حکم هر څه کېږي چې ضم نون سره کړي کاف وايم صلوة په پاک رسول چې دی ستا په در قبول د لولاک تاج يې په سر خوږ زبان په سينه صاف.

بيان دی د امام ابوحنيفه صاحب د نوم او د نسب او ولادت...».

دا سيرت په ۱۳۲۶هـ.ق کال خطاطي شوی او په غالب ګومان چې دا يې د بشېړېدو کال هم دی. دا اثر د نثر د جوړښت له نظره علمي نثر دی او مؤلف د ډېرو منابعو په استناد تهيه کړی دی، دا نثر د ديني مدارسو د علماوو د درسي کتابونو له نثرونو بريالی او پرمختللی دی، د هغه وخت د ديني نثرونو د ليکنې شېوو ته په پاملرنه دا نثر روان دی، چې لوست يې سړی نه ستړی کوي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۱۹ مخ).

«*حجة الاسلام*» منثور کتاب دی چې **ولي الله** نومي له هندکو ژبې څخه په پښتو ترجمه کړی دی. د دې کتاب مطالب د عقايدو له معتبرو کتابونو څخه اخيستل شوي او مسايل په کې د سوال او ځواب په دود بيان شوي دي، لکه: «سوال که څوک تاته ووايي چې ستا وجود کې څو امامان دي؟ جواب وايه چې پنځه دي، اول امام، تن دی، دويم امام روح دی، دريم امام زړه دی، څلورم امام عقل او پنځم امام

فهم دی». دا کتاب چاپ نه دی ، خطی نسخه یې ۱٦ پاڼې په پښتو آرشیف کې خوندي ده.

«*نور الاسلام*» یو بل کتاب دی چې **احمد** نومي له دري نه په پښتو ترجمه کړی دی. د دې کتاب کومه خطي نسخه چې په پښتو آرشیف کې شته، ۳۹ پاڼې لري، ځینې برخې یې په نظم او څه یې په نثر دی. مطالب یې د سوال او ځواب په بڼه بیان شوي دي. په دې کتاب کې د ایمان بحث راغلی او د اسلام پنځه بناوې په کې بیان شوې دي. د فرایضو، سنتونو، د سجده سهوې، د نمانځه د فضیلت او د نمانځه د ترک بیان او بابونه په کې راغلي دي. په منثورو برخو کې یې د مسایلو د بیان شیوه داسې ده: «که څوک وایي چې ایمان راوړل فرض دی که سنت دی، جواب ورته ووایه چې اول راوړل فرض دی او تکرار سنت دی...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۳- ۲۲۴ مخونه).

«*عقاید المؤمنین*» د ایمان او عقیدې په بیان کې یو بل دیني کتاب دی چې منظومه او منثوره مقدمه هم لري او دا مقدمه محمد عمر نومي کښلې ده. دا کتاب ۲۴ مخه لاهور کې چاپ شوی دی. دا کتاب د **مولانا عبدالوهاب** تألیف دی چې مسایل په کې په ځینو برخو کې د سوال او ځواب په بڼه تهیه شوي دي. د «عقاید المؤمنین» نثر تر «حجة الاسلام» او «نور الاسلام» دواړو ښه دی، وضاحت او رواني په کې ډېره ده(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۴، ۲۲۵ مخونه).

د پښتو د پښتو اکیډیمۍ د پښتو خطي نسخو په جوړ شوي فهرست کې یوه خطي نسخه معرفي شوې ده چې سر او پای نه لري، موجودې پاڼې یې پنځه دي چې په هغو کې درې پاڼې پښتو او دوې پارسي دي. د نسخې په موجودو پاڼو کې دوه اویا مذهبي فرقې لنډې تشریح شوې دي. دا رساله چې د «*تشریح الفرق*» په نامه معرفي شوې، لیکوال یې نه دی معلوم. د دې رسالې د پښتو لیکنې طریقه دا ده: «زده‌کړه چې شپږ فرقې به دو اویا شي، پدې شان چې هر یوه له شپږو نه دولس فرقې شي، نو دوه اویا...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲٦، ۲۲۷ مخونه).

«*مجموع البرکات*» د **محمد امین تهکالي** اثر دی چې په ۱۳۲۲هـ.ق (۱۹۰۴م/ ۱۲۸۳ل) په راولپنډۍ کې چاپ شوی دی. دا کتاب په نظم و نثر دی، ۲۵ بابه دی، د لمانځه او اوداسه مسایل په کې بیان شوي دي، د عقایدو او اسلامي فرقو بحثونه یې کړي دي، فقهي او شرعي مسایل یې په کې تشریح کړي دي او څلیریشتم باب یې د حضرت پیغمبر معجزات دي. د نثر یوه نمونه یې دا ده: «زده‌کړه ای مومنه مسلمانه چې دا دو اویا فرقې شپږ ټولې دي، پدې شان سره رافضیه، خارجیه، جبریه، قدریه، جهیمیه، مرحیه هره فرقه له دوی دولس فرقې شوې دي». تهکالي د یاسین شریف د سورت د تفسیر

ځينې برخې په نثر کښلې دي.
پورتني دواړه آثاره (تشريح الفرق او مجموع البركات) يو اثر نه بلل کېږي، ځکه د دواړو آثارو نمونې چې وکتل شي، فرقونه په کې دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۷ مخ).
د محمد امين تهکالي «مجمع البركات المعروف بمسايل ضروريات و المشهور بمزين الابيات» په ۱۳۲۷هـ.ق کال په ۲٦۸ مخونو کې(رفيع، ۱۳۵٦ل، ۲۱۹ مخ) چاپ شوی دی. تهکالي دا لاندې آثار هم لري:
بخت نامه جديد- مناجات ختم قرآن شريف، محمد امين تهکالي او غلام قادر، پېښور، ۸ مخه.
تواريخ بيت الله و زيارت مدينه، محمد امين تهکالي، پېښور، ۱۲۹۹ق، ٥٦ مخه، ميور پريس- دهلي.
فقرنامه، محمد امين تهکالي، پېښور، ۱٦ مخه.
قصه اصحاب کهف ورقيم، محمد امين تهکالي او احمد. ۴۸ مخه، حميديه پريس- لاهور(رفيع، ۱۳۵٦ل، ۲۱۸، ۲۱۹ مخونه).
«*شمس الهدی*» دوه ټوکيز کتاب دی چې خطي نسخې يې د پېښور آرشيف په خطي مجموعه کې شته، لومړی ټوک ۲٦۸ مخه او دويم يې ۳٦۷مخه دی او ناقص الاخر دی. په دواړو جلدونو کې ديني او عقيدهيي مسايل تشريح شوي دي. د کتاب په منځ کې يو ځای ۱۳۲٥هـ.ق (تخميناً ۱۹۰۷م/ ۱۲۸٦ل) سنه ښودل شوې ده چې ترې ښکاري چې د دې کتاب په ليکلو به مؤلف په همدې کال يا تر دې دمخه پيل کړی وي. د کتاب مؤلف د جلوزو **صوفي صاحب** دی چې د مرګ تاريخ يې ۱۳۵۷هـ.ق کال ښودل شوی دی. د شمس الهدی په دواړو ټوکونو کې راغلي مطالب په نظم او نثر اوډل شوي دي. د لومړي جلد د نثر نمونه يې دا ده: «اول شرط د ايمان دا دی چې ايمان په غيبه راوړل دي چې خدای، ملايک، جنت، دوزخ څوک په دنيا کې نه وينې، خو ايمان پرې راوړل فرض دي...».
د دې کتاب نثرونه که څه هم د څوارلسمې پېړۍ د لومړيو لسيزو دي، خو خوند رنګ يې د ديارلسمې پېړۍ د ديني نثرونو دی(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲٥ مخ).
«*فرايض ميراث*» رساله په پېښور آرشيف کې خوندي ده، څلور پاڼې لري او مؤلف يې صوفي صاحب ښودل شوی دی. په دې رساله کې د ميراث ټولې خبرې نه دي راغلي، يواځې د ترکې بحثونه په کې دي. پر سر يې هم کښلي دي: «باب الترکه باب الفرايض څخه چې سړی مړ شي متعلق شي په ترکه پورې د ده حقوق اربعه».

«*تحفة الاسلام*» په نظم او نثر **محمد عادل** لیکلی او په څلورو کتابونو وېشل شوی دی، د کلام، فقهې، تصوف او آخرت بحثونه لري. د نثر لیکنې روش یې دا دی: «رکعتونه فرض د صباح دوه دي او څلور د نماز پشین دي او څلور د نمازدیګر دي، درې د نماز شام، څلور د نماز خفتن...». دا اثر تر اوسه نه دی چاپ شوی، یوه خطي نسخه یې د حمدالله صحاف کندهاري په کتابخانه کې خوندي ده(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲٦ مخ).

«*کامل النصاب در علم منطق تقریر ایساغوجي*» د مولوي عبدالحکیم د امالي او د حیدر د انشاء منثور اثر دی چې د منطق په اړه بحثونه لري. خطي نسخه یې ۱۵۴ مخه ده او د پوهاند ډاکټر جاوېد په کتابتون کې خوندي ده(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱٦۲ مخ).

ملا نعمان د پېښور د توابعو په دیني او مذهبي حلقو کې په نعمان ملا مشهور و. په ۱۸۳٦م کال زېږېدلی او په ۱۹۱٦م کال وفات شوی دی. هغه د دیني علومو عالم او د پښتو مذهبي لیکوال و. په ګړهي فضل حق کې یې امامت درلود. «*ضابطه میراث*» یې په پښتو تألیف کړی دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۱۸ مخ).

«*چارسده*» د میراث اصول او مسایل تشریح کوي. د میراث دا منثور کتاب د **لغمان ملا** له تقاریرو څخه جوړ شوی دی. ۱۱۰ مخه دی او په ۱۳۲۴هـ.ق (۱۹۰٦م/ ۱۲۸۵ل) کال په ډهلي کې چاپ دی. د یادونې ده چې د همدغه ملای لغمان له تقاریرو د «*ضابطه میراث*» په نامه یو بل اثر هم شته چې ۹٦ مخه دی او په ۱۳۴۲هـ.ق کال په لاهور کې چاپ شوی دی. ښایي دا دواړه یو کتاب وي او یا هم بېلابېل(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۹ مخ).

«*ضابطه میراث*» چې هم د ملا نعمان او هم د لغمان ملا بېل بېل آثار ښودل شوي دي، که هر یو بېل بېل اثر وي، ښه تر ښه، که نو د (نعمان) او (لغمان) کلمو نږدېوالی سړی په شک کې اچوي، چې داسې نه وي چې دا دواړه یو سړی وي.

«*اصول السراجي*» د ملا محمد رسول اخوند منوزي د میراث مسایلو په بیان کې منثوره رساله ده. لاسکښلې نسخه یې د جمال الدین په خط په ۱۳۰۳هـ.ق کال په ۱۹ مخونو کې کتابت شوې او د افغانستان د علومو اکاډمۍ د خطي نسخو کتابخانه کې موجوده ده(هیوادمل، ۱۳٦٦ل، ۲۵۳ مخ).

ملا مير سيد په قاضي مير سيد خان مشهور د باجوړ له مشهورو مدرسينو څخه و، د شلمې پېړۍ په اوايلو کې په دوغزشاه سيمه کې اوسېده. په «*منطق علم*» کې يې يو کتاب په ۱۳۲۰هـ.ق په پښتو نثر تأليف کړی دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۰۳ مخ).

مولوي محمد غفران د مولوي محمد معظم زوی په ۱۲۷۰هـ.ق کال د مردان په شهبازګړی کې زېږېدلی او په ۱۳۴۲هـ.ق کال هملته وفات شوی دی. جيد عالم او مشهور منطقي و، په سيمه کې په «منطقي استاد» اوښار و. ده په څينو ديني او مذهبي کتابونو پښتو او عربي شرحې ليکلې دي. «د *ايساغوجي پښتو شرحه*» يې هم تأليف دی.

ملا محمد دين ديني عالم او د پښتو مذهبي نثرليکوال دی چې د څوارلسمې هجري پېړۍ په لومړيو کې د کندهار په شاوخوا کې اوسېده. د ميراث په علم او نورو شرعي او ديني علومو کې د مطالعې او صلاحيت خاوند و. د «*ميراث علم رساله*» يې په پښتو نثر تأليف کړې ده(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۵۰، ۴۴۰ مخونه).

غلام حيدر ديني عالم و او د څوارلسمې هجري پېړۍ په لومړيو کې يې ژوند کړی، په منطق کې د کافي مطالعې او معلوماتو خاوند و. د منطق علم ايساغوجغي ضابطه (پښتو) د هغه له امالي[1] څخه ده.

مولوي عبدالاکبر هلي ديني عالم او د شهرت خاوند فقيه و. هغه «*کافيه*» په دوو ټوکونو کې په پښتو نثر وليکله. دغه ترجمه په کليوالو تدريسي حلقو او ديني مدارسو کې په «تحرير هلي» مشهوره ده(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۳۵۷، ۲۹۲ مخونه).

د دې ليکوال د ژوند زمانه او هم د اثر د ليکلو وخت را معلوم نه شو.

ميرزا دوست‌محمد د ميرزا دين محمد زوی د پېښور نوښار کې اوسېده او د عريضه‌ليکنې پېشه يې لرله. دوست محمد په ۱۳۲۵هـ.ق کال د حج تر ادا کولو وروسته د «*سراج الحج*» په نوم په پښتو نثر کتاب تأليف کړ. دی د پښتو مذهبي نثرليکونکو څخه حسابېږي.

مولانا محمد الياس پشاوري د څوارلسمې پېړۍ د اوايلو مفسر وی. په ديني تفسير کې يې بشپړ صلاحيت خاوند و. د «*مخزن التفاسير*» په نوم د قرآن عظيم تفسير يې له څو معتبرو تفاسيرو په استفادې تأليف کړی دی(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۷۹، ۵۱ مخونه). دغه تفسير ۵٦۱ مخه ده او په ۱۳۱۳هـ.ق کال ډهلي کې چاپ دی(هېوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱۹۴ مخ).

---

[1] هغه کتاب ته ويل کېږي چې استاد تقرير کوي او شاګردان يې ليکي.

دا د مولانا محمد الياس پشاوري وينا ده:

ای زما خپله ځيگره ای زما د زړگي سره

نصيحت درته کاوه شي ستا د پاره ده بهتره(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٥١ مخ)

عبدالله غزنوي ديني عالم او مفسر و. خيرالله پشاوري د «خير اللغات» په مقدمه کې کاږي چې عبدالله غزنوي «*حسيني تفسير*» په پښتو ژباړلی دی.

محمد علي ديني عالم او د پښتو ليکوال و. قاضي خيرالله پشاوري د «خير اللغات» په مقدمه کې ليکي چې محمد علي د قرآن عظيم تفسير په پښتو ژبه کړی و(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ٣٢٧، ٤٤٩ مخونه).

«*تفسير بي نظير*» چې محمد يعقوب څرخي ليکلی او پښتو کوونکی يې نامعلوم شخص دی، پېښور کې په ١٣٠٢هـ.ق په ١٨٠ مخونو کې احمدي مطبعې (رفيع، ١٣٥٦ل، ٢٢٧ مخ) چاپ کړی دی.

احمدجي د محمدشاه گل زوی، صوفي او ديني عالم و. په ١٣٢٥هـ.ق کال کې يې د «*مفيد المبتدين*» کتاب په پښتو نثر تأليف کړی چې صرفي قواعد په کې بيان شوي دي(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ١٨ مخ). استاد رشاد ليکلي: د احمدجي تخلص رحيمي دی، هغه د لاله کاله اوسېدونکی و، «*رساله افغانيه فی الحساب*» او «*ضابط ميراث (مفتاح السراجي)*» يې هم تأليفات دي(هېوادمل، ١٣٦٥ل، ٣١١ مخ).

مولانا عبدالحق مشهور په مانکي ثاني د مولانا عبدالوهاب زوی د افغانانو مرشد، پېشوا، روحاني او مجاهد و. مولانا ثاني روحاني شخص او د ديني علومو عالم و. د پلار تر مرگ وروسته ٢٤ کاله د هغه د مقام او منزلت سجاده‌نشين و. مولانا عبدالحق د «*عقايد المومنين*» په نوم کتاب په پښتو نثر تأليف کړی دی. دا اثر سهواً د هغه پلار ته منسوب شوی دی. مولانا ثاني په ١٩٢٨م کال په اتيا کلنۍ کې له دې نړۍ سترگې پټې کړې(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ١٠٩ مخ.). «بيان الايمان المعروف به عقايد المؤمنين شجره پيروان طريقه قادريه» يا «عقايد المؤمنين» د ديني عقايدو په برخه کې اثر دی چې په سر کې يې د محمد عمر او په پای کې يې د عبدالحکيم شعرونه راغلي دي، په ٢٤ مخونو کې په لاهور کې چاپ دی(رفيع، ١٣٥٦ل، ٣٥٤ مخ).

ملا سيد عبدالغني د سيد شمس الدين زوی د ننگرهار په کامه کې زېږېدلی او لوی شوی دی. بيا پېښور ته تللی او هلته په سفيد ډيرۍ نومي کلی کې مېشت شوی دی. هغه د ديني علومو عالم او له شعر نه يې څرگندېږي چې په ادبي پوهنو کې هم وارد و. د هغه دوه منظوم آثار معلوم دي:

١-*تذکره*: په ١٣٢٨هـ.ق کال کې ليکل شوې، سرمحقق زلمي هېوادمل ليدلې او په کوټه کې د سيال

کاکړ په کتابخونه کې خوندي ده.

۲- *زبدة الکلام*: د دې اثر د بشپړېدو کال ۱۳۲۷هـ.ق (۱۹۰۹م) دی. دا اثر د ملا علي قاري هروي (۱۰۱۴هـ.ق کال مړ) د «تعديل الرکوع والسجود و مايتبعهما من القومة والجلسة والقعود» د عربي رسالې پښتو ترجمه ده چې په ځينو برخو کې د مترجم له خوا د (فايده) يا (ابيات) تر عنوانونو لاندې منظوم مطالب پرې زيات شوي دي. دا اثر چې په *نظم او نثر* د لمانځه د مسايلو په باره کې دی، د سيد عبدالغني په خپل ليک دی او د پېښور پښتو اکېډيمۍ په کتابخونه کې خوندي دی.

سيد عبدالغني چې ناظم او پښتو ليکوال دی، په «*تذکره*» منظوم او منثور ديني کتاب کې يې د ديني ارشاداتو په رڼا کې ځيني مسايل بيان شوي دي او ځينې قصص هم په کې شته. دا تذکره تر اوسه نه ده چاپ شوې، خو يوه نسخه يې د پروفيسور ولي محمد خان سيال کاکړ په کتابخانه کې خوندي ده(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۸ مخ). سيد عبدالغني له ديني علومو او اخلاقو برخه‌من و. د «تذکره» په نوم کتاب يې د اخلاقي، ديني او شرعي مسايلو په باب تأليف کړی دی. دا شعر د ده دی:

يم په اصل د کامې د ننګرهار　　تقدير راوړم پېښور ته په يو وار

زه سيد عبدالغني ډېر ګناهکار يم　　ربه ستا له فيضه ډېر ډېر امېدوار يم(هېوادمل، ۱۳۵۶ل، ۲۳۷ مخ)

ملا عبدالغني کامه‌وال د «زبدة الکلام في تعديل ارکان الصلوة و متابعة الامام» په نوم هم اثر لري. استاد رشاد ويلي چې مترجم ملا عبدالغني کامه‌وال پر دې ترجمې ځينې ځايونه د (فايده) يا (ابيات) تر نامه لاندې ځينې منظوم مطالب ور زيات کړي دي. د نثر برخه يې د عربي عباراتو تر کلکې اغېزې لاندې ده. دا ترجمه داسې پيل شوې ده: «ډېره ثنا ده هغه الله تعالى ته چې ودرولی يې دی دين په درولو د نمانځه سره او په آدابو د نمانځه سره، يعني نمونځ کوئ سره له آدابو او سره له ساتنې په نمانځه باندې»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۸ مخ).

«*فتاوای نجم الهدی*» د **قاضي ګل احمد** پنډ منثور اثر دی چې له مجموعه‌خاني نه يې په پښتو ترجمه کړی دی. مجموعه‌خاني په فتاواوو کې ډېر مشهور کتاب دی او د ډېرو فقهي او شرعي احکامو بيانوونکو آثارو د مأخذ په حيث د استفادې وړ کتاب دی. فتاوای نجم الهدا په دوو ټوکونو کې تهيه شوی، لومړی ټوک يې ۳۰۴ مخه او دويم ټوک يې ۲۲۴ مخه دی. دا دواړه ټوکه کتابونه په يوه جلد کې په ۱۳۳۱هـ.ق کال په لاهور کې چاپ شوي دي. دا فتاوې پر څو کتابونو او هر کتاب يې پر بابونو

او فصلونو وېشل شوي دي. په دې فتاوا کې د ژوند د بېلابېلو چارو په اړه فقهي او شرعي مسایل بیان شوي دي.

«*جلیل البرهان*» په دري ژبه د تألیف شوي (دلیل الاحسان) پښتو ترجمه ده. دلیل الاحسان د مولوي عبدالله تألیف دی چې پښتانه قاضي ګل احمد هغه په پښتو نثر اړولی او د «جلیل البرهان» نوم یې پرې ایښی دی. دا اثر د دیني ارشاداتو په رڼا کې ځینې اخلاقي وصایا، نکلونه او خبرې بیانوي او د پښتو د اخلاقي او دیني آثارو په مطالعه کې د هېرې نه دی. د نثر نمونه یې دا ده: «واوره چې یوسف هم له څه وجهې نه په کوهي کې پریوتلی و. په تفسیر کې لیکلی دي چې مالک نومي سوداګر وه. یوه شپه هغه په خوب کې ولیده چې سپوږمی له آسمان په لستوڼي زما کې پریوتې ده چې ویښ شه دا خوب یې نجومیانو ته ښکاره کړه...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۷، ۲۳۵ مخونه).

«جلیل البرهان ترجمه دلیل الاحسان» په ۱۳۳۰هـ.ق لاهور کې په ۸۰ مخونو کې چاپ ده. په پښتو نثر د دیني ارشاداتو په رڼا کې اخلاقي لارښودنې په کې راغلې دي(رفیع، ۱۳۵٦ل، ۴۰۹ مخ).

قاضي ګل احمد د «*شفاعت‌نامه*» په نوم رساله هم لیکلې ده(هیوادمل، ۱۳٦۵ل، ۱۳۱ مخ). په «پښتو پانګه» کې راغلي چې «*شفاعت نامه معه وفات نامه*» د ګل احمد کاتب اثر دی چې په لاهور کې په ۱٦ مخونه کې چاپ دی. دا اثر په پای کې د علیخان یو شعر هم لري(رفیع، ۱۳۵٦ل، ٦۴۰ مخ).

د کوډو او تعویذونو او دې ته ورته حکمتونو په باب د نقش سلیماني په نامه هم ځینې پښتو آثار شته چې په هغو کې یو منثور «*نقش سلیماني*» دی چې ۴۸ مخونه لاهور کې چاپ شوی دی. په دې نقش کې دوې منظومې هم شته. کتاب قاضي ګل احمد له نورو کتابونو انتخاب او ترجمه کړی دی. د نثر نمونه یې دا ده: «که ښځه شنډه وي، نو دا تعویذ دې ولیکي او د شنډې ښځې په غاړه کې دې وتړي، که رضا د خدای وي نو بارداره به شي»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۴۳ مخ).

دیني نثرلیکونکي **محمد غوث** د څوارلسمې پېړۍ په لومړیو لسیزو کې د لاهور په شاوخوا سیمو کې ژوند کاوه، د امامت پېشه یې درلوده او د دیني او شرعي احکامو په رڼا کې یې د ښځو مسایل څېړلي او په پښتو نثر یې د «*نجات النساء*» په نامه کتاب په ۱۳۳٦هـ.ق (۱۹۱۸م/ ۱۲۹٦ل) کال کښلی دی. د ده دا کتاب ۲۴ مخه په لاهور کې چاپ دی. د نثر شپوه یې د دیارلسمې پېړۍ د نثر لیکونکو شپوو ته پاتېږي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۷ مخ). مولوي محمد غوث د دیني علومو عالم او د پښتو نثر لیکوال و. د افغانانو په چهاونې میانمیر کې یې امامت درلود(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۴۵۱ مخ).

په چمن کې د عبدالرؤف رفيقي په کتابخانه کې د ميراث پر موضوع د درې رسالو نسخې شته. يو په دغو کې «*اصول سراجي*» نومېږي. دا رساله د **ملا بازمحمد** امالي ده او نسخه يې شاه‌محمد نومي په ١٣٥٦هـ.ق کال کښلې ده. دا رساله داسې شروع کېږي: «چې سړی مړ سي متعلق سي په رکه پورې د ده حقوق اربعه». دا رساله د پېښور آرشيف د فرايض ميراث رسالې سره يو شان ده، يواځې لهجه يې ځينې توپيرونه په کې شته، دا دواړه رسالې د يوه سړي ښکاري چې يوځای يې نوم «فرايض ميراث» او بل ځای «اصول سراجي» راغلی دی، خو دا هم کېدای شي چې دواړې د ښلابښلو کسانو امالي وي؟

په دوو نورو رسالو کې يوه رساله په بالاکرز کې اوسېدلي محسن کاکړ کښلې ده او بله رساله هم همدې **ملا محسن کاکړ** په بالاکرز کې کښلې ده. د دې دوو وروستيو مطالب مشابهتونه لري خو توپيرونه يې هم ډېر دي، کېدای شي له يوې منبع ترجمه شوي وي.

د صاحبزاده حميدالله په خطي مجموعه کې د «اصول سراجي» په نامه د ميراث يوه رساله شته چې د عبدالصمد دراني په خط ده او په ١٣٢٥هـ.ق کال کې کښل شوې ده. د دې رسالې پيل داسې دی: «قسمت لره د ترکي لابدي ده له معرفت څخه د څلور اشيا، بيا هر يو په دوه قسمه دی په اوه اصول بيانيږي...»(هېوادمل، ١٤٠٣ل، ٢٣٠ مخ).

ملا نعمت الله نوښاري په ١٣١٥هـ.ق کال د «*خوابنامه کلان*» په نامه د خوبونو د تعبيرونو په باب منظوم او منثور کتاب کښلی چې د منثورو برخو يوه نمونه يې دا ده: «روايت دی چې يو ورځ پيغمبر وفرمايل چې ما په خوب کې وليدل چې ډېرو سړو جامې اغوستې دي د چا لستونې تر زنګنو پورې دي، د چا تر لاسونو پورې، د چا له دې نه هم نه کم دي...».

قاضي عصمت الله چې د زيارت کاکا صاحب اوسېدونکی و، د «*خوابنامه کلان*» په نامه يو پنډ کتاب لري چې په پښتو نثر دی. قاضي د څوارلسمې پېړۍ د اوايلو عالم او شاعر ښکاري. د نثر ځانګړنې يې د ديارلسمې پېړۍ د اواخرو او څوارلسمې د اوايلو نثرونو خصوصياتو ته پاتې کېږي(هېوادمل، ١٤٠٣ل، ٢٤٢ مخ).

د جادو او طلسم په باره کې د شيخ داود سبزپوش رساله «*مطلوب الطالبين*» په بنو کې اوسېدلي «*معراج الاسلام*» په پښتو نثر ترجمه کړې ده. دا ترجمه ١٩١٤م کال په لاهور کې چاپ شوې ده. کتاب د طلسم او جادو په باب بيانونه وړاندې کوي.

علامه امير علي د ديني علومو عالم و، اته کتابونه ترې پاتې چې د ٧ قلمي نسخې يې اجمل ختک

لیدلې دي، د ده د ژوند د حالاتو او مړینې د نېټې معلومات نشته(بختانی، ۱۳۹۱ل، ۱۰۸٦مخ)

د چارسدې په توابعو کې اوسېدلی **محمد عبدالغفور** هم په دیني نثرنګارانو کې ولاړ سړی دی. ده په پښتو نثر یوه رساله کښلې ده چې «*صلوة الاصفیاء عن کتب الاتقیاء*» نومېږي. دا کتاب د لمانځه په باب صوفیانو ته ځینې لارښوونې لري. رساله ١٦ مخه ده او لاهور کې چاپ شوې ده(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۷- ۲۲۸ مخونه). نوموړی د پېښور د چارسدې په تمبولک کې اوسېده. د پښتو مذهبي نثرلیکوال و(هېوادمل، ١٣٥٦ل، ۴۴۸ مخ).

قدرت علي هزاروي چې قصه‌پرداز او چاربیتي شاعر دی، د «*خزینة السلطان*» و «*مشکل کشای طالبان*» په نامه کتابونه لري. ده په خپلو چاربیتو کې ځینې مسایل د معماوو په بڼه راوړي او بیا یې دا مسایل په پښتو نثر تشریح کړي دي. دا منثوره برخه زیاتره فقهي مسایلو ته وقف شوې ده. دا یې هم د نثر نمونه: «یو سړی پردی شي واخلي په غصب یا په غلا سره او له چا څخه یې امانت کړي او لدې امانتدار نه ضایع شي، پس هغه خاوند د مال چې له چا نه غصب شوی یا غلا شوی وه، خبر شه چې هغه مال چې له ما نه په غلا یا په غصب تلی وه له فلاني سړي څخه امانت کړی شوی وه...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۸ مخ).

امیر محمد ترخوی چې د صوفیانو په حلقو کې په «امیر ترخوی» شهرت لري، پلار یې الب خان او د پېښور په ترخه کې اوسېده. دیني عالم او د پښتو لیکوال و. د اسلام په تاریخ کې یې مطالعه لرله، د «**محمد**» په نوم کتاب یې په پښتو نثر تألیف کړی او چاپ دی.

«*مجموع فرایض*» رساله **آخوند موسی ولي‌زي هوتک** لیکلې چې خطي نسخه یې ۳۸ پاڼې ده. په دې رساله کې یواځې له میراث بحث نه دی راغلی، بلکې د عباداتو او معاملاتو فرایض یې په کې بیان کړي دي. د دې رسالې په یو ځای کې راغلي دي: «که چېرې سړی مړ شي او میراث خواره یې پر میراث باندې نه جوړیږي، دا کتاب دې هر څوک زده کا او هم دې په یاد کا چې د دوی دعوه پدې پرې کېږي»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۹ مخ).

«*اصول الفرایض*» رساله په پېښور آرشیف کې خوندي ده، په حقیقت کې د میراث دوې رسالې دي چې مؤلف یا مترجم او کاتب یې نه دی معلوم. دواړه د میراث اصول بیانوي. لومړنۍ رساله پنځه مخه او بله یې اووه مخه دی. د دواړو رسالو نثر رواني او سلاست نه لري او د ضابطو نثرونو ته نزدېوالی ښیي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۹ مخ).

د یوولسمې پیړۍ د لیکوال او میراث‌پوه شمس الدین دلازاک د میراث د علم منظوم کتاب شمس الناصرین په خطي نسخې پورې د میراث یوه منثوره رساله نښتې ده. دا رساله «*سراجي*» نومیږي، خو اصلي لیکوال یې نه دی معلوم. په دې رساله کې د میراث مسألې په پښتو نثر څېړل شوي دي، یوه مسأله یې دا ډول څېړلې ده: «مسأله: که د میت یوه عورته درې زویه یوه لور دوه ورونه پاتې وي، میراث اته حصه کړه، یوه حصه د عورته کړه، یوه د لور کړه، دوه – دوه د زویو کړه ورونه محروم دي». په دې رساله کې د میراث مسألې په پښتو نثر څېړل شوي دي. دا رساله پر میراث کښل شویو منثورو رسالو کې زړه رساله ښکاري.

د داتا ګنج بخش د کتابخانې په پښتو خطي نسخو کې یوه *رساله* شته چې د پاڼو شمېر یې ۷۵ ښوول شوی ی، نه یې نوم معلوم دی، نه لیکوال او نه د لیکلو کال، په هغو کې د ترکې او ورځې په باب خبرې راغلې دي. د نثر خصوصیت یې د میراث له نورو رسالو سره مشترکات لري، خو د مدارسو د مدرسینو د ضابطو پر نثر یې ښېګڼې غالبې دي. په دې رساله کې یو ځای راغلي دي: «پس له تجهیز او تکفینه دویم حق یې ادا د فرض وي او دریم حق وصیت په ثلث د مابقي که څلورم حق ارث دی»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۳۰، ۲۳۱ مخونه).

د پښتو نثر په اصلاحي جریان کې چې د ډېر حق خاوند دی، هغه **قاضي میر احمدشاه رضواني** (۱۲۷۶- ۱۳۵۳هـ.ق) دی. دی د پښتو ژبې نثر لیکونکی، ګرامرست او د پښتو او پارس ژبو شاعر، د پښتو د درسي کتابونو لیکوال او د پنجاب په پوهنتون کې د پښتو استاد او ممتحن پاتې شوی دی. د رضواني ټول کارونه ارزښتمن او د فرهنګي کار هره برخه یې د حساب وړ ده خو څه چې د ده په کارونو کې زیات ارزښت لري، هغه د ده نثرونه دي. رضواني د پښتو د نوي نثر په روزنه کې د حق خاوند سړی دی. د پښتو هغه نثر لیکل چې مولوي نورمحمد نوري هوتک پیل کړل او مولوي احمد ښه پسې وپالل، رضواني یې په روزنه کې ښه برخه واخیسته او یو پرمختیایي پړاو ته یې ور داخل کړل. د ده پښتو نثرونه د ده په دوو درسي کتابونو کې چاپ شوي دي. منثورې ټوټې او د ده له خوا لیکل شوي حکایات په «*بهارستان افغاني*» د ۱۸۹۸م کال چاپ او «*شکرستان افغاني*» د ۱۹۰۵م کال چاپ کې راغلي دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۷۶ مخ).

دا دواړه کتابونه د درسي مقاصدو په منظور لیکل شوي دي. په دې کتابونو کې د پښتو د زړو متونو (نظم و نثر) منتخبات هم راغلي او د ده خپل لیکلي واړه منثور مضامین او حکایتونه هم راغلي دي. د

نثر لیکلو شهوه یې داسې ده: «د کابل او هندوستان په مینځ کې د پښتور د ملک د باغ ارم نمونه خدای پیدا کړی دی. سرسبز ملک، شنه غرونه، خوږې اوبه، لذیذې میوې، خوشرنګ ګلونه، ښایسته خلق یې د نندارو دي. پنځه سیندونه په کې جاري دي، ځای په ځای کې ولې بهیږي د باغاتو حساب یې نشته...». د رضواني نثرونه د دې پړاو د مشرانو په پرتله ډېر خواږه شوي او کلیوالي اصطلاحات او محاورې یې په حکایتونو کې راوړي دي او ځینې ټوکي قصې هم د ده په منثورو آثارو کې سړی موندلی شي(هېوادمل. پښتو نثر اته سوه کاله، درېیم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۴۰۳ل، ۲۸۸، ۲۸۹ مخونه).

همېش خلیل لیکي: شمس العلماء علامه سید قاضي میر احمد شاه رضواني ابتدایي مروجه تعلیم د خپل کلي له یوه عالم عبدالله او نورو عالمانو نه حاصل کړل او بیا یې د مزید علم د حصول په اراده خپل کور پرېښود. پنجاب پوهنتون ته لاړ او هلته یې په خپل علم کې د اضافې په برکت د «مولوي (عربي)» په امتحان کې له کامیابۍ وروسته د عربي «مولوي عالم»، «فارسي منشي فاضل»، «عربي مولوي فاضل» او«پښتو هائي پرافیشنسي» امتحانونو کې له کامیابۍ نه وروسته په ۱۸۷۹م کال د امرتسر په نارمل سکول کې د عربي او پارسي ژبو او ادب د مشر استاد په حیث مقرر شو(خلیل، ۲۰۱۰م ، ۹ مخ).

په «پښتانه لیکوال» لومړي ټوک کې د رضواني د ۴۰ آثارو نومړو خپور شوی چې ځینې یې دا دي: تجوید قرآن، ترجمه معه تفسیر قرآن پاک موسوم به لمع العرفان في توضیح القرآن (اردو)، جزري البحر (پارسي) پشتو په نظم کې، متلونه، وافیه (پښتو ګرامر په اردو ژبه) (خلیل، ۲۰۱۰م ، ۵۴۵، ۵۴۷ مخونه).

د هنري نثر په لومړنیو پالونکو کې بل سړی **قاضي رحیم الله** دی، ده هم د ګرامر او انشاء د لیکلو له لارې د پښتو خدمت کړی دی. «*نوی روشنی*» د ده یوه ډرامه ده چې ویل کېږي له اردو یې راژباړلې ده.

پر دغو هنري نثرونو سربېره د **عنوان الدین کاکاخېل** «*عنوان النصایح*» او نور نثري کتابونه، د **مشیرالدین کاکاخېل** «*مشیر الاخلاق*» او د **غلام محمد پوپلزي** د «*مد و جزر اسلام*» د ترجمې د مقدمې نثرونه د خپلو کړو وړو سادهګي، رواني، د الفاظو د انتخاب او نورو ځانګړنو له پلوه د دې جریان له نثرونو سره نژدېوالی لري او یا د همدغه روان جریان تر اغېز لاندې ساده او ښکلي لیکل

شوي او يا ترجمه شوي دي(هېوادمل، ١٣٧٩ل، ٢٧٧ مخ).

«عنوان النصائح يا نصائح عنوان لتربية افغان» د محمد حسين کاشفي اثر او عنوان الدين احمد کاکاخېل پښتو کړی دی، د اخلاق محسني پښتو منثوره ژباړه ده چې سپېځلي اخلاق په کې څېړل شوي دي. اثر په ١٣٢٤هـ.ق کال سيالکوټ کې په ٢٦٤ مخونو کې چاپ دی(رفيع، ١٣٥٦ل، ٦٦٨ مخ). پورتنيو څرګندولو ته په کتلو په پښتو کې د نوي معاصر نثر د پيدا کېدو کومې زمينې چې برابرې شوي، هغه ديني عالمان دي، لکه مولوي نورمحمد نوري افغاني، مولوي احمد، قاضي مير احمدشاه رضواني، قاضي رحيم الله. پښتو نثر ته د دوی توجه او د رواني او سادګي خواته يې سوقول د همدوی د آثارو له برکته شوي دي.

مولانا عبدالمجيد افغاني د باجوړ د اتمانخېلو په قبيله کې د ١٨٧٢م کال په شاوخوا کې [پښتو نثر اته سوه کاله درېيم چاپ ٢٩٠ مخ کې ١٧٨٢م کال ليکل شوي] پيدا شوی دی. د اګرې (هندوستان) په يوه اسلامي درسګاه کې يې د علوم شرقيه له حاصلولو نه وروسته د پېښور په مشن کالج کې د عربي پروفيسور شو. مولانا په ادبي دنيا کې په «سعدي افغاني» مشهور دی(خليل، ٢٠١٠م کال، ١٨ مخ). نوموړی چې د پښتو له پخوانيو استادانو، ښو ليکوالو او د فکر خاوندو شاعرانو څخه دی، د پېښور په ډېرو ښوونځيو کې يې د عربي او پارسي ژبو استادي کړې ده. د استادۍ په سلسله کې يې د پښتو نصابي کتابونه هم ليکلي دي. د پښتو نصابي کتابونو کومه سلسله چې پروفيسور عبدالمجيد افغاني ليکلې ده، نوم يې پرې «*رهبر اخلاق*» ايښی دی. د دې سلسلې يوه برخه يې استاد هېوادمل ليدلې چې ٢٧٠ مخه لري، ٢٥١ مخه يې د نثر برخه ده، پاتې يې د نظم. د نثر د برخې عمده عناوين يې دا دي: خدای، د خدای قدرت، مذهب، پيغمبران.....، اتفاق، بادشاه، د رسول الله عادت، علم او اخلاق، پښتون اصل څوک دی، د خدای صفت. دا کتاب په ١٩٣٦م کال په پېښور چاپ دی(هېوادمل، ١٤٠٣ل، ٢٨٩ مخ) چې د طالب علمانو د ذهني او اخلاقي اصلاح لپاره يې له پنځم صنف نه تر اتم صنفه د پښتو درسي کتابونو کورس ليکلی دی. نوموړي په اردو ژبه په جمال الدين افغاني د «جمال افغاني» په نوم کتاب ليکلی چې بيا يې په پښتو د «*حيات جمالي*» په نامه ترجمه کړ او ورسره يې د سيد جمال الدين افغاني د يوې رسالې (رد نيچريه) ترجمه هم خپره کړه. د سر صاحبزاده عبدالقيوم خان د ژوند په حالاتو يې کتاب وليکه او په اردو ژبه درېيو جلدونو کې يې د «*تاريخ افاغنه موسوم به آئينه جهان نما*» کتاب ليکلی دی(خليل، ٢٠١٠م، ١٨، ١٩ مخونه). پروفيسور افغاني د رحمان بابا پر ديوان يوه مقدمه

هم کښلې ده، دغه راز د خوشحال بابا د کلياتو په يوه چاپې نسخه يې مقدمه کښلې ده. دی په هغو لومړنيو ليکوالو کې حسابيږي چې د شلمې پېړۍ په لومړيو لسيزو کې يې په پښتور کې پيل شويو پښتو خپرونو ته مقالې ليکلې دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۹۰ مخ).

د پښتو او اردو دا مستند سوانح‌نګار او شاعر د اردو، پارسي او عربي جيد عالم و، د اردو او پښتو ډېر نظمونه او غزلې يې هم ليکلې دي. په ۱۹۴۷م کال وفات او د نوتيې (پېښور صدر) په هديره کې خاورو ته وسپارل شو(خليل، ۲۰۱۰م، ۲۰ مخ).

نثر ليکونکی **قاضي محمد يوسف احمدي قاضي‌خېل** د هوتي مردان اوسېدونکی وی، د څوارلسمې پېړۍ په درېيمه لسيزه کې يې ځينې آثار په پښتو نثر ليکلي او يا ترجمه کړي دي. دا کتابونه منظومې برخې هم لري. ليکلي او ترجمه کړي آثار يې دا دي: «*نزول مسيح، آثار قيامت، عقايد احمديه، رساله خروج دابة الارض، خروج د جوج مأجوج، خروج دجال، رساله تحفة النبوة، الاسلام او التبليغ*». پر دې رسالو سربېره دی ځينې نور منثور آثار هم لري. د نثر ليکنې روش يې دا دی: «دا عاجز قاضي محمد يوسف احمدي مصنف د دې کتاب په ۲۸ د شوال سنه ۱۳۰۲ق کې په مقام د هوتي کې پيدا شوی وه...». د نوموړي ليکنې او ترجمې د قادياني يا احمدي فرقې د تعليماتو بيان او تبليغ ته وقف شوې دي او په شکلي لحاظ روان نثرونه دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۹۰، ۲۹۱ مخونه). په «*رساله خروج دابة الارض*» کې د قاديانيه ډلې له نظر د دابة الارض موضوع بيان شوې ده. رساله په نظم او نثر ده، ۷۲ مخه ده او په ۱۳۲۹هـ.ق کال کې پېښور کې چاپ شوې ده(هېوادمل، ۱۳۶۵ل، ۱۱۲ مخ).

نورمحمد افغان د پښتو او پارسي ژبو شاعر او ليکوال دی، په «تحفة الامير» اثر کې يې يوه ټوته مثنوي خوندي ده(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۴۵۰ مخ).

د ترنګزو حاجي صاحب د تحريک ملګری **مولوي تاج محمد** (۱۲۸۷- ۱۳۴۴هـ.ق) د مير احمد زوی، په قوم سليمانخېل و، نېکه يې د امير دوست محمد په زمانه کې له افغانستان نه د پښتونخوا سيمو ته ورغلی. مولوي تاج محمد په دې سيمو کې زوکړی او لوی شوی دی. له امان الله خان سره يې هم روابط و، د منګلو د بغاوت په وخت کې پکتيا ته لاړ، هلته ورته ناروغتيا پېښه شوه، په خوست کې وفات شو او هلته خاورو ته وسپارل شو. ده په پښتو نظم او نثر ليکه، درې ټوکه قلمي يادښتونه ترې پاتې دي چې په پښتو او دري ژبو د نظم و نثر نمونې يې په کې شته. د «مهتمم ژوند» کتاب کې يې منثور آثار «*د څلوېښت حديثونو پښتو ترجمه*» او «*د حکمت خبرې*» ښودل شوې دي. د نثر نمونه يې

دا ده: «هر کار هر سکون و حرکت د خدای تعالی په اذن سره کېږي، هر وخت هغه ته خیال په کار دی او د مخلوق له طرف نه که څه وشي له جور و جفا نه د هغې زغمل په کار دي»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۹۸ مخ).

د مولوي تاج محمد تعليمي معيار ډېر اوچت و. په پښتو، فارسي، اردو، عربي او انګريزي ژبو باندې ډېر ښه پوهېده او په نورو علومو کې يې د (بي، آی) درجه اخيستې وه. همدارنګه يې لس کاله په هند کې د اسلامي علومو په زده‌کړه هم تېر کړي وو. نوموړی د خپل وخت زبردست عالم، مبلغ، سياسي شخصيت، مجاهد، مدرس او زاهد و. يو څه موده د پېښور د حمايت الاسلام په های سکول کې استاد و. بيا وروسته د پخواني صوبه سرحد د ټولو اسلامي مدرسو رئيس او مهتمم شو. د انګرېزانو په خلاف غزا کې يې برخه اخيستې ده. څلور کتابونه چې په مختلفو ژبو د هر ډول مضامينو مجموعې دي، ورڅخه په يادګار پاتې دي. د يوه کتاب د غرض په باب ليکي: «دا کتاب مې جمع کړ د دې لپاره که چېرته څوک وغواړي په دې لار کې تلل وکاندي او څوک بيا نه مومي چې لار ورته وښيي. نو دا کتاب زما به هغه ته لار وښيي»(آريانا دايرة المعارف، ۱۳۸۷ل، ۵۷۹ مخ).

ملا سعدالله خروټی د غلام حضرت کندهاري زوی د افغانستان نومیالی ديني عالم او د ډېرو کتابونو مصنف دی. په کندهار کې زېږېدلی او د عمر زياته برخه يې په تدريس کې تېره شوې ده. عالم او فاضل سړی و، د ده ځينې کتابونه دا دي:

۱- په نحوه کې يې د مولوي عبدالغفور د کتاب (حاشيه عبدالغفور) يوه جامع شرح د «*دافع التوهمات*» په نامه.

۲- د جلالين پر تفسير *حاشيه*.

۳- د سلم العلوم په شرح (قاضي) باندې او په مسلم الثبوت او صدرايې نادريې *حاشيې*.

نوموړی په ۱۳۱۳هـ.ق کال د ۴۶ کالو په عمر وفات شو او د کندهار ښار په عمومي هديره کې د ملا قطب اخند زيارت ته نزدې ښخ دی(سعيد، ۱۳۹۴ل، ۳۴۳ مخ). د نوموړي په اړه همدا معلومات په «کندهاري علماء، اول ټوک، ۷۴ مخ ۱۴۰۰ل کال چاپ» اثر کې هم راغلي دي.

محمد سعدالله اخندزاده په ۱۲۶۳هـ.ق کال زېږېدلی او په ۱۳۰۹هـ.ق کال د ۴۶ کالو په عمر وفات شوی دی. ده ټول علوم، لکه تفاسير، احاديث، فقه، عقايد، تصوف، صرف، نحو، معاني، اصول، رياضي، منطق، حکمت، لغت، طب، عروض، اداب او نور انتهايي عميقې درجې ته رسولي او په علم

مناظره کې يې په ټول هندوستان او افغانستان کې سيال نه درلود. دی په کندهار کې په (نيازمن) ملا سعدالله اخندزاده سره مشهور و. په کندهار کې يې شل کاله او هندوستان کې يې لس کاله تدريس کړی دی. ۲۷ کتابونه يې تأليف او تصنيف کړي چې څينې چاپ او څينې ناچاپ دي. د څو نومونه دا دي:

۱) *کشف المحجوبين على تفسير جلالين*. په ۱۳۰٦هـ.ق کال.

۲) *بدافع التوهمات على مولانا عبدالغفور اللاري الهروي*. په ۱۲۹۵هـ.ق کال.

۳) *حواشي الكاشفات عن وجوه المنهيات و كان المنهيات للقاضي محمد مبارک على شرحه للسلم*. په ۱۳۰۰هـ.ق کال.

٤) *زينت الحواشي على الصدرای شيرازي*. په ۱۳۹۲هـ.ق کال.

۵) *رساله موسومه* (بالسحاب الاضماک في شرح مسئلة التباک). په ۱۳۰۲هـ.ق کال(سعيد، ۱۴۰۲ل، ؟؟).

د ملا سعدالله خروټي او محمد سعدالله اخندزاده شرحې او حاشيې سړی په شک کې اچوي چې ګوندې دواړه يو شخص دی، خو «د افغانستان مفاخر» اثر ليکوال بېل بېل اشخاص معرفي کړي دي.

خواجه عبدالرحمن جان مجددي (۱۲۴۴- ۱۳۱۵هـ.ق) د خواجه عبدالقيوم مجددي زوی د کندهار په احمدشاهي کې زېږېدلی. نوموړی د خپل وخت لوی عالم، نومیالی صوفي او د نقشبندې طريقې لوی لارښود و. ډېر کتابونه ليکلي چې مشهوره يې دا دي:

۱) *رساله د شيخ يحيى منير د اعتراضونو په جواب کې*.

۲) *مسائل فقهيه*.

۳) *فتاوا*.

٤) *رساله د ملا حسين واعظ کاشفي په (رشحات عين الحيوة) باندې د اعتراضونو په جواب کې*.

۵) *آغاز سلوک*.

٦) *دعا د ختم القرآن* (عربي) (سعيد، ۱۳۹۴ل، ۳۴۸ مخ).

قاضي عبدالحق کابلی (۱۳۲۱هـ.ق کال کې وفات) کابل ښار کې زېږېدلی، له تدريس او قضاء سره سره يې ډېر کتابونه او په څينو کتابونو تعليقات ليکلي چې څينې يې دا دي:

١) پر تلويح *حاشيه*.

٢) پر خطبة القاموس *حاشيه*.

٣) پر قاضي *حاشيه*.

٤) پر مير زاهد *حاشيه*.

٥) رساله په مبحث د مثناة بالتكرير کې(سعيد، ١٣٩٤ل، ٣٦٥ مخ).

«*تجويد القران المجيد*» د قرآن مجيد د دغه تجويد مؤلف **مولانا حميدالله اوبندي** دی چې د تجويد مسألې يې په پښتو نثر په کې کښلې دي. دغه تجويد د ملا حبيب الله قندهاري او حاجي عبدالحکيم له خوا په شپاړسو مخونو کې په پېښور کې چاپ شوی دی(رفيع، ١٣٥٦ل، ٣٩١ مخ).

ملا قطب اخوند په خته توخی او تارک الدنيا صوفي و. دا کتابونه يې ليکلي:

تحفة الدرويش: د مثنوي شرحه په شپږو ټوکونو کې.

بدر الشرح: د خواجه حافظ شېرازي د ديوان شرحه.

د ملا قطب اخوند قبر د شاه ولي پر غاړه د کندهار د احمدشاهي ښار غربي خواته واقع دی(سعيد، ١٤٠١ل، ٥٠١، ٥٠٢ مخونه).

۴- ۲- ۲. د د ديني علماوو منثور کلامونه او ليکنې ټوټې

د پښتو ادب په دويمه ادبي دوره کې داسې ديني عالمان شته چې بشپړ اثر نه لري يا يې درک نه دی معلوم، خو د کلام ځينې بېلګې او ټوټې يې معلومې دي، په کار ده چې د هغوی يادونه وشي چې دلته يې د زماني ترتيب پر بنسټ جاج اخلو.

ملا اصغر د گدای زوی او د اخوند دروېزه ورور دی، مسجعات لري چې د مخزن الاسلام د ځينو نسخو په ملحقاتو کې شته. د هغه د نثر دغه نمونه د مخزن الاسلام له يوې داسې نسخې را اخيستل شوې ده چې په ١١٦٨هـ.ق کې کتابت شوې ده: «واورئ ياران نبي ناست په جماعت و، جبرائيل پرې و راغلی، ښه له خدايه پرې رحمت و. ده وې دا دی جبرائيل راغی يارانو له ښه خدايه چې زما پونسو کاله تېر شي دا امت به شي درې اويا څو ځايه. گمراهان په رنگارنگ دي دا تاريک په گمراهی کې ډېر قوي دی(هېوادمل، ١٣٩٠ل، ٢٠٦ مخ).

د آدم په نامه مور قديم شعراء هم لرو. د شيخ آدم ديوان هم شته [د دې آدم په اړه خبره مخکيني بحث کې وشوه]؛ اما يو بل **آدم** هم موجود دی چې يو مسجع بيان يې په «بيانات افغاني» او هم د

هېوادمل د کتابخانې د مخزن په ملحقاتو کې شته. دا وروستی آدم مسجع‌نګار دی چې د ده بیان پر لوړو یادو شویو منابعو سربېره د غلام محمد په جونګ هم شته. ده د یوولسمې پېړۍ د مسجع‌نګارانو په شپږه مسجعات لیکلي او هماغه موضوعات بیانوي چې دې ډلې بیان کړي دي. یو بیان یې د عقل د برتری او نفس د هوا د اسارت د مسئلې په تشریح کې ویلی او د دې بیان په پای کې یې ویلي دي: «... دا بیان فقیر آدم ویلی په خلاصه سلوک کې له نظیره»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۵۲ مخ).

د پورتني مطلب په دوام په «بیانات افغاني» کې د «فقیر آدم» په نوم د ده یو منثور کلام شته. دا مسجع نثر تقریباً درې مخونه دي چې له پورته یادې شوې ټوټې سره لږ تفاوت لري، هغه په دې ډول دی: «وسکه سخ دغو سړي چې عقل یې امیر کړ او د نوس هوا یې کړه اسیره؛ دی به په دنیا کې عزیز اوسي په آخرت کې به دی بزرګ وي که خبره شي له تفسیره؛ خدای به عذاب هغه کسان کا چې عقل یې اسیر کړ او د نوس هوا یې کړه امیره.... نوس هم ورپسې درومي، دا بیان فقیر آدم ویلی، پر خلاصه سلوک کې له نظیره»(احمدزی، ۱۴۰۲ل، ۲۶۴- ۲۶۵ مخونه).

د یوولسمې پېړۍ لیکوال **حقداد** د *حضرت یوسف* علیه‌السلام *قصه* له «درة البیضاء» څخه په پښتو مسجع نثر اړولې ده. د دې قصې د پای څېنې اوږدې قافیه‌والې جملې دا دي: «بیا رسول د خدای ویلي چې زما شفاعت حرام پر هغو چې غمازي کا، هغه چې مور او پلار ازاروینه. بل هغه چې اصل فروش وي، دوی له خدایه نه وېرېږي او له رسول نه شرمیږي اصیلان به خرڅوینه. دا بیان حقداد ویلی، ده درة البیضا کې و لیدلی، ګوندې څوک یې په مجلس کې ووایینه. بیا مهتر یعقوب سوال وکړ چې له کومه یې راغلی. ده جواب ورکړ زه له مصره یم راغلی، رضاعي ورور مې دی ورک شوی، زه طلب کړم پسې ګرځم، دی جدا شوی د زړه صبر مې نشینه»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۴۴ مخ).

د حکایت رسول (د حضرت پیغمبر د یوه خوب قصه) د متن د څېنو نسخو په مقطع کې د **ملا سلیمان** نوم راغلی دی. دا حکایت تر ټولو دمخه ارزاني روښاني په پښتو نظم د رباعي په کالب کې ویلی دی. د دې حکایت اصلي ناظم ارزاني دی چې په اخره کې ملا سلیمان خپل نوم په وروستی رباعي کې ور اچولی دی. که د ارزاني نظم کړی حکایت (رسول) د دې حکایت د سلیمان په نامه ضبطونو سره وکتل شي، نو له مقابلې یې څرګندیږي چې دا هماغه د ارزاني ویلې منظومه ده او سلیمان ګوتې په کې وهلې دي. څېنې *مسجع ټوټې* یې هم په کې ور زیاتې کړې دي، لکه دا ټوټه: «د حضرت عمر و درې شپېته کلونه بې معراج چې اتلس کاله شپه وه. دی ژوندی په محبت و. په ظاهر کې یو من دو سیر

خواړه وو، روایت همسې راغلی. په دا درشېته کلونه کې حیات پر دا دنیا وه، شپه و ورځ غافل نه و». ملا سلیمان ځینې نور مسجع بیانونه هم لري لکه د موسی علیه السلام او قارون په باب د ده مسجع بیان چې پای یې دا دی: «دی ژوندی په زمکه ډوب شه هم یې ځای تحت الثری شه، ولې همسې خبر نه و د موسی له نېک خواهی. ځینې وایي له غه کفر ډېر پښېمان دی، ځینې وایي پښېمان نه دی چې صحیح قول دغه دی چې قارون و له شیطانه پیدا شوی. سخترین عذاب یې وایه پر بندیري د لړم او د مارانو انبوهی».

ملا عبدالرحمن چې غالباً د عبدالرحمن بابا زمانې ته به ورځېرمه وي، خو تر هغه لږ دمخه، د روښانیانو سر سخت مخالف دی، په پښتو ژبه یو *مسجع بیان* لري چې داسې دی: «د الله ثنا به وایم چې احد دی مل یې نشته د خدایي. په خوله وایئ چې خدای یو دی، سم د زړه اقرار پر وکړئ د الله پر یګانه ګی. پر سنت د مصطفی برابر درومه دغه لاره ده برابره که کج نه یې...»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۴۶، ۲۴۷، ۲۴۸ مخونه).

د دې بیان له شېوې څخه ښکاري چې مولانا عبدالرحمن د یوولسمې پېړۍ د حدودو یو ملا و چې د هغه وخت په دیني حلقو کې د معمول مسجع سبک په چوکاټ کې یې ځینې بیانونه ویلي دي.

حبیب د قرآن کریم د *یو آیت تفسیر* په پښتو مسجع نثر بیان کړی چې پیل یې داسې شوی دی: «یوم ینفخ في الصور فتأتون. تاسې واورئ یارانو! دا آیت چې راغی غه مضمون یې په دا رنګ معلومیږي. په تفسیر معالم کې وایي چې رسول له حجرې و راوتلی، دی و ډېر هیبت وهلی چې د خدایه ډېر وېرېږي». بیا وایي: «فقیر حبیب چې د دې آیت معنا پښتو کړه، سکه غرض یې نصیحت دی، مؤمنان دې په یاد کا هم دی برابر په شرع درومي چې په عرصات کښې ونه شرمیږي»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۴۹ مخ).

حبیب چې د آیتونو تفسیر کړی، په دې معنا چې دی یو مفسر او عالم شخص و.

د غلام محمد د جونګ له مطالعې ښکاري چې د یوولسمې هجري پېړۍ په حدودو کې د **تاووس** په نامه یوه پښتانه عالم هم ژوند کړی او *مسجع بیانونه* یې پرېښي دي چې یو بیان یې د لمانځه په ښېګڼو کې ویلی او په پای کې یې راغلي دي: «لسم که پر لمانځه باندې مهین یې، پسو صاف د جنت حوریې مینې پر لمانځه دي، ته چې لمونځ دلې کوې دوی هوسیږي. شپه و ورځ په ځان یوه کړه ای تاووسه د جنت حوري هر ګوره ښایسته دي که یې وویني په سترګو سکه نو هم بې هوښه کېږي»(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۵۳ مخ).

له دې بيانه جوتيږي چې تاووس په ديني مسايلو پوه شخص و.

ملا هارون چې د يوولسمې پېړۍ مسجع‌نګار او ناظم ښکاري او د ديني علومو ملا، ځينې بيانونه او نظمونه يې د مخزن الاسلام د ځينو خطي نسخو په ملحقاتو کې موندل کېږي. نظمونه او مسجعات يې د يوولسمې پېړۍ د مسجع‌نګارانو له آثارو سره په يوه رديف کې دريږي. د سجعاتو نمونه يې دا ده: «ای هارونه تل تتله ژاړه او ښې وينې د قيامت په ورځ به خدای زده څه فرمان شي». د ده دا بيان چې پورته يې د پای برخه راوړل شوه، د قيامت په باب دی او داسې يې پيل کړی دی: «واورئ مؤمنان باور کانئ مسلمانان چې د قيامت ساعت عيان شي»(هېوادمل، ۱۳۹۰ ل، ۲۵٦ مخ). حاجي هارون د اخوند دروېزه ننګرهاري د ادبي ښوونځي پيرو دی په پښتو مسجع نثر يې ديني او مذهبي مسايل او شرعي احکام ليکل(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۵۴۲ مخ).

ملا دوست محمد د پښتو له مسجع‌ليکونکو څخه و، ژوند يې د يوولسمې هجري قمري پېړۍ په شاوخوا کې اټکل شوی او د افغانستان له پخوانيو مشهورو صوفيانو څخه و. د هغه ديني مسجع ټوټې د عبدالغني کاسي په خطي جونګ (بيانات افغاني) کې خوندي دي(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۱۷٦ مخ). په «فرهنګ زبان و ادبيات پښتو» اثر کې له پورتني دوست محمد پرته، ۱۳ تنه نور دوست محمد نومي ثبت دي چې هر يو يې د پښتو ژبې شاعر يا ليکوال دی. په «بيانات افغاني» کې زمور د مطلوب ملا دوست محمد متفرق مسجع نثرونه خوندي دي چې يو يې دا دی: «ته يې په اصل معرفت لره پيدا کړې اې سړيه اوس غافل شوې نابينا شوې؛ ته شاکر پر دا نعمت شه چې پر مخلوقات کښې آدم کړ، بيا مسلم شو هم آشنا شوې؛ د معرفت بندګي فرض دواړه پر تا کړې، فهم وکړ چرې نه وي بې پروا شه چې آګاه شوې؛ د موت تر موت پخوا دې اې طالبه، چې پر سلک د عارفانو ته شنوا شوې؛ عين عاجزي تا لره بويه چې تر کل مخلوق کمين شه، که عارف يې دا دې روی دی، که له وجوده مبرا شه...»(ملا دوست محمد. بيانات افغاني «خطي نسخه»، ۱۸۵- ۱۸٦ مخونه).

ملا عبدالغني کاسي او د ده د کورنۍ غړي، لکه د ده ورور ملا عبدالواحد، فاضل محمد او بل زوی نورمحمد داسې کسان دي چې د مخزن الاسلام په لسګونو نسخې يې خطاطي کړې دي او پر دې سربېره د دې کورنۍ له خوا د خطاطي شويو مخزنونو په پای کې چې د بيانات افغاني تر عناوينو لاندې کوم ملحقات د ضميمې په ډول راغلي، په هغو ضمايمو کې د پښتو ډېر ناياب متون خوندي شوي چې د دغو زړو پښتو خطي متونو د خوندي کولو له جهته هم دا کورنۍ او د دوی هنرمند غړي د ډېر

درناوي وړ دي.

د دې کورنۍ له غړو څخه يو تن چې **ملا عبدالغني کاسي** نومېږي او د دولسمې پېړۍ په دوران کې يې په ملتان کې ژوند کړی، د مخزن ځينې نسخې د ده په خط ليدل شوې دي. يوه نسخه چې ده په ۱۱۴۲هـ.ق کال په ملتان کې ليکلې او د څېړنوال حبيب الله رفيع په شخصي کتابخانه کې خوندي وه(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۲۶۴ مخ). د همدې نسخې کاپي استاد رفيع زما (آصف احمدزي) په واک کې راکړې ده. د مخزن الاسلام يوه بله نسخه چې د عبدالغني کاسي په ۱۱۷۱هـ.ق کال په ملتان کې خطاطي کړې ده، زلمي هېوادمل د حمدالله صحاف کندهاري په خطي مجموع کې ليدلې ده. له دغه فرهنګي صلاحيته او خدمته سربېره ملا عبدالغني د پښتو ناظم هم دی. په مخزن کې د آخوند دروېزه د سبک په پيروۍ ځينې منظومې هم ده ويلې دي.

د هندوستان په پښتنو شاعرانو او ليکوالو کې د دولسمې پېړۍ په دوران کې اوسېدلی کاسي افغان ملا عبدالغني يو داسې شخص دی چې د آخوند دروېزه د منظوماتو او آثارو د فکري او شکلي خصوصياتو تر اغېز لاندې يې پښتو آثار ايجاد کړي دي، د ده د دغه ډول آثارو څو ټوټې ليدل شوې دي چې يوه يې دا ده: «بېچاره کاتب هر ګوره ګناهکار دی؛ د الله له فضله امېدوار دی، فقير ايمان په خدای راوړی، چې احد دی لا شريک دی». يا: «څلور امامان واړه په حق دي، معتبر په کې نعمان دی، فقير ولاړ په شريعت دی، په مذهب د امام اعظم دی».

که مور د ملا عبدالغني کاسي لوړه ټوټه وګورو او د مخزن له ټولو سره يې پرتله کړو، نو را ښکاره به شي چې ملا عبدالغني خپلې دغه منظومې ټوټې ګردې د مخزن د منظوماتو په تقليد او پيروي ويلې دي(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۲۶۵، ۲۶۶ مخونه).

استاد هېوادمل وايي، د دولسمې پېړۍ په نثر ليکوالو په ملتان کې د اوسېدلي يوې پښتنې فرهنګي کورنۍ مشر غړی عبدالغني کاسي [يا ملا غني] د ملا شېرخان زوی هم د هېرولو نه دی. ځينې متفرق نيمه منظومې ټوټې يې له مور سره شته. دا ټوټې په بيانات افغاني کې موجودې دي(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۲۶۲ مخ). دوست شينواري د هغه د مسجعاتو په باب ليکلي دي: «په دغه برخه [کې] خپله د عبدالغني کاسي د قافيه‌وال نثر څو نمونې شته چې اکثر د سلوک، عقايدو، لمانځه، اوداسه او نورو د ښېګڼو په باب دي»(هېوادمل، ۱۳۹۶ل، ۲۶۵ مخ).

ملا عبدالواحد کاسي د ملا عبدالغني ورور دی چې په دولسمه هجري پېړۍ کې يې په ملتان کې ژوند

کاوه، د خپل ورور په څېر خطاط و، د مخزن نسخې یې له ملحقاتو سره لیکلې دي، له هرې نسخې سره مل یې ډېر پښتو مسجع بیانونه، ځانګړي رسایل او پښتو شعرونه او نظمونه هم ورسره خطاطي کړي دي چې زموږ د لیکلي ادب یوه غوره ذخیره ګڼل کېږي. استاد هېوادمل وایي: د ملا عبدالواحد پر خط دوې خطي نسخې لیدل شوې چې یوه نسخه د افغانستان ملي آرشیف کابل کې او بله پېښور کې ده. د دې دواړو نسخو په پای کې یو ډول اختتامیه بیان راغلی چې موږ ته دا راښيي چې ده د نیمه منظومو بیانونو د لیکلو توان درلود. د کابل په نسخه کې د ملا عبدالواحد نیمه منظومه ټوټه دا ده: «بېچاره کاتب هر ګوره ګنه کار دی، د حبیب په روی یې وبخښې څښتنه، هم خپل دیدار ور نصیب کړې له جمله وو مومنانو، په هره زمانه کې چې دا کتاب ته ګورې یا یې لولې، امېدوار دی د نېکانو و دعا ته، هر چې یادې په دعا کا، غه یاران دې خدای د عرش تر سایه کاندي، چې واړه خلقه و خدای ته ودري حیرانه»(هېوادمل، ١٣٩٦ل، ٢٦٦، ٢٦٧ مخونه).

حبیب الله رفیع د پېښور د پښتو اکېډیمۍ د خطي نسخو په فهرست کې په مسجع نثر کښلې یوه معراجنامه معرفي کړې ده چې لیکوال یې اخوند احمد دی. د اخوند احمد له بیانونو وروسته ده یوه اوږده مسجع ټوټه هم نقل کړې ده چې غالباً په ١١٨٠هـ.ق کال کښل شوې ده. دا ټوټه د نسخې کاتب کښلې چې خپل نوم یې **عثمان** ښوولی دی، د افضل خان زوی، د لوی تهکال اوسېدونکی و. د ده دا مسجع بیان داسې پیل شوی دی: «معراجنامه د حضرت رسول چې کاتب نوشته کوله ای یارانو، امیدوار په شفاعت د هغه ځوان دی چې د جمله پیغمبرانو دی سردار دی هم د دوی شفاعت کاندي هم به کېږي». دا هماغه روش دی چې مسجع نګارانو پاله. عثمان نومی هم یو داسې کاتب و چې له کتابت سربېره یې د مسجع لیکلو توان هم درلود(هېوادمل، ١٣٩٠ل، ٢٦٥ مخ).

حافظ نورمحمد چې په ١١٧٣هـ.ق کال زېږېدلی، د *بربښنا ناصرۍ کیسه* یې په پښتو نثر لیکلې او د کیسې په منځ منځ کې د پښتو د ولسي نکلونو په پیروۍ منظومې هم ورسره ملې کړې دي. دا جګړه په ١١٨٨هـ.ق کال د ناصرو او سلیمانخېلو ترمنځ واقع شوې وه او له دواړو خواوو په کې په سوونو ځوانان ووژل شول. حافظ خپلې کیسې ته یوه مقدمه هم ورکړې او تر هغه وروسته دا نکل پیلوي: «د تیمورشاه د پاچهۍ په زمانه کې سرور خان ناصر یوه لور د بربښنا په نامه درلوده او په توره شپه کې په مثل د ډیوې د تېلو له خپله نوره پرکېده...»(هېوادمل، ١٤٠٣ل، ١٧٨ مخ).

حافظ عبدالکبیر منثورې ټوټې لري او دا د دې جوګه کوي چې د احمدشاهي عصر په نثر لیکونکو

کې ياد شي. د حافظ عبدالکبير تهکالي په آثارو کې يو غټ منظوم اثر در المجالس دی چې د دولسمې پېړۍ په دويمه نيمايي کې يې پښتو منظوم کړی دی. دا کتاب څو ځله چاپ شوی هم دی او خطي نسخې يې هم ښايسته ډېرې پيدا کېږي. د دې پنډ منظوم کتاب عناوين هم پښتو نثر دی، له عناوينو برسېره د در المجالس په متن کې د منظوماتو په ترڅ کې منثورې ټوټې هم شته چې تر اوياوو زياتې منثورې ټوټې په کې راغلې دي(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ۴۸۵ مخ). له دغو منثورو ټوټو څخه يوه دا ده: «معجزه د حضرت عيسی عليه السلام چې يوه ورځ په قبرستان ورغی که کاته يې په يو قبر پورې يو ځوان ناست و، حضرت عيسی وې دلته څه کوې چې ناست يې. وې دا په دا قبر کې زما معشوقه ده ورته ناست يم. عيسی دعا وکړه ژوندۍ شوه...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۹۵، ۱۹۶ مخونه).

اخوند گدا د احمدشاهي عصر په علماوو، شاعرانو او ناظمانو کې حسابېږي. د «نافع المسلمين» په نامه يو پنډ منظوم کتاب لري خو ځينې منثورې ټوټې هم په کې شته. «نافع المسلمين» څو ځله چاپ شوی، په يوه چاپې نسخه کې يې پنځه ځايه پښتو نثرونه او يو ځای پارسي نثر تر سترګو کېږي. د دې کتاب يوه منثوره ټوټه دا ده: «عابد عيسی ته ووې چې اتيا کاله شوي دي عبادت حق تعالی کوم په دې ځای او په دې اتيا کالو حاجت له هغه غواړم خو هغه حاجت زما نه روا کېږي يعني زما دعا نه قبلوي اوس که چېرې ته زما دعا وغواړې که لږ شان له محبته خپله راکړې ما لره...».

د پورتني درالمجالس او نافع المسلمين منثورې ټوټې د احمدشاهي عصر له ټولو نثرونو نه رواني زياته لري، ښه روان کښل شوي دي، په زياته د درالمجالس منثورې ټوټې خو عامې محاورې ته ډېرې نزدې دي او د دولسمې پېړۍ د دوهمې نيمايي په ښو نثرونو کې حسابېدای شي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۹۶ مخ).

حاجي دوست محمد خان کندهاری د کندهار شاوخوا سيمو له صوفيانو او مشايخو او د نقشبنديه طريقې له مرشدانو څخه و، د ديارلسمې پېړۍ په جريان کې يې ژوند کړی. د پښتو ليکنې نمونې يې په واک کې دي. ده يو پښتو ليک چې يې خپلې يوې ښځمنې مريدې ته ليکلی او د ۱۲۷۰هـ.ق کال شاوخوا کښل شوی دی، د نثر نمونه يې دا ده: «پس له حمده له صلوة له جانبه د دې حقير فقير دې سلام وي بي بي صاحبې ته، له آفاتو د دنيا د آخرت دې حق تعالی تا ته سلامتي او نجات درکي، پس له سلامه چې طريقه د اهل اسلام ده معلومه دې وي وتاته چې دلې وماته خيريت دی له هرې وجې، ستاسو خير هم له هرې وجې له خدايه غواړو...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۱۷۸، ۱۷۹ مخونه).

د *لمانځه یوه منثوره ترجمه* د فضل احمد لغماني جونګ کې ضبط ده. دا جونګ په ۱۲۷۳هـ.ق کال کښل شوی او کېدای شي همدغه ترجمه همدغه **فضل احمد لغماني** کړې وي او یا هم بل چا، د دې منثورې ترجمې پیل داسې دی: «پاکي تا لره ده ای خدایه او ثنا تا لره ده او لوی دی ستا نوم»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲٦ مخ).

د **میرزا حنان بارکزي** (۱۲۹۲هـ.ق ژوندی) ځینې منثورې ټوټې د هېرولو نه دي، دا ټوټې چې ده د فالنامې د توضیح لپاره کښلې دي، استاد ربښتین د ده د دیوان په یوه خطي نسخه کې لیدلې دي. د ده نثر دا ډول دی: «فالنامه د دې کتاب که څوک یې گوري اول دې فاتحه او قل هو الله ولولي، پس دې د دایرې په یوه خانه کې گوته ونیسي له هغه مخ په کښته دې حسابوي او لسم-لسم حرف دې پر کاغذ کاږي چې دا دایرې تر پایه ورسیږي». دا نثر واقعاً ډېر څرګند او اسان نه دی. د استاد هېوادمل په باور، په دیارلسمه پېړۍ کې ښایي ډېر لږ نثرونه دا ډول پوخوالی ولري(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۴۲ مخ).

احمد گل د للمې د ننګرهار له علماوو، شاعرانو او لیکوالو څخه و، د امیر عبدالرحمن پر شاهنامې سربېره منظومې قصې، منظومې ترجمې او دیوان احمدي یې معلوم دي. د غلام رحمان جرار په حواله، د احمدګل له آثارو څخه یوه منثوره مسوده لاسته راغلې، دا منثوره ټوټه د قلم او قلف ترمنځ مناظره ده. دا ټوټه د رواني او سلاست له پلوه د پښتو نثر د سمون د پېر په لومړنیو نثرونو کې د ښو نثرونو په قطار کې د درېدو حق لري. مورِ پر لرغونو منظومو او مسجع آثارو کې مناظرو لرو، خو د نولسمې پېړۍ په روانو نثرونو کې داسې مناظره نه لیدل کېږي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۷۹، ۲۸۰ مخونه).

میا ابوبکر د دیارلسمې پېړۍ له علماوو، روحانیونو او ادیبانو څخه و چې د پښتونستان د «درګوجر وګرهي» سیمه کې اوسېده. په ۱۳۰۹هـ.ق کال کې وفات شوی دی. میا په پښتو ژبه لیکل کول او لیکنې یې شته دي(هېوادمل، ۱۳۵٦ل، ۹ مخ).

ملا نعمت الله (۱۲۷۵هـ.ق/ ۱۸۵۸م - ۱۳۴۷هـ.ق/ ۱۹۲۹م) د پښتو کثیر الکلام شاعر دی چې د ځینو منظومو آثارو په ترڅ کې یې پښتو نثرونه هم راغلي دي. د ده په یوه اثر «تذکرة الغوغية وتذکرة البخاري» کې منثورې ټوټې شته. په دې اثر کې یې بېلابېلې دیني او اخلاقي موضوع ګانې یې په نظم و نثر راوړې دي او ځینې ځایونه د سعدي حکایات هم په نظم و نثر ترجمه کوي او همداراز ځینې احادیث او دیني روایات هم راوړي، لکه دا روایت: «او له حسن روایت دی چې قرآن نازل شوی دی دپاره د عمل، نه د پاره د لوستو». د ده منثور آثار د دیارلسمې پېړۍ د نثرنګارانو ځانګړنې

لري(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۸ مخ).

د افغانستان په ملي آرشيف کې د خوندي تفسير افغاني (په ۱۲۷۹هـ.ق کال بشپړ شوی) په پای کې د کاتب تر اختتاميه ليکنې وروسته يوه منثوره ټوټه د ليلة القدر په باب راغلې چې داسې شروع شوې ده: «نقل دی له حسن خراساني: ما نه دی پاتې شوی، شپه د قدر... که اول شپه د رمضان وي يکشنبه په نه ويشتم يې وګوره او که اولی شپه يې وي دوشنبه په يوويشتم يې وګوره او....». د دې توضيحاتو اصلي مؤلف حسن خراساني دی، خو د پښتو مترجم په باب يې ښکاره څه نشته. خو په نسخه کې د حسن خراساني د نامه له ذکره وروسته دا جمله: (ما نه دی پاتې شوی) د سړي ذهن ته دا خبره وراچوي چې مترجم به يې د تفسير افغاني مصنف **مولوي اخونزاده ننګرهاری** وي. يو بل احتمال هم شته چې د دې روايت مترجم دې د نسخې کاتب ملا پاينده وي او له تفسير سره دې اړه ونه لري، که د هر چا وي د قدر د شپې د ليدو په باب يو روايت دی چې په پښتو ترجمه شوی دی(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۵۲ مخ).

مولوي غلام محی الدين افغان (۱۲۷۹- ۱۳۳۹هـ.ق) د افغانستان د معارف له لومړنيو کارکوونکو، روښانفکرانو او په افغانستان کې د پښتو ادبياتو د روښانتيا د پراو سرلاری دی چې په پښتو نظم او نثر يې ليکل کړي دي. د ده دوې پښتو منثورې ټوټې معلومې دي چې يوه يې مقاله ده «*افغانستان د سرو زرو مرغۍ دی*» او بل يې هم په پښتو ژبه يو اعلان دی. ده چې کوم پښتو اعلان په سراج الاخبار کې خپور کړی، په هغه کې يې ليکوال هڅولي چې د پښتو د ترقۍ لپاره په پښتو مضامين وليکي او دا يې هم ويلي چې که څوک د ده يا د بل پر مضامينو څه خبره لري، خپل نظر دې په پښتو وليکي او سراج الاخبار ته دې واستوي، که يې دی له ځواب عاجز شو، نو پنځوس افغانۍ روپۍ به انعام ورته ورکړي. که سړی د دې اعلان مطالعه وکړي، نو دا ورته ښکاري چې ليکونکي له خپلې ژبې سره تر کومه حده علاقه درلوده او دا يې هيله وه چې خلک پښتو ليکلو ته وهڅېږي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۹۲ مخ).

په دويمه ادبي دوره کې پر ادبي آثارو منثورې مقدمې او هم د ادبي او ځينو نورو منظومو او منثورو آثارو شرحې ليکل شوې دي، لکه:

د حمدالله صحاف کندهاري په خطي مجموعه کې د «*تحفة الطالبين*» په نامه يو منظوم کتاب شته چې درې څلوېښت فصله په کې موجود دي. په دې مجموعه کې د ناظم نوم نه ښکاري. ناظم د دې کتاب مقدمه په پښتو نثر کښلې ده چې په کې راغلي: «او دا کتاب رباعيات مسمی دی په تحفة الطالبين، ولې

په معنی کې تحفه دی د طالب علمان چې دغه اسم له مسمی سره موافقت کوي...». دا نثر د دولسمې پېړۍ د اواخرو ښکاري او د دې پېړۍ له هغو نثرونو سره ورته‌والی لري چې ديني او فقهي مسايل په کې بيان شوي دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۴۵ مخ).

د احمدشاهي د عصر سړي **نورمحمد** چې د الله تعالی مبارک نومونه يې په پښتو نثر تشريح کړي دي، په ۱۱۸۰هـ.ق کال د اسلام د ستر پيغمبر حضرت محمد ﷺ «*شمايل شريف*» د مربعونو په کالب کې په پښتو نظم ويلي دي او د دې شمايل يوه نسخه د ده د زوی هدامحمد په خط په پښتو آرشيف کې خوندي ده. د دې منظوم شمايل ځينو بيتونو ته پښتو او دري شرحې هم کښل شوې دي او دا ډېر امکان شته چې دا شرحې هدامحمد ليکلې وې، د نمونې لپاره يې د دې لاندې بيت شرح وګورئ:

«هسې لږ و وبله لرې ورته هيڅ وې ملغلرې

يعني مراد دا دی چې غاښ مبارک چې وو بېرته – بېرته وو او نه ډېر نزدې وو، بلکه ميانه حال وو، يعني ملغلرې په قېمت کې ادنا وې او غاښ مبارک بېش قېمت وو»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۴۹ مخ).

د محقق العلماء **عبدالحق خروټي** (۱۲۱۵- ۱۲۹۰هـ.ق) د «*ياقوت السير*» دوې خطي نسخې شته. په دواړو نسخو کې ځينو نومونو او کلمو ته په پښتو منثورې شرحې کښل شوې دي. د ياقوت السير متن استاد هېوادمل چاپ ته اماده کړی دی. دا دواړه شرحې په کندهار کې ليکل شوې دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۴۹ مخ).

تجويد محمدي يا *تجويد احمدي* رساله په ۱۳۲۵هـ.ق کال کې چاپ شوې ده. دا چاپي نسخه عربي، پښتو او دري شرحې او حاشيې لري چې د حاشيو ليکونکی يې حاجي شيخ فتح محمد خان دی. يوه پښتو شرح يې دا ده: «حکم د ميم ساکن مقابله د واو کې داسې ده، لکه نور حروف نو مناسب مصنف لره دا و چې هر کله فارغ شوی دی له حکم د ميم ساکن په مقابله د باء ساکن کې نو داسې ويلي وي...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۴۹ مخ). «تجويد محمدي- رسالة التجويد» د حاجي محمد اثر دی چې په پېښور کې په ۱۲۹۳هـ.ق کال د ډهلي په فاروقي مطبعه(رفيع، ۱۳۵٦ل، ۸۳ مخ) کې چاپ دی.

د *قصيده برده پښتو منثوره شرح* د دې قصيدې د پښتو ترجمې په حاشيو کې شوې ده چې د يوه بيت شرح يې داسې ده:

«سريت من حرم ليلاً الي حرم کما سری البدر في داج من الظلم

سريت لاړې ته من حرم له مکې نه په شپه کې الی حرم په طرف د مسجد اقصی سری البدر لکه نقل کا

سپورمۍ في داج من الظلم په تياره شپه کې....» د دې قصيدې دا منثورې پښتو شرحې هم سړی په يقين چاته نه شي منسوبولی.

ولي محمد خان سيال کښلي چې **ملا سرور کاکړ** د رحمان بابا د اشعارو منتخبات په پښتو نثر تفسير او شرح کړي دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۵۰ مخ).

په پېښور آرشيف کې د شهور ملا چې اصلي نوم يې آدم خان دی، د تجويد يوه ضابطه شته. دا ضابطه منظومه ده(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ٦١٤ مخ)، په حاشيو کې يې پښتو شرحې په نثر راغلې دي، لکه: «تقديم د معرفت د دې حروفو دی، لدې وجه چې دوی دي سبب لپاره د احکامو د نون ساکن...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۵۰ مخ).

په همدې موده کې دعاوې، خطبې، د دعاوو اسناد او د قرآن د سورتونو خواص هم ليکل شوي دي چې په دې ډول دي:

په پېښور آرشيف کې د *اسناد دعای عکاشه* په نامه رساله شته چې په لومړيو ۱۳ مخونو کې يې په پښتو ژبه د دعاء اسناد راوړي او بيا يې عربي دعاوې خوندي کړې دي. د دې اسنادو پيل په دې ډول نثر شوی دی: « يوه ورځ حضرت عليه السلام په مسجد د مدينې کې ناست و، مهتر جبرائل راغی وې وحضرت ته چې خدای تعالی سلام راستولی دی پر تا باندې او پس له سلامه يې تحفه راکړې ده ويلي دي چې دا محض دپاره د امت ستا ما درلېږلې ده...».

د پېښور د پښتو اکېډيمۍ د خطي مجموعې په فهرست کې د دعاوو يوه مخطوطه معرفي شوې او په کې راغلي چې دا نسخه په دې کتابخانه کې ضبط ده. درې پاڼې لري او له بېلابېلو ناروغيو د ښه کېدو او د مطلبونو د ترسره کېدو دعاوې په کې راغلې دي. پيل يې داسې شوی دی: «که څوک ناجوړه وي دا دعا اووه ځله ولولي، په رنځور دې چف که روغ به شي».

د ديارلسمې پېړۍ د اواخرو ليکوال او مترجم د تهکال **محمد امين** د ځينو دعاوو اسناد په پښتو نثر کښلي دي. دی د «فقرنامه معه دعای قريبه، شش قل، شش کلمه، هفت هيکل» په نامه کتاب لري چې په کې اسناد دعای قريبه په پښتو نثر دی چې يوه برخه يې دا ده: «په حديث کې دي راغلي چې حضرت په جماعت کې ناست و چې جبرائيل عليه السلام وحي راوړه چې ای پاکه حضرته خدای تعالی سلام په تا رالېږلی دی او پېشکشی ستا دپاره او ستا د امت دپاره رالېږي».

د همدغه محمد امين له يو بل چاپي اثر سره چې مجموعه شفاع نامه، قيامت نامه نومېږي، د «*تاجنامې*»

د دعاء اسناد په پښتو نثر راغلي دي. د دې دعا په اسنادو کې راغلي دي: «يوه ورځ پاک رسول په جماعت د مدينه منوره کې ناست وه چې جبرائيل د الله له طرفه راغی، ويل چې يا رسول صلعم خدای تعالی دپاره د امت ستا دا پېشکشی راستولی دی، چې دا پېشکشی پخوا له تانه هيڅا ته نه وه راستولې».
د پېښور آرشيف په خطي مجموعه کې د يوې مسجع معراجنامې په پای کې د «*قريبه دعاء اسناد*» شته چې نسخه يې د تهکالي محمد امين له زمانې دمخنۍ ښکاري، نو اټکل دی چې د دعای قريبه دا منثور اسناد به د تهکالي محمد امين د دعای قريب له ليکلو اسنادو ښل ليکل شوي اسناد وي چې کوم بل پښتانه ليکوال به د خپلو خلکو د خير ښېګڼې لپاره ليکلې وي. د دې اسنادو پانې ځلور دي او په يوه برخه کې يې راغلي دي: «... دا هغه بنده دی چې تمام عمر خپل يو گوزار د دعای قريبه لوستې ده. بيا به حکم وشي چې دی جنت لره بوزئ»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۵۱ مخ).
«*مجموعه وظايف*» منظومه او منثوره پښتو رساله ده چې په لاهور کې چاپ شوې ده. د زلمي هېوادمل په شخصي کتابخانه کې د دې اثر دوې نسخې شته چې دواړه ۷۲ مخه لري. په دې مجموعه کې د راغلو دوو پښتو مناجاتونو د يوه په مقطع کې د ناظم نوم شېرمحمد راغلی دی، نو کېدای شي دا گرده مجموعه ده جوړه کړې وي. په دې مجموعه کې د دعاوو عربي متن ته پښتو ترجمه کښل شوې او په پای کې يې يوه منثوره پښتو دعا هم راوړې ده. د دې پښتو نثر (اسناد د گنج العرش) يوه نمونه دا ده: «يو ورځ پيغمبر صلی الله عليه وسلم په مسجد د مدينه کې ناست و چې ناگاه جبرائيل عليه السلام راغی دا دعا يې راوړه له درباره د خدای تعالی وآنحضرت صلی الله عليه وسلم ته يې زده کړه...».
«*گلشن وظايف*» يوه بله مجموعه ده چې په دې مجموعه کې هم د ځينو دعاوو اسناد په پښتو نثر کښل شوي دي. د نثر يوه نمونه يې دا ده: «خاصيت اول دا دی چې دا څوک ولولي په شپه کې يوويشت گوزاره په شرينې باندې چف کړی، هر چا له چې دا شرينې ورکړی، نو هغه به پرې عاشق شي...»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۵۱، ۲۵۲ مخونه).
په يوه خطي مجموعه کې «*د قرآن عظيم د سورتونو د خواص يوه منظومه رساله*» شته چې کاتب يې طالب شېرمحمد دی. په دې رساله کې چې د هر سورت خواص په پښتو نظم تشريح کېږي او بيا د منظومې تشريح په پای کې په پښتو نثر ځينې ليکنې راځي، لکه: «رسول الله صلی الله عليه السلام فرمايلي دي چې سورة الحاق ولولي په ورځ د قيامت حساب وربانديې اسان شي ختم د دې سورت اويا ځله دی دپاره د اسانی د عذاب د گور»(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۵۲ مخ).

۴- ۲- ۳. د ديني علماوو د منثورو آثارو او ټوټو د منځپانګې تحليل

د پښتو ادبياتو دويمې دورې د ديني علماوو آثار او يا د همدې زماني مقطع ديني منثور آثار او د کلام نمونو محتوا ته چې وګورو، د اسلام او شريعت اړوند مختلف موضوعات په کې شامل دي چې لاندې هره برخې ته کتنه کوو.

قرآن کريم د الله تعالی له خوا رالېږل شوی هغه سپېڅلی کتاب چې څه باندې څوارلس پېړۍ مخکې د اسلام په وروستي پيغمبر حضرت محمد ﷺ په عربي ژبه نازل شوی دی. د دې مقدس کتاب ګڼ تفسيرونه او ترجمې شوې دي چې پښتنو مفسرانو او مترجمينو هم په کې ونډه لرلې او په دې سره يې پښتو ته ستر خدمت کړی دی. په دې ژبه کې تفسيرونه او ترجمې ځينې داسې دي چې بشپړ او ځينې نابشپړ يا د څو سورتونو او آيتونو ترجمې او تفسيرونه دي.

د معلومو اسنادو له مخې، په پښتو کې د قرآن‌عظيم د ځينو برخو د تفسيرولو کار غالباً له يوولسمې پېړۍ نه پيل شوی ښکاري او د پښتو د مسجع‌نګارۍ له دوران سره اړه لري. د پښتو ځينو مسجع‌نګارانو د قرآن‌عظيم د ځينو سورتونو او آيتونو تفسيرونه وکړل. بيا د دولسمې پېړۍ په جريان کې پښتنو عالمانو تفسيرونو او يا ترجمو ته توجه وکړه. په پښتو کې د تفسيرونو ليکل او ترجمه په وروستيو دوو (ديارلسمه- څوارلسمه) پېړۍ کې خورا ډېره باب شوه، ډېر تفسيرونه ترجمه او يا وليکل شول او دا لړۍ لا تر اوسه روانه ده(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۰۵- ۲۰۶ مخونه).

په کمي لحاظ د پښتو نثر ډېره ستره ذخيره په دې تفسيرونو کې خوندي ده او په زرګونو پاڼې د دغه مبارک کتاب په ترجمه او تفسير کې په پښتو ډکې شوې دي. د کمي اړخ د دې يادونه ترڅنګ دا خبره کول ضروري ده چې له دغو نثرونو د فرهنګ په رشد او د نثر ليکنې په پرمختيا کې څه په لاس راځي او که يه؟

أ) دا نثرونه له استثنايي مواردو پرته زياتره د ژبې طبيعي جوړښت ته پاملرنه نه لري، د ځينو جملې ډېرې اوږدې او مفاهيم ډېر ژوولي په کې بيان شوي دي او د ترجمو رنګ پرې غالب ښکاري. اکثرو دغو نثرونو کې مضاف تر مضاف‌اليه دمخه راځي او ترکيبونه يې زياتره د نورو ژبو دي. حتی په ځينو کې يو نيم ځای سجع هم ليدل کېږي.

ب) په دې نثرونو کې کوم مشخص سبک تبارز ونه شو کړای چې نورو مفسرينو او نثر ليکونکو د هغه پيروي کړې وي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۱۶ مخ).

په دويمه ادبي دوره کې تر ټولو مخکې د مولانا عبدالحليم د آيت کرسي ترجمه او تفسير مخې ته راځي. ورپسې «عرفاني تفسير» چې نسبت يې نسبت افضل خان خټک ته شوی، ارزښتناک تفسير دی. مولوي عصام الدين احمد هم «د قرآن عظيم د لسو پاره تفسير» او نواب افضل خان عمرخېل «تفسير افضليه» ليکلی دی. مولوي احمد د تنګي د قرآن شريف د لومړۍ او وروستۍ پارو ترجمه او مولوي عبدالحق عليزی د قرآن کريم د ۱۴ پارو تفسير لري. مراد علي صاحبزاده «تفسير يسير» په دوو ټوکونو کې ليکلی، د څه کم پنځو پارو تفسير «بدر المنير» مولوي دوست محمد خان خټک، «تفسير حسيني» ميا عبدالله کاکاخېل، «مخزن التفاسير» مولانا محمد الياس کوچيانی، «ظاهر التفسير» مولانا عبدالودود سرحدي، «تفسير افغاني» مولوي عبدالرؤوف کاکړ، «پښتو تفسير» مولوي عبدالوهاب کندهاري، «پښتو تفسير» نواب افضل خان او «تفسير التيسير (تفسير يسير)» قاضي عبداللطيف ګالوجي کښلی دی. دغه‌راز «د مفتي محمد فتح الله قندهاري ژباړه»، د داربنګو مولانا عبدالحق «قرآن مجيد مترجم پشتو»، د مولانا شاه افضل «جواهر القرآن»، د مولانا عبدالقادر د لومړۍ پارې «قرآن مجيد ترجمه»، د ملا احمد ساکن تنګي «قرآن مجيد» د لومړۍ پارې ترجمه، «د قرآن کريم د وروستنۍ لسمې برخې ترجمه»، «د قرآن عظيم د وروستيو پارو تحت اللفظي ترجمه»، د مولوي احمد د تنګي «د قرآن کريم د لومړۍ او دېرشمې پارې ترجمه» او د مولانا محمد الياس پشاوري «مخزن التفاسير» د قرآن عظيم تفسير ليکلی دی. عبدالله غزنوي «حسيني تفسير»، محمد علي د قرآن عظيم تفسير، «تفسير بي نظير» چې محمد يعقوب څرخي ليکلی او پښتو کوونکی يې نامعلوم شخص دی، مولوي عبدالواسع په پارسي، پښتو او انګريزي ژبو «تفسير سوره فاتحه» لري.

له قرآن کريم وروسته د رسول الله ﷺ احاديث د اسلام دويمه منبع ده. حديث د حضرت محمد ﷺ وينا، فعل، تقرير ته وايي چې د دين د احکامو د څرګندولو لپاره رانقل شوي دي يا دا چې حديث هغه څه ته وايي چې پيغمبر ﷺ ته له وينا، فعل، تقرير او خَلقي يا خُلقي صفت منسوب شوی وي. پښتنو ديني پوهانو د احاديثو څو کتابونه راټول کړي او يا يې د احاديثو په رڼا کې پر مسايلو رڼا اچولې ده. شاه‌نور په «درر البحر» کې د رسول الله اقوال راټول کړي او همدا کتاب بل ځای په «کتاب احاديث» هم ياد شوی دی. محمد حسن د «تحفة الاخبار ترجمه لباب الاخبار» په نوم د رسول الله د څلورسوو حديثونو پښتو ترجمه لري او د مولوي تاج محمد په آثارو کې «د څلوېښت حديثونو پښتو ترجمه» او «د حکمت خبرې» ښودل شوې دي. «تصفية المراة لترجمة المشکوة» د مولوي عبدالحق د داربنګو

ترجمه ده چې د ايمان، علم، طهارت، لمانځه، زکات، روژې، دعواتو او بيوعو اړوند احاديث په پښتو په کې ژباړل شوي دي.

اسلامي *عقيده* په الله تعالى، د هغه په پرښتو، کتابونو، رسولانو، د آخرت په ورځ او الهي تقدير، خير او شر ټينګ باور ته وايي چې دا ټول د دين بنسټ او جوهر جوړوي. دغه‌راز عقيده په قرآن او سنتو ولاړ اصول دي چې پر بنسټ يې مسلمان د خپل رب په اړه پوهه ترلاسه کوي.

د اسلامي عقيدې او په تېره د سمې عقيدې په باب پښتنو ديني پوهانو د مسلمانانو د عقيدوي ذهنيتونو د جوړولو لپاره قلمي زيار ايستلى او په دې اړه يې په تېرو څو پېړيو کې آثار خلکو ته وړاندې کړي دي. د اخوند دروېزه «ايمان‌نامه» د ايمان او ايمان راوړلو او نور د ديني احکامو مطالب لري. د ملا ځالاک «د الله ديدار په جنت کې» رساله کې د جنت نعمتونه بيان شوي دي. د ملا مست ځمند نثري ټوټو کې ديني او عقيدني مسايل راغلي دي. ملا علي خان سرغلاني د الله تعالى په صفت کې بيان لري. محمد منير په «صراط المستقيم» کې د اسلام ارکان واضح کړي دي. د امام غزالي «کيمياي سعادت پښتو منثوره ترجمه» چې ليکوال يې معلوم نه دى، په کې د حق تعالى، نفس، دنيا او آخرت پېژندنې ترڅنګ د عباداتو، معاملاتو او منجياتو بحثونه راغلي دي. نورمحمد په «اسماء حسنى» کې د الله ﷻ نومونه شرحه کړي دي. عبدالکبير په «منثور جنت الفردوس» کې په ژوند کې د ځينو چارو ښېګڼې د ديني لارښوونو په رڼا کې راښيي. د منير «صراط المستقيم» د دين د اساساتو په باب بيانونه لري. «قايد الانام الى بيت الحرام» چې د يوه نامعلوم عالم کتاب دى، منځپانګه يې د حج او د حج د مناسکو او حرمينو په باب معلومات دي او حاجيانو ته لارښوونې دي. قاضي در مکنون «مجموعة الخطب» ليکلى، ولي الله د «حجة الاسلام» ترجمه شوى کتاب لري، احمد «نور الاسلام» ژباړلى چې د ايمان بحث او د اسلام پنځه بناوې په کې بيان شوې دي. مولانا عبدالوهاب «عقايد المؤمنين» د ايمان او عقيدې په بيان کې ليکلى، «تشريح الفرق» چې ليکوال يې نامعلوم دى، په کې د ۷۲ مذهبي فرقو تشريح راغلې، د جلوزو صوفي صاحب په «شمس الهدى» دوه ټوکيز کتاب کې ديني او عقيده‌يي مسايل تشريح کړي دي. ميرزا دوست‌محمد د «سراج الحج» په نوم اثر ليکلى، مولانا عبدالحق د «عقايد المؤمنين» کتاب کې ديني عقايد تشريح کړي، قاضي محمد يوسف احمدي قاضي‌خېل د «نزول مسيح، آثار قيامت، رساله خروج دابة الارض، خروج د جوج مأجوج، خروج دجال، رساله تحفة

النبوة، الاسلام او التبليغ» آثار لري. دا ټول آثار د الله تعالی پر پېژندنې، ایمان او ایماني مسایلو راڅرخي.

فقه د عملي شرعي احکامو (لکه عباداتو، معاملات او جرمونو) پوهه ده چې تفصیل یې له قرآن کریم او نبوي احادیثو څخه استخراجیږي. پښتنو فقهاوو د دغو شرعي احکامو د روښانولو لپاره قلمونه خوځولي او په دې برخه کې ګڼ آثار یې کښلي دي.

د پښتو آثارو مطالعه را څرګندوي چې پښتنو عالمانو له ډېرې پخوا زمانې څخه د خپلو خلکو د دیني روزنې او د دین له اصولو او فروعو سره د دوی د اشنایي په منظور په پښتو نظم، مسجع او روان نثر په پښتو ژبه کتابونه او رسالې لیکلي او ځینې آثار یې له نورو ژبو څخه په پښتو ترجمه کړي دي. د دیني احکامو او فقهي مسایلو د بیان او تشریح خبرې مورِ د بایزید روښان په آثارو (خیرالبیان او تذکره د علم) کې ګورو، ورپسې اخوند دروېزه او د ده پیروانو او د یوولسمې او دولسمې پېړۍ ډېرو لیکوالو او ناظمانو په دې موضوعاتو کې آثار لیکلي دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۳ مخ).

د اخوند دروېزه «مخزن الاسلام» کې چې ګڼې رسالې دي، فقهي او د عقایدو مسایل راغلي دي. اخوند کریمداد چې د خپل پلار (دروېزه) د آثارو مدون دی، په کې یې فقهي او هم د عقایدو څه برخې ور زیاتې کړې دي. د ده بل اثر «فقهه کریمداد» کې فقهي مسایل راغلي دي. اخوند موسی بټيکوټي په خپل اثر «پر شاګردانو د استاد د حقوقو بیان» کې د نورو موضوعاتو ترڅنګ د فقهې مسألې راوړې دي. د میر حسین هروي «نافع المسلمین» د اخلاقو، تزکیې، طریقت موضوعاتو ترڅنګ د فقهي مسایلو ژور بحثونه لري. اخوند قاسم د «فواید الشریعت» ډېره برخه د حنفي فقهې مسایلو ته ځانګړې کړې ده. ملا نورمحمد غلجی په «نافع المسلمین» کې د فقهې او اخلاقو له معتبرو کتابونو استفاده کړې ده. اکبرشاه په «ګنج الثواب» کې د نفلي او ثوابي لمونځونو، ادعیهوو، اورادو او نورو په باب روایات لري. مولوي عبدالله په «فتاوای احمدشاهي» کې فقهي او دیني احکام بیان کړي دي. ملا ګلاب آخوند علیزی «د قدوري پښتو منثوره ترجمه» کښلې ده. د شمس الدین غلجي «سراج الموتی» دیني او فقهي مسألې بیانوي. د مراد علي صاحبزاده « صلوتیه» اثر د لمانځه د عباراتو لغوي څېړنه او ترجمه ده. د ګل احمد خلیل «هدایت المؤمنین» منظوم اثر منثوره برخه هم لري چې په ټول کتاب کې له خلاصه کیداني او نورو معتبرو فقهي کتابونو استفاده شوې ده. د محمد امین تهکالي «مجموع البرکات» کې د لمانځه او اوداسه، د عقایدو او اسلامي فرقو بحثونه، فقهي او شرعي مسایل راغلي او یوه برخه د

حضرت پيغمبر معجزاتو ته ځانګړې شوې ده. د محمد عادل «تحفة الاسلام» د کلام، فقهې، تصوف او آخرت بحثونه لري. ملا عبدالغني کامه‌وال د «زبدة الكلام في تعديل اركان الصلوة و متابعة الامام» په نوم مترجم اثر لري. د قاضي ګل احمد «فتاوای نجم الهدی» کې د ژوند د بېلابېلو چارو په اړه فقهي او شرعي مسايل بيان شوي، «نجات النساء» کې محمد غوث د ديني او شرعي احکامو په رڼا کې د ښځو مسايل څېړلي دي. محمد عبدالغفور په «صلوة الاصفياء عن كتب الاتقياء» کې د لمانځه په باب صوفيانو ته لارښوونې لري، د قدرت علي هزاروي د «خزينة السلطان» او «مشكل كشای طالبان» کتابونه زياتره فقهي مسايلو ته وقف شوي دي. نيازمحمد په «خزانة العجايب نجيب خاني» کې شرعي او فقهي مسايل رانغاړلي دي او مولوي عبدالاکبر هلي «کافيه» په دوو ټوکونو کې را ژباړلې ده.

کوم ديني او فقهي آثار چې ليکل شوي، د دين بېلابېل ابعاد او همدارنګه فروع او اصول بيانوي، د فقهې ځينې مسايل تشريح کوي، خو دا آثار ډېر ساده دي او زياتره له نورو ژبو حتی له هندي ژبو څخه ترجمه شوي دي. مترجمينو او يا مؤلفينو يې غوښتي چې د دين مسايل په اسانه او بسيطه طريقه خلکو ته وښيي. د دې ډېر د ديني او فقهي آثارو علمي او تحقيقي وزن د مسجع‌ليکنې تر ډېر او تړې را وروسته آثارو لږ دی. يواځينۍ ښېګڼه يې دا ده چې نثر يې د مسجع‌نګارانو په نسبت څه رواني لري. په دې آثارو کې له ځينو استثنايي برخو پرته کومه ابتکاري خوا او موضوعي نوښت نه ليدل کېږي. د زياترو اهداف تعليمي دي او د دين د ښوونې او د فقهي مسايلو د حل موضوعات يې په کې ښوولي دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۳۱ مخ).

سيرت هغه موضوع ده چې د اسلام د وروستي پيغمبر محمد ﷺ د ژوند دقيق او جامع حالات بيانوي، له زېږېدو، نشأت، هجرت څخه نيولې تر وفات پورې د هغه د اخلاقو، ځانګړتياوو او غزاګانې په کې خوندي دي.

ګڼو پښتنو سيرت‌پوهانو په دې اړه زيار ايستلی او د رسول الله ژوند يې په خپلو آثارو کې تشريح او ځلولی دی. اخوند مياداد په «نورنامه» کې د پيغمبر ﷺ د ژوند يوه برخه بيان کړې ده. جورا يا جوهر په «وفاتنامه» کې د رسول الله د رحلت داستان راوړی دی. يارمحمد په «معراجنامه» کې د حضرت محمد د معراج کيسه رانقل کړې ده. محمد خان ځمند په «جامع الانوار» کې د ده د مبارک د نور له پيدايښته تر رحلته واقعات، معراج، غزاګانې، معجزې او د ده د کورنۍ بيانونه راوړي دي، اخوند موسی بتي‌کوټي «تولدنامه» د پيغمبر د زېږېدنې بيان ته وقف کړې ده. شيخ محمد سعيد په «شفاعت‌نامه» کې د رسول

الله د شفاعت او نورو مسایلو په باب څرګندونې لري. ملا علي خان سرغلاني د رسول الله او د هغه د ځلورو یارانو په صفتونو کې بیانونه لري، د معاذ بن جبل حکایت یې هم بیان کړی دی. مولانا عبدالحلیم په «معارج القصص» کې یې د حضرت محمد ﷺ احوال بیان کړي، ده «نورنامه» د رسول الله د پیدایښت په باب لیکلې ده. د اخوند قاسم د «فواید الشریعت» یوه برخه د رسول الله مبارک سیرت ته ځانګړې شوې ده. جان محمد په «نورنامه» کې د اسلامي د پیغمبر د نور د پیدایښت بیانونه لري. میا عمر څمکني په «شمایل نبوي» کې د رسول الله خصایل ښودلي دي. ګوهر خان ختک د «قلب السیر» په ژباړلو سره د اسلام د ستر پیغمبر مبارک سیرت پښتو کړی دی. سیدال فقیر د یوه کتاب څو موندل شوي بابونه د اسلام د حضرت محمد ﷺ د سیرت په باب لیکل شوي. «مذهب‌نامه» د حضرت محمد ﷺ د سیرت او معراج او د امام اعظم رحمه الله د مذهب او شاګردانو په باب بیانونه لري. مولوي عبدالرحیم «در مکنون» د حضرت رسول د سیرت مبارک په اړه لیکلی، «خاتم النبیین» د سیرت رساله ده چې مولوي عبیدالحق لیکلې، مولوي احسن خان د امام اعظم د سیرت په باره کې «رساله افغاني في سیر نعمان» لري، امیر محمد ترخوی په «محمد» کتاب کې د اسلام تاریخ بیان کړی دی. د سیرت النبي په دې آثارو کې د اسلام د ستر پیغمبر ﷺ ژوند او ځانګړتیاوې په ښه ډول څرګندې شوې دي.

تصوف او عرفان چې په اسلامي اصولو کې هغه برخه ده چې د اسلام له اوایلو پالل شوی او تر اوسه لا پالل کېږي. په پښتو ژبه په دې برخه کې ګڼ آثار لیکل شوي چې په دې ساحه کې تر ټولو د لومړي شخص نوم د بایزید روښان مخې ته راځي چې په «خیر البیان» کې یې د تصوف مسایل ځای کړي دي. د بایزید «مقصود المؤمنین تحت اللفظ پښتو ترجمه» چې ښایي همدان بن شیح نعمت الله روشاني خلیفه ژباړلې وي، په کې د وعظ و نصیحت د ګټو، د ایمان د اصولو او فروعو او نورو مطالبو ترڅنګ د روښاني تصوف اته مقامونه تشریح شوي دي. د ملا ارزاني په منثوره رساله کې د الله تعالی د معرفت ترڅنګ په عرفاني لارښوونو بحث شوی دی. د علي محمد مخلص منثوره رساله هم تصوفي مسایل بیانوي، مولانا عبداللطیف له عرفاني سمندر سره د بې‌کچې علاقې له امله د سنایي «حدیقة الحقیقة» او د مولانا بلخي «مثنوي» انتقادي متنونه ترتیب کړي، سریزې او حاشیې یې پرې لیکلې دي. د میر حسین هروي «نافع المسلمین» وروستی برخې د تصوف مطالب لري. میا عبدالحکیم کاکړ «حصن الایمان، مقامات تصوف، مجموعه رسائل» تر ډېره تصوف ته وقف کړي دي. محمدګل کوهاټی یوه تصوفي منثوره رساله لري چې د نقشبندیې طریقې اصولو او لارښوونو ته په پاملرنه ځینې

تصوفي مسألې بيانوي. د فتح‌شاه منثور آثار عرفاني مضامين رانغاړي او عرفان يې د روښاني عرفاني لاره تعقيبوي. د شمس الدين غلجي «خلاصة المريدين» اثر صوفيانه دی چې عرفاني مسايل بيانوي. د صفي الله ختک «مخزن الاسرار» د عرفاني مسايلو تشريح ته وقف دی. «شواهد السلوک» چې د يوه نامعلوم شخص ترجمه ده، د سلوک او عرفان اړوند مسايل په ډاګه کوي. «مقصد السالکين والمجذوبين» چې ليکوال يا مترجم يې نه دی معلوم، د شريعت، طريقت، حقيقت او معرفت په اړه څرګندونې لري. محمد يوسف د «اسرار طريقت» په نوم تصوفي رساله لري. په دې آثارو کې د تصوف او عرفان بېلابېل اړخونه واضح شوي او هم هرې تصوفي حلقې د خپلې عرفاني لارې چوکاټونه او حدود په کې روښانه کړي دي.

تجويد هغه علم دی چې د قرآن کريم د تورو د سم تلفظ څرنګوالی ښيي او په مخارجو او صفتونو کې هر حرف ته خپل حق ورکوي.

د لاسته راغلو اسنادو له مخې، تجويدليکنه په پښتو کې څه دپاسه ځلورسوره کلنه سابقه لري. پښتو پوهانو د دې علم څېړلو ته توجه کړې ده. د اخوند دروېزه ننګرهاري له زمانې راپدېخوا ډېرو عالمانو دغه لارښوونې او اساسات په پښتو نظم او نثر راوړي دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۲۰ مخ).

پښتنو ديني عالمانو د تجويد څو کتابونه کښلي چې په دې برخه کې مولانا رکن الدين د «قانون القرائت» تجويدي اثر، د قاري نصير د «تعليم المبتدي»، د عبدالله «مفتاح» او د مولانا حميدالله اوبندي «تجويد القران المجيد» د يادونې دي، د نامعلوم شخص «رمزه» هم د تجويد اصول بيانوي. په دې ټولو د تجويد مسألې واضح شوې دي.

علم الميراث يا «علم الفرايض» هغه اسلامي پوهه ده چې د مړ شوي شخص د ترکې يا مال په اړه د هغه د مستحقينو ترمنځ پر وېشلو بحث کوي. د دې برخې پښتنو متخصصينو په دې اړه خدمتونه کړي دي. حاجي موسي د ميراث په علم کې رساله کښلې ده. د شمس الدين غلجي «هداية الاعمى» د ميراث اړوند خبرې لري، دی «فرايض ميراث» په نوم بل هم اثر لري. فيض الله «جواهر الميراث» او ملا غلام جان «ميراث علم ضابطه» ليکلي دي. ګل محمد خرښبون «ميراث ضابطه» او هم «دُر بې بها» ليکلي، ملا نعمان «ضابطه ميراث» ليکلې، د لغمان ملا له تقاريرو څخه جوړ شوی «چارسده» د ميراث اصول او مسايل تشريح کوي. دغه‌راز د ملای لغمان له تقاريرو د «ضابطه ميراث» په نامه بل اثر هم شته. «اصول السراجي» د ملا محمد رسول اخوند منوزي د ميراث مسايلو په بيان کې رساله ده، ملا محمد

دين د «ميراث علم رساله» لري، احمدجي «رساله افغانيه فی الحساب» او «ضابط ميراث (مفتاح السراجي)» کښلي، «اصول سراجي» د ملا بازمحمد امالي ده، آخوند موسی ولي‌زي هوتک په «مجموع فرايض» کې د ميراث پر بحث سربېره د عباداتو او معاملاتو فرايض بيان کړي دي. د صوفي صاحب په «فرايض ميراث» کې د ترکې بحثونه راغلي، «اصول الفرايض» او «سراجي» کې د ميراث مسألې څېړل شوې دي، خو ليکوال يې نه دي معلوم.

منطق له علمي اړخه د فکري منهج مطالعه او د سالم استدلال لارې چارې دي. دا هغه وسيله ده چې د رعايتولو په صورت کې ذهن له فکري خطاګانو ساتي. پښتنو منطقيانو د دې پوهې په باره کې قلمونه خوځولي او آثار يې خپلو علاقه‌مندانو ته په ميراث پريښي دي. قاضي صفي الله د «سيف المبتدي» په نوم د منطق علم ضابطه لري، «کامل النصاب در علم منطق تقرير ايساغوجي» د مولوي عبدالحکيم د امالي او د حيدر د انشاء منثور اثر دی چې د منطق په اړه بحثونه لري. ملا مير سيد د «منطق علم» په نوم اثر ليکلی. مولوي محمد غفران چې مشهور منطقي و، «د ايساغوجي پښتو شرحه» لري. د منطق علم ايساغوجي ضابطه (پښتو) د غلام حيدر له امالي څخه ده.

د پښتنو ګڼو ديني علماوو د خپل مسؤوليت او هم د خدمت په پار ګڼ داسې له *موعظو او نصيحتونو* څخه ډک آثار ليکلي دي. د روښاني ډلې د ليکوال مودود ترين د «مقصود المؤمنين» موضوع پندونه او نصايح دي. د عبدالقادر خان خټک د ديوان پښتو منثوره برخه موعظې دي او هم ښو اخلاقو ته بلنه ده. د بابوجان په مسجعاتو کې ديني او اخلاقي نصايح بيان شوي دي. «رساله موعظه» يا «موعظه‌نامه» د ملا غلام جان پښتون ترجمه ده چې ديني نصيحتونه دي. «پندنامه علي» د احمد ترجمه ده چې د خلکو د روزنې په منظور يې ژباړلې ده. «نصيحت‌نامه لقمان حکيم» د محمد سعيد اثر دی چې ځينې پندونه يې خپل او ځينې يې د لقمان حکيم پندونه په کې را پښتو کړي دي. «وعظ‌نامه» اثر چې ليکوال يې معلوم نه دی، وعظونه، د تبليغ ګټې او هم د کسب و کار او حلاق رزق د ګټلو فوايد بيانوي. د خوږدل «خلاصة الوعظ» د وعظونو او نصيحتونو خبرې لري. قاضي ګل احمد په «جليل البرهان» ژباړلي اثر کې د ديني ارشاداتو په رڼا کې اخلاقي وصايا، نکلونه او خبرې بيانوي. عنوان الدين کاکاخېل «عنوان النصايح»، مشيرالدين کاکاخېل «مشير الاخلاق» او مولانا عبدالمجيد افغاني «رهبر اخلاق» ليکلی دی. په دې ټولو آثارو کې خلک ښېګڼو او د ښو اخلاقو غوره کولو ته رابلل شوي او له بدګڼو او شرارتونو څخه ورته د ډډې کولو توصيې شوې دي.

پښتنو ديني علماوو ګڼ ديني مسايل په *کيسو او حکاياتو* کې قلمبند کړي دي. د اخوند احمد رسالې له پند و موعظو ډکې دي چې د پيغمبرانو قصص يې په کې بيان کړي دي. محمد خان ځمند په «د موسى قصه» کې د موسى عليه السلام د ژوند بېلابېل احوال بيان کړي دي. ملا علي خان سرغلاني د حضرت عيسى عليه السلام کيسه هم بيان کړې ده. مولانا عبدالحليم په «تاج القصص» کې د څو پيغمبرانو او نېکانو قصې راوړې دي. حاجي ابراهيم سواتي «د زقوم پاچا کيسه» او «د سيف الملوک کيسه» کيسې لري. مولانا ميا بزرګ د «يوسف زليخا» را ژباړلې او شرحه يې پرې ليکلې ده. مولوي احمد د تنګي «ګنج پښتو» کې حکايتونه را ژباړلي، دى د «آدم درخانى» او «د جمجمې قصه» آثار هم لري. مولوي عبدالرحمن د «چهار چمن نوبهار» په نامه ترجمه لري. سيد عبدالغني په «تذکره» کې د ديني ارشاداتو په رڼا کې مسايل او ځينې قصص راوړي، د قاضي مير احمدشاه رضواني په «بهارستان افغاني» او «شکرستان افغاني» کې حکايات راغلي دي.

ځينې داسې آثار شته چې هغه لا نورو وضاحتونو ته اړتيا لري چې له همدې امله پښتنو ديني پوهانو د همدې ضرورت پر بنا پر ځينو آثارو *شرحې* او *حاشيې* ليکلې دي. قاضي محمد غوث خانعلوم د احمد شاه بابا د اشعارو پښتو شرحه ليکلې. مولوي عبدالحق عليزى پر څو آثارو شرحې يا حاشيې کښلي، مولانا محمد شعيب پر «کافيه» مبسوطه شرحه لري. ملا سعدالله خروټي او قاضي عبدالحق کابلي پر څو آثارو حاشيې ليکلي، ملا قطب اخوند پر «تحفة الدرويش» او «بدر الشرح» شرحې لري.

پښتنو ديني عالمانو پر *ژبنيو* مسايلو هم تمرکز کړى او هغه يې د خپل وخت له شرايطو سره سم څېړلي دي. مولوي نورمحمد د «غنچه روه يا تحفة الامير» په نوم اثر کې د پښتو ګرامر په پارسي ژبه بيان کړى دى. مولوي محمد اسمعيل «ائينه الفاظ افغاني»، «اتاليق پښتو»، «خزينه افغاني»، «سوال و جواب افغاني»، «پښتو خبرې اترې»، «ګفتګوى افغاني با ترجمه هندوستاني»، «قصه هرني به زبان افغاني»، «افغاني کې پهلى کتاب» او «دوسرى کتاب» د پښتو ژبې د زده‌کړې په خاطر ليکلي، احمدجي په «مفيد المبتدين» کې صرفي قواعد بيان کړي او مولوي دوست محمد «ضابطه افغاني» د پښتو زده کړې لپاره کښلى دى.

ديني عالمانو په *حماسو* کې هم زمونږ د تاريخ ځينې برخې خوندي کړي، لکه ملا محمد امين سرپرېکړي چې «جګړه د محمود افغان، نيول د اصفهان» او حافظ نورمحمد «قصه خدى» کښلي دي. مولويانو زمونږ د تاريخ ځينې برخې هم خوندي کړې دي، لکه ملا اختر «د پښتنو تاريخ» اثر کښلى،

مولوي احمد د تنګي «تاريخ سلطان محمود» په نوم ترجمه لري. مولوي نورمحمد نوري په «ګلشن امارت» کې د امير شېر علي خان د ژوند او وخت حالات درج کړي او هم يې «د افغانستان تاريخ» اثر هم ليکلی دی.

له دين سره منسلکو اشخاصو د ديني نصوصو په رڼا کې او هم خپلې تجربې په *روغتيايي* اړخ کې روښانه کړي او يا له نورو ژبو پښتو کړي دي. مولانا عبدالحليم د «اختيارات بديعي» طبي اثر پښتو ته را اړولی دی. اکبرشاه په «ګنج الثواب» کې د فقهي مسايلو ترڅنګ ځيني تعويذونه او طبي هدايات راوړي دي. ملا لعل‌بېګ خراساني «طبي رساله» لري. رضوان الله رضوان چې د يوناني طب عالم او حکيم و، د «مجربات اکسير» ترجمه او «طب اکسير» تأليف لري. د ملا نعمت الله په «مجموعه اعجاز محمدي معه طب» کې طبي نسخې شته دي.

کسب او په يوه اجتماعي برخه کې کمال لرل د فرد او ټولنې اړتيا ده، همدا ده چې رسول الله ﷺ فرمايي چې کاسب د الله تعالی دوست دی، نو همدې اړتيا او نبوي ارشاد ته په پاملرنې، زمور ځو ليکوالو د کسبونو په باب رسالې ليکلې دي. شاه‌محمد ترکان په خپلو دوو رسالو کې د ترکانې کسب له ديني اړخه څېړلی دی. د ملا نعمت الله نوښاري «مجموعه کسب‌نامه» منثوره برخه کې د نايانو، پښانو، دوبيانو او ترکاڼانو د کسبونو په باب خبرې راغلې دي. «خوابنامه‌کلان» ملا نعمت الله نوښاري د خوبونو د تعبيرونو په باب کښلی او په همدې نوم «خوابنامه کلان» قاضي عصمت الله هم اثر لري.

استاد هېوادمل د «زاړه علوم او حکمتونه» تر سرليک لاندې کاږي: په پښتنو کې د سواد عامېدلو او له نورو فرهنګونو سره د دوی د آمېزش په نتيجه کې د ديني او فقهي علومو ترڅنګه ځينو پښتنو حکمتونو او تجاربو ته هم مخه وکړه. دغه ډول آثار يې په نورو ژبو کې مطالعه کړل او بيا په دې فکر شول چې دا ډول آثار به د ژوند د چارو په چلولو کې د پښتنو په ښه ورشي، نو يې دا ډول آثار ترجمه کړل او يا يې خپله وليکل. په دې برخه کې تر ټولو دمخه د زاړه طب او حکمت آثار مخې ته راځي. پښتنو علماوو په دې برخو کې هم خپل استعداد ازمويلی، په نظم او نثر يې ځينې آثار له نورو ژبو په پښتو ترجمه کړي او يا يې د نورو او خپلو تجربو په استفاده په خپله په زاړه طب او حکمت کې ځينې آثار کښلي دي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۳۷ مخ).

پر پورتنيو موضوعاتو سربېره ځينې نور داسې ټولنيز مسايل شته چې په اړه يې ديني پوهانو د آثارو په کښلو سره اظهار نظر کړی دی. ميا شرف ننګرهاري «پښتو عروض» کې په پښتو عروضو کې د وخت

موجوده تشه ډکه کړې ده. حضرت ميا فقير الله جلال‌آبادي په «کيمياي سعادت» کې دعاګانې، نقشونه، د مزمل د سورت خاصيت، د حضرت علي وصيتنامه او ځينې آداب شرحه کړي دي. «مطلوب الطالبين» د جادو او طلسم په باره کې د معراج الاسلام ژباړلی اثر دی. «نقش سليماني» د قاضي ګل احمد تأليف او ترجمه ده چې د کوډو او تعويذونو په اړه دی. د نامعلوم ليکوال «نجابت د هزار مسايل نسخه» منثوره برخه کې د هرې مياشتې نېکې او بدې ورځې ښوول شوې دي.

پر ليکلو آثارو سربېره مورِ له لسمې تر څوارلسمې هجري پېړۍ د يوه ليکوال يا نثار يوه يا څو منثورې ټوټې لرو چې په منثورو کلامونو کې ملا اصغر، حقداد، ملا سليمان، ملا عبدالرحمن، حبيب، تاووس، ملا هارون، ملا دوست محمد، ملا عبدالغني کاسي، ملا عبدالواحد، عثمان، حافظ نورمحمد، حافظ عبدالکبير، اخوند ګدا، حاجي دوست محمد خان کندهاری، فضل احمد لغمانی، ميرزا حنان بارکزی، احمد ګل د للمې، ميا ابوبکر، ملا نعمت الله، مولوي غلام محی الدين افغان، مولوي عبيدالله سندهي، نورمحمد، عبدالحق خروټي او محمد امين تهکالي هغه اشخاص دي چې د کلام يوه يا څو نمونو او يا دا چې په خپلو نورو آثارو کې يې منثورې ټوټې شته چې د اسلام، شريعت، اخلاقو، قرآني آيتونو، نبوي شمايلو او نورو ديني اړخونو په باب خرګندونې په کې راغلې دي.

د دويمې ادبي دورې شکلياتي اړخ داسې دی چې ګڼ آثار په کې د هغه وخت له تقاضا سره سم په مسجع نثر کښل شوي او ګڼ نور په ساده ليکل شوي، خو د داسې آثارو کمی هم په کې نشته چې ډېر روانوالی نه لري، د اغلاق او پېچلتيا حکم پرې کېدای شي. بله دا چې د دې دورې آثار داسې دي چې يوه برخه په خپله د ليکوالو ايجاديات دي او بله يې ترجمې دي چې اکثره له دري او يا عربي څخه پښتو شوي او دغو ترجمو کې بيا د ژبې روانوالی او ژبنی اصالت په پام کې نه دی نيول شوی.

د استاد هېوادمل د مطالعاتو پر بنسټ، د پښتو نثرليکنه درې ځانګړي جريانونه لري چې لومړنی جريان د پښتونخوا په کليوالي ديني تعليمي حلقو کې د درسي آثارو نثرونه دي چې زياتره له عربي او کله‌کله له پارسي او نورو ژبو نه د ټکي په ټکي ترجمې په بڼه ايجاد شوي دي. د دې نثرونو د جملو جوړښت او ترکيبونه د پښتو خپل رنګ نه لري او په داسې شېوه برابر شوي دي چې له يو خاص قشر نه پرته عام لوستونکی ترې نه استفاده کولای شي او نه يې هم لوستلای شي. لوست يې عادي لوستونکي زړه‌تنګي کوي او که يې څوک د ضرورت له مخې مسلسل په زحمت ولولي، امکان لري خپله ژبه ترې هېره کړي. دا نثرونه د ضابطو، ترکيبونو، حاشيو، تحريرونو، تقريرونو په ېلابېلو رسالو کې ديني طالبانو

سره ټول کړي دي. دا ګرده درسي ضابطې او درسي آثار د دیارلسمې پېړۍ د اواخرو او د څوارلسمې پېړۍ د اوایلو دي. د دمخنیو زمانو دا ډول آثار نه دي لیدل شوي. د لرغونو دغه ډول آثارو د نه موجودیت دوه دلیله کېدای شي:

أ) ښایي زمور پخوانو دیني طالبانو دغه علوم په عربي او دري ژبو کې لوستل.

ب) کېدای شي د پښتو لرغوني منظوم او منثور آثار، لکه مخزن، فواید الشریعت، رشید البیان او په لسګونو نور دغسې آثار به طالبانو لوستل.

ښایي پښتانه دیني عالمان او مدرسین په وروستیو دوو پېړیو کې دې خبرې ته متوجه شوي وي چې د کلیوالي دیني مدرسو او درسګاهو په تعلیمي نصاب کې شامل کتابونه او رسایل خپلو پښتنو طالبانو ته د دوی په ژبه ووایي او د مختلفو علومو د مبادیو، اصولو او فروعو تقریرونه په پښتو وکړي چې طالبانو به بیا پسې لیکلي او ضبط کړي وي. د دې درسي ضابطو او حاشیو موجودیت په خپله دا وروستۍ نظریه تأییدوي.

د درسي ضابطو، شرحو، حاشیو او ترکیبونو مؤلفین زیاتره ښکاره نه دي او اکثراً امالي او له تقریرونو نه تهیه شوي دي. څومره ضابطې او د دیني مدارسو دغه ډول درسي آثار چې لیدل شوي، په هغو کې د څو محدودو کسانو نومونه د مؤلف په حیث درج دی، لکه: د کابل پوهنتون په کتابخانه کې د پښتو خطي نسخو کې د میراث په یوه ضابطه د مؤلف نوم ملا غلام جان لیکل شوی، د زلمي هېوادمل په کتابخانه کې د میراث د یوې ضابطې د مؤلف نوم حضرت شاه لغمان ښوول شوی دی، د پېښور پښتو اکېډیمۍ په خطي نسخو کې د نحو یوه ضابطه د عبدالله جان ښوول شوې(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۵۳ مخ) ، د پېښور د بدنۍ علاقې دوو قاضیانو قاضي مبارک او قاضي صفي الله (۱۲۷۰- ۱۳۴۰هـ.ق) چې د منطق کومې ضابطې کښلې دي، پر هغو یې خپل نومونه کښلي دي. د مردان د شهباز ګړهۍ مولوي محمد غفران (۱۲۷۰- ۱۳۴۲هـ.ق) چې پر ایساغوجي کومه پښتو شرح کښلې ده، پر هغې یې خپل نوم کښلی دی.

له دې جریانه داسې نتیجه اخیستل کېږي چې د دیني مدارسو دغه درسي آثارو یوه برخه د تألیف او ترجمې د منظمې عملیې له لارې رامنځ ته شوې ده او یوه زیاته برخه یې د لویو دیني عالمانو د امالیو [هغه کتاب چې استاد تقریر کوي او شاګردان یې لیکي] او تقریرونو زېرنده ده چې زیارکښو طالبانو د کاغذ پر مخ کښلي دي.

دغه ديني درسي آثار که په هر علم پورې اړه لري، زياتره د ضابطو په نومونو مشهور دي، خو ځينې بيا د محررينو او مدرسينو د سيمو نومونو ته منسوب دي، لکه لاجبوکی (د دې درسي اثر يوه پښتو خطي نسخه ۸۲ پاڼې په پښور آرشيف کې خوندي ده. د کتاب الطهارت، کتاب الصوم، کتاب النکاح، کتاب الايمان تر لويو عناوينو لاندې يې په بېلابېلو بابونو او فصلونو کې يې ديني او شرعي مسايل تشريح کړي دي)، يا لکه تحرير بوسته چې د منطق پر تصديقاتو او تصوراتو په دوو پنډو ټوکونو کې بشپړ شوي دي يا تحرير بنسټ. د تور ورسک حاشيه چې د منطق پر تصوراتو او تصديقاتو مولانا بحر العلوم کښلې ده، يا لکه ترکيب شوه چې د شوې ملا صاحب ليکلی دی. ځينې دا ډول درسي آثار د ترکيب په نامه نومول شوي دي، لکه: ترکيب نظم مائة عامل، ترکيب فضيله او نور... ځينې بيا ځانګړي نومونه هم لري، لکه: فضل المفهوم، فوايد فضيله، حاشيه بر مرزا قطبي. همدا ډول په دې ډول درسي آثارو کې ځينې عربي، درسي کتابونه ديني عالمانو راساً پښتو ته اړولي او د درسونو او تقريرونو په ترڅ کې يې خپلو شاګردانو ته اورولي دي، لکه کافيه چې پښتو ترجمه شوې ده، يا لکه کنز الدقايق چې مطالب يې ټول په پښتو شاګردانو ته ويل شوي دي. د کنزالدقايق د ترجمو دوې نسخې استاد هېوادمل ليدلي چې يو يې د بري بانډې د مولانا تقرير دی.

دا ډول درسي آثار د ټولو پښتنو په کليوالي ديني مدارسو کې تر اوسه معمول دي او طالبان د بېلابېلو علومو مبادي، اصول او فروع له دغو ضابطو، ترکيبونو، حاشيو او شرحو نه زده کوي. له سواته تر هراته او همدا ډول د افغانستان په شمال او جنوب کې ټول پښتانه طالبان دا درسي آثار لولي او فايده ترې اخلي، حتی د هندوستان په ځينو ديني مدرسو کې هم پښتنو طالبانو له دې درسې ضابطو څخه استفاده کړې ده.

دا ضابطې ډېر لږ چاپ شوي دي، زياتره خطي دي. استاد هېوادمل زياتوي: ده ته د دې ضابطو ډېرې خطي نسخې معلومې دي او ډېرې يې کتلې دي. د نمونې لپاره دی په درېيو کتابخانو کې د دې ضابطو، ترکيبونو او په نورو نومونو موجودو دغو ديني آثارو شمېره ښيي:

۱- ده چې د پښتو کومه خطي مجموعه په شلو پنځو ويشتو کلونو کې راټوله کړې ده، په هغو کې د دې ضابطو او درسي آثارو پنځه دېرش خطي متنونه موجود وو.

۲- ښاغلي رفيع چې د پېښور د پښتو اکېډيمۍ د خطي نسخو کوم فهرست برابر کړی دی، په دغه فهرست کې يې د پنځه ويشتو په شاوخوا کې دغه ډول ضابطې او درسي آثار معرفي کړي دي.

۳- ده چې د پښتور آرشیف پښتو خطي مجموعه وکتله، نو په دې مجموعه کې یې تر پنځه ویشتو زیات دغه ډول درسي آثار کتلي دي.
په نورو کتابخانو کې هم د دې ضابطو او درسي آثارو خطي نسخې ډېرې دي، خو ځینې یې مشابه او مکررې هم دي، که مکررات ترې لرې هم کړو، بیا هم د پښتو نثر د یوه ځانګړي جریان زېرنده د یوه مخصوص سبک نثر کافي ذخیره په کې شته چې ارزښتمني یې عامه نه ده، بلکې د پښتنو دیني علماء او د دیني علومو زده‌کوونکي ترې استفاده کوي. د دې ډول درسي آثارو د بیان د شېوې یوه نمونه: «زده‌کړه دا قاعده هر څوک چې په علم منطق شروع کوي، په علم منطق کې نو ده لره لابدي ده له معرفته د امور ثلاثه‌وو نه تعریف د علم منطق او غرض د علم منطق او موضوع د ده...». د دې درسي آثارو نثرونه رواني نه لري، البته ډېرې لږې ضابطې او درسي آثار داسې هم شته چې له دیني علماوو او طالبانو پرته ځینو نورو ذوقمنو او حاجتمندو ته د فهم او استفادې وړ دي.
د دې ډول درسي آثارو د بیان شېوې داسې دي: «زده‌کړه دا خبره چې استعاره په لغت کې سوال ته وایي او په اصطلاح کې یو لفظ دی، په معنی مجازي کې په اعتبار د قرینې او د علاقې سره، قرینه عبارت دی له تعذره د معنی د حقیقي نه او علاقه عبارت دی له مناسبت په مابین د معنی حقیقي او مجازي کې». یا: «اعلم هغه څوک شروع کوي په علم منطق کې هغه لره لابدي ده له معرفة د امورو ثلاثه وو نه تعریف عرض موضوع».
د دې درسي آثارو نثرونه اکثر په دغه شېوه دي، رواني نه لري، البته ډېرې لږې ضابطې او درسي آثار داسې هم شته چې له دیني علماوو او طالبانو پرته ځینو نورو ذوقمنو او حاجتمندو ته د فهم او استفادې وړ وي(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۵۴- ۲۵۵ مخونه).
د پښتو نثر لیکنې دویم جریان په کابل کې درباري منشیانو یا د هغه وخت په اصطلاح افغاني نویسانو را پیدا کړی دی(هېوادمل، ۱۳۹۰ل، ٦۲۷ مخ). مرزا غلام جان یا ملا غلام جان چې د امیر عبدالرحمن خان (۱۲۹٦- ۱۳۱۸هـ.ق) د دربار افغاني نویس و، څلور رسالې یې په پښتو ترجمه کړې دي: موعظه، نصیحت‌نامه، سررشته اسلامیه روم، د سوال او جواب دولتي رساله. دا وروستی کتاب په ۱۳۰۳هـ.ق کال په کابل کې چاپ دی. د دې کتاب د پښتو نثر یوه نمونه د اده: «فقر دویمه: له دارالسلطنه د کابل څو کسه کاریګر د هر فن لره لپاره د یادونو د هنرونو مقرروم چې ولندن وته تلی، هنرونه چې په کار د دولت خدای ورکړي افغانستان دي او ترقي و جوړښت د دولت له هغو ځنې حاصلیږي زده یې

کاندي...». د پښتو نثر دا روش چې له ټکي په ټکي ناوړې ترجمې څخه رازېرېدلی، د نوموړي غلام جان په ټولو آثارو کې تعقيب شوی دی او ناوړه اغېزې يې په افغانستان کې د پښتو نثر ليکنې پر جريان تر ډېره پورې ليدلی کېدې(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۵٦ مخ).

درېيم يا وروستی جريان د تحت اللفظ ترجمو جريان دی. دا جريان هغه وخت رامنځ ته شو چې د هند په نيمه وچه او بيا په پښتونخوا کې طباعت عام شو. د پښتونخوا په ديني مدارسو کې معمولو نصابي عربي او دري کتابونو ته د چاپ زمينې برابرې شوې او د پښتونخوا د سيمې د کتابونو تاجرانو دغه نصابي آثار چاپ کړل. دا جريان د ديارلسمې پېړۍ په اواخرو کې را پيدا شو. د دې ډول تحت اللفظ ترجمو پخواني کتابونه چې معلوم دي، په هغو کې يو هم د خلاصه کيداني يوه چاپي نسخه ده چې له تحت اللفظ پښتو ترجمې سره په ۱۲۹۵هـ.ق کال په ډهلي کې چاپ شوې ده او بله هم د منية المصلي چاپي نسخه ده چې له تحت اللفظ پښتو ترجمې سره په ۱۲۹۷هـ.ق کال په ډهلي کې چاپ شوې ده. له هغه وخته وروسته د څوارلسمې پېړۍ په جريان کې ډېر درسي او ديداکتيک آثارو له دغسې تحت اللفظ پښتو ترجمو سره چاپ شوي دي. دا ډول تحت اللفظ ترجمې د دري ډوله آثارو دي:

۱- د ديني او فقهي کتابونو، ۲- د طب، حکمت او نورو موضوعاتو، ۳- په کليوالي ديني درسي نصاب کې شاملو څينو دري منظومو او منثورو آثارو. د ديني، فقهي، طب او حکمت د کتابونو تحت اللفظ پښتو ترجمو څينې دا دي: کنز الدقايق، خلاصه کيداني، منية المصلي، مستخلص الحقايق، قدوري، فقه اکبر، شروط الصلوة، منبهات ابن حجر عسقلاني، مجربات اکسير.... او په دري منظومو او منثورو آثارو کې د گلستان، بوستان، تحفةالنصايح، پنج‌گنج، سکندرنامه.... ترجمې دي. دا ډول ترجمې چې د دې کتابونو په ښلاښلو چاپونو کې راغلې دي، ټولې د يوه سړي نه دي، بلکې د ډېرو اشخاصو دي، حتی د يوه کتاب څو تحت اللفظ ترجمې موندلی کېږي. د مثال په ډول د منية المصلي څو ترجمې، د خلاصې څو ترجمې، د صرف مير څو ترجمې.... د دې تحت اللفظ ترجمو مترجمين زياتره نه دي ښکاره. د کتابونو تاجرانو په څينو ديني عالمانو ترجمه کړې دي چې د هغو نومونه يې هم نه دي ورسره ليکلي. د دې ډول ترجمو يوه نمونه د منية المصلي د يوې ترجمه لرونکې نسخې مثال: «په تحقيق اقسام د علوم ډېر دي او زيات اقسام په حاصلولو د نمانځه دي. پس هر کله چې وليد طالبانو په حاصلولو د مسايل کې جمع کړو هغه مسألې چې ډېرې ضروري دي».

د پښتو نثر د دغو درېيو جريانونو په کالب کې چې څومره آثار په پښتو ليکل شوي او يا ترجمه شوي

دي، د پښتو نثر په انکشافي سير کې هيڅ ډول پدل نه لري، بلکې زيانونه يې د ناوړې او له محاورې لرې پښتو په عامېدلو کې څرګند دي. که په موضوعي لحاظ په پښتو کې د بېلابېلو علومو د آثارو د موجوديت څرک څوک باسي، کېدای شي په ضابطو او دغو تحت اللفظ ترجمو کې ځينې داسې ضابطې او ترجمې وموميِ چې تر دې پېر دمخه په پښتو کې په دې موضوعاتو آثار نه وي ليکل شوي او يا ترجمه شوي، لکه د منطق او رياضي ځينې آثار(هېوادمل، ۱۴۰۳ل، ۲۵۷، ۲۵۸، ۲۵۹ مخونه).

له بله اړخه د دويمې ادبي دورې په وروستيو کې په پښتو کې د نوي معاصر نثر د پيدا کېدو زمينې برابرې شوې. په دې اړه کې راغلي چې په دوهمه ادبي دوره کې د پښتو د بېلابېلو نثرونو ترڅنګه د همدې دوهمې دورې په وروستيو پراوونو کې د پښتو نثر ليکنې په جريان کې ځينې داسې تمايلات پيدا شول چې پښتو نثر ليکنه يې اصلاح کوله، پخواني روشونه يې پرېښوول او د نثر ليکلو نوې او پرمختللې لارې يې خپلولې. د پښتو په دغو لومړنيو ساده نثرونو کې الفاظ پريولي او ښکلي انتخاب شوي دي، په نثر کې رواني او سادګي ليدل کېږي. نثر ليکونکو کليوالي اصطلاحات او محاورې په خپلو نثرونو کې استعمال کړې او نثر ليکونکو زيار ايستلی دی چې خپل نثرونه د خپلو خلکو له وينګ او خبرو سره برابر وليکي. په عام ډول د لومړنيو وختونو روانو نثرونو په حکايتي آثارو کې خپل ځان څرګند کړی دی. د مولوي نورمحمد نوري افغاني ليکلي واړه حکايتونه د دې لړۍ د نثر ليکنې په لومړنيو تجربو کې شمارل کېږي. نوموړي د «غنچه روه» په وروستيو برخو کې د اولسو په شاوخوا کې ډېر واړه واړه حکايات په خوږه او پښته ژبه ليکلي دي. ده حکايات چې موضوعات يې د ولس په فولکلور پورې اړه لري، نورمحمد نوري د خپلو خلکو له محاورې سره سم او د پښتو د کندهارۍ لهجې مطابق ليکلي دي(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۷۵ مخ). د مولوي نوري ترڅنګ څو نورو کسانو هم د نثر د ساده کولو هڅې پيل کړې چې په دې سره پښتو نثر له پخواني اغلاق، ابهام او ناسمو ترجمو څخه کرار کرار راووت.

۴-۳. د پښتو ادب د دويمې دورې په بڼاينه کې د ديني علماوو رول

د پښتو ادبياتو تاريخ دويمه دوره چې منځنۍ يا کلاسيکه دوره هم ورته ويلی شوې ده، دا د لسمې هجري پېړۍ له اواسطو پيلېږي او د څوارلسمې هجري پېړۍ تر لومړيو دوو - درې لسيزو پورې رارسي. معنا دا چې د دغې دورې زماني وخت درې سوه اويا يا اتيا کلونه دي چې سلګونه شاعران او ليکوالان

په کې تېر شوي او هغوی بيا په خپل ژوند کې ليکل کړي چې د ليکل شويو آثارو شمېر يې سلګونو ته رسيږي.

دغه ادبي دوره له داسې ځانګړنو برخمنه ده چې له روښاني غورځنګ نه رانيولې د هغه د مخالف اخوند دروېزه او بيا د خوشحال خان خټک او د هغه کورنۍ، عبدالرحمن بابا او د هغه د عرفاني-تصوفي مکتب پيروانو، د حميد ماشوخېل، کاظم خان شيدا د نازکخيالۍ ادبي مکتب او د دې مکتب پيروان د دغو ټولو داسې کلاسيک آثار وپنځول چې ترڅو پښتو ژبه وي، دا به لوستونکي لري او په هره زمانه کې به يې خپل لوړ ادبي معيار ساتلی وي(کبير، ۱۴۰۴ل، ۴۴ مخ).

دغه ادبي دوره په داسې وخت کې پيلېږي چې په هند کې د پښتنو د لودي کورنۍ د دويم وار واکمنۍ راپرځول کېږي، پر پښتنو ظلمونه خپل اوج ته رسېدلي، روښانيان د پښتنو د تېر برم د بېرته راګرځولو په پار راپورته شوي، له بلې خوا په سيمه کې د تصوف، پيرۍ او مريدۍ بازار هم ښه ګرم دی. د پښتو ادبياتو د تاريخ دغه دوره په تصوفي ادب پيلېږي. روښانيان او د هغوی مخالفين اخوند دروېزه او پيروان يې تصوفي، ديني او مذهبي آثار ليکي او ژباړې چې هر يو يې په خپل نوع کې بې جوړې دی. استاد هېوادمل د دې ادبي دورې د ځانګړتياوو په اړه ليکي: «په دې دوره کې پښتو ادبيات د افغانستان او پښتونخوا او هند په سيمو کې له ځينو ملي، مذهبي او پښتني جنبشونو سره په ارتباط کې ايجاديږي او وده کوي. د منطقې مسلط فرهنګي او ادبي جريانونه پر پښتو ادبياتو خپل اغېز ښندي او د همدغو جريانونو په پېروي په پښتو ادب کې ځانګړي [لوی] سبکونه [او ادبي مکتبونه] پيدا کېږي او ځانته خپل خاص پيروان مومي.

د دې دورې يوه عمده ځانګړنه دا ده چې موږ د دې دورې بشپړ او مکمل ادبي او فرهنګي آثار په واک کې لرو. په دې دورې پورې مربوط په سلګونو پښتو ديوانونه، په سلګونو قصصي آثار او په زرګونو ولسي سندرې له موږ سره شته چې د پښتو ادبي تاريخ د يوې سترې پانګې په توګه هر اړخيز بحثونه پرې کولای شو. دې دورې ته موږ د منظمو آثارو دوره هم ويلی شو او دا ځکه چې لومړۍ دورې پورې مربوط آثار زياتره متفرق دي. په دې دوره کې د پښتو ادبياتو علايق له ګاونډيو ژبو سره هم پراختيا مومي. له عربي، پارسي او هندي ژبو څخه پښتو ته او له پښتو څخه ځينو دغو ژبو ته د آثارو د راکړې ورکړې مسأله هم خپلو لوړو پراوونو ته خېژي»(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۸۵ مخ).

د دغې ادبي دورې آثار د فورم او منځپانګې دواړو اړخونو له مخې پراخ او هر اړخیز دي. که څه هم پښتو ادب ته په لرغونې ادبي دوره کې د شرقي ادب ځینې مشترک فورمونه راغلي وو، خو په دغه ادبي دوره کې کابو د شرقي ادب ټول ادبي فورمونه کارېدلي او په ټوله معنا يې د هغه ادبي نوعې ځانګړنې پاللې دي. د منځپانګې له مخې هم پښتو آثار دومره هر اړخیز شول چې داسې یوه موضوع به نه وي چې مور يې د دې ادبي دورې په آثارو کې ونه مومو. د ادبي آثارو ترڅنګ د تاریخ، فرهنګ، سیاست، طب، نجوم... په هره برخه کې د کار آثار ولیکل شول. دغو ټولو اړخونو ته په کتلو سره دا دوره کلاسیکه بلل به له حقیقت نه لرې خبره نه وي(کبیر، ۱۴۰۴ل، ۴۵ مخ).

د پښتو شاعرۍ د دویمې دورې د شاعرۍ موضوعات په هر پراو کې بېل دي، لومړی د بایزید روښان او اخوند دروېزه پراو دی. په دې وخت کې د پنځېدلو ادبیاتو د منځپانګې ډېره برخه تصوفي او ديني [اسلامي] ادبیات دي. بایزید روښان د یوې تصوفي طریقې سرلاری و، ده او د ده پیروانو چې کوم ادبیات پنځولي، زیاتره د همدې تصوفي تګلارې د تشریح او تفسیر حیثیت لري. د تصوف پېچلي مسایل يې په لومړي ځل په سیستماتیکه بڼه پښتو شعر او شاعرۍ ته ننه اېستل چې هغه سخت او پېچلي مسایل او د شعر نرۍ ملا، پښتو شعر له داسې کړاو سره مخامخ کړ چې د شعریت پر ځای زیاتره د مفکورې د تبلیغ وسیله وګرځېد او د شعریت خواږه يې ورسره کم شول، خو بیا هم په دې دور کې داسې شاعران را میدان ته شول چې شعر يې هم د تصوف پېچلي مسایل له ځانه سره لرل او هم د شعر ټول خواږه يې وساتل؛ په هغو کې د میرزاخان انصاري او دولت لوانې نومونه په ټولو کې اوځار دي، ځکه خو میرزا خان د پښتو سنایي بلل کېږي، سنایي هغه لومړی شاعر و چې تصوف يې په سیستماتیکه توګه دري شعر ته ننه اېست. د دې پراو هغه شاعران چې د اخوند دروېزه او د هغه پیروان دي، د دوی د شاعرۍ مهمه ځانګړتیا ديني مسایل دي. د دوی شاعري تر ډېره د پیر روښان او د هغه د تصوفي تګلارې په مبارزه کې تولید شوې ده(کبیر، ۱۴۰۴ل، ۱۰۴ مخ).

په دې پسې د پښتو ادب د دویمې دورې د شعر لمن پراخېږي. لومړی خوشحال خان خټک او د هغه پیروان دي چې د دوی په شعرونو کې هر ډول تصوفي، ديني، عشقي، حماسي... موضوعاتو شاعري شوې ده. له خوشحال سره په نږدې مهال کې د عبدالرحمن بابا عرفاني او تصوفي ادبي ښوونځی رامنځته کېږي چې اغېز يې د پښتونخوا تر پولو اوړي، ان تر بخارا او هند پورې رسي، دغه مهال یو بل تمایل چې په پښتو ادب کې رامنځ ته کېږي، هغه د پښتو هندي سبک دی چې په دې کې عبدالحمید

مومند، کاظم خان شيدا، کامګار خټک.... نور نوموتي شاعران راځي چې د دوی شاعري تر ډېره د غزل شاعري ده. څېړونکو خوشحال خان خټک، عبدالرحمن بابا او عبدالحميد مومند د دغې ادبي دورې يا ادبي ښوونځيو سرلاري بللي دي. د دې هر ادبي ښوونځي د سبک پيروان په هممهاله توګه د خپل ادبي ښوونځي تر فکري او سبکي اغېزو لاندې خپلې پنځونې کوي. د شعر د بڼې او موضوعاتو تنوع ته په کتو سره(کبير، ۱۴۰۴ل، ۱۰۴- ۱۰۵ مخونه) «د پښتو ادب تاريخ دوهمه دوره له لومړۍ دورې څخه په هر لحاظ کامل توپيرونه لري»(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۸۵ مخ).

ليکوال او څېړونکی ذاکر جلالي کاږي، پنځه سوه کاله مخکې بخارا، سمرقند، خېوه او د ازبکستان نور ښارونه په سيمه کې د علم مرکزونه وو. يو مستشرق چې دغه سيمه کې يې سفرونه کړي، خپلو خاطراتو کې ليکي چې د دې سيمې علمي مراکز او ملايان دومره فعال خلک وو چې آن د روسيې تر وولګا سيند او کازان ښار پورې او هره سيمه کې چې لږ تعداد کې هم مسلمانان مېشت وو، دوی به ورته علماء ليږل. علماوو به هلته جوماتونه آبادول، خواته به يې علمي مرکزونه جوړول او د سيمې ماشومانو ته به يې د فقهې، اخلاقو او ادب درسونه ورکول او له خپلو تمدن او ارزښتونو سره به يې آشنا کول. په دې ترتيب، په ټوله سيمه کې علم عام و، خلک له خپل دين او ارزښتونو سره ټرلي وو(جلالي، ۱۴۰۴). له بلې خوا د شپاړسمې او اولسمې ميلادي پېړۍ له اسنادو داسې ښکاري چې پښتنو د زده‌کړو خواته مخه کړې ده. «د خوشحال خټک د ظهور په زمان کې سواد د پښتنو په ېلابېلو سيمو کې يو څه د انکشاف په لور ګامونه اخيستي وو، په ديني او روحاني حلقو، د خانۍ او سرداری په کورنيو او عامو پښتنو کې سواد يو څه خپور شوی و. کتاب او ليک لوست ته خلکو يو څه اړتيا حس کړې وه، په جوماتونو کې د ديني نصاب او د نظم و نثر کتابونو لوست او د سواد زده‌کړه رواج شوي وو او د تاريخي افغانستان په ځينو ګوټونو کې درسګاوې او مدرسې هم موجودې وې(هېوادمل، ۱۳۸۰ل، ٦ مخ). انګرېز ختيځپوه مونټ ستوارټ الفنسټن په خپل کتاب (د کابل سلطنت بيان) کې وايي: «په عمومي ډول داسې معلومېږي چې پښنور په دغو ملکونو کې تر ټولو زيات د علم او فضل مرکز اوسي. ډېر طالبان نظر دې ته چې له پښنور څخه بخارا ته لاړ شي، له بخارا څخه پښنور ته ځي»(الفنسټن، ۱۳۸۷ل، ۹۹ مخ). بخارا په اسلامي پېر کې د علم او تمدن له غټو ښارونو څخه و. د الفنسټن د وينا له مخې، پښنور ښار په اولسمه او اتلسمه ميلادي پېړۍ کې د علم او فرهنګ په ډګر کې دومره پرمختګ کړی و چې خلک ورته له بخارا راتلل، خرګندیږي چې دا پرمختګ په کمه موده کې امکان نه لري،

ښکاري چې دا د څو پېړیو د هڅو نتیجه اوسي. له دې څرګندیږي چې له اولسمې پېړۍ وړاندې پښتنو د علم او فرهنګ خواته توجه ډېره کړې وه او دغه مهال ښایسته ډېر پرمختګ یې کړی و(کبیر، ۱۴۰۴ل، ۱۲۵ مخ). یوه بله مهمه مسأله چې الفنستن په دې موضوع کې ورته اشاره کوي، هغه په هندوستان کې د زده‌کړو په اړه ده، لیکي: «هندوستان د علم د زده‌کړې لپاره ډېر شهرت نه لري او د فارسیانو بدعت د دې لامل کېږي چې ټول سنیان د دوی مرکزونو ته له ورتګ څخه ډډه وکړي»(الفنستن، ۱۳۸۷ل، ۹۹ مخ). له پورته خبرې څرګندیږي هغه پرمختګ چې هندوستان بیا وروسته وکړ، هغه د پښتنو له مهم مرکز (پېښور) څخه وروسته وو او ډاډه ویلی شو چې د هغه په پرمختګ کې به هم د پښتونخوا او بیا پېښور ونډه د نه هېرېدو وي(کبیر، ۱۴۰۴ل، ۱۲۵ مخ).

استاد روهي کاږي، که چېرې د پښتو ادبیاتو تاریخ په ګرافیک ډول انځور کړو، په هغه کې به دوه ځایه لوړې ځوکې (Apexes) ولیدل شي؛ لومړی ځوکه د لسمې هجري پېړۍ له نیمایي څخه پیلېږي، د یوولسمې پېړۍ په پای او د دولسمې په پیل کې لوړه ځوکه تشکل کوي او د همدې پېړۍ په وروستیو کې لړۍ بېرته مخ په ځوړ ځي. دوهمه ځوکه د شلمې میلادي پېړۍ له اوایلو څخه شروع کېږي او په تدریجي توګه تر نن ورځې پورې راپورته شوې ده. پر دې اساس، دا دوې نیمې پېړۍ (۹۵۰-۱۲۰۰هـ.ق) د پښتو د کلاسیک ادب غوره دوره ګڼل کېږي. د لسمې هجري پېړۍ د ادبیاتو په تاریخ کې روښان ستوری میا روښان دی چې د پښتو ادب د دیداکتیک سبک مؤسس ګڼل کېږي. د سبک د محتوا په لحاظ غني او د فورم له نظره فقیر دی. په یوولسمه هجري پېړۍ کې د خوشحال سبک تبارز کوي چې په هغه کې د مضمون او شکل ترمنځ تناسب او هم آهنګي لیدله کېږي. د خوشحال د مضمون ټولنیز سیاسي اړخ په خپل ذات کې بې‌ساري دی او تر شلمې میلادي پېړۍ پورې یې ساری نه لیدل کېږي. په دولسمه هجري پېړۍ کې فورمالېزم خپل اوج ته رسیږي، په همدې وخت کې د اشرف خان، عبدالقادر خان، رحمان بابا، عبدالحمید ماشوخېل، محمد هوتک، پیرمحمد کاکړ، کاظم خان شیدا او میا فقیرالله په شان ستر شاعران او لیکوالان له دنیا څخه تېر شوي چې په خپلو رنګینو آثارو سره یې د پښتو د ادب نړۍ ښکلې کړې ده(روهي، ۱۳۸٦ل، ۲۳۳- ۲۳۴ مخونه).

د دې دورې شعرونه په عمومي ډول تر درېیو ګټګوریو لاندې راځي: دیداکتیک، فورمالیستي او قصصي. د میا روښان، اخوند دروېزه او میا فقیرالله شعرونه د دیداکتیک نظم غوره نمونې ګڼلی کېږي. د خوشحال د اشعارو هغه برخه چې پښتني ټولنه یووالي او مبارزې ته رابولي، په دیداکتیک اشعارو

کې شمېرل کېدای شي. د رحمان بابا پر اشعارو باندې هم (ديداکتيسيزم) خپل سيوری غورځولی دی او نيمه ديداکتيک بڼه لري. د عبدالحميد ماشوخېل، کاظم خان شيدا، خواجه محمد بنګښ او پيرمحمد کاکړ ديوانونه زياتره د فورمالېزم پيروي کوي. د عبدالقادر خان خټک «يوسف او زليخا»، د صدر خان «آدم او درخانۍ» او «دلي او شهو»، د حميد «نيرنګ عشق» او «د شاه او گدا قصه»، د فياض «د بهرام او گل اندامې قصه» په قصصي اشعارو پورې اړه لري. البته په دې دوره کې ځينې تاريخي آثار او تذکرې هم ليکل شوې دي چې له قصصي اشعارو سره يو څه توپير لري. که څوک غواړي کولی شي په بېله ګټګورۍ کې يې راولي(روهي، ١٣٨٦ل، ٢٣۴ مخ).

ديداکتيک نظمونه هغه دي چې موخه او هدف يې يواځې د موضوع او پيغام رسول وي، په هغو کې له وزن او قافيې پرته د شعري صنعت نورې اړتياوې په پام کې نه نيول کېږي. استاد روهي د خوشحال بابا سياسي، ټولنيز او اخلاقي شعرونه په ديداکتيکو نظمونو کې راولي، خو نوره غزليزه او ليريکه برخه يې په غوره فورمالستي هغو کې. هغه د رحمان بابا شعرونه دوه ډوله بولي، د هغه ديني موعظې، ټولنيز او نصيحتي نظمونه په ديداکتيک وېش کې راولي او ښکلې غزليزه شاعري يې په فورمالستي هغه کې(لېوال، ١٣٨٨ل، ٢٩، ٣٠ مخونه).

البته ديداکتيک نظمونه تقريباً په عمومي ډول له فورماليستي اشعارو څخه د شعريت په لحاظ بېرته پاتې کېږي. دا تر يوې اندازې طبيعي هم ښکاري. د تعليمي او تربيتي نظم اصلي هدف (نه شعر) نه دی، بلکې دلته له شعر څخه د يوې وسيلې په توګه استفاده کېږي. د ديني او عرفاني موضوعاتو ناظمان فکر کوي چې خلک له موزون او مقفی کلام څخه زيات خوند اخلي، نو که چېرې دوی خپل مطالب په نظم وړاندې کړي، لوستونکی به يې په شوق لولي او حتی منظوم بيان حافظې ته هم په اسانۍ سره سپارل کېدای شي. له همدې خبرې سره جوخت دا هم ويلای شو چې د ناظم په نظر د شعر ښکلا فرعي هدف دی. له دې امله دی هنري اړخ ته زياته پاملرنه نه وقفوي. بله دا چې ناظم هدف ته د رسېدو په منظور له بېړې څخه کار اخلي او نه شي کولای خپل وخت فروعو ته وقف کړي او له اصل څخه ليرې شي. همدا علت دی چې د ديداکتيک نظمونو د وزن او قافيې په برخه کې هم کله کله ځينې پوښتنې را ولاړېږي. د ديداکتيک نظم بل عمده خصوصيت دا دی چې معترضه فقرې او زايد الفاظ په کې ډېر ليدل کېږي. د دې علت هم دا دی چې د موضوع د انځورولو چوکاټ تنګ دی او ناظم د موضوع د ماهيت له نظره د فورماليست شاعر په اندازه آزادانه الوتنه نه شي کولای او مجبور

دی چې د افکارو تسلسل او د موضوع حدود په نظر کې ونیسي(روهي، ١٣٨٦ل، ٢٣٧ مخ).
د استاد روهي پورتنۍ کټیګورۍ کې چې د دیداکټیک آثارو په اړه خبره شوې، د دغه ډول آثارو له مطالعې ښکاري چې ټول او یا اکثریت یې له اسلامي او شرعي تومنې برخمن او خړوب شوي دي. قصصي آثار هم په همدې منوال کې دي، ځکه په هغو کې تر ډېره د پیغمبرانو، نېکانو او صالحانو کیسې بیان شوې دي.
د پښتو ادب په هره دوره کې داسې لیکوال او شاعران لرو چې له قرآني او حدیثي مسایلو سره په پوره توګه بلد وو او له دې دوو بهاندو چینو څخه یې د خپلې پوهې په کچه اخیستنې کړې او د خپل شعر هار یې له دیني اړخ پرې ښایسته کړی چې له امله یې شعر او نورې هنري لیکنې د قرآن، حدیثونو او نورو دیني مسایلو د غوره او اسانه انعکاس آینې وګرځېدې. په شعر کې د قرآن او دیني مسایلو یادونه نه یواځې د شاعر کلام ته سپېڅلتیا وربخښي، بلکې د هغه دیني پوهه هم څرګندوي(سونیا هوتک، د کامګار خټک د شاعرۍ دیني اړخ، ناچاپ اثر).
د پښتو ادبیاتو پر دویمې دورې چې حساب کېږي او د یوې مغتنمې او مفتخرې دورې په سترګو ورته کتل کېږي، ځینې علتونه لري چې له امله یې هغه زرینه دوره بللی شوې ده. د نورو عواملو ترڅنګ یې یو عمده لامل د اسلام او ادبیاتو ترمنځ تطابق او امتزاج دی چې ادبیات په کې د دین په چوکاټ کې بیان شوي او یا به ووایو، چا چې په همدې زمانه کې ادبي پنځونې لرلې دي، د اسلام د دین چاشني یې پوره څکلې ده، نو ځکه یې د اسلامي اصولو له مخې کلامونو ښایست موندلی او یا لږ تر لږه که داسې ووایو، زمونږ دیني علماوو ادبیاتو ته مخه کړې او په نظم او نثر کې یې ایجادیات کړي دي، بېځایه خبره او مبالغه به مو نه وي کړي. د همدې د پنځونو په برکت د پښتو متونو لمن ډکه او بډایه شوې ده. البته د دغه ډول ځینو آثارو هنریت تر پوښتنې لاندې راتلای شي.
په ټوله کې د دې دورې اکثریت ایجادیات د اسلامي ادبیاتو د تیورۍ پر اساس پنځېدلي او همدا تیوري پرې تطبیقېدای شي.
استاد حبیب الله رفیع په خپله یوه مقاله (د پښتو د چاپې آثارو مجموعي او موضوعي شمېر څېړنه) کې د منثور دیني آثارو فیصدي ١٣،٣٠ او د دیني نظمونو چې دیني لارښوونې لري، فیصدي یې ١٤،٥٠ ښودلې ده(خدمتګار، ١٣٥٧ل، ٢٥١ - ٢٥٧ مخونه). دا شمېرنه چې نږدې پنځوس کاله مخکې شوې ده، ښایي د استاد موخه به یواځې هغه آثار وو چې له سره تر پایه په کې دیني مسایل بیان شوي، خو د

همدې څه کم څلورسوو کلونو په موده کې ايجاد شوو آثارو ته چې وکتل شي، اکثريت مطلق يې پر ديني اصولو او اساساتو متکي بيان او کښل شوي دي او يا که داسې ووايو چې د همدې زمانې نږدې ټول آثار د هغو ليکوالو او شاعرانو له خوا ايجاد شوي چې پر دين پوه اشخاص وو او د هغه وخت مروجو دودېزو علومو کې يې پوره پوهه ترلاسه کړې وه او ځينې يې د تبحر درجې ته په کې رسېدلي وو، خو ستونزه دا ده چې د دوی آثارو ته له دې زاويې کم کتل شوي او نه همدې له همدې زاويې څېړل شوي دي.

همدا ده چې څېړونکی قاري عبدالستار سعيد ليکي: په افغانستان کې د معاصرو اسلامپالو د کم کاريو له جملې يو هم د تاريخ او ادب برخې ته توجه نه کول دي. دوی د فکري روزنې دغه دوه ډګرونه په بشپړ ډول له پامه غورځولي او مقابل جانب ته يې په اصطلاح ميدان چغالي کړی او بيا نو طبعاً د هغوی خوښه ده چې تاريخ څنګه تعبيروي او ادب څنګه تفسيروي. د افغانستان معاصر تاريخي او ادبي روايت چې هماغه د ظاهرشاهي په لومړنيو لسيزو کې تدوين او طبقه بندي شوی، بيا ورباندې هيڅا هم سر نه دی ګرځولی چې دغه تدوين په څنګه شرائطو کې، له کومې زاويې او د کوم فکري چوکاټ په اساس شوی؟ او آيا له کوم سليقوي چلند نه خو به اغېزمن نه وي؟ دا هغه زمانه ده چې له اروپا را بوتېدلې د نشنلېزم نظريه په اوج کې ده. په دومره اوج کې چې په ايتاليا او المان کې له ملتپالنې فاشېزم او نازېزم رازېرېدلي. اسلامي نړۍ او له استعماره ازادېدونکي هېوادونه هم د دې په ځای چې خپل ديني هويت ته ستانه شي، د ملتپالنې باد په مخه کړي، درګرده خپل ديني هويت، ديني افتخارات او ديني روايت په ملي هويت، ملي افتخاراتو او قومي روايتونو بدلوي. ملتپالو د دې لپاره چې د خپل نوي سياسي بدعت (نشنلېزم) لپاره تاريخي ريښې پيدا کړي، په تاريخ لحاظ د وتليو څېرو، اتلانو، سياسي يا ادبي نومياليو په اختطاف يې پيل وکړ. عرب ملتپالو د خپل غني ادبي ميراث له منځه بې باک ترين شاعر ابوالطيب متنبي راپورته کړ او (د عربيت رساترين غږ) يې ونوماوه. دا نو هغه زمانه ده چې په مصر او شام کې د (العروبة ديننا) انګازې هم اورېدل کيږي. ايرانيانو چې فکر وکړ د کلاسيک دور ټول شاعران يې صوفيان او ديندار خلک دي، نو ابوالقاسم فردوسي يې څکه انتخاب کړ چې که هر څو يو معتقد مسلمان دی اما په شاهنامه کې يې د جاهليت د زمانې د افسانوي اتلانو کيسې راوړې دي. د شوروي تر اشغال لاندې تاجکستان چې له ايران او افغانستان څخه د بېل هويت سازولو په لټه کې و، له ملت پالنې زر کاله مشر شاعر رودکي يې خپل ملي شاعر(!) ونوماوه. په افغانستان چې ملتپالو فکر

وکړ، د کلاسیک دور زیاتره پښتو او فارسي شاعران یواځې اخلاقي او صوفیانه رجحان لري، نو په یو داسې شخص یې د قوم پرست یا ملتپال شاعر لېبل/ برچسب وواهه چې د خپل موسوعي شخصیت له امله یې په شعر کې د اخلاقو، عرفان، عشق، حماسې او نورو بېلابېلو موضوعاتو تر څنګ له خپل قوم سره د مینې اظهار هم ځای کړی و. دغه ګڼ بُعدیز شخصیت خوشحال خان خټک و، چې ملتپالو د پښتون نشنلېزم پلار وګانه»، په داسې حال کې چې برلاسی دیني عالم و(سعید، ۲۰۱۵).

د پورتني مطلب په دوام اوس د دې وخت دی چې د خپلې ژبې او قوم د تېرو اسلافو په اړه رښتینی قضاوت وشي او په رښتینولۍ ولاړ حقایق د هغوی په باب وشي. دغه رساله په همدې موخه غوره او ولیکل شوه چې ترڅو د یوه مسلمان ولس په توګه د خپلو پخوانیو افتخاراتو آثار په رښتیني معنا وشنل او تحلیل شي او په اړه یې عادلانه قضاوت وشي. د پښتو ادبیاتو دویمه دوره هغه تاریخي او ویاړمن څېرکی دی چې لیکوالو او شاعرانو په کې خپلې تجربې، عواطف او د هغه وخت پېښې او دردونه د نظم او نثر په قالبونو کې مونږ ته په میراث پریښي او ترڅو چې دا ژبه او ولس وي، دغه اشخاص به لا ډېر ځلول کېږي او حق به یې د وخت په تېرېدو سره لا نور هم ادا کېږي، ځکه دوی د پښتو ادب چمن سمسور او ښېرازه کړی چې د ګلونو خوشبو یې تر اوسه پورې مونږ معطر کړي یو.

دوی په خپلو منظومو او منثورو آثارو سره نه یواځې پښتو ژبې او ادبیاتو ته پرېمانه ادبي میراث پرېښود، بلکې د سیمې او نړۍ له ژبو سره یې سیاله کړې ده. دوی په خپلو پنځونو سره که له یوې خوا خپل مافي الضمیر د شعر او نثر په مختلفو چوکاټونو کې اظهار کړی، ورسره یې د قوم د شعور د پیاوړتیا او په هغوی کې د دیني مفاهیمو د ټینګښت لپاره ځانونه ستړي کړي دي، همدا ده چې په دې نړۍ کې به د دوی یادونه تل تازه وي او که خدای کول د آخرت لپاره به یې مثمره توښه له ځانه سره وړې وي. الله تعالی دې دوی ټول په ابدي ژوند کې په خپلو نعمتونو ونازوي.

۴-۳-۱. په دویمه ادبي دوره کې د کتابونو په کتابت کې د دیني علماوو ونډه

زمونږ دیني علماوو یا ملایانو د خطي نسخو او کتابونو په کتابت او خطاطي کولو کې ونډه لرلې ده.

په پښتو ادب کې د کاتبانو د کتابت مرکزونه کندهار، ملتان، پښتونخوا، هندوستان، کشمیر، کوټه، ننګرهار، هرات او کابل(عامر، ۲۰۱۱۷م، ۲۸ مخ) ښودل شوي دي. په دې مرکزونو کې ګڼو کسانو کتابت کړی، خو دلته له موضوع سره په اړیکه کې یواځې د هغو کاتبانو نومونه را اخلم چې د دیني عالم حیثیت لري یا په بله معنا د ملا او مولوي لقب لري.

د کندهار د مرکز کاتبان: عبدالرحيم هوتک (۱۱۴۰-۱۲۱۰هـ.ق)، ملا ولي کندهاری (تر ۱۲۲۰هـ.ق له مخه) اثر نشته خو د محمدي صاحبزاده کاتب و، د محمدي صاحبزاده درباريانو د پښتو کتابتونو زيات کتابت کړي دي، ملا نورالله (۱۲۳۰هـ.ق)، ملا نورمحمد هوتک (۱۲۳۲هـ.ق)، ملا محمد امان داوی کندهاری (۱۲۵۰هـ.ق)، ملا مطلوب بارکزی (۱۲۵۸هـ.ق)، ملا محمد امين خواجه زی (۱۲۵۹هـ.ق)، ملا حبيب الله ځمند (۱۲۸۴هـ.ق)، ملا خيرالله هوتک (۱۲۱۳هـ.ق)، مولوي نورمحمد افغان هوتک (۱۲۸۷هـ.ق)، ملا داؤد نوری (۱۲۸۹هـ.ق)، مرزا حنان بارکزی (۱۲۹۲هـ.ق)، ملا عبدالحکيم (۱۲۹۲هـ.ق)، اخوندزاده فقيرمحمد الدين کاکړ (۱۲۹۲هـ.ق)، دوست محمد ختک (۱۳۰۶هـ.ق)، ملا غلام محمد هوتکي (۱۳۱۵هـ.ق)، ملا محمد (۱۳۲۱هـ.ق)، ملا عبيدالله اخوندزاده کاکړ (۱۳۳۷هـ.ق)، ملا يارمحمد ترين کندهاری (۱۳۴۰هـ.ق)، ملا مرتضی خوګيانی او ملا ګلاب اخوند کندهاری (۱۱۷۶هـ.ق)(عامر، ۲۰۱۱۷م، ۲۹، ۳۰، ۳۱ مخونه).

د کندهار هغه کاتبان چې پښتانه دي، خو د پښتو آثار يې نه دی څرګند يا يې د ځينو نورو ژبو اثار کښلي، دا دي: ميا عبدالحکيم کاکړ نانا صاحب (۱۰۷۰- ۱۱۵۳هـ.ق)، ملا محمد امان ترين (۱۲۱۶هـ.ق)، مولوي عبدالمجيد کاکړ (۱۲۲۶- ۱۲۸۶هـ.ق)، ملا احمد ابدالي کندهاری (۱۲۳۳هـ.ق)، ملا جان کاکړ (۱۲۳۸هـ.ق)، ملا حبيب الله کندهاری (۱۳مه هجري پېړۍ)، مولوي عبدالمجيد کاکړ (۱۲۲۶- ۱۲۹۶هـ.ق)، ملا فتح محمد کندهاری (۱۳۱۴هـ.ق)، ملا فضل الحق خوجندي (۱۳۵۰هـ.ق) او ملا عبدالخالق اخوندزاده کاکړ (؟)(عامر، ۲۰۱۱۷م، ۳۲ مخ).

د پښتونخوا کاتبان: کريمداد (۱۰۱۴هـ.ق يا ۱۰۲۴ هـ.ق)، خوشحال خان ختک (۱۰۸۹هـ.ق، ۱۰۹۹ هـ.ق کتابت)، مصطفی محمد (۱۱۱۲هـ.ق)، عبدالحليم (۱۱۱۹- ۱۱۳۰هـ.ق کتابت)، ملا عزت الله (۱۱۴۱هـ.ق)، ملا عنايت الله (۱۱۴۱هـ.ق)، معزالله مهمند (۱۱۵۹هـ.ق)، رکن الدين يا رکن عالم (احمدشاهي زمانه)، کامګار ختک (۱۰۸۰- ۱۱۶۵ هـ.ق)، حافظ اخوند عبدالکبير (۱۱۶۷هـ.ق)، ملا مير اعظم شاهي خېل (۱۱۷۲هـ.ق)، حافظ ګل محمد مرغزی (۱۱۷۹هـ.ق)، ملا ښايسته خان (دولسمه هجري پېړۍ)، اخوندزاده فيض الله بټيزی (۱۱۵۰- ۱۲۲۰ هـ.ق)، ملا امير (۱۲۴۰هـ.ق، ملا صالح‌محمد غريب آوان (۱۲۶۰هـ.ق)، سيدال فقير (۱۲۶۷هـ.ق)، ملا سعدالدين (۱۲۷۴هـ.ق)، ملا بازګل اخوندزاده (۱۲۷۷هـ.ق) ملا بنارس (۱۲۸۱هـ.ق)، ملا ګل‌مير اخوندزاده (۱۲۹۰هـ.ق)، مولانا غلام جيلاني پېښوری (۱۲۹۳هـ.ق)، ملا سفيدشاه ختک (۱۲۹۱هـ.ق، ملا فضل الحق (۱۲۹۸هـ.ق)،

افضل خان خټک (غالباً ديارلسمه هجري پېړۍ)، قاضي ميا احمد (غالباً ديارلسمه هجري پېړۍ)، ميا اميرجي (۱۲مه هجري پېړۍ)، ميا غلام صديق خټک (غالباً ديارلسمه هجري پېړۍ، مولوي محمد حسن (۱۳۰۲هـ.ق)، ميا انځرګل فقير (۱۲۷۰- ۱۳۳٦ هـ.ق)، ميا خادم‌شاه کاکاخېل (۱۳۰۴هـ.ق، ميا حسيب‌ګل کاکاخېل (۱۲۴۰- ۱۳۰۵هـ.ق)، ميا عبدالله کاکاخېل (۱۳۰۹هـ.ق)، مولوي عبدالرحيم خليل (۱۳۰۹هـ.ق)، مولوي محمد رفيق درانی (۱۳۱۸هـ.ق)، ميا بازمحمد شاه فقيرخېل (۱۳۲۳هـ.ق)، قاضي در مکنون (۱۳۳۴هـ.ق مړ)، ميا محمد سعيد (۱۳۳۴هـ.ق مړ) او احمد دين طالب (۱۸٦٦- ۱۹۳۴م)(عامر، ۲۰۱۱۷م، ۳۵، ۳٦، ۳۷، ۳۸ مخونه).

د پښتونخوا هغه کاتبان چې پښتانه دي، خو پښتو آثار يې نه دي څرګند يا د ځينو نورو ژبو آثار يې کښلي دي: فقير جميل بېګ خټک (۱۰۲۴هـ.ق)، ميا عمر څمکنی (۱۰۸۲- ۱۱۹۰ هـ.ق)، مولانا ارباب عبدالرحيم خليل (۱۲۰۸هـ.ق) او قاضي طلامحمد (۱۳۰۷هـ.ق)(عامر، ۲۰۱۱۷م، ۴۱ مخ).

د هند کاتبان: ملا محمدي بېګ (۱۱۴۳هـ.ق)، ملا ملنګ خان خټک (۱۱۸۰هـ.ق)، ملا ناصر اخوند (۱۲۴۳هـ.ق)، ملا اعظم الدين (۱۲۹۴هـ.ق) او مولوي دوست محمد ټوټکي (۱۳۲۸هـ.ق مړ)(عامر، ۲۰۱۱۷م، ۴۸، ۴۹ مخونه).

د ملتان کاتبان: ملا عبدالغني کاسي (۱۱۳۹- ۱۱۷۱هـ.ق)، عبدالواحد کاسي (۱۱۳۳- ۱۱۴۷ هـ.ق کتابت)، ملا محمد کاسي (۱۱٦۴هـ.ق) او مولوي نورمحمد نوري هوتک (۱۲۷۲هـ.ق)(عامر، ۲۰۱۱۷م، ۵۳ مخ).

کشميري کاتبان: ملا دين‌محمد (تر ۱۱۳۰هـ.ق وروسته)، ملا محمد شاه ۱۲۰۸ هـ.ق، ملا کمال (۱۲۱۷هـ.ق)، ملا ولي محمد کشميري (۱۲۰۹- ۱۲۳۰هـ.ق کتابت) او ملا مختار کشميري (۱۲۲۹هـ.ق)(عامر، ۲۰۱۱۷م، ۵۷ مخ).

د سهيلي پښتونخوا کاتبان: ملا دوران ميرزی کاکړ (۱۱٦۲هـ.ق)، ملا خاټول ميرزی کاکړ (۱۱۷۸هـ.ق)، ملا ګل مير اخوندزاده مندوخېل (۱۲۴۳هـ.ق)، ملا عبدالمجيد ميرزی کاکړ (۱۲۴۴هـ.ق)، ملا جان محمد کاکړ (۱۲۵۸هـ.ق) او ملا محمد عباس کاسي (۱۳۰۳ هـ.ق)(عامر، ۲۰۱۱۷م، ۵۹ مخ).

په سيند کې د پښتو کاتبان: ميا فقيرالله جلال آبادي (۱۱۹۵هـ.ق مړ) او مولوي نورمحمد نوري افغان هوتک (۱۲۸۷هـ.ق)(عامر، ۲۰۱۱۷م، ٦۱ مخ).

د ناڅرګندو سيمو کاتبان هم شته چې د يوولسمې له دويمې لسيزې راپدېخوا يې کتابونه ليکلي دي چې ديني علماء په کې دا دي: ملا شيرخان (١١٤٩هـ.ق)، ملا احمد (١١٥٠هـ.ق)، ملا سعدالله (١١٨١هـ.ق، ملا مصطفی (١١٨٢هـ.ق)، ملا عطاءالله (١١٨٦هـ.ق)، شاه محمد ترکانې (دولسمه هجري پېړۍ)، ملا اختيار (دولسمه هجري پېړۍ)، ملا پاينده کاکړ (١٢٠٠هـ.ق)، ملا اکرم (١٢٠٨ هـ.ق، ملا خويشکی (١٢٢٤هـ.ق)، اخوندزاده ملا عبيدالله کاکړ (١٢٢٧هـ.ق)، ملا شمس الله (١٢٣٦هـ.ق)، اخوند گل محمد (١٢٤٥هـ.ق)، عزيزالله اخوندزاده (١٢٥٧هـ.ق)،ملا محمد اخوندزاده (١٢٥٧هـ.ق)، ملا اعظم يا عظيم (٢٥هـ.ق)، ملا الف (١٢٦١هـ.ق)، ملا محراب (١٢٦١هـ.ق)، ملا محمد اکرم زاخېل (١٢٦١هـ.ق)، ملا صفي شاه (١٢٦٢هـ.ق)، ملا عبدالرحيم (١٢٦٥هـ.ق)، ملا شير خان (١٢٦٨هـ.ق)، ميا صدرالدين (١٢٧٠هـ.ق)، ملا عنايت الله (١٢٧٠هـ.ق)، اخوندزاده عبدالقادر (١٢٧٥ هـ.ق)، ملا دوست محمد (١٢٧٦هـ.ق)، ملا لعل محمد (١٢٧٧هـ.ق)، ملا لاجور (١٢٧٨ هـ.ق)، ملا رسول داد (١٢٨٠ هـ.ق)، ملا مير اکبر (١٢٨٣هـ.ق)، ملا غلام حبيب (١٣١٢هـ.ق)، ملا حقداد (١٣٢١هـ.ق)، مولانا مير افضل (١٣٢٢هـ.ق) او ملا عبدالغفار هوتک (١٣٢٤هـ.ق)(عامر، ٢٠١١٧م، ٦٣- ٦٧ مخونه).

داسې پښتانه کاتبان چې ديني پوهان دي او د نورو ژبو کتابونه يې کتابت کړي، هم شته.

پورتنيو کاتبانو چې هم‌مهاله ديني عالمان هم دي، د خپلو لاسونو او ګوتو په ستړي کولو سره د پښتو لويه زېرمه خوندي کړې او له فنا کېدو يې ژغورلې ده چې په دې سره دوی پښتو ادب ته ډېر څه ورکړي دي.

پنځم څپرکی

پایله، مناقشه، وړاندیزونه او مأخذونه

په دې څپرکي کې لومړی پایله راوړل شوې، ورپسې د موضوع په ټراو مناقشه شوې او بیا پایلیزه راوړل شوې، وروسته وړاندیزونه راغلي، بیا د څېړنې محدوده بیان شوې او په پای کې مأخذونه یاد شوي چې لومړی کتابونه او بیا مقالې ښودل شوې دي.

پایله

«په دویمه دوره کې پښتو ادبیاتو ته د دیني علماوو د خدمتونو څېړنه» په پنځو څپرکو کې بشپړه شوې ده. لومړی څپرکی چې سریزه ده، په هغه کې د ستونزې بیان، د څېړنې ارزښت او اړتیا، موخې او پوښتنې راغلې دي. په دویم څپرکي کې د څېړنې په اړه تېرو څېړنو او آثارو ته کتنه شوې او په کې روښانه شوې چې تر دې مهاله تر همدغه سرلیک لاندې کومه ځانګړې څېړنه او اکاډمیک اثر نه دی لیکل شوی، یواځې په ځینو آثارو او خاصتاً تذکرو کې چې کله کوم شاعر یا لیکوال معرفي شوی، ورسره د دیني عالم په توګه یې یادونه شوې ده، نو په پښتو ادبیاتو کې د همدې تشې ډکولو په پار دغه څېړنه غوره او ترسره شوې ده.

د دې څپرکي په دویم بحث کې د څېړنې نظري بنسټ ښودل شوی چې اسلامي ادبیات دي. لومړی د اسلامي ادب پېژندنه او شننه شوې، تاریخچه، پېژندنه او مفهوم، نومَونه، عمومي او معاصر مفهوم یې، د اسلامي ادبیاتو او انساني ادبیاتو اړیکې، په اسلامي ادبیاتو کې بڼه، محتوا، ژبه، پر دې ډول ادبیات نیوکې او وضاحتونه، د اسلامي تصور ځانګړنې چې د اسلامي ادبیاتو اساس دی او هم د اسلامي ادبیاتو ځانګړنې ښودل شوې دي. په دې بحث کې روښانه شوې چې د «اسلامي ادب» اصطلاح معاصره کارَونه په هغو ادبیاتو پورې محدود ده چې اسلامي اصولو او ارزښتونو ته د ژمن مسلمان شخص له خوا ویل شوي وي. په دې سره ټول هغه ادبیات چې له اسلام سره په تضاد کې وي، د

اسلامي ادبياتو له دايرې وځي، اگر که د مسلمان له خوا صادر شوي هم وي. د «اسلامي ادب» بېلابېلو اصطلاحاتو، لکه: «د دعوت ادب»، «اسلامي جريان»، «د مسلمان ادب»، «د مسلمانو ولسونو آداب»، «ديني ادب»، «د اسلامي عقيدې ادب» او «اخلاقي ادب» پرځای همدا «اسلامي ادب» اصطلاح غوره بلل شوې ده. د اسلامي ادب تعريف په دې توگه وړاندې شوی چې د اسلامي تصور په حدودو کې له انسان، ژوند او هستي يا کايناتو څخه هدفمند هنري بيان دی.

د دې نظريې څانگړتياوې په اسلامي ادبياتو کې د پېړيو په اوږدو کې موجودې وې چې ترڅنگ يې د ادبي بهير د منطقي کولو لپاره د رغنده او شفاف نقد غوښتنه هم کوي. معاصر اسلامي ادبيات هغه ادبيات دي چې يواځې څانگړی وخت يا خاصه موضوع نه څېړي؛ بلکې دوه مهمې پايې (هنري او ادبي بيان) او (اسلامي ليد او نړۍ ليد) يې بنسټ دي. اسلامي ادبيات د انسان او د هستۍ د چارو په اړه جامع ليدلوری لري، انسان ته د هغه په مادي او معنوي اړخونو او په هر يوې پورې اړوندې مسألې په پام کې نيسي؛ له همدې امله ويلای شو چې اسلامي ادبيات، انساني ادبيات هم دي، خو هر انساني ادب، اسلامي ادب نه ګڼل کېږي. د اسلامي ادبياتو او نورو ادبي مکتبونو ترمنځ څانگړی توپير د هغې محتوا ده، کوم چې بايد له اسلامي ليد سره سم وي. په اسلامي ادبياتو کې بڼه او محتوا دوه هغه عناصر دي چې دواړه په مخاطب کې د هنري احساس د رامنځته کولو عوامل ګڼل کېږي. په دې ډول ادبياتو کې سره له دې چې عربي په کې مهمه بلل شوې، خو په نړيواله کچه د دې ادب د پراختيا او پراختيا لپاره نورو ژبو ته هم پاملرنه اړينه او مهمه ده. د يادولو ده چې د مضمون مسألې ته د ځينو اسلامي ناقدانو له حده زياته توجه او هنري شکل ته د هغوی کم توجهي د اسلامي ادبياتو د مخالفينو د انتقاد سبب شوی دی.

تر دې بحث وروسته په پښتو ادب کې د اسلامي ادب پيل او پرمختيايي بهير څېړل شوی، د ديني ژباړو تاريخچه او بهير په کې ښودل شوی او «په پښتو ادب کې د ديني علماوو رول» بحث کې لومړی ديني عالم او د وخت متداول علوم پېژندل شوي او هم د ديني علماوو ادبي خدمتونو ته کتنه شوې ده.

د پښتو ادب په ليکنې زېرمو کې يوه درنه خوا ترجمې دي چې په هغو کې له نورو ژبو څخه پښتو ته علوم او مفاهيم رانقل شوي دي. په پښتو ژبه تر ټولو ډېر ديني مفاهيم چې د قرآن کريم، نبوي احاديثو، فقهې، عقايدو، سيرت، ميراث او نورو ترجمې په کې شاملې دي، له نورو ژبو را ژباړل شوي دي.

له هغه مهاله چې په دې سیمه کې اسلام خپور شوی، دیني عالمان د دې ترڅنګ چې په خپلو زده‌کړو او تدریس بوخت وو، ګڼو یې قلمونه را اخیستي او لیکل یې کړي دي، هم یې نثري لیکنې کړي او هم شعري یا نظمي. دوی له یوې خوا غوښتي چې خپل رسالت ادا کړي او هم یې په داسې ژبه خلکو ته ورسوي چې د هغوی په ژبه وي او پرې پوه شي، همدا ده چې زیاترو یې دیني مفاهیم د هغوی د مطالعې پر اساس د کاغذ پر مخ خوندي کړي دي. دوی په نثر او نظم دواړو چوکاټونو کې آثار کښلي دي. پښتنو دیني عالمانو چې څه لیکل کړي، ژباړه یې کړې او یا یې هم نظمونه او شعرونه ویلي، د موضوعاتو له مخې یې په لاندې کټیګوریو وېشلی شو:

- دیني اثر یې لیکلی او یا نظم کړی دی، په دې کې د قرآن کریم تفسیر او ترجمه، د نبوي احادیثو معناګانې او تشریح، نبوي سیرت، د عقایدو، فقهې او میراث موضوعات، تجویدونه، عرفاني، تصوفي، اخلاقي او روزنیز مسایل شاملیږي.
- کله کله اسلامي او دیني مفاهیم په کې په غیر مستقیمه توګه څرګند شوي دي.
- د ژوند د نورو مسایلو، لکه ټولنیزو مسایلو او ادابو، مینې، عاداتو او دودونو ته په کې په پراخه کچه ځای ورکړل شوی دی.

د شکل او بڼې له مخې که د دیني علماوو ایجاداتو، لیکنو، شعرونو، نظمونو او ژباړو ته کتنه وشي، نو هغه داسې ډلبندي کېږي:

- زیاته برخه ایجادات په مسجع نثر کښل شوي دي.
- بله غوښنه برخه یې د نظمونو په قالب کې ده.
- په هنري ګانې سمبال د شعر په بېلابېلو قالبونو کې یې هم د ایجاداتو برخه درنه ده.
- داسې لیکنې هم شته چې په ساده نثر کښل شوي دي.

په ټوله کې ویلی شو چې دیني عالمانو د پښتو ژبې او ادبیاتو په بډاینه کې کارنده ونډه لرلې ده، ځکه هغوی په همدې ژبه دیني او تصوفي کتابونه لیکلي، شاعري یې کړې او هم یې په نثر آثار کښلي دي. د علم او ادب ترڅنګ یې د پښتو ژبې د ساتنې او پراختیا لپاره هڅه و هاند کړی دی.

د دویم څپرکي په درېیم بحث کې د مفاهیمو تعریفونه شوي دي. د پښتو دویمې ادبي دورې پېژندنه شوې چې زماني مقطع یې د لسمې هجري پېړۍ له نیمایي پیل او د څوارلسمې هجري پېړۍ تر لومړیو دوو- درېیو لسیزو پورې دی. د دې دورې سیاسي، ټولنیز او فرهنګي حالت ته ځغلنده کتنه شوې ده،

بيا د همدې دورې د شاعرانو او ليکوال اټکلي شمېر ښودل شوی چې شاوخوا ۱۱۰۰ شاعران او کابو ۳۰۰ ليکوالان په دې دوره کې موجود وو.

په درېيم څېرکي کې د څېړنې کړنلاره (مېتود) چې توصيفي- تحليلي دی او ډول يې کتابتوني دی، ښودل شوي او هم يادونه شوې چې مواد يې چاپي آثار دي. پر امکاناتو، محدوديتونو او اخلاقي مسايلو تمرکز شوی دی.

د څېړنې څلورم څېرکی د څېړنې موندنو ته ځانګړی شوی چې په لومړي بحث کې د پښتو په دويمه ادبي دوره کې د ديني علماوو د منظومو آثارو پېژندنه شوې او د هغوی منظوم آثار او کلامونه ښودل شوي دي.

له لسمې تر څوارلسمې هجري پېړۍ پورې د پېړيو پر بنسټ لاندې اشخاص د ديني علماوو په توګه ياد شوي او هم يې خدمات ښودل شوي دي:

لسمه پېړۍ: پير روښان، ارزاني خويشکی، ميرزا خان انصاري، دولت لوانی، واصل روښاني، کريمداد بنګښ، ميرخان روښاني، مولانا سيد عبدالوهاب په اخوند پنجو، ملا الف، امير او اخوند دروېزه.

يوولسمه پېړۍ:

ابابکر کندهاری، خواجه‌محمد بن ابابکر کندهاری، علي محمد مخلص، ملا عمر، عبدالله قصور، شيخ آدم روښاني، عبدالخالق، خواجه‌محمد بنګښ، آخوند چالاک، قمر دين، کريمداد، خالقداد، آخوند احمد، خوشحال خان خټک، جميل بېګ خټک، اشرف خان هجري، عبدالقادر خان خټک، صدر خان خټک، سکندر خان خټک، ګوهر خان خټک، کاظم خان شيدا، ملا مست ځمند، بابوجان، اخوند مياداد محمدزی، مير حسين هروي، کنډير، فتح‌شاه، احمد داؤدزی، سليمان، سيد حسين، غلام محمد، صديق او ملا محمد فاضل برېخ.

دولسمه پېړۍ: مصطفی، ملا يارمحمد، ملا محمد يونس، ملا زعفران تره‌کی، ملا محمد عادل، ملا محمد اياز نيازی، ملا محمد حافظ بارکزی، ملا بازمحمد توخی، ملا پيرمحمد مياجي، ريدي خان مومند، بابوجان بابی، سيد حسن، سيد حسين، رحيمداد، عبدالرحيم، ملا نورمحمد غلجی، فيض الله اخوندزاده، ملا اختر، رحمان بابا، ميرمحمد، حاجي ملا يارمحمد پاپينی، معزالله مومند، يونس خيبري، مهين خليل، څمکنو ميا عمر يا حضرت ميا محمد عمر، محمدي صاحبزاده، احمدي صاحبزاده (عبيدالله مياګل)، محمد يوسف، مصري خان ګګيانی، ميا فقيرالله جلال‌آبادی، ميا شرف، ميا محب

الدين، ملا عبدالرشيد، ملا شاهو اخوند، شېرمحمد هوتک، عبدالرحيم هوتک، حبيب الله، حميد مومند، کامګار ختک، سعيد ختک، اخوند کبير، عبدالکريم، حافظ مرغزی، اخوند حافظ شېرمحمد، ګل محمد کاکړ، رحمت داوی، قنبر علي خان، ملا يارمحمد، علي‌خان، احمدشاه بابا، پيرمحمد کاکړ، ملا فرح الدين، محمدګل کوهاټی، عبدالباري ګدا، محمد ګل، محمود رفيق، سعادت خان، اخون ګدا، علي اصغر، عبدالکريم کاکړ، حافظ الپوري، ملا علم اپريدی، قابل اورکزی، آصف ختک، حافظ رحمت خان، حافظ محمد، نورمحمد، غلام محمد غورياخېل مومند، مسري خان ګګيانې، سيد انورشاه، مير عبدالله، احمد، فدامحمد، ملا محمد عمر ساکزي، نصرالله کاکړ، نور الدين، ياسين ابدالی، رکن الدين، صالح محمد تاجيک، ملا صالح محمد داوی، شمس الدين کاکړ، ملک داد غرشين، محمد فهيم، ملا جان محمد کاکړ، رسول‌داد، حضرت شاه، معاذالدين ختک، قاسم علي خان افريدی، غلام شاه، عبد العظيم رانيزی، ميا نعيم متي‌زی، شيخ احمد خان، پياو الدين يا فياو الدين، ملا لتاړ شلماني، مطيع الله پيره‌خېل، طالب رشيد، محمدجي، محمد امان، ملا شېرداد کاکړ، محمد، شمس الدين دلازاک، ملا بازګل اخونزاده، حميدالله، ملا احمد، قاضي غلام محمد هوتک، مير امام الدين احمد دروېش، علي اکبر اورکزی، ملا عبدالنبي بيټنی، مولوي احمد، الکوزی، ملا محمد حسن تلوکانی، ملا وليداد کاکړ، بېګ محمد، ملا عبدالحق خروټی، ملا زبردست، جمعه بارکزی، عبيدالله الکوزی، ملا احمد خليل، احمدګل، مولوي احمد د تنګي، مولوي احمد جان تاجر، محمد جان، کليم الله اخوندزاده او مولانا ميا بزرګ.

ديارلسمه پېړۍ: ملا محمد اکرم، عبدالله، حنان بارکزی، ملا خيرالله، دوست‌محمد ختک، ملا فيض محمد اخونزاده، ملا عبدالباقي کاکړ، غلام محمد پوپلزی، مولوي ميا حمدالله فقيرخېل، ميا عبدالله کاکاخېل، ملا نعمت الله، ملا ولي محمد، سيد کمال، عبدالزاهد، جانان هوتک، محمد، فيض الله قريشي، صفي الله، محمد علي غريب، محمد رسول، ميا شېرمحمد هوتک، حبيب الرحمن، حيدرجان، خانزمان، سيد امين، عبدالحميد الکوزی، عبدالرحمن، عبدالرحمن، قاضي عبدالرحمن، ابن الفقيه، غلام‌نوي، فقير، فقيرشاه، محمود، ملا مطلوب بارکزی، معظم، معظم شاه، ملا جان، منورشاه، ميا احمد، قاضي نعمت الله، ولي محمد هوتک، ولي الله، شمس الدين کاکاخېل، فقيرګل، رسال، ملک زعفران، محمد صادق، وسيم کاکاخېل، مولانا رفيع القدر، نجابت، مراد علي صاحبزاده، محمد امين، فيض الله

کاکړ، علامه حبيب الله کندهاری، مولوي عبدالمجيد کاکړ، عبدالرحيم، نورالله شاه، مولوي نورالله يوسفزی، صالح محمد، ملا ظريف، محمد نجيم، عبدالوهاب او علي اصغر آخونزاده.

د څوارلسمې پېړۍ اوايل: ملا امير، محمد رفيق، ملا ميران، شاد محمد خان، عبدالجبار، ميا محمد سعيد، مولوي عبدالرؤف، ملا بازمحمد کندهاري، علي احمد مسکين، محمد عمر اخونزاده، محمد رسول، ملا شاه پسند اخوند، محمد رحيم، عبدالحکيم، ملا رحمت، شاه‌محمد، مولوي سيد احمد، ملا سرور بنګښ، ملا پير محمد اخوند، حسن، عبدالجليل امين، سيد ابو عليشاه، مولوي ازاد خان ساپی، اميرشاه، عبدالحليم ګل کاکاخېل ختک، مطهر کاکاخېل، ملا سيد عبدالغني، سيد مجدد ننګرهاری، محمد اکبر، سفيد شاه، ميا قمر دين، عبدالقدير، ملا مير يحيی، رضوګل مروت، ملا احمد جان، مولوي تاج محمد، احمد دين طالب، عبدالله، عبدالله، جناب (ميا) کاکاخېل، حاجي محمد امين مداح، مولوي حمدالله، مولوي عبدالواحد مفتون، محمد رضا، دوست محمد خان سواتي، مولوي کرامت شاه، حاجي مظفر، ملا محمد نور، ملا ارسلا، ملا سرور کاکړ او ملا محمد رحيم.


په همدې دوران کې داسې آثار هم شته چې ناظمان او شاعران يې نه دي معلوم او يا داسې مجموعې موجودې دي چې د ګڼو ناظمانو او شاعرانو د کلام بېلګې په کې خوندي دي، همدغه ډول آثار هم په دې څېړنه کې معرفي شوي دي.

په همدې بحث کې هغه شاعران او ناظمان چې بشپړ اثر نه لري، خو منظوم کلامونه او شعري ټوټې يې په بېلابېلو آثارو کې ليدل شوي، هغه هم معرفي شوي او خدماتو ته يې اشارې شوې دي چې نومونه يې دادي:

شيخ عيسی مشوانی، ملا اصغر، محمد حليم، نورمحمد، عبدالسلام، نورالدين، ولي محمد، قادرداد، حاجي ګدای، دروېش دادو، ميا علي محمد، شېرمحمد، اخوند مصري، شيخ آدين، آزاد، بېګ محمد، قادر، ميا الهداد، نجابت، مسکين، شيخ فريد، افضل الدوله افضل خان، زينب، ملا سعيد، محمد ګل، جان‌محمد، ملا محمد، ميا عبدالکريم، ملا مقصود، ملا صيام، عبدالستار، مولانا محمد شاه، سيد شېرمحمد، سيف الله، ملا عبدالکريم، ملا عبدالرحمن، محمد بياض، بي‌بي‌ګله، سيد نظيف، ملا شاه جهان، ملا عبدالرحيم اخونزاده، عبدالغفار، عمر، فيض الله، فيض الله، فيض الله، قادر، ملا قيوم، کبير، کرم نسا، محمد طاهر جمرياني، ملا مرتضی، مير حضرت، ملا نجم الدين، نظرمحمد، نعيم، ملا هوس، ملا احمدشاه، ملا تور، محمدګل، ملا سکندر ستريانی، شېرمحمد، ملا عبدالباقي، ملا مومن،

عبدالکریم صاحبزاده، ملا محمد، ملا فضل حق، ملا محمد امان، مولانا یا اخوندزاده نورمحمد، ملا طیب، میا محمد عثمان غني، ملا نېک محمد غازي، محمد رفیق، فیض الله صاحبزاده، میا محمد عرفان، ملا امیر، احمدجي اخوندزاده، مولانا حاجي عبدالرحیم، ملا محمود، اسماعیل، خولقندي ولي صاحب، اخونزاده عبدالحکیم، ملا اکبر شاه، اخون اکرم، ملا محمد کرم نیازی، حافظ، حافظ پښتو، ملا حبیب الله، حضرت، ملا حبیب الله، خانزاده، خان محمد، خیرالدین، ملا خیر الدین، دلاسا، ملا دوست علي، دوست محمد، دولت جان احمدزی، رؤف جان ماما، ملا رویدار ناصر، زبیرګل، سپینه، سراج الدین، ملا سرفراز، ملا سرور، سید امیر، سید شمس الدین، سید شهاب الدین، شاهولي علي‌خېل، شفیع، ملا شمس الدین، شېرمحمد، صاحبو عاجزه، صفت خان دولت‌زی، محمد رسول، قاضي طلامحمد، عبادالله، ملا محمد حسن اخوندزاده، ملا عبدالحق اڅکزی، ملا عبدالحکیم، عبدالغفور صافی (اخون سوات)، مصطفی، عبیدالله، ملا عبیدالله، مولوي کرم الدین عشرت، عطوف، ملا علي جان، غلام عثمان، فیض الله، لعل محمد، ملا محراب، ملا محمد انور اتمانخېل، محمد شریف، ملا محمد طاهر، محمد عجب، محمد عظیم، ملا محمد عظیم، ملا نظرمحمد، نور احمد، مولانا نورمحمد، واعظ، اسدالله، محمد نور، ملا مفصیل، منیب، نورمحمد نوري افغان، رضوان الله رضوان، ملا محمد اکرم هوتک، ملا دین محمد، عبدالله، یارګل، یارمحمد شینواری، نورمحمد، نورمحمد کاکړ، میر دین، ملا محمد کریم، غلام فاروق، اسماعیل، عبدالجبار، ملا عبدالحق، ملا شېرمحمد، شمس الدین طالب، اخوند رسول خان، ملا خواجه محمد، ملا حفیظ، ملا حکیم، حلیم شاه، ملا صالح محمد بړېڅ، ملا میر افضل، سلطان، ملا سید خیرمحمد، فضل محمود مخفي، ملا حسن، محمدجان صاحبزاده، حمیدالله اخونزاده، ملا محب الحق اخونزاده، نورمحمد په (کیا ملا صاحب)، مولوي بحر الدین، ملا بهادر، عبدالله، مولوي عبدالمجید پشاوري، ملا کریم، ملا ګل سید بابړ، ملا ګل محمد خان او ګل ملا خان.

د پښتو په دویمه ادبي دوره کې د آثارو خاوندان ديني علماوو شمېر (۲۸۳) ته او هغه ديني علماء چې د کلام یوه یا څو نمونې یې معلومې دي، د پنځو مېرمنو په ګډون یې شمېر (۱۸۴) ته رسیږي چې په ټوله کې (۴٦۷) تنه کېږي. که چېرته د دویمې ادبي دورې د شاعرانو تخميني شمېر یوولس سوه تنه وي، نو د ديني علماوو سلنه په کې ۴۲ کېږي. دغه شمېره په لاندې لومړي ګڼه جدول کې داسې واضح شوې ده:



جدول - ١

په دې دوره کې د ديني علماوو له‌خوا د ليکل شويو منظومو آثارو شمېره کابو (٦٤٦) ته رسيږي چې په دې کې (٦٢) يې په نورو ژبو، لکه فارسي او عربي دي او پاتې (٥٨٤) په پښتو ژبه دي.

د پورتنيو شاعرانو او ناظمانو د منظومو آثارو او کلامونو محتوا تحليل شوې ده او په کې په ډاګه شوې چې د دې دورې د شعر او نظم په مختلفو چوکاټونو او آن ولسي فورمونو کې ديني علماوو منظوم آثار کښلي دي. په دې آثارو کې ځينې داسې دي چې له سره تر پايه ديني مفاهيم په کې رانغښتل شوي او يا هم ديني ارشادات دي، که هغه د قرآن کريم او نبوي احاديثو تفسيرونه او شرحې دي او که د سيرت، فقهې، عقايدو، تجويد او ميراث مسايل دي، هغه يې په خپلو آثارو کې ځای کړي دي. کله کله خو شاعر خپله قرآني آيت او د حديث شريف يوه ټوټه هم را اخيستې او خپله خبره يې پرې مستدلله کړې ده.

په څلورم بحث کې د پښتو په دويمه ادبي دوره کې د ديني علماوو منثور آثار پېژندل شوي چې دا کسان په کې شامل دي:

لسمه پېړۍ: بايزيد انصاري، ملا ارزاني، علي محمد مخلص، همه‌دان بن شيخ نعمت الله روښاني، مودود ترين، شيخ قاسم، شيخ امام الدين، مولانا عبداللطيف بن عبدالله عباسي، اخوند دروېزه، اخوند کريمداد، شيخ عبدالله (بهادر کوهاټی)، بابوجان، ملا خالاک، ملا مست ځمند، اخوند احمد، اخوند

میاداد محمدزی، جورا (جوهر)، یارمحمد، محمد خان ځمند، شیخ محمد سعید، میر حسین هروي (شیخ حسین هراتي)، مولانا علي خان سرغلاني، آخوند موسی بتي‌کوټی او حاجي موسی.

یوولسمه پیړۍ: مولانا عبدالحلیم، اخوند قاسم، ملا نورمحمد توخی غلجی، قاضي مختار دنګرامي، جان‌محمد، محمد منیر، شاه‌محمد ترکان، میا عمر ځمکنی، اکبر شاه، شاه‌نور، خوشحال خان ختک، عبدالقادر خان ختک، ګوهر خان ختک، افضل خان ختک، محمد هوتک، محمد امین سرپرښکړی، حافظ نورمحمد، میا عبدالحکیم کاکړ، عصام الدین احمد چغتي، محمد ګل کوهاټی، نورمحمد، مولانا رکن الدین، مولوي عبدالله، قاضي محمد غوث خانعلوم، میا شرف ننګرهاری، میا فقیر الله جلال آبادی، نیازمحمد، ملا رحمت الله، عبدالکبیر، منیر، ملا ګلاب آخوند علیزی، فتح‌شاه، آصف او نواب افضل خان عمرخېل.

دولسمه پیړۍ: ملا اختر، مولانا میا بزرګ، ملا بابړ او ابراهیم سواتی.

دیارلسمه پیړۍ: شمس الدین غلجی، مولوي احمد، مولوي دوست محمد، مولوي عبدالحق علیزی، سیدال فقیر، صفي الله ختک، ملا لعل بېګ خراسانی، مراد علي صاحبزاده، رضوان الله رضوان، مولوي نورمحمد نوري، حافظ محمد، عین الله، ګل احمد خلیل، قاري نصیر الدین، محمد حسن، عبدالله، فیض الله، ملا غلام جان، بي‌بي صاحبه، خدیجه، حمیدګل، قاضي عبدالغفار، غلام یحیی، ملا محمد رسول منوزی، شیخ محمد سعید، مولانا محمد شعیب، مولوي مزمل‌شاه، مولوي عطامحمد کندهاری، احمد، محمد سعید، خوږدل، محمد یوسف، مولوي عبدالرحمن، ملا نعمت الله، مولوي دوست محمد خان ختک، میا عبدالله کاکاخېل، مولانا محمد الیاس کوچیانی، مولانا عبدالودود سرحدي، مولوي عبدالرؤف کاکړ، مولوي عبدالوهاب کندهاري، نواب افضل خان، قاضي عبداللطیف ګالوجي، مفتي محمد فتح الله قندهاری، داربنګو مولانا عبدالحق، مولانا شاه افضل، مولوي عبدالحق او مولانا عبدالقادر.

څوارلسمه پیړۍ: قاضي در مکنون، ملا رمضان هوتک، قاضي صفي‌الله، رضوګل مروت، ګل محمد خرښبون، مولوي محمد اسمعیل، مولوي عبدالرحیم، مولوي عبدالحق، مولوي عبیدالحق، مولوي احسن خان، ولي الله، احمد، مولانا عبدالوهاب، محمد امین تهکالی، صوفي صاحب، محمد عادل، ملا نعمان، لغمان ملا، ملا میر سید، مولوي محمد غفران، ملا محمد دین، غلام حیدر، مولوي عبدالاکبر، میرزا دوست‌محمد، مولانا محمد الیاس پشاوري، عبدالله غزنوي، محمد علي، احمدجي،


مولانا عبدالحق، ملا سيد عبدالغني، قاضي ګل احمد، محمد غوث، ملا بازمحمد، ملا محسن کاکړ، ملا نعمت الله نوښاری، قاضي عصمت الله، علامه امير علي، محمد عبدالغفور، قدرت علي هزاروي، امير محمد، محمد، آخوند موسی ولي‌زی هوتک، قاضي مير احمدشاه رضواني، قاضي رحيم الله، عنوان الدين کاکاخېل، مشيرالدين کاکاخېل، غلام محمد پوپلزی، مولانا عبدالمجيد افغاني، قاضي محمد يوسف احمدي قاضي‌خېل، مولوي تاج‌محمد، ملا سعدالله خروټی، محمد سعدالله اخندزاده، خواجه عبدالرحمن جان مجددي، قاضي عبدالحق کابلی، مولانا حميدالله اوبندي او ملا قطب اخوند.

هغه ليکوال چې د نثري کلام يوه يا څو ټوټې يې معلومې دي او پښتو ژبې او ادب ته يې خدمت کړی، دا کسان دي:

ملا اصغر، آدم، احمد، حقداد، ملا سليمان، ملا عبدالرحمن، حبيب، تاووس، ملا هارون، ملا دوست محمد، ملا عبدالغني کاسي، ملا عبدالواحد کاسي، عثمان، حافظ نورمحمد، حافظ عبدالکبير، اخوند ګدا، حاجي دوست محمد خان کندهاری، فضل احمد لغمانی، ميرزا حنان بارکزی، احمد ګل د للمې، ميا ابوبکر، ملا نعمت الله، مولوي اخونزاده ننګرهاری، مولوي غلام محی الدين افغان، نورمحمد، عبدالحق خروټی، ملا سرور کاکړ او محمد امين.

د پورتنيو يادو شويو پښتنو مفاخرو په آثارو او نثري ټوټو کې د قرآن کريم تفسيرونه او ترجمې، د نبوي احاديثو ترجمې او شرحې، د عقايدو، فقهې، سيرت، تصوف او عرفان، تجويد، ميراث، منطق، موعظې او نصايح، کيسې او حکايات، شرحې او حاشيې، ژبني مسايل، حماسې، طب، کسب او ټولنيز مسايل رانغښتل شوي دي.

په دې ډله کې د دوو مېرمنو په ګډون ۱۴۱ هغه ليکوال دي چې نثري آثار يې موجود دي او پاتې ۲۸ هغه دي چې يواځې د منثور کلام يوه يا څو بېلګې يې موندل شوې دي چې په ټوله کې په همدې دوره کې ۱۶۹ هغه کسان لرو چې ديني پوهه يې لرله او هم يې نثري آثار او ټوټې کښلې دي. که د دې دورې د نثر ليکوالو شمېر ۳۰۰ تنه وي، نو د ديني علماوو د شمېر سلنه ۵۶ ته رسيږي چې د ښه وضاحت لپاره په لاندې دويمه ګڼه جدول کې کېږي:



جدول - ۲


په دې دوره کې د ديني علماوو له‌خوا د ليکل شويو منثورو آثارو شمېره تقريباً (۲۹۴) ته رسيږي چې په دې کې (۳۱) يې په نورو ژبو، لکه فارسي او عربي دي او پاتې (۲٦۳) په پښتو ژبه دي.

د دې څېړنې په پنځم بحث کې د پښتو ادب د دويمې دورې په بڼاينه کې د ديني علماوو پر رول خبره شوې او په کې روښانه شوې چې د پښتو ادبياتو پر دويمې دورې چې حساب کېږي او د يوې مغتنمې او مفتخرې دورې په سترګو ورته کتل کېږي، ځينې علتونه لري چې له امله يې هغه زرينه دوره بلل شوې ده. د نورو عواملو ترڅنګ يې يو لامل د اسلام او ادبياتو ترمنځ تطابق او امتزاج دی چې ادبيات په کې د دين په چوکاټ کې بيان شوي او يا به ووايو، چا چې په همدې زمانه کې ادبي پنځونې لرلې دي، د اسلام د دين چاشني يې پوره څکلې ده، نو ځکه يې د اسلامي اصولو له مخې کلامونو ښايست موندلی او يا لږ تر لږه که داسې ووايو، زمونږ ديني علماوو ادبياتو ته مخه کړې او په نظم او نثر کې يې ايجاديات کړي دي، مبالغه به مو نه وي کړي. د همدې پنځونو په برکت د پښتو متونو څولۍ ډکه او بڼايه شوې ده. البته د دغه ډول ځينو آثارو هنريت تر پوښتنې لاندې راتلای شي. په ټوله کې د دې

دورې اکثريت ايجاديات د اسلامي ادبياتو د تيورۍ پر اساس پنځېدلي او همدا تيوري پرې تطبيقېدای شي.

په همدې بحث کې په دويمه ادبي دوره کې د هغو ديني پوهانو نومونه چې شمېر يې ۱۳۰ تنو ته رسيږي، ياد شوي چې کتابونه يې کتابت کړي دي، دوی په دې کار سره د پښتو ادب پراخه زېرمه په خپلو زحمتونو سره د کاغذونو پر مخ خوندي کړې ده.

په ټوله کې د پښتو په دويمه ادبي دوره کې هغه کسان چې ديني علماء دي او منظوم او منثور آثار يې ليکلي او په دې سره يې پښتو ژبې او ادب ته خدمت کړی، په لاندې جدول کې يې د شمېر سلنه ښودل شوې ده:



جدول - ۳

مناقشه

دا څېړنه د پښتو په دویمې ادبي دورې پورې منحصره ده، دا چې ولې همدا دوره غوره شوې ده، په دې اړه باید وویل شي چې له ما سره په پښتو ادبیاتو کې د دیني علماوو د رول او د هغوی پر خدمتونو د څېړنې د تشې ډکولو سوچ و، ترڅو په پښتو ادبیاتو کې دغه خلا ډکه شي او له بلې خوا د هغوی حق ادا او ایجاد کړي آثار یې وشنل شي، کله چې ما په ۱۴۰۲هـ.ش کال کې د کابل پوهنتون د پښتو دوکتورا د علمي بورډ پر وړاندې د دې ډیزرټېشن پروپوزل دفاع کاوه، په پای کې راته وړاندیز وشو چې د دې څېړنې زماني مقطع دې یواځې په دویمې ادبي دورې پورې محدود شي، هماغه و چې همدا دوره راته وټاکل شوه. که ما د پښتو ادبیاتو له پیله تر نن د دیني علماوو د کړو خدمتونو جاج اخیسته، دا چاره ډېره زمان‌ګیره او هم به د څېړنې حجم زیات غټېده، خو له ښه‌مرغه د بورډ وړاندیز د دې څېړنې د ښه ترسره کېدو لپاره معقول او مناسب و.

د پښتو ادبیاتو دویمې دورې په اړه په عام ډول ډېرې څېړنې او ګروېرنې شوې دي، خو د علم او څېړنې تقاضا ده چې موضوعات په اختصاصي ډول وڅېړل شي او بله دا چې د پښتو ادبیاتو دویمه دوره چې د آثارو د کمیت او کیفیت له پلوه بډایه زمانه ده، له مختلفو زاویو باید وپلټل او وشنل شي، نو مې مناسبه وبلله چې په دې څه کم څلور سوو کلونو کې چې پښتو ژبې او ادب ته دیني علماوو کوم خدمتونه کړي، هغه رابرسېره او د لوستونکو او علاقمندان مخې ته کېښودل شي.

په هره دوره او زمانه کې ایجاد شوي ادبیات هم نظمي وي او هم نثري او دا خبره مطرح کېږي چې که دا دواړه څېړل کېږي، جلا جلا دې وڅېړل شي، ترڅو یوې مشخصې نتیجې ته رسېدنه وشي، په دې اړه د ویلو ده چې په دغه دوره کې تر ټولو ډېر شاعران تېر شوي دي او د نثر لیکوالو شمېر تر شاعرانو کم دی، نو چې شاعران مو څېړلي وای، د نثر لیکوالو تشه ډکېدل هم په کار وو، نو په همدې اساس دواړه خواوې په دې څېړنه کې شاملې کړای شوې. بله دا چې ډېر داسې دیني علماء شته چې هم یې شاعري کړې او هم لیکوالي، مطلب د شعر ترڅنګ یې نثر هم پنځولی، نو دا منطقي نه برېښېده چې د یوه شخص یو اړخ دې روښانه او بل اړخ دې پرېښودل شي، په همدې اساس په دې څېړنه کې نظم او نثر دواړه شامل کړای شوي دي.

لکه څنګه چې د دې اثر په دویم څپرکي کې د مخینې په بحث کې یادونه وشوه چې په دویمه دوره

کې پښتو ادبياتو ته د ديني علماوو خدمتونو جاج اخيستل د يوه مستقل اثر په توګه نه دي څېړل شوي او کوم آثار چې په دې اړه موجود دي، هغه په تذکرو او ادب تاريخونو پورې منحصر دي چې يواځې د اشخاصو ژوندليکونه او د کلام بېلګې په کې راخيستل شوې دي او په دې اړه چې کومې د ګوتو په شمار مقالې کښل شوي، په هغو کې د يوه مشخص شاعر د کلام جاج اخيستل شوی چې دا په خپل ذات کې ګټور کار دی، خو دا ټولې علمي او څېړنيزې هڅې هيڅکله د يادې شوې موضوع بشپړ حق نه شي ادا کولی.

پورتني مسايل هغه موارد دي چې تر اوسه پورې د ځانګړي اثر په توګه نه دي څېړل شوي، په کومو آثارو کې چې د دغه ډول شاعرانو او ليکوالو يادونه راغلې، يواځې يې پر ژوندليک او د کلام په بېلګې بسنه شوې ده، يا دا چې د «ديني عالم» اصطلاح ورسره کارېدلې او يا ويل شوي چې «ديني پوهه» يې لرله، تر دې اخوا يې په اړه په تفصيلي توګه څه نه تر سترګو کېږي؛ نه په کې دا جوته شوې چې د کلام کومه برخه يې ديني مفاهيم وړاندې کوي او يا د ده له کلام څخه معلومه کړي چې په رښتيا هم د ديني عالم اطلاق پرې کېدای شي. د دغه ډول اشخاصو کلامونه پر کومو موضوعاتو شامل دي او يا په ټوله کې د دويمې دورې د ديني علماوو په آثارو او کلامونو کې کوم ډول مسايل بيان شوي دي، دا او دې ورته نور موضوعات په دې څېړنه کې څېړل شوي دي.

تر مخکينيو څېړنو چې په منظم او سيستماتيکه علمي توګه نه دي ترسره شوي، د دې څېړنې غوره‌والی دا دی چې د همدې دورې د ټولو هغو شاعرانو او نثرليکوالو لنډ او کره ژوندليکونه او د هغوی د کلام بېلګې، سره د هغوی د کلام او ويناوو د منځپانګې له تحليلونو او شننو سره په کې راغلي دي او په ټوله کې په همدې زماني مقطع کې پښتو ادبياتو ته د ديني علماوو خدمتونه رابرسېره او جوت شوي دي.

پایلیزه

د دې څېړنې په پایله کې جوتیږي چې:

- ✓ په دې دوره کې د (۲۸۳) دیني علماوو له‌خوا د لیکل شویو منظومو آثارو شمېره تقریباً (۵۸۴) ده او د (۱۴۱) دیني علماوو له‌خوا لیکل شوي منثور آثار تقریباً (۲٦۳) ته رسیږي.
- ✓ د تاریخي افغانستان په بېلابېلو سیمو کې په لسمه، یوولسمه او دولسمه هجري پېړیو کې د پښتنو دیني حلقې موجودې وې، په همدې مهال کې پښتنو علماوو د دیني علومو د زده‌کړې خواته توجه درلوده او د آثارو د لیکلو ضرورت یې محسوس کړی وو. شاعرانو او لیکوالو چې څه لیکلي، هغه یې د دین د خدمت په پار کښلي او له دې لارې یې اسلامي تعلیمات عام کړي دي. همدا ده چې پیاوړی شاعر دولت لوانۍ په کوم کلام چې د کتاب الله او حدیث رسول الله وي، هغه تر ټولو غوره ګڼي، وایي:

چې د خدای د رسول نوم په کې یادېږي　　شاعري بله نور مه ګڼه تر دا ښه

- ✓ د ځینو نظمونه د دیني روزنې او دیني تعلیم لپاره ویل شوي دي. د پوهانو په اند، منظوم کلام له شعري پلوه زیاته رنګیني نه لري، خو تبلیغي اړخ یې پیاوړی دی. له همدې امله یې په شاعرۍ کې هنریت کمرنګه شوی، د دې یو لامل به دا وي چې په دیني تعلیماتو کې له غلو، تخیلاتو او کنایو څخه ډډه کېږي، خبره او پیغام په مستقیمه توګه بیانېږي، خو داسې اشخاص هم شته چې د اسلامي لارښوونو او ارشاداتو بیان یې چې کړی، کلام ته یې د هنر جامه ور اغوستې، لکه رحمان بابا، حمید مومند، دولت لوانۍ.... دې شاعرانو او لیکوالو غوښتي د خپلو لیکنو او اشعارو له لارې د خلکو فکرونه سمې لارې ته متوجه او وپالي.
- ✓ دین (اسلام) او ادبیات خاصتاً شاعري سره ټکر نه لري. د سلګونو دیني عالمانو شعري آثار او د کلام نمونې د دې مدعا ښه ثبوت دی. هم یې دین پاللی او هم ادبیات او په دې کې یې خپلې ژبې او ادب ته خدمت کړی او د آخرت لپاره یې په دیني شاعرۍ او لیکوالۍ سره د «خیر» توښه برابره کړې ده. علیخان همدې موضوع ته په اشارې سره کاږي:

عالمان شعر په څه ګڼي ممنوع　　په قرآن کې ډېر لفظونه دي مسجوع
عین حسن د ثقاتو هم په دا کې　　ډېر ابیات له آن حضرته دي مسموع

عقايد فقه سلوک راوړه په نظم بلاغت رښتيا قصص ښه دي مقطوع
عجيبه مجاز صفت نظر قدرت ته له عفت سره حسن وي هم مشروع
عبث پوچ دروغ ويل وي که کنځل وي بې له نظمه هم قبيح وي په وقوع

- ✓ د دې دورې په آثارو کې اکثره ديني، شرعي په تېره فقهي مسايل د حنفي فقهې له مخې وړاندې شوي دي.
- ✓ په همدې زمانه کې پاچايانو ديني علماوو ته احترام کړی، له يوې خوا د دين او د مسلمانۍ تقاضا يې وه او له بلې خوا يې د سياسي بصيرت او پاليسۍ پر اساس دغه کار کاوه. د پښتو ادب د پالنې او روزنې لپاره ځينو يې خدمتونه کړي او شاعران يې پاللي دی.
- ✓ په همدې وختونو کې ځينې کورنۍ وې چې پښتو ژبې ته يې په شعوري ډول خدمت کړی، پښتو کتابونه يې په کاتبانو نقل کړي او خوندي کړي دي، لکه محمدي صاحبزاده او ورور يې عبيدالله ميا‌ګل چې دا کار کړی دی.
- ✓ په دغه څېړنه کې راغلي شخصيتونه زمور د ټولنې ريښې دي، په کار ده چې خپلو ريښو او اصولو ته مراجعه وکړو او لا نور يې وڅېړو، ترڅو يې له افکارو د خپلو خلکو په روزنه او تربيې کې کار واخيستل شي.
- ✓ د دويمې دورې د اکثرو ملايانو او دين ته د منسوبو اشخاصو په شاعرۍ کې د ديني، عرفاني، تصوفي، اخلاقي، وعظ و نصيحت ترڅنګ عاشقانه او د مينې او ګډاز خبرې هم پرېمانه دي. ترڅنګ يې څو تنه ديني علماء طبي آثار لري.
- ✓ ديني او مذهبي متون د ژبې په وده او پراختيا کې عمده رول لري چې له همدې لارې د ژبې زېرمه بډايه کېږي. په پښتو کې د سلګونو ديني علماوو له خوا د دغې ژبې زېرمه بډايه شوې ده.
- ✓ زمور ګڼو شاعرانو او ليکوالو پر پښتو سربېره په عربي او پارسي ژبو هم قلمي خدمتونه کړي دي.
- ✓ اکثرو ليکوالو شاعري هم کړې ده او ځينو شاعرانو نثرونه هم کښلي دي.

وړاندیزونه

د دې څېړنې په جریان کې له داسې مسایلو سره مخامخ شوم چې څېړل او هواری غواړي، هیله ده په راتلونکي کې د یوې مهمې مسألې په توګه مطرح او وربانديې څېړنه وشي او ځینې هغه وړاندیزونه چې اوسمهال ورته اړتیا ده، په اړه یې اړوند مراجع لاس په کار شي چې عمده یې دا دي:

د لوړو زده کړو وزارت ته:

- «اسلامي ادب» دې د یوه مضمون په توګه د لوړو زده‌کړو وزارت په نصاب کې شامل او په لیسانس یا ماسټرۍ کې دې تدریس شي.

د افغانستان علومو اکاډمي او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته:

- د دیني عالمانو لویه زېرمه ناچاپ پاتې ده او په ګردونو کې پټه ده، په دې اړه دې اکاډمیک او علمي مرکزونه ګام واخلي او د هغوی ناچاپ آثار دې خپاره کړي.

د راتلونکو څېړنو لپاره:

- د پښتو ادبیاتو د نظم برخه په منظمه او سیستماتیکه توګه نه ده څېړل شوې، د دې ډګر څېړونکي دې د نظم تاریخ د علمي اساساتو او څېړنې د مقتضا پر اساس ولیکي.
- ګڼ داسې پښتو کتابونه شته چې منځپانګه یې دیني او اخلاقي ده، خو لیکوال یا ژباړن یې دیني عالم نه معلومیږي. په کار ده چې په دې اړه ځانګړې څېړنه لکه «په پښتو ادب کې د دیني منځپانګې تحلیل» وشي.
- د پښتو ادبیاتو د درییمې (یا د ځینو په اصطلاح معاصرې) دورې کې د دیني علماوو خدمتونه هم د هېرېدو نه دي، لازمه ده څېړنه پرې وشي.
- په نوره اسلامي نړۍ کې د «اسلامي ادب» په اړه پراخې او هر اړخیزې څېړنې شوې دي، خو له بده‌مرغه دغه موضوع زمونږ د هېواد په ټولو ژبو کې له نشت سره برابره ده، په کار ده دا اړخ د څېړونکو د توجه محراق وګرځي. د ګڼو اسلامي هېوادونو ترمنځ چې د اسلامي ادبیاتو په اړه کوم تفاهم او تصور موجود دی او په ګډه د دې داعیې لپاره کار کوي، متأسفانه زمونږ علمي او فرهنګي حلقې او اشخاص تر لرې او آن بې‌خبره دي، په دې اړه دې د افغانستان اکاډمیک او

علمي مراجع لاس په کار شي او له هغوی سره دې د افغانستان ادبيات چې له پيله تر پايه پر اسلامي روحيې سنبال دي، مطرح او ورسره دې ګډ مزل پيل کړي.

- د «قصيده برده» ټولې ژباړې دې يوځای او چاپ شي، لکه دا کار چې استاد رفيع کړی او د هغه له ژمنې سره سم يې مور چاپ ته سترګې په لار يو. وفاتنامې، نورنامې او شمايلنامې دې هم راټولې او د ځانګړو آثارو په توګه دې هره برخه لوستونکو ته په يوځايي توګه وړاندې شي.
- د «پښتانه شعراء» د تذکرې ليکنې لړې دې د علومو اکاډمي د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت د علمي غړو له خوا دوامداره وساتل شي.
- د هېواد دننه او بهر نړۍ کې دې د پښتو خطي نسخو فهرستونه ترتيب او خپاره شي ترڅو زمور د ادبي تاريخ د خطي منابعو په اړه معلومات ترلاسه شي.

د څېړنې محدوده

هره څېړنه خپله محدوده لري چې له مخې يې څېړنه پر مخ وړل کېږي. په دې څېړنه کې يواځې د پښتو ادب دويمه دوره په پام کې نيول شوې ده او په همدې دوره کې بيا تمرکز د ديني علماوو پر خدمتونو شوی چې پښتو ژبې او ادب ته يې کړي دي. هغه آثار چې د شعر او نظم په چوکاټ کې پنځولي او يا يې په نثري قالب کې ليکلي، د دوی د همدې آثارو په رڼا کې يې پښتو ادب ته د خدمتونو جاج اخيستل شوی دی.

البته د دې څېړنې په اوږدو کې د داسې ديني اشخاصو له آثارو سره مخامخ کېدم چې په هغو سره يې پښتو ژبې او ادب ته خدمت کړی، دوی په دويمې ادبي دورې کې نه شاملېدل، بلکې د درېيمې ادبي دورې مربوط کسان کېدل، نو په همدې علت مې په دې څېړنه کې شامل نه شو کړای، خو يادښتونه مې يې اخيستې او که خدای کول په راتلونکي کې به يې په اړه څېړنه وکړم.

مأخذونه

کتابونه

- قرآن کريم.
- آريانا دايرة المعارف. (١٣٨٦ل). دويم دور، لومړی ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دايرة المعارف رياست، کابل: نبراسکا مطبعه،
- آريانا دايرة المعارف، (١٣٨٧ل). دويم دور، دوهم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دايرة المعارف رياست، کابل: نبراسکا مطبعه.
- آريانا دايرة المعارف. (١٣٨٩ل). دويم دور، درېم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دايرة المعارف رياست، کابل: نبراسکا مطبعه.
- آريانا دايرة المعارف. (١٣٩٠ل). دويم دور، څلورم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دايرة المعارف رياست، کابل: نبراسکا مطبعه.
- آريانا دايرة المعارف. (١٣٩٢ل). دويم دور، پنځم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دايرة المعارف رياست، کابل: نبراسکا مطبعه.
- آريانا دايرة المعارف. (١٣٩٢ل). دويم دور، شپږم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دايرة المعارف رياست، کابل: احمد مطبعه.
- آريانا دايرة المعارف (١٣٩٧ل). دويم دور، اووم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دايرة المعارف رياست، کابل: احمد مطبعه.
- ابن منير. (١٣٩٦ل) التحفة القادرية، د چاپ زيار: ډاکټر سنان ايلخان، کابل: هلپ ستيډ مطبعه.
- احمد. وفات نامه (خطي نسخه).
- احمد، عصام الدين. (١٣٩٥ل). پښتو تفسير (لومړی پاره)، ترتيب، سمونه او حاشيې: پوهاند عبدالشکور رشاد، کندهار: علامه رشاد خپرندويه ټولنه.
- احمدزی، محمد آصف. (١۴٠١ ل). فرهنگي ادبي پېښليک، دوهم ټوک، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- احمدزی، محمد آصف. (١۴٠٢ل) د مسجع نثر څېړنه، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

- احمدزی، محمد آصف. (۱۴۰۵). فرهنګي-ادبي پېښلیک، درېیم ټوک، ناچاپ.
- احمدشاه بابا. (۱۳۷۸هـ. ش). دیوان، تدوین او ترتیب: مومن موحد، پښتونخوا: دانش کتابتون.
- اخوند احمد. (۱۳٦۰ل). د زوی قرباني (د پښتو یوه زړه کیسه، د یوولسمې هجري پیړۍ لیک)، یادون او سپړنه: برېښ. د زېري کالنۍ، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، پښتو ټولنه.
- اخوند دروېزه. ایمان‌نامه (خطي نسخه)، د افغانستان د علومو اکاډمۍ کتابتون، د ثبت شمېره: ۳۰۹.
- اخوند دروېزه. (۱۹٦۹م). مخزن، مقدمه: سید تقویم الحق کاکاخېل، پېښور: پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.
- اخوند قاسم، فواید الشریعت (خطي نسخه)، د افغانستان د علومو اکاډمۍ کتابتون، د ثبت شمېره: ۲۸۲.
- اخوند کریمداد. (۱۹٦۹م). ملحقات کریمداد، مخزن د اخوند دروېزه اثر، مقدمه: سید تقویم الحق کاکاخېل، پېښور: پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.
- اخوند میاداد. (ناچاپ). نورنامه، مدون: بدر الحکیم حکیمزی.
- اخونزاده، عبدالرحیم ابن قسیم گل (پښتو ژباړن). (۱۳۹۵ل). دُر مکنون، سریزه مقابله او تحشیه د محمد معصوم هوتک، کندهار.
- ارمان، شهاب عزیز. (۱۴۰۱ل). د رحمان بابا پر شاعرۍ د قرآن او حدیث اثرات، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- اغېز، عبیدالله. (۱۳۹۷ل) د محمد صاحبزاده یاد او افکار، ننګرهار: کلاسیک خپرندویه ټولنه.
- افغاني، عبدالحلیم اثر. (۱۹٦۳م). تیر هیر شاعران، پېښور: پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.
- افغاني، عبدالحلیم اثر. (ن‌ن)، روحاني رابطه او روحاني ټرون، دار الاشاعت باجوړ.
- الألباني. صحیح الترغیب والترهیب (۱ / ٦۳ / ٦۸) "اهـ.
- البخاري، محمد بن إسماعیل. صحیح البخاري، الطبعة الهندیة.
- البلدحي، عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي. (۱۳٥٦هـ.ق/ ۱۹۳۷م). مجد الدین أبو الفضل الحنفي (٦۸۳هـ.ق کال مړ). الاختیار لتعلیل المختار، تعلیقات: الشیخ محمود أبو دقیقة، مطبعة الحلبي –القاهرة.

- الجوزية، أبو عبد الله محمد بن أبي بكر بن أيوب ابن قيم. الكافية الشافية في الانتصار للفرقة الناجية، تحقيق وتعليق: محمد بن عبد الرحمن العريفي، ناصر بن يحيى الحنيني، عبد الله بن عبد الرحمن الهذيل، فهد بن علي المساعد، دار عطاءات العلم (الرياض) - دار ابن حزم (بيروت)، څلورم چاپ، ١٤٤٠ هـ - ٢٠١٩ م، تاريخ النشر بالشاملة: ٢٩ شعبان ١٤٤٢.
- الحميدي. محمد بن فتوح. الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم دار النشر / دار ابن حزم - لبنان/ بيروت - ١٤٢٣هـ - ٢٠٠٢م، دوهم چاپ، تحقيق : د. علي حسين البواب.
- السجستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث. سنن أبي داود، دار الكتاب العربي - بيروت، ج٤.
- السلمي، محمد بن عيسى أبو عيسى الترمذي. الجامع الصحيح سنن الترمذي، دار إحياء التراث العربي – بيروت.
- الشيباني، أحمد بن حنبل أبو عبدالله. مسند الإمام أحمد بن حنبل، مؤسسة قرطبة – القاهرة.
- الطيار، أحمد بن ناصر. تقريب فتاوى ورسائل شيخ الإسلام ابن تيمية، دار ابن الجوزي للنشر والتوزيع – السعودية، ١٤٤١هـ.ق، تاريخ النشر بالشاملة: ٤ ذو القعدة ١٤٤٣.
- الهاشمي، أحمد بن إبراهيم بن مصطفى. جواهر الأدب في أدبيات وإنشاء لغة العرب، مؤسسة المعارف، بيروت، تاريخ النشر بالشاملة: ٨ ذو الحجة ١٤٣١.
- النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري. صحيح مسلم.
- انصاري، ميرزا خان. (١٣٥٤ل). د ميرزاخان انصاري ديوان، سريزه سمون او لمنې د څېړنمل دوست، کابل: پښتو ټولنه.
- بارکزی، جمعه خان. (١٣٦٠ل). ديوان، مرتب او مهتمم: زلمی هېوادمل، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه.
- بارکزی، حنان. (١٣٣٦ل). د حنان بارکزي ديوان، کابل: پښتو ټولنه، دولتي مطبعه.
- بخاري، خيال. (١٩٦٤م). ديوان کريمداد، پېښور: پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ٣٠ مخ.
- بختانی، عبدالله. (١٣٩١ل) پښتانه شعراء (بشپړ متن)، څلرم ټوک، تصحيح او زياتونې: مطيع الله روهيال، کندهار: علامه رشاد خپرندويه ټولنه.
- بريا، حامد الله. (١٣٩٥ل). پښتو ته د ديني آثارو ژباړه (پيل او بهير)، د ميدان وردګو عالي دار المعلمين، ناچاپ.

- بنګښ، خواجه محمد. (۱۹۶۵م). د خواجه محمد بنګښ دیوان، پریشان ختک: پېښور: پښتو اکیډیمي پېښور پوهنتون.
- بېتنی، عبدالنبي. (۱۴۰۲ل). د عبدالنبي بېتني دېوان، د مطیع الله روهیال په سریزه او سمون، پښتونخوا: بېت نیکه پښتو ادبي غورځنګ.
- پیرهخېل، مطیع الله. (۱۹۸۶م). د پیر مطیع الله دیوان، د همېش خلیل په حاشیه او سمونه، ترتیب او تدوین: اقبال فنا، پېښور: منظور عام پریس.
- ترخوی، شېرشاه. (۲۰۰۰م). رحمان او قرآن، پېښور: وحدت پرنټرز.
- جان محمد. نورنامه (خطي نسخه)، د افغانستان د علومو اکاډمۍ کتابتون، د ثبت شمېره: ۱۸۱.
- جلال‌آبادي. میا فقیرالله. (۱۳۵۹ل). فواید فقیرالله، د پوهاند عبدالشکور رشاد سریزه، تعلیقات او لغتنامه: کابل پوهنتون.
- جلالي، زاهد. (۱۴۰۴ل). مزلونه منزلونه، کابل: نور خپرندویه ټولنه.
- جنتي، معتمد. (۱۳۶۶ل). عبدالحمید مومند د نورو په نظر کې، د عبدالحمید مومند یاد، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، تدوین او ترتیب: ز. هـ، کابل: دولتي مطبعه.
- حبیب الله. (۱۳۶۰ل). د حبیب الله دیوان، سریزه او سمون د محمد عارف غروال له خوا، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل: پښتو ټولنه.
- حبیبي، عبدالحی. (۱۳۵۶ل). «د پښتو ژبې او ادب موقف د مرکزي ایشیا د خلکو په تمدنونو کې»، پښتو څېړنې، کابل: پښتو ټولنه.
- حبیبي، عبدالحی. (۱۳۹۱ل). پښتانه شعراء (بشپړ متن)، لومړی ټوک، تصحیح او زیاتونې: مطیع الله روهیال، کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
- حضرت شاه. (۱۴۰۲ل). د حضرت شاه دیوان، سمونه او څېړنه: عبدالله جان عابد، ادب کور خوښکی پبلی کېښنز: ګران خپرندویه ټولنه.
- حقپال، آریانا. (۱۳۸۶ل). د شعر سلطان علي خان، کابل: د افغانستان د ملي تحریک فرهنګي څانګه.
- حکیم الله جان. (۱۹۹۳م). پښتو ادب کې طنز و مزاح (د ایم فل تحقیقي مقاله)، پېښور.

- خټک، خوشحال خان. (۱۹۶۷م) ارمغان خوشحال، میا سید رسول رسا، پېښور: یونیورسټي بُک ایجنسي.
- خټک، خوشحال خان. فضل‌نامه.
- خټک، خوشحال خان. (۱۳۵۸ل). د خوشحال خټک کلیات، لومړی ټوک، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، دولتي مطبعه.
- خټک، خوشحال خان. (۱۹۸۲م). اخلاقنامه: پېښور.
- خټک، خوشحال خان. (۱۹۹۱م). دستارنامه، مؤلف: حاجي پردل خان خټک، پیش لفظ: محمد نواز طائر، پېښور: پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.
- خټک، خوشحال خان. (۱۳۸۴ل). کلیات، اوډنه، پرتلنه، سمون او وییپانګه: عبدالقیوم زاهد مشوانۍ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
- خټک، سکندر خان. (۱۳۹۹ل). کلیات، سریزه، ترتیب او سمون د میا وکیل شاه فقیرخېل، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
- خټک، عبدالقادر خان. (۱۳۶۸ل). دیوان. سریزه، تحشیه، تصحیح او مقابله د نور الله ولسپال، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز.
- خټک، عبدالقادر خان. (۱۳۸۳ل). ګلدسته (د ګلستان پښتو ژباړه)، د سید محي الدین هاشمي په اهتمام، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي د خپرونو ریاست.
- خټک، عقاب. (۱۳۶۵ل). خوشحالنامه (د اروابناد سرفراز خان عقاب خټک څلور لیکنې)، د زلمي هېوادمل په تدوین، سریزه او تعلیقاتو، کابل: د قومونو او قبایلو وزارت.
- خټک، فضل میر. (۲۰۲۱م). فضلیات، درېیم چاپ، پېښور: اعراف پرنټرز محله جنګي.
- خټک، کامګار. (۱۳۵۸ل). دیوان، ترتیبوونکی: عبدالمتین متین، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- خټک، محمد عرفان. (۲۰۱۱م). د پښتو د نثر ړومبۍ نخښې، پېښور.
- خټک، معاذ الدین. (۱۳۹۲ل). دیوان، مدون: میا وکیل شاه فقیرخېل، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
- خټک، یارمحمد مغموم. (۲۰۱۱م). روښانیان او پښتو ادب، پېښور: پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.
- خدمتګار، عبدالله. (۱۳۵۷ل). پښتو چاپې آثار (په دوو تیرو پېړیو کې)، ټولونه او سریزه: د اطلاعاتو او کلتور وزارت، کابل: د پښتو پرمختیا او پیاوړتیا آمریت.

- خدمتگار، عبدالله بختانی. (۱۳۸۲ل). د قرآن شریف ځینې خطي نسخې، تجویدونه، تفسیرونه، مفسران او مدرسې: دانش خپرندویه ټولنه.
- خدمتگار، عبدالله بختانی. (۲۰۱۲م). پښتانه شعراء – شپږم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل.
- خدمتگار، عبدالله بختانی. (۲۰۱۳م). پښتانه شعراء –اووم ټوک، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز.
- خلیل، حنیف. (۱۳۸۴ل). د کاظم خان شیدا دیوان: دانش خپرندویه ټولنه.
- خلیل، همېش. (۱۹۶۰م-الف). ورکه خزانه، اول ټوک، پېښور: دار التصنیف بابوحیدر.
- خلیل، همېش. (۱۹۶۰م-ب). ورکه خزانه، دویم ټوک، پېښور: دار التصنیف.
- خلیل، همېش. (۱۹۶۰م-ج). دیوان قنبر علي خان: پبلک ارټ پریس پېښور.
- خلیل، همېش. (۲۰۰۲م). مرزا خان انصاري او د هغه شاعري، پېښور: جدون پرنټنګ پریس.
- خلیل، همېش. (۲۰۱۰م). پښتانه لیکوال، اول ټوک، درېیم چاپ، پېښور: یونیورسټي پبلشرز.
- خلیل، همېش. (۱۳۹۱ل). دیوان معزالله خان مومند، د همېش خلیل په ترتیب، درېیم چاپ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
- خویشکی، پروېز مهجور. (نن). د علي محمد مخلص دیوان، پېښور: پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي.
- خویشکی، پروېز مهجور. (نن). علي محمد مخلص ژوند، فکر او فن، د علي محمد مخلص دیوان، پېښور: پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي.
- خیبري، یونس. (۱۳۵۶ل). دیوان، عبدالله بختانی خدمتگار، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، کابل: د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا اداره.
- داود، داور خان. (۱۹۹۷م). رحمان بابا ژوند، تعلیمات او شاعري، پېښور: جدون پرنټنګ پرېس.
- دوست محمد (ملا). بیانات افغاني (خطي نسخه).
- دوست، شریف الله. (۱۳۹۹ل). د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو خطي نسخو تحلیلي څېړنه، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

- رابح بن خوية. الأدب اسلامي قراءة في المصطلح والمفهوم. مركز نماء للبحوث والدراسات. جامعة محمد البشير الابراهيمي برج بوعريريج الجزائر، ژباړه، لنډيز او تعليقات: محمد آصف احمدزی، ناچاپ.
- رانیزی، عبدالعظیم. (۱۳۳۳هـ.ق)، دیوان عظیم، به فرمایش میا گل محمد و محمد اکرم، لاهور: مطبعه اسلامیه.
- رسا، سید رسول. (۱۹۷۶م). د عبدالرحمان بابا دیوان، پېښور: یونیورسټي بُک ایجنسي خیبر بازار.
- رشاد، عبدالشکور. (۱۳۵۹ل). د پښتو تجویدونو تاریخچه، د شیخ الرئیس ابو علي سینا بلخي پر «مخارج الحروف» اثر تعلیقات، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، دولتي مطبعه.
- رشاد، عبدالشکور. (۱۳۶۰ل). د څمکنو میا عمر (رح)، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- رشاد، عبدالشکور. (۱۳۶۶ل). د حمید شرعة الاسلام، د عبدالحمید مومند یاد، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، تدوین او ترتیب: ز. هـ، کابل: دولتي مطبعه.
- رشاد، عبدالشکور. (۱۳۹۱ل- الف). د دوهم ټوک پښتانه شعراء د دوهم چاپ سریزه، پښتانه شعراء (بشپړ متن)، تصحیح او زیاتونې: مطیع الله روهیال، کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
- رشاد، عبدالشکور. (۱۳۹۱ل- ب). دولت لوانې او درې نیم سوه کاله پخوا د هغه عروضي نظمونه، د دولت لوانې دیوان، سریزه: پوهاند عبدالشکور رشاد، دوهم چاپ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
- رشاد، عبدالشکور. (۱۳۹۱ل- ج). پښتانه شعراء (بشپړ متن)، دریم ټوک، تصحیح او زیاتونې: مطیع الله روهیال، کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
- رشاد، شېرشاه. (۱۳۹۵ل). د عصام الدین احمد د پښتو تفسیر (لومړی پاره) پر اثر لیکنه؛ ترتیب، سمونه او حاشیې: عبدالشکور رشاد، کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
- رښتین، صدیق الله. (ن‌ن). د پښتو نثر هنداره، پېښور: یونیورسټي بُک ایجنسي.
- رښتین، صدیق الله. (۱۹۸۸م) نومیالي پوهان او غازیان، پېښور.
- رښتین، صدیق الله. (۱۳۹۱ل - الف). پښتانه شعراء (بشپړ متن)، دوهم ټوک، تصحیح او زیاتونې: مطیع الله روهیال، کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
- رښتین، صدیق الله. (۱۳۹۱ل - ب). پښتو ادب تاریخ، څلورم چاپ، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

- ربښتین، صدیق الله. (۱۹۹۳م). پیاوړي شاعران، پېښور: یونیورسټي بُک ایجنسي.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۵۳ل). ادبي ستوري، لومړی ټوک، کابل: پښتو ټولنه.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۵۴ل). پښتو پانګه، لومړی ټوک، کابل: پښتو ټولنه.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۵٦ل- الف). پښتو پانګه، دوهم ټوک، کابل: پښتو ټولنه.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۵٦ل- ب). «د پښتو قلمي نسخې»، پښتو څېړنې، کابل: پښتو ټولنه.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۵٦ل). پښتو کتاب ښود، کابل: د بیهقي کتاب خپرولو مؤسسه.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۵۹ل). ادبي ستوري، دوهم ټوک، کابل: د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د کلتور او هنر ریاست.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳٦۴ل). د اخوند احمد پېژندنه او آثار، ورک زوی څنګه پیدا شو؟ د اخوند احمد لیکنه، پېښور: احسان کتاب.
- رفیع، حبیب الله. (۲۰۰۱م). پر «مهاجرت نامه» اثر سریزه، پېښور: د افغانستان د کلتوري خدمتونو اداره.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۹۴ل). ادبي ګروپرنې، جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۷۸ل). «د احمدشاه بابا دیوان» سریزه، تدوین او ترتیب: مومن موحد، پښتونخوا: دانش کتابتون.
- رفیقي، عبدالرؤف. (۲۰۲۲م). دریاب په کوزه کې، لومړی ټوک، کوټه: پښتو اکیډمی بلوچستان کوټه.
- روښان، بایزید. (۱۳٦۴ل). د علم رساله، مرتب: دوست شینواری، کابل: د افغانستان د علومو اکاډیمي، پښتو ټولنه.
- روښان، بایزید. (۱۳۹٦ل). خیر البیان؛ سریزه، ترتیب، مقابله، سمون او لمنلیکونه: محمد معصوم هوتک، کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
- روهي، محمد صدیق. (۱۳۸۴ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ، دویم ټوک، دویم چاپ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
- روهي، محمد صدیق. (۱۳۸٦ل). ادبي څېړنې، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

- روهیال، مطیع الله. (۱۴۰۲ل). د عبدالنبي بېتني دېوان، د مطیع الله روهیال په سریزه او سمون، پښتونخوا: بېړ نیکه پښتو ادبي غورځنګ.
- روهیال، مطیع الله. (۱۳۹۱ل). په لمنلیک کې وضاحتونه، عبدالحی حبیبي. پښتانه شعراء (بشپړ متن)، لومړی ټوک، تصحیح او زیاتونې: مطیع الله روهیال، کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
- زهیر پاینده محمد؛ علمي، سید محمد یوسف. (۱۳۳۹ل). د افغانستان د معارف تاریخ، کابل: د پوهنې وزارت، د دارالتألیف ریاست.
- زیور، زیور الدین. (۱۳۸٦ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره، پېښور: د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.
- ژړک، محمد صادق. (۱۳۹۱ل). د عبدالرحیم هوتک پر دیوان سریزه، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
- سالک، مصطفی. (۲۰۱۳م). منشور (کره کتنه)، دویم چاپ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
- سړبن، محمد اسماعیل. (۱۳۸۲ل). په پښتو ادب کې د اخوند دروېزه او د ده د پیروانو ادبي مقام، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- سعید، محمد گل. (۱۳۹۴ل). د افغانستان مفاخر، لومړی ټوک، پېښور: مکتبه فاروقیه محله جنګي.
- سعید، محمد گل. (۱۴۰۱ل). د افغانستان مفاخر، دریم ټوک، پېښور.
- سعید، محمد گل. (۱۴۰۲ل). د افغانستان مفاخر، څلورم ټوک، پېښور.
- سلطاني، محمد نبي. (۱۴۰۰ل). کندهاري علماء، اول ټوک، کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه.
- سنګروال، شهسوار. (۱۳۸۹ل). د برېتانیا کتابتونونو کې د پښتو قلمي نسخو پېژندنه، کابل: افغان ادبي جرګه – لندن، الازهر خپرندویه ټولنه.
- سنګهـ، ګنډا. (۱۳٦٦ل). درانی احمدشاه، د نصرالله سوبمن ژباړه، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل: د پښتو څېړنو بین المللي مرکز.
- شاه جهان. (۲۰۰۰م). په پښتو نثر کې د مطبوعه ترجمو یوه تنقیدي مطالعه: پېښور پوهنتون، پښتو څانګه.
- شمس الدین. (۱۳۴۴ل). خلاصة المریدین، د بسم الله ځیرمن په مقابله، تصحیح او اهتمام: کابل پوهنتون.

- شیدا، کاظم خان. (۱۳۳۱ل). د کاظم خان شیدا دیوان، د ښوا په تصحیح او مقابله او تدوین، کابل: پښتو ټولنه.
- شینواری، حمزه. (۱۹۶۰م). د همېش خلیل پر «ورکه خزانه- دویم ټوک» سریزه، پېښور: دار التصنیف.
- شینواری، دوست. (۱۳۶۴ل). «بایزید روښان د هنر او شعر په ډګر کې»، د بایزید روښان «د علم رساله»، مرتب: دوست شینواری، کابل: د افغانستان د علومو اکاډیمي، پښتو ټولنه.
- شینواری، دوست. (۱۳۶۶ل). د حمید مومند پر شرعة الاسلام اثر سریزه، د دوست شینواري په زیار، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز.
- ښکلی، اجمل. (۱۳۹۴ل). د ژباړې اصول، درېیم چاپ، جلال‌آباد: مومند خپرندویه ټولنه.
- صاحبزاده، محمدي. (۱۹۸۵م). دیوان، د قلندر مومند ترتیب او مقدمه، پېښور: کوهاټ خپرندوی.
- صدیق. (۱۳۵۸ل). د صدیق دیوان، د دوست شینواري په سریزه او تصحیح، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- صمیم، محمد آصف. (۱۳۸۶ل -الف). د عبدالحمید مومند کلیات، سریزه، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
- صمیم، محمد آصف. (۱۳۸۶ل - ب). گام پر گام له خوشال سره، دویم چاپ، جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه،.
- طالب، احمد دین. (۱۳۹۲ل). کلیات، د میاوکیل شاه فقیرخېل په سریزه او زیار، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
- عابد، عبدالله جان. (۱۴۰۲ل). د حضرت شاه دیوان سریزه، ادب کور خوښکی پبلی کښنز، سوات: گران خپرندویه ټولنه.
- عامر، عبدالکریم. (۱۳۹۲ل). د ملا جان محمد کاکړ دیوان، سریزه، کتنه: عبدالکریم عامر، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
- عامر، عبدالکریم. (۲۰۱۱۷م). کاتبان (لومړی ټوک)، کوټه: نیوکالج پبلیکیشنزر رجسټرد کوټه.
- عبدالحمید. (۲۰۱۹م). شرعة الاسلام، د عبدالکریم عامر څېړنه او زیار، لاهور: پښتو څېړنه (بوری) لورالائي.

- علي خان. (۱۹۵۱م). ديوان، سيد تقويم الحق کاکاخېل، پېښور: دون پريس پېښور.
- غروال، محمد عارف. (۱۳٦۰ل). د حبيب الله ديوان، سريزه او سمون د محمد عارف غروال له خوا، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل: پښتو ټولنه.
- غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۸ل). څراغ، جلال آباد: مومند خپرندويه ټولنه.
- غلجی، شمس الدين. (۱۳۹۵ل). تحفة العابدين او هداية الاعمی، سريزه، ترتيب او تحشيه: محمد معصوم هوتک، کندهار: عرفان خپرندويه ټولنه.
- فقير، فقيرمحمد. (۲۰۲۵م). ديوان قاسم علي خان افريدي، پښتو ادبي ټولنه خويشکي ضلع نوښار، پېښور.
- فقيرخېل، ميا وکيل شاه. (۱۳۹۲ل - الف). د معاذ الدين خټک ديوان، مدون: ميا وکيل شاه فقيرخېل، دانش خپرندويه ټولنه.
- فقيرخېل، ميا وکيل شاه. (۱۳۹۲ل - ب). د احمد دين طالب کليات، سريزه، کابل: دانش خپرندويه ټولنه.
- فقيرخېل، ميا وکيل شاه. (۱۳۹۳ل). د کامګار خان خټک کليات، کابل: دانش خپرندويه ټولنه.
- فقيرخېل، ميا وکيل شاه. (۱۳۹۹ل). «د سکندرخان خټک ژوند او آثار»، د سکندرخان خټک کليات، سريزه، ترتيب او سمون د ميا وکيل شاه فقيرخېل، کابل: دانش خپرندويه ټولنه.
- الفنستن، مونټ ستوارټ. (۱۳۸۷ل). د کابل سلطنت بيان (لومړی او دويم ټوک)، د محمد حسن کاکړ او نصرالله سوبمن ژباړه، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
- قنبر علي‌خان. (۱۹٦۰م). ديوان قنبر علي خان، د همېش خليل په زيار: پبلک ارټ پريس پېښور.
- کاسي، عبدالغني. (۱۱۴۲هـ.ق). بيانات افغاني (خطي نسخه).
- کاکړ، پيرمحمد. (۱۳۵٦ل). معرفة الافغاني، اطلاعاتو او کلتور وزارت، ننګرهار (مجله): دولتي مطبعه.
- کاکړ، جان محمد. (۱۳۹۲ل). د ملا جان محمد کاکړ ديوان، سريزه، کتنه: عبدالکريم عامر، کابل: دانش خپرندويه ټولنه.
- کاکړ، شمس الدين. (۱۳۸۴ل). ديوان، د نصرالله ناصر او بسم الله حقمل په زيار، خوست: خوست خپلواکه ټولنه.
- کبير، احسان الحق. (۱۴۰۴ل). خوشحال خان خټک او نوستالژي، ناچاپ.

- کرګر، محمد اکبر. (۱۳۹۴ل). د میرزاخان انصاري فلسفي او عرفاني نړۍ لید، کابل: اسد دانش مطبعه.
- کریمداد. (۱۹۶۴م). د خیال بخاري په زیار، پېښور: پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي.
- ګګیانۍ، مصري خان. (۱۹۵۹م). دیوان، ترتیب او تدوین: خیال بخاري، پېښور: پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون.
- لوانۍ، دولت. (۱۳۹۱ل). د دولت لوانۍ دیوان، سریزه: پوهاند عبدالشکور رشاد، دوهم چاپ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
- متین، عبد المتین. (۱۳۵۸ل). د کامګار پېژندګلوي، د کامګار ختک دیوان، ترتیبوونکی: عبدالمتین متین، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- مخلص، علي محمد. (نن). د علي محمد مخلص دیوان، د ډاکټر پروېز مهجور خویشکي سمونه او څېړنه، پېښور: پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي.
- مسند الصحابة في الکتب التسعة.
- ملا امیر. (۱۳۹۵ل). د ملا امیر دیوان، د محمد معصوم هوتک په سریزه، ترتیب او لمنلیکونو، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه.
- ملا لتاړ. (۱۳۶۷ل). دیوان، نقل، مقدمه، لمنلیک او لغت نامه د عبدالرحیم ځدران، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- ملاتړ، زکریا. (۱۳۶۵ل). طالبان او پښتو ادب، پېښور.
- مومند، دوست محمد خان کامل. (۱۹۶۰م). کلیات خوشحال خان ختک، پېښور: اداره اشاعت سرحد پشاور.
- مومند، دوست محمد خان کامل. (۱۹۶۲م). د دیوان سکندرخان ختک مقدمه، دویم چاپ، پېښور: اداره اشاعت سرحد.
- مومند، دوست محمد خان کامل. (۱۳۸۵ل). خوشال خان ختک، د عبداللطیف طالبي ژباړه، د زبیر حسرت ترتیب او تدوین، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
- مومند، دوست محمد خان کامل. (۲۰۰۶م). رحمان بابا (ترتیب او تدوین: محمد زبیر حسرت)، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

- مومند، ریدي خان. (۱۳۷۹ل). محمودنامه، د حبیب الله رفیع په سریزه، سمون او سپړنې، پېښور: پښتو یون.
- مومند، عبدالحمید. (۱۳۸٦ل). د عبدالحمید مومند کلیات، مدون: محمد آصف صمیم، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
- مومند، معزالله. (۱۳۹۱ل). دیوان. د همېش خلیل په ترتیب، درېیم چاپ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
- میا عمر. (۱۳۹۴ل). شمایل نبوي، سریزه او سمون: زلمی هېوادمل، کابل: د افغانستان ملي تحریک.
- میا نعیم. (۱۹٦۴م). د خیال بخاري په سریزه او تدوین، پېښور: پښتو اکېډیمي پېښور یونیوسټي.
- میر حسین شاه. (۱۳۴۴ل). د شمس الدین پر خلاصة المریدین اثر سریزه، د بسم الله ځیرمن په مقابله، تصحیح او اهتمام: کابل پوهنتون.
- ناګار، فضل ولي. (۱۳۹۰ل). د بایزید روښان عرفاني- ادبي ښوونځی، جلال آباد: ناګار خپرندویه ټولنه.
- نایل، نجیب الله. (۱۳۹۸ل) د میا شرف د آثارو تحلیلي څېړنه، ننګرهار پوهنتون، د ماسترۍ تېزس، ناچاپ.
- نجرابي، عبدالقدیر مشتري حیدري. (۱۴۰۲ل). د افغانستان د ملي آرشیف پښتو خطي نسخې، ژباړن: بشرمل زرغون، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
- نړیوال، رازقي. (۱۳۹۳ل). په پښتو ادب کې عرفاني پلوشې او مذهبي څرکونه، کابل: میوند خپرندویه ټولنه.
- نیازی، رفیع الله. (۱۳۹۰ل). په پښتو کې د ګرامرلیکنې تاریخي بهیر، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي د خپرونو ریاست.
- واجد، عبدالواجد. (۱۳۹۱ل). د پښتو کلاسیکو ادبیاتو تاریخ (دویمه دوره)، کابل: د ښوونکو د روزنې لوی ریاست.
- وردګ، ګل آغا احمدي. (۱۳۹۵ل). د افغانستان د پوهنې تاریخي بهیر، کابل: د پوهنې وزارت د اطلاعاتو او نشراتو ریاست.

- هاشمي، سید محی الدین. (۱۳۸۳ل). په افغانستان کې د کتابخانو لنډ تاریخ، پېښور: د اریک ګرځنده کتابتونونو اداره.
- هاشمي، سید محی الدین. (۱۳۹۴ل- الف). د نثري ادب ډولونه، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- هجري، اشرف خان. (۱۹۵۸م). دیوان، همیش خلیل، پېښور.
- همت، عبدالمالک. (۱۳۸۵ل). ادب او ادبي کره کتنه، کویته: صحاف نشراتي مؤسسه.
- هوتک، سونیا صمیم. (ناچاپ). د کامګار ختک د شاعرۍ دیني اړخ، کابل.
- هوتک، شېرمحمد. (۱۳۵۵ل). اسرار العارفین، پېښور: قصه خواني پشاور.
- هوتک، عبدالرحیم. (۱۳۹۱ل). دیوان، سریزه، اوډنه او کتنه: محمد صادق ژړک، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
- هوتک، محمد. (۱۳۳۹ل). پټه خزانه، دویم چاپ، کابل: د پوهنې وزارت.
- هوتک، محمد بن داؤد. (۱۹۸۹م). پټه خزانه، سریزه د پوهاند عبدالحی حبیبي: د پښتو ادبي مرکز سرای نورنګ.
- هوتک، محمد معصوم. (۲۰۰۵م). سل پګړۍ یو پوړنۍ، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه- جرمني: دانش خپرندویه ټولنه.
- هوتک، محمد معصوم. (۱۳۹۵ل - الف). د شمس الدین غلجي پر «تحفة العابدین او هدایة الاعمی» اثر سریزه، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه.
- هوتک، محمد معصوم. (۱۳۹۵ل - ب). د عصام الدین احمد د پښتو تفسیر (لومړۍ پاره) پر اثر لیکنه؛ ترتیب، سمونه او حاشیې: پوهاند عبدالشکور رشاد، کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
- هوتک، محمد معصوم. (۱۳۹۵ل - ج). سریزه، دُر مکنون، پښتو ژباړن: عبدالرحیم ابن قسیم گل اخوندزاده، کندهار: علامه رشاد اکاډیمي.
- هوتک، محمد معصوم. (۱۳۹۵ل - د). د ملا امیر دیوان، د محمد معصوم هوتک په سریزه، ترتیب او لمنلیکونو، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه.
- هوتک، محمد معصوم. (۱۳۹۸ل). درنه کورنۍ، دوهم چاپ، کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه.
- هوتک، محمد معصوم. (۱۴۰۲ل). ملا شاهو اخوند او کورنۍ ئې، کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

- هېوادمل، زلمی. (۱۳۵۶ل). فرهنگ زبان و ادبیات پښتو، لومړی ټوک، کابل: د تعلیم او تربیې وزارت د تألیف او ترجمې ریاست.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳۶۰ل). د حاجي جمعه خان بارکزي دیوان، مرتب او مهتمم: زلمی هېوادمل، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳۶۲ل). بیدیاني ګلونه، د افغانستان د علومو اکاډیمي، کابل: پښتو ټولنه، د ښوونې او روزنې مطبعه.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳۶۳ل). د هند د ځینو کتابخانو د پښتو خطي نسخو فهرست، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، پښتو ټولنه.
- هېوادمل، زلمی (مدون). (۱۳۶۴ل). منتخبات د مست له سلوک الغزات او نورو رسالو څخه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز.
- هېوادمل، زلمی. ۱۳۶۵ل). فرهنگ ادبیات پښتو، دوهم ټوک، کابل: دولتي مطبعه.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳۶۶ل-الف). فرهنگ ادبیات پښتو، درېیم ټوک، کابل: دولتي مطبعه.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳۶۶ل- ب). د پښتو د ادبي تاریخ خطي منابع، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳۶۶ل- ج). اولسي سندرې، دوهم ټوک، کابل: د قومونو او قبایلو وزارت.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳۶۷ل -الف). د پښتو ادبي تاریخ د منابعو پېژندنه او ارزیابي، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز- پښتو ټولنه، ګستتنر چاپ.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳۷۰ل). اولسي سندرې، درېیم ټوک، کابل: د اطلاعاتو او کلتور وزارت.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳۷۹ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دوره)، لومړی ټوک، دویم چاپ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳۸۰ل). ننګیالی د زمانې، پېښور: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه- جرمني.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳۸۵ل). د بایزید روښان په «فرحت المجتبی» اثر سریزه، مدون: زلمی هېوادمل، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل مجله.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳۹۰ل). پښتو نثر اته سوه کاله، دویم چاپ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

- هېوادمل، زلمی. (۱۳۹۴ل). «د سر خبرې» شمایل نبوي، د څمکنو میا عمر، سریزه او سمون: زلمی هېوادمل، : کابل: د افغانستان ملي تحریک.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳۹۶ل). په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پراوونه، درېیم چاپ، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- هېوادمل، زلمی. (۱۴۰۲ل). د دوکتورا دورې لیکچرنوټ، کابل پوهنتون، ناچاپ.
- هېوادمل، زلمی. (۱۴۰۳ل). پښتو نثر اته سوه کاله، درېیم چاپ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

مقالې

- احمدزی، محمد آصف. (۱۳۹۶ل). «مناقب غوث الاعظم او التحفة القادریة یو اثر دی»، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل مجله، ۳-۴مه گڼه.
- پروینی، خلیل؛ فرامرز، میرزایی؛ زودرنج، صدیقه. «نظریهٔ ادب اسلامی معاصر در آینهٔ نقد و بررسی»، فصلنامه ادبیات دینی، شماره سوم.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۵۵ل). «روښاني لیکنې»، د روښان یاد، د حبیب الله رفیع په زیار او اهتمام، کابل: پښتو ټولنه، دولتي مطبعه.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۵۷ل). «جگړه د محمود افغان، نیول د اصفهان؛ د هوتکي دورې یو ورک تاریخي اثر»، تاریخي پلټنې (د مقالو مجموعه)، د زلمي هېوادمل په زیار، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو انستیتوت.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۶۹ل- الف). «عرفاني تفسیر»، سپیدې (مجله)، د افغانستان کلتوري ټولنه، دوهمه دوره، څلورمه گڼه، پېښور.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۶۹ل- ب). «یو بې نومه تفسي»، سپیدې (مجله)، د افغانستان کلتوري ټولنه، دوهمه دوره، پنځمه گڼه، پېښور.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۹۸ل) «پښتو ادب د پېړیو په پوړیو کې»، په اسلامي دوره کې د افغانستان فرهنگي څرنگوالی، ژباړن: اورنگزېب ارشاد، کابل.
- رفیع، حبیب الله. (۱۳۹۰ل). «د ملا شېرمحمد هوتک د بردې قصیدې منظومه ژباړه»، د مولوي شېرمحمد هوتک یاد (د مقالو ټولگه)، د څېړندوی رحمت الله هوتک په زیار، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

- سعید، عبدالستار. (۲۰۱۵م). https://www.facebook.com/zahid.jalaly، د نشرېدو نېټه: ۳ اکتوبر ۲۰۱۵.
- طائزی، قمر الزمان. (۲۰۰۶م). «پښتو ادب کې اسلامي آثار»، پښتو: پرون، نن او سبا (د سیمینار د مقالو ټولګه)، پېښور: دانش کتابخانه.
- قیومي، عبدالشکور. (۱۳۹۰ل). «د ملا شېرمحمد هوتک د نظمونو لیکلار»، د مولوي شېرمحمد هوتک یاد (د مقالو ټولګه)، د څېړندوی رحمت الله هوتک په زیار، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- لودین، دولت محمد. (۱۳٦٦ل). «د حمید مومند په شعر کې د ده د عصر د ټولنیز ژوند څېره»، د عبدالحمید مومند یاد، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، تدوین او ترتیب: ز. هـ، کابل: دولتي مطبعه.
- لېوال، عبدالغفور. (۱۳۸۸ل). «دا ساده انشا رنګینه د رحمن کړې». ادبي یادښتونه، کابل: د افغانستان قلم ټولنه.
- منګل، یار زمان. (۱۳۹۵ل). «د عبدالحمید بابا پر کلام د نبوي احادیثو اغېز»، کابل پوهنتون، بهرنیو ژبو او ادبیاتو پوهنځي مجله، ۲مه ګڼه.
- منګل، یار زمان. «د عبدالقادر خټک پر شاعرۍ د قرآن کریم اغېز»، پښتونخوا ژورنال.
- ناصر، نصرالله. (۱۳۹۰ل). «د شېرمحمد هوتک لنډ ژوندلیک»، د مولوي شېرمحمد هوتک یاد (د مقالو ټولګه)، د څېړندوی رحمت الله هوتک په زیار، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- هاشمي، سید محی الدین. (۱۳۹۰ل). «د مولوي شېرمحمد هوتک علمي او ادبي شخصیت»، د مولوي شېرمحمد هوتک یاد (د مقالو ټولګه)، د څېړندوی رحمت الله هوتک په زیار، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
- نیر، محمد انور. (۱۳۹۸ل). «د هوتکیانو د دورې فرهنګ»، په اسلامي دوره کې د افغانستان فرهنګي څرنګوالی، ژباړن: اورنګزېب ارشاد، کابل.
- هاشمي، سید محی الدین. (۱۳۹۴ل- ب). «د خوشحال په ادبي مکتب کې د اشرف خان هجري مقام»، کابل مجله، ۱۳۹۴ل، ٦مه ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز.
- همت، عبدالمالک. (۱۳۹۲ل). «د قرآن کریم پښتو ژباړې او تفسیرونه»، کابل، افغان بنسټ مهالنی، لومړی کال، لومړۍ ګڼه، وری- غبرګولی.
- همت، عبدالنافع. (۲۰۱٦م). «په پښتو ژبه کې د طنز لیکلو لنډ تاریخ»، (http://taand.com)، د جون ۱۵مه ۲۰۱٦م.
- همت، عبدالنافع کلیوال. (۲۰۲٦م). «ایا شاعر هم دیني عالم کېدای شي؟»، د خپرېدو نېټه: ۲۱ جنوري ۲۰۲٦، https://www.facebook.com/. [مراجعه: ۲۲ جنوري ۲۰۲٦].

- هېوادمل، زلمی. (۱۳۵۵ل). «د ارزاني روښان یوه ناپېژندلې رساله (حکایت رسول) »، وړمه مجله، ۱ گڼه، کابل پوهنتون، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی.
- هېوادمل، زلمی. (۱۳٦۷ل - ب). «د علي محمد مخلص منثوره پښتو تصوفي رساله»، کابل مجله، د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، پښتو ټولنه، ۱- ۲مه گڼه.
- https://www.facebook.com/abdullah.janabid.۵
- https://www.facebook.com/abdullah.janabid.۵/posts/pfbid۰AaxGuVeFERMeTHJSeHGJX۳P۷tQ٤m۱jXwph۱LSoi٦F٦yUzC٦cThGo۵uRgg۱G۵tLvPl
- https://qamosona.com/j/index.php
- https://www.youtube.com/watch?v=LpoVuBW۸XVE.ل۱۴۰۳/۳/۴